الدر المنضود

على

سنن أبي داود

افادات

حضرت مولانا محمد عاقل صاحب

صدر مدرس مظاہر العلوم سہارنپور ہند

خصوصیات

①

②

③

④

⑤

⑥

⑦

⑧

⑨

⑩



الدر المنضود

فی حل

سنن أبي داؤد

افادات:- حضرت مولانا محمد عاقل صیب
صدرمدرّس مظاهرالعلوم سهارنپور(هند)

مترجمين:
[رفقاء] دار التصنيف والتحقيق

زير نګراني

مولانا شاه فيصل فاضل وفاق المدارس

پښتو.................................څلورم جلد

خصوصيات

① د کتاب په اول کښې د اصول حديث مفيده مقدمه.
② د بذل المجهود شرح أبي داود عربي شرحې خلاصه اونجوړ
③ د متن ټولو احاديث ته اعراب ورکول
④ د هر کتاب په اول کښې هغې سره متعلقه ضروري مباحث.
⑤ د هر حديث تخريج د مصدر، کتاب او رقم په حوالې سره.
⑥ د مشکلو لغاتو حل.
⑦ په فقهي مباحثو کښې د مذاهبو بيان.
⑧ د فريق مخالف دلائل
⑨ د فريق مخالف د دلائلو ښخه جوابونه.
⑩ د مذهب حنفي دلائل او وجوه ترجيح.

خپرونکی

فيصل کتب خانه محله جنگی پيښور

د کتاب نوم: الدرالمنضود فی حل سنن ابی داؤد

مؤلف: حضرت مولانا محمّد عاقل صاحب دامت برکاتهم

زیرنګراني:- مولانا شاه فیصل فاضل وفاق المدارس

خورونکی: فیصل کتب خانه محله جنګی پیښور

د ملاویدو پتې

- مکتبه فخر الدین رازی هرات [نمائندهٔ فیصل کتبخانه درهرات]
- جدید اسلامی کتب خانه خوست
- المصباح کتب خانه کابل
- روغانیوال کتب خانه جلال آباد
- رحیمی کتب خانه خوست
- حرم کتب خانه کابل
- فلاح کتب خانه جلال آباد
- موئے مبارک کتب خانه غزنی
- مکتبه خواجه عبدالله انصاری غزنی
- واحدی کتب خانه خوست
- مکتبه رحمانیه قندهار
- دعوت کتب خانه جلال آباد
- تقوٰی کتب خانه جلال آباد
- نعمت کتب خانه کابل
- شریف الله کتب خانه کابل
- حقانیه کتب خانه ګردیز
- مسلم کتب خانه جلال آباد
- مکتبه نعمانیه غزنی
- ګودر کتب خانه جلال آباد
- مسلم کتب خانه خوست
- حاجی سردار کتب خانه کابل
- مکتبه رشیدیه کابل

خپرونکي

فیصل کتب خانه

مدینه تاور محله جنګی پیښور قصه خوانئ پیښور

موبائیل ۰۳۲۱۹۰۹۱۸۳۵

فهرست ابواب جلد چهارم

شمار	مضمون	صفحه
	كتاب الزكاة	۲۶
	باب وُجُوبِ الزَّكَاةِ	۲۶
	ابحاث خمسه مفيدة :	۲۶
	بحث اول : (المناسبة بما قبله وترتيب الكتب)	۲۶
	دويم بحث : (د زكوة لغوى معنى)	۲۷
	د زكوة اصطلاحى تعريف	۲۷
	بحث ثالث : د زكوة فرضيت كله اوشو؟	۲۸
	بحث رابع : (آيا په انبياء عليهم السلام باندې زكوة واجب وو؟	۲۹
	بحث خامس : (د زكوة بعضې فوائد اوحكمتونه)	۳۰
	د مناظره شيخين والا حديث تشريح :	۳۲
	د حديث جزء اول، د مرتدينو تعين :	۳۲
	د حديث جزء ثانى، د فاروق اعظم رضی اللہ عنہ اشكال :	۳٤
	د صديق اكبر رضی اللہ عنہ د جواب خلاصه :	۳۵
	د شيخينو اختلاف او مناظره د كومې دلې باره كښې وه :	۳۵
	د اشكال منشاء :	۳٦
	فقهى مسئله :	۳٦
	باب مَا تَجِبُ فِيهِ الزَّكَاةُ	۳۹
	زكوة په كومو كومو څيزونو كښې واجب دې؟	٤٠
	(د زكوة اقسام)	٤٠
	(د خمس ذود تلفظ)	٤١
	(د اوقيه وجه تسميه)	٤١
	امام صاحب او څوک چه ددوى سره موافق دى، هغوى دپاره دليل :	٤٢
	د جمهورو د طرف نه تنقيد او زمونږ د طرف نه جواب :	٤٢
	د امام صاحب د طرف نه د حديث الباب توجيه :	٤٣
	شرح حديث :	٤٥
	باب الْعُرُوضِ إِذَا كَانَتْ لِلتِّجَارَةِ هَلْ فِيهَا مِنْ زَكَاةٍ	٤٦
	(د تجارت په مال كښې د داؤد ظاهرى اختلاف مع الدلائل)	٤٧
	(د جمهورو د طرفه جواب)	٤٧

شمار	مضمون	صفحه
	د تاجر دوه قسمونه،مدیر، محتکر او د امام مالک مذهب :..........	٤٧
	باب الْكَنْزِ مَا هُوَ وَزَكَاةِ الْحُلِيِّ..........	٤٧
	د زنانو د کالو د زکوة باره کښې د علماؤ مذاهب :..........	٤٩
	د نصاب د تکمیل دپاره د دواؤ مختلفو مالونو یوځائي کول :..........	٥١
	باب فِي زَكَاةِ السَّائِمَةِ..........	٥١
	د نصاب ذهب ثبوت او د محدثینو دې باره کښې طرز عمل :..........	٥١
	د نصاب ذهب ثبوت :..........	٥٢
	د سائمه تعریف :..........	٥٢
	مضمون حدیث :..........	٥٦
	د نصاب ابل بیان :..........	٥٨
	د نصاب ابل تفصیل :..........	٥٩
	د شپږ شلو نه پس په نصاب ابل کښې د امامانو اختلاف :..........	٦٠
	د شپږو شلو ۱۲۰ نه پس استیناف کښې د احنافو مستدل :..........	٦١
	د احنافو د طرف نه د حدیث الباب توجیه :..........	٦٢
	یو اشکال او جواب :..........	٦٢
	د حدیث شرح او تفاوت ما بین السنین پوره کولو طریقه:..........	٦٣
	د نصاب غنم تفصیل :..........	٦٤
	د حدیث شرح :..........	٦٤
	خلطۀ جوار مؤثر دې که نه؟..........	٦٥
	خلطۀ الشیوع :..........	٦٧
	په خلطة الجوار کښې د جمهورو دپاره دلیل :..........	٦٧
	شرح حدیث :..........	٦٧
	د حدیث په شرح کښې د جمهورو او احنافو اختلاف :..........	٦٨
	د شوافع او حنابله دپاره صریح دلیل :..........	٧٢
	د امام مالک رحمه الله بیان کړې شوې جمع او تفریق مثال :..........	٧٣
	آیا د نقدینو د زکوة په نصاب کښې وقص شته؟:..........	٧٥
	نصاب بقر:..........	٧٦
	نصاب ذهب :..........	٧٧
	په مال مستفاد کښې د زکوة مسئله او اختلاف علماء :..........	٧٨
	د احنافو دلیل :..........	٧٩

شمار	مضمون	صفحه
	د شوافعو د دليل نه جواب :	۷۹
	د زکوة الخيل مسئله :	۸۰
	د امام صاحب دليل :	۸۱
	شرح حديث :	۸۲
	عقوبة ماليه :	۸۳
	شرح الحديث و تخريجه :	۸٤
	فقه الحديث، د جزيئ مقدار کښې د امامانو مذاهب:	۸٤
	د جزيئ قسمونه :	۸۵
	جزيه د کومو کافرانو نه اخستلې کيږی :	۸۵
	شرح السند :	۸٦
	تشکيل الاسانيد :	۸۷
	مضمون حديث :	۸۸
	هل الکفار مخاطبون بالفروع:	۹٤
	د حديث الباب نه استدلال کښې اشکال :	۹۵
	د نقل زکوة مسئله مع اختلاف ائمه:	۹٦
	شرح حديث :	۹۷
	باب رِضَا الْمُصَدِّقِ	۹۷
	شرح حديث :	۹۹
	باب دُعَاءِ الْمُصَدِّقِ لأَهْلِ الصَّدَقَةِ	۱۰۰
	شرح حديث :	۱۰۰
	باب تَفْسِيرِ أَسْنَانِ الإِبِلِ	۱۰۱
	باب أَيْنَ تُصَدَّقُ الأَمْوَالُ	۱۰۵
	شرح حديث :	۱۰٦
	باب الرَّجُلِ يَبْتَاعُ صَدَقَتَهُ	۱۰۷
	شرح حديث :	۱۰۸
	مذاهب ائمه :	۱۰۸
	باب صَدَقَةِ الرَّقِيقِ	۱۰۹
	باب صَدَقَةِ الزَّرْعِ	۱۱۰
	د مسائل الباب تجزيه :	۱۱۰
	شرح حديث :	۱۱۱

شمار	مضمون	صفحه
	په خضراوات کښې د وجوب عشر مسئله:	۱۱۱
	د امام صاحب دليل :	۱۱۲
	د مذاهب ائمه خلاصه :	۱۱۳
	دلائل فريقين :	۱۱۳
	په اداء الزكواة بالقيمة كښې د مذاهب ائمه تحقيق :	۱۱۵
	د زكوة د بركت مثال :	۱۱۵
	باب زَكَاةِ الْعَسَلِ	۱۱٦
	مذاهب ائمة:	۱۱٦
	شرح حديث :	۱۱۷
	مضمون حديث	۱۱۸
	د حديث الباب نه استدلال :	۱۱۹
	نصاب عسل :	۱۱۹
	باب فِي خَرْصِ الْعِنَبِ	۱۱۹
	د خرص سره متعلق مباحث ثمانيه فقهيه :	۱۱۹
	بحث اول : (دخرص لغوى اواصطلاحى تعريف)	۱۲۰
	بحث ثانى : (د خرص حكم اوفائده)	۱۲۰
	بحث ثالث : (خرص په كومو څيزونو كښې صحيح دي؟)	۱۲۰
	بحث رابع : (آيا دخرص په وخت څه مقدار په عشر كښې پريخودې شى؟)	۱۲۱
	بحث خامس : (ظهور الخطأ فى الخرص بعد الجفاف)	۱۲۱
	بحث سادس : (آفة سماويه)	۱۲۱
	بحث سابع : (دخرص ثبوت من حيث الدليل اود منكرين خرص جواب)	۱۲۱
	د ابن العربي په خرص كښې مسئله، محققانه او منصفانه كلام :	۱۲۱
	د امام طحاوى رائې :	۱۲۲
	د نهى عن الخرص حديث :	۱۲۳
	د شوافعو د طرف نه د حديث النهى جواب :	۱۲۳
	بحث ثامن : (خرص سره متعلق د احنافو دمسلک تحقيق)	۱۲۳
	د خرص باره كښې د حضرت گنگوهى رائې:	۱۲۳
	شرح حديث :	۱۲٤
	د حديث الباب نه د حنفيه د طرف نه جواب :	۱۲٤
	باب فِي الْخَرْصِ	۱۲٥

شمار	مضمون	صفحه
	د خرص مفهوم عند الحنفيه او عند الجمهور :	۱۲۵
	شرح حديث او اختلاف نسخ :	۱۲۶
	تخريج الحديث :	۱۲۶
	باب مَتَى يُخْرَصُ التَّمْرُ	۱۲۷
	باب مَا لاَ يَجُوزُ مِنَ الثَّمَرَةِ فِي الصَّدَقَةِ	۱۲۷
	شرح حديث :	۱۲۸
	باب زَكَاةِ الْفِطْرِ	۱۲۹
	د صدقة الفطر سره متعلق مباحث عشره علميه مفيده:	۱۲۹
	بحث اول : (د صدقة الفطر نومونه او وجه تسميه)	۱۲۹
	بحث ثاني : (دصدقة الفطر حكم كله نازل شو؟)	۱۳۰
	بحث ثالث : (د صدقة الفطر حكم)	۱۳۰
	بحث رابع : (د صدقة الفطر د وجوب سبب)	۱۳۰
	بحث خامس : (د صدقة الفطر د وجوب شرائط)	۱۳۱
	بحث سادس : (د صدقة الفطر د وجوب وخت)	۱۳۱
	بحث سابع : (د صدقة الفطر د وجوب كيفيت)	۱۳۱
	بحث ثامن : (آيا په غلام باندې صدقه فطر شته؟)	۱۳۲
	بحث تاسع و عاشر:	۱۳۲
	د صدقة الفطر په مشروعيت كښې حكمت :	۱۳۳
	باب مَتَى تُؤَدَّى	۱۳۳
	د صدقة الفطر تقديم كله پورې جائز دې؟	۱۳٤
	باب كَمْ يُؤَدَّى فِي صَدَقَةِ الْفِطْرِ	۱۳٤
	د صدقة الفطر مقدار:	۱۳٤
	شرح السند :	۱۳۵
	د كافر غلام د طرف نه صدقة الفطر :	۱۳۵
	په صدقة الفطر كښې كوم څيز وركول پكار دى:	۱۳۷
	په صدقة الفطر كښې وركونكې اشياء منصوصه :	۱۳۹
	په صاعا من طعام باندې كلام :	۱۳۹
	د حنطه ذكر په صحاح كښې:	۱٤۰
	د ثعلبه بن ابى صعير په حديث باندې بحث او نقد :	۱٤۰
	د حافظ ابن المنذر دې باره كښې رائې :	۱٤۱

شمار	مضمون	صفحه
	باب مَنْ رَوَى نِصْفَ، صَاعٍ مِنْ قَمْحٍ	۱۴۲
	د صحابي(راوی حديث) د نوم تحقيق :	۱۴۳
	په حديث ثعلبه باندې نقد او دهغې جواب :	۱۴۳
	شرح حديث :	۱۴۵
	تکمله :	۱۴۵
	باب فِي تَعْجِيلِ الزَّكَاةِ	۱۴۶
	شرح حديث :	۱۴۷
	په تعجيل زکوة کښې مذاهب ائمة :	۱۴۹
	باب فِي الزَّكَاةِ هَلْ تُحْمَلُ مِنْ بَلَدٍ إِلَى بَلَدٍ	۱۵۰
	باب مَنْ يُعْطَى مِنَ الصَّدَقَةِ وَحَدِّ الْغِنَى	۱۵۱
	د حد غنی باره کښې اختلاف روايات :	۱۵۱
	د حدغنی باره کښې د ائمهٔ مذاهب تحقيق :	۱۵۱
	د شافعيه مسلک تفصيل او توضيح :	۱۵۳
	تکميل :	۱۵۳
	د فقير او مسکين په تعريف کښې د امامانو اختلاف :	۱۵۳
	شرح حديث :	۱۵۴
	شرح حديث :	۱۵۸
	د صحيفه متلمس شرح :	۱۵۹
	د زکوة مصارف ثمانيه بيان مع مذاهب ائمه:	۱۶۰
	بحث اول :(د مصارف ثمانيه مصاديق)	۱۶۰
	(د مؤلفة القلوب حصه ولې ساقط شوه؟)	۱۶۱
	بحث ثاني :	۱۶۳
	بحث ثالث :	۱۶۳
	غريب قادر علی الکسب د غنی په حکم کښې دې او که نه؟	۱۶۶
	باب مَنْ يَجُوزُ لَهُ أَخْذُ الصَّدَقَةِ وَهُوَ غَنِيٌّ	۱۶۷
	مضمون حديث مع بيان مذاهب ائمه:	۱۶۷
	باب كَمْ يُعْطَى الرَّجُلُ الْوَاحِدُ مِنَ الزَّكَاةِ	۱۷۰
	بحث اول: يو سړی ته څومره زکوة ورکولې شی؟	۱۷۰
	بحث ثاني: تشريح حديث:	۱۷۱
	يو فقهی اشکال او دهغې جواب:	۱۷۱

شمار	مضمون	صفحه
	بحث ثالث: د حديث د ترجمة الباب سره مطابقت	١٧٢
	باب مَا تَجُوزُ فِيهِ الْمَسْأَلَةُ	١٧٢
	شرح حديث:	١٧٤
	د حد غنى باره كښې د جمهورو دليل:	١٧٤
	د بيع المزايدة (نيلام) جواز:	١٧٥
	شرح حديث :	١٧٦
	باب كَرَاهِيَةِ الْمَسْأَلَةِ	١٧٦
	د صوفيانو په بعيت سلوك باندې استدلال:	١٧٧
	باب فِي الِاسْتِعْفَافِ	١٧٨
	شرح حديث :	١٧٩
	شرح حديث :	١٨٣
	جمع بين الروايات:	١٨٤
	باب الصَّدَقَةِ عَلَى بَنِي هَاشِمٍ	١٨٤
	په حرمة صدقة كښې د بنو هاشم سره بنو المطلب هم شامل دی، او كه نه:	١٨٥
	د بنو هاشم مصداق:	١٨٦
	ازواج مطهرات په دې حكم كښې داخل دی او كه نه:	١٨٧
	شرح حديث :	١٨٨
	شرح السند:	١٨٩
	باب الْفَقِيرِ يُهْدِي لِلْغَنِيِّ مِنَ الصَّدَقَةِ	١٩٠
	د صدقې او هديئ په مينځ كښې فرق:	١٩٠
	باب مَنْ تَصَدَّقَ بِصَدَقَةٍ ثُمَّ وَرِثَهَا	١٩١
	باب فِي حُقُوقِ الْمَالِ	١٩١
	شرح حديث :	١٩٣
	شرح حديث :	١٩٦
	شرح حديث :	١٩٦
	باب حَقِّ السَّائِلِ	١٩٨
	شرح حديث :	١٩٩
	باب الصَّدَقَةُ عَلَى أَهْلِ الذِّمَّةِ	٢٠٠
	شرح حديث :	٢٠٠
	باب مَا لاَ يَجُوزُ مَنْعُهُ	٢٠١

شمار	مضمون	صفحه
	شرح حديث من حيث الفقه:	۲۰۲
	باب الْمَسْأَلَةِ فِي الْمَسَاجِدِ	۲۰۳
	په حديث باندې كلام من حيث الفقه:	۲۰٤
	باب كَرَاهِيَةِ الْمَسْأَلَةِ بِوَجْهِ اللَّهِ تَعَالَى	۲۰٤
	شرح حديث :	۲۰٤
	باب عَطِيَّةِ مَنْ سَأَلَ بِاللَّهِ	۲۰٥
	باب الرَّجُلِ يَخْرُجُ مِنْ مَالِهِ	۲۰٦
	تصدق بجميع المال كښې د علماؤ اختلاف:	۲۰۷
	دوؤ احاديثو كښې تطبيق:	۲۰۸
	باب فِي الرُّخْصَةِ فِي ذَلِكَ	۲۰۹
	تصدق بجميع المال:	۲۱۱
	باب فِي فَضْلِ سَقْيِ الْمَاءِ	۲۱۱
	بَاب فِي فَضْلِ سَقْيِ الْمَاءِ	۲۱۲
	مړی ته د كومو اعمالو ثواب رسی، او په دې كښې مذاهب ائمه:	۲۱۲
	باب فِي الْمَنِيحَةِ	۲۱۳
	شرح حديث :	۲۱٤
	باب أَجْرِ الْخَازِنِ	۲۱٦
	باب الْمَرْأَةِ تَتَصَدَّقُ مِنْ بَيْتِ زَوْجِهَا	۲۱۷
	يو اشكال او دهغې جواب :	۲۱۸
	مضمون حديث :	۲۱۹
	باب فِي صِلَةِ الرَّحِمِ	۲۲۰
	د صلة الرحم لفظى تحقيق:	۲۲۰
	صله رحمی د كومو رشته دارو سره واجب ده:	۲۲۱
	شرح حديث :	۲۲۲
	(د بئر تلفظ)	۲۲۲
	يو فقهی بحث:	۲۲۳
	(د دريو وارو صحابه كرامو خپل مينځ كښې رشته داری)	۲۲۳
	شرح حديث :	۲۲٥
	شرح حديث :	۲۲٦
	شرح حديث :	۲۲۸

شمار	مضمون	صفحه
	باب فِي الشُّحِّ	۲۲۸
	شرح حديث :	۲۲۹
	كتاب اللقطة	۲۳۱
	باب التَّعْرِيفِ بِاللُّقَطَةِ	۲۳۱
	د لقطي سره متعلق مباحث تسعه:	۲۳۱
	البحث الاول: (تحقيق اللقطة لغةً)	۲۳۱
	البحث الثاني: (حكم الالتقاط)	۲۳۱
	البحث الثالث: (الفرق بين لقطة الحيوان وغير الحيوان)	۲۳۲
	البحث الرابع: (مدة التعريف)	۲۳٤
	البحث الخامس: (التملک بعد التعريف)	۲۳٤
	البحث السادس: (وجوب الضمان عند مجئ المالک)	۲۳٤
	البحث السابع: (هل يدفع الى الناشد بمجرد بيان العلامات)	۲۳۵
	البحث الثامن: (الاشهاد عند الالتقاط)	۲۳۵
	البحث التاسع: (لقطة الحاج ما ذا حكمه)	۲۳۵
	مضمون حديث :	۲۳٦
	د شافعيه دليل او دهغې نه جواب:	۲۳۷
	مضمون حديث :	۲٤۲
	مسئله ثابته بالحديث او په هغې كښې اختلاف علماء:	۲٤۲
	يوه بله اختلافي مسئله:	۲٤۲
	شرح حديث :	۲٤۳
	د حضرت على رضي الله عنه د لقطې موندلو قصه :	۲٤٤
	په دې قصه باندې كلام من حيث الفقهاء او توجيهات:	۲٤۵
	شرح حديث :	۲٤۸
	شرح حديث :	۲٤۹
	كتاب المناسك	۲٤۹
	ابتدائى مباحث:	۲٤۹
	بحث اول: ترتيب الكتاب	۲٤۹
	بحث ثاني : (د حج لغوى معنى)	۲۵۰
	مناسک:	۲۵۰
	حج:	۲۵۱

شمار	مضمون	صفحه
	بحث ثالث: (حج كله فرض شو؟)	۲۵۱
	بحث رابع: (د استقامت نه څه مراد دی؟)	۲۵۱
	د استطاعت قسمونه چه په هغې باندې د وجوب حج مدار دې:	۲۵۲
	بحث خامس : (دحج وجوب على الفور دې يا على التراخى؟)	۲۵۲
	بحث سادس: (حضورپاک ﷺ د حج د تاخير سبب)	۲۵۳
	البحث السابع: (آيا حج ددې امت د خصوصياتو نه دې؟)	۲۵٤
	ألبحث الثامن: (د نبی كريم ﷺ د حجونو تعداد)	۲۵٤
	باب فَرْضِ الْحَجِّ	۲۵۵
	شرح حديث :	۲۵٦
	باب فِي الْمَرْأَةِ تَحُجُّ بِغَيْرِ مَحْرَمٍ	۲۵۷
	مسئله ثابته بالحديث:	۲۵۷
	مسئله مترجم بها او په دې كښې مذاهب ائمه:	۲۵۸
	په مدت مسافت كښې د اختلاف روايات توجيه:	۲۵۸
	باب " لاَ صَرُورَةَ " فِي الإِسْلاَمِ	۲٦۰
	شرح حديث :	۲٦۰
	باب التَّزَوُّدِ فِي الْحَجِّ	۲٦۱
	باب التِّجَارَةِ فِي الْحَجِّ	۲٦۱
	بابٌ(بِلَا تَرْجَمَةٍ)	۲٦۲
	باب الْكَرِيِّ	۲٦۲
	باب فِي الصَّبِيِّ يَحُجُّ	۲٦٤
	شرح حديث :	۲٦٤
	د حج صبی په معتبر كيدو كښې د فقهاء كرام رائې :	۲٦۵
	باب فِي الْمَوَاقِيتِ	۲٦٦
	د احرام حقيقت :	۲٦٦
	شرح حديث مع اختلاف ائمه :	۲٦۷
	شرح حديث مع اختلاف علماء:	۲٦۸
	دخول مكه بغير احرام والا بحث:	۲٦۹
	د فريقينو دلائل	۲٦۹
	د ذات عرق توقيت د كوم طرف دپاره دې:	۲۷۰
	په دوؤ احاديثو كښې رفع تعارض :	۲۷۱

شمار	مضمون	صفحه
	تقديم الاحرام على الميقات كښې اختلاف علماء:	۲۷۲
	باب الْحَائِضِ تُهِلُّ بِالْحَجِّ	۲۷۳
	په افعال حج كښې د كومو افعالو دپاره طهارت ضروري دى:	۲۷۳
	باب الطِّيبِ عِنْدَ الْإِحْرَامِ	۲۷۵
	په مسئلة الباب كښې اختلاف ائمة:	۲۷۵
	(تحلل او ددې اقسام)	۲۷۶
	باب التَّلْبِيدِ	۲۷۷
	شرح حديث :	۲۷۷
	باب فِي الْهَدْيِ	۲۷۸
	د هدى تعريف :	۲۷۸
	باب فِي هَدْيِ الْبَقَرِ	۲۷۹
	د ازواج تسعه د طرف نه د بقرة واحده قرباني څرنګه صحيح شوه:	۲۷۹
	باب فِي الْإِشْعَارِ	۲۸۱
	د اشعار لغوى او اصطلاحي معنى	۲۸۱
	د اشعار باره كښې د امام صاحب رائې :	۲۸۱
	(د امام اعظم رحمه الله په مسلک باندې دوه اشكالات او د هغې جوابات	۲۸۱
	د اشعار باره كښې نور زيات اختلاف:	۲۸۲
	په تقليد غنم كښې اختلاف:	۲۸۳
	باب تَبْدِيلِ الْهَدْيِ	۲۸٤
	شرح حديث :	۲۸۵
	باب مَنْ بَعَثَ بِهَدْيِهِ وَأَقَامَ	۲۸۵
	په مسئله مترجم بها كښې اختلاف:	۲۸۶
	يوه بله اختلافي مسئله :	۲۸۷
	باب فِي رُكُوبِ الْبُدْنِ	۲۸۷
	په ركوب هدى كښې اختلاف:	۲۸۸
	باب فِي الْهَدْيِ إِذَا عَطِبَ قَبْلَ أَنْ يَبْلُغَ	۲۸۹
	په مسئلة الباب كښې مذاهب ائمة:	۲۹۰
	تكميل:	۲۹۰
	د حديث شرح او د روايات مختلفه توجيه:	۲۹۱
	باب كَيْفَ تُنْحَرُ الْبُدْنُ	۲۹۳

صفحه	مضمون	شمار
۲۹٤	په نحر او ذبح کښې فرق :	
۲۹۵	هل یجوز نحر ما یذبح و ذبح ما ینحر؟	
۲۹۵	شرح حدیث :	
۲۹٦	باب فِي وَقْتِ الإِحْرَامِ	
۲۹۷	مضمون حدیث :	
۲۹۹	مضمون حدیث :	
۳۰۰	د جواب خلاصه :	
۳۰۰	د بیت الله ارکان اربعه :	
۳۰۲	د مکې نه مدینې دپاره طرق اربعه :	
۳۰۳	باب الاِشْتِرَاطِ فِي الْحَجِّ	
۳۰۳	اختلاف ائمه او منشاء اختلاف:	
۳۰٤	د حنفیه دلیل او د حدیث الباب توجیه :	
۳۰۵	باب فِي إِفْرَادِ الْحَجِّ	
۳۰۵	اقسام حج :	
۳۰٦	د حضور ﷺ په احرام کښې اقوال سته:	
۳۰۷	د نبي کریم ﷺ په احرام کښې د روایات مختلفه توجیه:	
۳۰۸	په اقسامو د حج کښې د فضیلت په اعتبار سره ترتیب:	
۳۱۰	د احرام عائشه رضي الله عنها تحقیق :	
۳۱۱	د حنفیه رائې:	
۳۱۱	د جمهورو رائې:	
۳۱۲	په روایت باندې قوی اشکال او جواب :	
۳۱٤	د طواف قارن باره کښې د جمهورو دلیل او د احنافو د طرف نه دهغې توجیه :	
۳۱٦	عمرة التنعیم:	
۳۱۷	یو اشکال مع جواب :	
۳۱۷	په شرح حدیث کښې دوه اقوال :	
۳۲۰	(د جمهورو دلیل او دهغې جواب)	
۳۲۱	په روایت باندې یو اشکال او دهغې توجیه:	
۳۲۳	په حجة الوداع کښې هدی د کومو کومو حضراتو سره وه:	
۳۲٤	د مصنف په قول باندې قوی اشکال او دهغې توجیه :	
۳۲۵	آیا سوق هدی د تحلل نه مانع دې:	

شمار	مضمون	صفحه
	د حديث شرح او د بعضې صحابه کرامو د تمتع نه منع کول:	۳۲۶
	باب فِي الإِقْرَانِ	۳۲۷
	د قِران بيان	۳۲۷
	شرح حديث :	۳۳۲
	باب الرَّجُلُ يُهِلُّ بِالْحَجِّ ثُمَّ يَجْعَلُهَا عُمْرَةً	۳۳۶
	دحج دپاره تړلی احرام دعمرې په احرام باندې بدلول	۳۳۶
	باب الرَّجُلِ يَحُجُّ عَنْ غَيْرِهِ	۳۳۶
	دبل چا دطرفه حج کول(حج بدل)	۳۳۶
	په کومو عباداتو کښې نيابة عن الغير جاري کيدې شي؟	۳۳۶
	د حج على المعضوب مسئله چه د حديث الباب نه ثابتيږي:	۳۳۸
	په حج الصرورة عن الغير کښې اختلاف علماء:	۳۳۹
	باب كَيْفَ التَّلْبِيَةُ	۳۳۹
	د تلبيه بيان	۳۳۹
	المذاهب فى التلبية:	۳۳۹
	د تلبيئ په کلماتو کښې کمې زياتې:	۳۴۰
	باب مَتَى يَقْطَعُ التَّلْبِيَةَ	۳۴۱
	تلبيه کله بندول پکاردی	۳۴۱
	باب مَتَى يَقْطَعُ الْمُعْتَمِرُ التَّلْبِيَةَ	۳۴۲
	باب الْمُحْرِمِ يُؤَدِّبُ غُلاَمَهُ	۳۴۳
	داحرام په حالت کښې دادب دپاره خپل خادم وهل جائز دی	۳۴۳
	باب الرَّجُلِ يُحْرِمُ فِي ثِيَابِهِ	۳۴۴
	دګنډله شوو جامو نه داحرام جوړولو بيان	۳۴۴
	شرح حديث :	۳۴۵
	حديث د چا خلاف دې:	۳۴۵
	باب مَا يَلْبَسُ الْمُحْرِمُ	۳۴۶
	دحالت احرام دلباس بيان	۳۴۶
	په لبس معصفر کښې اختلاف ائمه :	۳۴۹
	شرح حديث :	۳۵۰
	باب الْمُحْرِمِ يَحْمِلُ السِّلاَحَ	۳۵۱
	دمحرم دپاره داسلحې تړلو بيان	۳۵۱

شمار	مضمون	صفحه
	باب فِي الْمُحْرِمَةِ تُغَطِّي وَجْهَهَا	٣٥٢
	کچری ښځی په حالت احرام کښی پټ مخ وی نو څه حکم دی؟	٣٥٢
	شرح حدیث :	٣٥٢
	باب فِي الْمُحْرِمِ يُظَلَّلُ	٣٥٣
	محرم لره په حالت احرام کښی په خپل سربانדی دسوری کولو بیان	٣٥٣
	د تظلیل صورتونه مع مذاهب ائمه :	٣٥٣
	باب الْمُحْرِمِ يَحْتَجِمُ	٣٥٤
	دمحرم دپاره دښکر لګولو بیان	٣٥٤
	باب يَكْتَحِلُ الْمُحْرِمُ	٣٥٥
	د محرم دپاره په رنجو باندی دسترګو تورولو بیان	٣٥٥
	باب الْمُحْرِمِ يَغْتَسِلُ	٣٥٥
	داحرام په حالت کښی دغسل کولو بیان	٣٥٥
	باب الْمُحْرِمِ يَتَزَوَّجُ	٣٥٧
	داحرام په حالت کښی دنکاح کولو دممانعت بیان	٣٥٧
	د جمهورو دلیل او د حنفیه د طرف نه دهغې جواب :	٣٥٨
	حدیث ابن عباس رضي الله عنه عند الجمهور مرجوح دې او که مؤول دې:	٣٥٩
	د احنافو په نزد د حدیث ابن عباس رضي الله عنه وجه ترجیح:	٣٥٩
	په تاویل شافعیه باندې رد:	٣٦٠
	د امام طحاوی بیان کړې شوې وجه ترجیح:	٣٦٠
	باب مَا يَقْتُلُ الْمُحْرِمُ مِنَ الدَّوَابِّ	٣٦١
	دمحرم دپاره په احرام کښی دکوم قسم څناور قتل کول جائز دی؟	٣٦١
	باب لَحْمِ الصَّيْدِ لِلْمُحْرِمِ	٣٦٤
	دمحرم دپاره دښکار دغوښی مسئله	٣٦٤
	په مسئلة الباب کښی مذاهب علماء:	٣٦٤
	د احادیث الباب تجزیه او تفصیل :	٣٦٥
	د هدیه صید په سلسله کښی د قبول او رد والا روایاتو کښی تطبیق:	٣٦٦
	د ائمه ثلاثه دلیل او د حنفیه د طرف نه دهغې جواب :	٣٦٧
	یو مشهور اشکال او جواب:	٣٦٨
	باب فِي الْجَرَادِ لِلْمُحْرِمِ	٣٦٨
	دمحرم دپاره دملخانو ښکار څنګه دی	٣٦٨

شمار	مضمون	صفحه
	باب فِي الْفِدْيَةِ	۳۷۰
	دفديې بيان	۳۷۰
	شرح حديث او په هغې باندې كلام من حيث الفقه:	۳۷۰
	د فديه سره متعلق څو مسائل فقهيه اختلافيه:	۳۷۱
	باب الْإِحْصَارِ	۳۷۲
	باب: د حج نه د بنديدلو(منع كولو) بيان ـ	۳۷۲
	د احصار تعريف او په دې كښې اختلاف علماء:	۳۷۲
	په حديث باندې كلام من حيث الفقه:	۳۷۳
	په محصر بالعمرة باندې څه واجبيږي:	۳۷٤
	شرح حديث :	۳۷٥
	ذكر ما يستفاد من الحديث:	۳۷٥
	په حديث كښې يو تاريخي واقعې طرف ته اشاره:	۳۷٦
	باب دُخُولِ مَكَّةَ	۳۷۷
	د دخول مكه درې آداب مع اختلاف علماء:	۳۷۷
	شرح حديث :	۳۷۹
	باب فِي رَفْعِ الْيَدَيْنِ إِذَا رَأَى الْبَيْتَ	۳۸۰
	په مسئلة الباب كښې مذاهب ائمه :	۳۸۱
	باب فِي تَقْبِيلِ الْحَجَرِ	۳۸۲
	باب اسْتِلَامِ الْأَرْكَانِ	۳۸۳
	باب الطَّوَافِ الْوَاجِبِ	۳۸٥
	په حديث كښې امور اربعه وضاحت طلب:	۳۸٥
	بحث اول: (طواف به ماشيًا وى)	۳۸٥
	بحث ثانى: (د نبي كريم ﷺ د طواف راكبًا مصلحتونه)	۳۸٥
	بحث ثالث: (د نبي كريم ﷺ طواف ماشيًا كوم طواف وو؟)	۳۸٦
	بحث رابع : (په حج كښې د نبي كريم ﷺ ټول طوافونه)	۳۸٦
	د استلام سره متعلق څه فروع مختلف فيها:	۳۸۷
	طواف ام سلمه رضي الله عنها راكبا:	۳۸۸
	باب الْاِضْطِبَاعِ فِي الطَّوَافِ	۳۸۹
	باب فِي الرَّمَلِ	۳۹۰
	بحث اول: (د رمل معنى)	۳۹۰

شمار	مضمون	صفحه
	بحث ثاني: (د رمل حكم)	۳۹۱
	بحث ثالث: (رمل دچا دپاره دي؟)	۳۹۱
	بحث رابع: (رمل به په كوم طواف كښې وى؟)	۳۹۱
	بحث خامس: (د طواف په څومره چكرونو كښې به رمل كولې شى؟)	۳۹۱
	بحث سادس: (رمل به د بيت الله د څلورو واړو طرفونو نه كولې شى)	۳۹۱
	بحث سابع: د رمل بعضې حكمتونه)	۳۹۱
	شرح حديث :	۳۹۳
	(رمل مستقل سنت دې)	۳۹۳
	باب الدُّعَاءِ فِي الطَّوَافِ	۳۹۶
	باب الطَّوَافِ بَعْدَ الْعَصْرِ	۳۹۸
	باب طَوَافِ الْقَارِنِ	۳۹۹
	د طواف قارن په سلسله كښې د فريقينو د استدلال جائزه:	۳۹۹
	باب الْمُلْتَزَمِ	۴۰۲
	د حديث شرح :	۴۰۵
	باب أَمْرِ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ	۴۰۵
	بحث اول :	۴۰۵
	بحث ثاني :	۴۰۶
	بحث ثالث :	۴۰۶
	د عروه او عائشې رضى الله عنه درميان سوال وجواب	۴۰۷
	دحجة الوداع په سفركښې حضور ﷺ بيت الله شريف ته داخل شو كه نه؟	۴۰۸
	د حديث مبارك تشريح :	۴۰۹
	باب صِفَةِ حَجَّةِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم	۴۱۰
	د حجة الوداع اسماء عديده	۴۱۱
	انتهائى بابركت او مقدس منظر	۴۱۹
	د طواف سعى نه پس د پيغمبر عليه السلام له طرفه د فسخ الحج امر جازم	۴۲۱
	د حج پنځهٔ ورځې او د هغې ورځو كارونه	۴۲۲
	د حديث تشريح :	۴۲۳
	د عرفات د خطبې د بعضې جملو تشريح	۴۲۴
	جمع بين الصلوتين بعرفه	۴۲۶
	جمع بين الصلوتين بمزدلفه	۴۲۸

شمار	مضمون	صفحه
	ليلة المزدلفة كښې نبي عليه السلام تهجد کړې وو يا نه؟	۴۲۸
	په شرح حديث او نظر الرجل الى المرءة وعكسه كښې مذاهب اربعه	۴۲۹
	د وادي محسر (وجه تسميه او ددې) نه د تيز تللو وجه	۴۳۱
	د جمره عقبه د رمې كيفيت او په دې كښې اختلاف	۴۳۱
	(دا رمى راكبًا وه)	۴۳۲
	په يوم النحر كښې نبي عليه السلام د ماسپخين مونځ كوم ځائې اوكړو؟	۴۳۲
	باب الْوُقُوفِ بِعَرَفَةَ	۴۳۵
	د وقوف وقت ابتداءً وانتهاءً او مقدار د وقوف وجوباً وفرضاً	۴۳۵
	باب الْخُرُوجِ إِلَى مِنًى	۴۳۶
	باب الْخُرُوجِ إِلَى عَرَفَةَ	۴۳۸
	باب الرَّوَاحِ إِلَى عَرَفَةَ	۴۳۸
	باب الْخُطْبَةِ عَلَى الْمِنْبَرِ بِعَرَفَةَ	۴۴۰
	د حج د خطبو تعداد او تعيين او د امامانو اختلاف	۴۴۰
	باب مَوْضِعِ الْوُقُوفِ بِعَرَفَةَ	۴۴۱
	د حديث شرح	۴۴۲
	باب الدَّفْعَةِ مِنْ عَرَفَةَ	۴۴۳
	د ماښام مونځ د مزدلفه په لار كښې او په دې كښې څلور مذهبونه	۴۴۴
	باب الصَّلاَةِ بِجَمْعٍ	۴۴۷
	(د مزدلفه وجه تسميه)	۴۴۷
	باب التَّعْجِيلِ مِنْ جَمْعٍ	۴۵۱
	په مبيت مزدلفه او وقوف مزدلفه كښې د ائمه كرامو اختلاف	۴۵۱
	د رمى يوم النحر او رمى ايام التشريق وخت او د امامانو اختلاف	۴۵۲
	د حنفيه له طرفه د حديث توجيه	۴۵۳
	يو اشكال او د هغې جواب	۴۵۴
	د حديث شرح	۴۵۴
	د شافعيه د استدلال جواب	۴۵۵
	باب يَوْمِ الْحَجِّ الأَكْبَرِ	۴۵۵
	باب الأَشْهُرِ الْحُرُمِ	۴۵۶
	باب مَنْ لَمْ يُدْرِكْ عَرَفَةَ	۴۵۷
	د حديث مبارک تشريح	۴۵۹

صفحه	مضمون	شمار
٤٦٠	باب النُّزُولِ بِمِنًى	
٤٦١	باب أَيَّ يَوْمٍ يَخْطُبُ بِمِنًى	
٤٦١	د حديث مبارک تشريح	
٤٦٢	باب مَنْ قَالَ خَطَبَ يَوْمَ النَّحْرِ	
٤٦٢	باب أَيَّ وَقْتٍ يَخْطُبُ يَوْمَ النَّحْرِ	
٤٦٣	باب مَا يَذْكُرُ الإِمَامُ فِي خُطْبَتِهِ بِمِنًى	
٤٦٤	باب يَبِيتُ بِمَكَّةَ لَيَالِيَ مِنًى	
٤٦٤	د منى د مبيت په حکم کښې د علماء کرامو اختلاف	
٤٦٥	د سقاية او رعاية نه علاوه بل غرض دپاره ترک مبيت؟	
٤٦٥	باب الصَّلاَةِ بِمِنًى	
٤٦٥	د ترجمة الباب تشريح او د هغې غرض	
٤٦٥	په منى کښې په مانځهٔ کښې د قصر باره کښې د امام مالک تحقيق	
٤٦٧	حضرت عثمان رضی الله عنه به په منى کښې مونځ ولې پوره کوو؟	
٤٦٨	باب الْقَصْرِ لأَهْلِ مَكَّةَ	
٤٦٩	د حديث مبارک تشريح	
٤٧٠	د حديث نه د مالکيه استدلال او د جمهورو له طرفه د هغې جواب	
٤٧٠	باب فِي رَمْيِ الْجِمَارِ	
٤٧١	مسئله اولى: (د رمى حکم)	
٤٧١	مسئله ثانيه: (د رمى وخت)	
٤٧١	مسئله ثالثه: (رمى راکبًا افضل ده که ماشيًا)	
٤٧٤	د جمراتو د رمى کيفيت او د امامانو اختلاف	
٤٧٧	په حج کښې دوه تحلل وى تحلل اصغر او اکبر	
٤٧٧	دا حديث د مالکيه موافق او د جمهور خلاف دې	
٤٧٧	په حج کښې د سر خرئيلو حکم	
٤٧٨	يو بله اختلافى مسئله	
٤٧٨	د سر د حلق مقدار	
٤٧٩	د ويختو د تقسيمولو مصلحت	
٤٨٠	په رمي کښې تاخير کول جائز دى که نه؟	
٤٨١	باب الْعُمْرَةِ	
٤٨١	عمرې سره متعلق بعضې فقهى مسائل	

شمار	مضمون	صفحه

د رمضان المبارک د عمرې سره متعلق د ام معقل قصه او دغه شان نورې قصې ٤٨٤
د نبي عليه السلام د عمرو تعداد او د هغې اجمالي بيان ٤٨٧
عمره جعرانه ٤٨٧
باب الْمُهِلَّةِ بِالْعُمْرَةِ تَحِيضُ فَيُدْرِكُهَا الْحَجُّ ٤٨٩
حضرت عائشې رضي الله عنها په احرام کښې د مصنف رائې ٤٩٠
د ابوداؤد په روايت کښې يو وهم ٤٩١
باب الْمَقَامِ فِي الْعُمْرَةِ ٤٩١
باب الإِفَاضَةِ فِي الْحَجِّ ٤٩١
آخر طواف يوم النحر الى الليل باندې تفصيلي کلام ٤٩٣
دا حديث باالاتفاق د تاويل محتاج دې ٤٩٤
د حديث مبارک تشريح: ٤٩٥
باب الْوَدَاعِ ٤٩٥
باب الْحَائِضِ تَخْرُجُ بَعْدَ الإِفَاضَةِ ٤٩٦
د حديث تشريح د اشکال او جواب سره ٤٩٦
باب طَوَافِ الْوَدَاعِ ٤٩٨
په حديث باندې اشکال او د هغې جواب ٤٩٨
باب التَّحْصِيبِ ٥٠١
د اسمح لخروجه شرح ٥٠٢
د حديث تشريح او وضاحت ٥٠٤
باب فِيمَنْ قَدَّمَ شَيْئًا قَبْلَ شَىْءٍ فِي حَجِّهِ ٥٠٦
باب فِي مَكَّةَ ٥٠٧
د ترجمة الباب غرض ٥٠٧
په مکه مکرمه کښې د ستره قائمولو ضرورت شته يا نه؟ ٥٠٨
شرح السند ٥٠٨
باب تَحْرِيمِ حَرَمِ مَكَّةَ ٥٠٩
د حديث مبارک شرح: ٥١٠
د حرم کوم واښه او اونه کټ کول منع دي ٥١١
د مقام مناسب بعضې فقهي جزئيات او د امامانو اختلاف ٥١١
د حرم زمکه موقوف ده يا مملوک؟ او په دې کښې څلور مذاهب ٥١٣
آيا په ارض حرم او بناء حرم کښې فرق دې؟ ٥١٣

شمار	مضمون	صفحه
	باب فِي نَبِيذِ السِّقَايَةِ	٥١٥
	باب الإِقَامَةِ بِمَكَّةَ	٥١٦
	باب الصَّلَاةِ فِي الْكَعْبَةِ	٥١٧
	اولنې بحث:	٥١٧
	دويم بحث:	٥١٧
	دريم بحث:	٥١٧
	څلورم بحث:	٥١٨
	په جوف كعبه او د كعبې په چهت باندې مونځ كله صحيح دې؟	٥١٨
	باب الصَّلَاةِ فِي الْحِجْرِ	٥٢٢
	باب فِي دُخُولِ الْكَعْبَةِ	٥٢٣
	آيا نبي عليه السلام د حجة الوداع په موقع باندې بيت الله شريف ته داخل شوې وو؟	٥٢٣
	باب فِي مَالِ الْكَعْبَةِ	٥٢٥
	د حديث مبارک شرح:	٥٢٧
	آيا وَج طائف د حرم په حكم كښې دې؟	٥٢٧
	باب فِي إِتْيَانِ الْمَدِينَةِ	٥٢٨
	د حديث شرح علی احسن وجهٍ	٥٢٨
	د علماؤ صلحاؤ يا د هغوی د قبرونو د زيارت دپاره شدِ رحل	٥٣٠
	شدِ رحل د روضه شريفه نبويه په اراده	٥٣١
	استدراک	٥٣٢
	د مسجد حرام او مسجد نبوی په فضيلت كښې احاديث او د هغې توضيح او تشريح	٥٣٢
	باب فِي تَحْرِيمِ الْمَدِينَةِ	٥٣٦
	د حرم مدينه په حكم كښې د جمهورو او د احنافو اختلاف	٥٣٧
	د حديث تفصيلي تشريح	٥٣٨
	باب زِيَارَةِ الْقُبُورِ	٥٤٣
	د حديث مبارک تشريح د ماله و ماعليه سره	٥٤٣
	د علامه سندی رحمه الله توجيه	٥٤٤
	د علامه سيوطی رحمه الله توجيه	٥٤٤
	د علامه خفاجی رحمه الله جواب:	٥٤٦
	په دواړ احاديثو كښې د تعارض دفع كول	٥٤٨
	د حديث وضاحت او تشريح	٥٤٩

شمار	مضمون	صفحه
	د ذوالحليفه نه مديني منورې ته دوه لارې او د نبي عليه السلام معمول	٥٤٩
	كتاب النكاح	٥٥١
	مباحثه اربعه علميه مفيده	٥٥١
	البحث الاول : (د كتاب ترتيب)	٥٥١
	البحث الثانى : (د نكاح لغوى او اصطلاحى معنى)	٥٥٢
	د زنا نه د حرمة مصاهرة ثبوت :	٥٥٢
	البحث الثالث : (د نكاح شرعى حكم)	٥٥٣
	البحث الرابع : (دنكاح فوائد اوفضائل)	٥٥٤
	باب التَّحْرِيضِ عَلَى النِّكَاحِ	٥٥٦
	مضمون حديث :	٥٥٦
	شرح حديث:	٥٥٧
	وجاء او اخصاء كښې فرق :	٥٥٧
	باب مَا يُؤْمَرُ بِهِ مِنْ تَزْوِيجِ ذَاتِ الدِّينِ	٥٥٨
	باب فِي تَزْوِيجِ الأَبْكَارِ	٥٥٩
	شرح حديث :	٥٥٩
	باب النَّهْيِ عَنْ تَزْوِيجِ، مِنْ لَمْ يَلِدْ مِنَ النِّسَاءِ	٥٦٠
	شرح حديث :	٥٦٠
	مطابقة الحديث للترجمة :	٥٦١
	باب فِي قَوْلِهِ تَعَالَى { الزَّانِي لاَ يَنْكِحُ إِلاَّ زَانِيَةً }	٥٦٢
	مضمون حديث :	٥٦٣
	مسئله ثابته من الحديث:	٥٦٣
	باب فِي الرَّجُلِ يَعْتِقُ أَمَتَهُ ثُمَّ يَتَزَوَّجُهَا	٥٦٤
	شرح حديث :	٥٦٥
	مسئله ثانيه بالحديث كښې اختلاف ائمه :	٥٦٦
	باب يَحْرُمُ مِنَ الرَّضَاعَةِ مَا يَحْرُمُ مِنَ النَّسَبِ	٥٦٧
	متن حديث	٥٦٧
	لبن الفحل :	٥٦٨
	مضمون حديث :	٥٦٩
	باب فِي لَبَنِ الْفَحْلِ	٥٧٠
	د لبن الفحل تشريح :	٥٧٠

شمار	مضمون	صفحه
	د اختلاف وجه :	٥٧١
	مضمون حديث :	٥٧١
	باب فِي رَضَاعَةِ الْكَبِيرِ	٥٧٢
	شرح حديث :	٥٧٣
	دا حديث مختصر دې :	٥٧٣
	باب فِيمَنْ حَرَّمَ بِهِ	٥٧٤
	مضمون حديث :	٥٧٥
	د جمهورو دليل :	٥٧٦
	باب هَلْ يُحَرِّمُ مَا دُونَ خَمْسِ رَضَعَاتٍ	٥٧٦
	باب فِي الرَّضْخِ عِنْدَ الْفِصَالِ	٥٧٨
	شرح حديث :	٥٧٨
	باب مَا يُكْرَهُ أَنْ يُجْمَعَ بَيْنَهُنَّ مِنَ النِّسَاءِ	٥٧٩
	شرح حديث :	٥٨٢
	د حديث تشريح :	٥٨٤
	هغه قصه چه د هغې طرف ته په حديث کښې اشاره ده :	٥٨٥
	شرح السند :	٥٨٦
	باب فِي نِكَاحِ الْمُتْعَةِ	٥٨٧
	په متعه او نکاح موقت کښې فرق:	٥٨٧
	د متعه په باره کښې په روايات مختلفه کښې توجيه :	٥٨٧
	مسلک ابن عباس :	٥٨٨
	باب فِي الشِّغَارِ	٥٨٩
	د شغار په باره کښې مذاهب ائمه :	٥٩٠
	باب فِي التَّحْلِيلِ	٥٩١
	په مسئلة الباب کښې مذاهب ائمه :	٥٩١
	باب فِي نِكَاحِ الْعَبْدِ بِغَيْرِ إِذْنِ مَوَالِيهِ	٥٩٢
	باب فِي كَرَاهِيَةِ أَنْ يَخْطُبَ الرَّجُلُ عَلَى خِطْبَةِ أَخِيهِ	٥٩٣
	شرح الحديث على اتم وجه	٥٩٤
	باب فِي الرَّجُلِ يَنْظُرُ إِلَى الْمَرْأَةِ وَهُوَ يُرِيدُ تَزْوِيجَهَا	٥٩٥
	باب فِي الْوَلِيِّ	٥٩٦
	د دې مقام پوره وضاحت	٥٩٦

صفحه	مضمون	شمار
۵۹۷	وجوه اربعه وفاقيه خلافيه	
۵۹۸	د حديث عائشه د احنافو د طرف نه جواب	
٦۰۰	شرح السند :	
٦۰۰	د حديث ابو موسى جواب	
٦۰۱	د ام حبيبه رضي الله عنها سره د رسول الله صلى الله عليه وسلم د نكاح قصه :	
٦۰۲	باب فِي الْعَضْلِ	
٦۰۳	د آيت كريمه نه په ولاية النكاح كښې د فريقينو استدلال	
٦۰۳	باب إِذَا أَنْكَحَ الْوَلِيَّانِ	
٦۰٤	باب قَوْلِهِ تَعَالَى { لاَ يَحِلُّ لَكُمْ أَنْ تَرِثُوا النِّسَاءَ كَرْهًا وَلاَ تَعْضُلُوهُنَّ }	
٦۰۵	باب فِي الاِسْتِئْمَارِ	
٦۰۵	د حديث نه د جمهورو استدلال او د احنافو د طرف نه د هغې جواب	
٦۰۸	باب فِي الْبِكْرِ يُزَوِّجُهَا أَبُوهَا وَلاَ يَسْتَأْمِرُهَا	
٦۰۹	باب فِي الثَّيِّبِ	
٦۰۹	د حديث په تشريح كښې د احنافو او شوافعو اختلاف	
٦۱۱	باب فِي الأَكْفَاءِ	
٦۱۱	د كفاءة متعلق مباحث اربعه	
٦۱۱	بحث اول : (كفوء معنى)	
٦۱۲	بحث ثانى : (د كفوء حكم)	
٦۱۲	بحث ثالث : كفاءت په كومو كومو اوصافو كښې معتبر دې؟	
٦۱۲	بحث رابع : كفاءت دا د زنانه حق دې د سړى حق نه دې:	
٦۱۳	ايا په كفاءت بالنسب كښې يو حديث شته؟	
٦۱٤	باب فِي تَزْوِيجِ مَنْ لَمْ يُولَدْ	
٦۱۵	شرح الحديث بتمامه :	
٦۱٦	مطابقة الحديث للترجمة :	

بسم الله الرحمن الرحيم
الحمدلله رب الغلمين والصلوة والسلام على سيدنا
وسيد المرسلين محمد وآله واصحابه اجمعين
اللهم انى احمدك و استعينك

....

كتاب الزكاة

دزكوة احكام او مسائل

بَاب وُجُوبِ الزَّكَاةِ

باب: ۱-دَزکات دَواجب کيدو بيان

ابحاث خمسه مفيده :

په شروع کښې يو څو څيزونه قابل ذکر دی،

(۱)المناسبة بما قبله و ترتيب الكتب، (۲)المعنى اللغوى والشرعى

(۳)بدء الشروعية، (۴) هل تجب الزكوة على الانبياء،

(۵) دمشروعية زكوة حكمت، فهذه خمسة ابحاث.

بحث اول : (المناسبة بما قبله وترتيب الكتب)

هرکله چه مصنف رحمه الله د اسلام د رکن ثاني يعنى صلوة نه فارغ شو، نو اوس رکن ثالث شروع کوی، حديث بنى الاسلام على خمس کښې هم دا ترتيب دې، په شروع کښې شهادتين بيا صلوة، دهغې نه پس زکوة، او د قرآن مجيد ترتيب هم دا دې، ددې وجې نه اکثر فقهاؤ او محدثينو هم داسې کړی دی، لکه په صحيحين او سنن ترمذی کښې هم دا ترتيب دې، ليکن سنن نسائي او ابن ماجه دواړو کښې په زکوة باندې د صوم تقديم کړې دې، او دمؤطا امام مالک نسخې مختلفې دی، په نسخ هنديه کښې زکوة باندې د صوم تقديم دې، او بعضې نورو نسخو کښې زکوة مقدم دې، په صوم باندې.

د قياس تقاضا خو داده، چه صوم مقدم وې په زکوة باندې، ځکه چه صلوة او صوم دواړه عبادت بدنيه دی، او زکوة عبادت ماليه دی، او د اصح قول په بنياد باندې د صوم فرضيت مقدم دې، په زکوة باندې کما سياتی.

او د تقديم زکوة وجه داده، چه څرنګه مخکښې تير شو، چه د اکثر احاديثو او قرآن مجيد ترتيب دادې، حتى چه قرآن مجيد کښې دوه ديرش ځله [1] د صلوة سره د زکوة ذکر کړې شوې دې،چه په هغې کښې اتۀ آيتونه د مکی سورتونو دی، او باقی دمدنی سورتونو، په درمختار کښې دی، چه د صلوة او زکوة دا اقتران دليل دې، ددې خبرې چه په دې دواړو کښې کمال اتصال او تعلق دې.

---

[1] دلته په درمختار کښې د دوه ديرشو په ځاې دوه اتيا (۸۲) مذکور دی، په دې علامه شامی تنبيه کړې ده، چه د اثنين او ثمانين په ځاې اثنين او ثلاثين کيدل پکار دی. (الحل المفهم)

او دویمه وجه تقدیم د زکوٰة دا کیدې شی، چه بعضو علماؤ ددې خبرې تصریح کړې ده، چه په ارکان اربعه کښې د صلوٰة نه پس د زکوٰة مرتبه ده، ثم الصیام ثم الحج. لیکن دا ترتیب د احنافو په نزد دې، لکه علامه ابن عابدین دا ترتیب لیکلې دې، او په کتب شافعیه شرح اقناع وغیره کښې ددې خلاف دی، دهغوی په نزد صوم او حج افضل دی د زکوٰة نه لکه په روضة المحتاجین ص۲۲۷ کښې دی، وقدم العلماء بیانها علی بیان الصوم والحج مع انهما افضل منها نظرا لحدیث بنی الاسلام الخ او بیا مخکښې هغوی په حدیث کښې د تقدیم زکوٰة حکمت بیان کړې دې.[1]

دویم بحث : (د زکوٰة لغوی معنی)

زکوٰة لغة په دواړو معانیو کښې مستعمل دې:

(۱) نما او زیاتوالې، وئیلې شی زکا الزرع چه کله فصل لوئیدل شروع شی

(۲) طهارت او تزکیه لکه په دې آیت کریمه کښې قد افلح من زکها، یتلوا علیهم آیاته و یزکیهم، او چونکه معنی لغوی په معنی اصطلاحی کښې ملحوظه وی، ددې وجه نه علماؤ لیکلی دی، چه دا دواړه لغوی معنی په زکوٰة شرعی کښې موندلې شی. اول په دې وجه چه اخراج زکوٰة په مال کښې د برکت او زیاتوالی سبب دې، په حدیث کښې دی ما نقص مال من صدقة او یا داسې اوایئ، چه د زکوٰة په وجه په ثواب کښې زیاتوالې راځی، او یا ددې لحاظ نه چه د زکوٰة تعلق د مال نامی سره دې. او ثانی معنی په دې وجه موندلې شی، چه زکوٰة د رذیل اخلاقو او بخل نه د پاکئ سبب دې،یا د طهارت من الذنوب سبب دې بعضو علماؤ د زکوٰة یوه دریمه معنی هم لیکلې ده، مدح کما فی قوله تعالی : فلا تزکوا انفسکم

د زکوٰة اصطلاحی تعریف

او معنی شرعی د زکوٰة داده[2] دنصاب حولی نه د یو خاص جزء(ربع العشر) داسې یو مسلمان مالک کول چه فقیر وی، او هاشمی یا مولی الهاشمی نه وی، په نیت د امتثال امر خداوندی. آتو الزکوٰة(یا داسې اوایه چه په نیت د زکوٰة) بشرط قطع المنفعة عن المملک(یعنی دا ملک په داسې طریقې وی، چه دهغې نه پس په هغې مال دزکوٰة کښې د مزکی څه منفعت باقې پاتې نشی) ددې اخری قید په وجه د د مزکی اصول او فروع د مصرف دزکوٰة نه اوتل.

---

[1]) هغه داچه د انسان په طبیعت کښې بخل او حب مال دې، چه دهغې په وجه د زکوٰة ادا کول مشکل وی، ددې وجه د زکوٰة اهمیت او تاکید ظاهرولو دپاره حدیث کښې زکوٰة مقدم ذکر کړې شوی دې، او د زکوٰة یوه نوعه یعنی صدقه فطر داسې ده، چه تقریبا په ټولو واجبه ده. که صغیر وی او که کبیر، غنی وی او که فقیر، په خلاف د حج او صوم نه الخ د غنی او فقیر عموم په صدقة الفطر کښې عند الجمهور دې خلافا للحنفیة کما سیاتی)_

[2]) هغه داچه چونکه د انسان په طبیعت کښې بخل اود مال محبت پروت دې، چه ددې په وجه زکوٰة اداکول مشکل وی، په دې وجه د زکوٰة اهمیت او تاکید ښکاره کولو دپاره په حدیث کښې دا مقدم کړې شوې دې، اود زکوٰة یو نوع یعنی صدقة الفطر داسې ده چه دا تقریباً په ټولو باندې واجب ده، که هغه ماشوم وی اوکه لوئې وی،که مالدرا وی که غریب وی، په خلاف دحج او روژې الخ، د مالدار اوغریب عموم په صدقة الفطر کښې د جمهورو په نزددې، خلافا للحنفیة کما سیاتی.

پس زکوة هغوی ته ورکول صحیح نه دی، ځکه چه ددې رشتو په خپلو کښې منافع مشترک وی، لهذ د مملک او مملک په مینځ کښې دمنفعت قطع تحقق اونشو (زیلعی) د زکوة اطلاق ځرنګه چه په اخراج دمال باندې کیږی، چه فعل دمکلف دې دغه شان په هغې مال هم کیږی، چه په زکوة کښې ادا کړې شی.[1]

تنبیه : په بذل المجهود کښې د زکوة په تعریف کښې غیر هاشمی ولا مطلبی لیکلې دې، د هاشمی سره د مطلبی نفی د شافعیه مسلک دې، او په بذل کښې دا عبارت د حافظ نه اخستلې شوې دې، چه شافعی دې، د حنابله نه هم یو روایت داسې دې.

زکوة ئې په خمس غنیمت باندې قیاس کړې دې، مالکیه په دې مسئله کښې د احنافو سره دی، کما هو مصرح فی کتبهم.

د حنفیه او مالکیه په نزد په دې مسئله کښې بنو المطلب د بنو هاشم سره نه دی، البته په خمس غنیمت کښې بنو المطلب هم زمونږ په نزد د بنو هاشم په حکم کښې دی،[2] لکه چه آئنده به انشاءالله د کتاب الجهاد دتقسیم الغنیمت په باب کښې راشی.

فائده : د زکوة د تعریف نه معلومه شوه، چه ددې حقیقت تملیک دې، لهذا کوم ځائې چه د تملیک معنی نه موندلې کیږی، هغه به زکوة شرعی نه وی، مثلا په جمات کښې خرچ کول، د مړې په کفن کښې ورکول، د عام ښیګړې په کارونو کښې لګول لکه مهمان خانه یا مسافر خانه وغیره جوړول.

بحث ثالث : د زکوة فرضیت کله اوشو؟

په دې کښې درې اقواله دی(۱) د هجرت نه پس سنه ۲هـ کښې، او هم دا کال د صوم د فرضیت هم دې، لیکن په دې دواړو کښې کوم یو مقدم دې، زکوة یا صوم؟ په دې کښې دواړه اقواله دی، مال النووی فی الروضة الی الاول او د اکثرو رائې ددې برعکس ده، چه د صوم فرضیت مخکښې دې د زکوة نه،(ددې تائید مخکښې د حدیث نه هم کیږی) د صوم مشروعیت په شعبان سنه ۲هـ کښې اوشو، او د زکوة مشروعیت په شوال سنه ۲هـ کښې اوشو، البته د صدقة الفطر مشروعیت د زکوة نه مخکښې صوم سره شوې دې، لکه چه په مسند احمد او د نسائي په یو روایت کښې [3]ددې تصریح ده، چه دهغې راوی قیس بن

---

[1] علامه قسطلانی ددې تعریف په بله طریقې سره کړې دې، هغوی لیکلې دی، وفی الشرع اسم لما یخرج عن مال او بدن علی وجه مخصوص الخ دا تعریف هغوی ددې وجه نه کړې دې، چه په اصل کښې د زکوة دوه قسمه دی، زکوة مالیه او زکوة بدنیه، د زکوة بدنیه نه مراد صدقة الفطر دې، د صدقة الفطر د وجوب تعلق د مال او نصاب سره نه دې، بلکه د انسان د ذات او بدن سره دې، ددې وجه نه دې ته زکوة الراس والبدن ونیلې شی، کما سیاتي في محله او دا تعریف مبنی دې، په دې باندې چه د زکوة اطلاق ځرنګه په تملیک دمال او په اخراج دمال باندې کیږی، دغه شان په مال مخرج باندې هم کیږی، هم ددې وجه نه صاحب منهل لیکلې دی، وفی عرف الشرع اسم للقدر المخرج من المال حقا لله تعالی، یعنې د مال هغه مخصوص مقدار چه ویستلې شی د حق الله کیدلو په حیثیت سره.)

[2] یعنی په خمس دغنیمت کښې ځرنګه چه د بنو هاشم حصه ده، دغه شان د بنو المطلب هم ده، ځکه په حدیث کښې ددې تصریح ده)

[3] امام نسائي خو په دې حدیث باندې مستقل باب تړلې دې، باب فرض صدقة الفطر قبل نزول الزکوة)

سعد دي، هغه فرمائي امرنا رسول الله(صلى الله عليه وسلم) بصدقة الفطر قبل ان تنزل الزكوة ثم نزلت فريضة الزكاة. په دې حديث كښې ددې خبرې تصريح ده، چه نبى كريم ﷺ د صدقة الفطر حكم د فريضه زكوة نه مخكښې اوفرمائيلو، د زكوة نزول دهغې نه پس اوشو، او ددې نه دا خبره هم ثابته شوه، چه د صوم فرضيت هم د زكوة نه مخكښې دې، څكه چه صدقة الفطر د صوم سره متعلق دې، نو هركله چه صدقة الفطر د زكوة نه مقدم دې، نو صوم هم د زكوة نه مقدم شو ،(قاله الحافظ)

(۲) دويم قوم د ابن الاثير الجزرى رحمه الله دې، چه د زكوة نزول په سنه ۹هـ كښې اوشو، ليكن دا قول مردود دې، څكه چه ډير داسې احاديث دى، چه يقينا د سنه ۹هـ نه مخكښې والا دى، په هغې كښې د زكوة ذكر موجود دې، مثلا حديث دضمام بن ثعلبة چه د سنه ۵هـ واقعه ده، هم داسې حديث دهرقل چه د سنه ۷هـ واقع ده، البته د تحصيل زكوة دپاره بعث دعمال په سنه ۹هـ كښې اوشو ، كما قال الشراح.

(۳) دريم قول د محدث شهير ابن خزيمه دې، چه د زكوة فرضيت قبل الهجرة دې، هغه دې له د حديث ام سلمه رضي الله عنها نه ثابت كړې دې، چه د هجرة الى الحبشة سره متعلق دې، چه د نجاشى د سوال په جواب كښې حضرت جعفر ابن ابى طالب رضي الله عنه اوفرمائيل : و يامرنا بالصلوة والزكوة والصيام. چه محمد ﷺ مونږ ته د صلوة، زكوة او صيام حكم فرمائى، او دا قصه د هجرت مدينه نه مخكښې ده. د ابن خزيمه په استدلال باندې حافظ اشكال كړې دې، هغه فرمائي و فى استدلاله بذلك نظر. څكه چه دغه وخت پورې خو صلوات خمسه او صيام هم فرض نه وو، نو كيدې شى، چه د دې دواړو په مينځ كښې دا سوال او جواب د حضرت جعفر رضي الله عنه حبشې ته رسيدلو سره سمدستى نه وو. بلكه څه موده پس شوې وى، او په هغې موده كښې دا څيزونه فرض كړې شوې وى، چه دهغې اطلاع حضرت جعفر رضي الله عنه ته په حبشه كښې اورسيدله،حافظ فرمائي و لكنه بعيد او بيا مخكښې ليكي: او بهتره داده، چه داسې اوئيلې شى، چه په دې حديث كښې د صلوة او صيام او زكوة نه مطلق صلوة او روژه اوصدقه مراددى، نه صلوات خمسه،اوصيام رمضان اوزكوة معهود

ليكن د ابن خزيمه نه علاوه نور هم د ډيرو علماؤ رائې هم داده، چه د زكوة فرضيت قبل الهجرة اوشو ، البته دهغې تفصيلات او د نصاب مقررتيا د هجرت نه پس اوشو ، څكه چه ډير آيات قرآنيه چه مكى دى، په هغې كښې د زكوة ذكر دې، لكه چه په شروع كښې تير شوې دى، چه داسې قسمه آيتونه تقريبا اتۀ(۸) دى، د ملا على قارى تحقيق هم دادې، او د مولانا انورشاه رحمه الله تحقيق هم دادې كما فى فيض البارى.

بحث رابع : (ايا په انبياء عليهم السلام باندې زكوة واجب وو؟

په بعضو كتابونو د حنفيه او مالكيه كښې تصريح ده، كما فى الاوجز) چه زكوة په انبياء عليهم السلام باندې واجب نه دې، او په درمختار كښې ئې خوپه دې باندې اجماع نقل كړې ده، ليكن په ظاهر كښې د اجماع نه د علماء احناف اجماع مراد ده، څكه چه مطلقا په دې اجماع كيدل ماته په بل يو كتاب كښې هم ملاؤ نشوه بلكه صاحب روح المعانى د

واوصاني بالصلوة والزكوة مادمت حيا په تفسير کښې په دې سلسله کښې د تردد اظهار کړې دې، بلکه بعض کتب شافعيه لکه انوار ساطعه کښې احقر ته ددې خبرې تصريح ملاؤ شوه، چه د شوافع په نزد د انبياء کرامو دپاره ملک هم ثابتيږي، او که هغوی صاحب نصاب وی، نو زکوة هم په هغوی واجب دې.

د کوم علماؤ په نزد چه واجب نه دې، نو د عدم وجوب مقصد څه دې؟ په دې کښې څو اقوال دی، بعضې وائي: ځکه چه الله تعالی انبياء کرامو لره د دنيا د مال او متاع نه پاک ساتلې دی، هغوی سره چه څه وو هغه په حقيقت کښې دامانت او وديعة په طور باندې وو، ملک د الله تعالی وو.

بعض داسې وائي چه زکوة ذريعه ده، د تطهيرد مال، او کسب دانبياء د مخکښې نه پاک او طيب دې، د تطهير ضرورت نشته، او وئيلې شوې دی، چه زکوة د بخل او رذيل عاداتو د ازالې ذريعه ده، او انبياء کرام ددې نه پاک دی.

بحث خامس : (د زکوة بعضې فوائد اوحکمتونه)

علماؤ په دې کښې ډير مصالح او حکم ليکلې دی:

(۱) خپل ځان لره د ګناهونو او دبخل د ګندګۍ نه پاکول

(۲) په فقيرانو او مسکينانو باندې احسان کول او دهغوی سره همدردی کول

(۳) په آخرت کښې ددې په وجه د درجو اوچتوالې

(۴) مال چونکه انسان ته طبعا محبوب دې، ددې وجه نه ددې په کثرت کښې قوی خطره ده، چه سړې په دې کښې مشغول شي او د الله تعالی او دار اخرت نه غافل شي، نو دې محبت او غفلت لره کمولو دپاره زکوة لره واجب کړې شو، دې دپاره چه تعلق مع الله او تقرب حاصل شي

(۵) په دې کښې امتحان او تميز دې، د مطيع او غير مطيع په مينځ کښې، چه کوم يو بنده داسې دې، چه خپل محبوب او مرغوب څيز د الله تعالی دپاره خرچ کوی، او کوم بنده داسې نه کوی،

(۶) يوه فائده داده، چه کله فقيرانو ته هر کال د مالدارانو د مال نه يوه حصه ملاويږي، نو هغوی ته به يوقسم تسلی ملاويږي، ددې په نتيجه کښې به د مالدارانو مالونه د فقراؤ د ناجائز تصرف او قهر نه محفوظ وی، ګنې هغه خلق به په زور يا خيانت او غلا باندې مجبور شي، دې سره ظاهره ده چه فساد في الارض به وی،

بنيادي مباحث پوره شو، اوس حديث الباب ته راشو.

[۱۵۵۶]( )حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ الثَّقَفِيُّ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ عُقَيْلٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، أَخْبَرَنِي عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُتْبَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: لَمَّا تُوُفِّيَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاسْتُخْلِفَ أَبُو بَكْرٍ بَعْدَهُ، وَكَفَرَ مَنْ كَفَرَ مِنَ الْعَرَبِ، قَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ لِأَبِي بَكْرٍ: كَيْفَ تُقَاتِلُ النَّاسَ، وَقَدْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أُمِرْتُ

[1]): صحيح البخاري/الزكاة ١(١٣٩٩)، ٤٠(١٤٥٦)، المرتدين ٣(٦٩٢٤)، الاعتصام ٢(٧٢٨٤)، صحيح مسلم/الإيمان ٨(٢١)، سنن الترمذي/الإيمان ١(٢٦٠٧)، سنن النسائي/الزكاة ٣(٢٤٤٥)، الجهاد ١(٣٠٩٤)، المحاربة ١(٣٩٧٥، ٣٩٧٦، ٣٩٧٨، ٣٩٨٠)، (تحفة الأشراف: ١٠٦٦٦)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/الفتن ١(٣٩٢٧)، مسند احمد(٥٢٨/٢)(صحيح)

أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَقُولُوا لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، فَمَنْ قَالَ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ عَصَمَ مِنِّي مَالَهُ وَنَفْسَهُ إِلَّا بِحَقِّهِ وَحِسَابُهُ عَلَى اللَّهِ عَزَّوَجَلَّ". فَقَالَ أَبُوبَكْرٍ: وَاللَّهِ لَأُقَاتِلَنَّ مَنْ فَرَّقَ بَيْنَ الصَّلَاةِ وَالزَّكَاةِ، فَإِنَّ الزَّكَاةَ حَقُّ الْمَالِ، وَاللَّهِ لَوْ مَنَعُونِي عِقَالًا كَانُوا يُؤَدُّونَهُ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَقَاتَلْتُهُمْ عَلَى مَنْعِهِ، فَقَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ: فَوَاللَّهِ مَا هُوَ إِلَّا أَنْ رَأَيْتُ اللَّهَ عَزَّوَجَلَّ قَدْ شَرَحَ صَدْرَ أَبِي بَكْرٍ لِلْقِتَالِ، قَالَ: فَعَرَفْتُ أَنَّهُ الْحَقُّ. قَالَ أَبُو دَاوُدَ: قَالَ أَبُوعُبَيْدَةَ مَعْمَرُ بْنُ الْمُثَنَّى: الْعِقَالُ صَدَقَةُ سَنَةٍ، وَالْعِقَالَانِ صَدَقَةُ سَنَتَيْنِ. قَالَ أَبُو دَاوُدَ: وَرَوَاهُ رَبَاحُ بْنُ زَيْدٍ، وَرَوَاهُ عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ بِإِسْنَادِهِ، وَقَالَ بَعْضُهُمْ: عِقَالًا. وَرَوَاهُ ابْنُ وَهْبٍ، عَنْ يُونُسَ، قَالَ: عَنَاقًا. قَالَ أَبُو دَاوُدَ: قَالَ شُعَيْبُ بْنُ أَبِي حَمْزَةَ، وَمَعْمَرٌ، وَالزُّبَيْدِيُّ: عَنِ الزُّهْرِيِّ فِي هَذَا الْحَدِيثِ، لَوْ مَنَعُونِي عَنَاقًا. وَرَوَى عَنْبَسَةُ، عَنْ يُونُسَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ فِي هَذَا الْحَدِيثِ، قَالَ: عَنَاقًا.

د حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې چه کله د رسول الله ﷺ وفات اوشو او د هغه نه پس حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه خلیفه جوړ کړې شو او دَ قبائل عرب نه چه دَ چا کفر اختیارول وو، هغوی کفر اختیار کړو، نو حضرت عمر بن خطاب رضی الله عنه حضرت ابوبکر رضی الله عنه ته اوفرمائیل : تاسو دَ خلقو سره په کومه بناء باندې قتال(جنګ) کوئ؟ حالانکه رسول الله ﷺ فرمائیلي دی :" ماته حکم راکړې شوې دې چه دَ خلقو سره قتال اوکړم تردې پورې چه هغوی لا اله الا الله اووائي - نو چا چه لا اله الا الله اووې هغه زما نه خپل جان او مال محفوظ کړل، مګر دا کۀ دَ اسلام څۀ حق وی، او دَ هغې حساب دَ الله په ذمه باندې دې -" په دې باندې حضرت ابوبکر رضی الله عنه جواب ورکړو : قسم په الله باندې ! زۀ دَ هر هغه کس سره لازماً جنګ کووم څوک چه دَ مونځ او دَ زکات په مابین کښې فرق کوی ځکه چه زکات دَ مال(شرعی) حق دې، قسم په الله باندې ! کۀ چرې دې خلقو زما نه هغه رسئ هم منع کړه کومه چه به دوی رسول الله ﷺ ته ورکوله نو زۀ به ددوی سره ددې په منع کیدو باندې هم قتال کووم - نو حضرت عمر بن الخطاب رضی الله عنه اوفرمائیل : قسم په الله باندې ! ما اوکتل چه الله تعالیٰ دَ جنګ دَ پاره دَ حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه سینه کولاؤ کړې ده او آخر زما په پوهه کښې هم دا خبره راغله چه هم دا خبره حق ده - امام ابوداود رحمه الله فرمائي چه دې حدیث لره رباح بن زید او عبد الرزاق دَ معمر نه، هغوی دَ زهری نه دَ هغه په سند سره روایت کړې دې - بعضو دَ عقالاً " رسئ " ذکر کړې دې، او ابن وهب دَ یونس نه [عناقاً] " دَ چیلئ بچې " روایت کړې دې - امام ابوداود رحمه الله فرمائي چه شعیب بن ابی همزه، معمر او زبیدی هم د زهری نه په دې حدیث کښې دغه شان وئیلي دی(چه ابوبکر اووې :) [لو منعونی عناقاً] " کۀ چرې دې خلقو زما نه دَ چیلئ یو بچې هم منع کړو نو ...... او هم داشان عنبسه دَ یونس نه، هغوی د زهری نه، لفظ د :" عناقا " دَ چیلئ بچې " روایت کړې دې -

تشریح: قوله: حدثنا قتیبة بن سعید عن ابی هریرة رضی الله عنه قال لما توفی رسول الله(صلی الله علیه وسلم) واستخلف ابوبکر بعده و کفر من کفر من العرب الخ.

دا حدیث د ابوداؤد نه علاوه صحیحین، ترمذی او مسند احمد کښې هم دې، د ترمذی جلد ثانی کتاب الایمان اول حدیث هم دادې، او حضرت امام بخاری رحمه الله دا حدیث په څو ځایونو کښې ذکر کړې دې، اول په کتاب الایمان کښې، بیا په کتاب الزکوة کښې چه په هغې ئې ترجمه قائمه کړې ده باب وجوب الزکوة. دهغې نه پس د جلد ثانی په آخر کښې،

استتابة المرتدين کښې، او هلته ئې په دې ترجمه قائمه کړې ده باب قتل من ابی قبول الفرائض. لیکن امام ابوداؤد دا حدیث دلته په کتاب الزکوة کښې بغیر د تبویب او ترجمه نه ذکر کړې دې، ددې په ظاهر کښې وجه دا په پوهه کښې راځی، چه د مصنف غرض دې حدیث راوړلو سره صرف د زکوة اهمیت بیانول دی، او نور د څه خاص مسئلې استنباط مقصود نه دې، دې دپاره چه څوک په دې باندې څه خاص ترجمه قائمه کړی.

دا حدیث ډیر د تشریح او توضیح محتاج دې، شارحینو په دې باندې ډیر لیکل کړې دی،مونږ کوشش کوؤ،چه د ضرورت مطابق خلاصه دلته بیان کړې شی والله المستعان

د مناظره شیخین والا حدیث تشریح :

په دې حدیث کښې دوه اجزاء دی، یو کفر من کفر من العرب دا خو تاریخی خبره ده، او ددې جزء ثانی مناظره شیخین ده.

دحضرت عمر رضی الله عنه اشکال په حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه باندې چه کیف تقاتل الناس دا اصولی او فقهی مسئله ده، په جزء اول باندې بعضې شارحینو تفصیلی کلام کړې دې، او بعضو مختصر،علامه قسطلانی په شرح بخاری کښې مختصرا لیکلې دی، مونږ اول هغه بیانوؤ.

حضرت ابوهریره رضی الله عنه (راوی حدیث) د مناظرهٔ شیخین تمهید بیانوی، چه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د وصال نه پس چه کله صدیق اکبر رضی الله عنه خلیفه جوړ کړې شو، او د عرب بعضې قبائل مرتد شول،(په دې حضرت ابو بکر رضی الله عنه هغوی سره د قتال اراده اوفرمائیله) نو حضرت عمر رضی الله عنه عرض اوکړو کیف تقاتل الناس الخ

د حدیث جزء اول، د مرتدینو تعیین :

علامه قسطلانی کفر من کفر باندې لیکلې دی، چه بعضې خو په هغوی کښې کافران شول، د عبادت اوثان د وجې نه، او بعضې د مسیلمه کذاب د اتباع د وجې نه اهل یمامه وغیره، او بعضې په خپل ایمان باندې قائم پاتې شو، لیکن هغوی د زکوة ورکولو نه انکار اوکړو،(ددې تاویل باطل په ذریعه) چه زکوة خو عهد نبوی صلی الله علیه وسلم سره خاص وو، لقوله تعالی خذ من اموالهم صدقة تطهرهم و تزکیهم بها الآیة په دې آیت کښې نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته خطاب دې، چه ته د دوی نه زکوة واخله. او زکوة اخستلو سره دوی د ګناهونو د اثراتو نه پاک کړه، او دهغوی په حق کښې دعا هم اوکړه، بیشکه ستا دعا دهغوی دپاره د سکون او اطمینان سبب دې او دا اوچت شان د نبی کریم صلی الله علیه وسلم وو، چه د هغوی دعا د سکون باعث وه، د نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه علاوه بل هیچاته دا صفت حاصل نه دې، چه هغه زکوة واخلی. ا هـ

او امام نووی په شرح مسلم کښې د خطابی نه په دې تفصیلی کلام نقل کړې دې، دهغې خلاصه داده، چه د مرتدینو دوه قسمه وو، اول قسم هغه خلق وو، چه بالکل د اسلام نه واوښتل، په دې قسم کښې دوه قسمه خلق وو، بعضې هغه وو چه د دروغژن مدعیان نبوت(مسلیمه او اسود عنسی وغیره) په ملګرو کښې شامل شو، او بعضې هغه وو، چه خپل سابقه جهالت طرف ته واوښتل، یعنی د بتانو عبادات او کفر وشرک ئې شروع کړو،(او په دې ارتداد کښې دومره عموم او ابتلاء اوشوه چه) په مخ د زمکې صرف درې جماتونه

داسې پاتې شو، چه په هغې کښې به د الله تعالى عبادت کيدو، مسجد مکه، مسجد مدينه، او د بحرين په کلي جواثي کښې مسجد عبد القيس.
او دويم قسم هغه خلق وو، چه صلوة او نور شرائع د اسلام ئې منل، ليکن د زکوة د فرضيت او دهغې اداء الى الامام نه منکر وو، دا خلق په حقيقت کښې مرتد او کافر نه وو، بلکه باغيان وو، د مرتدينو د کثرت په وجه په هغوى کښې خلط ملط شو، اه.
ددې خلاصه داشوه، چه په هغه زمانه کښې د نيغې لارې نه اوختونکې خلق دوه قسمه وو،(۱) مرتدين چه په هغوى کښې دوه قسمه خلق وو کما سبق(۲) فارقين بين الصلوة والزکوة چه دوى ته باغيان وئيل پکار دى.
د خطابى د کلام نه معلوميږى، چه د فتنه ارتداد وباء په ټول عرب کښې خوره شوه، او د يو عموم او شيوع شکل ئې اختيار کړو، په دې باندې حضرت شيخ په حاشيه د بذل کښې اشارة او شاه صاحب په فيض البارى کښې صراحة تنقيد کړې دې، چه داسې نقل کولو سره د دينى ضرر نه علاوه دا هم دى، چه دا خبره خلاف واقع ده، و قد مر منى عن ابن حزم (فى کتاب الملل والنحل) انه لم يرتد الا شرذمة قليلة(فيض البارى)
د حضرت مولانا حبيب الرحمن صاحب سابق مهتمم دارا العلوم ديوبند مضمون " اشاعت اسلام"(۱) ددې ارتداد باره کښې د مطالعې قابل دې.
او صاحب دمنهل و کفر من کفر من العرب په شرح کښې ليکلې دى : يعنى د دين نه واؤختل، بيا هغه خلق د کومو باره کښې چه الله تعالى د کفر اراده کړې وه، او د شرائع اسلام نه منکر شول، صلوة او زکوة ټول ئې پريخودل، او خپل مخکښنې حالت چه جاهليت وو، هغې ته واؤختل، او بعضې دروغژن مدعيان نبوت هم پيدا شو، لکه مسيلمه کذاب د بنو حنيفه نه، او طليحة الاسدى او سجاح بنت الحارث او اسود عنسى په يمن کښې.
په هغې مرتدينو کښې دا قبائل وو، اسد،(۲) غطفان، بنو حنيفه په يمامه کښې، او اهل بحرين، ازدعمان، قضاعه او اکثر بنو تميم او بعضې بنو سليم. او بيا مخکښې ئې ليکلې دى، و ثبت على الاسلام اهل المدينة، الله تعالى دوى لره په اسلام مضبوط اوساتل، د

(۱) په دې کښې حضرت مولانا صاحب ليکلې دى، چه د فتح مکې او د رسول الله ﷺ د وفات په مينځ کښې تقريبا د يونيم کال زمانه ده،(کذا فى الاصل والصواب على الظاهر دوه نيم کاله) په دومره موده کښې په ټول ملک عرب کښې اسلام خور شو، او غالبا په عربو کښې هيڅ يوه قبيله هم ظاهرا د اسلام نه منحرف پاتې نشوه، ليکن په دې نوى مسلمانانو کښې ډير داسې هم وو، چه فى الواقع مسلمانان شوې نه وو، بلکه د خپل قوم په تقليد کښې ئې احکام اسلام ادا کول، او د مسلمانانو په جماعت کښې داخل شوې وو،(بيا مخکښې دې لره مولانا صاحب په شواهد سره ثابته کړې ده) او ډير داسې وو، چه ايمان په هغوى کښې راسخ شوې نه وو، هم د داسې خلقو باره کښې ارشاد دې، قالت الاعراب آمنا قل لم تؤمنوا ولکن قولوا اسلمنا ولما يدخل الايمان فى قلوبکم الآية په دې خلقو کښې ايمان راسخ شوې نه وو، هغوى د اسلام خوند څکلې نه وو، چه د رسول الله ﷺ د وفات سانحه پيښه شوه، ددې وجه نه په دې دوارو ډلو کښې سمدستى يو تحريک پيدا شو، او د ارتداد يوه داسې تيزه هوا راوالوتله، چه اکثر قبائل دهغې نه متاثره شوه(بيا مخکښې ددې تفصيل دى، چه په دې کښې کتاب کښې کتلې شى)
(۲) او علامه طيبى رحمه الله ليکى: لکه څنګه چه قبيله غطفان، فزاره او بنو سليم وغيره.

ابوبکر صدیق رضی الله عنه په برکت سره، او دغه شان باقي پاتې شو اهل مکه، د سهیل بن عمرو په وجه، ځکه چه سهیل هم اهل مکې ته هغسې خطبه ورکړه، څرنګه چه صدیق اکبر د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د وفات په وخت کښې ورکړې وه. او په طائف کښې بنوثقیف هم په اسلام قائم پاتې شو، د عثمان بن ابی العاص په وجه، عثمان هم هغوی ته هغسې خطبه ورکولو سره پوهه کړل، څرنګه چه اهل مکې ته سهیل ورکړې وه. او په اسلام باندې قائم پاتې کیدونکو کښې داقبائل هم دی،اسلم،غفار،جهینة،مزینة،أشجع، هوازن، جشم، او اهل صنعاء وغیره.
او بعضې هغه وو، چه صلوٰة وغیره امور د دین ئې منل، لیکن د زکوٰة ورکولو نه ئې انکار کولو، د یوې شبهې په وجه، او دا خلق په اصل کښې باغیان وو، په دوی باندې د کفر اطلاق تغلیظ دې، او څه خلق داسې هم وو، چه د فرضیت زکوٰة نه منکر شوې وو، او بعضې خلق داسې وو، چه خپله خو ئې زکوٰة ورکولو، لیکن دهغوی مشران به هغوی لره منع کول، لکه بنی یربوع، لکه هغوی خپل صدقات جمع کړل او صدیق اکبر رضی الله عنه ته ئې د لیګلو اراده اوکړه، نو هغوی لره مالک بن نویره منع کړل، او هغه دغه صدقات په خپلې قبیلې والو باندې تقسیم کړو، دا صورت حال په مسلمانانو باندې ډیر سخت تیر شو، نو ابوبکر صدیق رضی الله عنه ډیر په تلوار سره یوولس جنډې(لواء) تیارې کړې، او دهغې دپاره ئې یوولس قائدین مقرر کړل، په هغوی کښې خالد بن ولید رضی الله عنه عکرمه بن ابوجهل رضی الله عنه او عمروبن العاص رضی الله عنه هم وو،
فقاتلوا اهل الردة حتى رجعوا الى الاسلام وقاتلوا المتنبين حتى قتل مسيلمة باليمامة والاسود العنسى[1] بصنعاء و هرب طليعة الاسدى و سجاح بنت الحارث و اسلما بعد ذالک، و قاتلوا مانعى الزكوة حتى ادوها وقطع دابر القوم الذين ظلموا والحمد لله رب العالمين. ا هـ

د حدیث جزء ثانی، د فاروق اعظم رضی الله عنه اشکال:

كيف تقاتل الناس و قد قال رسول الله(صلى الله عليه وسلم) امرت ان اقاتل الناس حتى يقولوا لا اله الا الله فمن قال لا اله الا الله عصم منى ماله و نفسه الا بحقه و حسابه على الله. صدیق اکبر رضی الله عنه چه کله د مانعین زکوٰة سره د قتال اراده اوکړه، نو په هغې فاروق اعظم رضی الله عنه اشکال اوکړو، چه دا خلق کلمه وائي، مسلمانان دی، او د نبی کریم صلی الله علیه وسلم ارشاد دې، چه ماته د خلقو سره د قتال حکم راکړې شوې دې، تردې پورې چه هغوی د شهادتین اقرار اوکړی.

---

[1]) د اسود عنسی قتل د نبی کریم صلی الله علیه وسلم په حیات کښې شوې وو، فیروز نومې صحابی هغه لره د نبی کریم صلی الله علیه وسلم په حکم قتل کړې وو، په دې نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل: فاز فیروز دهغه د قتل اطلاع نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته د وحی په ذریعې شوې وه، حضرت فیروز رضی الله عنه دهغه د قتل نه پس دهغه د قتل اطلاع د کوم قاصد په ذریعه چه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې رالیږلې وه، د هغه مدینې منورې ته رارسیدو نه یوه ورځ مخکښې د نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفات شوې وو، البته د وحی په ذریعه نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته خبر شوې وو، چه دهغې تذکره رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه کرام ته فرمائیلې وه، صحابؤ عرض اوکړو چه چا قتل کړې دې، نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل: چه یو مبارک سړې، فاز فیروز. د اسوعنسی او مسیلمه کذاب د دواړو د قتل واقعه مؤرخینو د سنه ۱۱ هـ په واقعو کښې ذکر کړې دی، د اسود قتل د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د وفات نه مخکښې او د مسیلمه قتل د وفات نه پس د صدیق اکبر رضی الله عنه په زمانه کښې د مرتدینو سره په جنګ یمامه کښې شوې وو)

په دې حدیث کښې اقرار دشهادتين لره د قتال غاية مقرر کړې شوې ده، او داچه د شهادت نه پس سړې معصوم الدم والمال کيږي، او دهغه جان او مال سره تعرض جائز نه دې، بيا تاسو دهغوی سره د قتال اراده څرنګه فرمايئ ؟

په دې صديق اکبر رضي الله عنه اوفرمائيل : و الله لاقاتلن من فرق بين الصلوة والزكوة فان الزكوة حق المال ترجمه : والله زۀ به ضرور قتال کوم، دهغې خلقو سره چه د صلوة او زکوة په مينځ کښې فرق کوی، چه د صلوة خو قائل دی او د زکوة قائل نه دی، او په دليل کښې ئې دا اوفرمائيل : چه زکوة په حقوق اسلام کښې حق المال دې، ددې مقابل د قرينې د مقام سره په پوهه کښې راځی يعنی کما ان الصلوة حق البدن يعنی څرنګه چه د حق البدن تارک سره قتال کولې شی، دغه شان د حق المال تارک سره هم قتال کول پکار دی، ددې نه په ظاهر کښې دا معلوميږی، چه د تارک صلوة باره کښې د ټولو صحابه کرامو په ذهن کښې داوه، چه دهغه سره قتال کول پکار دی.

د صديق اکبر رضي الله عنه د جواب خلاصه :

د صديق اکبر رضي الله عنه د جواب خلاصه دا شوه، چه خپله دا حديث کوم چه تاسو پيش کوئ، دلالت کوی، چه مقاتله بحق الاسلام او بحق الکلمة جائز دې، يعنی چه کوم سړې سره د کلمې وئيلو په حقوق اسلام کښې يو حق پريږدی، نو دهغه سره د قتال اوکړې شی، شارحينو ليکلې دی، چه خليفه ثانی خو يا الا بحقه دې استثناء طرف ته التفات اونه فرمائيلو، د څه په وجه ئې چه اشکال اوکړو، او يا دهغوی د اشکال وجه دا وه، چه هغوی دا ګنړل، چه صديق اکبر دا قتال هغوی سره د هغوی دکفر په وجه کوی، د صديق اکبر د جواب نه معلومه شوه، چه دا ارادۀ دقتال د کفر په وجه نه وه، بلکه دفرق بين الصلوة والزکوة په وجه ده، او ددې فرق دوه صورتونه کيدې شی، يو داچه د فرضيت دزکوة نه انکار وی، دويم داچه انکار صرف د اداء الی الامام نه وی، اول صورت اګر چه کفر دې، ليکن د شرک پشان کفر صريح نه دې، او قتال څرنګه چه د کفر صريح په وجه کيږی، دغه شان د کفر غير صريح په وجه هم کيږی، او دويم صورت يعنی اداء الی الامام نه انکار، دا کفر نه دې، بلکه بغاوت دې، او د باغيانو سره هم قتال مشروع دې.

د شيخينو اختلاف او مناظره د کومې ډلې باره کښې وه :

د بعضو مصنفينو د کلام نه معلوميږی، چه دا مناظره د مرتدينو او مانعين زکوة ټولو باره کښې وه، دا خو غلطه ده،(1) لکه اکثر شارحينو دا مناظره صرف فارقين بين الصلوة

(1) دلته سوال پيدا کيږی، چه راوی خو ددې مناظرې په تمهيد کښې په خپله وائي و کفر من کفر من العرب ددې په ظاهر کښې تقاضا داده، چه دا اختلاف او مناظره د ټولو باره کښې وه؟ جواب دادې، چه په ظاهر کښې غلط فهمی هم ددې لفظ نه کيږی، حالانکه د راوی غرض په دې جملې سره دهغې وخت عام حالت او فضا بيانول دی، نه دا خبره بيانول، چه مناظره دهغې خلقو باره کښې وه، او که ددې تعلق دهغې خلقو سره اومنلې شی، دکومو باره کښې چه مناظره وه، نو دا هم کيدې شی، ځکه چه په دې مانعين زکوة کښې بعضې جاحدين زکوة هم وو، او بعضې صرف منکرين اداء وو، نو قسم اول خو واقعة کافر وو، او قسم ثانی چه باغيان وو، په هغوی د کفر اطلاق تغليبا دې

والزکوة باندې محمول کړې ده، که هغه فارقین جاحدین زکوة وی، یا مانعین زکوة، لیکن زمونږ مشائخ فرمائي چه دا مناظره او اختلاف د جاحدینو باره کښې هم نه وه، ځکه چه هغوی خو کافر دی،(ځکه چه په ضروریات دین کښې د یو څیز نه انکار کفر دې) دهغوی سره قتال کښې څه اشکال کیدې شی، بلکه مناظره صرف دمانعین اداء الی الامام باره کښې وه، چه باغیان وو، او ددې تائید د حدیث ددې جملې نه هم کیږی، والله لو منعونی عقالا کانوا یؤدونه الی رسول الله(صلی الله علیه وسلم) لقاتلتهم علی منعه، هم دا خبره حضرت په بذل کښې هم لیکلې ده، و تبعه صاحب المنهل.

د اشکال منشاء :

شارحینو لیکلې دی، چه داسې معلومیږی، چه حضرت عمر رضی الله عنه ته دا حدیث صرف دومره رسیدلې وو، یا دغه وخت کښې هغه ته صرف دومره یاد وو، حتی یقولوا لا اله الا الله ګنی په صحیح بخاری کښې خپله د حضرت عمر رضی الله عنه د ځوی حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه په حدیث کښې حتی یشهدوا ان لا اله الا الله وان محمد رسول الله ویقیموا الصلوة و یؤتوا الزکوة موجود دې، بلکه د صحیح مسلم په یو حدیث کښې چه د ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې، دادې، حتی یشهدوا ان لا اله الا الله ویؤمنوا بی و بما جئت به که هغوی ته دا ټول حدیث مستحضر وو، نو بیا اشکال هم نه واردیږی، دغه شان حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه ته هم غالبا دومره یاد وو، ګنی زکوة لره په صلوة باندې قیاس کولو یا د الابحقه نه استنباط کولو هیڅ ضرورت به پیش نه راتلو، او دا هم ممکن ده، چه د صدیق اکبر رضی الله عنه په علم کښې پوره حدیث وو، لیکن په دلیل نظری سره ئې ثابتول غوختل، او ګویا تنبیه وه، عمر فاروق رضی الله عنه ته چه که تا په خپل بیان کړې شوې حدیث کښې غور کړې وې، نو اشکال به پیښ شوې نه وو.

فقهی مسئله :

دلته سوال پیدا کیږی، چه د مانع زکوة باره کښې فقهاء څه فرمائي؟

جواب دادې، چه امام بخاری په صحیح بخاری ص١٠٢٣ کتاب استتابة المرتدین کښې یو مستقل باب ددې مسئلې باره کښې قائم کړې دې، باب قتل من ابی قبول الفرائض او په هغې کښې امام بخاری رحمه الله دا د مناظره شیخین والا حدیث ذکر کړې دې، ددې باب په ذیل کښې علامه عینی او نورو شارحینو لیکلې دی، چه که یو سړې په فرائض اسلام کښې د یو فرض نه انکار اوکړې، نو که د نفس فرضیت نه ئې انکار کړې وی، نو هغه په مرتد وی، د مرتد احکام به په هغه جاری کولې شی، یعنی قتل بعد الاستتابة او که د فرضیت قائل وی، لیکن د اداء نه انکار کوی، نو بیا د احنافو مذهب دادې، چه هغه لره به قتلولې نشی، او نه به دهغه سره جنګ کولې شی، بلکه په زور به ترې زکوة اخستلې شی، په شرط ددې چه هغه ډلې والا نه وی، او مقابله نه کوی، او که هغه ډلې والا وی، او د محاربې دپاره تیار وی، نو بیا به امام المسلمین دهغه سره قتال کوی، پس صدیق اکبر رضی الله عنه چه دهغې مانعینو سره قتال کړې وو، هغه ددې نصب قتال د وجې نه وو،(چه دا مانعین د قتال دپاره خپله تیار وو) د تارک صلوة حکم په جلد ثانی کښې د کتاب الصلوة په شروع کښې په تفصیل سره تیر

شوې دې، هغې لره هم کتل پکار دی.

په دې حدیث کښې دی، الا بحقه دا ضمیر اسلام طرف ته راجع دې، چه د مقام د قرینې نه پوهه کښې راځی، او د بخاری شریف په یو روایت کښې ددې تصریح هم ده، او علامه طیبی ضمیر راجع کړې دې، قول طرف ته، چه په هغې باندې فمن قال دال دې، یعنی بحق هذا القول ای قول لا اله الا الله. وحسابه علی الله یعنی چه کوم سړې کلمه توحید یعنی لا اله الا الله اوائي، او خپل اسلام ظاهر کړی، نو مونږ به هغه سره مقاتله پریږدو، او دهغه د باطن حال تفتیش به نه کوؤ، چه آیا هغه مخلص دې، یا منافق، د باطن معامله الله تعالی ته حواله ده، البته د اسلام د حق دپاره به قتال ضرور کوؤ، مثلا حدود، قصاص او منع عن الصلوة والزکوة وغیره.

والله لو منعونی عقالا : زیاتی صدیق اکبر رضی الله عنه دا هم اوفرمائیل : چه که هغې خلقو د زکوة یوه رسئ هم ماته د راکولو نه انکار اوکړو، نو زۀ به په هغې هم قتال کوم، د عقال په تفسیر کښې څو اقوال دی:

(۱) بعضو دې لره په خپل ظاهر باندې ایخودلې دې، یعنی د رسئ یوه ټکړه، اوس دا چه رسئ په زکوة کښې چرته اوړلې شی، نو هغوی وئیلې دی، چه دا د مبالغې په طور باندې دې، چه که یو سړې په زکوة کښې قدر قلیل(چه په قیمت کښې د رسئ برابر وی) هم ادا کوی نه، پوره زکوة خو جدا خبره ده.

(۲) د عقال اطلاق په صدقه عام (د یو کال زکوة) باندې کیږی، او د دواؤ کالو زکوة ته عقالان وئیلې شی، دا قول د بعضې اکابر اهل لغت نضر بن شمیل، ابوعبید مبرد وغیره نه منقول دې،

(۳) ددې نه مراد هغه رسئ ده، چه په هغې څاروی لره تړی او ساعی ته ئې ورکوی، ځکه چه د څاروی په زکوة کښې د تسلیم تحقق عادة ددې نه بغیر نه کیږی،

(۴) یو قول دادې، چه عقال وئیلې شی، قلوص ته (یعنی ځوانه اوښه) مطلب داشو، چه که یوه اوښه ورکولو نه انکار کوی، نو په دې به هم قتال کوم، ددې نه زیات باندې خو به طریقه اولی قتال کوم.

(۵) ددې نه د زکوة رسئ مراد ده، لکه یو سړې درسو تجارت کوی، نو ظاهر ده، چه دهغه په زکوة کښې به رسئ واجبه وی، ځکه چه په عروض تجارت کښې زکوة واجب وی، لیکن دا قول بس هسې دې، ځکه چه په دې کښې د رسئ د تخصیص وجه څه ده؟

فعرفت ان الحق : فاروق اعظم رضی الله عنه فرمائي چه ماته یقین اوشو، چه د صدیق اکبر رائي حق ده، دا یقین څرنګه اوشو؟ ظاهره ده، چه په هغې دلیل سره چه دهغه په کلام او په دې مناظره کښې مذکور دې، د کوم چه تشریح تیره شوه، او دا مطلب نه دې، چه ما دهغه په مخکښې وسله اوغورزوله، او دهغه خبره مې تقلیدا تسلیم کړه، ځکه د یو مجتهد دپاره د بل مجتهد تقلید جائز نه دې.

قال بعضهم عقالا..... قال عناقا : عقال خو د عين په کسرې سره دې، د هغې تشريح تيره شوې ده، او عناق د عين په فتحې سره دې، د بزې بچې، چه د يو کال نه کم وى، په دې لفظ کښې د راويانو اختلاف دې، بعضو عقالا وئيلې دې، او بعضو عناقا، زيات تر شارحين د شوافعو نه عناق ته ترجيح ورکوى، پس امام بخارى تصريح فرمائيلې ده، هو الاصح ددې يوه وجه دا هم کيدې شى، چه دې سره يوه اختلافى مسئله متعلق ده، چه دهغې تعلق د زکوة سوائم سره دې، او د عناق کيدو په صورت کښې په ظاهر کښې د شوافعو په هغې سره تائيد کيږى، هغه مسئله داده، چه که ديو سړې په ملک کښې صرف صغار څاروى وى، نو په هغې کښې به زکوة واجب وى او که نه، په دې کښې درې مذهبه دى،

۱. امام مالک او امام زفر رحمه الله فرمائي يجب فيها ما يجب فى الكبار

۲. امام ابو يوسف او امام شافعى رحمه الله فرمائي يحب واحد منها يعنى بچې په په زکوة کښې واجبيږى.

۳. طرفين(امام ابو حنيفه رحمه الله او امام محمد رحمه الله) فرمائي لا يجب فيها شيء. د دې دواړو په نزد په سائمه کښې د وجوب زکوة دپاره مخصوص عمر شرط دې، هغه داچه يا خو ټول په ټوله مسنه وى، يا کم از کم بعضې په هغې کښې مسنه وى، او بعضې صغار وى، که هغه ټول په ټوله صغار وى، يعنى فصلان،[۱] حملان او عجاجيل وى، نو بيا په هغې کښې زکوة واجب نه دې.

په جوهره نيره کښې ليکلې دى، چه کم نه کم عمر په اوښانو کښې چه په هغې کښې زکوة واجبيږى، بنت مخاض دې، او په بقر کښې تبيع او په غنم کښې ثنى(دا ټول په ټوله د يو کال وى، د دې نه کم نه) لهذا د دې دواړو په نزد به په صغار سوائم کښې زکوة بالکل وى نه،او که د صغار سره کبار هم وو، اګر که صرف يو وى، نو بيا به په صغار کښې زکوة واجب وى، تبعا للكبير ،[۲] ګويا په صغار سره د نصاب تکميل خو کيږى، ليکن انعقاد نه کيږى، او په زکوة کښې به بچې په دې صورت کښې هم اخستلې کيږى نه، مثلا د يو سړې په ملکيت کښې د غنم نصاب يعنى څلويښت بزې وې، د کال دوران کښې هغوى څلويښت بچى راوړل، بيا هغه بزې د کال پوره کيدو نه مخکښې مړې شوې، او په هغې صغار باندې کال پوره شو،(يعنى حول الامهات) نو په دې صورت کښې د طرفينو په نزد په دې صغار کښې به زکوة واجب نه وى، او د امام ابو يوسف رحمه الله په نزد د حول الامهات پوره کيدو باندې به زکوة واجب وى، دهغه په نزد حول الامهات هم حول الاولاد دې. [۳]

---

[۱]) فصلان جمع فصيل ولد الناقة اذا فصل عن امه، حملان جمع حمل(بفتحتين) ولد الشاة عجاجيل جمع عجول، بروزن سنور بمعني العجل ولد البقر)

[۲]) وفي القدوري وليس في الفصلان والعجاجيل والحملان صدقة عند ابي حنيفة و محمد الا ان يكون فيها كبار ا(هـ)

[۳]) ددې مسئلې فقهاؤ څو مثالونه او صورتونه بيان کړې دى، او د بيانولو وجه داده، چه دا مسئله مشکله ده، ځکه چه دا ونيل چه په صغار کښې زکوة واجب نه دې، په ظاهر کښې د ......

د دې اختلاف نه معلومه شوه، چه د امام ابو یوسف او امام شافعی رحمه الله په نزد د صغار په زکوة کښې صغیر واجب دې، لهذا د عناق والا روایت د دواړو حضراتو موافق او موید شو، او د احنافو وغیره خلاف.

جواب دادې، چه د صدیق اکبر رضی الله عنه دا کلام تعلیقا دې، چه که بالفرض داسې وی نو زهٔ به داسې کوم، لهذا دې لره دلیل ګرځول څرنګه صحیح دی، او دهغوی دا کلام په طریقې د مبالغې دې، لکه په بل روایت کښې لفظ عقال دې، عقال په زکوة کښې کله واجبیږی؟ اوکه بالفرض هم دا مرادوی کوم چه تاسو وایئ، نوددې جواب دادې، چه داحدیث دهغې حدیث مرفوع خلاف دې، چه مخکښې په باب زکوة السوائم کښې راروان دې۔ (بذل ۳ ص ۲۰)

یعنی د سوید بن غفله حدیث چه دهغې الفاظ دادی: ان لا تاخذ من راضع لبن قال صاحب المنهل ای لا تاخذ صغیرا یرضع اللبن او هم دا معنی شیخ ابن الهمام هم بیان کړې ده، کمافی البذل ۳ص٤) اګر چه شوافع شارحینو ددې دویمه معنی اخستلې ده، هغه داچه دلته مضاف مخذوف دې، ای ذات راضع لبن یعنی پئ ورکونکې بزه به په زکوة کښې نه اخستلې کیږی، څکه چه هغه خیار مال دې، او زکوة اخستلې کیږی د اوساط مال نه. والله سبحانه و تعالی اعلم الحمد الله د حدیث شرح پوره شوه.

[۱۵۵۷] (۱) حَدَّثَنَا ابْنُ السَّرْحِ، وَسُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ، قَالَا: أَخْبَرَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي يُونُسُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، قَالَ: قَالَ أَبُو بَكْرٍ: إِنَّ حَقَّهُ أَدَاءُ الزَّكَاةِ، وَقَالَ: عِقَالًا.

یونس د زهری نه دا حدیث روایت کړې دې او فرمائیلې ئې دی چې حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه اوفرمائیل: دَ مال حق دې چه زکات ادا کړې شی - او په دې روایت کښې لفظ دَ [عقالاً] "رسئ" دې -

بَابُ مَا تَجِبُ فِيهِ الزَّكَاةُ

باب: ۲ - په کومو څیزونو کښې زکات واجب دې؟

د ترجمې الفاظ د دواؤ معانیو احتمال لری:

(۱) دهغې څیزونو بیان په کومو کښې چه زکوة واجب وی،

(۲) د مال هغه مقدار په کوم کښې چه زکوة واجب وی، یعنی نصاب دزکوة د حضرت شیخ میلان په حاشیه د بذل کښې اول طرف ته دې، او صاحب بذل او منهل دویمه معنی اخستلې ده، وهو الظاهر عندی.

← ......اشکال باعث دې، څکه چه زکوة واجب کیږی د حولان حول نه پس، او د کال پوره کیدو نه پس په هغوی باندې د فصلان یا حملان اطلاق صحیح نه دې، په نور الفاظو کښې داسې اوایئ، چه هغه صغار صغار نه پاتې کیږی، بیا ددې څه مطلب دې، چه په صغار کښې زکوة واجب نه دې؟ ددې وجه نه فقهاء ددې په توجیه کښې مختلف صورتونه بیانوی، (زیلعی) د توجیه حاصل دادې، چه په کال کښې بچو لره د میاندو تابع ساتلې شوی دی، او بیا د اصولو کال لره د فصولو کال اوګنړلې شو.

(۱): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۰۶۶۶) (صحیح)

زکوة په کومو کومو څیزونو کښې واجب دې؟

مشهوره ده، چه زکوة په دريو څيزونو کښې واجب دې:
(۱) نقدين (ذهب او فضه) (۲) عروض تجارت (۳) سوائم (ابل، بقر، غنم)
په زروع او ثمار کښې چونکه عشر يا نصف عشر واجب وی، ددې وجې نه هغه جدا ذکر کوی، ځکه چه شرعی زکوة خو ربع العشر يعنی د څلويښتمې حصې نوم دې.

(د زکوة اقسام)

صاحب بدائع فرمائي چه د زکوة دوه قسمه دی، فرض او واجب، فرض خو زکوة المال دې، او واجب زکوة الراس يعنى صدقة الفطر، او د زکوة المال دوه قسمه دی:
(۱) زکوة الذهب والفضة، و اموال التجارة والسوائم.
(۲) زکوة الزروع والثمار (غله اود اونوميوې) اوهغه عشردې يانصف عشر. (اوجز ۳ص ۱۴۱)
او پيژندل پکار دی، چه د نقدين او سوائم نصاب خو مقرر دې، او په مال تجارت کښې د قيمت اعتبار دې، او په زروع او ثمار کښې اختلاف دې، چه دهغې دپاره نصاب شرط دې او که نه کما سياتی او بعضې څيزونه داسې دی، چه په هغې کښې وجوب زکوة مختلف فيه دې، لکه بقول او حضراوات. ([1])

> [۱۵۵۸] ([2]) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، قَالَ: قَرَأْتُ عَلَى مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ يَحْيَى الْمَازِنِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا سَعِيدٍ الْخُدْرِيَّ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَيْسَ فِيمَا دُونَ خَمْسِ ذَوْدٍ صَدَقَةٌ، وَلَيْسَ فِيمَا دُونَ خَمْسِ أَوَاقٍ صَدَقَةٌ، وَلَيْسَ فِيمَا دُونَ خَمْسَةِ أَوْسُقٍ صَدَقَةٌ".

حضرت ابو سعيد خدری رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل: د پنځهٔ اوښانو نه په کمو کښې زکات نشته دې - او د پنځهٔ اوقيو (سپينو زرو) نه په کمو کښې زکات نشته دې او د پنځهٔ وسقو (غلې) نه په کمو کښې زکات نشته دې -

حدثنا عبدالله بن مسلمة...... سمعت ابا سعيد الخدری يقول قال رسول الله (صلی الله عليه وسلم) ليس فيما دون خمس ذود صدقة وليس فی ما دون خمس اواق صدقة و ليس فی ما دون خمسة اوسق صدقة.

دا حديث متفق عليه دې، (په صحيح مسلم او بخاری دواړو کښې دی) په دې کښې د دريو څيزونو د نصاب بيان دې، نصاب ابل، نصاب ورق (فضة) او نصاب الزرع والحبوب، يعنی د زمکې د پيداوار نصاب، چه په هغې کښې عشر يا نصف عشر واجبيږی، اوس د هر يو

---

[1]) د احنافو په نزد په کومو څيزونو کښې چه زکوة واجب دې، که هغې ټولو لره تفصيلا شمار کړې شی، نو هغه ټول نهه دی، ذهب، فضة، مال تجارت، سوائم، چه درې دی، ابل بقر او غنم، زروع، ثمار، عسل، ددې نه علاوه په دواؤ کښې اختلاف دې د امام صاحب او صاحبينو، او د حضروات امام صاحب قائل دې، صاحبين نه.

[2]): صحيح البخاري/الزكاة ۴(۱۴۰۵)، ۳۲(۱۴۴۷)، ۴۲(۱۴۵۹)، ۵۶(۱۴۸۴)، صحيح مسلم/الزكاة ۱(۹۷۹)، سنن الترمذي/الزكاة ۷(۶۲۶)، سنن النسائي/الزكاة ۵(۲۴۴۷)، ۱۸(۲۴۷۵)، ۲۱(۲۴۷۸)، ۲۴(۲۴۸۵، ۲۴۸۶، ۲۴۸۹)، سنن ابن ماجه/الزكاة ۶(۱۷۹۳)، (تحفة الأشراف: ۴۴۰۲)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الزكاة ۱(۱)، مسند احمد (۶/۳، ۳۰، ۴۵، ۵۹، ۶۰، ۷۳، ۷۴، ۷۹)، سنن الدارمي/الزكاة ۱۱(۱۶۷۳) (صحيح)

باره کښې ترتيب وار واؤرئ.

(١) نصاب ابل خمس ذود بيان کړې شوې دې، د ذود اطلاق په جماعت دابل باندې کيږي، د دريو نه لسو پورې، او وئيلې شوې دی، چه د دواؤ نه نهو پورې، ددې مفرد من لفظه نه راځي، لکه لفظ قوم او رهط.

(د خمس ذود تلفظ)

خمس ذود لره دواؤ طريقو سره وئيلې شی، په اضافت سره خمس ذود، او د خمس په تنوين سره خمس ذود په دې صورت کښې به ذود بدل وی، د خمس نه، او دخمس ذود نه مراد به خمس ابل من الذود وی،(د اوښانو نه پنځه) او متبادره معنی يعنی خمسة اذواد مراد نه دې، ځکه چه پنځه ذود خو کم نه کم پنځلس اوښان به شی، چه مراد نه دی،(١) دا مسئله اجماعی ده، چه نصاب دابل پنځه اوښان دی.

(٢) نصاب فضه خمس اواق دی، اواق د اوقية جمع ده، يعنی څلويښت درهمه، د پنځو اوقيو دوه سوه درهمه کيږي، په حساب د وزن سبعة،(٢) يعنی داسې چه هر لس درهمه د اووه مثقالو برابر وی، په دې اعتبار سره دوه سوره درهمه(٣) به د يو سل څلويښت مثقالو برابر وی، په نصاب فضه کښې د علماؤ په دې اجماع ده، قاله الحافظ.

(د اوقيه وجه تسميه)

لفظ اوقية د وقاية نه ماخوذ دې، او وجه تسميه داده، چه دومره مقدار دراهم سړې لره د محتاجئ نه بچ ساتی.

(٣) اوسق، د وسق جمع ده، يو وسق د شپيتو صاعو برابر وی، او پنځه وسق د درې سوه صاع برابر وی، تقريبا پنځويشت من.

د زمکې دپيداوار(زرعی پيداوار) نصاب په دې حديث کښې پنځه وسق مقرر کړې شوې دې، په زروع او ثمار کښې بالاتفاق په يو صورت کښې نصف العشر واجب دې،(د صدقة الزرع مستقل باب مخکښې راروان دې) ليکن په دې کښې اختلاف دې، چه معشرات يعنی په کومو څيزونو کښې چه عشر واجب دې، دهغې دپاره څه خاص مقدار او نصاب شرط دې، څرنګه چه د زکوة دپاره دې، او که نه؟ ائمه ثلاثة او صاحبين په دې کښې هم د نصاب قائل دی،او هغه نصاب هم دادې،چه په دې حديث کښې ذکر دې، يعنی پنځه وسق، او يو جماعت د علماؤ لکه ابن عباس، عمربن عبدالعزيز، ابراهيم نخعی، مجاهد، او امام ابوحنيفة د وجوب عشر دپاره د نصاب قائل نه دی، بلکه قليل او کثير تولو کښې واجب منی.

---

(١) يا دې داسې اونيلې شی، چه دلته کښې د ذود استعمال دمطلق ابل دپاره دې، په خپل اصلی معنی کښې نه دې.

(٢) دراهم به د وزن په اعتبار سره مختلف وو، وزن سبعة، وزن ستة او وزن خمسة وغيره.

(٣) او د جديد وزن يعنی ګرام په اعتبار سره دواؤ سوو درهمو باره کښې د حساب کونکو اقوال مختلف دی(١) ٥٩٥ ګرام(٢) ٦٠٩ ګرام(٣) ٨١٢ ګرام، او نصاب دذهب چه شل مثقاله دی، دې باره کښې هم درې اقوال دی،(١) ٨٥ ګرام(٢) ٨٧ ګرام(٣) ٩٠ ګرام(التسهيل الضروری)

امام صاحب او څوک چه ددوی سره موافق دی، هغوی دپاره دلیل :

د بعضو آیاتونو او احادیثو په بناء مثلا وآتوا حقه یوم حصاده، انفقوا من طیبات ما کسبتم و مما اخرجنا لکم من الارض، او احادیث صحیحه چه په کتب صحاح کښې موجود دی، دهغې نه حدیث د ابن عمر رضی الله عنه چه په صحیح بخاری کښې مرفوعا روایت دې، فیما سقت السماء والعیون العشر و ما سقي بالنضح نصف العشر او ددې مضمون بل حدیث چه په صحیح مسلم کښې د حضرت جابر رضی الله عنه نه مرفوعا روایت دې، فیما سقت الانهار والغیم العشور و فیما سقی بالسانیة نصف العشر او دا دواړه احادیث په دې کتاب کښې په باب صدقة الزرع کښې راروان دی، دا آیتونه او احادیث عام او مطلق دی، ددې نه معلومیږی، چه په زرعی پیداوار کښې بغیر د نصاب د قید نه په یو صورت کښې (چه په هغې کښې د اوبو مشقت برداشت کړې شوې وی) نصف عشر واجب دې، او که هغه زمکې بارانی وغیره وې، چه په هغې کښې د اوبو راویستلو مشقت برداشت کول نه وی، په هغې کښې عشر واجب دې، قاضی ابوبکر ابن العربی مالکی فرمائي اقوی المذهب مذهب ابی حنیفة رحمه الله دلیلا واحوطها للمساکین واولاها قیاما شکر النعمة.

د جمهورو د طرف نه تنقید او زمونږ د طرف نه جواب :

د جمهورو د طرف نه حافظ ابن حجر تبعا للحافظ ابن القیم ددې حدیث جواب دا ورکړې دې، چه ددې نه مقصود صرف په دې دواړو زمکو کښې فرق بیانول دی، چه په هغې کښې د یوې په پیداوار کښې عشر او د بلې په پیداوار کښې نصف عشر واجب دې، نصاب او عدم نصاب ته په کښې هیڅ مداخلت نشته، بلکه په دې لحاظ سره دا حدیث (ابن عمر، وجابر) مجمل دې، او حدیث د ابوسعید خدری رضی الله عنه یعنی حدیث الباب مفسر دې، او مفسر قاضی وی په مجمل باندې، ([1])

زمونږ د طرف ته په جواب کښې وئیلې شوې دی، چه په حدیث کښې اجمال نشته، بلکه اثبات دعموم دې، ځکه چه لفظ دما دعموم دپاره دې، او دا وئیل چه مقصود صرف تمیز دې، بین العشر و نصف العشر، دا د حدیث افادیت کمول دی، بلکه د حدیث مطلب دادې، چه د زمکې په پیداوار کښې مطلقا په یو صورت کښې عشر او په بل صورت کښې نصف العشر دې، او د مفسر دپاره ضروری ده، چه د مفسر ټولو افرادو ته شامل وی، او دلته داسې نه دی، ځکه چه په حدیث دابن عمر و جابر کښې د هر قسم پیداوار ذکر دې، که هغه مکیلې او موسوقی وی، او که نه وی، لکه زعفران وغیره، او حدیث دابو سعید خدری رضی الله عنه چه هغې لره تاسو مفسر وئیل غواړئ، دهغې تعلق صرف موسوق او مکیل سره دې، د غیر موسوق حال په هغې کښې بیان شوې نه دې، ددې وجه نه داؤد ظاهری دا مسلک اختیار

---

[1]) هغوی داسې هم وائي چه حدیث دابوسعید رضی الله عنه خاص دی، او حدیث دابن عمر رضی الله عنه عام دې، او خاص ته تقدم حاصل دې، په عام باندې، زمونږ د طرف نه وئیلې شوې دی، چه اول خو د احنافو په نزد عام او خاص دواړه په قوت کښې برابر وی، دویمه داچه مونږ سره هم خاص حدیث موجود دې، روي عن الطحاوي عن جابر بن عبدالله مرفوعا في كل عشرة اقناء قنو يوضع في المساجد للمساكين (اوجز عن العرف الشذی)

کړې دې، چه د زمکې په پیداوار کښې کوم څیزونه موسوق یعنی مکیلی دی، لکه تمام اجناس او غلې، دهغې دپاره خو نصاب شرط دې، کوم چه په دې حدیث کښې مذکور دې، او کوم څیزونه چه غیر موسوق دی، مثلا زعفران او مالوچ وغیره په هغې کښې د نصاب قید نشته، کما فی حدیث ابن عمر ګویا هغه د جمع بین الحدیثین دا شکل اختیار کړې دې.

د امام صاحب د طرف نه د حدیث الباب توجیه :

اوس پاتې شوه دا مسئله چه د حدیث الباب څه حل دې، نو دې باره کښې د امام صاحب نه مختلف توجیهات منقول دی، چه هغې لره حضرت شیخ په اوجز المسالک کښې یوځائې جمع کړې دی، په هغې کښې مونږ یوڅو دلته ذکر کوؤ.

(١) تاسو دا اوګنړئ، چه د صدقې اطلاق په زکوٰة او عشر دواړو باندې کیږي، په دې حدیث کښې د دریو څیزونو نصاب بیان شوې دې، ابل، فضه، حبوب او ثمار، په دریو واړو ځایونو کښې لفظ صدقه مذکور دې، په اولنی دواؤ ځایونو کښې د صدقې نه بالاتفاق زکوٰة مراد دې، په دریم ځائې کښې جمهورو د صدقې نه عشر مراد اخستلې دې، ددې وجه نه دا حضرات په عشر کښې هم د نصاب قائل دی، او د امام صاحب د طرف نه وئیلې شوې دی، چه په دریم ځائې کښې هم د صدقې نه زکوٰة مراد دې، او د خمسة اوسق نه مراد هغه غله نه ده، چه په خپلې کروندې سره حاصله کړې شوې وی، لکه چه جمهور څرنګه ګنړی، بلکه ددې نه هغه غله مراد ده، چه تجارتی وی، چه هغې لره سړې په څه ذریعې سره تجارت دپاره حاصله کړې وی، او په مال تجارت کښې د وجوب زکوٰة دپاره نصاب بالاتفاق شرط دې، چه په هغې کښې د قیمت اعتبار دې، کوم مال تجارت چه په قیمت کښې د دواؤ سوو درهمو برابر وی، په هغې کښې زکوٰة واجب دې، او د نبی کریم ﷺ په زمانه کښې د یو وسق غلې قیمت عام طور باندې د یوې اوقیئ برابر وو، لهذا پنځه وسق غله د پنځو اوقیو چاندئ برابر شو، چه نصاب دفضه دې، د حضرت ګنګوهی رحمه الله رائې ئې په الکوکب الدری کښې داسې لیکلې ده، چه خلق (د غلې تاجران) د اجناسو د قیمتونو تفتیش او تحقیق کوی، دې دپاره چه هغوی ته دا معلومه شی، چه مونږ سره کومه غله ده، هغه د نصاب برابر ده او که نه، دې دپاره چه په هغې اعتبار سره دهغې زکوٰة ادا کړې شی، په دې نبی کریم ﷺ په هغې زمانه کښې د اجناسو د قیمت مطابق یو تقریبی تحدید تجویز کړو، اوس داچه د ټولو غلو قیمت خو برابر نه وی، نو بیا پنځو وسقو لره معیار څرنګه جوړولې شی؟ حضرت په خپله دا اشکال ذکر کولو نه پس لیکلې دی، چه ممکن ده، چه نبی کریم ﷺ د خلقو د آسانتیا او دفع دحرج دپاره توسعادامقدار تجویز فرمائیلې وی، والله تعالی اعلم.

په دې توجیه کښې هیڅ لرې والې نشته، د اکابر قدماء نه منقول ده، او ددې نظیر هم په باب الزکوٰة کښې موجود دې، مسئلة الخرص، چه دهغې جمهور قائل دی، او بیا لسان شارع، اګر که هغه د اندازې د قبیلې نه وی، په هر حال کښې حجت شرعیه دی.

(٢) یوه توجیه دا کړې شوې ده، چه ددې حدیث تعلق د عاشر سره دې، او مطلب دادې، چه کومو زمیندارو سره چه معمولی شان کرونده شوې وی، عاشر ته دهغې د عشر اخستلو حق

نشته، بلکه هغوی په خپله هغه ادا کولې شی، البته کومو زمیندارو سره چه ډیر پیداوار شوې دې، کم از کم پنځه وسق، دهغوی نه زکوة اخستل د عاشر حق دې، زمونږ حضرت شیخ به دې جواب لره زیات خوښولو.

(۳) دا حدیث په عریه باندې محمول دې، او عریه لکه څرنګه چه په احادیثو کښې وارد دی، په مادون خمسة اوسق کښې وی،(کما سیجیء فی کتاب البیوع) عریه د هبې یوه خاصه طریقه ده، یعنی د احنافو او د جمهورو په نزد ددې حقیقت بیع ده، بهر حال چه کله مالک یو څیز هبه کړو، یا ئې خرچ کړو، نو بیا په هغې کښې زکوة څرنګه واجب دې، دا جواب د ابو عبید قاسم بن سلام نه په کتاب الاموال کښې منقول دې، چه د غریب الحدیث لوئې امام دې، دا جواب د شاه صاحب نه په عرف الشذی کښې منقول دې، د هلته نه حضرت شیخ په اوجز کښې نقل کړې دې،......دا ټول درې جوابونه شو، څوک چه زیات جوابونه غواړی هغه دې اوجز المسالک ته رجوع اوکړی.

[١٥٥٩](١) حَدَّثَنَا أَيُّوبُ بْنُ مُحَمَّدٍ الرَّقِّيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدٍ، حَدَّثَنَا إِدْرِيسُ بْنُ يَزِيدَ الْأَوْدِيُّ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ الْجَمَلِيِّ، عَنْ أَبِي الْبَخْتَرِيِّ الطَّائِيِّ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، يَرْفَعُهُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَيْسَ فِيمَا دُونَ خَمْسَةِ أَوْسُقٍ زَكَاةٌ وَالْوَسْقُ سِتُّونَ مَخْتُومًا". قَالَ أَبُو دَاوُد: أَبُو الْبَخْتَرِيِّ لَمْ يَسْمَعْ مِنْ أَبِي سَعِيدٍ.

حضرت ابو سعید خدری رضی الله عنه بیان کوی او حضور ﷺ ته نسبت کوی چه د پنځو وسقو نه په کم(غله) کښې زکات نشته دې -" او یو وسق دَ شپیتو معیاری صاعونو وی - امام ابوداود رحمه الله فرمائی چه ابو البختری دَ حضرت ابو سعید خدری رضی الله عنه نه براه راست اوریدل نهٔ دی کړې -

تشریح:قوله: والوسق ستون مختوما : مختوم د صاع دپاره صفت دې، یعنی ستون صاعا مختوما، ختم بمعنی مهر هغه صاع چه په هغې باندې سرکاری مهر لګیدلې وی، او مخکښې راروان دی، مختوما بالحجاج یعنی په کوم باندې چه د امیر کوفه حجاج بن یوسف مهر لګیدلې وی، هغې ته صاع حجاجی وئیلې شی، او هم دا صاع عراقی هم نومیږی، او د شوافعو صاع په صاع حجازی سره مشهور دې، ددې تفصیل په جلد اول کښې باب مقدار ماء الوضوء کښې تیر شوې دې.

[١٥٦٠](٢) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ قُدَامَةَ بْنِ أَعْيَنَ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنْ الْمُغِيرَةِ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، قَالَ: الْوَسْقُ سِتُّونَ صَاعًا مَخْتُومًا بِالْحَجَّاجِيِّ.

د حضرت ابراهیم نخعی رحمه الله بیان دې چه یو وسق د شپیتو حجاجی صاعو برابر دې په کومو باندې چه مهر لګولې شوې وی -

(١): سنن النسائي/الزكاة ٢٤(٢٤٨٨)، سنن ابن ماجه/الزكاة(١٨٣٢)،(تحفة الأشراف: ٤٠٤٢)، وقد أخرجه: مسند احمد(٥٩/٣، ٨٣، ٩٧)(ضعيف)

(٢): تفرد به أبو داود،(تحفة الأشراف: ١٨٤٠١)(صحيح)

[١٥٦١]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللهِ الْأَنْصَارِيُّ، حَدَّثَنَا صُرَدُ بْنُ أَبِي الْمَنَازِلِ، قَالَ: سَمِعْتُ حَبِيبًا الْمَالِكِيَّ، قَالَ: قَالَ رَجُلٌ لِعِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ: يَا أَبَا نُجَيْدٍ، إِنَّكُمْ لَتُحَدِّثُونَنَا بِأَحَادِيثَ مَا نَجِدُ لَهَا أَصْلًا فِي الْقُرْآنِ، فَغَضِبَ عِمْرَانُ، وَقَالَ لِلرَّجُلِ: أَوَجَدْتُمْ فِي كُلِّ أَرْبَعِينَ دِرْهَمًا دِرْهَمٌ، وَمِنْ كُلِّ كَذَا وَكَذَا شَاةً شَاةٌ، وَمِنْ كُلِّ كَذَا وَكَذَا بَعِيرًا كَذَا وَكَذَا أَوَجَدْتُمْ هَذَا فِي الْقُرْآنِ، قَالَ: لَا، قَالَ: فَعَنْ مَنْ أَخَذْتُمْ هَذَا؟ أَخَذْتُمُوهُ عَنَّا وَأَخَذْنَاهُ عَنْ نَبِيِّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَذَكَرَ أَشْيَاءَ نَحْوَ هَذَا.

د حبيب مالکي بيان دي چه يو کس حضرت عمران بن حصين رضي الله عنه ته اوفرمائيل : اې ابو نُجيد ! تاسو مونږ ته داسې احاديث بيانوئ چه دَ هغې څۀ اصل مونږ ته په قرآن کښې نۀ ملاويږي - په دې باندې حضرت عمران بن حصين رضي الله عنه په غصه کښې راغې او ورته ئې اوفرمائيل آيا تاسو ته په قرآن مجيد کښې ملاويږي چه په هر څلويښت درهمو کښې يو درهم زکات دې؟ په هر دومره تعداد دَ چيلو بکرو کښې يوه بکرۍ ده؟ په دومره دومره اوښانو کښې دومره(زکات) دې؟ آيا تاسو ته په قرآن کښې دا ټول هر څۀ ملاويږي؟ هغوی اووې نه - حضرت عمران بن حصين رضي الله عنه اوفرمائيل : نو بيا تاسو دا(احکام او مسائل) دَ چا نه حاصل کړې دی؟ بې شکه دا تاسو زمونږ(صحابهٔ کرامو رضي الله عنهم) نه اخلئ - حضرت عمران بن حصين دا رنګه نور څيزونه هم ذکر کړل -

د حدثنا محمد بن بشار........ قال رجل لعمران بن حصين يَا أَبَا نُجَيْدٍ إِنَّكُمْ لَتُحَدِّثُونَنَا بِأَحَادِيثَ مَا نَجِدُ لَهَا أَصْلًا فِي الْقُرْآنِ فَغَضِبَ عِمْرَانُ وَقَالَ لِلرَّجُلِ أَوَجَدْتُمْ فِي كُلِّ أَرْبَعِينَ دِرْهَمًا دِرْهَمٌ الخ دا حديث په صحاح کښې صرف ابوداؤد کښې دې، او په منهل کښې ئې ليکلې دی، اخرجه البيهقي ايضا في البعث.

شرح حديث :

حافظ په فتح الباری ١١ص٣٢٧ کښې دا روايت د بيهقی په حوالې سره نقل کړې دې، په هغې کښې دا هم دی، چه د عمران بن حصين په مجلس کښې بعضو صحابؤ د شفاعت ذکر اوکړو، نو په هغې يو سړي اعتراض اوکړو، چه دلته په روايت کښې ذکر دې، د حافظ د کلام نه معلوميږی، چه دا معترض د خوارجو نه وو، چه دا فرقه د شفاعت نه انکار کوی، او صحابه کرامو په هغه باندې رد کولو.

د حديث مضمون خو واضح دې، چه يو سړې عمران بن حصين ته اوئيل چه تۀ مونږ ته داسې داسې احاديث بيانوې، چه دهغې څه اصل مونږ په کتاب الله کښې نه مومو، په دې هغوی ته غصه راغله، او وې فرمائيل، د زکوة ذکر په قرآن مجيد کښې شته، او تاسو هم هغه منئ، ښه دا راته اوښايه چه قرآن مجيد کښې دا هم شته، چه په دومره مال کښې زکوة واجب دې، او دهغې نه په کم کښې نه دې واجب، او په دومره مال کښې دومره مقدار واجب دې، وغيره وغيره، دا ټول تفصيلونه په قرآن مجيد کښې کوم ځائې دی، ظاهر ده چه دا ټول څيزونه تا زمونږ نه زده کړې دی، او مونږ د جناب رسول الله صلى الله عليه وسلم نه، مطلب دا چه

(): تفرد به أبو داود،(تحفة الأشراف: ١٠٧٩١)(ضعيف)

زمونږ د دین او شریعت مدار صرف په قرآن مجید باندې نه دې، بلکه د رسول الله ﷺ په بیاناتو اوتشریحاتو باندې هم دې، قرآن مجید خو متن دې، او احادیث د رسول الله ﷺ دهغې تشریح ده، دا حدیث د حجیة حدیث دپاره صریح دلیل دې.

بَابُ الْعُرُوضِ إِذَا كَانَتْ لِلتِّجَارَةِ هَلْ فِيهَا مِنْ زَكَاةٍ

باب: ۳- آیا دَ تجارت په سامان کښې زکات شته دې؟

عروض بضم العین د عرض جمع ده، لکه فلوس د فلس، سامان و متاع و کل شیء سوی النقدین(قاموس) او بعضو لیکلې دی، چه عروض هغه سامان دې، چه مکیلی او موزونی نه وی، او نه حیوان وی، او نه عقار وی.(المصباح المنیر)

[۱۵۶۲]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ دَاوُدَ بْنِ سُفْيَانَ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ حَسَّانَ، حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ مُوسَى أَبُو دَاوُدَ، حَدَّثَنَا جَعْفَرُ بْنُ سَعْدِ بْنِ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ، حَدَّثَنِي خُبَيْبُ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنْ أَبِيهِ سُلَيْمَانَ، عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ، قَالَ: أَمَّا بَعْدُ، فَإِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ "يَأْمُرُنَا أَنْ نُخْرِجَ الصَّدَقَةَ مِنَ الَّذِي نُعِدُّ لِلْبَيْعِ".

حضرت سمره بن جندب رضی الله عنه اوفرمائیل اما بعد ! بې شکه رسول الله ﷺ به مونږ ته حکم فرمائیلو چه کوم مال مونږ دَ تجارت دپاره تیار کړو چه ددې نه صدقه(زکات) ورکړو -"

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ دَاوُدَ........عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ قَالَ أَمَّا بَعْدُ فَإِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَأْمُرُنَا أَنْ نُخْرِجَ الصَّدَقَةَ مِنَ الَّذِي نُعِدُّ لِلْبَيْعِ

ددې باب نه د مصنف رحمه الله غرض په مال تجارت کښې زکوة ثابتول دی، دهغې دپاره امام بخاری دا باب تړلې دې، باب صدقة الکسب والتجارة، لیکن ددې باب لاندې امام بخاری هیڅ حدیث ذکر کړې نه دې، ځکه په دې مسئله کښې دهغه د شرط مطابق هیڅ حدیث نه وو، بلکه صرف ئې په آیت ذکر کولو باندې اکتفاء کړې ده، انفقوا من طیباب ما کسبتم، او امام ابوداؤد په دې باب کښې مکتوب سمرة والا حدیث ذکر کړې دې، مخکښې دا خبره تیره شوې وه، چه حضرت سمرة رضی الله عنه د خپلو ځامنو په نوم یوه مجموعه د احادیثو لیکلې وه، چه دهغې په ابتداء کښې دا وو، السلام علیکم اما بعد، دا حدیث په معجم طبرانی کښې هم داسې دې، دهغې نه علاوه په دار قطنی کښې هم دې، لیکن دا حدیث په صحاح سته کښې صرف سنن ابوداؤد کښې دې، ددې مضمون دادې، چه نبی کریم ﷺ به په هغې مال کښې د اخراج زکوة حکم فرمائیلو، کوم لره چه مونږ حاصل او تیار کړو د بیع او تجارت دپاره، په دې حدیث باندې مصنف سکوت فرمائیلې دې، او منذری هم لهذا حجة دې، او ابن عبد البر فرمائي اسناده حسن .اهـ (عون)

په مال تجارت کښې د جمهور علماؤ او ائمه اربعه په اتفاق سره زکوة واجب دې،(حسب شرائط حولان حول ونصاب وغیره) که ددې نه مخکښې زکوة واجب وو، لکه ابل، بقر وغیره او که نه وو، لکه بغال او حمیر، په قسم اول کښې زکوة هسی هم واجب دې، اګر که هغه د تجارت دپاره نه وی، دهغې مستقل یو نصاب دزکوة دې، او د تجارت په صورت کښې به

(): تفرد به أبوداود،(تحفة الأشراف: ٤٦١٨)(ضعيف)

زکوة واجب وی د قیمت په اعتبار سره، هغه داچه دهغې قیمت د دواؤ سوؤ درهمو برابر وی، او په قسم ثانی کښې فی نفسه زکوة واجب نه دې، او که د تجارت دپاره وی، نو بې شکه زکوة په کښې واجب دې (منهل)

(د تجارت په مال کښې د داؤد ظاهری اختلاف مع الدلائل)

د داؤد ظاهری په دې مسئله کښې اختلاف دې، هغه په مال تجارت کښې د زکوة قائل نه دې، لحديث ليس على المسلم في فرسه ولا عبده صدقة الحديث ولم يقل الا ان ينوى بهما التجارة بيا نور باقی اموال د تجارت ئې په دې دواړو قياس کړې دی، او حديث الباب چه دې سره په مال تجارت کښې زکوة ثابتيږی، هغه دې نه وائې چه دا ضعيف دې، د جعفر ابن سعد د وجې نه،

(د جمهورو د طرفه جواب)

او د جمهورو د طرف نه ددې جواب دادې، چه دې حديث د اجماع صحابه وغيره د وجه نه تقويت حاصل کړې دې، او آيت کريمه انفقوا من طيبات ما كسبتم د جمهور دپاره مؤيد دې، قال مجاهد نزلت في التجارة ابن المنذر وائې ليکن ددې منکر به کافر نه وی لاجل الاختلاف.

د تاجر دوه قسمونه،مدير، محتكر او د امام مالک مذهب:

ددې نه پس په دې خبره څان پوهه کړئ، چه دلته يوه اختلافی مسئله ده، هغه داچه د ائمه ثلاثه په نزد په هر تاجر باندې هر کال زکوة واجب دې، ليکن امام مالک رحمه الله فرمائي چه د تاجر دوه قسمه دی، مدير او محتكر، د مدير حکم خو دادې، چه په هغه باندې په مال کښې هر کال زکوة واجب دې، او په محتكر هرکال واجب نه دې، بلکه په کوم کال او کوم وخت کښې چه هغه مال خرڅ کړی، هغه وخت به صرف د يو کال زکوة ورکول وی، مدير هغه تاجر دې، چه مال اخلی او خرڅوی، لکه چه عام طور باندې کيږی، او محتكر هغه تاجر دې، چه مال تجارت څان سره په ګودام کښې محفوظ اوساتی، او د قيمت د زياتيدو انتظار کوی، اوس که هغه څومره کلونو پورې هم مال محفوظ ساتی،، دهغې کلونو زکوة به واجب نه وی، امام مالک ددې په دليل کښې داهل مدينه عمل پيش کوی، چه دهغه په نزد مستقل حجت دې.

يوه مسئله اختلافی داده، چه د مالکيه او شافعيه په نزد د وجوب زکوة دپاره دکال پوره کيدو په وخت کښې نصاب پوره کيدل ضروری دی، او احناف وائې چه د کال په اول او آخر کښې د نصاب موجود کيدل ضروری دی، که په مينځ کښې کم شی، نو نقصان نه کوی، او د حنابله په نزد د اول نه آخره پورې کمال نصاب ضروری دې (منهل)

بَابُ الْكَنْزِ مَا هُوَ وَزَكَاةِ الْحُلِيِّ

باب: ٤- دَ کنز تعريف او دَ کالو دَ زکات مسئله:

په ترجمة الباب کښې دوه جزئونه دی، او د دواړو متعلق مصنف په باب کښې احاديث راؤړلې دی، د کنز لغوی معنی ادخار (ذخيره کول) دی، او په شريعت کښې هغې مال ته وئيلې شی، په کوم کښې چه زکوة واجب وی، او ادا کړې شوې نه وی، او حلی بالفتح مفرد دې، ددې جمع حلی راځی، لکه ثدی و ثدی په معنی د کالو، که د سرو زرو يا سپينو زرو

وی، یا یو قیمتی کانړې او ملغلره وغیره وی، لیکن دلته سرۀ او سپین زر مراد دی، ځکه چه مسئله زکوة دهغې سره متعلق ده، او کوم کالی چه د جواهراتو نه جوړ کړې شوې وی، د قیمتی کانړی، لؤلؤ، مرجان وغیره نه، په هغې کښې بالاتفاق زکوة نشته، ددې دپاره مؤطا امام محمد اوګورئ.

[١٥٦٣] (١) حَدَّثَنَا أَبُو كَامِلٍ، وَحُمَيْدُ بْنُ مَسْعَدَةَ، الْمَعْنَى أَنَّ خَالِدَ بْنَ الْحَارِثِ حَدَّثَهُمْ، حَدَّثَنَا حُسَيْنٌ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّ امْرَأَةً أَتَتْ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَعَهَا ابْنَةٌ لَهَا وَفِي يَدِ ابْنَتِهَا مَسَكَتَانِ غَلِيظَتَانِ مِنْ ذَهَبٍ، فَقَالَ لَهَا: "أَتُعْطِينَ زَكَاةَ هَذَا؟" قَالَتْ: لَا، قَالَ: "أَيَسُرُّكِ أَنْ يُسَوِّرَكِ اللهُ بِهِمَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ سِوَارَيْنِ مِنْ نَارٍ؟" قَالَ: فَخَلَعَتْهُمَا، فَأَلْقَتْهُمَا إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَقَالَتْ: هُمَا لِلَّهِ عَزَّ وَجَلَّ وَلِرَسُولِهِ.

حضرت عمرو بن شعیب د خپل پلار نه او هغه د خپل نیکۀ (عبد الله بن عمرو ﷺ) نه روایت کوی چه یوه ښځه دَ نبی کریم ﷺ په خدمت کښې حاضره شوه دَ هغې لور هم وه او دَ هغه لور په لاس کښې ئې دوه غټې غټې دَ سرو بنګړی هم وو - حضور ﷺ دَ ښځې نه پوښتنه اوکړه چه: آیا تاسو ددې زکات ورکوئ؟ هغې اووې نه- حضور ﷺ اوفرمائیل: آیا تاسو ته دا خبره خوښه ده چه دَ قیامت په ورځ باندې الله تعالیٰ تاسو ته ددې په بدله کښې دَ اور دوه بنګړی واچوی؟ چنانچه هغه ښځې دې بنګړو لره اویستل او دَ نبی ﷺ مخې ته ئې ګزار کړل او وې وئیل: دا دَ الله او دَ هغه دَ رسول دَ پاره دی-

حَدَّثَنَا أَبُو كَامِلٍ وَحُمَيْدُ بْنُ مَسْعَدَةَ........ أَنَّ امْرَأَةً أَتَتْ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَعَهَا ابْنَةٌ لَهَا وَفِي يَدِ ابْنَتِهَا مَسَكَتَانِ الخ،، د امرأة نوم اسماء بنت یزید بن السکن ښودلې شوې دې، دا حدیث په ترمذی کښې هم دې، دغه شان په نسائي کښې مسندا او مرسلا په دوارو طریقو سره روایت دې، علامه زیلعی ﷫ فرمائي اسناده صحیح او هم دا خبره منذری کړې ده، بلکه هغه ددې حدیث د هرهر راوی نشاندهی کولو نه پس توثیق نقل کړې دې،

عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ كُنْتُ أَلْبَسُ أَوْضَاحًا مِنْ ذَهَبٍ اوضاح د وضح جمع ده، د چاندې د یو کالی نوم دې، چونکه هغه سپین او چمکدار وی، ددې وجې نه هغې ته وضح وئیلې شی، بعضو ددې ترجمه په خلخال سره کړې ده، یعنی پانزیب، فارسۍ کښې ورته پائے برنجن وئیلې شی، اكنزٌ هُو،، یعنی د کالو استعمالؤل، آیا دا هغه کنز دې، په کوم چه قرآن مجید کښې وعید راغلې دې، یوم یحمی علیها فی نار جهنم فتکوی بها جباههم و جنوبهم و ظهورهم الآیة نو نبی کریم ﷺ ارشاد اوفرمائیلو، چه کوم مال په قدر د نصاب وی، او دهغې زکوة ادا نه کړې شی، هغه د کنز مصداق دې، او د کوم چه زکوة ادا کړې شی، هغه کنز نه دې.

[١٥٦٤] (٢) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عِيسَى، حَدَّثَنَا عَتَّابٌ يَعْنِي ابْنَ بَشِيرٍ، عَنْ ثَابِتِ بْنِ عَجْلَانَ، عَنْ عَطَاءٍ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ،

---

١): سنن النسائي/الزكاة ١٩ (٢٤٨١، ٢٤٨٢)، (تحفة الأشراف: ٨٦٨٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٧٨/٢، ٢٠٤، ٢٠٨) (حسن)

٢): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٨١٩٩) (حسن)

قَالَتْ: كُنْتُ أَلْبَسُ أَوْضَاحًا مِنْ ذَهَبٍ، فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَكَنْزٌ هُوَ؟ فَقَالَ: "مَا بَلَغَ أَنْ تُؤَدَّى زَكَاتُهُ، فَزُكِّيَ فَلَيْسَ بِكَنْزٍ".

حضرت ام سلمه رضي الله عنها بيان كوي چه ما به د سرو زرو هار اچولو - ما د رسول الله ﷺ نه تپوس اوكړو : اې د الله رسوله ! آيا دا كنز دې؟ حضور ﷺ اوفرمائيل : كوم چه د زكات مقدار ته اورسی او د هغې زكات وركړې شی نو هغه كنز نۀ دې -"

ددې حديث ام سلمه رضي الله عنها تخريج دارقطني بيهقي او حاكم هم كړې دې، و صححه الحاكم، بيهقي فرمائي تفرد به ثابت بن عجلان ليكن په دې كښې هيڅ نقصان نشته، ځكه چه ددې ډير امامانو توثيق كړې دې، البته ددې په سند كښې عتاب بن بشير دې، په دۀ كښې مقال دې (منهل)

[١٥٦٥] (١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِدْرِيسَ الرَّازِيُّ، حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ الرَّبِيعِ بْنِ طَارِقٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ أَيُّوبَ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي جَعْفَرٍ، أَنَّ مُحَمَّدَ بْنَ عَمْرِو بْنِ عَطَاءٍ أَخْبَرَهُ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ شَدَّادِ بْنِ الْهَادِ، أَنَّهُ قَالَ: دَخَلْنَا عَلَى عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَتْ: دَخَلَ عَلَيَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرَأَى فِي يَدَيَّ فَتَخَاتٍ مِنْ وَرِقٍ، فَقَالَ: "مَا هَذَا يَا عَائِشَةُ؟" فَقُلْتُ: صَنَعْتُهُنَّ أَتَزَيَّنُ لَكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَالَ: "أَتُؤَدِّينَ زَكَاتَهُنَّ؟" قُلْتُ: لَا، أَوْ مَا شَاءَ اللَّهُ، قَالَ: "هُوَ حَسْبُكِ مِنَ النَّارِ".

عبد الله بن شداد بن هاد فرمائي چه مونږ حضرت عائشې رضي الله عنها ته ورغلو نو هغې اوفرمائيل : چه رسول الله ﷺ ماته تشريف راوړو - هغوی ﷺ اوكتل چه زما په لاسونو كښې د چاندۍ انګوټۍ (ګوتې) دی نو حضور ﷺ اوفرمائيل : عائشه ! دا څۀ دی؟ ما عرض اوكړو : دا ما ستاسو له خاطره د زينت دپاره اچولې دی اې د الله رسوله ! - هغوی ﷺ تپوس اوكړو آيا تۀ ددې زكات وركوې؟ ما اوويل نۀ - يا څۀ ددې په شان مې اوويل - حضور ﷺ اوفرمائيل : تالره د اور نه دا كافي دی -"

د زنانو د كالو د زكوة په باره كښې د علماؤ مذاهب :

دريم حديث د حضرت عائشې رضي الله عنها دې: قالت دَخَلَ عَلَيَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرَأَى فِي يَدَيَّ فَتَخَاتٍ،، (٢)

فتخات د فتخة جمع ده، د فتخه په تاء باندې فتح او سكون دواړه وئيلې شوې دی، خاتم كبير د چاندۍ لويه ګوتمه يا بنګړې چه زنانه ئې اكثر په لاسونو كښې او ګله په پښو كښې هم اچوی

ددې احاديث ثلثة نه معلوميږی، چه په حلي نساء كښې زكوة واجب دې، مسئله مختلف فيه ده، امام خطابي فرمائي چه د صحابه كرامو يو جماعت عمربن الخطاب رضي الله عنه عبدالله بن مسعود رضي الله عنه عبدالله بن عمر رضي الله عنه عبدالله بن عباس رضي الله عنه په كالو كښې زكوة منی، هم دا مذهب په تابعينو كښې هم د يو جماعت دې، سعيد بن المسيب، سعيد بن جبير، عطاء،

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٦٢٠٠) (صحيح)

(٢) والحديث اخرجه الدارقطني في سننه عن محمد بن عطاء فنسبه الي جده دون ابيه ثم قال ومحمد بن عطاء مجهول قال البيهقي في المعرفة هو محمد بن عمرو بن عطاء لكنه لما نسبه الي جده ظن الدار قطني انه مجهول وليس كذلك..اهـ وقال ابن دقيق العيد في الامام الحديث علي شرط مسلم..اهـ (عون)

ابن سيرين، او هم دي لره سفيان ثوري او احنافو اختيار کړې دې، او يو جماعت د صحابه کرامو او تابعينو لکه ابن عمر، جابر بن عبدالله، حضرت عائشه قاسم بن محمد، شعبي په کالو کښې د زکوة قائل نه دی، هم دې لره امام مالک، احمد، او اسحاق بن راهويه اختيار کړې دې، او په اظهر القولين کښې د امام شافعي رحمه الله هم دا مذهب دې، په بذل کښې د علامه عيني نه نقل دی، چه امام شافعي رحمه الله به په عراق کښې هم دا فرمائيل، چه زکوة نشته، ليکن مصر ته تللو نه پس هغوی په دې مسئله کښې توقف اوفرمائيلو، وقال هذا مما استخير الله فيه، چه زۀ به دې باره کښې د الله تعالى سره استخاره اوکړم ١هـ، خطابي فرمائي چه د ظاهر قرآن او دآثارو نه د قائلين وجوب تائيد کيږي، او کوم خلق چه قائل نه دی، هغوی د قياس لحاظ ساتلې دې، او بعضې آثار هم شته، بهرحال احتياط په ادا کولو کښې دې، د قياس نه مراد په ظاهر کښې دادی، چه کالی د استعمال په څيزونو کښې دی، او د ضرورت او استعمال څيزونو کښې زکوة واجب نه دې، صاحب سبل السلام فرمائي: بعضې آثار چه د سلفو نه منقول دی، د عدم وجوب تقاضا کوی. ولکن بعد صحة الحديث لا اثر للآثار،(¹) يو قول په دې مسئله کښې دادې، چه دکالو زکوة هغې لره په عاريت ورکول دی، او يو قول دادې، چه په ټول عمر کښې صرف يوځل ورکول واجب دی،دا دواړه اقوال دحضرت انس رضي الله عنه نه منقول دی(منهل)

علامه عيني رحمه الله فرمائي چه د ليث بن سعد مذهب دادې، چه کوم کالی اچولې شی، او په عاريت ورکولې شی، په هغې کښې زکوة نشته، او کوم کالی چه د زکوة نه دبچ کيدو دپاره جوړ کړې شوې وی، په هغې کښې زکوة واجب دې.

ددې نه پس پوهه شئ، چه ددې حديث ثالث نه په ظاهر کښې دا معلوميږی، چه په کالو کښې زکوة واجب کيدو دپاره نصاب شرط نه دې، ځکه چه فتخات د نصاب هومره چرته کيدې شی، ليکن علماؤ د احاديث النقدين په ظاهر(چه په کښې نصاب ذکر دې) باندې عمل کړې دې، او دې لره ئې هم نصاب سره مقيد کړې دی،(سبل السلام) دا اشکال خپله مخکښې په دې کتاب کښې هم راروان دې.

[١٥٦٦](²) حَدَّثَنَا صَفْوَانُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ بْنُ مُسْلِمٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عُمَرَ بْنِ يَعْلَى، فَذَكَرَ الْحَدِيثَ نَحْوَ حَدِيثِ الْخَاتَمِ، قِيلَ لِسُفْيَانَ: كَيْفَ تُزَكِّيهِ؟ قَالَ: تَضُمُّهُ إِلَى غَيْرِهِ.

سفيان د عمر بن يعلی نه روايت کړې دې او د انګوټئ والا د حديث هم مثل ئې بيان کړې دې ...... دَ سفيان نه پوښتنه اوکړې شوه چه ددې زکات به څنګه ورکوی؟(يعنی دَ ګوتې وغيره) نو هغوی اوفرمائيل: دَ نورو زيوراتو سره دې ملاؤ کړی -(او دَ نصاب مطابق دې زکات ادا کړی -")

¹) ليکن امام ترمذي د سوارين من نار والا حديث تضعيف کوی فرمائي ولا يصح في هذا الباب عن النبي (صلي الله عليه وسلم) شيء)

²): تفرد به أبو داود،(تحفة الأشراف: ١٩١٥٧)(ضعيف)

د نصاب د تکمیل دپاره ځ دواؤ مختلفو مالونو یوځائي کول :

قیل لسفیان کیف تزکیه قال تضمه الی غیره، یعنی دهغې نه علاوه هغه سره چه کوم کالی وی، هغه کالی دې دهغې سره یوځائي کړی او نصاب پوره کیدو باندې دې زکوة ادا کړی، د ضم مسئله تفصیل طلب ده، او ددې څو صورتونه دی،(۱) ضم العروض الی احد النقدین،(۲) ضم احد النقدین بالآخر، که عروض دتجارت د نصاب هومره نه وی، لیکن هغه سره سرۀ زر یا سپین زر دی، نو دلته کښې ضم بالاتفاق شته، او که سرۀ زر او چاندی، د هر یو بیل بیل نصاب پوره نه وی، یا د یو پوره وی، او د بل ناقص، نو په دې صورت کښې اختلاف دې، د ابن ابی لیلی حسن بن صالح او امام شافعی په نزد به ضم نه وی، وهو روایة عن احمد او دویم روایت د امام احمد، امام مالک، او امام ابو حنیفه په نزد ضم به وی، او د ضم په ذریعه به د نصاب پوره والې کولې شی.

د ضم صورت به څه وی؟ په دې کښې اختلاف دې، په هدایه کښې دی، په ضم کښې به د امام صاحب رحمه الله په نزد د قیمت لحاظ کولې شی، او د صاحبینو په نزد د اجزاؤ، یعنی د وزن لحاظ به کولې شی.

باب فی زکاة السائمة

باب: ۵- په ځنګل کښې د څریدو نکو څناورو زکات

دا باب ډیر اورد دې، مصنف په دې کښې تقریبا شل احادیث راوړلې دی، ددې تعلق د څاروؤ د زکوة سره دې.

د نصاب ذهب ثبوت او د محدثینو دې باره کښې طرز عمل :

ددې نه مخکښې په باب فیما تجب فیه الزکوة کښې دهغې څیزونو تعین تیر شوې دې، په کومو کښې چه زکوة واجب دې، په هغې کښې نقدین یعنی ذهب او فضه هم دی، لیکن په تبویب کښې د محدثینو طرز او طریقه مختلفه ده، امام بخاری باب زکوة الورق قائم کړې دې، لیکن په ذهب ئې هیڅ باب نه دې قائم کړې، او هم داسې امام نسائي هم کړې دی، او امام ترمذی په دې دواړو باندې مشترک باب زکوة الذهب والورق قائم کړې دې، لیکن د باب لاندې امام ترمذی چه کوم حدیث ذکر کړې دې،(۱) په هغې کښې صرف ورق مذکور دې، د ذهب ذکر په کښې نشته، دغه شان ابن ماجه کښې هم باب زکوة الورق والذهب دې، او په هغې کښې هغوی د ذهب او فضه دواړو نصاب باره کښې حدیث ذکر کړې دې، دذهب باره کښې ئې د ابن عمر او عائشه رضی الله عنهما حدیث په یو سند سره ذکر کړې دې، ان النبی(صلی الله علیه وسلم) کان یاخذ من کل عشرین دینارا فصاعدا نصف دینار ومن الاربعین دینارا.

---

(۱) په هغې کښې امام ترمذی وهې حدیث علي ذکر فرمائیلې دې، چه دهغې مخکښې ذذکر راروان دې، په اصل کښې دهغې په بعضو طرقو کښې نصاب ذهب مذکور دې، او په بعضو کښې نسته، امام ابوداؤد په دواړو طریقو سره حدیث اخستلې دې، لیکن امام ترمذی هغې لره صرف په هغې طریقې ذکر کړې دې، په کومې کښې چه نصاب ذهب نشته، نو ګویا هغه په ترجمة الباب کښې ذهب ذکر کولو سره هغې طریق ثانی طرف ته اشاره کړې ده والله اعلم)

لیکن امام ابو داؤد رحمه الله مستقل باب نه خو په ورق باندې قائم کړې دې، او نه په ذهب باندې، حالانکه د نصاب ذهب حدیث په دې کښې موجود دې، لیکن هغې لره مصنف د اختلاف رواة او اختلاف طریق لاندې ذکر کړې دې، نه قصدا، ددې وجې نه شاید په دې باندې ئې باب نه دې قائم کړې، باقي د نصاب ورق حدیث خو صحیح او متفق علیه دې، چه په دې کتاب کښې هم په باب فیما تجب فیه الزکوة کښې تیر شوې دې، **غالبا مصنف هم** په دې باندې اکتفاء کولو په وجه مستقل باب نه دې قائم کړې. والله اعلم

د نصاب ذهب ثبوت :

علامه قسطلانی ۲ص۳۳۹ د بخاری دباب زکوة الورق لاندې لیکلې دی:
واما الذهب ففی عشرین مثقالا منه ربع العشر لحدیث ابی داؤد باسناد صحیح او حسن عن علی عن النبی(صلی الله علیه وسلم) لیس فی اقل من عشرین دینارا شیء وفی عشرین نصف دینار۱ه او ددې په مقابله کښې ابن عبدالبر فرمائي لم یثبت عن النبی(صلی الله علیه وسلم) فی نصاب الذهب شیء، او په حدیث علی رضی الله عنه باندې تنقید کولو سره هغوی اوفرمائیل : ورواه الحفاظ موقوفا علی علی۱ه. زهٔ وایم، د نصاب ذهب والا حدیث صحت اگر چه مختلف فیه دې، لیکن دهغې باوجود مسئله تقریبا اجماعی ده، چه نصاب ذهب عشرین مثقال دې، او په دې کښې چه کوم اختلاف دې، هغې لره شاذ مقرر کړې شوې دې، لکه د حسن بصری رحمه الله قول دې، چه ددې نصاب اربعین مثقال دې، علامه باجی فرمائي چه د حسن نه پس د علماؤ اجماع اوشوه په عشرین مثقال باندې، دغه شان ابن قدامه هم په عشرین مثقال باندې اجماع نقل کړې ده. (۱)
دویمه اجماع دلته کښې داده، چه په نصاب ذهب کښې د مثقال اعتبار دې، د قیمت نه، لیکن عطاء، طاؤس او زهری فرمائي په دې کښې د قیمت فضه اعتبار دې، لهذا کوم ذهب چه په قیمت کښې د دواؤ سوؤ درهمو برابر وی، په هغې کښې به زکوة واجب وی، ددې نه پس تاسو د موجوده باب باره کښې واؤرئ.

د سائمه تعریف :

سائمه د سؤم نه مشتق دې، په معنی د څرېدلو، وئیلې شی سامت الماشیة سوما ای رعت او اسامة متعدی دې، اسامها صاحبها، څاروی لره دهغې مالک په ځنګل کښې یا په مرعی کښې د څرېدلو دپاره پرېخودو، کوم څاروی چه په ځنګل کښې د کال په اکثره حصه کښې څرېږی، او دهغې د ګیا او دانې مشقت مالک نه برداشت کوی، هغې څاروؤ ته سائمه وئیلې شی، په دې کښې دا قید هم دې، چه په صحراء کښې دا پرېخودل د نسل دپاره وی، چه دهغې مال نامی کېدل ثابت شی، لیکن چونکه څاروی داسې په صحراء کښې پرېخودلې شی، چه دهغې نه مقصود نسل وی، ددې وجه دې قید لره د سائمه په تعریف کښې اکثر ذکر کولې نشی، په اصل کښې ددې وصف اسامة للدر والنسل په وجه د نماء

(۱) د شل مثقال نه څومره ګرام جوړېږی ددې بیان د فضه په نصاب کښې تیرشوې دې.

معنی پیدا کیږی،(١) او زکوة په مال نامی کښې واجب دي، او هم دا ددې دپاره یوه وجه عقلي ده، چه په بغال کښې زکوة واجب نه دي، د عدم تناسل په وجه، او په علوفه کښې د ګیا د مشقت په وجه. لکه چه د جمهور علماؤ او ائمه ثلاثه مذهب دي، خلافا للامام مالک، فانه اوجب الزکوة في العلوفة ایضا، علوفه چه معلوفه ورته هم وئیلې شي، دا د سائمه ضد دي، هغه څاروی چه هغې لره مالک د کال په اکثر حصه کښې د حمل یا رکوب(بار برداری) دپاره په کور کښې ساتی، په علوفه کښې د ګیا او دانې مشقت چونکه مالک برداشت کوی، ددې وجې نه په هغې کښې د نماء صفت مغلوب کیږی، چه هغې ته شریعت اعتبار نه دې ورکړې، ددې وجې نه په دې کښې زکوة واجب نه دي.

[۱۵٦٧](٢) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، قَالَ: أَخَذْتُ مِنْ ثُمَامَةَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَنَسٍ كِتَابًا زَعَمَ أَنَّ أَبَا بَكْرٍ كَتَبَهُ لِأَنَسٍ وَعَلَيْهِ خَاتِمُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ بَعَثَهُ مُصَدِّقًا وَكَتَبَهُ لَهُ، "فَإِذَا فِيهِ هَذِهِ فَرِيضَةُ الصَّدَقَةِ الَّتِي فَرَضَهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْمُسْلِمِينَ الَّتِي أَمَرَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ بِهَا نَبِيَّهُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَمَنْ سُئِلَهَا مِنَ الْمُسْلِمِينَ عَلَى وَجْهِهَا فَلْيُعْطِهَا، وَمَنْ سُئِلَ فَوْقَهَا فَلَا يُعْطِهِ فِيمَا دُونَ خَمْسٍ وَعِشْرِينَ مِنَ الْإِبِلِ الْغَنَمُ فِي كُلِّ خَمْسِ ذَوْدٍ شَاةٌ، فَإِذَا بَلَغَتْ خَمْسًا وَعِشْرِينَ فَفِيهَا بِنْتُ مَخَاضٍ إِلَى أَنْ تَبْلُغَ خَمْسًا وَثَلَاثِينَ، فَإِنْ لَمْ يَكُنْ فِيهَا بِنْتُ مَخَاضٍ فَابْنُ لَبُونٍ ذَكَرٌ، فَإِذَا بَلَغَتْ سِتًّا وَثَلَاثِينَ فَفِيهَا بِنْتُ لَبُونٍ إِلَى خَمْسٍ وَأَرْبَعِينَ، فَإِذَا بَلَغَتْ سِتًّا وَأَرْبَعِينَ فَفِيهَا حِقَّةٌ طَرُوقَةُ الْفَحْلِ إِلَى سِتِّينَ، فَإِذَا بَلَغَتْ إِحْدَى وَسِتِّينَ فَفِيهَا جَذَعَةٌ إِلَى خَمْسٍ وَسَبْعِينَ، فَإِذَا بَلَغَتْ سِتًّا وَسَبْعِينَ فَفِيهَا ابْنَتَا لَبُونٍ إِلَى تِسْعِينَ، فَإِذَا بَلَغَتْ إِحْدَى وَتِسْعِينَ فَفِيهَا حِقَّتَانِ طَرُوقَتَا الْفَحْلِ إِلَى عِشْرِينَ وَمِائَةٍ، فَإِذَا زَادَتْ عَلَى عِشْرِينَ وَمِائَةٍ فَفِي كُلِّ أَرْبَعِينَ بِنْتُ لَبُونٍ وَفِي كُلِّ خَمْسِينَ حِقَّةٌ، فَإِذَا تَبَايَنَ أَسْنَانُ الْإِبِلِ فِي فَرَائِضِ الصَّدَقَاتِ فَمَنْ بَلَغَتْ عِنْدَهُ صَدَقَةُ الْجَذَعَةِ وَلَيْسَتْ عِنْدَهُ جَذَعَةٌ وَعِنْدَهُ حِقَّةٌ فَإِنَّهَا تُقْبَلُ مِنْهُ، وَأَنْ يَجْعَلَ مَعَهَا شَاتَيْنِ إِنِ اسْتَيْسَرَتَا لَهُ أَوْ عِشْرِينَ دِرْهَمًا، وَمَنْ بَلَغَتْ عِنْدَهُ صَدَقَةُ الْحِقَّةِ وَلَيْسَتْ عِنْدَهُ حِقَّةٌ وَعِنْدَهُ جَذَعَةٌ فَإِنَّهَا تُقْبَلُ مِنْهُ وَيُعْطِيهِ الْمُصَدِّقُ عِشْرِينَ دِرْهَمًا أَوْ شَاتَيْنِ، وَمَنْ بَلَغَتْ عِنْدَهُ صَدَقَةُ الْحِقَّةِ وَلَيْسَ عِنْدَهُ حِقَّةٌ وَعِنْدَهُ ابْنَةُ لَبُونٍ فَإِنَّهَا تُقْبَلُ. قَالَ أَبُو دَاوُد: مِنْ هَاهُنَا لَمْ أَضْبِطْهُ عَنْ مُوسَى كَمَا أُحِبُّ، وَيَجْعَلُ مَعَهَا شَاتَيْنِ إِنِ اسْتَيْسَرَتَا لَهُ أَوْ عِشْرِينَ دِرْهَمًا، وَمَنْ بَلَغَتْ عِنْدَهُ صَدَقَةُ بِنْتِ لَبُونٍ وَلَيْسَ عِنْدَهُ إِلَّا حِقَّةٌ فَإِنَّهَا تُقْبَلُ مِنْهُ، قَالَ أَبُو دَاوُد: إِلَى هَاهُنَا، ثُمَّ أَتْقَنْتُهُ، وَيُعْطِيهِ الْمُصَدِّقُ عِشْرِينَ دِرْهَمًا أَوْ شَاتَيْنِ، وَمَنْ بَلَغَتْ عِنْدَهُ صَدَقَةُ ابْنَةِ لَبُونٍ وَلَيْسَ عِنْدَهُ إِلَّا بِنْتُ مَخَاضٍ فَإِنَّهَا تُقْبَلُ مِنْهُ وَشَاتَيْنِ أَوْ عِشْرِينَ دِرْهَمًا، وَمَنْ بَلَغَتْ عِنْدَهُ صَدَقَةُ ابْنَةِ مَخَاضٍ وَلَيْسَ عِنْدَهُ إِلَّا ابْنُ لَبُونٍ ذَكَرٌ فَإِنَّهُ يُقْبَلُ مِنْهُ وَلَيْسَ مَعَهُ شَيْءٌ، وَمَنْ لَمْ يَكُنْ عِنْدَهُ إِلَّا أَرْبَعٌ فَلَيْسَ فِيهَا شَيْءٌ إِلَّا أَنْ يَشَاءَ رَبُّهَا، وَفِي سَائِمَةِ الْغَنَمِ إِذَا كَانَتْ أَرْبَعِينَ فَفِيهَا شَاةٌ إِلَى عِشْرِينَ وَمِائَةٍ، فَإِذَا زَادَتْ عَلَى عِشْرِينَ وَمِائَةٍ فَفِيهَا شَاتَانِ إِلَى أَنْ تَبْلُغَ مِائَتَيْنِ، فَإِذَا زَادَتْ عَلَى مِائَتَيْنِ فَفِيهَا ثَلَاثُ شِيَاهٍ إِلَى أَنْ تَبْلُغَ ثَلَاثَ مِائَةٍ، فَإِذَا زَادَتْ عَلَى ثَلَاثِ مِائَةٍ فَفِي كُلِّ مِائَةِ شَاةٍ شَاةٌ وَلَا يُؤْخَذُ فِي الصَّدَقَةِ هَرِمَةٌ وَلَا ذَاتُ عَوَارٍ مِنَ الْغَنَمِ وَلَا تَيْسُ الْغَنَمِ إِلَّا أَنْ يَشَاءَ الْمُصَدِّقُ، وَلَا يُجْمَعُ بَيْنَ مُفْتَرِقٍ وَلَا يُفَرَّقُ بَيْنَ مُجْتَمِعٍ خَشْيَةَ الصَّدَقَةِ، وَمَا كَانَ مِنْ خَلِيطَيْنِ فَإِنَّهُمَا يَتَرَاجَعَانِ بَيْنَهُمَا بِالسَّوِيَّةِ، فَإِنْ لَمْ تَبْلُغْ

(١) فقهاؤ لیکلي دی، چه که بالفرض د اسامة نه مقصود در او نسل نه وی، بلکه حمل یا رکوب وی، نو بیا د سائمه کیدلو باوجود به په هغې کښې زکوة واجب نه وی.(زیلعی وغیره)

(٢): صحیح البخاري/الزکاة ٣٣(١٤٤٨)، ٣٩(١٤٥٥)، الشرکة ٢(٢٤٨٧)، فرض الخمس ٥(٣٠١٦)، الحیل ٣(٦٩٥٥)، سنن النسائي/الزکاة ٥(٢٤٤٩)، ١٠(٢٤٥٧)، سنن ابن ماجه/الزکاة ١٠(١٨٠٠)،(تحفة الأشراف: ٦٥٨٢)، وقد أخرجه: مسند احمد(١١/١، ١٣)(صحیح)

سَائِمَةُ الرَّجُلِ أَرْبَعِينَ فَلَيْسَ فِيهَا شَيْءٌ إِلَّا أَنْ يَشَاءَ رَبُّهَا، وَفِي الرِّقَةِ رُبْعُ الْعُشْرِ فَإِنْ لَمْ يَكُنِ الْمَالُ إِلَّا تِسْعِينَ وَمِائَةً فَلَيْسَ فِيهَا شَيْءٌ إِلَّا أَنْ يَشَاءَ رَبُّهَا".

حماد بیان کوی چه ما دا تحریر دَ حضرت ثمامه بن عبد الله بن انس نه حاصل کړې دې - هغه وئیل چه دا حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه دَ حضرت انس رضی الله عنه دَ پاره لیکلې وو او هغه لره ئې دَ صدقې (زکات) دپاره تحصیلدار جوړ کړې وو او لیږلې ئې وو او په دې باندې دَ رسول الله ﷺ مهر وو ... په دې کښې لیکلې شوې وو : دا دَ فریضهٔ زکات تفصیل دې کوم چه رسول الله ﷺ په مسلمانانو باندې فرض کړې وو، دَ کومې چه الله تعالیٰ خپل پیغمبر ﷺ ته حکم فرمائیلې وو - لهٰذا دَ کوم مسلمان نه چه هم ددې مطابق مطالبه اوکړې شی، هغه دې ادا کړی او دَ چا نه دَ هغې نه علاوه مزید اوغوستلې شی، نو هغه دې نهٔ ورکوی - دَ پنځیشتو نه په کمو اوښانو کښې (زکات دَ بکرو په صورت کښې دې) په هر پنځهٔ اوښانو باندې یوه چیلۍ ده - کله چې پنځیش شی نو په هغې کښې یو بنت مخاض ده (یو کلیزی مؤنث اوښه)، پنځهٔ دیرشو پورې - کهٔ چرې په دې کښې یو کلیزی نهٔ وی نو دَ دوو کالو نَر اوښ دې ورکړی (چه هغې ته ابن لبون وائی) او کله چه شپږ دیرش شی نو په دې کښې دوه کلیزی مؤنث اوښه ده (بنت لبون) تر دَ پنځهٔ څلویښت پورې - او کله چه شپږ پنځوس شی نو په هغې کښې حقّه ده (درې کلیزی مؤنث اوښه) کومه چه دَ تیریدو لائقه وی - تر دَ شپیتو پورې - کله چه یو شپیتهٔ شی نو په هغې کښې جذعه ده (څلور کلیزی مؤنث اوښه) تر دَ پنځه اویا پورې - او کله چه شپږ اویا شی نو په دې کښې دوه بنت لبون (دوه کلیزی دوه مؤنث اوښې) دی، تر دَ نوی پورې - او کله چه یو نوی شی نو په هغې کښې دوه حقې (درې کلیزی دوه مؤنث اوښې) دی، کوم چه به دَ تیریدو لائقې وی، تر دَ شپږ شلې پورې او کله چه دَ شپږ شلو نه واوړی نو په هر څلویښتو کښې بنت لبون او په پنځوسو کښې حقه ده - کهٔ چرې په زکات کښې دَ واجب کیدونکو څناورو په عمر کښې فرق وو، نو په چا باندې چه جذعه واجب وی مګر دَ هغه سره جذعه نهٔ وی بلکې (ددې دَ کم عمر والا) حقه (درې کلیزی اوښه) وی نو ددهٔ نه دې حقه واخستلې شی او ددې سره دې دوه بکرۍ ملاؤ کړی کهٔ چرې دهٔ ته آسانه وی یا شل درهمه (دَ چاندۍ)، او په چا باندې چه په زکات کښې حقه واجب شوې وی، مګر دَ هغه سره حقه نهٔ وی بلکې جذعه وی (څلور کلیزی اوښه) نو ددهٔ نه دې جذعه واخستلې شی او تحصیلدار دې دهٔ ته شل درهمه ورکړی یا دوه بکرۍ - او په چاباندې چه حقه لازمه شوه مګر موجود نهٔ وی بلکې بنت لبون وی نو ددهٔ نه دې بنت لبون واخستې شی ... امام ابوداود رحمه الله فرمائی : چه دَ حدیث ددې حصې نه پس ما دَ خپل شیخ موسیٰ بن اسماعیل نه کما حقه ضبط نهٔ دې کړې ... او صاحبَ مال دې ددې سره دوه بکرۍ ورکړی کهٔ چه میسره وی، یا شل درهمه - او په چاباندې چه په زکات کښې بنت لبون واجب شوله مګر دَ هغه سره حقه وه نو ددهٔ نه دې دا حقه واخستې شی ... امام ابوداود رحمه الله فرمائی ددې حصې نه پس ماته ښهٔ ضبط دې ... او تحصیلدار دې هغه ته شل درهمه ورکړی یا دوه بکرۍ، او په چا

باندې چه بنت لبون واجب شوې وی مګر دَ هغه سره یو کلیزی (بنت مخاض) وی نو ددهٔ نه به هم دا قبلولې شی او ددې سره به ترینه دوه بکرئ یا شل درهمه اخستلې شي - او په چا باندې چه بنت مخاض (یو کلیزی) لازمه شوی وی مګر دَ هغه سره دوکلیزی نر (ابن لبون) موجود وی نو ددهٔ نه دې هم دا واخستلې شی مګر ددې سره به څهٔ (واپس) کولې نهٔ شی- او دَ کوم کس سره چه صرف څلور اوښان وی نو په هغه باندې څهٔ زکات واجب نهٔ دې مګر دا کهٔ دَ هغې مالک اوغواړی - او دَ سائمه بکرو (هغه چیلئ بکری چه هغه اکثر دَ کور نه بهر څرن کوی) دَ زکات (تفصیل) دادې : دَ څلویښتو نه واخله تر دَ شپږ شلو پورې یوه چیلئ ده - کهٔ چرې ددې نه زیات شی نو بیا دوه بکرئ دی تر دَ دوو سوو پورې - دَ دوو سوو نه په زیاتو کښې درې بکرئ دی، دریو سوو پورې - کهٔ چرې چیلئ دَ دریو سوو نه واوړیدلې نو په هر سلو کښې یوه چیلئ ده - په زکات کښې به بوډا یا عیب داره بکرئ نهٔ شی اخستې او نهٔ دې نَر بکرې (کوم چې په مؤنث باندې خیژی) واخستلې شی مګر داکهٔ دَ زکات دَ تخصیلدار خواهش وی - او دَ زکات دَ یرې نه دې دوه جُدا جُدا کنډکونه جمع نهٔ کړې شی او نهٔ دې یوځائې مال جُدا جُدا کړې شی - او دَ کومو دوو مشترکو مالکانو مال چه یوځائې وی او زکات ترینه هم یوځائې اخستلې شوې وی نو هغوی دې په خپل مابین کښې برابر برابر لین دین کوی - کهٔ چرې دَ چا په څنګل کښې څریدونکې چیلئ څلویښتو ته نهٔ وی رسیدلې نو په هغې کښې هیڅ زکات نشته دې مګر دا کهٔ مالک اوغواړی - په سپینو زرو کښې څلویښتمه حصه ده - کهٔ چرې مال صرف دَ یوسل او نوی درهمو وو نو په دې کښې هیڅ زکات نشته دې مګر دا کهٔ دَ هغې مالک اوغواړی -

په کومو سوائمو کښې چه زکوٰة واجب دې، هغه درې دی، ابل، بقر، او غنم، (غنم معز یعنی بزه او ضان یعنی ګډه دواړو ته شامل دې) په بغال او حمیر کښې زکوٰة بالاتفاق نشته، [1] په حدیث کښې ددې تصریح ده، **لم ينزل على فيهما شيء الا هذه الآية الجامعة الفاذة فمن يعمل مثقال ذرة خيرا يره الخ**

حدثنا موسى بن اسماعيل نا حماد قال اخذت من ثمامة بن عبدالله بن انس كتابا زعم ان ابابكر كتبه لانس وعليه خاتم رسول الله (صلى الله عليه وسلم) حين بعثه مصدقا و كتبه له فاذا فيه هذه فريضة الصدقة التي فرضها رسول الله (صلى الله عليه وسلم) على المسلمين.

په دې حدیث کښې د کتاب الصدقه ذکر دې، چه هغې لره رسول اللهﷺ د وفات نه مخکښې لیکلې وو، په هغې کښې د زکوٰة احکام او تفاصیل ذکر دی، خصوصا د سوائمو زکوٰة، چه زیات تفصیلی دې، ابل، بقر او غنم، د هر یو نصاب، او مقدار واجب، دې دپاره

---

[1] مګر دا که د تجارت دپاره وی، په دې صورت کښې د مال تجارت په اعتبار سره هغې کښې زکوٰة واجب دې، په حساب د قیمت نصاب، دغه شان سوائم هم که د در او نسل دپاره نه وی، بلکه د تجارت دپاره وی، نو په هغې کښې به د مال تجارت زکوٰة د قیمت په اعتبار سره واجب وی، نه د سائمه کیدلو په اعتبار سره)

چه عمال ددې کتاب مطابق زکوة وصول کړي، په هغې د نبی کریم ﷺ مهر هم وو، ددې نه پس راتلونکې روایت کښې دی فلم یخرجه الی عماله حتی قبض فقرنه بسیفه فعمل به ابوبکر حتی قبض ثم عمل به عمر حتی قبض، یعنی نبی کریم ﷺ د لیکلو نه پس هغه کتاب د خپلې تورې په تیکې کښې محفوظ کړو، او عاملانو ته ئې حواله نه کړو، تردې پورې چه نبی کریم ﷺ وفات شو، دهغوی نه پس خلیفه اول حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه دهغې مطابق عمل اوکړو، دهغوی نه پس دغه شان حضرت عمر فاروق رضی الله عنه. نبی کریم ﷺ هغې لره عاملانو ته په ظاهر کښې ددې وجه نه حواله نه کړو،[1] چه هغوی ته خوړ نبی کریم ﷺ د زکوة تفصیل زبانی بالمشافه تعلیم ورکولو، بلکه هغې لره ئې محفوظ ځائي کښې کیخودو، دې دپاره چه روستو راتلونکې خلفاء هغې طرف ته رجوع اوکړي، نو هم داسې اوشوه، چه حضرات شیخینو په خپلو خپلو زمانو کښې دهغې مطابق زکوة وصول کړو.

ددې نه د زکوة د مسائلو اهمیت معلومیږي، ځکه د نبی کریم ﷺ عادت د احکامو او احادیثو لیکلو نه وو، بلکه د هغوی تعلیم به قولا او فعلا وو، لیکن د زکوة احکام هغوی باقاعده اولیکل، دا ګویا د زکوة خصوصیت دې، او ددې وجه هم ظاهره ده، چه زکوة، ددې نصاب، او په هر نصاب کښې څه څه واجبیږي، دا ټول حسابی امور دی، ددې زبانی یادول مشکل دی.

فقرنه بسیفه شارحینو لیکلې دی، چه د تورې په تیکی کښې هغه ایخودل، دې کښې یوه لطیف اشاره ده، چه په هغې صدیق اکبر رضی الله عنه پوهه شوې وو، که یو جماعت د زکوة نه انکار اوکړي، نو دهغې حل او علاج توره ده، نو صدیق اکبر د مانعین زکوة سره قتال اوکړو.

مضمون حدیث:

حماد بن سلمه وائي چه ما د حضرت انس رضی الله عنه د نمسی ثمامة بن عبدالله نه دا کتاب اخستلې دې، چه دهغې باره کښې ثمامة دا وائي چه دا کتاب صدیق اکبر رضی الله عنه زما نیکهٔ حضرت انس رضی الله عنه ته لیکلې ورکړې وو، چه په هغې د نبی کریم ﷺ مهر هم وو، هرکله چه صدیق اکبر رضی الله عنه هغه لره(انس رضی الله عنه لره) د بحرین عامل جوړ کړو، او د صدقاتو وصولولو دپاره ئې لیږلو، فاذا فیه هذه فریضة الصدقة او د صحیح بخاری په یو روایت کښې داسې دی، کتب له هذا الکتاب لما وجهه الی بالبحرین، بسم الله الرحمن الرحیم، هذه فریضة الصدقة دلته کښې مضاف محذوف دې، ای نسخة فریضة الصدقة، لکه د دواؤ حدیثونو نه پس یو

[1]) کذافي المنهل لیکن په ظاهر کښې د روایت دسیاق او دهغې د الفاظو نه دا معلومیږي، چه عاملانو ته نه ورکول قصدا نه وو، بلکه چونکه دا کتاب نبی کریم ﷺ بالکل په آخری ورځو د ژوند کښې لیکلې وو، اوسه پورې عاملانو ته د حواله کولو نوبت راغلې نه وو، چه سانحهٔ ارتحال دنبی کریم ﷺ پیښه شوه، بلکه د بعضې روایاتو نه خو دا معلومیږي، چه د نبی کریم ﷺ په زمانه کښې مصدقینو سره هم داسې تحریر لیدلې شوې وو، لهذا داسې وئیل پکار دی، چه په ابتداء کښې چه کوم کتاب نبی کریم ﷺ اولیکلو، یعنی اصل تحریر، هغې لره خو هغوی د تورې په تیکی کښې محفوظ کړو، لیکن دهغې نقول ئې عاملانو ته حواله کړل، والله تعالي اعلم بالصواب، دې باره کښې نور زیات د تحقیق او تفتیش ضرورت شته.

حديث راروان دې، په هغې کښې داسې دی، هذه نسخة كتاب رسول الله(صلى الله عليه وسلم)، نسخة يعنى ليک، او نوشته يعنى هغه ليک دې چه هغې کښې دهغې صدقې او زکوة بيان دې کوم لره چه رسول اللهﷺ په مسلمانانو باندې معين کړې دې، او هغه فريضه ده، د کوم چه الله تعالى خپل نبى ته حکم ورکړې دې، يعنى د کوم د تبليغ حکم ئې چه ورکړې دې، التى امر الله بها، دا جمله د ماقبل نه بدل واقع شوې ده، په دې کښې د فرض نسبت نبى کريمﷺ ته شوې دې، اګر چه فرض د الله تعالى د طرف نه دې، ليکن چونکه رسول اللهﷺ د الله تعالى د طرف نه داعى دې، په دې اعتبار سره د فرض نسبت نبى کريمﷺ ته اوشو، او يا دا فرض بمعنى دقدر دې، تقدير يعنى تعين دنصاب، او په دې صورت کښې به کلام په خپل ظاهر باندې وى، د تاويل حاجت نشته، ځکه اګرچه اصل ايجاب خو د الله تعالى د طرف نه دې، ليکن هغه مجمل دې، نبى کريمﷺ دهغې تقدير او تعين د بيان نصاب په ذريعه فرمائيلې دې.

دا حديث په صحيح بخارى کښې هم دې، په هغې کښې د ثمامة نه روايت کونکې دهغه اورارۀ عبدالله بن المثنى دې، علامه عينى فرمائي، دې حديث لره امام بخارى په خپل صحيح کښې لس کرته په سندواحد سره ذکر کړې دې، چرته مقطعا او چرته مطولا، په هغې کښې په شپږو ځايونو کښې په کتاب الزکوة کښې ذکر کړې دې، ابن حزم فرمائي هذا حديث فى نهاية الصحة عمل به الصديق فى حضرة العلماء ولم يخالفه احد ١هـ(منهل)[1]

دا حديث د حضرت ابن عمرؓ په روايت سره مخکښې راروان دې، په هغې کښې يو زياتوالې شته، فلم يخرجه الى عماله حتى قبض فقرنه بسيفه(و قد تقدمت الحوالة)

على المسلمين: ددې قيد نه مستفاد کيږى، چه کافران د زکوة مخاطب او مکلف نه دى، وعلى هذا القياس نور فروع،(دا يوه مشهوره اختلافى مسئله ده، دلته به په دې باندې کلام انشاء الله د حديث بعث معاذؓ الى اليمن په ذيل کښې راشى) او چونکه شوافع د کافرانو د مکلف کيدو قائل دى، ددې وجه نه حافظ ددې تاويل په فتح البارى ۴ص۲۵۲ کښې داسې کړې دې، چه د مسلمانانو قيد د صحة اداء په اعتبار سره دې، ځکه چه د کافرانو زکوة ادا کول معتبر نه دى،[2] او په دې حثيت سره نه، چه هغوى ددې مکلف نه دى، او هغوى ته به په آخرت کښې په دې عذاب نه وى.

فمن سئلها من المسلمين على وجهها فليعطها يعنى د کوم مسلمان نه چه ددې کتاب مطابق د زکوة مطالبه اوکړې شى، نو هغه لره پکار دى، چه هغه خپل زکوة ساعى ته ورکړى، او د

---

[1] ليکن علامه عينى دې حديث باره کښې د بعضو علماؤ نه تضعيف نقل کړې دى، په اصل کښې خبره داده، چه ددې حديث يو جزء په ظاهر کښې د احنافو خلاف دې، احنافو په خپل تائيد کښې يو بل حديث پيش کړو، دهغې بيهقى تضعيف اوکړو، نو دهغې په جواب کښې علامه عينى ددې حديث تضعيف هم د ډيرو امامانو نه نقل کړو، دعلم خو دغې حضراتو سره ماشاء الله کمى نه وه.

[2] پس د شوافع په نزد د کافر د زکوة مکلف کيدو مطلب داډې، چه په هغه واجب دى، چه اول ايمان راؤړى، او بيا زکوة وغيره فرائض ادا کړى.

چا نه چه مطالبه ددې د خلاف اوکړې شی، يعنی د ما وجب نه زيات، نو نه دې ورکوی، يا خو مطلب دادې، چه بالکل دې هغه ساعی ته نه ورکوی، او خپل زکوة دې په خپله ادا کړی، يا مطلب دادې، چه هغه مقدار زائد دې نه ورکوی، دلته کښې دا سوال پيدا کيږی، چه مخکښې په باب رضا المصدق کښې راروان دی، ارضوا مصدقيكم وان ظلمتم يعنی عامل لره راضی واپس کړئ، او څومره زکوة چه هغه غواړی ورته ورکړئ، اگر که په تاسو باندې ظلم کولې شی، ددې دوه جوابه کيدې شی(۱) په دې راتلونکې حديث کښې دهغې مصدقينو ذکر دې، چه د نبی کريم ﷺ په زمانه کښې وو، چه صحابه دی، او ظاهر ده، چه داسې مصدقين ظلم هرگز نه شی کولې، دا امر آخر دې، چه مزکی دا گنړی چه په ما ظلم کيږی، او دا حديث چه دلته دې، په دې کښې عام ضابطه تر قيامته پورې بيان کړې شوې ده، او په دې کښې هر قسمه مصدق کيدې شی، عادل هم او ظالم هم، لهذا د دواړو احاديثو محمل مختلف شو.

دويم جواب دادې، چه په دې دواړ مختلفو حکمونو کښې احدهما د بيان جواز او رخصت دپاره دې، او دويم حکم د استحباب او ترغيب دپاره دې.(بذل)

تشريح: قوله: فيما دون خمس و عشرين من الابل الغنم فی کل خمس ذود شاة.

د نصاب ابل بيان:

اوس دلته نه د نصاب بيان شروع کيږی، دا د باب په شروع کښې تير شوې دی، چه نصاب ابل پنځه اوښان دی، دلته کښې داده، چه څليريشتو پورې هم دا حکم دې، په هر پنځو کښې يوه بزه واجبه ده، او هرکله چه اوښان پنځويشت شی، نو بيا به زکوة بدل شی، او په ځائې د بزو د اوښانو بچی به واجب وی، د يو خاص عمر، چه هغې ته بنت مخاض وئيلې شی. په دې خبره پوهيدل پکار دی، چه اصل داده، چه د مال زکوة دهغې مال د جنس نه ادا کړې شی، او د زکوة بالقيمة مسئله مختلف فيه ده،([1]) د احنافو په نزد جائز ده، او د جمهورو په نزد ناجائز ده، ليکن شريعت مطهره دا قاعده په زکوة الابل کښې جاری کړې نه ده، نو په پنځو اوښانو کښې يوه بزه ده، او په لسو کښې دوه بزې دی، دغه شان څليريشتو پورې په هر پنځو کښې يوه بزه ده، وجه ددې داده، چه که پنځو اوښانو کښې اوښ ورکړې شی، نوپه دې کښې دمالک لوئې نقصان دې، اوکه دپنځويشتو نه کم کښې هيڅ واجب نه کړې شی، نو ظاهر ده چه په دې کښې د فقيرانو نقصان دې، ددې وجه نه شريعت د جانبينو په رعايت کښې دا اوکړل، چه د زکوة الابل ابتداء ئې په بزې سره اوکړه، او هرکله چه اوښان کافی او زيات مقدار کښې شی، يعنی پنځويشت نو په هغې کښې ئې يو اوښ کم عمر والا واجب کړو، بيا دهغې نه پس دهغې نه زيات عمر والا، بيا دغه شان بتدريج اضافه اوشوه، سبحان الله څومره قدرې درعايت خيال ئې ساتلې دې.

---

[1]) يعنی چه کوم څيز په زکوة کښې اصالة واجب دې، دهغې په ځائې دهغې د قيمت برابر بل يو څيز ادا کول.

د نصاب ابل تفصیل:

ددې نه پس پوهه شئ، چه په دې حدیث یعنی کتاب الصدقه کښې د اوښانو کوم نصاب بیان کړې شوې دې، هغه داسې دې، د پنځو نه څلیریشتو پورې په هر پنځو کښې یوه بزه، نو څلیریشتو پورې څلور بزې واجب شوې، او په پنځو کښې بنت مخاض، پنځه دیرشو پورې، بیا په شپږ دیرشو کښې بنت لبون پنځه څلویښتو پورې، بیا شپږ څلویښتو کښې یوه حقه، شپیتو پورې، بیا یو شپیتۀ نه پنځه اویا پورې یوه جذع، مابین النصابین په هر ځائي کښې عفو دې، چه دهغې نه فقهاء په وقص سره تعبیر کوی، یعنی څرنګه چه په پنځو کښې یوه بزه واجبیږی، نو په نهو کښې هم یوه واجبه ده، نو د پنځو نه مخکښې نهو پورې وقص شو، بیا مخکښې په دې عفو کښې زیاتوالې اوشو، لکه د بنت مخاض ابتداء چه د کوم ځائي نه اوشوه، یعنی پنځویشت، دلته نه وقص تقریبا دوچند شو، یعنی لس، او بیا مخکښې په دې کښې نور هم زیاتوالې اوشو، او وقص د لسو په ځائي پنځلس شو، لکه چه د دې تفصیل نه معلومیږی.

د جذع نه زیات عمر والا اوښه په زکوة کښې واجب نه ده، بلکه دهغې نه پس ئې داسې اوکړل، چه د جذع نه کم عمر والا د یو په ځائي دوه واجب دی، لکن د شپږ اویا نه نوی پورې زکوة دوه بنت لبون دې،(١) بیا یونوی نه یوسل شلو پورې دوه حقې واجبې دی، دلته نه وقص د مخکښې نه هم دوچند شو، د پنځلسو په ځائي دیرش شو، دا ټول تفصیل په دې حدیث کښې ذکر دې، او د پنځو نه یو سل شلو پورې چه کوم تفصیل په دې حدیث کښې ذکر دې، هغه د ائمه اربعه په نزد متفق علیه دې، صرف په یو جزء کښې اختلاف دې، هغه دا فاذا بلغت خمسا و عشرین ففیها بنت مخاض، د جمهور علماؤ او ائمه اربعه مذهب هم دادې، چه په پنځویشتو کښې یو بنت مخاض دې، لیکن د حضرت علی رضي الله عنه د یو روایت چه ددې باب شپږم حدیث دې، هغې کښې داسې دی، چه په پنځویشتو کښې پنځه بزې، او په شپږویشتو کښې بنت مخاض، د حضرت علی رضي الله عنه دا روایت په بذل المجهود کښې د فتح الباری په حوالې سره صرف مصنف ابن ابی شیبه ته منسوب کړې شوې دې، او دا روایت دلته ابوداؤد کښې هم مخکښې راروان دې، سفیان ثوری رحمه الله فرمائي چه په دې روایت کښې په رجال علی رضي الله عنه کښې چانه غلطي واقع شوې ده، ځکه چه د حضرت علی رضي الله عنه نه دا خبره بعیده ده، چه هغه ددې قائل وی، ځکه په دې صورت کښې موالات بین الواجبین لازم راځي، یعنی د دواؤ واجبو په مینځ کښې وقص نشته، چه د اصول زکوة خلاف ده،(منهل) په دې حدیث کښې د مخلتفو اوښانو نومونه راغلې دی، دهغې تشریح په حاشیه کښې شوې ده.(٢)

---

١) ځکه چه بنت لبون د شپږ دیر ٣۶، نه شروع کیږی او په شپږ اویا ٧۶ کښې دوه شپږدیرش ٣۶ وی، دغسې د پنځه څلویښت ۴۵ نه پس حقه شروع کیږی او یونوی ٩١ د دوه څله پخه څلویښت ۴۵ نه زیاتیږی اګرچه په دوه څله شپږ څلویښت ۴۶ باندې مشتمل نه دی.

٢) بنت مخاض د اوښې هغه بچې چه پوره د یو کال وی، اوپه دویم کال کښې داخل شوې وی، د مخاض نه مراد حامله اوښه ده، هسې خو اصل معنی د مخاض حمل دې، ځکه چه اوښه ......له

فان لم يكن فيها بنت مخاض فابن لبون په اوښانو کښې د نر او مادې فرق شرعاً معتبر دې، ماده زياته قيمتي وي، د نر نه، او دا ظاهره ده، چه په زکوة کښې د کوم عمر والا بچې واجب وي، ضروري نه ده چه هغه په رمه کښې موجود وي، دديې نه وجې دې باره کښې هدايت فرمائي چه که بنت مخاض موجود نه وي، نو دهغې په ځائې نر يعنې ابن لبون دې ورکړي، بنت مخاض خو د يو کال وي، او ابن لبون د دواؤ کالو وي، نو ګويا د وصف انوثة د انتفاء په وجه چه کوم نقصان اوشو، دهغې پوره والې د عمر په زياتوالې سره اوشو، دا خبره د امام ابويوسف او امام شافعي په نزد خو ختمي او معياري ده، ليکن د احنافو په نزد دا خبره معياري نه ده، بلکه زمونږ په نزد به د قيمت اعتبار وي، پس که ابن لبون په قيمت کښې د بنت مخاض برابر وي، نو بيا خو هغسې به کولې شي، کوم چه حديث کښې دی، ګنې د قيمت په اعتبار سره به پوره والې کولې شي، او دا حديث په دې محمول دې، چه ممکن ده، چه دا دواړه په دغه وخت کښې قيمت کښې برابر وو، نو دا سې کولو سره معادله في المالية حاصليدله، اوهم دا مقصود دې.

فاذا زادت علي عشرين و مائة ففي كل اربعين بنت لبون و في كل خمسين حقة، دا ستېشن راغلو، يو سل او شلو پورې چه څه تير شو، هغه ټول اجماعي وو.

د شپږ شلو نه پس په نصاب ابل کښې د امامانو اختلاف:

اوس دلته نه مخکښې په رواياتو کښې هم اختلاف دې، او د عالمانو په مينځ کښې هم، دديې روايت په وجه، کوم چه دلته ذکر دې، شافعيه او حنابله فرمائي چه د شپږ شلو نه پس به حساب دائر وي، په اربعينات او خمسينات باندې، په هر څلويښتو کښې يو بنت لبون او په پنځوسو کښې يوه حقه، او دا حساب دديې دواړو په نزد د شپږو شلو نه پس سمدستي شروع کيږي، نو په ۱۲۱ کښې دري اربعينات دی، دديې وجه نه په دې کښې به دري بنات لبون وي، او په ۱۳۰ کښې دوه اربعينات او خمسين دې، لهذا دوه بنت لبون او يوه حقه به واجبه وي.

او مالکيه فرمائي چه د ۱۲۰ نه پس به حساب خو په اربعينات او خمسينات باندې دائر وي، ليکن دديې حساب ابتداء به د ۱۲۰ نه پس سمدستي د ۱۲۱ نه نه کيږي، بلکه د ۱۳۰ نه به کيږي، هغوی فرمائي چه په دې حديث کښې د زياتوالې نه مراد د دهائۍ زياتوالې دې، مطلق زياتوالې مراد نه دې، ځکه چه په ۱۲۰ کښې هم دري اربعين دی، او هلته کښې

٦..... بچې راؤړلو نه يو کال پس عام طور باندې حامله کيږي، دديې وجه نه دديې عمر بچې ته بنت مخاض وئيلې شي، بنت لبون د اوښې هغه بچې چه د دواؤ کالو وي، او په دريم کښې داخل شوې وي، ځکه چه اوس يو کال مخکښې ددۀ مور حامله وه، اوس نور يو کال تيريدو نه پس وضع حمل اوشو، او هغه اوښه پيې ورکونکې شوه، حقه د اوښې هغه بچې چه د دريو کالو وي، او په څلورم کښې داخل شي، ځکه چه دې اوس ددې مستحق شو، چه نر پرې اوخيژي، او ددې معنى په لحاظ سره د حقې صفت طروقة الفحل راؤړي، طروقة په معنى د مطروقة او فحل نر، يعنې چه نر په هغې اوخيژي، (هغې سره يوځائي والې اوکړي) مخکښې يو مستقل باب راروان دې، باب تفسير اسنان الابل، په هغې کښې مصنف دا ټول څيزونه، د اوښانو نومونه او دهغې مصاديق بيان کړي دی.

بالاتفاق حقتین واجب دی، لهذا په دې اجماعی حکم کښې تغیر به د یوې دهائی نه پس شروع کیږی، لهذا د ۱۲۰ نه پس ۱۲۹ پورې خو به حقتین واجب وی[1]، او ۱۳۰ ته رسیدلو نه پس به دوه بنت لبون او یوه حقه واجبه وی.
او احناف فرمائي چه د ۱۲۰ نه پس به فریضه دوباره شروع کړې شی، یعنی استیناف به اوکړې شی، یعنی په پنځو کښې یوه بزه، لهذا په ۱۲۵ کښې حقتین او یوه بزه، او په ۱۳۰ کښې حقتین او دوه بزې به واجبې وی، او په ۱۳۵ کښې به حقتین او درې بزې او په ۱۴۰ کښې به حقتین او څلور بزې، او په ۱۴۵ کښې به حقتین او یو بنت مخاض او په ۱۵۰ کښې به درې حقې واجبې وی.
یونیم سل نه پس به بیا استیناف اوکړې شی، نو په ۱۵۵ کښې درې حقې او یوه بزه، او په ۱۶۰ کښې به درې حقې او دوه بزې، او په ۱۶۵ کښې به درې حقې او درې بزې، او په ۱۷۰ کښې به درې حقې او څلور بزې، او په ۱۷۵ کښې به درې حقې او یو بنت لبون او په ۱۸۶ کښې به درې حقې او یو بنت لبون او په ۱۹۶ کښې به څلور حقې واجبې وی دواؤ سوؤ پورې، اوپه دواؤ سوؤ کښې اختیار دې، که د اربعینات په اعتبار سره پنځهٔ بنات لبون ورکوی، او که د خمسینات په اعتبار سره څلور حقې ورکوی، ثم تستانف کما بینا(بذل عن السرخسی)
د جمهورو استدلال د حدیث الباب نه دې، چه یقینا صحیح او قوی دې، او دا حدیث د ابوداؤد نه علاوه په صحیح بخاری کښې په ډیرو ځایونو کښې شته، او هم داسې سنن نسائي او سنن ابن ماجه کښې هم ذکر دې.

د شپږو شلو ۱۲۰ نه پس استیناف کښې د احنافو مستدل:

او د احنافو استدلال د عمروبن حزم د کتاب الصدقة نه دې، په هغې کښې داسې دی، حماد بن سلمه وائي چه ما قیس بن سعد ته اوئیل چه ما دپاره د محمد بن عمرو بن حزم کتاب الصدقة حاصل کړه، هغه ماته هغه کتاب راکړو، او وې وئیل، چه ما د ابوبکر بن محمد بن عمرو بن حزم نه اخستلې دې، او دا ئې هم اوئیل چه رسول اللهﷺ دا کتاب دهغوی نیکهٔ عمروبن حزم دپاره لیکلې وو.
حماد وائي ما هغې لره اولوستلو، نو په هغې کښې د نصاب ابل باره کښې داسې وو، فاذا كانت اكثر من عشرين ومائة فانه يعاد الى اول فريضة الابل علامه عینی ۹ص۲۰ شرح بخاری کښې فرمائي رواه ابوداؤد فی المراسیل واسحاق بن راهویه فی مسنده والطحاوی فی مشکله، په اصل کښې کتب الصدقات د نبی کریمﷺ نه متعدد منقول دی، بعضې امامانو یو اختیار

[1] علامه عینی په (ص۲۰ ج۹) د اما احمد مذهب هم دا ګرځولې دې او پورته چه د شافعیه کوم مسلک تیرشوې دې دغه ئې داامام احمد یو روایت ګرځولې دې خو زه وائم چه د حنابله په کتابونو کښې په مثل د نیل المآرب وغیره داامام احمد مسلک همدغه لیکلې شوې دې کوم چه د شافعیه ؤ دې اوعلامه عینی دمالکیه نه درې روایات نقل کړی دی یودغه کوم چه ذکرشو دویم داچه هغه ته اختیار دې، درې بنت لبون دې ورکړی که غواړی نو دوه حقه دې ورکړی، او دریم داچه درې بنات لبون مقرردی، څنګه چه د شافعیه ؤ په نزد دی، ابن عبدالبر همدې ته صحیح وئیلی دی.

کړې دي، بعضو بل لره، ددې تفصيل په عيني شرح بخاري کښې موجود دې،(١) او په دې روايت باندې بيهقي وغيره د شوافعو شارحينو څه اعتراضونه هم کړې دی، هغه اعتراضات او دهغې جوابونه پوره په تفصيل سره عمدة القاری کښې موجود دی،(٢) دلته کښې دهغې تفصيل گنجائش نشته.
د استيناف فريضه قول د حضرت علي،ابن مسعود، ابراهيم نخعی او سفيان ثوری نه هم منقول دې،

د احنافو د طرف نه د حديث الباب توجيه :

او دحديث الباب په باره کښې د احنافو طرف نه جواب دادې، چه دا حديث زمونږ خلاف نه دې، بلکه زمونږ هم په دې عمل دې، هغه دا چه داسې اوئيلې شی، فاذا زادت کښې زيادت نه زيادت کبيره مراد دې، لکه چه مالکيه وائی، چه ددې زيادت نه مطلق زيادت مراد نه دې، بلکه د دهائی زياتوالې مراد دې، نو په ١٥٠ اوښانو کښې زمونږ په نزد هم درې حقې دی، او په ٢٠٠ کښې مالک ته اختيار دې، که څلور حقې د خمسيناتو په اعتبار سره ورکوی، او که پنځه بنات لبون ورکوی، د اربعيناتو په اعتبار سره، دويمه خبره داده، چه په ١٢٠ کښې باتفاق آثار و باتفاق علماء حقتين واجب دی، او د ١٢٠ نه پس آثار مختلف دی، پس د مختلف فيه په وجه متفق عليه پريخودل مناسب نه دی، لهذا د ١٢٠ نه پس احنافو حقتينو لره باقی اوساتل او استيناف والا روايت باندې ئې عمل اوکړو، په دې صورت کښې جمع بين الروايتين راځی، او د يو روايت اهمال لازم نه راځی،(قاله شمس الائمه السرخسی)

يو اشکال او جواب :

ليکن دلته کښې يو اشکال دې، هغه داچه ددې باب په څلورم حديث کښې چه دهغې ابتداء په حدثنا محمد بن العلاء سره ده، په هغې کښې د ١٢٠ نه پس صراحة هم هغه مذکور دې، کوم چه شوافعو اختيار کړې دې، يعنی ١٢١ په دې کښې درې بنات لبون واجب دی، ددې جواب دادې، چه دا د مشهور روايت نه خلاف دې، په عرف الشذی کښې ليکلې دی، چه د امام دارقطني د ظاهر کلام نه معلوميږی،، چه دا زياتوالې په هغې حديث کښې بطور تفسير د يو راوی د طرف نه دې، يعنی د حديث دا جمله مدرج ده، مرفوعا ثابت نه ده، او هسې ددې يوه توجيه هم کيدې شی، چه د علامه سرخسی نه منقول ده، هغه داچه ١٢٠ اوښان د دريو سرو په مينځ کښې مشترک دی، په داسې طريقې چه د يو سرې **٣٥** دی او د يو ۴٠ دی، او د يو **۴٥**

---

(١) چه ابن العربي په المسالك شرح مؤطا مالك کښې ليکلې دی، چه د نبی کريم ﷺ نه د زکوة ماشيه باره کښې درې کتابونه ثابت دی، کتاب ابوبکر، کتاب ال عمروبن حزم، کتاب عمر بن خطاب، او هم په دې د امام مالک اعتماد دې، مخکښې ئې ليکلې دی، قال ابو الحارث قال احمد بن حنبل کتاب عمروبن حزم في الصدقات صحيح، واليه اذهب١هـمن العيني ٩ص١٦، زهٔ وايم، کتاب د عمر بن الخطاب رضی الله عنه په ابوداؤد کښې مخکښې راروان دې، او کتاب أبي بکر خو په دې حديث الباب کښې مذکور دې، او د کتاب عمروبن حزم حواله مخکښې تيره شوه)

(٢) په هغې کښې بعضې په درس ترمذی(از مولانا مفتی تقی عثمانی) کښې هم ليکلې دی،

په ۴۰ او ۴۵ کښې خو يو يو بنت لبون شو، او د کوم شريک چه اوښان ۳۵ وو، هغه ته يو بل حاصل شو، مخکښې د هغه په ذمه بنت مخاض وو، اوس ددې يو زياتوالی سره په هغه بنت لبون واجب شو، په دې صورت کښې مجموعی طور باندې په ۱۲۱ کښې درې بنات لبون شو، په دې تاويل کښې اگر چه ظاهرا بعد دې، ليکن د تطبيق بين الروايات عذر ددې دپاره کافی دی.

فاذا تباين اسنان الابل فی فرائض الصدقات فمن بلغت عنده صدقة الجذعة وليست عنده جذعة وعنده حقة فانها تقبل منه وان يجعل منها شاتين او عشرين درهما.

د حديث شرح او دتفاوت ما بين السنين پوره کولو طريقه:

ددې تشريح داده، چه دا ضروری نه ده، چه په چا زکوة کښې د کوم عمر اوښ واجب شوې وی، هغه اوښ دهغه سره موجود وی، که موجود وو، نو فبها، او که نه وو، نو دهغې حل په حديث کښې بيان کړې شوې دې، چه کوم واجب دې، يا دهغې نه يو کال زيات عمر والا دې واخلی، که هغه وی، يا يو کال کم عمر والا دې واخلی، او ددې تفاوت ما بين السنين د پوره والی صورت دادې، چه په يو شکل کښې به مالک ساعی ته عشرين درهم يا شاتين ورکړی، او په يو صورت کښې به دساعی نه واخلی، د تلافئ دا شکل د امام شافعی، احمد، او داؤد ظاهری په نزد اصولی او معياری دې، او د احنافو په نزد پهدې کښې اصل قيمت دې، د قيمت په اعتبار سره چه کوم کموالې يا زياتوالې دې، دهغې اعتبار به وی، لکه څرنگ چه قياس تقاضا کوی، او د حضرت علی رضی الله عنه نه روايت دې، چه هغوی ددې تفاوت تلافی په يو شاة يا لس درهم سره فرمائيلې ده، او ددې حديث توجيه داده، چه ممکن ده هغه وخت کښې (د کوم وخت چه دا حديث دې) د قيمت په اعتبار سره ددې دواړو په مينځ کښې دومره فرق وو، والله تعالی اعلم،

او د امام مالک رحمه الله مسلک په منهل کښې داسې ليکلې دې، چه دهغه په نزد د کوم عمر چه واجب دې، هم هغه ورکول ضروری دې، اگر که مالک هغه په بيع واخلی او ورکړی.

ومن بلغت عنده صدقة ابنة مخاض وليس عنده الا ابن لبون ذکر فانه يقبل منه وليس معه شیء، بره د تفاوت والا حديث کښې چه څومره شکلونه مذکور دی، هغه ټول د يو قسم وو، يعنی د عمر په اعتبار سره، او دلته کښې هغه تفاوت بيانولې شی، چه د ذکورت او انوثت په اعتبار سره وی، پس زده کول پکار دی، چه په ابل کښې د ذکر او انثی فرق شرعا معتبر دې، د دواړو په قيمت کښې فرق وی، د انثی قيمت زيات دې، د ذکر نه، په خلاف د بقر او غنم نه، چه په هغې کښې د نر او ښځې فرق معتبر نه دې، خصوصا د احنافو په نزد، او دا هم واضحه ده، چه د ابل په زکوة کښې اصالة انثی واجبه وی، ليکن که چا سره انثی نه وه، بلکه ورسره ذکر وو، لکه چه په مذکوره حديث کښې دی، چه په يو سړی بنت مخاض واجب شو، ليکن بنت مخاض دهغه سره نه وو، البته دهغې نه ديو کال د زيات عمر ذکر دې، يعنی ابن لبون، نو په دې صورت کښې د ائمه ثلاثه په نزد دا خبره متعين ده، (وهو رواية عن ابی يوسف) چه د بنت مخاض به ځائې په ابن لبون اخستلې شی، کمافی الحديث، گويا

د انوثت تلافي به زيات عمر سره اوکړې شي،([1]) او د حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله او حضرت امام محمد رحمه الله په نزد د بنت مخاض په ځائي ابن لبون اخستل متعين نه دی، بلکه دهغوی په نزد دلته کښې هم د قيمت اعتبار دې.

وفى سائمة الغنم اذا كانت اربعين ففيها شاة الى عشرين ومائة الخ

د نصاب غنم تفصيل:

ددې ځائي نه د بزو نصاب شروع کيږی، چه څلوېښت دې، او شپږ شلو پورې بالاتفاق هم دا دی، ددې نه پس د ۱۲۱ نه تر دواؤ سوؤ پورې دوه بزې دی.

فاذا زادت على مائتين ففيها ثلاث شياه الى ان تبلغ ثلاثمائة فاذا زادت على ثلاثمائة ففى كل مائة شاة شاة.

او هر کله چه د دواؤ سوؤ نه زياتې شی، نو په هغې کښې درې بزې دی، تردې پورې چه درې سوؤ پورې اورسيږی، او هرکله چه د درې سوؤ نه زياتې شی، نو بيا په هر سلو کښې يوه بزه ده، يعنی چه کله په درې سوؤ باندې سل زياتې شی، يعنی څلور سوه شی، نو بيا به په دريو بزو يوه زياته شی، لهذا درې بزې به د ۲۰۱ نه شروع شی، او ۳۹۹ پورې به وی،(دا نه دی ګنړل پکار چه درې بزې به صرف ۳۰۰ پورې وی، لکه چه د ظاهری الفاظو نه شبه کيږی) او هرکله چه دريو سوؤ باندې پوره سل زياتې شی، يعنی څلور سوه شی، نو بيا به يوه بزه زياته شی، او په هر سلو کښې به يوه بزه زياتيږی، لهذا په څلورو سوؤ کښې څلور، ۴۹۹ پورې، او هرکله چه يوه زياته شی، او پوره پنځه سوه شی، نو په هغې کښې به پنځه شی.

دلته کښې يو اختلاف دې، هغه دا چه فاذا زادت على ثلاثمائة کښې د جمهورو په نزد خو د سلو زياتوالې مراد دې، لهذا ۳۹۹ پورې به درې بزې واجبې وی، او د حسن بن صالح په نزد مطلق زياتوالې مراد دې، لهذا دهغه په نزد به ۳۰۱ کښې څلور بزې واجبې وی، ۳۹۹ پورې، او بيا به مخکښې څلورو سوؤ کښې پنځه بزې واجبې شی.

قوله: ولا يؤخذ فى الصدقة هرمة ولا ذات عوار.

د حديث شرح:

د نصاب د بيان نه پس دا بيان فرمائي چه کوم قسم بزه يا څاروې په زکوة کښې اخستل پکار دی، نو فرمائي چه په زکوة کښې به زړه(بوډۍ) نه اخلی، او نه عيب دار، څرنګه عيب مراد دې؟ بعضې وائي هغه عيب چه دهغې په وجه بيع کښې خيار رد حاصليږی، چه د تاجرانو په نزد د نقصان سبب وی، او بعضې وائي هغه عيب مراد دې، چه د جواز اضحيه نه مانع وی،

ولا تيس انعم الا ان يشاء المصدق، او نه به اخستلې کيږی په زکوة الغنم کښې نر، په زکوة البقر کښې نر اخستلې شی بالاتفاق، دلته کښې منع دې، مصدق په دواؤ طريقو سره

---

[1] ليکن دهغوی په نزد دا په هر ځائي کښې نه دی، لکه د بنت لبون په ځائي به حقه ذکر(هغه نر چه د بنت لبون نه يو کال لوئې وی) نشی اخستلې، خو هغې لره د بنت مخاض په ځائي اخستلې شی، هكذا عند الشافعيه والمالكية ليکن د حنابله په نزد جائز ده،(كذافى هامش البذل)

لوستلې شوې دې،مصدق په تخفيف دصاد سره، صدقه وصولونکې، يعنی ساعی، او مصدق د صاد په تشديد سره، صدقه ادا کونکې يعنی مالک،(١) په اول صورت کښې د استثناء تعلق به دريو واړو سره وی، لهذا که ساعی د څه مصلحت د وجې نه بوډئ بزه(مثلا د کثرت لحم وغيره، چه په هغې کښې د فقيرانو فائده زياته وی) يا عيب دار يا نر اخستل غواړی، نو اخستلې شی، او په دويم کښې صورت کښې به د استثناء تعلق صرف آخری يعنی تيس سره وی، يعنی مالک که تيس په خپله ورکول غواړی، نو ورکولې شی، ساعی ته په خپله د اخستلو حق نشته،(٢) او دا ددې وجه نه چه د بزو په رمه کښې نر يو يا دوه وی، چه د مالک د ضرورت څيز دې، د جفتی وغيره دپاره، ددې وجې نه که هغه خپله غواړی نو ورکولې شی، ولا يجمع بين مفترق ولا يفرق بين مجتمع خشية الصدقة، دا جمله د توضيح او تشريح محتاجه ده، او ددې په شرح کښې د ائمه فقه اختلاف هم دې، ددې وجې نه په دې پوهيدل هغه اختلاف پيژندلو باندې موقوف دی.

خلطهٔ جوار مؤثر دې که نه؟

د اختلاف صورت دادې، چه د شافعيه او حنابله په نزد د سوائمو د زکوة تعلق د څاروو د اختلاط په صورت کښې په قطائع(٣) باندې دې، په ملک باندې نه دې، بلکه ملک د خليطين په منزله د ملک رجل واحد دې،او هم دا مسلک د امام مالک هم دې، ليکن ددوی او د امام شافعی رحمه الله په مسلک کښې لږ شان فرق دې، چه مخکښې به معلوم شی، لهذا په رمه کښې چه څومره څاروی وی، هغې ته به کتلې شی، که هغه د يو سړې ملک وی، يا د څو سړو ملک وی، ملک دخليطين په منزله د ملک رجل واحد دې، الحاصل خلطة الجوار مؤثر دې،(٤) د امام شافعی رحمه الله او امام احمد رحمه الله په نزد خو په نصاب او مقدار واجب دواړو کښې، او د امام مالک رحمه الله په نزد صرف په مقدار کښې واجب دې، په نصاب کښې واجب نه دې، بلکه دهغه په نزد د هر خليط صاحب نصاب کيدل ضروری دی، دې لره په

---

(١) قال الحافظ ٣ص ٢٥٤ اختلف في ضبطه الاكثر علي انه بالتشديد والمراد المالك وهذا اختيار ابي عبيد و منهم من ضبطه بتخفيف الصاد وهو الساعي اهـ او په دې کښې نور هم اقوال دی، مونږ د خپلو استاذانو نه دا دوه اوريدلی دی)

(٢) دلته کښې دا سوال پيدا کيږی، چه بيا په اول صورت کښې د استثناء تعلق دريو واړو سره منلو کښې د اخذتيس اختيار ساعی ته ولې ورکړې شو، ددې جواب دبعضې شارحينو دکلام نه دا معلوميږی، چه په تيس کښې يو حيثيت بل هم شته، هغه داچه ددې غوښه د بنځې په مقابله کښې نظيفه او خوندوره نه وی،(د غير خصی کيدو په صورت کښې) ددې وجې نه وئيلې شوې دی، چه که ساعی اخستل غواړی نو اخستلې شی)

(٣) جمع قطيعه معنی رمه)

(٤) دې ته خلطة الاوصاف هم وئيلې شی، د جمهورو په نزدې ددې تحقق په څو څيزونو کښې اشتراک او اتحاد باندې موقوف دې، اتحاد في المراح(ميت) والمسرح (هغه ځائې چه کوم ځائې کښې مخکښې نه څاروی جمع کيږی، بيا دهغې ځائې نه صحرا ته ځی) والمرعي(د څريدلو ځائې) والفحل(نر جفتی کونکې) والمشرب(تالاب يا نهر) والراعي ددې نه علاوه نور هم بعضې شرائط دی، او بعضې وائې چه د خلطه دپاره صرف اتحاد في الراعي والمرعي کافی دې)

مثال سره زده کړئ، په نصاب کښې د مؤثر کيدلو شکل دادې، په يوه رمه کښې مثلا څلويښت بزې دی،([1]) چه د دواؤ سړو ملک دې، نو د شافعيه([2])او دحنابله په نزد په دې کښې يوه بزه واجبه ده([3]) لکه چه که دا بزې د يو سړي وې، نو بيا هم په هغې کښې يوه بزه واجبه وه، او د امام مالکؒ په نزد په دې کښې به زکوة واجب نه وی، ځکه چه هر خليط صاحب نصاب نه دې.

او که يو خليط صاحب نصاب وی، او بل نه وی، نو زکوة به صرف په صاحب نصاب واجب وی، په دويم شريک به واجب نه وی، مثلا يوه رمه کښې شپيته بزې دی، څلويښت د يو سړي او شل د بل سړي، نو په دې صورت کښې زکوة صرف څلويښتو والا باندې واجب دې.

او په مقدارواجب کښې د مؤثر کيدو مثال دادې، چه په يوه رمه کښې مثلاً د دواؤ سړو اتيا بزې دی، د هر يو څلويښت څلويښت نو په دې صورت کښې د ائمه ثلاثه په نزد([4]) په زکوة کښې صرف يوه بزه واجبه ده، يعنی نيمه نيمه.

او د احنافو په نزد خلطهٔ جوار مطلقا معتبر نه دې،([5]) نه په نصاب کښې او نه په مقدار واجب کښې، بلکه په ملک باندې مدار دې، لکه چه په نورو مالونو مثلا سرهٔ زر، او سپين زر وغيره کښې زکوة ادا کولې شی.

---

[1] يا ددې نه زياتې، تردې پورې که په رمه کښې څلويښت بزې د څلويښتو مالکانو وې نو بيا هم.

[2] د بعضې کتابونو د شوافعو نه معلوميږی، چه په خليطينو کښې کم از کم د يو صاحب نصاب کيدل ضروری دی، مثلا دوه سړی په شلو بزو کښې شريک دی، نصفا نصف، او په هغې دواړو کښې صرف د يو سړي ديرش بزې نورې دی، نو اوس دا صاحب الثلاثين صاحب نصاب شو، نو په دې صورت کښې زکوة يعنی يوه بزه به واجبه وی، چه دهغې به پنځهٔ حصې کولې شی، ځکه چه مجموعه د مالونو خمسين ده، پس په دغې پنځو حصو کښې به يو خمس د لسو بزو والا په حصه کښې وی، او باقی څلور اخماس به د بل شريک په حصه کښې وی.

[3] د هر خليط په ذمه نيمه بزه واجبه شوه.

[4] علامه عينیؒ فرمائي د جمهورو په نزد د خلطه اثر په ايجاب زکوة کښې هم کيږی، او هم دارنګې په تکثير زکوة کښې هم، او په تقليل زکوة کښې هم، مثال الاول : په يوه رمه کښې د خليطينو پنځه اوښان يا څلويښت بزې وې، نو په دې کښې زکوة واجب دې، او که خلطه نه وې، نو زکوة به واجب نه وو، مثال الثانی : په يوه رمه کښې خليطينو کښې د هر يو يو سل يو(١٠١) بزې دی، ټولې دوه سوه دوه(٢٠٢) دی، نو په دې صورت کښې درې بزې واجبې دی، په هر سړي باندې شاة او نصف شاة(يوه نيمه بزه) او که خلطه نه وې، نو په هر يو به يوه يوه بزه واجبه وه، نو دلته کښې په مقدار زکوة کښې زياتوالې د خلطې په وجه راغلو، مثال الثالث: په يوه رمه کښې يوسل شل(١٢٠) بزې د دريو سړو شريکې دی، يعنی د هر يو څلويښت څلويښت بزې دی، نو دلته کښې صرف يوه بزه واجبه ده، د هر يو په ذمه ثلث شاة(دريمه حصه بزه) او که خلطه نه وې، نو بيا درې بزې واجب کيدلې، دا د تقليل مثال شو.

[5] د خلطې په اصل کښې دوه قسمه دی، خلطة الشيوع چه هغې ته خلطة الاشتراک هم وئيلې شی، او خلطة الجوار چه ورته خلطة الاوصاف هم وئيلې شی، په قسم اول کښې د هر شريک ملک د بل د ملک نه ممتاز نه وی، لکه مثلا دواؤ سړو ته په ميراث کښې مشترک طور باندې بزې ملاؤ شوې، چه هغې لره هغوی لاتقسيمې کړې نه دی، يا دوه سړی مشترک طور باندې بزې واخلی، او په قسم ثانی کښې د هر يو ملک د بل نه ممتاز وی، صرف په خارجی څيزونو کښې اتحاد وی، يعنی په راعی او مرعی وغيره کښې.

خلطة الشيوع :

او هم داسې دهغوی په نزد خلطة الشيوع هم غیر معتبر دي، اود طاؤس، او عطاء بن ابی رباح په نزد [1] خلطة الجوار خو معتبر نه دي، او خلطة الشيوع معتبر دي، او د ائمه ثلاثه په نزد دواړه معتبر دی.

په خلطة الجوار کښې د جمهورو دپاره دلیل :

خلطة الجوار مؤثر کیدلو دپاره د جمهورو استدلال د حدیث الباب نه دي،[2] هغه داسې، چه که د اجتماع او افتراق په حالت کښې شرعا فرق نه وی، نو دهغې نه د منع کولو څه فائده ده، هرکله چه د دواړو حالتونو حکم یو دي، لهذا معلومه شوه، چه د څارووْ د اختلاط او انفراد حکم مختلف دي، احناف وائي په نورو احادیثو سره د زکوة دپاره ملک نصاب شرط کیدل ثابت دی، او دلته کښې ددې حدیث نه جمع او تفریق ملک په اعتبار سره مراد دي، چه ساعی د دواؤ سړو ملکیت د یو سړی ملکیت او نه ګنړی، او هم داسې د یو سړی ملکیت د دواؤ سړو ملکیت اونه ګنړی.

شرح حدیث :

ددې نه پس پوهه شئ، چه دا جمع متفرق او تفریق مجتمع، د کوم نه چه حدیث کښې منع راغلې ده، دهغې تعلق د مالک او ساعی دواړو سره کیدې شی، دغه شان د خشية الصدقة تعلق هم د دواړو سره دې، د مالک خشية یا وجوب زکوة وی، یا زیادت زکوة او د ساعی خطره ددې مناسب وی، یعنی عدم وجوب زکوة یا قلت زکوة، چه د جمع او تفریق ګړ بړ یا په دې نیت وی، چه ماباندې زکوة واجب نشی، یا په دې نیت وی، چه کم واجب شی، او د ساعی د طرف نه ګړ بړ ددې وجې نه وی، چه زکوة واجب شی، یا زیات واجب شی، لهذا دلته کښې د څلورو مثالونو ضرورت دې، دوه مثالونه د جمع و تفریق من المالک، او دوه مثالونه جمع و تفریق من الساعی، چه لاندې لیکلې شوې دی.

١. (جمع المفترق من المالک) څلویښت څلویښت بزې فی الواقع دوه څایونو کښې وې،(علی مسلک الجمهور) یا د دواؤ سړو ملکیت کښې وې،(علی مسلک الحنفية) لهذا په دې کښې دوه بزې واجبې وې، لیکن د ساعی په راتلو مالک هغه یو څائي کړې او ورته ئې اوښودلې،(که من حیث الملک وی او که من حیث المرعی) دې دپاره چه په هغې کښې صرف یوه بزه واجبه شی.

٢. (تفریق المجتمع من المالک) څلویښت بزې یو څائي وې، د ساعی په راتلو ئې هغه شل شل په دواؤ څایونو کښې تقسیم کړې، دې دپاره چه زکوة واجب نه شی.

٣. (جمع المفترق من الساعی) شل شل بزې متفرقې وې، په هغې کښې هیڅ زکوة واجب نه

[1] فقد حکي الامام البخاري في صحيحه عنهما اذا علم الخليطان اموالهما فلا يجمع مالهما اهـ او د ائمه ثلاثه په نزد دا دواړه قسمونه معتبر دی، والله تعالي اعلم)

[2] په هغې کښې دی، لا يجمع بين متفرق ولا يفرق بين مجتمع)

وو، لیکن ساعی راغلو او هغه ئې مجتمع حساب کړې، دې دپاره چه یوه بزه په زکوة کښې واجبه شی.

۴. تفریق المجتمع من الساعی) اتیا بزې مجتمع وې، په هغې کښې د قاعدې مطابق یوه بزه واجبه وه، لیکن ساعی راغلو، او هغه ئې د څلویښتو څلویښتو دوه رمې حساب کړې، دې دپاره چه د یو په ځائې دوه بزې واجبې شی.

ددې ټولو دهوکو ورکولو نه په دې حدیث کښې منع کړې شوې ده، وما کان من خلیطین فانهما یتراجعان بینهما بالسویة، دا د کتاب الصدقة والا حدیث یو جزء دې، حضرت امام بخاری خو په دې باندې مستقل ترجمة الباب قائم کړې دې.

د حدیث په شرح کښې د جمهورو او احنافو اختلاف:

د خلیطین نه څه مراد دې، په دې کښې اختلاف دې، جمهور ددې نه دوه سړی مراد اخلی، چه دهغوی په څاروؤ کښې خلطه جوار وی، یعنی د هر یو څاروی د بل نه ممتاز وی، هر یو خپل خپل څاروی پیژنی، بس صرف په راعی او مرعی وغیره اوصافو کښې اتحاد وی، عرض داچه د جمهورو په نزد په دې حدیث کښې خلطة الجوار مذکور دې، ددې وجې نه هغوی ددې اعتبار کوی، او مؤثر ئې منی، او په دلیل کښې دا حدیث او ددې نه مخکښې چه کوم تیر شوې دې، لا یجمع بین متفرق و لا یفرق بین مجتمع پیش کوی.

او احناف فرمائی چه خلطة الجوار څه معتبر څیز نه دې، او نه په حدیث کښې دا مراد دې، بلکه خلیط په لغت کښې وئیلې شی، شریک ته، او هم دا دلته کښې مراد دې، او د شریکانو چه کوم ملک وی، هغه غیر ممیز وی، لکه چه په خلطة الشیوع کښې وی، اګر چه دلته کښې خلطة الشیوع مراد دې، لیکن په دې معنی نه، چه هغه په ایجاب دزکوة یا په تقلیل یا په تکثیر د زکوة کښې مؤثر دې، په دې اعتبار سره خو زمونږ په نزد دواړه غیر معتبر دی، بلکه په دې کښې د یو حسابی امر بیان دې، هغه داچه د مال مشترک زکوة د حصو مطابق واجب دې، لهذا کله چه ساعی د مال مشترک زکوة مشترک طور سره واخلی او لاړ شی، نو بیا به هغه شریکان(که دهغوی حصې متفاوتې وی) خپلو کښې خپل حساب ورکړه راکړې سره صفا کړی. او که شرکت برابرئ والا وو، نو ظاهره ده، چه زکوة به هم برابر واجب وی، نو بیاد هیڅ تراجع حاجت نشته.[۱] مثلا شپږ شلې ۱۲۰ بزې د دواؤ سړو په مینځ کښې مشترک وې، د یو دوه ثلثه یعنی اتیا وې، او د بل شریک یو ثلث یعنی څلویښت وې، اوس زکوة خو د دواړو برابر دې، د هر یو په ذمه یوه یوه بزه ده، لیکن بزې خو د یو بل نه جدا نه دی، بلکه په هره بزه کښې شرکت دی، نو په دې صورت کښې به ساعی په زکوة کښې دوه بزې واخلی، لیکن په دې دواؤ بزو کښې د صاحب الثلثین څلور ثلثه لاړل،(یعنی یوه بزه پوره او بلې کښې یو ثلث) او د صاحب الثلث صرف دوه ثلثه لاړل، اوس صاحب الثلثین لره پکار دی، چه د صاحب الثلث نه د یو ثلث بزې قیمت وصول

---

[۱]) مثلا دوه سړی په اتیا بزو کښې برابر شریک دی، اوس په دې کښې دوه بزې د زکوة واجب دی، نو ساعی دوه بزې واخستلې او لاړو، په هره بزه کښې نیمه د یو شریک ده او نیمه د بل شریک.

کړی، دې دپاره چه د دواړو په حصه کښې د زکوة يوه يوه بزه پاتې شي.
دا تشريح او مثال خو د احنافو د مسلک مطابق دې، او جمهور ددې تشريح او تمثيل داسې کوی، په يوه رمه کښې څلويښت بزې د دواؤ سرو دی، د هر يو شل شل، په هغې کښې صرف د يوې بزې زکوة دې، نيمه د يو شريک د حصې نه او نيمه دبل د حصې نه، او س ساعی چه د چا د حصې نه هم اخستلې وی، هغه لره پکار دی، چه د نيمې بزې قيمت د بل شريک نه وصول کړی، (دادې هغه تراجع بالسوية چه په حديث کښې ذکر دې) يو بل مثال واخلئ، هغه داچه په يوه رمه کښې يونيم سل ١٥٠ بزې وې، سل د يو او پنځوس د بل، په هغې کښې دوه بزې واجب وې، اثلاثا يعنی په هره بزه کښې يو ثلث د صاحب الخمسين او دوه ثلثه د صاحب المائة، ددې مطلب دا شو، چه د صاحب المائة په ذمه يوه بزه او دريمه حصه د بزې ده، او د صاحب الخمسين په ذمه د يوې بزې دوه ثلثه دی، اوس که ساعی دوه بزې د صاحب المائة د بزو نه يوړې، نو دا صاحب المائة به د بل شريک نه ديوې بزې ثلث قيمت واخلی، او که ساعی دوه بزې د صاحب الخمسين د بزو نه يوړې، نو دا صاحب الخمسين به د بل شريک نه د هرې بزې د دواؤ ثلثو قيمت واخلی، (ذکره العلامة القسطلانی ٣ص٤٤)

فائده : خلطة الجوار چه د هغې جمهور علماء قائل دی، په هغې کښې اختلاف دې، چه دا په کومو کومو څيزونو کښې معتبر دې، د حنابله او مالکيه په نزد صرف د څاروؤ په زکوة کښې معتبر دې، او د شوافعو په نزد د څاروؤ سره خاص نه دې، بلکه په زروع، ثمار او نقدين تولو کښې معتبر دې.

وفی الرقة ربع العشر : رقه د راء په کسرې سره، او د قاف په تخفيف سره دې، الفضة الخالصة که مضروبه وی، يعنی سکه وی، يا غير مضروب، په اصل کښې ورق وو، واؤ حذف کړې شو، او دهغې په عوض کښې آخره کښې تاء راوړلې شوه، لکه وَعْدٌ و عِدَةٌ دې.

[١٥٦٨](١) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مُحَمَّدٍ النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا عَبَّادُ بْنُ الْعَوَّامِ، عَنْ سُفْيَانَ بْنِ الْحُسَيْنِ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَالِمٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: كَتَبَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كِتَابَ الصَّدَقَةِ، فَلَمْ يُخْرِجْهُ إِلَى عُمَّالِهِ حَتَّى قُبِضَ فَقَرَنَهُ بِسَيْفِهِ، فَعَمِلَ بِهِ أَبُو بَكْرٍ حَتَّى قُبِضَ، ثُمَّ عَمِلَ بِهِ عُمَرُ حَتَّى قُبِضَ فَكَانَ فِيهِ "فِي خَمْسٍ مِنَ الْإِبِلِ شَاةٌ، وَفِي عَشْرٍ شَاتَانِ، وَفِي خَمْسَ عَشْرَةَ ثَلَاثُ شِيَاهٍ، وَفِي عِشْرِينَ أَرْبَعُ شِيَاهٍ، وَفِي خَمْسٍ وَعِشْرِينَ ابْنَةُ مَخَاضٍ إِلَى خَمْسٍ وَثَلَاثِينَ، فَإِنْ زَادَتْ وَاحِدَةً فَفِيهَا ابْنَةُ لَبُونٍ إِلَى خَمْسٍ وَأَرْبَعِينَ، فَإِذَا زَادَتْ وَاحِدَةً فَفِيهَا حِقَّةٌ إِلَى سِتِّينَ، فَإِذَا زَادَتْ وَاحِدَةً فَفِيهَا جَذَعَةٌ إِلَى خَمْسٍ وَسَبْعِينَ، فَإِذَا زَادَتْ وَاحِدَةً فَفِيهَا ابْنَتَا لَبُونٍ إِلَى تِسْعِينَ، فَإِذَا زَادَتْ وَاحِدَةً فَفِيهَا حِقَّتَانِ إِلَى عِشْرِينَ وَمِائَةٍ، فَإِنْ كَانَتِ الْإِبِلُ أَكْثَرَ مِنْ ذَلِكَ فَفِي كُلِّ خَمْسِينَ حِقَّةٌ، وَفِي كُلِّ أَرْبَعِينَ ابْنَةُ لَبُونٍ، وَفِي الْغَنَمِ فِي كُلِّ أَرْبَعِينَ شَاةً شَاةٌ إِلَى عِشْرِينَ وَمِائَةٍ، فَإِنْ زَادَتْ وَاحِدَةً فَشَاتَانِ إِلَى مِائَتَيْنِ، فَإِنْ زَادَتْ وَاحِدَةً عَلَى الْمِائَتَيْنِ فَفِيهَا ثَلَاثُ شِيَاهٍ إِلَى ثَلَاثِ مِائَةٍ، فَإِنْ كَانَتِ الْغَنَمُ أَكْثَرَ مِنْ ذَلِكَ فَفِي كُلِّ مِائَةِ شَاةٍ شَاةٌ وَلَيْسَ فِيهَا شَيْءٌ حَتَّى تَبْلُغَ الْمِائَةَ، وَلَا يُفَرَّقُ بَيْنَ مُجْتَمِعٍ وَلَا يُجْمَعُ بَيْنَ مُتَفَرِّقٍ مَخَافَةَ الصَّدَقَةِ، وَمَا كَانَ مِنْ خَلِيطَيْنِ فَإِنَّهُمَا يَتَرَاجَعَانِ

[1]: سنن الترمذي/الزكاة ٤(٦٢١)، (تحفة الأشراف: ٦٨١٣)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/الزكاة ٩(١٧٩٨)، موطا امام مالك/الزكاة ١١(٢٣)(وجادة)، سنن الدارمي/الزكاة ٦(١٦٦٦)، مسند احمد(١٤/٢، ١٥)(صحيح)

بَيْنَهُمَا بِالسَّوِيَّةِ وَلَا يُؤْخَذُ فِي الصَّدَقَةِ هَرِمَةٌ وَلَا ذَاتُ عَيْبٍ، قَالَ: وَقَالَ الزُّهْرِيُّ: إِذَا جَاءَ الْمُصَدِّقُ قُسِمَتِ الشَّاءُ أَثْلَاثًا ثُلُثًا شِرَارًا، وَثُلُثًا خِيَارًا، وَثُلُثًا وَسَطًا، فَأَخَذَ الْمُصَدِّقُ مِنَ الْوَسَطِ" وَلَمْ يَذْكُرِ الزُّهْرِيُّ الْبَقَرَ.

سالم دَ خپل پلار (حضرت عبد الله بن عمر ﷠) نه نقل کوی چه رسول الله ﷺ د زکات تفصیل لیکلې وو مګر هغې لره ئې خپلو عاملانو ته لا لیږلې نهٔ وو چه دَ هغوی ﷺ وفات اوشو او دې لره حضور ﷺ دَ خپلې تورې سره (په نیام کښې) ایخودلې وو - چنانچه حضرت ابو بکر صدیق ﷛ په دې باندې عمل اوکړو تردې پورې چه وفات شو بیا حضرت عمر ﷛ په دې باندې عمل اوکړو تردې پورې چه وفات شو - په دې کښې دا لیکلې شوې وو :" په پنځو اوښانو کښې یوه چیلۍ، په لسو کښې دوه چیلۍ، په پنځلسو کښې درې چیلۍ او په شلو کښې څلور چیلۍ - په پنځیشتو اوښانو کښې یو کلیزی مؤنث اوښه (بنت مخاض) ده - تردَ پنځهٔ دیرشو پورې - کهٔ چرې یوه هم زیاته شی نو په دې کښې بنت لبون (دوه کلیزی مؤنث اوښه) ده، تر دَ پنځه څلویښتو پورې - کهٔ چرې یوه هم زیاته شی نو په دې کښې حقه (درې کلیزی مؤنث اوښه) ده تر دَ شپیتو پورې - کهٔ چرې په دې باندې یوه هم زیاتی شی نو په هغې کښې جذعه (څلور کلیزی مؤنث اوښه) ده تر دَ پنځهٔ اویا (۷۵) پورې، کهٔ چرې یوه هم زیاته شی نو په دې کښې دوه بنت لبون (دوه کلیزی دوه مؤنث اوښې) دی، تر دَ نوی (۹۰) پورې کهٔ چرې یوه هم زتاته شی نو په هغې کښې دوه حقې (درې کلیزی درې مؤنث اوښې) دی تر دَ شپږ شلو پورې - کهٔ چرې اوښان ددې نه زیات وی نو په هر پنځوسو کښې یوه حقه او په هر څلویښتو کښې یوه بنت لبون ده - او په چیلو (بکرو) کښې په هر څلویښتو کښې یوه چیلۍ ده، تر دَ شپږ شلو پورې - کهٔ چرې یوه هم زیاته شی نو بیا دوه بکرۍ دی تر دَ دوو سوو پورې، کهٔ چرې په دوو سوو باندې یوه (چیلۍ) هم زیاته شی نو په هغې کښې درې بکرۍ دی تر دَ درې سوو پورې - کهٔ چرې بکرۍ ددې نه زیاتې وی نو په هر سلو کښې یوه بکرۍ ده - او دَ سلو نه په کمو کښې هیڅ نشته دې تردې پورې چه سل پوره شی - یوځائې څناور دې دَ زکات دَ یرې نه جُدا جُدا نهٔ کړې شی او جُدا جُدا دې جمع نهٔ کړې شی - او دَ چا څاروی چه یوځائې وی نو هغوی دې په خپل مابین کښې برابر برابر لین دین کوی - او په زکات کښې دې هیڅ بوډا یو عیب دار څاروې وانهٔ خستلې شی - امام زهری وائی چه کله دَ زکات دَ وصولو والا راشی نو چیلۍ دې په دریو حصو باندې تقسیم کړې شی یعنی مانده، عمده او درمیانه درجه کښې او تحصیلدار دې زکات دَ درمیانه درجې نه وصول کړی - امام زهری دَ غواګانو ذکر نهٔ دې کړې -

تشریح: قوله:حدثنا عبدالله بن محمد النفیلی........ فلم یخرجه الی عماله حتی قبض فقرنه بسیفه.

په دې جمله کښې تقدیم تاخیر دې، **فقرنه بسیفه** مقدم کول پکار وو، او **حتی قبض** مؤخر کول، **کما هو ظاهر**، ددې نه مستفاد کیږی، چه دا کتاب الصدقة نبی کریم ﷺ لیکلې وو، عاملانو او ساعیانو ته دورکولو په نیت سره، دې دپاره چه ددې نقلونه اویستلې شی، او هغوی ته حواله کړې شی، نو صدیق اکبر ﷛ او فاروق اعظم ﷛ هم داسې اوکړل، او نبی کریم ﷺ ته ددې نوبت رانغلو، د(دې په باره کښې څه ددې نه مخکښې هم تیر شوې دی)

قال الزهری اذا جاء المصدق یعنی د ساعی په راتلو چه کله هغه د زکوة اخستلو د پاره راشی، نود کومو څاروؤ زکوة چه اخستل وی، هغی لره په دریوقسمونوکښي تقسیم کړې شی، اعلی اوافضل، اوسط، ادنی، بیا مصدق لره پکار دی، چه د اوسط نه واخلی.

[۱۵۶۹] (¹) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَزِيدَ الْوَاسِطِيُّ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ بْنُ حُسَيْنٍ بِإِسْنَادِهِ وَمَعْنَاهُ، قَالَ: "فَإِنْ لَمْ تَكُنْ ابْنَةُ مَخَاضٍ فَابْنُ لَبُونٍ" وَلَمْ يَذْكُرْ كَلَامَ الزُّهْرِيِّ.

سفیان بن حسین په خپل سند سره د مذکوره بالا هم معنیٰ بیان کړې دي ... او وئیلي ئې دی که چرې بنت مخاض (یو کلیزی) نۀ وی نو بنت لبون (دوه کلیزی) دې پیش کړی -" او د زهری کلام ئې ذکر کړې نۀ دې -

[۱۵۷۰] (²) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، أَخْبَرَنَا ابْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ يُونُسَ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ ابْنِ شِهَابٍ، قَالَ: هَذِهِ نُسْخَةُ كِتَابِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الَّذِي كَتَبَهُ فِي الصَّدَقَةِ، وَهِيَ عِنْدَ آلِ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ، قَالَ ابْنُ شِهَابٍ: أَقْرَأَنِيهَا سَالِمُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ فَوَعَيْتُهَا عَلَى وَجْهِهَا، وَهِيَ الَّتِي انْتَسَخَ عُمَرُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ مِنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، وَسَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، فَذَكَرَ الْحَدِيثَ، قَالَ: "فَإِذَا كَانَتْ إِحْدَى وَعِشْرِينَ وَمِائَةً فَفِيهَا ثَلَاثُ بَنَاتِ لَبُونٍ حَتَّى تَبْلُغَ تِسْعًا وَعِشْرِينَ وَمِائَةً، فَإِذَا كَانَتْ ثَلَاثِينَ وَمِائَةً فَفِيهَا بِنْتَا لَبُونٍ وَحِقَّةٌ حَتَّى تَبْلُغَ تِسْعًا وَثَلَاثِينَ وَمِائَةً، فَإِذَا كَانَتْ أَرْبَعِينَ وَمِائَةً فَفِيهَا حِقَّتَانِ وَبِنْتُ لَبُونٍ حَتَّى تَبْلُغَ تِسْعًا وَأَرْبَعِينَ وَمِائَةً، فَإِذَا كَانَتْ خَمْسِينَ وَمِائَةً فَفِيهَا ثَلَاثُ حِقَاقٍ حَتَّى تَبْلُغَ تِسْعًا وَخَمْسِينَ وَمِائَةً، فَإِذَا كَانَتْ سِتِّينَ وَمِائَةً فَفِيهَا أَرْبَعُ بَنَاتِ لَبُونٍ حَتَّى تَبْلُغَ تِسْعًا وَسِتِّينَ وَمِائَةً، فَإِذَا كَانَتْ سَبْعِينَ وَمِائَةً فَفِيهَا ثَلَاثُ بَنَاتِ لَبُونٍ وَحِقَّةٌ حَتَّى تَبْلُغَ تِسْعًا وَسَبْعِينَ وَمِائَةً، فَإِذَا كَانَتْ ثَمَانِينَ وَمِائَةً فَفِيهَا حِقَّتَانِ وَابْنَتَا لَبُونٍ حَتَّى تَبْلُغَ تِسْعًا وَثَمَانِينَ وَمِائَةً، فَإِذَا كَانَتْ تِسْعِينَ وَمِائَةً فَفِيهَا ثَلَاثُ حِقَاقٍ وَبِنْتُ لَبُونٍ حَتَّى تَبْلُغَ تِسْعًا وَتِسْعِينَ وَمِائَةً، فَإِذَا كَانَتْ مِائَتَيْنِ فَفِيهَا أَرْبَعُ حِقَاقٍ أَوْ خَمْسُ بَنَاتِ لَبُونٍ أَيُّ السِّنَّيْنِ وُجِدَتْ أُخِذَتْ وَفِي سَائِمَةِ الْغَنَمِ"، فَذَكَرَ نَحْوَ حَدِيثِ سُفْيَانَ بْنِ حُسَيْنٍ، وَفِيهِ: "وَلَا يُؤْخَذُ فِي الصَّدَقَةِ هَرِمَةٌ، وَلَا ذَاتُ عَوَارٍ مِنَ الْغَنَمِ، وَلَا تَيْسُ الْغَنَمِ إِلَّا أَنْ يَشَاءَ الْمُصَدِّقُ".

حضرت ابن شهاب فرمائیلي دی: دا نقل دې د هغه تحریر کوم چه رسول الله ﷺ د صدقې (زکات) په باره کښې لیکلې وو - او دا د آل عمر بن خطاب سره محفوظ وو - ابن شهاب فرمائیلي دی چه دا ماته سالم بن عبد الله بن عمر رضي الله عنه اولوستو او ما هغې لره هم هغه شان یاد کړو او هم دا هغه تحریر دې کوم چه عمر بن عبد العزیز رحمه الله د حضرت عبد الله بن عبد الله بن عمر رضي الله عنه او د سالم بن عبد الله بن عمر رضي الله عنه نه نقل کړې وو ... او حدیث ئې بیان کړو - فرمائی: کله (چه د اوښانو تعداد) یو سل یویشت شی نو په دې کښې درې بنت لبون دی، تر د یو سل یو کم دیرشو (۱۲۹) پورې - کله چه یو سل دیرش شی نو په دې کښې به دوه بنت لبون او یوه حقه وی، تر د یوسل یو کم څلویښتو پورې او کله چه یو سل څلویښت شی نو په دې کښې به دوه حقې او یو بنت لبون وی تر د یو سل یو کم پنځوسو پورې، کله چه یو

¹): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۶۸۱۳) (صحیح)
²): انظر حدیث رقم: (۱۵۶۸)، (تحفة الأشراف: ۶۸۱۳، ۱۸۶۷۰) (صحیح)

سل پنځوس شي نو په دې کښې به درې حقې وی تر دَ یوسل یو کم شپیتو پورې او کله چه یو سل شپیتهٔ شي نو په دې کښې به څلور بنت لبون وی تر دَ یوسل یو کم اویا (۱۶۹) پورې او کله چې یو سل اویا شي نو په دې کښې به درې بنت لبون او یوه حقه وی، تر دَ یوسل یو کم اتیا پورې کله چه یوسل اتیا شي نو په دې کښې به دوه حقې او دوه بنت لبون وی تر دَ یو سل یوکم نوی پورې - کله چه یوسل نوی (۱۹۰) شي نو په دې کښې به درې حقې او یو بنت لبون وی، تر دَ یو کم دوو سوو (۱۹۹) پورې - او کله چه دوه سوه شي نو په دې کښې به څلور حقې یا پنځهٔ بنت لبون وی، دَ کوم عمر چې هم څارويې وی نو وادې خستلې شي - او په بهر څرېدونکو چیلو کښې ئې حدیث دَ سفیان ابن حسین په مثل باندې ذکر کړو - په دې کښې دی په صدقه کښې دې بوډا یا عیب دار څارې وانهٔ خستلې شي اونهٔ نَر بکرې - مګر دا کهٔ دَ زکات تحصیلدار اوغواړي.

تشریح: قوله: الذی کتبه فی الصدقة وهی عند آل عمر بن الخطاب قال ابن شهاب اقرءنیها سالم بن عبدالله بن عمر فوعیتها علی وجهها وهی التی انتسخ عمر بن عبدالعزیز من عبدالله ابن عبدالله بن عمر و سالم بن عبدالله بن عمر.

دا مخکښې تیر شوې دی، چه کتب الصدقات متعدد دی، په هغې کښې یو کتاب عمربن الخطاب رضی الله عنه ته منسوب دې، په دې حدیث کښې دهغې کتاب ذکر دې، دهغې باره کښې راوی وائی، چه دا نسخه د حضرت عمر رضی الله عنه آل او اولاد سره محفوظ وه، او عمر ثانی عمربن عبد العزیز رحمه الله چه کله هغه د مدینې منورې امیر وو، (کما فی روایة الدارقطنی والحاکم) دا کتاب نقل کړو او خپلو عاملانو ته ئې ددې مطابق عمل کولو هدایت اوفرمائیلو، او دهغې یو نقل ئې ولید بن عبدالملک ته هم اولیږلو، ولید هم خپلو عاملانو ته ددې مطابق عمل کولو هدایت اوکړو، او بیا دا سلسله دغه شان روانه وه، روستو خلفاؤ کښې هم هغوی ددې کتاب مطابق عمل کولو، بره په روایت کښې دی، امام زهری رحمه الله فرمائي چه حضرت سالم بن عبدالله بن عمر دا کتاب ماته اورولې وو، چه هغې لره بعینه ما زبانی یاد کړې وو، (حفظ کول خو هغې حضراتو ته ډیر آسان وو، په زرګونو نه بلکه په لکهونو احادیث هغوی ته زبانی یاد وو) فجزاهم الله تعالی عن الاسلام والمسلمین خیرا.

قال فاذا کانت احدی و عشرین و مائة ففیها ثلاث بنات لبون.

د شوافع او حنابله دپاره صریح دلیل:

ددې کتاب الصدقه خاص په دې طریق کښې دا زیاتوالې دې، چه په طریق سابق کښې نشته، بلکه هلته خو داسې وو، الی عشرین و مائة فان کانت الابل اکثر من ذالک ففی کل خمسین حقة وفی کل اربعین ابنة لبون او په دې روایت کښې چه کوم دی، د شوافعو او حنابله د مسلک عین مطابق دی، ددې جواب او توجیه مخکښې تیره شوې ده، هغه یاد اوساتئ.

[۱۵۷۱] (۱) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، قَالَ: قَالَ مَالِكٌ: وَقَوْلُ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: لَا يُجْمَعُ بَيْنَ مُتَفَرِّقٍ، وَلَا يُفَرَّقُ بَيْنَ مُجْتَمِعٍ، هُوَ أَنْ يَكُونَ لِكُلِّ رَجُلٍ أَرْبَعُونَ شَاةً، فَإِذَا أَظَلَّهُمُ الْمُصَدِّقُ جَمَعُوهَا لِئَلَّا يَكُونَ فِيهَا إِلَّا شَاةٌ، وَلَا يُفَرَّقُ بَيْنَ مُجْتَمِعٍ أَنَّ الْخَلِيطَيْنِ إِذَا كَانَ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مِائَةُ شَاةٍ وَشَاةٌ فَيَكُونُ عَلَيْهِمَا فِيهِمَا ثَلَاثُ شِيَاهٍ، فَإِذَا أَظَلَّهُمَا الْمُصَدِّقُ فَرَّقَا غَنَمَهُمَا فَلَمْ يَكُنْ عَلَى كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا إِلَّا شَاةٌ، فَهَذَا الَّذِي سَمِعْتُ فِي ذَلِكَ.

امام مالک رحمه الله فرمائي چه د حضرت عمر بن الخطاب رضي الله عنه فرمان دې: متفرق (جُدا جُدا) مال لره جمع کول یا جُدا جُدا مال لره دې یوځائې نۀ کړې شي - هغه داچه مثلاً دَ هر یو کس څلویښت څلویښت چیلئ وی کله چه دَ زکات حاصلونکی راشي نو دوی خپل مال لره جمع کړې او هغه ته ئې پیش کړی، ددې دپاره چه په دې کښې صرف یوه چیلئ زکات راشي - او یوځائې مال دې جُدا جُدا نۀ کړې شي - یعنې چه دوه کسان شریک وی او دَ یو یو کس سل سل چیلئ وی (مجموعه دوه سوه وی) نو په دې کښې درې چیلئ زکات دې مګر دَ زکات دَ اخستونکی په راتلو باندې دوی خپل خپل مال لره جدا کړی نو په هر یو کس باندې به یوه یوه چیلئ زکات راشي - (په دې شان سره به یوه چیلئ دَ زکات نه بچ کړی) ددې ما هم دغه تفصیل اوریدلې دې -

تشریح: قوله:حدثنا عبدالله بن مسلمة قال قال مالک و قول عمر بن الخطاب رضي الله عنه لا یجمع بین مفترق و لا یفرق بین مجتمع هوان یکون الخ

د امام مالک رحمه الله د بیان کړې شوې جمع او تفریق مثال:

په دې باندې کلام مخکښې تیر شوې دې، چه حضرت امام مالک رحمه الله دې جمع او تفریق کښې د هر یو یو مثال (چه هغوی د خپل مشائخو نه اوریدلې دې) نقل فرمائي، د جمع مثال دادې، د دریو سړو ځان ځانله څلویښت څلویښت بزې وې، په هغې کښې درې بزې واجبې وې، لیکن هغې خلقو داسې اوکړل، چه کله د ساعی د راتلو وخت راغلو، نو دریوواړو خپلې بزې په یو ځائې کښې جمع کړې او ورته ئې اوښودلې، دې دپاره چه د شپږو شلو په رمه کښې صرف یوه بزه واجبه شی، ځکه چه ملک خلطاء په منزله د ملک رجل واحد دې، او که د یو سړې په ملک کښې شپږ شلې بزې وې، نو په هغې کښې یوه واجبیږی. د تفریق مثال ئې داسې ورکړې دې، چه په یوه رمه کښې په دواؤ سړو کښې د هر یو ۱۰۱ بزې وې، یعنې ټولې دوه سوه دوه ۲۰۲ بزې وې، په هغې کښې درې بزې واجبې شوې، (کما لو کانت لشخص واحد) لیکن کله چه د ساعی د راتلو وخت شو، نو هغې دواړو خپلې خپلې بزې په دواؤ ځایونو کښې جدا کړې، (یعنې د یوې رمې نه ئې دوه رمې جوړې کړې) دې دپاره چه په هر یو یوه بزه واجبه شی.

---

۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۹۲۵٤)، وقد أخرجه: موطا امام مالک /الزکاة ۱۱ (۲۳) (صحیح)

[۱۵۷۲] (¹) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مُحَمَّدٍ النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، حَدَّثَنَا أَبُو إِسْحَاقَ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ ضَمْرَةَ، وَعَنِ الْحَارِثِ الأَعْوَرِ، عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ زُهَيْرٌ: أَحْسِبُهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ قَالَ: "هَاتُوا رُبْعَ الْعُشُورِ مِنْ كُلِّ أَرْبَعِينَ دِرْهَمًا دِرْهَمٌ، وَلَيْسَ عَلَيْكُمْ شَيْءٌ حَتَّى تَتِمَّ مِائَتَيْ دِرْهَمٍ، فَإِذَا كَانَتْ مِائَتَيْ دِرْهَمٍ فَفِيهَا خَمْسَةُ دَرَاهِمَ، فَمَا زَادَ فَعَلَى حِسَابِ ذَلِكَ، وَفِي الْغَنَمِ فِي أَرْبَعِينَ شَاةً شَاةٌ، فَإِنْ لَمْ يَكُنْ إِلَّا تِسْعٌ وَثَلَاثُونَ فَلَيْسَ عَلَيْكَ فِيهَا شَيْءٌ" وَسَاقَ صَدَقَةَ الْغَنَمِ مِثْلَ الزُّهْرِيِّ، قَالَ: "وَفِي الْبَقَرِ فِي كُلِّ ثَلَاثِينَ تَبِيعٌ وَفِي الْأَرْبَعِينَ مُسِنَّةٌ، وَلَيْسَ عَلَى الْعَوَامِلِ شَيْءٌ، وَفِي الْإِبِلِ" فَذَكَرَ صَدَقَتَهَا كَمَا ذَكَرَ الزُّهْرِيُّ، قَالَ: "وَفِي خَمْسٍ وَعِشْرِينَ خَمْسَةٌ مِنَ الْغَنَمِ، فَإِذَا زَادَتْ وَاحِدَةٌ فَفِيهَا ابْنَةُ مَخَاضٍ، فَإِنْ لَمْ تَكُنْ بِنْتُ مَخَاضٍ فَابْنُ لَبُونٍ ذَكَرٌ إِلَى خَمْسٍ وَثَلَاثِينَ، فَإِذَا زَادَتْ وَاحِدَةٌ فَفِيهَا بِنْتُ لَبُونٍ إِلَى خَمْسٍ وَأَرْبَعِينَ، فَإِذَا زَادَتْ وَاحِدَةٌ فَفِيهَا حِقَّةٌ طَرُوقَةُ الْجَمَلِ إِلَى سِتِّينَ" ثُمَّ سَاقَ مِثْلَ حَدِيثِ الزُّهْرِيِّ، قَالَ: "فَإِذَا زَادَتْ وَاحِدَةٌ، يَعْنِي وَاحِدَةً وَتِسْعِينَ، فَفِيهَا حِقَّتَانِ طَرُوقَتَا الْجَمَلِ إِلَى عِشْرِينَ وَمِائَةٍ، فَإِنْ كَانَتِ الْإِبِلُ أَكْثَرَ مِنْ ذَلِكَ فَفِي كُلِّ خَمْسِينَ حِقَّةٌ، وَلَا يُفَرَّقُ بَيْنَ مُجْتَمِعٍ وَلَا يُجْمَعُ بَيْنَ مُفْتَرِقٍ خَشْيَةَ الصَّدَقَةِ، وَلَا تُؤْخَذُ فِي الصَّدَقَةِ هَرِمَةٌ وَلَا ذَاتُ عَوَارٍ وَلَا تَيْسٌ إِلَّا أَنْ يَشَاءَ الْمُصَدِّقُ، وَفِي النَّبَاتِ مَا سَقَتْهُ الْأَنْهَارُ أَوْ سَقَتِ السَّمَاءُ الْعُشْرُ، وَمَا سَقَى الْغَرْبُ فَفِيهِ نِصْفُ الْعُشْرِ"، وَفِي حَدِيثِ عَاصِمٍ، وَالْحَارِثِ: الصَّدَقَةُ فِي كُلِّ عَامٍ، قَالَ زُهَيْرٌ: أَحْسِبُهُ قَالَ: مَرَّةً، وَفِي حَدِيثِ عَاصِمٍ: "إِذَا لَمْ يَكُنْ فِي الْإِبِلِ ابْنَةُ مَخَاضٍ وَلَا ابْنُ لَبُونٍ فَعَشَرَةُ دَرَاهِمَ أَوْ شَاتَانِ".

د حضرت علی رضي الله عنه نه مروی دی (د حدیث راوی) زهیر وائی چه زما په خیال کښې هغوی د رسول الله ﷺ نه بیان کړې دې، هغوی اوفرمائیل: څلویښتمه حصه ادا کوئ، په هر څلویښت درهمه کښې یو درهم - او تر څو پورې چه دوه سوه درهمه پوره نهٔ شی نو په تاسو باندې هیڅ لازم نهٔ دی - کله چه دوه سوه درهمه شو نو په دې کښې پنځهٔ درهمه (زکات) دې - او کوم چه ددې نه زیات وی نو دَ هغې په حساب سره دې (یعنی دَ هغې نه دې څلویښتمه حصه ادا کړی -) او په بکرو کښې په هر څلویښت بکرو کښې یوه بکرئ ده - دا کهٔ چرې یو کم څلویښت وی نو په دې کښې په تاسو باندې هیڅ نشته دې -" او ددې تفصیل ئې داسې بیان کړو لکه څنګه چه دَ زهری په روایت کښې بیان شوې دې - او دَ غواګانو (غوایانو) په زکات کښې ئې اوفرمائیل: " په هر دیرشو کښې یو کلیزی سخئ ده او په څلویښتو کښې دوه کلیزی - او داسې څاروې چه دَ هغې نه کار اخستلې شی په هغې باندې هیڅ زکات نشته دې - او دَ اوښانو زکات ...... " دَ زهری دَ سابقه حدیث په مثل ئې بیان کړو - وائی: په پنځیشتو اوښانو کښې پنځهٔ چیلئ دی - کهٔ چرې یوه هم زیاته شی نو په دې کښې یو بنت مخاض (یو کلیزی مؤنث) ده کهٔ چرې بنت مخاض نهٔ وی نو ابن لبون (دوه کلیزی اوښه)، تر دَ پنځهٔ دیرشو پورې -" کهٔ چرې یوه هم زیاته شی نو په دې کښې یو بنت لبون ده تر دَ پنځهٔ څلویښتو پورې - کله چه یوه هم زیاته شی نو په دې کښې یوه حقّه ده کومه چه دَ تیریدو (مال کیدو) قابله وی تر دَ شپیتو پورې - بیا ئې دَ زهری په مثل باندې روایت بیان کړو - اووې وئیل چه یوه هم زیاته شی یعنی یونوی (۹۱) شی نو په دې کښې دوه حقې دی کومې

¹): سنن ابن ماجه/الزكاة ٤ (١٧٩٠)، سنن الدارمي/الزكاة ٧ (١٦٦٩)، (تحفة الأشراف: ١٠٠٣٩)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الزكاة ٣ (٦٢٠)، سنن النسائي/الزكاة ١٨ (٢٤٧٩)، مسند احمد (١/١٢١، ١٣٢، ١٤٦) (صحيح) (د شواهدو په بنا صحيح دی، ملاحظه هو: صحيح ابي داؤد ٥/٢٩١)

چه دَ مال کیدو قابلي وی - تر دَ شپږ شلو پورې - کله چه دَ اوښانو تعداد ددې نه سوا شی نو په هر پنځوسو کښې یو ه حقّه (درې کلیزې اوښه) ده - دَ زکات دَ ویرې نه دې یوځائې څاروی جُدا نهٔ کړې شی او نهٔ دې جُدا جُدا څاروی یوځائې کړې شی - او په زکات کښې دې څه بوډا څاروې یا عیب دار یا نَر څناور وانهٔ خستلې شی، مګر دا کهٔ تحصیل دار اوغواړی (نو نَر څاروې اخستلې شی) او په زرعی اجناسو کښې چه کومې زمکې په دریاب یا په باران سره سیرابه کیږی نو په هغې کښې لسمه حصه ده او کومه چه په بوقې (رَټ، ټیوب ویل وغیره) سره سیرابه کیږی نو په هغې کښې شلمه حصه ده -'' دَ عاصم او دَ حارث په روایت کښې دی چه زکات هر کال دې -'' زهیر وئیلې دی : زما خیال دې چه هغوی وئیلې دی (هر کال) یو ځل دې -'' دَ عاصم په روایت کښې دی :'' کهٔ چرې په اوښانو کښې بنت مخاض یا ابن لبون نهٔ وو نو لس درهمه یا دوه چیلئ دې ورکړی -''

تشریح: قوله: حدثنا عبدالله بن محمد النفیلی....... عن علی رضی الله عنه.... فاذا کانت مائتی درهم ففیها خمسة دراهم فما زاد فعلی حساب ذالک.

ایا د نقدینو د زکوة په نصاب کښې وقص شته؟:

یعنې د چاندې نصاب دوه سوه درهمه دې، په هغې کښې پنځه درهمه واجب دی، او د دواؤ سوؤ درهمو نه چه څومره زیات وی، په هغې کښې به دهغې په حساب سره زکوة واجب وی، که د مائتین نه یو درهم هم زیات وی، نو دهغې زکوة به پنځه درهمه او د یو درهم څلویښتمه حصه وی، ددې مطلب دا شو، چه په سرؤ او سپینو زرو کښې د زکوة نصاب پوره کیدو نه پس وقص یعنی عفو نشته، بلکه مازاد علی النصاب که قلیل وی او که کثیر، دهغې په مقدار به زکوة واجب وی، په خلاف د څارووْ د زکوة نه، چه هلته کښې د هر دواؤ نصابونو په مینځ کښې وقص وی، دا د حضرت علی رضی الله عنه حدیث دې، د صاحبینو او ائمه ثلاثه رحمهم الله هم دا مذهب دې، په دې کښې د امام ابوحنیفه رحمه الله اختلاف دې، هغه فرمائي په دواؤ سوؤ باندې چه کله څلویښت درهمه او په شل مثقال ذهب باندې چه کله څلور مثقال یعنی خمس نصاب زیاتې نشی،، په هغې کښې هیڅ واجب نه دی، هم دا مسلک د سعید بن المسیب، طاؤس او حسن بصری او شعبی وغیرهم دې، د امام صاحب استدلال د عمرو بن حزم د حدیث نه دې، دغه شان د حضرت معاذ رضی الله عنه د حدیث نه چه دهغې الفاظ په بذل المجهود کښې مذکور دی، لیکن په دې دواؤ حدیثونو باندې د محدثینو سخت تنقید دې، چه هغې لره علامه عینی په شرح بخاری ۸ص۲۵۹ کښې نقل کړې دې، او بیا دهغې نه پس ئې د احنافو نور دلائل بیان کړې دی، او بیا په آخره کښې ئې لیکلې دی، والعجب من النووی مع وقوفه علی هذه الاحادیث الصحیحة کیف یقول ولابی حنیفة حدیث ضعیف و یذکر الحدیث المتکلم فیه ولم یذکر غیره من الاحادیث الصحیحة، او ددې حدیث جواب دا کیدې شی، چه مخکښې په روایت کښې راروان دی، قال فلا ادری اعلی یقول فبحساب ذالک او رفعه الی النبی (صلی الله علیه وسلم) یعنی د حدیث ددې جملې متعلق راوی د تردد اظهار

کوي، چه زۀ نشم وئيلې، چه دا خبره حضرت علی ﷺ د خپل طرف نه فرمائيلې ده، يا هغې لره ئې مرفوعا بيان کړې ده.

تشريح: قوله:وفی البقر فی کل ثلاثين تبيع وفی الاربعين مسنة

نصاب بقر:

دا نصاب بقر دې، يعنی ديرش، په دې کښې يو تبيع دې، يا تبيعه، يعنی مذکر او مؤنث دواړه برابر دی، لکه چه مخکښې په حديث دمعاذ ﷺ کښې راروان دې، تبيعا او تبيعة د اکثر رائې هم داده، البته د بقر په مسنة کښې اختلاف دې، د احنافو په نزد خو ټول انواع د بقر کښې نر او ښځه برابر دی، او عند الاکثر په بقر کښې چه په کومو صورتونو کښې مسنة واجبه ده، هلته کښې د انوثت موجود کيدل ضروری دی، لکه چه د حديث معاذ ﷺ د ظاهر نه معلوميږی، دهغې الفاظ کتل پکار دی، او د احنافو دليل د طبرانی روايت دې، په هغې کښې داسې دی، وفی کل اربعين مسنة او مسن، البته په زکوة الغنم کښې بالاتفاق انثی او ذکر برابر دی، (المنهل) تبيع د غوا يا ميښې هغه بچې چه د يو کال وی، او په دويم کال کښې داخل وی، او په څلويښتو کښې مسنة واجبه ده، چه د دواؤ کالو وی، او په دريم کښې داخل وی، د جمهورو مسلک هم دادې، په دې کښې د امام مالک ﷺ اختلاف دې، هغوی وائي چه تبيع هغه دې، چه د دواؤ کالو وی، او په دريم کښې داخل وی، او مسنة هغه ده، چه د دريو کالو وی، او په څلورم کښې داخل وی، (المنهل)

[۱۵۷۳] (١) حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ الْمَهْرِيُّ، أَخْبَرَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي جَرِيرُ بْنُ حَازِمٍ، وَسَمَّى آخَرَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ ضَمْرَةَ، وَالْحَارِثِ الْأَعْوَرِ، عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِبَعْضِ أَوَّلِ هَذَا الْحَدِيثِ، قَالَ: "فَإِذَا كَانَتْ لَكَ مِائَتَا دِرْهَمٍ وَحَالَ عَلَيْهَا الْحَوْلُ فَفِيهَا خَمْسَةُ دَرَاهِمَ وَلَيْسَ عَلَيْكَ شَيْءٌ، يَعْنِي فِي الذَّهَبِ، حَتَّى يَكُونَ لَكَ عِشْرُونَ دِينَارًا، فَإِذَا كَانَ لَكَ عِشْرُونَ دِينَارًا وَحَالَ عَلَيْهَا الْحَوْلُ فَفِيهَا نِصْفُ دِينَارٍ فَمَا زَادَ فَبِحِسَابِ ذَلِكَ، قَالَ: فَلَا أَدْرِي، أَعَلِيٌّ يَقُولُ: فَبِحِسَابِ ذَلِكَ؟ أَوْ رَفَعَهُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَلَيْسَ فِي مَالٍ زَكَاةٌ حَتَّى يَحُولَ عَلَيْهِ الْحَوْلُ"، إِلَّا أَنَّ جَرِيرًا، قَالَ: ابْنُ وَهْبٍ يَزِيدُ فِي الْحَدِيثِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَيْسَ فِي مَالٍ زَكَاةٌ حَتَّى يَحُولَ عَلَيْهِ الْحَوْلُ".

سيدنا حضرت علی ﷺ د نبی کريم ﷺ نه روايت کوی ... ددې څۀ ابتدائی حصه هم هغه ده کومه چه په مذکوره بالا حديث کښې ذکر شوله ... کله چه له تاسو سره دوه سوه درهمه وی او په هغې باندې يو کال تير شی نو په هغې باندې پنځه درهمه (زکات) دې - او د سوني (سروزرو) په باره کښې په تاسو باندې هيڅ نشته دې ترڅو پورې چه تاسو سره شل ديناره وی، پس کله چه له تاسو سره شل ديناره وی او په هغې باندې يو کال تير شی نو په هغې باندې نيم دينار (زکات) دې او کوم چه زيات وی نو هم په هغه حساب سره به وی؛'' (ابو اسحاق) وئيلې دی : ماته معلومه نۀ ده چه دا خبره '' د هغې په حساب سره -'' حضرت

(١): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف :١٠٠٣٩)(صحيح)(د شواهدو په بنا صحيح دې ملاحظه : صحيح ابي داود ٥/٢٩٤)

علی ﷺ خپله فرمائیلې ده یا دَ نبی کریم ﷺ دَ جانب نه - او په هیڅ مال باندې زکات نشته دې تردې پورې چه په هغې باندې کال تیر شی -" (دَ حدیث دَ راوی) جریر بیان دې چه ابن وهب به په حدیث کښې دا اضافه کوله چه نبی کریم ﷺ فرمائیلې دی : په هیڅ مال باندې زکات نشته دې تردې پورې چه په هغې باندې کال تیر شی -"

مسنة ته مسنة د طلوع اسنان د وجې نه وائي یعنی چه دهغې مخښې ته دوه غاښونه راختلي وی، په خلاف د رجل مسن، په انسانانو کښې مسن معمر او بوډا ته وئیلې شی، دلته کښې دا مراد نه دې، (منهل) .

ولیس علی العوامل شیء : عوامل هغه څاروی دی، چه دهغوی نه مالک کار اخلی، د بار اوچتولو یا زمیداره کولو، د علی العلوامل نه مراد صاحب العوامل دی، په دې صورت کښې به علی په خپله معنی وی، او که مضاف لره محذوف اونه منلې شی، نو علی به د فی په معنی کښې وی، د جمهور عالمانو سلفا و خلفا هم دا مذهب دې، چه په عوامل کښې دغه شان په علوفة [1] زکوة واجب نه دې، په قدوری کښې دی، ولیس فی العوامل والمعلوفة صدقة صاحب د جوهره نیره فرمائي څکه چه د وجوب زکوة سبب مال نامی دې، او دلیل نماء اسامة دې، یا اعداد للتجارة او دلته کښې هغه نشته، او په معلوفه کښې مشقت کم دې، چه دهغې په وجه نماء معنًی باقی نه پاتې کیږی.

وفی خمس وعشرین خمسة من الغنم، یعنی په پنځویشتو اوښانو کښې پنځه بزې دی، دا خبره د اجماع خلاف ده، څکه په پنځویشتو اوښانو کښې بالاتفاق بنت مخاض دې، لهذا د حدیث دا قطعه خلاف اجماع ده، په دې باندې کلام د نصاب ابل په بیان کښې تیر شوې دې

وفی النبات ماسقته الانهار الخ ددې تعلق د زمکې پیداوار او عشر سره دې، ددې باب مخکښې په باب الصدقة الزرع کښې مستقل راروان دې.

فعشرة دراهم او شاتان ددې نه مخکښې په کتاب ابی بکر کښې شاتان و عشرین درهما تیر شوې دې، هغه زیات صحیح دې ددې حدیث علی ﷺ نه، څکه چه ددې حدیث په سند کښې عاصم بن ضمره او حارث اعور دی، وهما ضعیفان (منهل)

۶: حدثنا سلیمان بن داؤد المهری......... عن عاصم بن ضمرة والحارث الاعور عن علی عن النبی (صلی الله علیه وسلم)...... ولیس علیک شیء یعنی فی الذهب حتی یکون لک عشرون دینارا.

نصاب ذهب :

په نصاب ذهب باندې تفصیلی کلام د باب فی زکوة السائمة په شروع کښې تیر شوې دې.

ولیس فی مال زکوة حتی یحول علیه الحول، د مال نه هغه مال مراد دې، چه په هغې کښې زکوة یعنی ربع العشر (څلویښتمه حصه واجبه وی، یعنی څاروی او نقدین په دې کښې د زکوة وجوب بغیر د حولان حول نه نه کیږی، څکه چه په دې اموالو کښې د نماء ظهور او تحقق په کال تیریدلو سره کیږی، په خلاف د زروع او ثمار نه، ددې باره کښې اجماع ده، چه په دې

[1] علوفة په (فتحې د عین سره) او معلوفه دواړو طریقو سره مستعمل دې.

کښې حولان حول شرط نه دې، بلکه نفس ادراک (یعنی قابل د انتفاع کیدل) یا حصاد سره عشر واجبیږی، لقوله تعالی وآتوا حقه یوم حصاده.

په مال مستفاد کښې د زکوة مسئله او اختلاف د علماء :

ددې نه پس زده کړئ، چه د حدیث د ظاهر نه معلومیږی، چه دا حکم (یعنی د وجوب زکوة دپاره حولان حول) مال مستفاد ته هم شامل دې، لیکن د مال مستفاد مسئله مختلف فیه ده، امام ترمذی خو په دې باندې مستقل ترجمة الباب قائم کړې دې، او دې باره کښې صریح حدیث هم ذکر کړې دې، عن ابن عمر عن النبی (صلی الله علیه وسلم) من استفاد مالا فلا زکوة علیه حتی یحول علیه الحول لیکن امام ابوداؤد په دې مسئله نه مستقل باب قائم کړې دې، او نه ئې صریح حدیث ذکر کړې دې.

مسئله داده : مال مستفاد یعنی د کال په مینځ کښې زیاتې حاصلیدونکې مال، په دې باندې مستقل کال تیریدل د وجوب زکوة دپاره شرط دې او که نه بلکه اصل نصاب باندې کال تیریدل کافی دی، (او دا مال مستفاد په حولان حول کښې د نصاب سابق تابع دې) نو په بعضو صورتونو کښې خو دا مال مستفاد بالاتفاق د اصل نصاب سره ضم کیږی، یعنی دا مال مستفاد په کال کښې د مال سابق تابع وی، او په بعضو صورتونو کښې بالاتفاق ضم کیږی نه، او یو صورت مختلف فیه دې، زمونږ په نزد ضم کیږی، (یعنی مستقل کال تیریدل ضروری نه دی) او د امام شافعی رحمه الله او امام احمد رحمه الله په نزد ضم کیږی نه، اوس ددې اجمال تفصیل هم واورئ.

هغه داچه مال مستفاد د دواؤ حالتونو نه به خالی نه وی، یا به هغه د مال سابق د جنس نه وی، یا د خلاف جنس نه، پس که د خلاف جنس نه دې، مثلا مال اول خو ابل دی، او مال مستفاد غنم دی، نو دلته به بالاتفاق ضم نه وی، د دواړو حول به ځان ځانله منلې شی، او که مال مستفاد د مال سابق جنس وی، نو بیا دوه صورتونه دی، یو داچه هغه مال به د مال اول نه حاصل شوې وی، (لکه ربح چه په مال تجارت کښې د کال په مینځ کښې حاصل شوې وی یا د سوائمو په نصاب کښې دهغوی اولاد د کال په مینځ کښې زیات شوې وی) او دویم صورت دادې، چه هغه مال مستفاد د سبب مستقل په ذریعې حاصل شوې وی، مثلا د هبې په ذریعې سره، یا د میراث وغیره په ذریعې سره، په قسم اول (یعنی اولاد او ارباح) کښې به بالاتفاق ضم وی، او کوم کال چه د اصل نصاب دې، هغه به د مال مستفاد هم وی، او په قسم ثانی کښې اختلاف دې، د شوافعو او حنابله په نزد په دې کښې به ضم نه وی، د هر یو حول به ځان ځانله منلې شی، او د هر یو زکوة به ځان ځانله وخت کښې ورکولې شی، او د احنافو او مالکیه په نزد په دې صورت کښې به ضم وی، الحاصل زمونږ په نزد مال مستفاد لره ضم کولو دپاره اتحاد فی الجنس کافی دې،[1] او د شوافعو وغیره په نزد

---

[1] (جزئیه) د احنافو په نزد دلته کښې د مال مستفاد ضم یو صورت مختلف فیه هم دی، هغه داچه یو سړی د نصاب سوائم زکوة حولان حول باندې ادا کړو، او دهغې نه پس ئې هغه خرڅ کړل، او دهغې ثمن نې حاصل کړو، او حال دادې چه هغه سره د دارهم او دنانیرو نصاب هم دی، چه په ......

کافي نه دي، بلکه دهغوی په نزد د ضم دپاره دا هم ضروري ده، چه مال مستفاد د مال سابق نه حاصل شوې وی، که په طریقې د ربحې وی او که په طریقې د ولادت، او د اختلاف جنس په صورت کښې به بالاتفاق ضم نه وی، او په یو روایت کښې مالکیه په سوائم کښې د احنافو سره دي، چه ضم به وی، او په نقدین(ذهب او فضه) کښې د امام شافعي رحمه الله سره دي، چه ضم به نه وی.

د احنافو دلیل :

اوس د دلیل باره کښې واورئ، احناف په دلیل سمعی کښې خو دا وائي، چه ګورئ! په حدیث کښې دی، چه په پنځویشت اوښانو کښې پنځه دیرشو پورې بنت مخاض دې، فان زادت واحدة ففیها ابنة لبون، چه که په پنځو دیرشو یو زیاتې شی، نو بیا به د بنت مخاض په ځائې بنت لبون واجب وی، اوس دا زیاتوالې په حدیث کښې مطلق بیان شو ې دې، چه کله هم وی، که د کال په مینځ کښې ولې نه وی، او په دلیل عقلی کښې دا پیش کوی، چه ګورئ! د اتحاد جنس په صورت کښې د مال مستفاد ضم مال سابق سره د نصاب په حق کښې بالاتفاق دې،(۱) ستاسو په نزد هم او زمونږ په نزد هم، نو هرکله چه د نصاب په اعتبار سره ضم کیږی چه سبب د وجوب دزکوة دپاره دې، نو د حولان حول په اعتبار سره دا ضم په طریق اولی کیدل پکار دې، ځکه چه د حول درجه خو د اصل نصاب نه کمه ده.

د شوافعو د دلیل نه جواب :

او حدیث ترمذی چه د جمهورو مستدل دې، دهغې جواب دادې، چه په هغې کښې د راویانو اختلاف دې، په رفع او وقف کښې، بعضې راویانو هغه مرفوعا او بعضو موقوفا روایت کړې دې، خپله امام ترمذی دهغې موقوف کیدلو ته اصح وئیلې دی، ځکه چه هغې له مرفوع روایت کونکې عبدالرحمن بن زید بن اسلم دې، وهو ضعیف، او دویم جواب دادې، چه دا حدیث په خپل عموم باندې د هیچا په نزد هم نه دې، بعضې صورتونه ددې حکم نه بالاتفاق مستثنی دی، لهذا دې له به په هغه صورت محمولولې شی، کوم چه اتفاقی دې، یعنی مختلف الجنس باندې، او یا به دا وئیلې شی، چه دا حدیث د احنافو خلاف نه دې، په دې کښې د حولان حول نه مراد عام دې، که اصالة وی، (لکه په اصل

له...... هغې اوسه پورې نیم کال تیر شوې دې، نو اوس په دې صورت کښې د ثمن سوائم نصاب به نقود کښې ضم کیږی او که نه، د امام صاحب رحمه الله په نزد به نه ضم کیږی، بلکه د ثمن کال به مستقل منلې شی، دهغې نه پس به په هغې زکوة واجبیږی، او د صاحبینو په نزد به ضم کیږی، او نیم کال تیریدلو نه پس به د نقودو سره ددې ثمن زکوة هم ادا کولې شی، د امام صاحب دلیل په کتابونو د فقه کښې مذکور دې، یعنی حدیث مرفوع لا ثني في الصدقة یعنی زکوة کښې تکرار نشته، په کال کښې به دوه ځله نه اخستلې کیږی، (زیلعی علی الکنز) لیکن دا اختلاف په هغه وخت کښې دې، هرکله چه ثمن سوائم د نصاب هومره وی، که دهغې نه کم وی، نو بیا بالاتفاق ددې ضم به نصاب سره کیږی، او د نصاب سره به ددې زکوة هم واجب وی)

(۱) مثلاً د یو سړی سره د کال په ابتداء کښې د بقر نصاب یعنی دیرش غواګانې موجود وې، بیا د کال په مینځ کښې لس غواګانې هغه ته نورې په څه ذریعې سره ملاؤ شوې، نو په دې لسو کښې هم د اصل نصاب تابع کولو سره، زکوة واجبولې شی، ګنی صرف په لسو کښې زکوة چرته واجبیږی)

نصاب کښې) یا تبعا للغیر، لکه چه په مال مستفاد کښې دي، والله تعالی اعلم.

[۱۵۷۳]() حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَوْنٍ، أَخْبَرَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ ضَمْرَةَ، عَنْ عَلِيٍّ عَلَيْهِ السَّلَام، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "قَدْ عَفَوْتُ عَنِ الْخَيْلِ وَالرَّقِيقِ فَهَاتُوا صَدَقَةَ الرِّقَةِ مِنْ كُلِّ أَرْبَعِينَ دِرْهَمًا دِرْهَمًا، وَلَيْسَ فِي تِسْعِينَ وَمِائَةٍ شَيْءٌ، فَإِذَا بَلَغَتْ مِائَتَيْنِ فَفِيهَا خَمْسَةُ دَرَاهِمَ". قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَى هَذَا الْحَدِيثَ الْأَعْمَشُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، كَمَا قَالَ أَبُو عَوَانَةَ، وَرَوَاهُ شَيْبَانُ أَبُو مُعَاوِيَةَ، وَإِبْرَاهِيمُ بْنُ طَهْمَانَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنِ الْحَارِثِ، عَنْ عَلِيٍّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَهُ. قَالَ أَبُو دَاوُد: وَرَوَى حَدِيثَ النُّفَيْلِيِّ شُعْبَةُ، وَسُفْيَانُ وَغَيْرُهُمَا، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ عَاصِمٍ، عَنْ عَلِيٍّ، لَمْ يَرْفَعُوهُ أَوْقَفُوهُ عَلَى عَلِيٍّ"[1].

د حضرت علي رضي الله عنه نه روایت دي چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل: ما تاسو ته د اس او د غلام زکات معاف کړې دي - لهذا تاسو دَ چاندۍ (سپینو زرو) زکات ادا کړئ، په هر څلویښتو درهمو کښې یو درهم او په یو کم دوو سوو کښې هیڅ زکات نشته دې - کله چه دوه شی نو په هغې کښې پنځهٔ درهمه زکات دې - امام ابوداود رحمه الله فرمائي: چه دې حدیث لره اعمش دَ ابو اسحاق نه روایت کړې دې لکه څنګه چه ابو عمر وئیلي دی، ددې نه علاوه شیبان ابو معاویه او ابراهیم بن طهمان دَ ابو اسحاق نه هغوی دَ حارث نه، هغوی دَ حضرت علي رضي الله عنه نه ددې روایت په مثل باندې بیان کړې دې -امام ابوداود رحمه الله فرمائي: دَ عبد الله بن محمد نفیلي (سابقه) حدیث لره شعبه او سفیان وغیره دَ ابو اسحاق نه، هغوی دَ عاصم نه، هغوی دَ حضرت علي رضي الله عنه نه روایت کړې دې مګر مرفوع ئې نهٔ دی وئیلی بلکې په حضرت علي رضي الله عنه باندې ئې موقوف کړې دې -

تشریح: **قوله**:عن علي رضي الله عنه قال قال رسول الله(صلی الله علیه وسلم) قد عفوت عن الخیل والرقیق.

دا مخکښې تیر شوې دی، چه په درې قسمه څاروؤ کښې زکوة بالاتفاق واجب دې، ابل، بقر، غنم، او په بغال او حمیر کښې بالاتفاق واجب نه دې، لیکن په خیل کښې اختلاف دې، دا حدیث د زکوة الخیل سره متعلق دې، په دې کښې دوه اجزاء دی، یو زکوة الخیل او بل صدقة الرقیق، امام بخاري رحمه الله او ترمذي رحمه الله په دواړو باندې مستقل ترجمة الباب قائم کړې دې، او د زکوة نفی ئې کړې ده، امام ابوداؤد مخکښې په صدقة الرقیق باندې خو باب قائم کړې دې، لیکن د خیل متعلق ئې باب قائم کړې نه دې

د زکوة الخیل مسئله:

مسئله مختلف فیه ده. په اصل کښې د خیل درې قسمه دی،(۱) د بار اوړولو، سورلۍ او جهاد دپاره(۲) د تجارت دپاره(۳) د در او نسل دپاره. (۲)

په قسم اول کښې بالاتفاق زکوة نشته، په قسم ثاني کښې باتفاق شته، الا الظاهریة، ظاهریه خو مطلقا په مال تجارت کښې د زکوة قائل نه دی، کما تقدم في بابه، په قسم ثالث کښې اختلاف دې، ائمه ثلاثه او صاحبین قائل نه دی، وهو اختیار الطحاوی قیل وعلیه الفتوی، امام

[1]): سنن الترمذي/ الزكاة ۳(۶۲۰)، سنن النسائي/الزكاة ۱۸(۲۴۷۹)،(تحفة الأشراف :۱۰۱۳۶)، وقد أخرجه: مسند احمد(۹۲/۱، ۱۱۳)(صحیح)(د شواهدو په بنا صحیح دې ملاحظه: صحیح ابي داود ۲۹۵/۵)

[2]) په نورو الفاظو کښې اوایۍ خیل سائمة.

ابوحنیفه رحمه الله، زفر رحمه الله، حماد بن ابی سلیمان رحمه الله، او زید بن ثابت رضی الله عنه د وجوب زکوة قائل دی، په شرط ددې چه ذکور او اناث مختلط وی، ځکه چه تناسل په دې صورت کښې کیدې شی، او که صرف ذکور یا صرف أناث وی، نو په دې کښې دوه روایتونه دی، وجوب و عدم وجوب، لیکن اشبه بالصواب دادې، چه صرف په اناث کښې واجب دې، ځکه چه تناسل په فحل مستعار سره عام طور باندې کیږی، او صرف په ذکور کښې نشته.(زیلعی علی الکنز) بیا په دې کښې اختلاف دې، چه د امام صاحب په نزدې ددې دپاره څه نصاب شته او که نه؟ وئیلې شوې دی، چه شته فقیل خمسة و قیل ثلثة و قیل اثنان ذکر و انثی والصحیح انه لا یشترط لعدم النقل(زیلعی) اوس دا چه مقدار د زکوة څه دې؟ نو په دې کښې دې اختیار دې، که غواړی نو یو فرس کښې دې یو دینار ورکړی، او که غواړی نو د قیمت لګولو نه پس په هر دواؤ سوؤ دراهمو کښې دې پنځه درهم ورکړی.

د جمهور او صاحبینو دلیل حدیث الباب دې، او حدیث ابوهریرة رضی الله عنه چه متفق علیه دې، لیس علی المسلم فی فرسه و غلامه صدقة، دویمه خبره دا ده، چه په کومو سوائمو کښې چه زکوة واجب دې، دهغې په حدیث کښې نصاب بالتفصیل ذکر دې؟ نصاب خیل په هیڅ یو صحیح حدیث کښې وارد نه دې.

د امام صاحب دلیل:

او د امام صاحب رحمه الله دلیل د صحیح بخاری او مسلم [1]حدیث مرفوع دې، چه د ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې، ان رسول الله(صلی الله علیه وسلم) ذکر الخیل فقال ورجل ربطها تغنیا و تعففا ثم لم ینس حق الله فی رقابها و لا ظهورها فهی له ستر الحدیث، د حق الله فی الرقاب نه ظاهره ده،چه زکوة مراد دې،او ددې نه علاوه بعضې آثار چه د حضرت عمر رضی الله عنه نه روایت دی، په بذل المجهود کښې د بدائع صنائع نه نقل کړی دی، چه حضرت عمر رضی الله عنه ابوعبیده بن الجراح طرف ته د صدقة الخیل باره کښې اولیکل، چه خلقو ته اختیار ورکړه، که غواړی نو د هر فرس د طرف نه دې یو دینار ورکړی، او که غواړی نو د قیمت لګولو نه پس دې په هر دواؤ سوؤ درهمو کښې پنځه درهم ورکړی، وقال الزیلعی فی شرح الکنز قال ابوعمر بن عبدالبر الخبر فی صدقة الخیل صحیح، عن عمر، وکذا نقله العلامه عینی ۹ص۳۷ و زاد وقال ابن رشد المالکی فی القواعد قد صح عن عمر رضی الله عنه انه کان یاخذ الصدقة عن الخیل، هسې ددې نه خلاف هم یو روایت شته، امام مالک رحمه الله په خپل سند سره روایت کړې دې، چه اهل شام ابوعبیده بن الجراح رضی الله عنه ته اوئیل چه زمونږ د اسونو نه زکوة واخله، نو هغوی انکار اوکړو، او د حضرت عمر رضی الله عنه نه ئې لیکلو سره تپوس اوکړو، هغوی هم انکار اوکړو، اهل شام بیا د ابوعبیده نه تقاضا اوکړه، هغوی دوباره د حضرت عمر رضی الله عنه نه معلوم کړل، نو په دې حضرت عمر رضی الله عنه اولیکل، ان احبوا فخذها منهم وارددها علیهم وارزق رقیقهم،(منهل) که هغوی زکوة

---

[1] دا حدیث بعضې محشینو صرف مسلم طرف ته منسوب کړې دې حالانکه دا حدیث په بخاری کښې هم شته. په اصل کښې دا حدیث امام بخاری په صحیح بخاری کښې دوه ځائې کښې ذکر کړې دې په کتاب الجهاد ص ۴۰۰ کښې مختصر او په کتاب المساقاة ص ۳۱۹ کښې دا حدیث پوره ذکر کړې دې.

الخيل ورکول غواړي، نو د هغوی نه واخله، او بيا ئې په هغوی واپس کړه، په داسې طريقې چه دهغوی په غلامانو ئې خرچ کړه، نو ممکن ده، چه په شروع کښې حضرت عمر رضي الله عنه ته په دې باندې انشراح نه وو، بيا روستو شوې وو. (په دې صورت کښې به جمع بين الروايتين راشي، ګني د احد الروايتين اهمال به لازم راشي) يا داچه اهل شام د اسونو په زکوة کښې اسونه ورکول غوختل، ددې نه هغوی انکار فرمائيلې وی، چه په دې صورت کښې د ارباب خيل نقصان دې، ځکه چه خيل ډير قيمتي څيز دې، څرنګه چه پنځويشتو پورې په زکوة الابل کښې اوښان نشی اخستلې کيدې، بلکه بزې اخستلې شي.
دا حضرات دا هم وائي چه حضرت عمر رضي الله عنه چه کومه فيصله فرمائيلې وه، هغه دهغوی اجتهاد وو، ليکن دا حديث مرفوع هم په ذهن کښې ساتل پکار دی، ان الله جعل الحق على لسان عمر و قلبه، بهرحال که دلائل بالکل صفا وې نو اختلاف بيا ولې وو. والله سبحانه و تعالى اعلم،

[۱۵۷۵] (¹) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، أَخْبَرَنَا بَهْزُ بْنُ حَكِيمٍ. ح وحَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، وَأَخْبَرَنَا أَبُو أُسَامَةَ، عَنْ بَهْزِ بْنِ حَكِيمٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "فِي كُلِّ سَائِمَةِ إِبِلٍ فِي أَرْبَعِينَ بِنْتُ لَبُونٍ، وَلَا يُفَرَّقُ إِبِلٌ عَنْ حِسَابِهَا مَنْ أَعْطَاهَا مُؤْتَجِرًا، قَالَ ابْنُ الْعَلَاءِ: مُؤْتَجِرًا بِهَا فَلَهُ أَجْرُهَا، وَمَنْ مَنَعَهَا فَإِنَّا آخِذُوهَا، وَشَطْرَ مَالِهِ عَزْمَةٌ مِنْ عَزَمَاتِ رَبِّنَا عَزَّ وَجَلَّ لَيْسَ لِآلِ مُحَمَّدٍ مِنْهَا شَيْءٌ".

بهز بن حکيم د خپل والد صاحب نه، هغوی ددهٔ د نيکهٔ نه روايت کوی چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل '' په هر څلويښت اوښانو کښې په داسې حال کښې چه بهر څريدونکې وی، يو بنت لبون (دوه کليزی اوښه) ده او هغې لره دې دَ هغې په حساب سره جُدا جُدا نهٔ کړې شی - څوک چه دَ اجر او ثواب په نيت باندې ورکوی ...... ابو العلاء دَ [موتجرا بها] الفاظ وئيلی دی ... نو دَ هغه دپاره دَ هغې اجر او ثواب دې، او څوک چه (زکات) منع کوی نو مونږ به دَ هغه نه زکات وصوله وو او نيم مال (زياتی هم -) دا زمونږ دَ رب ذولجلال دَ واجباتو نه يو واجب دې، په دې کښې دَ آل محمد هيڅ حصه نشته دې -

تشريح: قوله: عن بهز بن حکيم عن ابيه عن جده، ددې حديث راوی د بهز بن حکيم نيکهٔ دې، دهغه نوم معاويه بن حيده القشيری دې،

قوله: من اعطاها مؤ تجرا فله اجرها و من منعها فانا آخذوها وشطر ماله.

شرح حديث:

کوم سړې چه زکوة د اجر او ثواب حاصلولو دپاره ورکړی، نو هغه دپاره د دې اجر دې، او څوک چه زکوة منع کړی، نو مونږ به دهغه نه زکوة اخلو، (بلکه نور) دهغه نيم مال هم. ګويا په سزا او جرمانه کښې دهغه د ټول مال نه به نيم هم اخلو، دا عقوبة ماليه دې، ددې باره کښې شارحين ليکی، چه په ابتداء اسلام کښې مشروع وو، روستو بيا منسوخ شو، ليکن

¹): سنن النسائي/الزكاة ٤(٢٤٤٦)، ٧(٢٤٥١)، (تحفة الأشراف :١١٣٨٤)، وقد أخرجه: مسند احمد(٢/٥، ٤)، سنن الدارمي/الزكاة ٣٦(١٧١٩)(حسن)

فی الجملة د امام احمد (فی روایة) په دې عمل دې، او د امام شافعي رحمه الله قول قدیم هم دې، او په صحابؤ رضي الله عنهم کښې د حضرت عمر رضي الله عنه نه هم په دې باندې عمل منقول دې، د جمهور علماؤ په نزد د داسې سړې نه به صرف زکوة چه واجب دې، اخستلې شي.

یو احتمال ددې جملې په معنی کښې دا بیان کړې شوې دې، چه مونږ به دهغه نه زکوة اخلو، اګر که هغه دده د ټول مال نیمه حصه ولې نه وی، مثلا هغه سره زر (۱۰۰۰) بزې وې، په هغې کښې لس بزې د زکوة واجبې وې، هغه د زکوة ورکولو نه انکار اوکړو، او بیا دهغه بزې مړې شوې، او صرف شل باقې پاتې شوې، نو مونږ به په دې صورت کښې دهغه نه پوره زکوة اخلو، یعنی لس بزې، چه دهغه د مال نیمه حصه ده.

و شطر ماله، بره په حدیث کښې ذکر دې، دې لره په بلې طریقې سره هم لوستلې شوې دې، و شُطِّر ماله، او په دې صورت کښې به مطلب دا وی، چه دهغې زکوة به اخستلې شی، او په داسې طریقه به اخستلې شی، چه دهغه د مال به دوه حصې کړې شی، ردی او عمده، او بیا به زکوة کښې د متوسط مال په ځائې عمده او افضل مال اخستلې شی، الحاصل

عقوبة مالیه :

ددې حدیث په تشریح کښې درې اقوال شو، صرف د قول اول په بناء به حدیث د عقوبت مالیه د قبیلې نه وی، د آخری اقوالو په بناء باندې نه، د عقوبة مالیه مسئله او بحث په جلد ثانی کتاب الصلوة، ابواب الجماعة کښې هم تیر شوې دې، او ددې قسمه یو حدیث مخکښې په کتاب الجهاد کښې هم راروان دې، یعنی د عقوبة الغال والا حدیث، اذا وجدتم الرجل قد غل فاحرقوا متاعه.

عزمة من عزمات ربنا عزوجل لیس لآل محمد منها شیء، عزمة لره منصوب هم وئیلې شی، بناء بر مفعولیت، ای عزم الله ذالک علینا عزمة عزمت وئیلې شی، په یو کار کښې مضبوطیا او پوخ والی ته، او عزمة مرفوع هم کیدې شی، ای ذالک عزمه فرمائې چه دا د الله تعالی په احکامو کښې یو تاکیدی حکم دې، یا د الله تعالی په حقوق واجبه کښې یو حق واجب دې، او دا جرمانه چه اخستلې شی یا پوره زکوة، په دې کښې د محمد صلی الله علیه وسلم د کور والو هیڅ حصه نشته، ټول په ټوله به بیت المال کښې داخلیږی، دا حدیث زما د علم مطابق په صحاح کښې صرف ابوداؤد او نسائي کښې دې.

[۱۵۷۶] (۱) حَدَّثَنَا النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي وَائِلٍ، عَنْ مُعَاذٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا وَجَّهَهُ إِلَى الْيَمَنِ "أَمَرَهُ أَنْ يَأْخُذَ مِنَ الْبَقَرِ مِنْ كُلِّ ثَلَاثِينَ تَبِيعًا أَوْ تَبِيعَةً، وَمِنْ كُلِّ أَرْبَعِينَ مُسِنَّةً، وَمِنْ كُلِّ حَالِمٍ يَعْنِي مُحْتَلِمًا دِينَارًا أَوْ عَدْلَهُ مِنَ الْمَعَافِرِ ثِيَابٌ تَكُونُ بِالْيَمَنِ".

د حضرت معاذ رضي الله عنه نه منقول دی چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم هغوی لره کله یمن ته لیږلو نو فرمائیلې ئې وو :" په غواګانو کښې په هر دیرشو کښې یو کلیزی سخئ یا سخې اخله او په هر څلویښتو کښې دوه کلیزی - او د هر (غیر مسلم) بالغ نه یو دینار -

(۱): سنن النسائي/الزكاة ٨(٢٤٥٥)، (تحفة الأشراف :١١٣١٢)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الزكاة ١٢(٢٤)، مسند احمد(٥/٢٣٠، ٢٣٣، ٢٤٧)، سنن الدارمي/الزكاة ٥(١٦٦٣)(صحيح)

تشريح: قوله:عن معاذ ان النبي(صلى الله عليه وسلم) لما وجهه الى اليمن امره ان ياخذ من البقر الخ
د حضرت معاذ رضي الله عنه دا حديث مخکښې د ابن عباس رضي الله عنه په روايت سره څه قدرې تفصيل سره راروان دې، په دې به کلام انشاء الله هلته کښې کيږي،
ومن كل حالم يعني محتلما دينارا او عدله ([1]) من المعافر، د حديث د دې ټکړې تعلق د جزيه سره دې، د جزيئ تعلق د كتاب الجهاد سره دې، نو ددې باب به كتاب الجهاد كښې راشي.

شرح الحديث و تخريجه :

حديث معاذ برواية ابن عباس رضي الله عنه چه په صحيحينو كښې ذكر دې، او په ابوداؤد كښې هم مخكښې راروان دې، څرنګه چه د هغې حواله هم مخكښې تيره شوې ده، په دې كښې د حديث هغه ټكره چه د جزيئ سره متعلق ده، نشته، دا قطعه صرف د سنن اربعه په روايت كښې ده، امام ترمذي او حاكم دهغې تصحيح كړې ده،(قاله الحافظ) د حديث مضمون دادې، حضرت معاذ رضي الله عنه لره چه كله نبي كريم ﷺ يمن طرف ته اوليږلو، او والي او ګورنر ئې جوړ كړو،(كما جزم به الغساني) يا قاضي ئې جوړ كړو،(كما جزم به ابن عبدالبر) نو هغه ته نبي كريم ﷺ د زكوة احكام بيان كړل، او دا ئې ورته هم اوفرمائيل : چه په ذميانو كښې د هر بالغ نه په كال كښې يو دينار اخله، يا ثوب معافرى چه په قيمت كښې د يو دينار برابر وى، معافر په وزن د مساجد، په يمن كښې يو ځائي دې، يا يوه قبيله ده، چه هغوى طرف ته يو خاص قسم كپړه منسوبه ده.

فقه الحديث، د جزئې په مقدار كښې د امامانو مذاهب:

په دې حديث كښې دوه مسئلې ذكر دى، يو مقدار جزيه او دويمه دا چه جزيه به صرف د بالغو نه اخستلې شى، اوله مسئله مختلف فيه ده، او دويمه اجماعى ده، په ټولو مذاهبو كښې ددې تصريح ده، چه د جزيې دپاره حريت، ذكورة او بلوغ شرط دې، نو د ښځو او ماشومانو نه به اخستلې كيږى نه، ځكه چه جزيه د قتل په ځائي اخستلې شى، ګويا د ځان بدل دې، او د قتل حكم صرف د رجال كفار دپاره دې، د صبيان او نساء دپاره نه دې.
اوپه مقدار د جزيه كښې اختلاف دې، د احنافو او حنابله په نزد د حيثيت مطابق د ذمى مالدار نه په كال كښې څلور ديناره يا اتۀ څلويښت درهمه، او د متوسط نه دوه ديناره يا څليريشت درهمه، او د فقير نه يو دينار يا دولس درهمه.
په صحيح بخارى ص۴۴۷ كښې دى، د حضرت مجاهد رحمه الله نه سوال اوكړې شو، ما شان اهل الشام عليهم اربعة دنانير واهل اليمن عليهم دينار قال جعل ذالک من قبل اليسار، يعنى د اهل شام نه په جزيه كښې څلور ديناره دهغوى د مالدارئ د وجې نه واخستلې شو، او د اهل يمن نه په كال كښې يو دينار دهغوى د فقيرئ د وجې نه واخستلې شو، او د امام

[1]) عدل لره په كسرې د عين او فتحې دواړو طريقو سره ضبط كړې شوې دې، په معنى د مثل، او بعضو په دواړو كښې فرق ليكلې دې، هغه داچه(عدل بفتح) هغه څيز چه د بل څيز مثل وى، د خلاف جنس نه، او عدل(بالكسر) هغه څيز چه د بل څيز سره برابر وى، او دهغې د جنس نه وى، وقيل بعكس ذالك وقيل عدل الشيء بكسر العين اي مثله في الصورة و بالفتح ما كان مثله في القيمة)

مالک رحمه الله په نزد مطلقا که غني وي او که فقير (کما ذکره في المؤطا اوجز ۳ ص۲۶۲) څلور ديناره يا څلويښت درهمه، (بحساب لس درهم په يو دينار کښې) او د امام شافعي رحمه الله په نزد اقل مقدار يو دينار دې، مطلقا (بدون الفرق بين الغني والفقير) ولا حد لاکثرها پس که ذمي يو دينار په کال کښې ورکوي، نو هغه له قتلول جائز نه دي، بس هم دا کافي دې، (کذا في الاوجز عن الزرقاني) ليکن حافظ په فتح الباري کښې ليکلي دي، چه د امام شافعي رحمه الله په نزد د يو دينار نه کم اخستلې شي، او هم داسې په شرح اقناع (چه په فقه شافعي کښې ده) کښې دا ليکلي دي، چه د امام شافعي رحمه الله په نزد اقل مقدار يو دينار هغه وخت کښې دې، هرکله چه مونږ ته دهغې په اخستلو قدرت وي، ګنې ددې نه کم هم مقرر کيدې شي، او د اکثر دپاره هيڅ حد نشته، ليکن مستحب داده، چه د فقير نه يو دينار او د متوسط نه دوه دينار د اوه غني نه څلور ديناره واخستلې شي، اقتداء بعمر او ابن رشد په بداية المجتهد کښې د امام احمد رحمه الله مذهب دا ليکلې دې، چه يو دينار دې، لايزاد عليه و لا ينقص منه، ليکن په الروض المربع (في فقه الحنابلة) کښې ئې مقدار جزيه د امام په اجتهاد باندې موقوف کړې ده، او هم دغسې ابن قدامة ليکلي دي، ولفظه والمرجع في الخراج والجزية الى اجتهاد الامام، لهذا تحقيق دادې، چه د امام احمد مذهب هغه نه دې، چه په اوجز کښې د زرقاني وغيره نه نقل کړې دې.

د جزئې قسمونه :

د جزيې دوه قسمونه دي، جزيه صلح او جزيه جبر، دا مذکوره تفصيل د قسم ثاني دې، او د جزيه صلح مقدار متعين نه دې، په کوم څيز باندې چه مصالحت اوشي، لکه چه روايت دې، چه نبی کريم ﷺ د نجران عيسايانو سره مصالحت اوکړو، علی الفي حلة، دکپړې په دواړ زرو جوړو باندې، کما سياتي في کتاب الخراج في باب في اخذ الجزية (بذل ۴ ص۱۵۴)

او حديث الباب چه په ظاهر کښې د احنافو خلاف دې، دهغې جواب زمونږ د طرف نه دادې [1] چه دا جزيه صلح وه، ځکه چه يمن عنوة فتح شوې نه وو، بلکه صلحا فتح شوې وو، او دويمه وجه دا هم ده، چه هغوي اهل فاقه وو، ددې تائيد دمجاهد دهغې اثر نه کيږي چه په شروع کښې تير شو.

جزيه د کومو کافرانو نه اخستلې کيږي :

يوه مسئله دلته کښې داده، چه جزيه د کومو کومو کافرانو نه اخستلې کيږي، د امام شافعي رحمه الله او احمد رحمه الله په نزد صرف د اهل کتاب نه، او په دې حکم کښې مجوس هم داخل دي، او د احنافو په نزد د اهل کتابو تخصيص نشته، بلکه د مشرکين عجم نه هم، البته د مشرکين عرب نه به نه اخستلې کيږي، او د امام مالک رحمه الله په نزد د مشرکين عرب استثناء هم نشته، بلکه د ټولو نه به اخستلې کيږي سوا د مرتد نه (من العينی ۱۵ ص۷۸)

[1] هکذا افاد المحدث الکنکوهي في لامع الدراري ۲ ص۵۰۹ وکذا علي القاري)

[۱۵۷۷]([1]) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، وَالنُّفَيْلِيُّ، وَابْنُ الْمُثَنَّى، قَالُوا: حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ مَسْرُوقٍ، عَنْ مُعَاذٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَهُ.

حضرت مسروق د حضرت معاذ رضی الله عنه نه هغوی د نبی کریم ﷺ نه ددې په مثل باندې روایت کړې دې -

[۱۵۷۸]([2]) حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ زَيْدِ بْنِ أَبِي الزَّرْقَاءِ، حَدَّثَنَا أَبِي، عَنْ سُفْيَانَ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي وَائِلٍ، عَنْ مَسْرُوقٍ، عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ، قَالَ: بَعَثَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الْيَمَنِ، فَذَكَرَ مِثْلَهُ، لَمْ يَذْكُرْ ثِيَابًا تَكُونُ بِالْيَمَنِ، وَلَا ذَكَرَ يَعْنِي مُحْتَلِمًا. قَالَ أَبُو دَاوُد: وَرَوَاهُ جَرِيرٌ، وَيَعْلَى، وَمَعْمَرٌ، وَشُعْبَةُ، وَأَبُو عَوَانَةَ، وَيَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي وَائِلٍ، عَنْ مَسْرُوقٍ، قَالَ: قَالَ يَعْلَى، وَمَعْمَرٌ: عَنْ مُعَاذٍ مِثْلَهُ.

حضرت معاذ بن جبل رضی الله عنه بیان کوی چه رسول الله ﷺ دوی لره یمن ته اولیږلو، او د مذکوره روایت په مثل باندې ئې روایت اوکړو، په دې روایت کښې دا ذکر نشته دې چه: "دا کپړې دی کومې چې په یمن کښې وی -" او نۀ ئې دَ [محتلماً] لفظ ذکرکړې دې -" امام ابوداود رحمه الله فرمائی چه دې روایت لره جریر، یعلیٰ، معمر، شعبه، ابو عوانه او یحییٰ بن سعید دَ اعمش نه، هغوی دَ ابووائل نه، هغوی دَمسروق نه(مرسل) نقل کړې دې، او یعلیٰ او معمر دَ حضرت معاذ رضی الله عنه نه هم ددې په مثل باندې(متصل) روایت کړې دې -

تشریح: قوله:قال ابوداود رواه جرير ويعلى و معمر و شعبه و ابوعوانة و يحى بن سعيد عن الاعمش عن ابى وائل عن مسروق قال يعلى و معمر عن معاذ مثله.

شرح السند :

دا قال ابوداؤد د تشریح محتاج دې، لهذا واورئ، مصنف اختلاف رواة فى الاسناد لره بیان فرمائي، په اصل کښې ددې حدیث معاذ مدار په اعمش باندې دې، د اعمش نه نقل کونکې دهغه متعدد شاګردان دی، په هغې کښې د ټولو نه مخکښې مصنف د ابومعاویه روایت ذکر کړې دې، ابومعاویه دې لره د اعمش نه په دواړ طریقو روایت کړې دې، عن الاعمش عن ابى وائل عن معاذ رضی الله عنه، عن الاعمش عن ابراهيم عن مسروق عن معاذ، یعنی د اعمش استاذ کله ابووائل مقرر کړې دې، او کله ئې ابراهيم لره. لیکن د ابووائل او معاذ په مینځ کښې ئې هیڅ واسطه ذکر کړې نه ده، او د ابراهیم او معاذ په مینځ کښې ئې د مسروق واسطه ذکر کړې ده.

او سفیان، یعلی، معمر، دې دریو واړو د اعمش استاذ صرف ابووائل مقرر کړې دې، او بیا ئې د ابووائل او معاذ په مینځ کښې د مسروق واسطه هم ذکر کړې ده.

او دغه شان جرير، شعبه، ابوعوانه او يحى بن سعید کړې دی، لیکن ړومبنو دریو خو حدیث مسندا روایت کړې دې، یعنی معاذ صحابی لره ذکر کولو سره، او دې څلورو حدیث مرسلا روایت کړې دې،(معاذ ئې ذکر کړې نه دې) حاصل داچه دا حدیث د اعمش نه په

---

[1]): سنن الترمذي/ الزكاة ٥(٦٢٣)، سنن النسائي/الزكاة ٨(٢٤٥٢)، سنن ابن ماجه/الزكاة ١٢(١٨٠٣)،(تحفة الأشراف: ١١٣٦٣)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الزكاة ١٢(٢٤)، مسند احمد(٢٣٠/٥، ٢٣٣، ٢٤٧)، دي/الزكاة(١٦٦٣)(صحيح)

[2]): انظر حديث رقم :(١٥٧٨)،(تحفة الأشراف :١١٣٦٣)(صحيح)

متعدد طريقو سره روايت دي، مسندا هم او مرسلا هم، امام ترمذی روايت مرسله(يعنی عن مسروق ان النبی(صلی الله عليه وسلم) لره اصح مقرر کړې دې، دهغې وجه دا بيان کړې شوې ده، چه د مسروق لقاء د معاذ سره ثابته نه ده، لهذا روايت مسنده يعنی مسروق عن معاذ ان النبی(صلی الله عليه وسلم) الخ منقطع شو، په خلاف د روايت مرسله نه، چه هغه د انقطاع نه محفوظ دې، دا جدا خبره ده چه مرسل دې، ليکن نور محدثين ابن القطان، او ابن حبان وغيره ددې انقطاع لره تسليموی نه، ځکه چه مسروق د معاذ رضی الله عنه په زمانه کښې يمن کښې وو، پس لقاء ممکن شوه، چه د جمهورو په نزد د حديث معنعن د اتصال دپاره کافي ده، اګر چه د امام بخاری رحمه الله په نزد امکان لقاء کافي نه ده، کيدې شی، چه په دې مسئله کښې د امام ترمذی رائې د امام بخاری د رائې سره موافق وی، والله تعالی اعلم.

تشکيل الاسانيد :

۱. ابو معاويه............اعمش عن ابی وائل عن معاذ ان النبی(صلی الله عليه وسلم)

۲. سفيان، يعلی،معمر...اعمش عن ابی وائل عن مسروق عن معاذ ان النبی(صلی الله عليه وسلم)

۳. ابومعاويه............ اعمش عن ابراهيم عن مسروق عن معاذ ان النبی(صلی الله عليه وسلم)

۴. جرير، شعبه، ابوعوانة، يحی بن سعيد............ اعمش عن ابی وائل عن مسروق ان النبی(صلی الله عليه وسلم)

[۱۵۷۹]([1]) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا أَبُوعَوَانَةَ، عَنْ هِلَالِ بْنِ خَبَّابٍ، عَنْ مَيْسَرَةَ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ سُوَيْدِ بْنِ غَفَلَةَ، قَالَ: سِرْتُ، أَوْقَالَ: أَخْبَرَنِي مَنْ سَارَ مَعَ مُصَدِّقِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَإِذَا فِي عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ: "لَا تَأْخُذْ مِنْ رَاضِعِ لَبَنٍ، وَلَا تَجْمَعْ بَيْنَ مُفْتَرِقٍ، وَلَا تُفَرِّقْ بَيْنَ مُجْتَمِعٍ، وَكَانَ إِنَّمَا يَأْتِي الْمِيَاهَ حِينَ تَرِدُ الْغَنَمُ، فَيَقُولُ: أَدُّوا صَدَقَاتِ أَمْوَالِكُمْ"، قَالَ: فَعَمَدَ رَجُلٌ مِنْهُمْ إِلَى نَاقَةٍ كَوْمَاءَ، قَالَ: قُلْتُ: يَا أَبَا صَالِحٍ، مَا الْكَوْمَاءُ؟ قَالَ: عَظِيمَةُ السَّنَامِ، قَالَ: فَأَبَى أَنْ يَقْبَلَهَا، قَالَ: إِنِّي أُحِبُّ أَنْ تَأْخُذَ خَيْرَ إِبِلِي، قَالَ: فَأَبَى أَنْ يَقْبَلَهَا، قَالَ: فَخَطَمَ لَهُ أُخْرَى دُونَهَا، فَأَبَى أَنْ يَقْبَلَهَا، ثُمَّ خَطَمَ لَهُ أُخْرَى دُونَهَا فَقَبِلَهَا، وَقَالَ: إِنِّي آخِذُهَا وَأَخَافُ أَنْ يَجِدَ عَلَيَّ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ لِي: "عَمَدْتَ إِلَى رَجُلٍ فَتَخَيَّرْتَ عَلَيْهِ إِبِلَهُ". قَالَ أَبُودَاوُد: وَرَوَاهُ هُشَيْمٌ، عَنْ هِلَالِ بْنِ خَبَّابٍ نَحْوَهُ، إِلَّا أَنَّهُ قَالَ: لَا يُفَرَّقُ.

سويد بن غفله بيان کوی چې زۀ (د نبی کريم ﷺ د عامل سره) لاړم، يائې اووئيل ماته دې کس بيان کړې دې کوم چه د نبی کريم ﷺ د عامل سره پاتې شوې وو - د رسول الله ﷺ په عهد کښې (تحرير) کښې دا وو: " په زکات کښې د پيو والا څاروې يا پئ خړونکی بچې مۀ اخله، جُدا جُدا څاروو لره مۀ جمع کوه او نۀ يوځائې څاروو لره جُدا کوه - او د حضور ﷺ د زکات تحصيلدار به د هغې د اوبو ځائې (چينه، کوهې، تالاب وغيره) ته رسيدلو کله چه به چيلئ د اوبو څښلو د پاره راغلې نو هغه به (ددې مالکانو ته) وئيل د خپلو مالونو زکات ادا کړئ - راوی بيان کوی: چنانچه يو کس د " کوماء " اوښې قصد اوکړو - راوی وائی چه ما

[1]): سنن النسائي/الزكاة ۱۲(۲۴۵۹)، سنن ابن ماجه/الزكاة ۱۱(۱۸۰۱)،(تحفة الأشراف :۱۵۵۹۳)، وقد أخرجه: مسند احمد(۳۱۵/۴)، سنن الدارمي/الزكاة ۸(۱۶۷۰)(حسن)

اووې اې ابو صالح ! دَ "کوماء" څهٔ معنیٰ ده؟ هغوی اووې دَ غټې قُب والا اوښ - نو عامل دَ اخستو نه انکار اوکړو (ځکه چه دا ډېر زيات عمده وو) مال والا اووې زهٔ دا خوښه وم چه تاسو زما نه بهترينه اوښه وصول کړئ مگر هغه دَ اخستو نه انکار اوکړو - نو هغه بله اوښه راوستله کومه چه دَ هغې نه لږه غونډې دَ کمې درجې وه، نو هغه دَ ددې دَ قبلولو نه هم انکار اوکړو - چنانچه هغه يوه بله راوستله کومه چه دَ ددې نه هم دَ کمې درجې والا وه نو هغه واخستله اووې وئيل : زهٔ دې لره اخلم مگر انديښنه ده چه رسول الله ﷺ به په ما باندې خفه وی - هغوی ﷺ به ماته وائی چه تا ددغه سړی نه بهترينه اوښه وصول کړې ده -امام ابوداود رحمه الله فرمائی چه هشيم دَ هلال بن خباب نه ددې روايت په مثل باندې بيان کړې دې مگر لفظ دَ "لا يفرّق" ئې استعمال کړې دې -

تشريح: قوله:عن سويد بن غفلة قال سرت او قال اخبرنی من سار مع مصدق النبی(صلی الله عليه وسلم) فاذافی عهد رسول الله(صلی الله عليه وسلم) ان لا تاخذ من راضع لبن.

مضمون حديث :

سويد بن غفله وائی، (۱) يو ځل زهٔ د نبی کريم ﷺ يو مصدق يعنی عامل سره لاړم، يا سويد اوئيل چه ماته هغه سړی اوئيل چه د نبی کريم ﷺ يو مصدق سره تلې وو، دا شک د راوی دې، ليکن دا روايت مخکښې هم راروان دې، هلته کښې د راوی شک نشته، بلکه دهغې نه دا معلوميږی، چه دې په خپله د مصدق سره تلې وو، لهذا ړومبئ خبره(سرت مع مصدق النبی(صلی الله عليه وسلم)) صحيح ده.

د عهد نه مراد عهدنامه يعنی کتاب الصدقة ده، زمانه مراد نه ده، کما توهم بعضهم(منهل) په دې کښې مصدق ته هدايت دې، چه هغه به په څاروؤ کښې راضع لبن نه اخلی، د راضع لبن نه مراد يا خو پئی خوړونکې بچې دې، يا پئی ورکونکې اوښه يا بزه مراد ده، ددې پوره شرح سره د منشاء اختلاف نه د کتاب الزکوة په ړومبنې حديث والله لو منعونی عقالا په ذيل کښې تيره شوې ده.

وکان انما ياتی المياه حين ترد الغنم، ورود وئيلې شی، د څاروؤ تالاب يا چينې ته د اوبو څکلو دپاره رسيدل، مطلب دادې، چه د مصدقينو(زکوة وصولونکو) معمول دا وو، چه هغوی به د څاروؤ زکوة اخستلو دپاره هلته کښې رسيدل، کوم ځائی به چه څاروی د اوبو څکلو دپاره جمع کيدل، ځکه په دې کښې د دواړو دپاره سهولت دې.

قال فعمد رجل منهم : سويد وائی چه زهٔ د کوم مصدق سره تلې اوم، هغه د يو سړی د اوښانو نه زکوة اخستلو دپاره چينې ته اورسيدلو، نو يو سړی په زکوة کښې ورکولو دپاره ډيره ښائسته اوچت قب والا اوښه راوستله، نو هغې مصدق هغې لره د قبلولو نه انکار

---

(۱) سويد بن غفله لره بعضو په صحابؤ کښې شمار کړې دې، ليکن دا صحيح نه ده، دا محضرمی تابعی دې، مدينې منورې ته هغه وخت کښې حاضر شو، چه کله صحابه کرام د نبی کريم ﷺ د فن کولو نه فارغيدل،(منهل عن التهذيب)

اوکړو، ځکه چه هغه زیاته عمده وه، او قاعده داده چه د متوسط درجي والا به اخستلې شي، بیا هغه د یوې بلې اوښې پیزوان اونیولو او رائې وستله، چه دا واخله، لیکن مصدق دهغې د اخستلو نه هم انکار اوکړو، هغه سړي بیا یوه بله اوښه راوستله، چه د مخکښنۍ نه کمې درجې والا وه، نو هغه اوښه مصدق واخستله، او دا ئې اوئیل چه زۀ خو دا اخلم، لیکن ماسره ویره ده، چه نبی کریم ﷺ به ددې لیدلو سره اوفرمائی، چه تا په زکوة کښې دومره عمده اوښه ولې اخستلې ده؟ دا حدیث په ابن ماجه کښې هم شته، دهغې الفاظ دادي: فاتاه رجل بناقة عظيمة ململة یعنی داسې اوښه ئې راوستله چه د څورب والی په وجه بالکل غونډئ کیدله.

اوګورئ! دې حضراتو به خپل زکوة څومره په خوشالئ سره ادا کولو، او د ښه نه ښه مال به ئې زکوة کښې ورکول غوختل، فاجزل الله مثوبتهم و رزقنا اتباعهم.

[۱۵۸۰](۱) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الصَّبَّاحِ الْبَزَّازُ، حَدَّثَنَا شَرِيكٌ، عَنْ عُثْمَانَ بْنِ أَبِي زُرْعَةَ، عَنْ أَبِي لَيْلَى الْكِنْدِيِّ، عَنْ سُوَيْدِ بْنِ غَفَلَةَ، قَالَ: أَتَانَا مُصَدِّقُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخَذْتُ بِيَدِهِ وَقَرَأْتُ فِي عَهْدِهِ: "لَا يُجْمَعُ بَيْنَ مُفْتَرِقٍ، وَلَا يُفَرَّقُ بَيْنَ مُجْتَمِعٍ خَشْيَةَ الصَّدَقَةِ" وَلَمْ يَذْكُرْ رَاضِعَ لَبَنٍ.

د سوید بن غفله بیان دې چه د نبی کریم ﷺ تحصیلدار مونږ ته راغې - ما د هغه لاس اونیولو او ما د هغه په عهد (وثیقه) کښې اولوستل: "د زکات د ویرې نه جُدا جُدا څاروو لره دې جمع نۀ کړې شی او نۀ دې یوځائې مال علیحده (جُدا جُدا) کړې شی -" په دې روایت کښې د [راضعَ لَبَن] " یعنی پیو والا څناور یا د پیو خوړلو والا بچې " ذکر نشته دې -امام ابوداود رحمه الله فرمائی چه د [لا تجمعُ] " تاسو جمع مۀ کوئ -" او د [لایجمَعُ] " جمع دې نۀ کړې شی -" حکم یو دې -

[۱۵۸۱](۲) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ زَكَرِيَّا بْنِ إِسْحَاقَ الْمَكِّيِّ، عَنْ عَمْرِو بْنِ أَبِي سُفْيَانَ الْجُمَحِيِّ، عَنْ مُسْلِمِ بْنِ ثَفِنَةَ الْيَشْكُرِيِّ، قَالَ الْحَسَنُ: رَوْحٌ يَقُولُ: مُسْلِمُ بْنُ شُعْبَةَ، قَالَ: اسْتَعْمَلَ نَافِعُ بْنُ عَلْقَمَةَ أَبِي عَلَى عِرَافَةِ قَوْمِهِ، فَأَمَرَهُ أَنْ يُصَدِّقَهُمْ، قَالَ: فَبَعَثَنِي أَبِي فِي طَائِفَةٍ مِنْهُمْ، فَأَتَيْتُ شَيْخًا كَبِيرًا يُقَالُ لَهُ: سِعْرُ بْنُ دَيْسَمٍ، فَقُلْتُ: إِنَّ أَبِي بَعَثَنِي إِلَيْكَ، يَعْنِي لِأُصَدِّقَكَ، قَالَ ابْنَ أَخِي: وَأَيَّ نَحْوٍ تَأْخُذُونَ، قُلْتُ: نَخْتَارُ حَتَّى إِنَّا نَتَبَيَّنُ ضُرُوعَ الْغَنَمِ، قَالَ ابْنَ أَخِي: فَإِنِّي أُحَدِّثُكَ أَنِّي كُنْتُ فِي شِعْبٍ مِنْ هَذِهِ الشِّعَابِ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَنَمٍ لِي، فَجَاءَنِي رَجُلَانِ عَلَى بَعِيرٍ، فَقَالَا لِي: إِنَّا رَسُولَا رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَيْكَ لِتُؤَدِّيَ صَدَقَةَ غَنَمِكَ، فَقُلْتُ: مَا عَلَيَّ فِيهَا، فَقَالَا: شَاةٌ، فَأَعْمِدُ إِلَى شَاةٍ قَدْ عَرَفْتُ مَكَانَهَا مُمْتَلِئَةٍ مَحْضًا وَشَحْمًا، فَأَخْرَجْتُهَا إِلَيْهِمَا، فَقَالَا: هَذِهِ شَاةُ الشَّافِعِ، وَقَدْ "نَهَانَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ نَأْخُذَ شَافِعًا"، قُلْتُ: فَأَيَّ شَيْءٍ تَأْخُذَانِ؟، قَالَا: عَنَاقًا جَذَعَةً أَوْ ثَنِيَّةً، قَالَ: فَأَعْمِدُ إِلَى عَنَاقٍ مُعْتَاطٍ، وَالْمُعْتَاطُ الَّتِي لَمْ تَلِدْ وَلَدًا وَقَدْ حَانَ وِلَادُهَا، فَأَخْرَجْتُهَا إِلَيْهِمَا، فَقَالَا: نَاوِلْنَاهَا، فَجَعَلَاهَا مَعَهُمَا عَلَى بَعِيرِهِمَا، ثُمَّ انْطَلَقَا. قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ أَبُو عَاصِمٍ، عَنْ زَكَرِيَّاءَ، قَالَ أَيْضًا: مُسْلِمُ بْنُ شُعْبَةَ، كَمَا قَالَ: رَوْحٌ.

مسلم بن شعبه بیان کوی چه حضرت نافع بن علقمه زما پلار لره هغوی د خپل قوم سربراه،

---

(۱): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۵۵۹۳)(حسن)

(۲): سنن النسائي/الزكاة ۱۵(۲٤٦٤)، (تحفة الأشراف: ۱۵۵۷۹)، وقد أخرجه: مسند احمد(۳/٤١٤، ٤١٥)(ضعيف)

نگران کار او منتظم جوړ کړو او حکم ئې ورته اوکړو چه ددوی نه زکات هم وصولوئ ـ چنانچه زما پلار مالره یو جماعت ته اولیږلو، زهٔ یو ډیر زیات بوډا سړی ته اورسیدم دَ هغه نوم سعر (بن دیسم) وو ما عرض اوکړو : زما پلار مالره رالیږلي دې ددې دپاره چه ستاسو نه زکات وصول کړم ـ هغوی اووې : اې وراره ته کوم قسم مال اخلې؟ ما اووې مونږ ئې چانړ کوو تَنو ته ئې گورو او عمده بکرئ اخلو ـ هغه اووې اې وراره زهٔ تاته یو حدیث بیانوم زهٔ دَ رسول الله ﷺ په دور کښې ددې وادو نه په یوه وادئ کښې دَ خپلو چیلو (بکرو) سره وم چه ماته دوه کسان راغلل چه په یو اوښ باندې سواره وو هغوی ماته اووې مونږ دَ رسول الله ﷺ دَ طرف نه تاسو ته راغلي یو ددې دَ پاره چه ته دَ خپلو چیلو زکات راکړې ـ ما تپوس اوکړو په ما باندې په دې کښې څهٔ واجب دی؟ هغوی اووې یوه چیلئ ـ نو ما دَ یوې چیلئ قصد اوکړو کومه چه ما پیژندله چه دا دَ پیو والا او دَ چربئ نه ډکه وه ما هغې لره دَ هغوی طرف ته راو ویستله ـ نو هغوی اووې دا خو حامله ده او رسول الله ﷺ دَ حامل ځاروو دَ اخستلو نه منع فرمائیلي ده ـ ما اووې ته مو خلق به کوم قسم قبلوئ؟ هغوی اووئیل دَ یو کال گډه یا چیلئ، کومه چه په دویم کال کښې داخله شوې وی یا دَ دوو کالو کومه چه په دریم کال کښې داخله شوې وی ـ اوس ما یوه گډه راوستله کومه چه چاقه او تازه وه او حامله شوې نهٔ وه ... [معتاط] هغه بکرئ چه لا حامله شوې خو نهٔ وی لیکن دَ حامل والی عمر ته رسیدلې وی ... هغې لره ما هغوی ته راوستله نو هغوی اووې : دا مونږ ته راکړئ، نو هغې لره ئې دَ خپل ځان سره په اوښ باندې سوره کړه او روان شول ـ" امام ابوداود رحمه الله فرمائي : ابو عاصم دَ زکریا نه روایت کوی او دَ راوی نوم ئې مسلم بن شعبه وئیلی دی لکه څنگه چه روح بیان کړې دې ـ

۱۱ : حدثنا الحسن بن علی نا وکیع........ قال الحسن روح یقول مسلم بن شعبة، د مصنف استاد حسن بن علی ته دا حدیث د دواړو استاذانو نه رسیدلې دې، وکیع او روح بن عبادة، په سند کښې چه کوم یو راوی مذکور دې، یعنی مسلم، دهغه باره کښې وکیع دا وئیلي دی، مسلم بن ثفنه، او روح وئیلي دی، مسلم بن شعبة، لیکن صحیح شعبة دې، ثفنة غلط دې، صرح به علماء الرجال من البخاری والدارقطنی وغیرهم، د روح روایت مخکښې په کتاب کښې راروان دې.

قال استعمل نافع بن علقمة ابی علی عرافة قومه، مسلم بن شعبة وائی، چه زما پلار (شعبة) لره نافع بن علقمه دخپل قوم عریف جوړ کړو، عریف القوم د قوم مشر او سردار ته وئیلي شی، عرافة دهغې مصدر دې، یعنی مشری، سرداری، عام طور باندې په هر قوم او قبیله کښې دهغوی نه یو مشر او سردار وی، نو نافع شعبه لره د خپل قوم مشر جوړ کړو، دې دپاره چه هغه د قوم نه زکوة هم وصولوی.

مخکښې مسلم وائي : چه زما پلار شعبه مالره د خپل قوم د بعضو خلقو نه زکوة اخستلو دپاره اولیږلو، نو زهٔ یو بوډا سړی (چه دهغه نوم سعر وو، په دې کښې د سین فتحه او کسره

دواړه ضبط کړې شوې دی، پوره نوم ئې سعربن سواده وو) ته لاړم، او هغه ته مې اوئيل چه زۀ خپل پلار د زکوة اخستلو دپاره راليږلې يم، په دې هغه اوئيل چه اې وراره(زمونږ په معاشره کښې داسې وخت کښې وئيلې شی څويه) زکوة کښې به څرنګه څاروې اخلې، نو ما اوئيل چه ځانړ کولو سره به اخلم،(يعنی د ښه نه ښه) تردې پورې چه زۀ به د بزو تيونو ته ګورم، چه د کومې بزې تيونه(ميمی) لوئی دی، چه هغه واخلم، دا خبره چونکه د اصول نه خلاف وه، ددې وجې نه هغه مشر سړی هغه لره پوهولو دپاره د نبی کريم ﷺ د زمانې يوه واقعه بيان کړه، دې دپاره چه معلومه شی چه زکوة وصولولو دپاره قاعده او طريقه څه ده. مخکښې مضمون واضح دې د ترجمې ضرورت نشته.

فعمدت الى شاة قد عرف مكانها ممتلة محضا و شحما: پس ما اراده اوکړه په زکوة کښې د داسې بزې ورکولو، چه دهغې مرتبه ما پيژندله، چه د پيو او وازګې نه ډکه وه، يعنی ډير پئی ورکونکې او څربه وه، هغه چه اوليدله نو وې وئيل، هذه شاة الشافع چه دا خو بچې والا بزه ده، يا حامله ده، او نبی کريم ﷺ د داسې بزې اخستلو نه منع فرمائيلې ده، ما تيوس اوکړو، بيا څرنګه بزه اخلې، نو هغه اوئيل چه داسې څوانه چه تقريبا د يو کال وی، نو بيا ما هغه ته هغسې بزه راوستله او ورمې کړه، چه لا حامله شوې نه وه، ليکن د حمل قابله وه، **معتاط** په اصل کښې هغې بزې ته وئيلې شی، چه د کثرت سمن(سرب والی) د وجې نه حامله شوې نه وی،لهذا دلته په حديث کښې التی لم تلد ولدا، د ولادة نه مراد مجازا حمل دې،(راوی وائی) هغې دواړو ساعيانو هغې لره په اوښ باندې سوره کړه، او يوړه.

[۱۵۸۲]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُونُسَ النَّسَائِيُّ، حَدَّثَنَا رَوْحٌ، حَدَّثَنَا زَكَرِيَّاءُ بْنُ إِسْحَاقَ، بِإِسْنَادِهِ بِهَذَا الْحَدِيثِ، قَالَ مُسْلِمُ بْنُ شُعْبَةَ، قَالَ فِيهِ: وَالشَّافِعُ الَّتِي فِي بَطْنِهَا الْوَلَدُ.

زکريا بن اسحاق په خپل سند سره دا حديث بيان کړې دې او د راوی نوم ئې مسلم بن شعبه ذکر کړې دې(او مسلم بن ثفنه ئې نۀ دی وئيلی) په دې کښې ئې ذکر کړې دی : [شافع] هغه وی چه د هغې په خيټه کښې بچې وی - امام ابوداود رحمه الله فرمائی : ما په حمص کښې د آلِ عمرو بن حارث حمصی سره د عبد الله بن سالم په کتاب کښې اولوستل- کوم چه هغوی د زبيدی نه روايت کړې وو، فرمائی : [عبد الله بن معاويه الغاضری] چه دې د غاضرۀ قيس نه دې، فرمائی چه نبی کريم ﷺ اوفرمائيل : " چا چه درې کارونه اوکړل نو هغه د ايمان ذائقه اوڅکله - چا چه د يو الله عبادت اوکړو او اقرار ئې اوکړو چه د الله نه سوا بل څوک معبود نشته دې او په خوشالئ خوشالئ سره هر کال د خپل مال زکات ورکوی، څۀ بوډا، خارښتی، بيمار يا ردی قسم څاروې ئې ورنۀ کړو بلکې د متوسط مال نه ئې ورکړو - بې شکه الله تعالیٰ ستاسو نه د عمده مال مطالبه نۀ ده کړې او نۀ ئې تاسو ته د بې کاره مال د ورکولو حکم کړې دې -"

تشريح: قوله: قال ابوداؤد و قرات فی كتاب عبدالله بن سالم، مصنف فرمائي دا حديث چه

(): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۹۶۴۵)(صحيح)

مخکښې راروان دې، ما د عبدالله بن سالم نه براه راست اوریدلې نه دې (1) بلکه دهغه په کتاب کښې مې لوستلې دې.

قال النبي(صلى الله عليه وسلم) ثلاث من فعلهن فقد طعم طعم الايمان. د ایمان د خوند څکلو نه مراد دادې، چه هغې سړی ته د ایمان بشاشت او انشراح حاصلیږی، دا خو یو معنوی خوند دې، لیکن ددې اثر داسې وی، لکه چه د یو محسوس څیز وی، (اللهم ارزقنا منه)

طيبة بها نفسه : په داسې طریقې سره زکوة ادا کوی، چه د ادا کولو په وخت کښې دننه زړۀ خوشاله وی، (یعنی په خوش دلئ سره)

رافدة عليه) په داسې حال کښې چه دهغه نفس په زکوة ادا کولو کښې دهغه اعانت کوی، رفد بمعنی اعانت، رفد يرفد از باب ضرب،

لا يعطى الهرمة ډیر زیات عمر والا بوډی، ولا الدرنة، درنة بمعنی جربا، خارښتی اوښه)

ولا الشرط اللئيمة شرط د شین او را دواړو په فتحې سره، رذائل المال، (کوټه مال)

[۱۵۸۳] (2) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مَنْصُورٍ، حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا أَبِي، عَنِ ابْنِ إِسْحَاقَ، قَالَ: حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي بَكْرٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ سَعْدِ بْنِ زُرَارَةَ، عَنْ عُمَارَةَ بْنِ عَمْرِو بْنِ حَزْمٍ، عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ، قَالَ: بَعَثَنِي النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُصَدِّقًا، فَمَرَرْتُ بِرَجُلٍ، فَلَمَّا جَمَعَ لِي مَالَهُ لَمْ أَجِدْ عَلَيْهِ فِيهِ إِلَّا ابْنَةَ مَخَاضٍ، فَقُلْتُ لَهُ: أَدِّ ابْنَةَ مَخَاضٍ فَإِنَّهَا صَدَقَتُكَ، فَقَالَ: ذَاكَ مَا لَا لَبَنَ فِيهِ وَلَا ظَهْرَ، وَلَكِنْ هَذِهِ نَاقَةٌ فَتِيَّةٌ عَظِيمَةٌ سَمِينَةٌ فَخُذْهَا، فَقُلْتُ لَهُ: مَا أَنَا بِآخِذٍ مَا لَمْ أُومَرْ بِهِ، وَهَذَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْكَ قَرِيبٌ، فَإِنْ أَحْبَبْتَ أَنْ تَأْتِيَهُ فَتَعْرِضَ عَلَيْهِ مَا عَرَضْتَ عَلَيَّ، فَافْعَلْ فَإِنْ قَبِلَهُ مِنْكَ قَبِلْتُهُ، وَإِنْ رَدَّهُ عَلَيْكَ رَدَدْتُهُ، قَالَ: فَإِنِّي فَاعِلٌ، فَخَرَجَ مَعِي وَخَرَجَ بِالنَّاقَةِ الَّتِي عَرَضَ عَلَيَّ حَتَّى قَدِمْنَا عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ لَهُ: يَا نَبِيَّ اللَّهِ، أَتَانِي رَسُولُكَ لِيَأْخُذَ مِنِّي صَدَقَةَ مَالِي وَايْمُ اللَّهِ مَا قَامَ فِي مَالِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَا رَسُولُهُ قَطُّ قَبْلَهُ، فَجَمَعْتُ لَهُ مَالِي فَزَعَمَ أَنَّ مَا عَلَيَّ فِيهِ ابْنَةُ مَخَاضٍ وَذَلِكَ مَا لَا لَبَنَ فِيهِ وَلَا ظَهْرَ، وَقَدْ عَرَضْتُ عَلَيْهِ نَاقَةً فَتِيَّةً عَظِيمَةً لِيَأْخُذَهَا فَأَبَى عَلَيَّ، وَهَا هِيَ ذِهْ قَدْ جِئْتُكَ بِهَا يَا رَسُولَ اللَّهِ خُذْهَا، فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "ذَاكَ الَّذِي عَلَيْكَ، فَإِنْ تَطَوَّعْتَ بِخَيْرٍ آجَرَكَ اللَّهُ فِيهِ وَقَبِلْنَاهُ مِنْكَ" قَالَ: فَهَا هِيَ ذِهْ يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَدْ جِئْتُكَ بِهَا فَخُذْهَا، قَالَ: "فَأَمَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِقَبْضِهَا وَدَعَا لَهُ فِي مَالِهِ بِالْبَرَكَةِ".

حضرت ابی ابن کعب رضی الله عنه بیان کوی چه رسول الله ﷺ مالره د صدقې (زکات) عامل جوړ کړو اووې لیږلم - زۀ یو کس ته ورغلم، کله چه هغه زما مخې ته خپل مال جمع کړو نو ما په هغه باندې صرف یو بنت مخاض (یو کلیزی مؤنث اوښه) واجب بیا مونده ما هغه ته اووې یو بنت مخاض راکړه، ستاسو هم دا زکات دې - هغه اووې : دا پیو والا نۀ ده، نۀ د سورلئ قابله ده ! ددې په ځائې باندې یوه ځوانه چاقه، تازه اوښه ده هغه بوځئ - ما هغه ته اووې د کومې چه ماته حکم نۀ دې شوې هغه زۀ څنګه اخستلې شم، او د الله رسول تاسو ته قریب

(1) مصنف د عبدالله بن سالم زمانه موندلې نه ده، عبدالله بن سالم په طبقه سابعه کښې دې، چه د کبار تبع تابعینو طبقه ده، لکه امام مالک، سفیان ثوری وغیره، والمصنف من الطبقة الحادي عشر، ددې وجې نه منذری وئیلې دی، چه دا حدیث منقطع دې، (عون المعبود)

(2): تفرد به أبو داود (تحفة الأشراف: ٧٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٤٢/٥) (حسن)

دي کۀ چرې غواړئ نو دَ هغوی ﷺ خدمت کښې حاضر شئ او کوم څۀ چه ماته راکوئ نو هغې لره بوځه او هغوی ته ئې پیش کړه کۀ هغوی قبوله کړه نو ماته هم قبوله ده کۀ هغوی ئې نامنظوره کړې نو زۀ ئې هم نۀ قبلوم : هغه اووې زۀ هم داسې کووم چنانچه هغه زما سره لاړو او هغه اوښې لره ئې هم دَ ځان سره بوتلله کومه چه هغۀ ماته راکوله تردې پورې چه مونږ دَ رسول الله په خدمت کښې حاضر شو - هغه حضور ﷺ ورته اووئیل : اې دَ الله نبی ! ستاسو نمائنده زما دَ مال دَ زکات دَ وصولولو دَ پاره ماته راغلې دې او قسم دې په الله باندې ! چه ددې نه وړاندې نۀ دَ الله رسول زما په مال کښې تشریف راوړې دې او نۀ دَ هغه نمائنده - لهذا ما ددۀ دَ پاره خپل مال جمع کړو نو دۀ اوؤئیل چه زما په مال کښې صرف یو بنت مخاض واجب ده، او ددې عمر څاروې نۀ پئ ورکوی او نۀ دَ سورلۍ قابله وی لهذا ما دوی ته یوه شانداره ځوانه تازه اوښه پیش کړه چه دې لره قبول کړی مګر هغه انکار اوکړو، او هغه داده -اې دَ الله رسوله ! هغې لره ما ستاسو په خدمت کښې راوستې ده نو تاسو ئې قبول اوفرمائئ، نو رسول الله ﷺ هغۀ ته اووې په تا باندې هم هغه فرض ده لیکن کۀ ته په خوشالۍ سره نیکی کول غواړې نو ددې به الله تعالیٰ تاته اجر او ثواب درکوی او مونږ به تانه دا قبله وو -" هغه اووې ما دې لره راوستې ده تاسو زما نه دا قبوله کړئ، چنانچه رسول الله ﷺ دَ هغې دَ وصولو حکم ورکړو او دَ هغه په مال کښې ئې دَ برکت دَ پاره دُعا اوفرمائیله -"

تشریح: قوله: عن ابی بن کعب رضی الله عنه قال بعثنی رسول الله(صلی الله علیه وسلم) مصدقا فمررت برجل فلما جمع لی ماله لم اجد علیه الخ ابی بن کعب رضی الله عنه د یو زکوة ورکونکی قصه بیانوی، چه ما هغه ته اوئیل چه په تا باندې صرف بنت مخاض واجب دې، هغه اوئیل چه بچې اوړولو سره به په دې څه اوکړې، نه د سورلۍ د کار دې، او نه د پیو، او اوګوره! دا ځوانه څربه اوښه ولاړه ده، دا واخله، ما اوئیل دا خو زۀ نشم اخستلې، د قاعدې خلاف دی، وهذا رسول الله(صلی الله علیه وسلم) منک قریب، دلته کښې نزدې رسول الله ﷺ مقیم او تشریف فرما دې،(په ظاهر کښې د رسول الله ﷺ د یو سفر قصه ده، د نبی کریم ﷺ قیام چه کوم ځائې وو کیدې شی چه دهغې سرې زمکه هغه ځائې سره نزدې وه) نو هغه ته لاړ شه او اجازت واخله، کۀ نبی کریم ﷺ اجازت درکړی، نو زۀ به هم دا واخلم. الی آخر القصة.

[۱۵۸۳](١) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، حَدَّثَنَا زَكَرِيَّا بْنُ إِسْحَاقَ الْمَكِّيُّ، عَنْ يَحْيَى بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ صَيْفِيٍّ، عَنْ أَبِي مَعْبَدٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ مُعَاذًا إِلَى الْيَمَنِ، فَقَالَ: "إِنَّكَ تَأْتِي قَوْمًا أَهْلَ كِتَابٍ، فَادْعُهُمْ إِلَى شَهَادَةِ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَنِّي رَسُولُ اللَّهِ، فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوكَ لِذَلِكَ فَأَعْلِمْهُمْ أَنَّ اللَّهَ افْتَرَضَ عَلَيْهِمْ خَمْسَ صَلَوَاتٍ فِي كُلِّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ، فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوكَ لِذَلِكَ، فَأَعْلِمْهُمْ أَنَّ اللَّهَ افْتَرَضَ عَلَيْهِمْ صَدَقَةً

[1] : صحيح البخاري/الزكاة ١(١٣٩٥)، ٤١(١٤٥٨)، ٦٣(١٤٩٦)، المظالم ٩(٢٤٤٨)، المغازي ٦٠(٤٣٤٧)، التوحيد ١(٧٣٧٢)، صحيح مسلم/الإيمان ٧(١٩)، سنن الترمذي/الزكاة ٦(٦٢٥)، والبر والصلة ٦٨(٢٠١٤)، سنن النسائي/الزكاة ١(٢٤٣٧)، ٤٦(٢٥٢٣)، سنن ابن ماجه/الزكاة ١(١٧٨٣)،(تحفة الأشراف :٦٥١١)، وقد أخرجه: مسند احمد(٢٣٣/١)، سنن الدارمي/الزكاة ١(١٦٥٥)(صحيح)

فِي أَمْوَالِهِمْ تُؤْخَذُ مِنْ أَغْنِيَائِهِمْ وَتُرَدُّ عَلَى فُقَرَائِهِمْ، فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوكَ لِذَلِكَ فَإِيَّاكَ وَكَرَائِمَ أَمْوَالِهِمْ وَاتَّقِ دَعْوَةَ الْمَظْلُومِ فَإِنَّهَا لَيْسَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ اللهِ حِجَابٌ".

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه منقول دی چه رسول الله ﷺ حضرت معاذ رضي الله عنه لره یمن ته اولیږلو اووې فرمائیل : تهٔ داسې قوم طرف ته ځې چې هغه اهل کتاب دی، هغوی لره شهادت توحید (لااله الا الله) طرف ته او دې (شهادت) طرف ته چه زهٔ دَ الله رسول یم، راوبله -کهٔ چرې هغوی ستا دا خبره تسلیم کړی، نو هغوی ته اوښایه چه الله تعالیٰ په هغوی باندې په هر ورځ او شپه کښې پنځهٔ مونځونه فرض کړې دی -کهٔ چې هغوی دا هم اومنی نو هغوی ته اوښایه چه دَ هغوی په مالونو کښې ئې زکات فرض کړې دې، چه دا به دَهغوی دَ اغنیاؤ نه اخستلې شی اودَهغوی په فقیرانو کښې به تقسیمولې شی.- کهٔ چرې هغوی دا خبره اومنی نو دَ هغوی دَ عمده مالونو نه پرهیز کوه او دَ مظلوم دَ بد دُعا نه ځان بچ ساته، بې شکه دَ مظلوم دَ بددُعا او دَ الله تعالیٰ په مینځ کښې هیڅ پرده نهٔ وی-"

تشریح: قوله:عن ابن عباس ان رسول الله(صلی الله علیه وسلم) بعث معاذ الی الیمن دا هم هغه حدیث دې، چه یوه حصه ئې مخکښې تیره شوې ده، او هم هلته کښې ددې حدیث تخریج وغیره هم بیان شوې دې.

فقال انک تاتی قوما اهل کتاب : هلته کښې زیات تر یهود او نصاری وو، مشرکان هم وو، لیکن د اهل کتاب تخصیص د مشرکینو په مقابله کښې یا خو تفضیلا دې، یا تغلیبا، اهل کتاب تعلیم یافته وو، د مشرکین عرب پشان جاهل او امیان نه وو، ددې وجې نه نبی کریم ﷺ حضرت معاذ رضي الله عنه ته هدایت اوفرمایه، چه کوم ځائی ته تهٔ ځې، دهغه ځائې خلقو سره دهغوی د حال مطابق خبره کوه، اولا هغوی ته د توحید دعوت ورکړه.(دابطال تثلیث او عزیز(علیه السلام) لره د الله تعالی ځوې منلو نه ئې منع کړه) او د محمد ﷺ د رسالت اقرار کولو دعوت ورکړه.

فان هم اطاعوک لذالک فاعلمهم ان الله افترض علیهم خمس صلوات پس که هغوی په شهادتین سره ستا خبره قبوله کړی، او په اسلام کښې داخل شی، نو بیا دهغوی مخښې ته د اسلام ارکان کیګده،(مخکښې د صلوات خمسه او د زکوة ذکر دې) په دې حدیث کښې د زکوة فرضیت بیانولو نه پس ساعی ته خاص طور باندې دا هدایت کړې شوې دې، چه هغه دې د خلقو د کرائم اموال(عمده مال) نه نه اخلی، بلکه متوسط دې اخلی، او د مظلوم د دعاء نه دې ځان ساتی.

هل الکفار مخاطبون بالفروع

په دې حدیث کښې یو مشهور اصولی اختلافی مسئلې طرف ته اشاره ملاویږی، چه هغې لره به تاسو د ټولو نه مخکښې غالبا په نور الانوار کښې لوستلې وی، هغه داچه کافران د فروع شریعت مکلف دی او که نه؟ نو په هغې کښې ئې دا لیکلې دی، چه په دې خو د ټولو اتفاق دې، چه کافران د ایمان، عقوبات(حدود و قصاص وغیره) دغه شان معاملات(بیع، شراء، اجاره او نکاح وغیره) ددې ټولو ځیزونو په دنیا کښې مکلف دی،(سوی الخمر

والخنزیر فانهما مباحان لهم لالنا کما ورد فی الحدیث) البته په شرائع یعنی عبادات کښې لږ تفصیل او اختلاف دې، هغه داچه په دې خو د ټولو اتفاق دې، چه کافران د عباداتو د مؤاخذه اخرویه په اعتبار سره مکلف دی، نو کافر ته به په آخرت کښې عذاب لکه څرنګه چه په ترک ایمان باندې وی، دغه شان به ورته په ترک اعتقاد صلوة باندې هم وی، لیکن په دې کښې اختلاف دې، چه کافران د مونځ وغیره د اداء فی الدنیا په اعتبار سره هم مکلف دی، او که نه؟ نو مشائخ عراق په دې اعتبار سره هم کافران مکلف ګڼړی، او هم دا مذهب د امام شافعی رحمه الله دې، یعنی کافر په دنیا کښې ددې خبرې مکلف دې، چه اول به هغه اسلام راوړی، او بیا به مونځ ادا کوی، او که هغه داسې اونه کړل، نو هغه ته به په دې دواړو څیزونو (ترک ایمان و ترک اداء صلوة) باندې عقاب وی، لیکن صحیح عند الحنفیه داده، (او هم دا د مشائخ ماوراء النهر مسلک دې) چه کافران د عباداتو د اداء فی الدنیا په اعتبار سره مکلف نه دی، لهذا کافر ته به په آخرت کښې عقاب صرف په ترک اعتقاد صلوة باندې وی، په ترک اداء به ورته نه وی، ځکه چه هغه د اداء فی الدنیا مکلف نه دې، او په دلیل کښې صاحب د نورالانوار هم دا حدیث معاذ رضی الله عنه پیش کړې دې، ځکه چه په دې کښې دا دی، چه هر کله هغه د شهادتین اقرار اوکړی، نو بیا هله هغوی ته اوایه، چه په اسلام کښې دا دا څیزونه فرض دی، معلومه شوه، چه که هغوی اسلام قبول نه کړی، نو بیا هغوی ته دا فرائض کیخودل هم نشته، او هغوی ددې مخاطب هم نه دی.

د حدیث الباب نه په استدلال کښې اشکال :

لیکن په دې استدلال باندې اشکال دې، هغه داچه ددې حدیث نه مقصود نفس فرائض لره بیانول نه دی، چه فلانې فلانې څیزونه فرض دی، په دې کښې د دعوة الی الاسلام طریقه ذکر ده، چه هغوی ته د ایمان او احکام اسلام دعوت درجه په درجه ورکړه، دفعة (په یو ځل) ټول تکلیفات دهغوی مخښې ته مۀ ایږده، ځکه چه دا صورت بعضې وختونو کښې د قبلولو نه مانع جوړیږی، لهذا بتدریج او په ترتیب سره هغوی ته دعوت ورکول پکار دی، لکه مخکښې په حدیث کښې دا دی، چه کله هغوی مونځ قبول کړی، نو بیا د زکوة مسئله دهغوی مخښې ته کیږده، نو آیا د زکوة مکلف سړې د مانځه نه پس کیږی؟ (افاده السندی علی النسائی) او امام نووی رحمه الله ددې دویم جواب ورکړې دې، هغه داچه په دې حدیث کښې د صلوة ترتب په ایمان باندې په اعتبار د اداء صلوة دې، نه په اعتبار د نفس وجوب صلوة ځکه چه اداء صلوة بغیر د ایمان نه بالاتفاق صحیح نه دې، بهرحال په دې استدلال باندې اشکال دې، چه معقول اشکال دې، اګر چه زمونږ بعضو علماؤ ددې جواب هم ورکړې دې، لکه صاحب لمعات لیکلې دی، چه په دې حدیث کښې د ایمان نه پس د صلوة او زکوة په مینځ کښې ترتیب د اهمیت صلوة د وجې نه دې، دهغوی الفاظ دادی، واما تقدیم الاعلام بالصلوت قبل الاعلام بالزکوة فلفضلها علی سائر الاعمال لا لاشتراطها بها (هامش ابن ماجه ص۱۲۷)

په دې مسئله کښې لکه څرنګه چه د احنافو په نزد دوه اقوال دی، (د مشائخ عراق او د مشائخ ماوراء النهر اختلاف) دغه شان په شوافع کښې هم، کما صرح به النووی ونقله عنه

العینی، او صاحب منهل خو د شافعیه، حنفیه او حنابله درې واړو مسلک یو لیکلې دې، یعنی عدم تکلیف، او د مالکیه او مشائخ عراق مسلک ئې مکلف کیدل لیکلې دې، والله تعالی اعلم بالصواب.

قوله: توخذ من اغنیاءهم و ترد فی فقرائهم :(کوم ځائې ته چه ته ځې یعنی یمن ته) د هغه ځائې د اغنیاؤ نه زکوٰة واخله او دهغې ځائی فقیرانو ته ئې ورکړه، دویم احتمال ددې په شرح کښې دادې، چه دا دواړه ضمیرونه مسلمین طرف ته راجع دی، یعنی د اغنیاء د مسلمین نه زکوٰة واخله، او فقراء د مسلمین ته ئې ورکړه، ګویا عامه ضابطه بیانوی، د اهل یمن خصوصیت نه دې. صرف په اول صورت کښې به د حدیث په ظاهر کښې تقاضا دا وی، چه زکوٰة د یو ښهر به بل ښهر ته نه منتقل کیږی، او که احتمال ثانی واخستلې شی، نو بیا حدیث ددې برعکس د نقل جواز طرف ته اشاره کیدې شی.

د نقل زکوٰة مسئله مع اختلاف ائمه:

په دې مسئله مخکښې مصنف یو مستقل باب قائم کړې دې، باب فی الزکوٰة تحمل من بلد الی بلد، دا مسئله د علماؤ په مینځ کښې اختلافی ده، جمهور علماء او ائمه ثلثه د عدم جواز نقل قائل دی، پس که چا منتقل کړو، نو د اصح قول مطابق د امام مالک رحمه الله په نزد به جائز وی، او د امام شافعی رحمه الله په نزد به جائز نه وی، علی الاصح الا داچه په هغه ځائې کښې مستحقین زکوٰة موجود نه وی، او ابن قدامه د حنابله نه دوه روایتونه نقل کړی دی، (۱) او د احنافو په نزد بغیر د ضرورت او مصلحت نه نقل کول مکروه دی، پس که مصلحت د نقل کولو ددې وجه نه وی چه هلته کښې احتیاج زیات دې، یا قرابت او رشته داری ده، یا اصلح، اورع او انفع للمسلمین طرف ته ئې زکوٰة منتقل کړو، نو بیا کراهت نشته.

امام بخاری رحمه الله چه کوم ترجمة الباب دې مسئلې باره کښې قائم کړې دې، دهغې نه په ظاهر کښې د احنافو د مسلک تائید معلومیږی، باب اخذ الصدقة من الاغنیاء و ترد فی الفقراء حیث کان، یعنی د مالدارو نه به زکوٰة اخستلې شی او فقیرانو ته به ورکولې شی، چه کوم ځائې هم موجود وی، هم دا مسلک لیث بن سعد او ابن المنذر شافعی اختیار کړې دې. او یو قول د امام شافعی رحمه الله هم دې، او بقول ابن المنیر شارح بخاری د امام بخاری رحمه الله هم دا مسلک دې، او حافظ صاحب داسې وائې چه په ظاهر کښې د مصنف مراد دادې، چه که په هغې ښهر کښې فقیران نه وو، (د کوم ځائې د مالدارو نه چه زکوٰة اخستلې شوې دې) نو بیا کوم ځائې چه هم فقیران وی، هلته کښې به لیږلې شی، هم دا مسلک د امام شافعی رحمه الله دې، عرض داچه حافظ صاحب دا نه غواړی، چه ترجمة البخاری د احنافو موافق شی.

په لامع الدراری ۲ص۱۷۳ کښې د حضرت ګنګوهی ارشاد د حدیث معاذ رضی الله عنه د ترجمة البخاری سره مطابقت په ذیل کښې منقول دې، چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم حضرت معاذ رضی الله عنه لره اهل کتاب ته لیږلې وو، لکه چه په حدیث کښې تصریح ده، لهذا دا ضمیرونه به اهل کتاب

---

(۱) هغوی اصل مسئله بیانولو سره دا هم اوفرمائیل: چه د امام احمد رحمه الله په نزد د یو ځائی زکوٰة بل ځائی ته چه په مسافة قصر باندې واقع وی، هلته کښې اوړل ناجائز دی، یعنی د مسافت قصر تصریح ده)

طرف ته راجع وی، یعنی دهغې اهل کتابو نه(بعد اسلامهم) دهغوی زکوة واخله، او هم په هغې اهل کتابو ئې رد کړه، او ظاهره ده چه هغه اهل کتاب صرف په يو ښهر يا به يو کلی کښې نه وو، بلکه مختلف ځایونو کښې وو، لهذا ددې نه هم عموم راؤتلو، ددې حدیث نه شارحینو نور مسائل د زکوة هم مستنبط کړې دی، چه دهغې په ذکر کولو کښې تطویل دې، او نه استیعاب مقصود دې.

[۱۵۸۵](1) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ، عَنْ سَعْدِ بْنِ سِنَانٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "الْمُعْتَدِي فِي الصَّدَقَةِ كَمَانِعِهَا".

حضرت انس رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل: " د زکات په وصولولو کښې زیاتی کوونکې داسې دې لکه زکات نهٔ ورکوونکې ."

تشریح: قوله:ان رسول الله(صلی الله علیه وسلم) قال المعتدی فی الصدقة کمانعها

شرح حدیث :

زکوة ورکولو کښې يا اخستلو کښې د حد نه تجاوز کونکې پشان دهغه سړی دې، چه زکوة منع کونکې وی، دا حدیث د مزکی او ساعی دواړو سره متعلق کیدې شی، لکه چه د ترجمې نه ظاهره ده،د مزکی دحد نه تجاوزکول دادی، چه غیرمستحق ته زکوة ورکړی، یا کم زکوة ورکړی پوره ئې ادا نه کړی، یا زکوة ورکولو سره احسان ضباطی، او تکلیف رسوی، یا د مقدار واجب نه ډیر زیات ورکړی، چه هغې سره اهل عیال پریشانه شی.
او د ساعی د حد نه تجاوز کول دادی، چه په زکوة کښې د متوسط مال په ځائی اعلی درجه مال وصول کړی، یا د مقدار واجبه نه ظلما زیات واخلی، ځکه په دې صورت کښې کیدې شی چه آئنده کال مالک زکوة ورنکړی، او خپل ټول مال یا بعضې مال پټ کړی، نو چونکه دا ساعی د زکوة د منع کولو سبب جوړ شو، ددې وجې نه دهٔ لره مانع زکوة یعنی د زکوة نه منع کونکې اوګرزولې کړې شو، الحمد لله د باب په احادیثو باندې کلام پوره شو.

بَابُ رِضَا الْمُصَدِّقِ

باب: ۶-دَتحصیلدار زکات دَ راضی کولو بیان

مصدق یعنی ساعی لره راضی کول، یعنی د طلب موافق هغه ته زکوة ورکول، امام نووی رحمه الله د صحیح مسلم په شرح کښې په دې باندې باب قائم کړې دې، باب ارضاء السعاة، دا ترجمه زیاته واضحه ده،

[۱۵۸۶](2) حَدَّثَنَا مَهْدِيُّ بْنُ حَفْصٍ، وَمُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدٍ، الْمَعْنَى قَالَا: حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ رَجُلٍ يُقَالُ لَهُ: دَيْسَمٌ، وَقَالَ ابْنُ عُبَيْدٍ، مِنْ بَنِي سَدُوسٍ، عَنْ بَشِيرِ ابْنِ الْخَصَاصِيَّةِ، قَالَ ابْنُ عُبَيْدٍ فِي حَدِيثِهِ: وَمَا كَانَ اسْمُهُ بَشِيرًا، وَلَكِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَمَّاهُ بَشِيرًا، قَالَ: قُلْنَا: إِنَّ أَهْلَ الصَّدَقَةِ يَعْتَدُونَ عَلَيْنَا، أَفَنَكْتُمُ مِنْ أَمْوَالِنَا بِقَدْرِ مَا يَعْتَدُونَ عَلَيْنَا، فَقَالَ: "لَا".

(1): سنن الترمذي/الزكاة ١٩(٦٤٦)، سنن ابن ماجه/الزكاة ١٤(١٨٠٨)، (تحفة الأشراف:٨٤٧)(حسن)
(2): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٢٠٢٢)، وقد أخرجه: مسند احمد(٨٤/٥)(ضعيف)

حضرت بشیر ابن الخصاصیه رضی الله عنه روایت کوي - ابن عبید په خپل روایت کښې وائي چه ددهٔ نوم مخکښې بشیر نهٔ وو بلکې ددهٔ دا نوم رسول الله صلی الله علیه وسلم ایخي وو - هغه بیان کوي چه مونږ اووې : عمال(اهل) صدقه په مونږ بالدې زیاتې کوي، نو آیا څومره قدرې چه هغه زیاتي کوي مونږ هغه هومره مال پټه وو؟ هغوی اوفرمائیل : نهٔ -

د باب په اول حدیث کښې چه د حضرت بشیر بن الخصاصیه نه روایت دې، دادی، چه بعضو صحابه کرامو نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته عرض اوکړو، چه بعضې عاملان په زکوة اخستلو کښې په مونږ ظلم کوی، نو آیا هغوی چه څومره په مونږ زیاتې کوی، دهغې په اندازه مونږ خپل مال پټولې شو، نبی کریم صلی الله علیه وسلم هغوی لره ددې نه منع کړل.

[۱۵۸۷]([1]) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، وَيَحْيَى بْنُ مُوسَى، قَالَا: حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنْ أَيُّوبَ بِإِسْنَادِهِ وَمَعْنَاهُ، إِلَّا أَنَّهُ قَالَ: قُلْنَا: يَارَسُولَ اللَّهِ، إِنَّ أَصْحَابَ الصَّدَقَةِ يَعْتَدُونَ. قَالَ أَبُو دَاوُد: رَفَعَهُ عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنْ مَعْمَرٍ.

ایوب په خپل سند سره د مذکوره بالا حدیث هم معنیٰ روایت کړې دې - البته هغوی وئیلي دی چه مونږ اووې اې دَ الله رسوله ! دَ زکات وصولولو والا کارنده ګان زیاتي کوی - امام ابو داود رحمه الله فرمائی : دې روایت لره عبد الرزاق دَ معمر نه مرفوع روایت کړې دې -

[۱۵۸۸]([2]) حَدَّثَنَا عَبَّاسُ بْنُ عَبْدِ الْعَظِيمِ، وَمُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، قَالَا: حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ عُمَرَ، عَنْ أَبِي الْغُصْنِ، عَنْ صَخْرِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ جَابِرِ بْنِ عَتِيكٍ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "سَيَأْتِيكُمْ رُكَيْبٌ مُبْغَضُونَ، فَإِنْ جَاءُوكُمْ فَرَحِّبُوا بِهِمْ وَخَلُّوا بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ مَا يَبْتَغُونَ، فَإِنْ عَدَلُوا فَلِأَنْفُسِهِمْ وَإِنْ ظَلَمُوا فَعَلَيْهَا، وَأَرْضُوهُمْ فَإِنَّ تَمَامَ زَكَاتِكُمْ رِضَاهُمْ وَلْيَدْعُوا لَكُمْ". قَالَ أَبُو دَاوُد: أَبُو الْغُصْنِ هُوَ ثَابِتُ بْنُ قَيْسِ بْنِ غُصْنٍ.

عبد الرحمن بن جابر عتیک د خپل پلار نه روایت کوی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل "قریبه ده چه تاسو ته به ناخوښه خلق راځي - کله چه هغوی تاسو ته راشي نو هغوی ته خوش آمدید وائئ او دَ هغوی او کوم څهٔ چه هغوی اخستل غواړي دَ هغې په درمیان کښې خلل مهٔ اچوئ، کهٔ چرې هغوی عدل او انصاف اوکړو نو هغوی ته به ددې اجر او ثواب ملاویږي او کهٔ ظلم ئې اوکړو نو هغوی به ددې وبال اوچتوی - تاسو هغوی لره راضی ساتئ، بې شکه ستاسو دَ زکات تکمیل دَ هغوی په راضي کولو کښې دې او هغوی لره پکار دی چه ستاسو دَ پاره دعائې خیر کوی -" امام ابوداود رحمه الله فرمائی: دَ ابو الغصن نه مراد ثابت بن قیس بن غصن دې.

دویم حدیث دادې، چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل : سیاتیکم رب مبعضون، تاسو ته به داسې قافلې راشي، چه ستاسو په نزد به مبغوض وی، یعنی هغوی سره به ستاسو بغض او عداوت وی، لیکن د(مبغوض کیدلو باوجود) چه کله هغوی راشي، نو هغوی ته مرحبا اوایئ، دهغوی په راتلو د خوشالئ اظهار اوکړئ، او دکوم مال د زکوة اخستلو دپاره چه راغلي وی، هغې لره دهغه مخښې ته کړئ، دې دپاره چه په هغې کښې څومره زکوة کیږي هغه واخلي.

[1]: انظر ما قبله،(تحفة الأشراف:۲۰۲۲)(ضعیف)

[2]: تفرد به أبو داود،(تحفة الأشراف:۳۱۷۵)(ضعیف)

شرح حدیث :

زکوة وصولونکي ته ئي مبغوض ځکه اوئیل چه هغه د انسان نه داسې څیزونه اخستلو دپاره راځی، چه هغه ته طبعا محبوب دې، یعنی مال، نو ګویا دغه خلق په دې اعتبار سره مبغوض دی، او دا مطلب نه دې، چه هغوی شرعا هم قابل بغض دی، ځکه چه شرعا مبغوض خو هغه وخت کښې کیدې شی، چه کله هغوی واقعی په زکوة اخستلو کښې ظلم او زیاتې اوکړی، او دلته کښې دا خبره نشته، ځکه چه دا د هغې عاملانو باره کښې وئیلې کیږی، چه د نبی کریم ﷺ په زمانه کښې وو، او ظاهره ده، چه هغوی ظلم نشی کولې، او بعضې شارحینو دې حدیث لره په هره زمانه کښې عام منلې دې، او ظلم لره ئي ددې په ظاهر باندې حمل کولو سره دا وئیلې دی، چه نبی کریم ﷺ باوجود د ظلم نه د پوره زکوة ورکولو حکم ددې وجې نه فرمائیلې دې، چه پوره نه ورکولو کښې د سلطان مخالفت دې، ځکه چه عامل دهغه نائب وی، او د سلطان په مخالفت کښې فتنه ده، لیکن دې لره رد کړې شوې دې، چه که دا خبره وې، نو نبی کریم ﷺ به د ظلم نه بچ کیدو دپاره د کتمان مال اجازت ورکړې وو، او په دې صورت کښې به مخالفت هم نه راتلو، حالانکه نبی کریم ﷺ د مال مالکانو ته د کتمان اجازت ورنکړو.

تنبیه : د باب زکوة السائمة په شروع کښې یو حدیث تیر شوې دې، په هغې کښې دا وو، فمن سئلها من المسلمین علی وجهها فلیعطها و من سئل فوقها فلا یعطه، حدیث الباب په ظاهر کښې ددې خلاف دې، دا اشکال او ددې جواب هلته کښې تیر شوې دې.

[۱۵۸۹] (¹) حَدَّثَنَا أَبُو كَامِلٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ يَعْنِي ابْنَ زِيَادٍ. ح وحَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحِيمِ بْنُ سُلَيْمَانَ، وَهَذَا حَدِيثُ أَبِي كَامِلٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ أَبِي إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ هِلَالٍ الْعَبْسِيُّ، عَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: جَاءَ نَاسٌ، يَعْنِي مِنَ الْأَعْرَابِ، إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالُوا: إِنَّ نَاسًا مِنَ الْمُصَدِّقِينَ يَأْتُونَا فَيَظْلِمُونَا، قَالَ: فَقَالَ: "أَرْضُوا مُصَدِّقِيكُمْ" قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، وَإِنْ ظَلَمُونَا؟ قَالَ: "أَرْضُوا مُصَدِّقِيكُمْ". زَادَ عُثْمَانُ: وَإِنْ ظُلِمْتُمْ. قَالَ أَبُو كَامِلٍ فِي حَدِيثِهِ: قَالَ جَرِيرٌ: مَا صَدَرَ عَنِّي مُصَدِّقٌ بَعْدَ مَا سَمِعْتُ هَذَا مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَّا وَهُوَ عَنِّي رَاضٍ.

د حضرت جریر بن عبد الله نه روایت دې چه رسول الله ﷺ ته څو د باندې اوسیدونکی راغلل او هغوی اووې : بعض عمال مونږ ته راځی او په مونږ باندې ظلم کوی - حضور ﷺ اوفرمائیل : د خپلو صدقو وصولولو والا راضئ کړئ -" هغوی اووې اې د الله رسوله ! اګر چه هغوی په مونږ باندې ظلم کوی؟ حضور ﷺ اوفرمائیل د خپلو صدقو اصولولو والا راضی کړئ -" عثمان (بن ابی شیبه) اضافه کړې ده - اګر چه په تاسو باندې ظلم اوکړې شی -" ابو کامل په خپل حدیث کښې بیان کړې دی - جریر اووې ددې فرمان نبوی ﷺ د اوریدو نه ورستو عامل همیشه زما نه راضی شوې دې -"

¹): صحیح مسلم/الزکاة ٥٥(٩٨٩)، سنن النسائي/الزکاة ١٤(٢٤٦٢)،(تحفة الأشراف :٣٢١٨)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الزکاة ٢٠(٦٤٧)، سنن ابن ماجه/الزکاة ١١(١٨٠٢)، مسند احمد(٣٦٢/٤)، سنن الدارمي/الزکاة ٣٢(١٧١٢)(صحیح)

بَابُ دُعَاءِ الْمُصَدِّقِ لِأَهْلِ الصَّدَقَةِ

باب: ۷- دَ مصدق(دَ زکات وصولوونکی) زکات ورکوونکو خلقو ته دُعا کول-

د نبی کریم ﷺ معمول شریف وو، چه کوم سړی به دهغوی په خدمت کښې خپل زکوٰة حاضر کړو، نو هغه ته به ئې دعا فرمائیله. د فقهې په کتابونو کښې هم د متصدق په حق کښې دعاء لره ئې مستحب لیکلې ده، فقهاؤ لیکلې دی، چه دعاء د دواړو په حق کښې مستحب ده، مزکی دې په وخت د اداء کولو دا اوائی: اللهم اجعلها مغنما و لا تجعلها مغرما، او ساعی لره دا وئیل پکار دی: آجرک الله فیما اعطیت و بارک لک فیما ابقیت و جعله لک طهورا، په دې کښې اوله دعا امام ابن ماجه په خپل سنن کښې د ابوهریره رضي الله عنه په روایت سره مرفوعا ذکر کړې ده، او دویمه دعاء چه ساعی لره وئیل پکار ده، هغه دلته په حدیث الباب کښې داسې ده، اللهم صل علی آلِ فلان، امام بخاری رحمه الله هم په دې باندې مستقل باب قائم کړې دې، باب صلوة الامام و دعائه لصاحب الصدقة، او بیا په هغې کښې امام بخاری هم دا د ابن ابی اوفی رضي الله عنه حدیث ذکر کړې دې.

[۱۵۹۰]([1]) حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ النَّمَرِيُّ، وَأَبُو الْوَلِيدِ الطَّيَالِسِيُّ، قَالَا: حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي أَوْفَى، قَالَ: كَانَ أَبِي مِنْ أَصْحَابِ الشَّجَرَةِ، وَكَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَتَاهُ قَوْمٌ بِصَدَقَتِهِمْ، قَالَ: "اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى آلِ فُلَانٍ" قَالَ: فَأَتَاهُ أَبِي بِصَدَقَتِهِ، فَقَالَ: "اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى آلِ أَبِي أَوْفَى".

حضرت عبد الله بن ابی اوفی رضي الله عنه بیان کوی چه زما پلار د هغه خلقو نه وو کومو چه(د بیعت رضوان په موقع باندې) دَ اونې نه لاندې بیعت کړې وو او نبی کریم ﷺ ته به چه کوم قوم هم زکات راوړلو او راتللو به نو حضور ﷺ به هغوی ته دا دُعا کووله: [«اللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی آلِ فُلَانٍ»] " اې الله! په آلِ فلان باندې خپل رحمت نازل اوفرمایه -(او هغوی کښې برکت پیدا کړې -) زما پلار هم خپل زکات واخستو او دَ حضور ﷺ په خدمت کښې حاضر شو نو حضور ﷺ اوفرمائیل: [«اللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی آلِ أَبِي أَوْفٰی»] " اې الله په آلِ ابی اوفیٰ باندې خپل رحمت نازل کړې -"(او هغوی ته برکت ورکړې) -

شرح حدیث:

قوله: عن عبدالله بن ابی اوفی قال کان ابی من اصحاب الشجرة الخ: عبدالله بن ابی اوفی فرمائي: چه زما والد یعنی ابواوفی(دهغه نوم علقمة بن خالد دې) د اصحاب الشجرة نه وو، هغه یو ځل د نبی کریم ﷺ په خدمت کښې زکوٰة راؤړولو حاضر شو، نو نبی کریم ﷺ حسب معمول هغه ته په دعاء کښې داسې اوفرمائیل: اللهم صل علی آل ابی اوفی، دلته کښې لفظ آل(مقحم) زائد دې، کله کله دې لره زیاتې کولې شی، لکه نبی کریم ﷺ یو ځل د ابوموسی اشعری رضي الله عنه قراءة واؤریدو، نو وې فرمائیل، لقد اوتی مزمارا من مزامیر آل داؤد، دلته کښې هم

[1]: صحیح البخاري/الزكاة ٦٤(١٤٩٧)، المغازي ٣٥(٤١٦٦)، الدعوات ١٩(٦٣٣٢)، ٣٣(٦٣٥٩)، صحیح مسلم/الزكاة ٥٤(١٠٧٨)، سنن النسائي/الزكاة ١٣(٢٤٦١)، سنن ابن ماجه/الزكاة ٨(١٧٩٦)، (تحفة الأشراف: ٥١٧٦)، وقد أخرجه: مسند احمد(٣٥٣/٤، ٣٥٤، ٣٥٥، ٣٨١، ٣٨٣)(صحیح)

لفظ آل زائد دې، ځکه چه خوش آوازی د کومې چه نبی کریم ﷺ صفت فرمائیلو . هغه خپله داوٗد (علیه السلام) ته حاصل وه، شارحینو دا هم لیکلی دی، چه دغه شان د لفظ آل زیاتوالې د یو جلیل القدر سړی په حق کښې کولې شي.

اصحاب الشجرة هغه صحابه کرام دی، چه په بیعة الرضوان کښې شریک وو، بیعة الرضوان د مشهور بیعت نوم دې، چه په مقام حدیبیه کښې په ۲ هـ کښې تحت الشجرة شوې وو، ددې باره کښې په قرآن مجید کښې دی،آیت: [لَقَدْ رَضِيَ اللهُ عَنِ الْمُؤْمِنِيْنَ إِذْ يُبَايِعُوْنَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ] الآیة، په ظاهر کښې ددې آیت په وجه دې ته بیعت رضوان وئیلې شي.

په دې حدیث کښې د صلوٰة استعمال په غیر نبی باندې استقلالا دې، چه د جمهورو په نزد د امت په حق کښې ممنوع دې، ددې پوره بحث د کتاب الصلوٰة په آخر کښې باب الصلوٰة علی غیر النبی کښې تیر شوې دې.

بَاب تَفْسِيرِ أَسْنَانِ الْإِبِلِ[۱]

باب: ۸- د اوښ د غاښونو (د هغې د عمرونو) تفصیل-

په دې باب باندې زهٔ وایم، چه دلته په سنن ابوداوٗد یعنی د حدیث په کتاب کښې د قاموس یو باب راغلې دې، امام ابوداوٗد رحمه الله د لوستونکو د آسانتیا دپاره د زکوٰة الابل په احادیثو کښې چه څومره مختلف او عجیبه عجیبه نومونه راغلې دی، دهغې ټولو تشریح ئې یو ځائې بیان کړې ده، دې دپاره چه د لغت کتابونو ته رجوع کول نه وی، جزاه الله عنا احسن الجزاء.

اسنان د سن جمع ده، په معنی د عمر، او د سن معنی غاښ هم راځی، په اصل کښې د څاروؤ د عمر پته دهغوی په غاښونو سره لګی، لهذا په دواړو معنو کښې مناسبت ظاهر دې.

قَالَ أَبُو دَاوُد: سَمِعْتُهُ مِنَ الرِّيَاشِيِّ، وَأَبِي حَاتِمٍ، وَغَيْرِهِمَا، وَمِنْ كِتَابِ النَّضْرِ بْنِ شُمَيْلٍ، وَمِنْ كِتَابِ أَبِي عُبَيْدٍ، وَرُبَّمَا ذَكَرَ أَحَدُهُمُ الْكَلِمَةَ، قَالُوا: يُسَمَّى الْحُوَارُ، ثُمَّ الْفَصِيلُ إِذَا فَصَلَ، ثُمَّ تَكُونُ بِنْتَ مَخَاضٍ لِسَنَةٍ إِلَى تَمَامِ سَنَتَيْنِ، فَإِذَا دَخَلَتْ فِي الثَّالِثَةِ فَهِيَ ابْنَةُ لَبُونٍ، فَإِذَا تَمَّتْ لَهُ ثَلَاثُ سِنِينَ فَهُوَ حِقٌّ، وَحِقَّةٌ إِلَى تَمَامِ أَرْبَعِ سِنِينَ لِأَنَّهَا اسْتَحَقَّتْ أَنْ تُرْكَبَ وَيُحْمَلَ عَلَيْهَا الْفَحْلُ وَهِيَ تَلْقَحُ، وَلَا يُلْقِحُ الذَّكَرُ حَتَّى يُثَنِّيَ، وَيُقَالُ لِلْحِقَّةِ: طَرُوقَةُ الْفَحْلِ لِأَنَّ الْفَحْلَ يَطْرُقُهَا إِلَى تَمَامِ أَرْبَعِ سِنِينَ، فَإِذَا طَعَنَتْ فِي الْخَامِسَةِ فَهِيَ جَذَعَةٌ حَتَّى يَتِمَّ لَهَا خَمْسُ سِنِينَ، فَإِذَا دَخَلَتْ فِي السَّادِسَةِ وَأَلْقَى ثَنِيَّتَهُ فَهُوَ حِينَئِذٍ ثَنِيٌّ حَتَّى يَسْتَكْمِلَ سِتًّا، فَإِذَا طَعَنَ فِي السَّابِعَةِ سُمِّيَ الذَّكَرُ رَبَاعِيًا وَالْأُنْثَى رَبَاعِيَةً إِلَى تَمَامِ السَّابِعَةِ، فَإِذَا دَخَلَ فِي الثَّامِنَةِ وَأَلْقَى السِّنَّ السَّدِيسَ الَّذِي بَعْدَ الرَّبَاعِيَةِ فَهُوَ سَدِيسٌ وَسَدَسٌ إِلَى تَمَامِ الثَّامِنَةِ، فَإِذَا دَخَلَ فِي التِّسْعِ وَطَلَعَ نَابُهُ فَهُوَ بَازِلٌ أَيْ بَزَلَ نَابُهُ، يَعْنِي طَلَعَ، حَتَّى يَدْخُلَ فِي الْعَاشِرَةِ فَهُوَ حِينَئِذٍ مُخْلِفٌ، ثُمَّ لَيْسَ لَهُ اسْمٌ، وَلَكِنْ يُقَالُ: بَازِلُ عَامٍ، وَبَازِلُ عَامَيْنِ، وَمُخْلِفُ عَامٍ، وَمُخْلِفُ عَامَيْنِ، وَمُخْلِفُ ثَلَاثَةِ أَعْوَامٍ إِلَى خَمْسِ سِنِينَ، وَالْخَلِفَةُ الْحَامِلُ. قَالَ أَبُو حَاتِمٍ: وَالْجَذُوعَةُ وَقْتٌ مِنَ الزَّمَنِ لَيْسَ بِسِنٍّ، وَفُصُولُ الْأَسْنَانِ عِنْدَ طُلُوعِ سُهَيْلٍ. قَالَ أَبُو دَاوُد: وَأَنْشَدَنَا الرِّيَاشِيُّ: إِذَا سُهَيْلٌ أَوَّلَ اللَّيْلِ طَلَعْ فَابْنُ اللَّبُونِ الْحِقُّ وَالْحِقُّ جَذَعْ لَمْ يَبْقَ مِنْ أَسْنَانِهَا غَيْرُ الْهُبَعْ وَالْهُبَعُ الَّذِي يُولَدُ فِي غَيْرِ حِينِهِ

[۱] مصنف د اسنان ابل دا تفسیر دغسې د کتاب الحدود په باب الدیات کښې هم بیان کړې دې.

امام ابوداودرحمه الله فرمائي : ما دا مندرجه ذیل تفصیل د رياشي او ابوحاتم وغيره نه اوریدلي دي - او دارنګه مي د نضر ابن شميل او د ابو عبيد د کتاب نه هم راخستي دي - او کله په دې کښې څۀ خبره صرف يو کس ددوی نه کړې ده - هغوی وائي چه د اوښ هغه بچي کوم چه پئ خوری هغې ته حُوار وائي - بیا فصيل وی کله چه پئ خوړل پریږدی - بیا بنت مخاض وی د يو کال نه تر د دوو کالو پورې - کله چه په دريم کال کښې داخل شی نو هغې ته بنت لبون وائي - کله چه دري کاله پورا شی نو هغې ته حق او حقه وائي، تر د څلورو کلونو د پوره کیدو پورې - ځکه چه دا د سورلئ او د مال کيدو قابله وی - او حامله کيدې هم شی او نر د ختلو قابل نۀ وی تردې پورې چه د هغې مخې ته غاښونه پروځی او حقې ته طروقة الفحل هم وئيلې شی ځکه چه نر ه دې باندې ختږي او دې ته تر د څلورو کلونو د پوره کيدو پورې حقه وائي - کله چه په پنځم کال کښې داخل شی نو هغې ته جذعه وائي تر دې پورې چه پنځۀ کاله پوره شی - کله چه په شپږم کال کښې داخله شی او د خپل مخې غاښونه اوغورځوی نو په دغه وخت کښې دې ته ثنی وائي تردې پورې چه شپږ کاله پوره شی - کله چه په اتم کال کښې داخل شی نو نر ته رباعی او مؤنث ته رباعيه وائي، تر د اووۀ کالو د پوره کيدو پورې، کله چه په اتم کال کښې داخله شی او شپږ غاښ اوغورځوی نو هغې ته سديس او سدس وائي تر د اتو کالو د پوره کيدو پورې - کله چه په نهم کال کښې داخل شی او د هغې ناب (دارې) راوځی نو هغې ته بازل وائي - په دې معنی کښې چه ددې ناب راوځی، تردې پورې چه په لسم کال کښې داخله شی - اوس ددې نوم مخلف وی - ددې نه پس ددې هيڅ نوم نۀ وی - ليکن داسې وئيلې شی د يو کال بازل، د دوو کالو بازل - يا د يو کال مخلف، د دوو کالو مخلف، د دريو کالو مخلف، ... تر د پنځو کالو پورې ... او خلفه حاملې ته وائي - ابو حاتم بيان کوی چه جذوعه د يو وخت نوم دې دا څۀ غاښ نۀ دې او د غاښونو موسم د سهيل (ستوری) په راختلو سره بدليږی -امام ابوداودرحمه الله بيان کوی : چه رياشي په دې سلسله کښې مونږ ته دا شعر واورولو [إذا سهيل أول الليل طلع ... الخ] کله چه سهيل ستورې د شپې په شروع کښې راخيژي نو ابن لبون حقه جوړيږی او حقه جذعه او هيڅ غاښ باقی نۀ پاتې کيږی سوا د " هبع " نه او هبع هغه دی کوم چه بې وخته پيدا شوې وی.

قال ابوداؤد سمعته من الرياشي : منصف د اسنان الابل دا تفسير او تشريح چه د کومو علماء ادب او لغت نه اوريدلې ده، دهغوی حواله ورکوی، په هغوی کښې د بعضو نه مصنف براه راست اوريدلې دی، او د بعضو په کتابونو او تصنيفاتو کښې کتلې دی، رياشي" هو ابو الفضل عباس بن الفرج البصرى النحوى ثقة(بذل) په منهل کښې ليکلې دی، چه امام ابوداؤد دهغه نه په دې کتاب کښې صرف هم دا تفسير نقل کړې دې، هيڅ حديث ئې ترې روايت کړې نه دې.

ابوحاتم: محمد بن ادريس الرازى احد الحفاظ(بذل) حضرت په بذل کښې ددۀ تعين په امام ابوحاتم رازی مشهور محدث سره کړې دې، دغه شان صاحب عون المعبود هم کړې دی،

لیکن صاحب منهل لیکلي دي، هو سهیل بن محمد بن عثمان السجستانی النحوی المقری، والله تعالی اعلم بالصواب.

ومن کتاب النضر بن شمیل: نضر بن شمیل د لغت او ادب لوئی امام دې، او د حدیثو هم، دغه شان ابوعبید قاسم بن سلام هم د لغت، ادب، او احادیث امام دې، ددې دواړو په غریب الحدیث(لغت حدیث) کښې کتاب مشهور دې.

وربما ذکر احدهم الکلمة: یعنی دا تفسیر چه ما نقل کړې دې، په هغې کښې بعضې څیزونه خو داسې دی، چه په دې حضراتو کښې د ټولو نه منقول دی، او بعضې حصه داسې ده، چه د ټولو نه منقول نه ده، بلکه صرف د بعضو په کلام کښې موجوده ده، ددې تمهید نه پس مصنف فرمائي قالو یسمی الحوار ثم الفصیل اذا فصل یعنی پیدا کیدو نه پس د ټولو نه اول نوم د اوښې د بچې حوار دې، ترڅو پورې چه هغه د خپلې مور سره ګرځی راګرځی، بیا چه کله هغه تقریبا د یو کال شی، او د خپلې مور نه جدا کړې شی، نو هغه ته فصیل وئیلې شی،(او فطیم هم، فصال او فطام دواړه هم معنی دی) بیا دهغې نه پس دواؤ کالو پورې هغې ته بنت مخاض وئیلې شی، د مخاض معنی حمل ده، او ماخض په معنی د حامل، څکه چه یو کال پوره کیدو نه پس په دویم کال هغه اوښه دوباره حامله شی، فاذا دخلت فی الثالثة بیا چه کله هغه بچې د دواؤ کالو شی، او په دریم کال کښې داخل شی، نو دهغه مور چه تیر کال حامله وه، اوس د حمل زیږولو نه پس پئې ورکوی، ددې وجې نه دې بچې ته بنت لبون وئیلې شی، فاذا تمت له ثلاث سنین فهو حق و حقة او چه کله هغه بچې د پوره دریو کالو شی، او په څلورم کال کښې داخل شی، نو څلور کاله پوره کیدو پورې هغه ته حقه وئیلې شی، یعنی که ماده وی، او که نر وی، نو حق ورته وئیلې شی، څکه چه دې عمر ته رسیدلو نه پس اوښ او اوښه دواړه د سوریدلو قابل شی، او صرف ماده ددې قابله شی چه نر هغې سره یوځائې شی، لیکن نر په دې عمر کښې د یوځائې کیدلو لائق نه وی، هم دا مطلب دې ددې جملې، چه مخکښې راروانه ده. وهی تلقح ولا یلقح الذکر حتی یثنی، یعنی نر د جفتئ قابل نه وی، ترڅو پورې چه هغه ثنی نه شی، ثنی هغه اوښ دې، چه د پنځو کالو وی، او شپږم کال کښې داخل شی، لکه چه مخکښې به خپله په کتاب کښې راشی. فاذا طعنت فی الخامسة فهی جذعة حتی یتم لها خمس سنین: بیا چه کله څلور کاله پوره شی، او پنځم کال کښې داخل شی، که ښځه وی، نو جذعه او که نر وی نو جذع ورته وئیلې شی.(۱)

فائده: په لغت کښې لیکلې دی، چه جذع د هر حیوان جدا وی، په غوا، غویئ، او اس کښې جذع هغه دې، چه په دریم کال کښې وی، او په اوښ کښې چه په پنځم کال کښې وی،

(۱) جذع په اصل کښې کم عمر څاروی ته وئیلې شی، چه ددې استعمال په انسانانو کښې د ځوان سړی دپاره هم کیږی، لکه د ورقه ابن نوفل په کلام کښې، تاسو په صحیح بخاری کښې لوستلې دې، یا لیتنی کنت فیها جذعا(بخاری ص۲) او دا خبره دې واضحه وی، چه جذع د اسنان زکوة انتهاء ده، ددې نه زیات عمر والا اوښ په زکوة کښې واجب نه وی، حالانکه قربانی دهغې صحیح نه ده، ترڅو پورې چه مسنة نه وی، یعنی د شپږو کالو نه وی،

او په بزه کښې چه په دویم کال کښې وی.
مخکښې په کتاب کښې دا خبره راغې، چه د اوښ دا نوم یعنی جذع د غاښ ویستلو یا غورزولو په اعتبار سره نه دی، لکه د نورو نومونو پشان، لکه فرمائي والجذوعة وقت من الزمن ولیس بسن، یعنی د اوښ جذع کیدل، د یو خاص عمر په اعتبار سره دی، د غاښونو سره ددې هیڅ تعلق نشته.
فاذا دخلت فی السادسة والقی ثنیة فهو حینئذ ثنی، هرکله چه اوښ پوره د پنځو کالو شی، او په شپږم کال کښې داخل شی، او خپل ثنایا غاښونه واغورزوې، نو هغه ته ثنی وئیلې شی، او ښځې ته ثنیة وئیلې شی، ثنیه په اصل کښې مخښې ته بره او ښکته دواړ دواړ غاښونو ته وئیلې شی، چه دهغې جمع ثنایا راغې، پنځو کالو نه پس چه کله د اوښ مخښې ته غاښونه اوغورزیږی،(د پیو غاښونه) نو هغه وخت کښې هغه ته ثنی وئیلې شی.
فائده: ثنیه د هر څاروی جدا وی، په غوا او بزه کښې هغه ثنیه ده، چه په دریم کال کښې وی، او په اس کښې هغه چه په څلورم کال کښې وی، او په اوښ کښې هغه چه په شپږم کال کښې وی.
فاذا طعن فی السابعة سمی الذکر رباعیا والانثی رباعیة، رباعیة په اصل کښې غاښونو ته وئیلې شی، چه د ثنیة او ناب (داړې) ([1]) ترمینځه وی، دواړو طرف ته، بره او ښکته، ټول څلور وی، نو چونکه په دې عمر کښې د اوښ دا غاښونه غورزیږی، ددې وجې نه هغه ته رباعی وئیلې شی، فاذا دخل فی الثامنة والقی السن السدیس الذی بعد الرباعیة فهو سدیس و سدس، یعنی چه کله اتم کال ته اورسیږی، او د سدیس غاښونه دهغه اوغورزیږی، نو اوس هغه ته سدیس او سدس وئیلې شی، سدس هغې غاښ ته وئیلې شی، چه د رباعیه نه پس او د ناب نه مخکښې دی، دا څلور وی، دوه ښکته د رباعیه نه ګس او ښې طرف ته، او دغه شان دوه بره د رباعیه نه ګس او ښې طرف ته، دې ته قوارح وئیلې شی، لیکن د انسان په خلۀ کښې د رباعیه نه پس ناب وی، د رباعیه او ناب په مینځ کښې بل غاښ نه وی،(کذا یستفاد من العون عن لسان العرب) لکه د تجوید په کتابونو کښې د غاښونو په تفصیل کښې ددې هیڅ ذکر نشته.
فاذا دخل فی التسع طلع نابه فهو بازل: هرکله چه اوښ په نهم کال کښې داخل شی، نو دهغه ناب((داړې) سوکې والا غاښونه) راوځی، نو هغه ته بازل وئیلې شی، د بزل معنی ده شق(شلول)، چونکه دا غاښ د خپل ځائې غوښه اوشلوی او بهر ته راوځی، ددې وجې نه دې ته بازل وئیلې شی،(هسې خو ټول غاښونه غوښه شلوی او بهر راوځی لیکن په وجه تسمیه کښې اطراد شرط نه دې، یعنی کوم ځائې چه هم وجه تسمیه اوموندلې شی، هلته کښې تسمیه هم وی، دا ضروری نه ده)

---

[1]) دا چه مونږ کوم لیکلې دی، د انسانانو په اعتبار سره دی، او د اوښانو په اعتبار سره به داسې وئیلې شی، چه رباعیه هغه غاښ دې، چه د ثنیه او سدس په مینځ کښې وی،کما سیاتي فتامل و تشکر)

حتی یدخل فی العاشرة فهو حینئذ مخلف ثم لیس له اسم: یعنی د مخلف نه پس بیا څه خاص نوم نشته، بلکه په اول نوم کښې قیودات زیاتوی، مثلا بازل عام، بازل عامین، مخلف عام، مخلف عامین، یعنی د یو کال بازل، د دواؤ کالو بازل، دیو کال مخلف او د دواؤ کالو مخلف، څرنګه چه په عربئ کښې د عشر نه پس د اعدادو دپاره مستقل نوم نشته، بلکه د روستنی عدد سره قیودات لګوی، احد عشر، ثانی عشر وغیره.

قال ابوحاتم والجذوعة الخ قد مر شرحه قریبا

وفصول الاسنان عند طلوع سهیل: د هر یو څیز یو فصل او موسم وی، دغه شان د نتاج ابل(د اوښانو د پیدائش) هم یو خاص فصل دې، چه په هغې کښې عام طور باندې اوښان بچې راوړی، ددې فصل په راتلو باندې د اوښانو د بچو کال پوره کیږی، یو کال والا د دواؤ کالو شی، او دواؤ والا د دریو شی، او هغه موسم دې، د سهیل طلوع، یعنی سهیل نومې ستورې په کومه زمانه کښې چه د شپې په شروع کښې راؤخیژی، نو پوهه شه، چه د اوښانو د پیدائش زمانه راغلله، په دغه زمانه کښې د اونو میوې پخیږی، چه هغې ته موسم ربیع وئیلې شی.

مصنف دلته کښې د ریاشی نه درې اشعار نقل کړې دی:

اذا سهیل اول اللیل طلع فابن اللبون الحق و الحق جذع

لم یبق من اسنانها غیر الهبع

د آخری شعر مطلب دادې، چه په دې اشعارو کښې د ټولو اوښانو د عمرونو ذکر راغلو، پس د یو ذکر پاتې شو، او دا هغه دې، چه ورته هبع وئیلې شی، او هبع د اوښې هغه بچې ته وئیلې شی، چه بې موسمه پیدا شوې وی، مثلا د ژمې په اول کښې، یا د سپرلی په آخر کښې، (منهل) الحمد لله ددې باب شرح پوره شوه.

بَابُ أَيْنَ تُصَدَّقُ الْأَمْوَالُ

باب: ۹-دَمال زکات دې کوم ځائې وصول کړې شی؟

یعنی د څارووْ زکوة کوم ځائې وصول کړې شی

[۱۵۹۱](۱) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عَدِيٍّ، عَنِ ابْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَا جَلَبَ، وَلَا جَنَبَ، وَلَا تُؤْخَذُ صَدَقَاتُهُمْ إِلَّا فِي دُورِهِمْ".

حضرت عمرو بن شعیب د خپل پلار نه، هغه د خپل نیکهٔ عبد الله بن عمرو رضی الله عنه نه روایت کوی چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل: نهٔ جَلَب شته او نهٔ جَنَب او دَ هغوی دَ مالونو زکات دې هم دَ هغوی په کورونو باندې وصول کړې شی -

، عن عمرو بن شعیب عن ابیه عن جده عن النبی(صلی الله علیه وسلم) قال لاجلب و لا جنب و لا تؤخذ صدقاتهم الا فی دورهم، (۲) جلب او جنب، د هر یو شارح دوه دوه مغنې ذکر کړې دی،

(۱): تفرد به أبو داود،(تحفة الأشراف:۸۷۸۵، ۱۹۲۸۴)، وقد أخرجه: مسند احمد(۲/۱۸۰،۲۱۶)(حسن صحیح)

(۲) د مسند احمد د روایت الفاظ داسې دی، تؤخذ صدقات المسلمین علی میاهم ددې روایت ۵۶

د يوې تعلق د كتاب الزكوة سره دې، او د دويمې معنى تعلق د كتاب الجهاد سره دې، ددې وجې نه داحديث په دواړو ځايونو كښې ذكركولې شى، نو مصنف هم دې لره په دواړو ځايونو كښې ذكر كړې دې، او امام نسائي او ابن ماجه صرف په كتاب الجهاد كښې ذكر كړې دې، او امام ترمذى رحمه الله صرف په كتاب النكاح كښې په باب الشغار كښې ذكر كړې دې.

شرح حديث:

اوله معنى د جلب داده، چه سعاة(زكوة وصولونكى) كله د څاروُو زكوة اخستلو دپاره لاړ شى، نو داسې ځائى كښې دې ديره شى، چه د څاروُو نه ډير لرې فاصله كښې وى، او هلته كښې ديره كيدو نه پس دې د مالونو مالكانو ته اوائى، چه خپل څاروى دلته راولئ، دې دپاره چه مونږ هغه اوينو، او دهغې زكوة واخلو، دا معنى ده د جلب، ددې نه په دې حديث كښې منع راغلې ده، وجه ظاهره ده، چه په دې كښې زكوة وركونكې ته تكليف او پريشانى ده.

او دويمه معنى د جلب داده، چه مسابقة خيل(د اسونو زغلولو) په وخت احد المتسابقين خپل يو سړى مقرر كړى، چه كله سباق(منډه) شروع شى، نو زما اس لره تيزولو دپاره ښه چغې اوهه، دې دپاره چه زما اس مخكښې لاړ شى، ددې نه منع كړې شوې ده، ځكه چه دا د اصول مسابقة او ديانة نه خلاف دى.

او د جنب اوله معنى داده، چه كله د مال مالكان اوينى، چه د زكوة وصولونكو راتلو وخت نزد دې، نو دوى هغوى لره پريشانه كولو دپاره خپل مال(څاروى) ډير لرې بوځى او هلته ئې ديره كړى، دې دپاره چه سعاة لره زكوة اخستلو دپاره هلته كښې تلل وى.

او دويمه معنى د جنب داده، چه د مسابقة خيل په ميدان كښې چه كله مسابقت شروع شى، نو احد المتسابقين خپل ځان سره خوا كښې يو بل اس هم روان كړى، دې دپاره چه منډه شروع كيدو نه پس چه كله اوګورى چه زما اس روستو پاتې كيږى، نو سمدستى د خپل اس د ملا نه دې بل اس ته راؤدانګى، ددې نه هم منع شوې ده، دا هم غلطه خبره ده، ځكه چه مسابقة د كوم اس سره مقرر وو، دا هغه نه دې.

دلته كښې يو دريم څيز هم دې، تلقى الجلب، چه دهغې تعلق كتاب البيوع سره دې، نهى رسول الله(صلى الله عليه وسلم) عن تلقى الجلب، يعنى د مال مجلوب استقبال كول او هغه اخستل، مال مجلوب هغه مال دې، چه هغې لره بانډيسى د بانډې نه ښهر ته د خرڅولو دپاره راؤړى، نو يو سړې هغه مال د دې نه مخكښې چه هغه منډئ ته اورسى،(او هلته كښې رسيدلو نه پس ئې په صحيح نرخ خرڅ كړى) په لاره كښې واخلى، ددې نه منع شوې ده، ځكه چه په دې كښې خطره ده، د تلبيس سعر، چه كيدې شى دې بانډيسى ته دهوكه وركړى او ارزان ترې واخلى.

لـه ...... تعلق صرف مواشى سره دې، او د ابوداؤد د روايت الفاظ عام دى، كه زكوة د څاروُو وى، يا د نور مال، بهر حال ددې احاديثو نه معلوميږى، چه د ساعى فرض دى، چه هغه زكوة د خلقو كورونو او تالابونو ته لاړ شى او وصول كړى، نه داچه زكوة وركونكې خپل زكوة هغه ته راؤرسوى) سبل السلام ص ۱۲۵ ج۲.

[۱۵۹۲]() حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبِي، يَقُولُ: عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، فِي قَوْلِهِ: لَا جَلَبَ وَلَا جَنَبَ، قَالَ: أَنْ تُصَدَّقَ الْمَاشِيَةُ فِي مَوَاضِعِهَا وَلَا تُجْلَبَ إِلَى الْمُصَدِّقِ وَالْجَنَبُ عَنْ غَيْرِ هَذِهِ الْفَرِيضَةِ أَيْضًا لَا يُجْنَبُ أَصْحَابُهَا، يَقُولُ: وَلَا يَكُونُ الرَّجُلُ بِأَقْصَى مَوَاضِعِ أَصْحَابِ الصَّدَقَةِ فَتُجْنَبُ إِلَيْهِ، وَلَكِنْ تُؤْخَذُ فِي مَوْضِعِهِ.

محمد بن اسحاق د [لا جلب لا جنب] په توضیح کښې بیان کړې دی: " د څاروو زکات دې دَ هغې په خپلو ډیرو باندې وصول کړې شي -. (جلب دادې چې) هغهٔ دې دَ زکات تحصیل دار ته په راښکلو سره نهٔ شی راوړلې او [جَنَب] په دې فریضه کښې دادې چه دَ څاروو والا دې دې لره لرې نهٔ بوځی - (ابن اسحاق وائی) دَ عامل دَ پاره روا نهٔ دی چه هغه دَ زکات والا دَ مقاماتو نه ډیر لرې کینی او څاروی دې ددهٔ طرف ته راوستلې شی بلکې زکات دې دَ هغوی نه په خپل ځائې کښې واخستې شی -

عن محمد بن اسحاق فی قوله لا جلب و لا جنب : محمد بن اسحاق د جلب او جنب تفسیر کوی، د جلب تفسیر ئې داسې کړې دې، چه کوم ځائې کښې څاروی د مخکښې نه دی، ساعی لره هلته کښې تلل او زکوٰة وصولول پکار دی، دا نه چه مزکی خپل زکوٰة ساعی ته راوړی،

والجنب علی هذه الطریقة ایضا لا یجنب اصحابها دلته کښې د ابوداؤد نسخې مختلفې دی، کوم الفاظ چه د کومې نسخې مونږ اختیار کړی دی، هم هغه زیات صحیح دی،

مطلب دادې، چه کوم قسم هدایت په لاجلب کښې ساعی ته ورکړې شوې دی، دغه شان په لاجنب کښې د څاروؤ مالکانو ته ورکړې شوې دی، چه هغوی لره هم پکار نه دی، چه خپل مال د خپل معروف ځائې نه چرته لرې یوسی، په دې صورت کښې ساعی ته تکلیف دې

ولایکون الرجل باقصی مواضع اصحاب الصدقة : دا د محمد بن اسحاق د روایت تفسیر روان دې، غالبا دا د لاجنب بل تفسیر دې، او دا هغه ده،کومه معنی چه د لا جلب بیان شوې ده، په دې صورت کښې به ګویا جلب او جنب دواړه هم معنی شی، او دې لره به په تاکید باندې حمل کولې شی، او دا اول صورت به په ځائې د تاکید تاسیس وی، وهو الاولی، هذا ماعندی، والله اعلم.

بَابُ الرَّجُلِ يَبْتَاعُ صَدَقَتَهُ

باب: ۱۰ - څوک چې دَ خپل زکات (په صدقه کښې ورکړې شوې مال) قیمتاً اخستل اوغواړی -

صدقه کولو نه پس د متصدق علیه نه د متصدق هغه څیز په بیع اخستل، د حدیث الباب نه ددې عدم جواز معلومیږی، امام بخاری رحمه الله هم په دې باندې باب قائم کړې دې، هل یشتری الرجل صدقته، او دهغې په ذیل کښې ئې هم دا حدیث د ابن عمر رضی الله عنه ذکر کړې دې، کوم چه دلته ذکر دې.

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۸۷۸۵، ۱۹۲۸٤)، وقد أخرجه: مسند احمد(۲/۱۸۰، ۲۱٦)(صحیح)

[۱۵۹۳] (¹) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ نَافِعٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، حَمَلَ عَلَى فَرَسٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، فَوَجَدَهُ يُبَاعُ، فَأَرَادَ أَنْ يَبْتَاعَهُ، فَسَأَلَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ذَلِكَ، فَقَالَ: "لَا تَبْتَعْهُ وَلَا تَعُدْ فِي صَدَقَتِكَ".

حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنه بیان کوی چه حضرت عمر بن الخطاب رضی الله عنه د الله په لاره کښې یو اس ورکړو، بیا ئې اولیدل چه هغه خرخولې شی نو هغوی رضی الله عنه د هغې اخستل اوغوښتل او د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه ئې ددې په باره کښې تپوس اوکړو نو حضور صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل: دې لره مۀ اخله او خپله صدقه واپس مۀ اخله."

تشریح: قوله: عن عبدالله بن عمر ان عمربن الخطاب حمل علی فرس فی سبیل الله فوجده یباع فاراد ان یبتاعه،..... فقال لا تبتعه ولا تعد فی صدقتک.

شرح حدیث:

حضرت عمر رضی الله عنه یو سړی لره په اس باندې سور کړو، یعنی هغه ته ئې اس بطور صدقه هبه کړو، پس د بخاری په روایت کښې دی، تصدق بفرس فی سبیل الله، او یو قول دادې، چه حضرت عمر رضی الله عنه هغه ته وقف کړې وو، اوس داچه بیا دهغې بیع څرنګه جائز شوه؟ جواب ورکړې شوې دې، چه دغې اس ته هزال او ضعف داسې لاحق شوې وو، چه هغه د جهاد کار نشو کولې، والله اعلم.

بهرحال په روایت کښې دادی، چه حضرت عمر رضی الله عنه اولیدل، چه هغې اس لره هغه سړې خرخوی، نو هغوی اوغوختل چه زۀ ئې واخلم،(هغوی د اس په خوبئ باندې پوهیدل، هغه داچه نبی کریم صلی الله علیه وسلم ورته ورکړې وو) د نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه ئې اجازت اوغوختلو، نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم د اخستلو نه منع کړو، چه صدقه کولو نه پس هغه واپس مۀ اخله. دې اخستلو ته نبی کریم صلی الله علیه وسلم عود فی الصدقة ځکه اوفرمائیل، چه ظاهره ده، چه کله هغوی دا اخستلو، نو هغه سړې به د هغوی ضرور رعایت کولو، او په ثمن کښې به ئې د هغه د احسان په وجه کمی کوله، نو څومره قدرې به چه هغه په ثمن کښې کمی کوله، هغومره ګویا حضرت عمر رضی الله عنه عود کونکې وو،

مذاهب ائمه:

د امام احمد مسلک دادې، چه د متصدق شراء د خپل صدقه کړې شوی څیز جائز نه ده، د امام مالک رحمه الله په نزد هم دا یوه وجه ده، او هم دا مذهب د ابن المنذر شافعی دې، د جمهور علماؤ په نزد جائز ده، او دا حدیث په نهی تنزیه باندې محمول دې، او د جمهورو دلیل هغه حدیث دې، چه مخکښې په باب من یحوز له اخذ الصدقة وهو غنی، کښې راروان دې، لا تحل الصدقة لغنی الا لخمسة لعامل علیها او رجل اشتراها بماله، الحدیث.

---

¹): صحیح البخاري/الزكاة ٥٩(١٤٨٩)، والهبة ٣٠(٢٦٢٣)، ٣٧(٢٦٣٦)، والوصايا ٣١(٢٧٧٥)، والجهاد ١١٩(٢٩٧١)، ١٣٧(٣٠٠٢)، صحیح مسلم/الهبات ١(١٦٢١)،(تحفة الأشراف :٨٣٥١)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الزكاة ٣٢(٦٦٨)، سنن النسائي/الزكاة ١٠٠(٢٦١٦)، سنن ابن ماجه/الصدقات ١(٢٣٩٠)، ٢(٢٣٩٢)، موطا امام مالك/الزكاة ٢٦(٤٩)، مسند احمد(١/٤٠، ٥٤)(صحیح)

فائده : ابن سعد په طبقات کښې ليکلي دی، چه دهغې فرس نوم ورد وو، او هغه د حضرت تميم داری ﷺ وو، هغه نبی کريم ﷺ ته هبه کړې وو، بيا نبی کريم ﷺ حضرت عمر ﷺ ته ورکړې وو. (بذل عن الحافظ)

باب صَدَقَةِ الرَّقِيقِ

باب ۱۱- دَ غلامانو زکات

[۱۵۹۴]([1]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، وَمُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ فَيَّاضٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ، عَنْ رَجُلٍ، عَنْ مَكْحُولٍ، عَنْ عِرَاكِ بْنِ مَالِكٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَيْسَ فِي الْخَيْلِ وَالرَّقِيقِ زَكَاةٌ إِلَّا زَكَاةُ الْفِطْرِ فِي الرَّقِيقِ".

دَ حضرت ابوهريره ﷺ نه روايت دې چه نبی کريم ﷺ اوفرمائيل : په اس او غلام کښې زکات نشته دې، البته دَ غلام دَ طرف نه دې صدقهٔ فطر ورکړې شی -"

عن ابی هريرة ﷺ عن النبی(صلی الله عليه وسلم) قال ليس فی الخيل والرقيق زكوة الا زكوة الفطر فی الرقيق.

د زكوة الخيل مسئله په باب زكوة السائمة حديث نمبر۷، د قد عفوت عن الخيل والرقيق په ذيل کښې تيره شوې ده.

[۱۵۹۵]([2]) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، حَدَّثَنَا مَالِكٌ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ دِينَارٍ، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ عِرَاكِ بْنِ مَالِكٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَيْسَ عَلَى الْمُسْلِمِ فِي عَبْدِهِ وَلَا فِي فَرَسِهِ صَدَقَةٌ".

دَ حضرت ابوهريره ﷺ نه منقول دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : په مسلمان باندې دَ هغه په غلام او اس کښې زکات نشته دې -"

دويمه مسئله دلته کښې د عبد ده، په عبيد دتجارت کښې د ټولو امامانو په نزد زكوة شته، خلافا للظاهريه، او په عبيد د خدمت کښې بالاتفاق زكوة نشته، البته د صدقة الفطر مسئله مختلف فيه ده، هغه داچه په عبيد دخدمت کښې صدقة الفطر د ټولو امامانو په نزد شته، ليکن په عبيد دتجارت کښې صدقةالفطر شته او که نه، په دې کښې اختلاف دې، نور هم په دې کښې اختلافات شته، چه انشاء الله په باب صدقة الفطر کښې به راشی.

---

[1]: صحيح البخاري/الزكاة ۴۵(۱۴۶۳)، ۴۶(۱۴۶۴)، صحيح مسلم/الزكاة ۲(۹۸۲)، سنن الترمذي/الزكاة ۸(۶۲۸)، سنن النسائي/الزكاة ۱۶(۲۴۶۹)، سنن ابن ماجه/الزكاة ۱۵(۱۸۱۲)، موطا امام مالك/الزكاة ۲۳(۳۷)، (تحفة الأشراف :۱۴۱۵۳)، وقد أخرجه: مسند احمد(۲/۲۴۲، ۲۴۹، ۲۵۴، ۲۷۹، ۴۱۰، ۴۲۰، ۴۳۲، ۴۵۴، ۴۶۹، ۴۷۰، ۴۷۷)، سنن الدارمي/الزكاة ۱۰(۱۶۷۲)(صحيح)

[2]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف :۱۴۱۵۳)(صحيح)

بَاب صَدَقَةِ الزَّرْعِ

باب: ۱۲-دَ فصل زکات

د مسائل الباب تجزیه :

ددې باب تعلق د زرعی پیداوار زکوة سره دې، چه هغې ته عشر وئیلې شی، په دې سلسله کښې مصنف خو یو باب قائم کړې دې، او امام ترمذی درې ابواب قائم کړې دی، په هغې کښې د یو باب تعلق د زروع او ثمار نصاب سره دې، په هغې کښې هغوی لیس فیما دون خمسة اوسق صدقة حدیث ذکر کړې دې، او د دویم باب مضمون دادې، چه د کومې زمکې په پیداوار کښې عشر واجب دې، او د کومې زمکې په پیداوار کښې نصف عشر، او دریم باب دې، ماجاء فی زکوة الخضراوات، یعنې سبزئ او ترکاری، مقصد دادې، چه د زمکې په کوم کوم پیداوار کښې صدقه واجبه ده، آیا په ټول کښې یا صرف په بعضو کښې.

د امام ابوداؤد غرض په دې باب کښې دا وئیل دی، چه په کومه زمکه کښې عشر واجب وی، او په کومه کښې نصف عشر، پاتې شوه مسئله د نصاب، نو دا اختلافی ده، په هغې باندې کلام مونږ بالکل په شروع کښې کړې دې، جمهور په هغې کښې باقاعده د نصاب قائل دی، حتی چه صاحبین هم، او امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله د نصاب قائل نه دې، بلکه د زمکې پیدوار چه څومره هم وی، که قلیل وی او که کثیر، په ټولو کښې د صدقې قائل دې، دا یو اهم اختلاف دې، چه څه قدرې تفصیل سره الحمد لله په شروع کښې تیر شوې دې.

باقی دا مسئله چه د زمکې په کوم کوم پیداوار کښې صدقه ده، په دې امام ابوداؤد اګر چه هیڅ باب قائم کړې نه دې، لیکن تکمیلا للبحث هغې له مونږ بیانوؤ.

[۱۵۹۶] (¹) حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ سَعِيدِ بْنِ الْهَيْثَمِ الْأَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي يُونُسُ بْنُ يَزِيدَ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "فِيمَا سَقَتِ السَّمَاءُ وَالْأَنْهَارُ وَالْعُيُونُ أَوْ كَانَ بَعْلًا الْعُشْرُ، وَفِيمَا سُقِيَ بِالسَّوَانِي أَوِ النَّضْحِ نِصْفُ الْعُشْرِ".

حضرت سالم بن عبد الله د خپل پلار نه روایت کوی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل: "کوم فصل چه دَ باران په اوبو سره خړوبیږی یا دَ دریاب یا دَ چینو نه یا دَ زمکې دَ ترئ نه نو په هغې کښې لسمه حصه ده - او کومې زمکې چې په اوښانو سره (یعنی دَ ارټ په ذریعې سره) سیرابه کولې شی یا دَ کومو زمکو چه آبپاشی کولې شی نو په هغې کښې شلمه حصه (زکات) دې -

۱: حدثنا هارون بن سعید بن الهیثم الایلی،......... عن سالم بن عبدالله عن ابیه قال قال رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فیما سقت السماء والانهار والعیون او کان بعلا العشر و فیما سقی بالسوانی والنضح نصف العشر.

¹): صحيح البخاري/الزكاة ٥٥(١٤٨٣)، سنن الترمذي/الزكاة ١٤(٦٤٠)، سنن النسائي/الزكاة ٢٥(٢٤٩٠)، سنن ابن ماجه/الزكاة ١٧(١٨١٧)، (تحفة الأشراف: ٦٩٧٧)(صحيح)

شرح حديث:

العشر او دغه رنګ نصف العشر په ترکيب کښې مبتداء مؤخر ده، او فيما سقت الخ دا خبر مقدم دې، سوانی جمع ده د سانية، د کوهي نه اوبه راويستونکي اوښه، او نضح مصدر دې، د اوښ په ذريعې زمکه خړوب کول، او ناضح خړوب کونکي اوښ، ددې جمع نواضح راځي، ليکن دلته کښې مراد د تقابل په وجه دادې، چه مطلق د يوې آلې په ذريعه زمکه خړوب کول.

او کان بعلا، د بعل تفسير د کتاب په بعضو نسخو کښې داسې دې، قال ابوداؤد البعل ما شرب بعروقه و لم يتعن في سقيه يعنی بعل هغه فصل يا اونه ده، چه اوبه او لوندوالي د خپلو جړړو په ذريعې سره په خپله راکاږی، او هغې ته د اوبه خور ضرورت نه پيښيږی، او د بخاری او ترمذی په روايت کښې د بعلا په ځائي او کان عثريا دې، او د عثرى تفسير په مظاهر حق ۲ص۱۰۳ کښې دا ليکلي دې، چه عثری هغه زمکي ته وئيلي شی، چه په عاثور سره ورته اوبه ورکړې شی، او عاثور وئيلي شی، يوې کندې ته، چه په زمکه کښې کنستلي شی، تالاب دپاره، او د هغې په ذريعه اوبه په خپله پټی ته رسی، اوبعضو وئيلي دی، چه عثری وئيلي شی، هغې فصل ته، چه هميشه دپاره تروتازه وی، د اوبو د نزدې کيدلو په وجه. حاصل داچه په کوم فصل يا اونه کښې چه د اوبه خور مشقت برداشت کولي شی، نو په هغې کښې زکوة نصف العشر دې، يعنی شلمه حصه واجبه ده، او کوم ځائی چه داسې نه وی هلته کښې عشر واجب دې، دا مسئله خو دلته په حديث کښې مصرح ده، او امام نووی ليکلي دی، چه دا مسئله متفق عليه ده، ليکن که داسې پټی يا اونه وی، چه هغې ته کله د اوبو ضرورت وی او کله نه وی، نو دهغې حکم دادې، چه که دا دواړه څيزونه على التساوى وی، نو عندالجمهور په دې کښې ثلثة ارباع العشر واجب دې، يعنی يو ربع کم يو عشر،اوهم دا يوقول د احنافو هم دې،او مشهور قول دهغوی نصف العشر دې، او که احدهما اکثر من الآخر وی، نو د احنافو او حنابله په نزد اکثرولره اعتباردې،اوهم دا يو روايت دامام مالک اوامام شافعی هم دې،اودويم روايت دهغوی دادې، يؤخذ من كل بحسابه(منهل) يعنی د هر يو حساب به ځان ځانله کولي شی.

ددې حديث د اطلاق نه ثابتيږی، چه په زرعی پيداوار کښې د وجوب عشر دپاره نصاب شرط نه دې، لهذا دا حديث د امام صاحب رحمه الله و من وافقه دپاره دليل دې، وقد مر تحقيقه تحت حديث، ليس فيما دون خمسة اوسق صدقة.

په خضراوات[1] کښې د وجوب عشر مسئله:

اوس تاسو هغه مسئله راواخلئ، چه د زمکې په پيداوار کښې په کوم کوم قسم کښې صدقه واجبه ده، او په کوم کښې واجبه نه ده؟ د امام صاحب په نزد د زمکې په پيداوار

[1]) الخضراوات هي مالا يكال ولا يقتات، هغه څيزونه او پيداوار چه نه کيلي وی، او نه د انسانی خوراک د قبيلې نه وی.)

کښې څرنګه چه نصاب شرط نه دې، دغه شان د یو خاص پیداوار تخصیص هم نشته، بلکه په هر قسم پیداوار کښې عشر واجب منی[۱] که هغه باقی پاتې کیدونکې وی، لکه غله، او خوراک وغیره، او که باقی پاتې کیدونکې نه وی، لکه خضراوات، او بقول، یعنی ساګ، سبزی، او میوې، وغیره الا الحطب والقصب والحشیش [۲](بانس، او لرګې، او ګیا) چه په دې کښې عشر نشته.

د امام صاحب دلیل:

د امام صاحب مستدل حدیث الباب دې، چه متفق علیه دې، د صحیح بخاری او مسلم روایت دې، او ددې نه علاوه د قرآن مجید عمومات.

په دې مسئله کښې د صاحبینو او جمهور عالمانو د امام صاحب سره اختلاف دې، د صاحبینو په نزد په پیداوار کښې څرنګه چه نصاب شرط دې، څرنګه چه مخکښې تیر شو، دغه شان دا هم شرط دې، چه هغه څیز بغیر د تدبیر او علاج نه یو کال پورې باقی وی، فقهاؤ لیکلې دی، ماله ثمرة باقیة، لهذا لهذا ریاحین، اوراد او بقول(یعنی سبزی، او میوې او ګلونه وغیره) په دې کښې دهغوی په نزد عشر واجب نه دې،[۳] او په باقی ائمه ثلاثه کښې د امام شافعی او امام مالک مسلک دادې، چه عشر په هغې پیداوار کښې واجب دې، چه قوت مدخر وی، یعنی د سړی دپاره خوراک او غذا وی،[۴] او هغه خوراک ذخیره کیدې شی، مثلا حنطه، شعیر، سلت، ذره(جوار) عدس(مسور) حمص(چنړه) وغیره، لهذا کوم څیز چه قوت(غذا) نه وی، لکه خضراوات په هغې کښې عشر واجب نه دې، او د امام احمد په نزد عشر په هر هغه پیداوار کښې دې، چه کیلی وی، لکه ټول حبوب(دانې) یعنی غلې، او باقی پاتې کیدونکې وی،[۵] اګر که قوت نه وی، لکه ثماریابسة، تمر، زبیب، تین(انځر) کمون(زیره) فلفل(تور مرچ) بزر القطن (قومبه) سمسم(تل، کونځلې) وغیره، په دې ټولو کښې عشر واجب دې، او کوم څیزونه چه باقی پاتې کیدونکې نه وی، لکه عامې

---

[۱] د پیداوار نه مراد دادی، چه هغه داسې څیز وی، چه هغې لره خلق عادة کری، او د هغې نه مقصود استغلال یعنی ګټل، او د آمدنۍ حاصلول وی، په خلاف د خطب او حشیش وغیره نه، چه په هغې کښې دا خبره نشته، بلکه دې لره خو د زمکې نه صفا کولې شی، او که هغه قصب او حشیش داسې قسم والاوی، چه دهغې نه استغلال او آمدنی مقصود وی، نو په هغې کښې به هم عشر واجب وی)

[۲] او اونې اګر چه قیمتی څیز دې، لیکن په دې کښې عشر ددې وجې نه واجب نه دې، چه دې لره د زمکې تابع مقرر کړې شوې دی، ګویا دا د زمکې اجزاء دی، او د زمکې په ذات باندې عشر نشته، بلکه دهغې په پیداوار باندې عشر دې)

[۳] په مظاهرحق ۲ ص۹۸ کښې لیکلې دی، اود ساګو او ترکارو او میوؤ په مینځ کښې اختلاف کړې دې، چه یو کال پورې پاتې کیږی نه، او په دې کښې د امامانو په نزد زکوة واجب نه دې)اهـ

[۴] صفة اقتيات چه دهغې شافعیه او مالکیه قائل دی، دا د مالکیه په نزد خو عام دې، یعنی په کوم څیز کښې چه د غذا جوړیدلو صلاحیت وی، اګر که هغه په حالت د مجبورئ کښې وی، او د شافعیه د کتابونو نه معلومیږی، چه دهغوی په نزد د حالت اختیار اعتبار دې، په حالت مجاعة او ضرورت کښې قوت معتبر نه دې)

[۵] یعنی اوچولو نه پس باقی ساتلې شی)

میوې مثلا ناشپاتی، سیب، انځر غیر یابس، او سبزو کښې بادرنګ، ټماټر، بانجان، وغیره وغیره، په دې کښې عشر واجب نه دې.

یو مذهب دلته کښې بل دې، چه هغې لره حسن بصری، حسن بن صالح، شعبی او سفیان ثوری رحمه الله اختیار کړې دې، هغه دا چه عشر صرف په څلورو څیزونو کښې واجب دې، القمح، الشعیر، زبیب، تمر، لحدیث ابی موسی الاشعری و معاذ حین بعثهما النبی(صلی الله علیه وسلم) الی الیمن یعلمان الناس امردینهم فقال لا تاخذ الصدقة الا من هذه الاربعة، الشعیر، والحنطة والزبیب، والتمر، اخرجه الحاکم والدار قطنی والطبرانی والبیهقی، ولحدیث عمر انما سن رسول الله ﷺ الزکوة فی هذه الاربعة (المذکور قبل) رواه الدار قطنی.

او د ابن ماجه په روایت کښې په دې کښې د پنځم څیز زیاتوالې دې، الذرة، لیکن په هغې ټولو روایاتو(په کومو کښې چه د عشر انحصار په اشیاء اربعة کښې شوې دې) کښې محدثینو کلام فرمائیلې دې، او دا روایات د ائمة اربعة هم خلاف دی، ځکه چه په ائمة اربعه کښې د چا په نزد هم د عشر انحصار په دې اشیاء اربعه کښې نه دې.(منهل وغیره)

د مذاهب ائمه خلاصه :[1]

خلاصه د مذهب داده، چه د امام مالک او شافعی رحمه الله په نزد خضراوات یعنی سبزیانو او میوو او ګلونو کښې عشر واجب نه دې، بلکه په هغې څیزونو کښې واجب دې، چه هغه د قوت(غذا) کیدلو په صورت کښې ذخیره کولې شی، او د امام احمد په نزد په ټولو مکیلاتو او باقی پاتې کیدونکو څیزونو کښې دې، که هغه قوت وی، او که نه وی، لهذا په ترکارو او سبزو کښې عشر خو نشته، چه هغه نه کیلی دی، او باقی پاتې کیدونکې دی، لیکن کومې میوې وغیره چه اوچې وی، او باقی پاتې کیدونکې وی، په هغې کښې عشر واجب دې، اګر که هغه د قوت د قبیلې نه نه وی، تقریبا هم دا مسلک(چه د امام احمد دې) د صاحبینو هم دې، په تفصیلونو کښې اختلاف دې.

دلائل فریقین :

اوس پاتې شوه مسئله د دلیل، نو د جمهور او صاحبینو استدلال خو دهغې حدیث نه دې، په کوم چه امام ترمذی مستقل باب ترلې دې، لیکن حدیث لره هغوی ضعیف هم ګرزولې دې، هغوی فرمائي باب ما جاء فی زکوة الخضراوات، عن موسی بن طلحة عن معاذ انه کتب الی النبی(صلی الله علیه وسلم) یساله عن الخضراوات وهی البقول فقال لیس فیها شیء، قال ابو عیسی اسناد هذا الحدیث لیس بصحیح ولیس یصح فی هذا الباب عن النبی(صلی الله علیه وسلم) شیء، او روستو بیا داسې فرمائي چه صحیح داده، چه دا حدیث مرسل دې، دې ته مسند وئیل صحیح نه دی، یعنی موسی بن طلحه چه تابعی دې، هغه دې لره براه راست بغیر د واسطې دمعاذ رضی الله عنه نه د نبی کریم ﷺ نه روایت کوی، دې حدیث لره دارقطنی هم روایت کړې دې، او د امام صاحب استدلال د حدیث الباب یعنی حدیث د ابن عمر نه دې، چه متفق علیه

---

[1] مونږ ټول اختلافات او د ائمه ؤ مذاهب د احادیثو شروح او د فقهې دکتابونو د مطالعې کولو نه پس لیکلی دی. والله الموفق.

دي، بخاري او مسلم ددې تخريج کړې دې.

[۱۵۹۷] (۱) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي عَمْرٌو، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "فِيمَا سَقَتِ الْأَنْهَارُ وَالْعُيُونُ الْعُشْرُ، وَمَا سُقِيَ بِالسَّوَانِي فَفِيهِ نِصْفُ الْعُشْرِ".

د حضرت جابر بن عبد الله نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل: کومې زمکې چه په دريابونو سره خړوبولې شي يا په چينو سره نو په هغې کښې لسمه حصه ده - او کومې چه په اوښانو سره (يعنى د ارټ په ذريعې سره) خړوبولې شى نو په هغې کښې شلمه حصه ده -

[۱۵۹۸] (۲) حَدَّثَنَا الْهَيْثَمُ بْنُ خَالِدٍ الْجُهَنِيُّ، وَحُسَيْنُ بْنُ الْأَسْوَدِ الْعِجْلِيُّ، قَالَا: قَالَ وَكِيعٌ: الْبَعْلُ الْكَبُوسُ الَّذِي يَنْبُتُ مِنْ مَاءِ السَّمَاءِ، قَالَ ابْنُ الْأَسْوَدِ: وَقَالَ يَحْيَى يَعْنِي ابْنَ آدَمَ: سَأَلْتُ أَبَا إِيَاسٍ الْأَسَدِيَّ، عَنِ الْبَعْلِ، فَقَالَ: الَّذِي يُسْقَى بِمَاءِ السَّمَاءِ، وَقَالَ النَّضْرُ بْنُ شُمَيْلٍ: الْبَعْلُ مَاءُ الْمَطَرِ.

حضرت وکيع وائى چه د [البعل الکبوس] نه مراد هغه فصل دې کوم چه په باران سره خړوبولې شى - ابن اسود وائى چه يحيى بن آدم وئيلي دى چه ما د ابو اياس اسدى نه د بعل متعلق د تفصيل پوښتنه اوکړه نو هغوى اوفرمائيل: کومه زمکه چه په باران سره خړوبولې شى - نضر بن شميل وائى د "بعل" نه مراد د باران اوبهٔ دى -

[۱۵۹۹] (۳) حَدَّثَنَا الرَّبِيعُ بْنُ سُلَيْمَانَ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، عَنْ سُلَيْمَانَ، يَعْنِي ابْنَ بِلَالٍ، عَنْ شَرِيكِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي نَمِرٍ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَهُ إِلَى الْيَمَنِ، فَقَالَ: "خُذِ الْحَبَّ مِنَ الْحَبِّ، وَالشَّاةَ مِنَ الْغَنَمِ، وَالْبَعِيرَ مِنَ الْإِبِلِ، وَالْبَقَرَةَ مِنَ الْبَقَرِ". قَالَ أَبُو دَاوُد: شَبَرْتُ قِثَّاءَةً بِمِصْرَ ثَلَاثَةَ عَشَرَ شِبْرًا، وَرَأَيْتُ أُتْرُجَّةً عَلَى بَعِيرٍ بِقِطْعَتَيْنِ قُطِّعَتْ، وَصُيِّرَتْ عَلَى مِثْلِ عِدْلَيْنِ.

د حضرت معاذ بن جبل رضی الله عنه نه منقول دى چه رسول الله ﷺ هغه لره د يمن طرف ته اوليږلو نو هغه ته ئې اوفرمائيل: د غلې نه غله او د بکرو نه بکرئ او د اوښانو نه اوښ او د غواګانو نه غوا (غويې) وصوله وه - "امام ابوداود رحمه الله فرمائى: چه ما په مصر کښې يو بادرنګ لره ناپ کړو نو هغې لره ما ديارلس ليشتې بيا موندو - دغه شان ما په يو اوښ باندې يو ترنج بار کړې شوې اوليدو چه هغه دوه ټکړې کړې شوې وو او برابر برابر ايخودلې شوې وو -

۲: حدثنا الربيع بن سليمان........ عن معاذ بن جبل ان رسول الله (صلى الله عليه وسلم) بعثه الى اليمن فقال خذ الحب من الحب والشاة من الغنم والبعير من الابل والبقرة من البقرة، يعنى د غلې په زکوة کښې غله واخله، او د بزو په زکوة کښې بزه، د ظاهر حديث نه مستفاد کيږى، چه د هر مال زکوة بعينه دهغه مال نه واخستلې شى، او قيمت وانه خستلې شى.

---

[۱]: صحيح مسلم/الزكاة ۱ (۹۸۱)، سنن النسائي/الزكاة ۲۵ (۲۴۹۱)، (تحفة الأشراف: ۲۸۹۵)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳/۳۴۱، ۳۵۳) (صحيح)

[۲]: تفرد به أبو داود (صحيح)

[۳]: سنن ابن ماجه/الزكاة ۱۲ (۱۸۱۴)، (تحفة الأشراف: ۱۱۳۴۸) (ضعيف)

په اداء الزكواة بالقيمة كښې د مذاهب ائمه تحقيق :

مسئله مختلف فيه ده، امام بخاري رحمه الله په دې مستقل باب قائم كړې دې، باب العرض فى الزكوة، يعنى په زكوة كښې د اصل څيز په ځائې دهغې د قيمت برابر سامان اخستل، او بيا ددې دپاره هغوى بعضې آثار او روايات ذكر كړې دى، د ټولو نه مخكښې د حضرت معاذ رضي الله عنه حديث تعليقا بصيغة الجزم، وقال طاؤس قال معاذ لاهل اليمن الخ ذكر كړې دې، هغه داچه هغوى اهل يمن ته اوفرمائيل : چه تاسو د غلې په ځائې په زكوة كښې فلانې فلانې قسمه يمنى كپړې راوړئ، ستاسو دپاره په دې كښې آسانى ده، او د مدينې والو په حق كښې دا كپړا زياتې بهترې دى، د بخارى په شارحينو كښې يو شارح ابن رشيد دې، هغه فرمائي : په دې مسئله كښې امام بخاري رحمه الله د احنافو د مسلك موافقت كړې دې، اګر چه هغوى د احنافو په كثرت سره مخالفت كوى، علامه عينى رحمه الله فرمائي : اصل دادى، چه په زكوة كښې د قيمت وركول د احنافو په نزد جائز دى، وهو قول عمر و ابنه عبدالله و ابن مسعود و ابن عباس و معاذ و طاؤس وهو قول البخارى واحدى الروايتين عن احمد و قال مالك و الشافعى لا يجوز وهو قول داؤد، ۱ هـ او په اوجز كښې دى، چه د امام مالک رحمه الله نه دواړه روايتونه دى، د جواز او عدم جواز، ليكن مشهور عدم جواز دې، كما قال الباجى، صاحب منهل د امام شافعى او امام احمد دواړو مذهب عدم جواز ليكلې ئې دې، او ليكلې دى، الا ان لهم فى اخراج احد النقدين عن الآخر قولين قول بالجواز و قول بالمنع، يعنى د دراهم او دنانير په زكوة كښې د يو په ځائې بل وركولو كښې ددې دواړو دوه اقوال دى، د جواز او عدم جواز، او د مالكيه په مذهب كښې صاحب منهل درې روايتونه ليكلې دى، دوه خو هغه چه بره تير شو، او دريم جواز اخراج الذهب والفضة عن الحرث والماشية فقط مع الكراهة وعدم الجواز فيما عدا ذالک او په دلائلو هغوى ډير كلام فرمائيلې دې.

قال ابوداؤد، شبرت قثاءة بمصر ثلاثة عشر شبرا و رايت اترجة على بعير بقطعتين،

د زكوة د بركت مثال :

مصنف رحمه الله د زكوة دبركت يو اعجوبه(عجيبه واقعه) بيانوى، چه ما يو ځل په مصر كښې يو ختكې اوليدو، چه هغه ما په خپل لاس سره ناپ كړو، نو هغه ديارلس لويشې وو، دغه شان ما يو نارنج (مالټه) اوليده، چه هغه دوه ټكړې كړې شوې وو، او په يو اوبن باندې بار كړې شوې وو، يوه ټكره دهغه د ملا بنې طرف ته وه، او دويمه ګس طرف ته.

احقر وائى، دغه شان ما په الانوار الساطعه كښې كتلې دى، هغه ليكلې دى،

فائده: د غنمو دانه چه كله په شروع كښې د جنت نه زمكې ته راوړلې شوه، نو د شتر مرغ د اګې(بيضه نعامه) برابر وه، او د كچو نه زياته نرمه او مئينه وه، او د مشكو نه زياته خوشبوداره وه، ليكن د ورځو تيريدولو سره وړوكې شوه، او د فرعون زمانې پورې د چرګې د اګې برابر شوه، او يوې مودې پورې دومره وه، تردې پورې چه كله يحيى(عليه السلام) لره ذبح كړې شو، نو هغه نوره هم وړه شوه، د كونترې د اګې برابر شوه، بيا دغه شان نوره هم

وره کیدله، تردې پورې چه موجوده حالت ته راغله، دغه شان حضرت شیخ په حاشیه د بذل کښې د حافظ ابن القیم رحمه الله په حوالې سره د امام احمد نه نقل کړې دی، چه هغه د بنوامیه په بعضې خزانو کښې په یوه تهلیئ کښې د غنمو دانه اولیده، چه په مقدار کښې د کهجورې د هډوکې برابر وه.

باب زَكَاةِ الْعَسَلِ

باب: ۱۳- دَشاتوزکات

د زمکې پیداوار دوه دی، زروع، او ثمار، ددې نه علاوه دوه نور هم شمارلې شی، یعنی معدن، او رکاز، لیکن ددې دواړو باب مصنف دلته په کتاب الزکوة کښې نه دې تړلې، بلکه په جلد ثانی کښې د کتاب الجهاد نه پس په کتاب الخراج کښې ئې قائم کړې دې، او امام بخاری رحمه الله په کتا الزکوة کښې په دې باندې باب تړلې دې.

مذاهب ائمة:

عسل هم د ثمار په شان د زمکې پیداوار دې، په دې کښې زکوة شته او که نه؟ نو پوهیدل پکار دی، چه د عشر باره کښې د مالکیه او شافعیه چه کومه ضابطه ده، دهغې تقاضا داده، چه په عسل کښې دهغوی په نزد زکوة نه واجب کیدل پکار دی، ځکه چه عسل قوت مدخر نه دې، او د حنابله او د صاحبینو د قاعدې تقاضا داده، چه په عسل کښې دهغوی په نزد عشر واجب کیدل پکار دی، ځکه چه عسل مکیل مدخر دې، نو مذاهب ائمه د زکوة العسل باره کښې داسې دی، او د امام صاحب په نزد په پیداوار کښې عموم خو د مخکښې نه دې، لهذا حاصل داشو، چه په عسل کښې د مالکیه او شافعیه په نزد عشر نشته، او د امام صاحب، امام احمد او صاحبینو په نزد په کښې عشر شته، او دا مذهب د اسحاق بن راهویه او عمر بن العزیز او په صحابه کرامو کښې د حضرت عمر رضی الله عنه او ابن عباس رضی الله عنهما هم دې، د امام شافعی رحمه الله یو قول هم داسې دې، داخبره دې هم واضحه وی، چه عام ضابطه داده، چه د امام صاحب رحمه الله په نزد عشر صرف په عشری زمکه کښې واجب دې، په خراجی زمکه کښې واجب نه دې، او د جمهورو په نزد په دواړو کښې عشر دې، دا ټوله خبره خو د نفس مسئلې په اعتبار سره وه، اوس دلیل واورئ.

[۱۶۰۰] (۱) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ أَبِي شُعَيْبٍ الْحَرَّانِيُّ، حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ أَعْيَنَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ الْحَارِثِ الْمِصْرِيِّ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: جَاءَ هِلَالٌ أَحَدُ بَنِي مُتْعَانَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِعُشُورِ نَحْلٍ لَهُ، وَكَانَ سَأَلَهُ أَنْ يَحْمِيَ لَهُ وَادِيًا يُقَالُ لَهُ: سَلَبَةُ، "فَحَمَى لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَلِكَ الْوَادِيَ"، فَلَمَّا وُلِّيَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، كَتَبَ سُفْيَانُ بْنُ وَهْبٍ إِلَى عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ يَسْأَلُهُ عَنْ ذَلِكَ، فَكَتَبَ عُمَرُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: إِنْ أَدَّى إِلَيْكَ مَا كَانَ يُؤَدِّي إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ عُشُورِ نَحْلِهِ فَاحْمِ لَهُ سَلَبَةَ، وَإِلَّا فَإِنَّمَا هُوَ ذُبَابُ غَيْثٍ يَأْكُلُهُ مَنْ يَشَاءُ.

حضرت عمرو بن شعیب د خپل والد صاحب نه هغه د خپل نیکهٔ (عبد الله بن عمرو رضی الله عنه) نه روایت کوی چه د بنی متاعن یو سړی هلال د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې د شاتو عشر

(۱): سنن النسائي/الزكاة ۲۹(۲۴۹۸)، (تحفة الأشراف: ۸۶۷۰)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/الزكاة ۲۰ (۱۸۲۳)(حسن)

راوړو او راغي او هغوی ته ئې درخواست اوکړو چه دَ " سَلَبه " وادئ لره دَ هغه په نوم باندې کړې شی - چنانچه رسول الله ﷺ هغې لره دَ هغه په نوم باندې کړو - کله چه حضرت عمر بن خطاب رضي الله عنه خلیفه شو نو حضرت سفیان بن وهب رضي الله عنه تحریرا دَ حضرت عمر رضي الله عنه نه دَ هغه په باره کښې تپوس اوکړو : نو حضرت عمر رضي الله عنه ورته اولیکل کۀ چرې دې دَ خپلو شاتو هم هغه عشر ورکوی کوم چه به ئې رسول الله ﷺ ته ورکولو نو وادئ سلبه دَ هغه په نوم باندې پریږده - ورنه دا دَ شاتو مچئ دی څوک چه غواړی (دَ هغې شات دې) خوری - "

عن عمرو بن الحارث المصری عن عمروبن شعیب عن ابیه عن جده قال جاء هلال احد بنی متعان الی رسول الله (صلی الله علیه وسلم) بعشور نحل له وکان ساله ان یحمی وادیا یقال له سلبة فحمی له رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ذالک الوادی فلما ولی عمربن الخطاب رضي الله عنه کتب سفیان بن وهب الی عمر ابن الخطاب رضي الله عنه یساله عن ذالک.

شرح حدیث :

په دې باب کښې مصنف درې احادیث ذکر کړې دی، [۱] درې واړه د عبدالله بن عمرو بن العاص دی، د عمروبن شعیب عن ابیه عن جده په سند سره، په اول حدیث کښې د عمرو نه روایت کونکې عمروبن الحارث دې، او په دویم کښې عبدالرحمن بن الحارث او په دریم کښې اسامه بن زید، مضمون د ټولو معمولی فرق سره مشترک دې، په اول حدیث کښې دا دی، چه هلال متعی (بنی متعان ته منسوب) د نبی کریم ﷺ په خدمت کښې د خپلو شهدو عشر راوړلو سره حاضر شو، او هغه نبی کریم ﷺ ته د وادی سلبه باره کښې درخواست کړې وو، چه دا وادی هغه ته بطور حمی ورکړې شی (یعنی دې لره هغه دپاره خاص کړئ، چه دهغه نه علاوه به بل څوک ددې زمکې نه فائده نه اوچتوی) نو نبی کریم ﷺ دهغه دپاره دهغې وادئ حمی اوفرمائیله، (بیا ډیره موده پس د حضرت عمر رضي الله عنه په خلافت کښې) سفیان بن عبدالله الثقفی، چه د حضرت عمر رضي الله عنه د طرف نه د طائف عامل وو، حضرت عمر ته دې باره کښې اولیکل، (غالبا کیدې شی دائې لیکلی وو چه دا وادی دهغه دپاره خاص اوساتلې شی او که نه) نو په دې حضرت عمر جواب اولیکلو، فکتب عمر ان ادی الیک ما کان یؤدی الی رسول الله (صلی الله علیه وسلم) من عشور نحله فاحم له سلبة والا فانما هو ذباب غیث یاکله من یشاء. چه که دا سړی هم هغسې د شهدو عشر ادا کوی، څرنګه ئې چه نبی کریم ﷺ ته ادا کول، نو بیا خو حمی باقی اوساته، ګنی باقی ئې مه ساته، بلکه دا خصوصیت ختم کړه، چه څوک غواړی ددې وادئ شهد دې حاصل کړی، او ورته ئې اولیکل، چه دا شهد د یو باران والا مچئ نفع ده، چه څوک غواړی دا خوړلې شی، باران طرف ته نسبت څکه اوکړې شو، چه د باران په وجه په اونو کښې میوې او ګلونه پیدا کیږی، چه دهغې نه دا مچئ رس نچوړوی، او شهد جوړوی، او چونکه دا زمکه (د کومې چه شهد وو) د ارض موات د قبیلې نه وه، ددې وجې نه ټولو ته ددې نه د فائدې اوچتولو حق شته.

---

[۱] او که غواړئ نو داسې اوایئ، چه په دې باب کښې مصنف د عبدالله بن عمرو رضي الله عنه حدیث په دریو طریقو سره ذکر کړې دې.

[۳۰۱]() حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَبْدَةَ الضَّبِّيُّ، حَدَّثَنَا الْمُغِيرَةُ، وَنَسَبَهُ إِلَى عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْحَارِثِ الْمَخْزُومِيِّ، قَالَ: حَدَّثَنِي أَبِي، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّ شَبَابَةَ بَطْنٌ مِنْ فَهْمٍ، فَذَكَرَ نَحْوَهُ، قَالَ: مِنْ كُلِّ عَشْرِ قِرَبٍ قِرْبَةٌ، وَقَالَ سُفْيَانُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الثَّقَفِيُّ، قَالَ: وَكَانَ يَحْمِي لَهُمْ وَادِيَيْنِ، زَادَ: فَأَدَّوْا إِلَيْهِ مَا كَانُوا يُؤَدُّونَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَحَمَى لَهُمْ وَادِيَيْهِمْ.

حضرت عمرو بن شعيب دخپل پلار نه هغه د خپل نيکۀ نه روايت کوي چه شبابه د بنو فهم تعلق دار وو (شبابه د وړوکي خاندان نوم دې او فهم د غټې قبيلې) او حديث لره ئې د سابقه حديث په شان بيان کړو -(د مغيره پلار عبد الرحمن بن حارث) وائي: د شاتو د هر لسو مشکو نه دې يو مشک ورکړې شي - او (د عمر بن خطاب ﷺ عامل) سفيان بن عبد الله ثقفي ذکر کړې دی او وائي چه د هغوی په نوم باندې دوه وادئ ليکلې شوې وې، (او عمر بن حارث د يو وادئ ذکر کړې دې) عبد الرحمن مزيد وئيلې دی : چنانچه هغه خلق دې هغه څه ادا کوي کوم چه به ئې رسول الله ﷺ ته ورکول او دا واديانې دې د هغوی په نوم باندې وی -"

مضمون حديث

حدثنا احمد بن عبدة الضبى الخ ان شابة بطن من فهم فذكر نحوه، (۲) دا حديث ثانی دې، چه دهغې مضمون دادې، عبدالله بن عمروبن العاص فرمائي چه قبيله شبابه چه د قبيله فهم يو شاخ دې، هغوی د نبی کريم ﷺ په خدمت کښې عشر حاضر کړو، او بيا مخکښې هم هغه مضمون دې، کوم چه مخکښې حديث کښې وو، يعنی د حمی سره متعلق، ليکن په دې حديث کښې وادين په صيغه د تثنيه سره دې، او په اول کښې واديا مفرد صيغې سره وو، او دويم زياتوالې دادې، چه په دې کښې نصاب عسل هم مذکور دې، من کل عشر قرب قربة يعنی په هر لسو مشکيزو کښې يوه مشکيزه.

او د حديث ثالث مضمون هم داد ، په هغې کښې داسې دی، ان بطنا من فهم يعنی د قبيله فهم يو شاخ، ددې شاخ نه مراد هم هغه بنو شبابه دی، کوم چه په مخکښې حديث کښې مذکور دی.

[۳۰۲]() حَدَّثَنَا الرَّبِيعُ بْنُ سُلَيْمَانَ الْمُؤَذِّنُ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي أُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّ بَطْنًا مِنْ فَهْمٍ بِمَعْنَى الْمُغِيرَةِ، قَالَ: مِنْ عَشْرِ قِرَبٍ قِرْبَةٌ، وَقَالَ: وَادِيَيْنِ لَهُمْ.

حضرت عمروبن شعيب د خپل پلار نه، هغوی د خپل نيکۀ نه روايت کوی چه د قبيلۀ فهم يوه ډله ...ددې نه پس ئې د مغيره په مثل باندې بيان اوکړو، وائي : په لسو مشکونو

(۱): انظر حديث رقم :(۱۶۰۰)،(تحفة الأشراف :۸۷۳۷)(حسن)

(۲) استاذ محترم حضرت مولانا اسعدالله صاحب ﷫ په دې دا ليکلې دی: چه مقصد دادې، چه هلال(دچا ذکر چه مخکښې حديث کښې راغلې دې) هغه د شبابه قبيلې نه دې، او شبابه د قبيلۀ فهم شاخ دې، ليکن دا په دې موقوف دې، چه د هلال مذکور شبابي کيدل ثابت شی، گنی په روايت کښې خو تصريح ده، دهغه د متعی کيدلو، او دا هم ممکن ده، چه متعی او شبابی دواړو نسبتونو کښې تضاد نه وی، جمع کيدې شی، والله اعلم فليسئل.

(۳): سنن ابن ماجه/الزكاة ۲۰(۱۸۲۳)،(تحفة الأشراف :۸۶۵۷)(حسن)

کښې به ئې يو مشک (ورکولو) او دواړه وادئ د هغوی د پاره مخصوص پاتې شوې ـ"
دا د احاديث الباب تشريح ده، حديث خو په اصل کښې يو دې، البته ددې په طرقو او بعضو الفاظو کښې اختلاف دې.

د حديث الباب نه استدلال:

ددې نه پس پوهيدل پکار دی، چه د دې حديث نه په عسل کښې وجوب ثابتيږی، لکه چه د احناف او حنابله مذهب دې، دا حديث په سنن نسائی کښې هم دې، او امام نسائی په دې باندې سکوت فرمائيلې دې، هيڅ تنقيد ئې نه دې کړې، البته امام ترمذی رحمه الله د باب زکوة العسل لاندې د ابن عمر رضی الله عنه حديث مرفوع فی کل عشرة ازق زق راوړلې دې، او فرمائيلې ئې دی، وفی الباب عن ابی سيارة المتعی و عبدالله بن عمرو، او فرمائيلې ئې دی، و لا يصح عن النبی(صلی الله عليه وسلم) فی هذا الباب کبير شیء،(يعنی زيات تر په دې مسئله کښې روايات غير صحيح دی، والعمل علی هذا عند اکثر اهل العلم، يعنی حديث خو ضعيف دې، ليکن عمل د اکثر اهل علم په دې باندې دې. د عبدالله بن عمرو حديث چه دهغې امام ترمذی رحمه الله حواله ورکړې ده، هغه خوهم دا دې، چه دلته په کتاب کښې موجود دې، او د ابوسياره حديث په ابن ماجه کښې دې، عن ابی سيارة المتعی قال قلت يا رسول الله(صلی الله عليه وسلم) ان لی نحلا الخ، بعضې شارحينو د حديث ابن حجر وغيره په دې کښې تردد ظاهر کړې دې، چه هلال متعی او ابوسياره دواړه يو سړې دې، يا جدا جدا سړی دی.
د وجوب العشر فی العسل په احاديثو کښې اگر چه کلام دې، ليکن د تعدد طرق په وجه حديث ته تقويت ملاويږی، خصوصا په هغه وخت کښې چه د حديث مخارج متعدد او طرق مختلف وی، بله دا چه عسل د ميوؤ او غوټو نه پيدا کيږی،او مکيل مدخر دې، لکه چه حبوب او بعضې ثمار دی، چه په هغې کښې بالاتفاق عشر واجب دې.

نصاب عسل:

په نصاب عسل کښې هم اختلاف دې، د امام صاحب په نزد خو دهغه د قاعدې مطابق هيڅ نصاب نشته، په قليل او کثير ټولو کښې واجب دې، او په صاحبينو کښې د امام ابويوسف رحمه الله په نزد ددې نصاب عشر قرب(يعنی لس مشکيزې) دی، او د امام محمد رحمه الله په نزد خمس فرق دی، يو فرق د دريو صاعو وی، او د امام احمد په نزد لس فرق دی،

بَابٌ فِي خَرْصِ الْعِنَبِ

باب: ۱٤ - په اولوبا لدې دَ انګورو اندازه لګول

د خرص مسئله هم د زکوة په مشهور اختلافی مسائلو کښې ده، چه دهغې جمهور علماء و منهم الائمة الثلثة قائل دی،امام صاحب،صاحبين،شعبی اوسفيان ثوری ددې قائل نه دی.

د خرص سره متعلق مباحث ثمانيه فقهيه:

دلته کښې څو خبرې قابل ذکر دی.(۱) د خرص تعريف، يعنی دهغې شرعی معنی،(۲) ددې حکم او فائده(۳) خرص په کومو کومو څيزونو کښې وی، صرف په ميوؤ کښې يا په دانو

کښې هم وی، او په میوؤ کښې په کومو کومو میوو کښې دې(۴) د خرص په وخت کښې د رب المال په رعایت کښې به څه مقدار د عشر پرېخودلې شی، او که نه(۵) که بعد الجفاف د خرص خطاء کیدل ظاهر شی، نو په دې صورت کښې به د خارص په قول باندې عمل کولې شی، یا موجوده صورت حال ته به کتلې شی(۶) که د څه آفت سماویه په وجه د مالک د تعدی نه بغیر ثمار قبل الجفاف ضائع شی نو زکوٰة به ساقطیږی، او که نه(۷) د خرص ثبوت من حیث الدلیل او د منکرین خرص جواب(۸) د خرص په باره کښې د مسلک احناف تحقیق. اوس د شروح حدیث او کتب فقه په مدد سره دا مضامین لیکلې شی، والله الموفق.

بحث اول : (دخرص لغوی اواصطلاحی تعریف)

خرص په فتحې او کسرې دواړو سره ضبط کړې شوې دې،(ازباب نصر) ددې لغوی معنی تخمین او تقدیر ده، یعنی خپلې رائې او اندازې سره د یو څیز مقدار متعین کول، او شرعا په اونو باندې لګیدلو میوؤ مقدار متعین کول، چه فی الحال دا دومره دی، او عند الجداد(د اونو نه راشوکولو په وخت) کښې به ددې مقدار دومره وی، لهذا په دې کښې به دومره زکوٰة واجب وی، چه عند الجداد به اخستلې کیږی،(څکه چه د جداد په وخت کښې هغه قوت مدخر جوړیږی) خرص عند الجمهور په اصل کښې یو قسم معاهده ده، د ساعی د رب المال سره، چه ستا په مال کښې دومره زکوٰة واجب دې، چه ستا نه به په خپل وخت باندې اخستلې کیږی، نو رب المال هغه مقدار په خپله ذمه کښې واخلی، دا ټول هرڅه د جمهورو په نزد دی، احناف د خرص قائل نه دی، ددوی د مذهب تحقیق به آخره کښې راشی.

بحث ثانی : (د خرص حکم اوفائده)

د خرص فائده د قائلین خرص په نزد داده، چه د رب المال دپاره دا سهولت شی، چه هغه په خپل مال کښې د خرص نه پس چه څرنګه غواړی تصرف کولې شی، رطبا ویابسا یعنی فی الحال تروتازه هم او روستو هم، خپله خوړل، نورو ته ورکول، هبه کول، صدقه نافله ورکول، وغیره، څکه چه د شافعیه په نزد قبل الخرص مالک دپاره په مال کښې تصرف کول حرام دی، ترڅو پورې چه زکوٰة ترې اونه باسی، څکه چه درب المال سره کوم مال دی، هغه د اداء زکوٰة نه مخکښې مشترک دې، د هغه او فقیرانو په مینځ کښې، البته د حنابله په نزد قبل الخرص صرف ثلث یا ربع مال کښې تصرف جائز دې، ددې نه زیات کښې جائز نه دې.

او په خرص کښې د فقیرانو فائده داده، چه دهغوی حق د خیانت او نقص نه محفوظ شی، څکه چه ټول زکوٰة ورکونکې امانتدار نه وی، اوس داچه خرص عند الجمهور واجب دې، او که مستحب، دا مختلف فیه دې، حافظ فرمائې چه د قائلین خرص په نزد ددې په حکم کښې اختلاف دې، جمهور فرمائې مستحب دې، او یوه وجه د شافعیه په نزد د وجوب ده، چه هغې لره صیمری نقل کړې ده، او په منهل کښې دی، ذهب مالک و اصحابه الی الوجوب وهو قول بعض اهل الظاهر وهوقول للشافعی وقالت الشافعیة والحنابلة یسن. اهـ

بحث ثالث : (خرص په کومو څیزونو کښې صحیح دې؟)

خرص د جمهورو او ائمه ثلاثه په نزد صرف په تمر او عنب کښې دې، په زیتون کښې

نشته، علی القول المشهور الا فی روایة شاذة عن الشافعي ومالک اګر چه په دې کښ(زیتون کښې) زکوة واجب دې، لیکن خرص په کښې مشروع نه دې، لعدم ورود النص،
لیکن د زهری، اوزاعی او لیث په نزد په دې کښې هم خرص شته، لانه ثمر تجب فیه الزکوة فیخرص کالرطب، او د بعضې علماؤ په نزد ومنهم البخاری، د تمر او عنب نه علاوه هم په هر هغه میوه کښې شته، چه رطبا و یابسا په دواړو طریقو سره خوړلې شی، او څلورم مذهب د قاضی شریح او داؤد ظاهری دې، دهغوی په نزد خرص تمر سره خاص دې، ددې نه علاوه په بل څیز کښې نشته.
او په حبوب او زروع کښې بالاتفاق خرص مشروع نه دې.

بحث رابع : (ایا دخرص په وخت څه مقدار په عشر کښې پریخودې شی؟)

د خرص په وخت کښې به څه مقدار پریخودلې شی، او که نه؟ د حنابله په نزد د خارص د رائي او مصلحت مطابق ثلث یا ربع پریخودل واجب دی، کما فی نیل المآرب ص۶۰، دا مقدار ولې پریخودلې شی؟ د مالک خپله خوړلو دپاره او هدیه وغیره کولو دپاره. قال الحافظ فی الفتح ۳ص۲۷٤، و به قال اللیث واحمد و اسحاق وغیرهم وقال مالک[1] و سفیان لا یترک لهم شیء وهو المشهور عن الشافعي او دلیل د ترک مخکښې په کتاب کښې راروان دې.

بحث خامس : (ظهور الخطا فی الخرص بعد الجفاف)

ظهور الخطاء فی الخرص بعد الجفاف) په دې صورت کښې د مالکیه ظاهر قول دادې، چه د خارص په قول به عمل کولې شی، په شرط ددې چه هغه عارف او ماهر وی،
او د شوافعو په نزد د موجوده صورت حال اعتبار به وی، کذا فی الفتح وارشاد السالک ص٦٢٦ فی فقه مالک.

بحث سادس : (افة سماویه)

(آفت سماویه) په دې صورت کښې د ټولو په نزد زکوة به ساقط وی، په شرط ددې چه کوم مال بچ پاتې شوې وی، هغه د نصاب(پنځه وسق) په اندازه نه وی.

بحث سابع : (دخرص ثبوت من حیث الدلیل اود منکرین خرص جواب)

په دې کښې کلام طویل دې، بهرحال مصنف په دې سلسله کښې دوه احادیث ذکر کړې دی، حدیث عتاب ابن اسید او حدیث سهل بن ابی حثمه وفیهما مقال کما سیاتي او یو دریم حدیث عائشه چه د خرص یهود باره کښې دی، چه نبی کریم ﷺ به ابن رواحه رضی الله عنه لیږلو وو، د خیبر د یهودیانو د باغونو خرص کولو دپاره، لیکن ددې دریم حدیث تعلق د زکوة مسلمین د خرص سره نه دې (حالانکه مقصود دادې)

د ابن العربی دخرص په مسئله کښې خرص، محققانه او منصفانه کلام :

په دې سلسله کښې زما په خیال د ټولو نه زیات واضحه او منصفانه خبره قاضی ابوبکر ابن

[1] قلت وفي کتاب الکافي ص۲٦٥(في فقه مالک) لابن عبد البر والمشهور من مذهب مالک انه لا یترک الخارص شیئا في حین خرصه وقدروي بعض المدنیین انه یخفف في الخرص و یترک للعرایا والصلة ونحوها) اهـ

العربی فرمائیلې ده، په عارضة الاحوذی شرح ترمذی کښې هغوی د احادیث خرص ذکر کولو نه پس فرمائیلې دی، چه د خرص په باره کښې هیڅ حدیث صحیح وارد نه دې، صرف یو حدیث په دې کښې صحیح دې، چه هغې لره بخاری او مسلم روایت کړې دې، په هغې کښې دادی، چه کله نبی کریم ﷺ تبوک ته تشریف اوړولو، نو په لاره کښې د یوې بوډۍ باغ وو، نبی کریم ﷺ هلته تشریف یوړو، او کوم صحابه چه دهغوی سره وو، هغوی ته ئې اوفرمائیل : اخرصوا تاسو ټول ددې باغ د میوؤ خرص اوکړئ، نو ټولو خرص اوکړو، او خپله نبی کریم ﷺ هم اوکړو، د نبی کریم ﷺ د خرص مقدار په حدیث کښې لس وسق مذکور دې،(د صحابه کرامو د خرص مقدار معلوم نه دې، چه څه وو) بیا چه کله د تبوک نه واپس شول، نو نبی کریم ﷺ دهغې ښځې نه تپوس اوکړو، چه په دې کښې څومره مال(تمر) راؤتلو، نو هغې هم هغه مقدار اوښودلو، چه د نبی کریم ﷺ د خرص مطابق وو([1])

ابن العربی فرمائي : او ددې ته نزدې نزدې(په ثبوت او صحت کښې) حدیث ابن رواحه هم دې، لیکن دهغې تعلق د زکوة المسلمین سره نه دې، بلکه هغه د یهود سره متعلق دې، د یهودیانو نه خو نبی کریم ﷺ خرص ددې وجې نه اخستلې وو، لانهم کانوا غیر امناء او دلته کښې خبره په خرص لاجل الزکوة کښې ده، او حدیث د سهل بن ابی حثمه او عتاب بن اسید اګرچه د خرص فی الزکوة باره کښې دی، لیکن هغه ثابت او صحیح نه دی، ابن العربی یو نقد او جرح بله هم فرمائیلې ده، هغه داچه د خرص په باره کښې روایات چه څرنګه هم دی،(قوی یا ضعیف) لیکن هغه صرف د خرص النخل سره معتلق دی، د خرص زیتون په باره کښې هیڅ حدیث نشته، حالانکه د نبی کریم ﷺ په زمانه کښې زیتون په کثرت سره وو، او په دې کښې عشر هم واجب دې، داسې ولې ده؟اهـ مختصرا

د امام طحاوی رائي :

امام طحاوی په شرح معانی الآثار کښې د خرص یهود باره کښې دا فرمائیلې دی، چه هغه هم د الزام حکم دپاره نه وو، بلکه صرف ددې دپاره چه معلومه شی، چه په دغې باغونو کښې کوم مال دې، دهغې مقدار څه دې، دې دپاره چه په وخت د صرام(یعنی ریبلو) هغومره دهغوی نه وصول کړې شی، او په هغې کښې دوی هیڅ ګړ بړ اونه کړی، د ابن العربی او طحاوی په کلام کښې په ظاهره فرق دادې، چه د اول الذکر په نزد د یهودیانو سره خرص دالزام حکم دپاره وو، او د مؤخر الذکر په نزد صرف دمقدار د معرفت دپاره وو، دې دپاره چه دهغوی د خیانت پته اولګی.

[1]) په ظاهر کښې د ابن العربی د وینا مقصد دادې، چه دا یو حدیث اګر چه صحیح دې، لیکن په دې کښې ددې خبرې تصریح چرته ده، چه نبی کریم ﷺ دا خرص لاخذ الحق کړې وو، نه مخکښې په حدیث کښې شته، چه نبی کریم ﷺ ددې خرص مطابق دهغې نه زکوة اخستلې وو، او که دا خرص د الزام حکم دپاره وو، نو بیا نبی کریم ﷺ دهغې ښځې نه ولې تپوس کولو؟ چه څومره مال په دې کښې راؤتلو، په حقیقت کښې دا د صحابه کرامو یو قسم اختبار او امتحان وو، چه د چا اندازه صحیح راؤځی، هذا ما فهمته من سیاق کلامه والله تعالی اعلم.)

ابن رشد مالکی هم ددې خبرې اعتراف کړې دې، چه خرص لره معتبر مثل د اصول او قواعدو خلاف دی، (بیا ئې منی ولې؟ لاجل الاثر) خلاف اصول ددې وجې نه دی، چه په دې کښې د بیع مزابنې شکل دې، او بیع الرطب بالتمر د نسیئة د قبیلې نه دې. چه بالاتفاق ممنوع دې ۱ھ

د نهی عن الخرص حدیث:

زهٔ وایم امام طحاوی د خرص خلاف یو صریح حدیث هم روایت کړې دې. وهو حدیث جابر ان رسول الله(صلی الله علیه وسلم) نهی عن الخرص وقال ارئیتم ان هلک التمر أیحب احدکم ان یاکل مال اخیه بالباطل، که څوک اوائی چه بیا نبی کریم ﷺ د یهودیانو سره خرص ولې کولو؟ ددې جواب دادې، چه د یهودیانو سره خرص صرف دمقدار دمعرفت دپاره کولې شو، نه د الزام حکم دپاره(قاله الطحاوی)

د شوافعو د طرف نه د حدیث النهی جواب

شراح شافعیه یعنی حافظ ابن حجر وغیره د حدیث جابر ﷺ باره کښې وئیلې دی، چه دا زمونږ خلاف نه دې، ځکه که د آفت سماویه په وجه قبل الجفاف د میوؤ نقصان اوشی، او هغه ضائع شی، نو بیا مونږ هم په دې صورت کښې د خارص په قول عمل نه کوؤ، احقر عرض کوی، چه د باغونو د میوؤ چه کوم خلق کاروبار کوی، هغوی همیشه هم داسې خبره کوی، چه زمونږ دومره نقصان شوې دې، دا خو بیا د اختلاف او نزاع شکل جوړیږی.

بحث ثامن: (خرص سره متعلق د احنافو دمسلک تحقیق)

د تیر شوؤ بحثونو نه دا خبره معلومه شوه، چه احناف د خرص قائل نه دی، یعنی هغسې ځرنګه چه جمهور وائی، کما تقدم التصریح بذلک فی کلام الطحاوی، د علامه عینی د کلام نه هم دا معلومیږی، او نور شارحینو د حدیث هم په دې مسئله کښې د احنافو خلاف نقل کړې دې، حضرت شیخ په اوجز کښې لیکلې دی، ددې وجې نه اکثر فروع د احنافو د دې مسئلې د بیان نه خالی دی.

د خرص باره کښې د حضرت ګنګوهی رائې:

لیکن د حضرت ګنګوهی رحمه الله په تقریرترمذی(الکوکب الدری) او تقریر ابوداؤد دواړو کښې تصریح ده، چه د احنافو په نزد په عشر او خراج دواړو کښې خرص(بالمعنی الذی اخذه جمهور) جائز دې، البته په مزارعت کښې جائز نه دې، دغه شان د حضرت په تقریربخاری(لامع الدراری) کښې هم دې طرف ته اشاره ملاویږی، چه خرص په عشر او عریه وغیره کښې جائز دې، البته خرص بالبیع(بیع مزابنة) جائز نه ده، لعارض شبهة الربوا ګویا دا شبهة الربوا په خرص فی الزکوة کښې نشته.

زمونږ حضرت شیخ رحمه الله ته د حضرت ګنګوهی رحمه الله په رائې او نقل مذهب باندې داسې ښکاری چه څه حیرانتیا ده،(ځکه چه د ډیرو علماء احناف د تصریح نه خلاف ده) ددې باوجود بیا هم په حاشیه د کوکب کښې د حضرت ګنګوهی رحمه الله د کلام حتی الامکان توجیه

فرمائیلي ده، (دي لره هلته کښې کتل پکار دي) دغه شان د مولانا انور شاه کشمیری رحمه الله په تقاریر بخاری و ترمذی (فیض الباری او عرف الشذی) کښې لیکلي دی، چه په دې مسئله کښې د جمهور او احنافو څه خاص اختلاف نشته، لیکن احقر ته په دې کښې دا شک دې، چه بیا زمونږ فقهاء دې لره په خپلو کتابونو کښې ذکر کوی ولې نه؟ څرنګه چه د نورو مذاهبو په کتابونو کښې دا مسئله ملاویږی، بلکه دهغوی په کتابونو کښې خو دومره تصریح ملاویږی، چه باغ والا دپاره د خپل باغ په میوؤ کښې قبل الخرص تصرف حرام دې، زمونږ په نزد خو داسې نه ده، فتدبر و هذا جهد المقل فی توضیح هذه المسئلة و بیان متعلقاتها والله الموفق. ددې بحثونو نه خبریدلو نه پس اوس تاسو حدیث الباب اوګورئ.

[۱۶۰۳] (۱) حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ السَّرِيِّ النَّاقِطُ، حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ مَنْصُورٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، عَنْ عَتَّابِ بْنِ أَسِيدٍ، قَالَ: "أَمَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُخْرَصَ الْعِنَبُ كَمَا يُخْرَصُ النَّخْلُ، وَتُؤْخَذُ زَكَاتُهُ زَبِيبًا كَمَا تُؤْخَذُ زَكَاةُ النَّخْلِ تَمْرًا".

حضرت عتاب بن اسید رضی الله عنه وائی چه رسول الله ﷺ د انګورو د تخمینه لګولو حکم اوکړو لکه څنګه چه په اونه کښې د کجورو تخمینه لګولې شی او دهغې زکوة هغه وخت واخستلې شی کله چه هغه اوچې شی لکه چه د کجورو زکوة په اوچیدلو سره اخستلې شی.

تشریح: قوله: عن عتاب بن اسید قال امر رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ان یخرص العنب کما یخرص النخل تؤخذ زکوته زبیبا کما توخذ صدقة النخل تمرا.

شرح حدیث:

ددې حدیث تشریح داسې ده، چه د جمهورو په نزد د کهجورو په زکوة کښې رطب یعنی تروتازه کهجورې خو اخستلې کیږی نه، بلکه چه کله هغه اوچې شی او تمر ترې جوړ شی، ځکه چه دا ذخیره کولې شی، رطب نشی ذخیره کولې، ځکه چه ډیرې زر باسی کیږی، علی هذ القیاس د عنب زکوة بعد الجفاف چه کله هغه زبیب شی، اخستلې شی، ددې وجې نه ددې دواړو څیزونو خرص په دې اعتبار سره وی، چه رطب تمر جوړیدلو نه پس او عنب زبیب جوړیدلو نه پس به څومره مقدار کښې وی، نو د جمهورو په نزد د معشراتو چه کوم نصاب دې، یعنی پنځه وسق، هغه بعد الجفاف دې.

د حدیث الباب نه د احنافو د طرف نه جواب:

دا حدیث د سنن اربعة روایت دې، او د قائلین خرص دپاره دلیل دې، لیکن دا منقطع دې، ځکه چه دسعید ابن المسیب سماع دعتاب نه ثابت نه ده، بلکه سعید د عتاب زمانه هم موندلې نه ده، د ابن المسیب ولادة په خلافت عمر رضی الله عنه کښې دې، او د عتاب وفات په هغه ورځ وو، په کومه ورځ چه صدیق اکبر رضی الله عنه وفات شو، قال المنذری انقطاعه ظاهر، لهذا حجت نه دې.

(۱): سنن الترمذي/الزكاة ۱۷ (٦٤٤)، سنن النسائي/الزكاة ۱۰۰ (۲٦۱۹)، سنن ابن ماجه/الزكاة ۱۸ (۱۸۱۹)، (تحفة الأشراف: ۹۷٤۸) (ضعیف)

[۱۶۰۴] (١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْحَاقَ الْمُسَيَّبِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ نَافِعٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ صَالِحٍ التَّمَّارِ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، بِإِسْنَادِهِ وَمَعْنَاهُ. قَالَ أَبُو دَاوُد: سَعِيدٌ لَمْ يَسْمَعْ مِنْ عَتَّابٍ شَيْئًا.

محمد بن صالح التمار د ابن شهاب نه د هغه په سند سره د مذكوره بالا حديث هم معنیٰ بيان كړې دې - امام ابوداود رحمه الله فرمائی چه سعيد (بن المسيب) د حضرت عتّاب نه څۀ نۀ دی اوريدلي -

بَابٌ فِي الْخَرْصِ

باب: ۱۵- په اونوباندې د ميوو اندازه لګول

د خرص مفهوم عند الحنفيه او عند الجمهور :

يعنى دا اندازه لګول چه په اونو كښې خومره رطب يا انګور دى، هغه فى الحال څومره دى، او تمر او زبيب جوړيدلو نه پس به څومره وى، دې دپاره چه د اوس نه معلومه شى، چه ددې باغ نه به تقريبا دومره عشر وصولولې شى، چه دهغې تحقيقى مقدار بعد الجفاف به متعين وى،د خرص دا مفهوم د احنافو د مسلک مطابق دې، او د جمهورو په نزد ددې مفهوم دعشر د مقدار فيصله كول دى، چه دهغې د باغ مالک لره د اوس نه ذمه وار جوړولې شى، چه د عشر اخستلوكله وخت راشى، نوموړی به ستا نه دومره زكوة اخلو.

دلته كښې دا اشكال دې، چه مصنف لره پكار وو، چه اول ئې مطلق د خرص باب قائم كړې وې، دهغې نه پس د خرص العنب، ځكه چه مطلق مقدم وى، په مقيد باندې، مصنف ددې خلاف ولې اوكړل؟

ددې جواب دادې، چه ددې دويم باب نه د مصنف مقصود د نفس خرص بيان نه دې، چه اشكال وارد شى، بلكه د خرص سره متعلق نور احكام بيانول دى، فلا اشكال

[۱۶۰۵] (٢) حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ خُبَيْبِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: جَاءَ سَهْلُ بْنُ أَبِي حَثْمَةَ إِلَى مَجْلِسِنَا، قَالَ: أَمَرَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا خَرَصْتُمْ فَجُذُّوا وَدَعُوا الثُّلُثَ، فَإِنْ لَمْ تَدَعُوا أَوْ تَجُذُّوا الثُّلُثَ فَدَعُوا الرُّبُعَ". قَالَ أَبُو دَاوُد: الْخَارِصُ يَدَعُ الثُّلُثَ لِلْحِرْفَةِ.

حضرت عبد الرحمن بن مسعود بيان كوى چه حضرت سهل بن ابى حثمه رضی الله عنه زمونږ مجلس ته راغې اووې فرمائيل چه رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته حكم فرمائيلې وو : كله چه تاسو په اونو باندې د ميوو اندازه اولګوئ نو تاسو د هغې ميوه راشوكولې شئ او د اندازه كړى شوى وزن نه دريمه حصه پريږدئ - كۀ چرې تاسو دريمه حصه نۀ پريږدئ نو څلورمه حصه پريږدئ - امام ابوداود رحمه الله فرمائى : چه اندازه كوونكې دې د خپل عمل د تخمينې او اندازې په باعث سره دريمه حصه پريږدى -

---

(١): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف :٩٧٤٨)(ضعيف)

(٢): سنن الترمذي/الزكاة ١٧(٦٤٣)، سنن النسائي/الزكاة ٢٦(٢٤٩٠)، (تحفة الأشراف :٤٦٤٧)، وقد أخرجه: مسند احمد(٣/٤)(ضعيف)

تشریح: قوله:قال جاء سهل بن ابی حثمة الی مجلسا قال امرنا رسول الله(صلی الله علیه وسلم) اذا خرصتم فجذوا و دعوا الثلث فان لم تدعوا و تجدوا الثلث فدعوا الربع.

شرح حدیث او اختلاف نسخ :

د اولې جملې مطلب دادې، چه کله تاسو خرص اوکړئ، نو میوې اوشوکوئ، یعنی باغ والو ته د شوکولو اجازت ورکړئ، ځکه چه د میوؤ شوکول د خارص کار نه دې، بلکه د باغ د مالک کار دې، د شوکولو نه مراد دادې، چه هغوی ته په باغ کښې د تصرف کولو اجازت او اختیار ورکړئ، ددې نه په ظاهر کښې معلومیږي، چه قبل الخرص مالک ته په خپل باغ کښې د تصرف کولو اختیار نشته، لکه د شوافعو وغیره مذهب هم دادې. **کما تقدم تفصیله**.

دا جذوا د امر صیغه ده، د جذ(ذال معجمه سره) نه، ددې معنی قطع ده، او بعضې نسخو کښې دا لفظ فجدوا دال مهمله سره راغلې دې،د جد نه د امر صیغه ده، ددې معنی کوشش او سعی ده، یعنی هرکله چه تاسو خرص اوکړو، نو چه کله د زکوة اخستلو وخت راشی، نو دهغې خرص مطابق زکوة وصول کړئ.

ودعو الثلث او د خرص په وخت کښې یو ثلث زکوة د باغ مالک سره پریږدئ، کوم خلق چه د ترک قائل دی، لکه امام احمد رحمه الله دهغوی په نزد خو ددې حدیث د توجیه ضرورت نشته، او مصنف هم حنبلی دې، او کوم چه قائل نه دی، لکه امام مالک رحمه الله او امام شافعی رحمه الله نو غالبا هغوی ددې توجیه داسې کوی، چه د ترک نه مقصود تخفیف فی الزکوة نه دې، په زکوة کښې خو به کمې کولې نشی، بلکه ددې ترک نه مقصود دادې، چه باغ والو ته به هم فقیران وغیره راځی، ددې وجې نه څه مقدار یعنی ثلث یا ربع د باغ مالک سره پریږدئ، دې دپاره چه هغه په خپل لاس هم څه زکوة ورکړی، دا ترک یو مستقل اختلافی مسئله ده، چه په تیر شوې مباحث ثمانیه کښې په بحث رابع کښې تیره شوې ده. **فان لم تدعوا او تجدو الثلث** پس که نه پریږدئ تاسو ثلث، یا(راوی داسې وئیلې دی) چه اونه مومئ ترک ثلث لره مناسب، نو بیا ربع پریږدئ، دلته کښې هم نسخې مختلفې دی، په دې صورت کښې خطاب په دوارو افعالو کښې عاملانو ته دې، او په بعضو نسخو کښې دی، او تجذوا الثلث په دې صورت کښې د تدعوا خطاب عاملانو ته، او د تجذوا خطاب مالکانو ته دې، یعنی که نه کټ کوئ تاسو د خپل ځان دپاره ثلث، نو ربع کټ کړئ،(د کټ کولو نه مراد خپل ځان دپاره اخستل دی) په عرف الشذی کښې ددې حدیث متعددې معنې لیکلې دی، څوک چه غواړی هلته دې اوګوری.

تخریج الحدیث :

قال المنذری والحدیث اخرجه الترمذی والنسائی وعزاه الحافظ فی الفتح (ص ۲۷۴ ج ۳) الی السنن و صحیح ابن حبان، دا حدیث هم د قائلین خرص دپاره دلیل دې، ددې په سند کښې عبدالرحمن بن مسعود بن نیار الانصاری دې، چه متکلم فیه دې، بعضو دده توثیق کړې دې، او ابن القطان لا یعرف حاله وئیلې دی.

باب مَتَى يُخْرَصُ التَّمْرُ

باب: ۱۶- دَ کجورو اندازه دې کله اولګولې شي

[۱۶۰۶](١) حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مَعِينٍ، حَدَّثَنَا حَجَّاجٌ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، قَالَ: أُخْبِرْتُ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، أَنَّهَا قَالَتْ: وَهِيَ تَذْكُرُ شَأْنَ خَيْبَرَ "كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَبْعَثُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ رَوَاحَةَ إِلَى يَهُودَ فَيَخْرُصُ النَّخْلَ حِينَ يَطِيبُ قَبْلَ أَنْ يُؤْكَلَ مِنْهُ".

حضرت عائشې رضي الله عنها د خیبر په سلسله کښې ذکر کړې دی چه نبی کریم ﷺ به حضرت عبد الله بن رواحه رضي الله عنه لره دَ یهودو طرف ته لیږلو او دَ کجورو دَ میوې اندازه به ئې لګوله په هغه وخت کښې کله چه به هغه ښهٔ تیارې شوې وې، دَ خوراک دَ قابل جوړیدو نه مخکښې مخکښې به ئې دا کار کولو -

تشریح: قوله:عن عائشة رضي الله عنها انها قالت وهی تذکر شان خیبر کان النبی(صلی الله علیه وسلم) یبعث عبدالله بن رواحة فیخرص النخل حین یطیب قبل ان یؤکل منه،

عبد الله بن رواحه د خرص ماهر وو، ددې وجې نه به نبی کریم ﷺ هغه لره د خیبر یهودیانو ته لیږلو، او دهغه په ذریعې سره به ئې خرص کولو.

د حدیث نه معلومه شوه، چه خرص ثمار د بدوصلاح نه پس کول پکار دی، ددې نه مخکښې نه، هم دا مسلک د جمهورو دې، او داچه خرص کښې د خارص واحد عدل قول معتبر دې، وبه قالت المالکیة والحنابلة وجماعة من الشافعیة ان کان عدلا عارفا وقال جماعة من الشافعیة لا بد من الاثنین(منهل)

باب مَا لَا يَجُوزُ مِنَ الثَّمَرَةِ فِي الصَّدَقَةِ

باب: ۱۷- په صدقه اوزکات کښې ردی قسم میوه ورکول ناجائز دی-

[۱۶۰۷](٢) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ فَارِسٍ، حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ سُلَيْمَانَ، حَدَّثَنَا عَبَّادٌ، عَنْ سُفْيَانَ بْنِ حُسَيْنٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَبِي أُمَامَةَ بْنِ سَهْلٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: "نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْجُعْرُورِ، وَلَوْنِ الْحُبَيْقِ أَنْ يُؤْخَذَا فِي الصَّدَقَةِ". قَالَ الزُّهْرِيُّ: لَوْنَيْنِ مِنْ تَمْرِ الْمَدِينَةِ. قَالَ أَبُو دَاوُد: وَأَسْنَدَهُ أَيْضًا أَبُو الْوَلِيدِ، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ كَثِيرٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ.

حضرت ابو امامه بن سهل د خپل پلار نه روایت کوی چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلې وه ددې نه چه دَ جعرور او لون الحُبَیق قسم(ردی) کجورې په صدقه کښې قبول کړې شی - امام زهری رحمه الله وضاحت کړې دې چه دا دَ مدینې منورې دَ دوو قسم کجورو نومونه دی -امام ابوداود رحمه الله فرمائی چه دې لره ابو الولید هم په واسطه دَ سلیمان بن کثیر، دَ امام زهری نه مسند ذکر کړې دې -

تشریح: قوله:عن ابی امامة بن سهل عن ابیه قال نهی رسول الله(صلی الله علیه وسلم) عن الجعروولون الحبیق ان یؤخذا فی الصدقة.

---

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف :۱۶۰۶، ۱۶۵۳۱)، وقد أخرجه: مسند احمد(۱۶۳/۶)(ضعیف)

[2]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف :۴۶۵۸)، وقد أخرجه: سنن النسائي /الزكاة ۳۷(۲۴۹۴)(صحيح)

شرح حدیث :

ددې حدیث راوی سهل بن حنیف دې، او د سهل نه دهغه ځوی ابوامامه چه دهغه نوم اسعد دې، روایت کوی، چه نبی کریم ﷺ په صدقة الثمار کښې ددې نه منع فرمائیلې ده، چه جعرور (بروزن عصفور) او لون الحبیق واخستلې شی، دا د دواړو بې کاره قسمه کهجورو نومونه دی، لکه چه خپله په روایت کښې ذکر دی، لیکلې دی، چه حبیق منسوب دې ابن حبیق طرف ته، چه د یو سړی نوم دې، د زکوة او عشر ضابطه داده، چه هغه به د متوسطې درجې نه اخستلې کیږی، نه بې کاره او نه د ټولو نه اعلی، د دارقطنی د روایت نه معلومیږی، چه بعضې خلقو به په صدقه کښې ردی قسم کهجورې ورکولې، نو نبی کریم ﷺ منع کړل، او دا آیت شریف نازل شو، ولا تیمموالخبیث منه تنفقون، او په یو روایت کښې دی، نهی رسول الله(صلی الله علیه وسلم) ان یؤخذ من الصدقة الرذالة، رذالة په معنی د ردی کهجورې(منهل)

[۱۶۰۸]([1]) حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَاصِمٍ الْأَنْطَاكِيُّ، حَدَّثَنَا يَحْيَى يَعْنِي الْقَطَّانَ، عَنْ عَبْدِ الْحَمِيدِ بْنِ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنِي صَالِحُ بْنُ أَبِي عَرِيبٍ، عَنْ كَثِيرِ بْنِ مُرَّةَ، عَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: دَخَلَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَسْجِدَ وَبِيَدِهِ عَصًا، وَقَدْ عَلَّقَ رَجُلٌ قَنًا حَشَفًا، فَطَعَنَ بِالْعَصَا فِي ذَلِكَ الْقِنْوِ، وَقَالَ: "لَوْ شَاءَ رَبُّ هَذِهِ الصَّدَقَةِ تَصَدَّقَ بِأَطْيَبَ مِنْهَا" وَقَالَ: "إِنَّ رَبَّ هَذِهِ الصَّدَقَةِ يَأْكُلُ الْحَشَفَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ".

د حضرت عوف بن مالک رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ مونږ ته تشریف راوړو او د هغوی ﷺ په لاس کښې امسا وه او چا د ردی قسم اوچو کجورو یوه غنچه زوړنده کړې وه، حضور ﷺ په خپلې امسا سره هغه غنچه اووهله اووې فرمائیل :" دې صدقه کوونکې ددې نه عمده صدقه هم ورکولې شوه -" اووې فرمائیل : چه دا کس به د قیامت په ورځ باندې ردی کجورې خوری -"

عن عوف بن مالک قال دخل علینا رسول الله(صلی الله علیه وسلم) المسجد وبیده عصا وقد علق رجل منا قنا حشفا فطعن بالعصا فی ذالک القنو، قنا، د قاف فتحې او کسرې سره دواړه لغته دی، او هم دارنګې قنو(بضم القاف و کسرها) په معنی د کهجور غنچه، او حشف اوچ او ردی کهجورو، یعنی یو سړی د ردی کهجورو غنچه په مسجد نبوی ﷺ کښې د فقیرانو دپاره زوړنده کړې وه، نو هغه لیدلو سره نبی کریم ﷺ هغه په امسا سره اوخوزوله، او په خفګان ئې اوئیل چه ددې زوړندونکې که غوختلې وې، نو ددې نه ښه غنچه ئې هم زوړندولې شوه، لیکن هغه اونه غوختل، اوس الله تعالی به هغه ته هم د قیامت په ورځ دغسې بې کاره کهجورې ورکوی، د قیامت په ورځ خوراک نه په ظاهر کښې حقیقة خوراک مراد نه دې، بلکه ددې خصلت سیئة سزا ځکل مراد دی، جزاء اکل باندې د اکل اطلاق مشاکلة دې، او حقیقت اکل هم مراد کیدې شی، په دې شان سره، چه الله تعالی به د قیامت په ورځ دهغه سړی په زړه کښې د خوراک خواهش او رغبت پیدا کړی، او بیا به داسې بې

[1]: سنن النسائي/الزكاة ۲۷(۲٤۹٥)، سنن ابن ماجه/الزكاة ۱۹(۱۸۲۱)،(تحفة الأشراف :۱۰۹۱٤)، وقد أخرجه: مسند احمد(۲۳/٦، ۲۸)(حسن)

کاره کهجورې په هغه باندې اوخروی، په اصل کښې په صحابه کرامو کښې چه کوم حضرات باغونو والا یا مالدار وو، هغوی به داسې کول، چه د غریبو خلقو دپاره به ئې په جمات کښې د کهجورو غنچې اویزاندولې، دې دپاره چه کله دغه خلقه د مانځه دپاره جمات ته راشی، نو ددې نه یو دانه دوه کهجورې راؤشوکوی، او اوخری، مخکښې په باب حقوق المال کښې یو حدیث راروان دې، ان رسول الله(صلی الله علیه وسلم) امر من کل جاد([1]) عشرة اوسق بقنو یعلق فی المسجد ددې نه معلومه شوه، چه ددې تعلیق قنو دستور د نبی کریم ﷺ په ترغیب سره وو.

باب زکاة الفطر

باب: باب: ۱۸ - د زکات فطر احکام او مسائل

پوهیدل پکار دی، چه د زکوة دوه قسمه دی، زکوة مالیه او دویم قسم زکوة بدنیه، چه هغې ته صدقة الفطر وئیلې شی، مصنف چه کله د قسم اول د ضروری او اهم ابوابو نه فارغ شو، نو اوس دلته کښې دهغې قسم ثانی بیان فرمائي، بیا ددې د فراغت نه پس به مصنف نور باقی پاتې ابواب الزکوة بیانوی.

د صدقة الفطر سره متعلق مباحث عشره علمیه مفیده:

دلته کښې د شروع نه مخکښې د یو څو امورو پیژندل د طالب علم دپاره مفید او موجب بصیرت دی، او زمونږ د ترتیب په لحاظ سره هغه لس څیزونه دی،(۱) د صدقة الفطر تسمیه او وجه تسمیه(۲) ددې د مشروعیت کال(۳) ددې حکم شرعی مع اختلاف ائمه(۴) د صدقة الفطر سبب وجوب(۵) شرط وجوب، او آیا غنی هم ددې د شرائطو نه دې او که نه؟(۶) وقت وجوب(۷) کیفیت وجوب وهل له قضاء ان لم یؤد یوم العید(۸) آیا په غلام هم واجب دې، که وی نو ادا کوی به ئې څوک، هغه په خپله یا دهغه د طرف نه مولی(۹) د صدقة الفطر مقدار، او په مقدار حنطه کښې اختلاف(۱۰) صدقة الفطر من الاقط معیار او حکم.

بحث اول: (د صدقة الفطر نومونه او وجه تسمیه)

د صدقة الفطر اسماء ډیر دی، زکوة الفطر، زکوة رمضان، زکوة الصوم، صدقة الراس، صدقة النفوس، زکوة البدن، په صدقة الفطر کښې اضافت الی وقت الوجوب دې، یا الی الشرط ورته اوایئ، او په صدقة الراس والبدن کښې اضافة الی السبب دې،(کما ستعرف) بیا په فطر کښې دوه اقوال دی، په معنی د فطرت واصل خلقة، بمعنی الافطار، وهو الاظهر فقد ورد فی حدیث "زکوة الفطر من رمضان"(قاله الحافظان ابن حجر والعین)

[1] جاد اسم فاعل دې، جدّ په معنی د قطع، مجدود،(د اونې نه راشوکولې شوې کهجورې) یعنی د هر لس وسق کهجورو د ذخیرې نه کم ازکم یوه غنچه په جمات کښې اویزاندول پکار دی، لطیفه: په الکوکب الدری کښې ددې حدیث نه یو لطیف استنباط هم فرمائیلې دې، هغه داچه د جمات په چهت کښې د گرمئ په موسم کښې د هوا دپاره پکی اویزاندول جائز دی.

بحث ثاني : (دصدقة الفطر حکم کله نازل شو؟)

په سنه ۲هـ کښې د اختر د ورځې نه دوه ورځې مخکښې، نبی کریم ﷺ د اختر نه دوه ورځې مخکښې خلقو ته خطبه ورکړه، په هغې کښې ئې د صدقة الفطر تعلیم ورکړو، صلی الله علیه وسلم شرف وکرم(وقد تقدم شیء منه فی مبداء کتاب الزکوة)

بحث ثالث : (د صدقة الفطر حکم)

په دې کښې څلور اقوال دی، د ائمه ثلاثه او جمهورو په نزد صدقة الفطر فرض دې، او د احنافو په نزد واجب دې، داشهب مالکی، او ابن اللبان شافعی په نزد سنت مؤکده دې، ابوبکر بن کیسان الاصم او ابراهیم بن علیه په نزد منسوخ دې، لحدیث قیس بن سعد بن عبادة، امرنا رسول الله(صلی الله علیه وسلم) بصدقة الفطر قبل ان تنزل الزکوة ثم نزل فریضة الزکوة فلم یامرنا ولم ینهنا(رواه ([1]) احمد وابن خزیمة والنسائی وابن ماجه والحاکم) لیکن دا استدلال صحیح نه دې، اذ نزول فرض لا یدل علی سقوط فرض آخر([2])

فائده : د ائمه ثلاثه مذهب اگر چه د صدقة الفطر د فرضیت لیکلې شوې دې، لیکن ددې باوجود دهغوی په نزد د صدقة الفطر منکر کافر نه دې، ځکه چه د فرضو نه مراد دهغوی غیر قطعی دې، او د احنافو په نزد فرض غیر قطعی نه وی، هغه همیشه دپاره قطعی وی، بلکه د غیر قطعی نه هغوی واجب سره تعبیر کوی، دا یوه مستقله اختلافی او اصولی مسئله ده، ه د احنافو اصطلاح د واجبو ده، او د جمهورو په نزد فرض غیر قطعی، پس دا اختلاف صرف لفظی دې، حقیقی نه دې.

بحث رابع : (د صدقة الفطر د وجوب سبب)

د صدقة الفطر وجوب راس یمونه و یلی علیه ولایة تامة دې، لما فی الحدیث عمن تمونون یعنی هغه ذات د کوم مؤنته(نان نفقه وغیره) چه سړې بر داشت کوی، او په چا چه هغه ته ولایت تامه حاصل وی، ددې اولین مصداق خو د سړی خپل ذات دې، او دغه شان په دې کښې دهغوی اولاد صغار(ماشومان) هم داخل دی، اولاد کبار او زوجه په دې کښې داخل نه دی، سړی ته په هغوی باندې ولایت تامه حاصل نه وی، نو د احنافو بلکه د جمهور او ائمه ثلاثه په نزد د اولاد صغار مسئله داده، چه که هغه مالدار وی، نو په پلار واجب دی، چه دهغوی د مال نه دهغوی صدقة الفطر ادا کړی، او که مالدار نه وی، نو بیا پلار وغیره چه څوک هم دهغوی ولی وی، دهغوی د طرف نه دې هغه ادا کړی، لیکن د امام محمد رحمه الله په دې کښې اختلاف دې، دهغوی په نزد د صغیر صدقه مطلقا دهغه په پلار ده، که هغه صغیر مالدار وی او که نه، او که هغه یتیم وی، د هغه پلار نه وی، نو بیا په هیچا باندې دهغه صدقه نشته،
او د زوجې مسئله هم اختلافی ده، جمهور و منهم الائمة الثلاثة په نزد دهغې صدقه په زوج واجب ده، څرنگه چه نفقه په هغه واجبه ده، او د احنافو په نزد د زوجې صدقة الفطر په

[1]) دا حدیث د کتاب الزکوة په شروع کښې تیر شوې دې،)
[2]) په الحل المفهم کښې تبعا للاوجز داسې دی، اذاسقوط فرض لا یدل علي سقوط فرض آخر دا سبقت قلم دې

خپله په هغې واجبه ده، څرنګه چه دهغې د مال زکوة خپله دهغې په مال کښې واجب دې، هم دا مسلک د سفيان ثوری، ابن المنذر، او ابن سيرين او ظواهرو دې.
د احنافو استدلال علی کل ذکر او انثی الحديث نه دې، په دې کښې زوجه هم داخله ده، او غير منکوحه بالغه ښځه به بالاتفاق خپله صدقة الفطر په خپله ورکوی.

بحث خامس : (د صدقة الفطر د وجوب شرائط)

شرائط د وجوب درې دی، اسلام، حريت او غنی، يعنی صاحب نصاب کيدل، ليکن حولان حول شرط نه دې، دا د احنافو مسلک دې، او د امام مالک رحمه الله نه يو روايت داسې دې، او د جمهورو په نزد د صدقة الفطر د وجوب دپاره نصاب شرط نه دې، بلکه په غنی او فقير ټولو باندې واجبه ده، صرف دا ضروری ده، چه دې سړی سره د خپل ځان او اهل عيال د يوې ورځې د نفقې نه علاوه دومره مال وی، چه د هغې نه صدقة الفطر ادا کړې شی، هم دا مسلک د امام شافعی رحمه الله، احمد رحمه الله او مالک رحمه الله (فی رواية) دې، لحديث ثعلبة بن ابی صعير مرفوعا عند المصنف (چه په مخکښې باب کښې راروان دې، وفيه علی کل غنی او فقير اما فقيرکم فيرد الله عليه اکثر مما اعطی.
قاضی ابوبکر بن العربی مالکی په دې کښې د احنافو مسلک ته ترجيح ورکړې ده، (چه د امام مالک صاحب يو روايت هم داسې دې) ځکه چه حديث ثعلبه دهغې احاديث صحيحه مقابله نشی کولې، چه دهغې نه د غنی شرط کيدل معلوميږی، لا صدقة الا عن ظهر غنی وغيره احاديث صحيحه دی، دغه شان د اصولو تقاضا هم داده، او حديث ثعلبه اول خو ضعيف دې، ځکه چه ددې په سند کښې النعمان بن راشد دې، قال المنذری لا يحتج بحديثه، دويم ددې جواب دا هم کيدې شی، چه غنی د امور اضافيه نه دې، پس د فقير نه فقير نسبی مراد دې، يعنی هغه غنی چه د کبار اغنياؤ په اعتبار سره فقير دې.

بحث سادس : (د صدقة الفطر د وجوب وخت)

دا مخکښې تير شوې دی، چه په صدقة الفطر کښې د فطر نه مراد افطار صوم دې، لهذا ددې وقت وجوب وقت افطار دې، اوس د افطار نه کوم يو افطار مراد دې؟ حنابله خو دا وائی، چه د رمضان د آخری ورځې وقت غروب، (د ليلة العيد شروع) او احناف وائې، چه دا افطار خو د رمضان د شروع نه کيږی، دا مراد نه دې، بلکه هغه خاص وقت افطار چه د يوې مياشت نه پس کيږی، يعنی د اختر په ورځ د سحر د راختلو وخت پس کوم سړې چه دغه وخت کښې موجود وی، په هغه صدقة الفطر واجب دې او کوم سړې چه ددې نه مخکښې مړ شی، يا کوم ماشوم چه ددې وخت تيريدو نه پس پيدا شی، په هغه به صدقة الفطر نه وی، او د امام مالک رحمه الله په دې کښې دواړه اقوال دی، مثل المذهبين، دغه شان د امام شافعی رحمه الله هم قول جديد د امام احمد رحمه الله پشان دې، او په قول قديم کښې هغه زمونږ سره دې. (عينی ۹ص۱۱۸)

بحث سابع : (د صدقة الفطر د وجوب کيفيت)

يعنی ددې وجوب موسعا دې او که مضيقا (غير موسع) فعند الحنفيه هی من الواجبات الموسعة

فوقت اداءها جميع العمر مثل الزكوة، او د ائمه ثلاثه په نزد صدقة الفطر د جبات غير موسعه نه دي، نو دهغوی په نزد ددې تاخير د اختر د ورځې نه حرام دی. ليکن په هغه وخت کښې نه اداء کولو سره د ذمې نه ساقطيږی نه، بيا د امام شافعی او احمد په نزد خو روستو ورکول به قضاء شمارلې شی، او د امام مالک رحمه الله په نزد روستو ورکول خو ادا ده، ليکن د تاخير په وجه به گناه وی، او د حسن بن زياد په نزد يوم الفطر تيريدو نه پس صدقة الفطر ساقطيږی، او د ابن القيم په نزد د صلوة العيد نه پس ددې وخت باقی پاتې کيږی نه، بلکه ساقطيږی، (بذل وحاشيه بذل)

بحث ثامن: (**ايا په غلام باندې صدقه فطر شته؟**)

په حديث کښې دی، على كل حر او عبد، ددې مطابق د داؤد ظاهری مسلک دادې، چه صدقة الفطر په عبد باندې هم واجب دې، او دهغې ادا کول دهغه په ذمه دی، او په سيد لازم دی، چه هغه ته د اکتساب مهلت ورکړی، دې دپاره چه هغه اوگټی او خپله صدقة الفطر په خپله ادا کړی، څرنگه چه مونځ دپاره هغه ته وخت ورکول ضروری دی.

او د جمهورو ومنهم الائمة الاربعة په نزد د غلام د صدقة الفطر ادا کول په سيد باندې دی، اوس دا د ابتداء نه په سيد ده، يا ابتداء هم په عبد باندې واجب ده، بيا سيد دهغه د طرف نه متحمل کيږی؟ په دې کښې د امام شافعی رحمه الله دوه اقوال دی، او احناف داسې وائی، چه په عبد کښې أهليت وجوب نشته، بلکه د عبد صدقه واجب هم په مولی باندې وی، او ادا کول هم دهغه په ذمه دی، دلته کښې دوه اختلافه دی، يو دا چه په عبدخدمت او عبدتجارت کښې فرق شته او که نه؟ دغه شان د عبدمسلم او غير مسلم په حکم کښې فرق شته او که نه؟ دا اختلافات د آئنده حديث د لاندې راروان دی.

بحث تاسع و عاشر:

ددې دواړو بيان انشاء الله د آئنده حديث د لاندې راروان دی.

[۱۶۰۹] (۱) حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ خَالِدٍ الدِّمَشْقِيُّ، وَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ السَّمَرْقَنْدِيُّ، قَالاَ: حَدَّثَنَا مَرْوَانُ، قَالَ عَبْدُ اللَّهِ، حَدَّثَنَا أَبُو يَزِيدَ الْخَوْلاَنِيُّ وَكَانَ شَيْخَ صِدْقٍ وَكَانَ ابْنُ وَهْبٍ يَرْوِي عَنْهُ، حَدَّثَنَا سَيَّارُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، قَالَ مَحْمُودٌ الصَّدَفِيُّ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "فَرَضَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَكَاةَ الْفِطْرِ طُهْرَةً لِلصَّائِمِ مِنَ اللَّغْوِ وَالرَّفَثِ وَطُعْمَةً لِلْمَسَاكِينِ، مَنْ أَدَّاهَا قَبْلَ الصَّلاَةِ فَهِيَ زَكَاةٌ مَقْبُولَةٌ، وَمَنْ أَدَّاهَا بَعْدَ الصَّلاَةِ فَهِيَ صَدَقَةٌ مِنَ الصَّدَقَاتِ".

حضرت ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی چه رسول الله ﷺ صدقهٔ فطر (سرسايه) فرض قرار کړه ددې د پاره چه د روژې صفائی راشی د لغو او بې هوده اقوالو او افعالو نه او مسکينانو ته طعام حاصل وی - چنانچه چا چه دې لره د مونځ (د اختر) نه مخکښې مخکښې ادا کړو نو دا داسې زکات دې چه دا قبول کړې شوې دې او چا چه دې لره د مونځ نه پس ادا کړو نو دا د عامو صدقاتو نه يوه صدقه ده -

(۱) سنن ابن ماجه الزكاة ۲۱ (۱۸۲۷)، (تحفة الأشراف: ۶۱۳۳) (حسن)

تشریح: قوله: عن ابن عباس قال فرض رسول الله(صلی الله علیه وسلم) زکوة الفطر طهرة للصیام من اللغو والرفث و طعمة للمساکین الخ

د صدقة الفطر په مشروعیت کښې حکمت:

په دې حدیث کښې د صدقة الفطر مشروعیت او دهغې حکمت بیان کړې شوې دې، هغه داچه په صیام [۱] کښې څه نقصان واقع شوې وی، دهغې تلافی(پوره والې) اوشی.

دویمه داچه د فقیرانو په دې کښې فائده ده، د دارقطنی په یو روایت کښې دی، اغنوهم عن الطواف فی هذا الیوم، چه فقیرانو لره د اختر په ورځ(په محلو کښې او بازارونو کښې د طلب معاش دپاره) د ګرزیدو نه مستغنی کړئ.

د حدیث الباب باره کښې حافظ منذری لیکلې دی، والحدیث اخرجه ابن ماجه معلومه شوه، چه دا حدیث په صحاح سته کښې صرف ابوداؤد او ابن ماجه کښې دې، امام نووی فرمائي چه ددې حدیث نه بعضو عالمانو په دې استدلال کړې دې، چه په صبی صدقة الفطر نشته، ځکه چه د تطهیر تعلق خو د ګناه سره دې، او صبی ګناهګار نه دې، دغه شان حسن بصری او سعید بن المسیب ددې نه استدلال کړې دې، چه صدقة الفطر صرف په هغه چا واجب ده، چاچه روژه نیولې وی، ځکه چه چا روژه نیولې نه ده، نو تطهیر صیام کوم ځائي راغلو؟

لیکن ددې جواب دا ورکړې شوې دې، چه طهرة للصائم دا قید د غالب الناس په اعتبارسره دې. هرځائي کښې ددې تحقق ضروری نه دې،مثلا چاچه هډو ګناه کړې نه وی، بلکه هغه سړی متحقق الصلاح وی، نو آیا په هغه به هم واجب نه وی؟

باب مَتَیٰ تُؤَدّٰی

باب: ۱۹- صدقهٔ فطر دې کوم وخت کښې ادا کړې شی؟

صدقة الفطر کله پورې ادا کولې شی، په دې مسئله باندې کلام په ابتدائي بحثونو کښې تیر شوې دې، چه صدقة الفطر په واجبات موسعه کښې دې، یا په واجبات مضیقه کښې، په تیر شوي بحثونو کښې بحث سابع داسې دې.

[۱۶۱۰]([۲]) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ عُقْبَةَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: "أَمَرَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِزَكَاةِ الْفِطْرِ أَنْ تُؤَدَّى قَبْلَ خُرُوجِ النَّاسِ إِلَى الصَّلَاةِ"، قَالَ: فَكَانَ ابْنُ عُمَرَ يُؤَدِّيهَا قَبْلَ ذَلِكَ بِالْيَوْمِ وَالْيَوْمَيْنِ.

حضرت ابن عمر رضی الله عنهما بیان کوی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته د صدقهٔ فطر په باره کښې حکم فرمائیلې وو چه دې لره دې د خلقو عیدګاه ته د وتلو نه مخکښې مخکښې ادا کړې شی (نافع) وائی چه حضرت ابن عمر رضی الله عنهما به دې لره د اختر د ورځې نه یوه دوه ورځې مخکښې ادا کولو.

تشریح: قوله: عن ابن عمر قال امرنا رسول الله(صلی الله علیه وسلم) بزکوة الفطر ان تؤدی قبل خروج

---

[۱]) دا ترجمه او مطلب زمونږ د نسخې مطابق دې، او په بعضو نسخو کښې طهرة للصائم دې، هلته کښې به مطلب دا وی، چه د روژه دار تطهیر عن الاثم اوشی)

[۲]): صحیح البخاري/الزكاة ٧٦(١٥٠٩)، صحیح مسلم/الزكاة ٥(٩٨٦)، سنن الترمذي/الزكاة ٣٦(٦٧٧)، سنن النسائي/الزكاة ٤٥(٢٥٢٢)،(تحفة الأشراف:٨٤٥٢)، وقد أخرجه: مسند احمد(١٥١/٢، ١٥٥)(صحیح) دون فعل ابن عمر

الناس الى الصلوة قال فكان ابن عمر يؤديها قبل ذالک باليوم و اليومين.

د صدقة الفطر تقديم كله پورې جائز دې؟

دا دويمه مسئله ده، چه د صدقة الفطر تعجيل جائز دې او كه نه؟
د امام مالک او امام احمد بن حنبل رحمه الله په نزد د اختر نه صرف يوه يا دوه ورځې مخکښې وركولې شى، داسې يو روايت د امام ابوحنيفه رحمه الله هم دې، او دويم روايت د احنافو د يو كال يا دواؤ كالو د تعجيل دې، د حنابله يو روايت دادې، چه د نيم رمضان نه پس وركول جائز دى، څرنګه چه د سحر آذان د نصف اليل نه پس جائز دې، او مزدلفې نه تلل د نصف ليل نه پس جائز دى، او د امام شافعي رحمه الله په نزد د رمضان په هره حصه كښې وركولې شى، د رمضان نه مخکښې وركول جائز نه دى، او هم دا يو روايت د احنافو هم دې، زمونږ په نزد په دې كښې مختلاف روايات دى، لكه دوه مخکښې تير شوې دى، او دريم روايت دادې، دې ته اصح وئيلې شوې دې، چه مطلقا تقديم جائز دې، ولو على رمضان،(اوجز ۳ص۲۹۱)

بَابُ كَمْ يُؤَدّٰى فِي صَدَقَةِ الْفِطْرِ

باب: ۲۰- دَ سرسايې مقدار-

د صدقة الفطر مقدار:

دا هم هغه بحث تاسع دې، چه دهغې مونږ په آئنده كښې د ذكر كولو وعده كړې وه، يعنى د صدقة الفطر مقدار، د صدقة الفطر مقدار په حديث كښې د ټولو ذكر كړې شوې ځيزونو د جمهورو او ائمة ثلاثه په نزد يو صاع دې، په حنطه كښې د احنافو د جمهورو سره اختلاف دې د احنافو په نزد نصف صاع دې،(١) دې لره په ډير قوت سره ابن المنذر شافعي رحمه الله اختيار كړې دې، او د صحابه كرامو د يو جماعت مذهب دې لره ثابتوى، او هم دا مذهب د سفيان ثورى او ابن المبارک رحمه الله دې، او د ابن حبيب مالكى رحمه الله هم يو روايت دادې، د حافظ ابن القيم او دهغه د شيخ ابن تيميه ميلان هم دې طرف ته دې، ابن تيميه رحمه الله فرمائي چه د امام احمد كوم مسلک په كفاراتو كښې دې، چه هغه په كفاراتو كښې حنطه نصف منى، د غير حنطه نه، ددې تقاضا او قياس په صدقة الفطر هم دا دې، چه نصف صاع دې وى، ليكن زۀ وايم، چه د حنابله په كتابونو كښې د يو صاع تصريح ده، او په ظاهر كښې د امام نووى رحمه الله نه په شرح مسلم كښې سبقت قلم شوې دې، چه د امام احمد مسلک ئې د احنافو په شان ليكلې دې

[۱٦۱۱] (١) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، حَدَّثَنَا مَالِكٌ وَقَرَأَهُ عَلَى مَالِكٍ أَيْضًا، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرَضَ زَكَاةَ الْفِطْرِ، قَالَ فِيهِ فِيمَا قَرَأَهُ عَلَى مَالِكٍ: "زَكَاةُ الْفِطْرِ مِنْ رَمَضَانَ صَاعٌ مِنْ تَمْرٍ أَوْ صَاعٌ

[1] او په زبيب كښې صرف امام صاحب دا فرمائي چه نصف صاع دې، د صاحبينو او ائمه ثلاثه په نزد يو صاع دې.

(١): صحيح البخاري/الزكاة ۷۳(۱۵۰٦)، صحيح مسلم/الزكاة ٤(۹۸٤)، سنن الترمذي/الزكاة ۳۵، ۳٦(٦۷٦)، سنن النسائي/الزكاة ۳۳(۲۵۰۵)، سنن ابن ماجه/الزكاة ۲۱(۱۸۲٦)، (تحفة الأشراف :۸۳۲۱)، وقد أخرجه: موطا امام مالک/الزكاة ۲۸(۵۲)، مسند احمد(۲/۵، ۵۵، ٦۳، ٦٦، ۱۰۲، ۱۱٤، ۱۳۷)، سنن الدارمي/الزكاة ۲۷(۱۷۰۲)(صحيح)

مِنْ شَعِيرٍ عَلَى كُلِّ حُرٍّ أَوْ عَبْدٍ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى مِنَ الْمُسْلِمِينَ".

د حضرت ابن عمر رضی الله عنه نه مروی دی چه رسول الله ﷺ په رمضان کښې صدقهٔ فطر(سرسايي) لره فرض اوفرمائيل : په دې شان سره چه دَ هر مسلمان آزاد، غلام، دَ سړی او ښځې دَ طرف نه دې دَ کجورو يا دَ اوربشو يو صاع ورکړې شي۔

عن ابن عمر رضی الله عنه ان رسول الله(صلى الله عليه وسلم) فرض زكوة الفطر(قال فيه فيما قراءه على مالك زكوة الفطر في رمضان) بين القوسين والا عبارت جمله معترضه ده، د سند په شروع کښې دا راغلې وه، عبدالله بن مسلمه فرمائي حدثنا مالك و قراءة على مالك.

شرح السند :

يعنى عبدالله بن مسلمه ته دا حديث د امام مالک رحمه الله نه په طريق د تحديث رسيدلې دې، او په طريق د قراءت على الشيخ هم، چه هغې ته اخبار وئيلې شي، اوس دلته د الفاظ حديث باره کښې عبدالله بن مسلمه دا فرمائي، چه د سماع من الشيخ والا صورت کښې الفاظ صرف دا دی، فرض زكوة الفطر، او په قراءة على الشيخ والا روايت کښې زكوة الفطر من رمضان دی، د من رمضان لفظ په دې کښې زائد دې.

صاع من تمر او صاع من شعير : پوهيدل پکار دی، چه د داؤد ظاهری په نزد صدقة الفطر په دې دواؤ څيزونو کښې منحصر دې، کوم چه په دې حديث کښې ذکر دی، يعنى تمر او شعير، او د جمهورو په نزد په دې دواړو کښې انحصار نشته، دهغې احاديث په بناء باندې، په کومو کښې چه نور څيزونه هم ذکر دی. من المسلمين

د کافر غلام د طرف نه صدقة الفطر :

په بحث ثامن کښې دا تير شوې وو، چه په دې کښې دا اختلاف دې، چه د کافر او مسلمان غلام په حکم کښې فرق شته او که نه؟ نو د جمهور ومنهم الائمة الثلثة په نزد فرق شته، دهغوی په نزد په مولی باندې صرف د مسلمان غلام صدقة الفطر واجبه ده، د کافر غلام صدقة الفطر پرې واجبه نه ده، او د احنافو په نزد په مولی باندې د دواړو د طرف نه صدقة الفطر واجبه ده، دلته په روايت کښې د من المسلمين قيد مذکور دې، چه د جمهورو سره موافق دې، د احنافو د طرف نه په جواب کښې وئيلې شوې دی، چه امام ترمذی ددې زياتوالې په باره کښې فرمائيلې دی، چه امام مالک په دې سره متفرد دې، د نافع په شاګردانو کښې بل هيچا هم دا زياتوالې ذکر کړې نه دې.

ليکن امام نووی رحمه الله د امام ترمذی رحمه الله په دې تنقيد باندې رد کړې دې، چه داسې نه ده، بلکه د مالک متابعت کړې شوې دې، لکه د نافع نه دې زياتوالې لره د امام مالک نه علاوه ضحاک بن عثمان او عمربن نافع هم روايت کړې دې، او دا دواړه ثقه دی، اهـ زهٔ وايم، چه د عمر بن نافع روايت خو په صحيح بخاری کښې شته، او د ضحاک بن عثمان په صحيح مسلم کښې شته، په دواړو کښې د من المسلمين قيد مذکور دې، (کما قال النووی) بلکه ابن دقيق العيد خو دا فرمائي، چه دې زياتوالې لره د نافع نه روايت کونکې

اووه راویان دی، (عینی ۹ص۱۱۰) لهٰذا د تفرد او ضعف دعوی خو صحیح نه ده، هرکله چه دا لفظ د صحیحین په روایت کښې موجود دې، اصل جواب ددې دادې، چه په اسبابو کښې تزاحم نه وی، د یو مسبب ډیر اسباب کیدې شی، دلته کښې مسبب یعنی صدقة الفطر یو دې، او دهغې سبب په عبدکافر کښې دهغه ذات دې، او په عبد مسلم کښې دهغه ذات، ددې وجې نه په بعضو روایاتو کښې د من المسلمین قید ذکر دې، او په بعضو کښې نشته، دویمه خبره داده، چه په مولی باندې د عبد د طرف نه چه کومه صدقة الفطر واجبه وی، دهغې په علت کښې اختلاف دې، د احنافو په نزد دهغې علت مال کیدل دی، او د جمهورو په نزد دهغې علت د هغه مکلف کیدل دی، او مال څرنګه چه عبد مسلم دې، دغه شان عبدکافر هم دې، او مکلف ظاهره خبره ده، چه صرف عبدمسلم دې، عبدکافر نه دې، ددې وجې نه جمهور د اسلام قید لګوی، والله اعلم

یو اختلاف دلته کښې دادې، چه صدقة الفطر په عبیدخدمت او عبید تجارت دواړو کښې دې، او که صرف په عبید خدمت کښې؟

عند الائمة الثلاثه په دې کښې عموم دې، دهغوی په نزد په دواړو کښې دی، او د احنافو په نزد صرف په عبید للخدمت کښې دې، للتجارة کښې نشته، ځکه په هغې کښې خو زکوة تجارت واجب وی، ولیس فی مال زکوتان، او په یو مال کښې دوه زکوته واجب نه وی.

[۲۱۱۲] (۱) حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ السَّكَنِ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَهْضَمٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ جَعْفَرٍ، عَنْ عُمَرَ بْنِ نَافِعٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، قَالَ: "فَرَضَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَكَاةَ الْفِطْرِ صَاعًا"، فَذَكَرَ بِمَعْنَى مَالِكٍ، زَادَ: "وَالصَّغِيرِ وَالْكَبِيرِ، وَأَمَرَ بِهَا أَنْ تُؤَدَّى قَبْلَ خُرُوجِ النَّاسِ إِلَى الصَّلَاةِ". قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ عَبْدُ اللَّهِ الْعُمَرِيُّ، عَنْ نَافِعٍ، بِإِسْنَادِهِ، قَالَ: "عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ". وَرَوَاهُ سَعِيدٌ الْجُمَحِيُّ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنْ نَافِعٍ، قَالَ فِيهِ: "مِنَ الْمُسْلِمِينَ"، وَالْمَشْهُورُ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ لَيْسَ فِيهِ مِنَ الْمُسْلِمِينَ.

د حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنهما نه روایت دې چه رسول الله ﷺ صدقۀ فطر لره یو صاع مقرر اوفرمائیلو - او دَ مذکوره بالا روایت مالک هم معنیٰ ئې بیان کړو - او مزید ئې اووئیل : دَ وړوکی او دَ غټ دَ جانب نه دې ورکړې شی او حکم ئې اوکړو چه دې لره دې دَ خلقو دَ مانځه دَ پاره دَ وتلو نه مخکښې مخکښې ادا کړې شی - امام ابوداود رحمه الله فرمائی چه دَ عبد الله العمری عن نافع په روایت کښې [علی کل مسلم] او دَ سعید الجمحی په روایت کښې کوم چی په واسطه د عبید الله عن نافع سره دې په هغې کښې دَ [من المسلمین] لفظ بیان شوې دې - مګر مشهور دادی چه دَ عبید الله په روایت کښې دَ [من المسلمین] لفظ نشته دې -

[۲۱۱۳] (۲) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، أَنَّ يَحْيَى بْنَ سَعِيدٍ، وَبِشْرَ بْنَ الْمُفَضَّلِ حَدَّثَاهُمْ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ. ح وحَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا أَبَانُ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنْ نَافِعٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ، "فَرَضَ صَدَقَةَ الْفِطْرِ صَاعًا مِنْ شَعِيرٍ أَوْ تَمْرٍ عَلَى الصَّغِيرِ وَالْكَبِيرِ وَالْحُرِّ وَالْمَمْلُوكِ"، زَادَ مُوسَى: وَالذَّكَرِ وَالْأُنْثَى. قَالَ أَبُو دَاوُد: قَالَ فِيهِ: أَيُّوبُ وَعَبْدُ اللَّهِ يَعْنِي الْعُمَرِيَّ فِي حَدِيثِهِمَا: عَنْ نَافِعٍ، ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى أَيْضًا.

[1]: صحيح البخاري/الزكاة ۷۰(۱۵۰۳)، سنن النسائي/الزكاة ۳۳(۲۵۰٦)، (تحفة الأشراف: ۸۲٤٤)(صحيح)

[2]: صحيح البخاري/الزكاة ۷۸(۱۵۱۲)، (تحفة الأشراف: ۷۷۹٥، ۷۸۱٥، ۸۱۷۱)، وقد أخرجه: مسند احمد(۲/٥٥)(صحيح)

حضرت عبد الله بن عمر ﷺ د نبی کریم ﷺ نه روایت کوی چه هغوی ﷺ صدقهٔ فطر لره فرض فرمائیلې دې یو صاع د اوربشو یا د کجورو چه دا په هر وړوکی، غټ، په آزاد او غلام باندې واجب ده موسیٰ بن اسماعیل د سړی او د ښځې لفظ هم وئیلې دې - امام ابوداود رحمه الله فرمائی : چه په دې روایت کښې ایوب او عبد الله العمری هم د نافع نه د [ذکر او انثیٰ] " د سړی او ښځې " الفاظ بیانوی -

[۱۶۱۳]( ) حَدَّثَنَا الْهَيْثَمُ بْنُ خَالِدٍ الْجُهَنِيُّ، حَدَّثَنَا حُسَيْنُ بْنُ عَلِيٍّ الْجُعْفِيُّ، عَنْ زَائِدَةَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ أَبِي رَوَّادٍ، عَنْ نَافِعٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، قَالَ: "كَانَ النَّاسُ يُخْرِجُونَ صَدَقَةَ الْفِطْرِ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَاعًا مِنْ شَعِيرٍ أَوْ تَمْرٍ أَوْ سُلْتٍ أَوْ زَبِيبٍ"، قَالَ: قَالَ عَبْدُ اللَّهِ: فَلَمَّا كَانَ عُمَرُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وَكَثُرَتِ الْحِنْطَةُ، جَعَلَ عُمَرُ نِصْفَ صَاعٍ حِنْطَةً مَكَانَ صَاعٍ مِنْ تِلْكَ الْأَشْيَاءِ.

حضرت عبد الله بن عمر ﷺ بیان کوی چه خلقو به د رسول الله ﷺ په زمانه کښې اوربشې، کجورې، بغیر د پوستکی نه اوربشې یا د اوخکو نه یو یو صاع ورکولو او صدقهٔ فطر به ئې ادا کولو - حضرت نافع وائی چه کله د حضرت عمر ﷺ دور راغې او غنم ډیرشو نوهغوی ددې څیزونو د یو صاع په ځائې باندې د غنمو نیم صاع مقرر کړو-"

تشریح: قوله: عن عبدالله بن عمر قال كان الناس يخرجون صدقة الفطر على عهد رسول الله(صلى الله عليه وسلم) صاعا من شعير او تمر او سلت او زبيب.

په صدقة الفطر کښې کوم څیز ورکول پکار دی:

دلته کښې لفظ (أو)د تخیر دپاره دې، د احنافو او حنابله په نزد سړی ته اختیار دې، په دې څیزونو کښې چه څه غواړی په صدقة الفطر کښې دې ورکړی، او د امام شافعی او امام مالک مسلک دادې، چه په صدقة الفطر کښې هغه څیز ورکول ضروری دی، چه غالب قوت بلد وی، یعنی په هغې ښهر کښې چه زیات طور باندې کومه غله خوړلې کیږی. هغه په صدقة الفطر کښې ورکول ضروری دی.(حاشیه بذل)

فائده : د باب د سر نه د ابن عمر ﷺ حدیث شروع دې، چه په متعدد طرقو سره روایت دې، اوسه پورې چه څومره طرق بیان شوې دی، په هغې ټولو کښې د صاع من تمر او صاع من شعیر صرف د دواؤ ذکر دې، نو ددې نه داؤد ظاهری استدلال کړې دې،(کما تقدم) چه صدقة الفطر صرف په دې دواؤ کښې ورکول ضروری دی، لیکن په هغه طریق کښې کوم چه د عبد العزیز بن ابی روّاد طریق دې، د سلت او زبیب اضافه ده، حافظ وائي : دې لره امام مسلم په کتاب التمیز کښې د عبد العزیز وهم ګرزولې دې.

دغه شان په دې روایت کښې چه کوم لفظ مخکښې راروان دې، فلما کان عمر، په دې باندې هم بعضو محدثینو تنقید کړې دې، چه د عمر تصریح مرجوح ده، په اصل روایت کښې "الناس" دې، چه دهغې مصداق معاویه ﷺ دې، لیکن امام طحاوی د خپل بیان کړې شوې روایت نه دا ثابته کړې ده، چه نصف صاع د حنطه لره د صاع من شعیر سره برابرونکې

[1]: سنن النسائي/الزكاة ٤١(٢٥١٨)،(تحفة الأشراف:٧٧٦٠)(ضعيف)

عمر رضي الله عنه دي، دهغه نه پس عثمان رضي الله عنه (من الفتح ٥ص٢٩٦) په اصل كښې شافعيه وغيره چونكه په حنطه كښې د صاع قائل دى، او دا روايت دهغوى خلاف دې، ددې وجې نه هغوى په دې روايت د تنقيد كوشش كوى، مثلا داچه داسې كونكې معاويه رضي الله عنه وو، عمر رضي الله عنه نه وو، په دې سره مسئله لږه اهون كيږى.

قال عبدالله فلما كان عمر وكثرت الحنطة جعل عمر نصف صاع حنطة مكان صاع من تلك الاشياء.

يعنى د نبى كريم ﷺ په زمانه كښې خو په مدينه منوره كښې غنم نه وو، ددې وجې نه عام طور باندې خلقو په صدقة الفطر كښې تمر او شعير وركول، ليكن چه كله د حضرت عمر رضي الله عنه زمانه راغله، او په اسلامى فتوحاتو كښې اضافه اوشوه، ملك شام فتح شو، او د هلته نه مدينې منورې ته غنم راتلل شروع شو، نو حضرت عمر رضي الله عنه د غنمو نصف صاع د دې نورو څيزونو د يو صاع برابر مقرر كړو، يعنى عملى طور باندې، ګنى نفس ثبوت خو ددې (نصف صاع حنطة) عند الحنفيه د نبى كريم ﷺ نه منقول دې، او دا وئيل پكار دى، چه راوى د خپل ګمان او علم په اعتبار سره وائي چه عمر رضي الله عنه داسې اوكړل، باقى ددې تاويل حاجت په هغه صورت كښې دې، چه كله دا تسليم كړې شى، چه د نصف صاع حنطه ثبوت د نبى كريم ﷺ نه دې، ليكن دا څيز مختلف فيه بين المحدثين دې، ددې مخكښې يو مستقل باب راروان دې.

[١٦١٥] (١) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، وَسُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ الْعَتَكِيُّ، قَالَا: حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ نَافِعٍ، قَالَ: قَالَ عَبْدُ اللَّهِ: "فَعَدَلَ النَّاسُ بَعْدُ نِصْفَ صَاعٍ مِنْ بُرٍّ"، قَالَ: وَكَانَ عَبْدُ اللَّهِ يُعْطِي التَّمْرَ فَأَعْوَزَ أَهْلَ الْمَدِينَةِ التَّمْرُ عَامًا، فَأَعْطَى الشَّعِيرَ.

حضرت نافع وئيلې دى چه حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنه فرمائيلې دى چه بيا خلقو د غنمو نيم صاع وركولو - هغوى اووې چه حضرت عبد الله به كجورې وركولې مګر يو كال په اهل مدينه باندې د كجورو تنګسيا راغله، نو هغوى اوربشې وركړې -

قوله: فاعوزاهل المدينة التمر صاعا: د ابن عمر رضي الله عنه معمول خو هميشه دپاره په صدقة الفطر كښې د صاع تمر وركولو وو، (ځكه چه هغه اجود الاصناف دې) يو ځل اهل مدينه د تمر وركولو نه عاجزه شو، يعنى د تمر پيداوار په مدينه منوره كښې اونه شو، يا كم اوشو، نو مجبورا هغوى په دغه كال د تمر په ځائې شعير ادا كړو.

[١٦١٦] (٢) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، حَدَّثَنَا دَاوُدُ يَعْنِي ابْنَ قَيْسٍ، عَنْ عِيَاضِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: "كُنَّا نُخْرِجُ إِذْ كَانَ فِينَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَكَاةَ الْفِطْرِ عَنْ كُلِّ صَغِيرٍ وَكَبِيرٍ حُرٍّ أَوْ مَمْلُوكٍ، صَاعًا مِنْ طَعَامٍ، أَوْ صَاعًا مِنْ أَقِطٍ، أَوْ صَاعًا مِنْ شَعِيرٍ، أَوْ صَاعًا مِنْ تَمْرٍ، أَوْ صَاعًا مِنْ زَبِيبٍ، فَلَمْ نَزَلْ نُخْرِجُهُ حَتَّى

[1]): صحيح البخاري/الزكاة ٧٨(١٥١١)، صحيح مسلم/الزكاة ٤(٩٨٤)، سنن الترمذي/الزكاة ٣٥(٦٧٦)، سنن النسائي/الزكاة ٣٠(٢٥٠٢)، (تحفة الأشراف: ٧٥١٠)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الزكاة ٢٨(٥٢)، مسند احمد(٢/٥، ٥٥، ٦٣، ٦٦، ١٠٢، ١١٤، ١٣٧)، دي/الزكاة ٢٧(١٧٠٢)(صحيح)

[2]): صحيح البخاري/الزكاة ٧٢(١٥٠٥)، ٧٣(١٥٠٦)، ٧٥(١٥٠٨)، ٧٦(١٥١٠)، صحيح مسلم/الزكاة ٤(٩٨٥)، سنن الترمذي/الزكاة ٣٥(٦٧٣)، سنن النسائي/الزكاة ٣٧(٢٥١٣)، سنن ابن ماجه/الزكاة ٢١(١٨٢٩)، (تحفة الأشراف: ٤٢٦٩)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الزكاة ٢٨(٥٣)، مسند احمد(٣/٢٣، ٧٣، ٩٨)، سنن الدارمي/الزكاة ٢٧(١٧٠٤)(صحيح)

قَدِمَ مُعَاوِيَةُ حَاجًّا أَوْ مُعْتَمِرًا، فَكَلَّمَ النَّاسَ عَلَى الْمِنْبَرِ، فَكَانَ فِيمَا كَلَّمَ بِهِ النَّاسَ، أَنْ قَالَ: إِنِّي أَرَى أَنَّ مُدَّيْنِ مِنْ سَمْرَاءِ الشَّامِ تَعْدِلُ صَاعًا مِنْ تَمْرٍ، فَأَخَذَ النَّاسُ بِذَلِكَ، فَقَالَ أَبُو سَعِيدٍ: فَأَمَّا أَنَا فَلَا أَزَالُ أُخْرِجُهُ أَبَدًا مَا عِشْتُ. قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ ابْنُ عُلَيَّةَ، وَعَبْدَةُ وَغَيْرُهُمَا، عَنِ ابْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُثْمَانَ بْنِ حَكِيمِ بْنِ حِزَامٍ، عَنْ عِيَاضٍ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ بِمَعْنَاهُ، وَذَكَرَ رَجُلٌ وَاحِدٌ فِيهِ عَنِ ابْنِ عُلَيَّةَ: أَوْ صَاعًا مِنْ حِنْطَةٍ، وَلَيْسَ بِمَحْفُوظٍ.

حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه بيان کوي چه کله رسول الله ﷺ په مونږ کښې موجود وو نو مونږ به د هر وړوکي او غټ، آزاد او غلام د طرف نه په صدقهٔ فطر کښې د طعام (غنمو)، پنير، اوربشو، کجورو يا د اوڅکو نه يو صاع ورکولو تردې پورې چه حضرت معاويه رضي الله عنه د حج يا د عمرې د پاره راغې او په منبر باندې ئې خلقو ته خطبه ورکړه - د منجمله نورو خبرونه علاوه هغوی رضي الله عنه خلقو ته دا هم اوفرمائيل : زهٔ پوهيږم چه د شام د غنمو نه دوه مده (نيم صاع) د کجورو د يو صاع برابر دی - چنانچه خلقو د هغه دا خبره واخسته په دې باندې حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه اووئيل : زهٔ خو چه ترڅو پورې ژوندې يم نو هم يو صاع به ورکووم - امام ابوداود رحمه الله فرمائي چه دې روايت لره ابن علي او عبده وغيره په سند د ابن اسحاق سره د حضرت عبد الله بن عبد الله بن عثمان بن حکيم بن حزام هغوی د حزام بن عياض نه او هغوی د ابی سعيد نه ددې هم معنیٰ روايت کړې دې او په دوی کښې يو کس د ابن عُليّه په روايت کښې د [او صاعا من حنطة] " يا يو صاع د غنمو نه " ذکر کړې دې، مگر دا محفوظ نهٔ دی -

تشريح: قوله: صاعا من طعام او صاعا من اقط او صاعا من شعير او صاعا من تمر او صاعا من زبيب فلم نزل نخرجه حتى قدم معاوية حاجا او معتمرا فكلم الناس على المنبر انى ارى ان مدين من سمراء الشام تعدل صاعا من تمر فاخذ الناس بذلک.

د باب د شروع نه دې ځائې پورې په متعدد طرقو سره حديث ابن عمر رضي الله عنه راروان دې، دا حديث د ابوسعيد خدري رضي الله عنه دې، په دې کښې د حنطه ذکر هم دې، هغه په دې طريقې سره، چه د نبی کريم ﷺ په زمانه کښې به مونږ په صدقة الفطر کښې فلانې فلانې ځيزونه يو يو صاع ورکول، بيا چه کله د امير معاويه رضي الله عنه دور راغلو، نو هغوی اوفرمائيل : چه زهٔ د حنطې نصف صاع د شعير يو صاع سره برابر گنړم، نو خلقو دې لره اختيار کړو.

په صدقة الفطر کښې ورکونکې اشياء منصوصه :

پوهيدل پکار دی، چه کوم ځيزونه په صدقة الفطر کښې ورکولې شی، هغه په صحيحينو کښې صرف څلور ذکر دی، په حديث ابن عمر رضي الله عنه کښې صرف ده، تمر او شعير، او په حديث ابوسعيد خدري رضي الله عنه کښې څلور، تمر، شعير، اقط، او زبيب، او ددې ټولو ځيزونو مقدار يو يو صاع بيان کړې شوې دې.

په صاعا من طعام باندې کلام :

او يو لفظ صاعا من طعام راغلې دې، د حنطه ذکر يا دهغې مقدار د صحيحينو په يو حديث مرفوع يا موقوف کښې صراحةً نشته، سوا د لفظ صاعا من طعام نه، دې باره کښې د بعضو شارحينو د شوافعو رائې داده، چه ددې نه مراد حنطه ده، او بعضو نورو ددې مضبوط

تردید کړې دې، او دغې تردید لره حافظ ابن حجر هم تسلیم کړې دې، هاو! دا په صحیحینو کښې ضرور راځی، چه حضرت معاویه رضی الله عنه یو ځل په خپله زمانه کښې د حج یا عمرې دپاره مکې مکرمې ته تشریف راؤړو، او په ممبر باندې کیناستلو او د خلقو په مخکښې ئې دا خبره اوکړه، چه زما رائې داده، چه د سمراء الشام (کوم غنم چه د ملک شام نه راځی) نصف صاع د یو صاع تمر برابر دی، فاخذ الناس بذلک، نو ټولو خلقو دې لره قبول کړه، سوا د ابوسعید خدری رضی الله عنه نه، هغوی اوفرمائیل: چه زۀ خو به هم هغسې ادا کوم، څرنګه مې چه اوسه پورې ادا کوله.

د حنطه ذکر په صحاح کښې:

البته په صحاح کښې باقی سنن اربعه کښې د حنطه تصریح په حدیث مرفوع کښې (مرفوع حقیقی او حکمی) موجود ده، لیکن د مقدار په بیان کښې روایات مختلف دی، په بعضو کښې صاع او په اکثرو کښې نصف صاع دې، لکه امام ابوداؤد رحمه الله په نصف صاع باندې مستقل باب قائم کړې دې، او په هغې کښې هغوی دوه احادیث ذکر کړې دی، (۱) د ثعلبه بن ابی صعیر حدیث (۲) د عبدالله بن عباس رضی الله عنه حدیث، د اول حدیث مضمون دادې، چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم صاع حنطه لره د دواؤ سرو د طرف نه صدقة الفطر مقرر کړه، (لهذا د هر سړی د طرف نه نصف صاع شوه) او د دویم حدیث مضمون دادې، (۱) چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم د شعیر او تمر یو صاع فرض کړې دې، او د حنطه نصف صاع.

د ثعلبه بن ابی صُعیر په حدیث باندې بحث او نقد:

د ثعلبه بن ابی صُعیر حدیث چه هغې لره امام ابوداؤد رحمه الله په متعدد طرقو سره ذکر کړې دې، او د احنافو دپاره دلیل دې، په هغې باندې بعضې محدثینو کلام کړې دې، چه په هغې کښې سندا و متنا اضطراب دې، (۲) لیکن ددې حدیث ټولو طرقو لره علامه زیلعی په نصب الرایه کښې جمع کړې دی، او په هر یو ئې تفصیلی کلام کړې دې، او ددې بعضو طرقو لره ئې صحیح او قوی ګرزولې دی. الحاصل، د صاع حنطه څه صریح او صحیح دلیل نشته، په خلاف د نصف صاع من بر، چه هغه د بعضو صحیح احادیث نه ثابت دې، فی الواقع اصل مدار د جمهورو په حدیث دابوسعید خدری رضی الله عنه صاع من طعام باندې دې، په

---

(۱) لیکن دې حدیث د ابن عباس رضی الله عنه لره امام نسائي په درې طریقو سره ذکر کړې دې، په یو کښې نصف صاع حنطه دی، او په یو کښې صاع من حنطه دې، او په دریم طریق کښې صاع من طعام دې، امام نسائي دې لره أثبت ګرزولې دې، لیکن بیا مخکښې هغوی مستقل باب قائم کړې دې، او په هغې کښې ئې هم دا حدیث د ابن عباس ذکر کړې دې، چه په هغې کښې د نصف صاع من بر لفظ دې، او په دې ئې سکوت اختیار کړې دې، او امام ترمذی د صاع من بر باره کښې څه صریح حدیث بیان کړې نه دې، سوا د صاع من طعام نه، (چه هغې لره بعضو شوافعو په حنطه باندې محمول کړې دې) او د نصف صاع په حدیث مرفوع کښې من حدیث عمروبن شعیب عن ابیه عن جده ذکرکړې دې، او دې ته ئې احسن ونیلې دی.)

(۲) ددې اضطراب تشریح او بیان څه قدرې به په خپل محل کښې، کوم ځائې چه دا حدیث ذکر کیږی، هلته راشی.)

دې کښې شک نشته، چه دا حديث بالکل صحيح او متفق عليه دې، (اخرجه الشيخان) ليکن دا وئيل چه د طعام نه مراد حنطه ده، (۱) ډيره کمزورې خبره ده، هرکله چه د صحيح بخارى په يو روايت کښې خپله ابوسعيد خدرى رضي الله عنه اعتراف کوى، وکان طعامنا الشعير، والزبيب، والاقط والتمر.

د حافظ ابن المنذر دې باره کښې رائې:

ابن المنذر دلته کښې دويمه طريقه اختياره کړې ده، هغه فرمائي چه د حنطه په باره کښې د نبى کريم صلى الله عليه وسلم نه هيڅ يو حديث هم قابل اعتماد طريق سره ثابت نه دې او نه د نبى کريم صلى الله عليه وسلم په زمانه کښې په مدينه منوره کښې حنطه موجوده وه، ليکن اقل قليل، بيا چه کله د صحابه کرامو په زمانه کښې حنطه کثرت سره شوه، نو هغوى په خپلې رائې او اجتهاد سره دهغې مقدار نصف صاع مقرر کړو، اوس د صحابه کرامو د قول نه د عدول کولو هيڅ ګنجائش نشته، ځکه چه هغوى زمونږ امامان او پيشوايان دى، په دې حافظ ابن حجر فرمائيلې دى: ليکن ابوسعيد خدرى رضي الله عنه ته خو دې رائې سره اتفاق نه وو، لهذا اجماع کوم ځائې شوه. اهـ

زۀ وايم، چه اجماع نه سهى، جمهور صحابه کرامو خو دې لره اختيار کړې وه، دويمه خبره داده، چه ابوسعيد رضي الله عنه دا کوم ځائې فرمائيلې دى، چه د حنطه يو صاع ورکول پکار دى، هغوى خو دا فرمائي چه کوم اجناس او څيزونه چه مونږ د نبى کريم صلى الله عليه وسلم په زمانه کښې په صدقة الفطر کښې ورکول، زۀ به اوس هم هغه ورکوم، يعنى په صدقة الفطر کښې به حنطه نه ورکوم، نه داچه دهغې يو صاع به ورکوم، او که بالفرض هم دا مراد وى، چه د حنطه نه به هم يو صاع ورکوم، نو دا خو د خپل ذات په اعتبار سره فرمائي، نورو ته خو مسئله نه ښائي، وهذا ظاهر کما لا يخفى.

شوکانى فرمائي: که دا تسليم کړې شى، چه د طعام په مصداق کښې حنطه هم شامله ده، نو بيا هغه احاديث په کوم کښې چه د نصف صاع تصريح ده، د خپل مجموع طرق په اعتبار سره ددې قابل دى، چه دهغې په وجه په دې مسئله کښې د حنطه تخصيص اوکړې شى.

تنبيه: سنن ابوداؤد کښې د ابو سعيد خدرى رضي الله عنه د يو حديث په طريق کښې صاع من حنطة او په بل طريق کښې نصف صاع من بر راغلې دې، امام ابوداؤد رحمه الله دې دواړو لره وهم او غير محفوظ شمار کړې دى، او واقعى هم داسې ده، چه د ابوسعيد خدرى رضي الله عنه د حديث په صحيح طريق کښې د حنطې تصريح نشته، نه د حنطې او نه دهغې د مقدار.

[۱۶۱۷] (۲) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، أَخْبَرَنَا إِسْمَاعِيلُ، لَيْسَ فِيهِ ذِكْرُ الْحِنْطَةِ. قَالَ أَبُو دَاوُد: وَقَدْ ذَكَرَ مُعَاوِيَةُ بْنُ هِشَامٍ فِي هَذَا الْحَدِيثِ، عَنِ الثَّوْرِيِّ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ، عَنْ عِيَاضٍ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، نِصْفَ صَاعٍ مِنْ بُرٍّ وَهُوَ وَهَمٌ مِنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ هِشَامٍ، أَوْ مِمَّنْ رَوَاهُ عَنْهُ.

---

(۱) د بعضو علماؤ رائې داده، چه د طعام نه مراد ذره ده، يعنى جوار، ځکه چه په هغه زمانه کښې عام خوراک هم دا وو، او بعضې وائي چه طعام د جنس درجه ده، چه مجمل دې، مخکښې په حديث کښې شعير، تمر، او زبيب وغيره ددغې مجمل دپاره بيان دې.

(۲): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٤٢٦٩) (ضعيف)

مسدد په واسطه دَ اسماعيل سره په روايت کښې دَ غنمو ذکر نه دې کړې - امام ابوداود رحمه الله فرمائي : چه معاويه بن هشام دَ ثوری نه مروی په دې حديث کښې دَ ابو سعيد نه دَ غنمو نيم صاع ذکر کړې دی مګر دا دَ معاويه بن هشام يا دَ هغوی نه دَ روايت کوونکو والا نه دَ يو کس وهم دې -

[۱٦۱۸]()حَدَّثَنَا حَامِدُ بْنُ يَحْيَى، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ. ح وحَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنِ ابْنِ عَجْلَانَ، سَمِعَ عِيَاضًا، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا سَعِيدٍ الْخُدْرِيَّ، يَقُولُ: "لَا أُخْرِجُ أَبَدًا إِلَّا صَاعًا، إِنَّا كُنَّا نُخْرِجُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَاعَ تَمْرٍ أَوْ شَعِيرٍ أَوْ أَقِطٍ أَوْ زَبِيبٍ"، هَذَا حَدِيثُ يَحْيَى، زَادَ سُفْيَانُ: أَوْ صَاعًا مِنْ دَقِيقٍ، قَالَ حَامِدٌ: فَأَنْكَرُوا عَلَيْهِ فَتَرَكَهُ سُفْيَانُ، قَالَ أَبُو دَاوُد: فَهَذِهِ الزِّيَادَةُ وَهْمٌ مِنَ ابْنِ عُيَيْنَةَ.

حضرت عياض فرمائي چه ما دَ حضرت ابوسعيد خدری رضی الله عنه نه واوريدل چه هغوی فرمائيل زهٔ خو هميشه يو صاع ورکووم - مونږ به دَ رسول الله ﷺ په زمانه کښې دَ کجورو، اوربشو، دَ پنير يا دَ اوچکو نه هم يو صاع ورکولو - دا روايت دَ يحيیٰ دې دَ سفيان په روايت کښې دَ [صاعا من دقيق] " يو صاع دَ اوړونه " ذکر هم دې - حامد وئيلي دی : چه علمائي حديث ددې اضافې نه انکار اوکړو نو سفيان ددې بيانول پريخودل -امام ابوداود رحمه الله فرمائي چه دا اضافه دَ ابن عيينه وَهم دې -

بَابُ مَنْ رَوَى نِصْفَ صَاعٍ مِنْ قَمْحٍ

باب: ۲۱ - دَهغه حضراتو دليل کوم چه دَغنمو دَيو صاع قائل دی

ترجمة الباب داحنافو موافق دې، په دې کښې مصنف دوه احاديث ذکر کړې دی، يو د ثعلبه بن ابی صُعير،او دويم د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما، په دې دواړو باندې کلام مخکښې تير شوې دې، او دا هم چه بعضو محدثينو په دې حديث باندې دا نقد کړې دې، چه ددې په سند او متن دواړو کښې اضطراب دې.

[۱٦۱۹]()حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، وَسُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ الْعَتَكِيُّ، قَالَا: حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ رَاشِدٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، قَالَ مُسَدَّدٌ: عَنْ ثَعْلَبَةَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي صُعَيْرٍ، عَنْ أَبِيهِ، وَقَالَ سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ ثَعْلَبَةَ، أَوْ ثَعْلَبَةَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي صُعَيْرٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "صَاعٌ مِنْ بُرٍّ أَوْ قَمْحٍ عَلَى كُلِّ اثْنَيْنِ صَغِيرٍ أَوْ كَبِيرٍ حُرٍّ أَوْ عَبْدٍ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى، أَمَّا غَنِيُّكُمْ فَيُزَكِّيهِ اللَّهُ، وَأَمَّا فَقِيرُكُمْ فَيَرُدُّ اللَّهُ تَعَالَى عَلَيْهِ أَكْثَرَ مِمَّا أَعْطَى"، زَادَ سُلَيْمَانُ فِي حَدِيثِهِ: "غَنِيٍّ أَوْ فَقِيرٍ".

حضرت عبد الله بن ثعلبه يا ثعلبه بن عبد الله بن ابی صُعير دَ خپل پلار نه روايت کوی چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : دَ هر دوو افرادو غنمو وړو، آزاد او غلام، سړی او دَ ښځې دَ طرف نه يو صاع غنم دی - چنانچه څوک چه په تاسو کښې غنی دی نو الله تعالیٰ به هغه لره پاک کړی او کوم چه فقير دی نو الله تعالیٰ به دهٔ ته ددې نه زياته ورکړی کوم چه هغه ورکړې

(۱): تفرد أبو داود برواية سفيان بن عيينة، ورواية يحيي القطان صحيحة موافقة لرقم : ۱٦۱٦، (تحفة الأشراف: ٤۲٦۹)(حسن)

(۲): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۲۰۷۳)، وقد أخرجه: مسند احمد(٤۳۲/۵)(ضعيف)

دی۔" سلیمان په خپل رایت کښې دَ " غني او فقیر " اضافه کړې ده ۔(داسې ئې وئیلی دی آزاد، غلام، دَ ښځې او سړی، دَ غني او فقیر دَ طرف نه ....)۔

د صحابي(راوي حدیث) د نوم تحقیق:

ددې اول حدیث د روای په نوم کښې د راویانو اختلاف دې، په اصل کښې ځوی د خپل پلار نه روایت کوی، لیکن د پلار نوم ئې څه دې، او د ځوی نوم څه دې؟ په دې کښې د راویانو اختلاف دې، بعضې راویان کوم نوم چه د ځوی ګڼړی، نو نور راویان هغه نوم د پلار ګڼړی، په کتب رجال کښې هم دغسې دا اختلاف منقول دې، بهر حال امام ابوداؤد رحمه الله چه په دې کښې کوم اختلاف ذکر کړې دې، دهغې مطابق ددې حدیث راوی، کوم طرف ته چه دا حدیث منسوب کولې شی، دهغې حاصل درې دی،(۱) ابوصُعیر(۲) ثعلبه بن ابی صُعیر(۳) عبدالله بن ابی صُعیر، او دې طرف ته علامه ذهبی په الکاشف کښې میلان کړې دې، هم دغسې په بذل المجهود کښې د دارقطنی نه نقل کړې دی، چه صحیح عبدالله بن ثعلبه بن ابی صعیر دې، بیا عبدالله دې لره د خپل پلار ثعلبه نه روایت کوی، لهذا راویٔ حدیث علی الراجح ثعلبه بن ابی صعیر دې.

په حدیث ثعلبه باندې نقد او دهغې جواب:

د ثعلبه د حدیث نه نصف صاع ثابتیږی، په دې باندې شراح شافعیه دا اشکال کوی، چه په دې حدیث کښې سندا و متنا اضطراب دې، اول خو د صحابي په نوم کښې اختلاف دې، چه ثعلبه دې او که عبدالله بن ثعلبه، دویم دا چه بعض دې لره مسندا او بعض مرسلا روایت کوی.

ددې جواب دا کیدې شی، چه د اول اختلاف تعلق صرف اسم سره دې، په مسمیٰ کښې هیڅ اختلاف نشته، هغه خو متیقن دې، او د ارسال او اسناد اختلاف هم څه سخت اختلاف نه دې، حدیث مرسل هم د جمهورو په نزد حجت دې، او دلته کښې د سند ټول راویان ثقه دی، او په متن کښې اختلاف دادې، چه بعضو روایت کړې دې، صاع من قمح او اکثرو د نصف صاع من بر روایت کړې دې، بعضو د صاع من قمح عن کل انسان یا عن کل راس، او بعضو د صاع من بر بین اثنین، که بین اثنین صحیح دې، نو په هر یو نصف صاع واجب شو، او که صحیح عن کل راس او علی کل انسان دې، نو ظاهره ده، چه د هر یو د طرف نه پوره یو صاع شو، لیکن دا هم کتل پکار دی، چه مصنف په دې حدیث باندې څه باب تړلې دې؟ د نصف صاع ئې تړلې دې، ګویا د مصنف په نزد په دې حدیث کښې نصف صاع راجح دې، دویمه خبره دا ده، چه نصف صاع د بعضې نورو روایاتو نه هم ثابت دې، لکه په مسند احمد کښې دی، عن اسماء قالت کنا نؤدی زکوة الفطر علی عهد رسول الله(صلی الله علیه وسلم) مدین من قمح،(مسند احمد ۶ص۳۵۵) ددې نه علاوه نور هم بعضې روایات دی، چه هغې لره علامه عینی په شرح بخاری کښې ذکر کړې دی، او د هغې نه بعضې د دې کتاب په اول باب کښې هم تیر شوې دی.

او خطابی وغیره شراح شافعیه د دې حدیث نه یوه دویمه مسئله اختلافی باندې استدلال کړې دې، چه مخکښې تیره شوې ده، هغه دا چه صدقة الفطر په غني او فقیر دواړو باندې

واجبه ده، لکه چه د شافعیه وغیره مسلک دې، او دې حدیث لره هغوی په خپل تائید کښې پیش کوی، ددې مطلب دا دې، چه دا حدیث دهغوی په نزد هم قابل استدلال دې.

[۱۶۲۰]() حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ الْحَسَنِ الدَّرَابْجِرْدِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يَزِيدَ، حَدَّثَنَا هَمَّامٌ، حَدَّثَنَا بَكْرٌ هُوَ ابْنُ وَائِلٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ ثَعْلَبَةَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، أَوْ قَالَ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ ثَعْلَبَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. ح وحَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى النَّيْسَابُورِيُّ، حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا هَمَّامٌ، عَنْ بَكْرٍ الْكُوفِيِّ، قَالَ مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى: هُوَ بَكْرُ بْنُ وَائِلِ بْنِ دَاوُدَ، أَنَّ الزُّهْرِيَّ حَدَّثَهُمْ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ ثَعْلَبَةَ بْنِ صُعَيْرٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: "قَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَطِيبًا، فَأَمَرَ بِصَدَقَةِ الْفِطْرِ صَاعِ تَمْرٍ أَوْ صَاعِ شَعِيرٍ عَنْ كُلِّ رَأْسٍ"، زَادَ عَلِيٌّ فِي حَدِيثِهِ: أَوْ صَاعِ بُرٍّ أَوْ قَمْحٍ بَيْنَ اثْنَيْنِ، ثُمَّ اتَّفَقَا عَنِ الصَّغِيرِ وَالْكَبِيرِ وَالْحُرِّ وَالْعَبْدِ".

حضرت عبد الله بن ثعلبه بن ابی صعیر د خپل پلار نه روایت کوی چه رسول الله ﷺ د خطبې دَ پاره پاسیدلو نو هغوی دَ صدقهٔ فطر حکم ارشاد اوفرمایهٔ چه دَ هر فرد دَ طرف نه یو صاع کجورې یا یو صاع اوربشې دې ورکړې شی - دَ علی په روایت کښې دا اضافه ده چه یا د دوو افرادو دَ طرف نه دې یو صاع دَ غنمو ورکړې شی ...... ددې حصې نه ورستو روایت کښې (علی ابن حسین او محمد بن یحیی نیشاپوری) دواړه متفق دی چه دَ وړوکی، غټ، آزاد او دَ غلام دَ طرف نه دې ورکړې شی -

[۱۶۲۱]() حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ، قَالَ: وَقَالَ ابْنُ شِهَابٍ: قَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ ثَعْلَبَةَ: قَالَ ابْنُ صَالِحٍ: قَالَ الْعَدَوِيُّ قال أَبُو دَاوُدَ: قَالَ أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ: قَالَ الْعَدَوِيُّ: : خَطَبَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ النَّاسَ قَبْلَ الْفِطْرِ بِيَوْمَيْنِ، بِمَعْنَى حَدِيثِ الْمُقْرِءِ.

د ابن جریر نه روایت دې چه ابن شهاب (د حدیث د راوی نوم) عبد الله بن ثعلبه روایت کړې دې او احمد صالح دهٔ ته العدوی وئیلې دی - امام ابوداود رحمه الله فرمائی چه دا په حقیقت کښې العذری دې -(روایت دادې چه) رسول الله ﷺ دَ وړوکی اختر نه یوه ورځ مخکښې خلقو تهٔ خطبه اوفرمایله : ...... او دَ (عبد الله بن یزید مکی) المقرئ دَمذکوره بالا) روایت په مثل ئې بیان کړو -

[۱۶۲۲]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا سَهْلُ بْنُ يُوسُفَ، قَالَ حُمَيْدٌ: أَخْبَرَنَا، عَنِ الْحَسَنِ، قَالَ: "خَطَبَ ابْنُ عَبَّاسٍ رَحِمَهُ اللَّهُ فِي آخِرِ رَمَضَانَ عَلَى مِنْبَرِ الْبَصْرَةِ، فَقَالَ: أَخْرِجُوا صَدَقَةَ صَوْمِكُمْ، فَكَأَنَّ النَّاسَ لَمْ يَعْلَمُوا، فَقَالَ: مَنْ هَاهُنَا، مِنْ أَهْلِ الْمَدِينَةِ قُومُوا إِلَى إِخْوَانِكُمْ فَعَلِّمُوهُمْ، فَإِنَّهُمْ لَا يَعْلَمُونَ، فَرَضَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَذِهِ الصَّدَقَةَ صَاعًا مِنْ تَمْرٍ أَوْ شَعِيرٍ أَوْ نِصْفَ صَاعٍ مِنْ قَمْحٍ عَلَى كُلِّ حُرٍّ أَوْ مَمْلُوكٍ، ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى، صَغِيرٍ أَوْ كَبِيرٍ، فَلَمَّا قَدِمَ عَلِيٌّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ رَأَى رُخْصَ السِّعْرِ، قَالَ: قَدْ أَوْسَعَ اللَّهُ عَلَيْكُمْ، فَلَوْ جَعَلْتُمُوهُ صَاعًا مِنْ كُلِّ شَيْءٍ"، قَالَ حُمَيْدٌ: وَكَانَ الْحَسَنُ يَرَى صَدَقَةَ رَمَضَانَ عَلَى مَنْ صَامَ.

حضرت حسن بصری رحمه الله بیان کوی چه حضرت ابن عباس رضی الله عنهما د رمضان په اخر کښې په بصره کښې خلقو ته په منبر باندې خطبه اولوستله اووې فرمائیل دَ خپلو روژو صدقه ادا

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۵۲۰۷۳)، وقد أخرجه: مسند احمد (۴۳۲/۵)(صحيح)

[2]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۵۲۰۷۳)(صحيح)

[3]: سنن النسائي/الزكاة ۳۶ (۲۵۱۰)، (تحفة الأشراف: ۵۳۹۴)(ضعيف)

کړئ - نو ګویا چه خلقو ته دَ هغوی خبره په پوهه کښې رانغله، نو هغوی اوفرمائیل : دَ اهلِ مدینې والونه دلته کښې څوک دی؟ اودریږه او خپلو رونړو لره پوهه کړه، دوی نهٔ پوهیږی چه رسولِ الله ﷺ دې صدقهٔ فطر (سرسایې) لره فرضِ کړې ده چه دَ هر آزاد، غلام سړی، ښځې، دَ وړوکی او دَ غټې دَ طرف نه دې دَ کجورو یا دَ اورشبو نه یو صاع ورکړې شی، یا دَ غنمو یو نیم صاع ... او کله چه حضرت علی رضی الله عنه تشریف راوړو نو هغوی رضی الله عنه ارزانی اولیدله، نو وې فرمائیل : الله تعالیٰ په تاسو باندې وسعت فرمائیلې دې لهٰذا کهٔ چرې تاسو دَ هر یو څیز نه یو یو صاع ادا کوئ (نو بهتره او افضله به وی -) حمید وائی چه حضرت حسن رحمه الله به سرسایه په هغه چا باندې لازمه ګنړله چا چه روژې نیولې وی -

تشریح: قوله: قال خطب ابن عباس فی آخر رمضان علی المنبر بصرة.......... فلما قدم علی رای رخص السعر قال قد اوسع الله علیکم فلو جعلتموه صاعا من کل شیء.

شرح حدیث :

حضرت ابن عباس رضی الله عنه د حضرت علی رضی الله عنه د طرف نه د بصرې والی او ګورنر وو، نو هغوی د بصرې په منبر باندې د رمضان په آخری تاریخونو کښې یوه خطبه ورکړه، په هغې کښې د صدقة الفطر ادا کولو ترغیب وو، او دهغې د مقدار بیان هم وو، تمر او شعیر یو صاع، او حنطه نصف صاع، ددې نه پس په روایت کښې دادی، چه کله حضرت علی رضی الله عنه (بظاهر د خپلې دارالخلافې کوفې نه) بصرې ته تشریف راوړلو، او هلته کښې ئې د غنمو په نرخ کښې ارزانی اولیدله، نو هغوی اوفرمائیل : چه هرکله الله تعالی د غنمو ډیر والې فرمائیلې دې، نو که تاسو هم د نصف صاع په ځائې یو صاع ورکړئ، نو ډیره به ښه وی، وکان الحسن یری صدقة رمضان علی من صام یعنی حسن بصری رحمه الله صرف په هغه سړی باندې د صدقة الفطر د وجوب قائل وو، چاچه د رمضان روژې نیولې وی، په بذل کښې حضرت لیکلې دی : یعنی دهغوی مذهب دا وو، چه صدقة الفطر په ماشومانو باندې واجبه نه ده، ولکن لم نقف علی دلیله، ١هـ

زهٔ وایم چه مخکښې د صدقة الفطر په شروع کښې د طهرة للصائم په شرح کښې تیر شوې دی، چه ددې نه حسن بصری او سعید بن المسیب دا استدلال کړې دې، چه صدقة الفطر صرف په من صام باندې ده، په من لم یصم باندې نشته.

تکمله :

الحمد لله د صدقة الفطر په مسائلو او احادیثو باندې کلام پوره شو، لیکن اوس یوه مسئله باقی ده، هغه داچه بعضو تیر شوؤ احادیثو کښې صاع من اقط هم تیر شوې دې، تشریح طلب څیز دادې، چه فقهاء او ائمه دې باره کښې څه فرمائي، نو په مذهب حنفی کښې خو دا تصریح ده، چه په اقط کښې د قیمت لحاظ دې، د نورو منصوصی څیزونو د قیمت برابر به ورکولې شی، مثلا د یو صاع شعیر د قیمت برابر به ورکولې شی، احناف دا

فرمائي چه کوم څیزونه غیر منصوصي دی. (۱) یاپه بااعتماد طریق سره ثابت نه دی، په هغې کښې به د قیمت اعتبار وی، د نورو امامانو د طرف نه د اقط باره کښې روایات مختلف دی، د امام مالک رحمه الله مسلک دادې، چه په صدقة الفطر کښې به هغه څیز ورکولې شی، چه غالب قوت بلد وی، (۲) نو که په اقط باندې دا خبره په یو مقام یا ښهر کښې صادق راځی، چه دهغې ځائي د اوسیدونکو هم دا اقط زیات تر خوراک وی، نو ددې به یو صاع ورکول جائز وی، کنی نه، او د امام شافعی رحمه الله نه په دې کښې دوه روایتونه دی، د جواز او د عدم جواز، او دریم قول دهغوی دادې، چه د اهل بادیه(باندیسی) دپاره صاع اقط ورکول جائز دی، او اهل حاضره(ښهر والو) دپاره جائز نه دی،او د امام احمد رحمه الله مسلک حافظ ابن حجر دالیکلې دې، يجوز اعطاء الاقط عنده ان لم يجد غيره،

او ابن قدامه حنبلی دا لیکلې دی، چه د غیر واجد (۳) د دپاره خو دهغې ورکول جائز دی، او په واجد الغیر کښې هغه لیکلې دی، چه زمونږ د طرف نه دوه روایتونه دی، یو د جواز او بل د عدم جواز.

دلته کښې یوه مسئله اختلافی بله ده، چه هغې طرف ته امام مالک رحمه الله په مؤطا کښې اشاره کړې ده، قال مالک تجب زکوة الفطر على اهل البادية كما تجب على اهل القرى، یعنی صدقة الفطر څرنګه چه په ښهر والو باندې واجبه ده، دغه شان په باندو والو باندې هم واجبه ده، په اوجز ۲ ص ۲۸۱ کښې لیکلې دی، چه د جمهورو مسلک هم دادې، او لیث بن سعد، زهري او ربيعة دا فرمائي چه صدقة الفطر په اهل بادیه باندې واجبه نه ده، صرف په اهل قری باندې واجبه ده.

بَابٌ فِي تَعْجِيلِ الزَّكَاةِ

باب: ۲۲- زکات لره په تیزئ سره ورکول

[۱۶۲۳] (٤) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ الصَّبَّاحِ، حَدَّثَنَا شَبَابَةُ، عَنْ وَرْقَاءَ، عَنْ أَبِي الزِّنَادِ، عَنِ الْأَعْرَجِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: بَعَثَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ عَلَى الصَّدَقَةِ، فَمَنَعَ ابْنُ جَمِيلٍ وَخَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ وَالْعَبَّاسُ، فَقَالَ

---

(۱) لیکن په دې کښې ماته دا اشکال دې، چه د اقط ذکر په روایاتو کښې په کثرت سره موجود دې، حتی چه د صحیحینو په روایت کښې هم موجود دې، ددې جواب شاید دا کیدې شی، چه هرکله دا خبره ده چه د اقط باره کښې د نورو امامانو هم اختلاف دې، او دهغوی نه په دې کښې روایات مختلف دی، ددې نه معلومیږی چه څه خبره ضرور شته، دغه شان امام بخاری رحمه الله سره ددې نه چه احادیث الاقط ئې ذکر کړې دې، خو مستقل باب ئې په دې باندې ترلې نه دې، حالانکه هغوی په نورو ټولو څیزونو باندې مستقل تبویب کړې دې، مولانا انور شاه فرمائي: چه زما تجربه داده، چه حضرت امام بخاری رحمه الله ته کله د یو حدیث په یو جزء کښې تردد وی، نو هلته کښې هغوی داسې کوی، چه حدیث خو ذکر کوی، لیکن په هغې جزء باندې مستقل ترجمه نه قائموی. والله اعلم)

(۲) ففي كتبهم صاع من اغلب قوت البلد)

(۳) یعنی د چا سره چه د اقط نه علاوه بل څیز د ورکولو دپاره نه وی، او واجد الغیر چه هغه سره د اقط نه علاوه بل څیز هم د ورکولو دپاره وی.)

(٤): صحيح مسلم/الزكاة ۳(۹۸۳)،(تحفة الأشراف :۱۳۹۲۲)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الزكاة ٤۹(۱٤٦۸)، سنن النسائي/الزكاة ۱۵(۲٤٦۳)، مسند احمد(۳۲۲/۲)(صحيح)

رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا يَنْقِمُ ابْنُ جَمِيلٍ إِلَّا أَنْ كَانَ فَقِيرًا فَأَغْنَاهُ اللَّهُ، وَأَمَّا خَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ فَإِنَّكُمْ تَظْلِمُونَ خَالِدًا فَقَدِ احْتَبَسَ أَدْرَاعَهُ وَأَعْتُدَهُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، وَأَمَّا الْعَبَّاسُ عَمُّ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَهِيَ عَلَيَّ وَمِثْلُهَا"، ثُمَّ قَالَ: "أَمَا شَعَرْتَ أَنَّ عَمَّ الرَّجُلِ صِنْوُ الْأَبِ أَوْ صِنْوُ أَبِيهِ".

سیدنا ابوهریره رضی الله عنه بیان کوی چه نبی کریم ﷺ حضرت عمر بن الخطاب رضی الله عنه دَ صدقاتو دَ وصولولو دَ پاره اولیږلو نو ابن جمیل، خالد بن ولید او عباس زکات ورنهٔ کړو نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل: ابن جمیل خو ددې خبرې بدله اخلی چه هغه فقیر وو نو الله تعالیٰ هغه لره غنی کړو، پاتې شو خالد بن ولید، نو تاسو په هغه باندې ظلم کوئ - هغه خو خپلې زغرې او نور سامان دَ الله عز وجل په لاره کښې ورکړې دی - او پاتې شو عباس، نو هغه دَ رسول الله ﷺ ترهٔ دې، دَ هغوی زکات په ما باندې دې بلکې دومره قدرې نور هم - بیائې اوفرمائیل: آیا تاسو ته معلومه نهٔ ده چه دَ انسان ترهٔ ددهٔ دَ پلار مثل وی -"

تشریح: قوله: قال بعث النبی(صلی الله علیه وسلم) عمربن الخطاب علی الصدقة فمنع ابن جمیل و خالد بن الولید و العباس فقال رسول الله ﷺ ما ینقم ابن جمیل الا ان کان فقیرا فاغناه الله.

شرح حدیث:

رسول الله ﷺ حضرت عمر رضی الله عنه لره عامل علی الصدقة جوړ کړو او وې لیږلو، دې د پاره چه د خلقو نه زکوة وصول کړی، نو هغوی هغه خدمت ترسره کړو، او واپس راغلو، او د دریو سړو باره کښې ئې نبی کریم ﷺ ته شکایت اوکړو، یو ابن جمیل، دویم حضرت خالد بن ولید رضی الله عنه، او دریم حضرت عباس رضی الله عنه، چه دوی د زکوة ورکولو نه انکار اوکړو. د ابن جمیل نوم معلوم نه دې، اصح قول دادې، هم ددې وجې نه حافظ ذهبی رحمه الله دهٔ لره د فیمن عرف بابیه و لم یسم د لاندې ذکر کړې دې، وقیل اسمه عبدالله و قیل حمید، نبی کریم ﷺ د دریو وارو باره کښې خپله رائې ښکاره کړه، ما ینقم ابن جمیل الخ د ابن جمیل باره کښې نبی کریم ﷺ اوفرمائیل: چه هغه ته د زکوة ادا کولو نه هیڅ څیز مانع نشی کیدې، (بل هیڅ عذر هغه سره نشته) سوا ددې نه چه هغه په شروع کښې فقیر وو، بیا الله تعالیٰ په خپل فضل سره هغه غنی جوړ کړو، او ظاهره ده، چه د الله تعالیٰ هغه لره غنیٰ جوړول د منع زکوة سبب او عذر هیچرې نشی کیدې، پس خلاصه دا شوه، چه هیڅ یو سبب او عذر هغه سره د منع د زکوة دپاره نشته.

فصحاء عرب بعضو وختونو کښې د یو څیز نفی د مبالغې په طور باندې کوی، چه په ځائې دهغې څیز د نفی کولو، داسې یو څیز راولی او ثابت کړی، چه په هغې کښې دهغې محل صلاحیت بالکل نه وی، پس که داسې کول په مقام د مدح کښې وی، نو د علم بیان په اصطلاح کښې ددې نه په تاکید المدح بما یشبه الذم سره تعبیر کولې شی، او که مقام د مذمت وی، نو دې ته تاکید المدح بما یشبه الذم وئیلې شی، د اول مثال:

ولا عیب فیهم غیر ان سیوفهم ۔ بهن فلول من قراع الکتائب

او د دویم مثال دا حدیث(۱) پیش کیدې شی، (قسطلانی شرح بخاری)
زۀ وایم، او هم ددې قبیلې نه دې د الله تعالی دا قول: الم تر الی الذی حاج ابراهیم فی ربه ان آتاه الله الملک.
بعضې شارحینو لیکلې دی، چه دا ابن جمیل منافق سړې وو، روستو بیا تائب شوې وو، ددې آیت د نزول نه پس، وما نقموا الا ان اغناهم الله و رسوله من فضله فان یتوبوا یک خیر الهم، وئیل به ئې : استتابنی ربی فتاب فصلحت حاله.
قوله: و اما خالد بن الولید فانکم تظلمون خالدا فقد احتبس ادراعه (۲) و اعتده فی سبیل الله عزوجل. د خالد بن ولید رضی الله عنه باره کښې نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل : چه هغه خپل جنګی سامان ټول په ټوله، زغرې، او نورې وسلې او څاروی، (چه د تجارت دپاره وو) هغې لره د کال پوره کیدو نه مخکښې) وقف فی سبیل الله کړې دی، یعنی بیا په هغه باندې زکوة څرنګه واجب شو؟ لهذا ستا دهغه نه د زکوة مطالبه کول په هغه باندې ظلم دې، او دویم مطلب ددې جملې دادې، چه د خالد د سخاوت چه دا حال دې، (کوم چه ذکر شو) نو هغه د زکوة واجبه ورکولو نه څرنګ انکار کولې شی، بلکه تۀ خطاء شوې یې، (د خالد په څه خبره باندې)، دریم مطلب ئې دا لیکلې دې، چه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم مراد دادې، چه خالد کوم سامان د جهاد دپاره وقف کړې دې، هم هغې لره د هغه په زکوة واجبه کښې حساب کړه، څکه چه فی سبیل الله یعنی جهاد، دا په خپله په مصارف زکوة کښې دې (نو داسې اوګنړه چه هغه خپل زکوة په خپله ادا کړې دې)
قوله: و اما العباس عم رسول الله(صلی الله علیه وسلم) فهی علی و مثلها قال اما شعرت ان عم الرجل صنو ابیه (۳).
د حدیث ددې قطعې په شرح کښې دوه اقوال دی، یو داچه نبی کریم صلی الله علیه وسلم د خپل څه ضرورت یا د بیت المال د ضرورت دپاره د حضرت عباس رضی الله عنه نه د دواؤ کالو زکوة پیشګی د وخت نه مخکښې اخستلې وو، ددې وجې نه نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمائي چه د عباس رضی الله عنه د دواؤ کالو زکوة زما په ذمه دې، زۀ به دا ادا کوم، په بعضو روایاتو کښې ددې تصریح هم ده، انا کنا احتجنا فتعجلنا من العباس صدقة ماله سنتین(دارقطنی) او خپله په دې کتاب کښې په بل روایت کښې راروان دی، چه حضرت عباس رضی الله عنه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه د تعجیل زکوة باره کښې تپوس

---

(۱) عام طور سره شارحینو دې حدیث ته هم تاکید المدح بما یشبه الذم وئیلې دی، لیکن علامه قسطلانی هغه تفصیل لیکلې دی، کوم چه مونږ بره ذکر کړو، فجزاه الله خیرا، هم دغه شان زمونږ استاذ محترم الادیب الاریب حضرت مولانا اسعدالله صاحب نورالله مرقده به هم په درس کښې فرمائیل، چه دا تاکید المدح بما یشبه الذم دې فتشکر.
(۲) ادراع د درع جمع ده، د اوسپنې زغره، او اعتد د عتد(بفتحتین) جمع ده، هغه سامان چه د جهاد دپاره تیارولې شی، من الدواب والسلاح وقیل الخیل خاصة او د مسلم په روایت کښې اعتاده دې، هغه هم د عتد جمع ده)
(۳) صنو بمعنې مثل په اصل کښې صنو د کهجور هغې اونې ته وئیلې شی، چه د بلې اونې د جرړې نه راوخي، دې دواړو ته صنوان وئیلې شی، او هر یو ته صنو)

کړي وو، نبی کریم ﷺ هغه ته اجازت ورکړې وو، دا مطلب د مصنف د ترجمة الباب سره مناسب هم دې، او دویم مطلب ددې حدیث دا لیکلې دې، چه عباس رضی الله عنه زما تره محترم دې، دهغه په ما باندې حقوق دی، لهذا زهٔ دهغه زکوة په خپله ذمه اخلم، ددې مطلب تائید ددې جملې نه کیږی، اما شعرت ان عم الرجل صنو ابیه، یا مطلب دادې، چه دهغه نه ددې کال او آئنده کال زکوة ما په خپله وصول کړې دې، بیا اوس دوباره هغه زکوة څرنګه ورکړی؟ لیکن د علی لفظ ددې مطلب سره په ظاهر کښې منافی دې.

فائده : د سنن ابوداؤد او صحیح مسلم په روایت کښې خو داسې دی، فهی علی و مثلها، او د صحیح بخاری او سنن نسائي د روایت الفاظ دا دی، فهی علیه صدقة و مثلها معها، دا لفظ نور هم قابل اشکال دې، چه د عباس رضی الله عنه زکوة په عباس رضی الله عنه باندې صدقه کړئ، بعضې شارحینو وئیلې دی، چه او! داسې کیدې شی، او دا قصه د تحریم الصدقة علی بنی هاشم نه مخکښې ده،(لیکن دا جواب کافی نه دې، ځکه چه دا خو کیدې شی، چه په شروع کښې په بنو هاشم صدقه حرامه نه وه، لیکن د سړی زکوة په خپله په هغه صدقه کړې شی، دا څرنګه کیدې شی؟ په زکوة کښې خو اخراج المال عن ملکه وی) دویم مطلب(ددې بخاری والا روایت) ئې دا لیکلې دې، چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل : چه عباس زما عم محترم دې، مشر سړې دې، دهغه نه ناامیده کیږه مه، پس دا صدقه په هغه باندې ثابته او واجبه ده، او په دې باندې بس نه دې، بلکه دهغې سره نور هم دهغې پشان (چه ورکړی) دهغه د شان سره دا مناسب دی.

او بعضې شارحینو د بخاری د روایت توجیه کړې ده، چه د اصل روایت لفظ خو علی دې، او په علیه کښې یاء مشدده ده، چه یاء د متکلم ده، او په آخر کښې هاء سکته ده، علیه، په دې صورت کښې به دواړه صورتونه یو شی، او د بخاری د روایت مفهوم به هم هغه شی، کوم چه د ابوداؤد د روایت دې.

ددې حدیث نه علماؤ ډیر مسائل او فوائد مستنبط کړې دی، دهغې نه یوه مسئله د وقف منقول ده، چه اختلافی ده،([1])

په تعجیل زکوة کښې مذاهب ائمة :

او د تعجیل زکوة مسئله څرنګه چه مصنف ثابته کړې ده، دا هم اختلافی ده،د ائمه ثلاثه، احناف، شافعیه او حنابله په نزد د ملک نصاب نه پس حولان حول نه مخکښې اخراج زکوة جائز دې، د حسن بصری، سفیان ثوری او داؤد ظاهری په نزد تعجیل جائز نه دې، دا حضرات فرمائي چه د زکوة یو وخت متعین دې، څرنګ چه د مانځه وخت متعین دې، قبل الوقت جائز نه دې، هم دا مذهب د امام مالک رحمه الله دې، لیکن په یو روایت کښې هغه فرمائي چه تقدیم یسیر جائز دې، بیا د یسیر په مصداق کښې دهغه د طرف نه څو اقواله منقول دی، د یوې میاشتې، د نیمې میاشتې، پنځه ورځې، او درې ورځې، کذا قال العینی

[1] ددې دپاره د فقهې کتابونه ته رجوع اوکړئ، دلته کښې بیانول مقصود نه دی، بلکه صرف اشاره مقصود ده)

۹ص۴۷) او په حاشیه د کوکب ص۲۴۵ کښې ئې د حنابله مسلک داميکلې دې، چه دهغوی په نزد صرف د دواؤ کالو تقديم جائز دې، والحديث اخرجه ايضا احمد والبخاری ومسلم والنسائي والدارقطنی(منهل) تم الكلام (۱) على حديث الباب و مسئلته فلله الحمد والمنة.

[۳۳۴](٢) حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ مَنْصُورٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ زَكَرِيَّا، عَنِ الْحَجَّاجِ بْنِ دِينَارٍ، عَنِ الْحَكَمِ، عَنْ حُجَيَّةَ، عَنْ عَلِيٍّ، أَنَّ الْعَبَّاسَ سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي تَعْجِيلِ صَدَقَتِهِ قَبْلَ أَنْ تَحِلَّ، فَرَخَّصَ لَهُ فِي ذَلِكَ"، قَالَ مَرَّةً: "فَأَذِنَ لَهُ فِي ذَلِكَ". قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَى هَذَا الْحَدِيثَ هُشَيْمٌ، عَنْ مَنْصُورِ بْنِ زَاذَانَ، عَنِ الْحَكَمِ، عَنِ الْحَسَنِ بْنِ مُسْلِمٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَحَدِيثُ هُشَيْمٍ أَصَحُّ.

حضرت عباس رضی الله عنه د نبی کریم ﷺ نه پوښتنه اوکړه چه آیا صدقه(زکات) د لازم کیدو نه وړاندې ادا کیدې شي؟ نو حضور ﷺ هغه ته ددې رخصت ورکړو-(راوی) یو ځل داسې روایت اوکړو : [فاذن له فی ذالک] -" امام ابوداود رحمه الله فرمائی چه دې حدیث لره هشیم د منصور بن زاذان نه، هغوی دَ حکم نه، هغوی دَ حسن بن مسلم نه، هغوی دَ رسول الله ﷺ نه روایت کړې دې ... او دَ هشیم روایت زیات صحیح دې -

بَاب فِي الزَّكَاةِ هَلْ تُحْمَلُ مِنْ بَلَدٍ إِلَى بَلَدٍ

باب: ۲۳-آیا دَ یو ښارې زکات بل ښار ته منتقل کیدې شي؟

په دې مسئله کښې کلام مخکښې په باب زکوة السائمة حديث نمبر ۱۴ توخذ من اغنيائهم و ترد فى فقرائهم، دلاندې تیر شوې دې.

[۳۳۵](٣) حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ، أَخْبَرَنَا أَبِي، أَخْبَرَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ عَطَاءٍ مَوْلَى عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، عَنْ أَبِيهِ، "أَنَّ زِيَادًا أَوْ بَعْضَ الْأُمَرَاءِ بَعَثَ عِمْرَانَ بْنَ حُصَيْنٍ عَلَى الصَّدَقَةِ، فَلَمَّا رَجَعَ، قَالَ لِعِمْرَانَ: أَيْنَ الْمَالُ؟ قَالَ: وَلِلْمَالِ أَرْسَلْتَنِي أَخَذْنَاهَا مِنْ حَيْثُ كُنَّا نَأْخُذُهَا عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَوَضَعْنَاهَا حَيْثُ كُنَّا نَضَعُهَا عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ".

د ابراهیم بن عطاء دَ پلار نه روایت دې چه زیاد یا کوم بل امیر حضرت عمران بن حصین رضی الله عنه لره دَ صدقاتو(زکات) دَ وصولولو دَ پاره مقرر کړو - کله چه هغه واپس راغې نو امیر د حضرت عمران رضی الله عنه نه پوښتنه اوکړه : مال کوم ځائې دې؟ هغوی جواب ورکړو : چه تاسو مالره دَ مال(دَ جمع کولو) دپاره لیږلې وو مونږ زکات وصول کړو دَ کوم ځائې نه چه به دَ رسول الله ﷺ په زمانه کښې اخستلې شو، او هم په هغه ځائې کښې مو اولګولو په کوم ځائې کښې چې به دَ رسول الله ﷺ په دور کښې لږیدلو -(یعنی دَ علاقې دَ مالدارو نه مو واخستو او هم دَ هغه ځائې په فقراؤ او مساکینو باندې مو تقسیم کړو-)

---

[1]) ددې حديث شرح مونږ د شروح بخاری فتح الباری، عینی، او قسطلانی په رڼا کښې کړې ده.

[2]): سنن الترمذي/الزكاة ۳۷(۶۷۸)، سنن ابن ماجه/الزكاة ۷(۱۷۹۵)،(تحفة الأشراف :۱۰۰۶۳)، وقد أخرجه: مسند احمد(۱/۱۰۴)، سنن الدارمي/الزكاة ۱۲(۱۶۷۶)(حسن)

[3]): سنن ابن ماجه/الزكاة ۱٤(۱۸۱۱)،(تحفة الأشراف :۱۰۸۳٤)(صحيح)

بَابُ مَنْ يُعْطَى مِنَ الصَّدَقَةِ وَحَدِّ الْغِنَى

باب: ۲۴- صدقه څوک ورکړې شي؟ او د غنی کیدو حد څه دې؟

ترجمة الباب کښې وحد الغنی ددې وجې نه زیات کړې شو، چه من یعطی من الصدقة هغه سړې کیدې شی، چه غنی نه وی، لهذا اوس ضرورت ددې خبرې دې، چه معلومه کړې شی، چه حد د غنی څه دې؟

د حد دغنیٰ په باره کښې اختلاف روایات :

دا خبره زده کول پکار دی، چه د حد غنی باره کښې روایات حدیثیه هم مختلف دی، او مذاهب ائمه هم، اول اختلاف روایات واوړئ، د باب په اول حدیث کښې چه د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه مرفوعا روایت دې، دهغې مقدار خمسون درهما یا ددې برابر سرۀ زر مذکور دی، او په دویم حدیث کښې چه دهغې راوی ابوسعید خدری رضی الله عنه دې، دهغې مقدار یو اوقیه یعنی اربعین درهما مذکور دې، او دهغې نه پس د باب په دریم حدیث کښې چه د سهل بن الحنظلیه نه روایت دې، دهغې مقدار قدر ما یعدیه و یعشیه مذکور دې، یعنی شبع یوم و لیلة،(د سحر ماښام خوراک)

د روایاتو دې تعارض لره بعضو عالمانو داسې ختم کړې دې، چه دا اختلاف د اشخاصو او احوالو په اعتبار سره دې، اصل څیز په دې کښې قدر کفایة دې، اوس د بعض الناس په حق کښې قدر کفایة پنځوس درهمه دې، او د بعضو په حق کښې څلویښت درهمه دې، او بعضې شارحینو توجیه داسې کړې ده، چه په دې احادیثو کښې د نبی کریم صلی الله علیه وسلم مخاطب هغه حضرات وو، چه په هغې کښې د اکثرو پیشه تجارت وه، نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم د تجارت په راس المال کښې تخمینا یو مقدار یعنی څلویښت یا پنځوس درهمه متعین کړل، او د دریم روایت یعنی قدر ما یغدیه و یعشیه توجیه دا کړې شوې ده، چه ددې نه مراد صرف د یوې ورځې شپې روزې مراد نه ده، بلکه روزانه د سحر او ماښام خوراک، او دهغې مستقل نظم مراد دې، هغه چه څرنګه هم وی، که په دستکارئ سره وی، یاتجارت او زراعت وغیره سره،غرض داچه مقصود دټولو احادیثونه دمقدار کفایت حاصلول دی.

او بعضو عالمانو دې احادیثو کښې تطبیق داسې ورکړې دې، چه بعضو لره ئې د بعضو دپاره ناسخ منلې دې، نو حدیث الاوقیه ئې ناسخ منلې دې، د مایغدیه و یعشیه دپاره، او خپله د حدیث الاوقیه دپاره ئې خمسون درهما والا حدیث ناسخ منلې دې، او بعضو عالمانو فرمائیلې دی، چه د نسخې ترتیب داسې نه دې، بلکه ددې برعکس دې، د کثرت نه قلت طرف ته راغلې دې، پس خمسون درهما دپاره ناسخ اربعون درهما دې، او د اربعون دپاره غداء و عشاء والا روایت ناسخ دې.

والله سبحانه و تعالی اعلم، دا خو اختلاف روایات او جمع بین الروایات باندې خبره شوه.

د حدغنیٰ په باره کښې د ائمۀ مذاهب تحقیق :

د حد غنی په باره کښې اختلاف مذاهب هم واوړئ! په دې کښې درې مذاهب دی،(۱) د

سفیان ثوري، ابن المبارک او اسحاق بن راهویه په نزد خمسون درهما(۲) دابوعبید قاسم بن سلام په نزد اربعون درهما، او د ائمه اربعه مذاهب داسې دي.

د امام احمد رحمه الله په نزد علی الدوام د مقدار کفایه حصول، یعنی بقدر کفایه مستقل معاش او د روزئ حصول، که هغه د نقد مال په ذریعې سره وی، یا په طریقه د کسب وی، لهذا داسې سړې غنی دې، نه دهغه دپاره سوال جائز دې، او نه اخذ زکوة(بدون السوال) که هغه صاحب نصاب وی او که نه، والروایة الثانیة عنه وجود خمسین درهما او قیمتها من الذهب، او د شافعیه مسلک دادې، چه د هرې ورځې آمدنی او ګټه په قدر د کفایت حاصلیدل،(د هغې مداره علی الکسب) یا د باقې پاتې عمر غالب د کفایت حصول(دهغې مداره علی النقد) ددې تشریح مخکښې راروانه ده، او د مالکیه مسلک دادې، چه د قوت عام ([1]) یعنی دپوره کال روزی حاصلیدل، یعنی چه دهغه او دهغه د اهل عیال دپاره کافی وی،(دا آخری قید خو په ټولو مذاهبو کښې معتبر دې) ددې تفصیل نه معلومه شوه، چه د جمهورو په نزد د غنی څه خاص مقدار متعین نه دې، بلکه ددې مدار په کفایت او عدم کفایت باندې دې، او ظاهره ده، چه قدر کفایت په ټولو کښې برابر نه دې، د خلقو د حال مطابق دې، ځکه چه بعض کثیر العیال دی، نو بعض قلیل العیال یا عدیم العیال دی، دغه شان بعض خلق قوی مکتسب(قادر علی الکسب) دی، او بعض ضعیف یعنی غیر قادر علی الکسب دی، لیکن که یو سړی ته باوجود د صاحب نصاب کیدلو نه ټول کفایت حاصل نه وی، نو هغه عند الجمهور زکوة اخستلې شی، اخذ زکوة د هغه دپاره جائز دې، مثلا یو سړی د څلویښتو بزو مالک دې، لیکن دهغې آمدنې دهغه دپاره کافی نه ده، نو هغه زکوة اخستلې شی، اګر چه په خپله په هغه باندې هم زکوة واجب دې.(۴) د احنافو په نزد د غنی حد متعین دې، یعنی چه د نصاب نامی مالک کیدل، لهذا کوم سړې چه صاحب نصاب وی، هغه د احنافو په نزد غنی دې، که هغه ته ما تحصل به الکفایة علی الدوام حاصل وی، او که نه، او کوم سړې چه صاحب نصاب نه دې، هغه غیر غنی دې، دهغه دپاره اخذ زکوة جائز دې، اګر که هغه ته ما تحصل به الکفایة حاصل وی.

ددې ټولو نه معلومه شوه، چه د جمهورو په نزد د غنی دوه قسمونه ځان ځانله دی، اول هغه غنی چه موجب زکوة دې، هغه خو دادې، چه سړې صاحب نصاب وی، او دویم قسم الغنی المانع عن اخذ الزکوة دې، یعنی د قدر کفایت حاصلیدل، او د احنافو په نزد وجوب زکوة او منع عن اخذ الزکوة د دواړو تعلق د نصاب سره دې، ([2]) او دا هم زده کول پکار دی، چه د

---

[1]) د کفایت باره کښې خو شوافعو د باقې پاتې عمر غالب اعتبار کړې دې،(کما سیاتي) او امام مالک رحمه الله د یو کال د کفایت اعتبار کړې دې، او په کتب حنابله کښې د بعضو نه هم دا د یو کال اعتبار معلومیږی، او بعضو علی الدوام، په ظاهر کښې په دې دواړو کښې فرق صرف لفظی دې، ځکه چه کله هر کال د یو کال د کفایت اعتبار کوی، نو هغه به علی الدوام خامخا وی، والله تعالی اعلم)

[2]) اصل او بنیادی اختلاف خو د احنافو او د جمهورو د مسلک په مینځ کښې هم دادې، دې لره په ښه طریقې سره ذهن کښې ساتل پکار دی، ددې سره سره دا هم په ذهن کښې اوساتئ......

امام احمد يو روايت خو هغه دې، کوم چه بره ذکر شو، او دهغوی دويم روايت کښې (وهو اظهر الروايتين کما قال الموفق) د ثمن اوغير ثمن فرق دې، هغه داچه مانع عن الاخذ يا خو ما تحصل به الکفاية دې، او يا خمسون درهما او قيمتها من الذهب، که چاسره پنځوس درهمه يا دهغې دقيمت برابر ذهب دی، نوبيا هم هغه مانع عن الاخذ دې.

د شافعيه مسلک تفصيل او توضيح:

لکه څرنګه چه دهغوی په کتابونو کښې ذکر دی، چه کوم سړې تجارت او کسب نشي کولې، د عدم قدرت او ضعف د وجې نه، يا دهغې سره لائق اسبابو دشتوالي د وجې نه، بلکه د هغه ګذاره په موجوده مال باندې وی، نو دهغه حکم دادې، چه که هغه مال دهغه باقي پاتې عمر غالب پورې کافي وو،(١) نو بيا خو هغه سړې غنی دې، دهغه دپاره اخذ زکوة جائز نه دې، او که هغه مال دومره نه دې، نو بيا هغه سړې غنی نه دې، دهغه دپاره اخذ زکوة جائز دې، او عمر غالب هغوی اثنين و ستين يعنی دوه شپيتۀ کاله مقرر کړې دې، او د تجارت او کسب په صورت کښې دهغوی په نزد د هرې ورځې د آمدنۍ او ګټې اعتبار دې، که هغه آمدنی دهغه دپاره کافي کيدې شی، نو بيا خو غنی دې، ګنی غنی نه دې.(روضة المحتاجين ص٢٨٨)

تکميل:

د احنافو او جمهور علماؤ په مينځ کښې چه د حد غنی باره کښې کوم اختلاف دې، هغه په اصل کښې مبنی دې په يو بل اختلاف باندې، چه هغې لره تکميلا للبحث ليکلې شی، څکه چه مشهوره ده، تتبين الاشياء باضدادها.

د فقير او مسکين په تعريف کښې د امامانو اختلاف:

هغه داچه فقير او مسکين چه دهغوی مصرف زکوة کيدل منصوص من الله تعالى دی، دهغوی په تعريف او مصداق کښې اختلاف دې، هغه اختلاف دادې، چه فقير د امام شافعي رحمه الله او امام احمد بن حنبل رحمه الله په نزد هغه سړې دې، چه هغه سره نقد مال يا د کسب آمدنی بالکل نه وی، يا که وی نو د نصف کفايت نه کم وی، مثلا د يو سړې مقدار کفايت خو هره ورځ لس درهمه وی، ليکن آمدنی او ګټه دهغه صرف څلور درهمه وی. او مسکين د دې دواړو امامانو په نزد هغه دې، چه هغه ته تول کفايت خو حاصل نه وی، ليکن نصف کفايت يا ددې نه اکثر ورته حاصل وی، مثلا په مثال مذکور کښې د شخص مذکور روزانه ګټه د

↵...چه فقهاء احناف دا وائي، چه زمونږ په نزد د غنی درې قسمه دی، الغنی الموجب للزکوة، او هغه د نصاب نامی حولی مالک کيدل دی، ثانی الغني المانع عن اخذ الزکوة ددې مصداق هم دادې، يعنی د نصاب مالک کيدل، ليکن حولان حول شرط نه دی، پس کوم سړې چه صاحب نصاب دې، او دهغه په مال حولان حول نه دې شوې، نو دهغه دپاره اخذ زکوة ناجائز دې، او په هغه صدقة الفطر او اضحيه واجب ده، او دريم قسم الغني المحرم للسوال دی، او هغه دادې، چه سړې د سحر ماښام د روزۍ او ما يستر به عورته مالک وی، د داسې سړې دپاره اخذ زکوة بغير د سوال نه خو جائز دې، البته سوال حرام دې.

(١) مثلا د کوم سړې چه موجوده عمر پنځوس کاله دې، نو اوس دهغه باقي پاتې عمر غالب صرف دولس کاله دې،)

پنځو (۵) درهمو نه کم او د نهو (۹) درهمو نه زياته نه وي.
او د احنافو په نزد د فقير تعريف دادې، چه د مادون النصاب مالک وي، يا مالک نصاب خو وي، ليکن هغه مال غير نامي وي، يا نامي هم وي، ليکن هغه مال دهغه د حاجت اصليه يعني مسکن او ملبس وغيره نه زياتې نه وي، او د امام مالک رحمه الله په نزد فقير هغه دې، چه هغه سره کفايت عام(د پوره کال د روزئ بندوبست) نه وي، بلکه دهغې نه کم وي، او مسکين د دې دواړو(احناف او مالکيه) په نزد هغه دې، من لا شيء له اصلا.
ددې تفصيل نه دا هم معلومه شوه، چه د جمهور علماؤ په نزد د غنی مدار په نصاب نه دې، بلکه په کفايت او عدم کفايت باندې دې، او دا هم معلومه شوه، چه د شافعيه او حنابله په نزد فقير ادنى حالا من المسکين دې، او د احناف او مالکيه په نزد ددې برعکس دې، فتدبر و تشکر لعلک لا تجد هذا التفصيل والتحقيق بهذا النهج فی غير هذا الشرح.

[۱۶۲۶] (۱) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ آدَمَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ حَكِيمِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ سَأَلَ وَلَهُ مَا يُغْنِيهِ جَاءَتْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ خُمُوشٌ أَوْ خُدُوشٌ أَوْ كُدُوحٌ فِي وَجْهِهِ"، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، وَمَا الْغِنَى؟ قَالَ: "خَمْسُونَ دِرْهَمًا أَوْ قِيمَتُهَا مِنَ الذَّهَبِ". قَالَ يَحْيَى: فَقَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُثْمَانَ لِسُفْيَانَ حِفْظِي: أَنَّ شُعْبَةَ لَا يَرْوِي عَنْ حَكِيمِ بْنِ جُبَيْرٍ، فَقَالَ سُفْيَانُ: حَدَّثَنَاهُ زُبَيْدٌ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ يَزِيدَ.

دَ حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه بيان دې - رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائيل : کوم کس چه اوغواړي، حالانکه دَ هغه سره بقدر کفايت موجود وي، نو دَ قيامت په ورځ باندې به هغه راشي او دَ هغه مخ به زخمی وي يا په هغې باندې به خراشې وي - اووئيلې شو اې دَ الله رسوله اد غنی کيدو مقدار څهٔ دې؟ حضور صلی الله علیه وسلم اوفرمائيل :" پنځوس درهمه يا ددې قيمت سرهٔ زر -" يحيیٰ اووې چه عبد الله بن عثمان سفيان ته اووې : ما ته خو داسې ياد دی چه شعبه دَ حکيم بن جبير نه روايت نهٔ کوی، نو سفيان جواب ورکړو چه مونږ ته دا روايت زبيد دَ محمد بن عبد الرحمن بن يزيد نه بيان کړو -"

تشريح: قوله: من سال وله ما يغنيه جاءت يوم القيمة خموش او خدوش او کدوح فی وجهه فقيل يا رسول الله(صلی الله عليه وسلم) وما الغنی قال خمسون درهما او قيمتها من الذهب، دا ددې باب اول حديث دې، اوسه پورې په ترجمة الباب کښې خبره شروع وه.

شرح حديث :

د جاءت ضمير مؤنث مسئلې طرف ته راجع دې، چه د سال نه مفهوم کيږی، تقدير د عبارت داسې دې، جاءت المسئلة يوم القيمة وهی خموش او خدوش، يعنی کوم سړی چه بغير د حاجت نه سوال اوکړی ، نو دهغه دا سوال به د قيامت په ورځ په دې حال کښې ظاهر شی، چه د هغه په مخ به داغونه وي، يعنی دهغه دا سوال کول به د قيامت په ورځ دهغه د مخ د داغونو او

(۱): سنن الترمذي/الزکاة ۲۲(۶۵۰)، سنن النسائي/الزکاة ۸۷(۲۵۹۳)، سنن ابن ماجه/الزکاة ۲۶(۱۸۴۰)،(تحفة الأشراف: ۹۳۸۷)، وقد أخرجه: مسند احمد(۱/۳۸۸، ۴۴۱)، سنن الدارمي/الزکاة ۱۵(۱۶۸۰)(صحيح)

عیبونو سبب وی، یعنی دهغهٔ د رسوایئ او ذلت سبب به وی، او د نسائي په روایت کښې دی، جاءت خموشا او کدوحا فی وجهه، خموش او کدوح د حال کیدو په وجه منصوب دی، او د ابوداؤد په روایت کښې خموش او خدوش د مبتداء محذوف دپاره خبر دی، او دا جمله اسمیه حال واقع شوې دې.

په خموش، خدوش او کدوح دریو واړو کښې حرف اول مضموم دې، دا ټول الفاظ متقارب المعنی دی، دې ته په پښتو کښې شوکول، ګرول، او رژول وائی، دا درې واړه مصدر هم کیدې شی، او جمع هم، خموش د خمش جمع او کدوح د کدح جمع، وئیلې شی، خمشت المرءة وجهها، هرکله چه هغه خپل مخ په نوکونو باندې اوشوکوی، او زخمی ئې کړی، دلته کښې لفظ او یا د راوی شک دې، چه راوی ته په ښه طریقې سره یاد نه دی، چه د استاذ نې کوم لفظ اوریدلې دې، او دا هم ممکن ده، چه دا خپله د متکلم(نبیﷺ کریم) په کلام کښې وی، په دې صورت کښې به دا "او" د تقسیم او تنویع دپاره وی، او په دې صورت کښې به دې دریو واړو لره مختلف المرتبه تسلیمولې شی، د مراتب سائلین د اختلاف په اعتبار سره، ځکه چه بعضې په دوی کښې مقل وی،(یعنی کله کله سوال کوی) او بعضې مکثر او بعضې مفرط(یعنی ډیر زیات سوال کوی) دغه شان خمش ابلغ دې، د خدش نه، او خدش ابلغ دې د کدح نه، ځکه چه خمش خاص په مخ باندې وی، او خدش په مطلق څرمن کښې دننه، اوکدح فوق الجلد(د څرمنې دپاسه) په خلاف د خدش نه چه هغه د څرمنې دننه پورې وی، او بعضو په دې دریو واړو کښې فرق بل شان لیکلې دې، هغه داچه الخمش بالظفر(په نوکونو سره شوکول) والخدش بالعود(په څه لرګی سره شوکول) والکدح بالسن(غاښونو سره شوکول).

قال یحیی فقال عبدالله بن عثمان لسفیان حفظی ان شعبة لا یروی عن حکیم بن جبیر : دا حدیث سفیان د حکیم بن جبیر نه روایت کړې دې، نو په دې باندې عبدالله بن عثمان چه د شعبه شاګرد دې، سفیان ته اوئیل، چه ترکومې پورې ماته یاد دی، هغه دادی، چه زما استاذ شعبه د حکیم بن جبیر نه روایت نه اخلی،(دهغه د ضعف د وجې نه) لهذا بهتره دا وه ، چه تاسو هم دا روایت د بل راوی نه روایت کولې،) نو ددې په جواب کښې سفیان اوفرمائیل :

فقد حدثناه زبید عن محمد بن عبدالرحمن یعنی دا حدیث ماته د حکیم بن جبیر نه علاوه د زبید نه هم رارسیدلې دې،(لهذا ستا مقصد پوره شو، ځکه چه زبید ثقه دې) دا زبید ، زبید بن الحارث دې،(کما فی المنهل) او دا د صحاح سته راوی دې، وفی التقریب ثقة، ثبت، عابد، والحدیث اخرجه ایضا احمد و النسائی والترمذی وابن ماجه والدارمی والطحاوی والدار قطنی(منهل)

[۱۶۲۷]( ) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ رَجُلٍ مِنْ بَنِي أَسَدٍ أَنَّهُ قَالَ: نَزَلْتُ أَنَا وَأَهْلِي بِبَقِيعِ الْغَرْقَدِ، فَقَالَ لِي أَهْلِي: اذْهَبْ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَلْهُ لَنَا شَيْئًا نَأْكُلُهُ فَجَعَلُوا يَذْكُرُونَ مِنْ حَاجَتِهِمْ، فَذَهَبْتُ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَوَجَدْتُ عِنْدَهُ رَجُلًا يَسْأَلُهُ

[1]: سنن النسائی/الزکاة ۹۰(۲۵۹۷)،(تحفة الأشراف :۱۵۶۴۰)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الصدقة ۱(۳)، مسند احمد(۴/۳۶/۵، ۴۳۰/۵)(صحیح)

وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "لَا أَجِدُ مَا أُعْطِيكَ"، فَتَوَلَّى الرَّجُلُ عَنْهُ وَهُوَ مُغْضَبٌ، وَهُوَ يَقُولُ: لَعَمْرِي إِنَّكَ لَتُعْطِي مَنْ شِئْتَ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَغْضَبُ عَلَيَّ أَنْ لَا أَجِدَ مَا أُعْطِيهِ، مَنْ سَأَلَ مِنْكُمْ وَلَهُ أُوقِيَّةٌ أَوْ عِدْلُهَا فَقَدْ سَأَلَ إِلْحَافًا"، قَالَ الْأَسَدِيُّ: فَقُلْتُ لَلِقْحَةٌ لَنَا خَيْرٌ مِنْ أُوقِيَّةٍ وَالْأُوقِيَّةُ أَرْبَعُونَ دِرْهَمًا، قَالَ: فَرَجَعْتُ وَلَمْ أَسْأَلْهُ، فَقَدِمَ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ ذَلِكَ شَعِيرٌ وَزَبِيبٌ فَقَسَمَ لَنَا مِنْهُ، أَوْ كَمَا قَالَ: حَتَّى أَغْنَانَا اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ. قَالَ أَبُو دَاوُد: هَكَذَا رَوَاهُ الثَّوْرِيُّ كَمَا قَالَ مَالِكٌ.

د بنو اسد د یو کس نه روایت دې، هغه وائي: ما او زما کور والو د بقیع الغرقد (د مدینې موجوده قبرستان) سره پړاؤ اوکړو، نو زما کور والو ماته اووې چه رسول الله ﷺ ته لاړ شه او دَ هغوی ﷺ نه څۀ اوغواړه راوړه چه هغې لره مونږ اوخورو، چنانچه زۀ دَ رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شوم ما دَ هغه سره یو کس لره بیا موندۀ چه هغه دَ رسول الله ﷺ نه څۀ غوښتل او حضور ﷺ فرمائیل: زۀ څۀ داسې څیز نۀ مومم چه تاته ئې درکړم - بیا هغه کس شا کړه او روان شو او هغه ناراض وو او وئیل ئې: قسم دې زما دَ عمر! تاسو چه چاته غواړئ نو ورکوئ نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل: دې ددې وجې نه په ما باندې غصه دې چه زما سره هیڅ نشته دې چۀ زۀ ئې دۀ ته ورکړم؟ په تاسو کښې چې کله څوک سوال کوی، حالانکه دَ هغه سره څلویښت درهمه یا دَ هغې مساوی څۀ وی نو دۀ بې ځایه سوال کړې دې. دغه اسدی کس بیان کوی: ما اووې زما اوښه خو دَ یو اوقیې نه ډیره بهتره ده ... او یو اوقیه دَ څلویښتو درهمو وی ... هغه وائي: چنانچه زۀ واپس راغلم او دَ هغوی ﷺ نه مې څۀ اونۀ غوښتل - ددې نه پس رسول الله ﷺ ته اور بشې او اوڅکې راغلې نو رسول الله ﷺ په هغې کښې مونږ ته هم راکړې ... یا ئې داسې اووې ... تردې پورې چه الله تعالیٰ مونږ لره غني کړو -" امام ابوداود رحمه الله اوفرمائیل: ثوری هم داسې روایت کړې دې لکه څنګه چه مالک وئیلی وی -

عن عطاء بن يسار عن رجل من بني اسد الخ فقال رسول الله(صلى الله عليه وسلم) تغضب على ان لا اجد ما اعطيه، ما نه ناراضه کیږی، ځکه چه ماسره هیڅ څیز هغه ته د ورکولو دپاره نشته، (هرکله چه دا خبره ده، نو بیا دا غصه بالکل غلطه او بې محله ده)

من سال منكم وله اوقية او عدلها فقد سال الحافا، کوم سړې چه سوال کوی، او دهغه سره څلویښت درهمه یا دهغې برابر په قیمت کښې څه بل څیز وی، نو دغې سړی په سوال کښې مبالغه او بې ځایه اصرار اوکړو، **فقلت للقحة لنا خير من اوقية:** په للقحة کښې لام اول لام ابتداء دې، چه مفتوح دې، او لام ثانی مکسور او مفتوح، په دواړو طریقو سره دې، لقحه وئیلې شی، پئې ورکونکې اوښې ته، دا صحابی د نبی کریم ﷺ خدمت ته د خپل حاجت د وجې نه د سوال کولو په نیت تلې وو، هلته کښې تللو نه پس چه کله هغه نبی کریم ﷺ نه دا واوریدل، چه کوم سړې په دې حال کښې سوال اوکړی، چه هغه سره یو اوقیه چاندی وی، نو دهغه دا سوال کول ناجائز دی، نو بیا ئې دا سوچ کولو چه ماسره کومه اوښه ده، هغه خو د څلویښتو درهمو نه زیاته ده، لهذا دا صاحب دهغه ځائې نه بغیرد سوال کولونه واپس راغلو، والحديث اخرجه ايضا النسائي والطحاوی(منهل)

[۱۶۲۸](۱) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، وَهِشَامُ بْنُ عَمَّارٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ أَبِي الرِّجَالِ، عَنْ عُمَارَةَ بْنِ غَزِيَّةَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، عَنْ أَبِيهِ أَبِي سَعِيدٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ سَأَلَ وَلَهُ قِيمَةُ أُوقِيَّةٍ فَقَدْ أَلْحَفَ"، فَقُلْتُ: نَاقَتِي الْيَاقُوتَةُ هِيَ خَيْرٌ مِنْ أُوقِيَّةٍ، قَالَ هِشَامٌ: خَيْرٌ مِنْ أَرْبَعِينَ دِرْهَمًا فَرَجَعْتُ فَلَمْ أَسْأَلْهُ شَيْئًا، زَادَ هِشَامٌ فِي حَدِيثِهِ: وَكَانَتِ الْأُوقِيَّةُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرْبَعِينَ دِرْهَمًا.

حضرت ابو سعید خدری رضی الله عنه بیان کوی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل: کوم کس چه اوغواړي، حالانکه دَ هغه سره (دَ څلویښتو درهمو) مساوی موجود وی نو دَ هغه سوال الحاف دي - " (بې ځایه اصرار دي) ما اووې زما یاقوته اوښه دَ یو اوقیې نه ډیره بهتره ده - دَ هشام په روایت کښې دی: دَ څلویښتو درهمو نه ډیره بهتره ده - چنانچه زهٔ واپس راغلم او دَ حضور ﷺ نه مې څهٔ سوال اونهٔ کړو - دَ هشام په روایت کښې اضافه ده چه دَ رسول الله ﷺ په دور کښې یوه اوقیه دَ څلویښتو درهمو وه -

تشریح: قوله: فقلت ناقتي الياقوتة هي خير من اوقية ياقوته دهغې اوښې نوم دې، ددې نه معلومه شوه چه تسمية الدواب جائز دې، لکه د نبی کریم ﷺ نه هم دا تسمیه ثابته ده، والحديث اخرجه ايضا احمد والنسائي والدارقطني وكذا الطحاوي مختصرا (منهل)

[۱۶۲۹](۲) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا مِسْكِينٌ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُهَاجِرِ، عَنْ رَبِيعَةَ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ أَبِي كَبْشَةَ السَّلُولِيِّ، حَدَّثَنَا سَهْلُ ابْنُ الْحَنْظَلِيَّةِ، قَالَ: قَدِمَ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عُيَيْنَةُ بْنُ حِصْنٍ وَالْأَقْرَعُ بْنُ حَابِسٍ فَسَأَلَاهُ، فَأَمَرَ لَهُمَا بِمَا سَأَلَا، وَأَمَرَ مُعَاوِيَةَ فَكَتَبَ لَهُمَا بِمَا سَأَلَا، فَأَمَّا الْأَقْرَعُ فَأَخَذَ كِتَابَهُ فَلَفَّهُ فِي عِمَامَتِهِ وَانْطَلَقَ، وَأَمَّا عُيَيْنَةُ فَأَخَذَ كِتَابَهُ وَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَكَانَهُ، فَقَالَ: يَا مُحَمَّدُ، أَتُرَانِي حَامِلًا إِلَى قَوْمِي كِتَابًا لَا أَدْرِي مَا فِيهِ كَصَحِيفَةِ الْمُتَلَمِّسِ؟ فَأَخْبَرَ مُعَاوِيَةُ بِقَوْلِهِ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ سَأَلَ وَعِنْدَهُ مَا يُغْنِيهِ فَإِنَّمَا يَسْتَكْثِرُ مِنَ النَّارِ"، وَقَالَ النُّفَيْلِيُّ فِي مَوْضِعٍ آخَرَ: مِنْ جَمْرِ جَهَنَّمَ، فَقَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، وَمَا يُغْنِيهِ؟ وَقَالَ النُّفَيْلِيُّ فِي مَوْضِعٍ آخَرَ: وَمَا الْغِنَى الَّذِي لَا تَنْبَغِي مَعَهُ الْمَسْأَلَةُ، قَالَ: "قَدْرُ مَا يُغَدِّيهِ وَيُعَشِّيهِ"، وَقَالَ النُّفَيْلِيُّ فِي مَوْضِعٍ آخَرَ: "أَنْ يَكُونَ لَهُ شِبْعُ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ أَوْ لَيْلَةٍ وَيَوْمٍ"، وَكَانَ حَدَّثَنَا بِهِ مُخْتَصَرًا عَلَى هَذِهِ الْأَلْفَاظِ الَّتِي ذَكَرْتُ.

حضرت سهل بن حنظله رضی الله عنه بیان کوی چه عیینه بن حصن او اقرع بن حابس رضی الله عنه رسول الله ﷺ ته راغلل او دَ هغوی ﷺ نه ئې سوال اوکړو نو کوم څهٔ چه هغوی اوغوښتل، نو حضور ﷺ دَ هغې دَ ورکړې دوی ته حکم اوکړو او حضرت معاویه رضی الله عنه ته ئې اوفرمائیل: چه دوی ته ددې یو تحریر (لیکل) ورکړه نو حضرت معاویه رضی الله عنه دې دواړو ته (کوم چه دوی غوښتلي وو) اولیکل - چنانچه اقرع دا خط واخستو، په خپله پګړئ کښې ئې راتاؤ کړو او لاړو - مګر حضرت عیینه هغه خط واخستو او نبی کریم ﷺ ته راغې کوم ځائې کښې چه هغوی ﷺ تشریف فرما وو اووې وئیل: اې محمد! ستاسو څهٔ خیال دې چه د صحیفهٔ متلمس په شان زهٔ دا خط واخلم او خپل قوم ته لاړ شم، معلومه نهٔ ده چه په دې کښې څهٔ دی؟ نو حضرت معاویه رضی الله عنه دَ هغه دَ تلمیح وضاحت دَ رسول الله ﷺ په وړاندې پیش کړو - بیا

(۱): سنن النسائي/الزكاة ٨٩(٢٥٩٦)، (تحفة الأشراف: ٤١٢١)، وقد أخرجه: مسند احمد(٩/٣)(حسن)
(۲): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٤٦٥٢)، وقد أخرجه: مسند احمد(١٨٠/٤، ١٨١)(صحيح)

رسول الله ﷺ اوفرمائيل :" کوم کس چه غواړي(سوال کوي) او حالانکه په قدر دَ کفايت هغه سره موجود وي نو هغه دَ ځان دَ پاره دَ اور اضافه کوي -" نفيلي په دې ځائې کښې وئيلي دي :" دَ جهنم انګار زياته وي -" خلقو اووې هغه کوم(مقدار) دې چه هغه دَ انسان دَ پاره کافي کيږي(او دَ سوال نه ئې غني کوي؟) په دويم ځائې کښې دَ نفيلي الفاظ داسې وو - دَ غنا هغه حد څۀ دې چه دَ هغې په موجود کيدو سره سوال کول لائق نۀ دي؟ حضور ﷺ اوفرمائيل دَ چا سره چه دَ ورځې او دَ شپې خوراک موجود وي -" دَ نفيلي الفاظ په دويم ځائې کښې داسې وو : دَ چا سره چه دَ ورځې او دَ شپې دَ پاره دَ ډکې خيټې خوراک موجود وي -(امام ابوداود رحمه الله فرمائي) : نفيلي مونږ ته دې حديث لره په مختصر انداز کښې داسې بيان کړې وو کوم چه ذکر کړې شو -

تشريح: قوله: عن ابی کبشة السلولی نا سهل بن الحنظلية قال قدم علی رسول الله(صلی الله عليه وسلم) عيينة بن حصن والاقرع بن حابس رضی الله عنه الخ

شرح حديث :

عيينة بن حصن د مؤلفة القلوب نه وو، دهغه معامله ګړ بړ وه، د فتح مکې نه پس ئې ايمان راوړلې وو، بيا د صديق اکبر رضی الله عنه په عهد کښې مرتد شوې وو، د طليحه اسدی نه ئې بيعت کړې وو، بيا ئې دوباره اسلام راوړلې وو، په يو موقع نبی کريم ﷺ هغه ته الاحمق المطاع([1]) فرمائيلې وو، او اقرع بن حابس رضی الله عنه هم اګر چه په شروع کښې د مولفة القلوب نه وو، ليکن د اسلام نه مخکښې هم او روستو هم د عزت مند خلقو نه وو، او په اخلاص سره اسلام کښې داخل شوې وو، دا دواړه د نبی کريم ﷺ په خدمت کښې د څه سوال کولو دپاره او څه غوختلو دپاره حاضر شوې وو، نبی کريم ﷺ خپل کاتب حضرت معاويه رضی الله عنه ته اوفرمائيل : چه ددوی دپاره د فلانې فلانې عامل په نوم زما د طرف ته پرچه اوليکه، چه ده ته دومره ورکړه او ده ته دومره ورکړه، حضرت معاويه رضی الله عنه دا پرچه اوليکله اوهغوی ته ئې حواله کړه، اقرع خو دغه پرچه په خپل پټکی کښې کيخوده او عيينه بن حصن ته په دې تحرير (پرچه) باندې اعتماد نه وو، هغه دا تحرير د معاويه رضی الله عنه نه واخستلو او د نبی کريم ﷺ په خدمت کښې حاضر شو، او وې وئيل،(ځکه چه دغه وخت کښې پوره په اسلام کښې داخل شوې نه وو) **فقال يا محمد اترانی حاملا الی قومی کتابا لا ادری مافيه کصحيفة المتلمس،** آيا ستا دا خيال دې، چه زۀ خپل قوم ته داسې ليکل يوسم، چه دهغې باره کښې ماته صحيح معلومه نه ده، چه په کښې څه ليکلې دي، د صحيفة متلمس پشان، **فاخبر معاوية بقوله رسول الله(صلی الله عليه وسلم)** پس معاويه رضی الله عنه رسول الله ﷺ ته د عيينه د کلام خبر ورکړو، يعنی مطلب ئې ورته بيان کړو، نبی کريم ﷺ د صحيفة متلمس په مطلب باندې پوهه شوې نه وو، حضرت معاويه رضی الله عنه پوهه شوې وو، ددې وجې نه معاويه رضی الله عنه دهغې تشريح نبی کريم ﷺ ته بيان کړه.

[1]) د خپل قوم بې وقوف سردار)

د صحیفه متلمس شرح :

متلمس شاعر جاهلي، د شعراء جاهلیه نه یو شاعر دې، دهغه نوم جریر وو، قصه دهغه داده، چه یو ځل جریر او طرفة بن العبد دواړو د خپلې زمانې د بادشاه عمروبن هند شاعرانه مدح اوکړه،(انعام اخستلو دپاره) بادشاه دواړو ته خان خانله یوه یوه پرچه ورکړه، چه د یو عامل په نوم وه، او دا ئې ظاهره کړه، چه ما په دې کښې د انعام ورکولو باره کښې لیکلې دی، حالانکه په هغې کښې دا وو، چه کله دا دواړه تاته راشی، نو سمدستی دوی لره قتل کړه، طرفه خو هغه پرچه اخستلو سره نیغ عامل ته لاړو، او هلته کښې اوؤژلې شو، لیکن متلمس پوهه شو، هغه دا پرچه اوکتله، نو په دې کښې د قتل حکم وو، هغه داپرچه اوغورځوله، او د قتل نه بچ شو، دا ده، دهغه صحیفه متلمس واقعه، چه دې طرف ته عیینه بن حصن اشاره اوکړه، فقالوا یا رسول الله(صلی الله علیه وسلم) و ما یغنیه قال قدر ما یغدیه و یعشیه د سحر او ماښام خوراک یعنی د یوې وَرځې گزاره، چه د چا سره وی. دې حدیث لره احنافو په سوال باندې محمول کړې دې، لکه چه خپله دلته په دې روایت کښې تصریح ده، یعنی د داسې سړې دپاره سوال جائز نه دې، او اخذ زکوة دهغه دپارهِ جائز دې، او بعضې عالمانو دې لره عام گرزولې دې، او اخذ زکوة په دواړو کښې په دې باندې محمول کړې دې، چه مراد دادی، چه کوم سړی ته علی الدوام غداء او عشاء حاصل وی، یعنی مستقل د سحر او ماښام د روزئ بندوبست وی، لهذا د جمهورو په نزد کوم سړی ته چه د ټول کال دپاره کفایت حاصل وی، هغه دپاره نه سوال جائز دې، او نه اخذ زکوة، ددې تفصیل د باب په شروع کښې تیر شوې دې، والحدیث اخرجه ایضا الطحاوی مختصرا واخرجه احمد مطولا (منهل) ([1])

[۱۶۳۰]([2]) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ يَعْنِي ابْنَ عُمَرَ بْنِ غَانِمٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ زِيَادٍ، أَنَّهُ سَمِعَ زِيَادَ بْنَ نُعَيْمٍ الْحَضْرَمِيَّ، أَنَّهُ سَمِعَ زِيَادَ بْنَ الْحَارِثِ الصُّدَائِيَّ، قَالَ: أَتَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَبَايَعْتُهُ، فَذَكَرَ حَدِيثًا طَوِيلًا، قَالَ: فَأَتَاهُ رَجُلٌ، فَقَالَ: أَعْطِنِي مِنَ الصَّدَقَةِ، فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ اللَّهَ تَعَالَى لَمْ يَرْضَ بِحُكْمِ نَبِيٍّ وَلَا غَيْرِهِ فِي الصَّدَقَاتِ حَتَّى حَكَمَ فِيهَا هُوَ فَجَزَّأَهَا ثَمَانِيَةَ أَجْزَاءٍ فَإِنْ كُنْتَ مِنْ تِلْكَ الْأَجْزَاءِ أَعْطَيْتُكَ حَقَّكَ".

د حضرت زیاد بن حارث صدائی بیان دې چه زهٔ د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شوم او دَ هغوی ﷺ سره مې بیعت اوکړو ... او یو طویل حدیث ئې بیان کړو ... اووې فرمائیل: بیا یو کس دَ نبی کریم ﷺ په خدمت کښې حاضر شو اووې وئیل: ما ته په صدقه کښې څهٔ راکړئ نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل: الله تعالیٰ دَ صدقاتو د تقسیم مسئله دَ نبی یا دَ چا بل چا په خوښه باندې نهٔ ده پریخودې بلکې ددې په باره کښې ئې خپله فیصله فرمائیلې ده - او دې لره ئې په اتهٔ قسمه خلقو کښې تقسیم فرمائیلې ده - کهٔ چرې ته دَ

---

[1]) دا حدیث واقعی ډیر اوږد دې او قابل د مطالعې دې، دې لره حضرت په بذل المجهود کښې د نورو کتابونو نه نقل کړې دی. فارجع الیه لوشئت.

[2]): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۳۶۵٤) (ضعیف)

هغوی نه ئې نو زۀ تاته ستا حق درکووم -"

عن زياد بن الحارث الصدائي قال اتيت رسول الله(صلى الله عليه وسلم) فبايعته و ذكر حديثا طويلا فاتاه رجل فقال اعطني من الصدقة فقال له رسول الله(صلى الله عليه وسلم) ان الله لم يرض بحكم نبي و لا غيره في الصدقات حتى حكم فيها هو فجزاها ثمانية اجزاء فان كنت من تلك الاجزاء اعطيتك حقك، يعنی الله تعالی د صدقاتو او زکوة معامله د يو نبی يا غير نبی په فيصلې يا اجتهاد پرېخودلې نه ده، بلکه دهغې فيصله الله تعالی په خپله فرمائيلې ده، او مستحقين زکوة ئې په اته قسمه خلقو کښې منحصر فرمائيلې دې، که تۀ په هغوی کښې وې نو زۀ به تاته هم ستا حصه درکړم.

په دې حديث کښې مجملا د مصارف زکوة ذکر راغلو، ددې تفصيل په قرآن مجيد کښې موجود دې، انما الصدقات للفقراء والمساكين والعاملين عليها والمؤلفة قلوبهم وفي الرقاب والغارمين و في سبيل الله وابن السبيل.

د زکوة د مصارف ثمانيه بيان مع مذاهب ائمه:

دلته کښې ضرورت ددې خبرې دې، چه په دې مصارف ثمانيه کښې د هر يو بيان او دهغې تعريف عند الفقهاء اوکړې شی، دويمه خبره داده، چه دا مصارف ثمانيه اوس هم ټول باقی دی، يا په دې کښې د څه مصرف نسخ هم شوې ده، دريمه خبره داده، چه ددې مصارف ثمانيه استيعاب او تعميم ضروری دې او که نه؟

بحث اول :(د مصارف ثمانيه مصاديق)

(۱، ۲) د فقير او مسکين هر يو تعريف مع اختلاف ائمه اوس نزدې تير شوې دی.

(۳) عاملين هغه خلق دی، چه هغوی لره د امام المسلمين د طرف نه د زکوة او صدقاتو د وصولولو دپاره مقرر کړې شوې وی، هغه ته د زکوة دمال نه ورکولې شی، (۱) ليکن هغه ته چه څه ورکولې شی، هغه د زکوة کيدو په حيثيت سره نه، بلکه د حق الخدمت او معاوضۀ عمل په طور باندې ورکولې شی، ددې وجې نه عامل ته په هر حال کښې ورکولې شی، (۲)

---

(۱) په دې کښې اختلاف دې، چه عامل ته به څومره مقدار زکوة ورکولې شی، د احنافو په نزد بقدر کفايت، ليکن که مال زکوة صرف دومره دې، چه که عامل ته بقدر کفايت ورکړې شی، نو ټول زکوة په دې کښې خرچ کيږی، نو په دې صورت کښې به هغه ته صرف نيم ورکولې شی، ددې نه زيات نه، او د امام مالک رحمه الله مسلک دادې، چه بقدر اجرة عمل به ورته ورکولې شی، اګر که ټول زکوة په هغې کښې لار شی، او د امام شافعی رحمه الله مسلک ډيرو علماؤ دا ليکلې دې، چه دهغه په نزد چونکه تسويه بين الاصناف الثمانيه واجب دې، ددې وجې نه عامل ته به صرف ثمن(اتمه حصه) ورکولې شی، ليکن دا صحيح نه ده، بلکه دهغوی مسلک دادې، کما في کتبهم چه اګر چه دهغوی په نزد تسويه ضروری ده، ليکن عامل ددې نه مستثنی دې، هغه ته به بقدر اجرة عمل ورکولې شی، او د امام احمد بن حنبل رحمه الله په نزد ټولو ته به د حاجت مطابق ورکولې شی، او عامل ته د هغه د عمل مطابق(من الاوجز)

(۲) وفي حاشيه شرح الاقناع (ص۲۹۷ ج ۲)ولوكان غنيا ومن شرائط الاسلام وان لا يكون هاشميا ولا مطلبيا ولامولى لهما وفي الانوار الساطعه (ص۲۲٦)في مذهب المالكيه و يعطي العامل من الزكوة ولو غنيا بشرط ان يكون مسلما حرا غير هاشمي عدلا عالما باحكام الزكوة ۱هـ وفي نيل المارب في فقه الحنابلة و شرط كون العامل عليهامكلفا مسلما ......

که هغه غني وي او که فقير، په ټولو مصارفو د زکوة کښې صرف دا مصرف داسې دې، چه دۀ ته زکوة د معاوضۀ خدمت په طور باندې ورکولې شي، ګني زکوة خو وثيلې شي، هغې عطيئ ته، چه غريبانو ته بغير د څه خدمت د معاوضې نه ورکړې شي، ددې وجې نه دلته کښې دا اشکال پيدا کيږي، چه بيا داسې ورکولو سره زکوة څرنګه ادا کيږي؟ جواب دادې، چه عاملين د فقيرانو د طرف نه حکما وکيلان دی، او د وکيل قبضه د مؤکل قبضه وی، نو داسې ګڼړل پکار دی، چه د زکوة دا رقم فقيرانو ته رسيدلو نه پس دهغوی د طرف نه د عاملينو د خدمت عوض دې، او فقيرته په خپل مال زکوة کښې د تصرف کولو اختيار شته، چه چاته غواړی ورکولې شي،(معارف القرآن للمفتي محمد شفيع) او علامه زيلعي د کنز په شرح کښې ليکلې دی، چه څه عامل ته ورکولې شي، هغه من وجه دهغه د عمل اجرت دې، ددې وجې نه هغه ته د زکوة نه ورکول جائز دی، باوجود دهغه د غنی کيدو نه، او من وجه صدقه ده، من وجه ځکه چه عامل هاشمی ته ورکول جائز نه دی.

(۴) مؤلفة القلوب، ددې په مصداق کښې کافران هم داخل دی، او مسلمانان هم، شيخ ابن الهمام ددې درې قسمونه ليکلې دی،(۱) هغه کافران چه هغوی ته نبی کريم ﷺ ددې وجې نه زکوة ورکولو چه مونړ ته نزدې شی، او مسلمانان شی(۲) هغه کافر چه هغه ته زکوة ددې وجې نه ورکولې شی، چه دهغه د شر نه محفوظ شی،(۳) هغه مسلمان چه دهغه په اسلام کښې ضعف وو، دې دپاره چه دهغه په ايمان کښې پوخ والې راشي.

(د مؤلفة القلوب حصه ولې ساقط شوه؟)

د مؤلفة القلوب مصرف زکوة کيدل اوس هم باقی دې، يا دهغوی حصه ساقطه شوې ده؟ د امامانو په مينځ کښې دا مسئله اختلافی ده، د احنافو په نزد دهغوی حصه مطلقا ساقطه شوې ده، د صديق اکبر په زمانه کښې په اتفاق د صحابه کرامو سره، ځکه چه د کوم ضرورت او مصلحت د وجې نه هغوی ته ورکولې شو، هغه د نبی کريم ﷺ نه پس باقی پاتې نه شو، الله تعالی اسلام ته غلبه او شوکت ورکړو، او د تاليف حاجت باقې پاتې نشو، او دا د انتفاء الحکم لارتفاع العلة د قبيلې نه دې، لهذا دا اشکال کول صحيح نه دی، چه د نبی کريم ﷺ نه پس په دې حکم شرعی کښې نسخ څرنګه واقع شوه؟ د مالکيه مشهور مسلک(کما في الشرح الکبير) دادې، چه مؤلفة القلوب که کافران دی، نو دهغوی حصه ساقطه شوې ده، لغلبة الاسلام او که مسلمانان دی، نو باقی ده، او صاحب منهل د مالکيه په

له ...امينا کافيا من غير ذوي القربي و يعطي قدر اجرته منها و لو غنيا ا هـ وقال الموفق (ص ٦٥٤ ج ٢)يجوز للعامل ان ياخذ عمالته من الزکوة سواء کان حرا او عبدا و ظاهر کلام الخرقي انه يجوز ان يکون کافرا و هذه احدي الروايتين عن احمد والرواية الاخري لا يجوز ان يکون العامل کافرا و يجوز ان يکون غنيا و ذا قرابة لرب المال ا هـ وفي الزيلعي (ص ٢٩٧ ج ١) ففي الکنز و لا تحل للعامل الهاشمي تنزيها لقرابة النبي (صلي الله عليه وسلم) عن شبهة الوسخ و تحل للغني لانه لا يوازي الهاشمي في استحقاق الکرامة ا هـ . وفي الجوهرة النيره (ص ١٥٧ ج ١)فان جعل الهاشمي عاملا واعطي من غير الزکوة فلا باس به ثم الذي ياخذه العامل اجرة من وجه حتي يجوز له مع الغني و صدقة من وجه حتي لا يجوز للعامل الهاشمي تنزيها له عنها ا هـ . وفي الکنز الزکوة تمليک المال من فقير مسلم غير هاشمي و لا مولاه قال الزيلعي (ص ٢٥٢)احترز به عن الغني والکافر والهاشمي و مولاه لان دفع الزکوة اليهم مع العلم لا يجوز ا هـ)

مسلک کښې لیکلې دی، چه د مؤلف کافر باره کښې خو دوه اقوال دی، قیل یعطی و قیل لا یعطی او مولف مسلم ته دهغوی په نزد بالاتفاق ورکولې شی، دغه شان د شافعیه په نزد د مولفة المسلمین حصه باقی ده، او د مولفة الکفار باره کښې دادی، چه زکوة خو به هغوی ته بالاتفاق نشی ورکولې، او غیر زکوة هم علی الاصح، لیکن د ډیرې مجبورئ په وخت کښې مصلحة غیر زکوة ورکولې شی،(روضة المحتاجین ص۲۸۹) دحنابله په نزد مولفة القلوب مطلقًا که کافران وی او که مسلمانان، مصرف زکوة دی، لیکن بشرط الحاجة، یعنی که د تالیف حاجت وی، ګنی مصرف نه دې، لکه د خلفاء راشدینو په زمانه کښې چونکه د تالیف حاجت نه وو، ددې وجې نه هغې حضراتو دوی ته نه ورکوؤ،اود ورکولو وجه دا نه وه،چه ددوی حصه ساقطه شوې ده،(الروض المربع ص۴۴)

(۵) **الرقاب** : د احنافو په نزد ددې مصداق مکاتبین دی، د زکوة په پیسو د مکاتبینو امداد کول پکار دې، دې دپاره چه هغوی بدل کتابت ادا کړی، او خپل ځانونه د غلامئ نه آزاد کړی، تحریر رقبه یعنی خالص غلامانو لره ازادول په دې کښې داخل نه دی، هم دا مذهب د شافعیه او حنابله دې.([1]) البته د مالکیه په دې کښې اختلاف دې، دهغوی په نزد د وفی الرقاب نه مراد تحریر رقبه دې، یعنی رقیق مومن لره اخستل او آزادول،([2])

او دا هم شرط دی، چه هغه خالص رقیق وی،(کوم ته چه قن وئیلې شی) مدبر یا مکاتب نه وی، د امام مالک رحمه الله مشهور قول دادې، او هم دې طرف ته د امام بخاری رحمه الله میلان دې، او یو روایت د امام مالک رحمه الله نه په دې کښې دا هم دې، چه د مکاتب امداد هم په دې کښې داخل دې، هغه هم په مال زکوة سره ادا کولې شی.

(۶) **والغارمین** : ددې نه مراد هغه مدیون دې، چه هغه سره وفاء د دین نه وی، یا وی لیکن د اداء دین نه پس هیڅ نه پاتې کیږی، او که پاتې کیږی هم، نو هغه په قدر د نصاب نه وی، او دغه شان هغه سړې چه دهغه دین د خلقو په ذمه وی، او هغه دهغوی نه د وصولولو قدرت نه لری،(د غارم اطلاق په مدیون او دائن دواړو باندې کیږی) او د شافعیه او حنابله په نزد ددې په مصداق کښې هغه سړې هم داخل دې چا چه د اصلاح ذات البین دپاره تحمل حماله کړې وی، اګر چه هغه غنی وی،([3]) او د احنافو په نزد د تحمل حماله والا سړې د غنی کیدو په صورت کښې مصرف زکوة نه دې.

---

[1] د حنابله په کتابونو کښې د فی الرقاب په ضمن کښې دا هم لیکلې دی، و یفك الاسیر المسلم چه د زکوة په پیسو مسلمان قیدی هم ازادولې شی.

[2] د جمهورو په نزد په دې سره زکوة نه ادا کیږی، ځکه چه زکوة کښې تملیک ضروری دې، دا رقم کوم سره چه شراء عبد کیږی، ددې تملیک چاته کولې شی؟ عبد ته یا مولی ته، په عبد کښې خو د مالک جوړیدلو صلاحیت نشته، او مولې کیدې شی چه غنی وی، په خلاف د مکاتب نه، چه په هغه کښې د مالک جوړیدلو صلاحیت شته، ځکه اګر چه هغه ته ملک رقبه حاصل نه دې، لیکن ملک ید ورته حاصل دې، مولی هغه ته د ګټلو او مالک جوړیدلو اجازت ورکړې دې،

[3] لیکن ددې دپاره ددوی په نزد څه قیود او تفصیل دې کوم چه دهغوی په کتابونو کښې لیکلې شوې دې، من شاء فلیرجع الیه.

(۷) **فی سبیل الله** : ددې مصداق عند الحنفیه منقطع الغزاة دي، (١) یعنی کوم سړي چه جهاد ته تلل غواړي، لیکن هغه د جهاد سامان نه ملاویدو په وجه د مجاهدینو نه منقطع کیدونکي دي، نو د داسې سړي د زکوة په پیسو سره مدد کولې شي، او د ائمه ثلاثه یعنی شافعیه، مالکیه او حنابله په نزد ددې نه مطلقا غزاة او مجاهدین مراد دی، بغیر د قید د فقر نه، لهذا دا خلق د غنی کیدلو باوجود سامان جهاد وغیره تیاری دپاره د ضرورت مطابق زکوة اخستلې شي، (کما هو مصرح فی کتبهم)

(۸) **ابن السبیل** : ددې نه مراد هغه مسافر دې، چه هغه سره په سفر کښې مال نه وی، اګر چه په خپل وطن کښې ذومال او غنی وی، بیا پوهیدل پکار دی، چه مسافر په دوه قسمه دې، المسافر المنقطع بالسفر، والمسافر المنشئ للسفر، د اول مطلب دادې، چه یو سړې چه د مخکښې نه په سفر کښې دې، او د سفر په مینځ کښې هغه ته د نفقې ختمیدلو په وجه حاجت راپیښ شو، او منشئ للسفر هغه سړې دې، چه انشاء سفر یعنی د سفر ابتداء د خپل وطن نه کوی، او حال دادې، چه هغه سره د سفر خرچه نشته، د احنافو او حنابله په نزد د ابن السبیل په مصداق کښې صرف قسم اول داخل دې، او د شوافعو په نزد په دې کښې دواړه قسمونه داخل دی، کما هو مصرح فی کتبهم، او علامه باجی مالکی د امام مالک رحمه الله مذهب هم دا نقل کړې دې، (کما فی هامش البذل) لهذا که یو سړې د خپل وطن نه سفر کول غواړي، لیکن د سفر خرچه هغه سره نشته، او هسی بقدرکفایت د معاش انتظام دهغه سره شته، نو که دا سړې سفر او نه کړي، نو هغه دپاره د شافعیه په نزد اخذ زکوة جائز نه دې، او سفر دپاره زکوة اخستل جائز دی (٢) الحمد لله د مصارف زکوة تشریح پوره شوه.

بحث ثاني :

د بحث اول په ضمن کښې د مولفة القلوب په بیان کښې تیر شوې دې.

بحث ثالث :

د امام شافعی رحمه الله په نزد زکوة لره په دې اصناف ثمانیه باندې تقسیمول ضروری دې، په شرط ددې چه دا ټول مصارف او اصناف په محل د مال کښې موجود وی، ګنی چه کوم موجود وی په هغو کښې به تقسیمولې شی، دا په هغه صورت کښې دی، چه کله تقسیم د امام المسلمین د طرف نه وی، چه هغه د عمالو په ذریعه زکوة وصول کړې وی، لیکن که

---

(١) د فی سبیل الله تفسیر عند الجمهور مجاهدینو سره کړې شوې دې، بغیر د قید د فقر او احتیاج نه، او د احنافو نه د امام ابویوسف صاحب رائې هم داده، لیکن په قید د حاجت او فقر سره، ددې وجې نه هغوی دې لره په منقطع الغزاة سره تعبیر کړې دې، او د امام محمد رحمه الله په نزد ددې نه منقطع الحاج مراد دې، یعنی هغه سړې چه په هغه باندې حج فرض شوې دې، لیکن فی الحال فقیر دې، داسې سړې ته فرض حج ادا کولو دپاره زکوة ورکولې شی، الروض المربع فی فقه الحنابله کښې هم ددې تصریح ده، چه دفرض حج د ادا کولودپاره غریب سړې ته زکوة ورکولې شی)

(٢) لیکن دهغوی په نزد دا قید دې، چه هغه سفر د څه غرض صحیح دپاره وی، اګر که د تفریح دپاره وی، لهذا د شخص هائم یعنی د چا حالت چه ښه نه وی، او دهغه په سفر کښې څه خاص نیت نه دې، نو دهغه دپاره اخذ زکوة جائز نه دې، دغه شان د جمهورو په نزد هم دا قید دې، چه هغه سفر د څه معصیت دپاره نه وی، بلکه مباح وی)

مالک خپله ادا کړي، بغير د توسط د عامل نه، نو په دې صورت کښې به زکوة د عامل نه علاوه باقي مصارف سبعه کښې تقسيمولې شي، او په هر صنف کښې کم ازکم دريو سړو ته ورکول ضروري دي، سوا د عامل نه، که عامل صرف يو وی، نو ظاهره ده، چه بيا به صرف هم دې يو ته ورکولې شی، (انوار ساطعه ١٤٨)

او د حنابله په نزد تعميم الاصناف واجب نه دی، په صنف واحد باندې هم اکتفاء جائز ده، البته تعميم مستحب دې، (نيل المآرب) او دغه شان د مالکيه په نزد هم تعميم واجب نه دې، بلکه دهغوی په نزد ايثار المضطر علی غيره اولی دې، يعنی چه کوم زيات محتاج وی، هغه ته ورکول اولی دی، الاحوج فالاحوج (انوار ساطعه ٢٢٧)

د احنافو په نزد هم تعميم ضروری نه دې، بلکه تخيير دې، که په ټولو اصنافو کښې ئې تقسيموی، او که بعضو ته ئې ورکوی، او که صرف يو ته ئې ورکوی، و حديث الباب اخرجه ايضا الطحاوی واخرجه الامام احمد من حديث حبان ابن ربح الصدائي صاحب رسول الله (صلی الله عليه وسلم) (منهل)

[١٦٣١] (١) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، وَزُهَيْرُ بْنُ حَرْبٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَيْسَ الْمِسْكِينُ الَّذِي تَرُدُّهُ التَّمْرَةُ وَالتَّمْرَتَانِ وَالْأَكْلَةُ وَالْأَكْلَتَانِ، وَلَكِنِ الْمِسْكِينُ الَّذِي لَا يَسْأَلُ النَّاسَ شَيْئًا وَلَا يَفْطِنُونَ بِهِ فَيُعْطُونَهُ".

د حضرت ابو هريره رضی الله عنه نه مروی دی چه نبی کريم ﷺ اوفرمائيل : مسکين هغه نهٔ دې چه هغه لره يو کجوره يا دوه کجورې واپس کوی بلکې مسکين هغه دې چه هغه دَ خلقو نه سوال نهٔ کوی او نهٔ خلقو ته دهٔ په باره کښې اندازه وی چه دهٔ ته ورکړی -

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَيْسَ الْمِسْكِينُ الَّذِي تَرُدُّهُ التَّمْرَةُ وَالتَّمْرَتَانِ وَالْأَكْلَةُ وَالْأَكْلَتَانِ وَلَكِنَّ الْمِسْكِينَ الَّذِي لَا يَسْأَلُ النَّاسَ شَيْئًا وَلَا يَفْطِنُونَ (٢) بِهِ فَيُعْطُونَهُ".

يعنی مسکين هغه سړې نه دې، چه يوه يا دوه کجهورې يا يوه يا دوه نمړئ پسې په کوڅو کښې ګرځی، بلکه په حقيقت کښې مسکين يعنی کامل مسکين هغه سړې دې، چه د خلقو نه نه سوال کوی، او نه خلق هغه لره محتاج او فقير ګنړی، چه هغه ته څه ورکړی، يعنی دهغه د سوال نه کولو په وجه خلق هغه لره حاجت مند نه ګنړی، او هم ددې وجې نه څه ورکوی هم نه، په دې حديث سره تيره شوې اختلافی مسئله (چه د احنافو او امام مالک رحمه الله په نزد مسکين هغه سړې دې، من لا شیء له،) تائيد کيږی، استدل ايضا بقوله تعالی او مسکينا ذا متربة، ای لاصق بالتراب من الجوع والعری واما قوله تعالی اما السفينة فکانت لمساکين يعملون فی البحر فلا ينافی ما ذکر لانه انما سماهم مساکين مجازا ترحما و شفقة عليهم لانهم کانوا مظلومين ضعفاء (من المنهل)

---

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف :١٢٣٥٥)، وقد أخرجه: خ /الزكاة ٥٣ (١٤٧٦)، وتفسير البقرة ٤٨ (٤٥٣٩)، صحيح مسلم /الزكاة ٣٤ (١٠٣٩)، سنن النسائي /الزكاة ٧٦ (٢٥٧٢)، موطا امام مالك/ صفة النبي ٥ (٧)، مسند احمد (٢/٢٦٠، ٣١٦، ٣٩٣، ٤٤٥، ٤٥٧)، سنن الدارمي /الزكاة ٢ (١٦٥٦) (صحيح)

(٢) په دې کښې طاء باندې ضمه اوکسره دواړه ونيلې شی فطن يفطن د باب کرم و نصر وسمع دريو واړو نه راځی.

د کوم مسکین ذکر چه بره په حدیث کښې راغلې دې، دهغه نه په راتلونکې حدیث کښې المحروم سره تعبیر شوې دې، فذاک المحروم، دا د قرآن مجید آیت طرف ته اشاره ده، وفی اموالهم حق للسائل و المحروم، والحدیث اخرجه ایضا البخاری ومسلم والنسائی(منهل)

[۱۶۳۲](۱) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، وَعُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ، وَأَبُو كَامِلٍ الْمَعْنَى، قَالُوا: حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ بْنُ زِيَادٍ، حَدَّثَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مِثْلَهُ، قَالَ: "وَلَكِنَّ الْمِسْكِينَ الْمُتَعَفِّفُ"، زَادَ مُسَدَّدٌ فِي حَدِيثِهِ: "لَيْسَ لَهُ مَا يَسْتَغْنِي بِهِ الَّذِي لَا يَسْأَلُ وَلَا يُعْلَمُ بِحَاجَتِهِ فَيُتَصَدَّقَ عَلَيْهِ فَذَاكَ الْمَحْرُومُ"، وَلَمْ يَذْكُرْ مُسَدَّدٌ الْمُتَعَفِّفُ الَّذِي لَا يَسْأَلُ. قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَى هَذَا مُحَمَّدُ بْنُ ثَوْرٍ وَعَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنْ مَعْمَرٍ، وَجَعَلَا الْمَحْرُومَ مِنْ كَلَامِ الزُّهْرِيِّ وَهُوَ أَصَحُّ.

د حضرت ابو هریره رضی الله عنه نه منقول دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل: (او حدیث ئې بیان کړو لکه څنګه چه بره ذکر شو(او) وې فرمائیل: " لیکن مسکین خو هغه دې چه هغه(د سوال د عار او شرم نه) بچ او پاک وی ... مسدد په خپل روایت کښې زیاته کړې ده چه د هغه سره دومره قدرې نۀ وی چه د هغه کفایت اوکړی ... او د خلقو نه سوال هم نۀ کوی او نۀ خلقو ته دده د ضرورت علم وی چه هغوی دۀ ته صدقه ورکړی دې قسم سړی ته " محروم " وئیلې شی -" مسدد په خپل روایت کښې د [المتعفف الذی لا یسال] ذکر نۀ دې کړې - امام ابوداود رحمه الله فرمائی : چه دې حدیث لره محمد بن ثور او عبد الرزاق د معمر نه روایت کړې دې او هغه د " محروم " بیان د زهری کلام ښودلې دې او دا زیات صحیح دې -

[۱۶۳۳](۲) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَدِيِّ بْنِ الْخِيَارِ، قَالَ: أَخْبَرَنِي رَجُلَانِ، أَنَّهُمَا أَتَيَا النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ وَهُوَ يُقَسِّمُ الصَّدَقَةَ، فَسَأَلَاهُ مِنْهَا، فَرَفَعَ فِينَا الْبَصَرَ وَخَفَضَهُ فَرَآنَا جَلْدَيْنِ، فَقَالَ: "إِنْ شِئْتُمَا أَعْطَيْتُكُمَا وَلَا حَظَّ فِيهَا لِغَنِيٍّ وَلَا لِقَوِيٍّ مُكْتَسِبٍ".

د عبید الله بن عدی بن خیار نه منقول دی، وائی چه ما ته دوو کسانو اووئیل چې دا دواړه د حجة الوداع په موقع باندې د نبی کریم ﷺ په خدمت کښې حاضر شول او حضور ﷺ صدقه تقسیموله - دې دواړو هم د هغوی نه سوال اوکړو نو حضور ﷺ مونږ ته د بره نه تر د خکته(د سر نه تر د خپو) پورې اوکتل - هغوی ﷺ اوکتل چه مونږ دواړه طاقتور یو، نو وې فرمائیل : کۀ چرې تاسو غواړئ نو مونږ ئې تاسو ته درکوو مګر (حقیقت دادې) په دې کښې د غنی او د طاقت ور کسب کوونکی هیڅ حصه نشته دې -"

فرفع فینا البصر و خفضه فرانا جلدین (۳)فقال ان شئتما اعطیتکما ولا حظ فیها لغنی و لا لقوی مکتسب، دوه سړی چه دهغوی نومونه معلوم نه دی، لیکن صحابه دی، خپله واقعه بیانوی، چه مونږ د نبی کریم ﷺ خدمت کښې حاضر شو ، د حجة الوداع په موقع، او نبی

(۱): سنن النسائي/الزكاة ٧٦(٢٥٧٤)،(تحفة الأشراف :١٥٢٧٧)، وقد أخرجه: مسند احمد(٢/٢٦٠)(صحيح) دون قوله: «فذاك المحروم» فإنه مقطوع من كلام الزهري

(۲): سنن النسائي/الزكاة ٩١(٢٥٩٩)،(تحفة الأشراف :١٥٦٣٥)، وقد أخرجه: مسند احمد(٤/٢٢٤، ٥/٣٦٢)،(صحيح)

(۳) جلدین تثنیه ده د جلد ، ددې معنی ده قوی (مضبوط)، جلد (په فتحې د جیم اولام سره) په معنی د قوت راځی، وئیلې شی جلد الرجل جلداً فهوجلد وجلیداً.

کریم ﷺ صدقات تقسیمول، هغه دواړه وائي چه مونږ هم د نبی کریم ﷺ نه سوال اوکړو، نو رسول الله ﷺ په مونږ باندې بره ښکته نظر واچولو، یعنی مونږ ته ئې د بره نه ښکته پورې اوکتل، پس نبی کریم ﷺ مونږ قوی او مضبوط اوموندلو، بیا هغوی اوفرمائیل: چه که تاسو غواړئ، نو تاسو ته به ددې صدقې د مال نه درکړم، لیکن حقیقت دادې، چه په صدقه کښې د غنی او قوی مکتسب(چه ګټلو باندې قادر وی) حصه نشته.

غریب قادر علی الکسب د غنی په حکم کښې دې او که نه؟

ددې حدیث نه معلومیږی، چه کوم سړې غریب وی، لیکن قادر علی الکسب وی، هغه هم د غنی په حکم کښې دې، پس د امام شافعی رحمه الله او امام احمد رحمه الله مذهب دادې، چه سړې څنګه غنی بالمال جوړیږی، دغه شان بالکسب هم جوړیږی، نو ددې دواړو په نزد قوی مکتسب دپاره اخذ زکوة جائز نه دې، اوداحنافو اومالکیه په نزد قدرة علی الکسب سره سړې غنی شمارلې نشی، او دهغه دپاره اخذ زکوة جائز دې، دا حضرات ددې حدیث جواب دا ورکوی، چه دا په سوال باندې محمول دې، د قوی مکتسب دپاره اګر چه اخذ زکوة جائز دې، لیکن سوال جائز نه دې، او دلیل ددې دپاره دادې، چه نبی کریم ﷺ هغوی ته اوفرمائیل: چه که تاسو غواړئ، نو زۀ به تاسو ته ددې نه درکړم، نو که هغوی ته ورکولو سره زکوة ساقط کیدو نه، نو بیا نبی کریم ﷺ دا تعلیق ولې فرمائیلو،

علامه طیبی رحمه الله د شوافعو د طرف نه ددې جواب دا ورکړې دې، چه د نبی کریم ﷺ مراد دادې، چه باوجود د حرام کیدلو نه که تاسو په اکل حرام باندې راضی یئ، نو تاسو ته به ددې نه درکړم، ګویا دا خبره نبی کریم ﷺ هغوی ته توبیخا فرمائیلې وه،(منهل)

والحدیث اخرجه ایضا احمد والنسائي والطحاوي(منهل)

[۱۶۳۴](۱) حَدَّثَنَا عَبَّادُ بْنُ مُوسَى الْأَنْبَارِيُّ الْخُتَّلِيُّ، حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ يَعْنِي ابْنَ سَعْدٍ، قَالَ: أَخْبَرَنِي أَبِي، عَنْ رَيْحَانَ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَا تَحِلُّ الصَّدَقَةُ لِغَنِيٍّ وَلَا لِذِي مِرَّةٍ سَوِيٍّ". قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ سُفْيَانُ، عَنْ سَعْدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ، كَمَا قَالَ إِبْرَاهِيمُ: وَرَوَاهُ شُعْبَةُ، عَنْ سَعْدٍ، قَالَ لِذِي مِرَّةٍ قَوِيٍّ، وَالْأَحَادِيثُ الْأُخَرُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْضُهَا لِذِي مِرَّةٍ قَوِيٍّ وَبَعْضُهَا لِذِي مِرَّةٍ سَوِيٍّ، وَقَالَ عَطَاءُ بْنُ زُهَيْرٍ: أَنَّهُ لَقِيَ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَمْرٍو، فَقَالَ: إِنَّ الصَّدَقَةَ لَا تَحِلُّ لِقَوِيٍّ وَلَا لِذِي مِرَّةٍ سَوِيٍّ.

حضرت عبد الله بن عمرو رضی الله عنه بیان کوی، چې نبی کریم ﷺ اوفرمائیل صدقه د هیڅ یو مالدار دَ پاره حلال نۀ ده او نۀ دَ چا طاقتور او صحیح سالم کس دپاره - "امام ابوداود رحمه الله فرمائی: چه دې حدیث لره سفیان دَ سعد بن ابراهیم نه همداسې روایت کړې دې لکه څنګه چه ابراهیم(بن سعد) روایت کړې دې - او شعبه دَ سعد نه دا لفظ روایت کړې دې: [لذی مرة قوی] یعنی دَ " سویّ " په ځائې باندې ئې "قویّ" وئیلې دی، او دَ نبی کریم ﷺ نه په بعض احادیثو کښې [لذی مرة قوی] او په بعضو کښې [لذی مرّة سویّ] روایت شوې دې - عطاء بن زهیر وائی چه زۀ دَ حضرت عبد الله بن عمرو رضی الله عنه سره ملاؤ شوم نو دَ هغوی الفاظ

[1]): سنن الترمذي/الزکاة ۲۳(۶۵۲)،(تحفة الأشراف :۸۶۳۶)، وقد أخرجه: مسند احمد(۲/۱۶۴، ۱۹۲)، سنن الدارمي/الزکاة ۱۵(۱۶۷۹)(صحیح)

وو : [ان الصدقة لا تحل لقوی ولا ذی مرة سوی]

عن عبدالله بن عمرو عن النبی(صلی الله علیه وسلم) قال لا تحل الصدقة لغنی ولا لذی مِرّة سوی، مِرّة، بمعنی قوة، یعنی لذی قوة، او سوی بمعنی سالم، یعنی چه دهغه انداموته صحیح سالم وی، ځکه چه داسې سړې قادر علی الکسب دې، دا حدیث هم د شافعیه او حنابله دلیل دې، احناف وائي چه په دې کښې د کمال حل نفی ده، نه د اصل حل، ځکه چه دهغوی په نزد د داسې سړې دپاره اخذ زکوة جائز دې، چه قوی وی، او د خپل حاجات اصلیه نه علاوه د نصاب مالک نه وی، دویمه توجیه هغوی دا کوی، چه دې لره په سوال باندې محمول کړې شی، کما تقدم فی الحدیث السابق،

والحدیث اخرجه ایضا احمد والدارمی والدارقطنی والطحاوی والترمذی وقال حدیث حسن لکن فی سنده ریحان بن یزید و فیه مقال(منهل)

بَابُ مَنْ يَجُوزُلَهُ أَخْذُ الصَّدَقَةِ وَهُوَغَنِيٌّ

باب: ۲۵- دَهغه خلقو بیان چه هغوی لره سره دَغنی کیدو، صدقه اخستل جائز دی.

[۱۳۳۵]([1]) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَا تَحِلُّ الصَّدَقَةُ لِغَنِيٍّ إِلَّا لِخَمْسَةٍ: لِغَازٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، أَوْ لِعَامِلٍ عَلَيْهَا، أَوْ لِغَارِمٍ، أَوْ لِرَجُلٍ اشْتَرَاهَا بِمَالِهِ، أَوْ لِرَجُلٍ كَانَ لَهُ جَارٌ مِسْكِينٌ فَتُصُدِّقَ عَلَى الْمِسْكِينِ فَأَهْدَاهَا الْمِسْكِينُ لِلْغَنِيِّ".

د حضرت عطاء بن یسار نه منقول دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل: د پنځو صورتونو نه علاوه دَ هیڅ مالدار دپاره صدقه(اخستل) حلال نهٔ دی :(۱) . کوم چه دَ الله په لاره کښې غازی او مجاهد وی -(۲) . یا دَ صدقاتو تحصیلدار(وصولوونکې) وی -(۳) . یا چه په چا باندې قرض وی -(۴) . یا هغه کوم چه په خپل مال سره دَ صدقې څیز واخلی -(۵) . یا هغه سړې چه یو مسکین ددهٔ همسایه وی، هغه مسکین ته صدقه ورکړې شوه نو دهٔ په هغې کښې غنی ته هدیه ورکړه -

عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ- صلى الله عليه وسلم- قَالَ « لاَ تَحِلُّ الصَّدَقَةُ لِغَنِىٍّ إِلاَّ لِخَمْسَةٍ لِغَازٍ فِى سَبِيلِ اللَّهِ أَوْ لِعَامِلٍ عَلَيْهَا أَوْ لِغَارِمٍ أَوْ لِرَجُلٍ اشْتَرَاهَا بِمَالِهِ أَوْ لِرَجُلٍ كَانَ لَهُ جَارٌ مِسْكِينٌ فَتُصُدِّقَ عَلَى الْمِسْكِينِ فَأَهْدَاهَا الْمِسْكِينُ لِلْغَنِىِّ».

مضمون حدیث مع بیان مذاهب ائمه:

د زکوة مال د غنی دپاره حلال نه دې، لیکن پنځه قسمه غنیان داسې دی، چه هغوی دپاره د زکوة مال اخستل جائز دی، (۱) غازی فی سبیل الله، جهاد ته تلونکې دپاره، د ائمه ثلاثه په نزد د هغې سړی دپاره سره ددې نه چه هغه غنی وی، زکوة اخستل جائز دی. بیا د امام مالک رحمه الله په نزد خو دا عام دی، د هر مجاهد په حق کښې، که په دیوان کښې دهغه نوم وی، (او د مال فئ نه هغه ته حصه ملاویږی، کومه چه مجاهدینو ته ملاویږی) او که نه وی،

---

[1]: سنن ابن ماجه/الزكاة ٢٧(١٨٤١)،(تحفة الأشراف :٤١٧٧، ١٩٠٩٠)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الزكاة١٧(٢٩)، مسند احمد(٤/٣، ٣١، ٤٠، ٥٦، ٩٧)(صحيح)

اود امام شافعي اواحمد رحمه الله په نزد ددې نه هغه مجاهد مرادديې، چه تطوعا (١) جهاد ته تلل غواړي، یعنی په دیوان کښې دهغه نوم نه وی، او د مال فئ نه هغه ته حصه نه ملاویږی.
او د احنافو په نزد ددې نه هغه غنی مجاهد مراد دې، چه په جهاد کښې د شرکت نه کولو په صورت کښې خو غنی وی، لیکن جهاد کښې شرکت او دهغې دپاره تیاری دپاره سامان د جهاد اخستلو د وجې نه فقیر شوې وی، نو دا سړې د خپل حالت سابقه په وجه غنی دی، لیکن حالت عارضه، کوم چه اوس ورته پیښ شوې دې، ددې په اعتبار سره محتاج دې، عرض داچه په دې حدیث کښې دغازی فی سبیل الله نه مراد داسې قسمه غنی دې، په خلاف د ائمه ثلاثه، دهغوی په نزد ددې نه مطلق غنی مراد دې، احناف وائی، چه د زکوة اصل حقدار فقیران دی، ځکه چه آیت کریمه انما الصدقات للفقراء والمساکین، او حدیث معاذ رضی الله عنه کښې دی، توخذ من اغنیائهم و ترد فی فقرائهم، په خپل مضمون کښې دا دواړه نص دی، صریح او صحیح دی، لهذا د حدیث الباب معنی به هم ددې په رڼا کښې متعین کولې شی، والله تعالی اعلم، او جمهور دا فرمائي، چه دا آیت کریمه او حدیث معاذ رضی الله عنه پشان نور احادیث مخصوص منه البعض دی، او مخصص دا حدیث دې.(منهل بزیادة)
(٢) اوالعامل علیها: په دې باندې د ټولو اتفاق دې، چه د عامل علی الصدقات دپاره اخذ زکوة جائز دې، دهغه غنی کیدل د اخذ زکوة نه مانع نه دی، ځکه چه هغه څه اخلی، بطور حق الخدمت او اجرة د عمل ئې اخلی، نه بطور صدقة.
(٣) اولغارم، هغه مدیون چه دهغه دین دهغه د مال نه زیات وی، کوم چه هغه سره دې، یا دهغې برابر وی، یا کم وی، لیکن اداء دین نه پس چه کوم مال زیاتې شی، هغه د نصاب هومره نه وی،(داسې سړې اګر چه صورة او ظاهرا د خپل موجوده مال په وجه غنی دې، لیکن فی الواقع غنی نه دې) او یو تفسیر د غارم داسې کړې شوې دې، چه ددې نه هغه سړې مراد دې، چه هغه د اصلالح ذات البین دپاره تحمل حماله کړې وی، ددې تشریح د مصارف زکوة په بیان کښې تیره شوې ده، هلته کښې کتل پکار دی.
(٤) او لرجل اشتراها بماله، کوم غنی سړې چه مال زکوة د فقیر نه په بیع واخلی، دهغه دپاره هم دا مال زکوة جائز کیږی، دا هم ښکاره خبره ده، چه د شراء زکوة دوه صورتونه دی، یو خو دا چه د بل چا ورکړې شوې زکوة د فقیر نه واخستلې شی، په دې کښې خو هیڅ اختلاف نشته، او یو صورت دادې، چه یو سړې خپل ورکړې شوې زکوة د فقیر نه په بیع واخلی، د جمهورو په نزد دا هم جائز دی، لیکن مکروه دی، او د امام احمد رحمه الله په نزد جائز نه دی، دا

---

١) په اصل کښې اسلامی ملک کښې جهاد کښې تلونکی یعنی لښکرې دحکومت د طرفه مقرر وی، کوم ته چه زمونږ په عرف کښې فوج وائی ددوی دپاره یو دیوان یعنی رجسټر وی چه په هغې کښې د لښکر والو نومونه لیکلی کیږی، اوهغوی ته باقاعده دبیت المال نه رزق یعنی وظیفه ملاویږی دغه جماعت ته مرتزقه هم وائی یعنی په جهاد کښې د تلونکو هغه جماعت چه هغوی دپاره د بیت المال نه رزق او وظیفه مقررده. په کتاب الجهاد کښې به داسې قسمه څیزونه او ابواب راځی نود کومو خلقو نومونه چه په دغه رجسټر کښې وی دهغوی خو به نمبر نمبر په جهاد کښې تلل ګویا مقرر او واجب دی دهغوی نه علاوه چه کوم خلق په جهاد کښې تلل غواړی دهغوی جهاد تطوعا ګڼړلې کیږی.

اختلافی مسئله د باب الرجل یبتاع صدقته، دلاندې تیره شوې ده.

(۵) اولرجل کان له جار مسکین، که یو غنی سړې ته فقیر د زکوة مال هدیه کړی، نو دا مال هغه غنی اخستلې شی، ددې نمبر ۵ او د تیر شوی نمبر ۴ دواړو دپاره د جواز اخذ وجه ظاهره ده، چه کله زکوة یو ځل خپل مصرف او محل ته اورسیدو، نو ادا شو، اوس چه دا فقیر په دې کښې څه تصرف کوی، کولې شی، دهغه خپل مال دې، او هغه چه چاته هم ورکوی، بطور زکوة او صدقه نه ورکوی، ځکه چه اول خو په دې فقیر باندې خپل زکوة واجب هم نه دې، بالفرض که وی هم، نو د زکوة، زکوة کیدل موقوف دې په نیت زکوة باندې، او هغه دلته کښې شته نه، (منهل) په بذل کښې حضرت په دې باندې قصه بریره رضی الله عنها لیکلې ده، په بذل کښې حضرت په دې باندې قصه د بریره رضی الله عنها لیکلې ده، لک صدقة و لنا هدیه، چه تاسو په مشکوٰة او دهغې نه مخکښې په نورالانوار کښې وئیلې ده، چه تبدل د ملک مستلزم دې، تبدل د عین لره حکما، دا حدیث مخکښې په دې کتاب کښې باب الفقیر یهدی للغنی من الصدقة، کښې راروان دې.

[۱۶۳۶](١) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: بِمَعْنَاهُ. قَالَ أَبُو دَاوُد: وَرَوَاهُ ابْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ زَيْدٍ، كَمَا قَالَ مَالِكٌ: وَرَوَاهُ الثَّوْرِيُّ، عَنْ زَيْدٍ، قَالَ: حَدَّثَنِي الثَّبْتُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

حضرت عطاء بن یسار د حضرت ابو سعید خدری رضی الله عنه نه روایت کوی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : او دَ مذکوره بالا حدیث هم معنیٰ ئې روایت اوفرمائیلو - "امام ابوداود رحمه الله فرمائی : چه دې حدیث لره ابن عیینه دَ زید نه هم داسې بیان کړې دې لکه څنګه چه مالک وئیلی دی - او ثوری دَ زید نه روایت کړې دې او وئیلي ئې دی : [حدثنی اللیث عن النبی ﷺ] یعنی یو بااعتماد کس زما په وړاندې دَ نبی کریم ﷺ حدیث بیان کړو-

[۱۶۳۷](٢) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَوْفٍ الطَّائِيُّ، حَدَّثَنَا الْفِرْيَابِيُّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عِمْرَانَ الْبَارِقِيِّ، عَنْ عَطِيَّةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تَحِلُّ الصَّدَقَةُ لِغَنِيٍّ إِلَّا فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَوِ ابْنِ السَّبِيلِ أَوْ جَارٍ فَقِيرٍ يُتَصَدَّقُ عَلَيْهِ فَيُهْدِي لَكَ أَوْ يَدْعُوكَ". قَالَ أَبُو دَاوُد: وَرَوَاهُ فِرَاسٌ، وَابْنُ أَبِي لَيْلَى، عَنْ عَطِيَّةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، مِثْلَهُ.

د حضرت ابو سعید خدری رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : صدقه دَ هیڅ غنی دَ پاره حلال نهٔ ده - مګر داچه دَ الله په لاره کښې(مجاهد) وی یا مسافر وی یا یو فقیر همسایه ته صدقه ورکړې شوه او هغه فقیر تاسو ته هدیه درکړی، یا تاسو ته دعوت درکړی - امام ابوداود رحمه الله فرمائی چه دې حدیث لره فراس او ابن ابی لیلیٰ دَ عطیه نه، هغوی دَ ابو سعید نه، او هغوی دَ نبی کریم ﷺ نه ددې په مثل باندې روایت کړې دې -

١): انظر ما قبله،(تحفة الأشراف :٤١٧٧، ١٩٠٩٠)(صحيح)
٢): تفرد به أبو داود،(تحفة الأشراف :٤٢١٩)، وقد أخرجه: مسند احمد(٣١/٣، ٤٠، ٩٧)(ضعيف)

بَابُ كَمْ يُعْطَى الرَّجُلُ الْوَاحِدُ مِنَ الزَّكَاةِ

باب: ۲۶- يو سړی ته دې د زکات نه څومره قدرې ورکړې شی؟

[۱۶۳۸]() حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ الصَّبَّاحِ، حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ، حَدَّثَنِي سَعِيدُ بْنُ عُبَيْدٍ الطَّائِيُّ، عَنْ بُشَيْرِ بْنِ يَسَارٍ، زَعَمَ أَنَّ رَجُلًا مِنَ الْأَنْصَارِ يُقَالُ لَهُ: سَهْلُ بْنُ أَبِي حَثْمَةَ أَخْبَرَهُ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "وَدَاهُ بِمِائَةٍ مِنْ إِبِلِ الصَّدَقَةِ" يَعْنِي دِيَةَ الْأَنْصَارِيِّ الَّذِي قُتِلَ بِخَيْبَرَ.

حضرت سهل بن حثمه انصاری رضی الله عنه خبر ورکړې دې چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم هغوی ته د صدقې د اوښانو نه دیت ادا کړې وو - یعنی دَ هغه انصاری رضی الله عنه دیت کوم چه په خیبر کښې قتل کړې شوې وو -

تشریح: قوله: أَنَّ رَجُلاً مِنَ الأَنْصَارِ يُقَالُ لَهُ سَهْلُ بْنُ أَبِي حَثْمَةَ أَخْبَرَهُ أَنَّ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- وَدَاهُ بِمِائَةٍ مِنْ إِبِلِ الصَّدَقَةِ - يَعْنِي دِيَةَ الأَنْصَارِيِّ الَّذِي قُتِلَ بِخَيْبَرَ.

دلته په دې باب کښې درې څیزونه د بیان محتاج دی، اول ترجمة الباب کښې چه کومه مسئله ذکر ده، چه یو سړې ته د زکوة څومره مقدار ورکولې شی.ددې بیان او اختلاف ائمه، دویم د حدیث الباب تشریح، دریم د حدیث د ترجمة الباب سره مطابقت، درې واړه څیزونه قابل تحقیق دی، والله الموفق والمیسر.

بحث اول: یو سړی ته څومره زکوة ورکولې شی؟

مسئله مختلف فیه ده، د احنافو په نزد شخص واحد ته مادون النصاب ورکولې شی، او بقدر نصاب ورکول مکروه دی، لیکن دا که هغه سړې مدیون وی، نو بیا په دې صورت کښې دومره ورکولې شی، چه د اداء دین نه پس هغه سره مادون النصاب باقی پاتې شی، دغه شان که یو سړې عیال والا وی، نو هغه ته دومره مقدار ورکولې شی، چه که هغه په ټولو باندې تقسیم کړی، نو د هر یو په حصه کښې د نصاب نه کم راځی، او د امام مالک او احمد رحمه الله په نزد یو سړې ته بقدر کفایة عام ورکولې شی، یعنی دومره مقدار چه دهغه دپاره سره د عیال نه ټول کال دپاره کافی وی، او د حضرت امام شافعی رحمه الله په نزد دومره مقدار به ورکولې شی، چه دهغه باقی عمر غالب دپاره کافی وی، او عمر غالب دوه شپیتهٔ کاله دې، کما تقدم، (منهل)

خطابی فرمائي چه د شافعیه مذهب دادې، چه په دې کښې هیڅ تحدید نشته، بلکه بقدر الحاجة ورکولې شی، او د سفیان ثوری رحمه الله په نزد یو سړی ته د خمسون درهما نه زیات نشی ورکولې، او دا یو قول د امام احمد رحمه الله دې ۱هـ، (عون) په اصل کښې د جمهورو مسلک په دې کښې (کما قال الموفق) دادې، چه یو فقیر ته به د ما یحصل به الغنی نه زیات نشی ورکولې، او د ما یحصل به الغنی تفصیل مخکښې تیر شوې دې، چه د ائمه ثلاثه په نزد ددې مصداق قدر کفایة دې، د مالکیه او حنابله په نزد کفایة عام دې، (د ټولو کال کفایة) او

[۱]: صحيح البخاري/الديات ۲۲(۶۸۹۸)، صحيح مسلم/القسامة ۱(۱۶۶۹)، سنن النسائي/القسامة ۲(۴۷۱۴)، سنن ابن ماجه/الديات ۲۸(۲۶۷۷)، (تحفة الأشراف: ۴۶۴۴، ۱۵۵۳۶، ۱۵۵۹۲)(صحيح) ويأتي هذا الحديث مفصلاً برقم(۴۵۲۰)

د شافعیه په نزد د غیر مکتسب دپاره د باقي پاتې عمر غالب کفایة، او د مکتسب مثلا تاجر په حق کښې د هرې ورځې د کفایة حصول، یعنی روزانه دهغه دومره آمدني وي، چه دهغه او د هغه د اهل او عیال دپاره کافي وي،

بحث ثاني: تشريح حديث:

د دې حدیث د الفاظو ترجمه خو داده، چه سهل ابن خثمه انصار رضي الله عنه فرمائي، چه نبی کریم ﷺ هغه ته سل اوښان د صدقاتو د اوښانو نه ورکړل، دهغه انصاری په دیة کښې، چه په خیبر کښې قتل شوې وو، یعنی چا لره چه دخیبر یهودیانو قتل کړې وو.

دا حدیث دلته کښې ډیر زیات مجمل او مختصر دې، چه په تفصیل سره د کتاب الحدود دلاندې باب القسامة کښې راروان دې، دهغې خلاصه داده، چه یو انصاری صحابی چه دهغه نوم عبدالله بن سهل دې، یو ورځ د خپل ملګری سره، چه دهغه نوم محیصه دې، د مدینې منورې نه خیبر ته لاړو، خیبر ته رسیدلو نه پس دا دواړه ملګری د یو بل نه جدا شول، لږ ساعت پس چه محیصه واپس خپل ځائي ته راغلو، کوم ځائي کښې چه جدا شوي وو، چه وې لیدل چه دهغه ملګرې عبدالله بن سهل د یو اونې لاندې وژلې شوې دې، بیا ددې نه پس په حدیث کښې دی، چه انصارو د قتل دا مقدمه د نبی کریم ﷺ په خدمت کښې پیش کړه، چونکه قاتلان په تعین سره معلوم نه وو، او د خیبر په یهودیانو باندې د انصارو شبهه وه، ددې وجې نه نبی کریم ﷺ د قسامة فیصله اوفرمائیله، تفصیل ددې خو به په خپل مقام کښې راځي، خلاصه ددې داده، چه انصارو د یهودیانو قسمونه منلو ته تیار نه وو، چه دا خلق دروغ وائي، ددوی د قسمونو هیڅ اعتبار نشته، لهذا مقدمه خارج کیدل پکار وو، لیکن ددې باوجود بیا هم نبی کریم ﷺ د مقتول صحابی دیت کښې سل اوښان د بیت المال د اوښانو نه د مقتول ورور ته، چاچه مقدمه راوړې وه، ورکړل، یعنی عبد الرحمن بن سهل ته ئې ورکړل. (۱)

ددې واقعې د تفصیل نه معلومه شوه، چه نبی کریم ﷺ دا دیت عبد الرحمن بن سهل ته ورکړې وو، حالانکه دلته کښې په حدیث الباب کښې د وداه ضمیر سهل بن خثمه ته راجع دې، لهذا دا لفظ د تاویل محتاج دې، یا خو داسې وئیل پکار دی، چه سهل ته ورکولو نه مراد دهغه قوم ته ورکول دی، او دهغه قوم انصار دې، او د مقتول ورور عبد الرحمن ته ورکړې شو، هغه هم انصاری دې، او یا داسې وئیل پکار دی، چه دلته کښې دا ضمیر غیر مذکور طرف ته راجع دې، او هغه غیر په اصل قصه کښې مذکور دې

یو فقهي اشکال او دهغې جواب:

دلته کښې یو سوال دې، چه مصارف د زکوة متعین دی، او دیة په هغې مصارفو کښې نه دې، بیا دا اوښان په دیت کښې څرنګه ورکړې شو؟ ددې جواب دا ورکړې شوې دې، چه

---

(۱) د نبی کریم ﷺ انصارو ته د مقتول دیت ورکول دهغوی په رعایت کښې دمصلحت په طور وو چه د یو مسلمان وینه دغسې مفت ضائع نه شي؛ او دا چه راروان وخت کښې دغه دواړو فریقو انصار او یهودو په مینځ کښې ګړ بړ او بې چینی پاتې نه شي کذا قال المشائخ رحمهم الله، په دې ټولو خبرو ځان ښه پوهه کړئ انشاء الله په باب القسامة کښې به مو ډیرې په کار راشی. والله الموفق.

ممکن ده، چه داسې اوئيلې شي، چه دې صورت حال لره تحمل حمالة باندې محمول کړې شي، چه د اصلاح ذات البين دپاره ګويا نبی کريم ﷺ ديت په خپله ذمه باندې واخستلو، او بيا د قرضدارو د حصې نه ئې هغوی ته ورکړو، او يا داسې اوئيلې شي، چه د مؤلفة القلوب د حصې نه دا اوښان نبی کريم ﷺ هغوی ته ورکړل، والتوجيه الاول للخطابی والثانی ذکره صاحب المنهل.

بحث ثالث: د حديث د ترجمة الباب سره مطابقت

زما په نزد ډير مشکل دې، ځکه چه اول خو د اوښانو دا ورکول د زکوة دپاره نه وو، بلکه د دية په طور باندې وو، دويم دا چه سل اوښان يو سړی ته ورکول د هيچا مذهب نه دې، د ډير غور او فکر نه پس توجيه دا په پوهه کښې راځی، چه دا خو صحيح ده، چه دا ورکول بطور زکوة نه وو، ليکن چونکه مال د زکوة وو، په دې اعتبار سره ترجمه سره مناسبت پيدا کيږی، پاتې شو دا اشکال، چه په دومره لوئې مقدار کښې زکوة يو سړی ته څرنګه ورکولې شی، نو ددې حل دا کيدې شی، چه بې شکه فقير ته خو دومره مقدار ورکولې نشی، ليکن دا خو تحمل حماله وو، چه دهغې تعلق د دين سره وی، او مقدار د دين خو لوئې نه لوئې کيدې شی.

هذا ما عندی والله سبحانه و تعالی اعلم بالصواب، الحمد لله د باب سره متعلق مباحث پوره شول، دا باب په سبق کښې هميشه دپاره ماته مشکل معلوميدو، اميد دې چه اوس به حل شوې وی. و حديث الباب اخرجه ايضا البخاری ومسلم والترمذی والنسائی وابن ماجه مختصرا و مطولا. (منهل)

بَابُ مَا تَجُوزُ فِيهِ الْمَسْأَلَةُ

باب: ...... په کوم صورت کښې سوال کول جائز دی؟

[۱۶۳۹] (۱) حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ النَّمَرِيُّ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ عُمَيْرٍ، عَنْ زَيْدِ بْنِ عُقْبَةَ الْفَزَارِيِّ، عَنْ سَمُرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "الْمَسَائِلُ كُدُوحٌ يَكْدَحُ بِهَا الرَّجُلُ وَجْهَهُ فَمَنْ شَاءَ أَبْقَى عَلَى وَجْهِهِ وَمَنْ شَاءَ تَرَكَ، إِلَّا أَنْ يَسْأَلَ الرَّجُلُ ذَا سُلْطَانٍ أَوْ فِي أَمْرٍ لَا يَجِدُ مِنْهُ بُدًّا".

حضرت سمره رضی الله عنه د نبی کريم ﷺ نه روايت کوی چه حضور ﷺ اوفرمائيل سوال کول خپل ځان لره زخمی کول دی، په دې سره انسان خپل مخ لره شوکه وی او زخمی کوی - چنانچه څوک چه غواړی نو هغه دې د خپل مخ آبرو (عزت) باقی اوساتی او څوک چه غواړی نو ضائع دې کړی، ليکن بيا هم که څوک د حکمران نه سوال اوکړی يا ډير زيات لاچاره شي، نو بيا څهٔ مضائقه نشته دې -

تشريح: قوله: قَالَ « الْمَسَائِلُ كُدُوحٌ يَكْدَحُ بِهَا الرَّجُلُ وَجْهَهُ فَمَنْ شَاءَ أَبْقَى عَلَى وَجْهِهِ وَمَنْ شَاءَ تَرَكَ إِلاَّ أَنْ يَسْأَلَ الرَّجُلُ ذَا سُلْطَانٍ أَوْ فِى أَمْرٍ لاَ يَجِدُ مِنْهُ بُدًّا ».

[1]: سنن الترمذي/الزكاة ۳۸(۶۸۱)، سنن النسائي/الزكاة ۹۲(۲۶۰۰)، (تحفة الأشراف :۴۶۱۴)، وقد أخرجه: مسند احمد(۱۰/۵، ۱۹، ۲۲)(صحيح)

مسائل د مسئلې جمع، بمعنی سوال، او کدوح د کدح جمع د څه زخم نښه، مراد ترې نه داغ دې، یعنې د خلقو نه غوختل او سوال کول، خپل مخ لره داغدار او عیب دار کول دی، پس د چا چه زړهٔ غواړی، خپل مخ دې داغدار کړی، که نه غواړی نو د سوال نه دې ځان اوساتی، یعنی د سوال ذلت سره د سړی د مخ رڼرا ختمیږی، دهغه عزت خاوری کیږی، لیکن ددې نه مراد تخییر نه دې، چه نبی کریم ﷺ اجازت ورکوی، بلکه دا د زجر او توبیخ د قبیلې نه دې، کقوله تعالی فمن شاء فلیؤمن و من شاء فلیکفر انا اعتدنا للظلمین نارا، بیا مخکښې فرمائي، مگر دا چه یو سړې سوال اوکړی، د یو بادشاه نه، چه د بیت المال نه راکړی، ځکه چه په بیت المال کښې د ټولو مسلمانانو حصه ده، یا دا چه څه حاجت او مجبوری ډیره زیاته شدیده وی، چه هلته د سوال نه بغیر بله څه لاره نه وی، نو بیا په دې صورت کښې د بادشاه نه علاوه هم سوال کولې شی.

الحدیث اخرجه ایضا النسائی والترمذی وقال حسن صحیح(منهل)

[۱۶۴۰]() حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ هَارُونَ بْنِ رِئَابٍ، قَالَ: حَدَّثَنِي كِنَانَةُ بْنُ نُعَيْمٍ الْعَدَوِيُّ، عَنْ قَبِيصَةَ بْنِ مُخَارِقٍ الْهِلَالِيِّ، قَالَ: تَحَمَّلْتُ حَمَالَةً فَأَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: "أَقِمْ يَا قَبِيصَةُ حَتَّى تَأْتِيَنَا الصَّدَقَةُ فَنَأْمُرَ لَكَ بِهَا"، ثُمَّ قَالَ: "يَا قَبِيصَةُ، إِنَّ الْمَسْأَلَةَ لَا تَحِلُّ إِلَّا لِأَحَدِ ثَلَاثَةٍ: رَجُلٍ تَحَمَّلَ حَمَالَةً فَحَلَّتْ لَهُ الْمَسْأَلَةُ فَسَأَلَ حَتَّى يُصِيبَهَا ثُمَّ يُمْسِكُ، وَرَجُلٍ أَصَابَتْهُ جَائِحَةٌ فَاجْتَاحَتْ مَالَهُ فَحَلَّتْ لَهُ الْمَسْأَلَةُ فَسَأَلَ حَتَّى يُصِيبَ قِوَامًا مِنْ عَيْشٍ، أَوْ قَالَ: سِدَادًا مِنْ عَيْشٍ، وَرَجُلٍ أَصَابَتْهُ فَاقَةٌ حَتَّى يَقُولَ ثَلَاثَةٌ مِنْ ذَوِي الْحِجَى مِنْ قَوْمِهِ قَدْ أَصَابَتْ فُلَانًا الْفَاقَةُ فَحَلَّتْ لَهُ الْمَسْأَلَةُ فَسَأَلَ حَتَّى يُصِيبَ قِوَامًا مِنْ عَيْشٍ أَوْ سِدَادًا مِنْ عَيْشٍ ثُمَّ يُمْسِكُ، وَمَا سِوَاهُنَّ مِنَ الْمَسْأَلَةِ يَا قَبِيصَةُ سُحْتٌ يَأْكُلُهَا صَاحِبُهَا سُحْتًا".

حضرت قبیصه بن مخارق هلالی ﷺ نه روایت دې چه (یو ځل) زهٔ د چا ضامن جوړ شوم. بیا زهٔ د نبی کریم ﷺ په خدمت کښې حاضر شوم نو هغوی ﷺ اوفرمائیل : اې قبیصه! اودریږه تردې پورې چه مونږ ته د څهٔ صدقه راشی نو مونږ به ستا د پاره په هغې کښې د درکولو حکم اوکړو بیا ئې اوفرمائیل : اې قبیصه ! سوال کول حلال نهٔ دی، سوا د دریو کسانو نه د یو کس د پاره : کوم کس چه د چا ضمانت واخلی نو د هغه د پاره سوال کول جائز دی تردې پورې چه هغه خپل ضرورت پورا کړی، او بیا منع شی - دویم هغه سړې چه په هغه باندې څهٔ مصیبت یا آفت راغې او هغه (مصیبت او آفت) د هغه مال لره تباه کړی نو دداسې کس دپاره سوال کول حلال دی تردې پورې چه د گزارې لائق خپل ضروریات حاصل کړی - او دریم هغه کس چه هغه لره انتهائی احتیاج گیر کړې وی تردې پورې چه د هغه د قوم نه درې عقل مند افراد اووائی چه فلانکې از حد بې وسه شوې دې نو دداسې کس دپاره سوال کول حلال دی تردې پورې چه هغه خپل گزران حاصل کړی او بیا منع شی ددې صورتونو نه علاوه سوال کول اې قبیصه حرام دی، غوښتونکی حرام خوری -"

[1]): صحیح مسلم/الزکاة ۳۶(۱۰۴٤)، سنن النسائي/الزکاة ۸۰(۲۵۸۰)، ۸۶(۲۵۹۲)، (تحفة الأشراف :۱۱۰۶۸)، وقد أخرجه: مسند احمد(۴۷۷/۳، ۶۰/۵)(صحیح)

تشريح: قوله: عَنْ قَبِيصَةَ بْنِ مُخَارِقٍ الْهِلاَلِيِّ قَالَ تَحَمَّلْتُ حَمَالَةً فَأَتَيْتُ النَّبِيَّ -صلى الله عليه وسلم- إِنَّ الْمَسْأَلَةَ لاَ تَحِلُّ إِلاَّ لأَحَدِ ثَلاَثَةٍ رَجُلٌ تَحَمَّلَ حَمَالَةً فَحَلَّتْ لَهُ الْمَسْأَلَةُ الخ

شرح حديث:

يعنى د سوال ګنجائش صرف د دريو قسمه خلقو دپاره دې،(۱) هغه چا چه تحمل حماله کړې وی، يعنى د دواؤ سړو په مينځ کښې د صلح کولو دپاره د چا حق ئې په خپله ذمه اخستلې وی،(۲) هغه سړې چه دهغه په مال باندې ناساپى مصيبت او آفت راغلې وی، چه دهغې په وجه دهغه ټول مال تباه شوې وی،(نو هغه سړې سوال کولې شى)

حَتَّى يُصِيبَ قِوَامًا مِنْ عَيْشٍ ». أَوْ قَالَ « سِدَادًا مِنْ عَيْشٍ ترڅو پورې چه هغه ته د خپلې روزئ او ګذارې بندوبست حاصل شى، يعنى ترڅو پورې چه ورته حاصل نه وی، تر هغې پورې سوال کولې شى، د حاصليدو نه پس نشى کولې.(۳) يو هغه سړې چه دهغه مالى حالت خو مخکښې ښه وو، ليکن بيا وروستو په تنګئ کښې مبتلاء شو، بلکه د هغه تنګى محققه شوه، په داسې طريقې سره چه دهغه د قوم درې باخبره عقلمند سړى دا ګواهى ورکړی، چه او واقعى فلانى سړې نن صبا په فاقه (اولږه) کښې مبتلاء دې.

په اصل کښې غوختونکې په دوه قسمه دى، يو غير مشهور سړى، چه دهغه حاجت او عدم حاجت چاته صحيح طريقې سره معلوم نه وی، دويم مشهور سړې، پيژندګلو، چه دهغه باره کښې محلې والا د مخکښې نه خبر وی، چه هغه حاجت مند نه دې، داسې سړې چونکه په سوال کښې متهم وی، ددې وجې نه دهٔ دپاره هغه وخته پورې سوال کول جائز نه دی، تر څو پورې چه دهغه د قوم يو څو سړى اونه وائى، چه او واقعى دا سړې اوس حاجت مند دې، د خپل قوم قيد ددې وجې نه دې، چه هغوى د نورو په نسبت زيات ددهٔ دحال نه خبر دى، د دې حديث نه بعضې شافعيه لکه ابن خزيمه وغيره دا استدلال کړې دې، چه د ثبوت اعسار دپاره د دريو سړو شهادت پکار دې، جمهور علماء دا وائى، چه دا څيز د باب شهادت نه نه دې، بلکه د تبين حال او تحقيق حال د قبيلې نه دې، يا داسې وئيل پکار دی، چه د استحباب په طريقې سره دې، ګنى د اعسار(يعنى تنګى) ثبوت هم د نورو څيزونو پشان د دواؤ کسانو په شهادت سره کيږى.

د حد غنى باره کښې د جمهورو دليل:

ددې حديث حتى يصيب قواما من عيش نه د جمهورو تائيد کيږى، چه د غنى او فقر مدار په حصول کفاية باندې دې، و قد تقدم تفصيل الخلاف فيه.

والحديث اخرجه ايضا احمد و مسلم والنسائى وابن حبان والدار قطنى و ابن خزيمة(منهل)

[۱٦٤۱](۱) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، أَخْبَرَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ، عَنِ الأَخْضَرِ بْنِ عَجْلاَنَ، عَنْ أَبِي بَكْرٍ الْحَنَفِيِّ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ رَجُلاً مِنَ الأَنْصَارِ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْأَلُهُ، فَقَالَ: "أَمَا فِي بَيْتِكَ شَيْءٌ؟" قَالَ: بَلَى، حِلْسٌ نَلْبَسُ بَعْضَهُ وَنَبْسُطُ بَعْضَهُ وَقَعْبٌ نَشْرَبُ فِيهِ مِنَ الْمَاءِ، قَالَ: "ائْتِنِي بِهِمَا"، قَالَ: فَأَتَاهُ بِهِمَا فَأَخَذَهُمَا

[۱]: سنن الترمذي/البيوع ۱۰(۱۲۱۸)، سنن النسائي/البيوع ۳۰(٤٥۱۲)، سنن ابن ماجه/التجارات ۲٥(۲۱۹۸)،(تحفة الأشراف: ۹۷۸)، وقد أخرجه: مسند احمد(۳/۱۰۰، ۱۱٤، ۱۲٦)(ضعيف)

رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدِهِ، وَقَالَ: "مَنْ يَشْتَرِي هَذَيْنِ؟" قَالَ رَجُلٌ: أَنَا آخُذُهُمَا بِدِرْهَمٍ، قَالَ: "مَنْ يَزِيدُ عَلَى دِرْهَمٍ" مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلَاثًا، قَالَ رَجُلٌ: أَنَا آخُذُهُمَا بِدِرْهَمَيْنِ، فَأَعْطَاهُمَا إِيَّاهُ وَأَخَذَ الدِّرْهَمَيْنِ وَأَعْطَاهُمَا الْأَنْصَارِيَّ، وَقَالَ: "اشْتَرِ بِأَحَدِهِمَا طَعَامًا فَانْبِذْهُ إِلَى أَهْلِكَ وَاشْتَرِ بِالْآخَرِ قَدُومًا فَأْتِنِي بِهِ"، فَأَتَاهُ بِهِ، فَشَدَّ فِيهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عُودًا بِيَدِهِ، ثُمَّ قَالَ لَهُ: "اذْهَبْ فَاحْتَطِبْ وَبِعْ وَلَا أَرَيَنَّكَ خَمْسَةَ عَشَرَ يَوْمًا"، فَذَهَبَ الرَّجُلُ يَحْتَطِبُ وَيَبِيعُ فَجَاءَ وَقَدْ أَصَابَ عَشْرَةَ دَرَاهِمَ فَاشْتَرَى بِبَعْضِهَا ثَوْبًا وَبِبَعْضِهَا طَعَامًا، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "هَذَا خَيْرٌ لَكَ مِنْ أَنْ تَجِيءَ الْمَسْأَلَةُ نُكْتَةً فِي وَجْهِكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، إِنَّ الْمَسْأَلَةَ لَا تَصْلُحُ إِلَّا لِثَلَاثَةٍ: لِذِي فَقْرٍ مُدْقِعٍ، أَوْ لِذِي غُرْمٍ مُفْظِعٍ، أَوْ لِذِي دَمٍ مُوجِعٍ".

حضرت انس بن مالک رضی الله عنه روایت کوی چې یو انصاری د نبی کریم ﷺ په خدمت کښې راغي او هغه څه غوښتل - حضور ﷺ اوفرمائیل آیا ستا په کور کښې څه نشته دې؟ هغه اووې ولې نشته دې، یوه کمبل غوندې ده، د هغې یوه حصه اغوندم او څه ځان ته خوره وم او یوه پیاله چه په هغې سره څښاک کوو - حضور ﷺ اوفرمائیل دا دواړه ماته راوړه -" چنانچه هغه راوړل - نو رسول الله ﷺ هغې لره په خپل لاس کښې واخستل اووې فرمائیل: څوک دا ځیزونه اخلی؟ یو کس اووې زۀ دې لره په یو درهم باندې اخلم - حضور ﷺ اوفرمائیل د یو درهم نه په زیات باندې څوک اخلی؟ حضور ﷺ دا دوه یا درې ځله اوفرمائیل: یو (بل) کس اووې زۀ ددې دوه درهمه درکووم، چنانچه هغوی ﷺ دا دواړه ځیزونه هغه ته ورکړل او دوه درهمه ئې ترینه واخستل او دواړه ئې هغه انصاری ته ورکړل او هغه ته ئې اوفرمائیل: په یو درهم باندې طعام واخله او خپل کور والو ته ئې ورکړه او په دویم سره تبر واخله او ماته ئې راوړه،" چنانچه هغه راوړو نو حضور ﷺ په خپلو لاسونو سره په هغې کښې لاسکې واچولو اووې فرمائیل: څه لرګی کټ کوه او خرڅوه، او تر د پنځلسو ورځو پورې چه زۀ تا اونۀ وینم - چنانچه هغه کس لاړو، لرګی به ئې کټ کول او خرڅول به ئې، بیا راغي او هغه ته لس درهمه ملاؤ شوې وو په څۀ باندې ئې کپړا واخستله او په څۀ سره ئې د خوراک څښاک ځیزونه، نو رسول الله اوفرمائیل: دا ددې نه بهتر دی چه په سوال کولو سره ستا په مخ باندې د قیامت په ورځ داغ وی - بې شکه غوښتل (سوال کول) روا نۀ دی سوا د دریو کسانو نه: از د فقیر محتاج خاک نشین، یا په بې آرامئ کښې مبتلا قرضدار یا په دیت کښې د پریوتلې وینې والا (یعنی په چا باندې چه د قتل دیت لازم وی -"

تشریح: قوله: "قَالَ « أَمَا فِي بَيْتِكَ شَيْءٌ ». قَالَ بَلَى حِلْسٌ نَلْبَسُ بَعْضَهُ وَنَبْسُطُ بَعْضَهُ وَقَعْبٌ نَشْرَبُ فِيهِ مِنَ الْمَاءِ. قَالَ « ائْتِنِي بِهِمَا ». قال فَأَتَاهُ بِهِمَا فَأَخَذَهُمَا رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– بِيَدِهِ وَقَالَ .... الخ

د حدیث مضمون واضح دې، د تشریح محتاج نه دې

د بیع المزایدة (نیلام) جواز:

په دې حدیث کښې دا ذکر دی، چه نبی کریم ﷺ د هغې سرې تاټ او د لرګی پیالئ په دې طریقې سره خرڅ کړل، چه هغې ته په بیع من یزید او بیع المزایده سره تعبیر کولې شی، اول تعبیر لره امام ترمذی او دویم تعبیر لره امام بخاری په ترجمة الباب کښې اختیار کړې دې،

چه هغې ته زمونږ په معاشره کښې نیلام او نیلامی بیع وئیلې شی، دا د جمهورو په نزد جائز ده، او د ابراهیم نخعی رحمه الله په نزد مکروه ده، او بعضې علماء لکه امام اوزاعی رحمه الله او اسحق بن راهوایه د تخصیص قائل دی، هغه داچه داسې قسمه بیع صرف په غنائم او مواریث کښې جائز ده، هر ځائې کښې جائز نه ده، حدیث الباب ته امام ترمذی رحمه الله حسن وئیلې دې، او امام بخاری رحمه الله هیڅ یو صریح حدیث په دې مسئله کښې مسندا نه دې ذکر کړې.

قوله: وَلاَ أَرَيَنَّكَ خَمْسَةَ عَشَرَ يَوْمًا ».

او دې نه وینم پنځلسو ورځو پورې، (پنځلس ورځې ماته خپل شکل مهٔ ښایه) یعنی زما مجلس ته مهٔ رازه، بلکه په کوم کار کښې دې لګوم، په هغې کښې لګیا اوسه، بیا پنځلس ورځې پوره کیدو نه پس راشه او ماته صورت حال بیان کړه.

قوله: إِنَّ الْمَسْأَلَةَ لاَ تَصْلُحُ إِلاَّ لِثَلاَثَةٍ لِذِي فَقْرٍ مُدْقِعٍ أَوْ لِذِي غُرْمٍ مُفْظِعٍ أَوْ لِذِي دَمٍ مُوجِعٍ ».

شرح حدیث:

سوال کول جائز نهٔ دی، مګر د دري قسمه خلقو دپاره:

(۱) هغه سړی دپاره چه دهغه فقر دقعاء یعنی خاؤرو سره یوځائې کونکې وی، کما فی قوله تعالی او مسکینا ذا متربة،

(۲) داسې قرضدارې چه دهغه قرض قطیع یعنی شدید وی، یقال اقطع الامر ای اشتد، د دین د شدید کیدو مطلب دادې، چه دهغې ادا کول ډیر زیات ګران وی، ځکه چه اسباب ئې نه وی. (۳) د داسې دم والا دپاره، چه هغه ئې بې آرامه کړې وی، یعنی د څه قتل په مسئله کښې یو سړی په خپله ذمه دیت واخستو، د اصلاح ذات البین په طور باندې، لیکن په هغه کښې دومره استطاعت نشته، چه هغې لره ادا کړې شی، اوس کهٔ دیت نه ادا کوی، نو قاتل لره به قتلولې شی، چه هغې سره به دهٔ ته تکلیف رسی، نو په داسې صورت حال کښې دهٔ دپاره سوال کول جائز دی، والحدیث اخرجه ایضا احمد و ابن ماجه والترمذی و قال حدیث حسن و اخرجه النسائی مختصرا(منهل)

بَابُ كَرَاهِيَةِ الْمَسْأَلَةِ

باب: ۲۷- دَ غوښتلو او دَ سوال کولو بیان

[۱۶۴۲](1) حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ عَمَّارٍ، حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ، حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ، عَنْ رَبِيعَةَ يَعْنِي ابْنَ يَزِيدَ، عَنْ أَبِي إِدْرِيسَ الْخَوْلاَنِيِّ، عَنْ أَبِي مُسْلِمٍ الْخَوْلاَنِيِّ، قَالَ: حَدَّثَنِي الْحَبِيبُ الأَمِينُ أَمَّا هُوَ إِلَيَّ فَحَبِيبٌ وَأَمَّا هُوَ عِنْدِي فَأَمِينٌ عَوْفُ بْنُ مَالِكٍ، قَالَ: كُنَّا عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَبْعَةً أَوْ ثَمَانِيَةً أَوْ تِسْعَةً، فَقَالَ: "أَلاَ تُبَايِعُونَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟" وَكُنَّا حَدِيثَ عَهْدٍ بِبَيْعَةٍ، قُلْنَا: قَدْ بَايَعْنَاكَ، حَتَّى قَالَهَا ثَلاَثًا فَبَسَطْنَا أَيْدِيَنَا فَبَايَعْنَاهُ، فَقَالَ قَائِلٌ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّا قَدْ بَايَعْنَاكَ، فَعَلاَمَ نُبَايِعُكَ؟ قَالَ: "أَنْ تَعْبُدُوا اللَّهَ وَلاَ تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا وَتُصَلُّوا الصَّلَوَاتِ الْخَمْسَ وَتَسْمَعُوا وَتُطِيعُوا، وَأَسَرَّ كَلِمَةً خَفِيَّةً، قَالَ: وَلاَ تَسْأَلُوا النَّاسَ شَيْئًا، قَالَ: فَلَقَدْ كَانَ بَعْضُ أُولَئِكَ النَّفَرِ يَسْقُطُ سَوْطُهُ فَمَا يَسْأَلُ أَحَدًا أَنْ يُنَاوِلَهُ إِيَّاهُ". قَالَ أَبُو دَاوُدَ: حَدِيثُ هِشَامٍ لَمْ يَرْوِهِ إِلاَّ سَعِيدٌ.

(1): صحیح مسلم/الزكاة ۳۵(۱۰۴۳)، سنن النسائي/الصلاة ۵(۴۶۱)، سنن ابن ماجه/الجهاد ۴۱(۲۸۶۸)، (تحفة الأشراف: ۱۰۹۱۹)، وقد أخرجه: مسند احمد(۲۷/۶)(صحیح)

دَ حضرت ابو مسلم خولانی نه روایت دې چه ما ته یو حبیب (خوږ) او امین کس حدیث بیان کړو - هغه زما محبوب او ما ته قریب او نزدې امین دې (یعنی) حضرت عوف بن مالک رضی الله عنه هغه بیان کوی چه مونږ دَ رسول الله ﷺ په خدمت کښې اووهٔ یا اتهٔ یا نههٔ افراد وو، حضور ﷺ اوفرمائیل: آیا تاسو دَ الله دَ رسول سره بیعت نهٔ کوئ؟ حالانکه مونږ اوس اوس تازه بیعت کړې وو - مونږ اووې مونږ بیعت کړې دې، مگر هغوی ﷺ خپله خبره درې ځله اوفرمائیله - پس مونږ خپل لاسونه وراوږدهٔ کړل او بیعت مو اوکړو - یو کس اووې اې دَ الله رسوله! مونږ (ددې نه وړاندې) ستاسو نه بیعت کړې دې نو اوس په څهٔ خبره باندې بیعت اوکړو؟ حضور ﷺ اوفرمائیل: "(په دې خبره باندې چه) صرف دَ الله عبادت به کوئ، دَ هغه سره به څهٔ څیز شریک نهٔ جوړوئ، پنځه وخته مونځ به کوئ او (دَ احکام شریعت او دَ حکامو خبره به) اورئ او منئ به ئې - او یوه خبره ئې په مزه غوندې اوفرمائیله: "دَ خلقو نه به څهٔ نهٔ غواړئ -" بیان کوی چه بیا دَ هغه خلقو حال دا وو کهٔ دَ چا نه به څهٔ کوړه (چابک) هم پریوتلو نو هغه به چا ته داسې نهٔ وئیل چه دا رواخله او ما ته ئې راکړه -

تشریح: قوله: عن عَوْفُ بْنُ مَالِكٍ قَالَ كُنَّا عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– سَبْعَةً أَوْ ثَمَانِيَةً أَوْ تِسْعَةً فَقَالَ « أَلاَ تُبَايِعُونَ رَسُولَ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– ». وَكُنَّا حَدِيثَ عَهْدٍ بِبَيْعَةٍ

عوف بن مالک رضی الله عنه فرمائي: چه مونږ یوه ورځ د نبی کریم ﷺ په مجلس کښې اووهٔ یا اتهٔ یا نهه کسان موجود وو، نبی کریم ﷺ اوفرمائیل: چه آیا ما سره بیعت نه کوئ، هغه فرمائي چه چونکه مونږ نزدې زمانه کښې د نبی کریم ﷺ سره بیعت کړې وو، یعنی بیعة اسلام، ددې وجې نه مونږ عرض اوکړو، چه یا رسول الله ﷺ مونږ خو تاسو سره بیعت کړې دې، نو اوس په کوم څیز باندې بیعت اوکړو، په دې باندې نبی کریم ﷺ هغې حاضرینو ته په بعضو اعمالو باندې بیعت اوکړو، کوم چه په حدیث کښې ذکر دی.

د صوفیانو په بیعت سلوک باندې استدلال:

حضرت شیخ په حاشیه دبذل کښې لیکلې دی، چه په دې حدیث کښې په بیعت او سلوک باندې چه د صوفیاؤ په نزد مشهور دی، دلیل ملاویږی، ځکه ظاهره خبره ده، چه دا بیعت علی الاسلام خو وو نه، بلکه په اعمال صالحه او د کفر او شرک نه بچ کیدو باندې وو،

و فی المنهل تحت عنوان، فقه الحدیث، دل الحدیث علی ما کان علیه النبی صلی الله علیه وسلم من الحرص علی نشر الدعوة و تبلیغ الاحکام کلما وجد الی ذلک سبیلا، وعلی مشروعیة التعاهد علی البر والتقوی. اهـ

قوله: وَأَسَرَّ كَلِمَةً خَفِيَّةً: او یوه خبره نبی کریم ﷺ په مزه آواز سره اوفرمائیله، دې دپاره چه تول ئې واؤنړی، هغه دا چه وَلاَ تَسْأَلُوا النَّاسَ شَيْئًا ». ددې عدم سوال هدایت نبی کریم ﷺ په مزه ځکه اوفرمائیل، چه د خلقو حالات مختلف وی، د بعضو دپاره د سوال گنجائش وی، بلکه بعضې وخت کښې ضروری وی، او د بعضو دپاره د سوال کولو گنجائش نه وی، ددې

وجې نه ټول خلق ددې مخاطب او مکلف نه شو. (کذا في المنهل)[1]

قَالَ فَلَقَدْ كَانَ بَعْضُ أُولَئِكَ النَّفَرِ يَسْقُطُ سَوْطُهُ فَمَا يَسْأَلُ أَحَدًا هغه خبره چه نبی کریم ﷺ صحابه کرامو ته پټه بیان کړه، په هغې باندې هغې حضراتو چه کوم شدت سره عمل اوکړو، راوی هغې لره بیانوی، چه دغې بیعت کونکو کښې د بعضو حال دا وو، چه که په هغوی کښې به چرته د سور سړی کوړا هم په زمکه پریوته، نو بل چاته به ئې سوال نه کولو، چه رائې کړه، بلکه په خپله به د سورلئ نه کوزیدو، او هغه به ئې پورته کوله، رضی الله تعالی عنهم و عن سائر الصحابة،

والحديث اخرجه ايضا مسلم و النسائي وكذا ابن ماجه في باب البيعة واشار المصنف الى كونه غريبا بقوله حديث هشام لم يروه الا سعيدا(منهل)

[١٦٤٣](٢) حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُعَاذٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ عَاصِمٍ، عَنْ أَبِي الْعَالِيَةِ، عَنْ ثَوْبَانَ، قَالَ: وَكَانَ ثَوْبَانُ مَوْلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ تَكَفَّلَ لِي أَنْ لَا يَسْأَلَ النَّاسَ شَيْئًا وَأَتَكَفَّلُ لَهُ بِالْجَنَّةِ؟" فَقَالَ ثَوْبَانُ: أَنَا، فَكَانَ لَا يَسْأَلُ أَحَدًا شَيْئًا.

د حضرت ثوبان رضی الله عنه نه مروی دی او دا د حضور ﷺ مولیٰ (غلام او خادم) وو - بیان کوی چې رسول الله ﷺ اوفرمائیل: څوک دې چه هغه ماته دا ضمانت راکړی چه هغه به د خلقو نه څۀ نۀ غواړي چه زۀ هغه ته د جنت ضمانت ورکړم -؟ نو حضرت ثوبان رضی الله عنه اووې زۀ - چنانچه هغه به د هیچا نه سوال نۀ کوو -"

بَابٌ فِي الِاسْتِعْفَافِ

باب: ۲۸ - د سوال نه د بچ کیدو فضیلت

عفة په معنی د ترک او پرهیز، وئیلې شی، عف عن الشيء يعف، من باب ضرب عفا و عفة و عفافا ای امتنع عنه پس مطلب دا شو، چه د سړی د الله تعالی نه عفة عن السوال طلب کول، یعنی چه الله تعالی هغه لره د سوال نه بچ کړی.

[١٦٤٤](٢) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، عَنْ مَالِكٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَزِيدَ اللَّيْثِيِّ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، أَنَّ نَاسًا مِنَ الْأَنْصَارِ سَأَلُوا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَعْطَاهُمْ، ثُمَّ سَأَلُوهُ فَأَعْطَاهُمْ، حَتَّى إِذَا نَفِدَ مَا عِنْدَهُ، قَالَ: "مَا يَكُونُ عِنْدِي مِنْ خَيْرٍ فَلَنْ أَدَّخِرَهُ عَنْكُمْ، وَمَنْ يَسْتَعْفِفْ يُعِفَّهُ اللَّهُ، وَمَنْ يَسْتَغْنِ يُغْنِهِ اللَّهُ، وَمَنْ يَتَصَبَّرْ يُصَبِّرْهُ اللَّهُ، وَمَا أَعْطَى اللَّهُ أَحَدًا مِنْ عَطَاءٍ أَوْسَعَ مِنَ الصَّبْرِ".

---

[1]) زما په ذهن کښې ددې حکمت دا راغلې دې چه دا جزء هغوی د راز په طور اوفرمائیلو چه بعضې دا واوری او بعضې ئې وانه ورې او دخلقو عادت وی چه د راز او پټې خبرې لټون او تپوس کوی دغسې دلته د حضور ﷺ د مجلس نه د پاسیدلو نه پس د یوبل نه تپوسونه کول چه حضور ﷺ دا پټه څه خبره اوفرمائیله؟ چه په دې کښې به په دې خبره کښې نور هم اهمیت پیدا کیږی. والله تعالى أعلم بالصواب.

[2]): تفرد به أبو داود،(تحفة الأشراف :٢٠٨٣)، وقد أخرجه: سنن النسائي/الزكاة ٨٦(٢٥٩١)، سنن ابن ماجه/الزكاة ٢٥(١٨٣٧)، مسند احمد(٢٧٥/٥، ٢٧٦، ٢٧٩، ٢٨١)(صحيح)

[3]): صحيح البخاري/الزكاة ٥٠(١٤٦٩)، والرقاق ٢٠(٦٤٧٠)، صحيح مسلم/الزكاة ٤٢(١٠٥٣)، سنن الترمذي/البر ٧٧(٢٠٢٤)، سنن النسائي/الزكاة ٨٥(٢٥٨٩)،(تحفة الأشراف: ٤١٥٢)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الصدقة ٢(٧)، مسند احمد(٣/٣، ٩، ١٢، ١٤، ٤٧، ٩٣)، سنن الدارمي/الزكاة ١٨(١٦٨٦)(صحيح)

دَ حضرت ابو سعيد خدري ﷺ نه روايت دې چه دَ انصارو څهٔ خلقو دَ نبي كريم ﷺ نه سوال اوكړو نوحضور ﷺ هغوی ته عنايت اوفرمائيلو- هغوی بيا سوال اوكړو نو حضور ﷺ هغوی ته وركړل تردې پورې چه دَ حضور ﷺ سره څهٔ وو ، هغه ټول ختم شو نو حضور ﷺ اوفرمائيلِ : زما سره چه كوم مال هم وی هغې لره به زهٔ هر ګز ستاسو نه، نهٔ ذخيره كووم او څوک چه دَ سوال نه ځان بچ كوی الله تعالیٰ به هغه لره بچ كوی او څوک غنا اختياروی الله تعالیٰ به هغه لره غنی كوی- او څوک چه صبر كوی الله تعالیٰ به دَ هغه نه صابر جوړوی اودَ صبر نه بل كوم داسې وسيع نعمت نشته چه الله تعالیٰ چاته وركړې وی

عَنْ أَبِى سَعِيدٍ الْخُدْرِىِّ أَنَّ نَاسًا مِنَ الأَنْصَارِ سَأَلُوا رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- فَأَعْطَاهُمْ ثُمَّ سَأَلُوهُ فَأَعْطَاهُمْ حَتَّى إِذَا نَفِدَ مَا عِنْدَهُ قَالَ « مَا يَكُونُ عِنْدِى مِنْ خَيْرٍ فَلَنْ أَدَّخِرَهُ عَنْكُمْ

يعنی بعضو انصارو به د نبی كريم ﷺ نه بار بار سوال كولو، څه وقفې سره، نبی كريم ﷺ به هغوی ته وركول، تردې پورې چه څه د نبی كريم ﷺ سره وو، هغه پاتې نشو، نو يوه ورځ نبی كريم ﷺ هغوی ته اوفرمائيل: چه ګورئ، څه مال چه ماسره وی، هغې لره زهٔ چرې هم سنبهالوم نه، بلكه هغه تقسيموم، بيا ئې اوفرمائيل: وَمَنْ يَسْتَعْفِفْ يُعِفَّهُ اللَّهُ وَمَنْ يَسْتَغْنِ يُغْنِهِ اللَّهُ

شرح حديث :

كوم سړې چه ـ خپل نفس نه عفة عن السوال طلب كوی، يعنی د سوال نه د بچ كيدو كوشش كوی، او خپل نفس په دې باندې اماـه كوی، او يا مطلب دادې، چه كوم سړې د الله تعالی نه عفت عن السوال طلب كوی، او دا غواړی، چه الله تعالی هغه لره د سوال نه اوساتی، يعفه الله نو بيا واقعی الله تعالی هغه لره بچ كوی، او دې پسې جملې مطلب دادې، چه كوم سړې خپله غنی ښكاره كوی، او د خلقو نه استغناء كوی، نو بيا الله تعالی هغه لره په رشتيا غنی جوړوی، دمال په ذريعې سره يا دغنی القلب په ذريعې سره،

وَمَنْ يَتَصَبَّرْ يُصَبِّرْهُ اللَّهُ او كوم سړې چه د الله تعالی نه توفيق د صبر طلب كوی، يا كوم سړې چه خپل ځان لره په صبر باندې آماده كوی، او په تكلف سره صبر اختياروی، نو الله تعالی هغه ته د صبر خصلت وركوی، چه بيا دهغې په ذريعې دهٔ دپاره صبركول آسان وی.

وَمَا أَعْطَى اللَّهُ أَحَدًا مِنْ عَطَاءٍ أَوْسَعَ مِنَ الصَّبْرِ ». يعنی د صبر نه زيات څه دولت خو چاته وركړې شوې نه دې، ځكه چه ددې نه لوئې څه خصلت نشته، ځكه چه صبر داسې يو خصلت دې، چه ددې ضرورت د ژوند د شعبو نه په هره شعبه كښې پيښيږی، ځكه چه انسان ته ژوند په منزلونو كښې په هر منزل كښې څه نه څه ناخوښه خبره پيښيږی، او دهغې بهترين علاج او حل صبر دې، نو ګويا چه صبر د انسان په قدم قدم باندې پكار راتلونكې څيز دې، ددې وجې نه دې ته اوسع العطايا فرمائيلې شوې دې، د صبر خلاصه رضا بالقضاء ده،[1] چه كومه ناخوښه خبره پيښه شوې ده ، هغه منجانب الله او د الله تعالی د تقدير نه ده، او

---

[1] دا تفسير د صبر بالمعصيت دې، د صبر دوه قسمونه دی: (۱) صبر عن المصعيت: نفس د مصيت (ګناه) نه د منع كولو كوشش كول. (۲) صبر علي الطاعة: خپل نفس په اطاعت باندې مضبوط ساتل او په دې كښې مشقت برداشت كول.

پته نه لګی، چه په هغې کښې څومره مصلحتونه پټ دی.
والحديث اخرجه ايضا البخاری و مسلم والنسائی والترمذی(منهل)

[۱۶۴۵](¹) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ دَاوُدَ. ح وحَدَّثَنَا عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ حَبِيبٍ أَبُو مَرْوَانَ، حَدَّثَنَا ابْنُ الْمُبَارَكِ وَهَذَا حَدِيثُهُ، عَنْ بَشِيرِ بْنِ سَلْمَانَ، عَنْ سَيَّارٍ أَبِي حَمْزَةَ، عَنْ طَارِقٍ، عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ أَصَابَتْهُ فَاقَةٌ فَأَنْزَلَهَا بِالنَّاسِ لَمْ تُسَدَّ فَاقَتُهُ وَمَنْ أَنْزَلَهَا بِاللَّهِ أَوْشَكَ اللَّهُ لَهُ بِالْغِنَى إِمَّا بِمَوْتٍ عَاجِلٍ أَوْ غِنًى عَاجِلٍ".

د حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل: "چاته چه انتهائی سخت حاجت پيښ شو او دهٔ هغې لره په خلقو باندې پيش کړو نو ددهٔ دا حاجت به نهٔ پوره کيږی او چاچه په الله پاک باندې پيش کړو نو عنقريب به الله تعالىٰ دهٔ لره بې پرواه کړی - يا به دهٔ ته زر مرګ راشی (او دَ دنيا دَ غمونو او مصيبتونونه به دهٔ لره خلاص کړی) يا به زر غنی شی - (او هيڅا ته به ئې حاجت پاتې نهٔ شی -)

عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « مَنْ أَصَابَتْهُ فَاقَةٌ فَأَنْزَلَهَا بِالنَّاسِ لَمْ تُسَدَّ فَاقَتُهُ وَمَنْ أَنْزَلَهَا بِاللَّهِ أَوْشَكَ اللَّهُ لَهُ بِالْغِنَى(²)

تشريح: قوله: إِمَّا بِمَوْتٍ عَاجِلٍ أَوْ غِنًى عَاجِلٍ »(³)

کوم سړی ته چه فقيری او اولږه پيښه شی، او هغه دې لره د خلقو په مخکښې بيانوی، نو دهغه اولږه ختميږی نه، ځکه چه اول خو دا ضروری نه ده، چه هغه دهٔ ته څه ورکړی، او که څه ورکړی، نو خلقو ته حاجت خو ئې باقی پاتې دې، دهغې نه ئې استغناء رانغله، او څوک چه خپلې دې فاقې لره الله تعالى ته بيان کړی، او دهغه نه خپل حاجت طلب کړی، نو (دا د دواړو حالتونو نه خالی نه دې) يا خو به الله تعالى دهغه انتظام په موت عاجل سره اوفرمائی، چه نزدې زمانه کښې به دهغه څه نزدې رشته دار وفات کړی، او دهغه د ميراث نه به ددهٔ حاجت پوره کړی، يا مطلب دادې، چه خپله دا حاجت مند به وخت پوره کيدو د وجې نه پورته کړی، نه به محتاج وی، او نه به حاجت باقی وی، دويم شکل دادې، چه دهٔ ته به په څه طريقې سره سمدستی غناء ورکړی.
والحديث اخرجه ايضا الترمذی و قال حسن غريب، (منهل)

---

¹): سنن الترمذي/الزهد ۱۸(۲۳۲۶)(تحفة الأشراف :۹۳۱۹)، وقد أخرجه: مسند احمد(۱/۳۸۹، ۴۰۷، ۴۴۲)(صحيح)

²) غنی په کسرې د غين او قصر يعنی مالداری او د مصابيح په نسخه کښې بالغناء دې يعنی په فتحه د غين او مدسره چه ددې معنی کفايت (کافی کيدل) ده، د مصابيح په شروحو کښې ليکلی دی چه غناء صحيح دې ځکه چه دحديث مطلب دادې چه داسې کس ته به الله تعالى ضرور کفايت ورکوی، روستو ئې په حديث کښې د کفايت دوه شکلونه بيان کړی دی.(عون المعبود)

³) د ابوداؤد په ټولو نسخو کښې دغه شان دې اَوْغِنًي عَاجِلٍ ليکن په مشکوة کښې اَوْغِنًي آجِلٍ (په همزه سره) دې. علامه طيبی هم دې ته ترجيح ورکړې ده، خو دا صحيح نه ده په ظاهره راجح همدا دې کوم چه دلته دې ځکه چه دحديث مطلب دادې چه الله تعالى داسې سړی ته ضرور کفايت ورکوی او فورا دهغه انتظام کوی که دهغه يو رشته دار ته مرګ ورکولوسره وی او که په بله طريقه وی، (من البذل والمنهل)

[۱۶۴۶]([1]) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ بْنُ سَعْدٍ، عَنْ جَعْفَرِ بْنِ رَبِيعَةَ، عَنْ بَكْرِ بْنِ سَوَادَةَ، عَنْ مُسْلِمِ بْنِ مَخْشِيٍّ، عَنِ ابْنِ الْفِرَاسِيِّ، أَنَّ الْفِرَاسِيَّ، قَالَ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَسْأَلُ يَا رَسُولَ اللَّهِ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا، وَإِنْ كُنْتَ سَائِلًا لَا بُدَّ فَاسْأَلِ الصَّالِحِينَ".

د ابن الفراسی نه روایت دي چه فراسی رضی الله عنه رسول الله ﷺ ته اووئیل: اې د الله رسوله! ایا زهٔ سوال کووم؟ حضور ﷺ اوفرمائیل: نهٔ - کهٔ چرې ته ضرور سوال کوې چه د هغې نه ستا خلاصې نهٔ وی نو د نیک خلقو نه سوال کوه -

عَنِ ابْنِ الْفِرَاسِيِّ أَنَّ الْفِرَاسِيَّ قَالَ لِرَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- أَسْأَلُ يَا رَسُولَ اللَّهِ فَقَالَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- « لاَ وَإِنْ كُنْتَ سَائِلاً لاَ بُدَّ فَسْأَلِ الصَّالِحِينَ ».

او که سوال ستا دپاره ډیر ضروري وی، نو بیا د صالحانو نه سوال کوه، ځکه چه د صالح نه سوال کولو کښې زیات ذلت نه وی، ځکه چه صالح سړې یو مسلمان لره ذلیل نه ګنړی، دویم داچه که هغه سره څه وی، نو دربه کړی، ګنی کم از کم دعاء به درته اوکړی، او مناسب لاره به درته اوښائی.

دې حدیث لره ابن الفراسی د خپل پلار فراسی نه روایت کوی، بنو فراس یوه قبیله ده، په دې دواړو کښې د هیچا نوم معلوم نه دې، او بعضې وائی، چه فراسی ئې نوم وو، او وئیلې شوی دی، چه صحیح فراس دې، یعنی بغیر د یاء نسبت نه، او فراس دهغه نوم دې، والحدیث اخرجه ایضا النسائی، ((منهل)

[۱۶۴۷]([2]) حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ الطَّيَالِسِيُّ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ بُكَيْرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْأَشَجِّ، عَنْ بُسْرِ بْنِ سَعِيدٍ، عَنِ ابْنِ السَّاعِدِيِّ، قَالَ: اسْتَعْمَلَنِي عُمَرُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَلَى الصَّدَقَةِ، فَلَمَّا فَرَغْتُ مِنْهَا وَأَدَّيْتُهَا إِلَيْهِ أَمَرَ لِي بِعُمَالَةٍ، فَقُلْتُ: إِنَّمَا عَمِلْتُ لِلَّهِ وَأَجْرِي عَلَى اللَّهِ، قَالَ: خُذْ مَا أُعْطِيتَ فَإِنِّي قَدْ عَمِلْتُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "فَعَمَّلَنِي"، فَقُلْتُ مِثْلَ قَوْلِكَ، فَقَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا أُعْطِيتَ شَيْئًا مِنْ غَيْرِ أَنْ تَسْأَلَهُ فَكُلْ وَتَصَدَّقْ".

حضرت ابن ساعدی رضی الله عنه بیان کوی چه حضرت عمر رضی الله عنه ماله د زکات تحصیلدار جوړ کړو اووې لیږلم- کله چه زهٔ ددې کار نه فارغ شوم او راغلم او جمع کړې شوی صدقات مې هغوی ته پیش کړل نو هغوی زما په باره کښې حکم اوکړو چه دهٔ ته دې ددهٔ حق الخدمت ورکړې شی ما اووې نهٔ ما دا کار د الله د پاره کړې دې او زما اجر په الله پاک باندې دې - هغوی اوفرمائیل: کوم څهٔ چه تاته درکولې شی هغه واخله، ما هم د رسول الله ﷺ په زمانه کښې (داسې قسم) کار کړې وو، نو حضور ﷺ ماته د هغې حق الخدمت راکړې وو، ما هم ستا غوندې جواب ورکړې وو، نو رسول الله ﷺ ماته فرمائیلې وو: " کله چه تاته څهٔ څیز درکړې شی بغیر ددې نه چه تهٔ د هغې سوال اوکړې نو (هغې لره واخله او) اوخوره او صدقه ئې کړه -"

[1]: سنن النسائي/الزكاة ٨٤(٢٥٨٨)، (تحفة الأشراف: ١٥٥٢٤)، وقد أخرجه: مسند احمد(٣٣٤/٤)(ضعيف)

[2]: صحيح البخاري/الزكاة ٥١(١٤٧٣)، صحيح مسلم/الزكاة ٣٧(١٠٤٥)، سنن النسائي/الزكاه ٩٤(٢٦٠٥)، (تحفة الأشراف: ١٠٤٨٧)، وقد أخرجه: مسند احمد(١٧/١، ٤٠، ٥٢)(صحيح)

تشریح: قوله: عَنِ ابْنِ السَّاعِدِيِّ قَالَ اسْتَعْمَلَنِي عُمَرُ – رضی الله عنه – عَلَى الصَّدَقَةِ فَلَمَّا فَرَغْتُ مِنْهَا وَأَدَّيْتُهَا إِلَيْهِ أَمَرَ لِي بِعُمَالَةٍ

عمالة يعنى اجرة عمل، او دهغه وظيفه مضمون دحديث واضحه دی، فَقَالَ لِى رَسُولُ اللَّهِ – صلى الله عليه وسلم– « إِذَا أُعْطِيتَ شَيْئًا مِنْ غَيْرِ أَنْ تَسْأَلَهُ فَكُلْ وَتَصَدَّقْ » يعنى كله هم چرته يو څيز بغير د سوال او د اشراف نفس نه راشی، نو هغې لره قبلوه، او قبلولو نه پس ئې خوره، او صدقه کوه ئې هم.

حضرت شيخ رحمه الله به فرمائيل، چه صوفيان وائی، چه که يو ځيز حلال بغير د فرمائش او لالچ نه ملاؤ شی، نو هغې لره د الله تعالى د طرف نه کنټرول پکار دی، هغې لره رد کول جائز نه دی، کنی بيا په سوال باندې هم نه ملاويږی، صاحب منهل ليکلې دی، چه د داسې ځيز قبلول د امام احمد رحمه الله په نزد واجب دی، د ظاهر حديث په بناء باندې، او د جمهورو په نزد صرف مستحب دی.[1]

تنبيه: ددې حديث په سند کښې دی، عن ابن الساعدی، قاضی عياض فرمائي الصواب ابن السعدی و اسمه قدامة ابن وقدان و قيل عمرو بن وقدان، هغوی فرمائي چه دهٔ ته سعدی ددې وجې نه وئيلې شی، چه دهٔ په ماشوموالی کښې قبيله بنو سعد بن بکر کښې پئی څکلې وو، هسې دې قرشی، عامری، او مالکی دې، من بنی مالک بن حنبل بن عامر، او ددهٔ د ځوی نوم عبدالله بن السعدی دې، هغه هم صحابی دې، لهذا دې صحابی ابن الصحابی شو، حافظ منذری رحمه الله فرمائي واما الساعدی فنسبة الى بنی ساعده من الانصار من الخزرج ولا وجه له ههنا يعنی د ساعدی د صحيح کيدلو دلته کښې هيڅ صورت نشته، بلکه ابن السعدی صحيح دې، (من العون)

زهٔ وايم، حافظ د تقريب په شرع کښې ابن الساعدی نه دې اخستلې، صرف ابن السعدی ئې اخستلې دې، وقال هو عبدالله. ا هـ

والحديث اخرجه ايضا مسلم والنسائی من طريق المصنف بلفظه واخرجه البخاری والنسائی من طريق الزهری عن ابن السعدی بلفظ تقدم ا هـ (منهل)

---

[1] علامه عينی د طبری نه نقل کړی دی هرکله چه دا خبره ده چه الله تعالى داهل کتابونه جزيه اخستل فرمائيلی دی حالاتکه دا خبره ښکاره ده چه ددوی اکثر مالونه د حرام کاروبار، شرابونو، خنزيرانو، او د سودی معاملاتو په ذريعه حاصل شوی دی نو بيا په اهل اسلام کښې چه دچا سره مال دې چه دهغې باره کښې دا معلوم نه وی چه هغه دا څنګه ګټلې دې جائز طريقې سره ئې ګټلې دې اوکه ناجائز طريقې سره، ددې قبلول جائز دی په دې شرط چه بعينه هم ددغې مال حرام کيدل معلوم نه وی کوم چه هغه درکوی. اهـ (منهل) قلت لي فيه نظر، اهل اسلام په اهل کتاب باندې قياس کول څنګه صحيح دی؟ ځکه چه اهل کتاب دپاره شراب او خنزير حلال دی. وفي نور الانوار (تحت عنوان هل الكفار مخاطبون بالفروع) الا الخمر والخنزير فان الخمر لهم كالخل لنا والخنزير له كالشاة لنا.اهـ فتأمل.

[١٦٤٨]() حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ نَافِعٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وَهُوَ عَلَى الْمِنْبَرِ وَهُوَ يَذْكُرُ الصَّدَقَةَ وَالتَّعَفُّفَ مِنْهَا وَالْمَسْأَلَةَ: "الْيَدُ الْعُلْيَا خَيْرٌ مِنَ الْيَدِ السُّفْلَى، وَالْيَدُ الْعُلْيَا الْمُنْفِقَةُ وَالسُّفْلَى السَّائِلَةُ". قَالَ أَبُو دَاوُد: اخْتُلِفَ عَلَى أَيُّوبَ، عَنْ نَافِعٍ فِي هَذَا الْحَدِيثِ، قَالَ عَبْدُ الْوَارِثِ: "الْيَدُ الْعُلْيَا الْمُتَعَفِّفَةُ"، وَقَالَ أَكْثَرُهُمْ: عَنْ حَمَّادِ بْنِ زَيْدٍ، عَنْ أَيُّوبَ، "الْيَدُ الْعُلْيَا الْمُنْفِقَةُ"، وَقَالَ وَاحِدٌ: عَنْ حَمَّادٍ، "الْمُتَعَفِّفَةُ".

د حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دې چه رسول الله ﷺ په منبر باندې اوفرمائيل، او حضور ﷺ د صدقې او د هغې نه د بچ كيدو (فضيلت) او د سوال كولو (مذمت) بيانولو، وې فرمائيل: بره لاس د ښكته لاس نه بهتر دې- بره لاس خرچ والا لاس وى او لاندې لاس سوال كوونكې وى-" امام ابوداود رحمه الله فرمائى چه په دې روايت كښې په ايوب باندې كوم چه د نافع نه روايت كوى، اختلاف كړې شوې دې عبد الوارث وئيلې دى چه د بره لاس نه مراد " المتعفّفه " دې يعنى چه كوم سوال او غوښتنه نۀ كوى- او په واسطه د سلمان بن زيد د ايوب نه روايت كوونكى اكثر حضرات د بره لاس نه مراد " المنفقه " يعنى خرچ كولو والا لاس، بيانوى- د حماد نه صرف يو راوى (مسدد بن مسرهد) المتعفّفه ذكر كړې دې-

تشريح: قوله: عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ .....« الْيَدُ الْعُلْيَا خَيْرٌ مِنَ الْيَدِ السُّفْلَى .... وَقَالَ وَاحِدٌ عَنْ حَمَّادٍ « الْمُتَعَفِّفَةُ ».

شرح حديث:

د متن په الفاظو كښې چه د راويانو كوم اختلاف دې، مصنف هغې لره بيانوى، هغه دا دې، چه دې حديث لره د نافع نه روايت كونكې يو خو مالک دې، چه د هغه روايت د ټولو نه اول مصنف بيان كړو، هغه د خود اليد العليا تفسير المنفقة سره روايت كړې دې، او دويم سړې د نافع نه روايت كونكې ايوب سختيانى دې، بيا د ايوب شاګردان ځپلو كښې مختلف دى، بعضو دهغه نه هم دا نقل كړې دى، (اليد العليا المنفقة) او بعضو ددې نه خلاف اليد العليا المتعففة نقل كړې دې، د ثانى روايت كونكې عبد الوارث دې، او د اول نقل كونكې د ايوب نه حماد بن زيد دې، د حماد اكثرو شاګردانو دهغه نه هم دا نقل كړې دى، (المنفقة، ليكن د حماد صرف يو شاګرد دهغه نه المتعففة نقل كړې دى، حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي (فتح ص٢٣٦ ج٣) چه د يو نه مراد مسدد دې، بيا مخكښې فرمائي چه يو نه دې، بلكه دوه دى، دويم ابو الربيع الزهرانى دې ١ه، په عون المعبود كښې ليكلې دى، رجع الخطابى فى المعالم رواية المتعففة وقال انها اشبه و اصح و رحج ابن عبد البر فى التمهيد رواية المنفقة و كذا رواه البخارى فى صحيحه و قال النووى فى شرح المسلم انه الصحيح قال المنذرى و اخرجه البخارى و مسلم و النسائى بهذا اللفظ اليد العليا المنفقة والسفلى السائلة، ١ هـ (عون) حافظ فرمائي چه د اكثرو احاديثو نه دا معلوميږى، چه يد عليا منفقه دې، او سفلى سائله دې،

[1]: صحيح البخاري/الزكاة ١٨(١٤٢٩)، صحيح مسلم/الزكاة ٣٢(١٠٣٣)، سنن النسائي/الزكاة ٥٢(٢٥٣٤)، (تحفة الأشراف: ٨٣٣٧)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الصدقة ٢(٨)، مسند احمد(٢/٩٧)، سنن الدارمي/الزكاة ٢٢(١٦٩٢)(صحيح)

قال وهذا هو المعتمد وهو قول الجمهور. اهـ

[١٦٤٩](1) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا عَبِيدَةُ بْنُ حُمَيْدٍ التَّيْمِيُّ، حَدَّثَنِي أَبُو الزَّعْرَاءِ، عَنْ أَبِي الْأَحْوَصِ، عَنْ أَبِيهِ مَالِكِ بْنِ نَضْلَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الْأَيْدِي ثَلَاثَةٌ: فَيَدُ اللَّهِ الْعُلْيَا، وَيَدُ الْمُعْطِي الَّتِي تَلِيهَا، وَيَدُ السَّائِلِ السُّفْلَى، فَأَعْطِ الْفَضْلَ وَلَا تَعْجِزْ عَنْ نَفْسِكَ".

د حضرت مالک بن نضله رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل :لاس په درې قسمه باندې دي يو لاس دَ الله دې کوم چه دَ ټولو نه بره دې - دويم دَ ورکوونکی لاس دې کوم چه دَ هغې نه پس دې - او دَ سائل لاس دَ ټولو نه لاندې دې. لهذا چه کوم زياتی دې هغه ورکړئ او د خپل نفس په وړاندې عاجز مهٔ جوړيږه -(دَ نفس خبره مهٔ منه -") -

عَنْ مَالِكِ بْنِ نَضْلَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « الأَيْدِى ثَلاَثَةٌ فَيَدُ اللَّهِ الْعُلْيَا وَيَدُ الْمُعْطِى الَّتِى تَلِيهَا وَيَدُ السَّائِلِ السُّفْلَى

جمع بين الروايات:

ټول احاديث مخښې ته ايخودلو نه پس وئيلې شی، چه علو حقيقی خو يد دالله تعالی ته حاصل دې، او په انسانانو کښې يد عليا المنفقة دې، او يد سفلی سائله دې، او بيا که نور زيات تفصيل اوکړې شی، نو داسې به وئيلې شی، چه ترتيب داسې دې، المنفقة المتعففة عن الاخذ، الآخذة بغير سوال او اسفل الايدی اليد السائلة دې،(بذل عن الحافظ)

بَابُ الصَّدَقَةِ عَلَى بَنِي هَاشِمٍ

باب: ٢٩- بنی هاشم ته صدقه ورکول څنګه دی؟

(**عالی نسب**)د مسئله ترجمة الباب د بيان نه مخکښې بطور تمهيد ددې مضمون ذکر کول مناسب دی، چه حضور اکرم ﷺ قرشی هاشمی دې، قبيله قريش په ټولو قبائل عرب کښې د ټولو نه افضل ده، لکه چه په احاديثو کښې ددې تصريح شته، دترمذی شريف يو حديث مرفوع دې، ثم خيرا القبائل فجعلنی من خير القبيلة، او په صحيح مسلم کښې دی، الناس تبع لقريش فی هذا الشان،(ای الخلافة)

بيا په بطون قريش کښې(يعنی د قريشو په خاندانونو کښې) د ټولو نه افضل بنو هاشم دی، ځکه چه حضور اکرم ﷺ هاشمی دې، هغوی د هاشم بن عبدمناف د اولاد نه دی، هاشم دهغوی جد ثانی وو، د صحيح مسلم او د سنن ترمذی حديث دې، نبی کريم ﷺ اوفرمائيل: چه الله تعالی د ابراهيم عليه السلام د اولاد نه اسماعيل عليه السلام لره منتخب کړو، او د اسماعيل عليه السلام د اولاد نه بنو کنانه لره منتخب کړو(ددې نه مراد نضر بن کنانه دې، اګر چه د کنانه نور ځامن هم وو) او په بنو کنانه کښې ئې قريش منتخب کړل،(2) او په قريش کښې ئې بنو هاشم

---

(1): تفرد به أبو داود،(تحفة الأشراف :١١٢٠٥)، وقد أخرجه: مسند احمد(٤٧٣/٣)(صحيح)

(2) د نبی کريم ﷺ په اجداد کرام کښې د قريش مصداق څوک دی په دې کښې دوه اقوال مشهور دی: (١) نضربن کنانه، د نضر بن کنانه اولاد قريش دی. (٢) فهربن مالک، لهذا د فهر اولاد قريش دی، ددې نه اول قول جمهور طرف ته منسوب دې ددوی ﷺ په سلسله نسب کښې فهر بن مالک.......←

منتخب کړل، او په بنو هاشم کښې ئې زهٔ منتخب او ممتاز کړم،
د دغې علو نسبی او شرف اصلی د وجې نه شریعت مطهره بنو هاشم لره مصارف زکوة مقرر نه کړل، په حدیث شریف کښې دی، **ان هذه الصدقات انما هي اوساخ الناس و انها لا تحل لمحمد ولا لآل محمد**(رواه مسلم) یعنی د صدقې مال د خلقو خیرې دې، د محمد او آل محمد دپاره جائز نه دې، نو په دې باندې خو د ټولو علماؤ اجماع ده، چه د نبی کریم ﷺ دپاره زکوة جائز نه دې، بعضو علماؤ د صدقهٔ نافله باره کښې هم اجماع نقل کړې ده، چه هغه هم د نبی کریم ﷺ دپاره جائز نه ده، لیکن دا مسئله اجماعی نه ده، بلکه په دې کښې د بعضو اختلاف دې، اګر چه د جمهورو مسلک هم دادې، چه دا هم د نبی کریم ﷺ دپاره جائز نه وه، دغه شان په دې باندې هم اجماع ده، چه د بنو هاشم دپاره زکوة جائز نه دې، او په صدقة التطوع کښې اختلاف دې، عند الحنفیة په دې کښې دواړه اقوال دی، بعضو جواز ته ترجیح ورکړې ده، او بعضو عدم جواز ته ترجیح ورکړې ده، د حضرت ګنګوهی رائې په کوکب کښې د عدم جواز ده، او د باقی ائمه ثلاثة په نزد قول معتمد دادې، چه د هغوی دپاره صدقهٔ نافله جائز ده.(منهل)

په حرمة دصدقة کښې د بنو هاشم سره بنو المطلب هم شامل دی، او که نه:

د آل محمد ﷺ دپاره چه په دې حدیث کښې صدقه ناجائز کړې شوې ده، ددې نه مراد صرف بنو هاشم دی، یا ددوی سره بنو المطلب هم شامل دی؟ دا مسئله د علماؤ په مینځ کښې اختلافی ده، په اصل کښې د هاشم بن عبدمناف، چه دهغه په اولاد کښې نبی کریم ﷺ دې، دهغه درې ورونړه نور هم وو، مطلب، نوفل، عبد شمس، لهذا د دې څلورو واړو نه څلور خاندانونه جوړ شو، په دوی کښې د بنو هاشم مرتبه د ټولو نه اعلی ده، ځکه چه خپله حضور اکرم ﷺ ددې خاندان نه دې، بیا په نورو دریو خاندانونو کښې بنو المطلب ته دا خصوصیت او شرف حاصل دې، چه هغوی په زمانه جاهلیت او اسلام دواړو کښې د بنو هاشم نصرت او حمایت کړې دې، لکه په زمانه د مقاطعې د قریشو کښې په شعب ابی طالب کښې د بنو هاشم سره صرف بنو المطلب وو.
ددې وجې نه به نبی کریم ﷺ د غنیمت د خمس په تقسیم کښې بنو هاشم او بنو المطلب دواړو ته حصه ورکوله، په دې باندې د بنو نوفل او بنو عبد شمس بعض خلق د نبی کریم ﷺ په خدمت کښې حاضر شو او ګیله ئې اوکړه، چه تاسو د بنو هاشم سره صرف بنو المطلب شامل کړل، او باقی دوه قبیلې مو پرېخودلې، حالانکه کومه رشته چه تاسو سره د

ﻟﻪ..... په یوولسم پشت دې، او نضربن کنانه دیارلسم پشت، داسې: محمد بن عبدالله بن عبدالمطلب بن هاشم بن عبدمناف بن قصي بن کلاب بن مرة بن کعب بن لوي بن غالب بن فهر بن مالك بن النضر بن کنانه بن خزیمة بن [illegible] بن الیاس بن النضر بن نزار بن معد بن عدنان، په صحیح بخاری کښې د حضور ﷺ نسب عالی دلته پورې مذکور دې، علماؤ لیکلې دی چه ددې نه اخوا په صحیح طریق محفوظ نه دې. **فائده:** د خلفاء راشدینو نسب د حضور ﷺ سره داسې ملاوېږی چه علی د حضور ﷺ له په دویم پشت (عبدالمطلب) کښې او عثمان غنی په څلورم پشت (عبدمناف) او صدیق اکبر په اووم پشت (مرة) او عمر فاروق په اتم پشت (کعب) کښې ملاوېږی.

بنو المطلب ده، هغه زمونږ هم ده، ټول د يو نيکهٔ اولاد يو، په دې باندې نبی کريم ﷺ اوفرمائيل: انا و بني المطلب لا نفترق في جاهلية و لا اسلام و انما نحن و هم شئ واحد و شبک بين اصابعه، يعنی نبی کريم ﷺ د يو لاس ګوتې د بل لاس په ګوتو کښې داخل کړې، او وې فرمائيل، چه مونږ او هغوی د هميشه نه داسې يو، (رواه ابو داؤد، بذل) ص...ج ۴) مطلب دا شو، چه دا خو صحيح ده، چه درې واړه خاندانونه ما سره په قرابت کښې برابر دی، ليکن د نصرت او تعاون په اعتبار سره برابر نه دی، په دې اعتبار سره صرف بنو المطلب مونږ سره دی، ددې نه معلومه شوه، چه په خمس غنيمت کښې بنوهاشم سره بنو المطلب هم شامل دی.
اوس دا چه د حرمت صدقة په مسئله کښې هم بنو المطلب د بنو هاشم سره دی، او که نه؟ په دې کښې اختلاف دې، د امام ابو حنيفه رحمه الله او امام مالک رحمه الله په نزد شامل نه دی، او د امام شافعي رحمه الله په نزد داخل دی، د شافعي رحمه الله په نزد ددې دواړو د پاره زکوة جائز نه دې، او د حضرت امام احمد بن حنبل په دې کښې دواړه روايتونه دی، کما في المغني، يو پشان د شافعيه، او دويم پشان د احناف او مالکيه.
امام شافعي رحمه الله فرمائي چه نبی کريم ﷺ سهم ذوی القربی په قبائل قريش کښې چاته هم نه دې ورکړې، سوا د بنو هاشم او بنو المطلب نه، او په اصل کښې دا بدل دې، ددې نه چه په صدقاتو کښې دې دواړو قبيلو ته هيڅ نشي ورکولې، جمهور وائی، چه دا خبره نه ده، بلکه بنو المطلب ته په بله وجې سره سهم ورکړې شو، يعنی نصرت او حمايت، لکه چه دهغې حديث نه معلوميږی، کوم چه مخکښې تير شو، او نصرت او حمايت د اخذ زکوة نه مانع نه دې، بلکه ددې نه مانع صرف قرابت دې، او په قرابت کښې اقرب الی النبی ﷺ صرف بنو هاشم دی، باقی درې واړه خاندانونه په قرابت کښې برابر دی، لهذا دهغوی حکم به هم يو شان وی.

د بنو هاشم مصداق:

بيا يو اختلاف دلته کښې دا هم دې، هغه دا چه د بنو هاشم مصداق څوک دی؟ د احنافو په نزد په دې کښې پنځهٔ کورنئ داخلې دی، آل عباس، آل علی، آل جعفر، آل عقيل، (دا جعفر او عقيل دواړه د حضرت علی رضی الله عنه ورونړه دی) آل حارث بن عبد المطلب، د احنافو په نزد د ابو لهب اولاد په دې کښې داخل نه دی، ځکه چه د نبی کريم ﷺ خاندان والو کښې صرف دې پنځو کورنو د نبی کريم ﷺ نصرت او حمايت کړې وو، چه دهغې د وجې نه دوی د اعزاز او اکرام مستحق شو، په خلاف د ابو لهب نه، چه هغه نبی کريم ﷺ ته تکليفونه رسول، لهذا هغه د کرامت په ځائې د اهانت مستحق دې، او د جمهورو په نزد د ابولهب په اولاد کښې چه چا ايمان راوړې دې، هغه هم په دې کښې داخل دی، لکه عتبه و معتب، چه د فتح مکه په موقع ئې اسلام قبول کړې وو، او نبی کريم ﷺ دهغوی په اسلام راوړلو باندې خوشاله شوې وو. (منهل)
يو اختلاف دلته کښې دا هم دې، چه د بنو هاشم سره دهغوی موالی هم شامل دی، او که نه؟ مسئله اختلافی ده، د جمهور علماء ائمه ثلاثه په نزد د حديث الباب په بناء باندې (مولی

القوم من انفسم) د موالي بني هاشم حکم هم دا دې، او د امام مالک رحمه الله او د بعضو شوافعو په نزد هغوی په دې حکم کښې داخل نه دی.

ازواج مطهرات په دې حکم کښې داخل دی او که نه:

يو بحث دلته کښې دا هم دې، چه د آل (په کومو باندې چه صدقه حرام ده) په مصداق کښې ازواج مطهرات هم داخل دی او که نه؟ ابن بطال شارح بخاري، د امام بخاري په ترجمة باب الصدقة على موالى ازواج النبى (صلى الله عليه وسلم) لاندې فرمائي چه باتفاق فقهاء هرکله چه د نبی کريم ﷺ ازواج په دې حکم کښې داخل نه دی، نو موالی ازواج په طريقه اولی داخل نه دی، ليکن په دې باندې حافظ په فتح الباری کښې اولا يو اشکال کړې دې، [1] هغه داچه ابن قدامه په مغنی کښې د حضرت عائشه رضي الله عنها روايت ذکر کړې دې، چه هغې لره خلال په خپل سند سره ذکر کړې دې، دهغې مضمون دادې، چه يو ځل يو سړی د حضرت عائشې رضي الله عنها په خدمت کښې يو څيز بطور صدقه راؤليږو، نو هغې لره حضرت عائشې رضي الله عنها دې وينا سره واپس کړو، انا آل محمد لا تحل لنا الصدقة، چه مونږ آل محمد يو، او آل محمد ﷺ دپاره صدقه جائز نه ده، په دې باندې ابن قدامه ليکلې دی، چه دا حديث تحريم الصدقة على الازواج باندې دلالت کوی، په دې باندې حافظ ليکلې دی، (فتح) (ص۲۸۱ج۳) وهذا لا يقدح فما نقله ابن بطال بظاهر، د حافظ د کلام مطلب دادې، چه دا روايت د ابن بطال د روايت سره کوم چه هغه په اتفاق د علماؤ سره نقل کړې دې، منافی نه دې، د فقهاؤ اتفاق په خپل ځائي دې، دا جدا خبره ده، چه دا اثر عائشه په ظاهر کښې د هغوی د اتفاق نه خلاف دې، بهرحال دا د يو فقيه نه منقول نه دی، چه د نبی کريم ﷺ په ازواج باندې صدقه حرام ده، دې اثر عائشه رضي الله عنها لره علامه عينی مصنف ابن ابی شيبه طرف ته هم منسوب کړې دې.

زه وايم، چه د ازواج مطهرات په دې حکم کښې د نه داخليدو وجه دا ده، چه په هغوی کښې يوه هم هاشميه نه وه، ګو اکثرې په کښې قرشيه وې، لکه په نسائی شريف ص۸۱ج۲ کښې يو روايت دې، [2] چه يو ځل حضرت علی رضي الله عنه نبی کريم ﷺ ته عرض اوکړو، چه يا رسول الله ﷺ څه خبره ده، چه تاسو د خپلې نکاح دپاره قريش (يعنی هغه قريش چه هاشمی نه دی) خوښوئ، او مونږ لره يعنی بنو هاشم لره پريږدئ، په دې باندې نبی کريم ﷺ اوفرمائيل: چه آيا ستا په ذهن کښې داسې څوک هاشميه شته، چه هغې سره زه نکاح اوکړم، هغه اوئيل چه اوجی، بنت حمزه رضي الله عنه ده، په دې باندې نبی کريم ﷺ اوفرمائيل: چه حمزه زما رضاعی ورور دې، لهذا دهغه لور زما دپاره حلال نه ده، ددې نه هم دا معلوميږی، چه د نبی کريم ﷺ ټولې نکاح ګانې په غير بنو هاشمو کښې شوې دی.

---

[1] او بيا روسته ئې په خپله ددې جواب هم ورکړو.

[2] ولفظه عن ابی عبد الرحمن السلمی عن علی رضي الله عنه قال قلت يا رسول الله مالك تتوق فی قريش وتدعنا قال وعندك احد الحديث.

[۱۶۵۰](¹) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ، عَنْ الْحَكَمِ، عَنْ ابْنِ أَبِي رَافِعٍ، عَنْ أَبِي رَافِعٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ رَجُلًا عَلَى الصَّدَقَةِ مِنْ بَنِي مَخْزُومٍ، فَقَالَ لِأَبِي رَافِعٍ: "اصْحَبْنِي فَإِنَّكَ تُصِيبُ مِنْهَا"، قَالَ: حَتَّى آتِيَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَسْأَلَهُ، فَأَتَاهُ فَسَأَلَهُ، فَقَالَ: "مَوْلَى الْقَوْمِ مِنْ أَنْفُسِهِمْ وَإِنَّا لَا تَحِلُّ لَنَا الصَّدَقَةُ".

ابن ابی رافع د حضرت ابورافع رضی الله عنه نه روایت کوی چه نبی کریم ﷺ د قبیلهٔ مخزوم نه یو شخص د صدقاتو د پاره مقرر کړو، هغه ابو رافع ته اووې: زما سره لاړ شه، تاته به هم ددې نه حصه ملاؤ شي - هغه اووې: مخکښې زهٔ پیغمبر ﷺ ته ورځم چه د هغوی نه پوښتنه اوکړم، چنانچه هغه د حضور ﷺ په خدمت کښې راغې او تپوس ئې اوکړو، نو حضور ﷺ اوفرمائیل: " د قوم مولی (آزاد کړې شوې غلام) هم د قوم نه وی او زمونږ د پاره صدقه حلاله نهٔ ده -"

[۱۶۵۲](²) حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ، أَخْبَرَنَا أَبِي، عَنْ خَالِدِ بْنِ قَيْسٍ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَجَدَ تَمْرَةً، فَقَالَ: "لَوْلَا أَنِّي أَخَافُ أَنْ تَكُونَ صَدَقَةً لَأَكَلْتُهَا". قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ هِشَامٌ، عَنْ قَتَادَةَ، هَكَذَا.

د حضرت انس رضی الله عنه نه مروی دی چې نبی کریم ﷺ (په یوه لاره کښې) یوه کجوره بیا مونده، نو وې فرمائیل: کهٔ چرې دا یره نهٔ وې چه دا به د صدقې وی نو ما به دې لره خوړلې وې امام ابوداود رحمه الله فرمائی چه دې لره هشام د قتاده نه هم داسې روایت کړې دې -

[۱۶۵۳](³) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدٍ الْمُحَارِبِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ فُضَيْلٍ، عَنْ الْأَعْمَشِ، عَنْ حَبِيبِ بْنِ أَبِي ثَابِتٍ، عَنْ كُرَيْبٍ مَوْلَى ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "بَعَثَنِي أَبِي إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي إِبِلٍ أَعْطَاهَا إِيَّاهُ مِنَ الصَّدَقَةِ".

حضرت ابن عباس رضی الله عنه بیان کوی چه ماله زما پلار د نبی کریم ﷺ په خدمت کښې اولیږلو د هغه اوښانو په سلسله کښې کوم چه هغوی دهٔ ته د صدقې نه ورکړې وو -

شرح حدیث:

عَنْ كُرَيْبٍ مَوْلَى ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ بَعَثَنِي أَبِي إِلَى النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- فِي إِبِلٍ أَعْطَاهَا إِيَّاهُ مِنَ الصَّدَقَةِ.(⁴)

¹): سنن الترمذي/الزكاة ٢٥(٦٥٧)، سنن النسائي/الزكاة ٩٧(٢٦١٣)،(تحفة الأشراف :١٦٥٠٠)، وقد أخرجه: مسند احمد(١٠/٦، ٣٩٠، ١٢٠١٨)(صحيح)

²): تفرد به أبو داود،(تحفة الأشراف :١١٦٥)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/الزكاة ٥٠(١٠٧١)، مسند احمد(٢٩١/٣)(صحيح)

³): تفرد به أبو داود،(تحفة الأشراف :٦٣٤٤)، وقد أخرجه: سنن النسائي/الكبري/ قيام الليل ٢٧(١٣٣٩)، مسند احمد(٣٦٤/١)(صحيح)

⁴) جار مجرور په ظاهره کښې د ﴿اعطاها﴾ سره متعلق دې او مطلب دا دې چه کوم اوښ رسول الله ﷺ عباس رضی الله عنه ته هدیه کړې وو، د صدقه په اوښانو کښې خو عباس رضی الله عنه هغه اوښانو لره هغه سر بدلول غوښتل، یا خو په دې وجه چه په هغې کښې کمی او نقص وی (نو زما د ذهن خبره ده) او صاحب منهل دا لیکلې دی چه په بدلیدو سره د عباس رضی الله عنه مقصود دا وو چه اهل صدقه په ځائې د رسول الله ﷺ هغوی نه نور اوښان راولیږی ګویا هغوی د صدقې څیز اخستل نه غوښتل تنزها وتورعا، اګر چه دا اوښ د صدقې په طور نه وو بلکه په اداء قرض کښې وو، او صاحب د عون المعبود خو د دې مطلب بالکل بدل ......

کریب چه د حضرت ابن عباس رضي الله عنه مولی او آزاد کرده غلام دي، هغه د ابن عباس رضي الله عنه نه نقل کوی، چه هغه لره دهغه والد یعنی عباس رضي الله عنه د نبی کریم ﷺ خدمت ته اولیږلو، دهغې اوښانو باره کښې، کوم چه نبی کریم ﷺ هغه ته د صدقې د اوښانو نه ورکړې وو، او ددې نه مخکښې روایت کښې دا زیاتوالي دې، چه د حضرت عباس رضي الله عنه ابن عباس رضي الله عنه لره لیږل، دهغې اوښانو د بدلولو دپاره وو، په ظاهر کښې مطلب دادې، چه چرته نبی کریم ﷺ به د حضرت عباس رضي الله عنه نه څه اوښان قرض اخستلي وو، (د جهاد یا د مسلمانانو د ضرورت دپاره) بیا چه کله هغوی عباس رضي الله عنه ته هغه اوښان واپس اولیږل، یعنی دهغې بدل ئې اولیږو، نو په هغې کښې بعضې حضرت عباس رضي الله عنه بدلول اوغوختل، او د دې عرض دپاره هغه ابن عباس رضي الله عنه لره د نبی کریم ﷺ خدمت ته اولیږو، (کذ فی البذل)

ددې تشریح نه پس اوس دا اشکال باقی نه پاتې کیږی، چه حضرت عباس رضي الله عنه خو خالص هاشمی دې، او د هاشمی دپاره صدقه جائز نه ده.

بیهقی په دې حدیث کښې دوه احتمالات لیکلي دی، یو خو هغه کوم چه بره مونږ اولیکو، چه نبی کریم ﷺ د صدقې اوښان د قرض په ادا کولو کښې لیږلي وو، او هم دا وجه وه، چه حضرت عباس رضي الله عنه ته دهغې د بدلولو حق هم وو، ګنی د صدقې د بدلولو څه مطلب، او دویم احتمال ئې دا لیکلي دې، چه ممکن ده، چه دا واقعه دتحریم الصدقة علی بنو هاشم نه مخکښې وی، بیا وروستو تحریم اوشو.

[١٦٥٤](١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، وَعُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، قَالَا: حَدَّثَنَا مُحَمَّدٌ هُوَ ابْنُ أَبِي عُبَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ الْأَعْمَشِ، عَنْ سَالِمٍ، عَنْ كُرَيْبٍ مَوْلَى ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ، نَحْوَهُ، زَادَ "أَبِي يُبْدِلُهَا لَهُ".

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه نه د مذکوره بالا په مثل باندې مروی دې (ابو عبیده) دا اضافه کړې ده ... چه زما پلار ماله اولیږلو چه هغوی دې اوښانو لره بدل کړی -

شرح السند:

زَادَ أَبِي يُبْدِلُهَا. د زاد ضمیر فاعل ابو عبیده راوی طرف ته راجع دې، (٢) او ابی یبدلها دا جمله د زاد دپاره مفعول دې، د عبارت ترجمه داسې ده، مصنف فرمائي، چه په دې دویم روایت کښې، چه دهغې راوی ابو عبیده دې، هغه ددې جملې زیاتوالي کړې دې، ابی یبدلها، او اول روایت چه دهغې راوی محمد بن فضیل دې، (٣) هغه دا زیاتوالي ذکر کړې نه دې، او ددې جملې مطلب څرنګه چه مونږ مخکښې لیکلي دې، دادې، چه ابن عباس رضي الله عنه فرمائي، چه

ـــه ..... کړې دي هغه لیکی (من الصدقة) په (اعطاها) پورې متعلق نه دې بلکه په (یبدلها) سره متعلق دې او مطلب دا دې چه رسول الله ﷺ چه عباس رضي الله عنه ته کوم اوښان لیکلي وو هغه د غیر صدقه په اوښانو کښې وو خو کله چه رسول الله ﷺ ته اهل صدقه راغلل (بیت المال کښې) نو عباس سابق اوښانو لره بدلول غوښتل چه هغه واخله او اهل صدقه ته ئې ورکړه. اهـ والله تعالی اعلم

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٦٣٥٠)(صحیح)

(٢) دلته په ظاهره دا دهوکه کیږی چه أبي په ترکیب کښې د زاد فاعل دې حالاتکه داسې نه ده، ښه پوهه شئ.

(٣) په رومبی سند کښې د اعمش شاګرد محمد بن فضیل دې او په دویم کښې ابو عبید.

مالره زما والد عباس رضي الله عنه د حضور ﷺ خدمت ته د اوښانو د بدلولو دپاره لیږلې وو.«د ابی مصداق عباس رضي الله عنه دي»

بَابُ الْفَقِيرِ يُهْدِي لِلْغَنِيِّ مِنَ الصَّدَقَةِ

باب: ۳۰- فقیر که دَ صدقې دَ مال نه غني او مالدار ته هدیه ورکړي نو جائز دي-

[۱۶۵۵]([1]) حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ مَرْزُوقٍ، قَالَ: أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُتِيَ بِلَحْمٍ، قَالَ: "مَا هَذَا؟" قَالُوا: شَيْءٌ تُصُدِّقَ بِهِ عَلَى بَرِيرَةَ، فَقَالَ: "هُوَ لَهَا صَدَقَةٌ وَلَنَا هَدِيَّةٌ".

حضرت انس رضي الله عنه بیان کوی چه د نبی کریم ﷺ په خدمت کښې غوښه پیش کړې شوه نو حضور ﷺ تپوس اوکړو دا څهٔ دی؟ اوئیلې شو حضرت بریرې رضي الله عنها ته صدقه کړې شوې وه« دا دَهغې نه ده » حضور ﷺ اوفرمائیل : دا د هغې دَ پاره صدقه ده او زمونږ دَ پاره هدیه ده.

قوله: فقال « هُوَ لَهَا صَدَقَةٌ وَلَنَا هَدِيَّةٌ ».

دا حدیث ډیر مشهوراو معروف دې، ددې تخریج امام بخاري او مسلم دواړو کړې دې، د حدیث مضمون واضح دې، د بیان محتاج نه دې، ددې حدیث نه معلومه شوه، چه د فقیر په صدقې باندې قبضه کولو نه پس هغه څیز صدقه نه پاتې کیږي، اوس که هغه چاته هغه څیز هدیه کول غواړي، نو هغه به هدیه وي، صدقه به نه وي، ددې وجې نه اهل اصول لیکلې دی، چه تبدل دملک مستلزم دې، تبدل د عین لره حکما.

د صدقې او هدیې په مینځ کښې فرق:

په صدقه او هدیه کښې فرق دادې، چه په صدقه کښې د متصدق نیت او مقصود صرف ثواب د آخرت وي، د فقیر ذات په دې کښې مقصود نه وي، او هدیه هغه عطیه ده، چه هغې سره مقصود د مهدی الیه تقرب حاصلول وي، او دهغه اکرام مقصود وي، په هدیه کښې حصول ثواب ثانوی درجه کښې وي، او بعضو دې فرق لره په دې طریقې سره واضح کړې دې، چه د صدقې بدله سرې ته په اخرت کښې ملاویږي، ددې وجې نه په دنیا کښې په فقیر باندې دهغه منت او احسان باقی پاتې وي، په خلاف د هدئې نه، چه د هدئې بدله په دنیا کښې هدئې سره ورکولې شي، پس په صدقه کښې یو قسم ښکته والې او ذلت دې، او په هدیه کښې د مهدی الیه اعزاز او اکرام دې، ددې وجې نه صدقه د نبی کریم ﷺ او د بنو هاشم دپاره جائز نه ده، د صدقې او هدئې په مینځ کښې فرق په یو حدیث مرفوع کښې هم وارد دې،([2]) چه په سنن نسائی کښې د باب العمری په اخر کښې موجود دې، دهغې حاصل

---

[1]): صحيح البخاري/الزكاة ٦٢(١٤٩٥)، والهبة ٧(٢٥٧٧)، صحيح مسلم/الزكاة ٥٢(١٠٧٤)، سنن النسائي/العمري ١(٣٧٩١)،(تحفة الأشراف :١٢٤٢)، وقد أخرجه: مسند احمد(١١٧/٣، ١٣٠، ١٨٠، ٢٧٦)(صحيح)

[2]) چه دهغې الفاظ دادی : عن عبدالرحمن بن علقمة الثقفي قال قدم وفد ثقيف الي رسول الله ﷺ ومعهم هدية فقال أهدية أم صدقة فان كانت هدية فانما يبتغي بها وجه رسول الله ﷺ وقضاء الحاجة وان كانت صدقة فانما يبتغي بها وجه الله عزوجل قالوا لا بل هدية نقبلها منهم الحديث (نسائي ص٤١ ج) ددې جملې په شرح کښې بذل المجهود کښې هم په ظاهر د کاتب په غلطۍ سره ګړ بړ شوی دی چه دې لره مونږ د بذل په حاشیه کښې صحیح کړې دې، اوپه حاشیه کښې موهم وضاحت کړې دې.

دادي، چه په صدقې سره مقصود تقرب الى الله وى، او په هدئې سره مقصود دمهدى اليه تقرب وى، چه هغه سره په تعلق کښې زياتوالې اوشي.

باب مَنْ تَصَدَّقَ بِصَدَقَةٍ ثُمَّ وَرِثَهَا

باب: ۳۱- چاچه صدقه ورکړه اوبيا دې دهغې وارث جوړشو(اووائې خستو، نودا جائز دى)

[۱۶۵۶](¹) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ يُونُسَ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَطَاءٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ بُرَيْدَةَ، أَنَّ امْرَأَةً أَتَتْ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَتْ: كُنْتُ تَصَدَّقْتُ عَلَى أُمِّي بِوَلِيدَةٍ وَإِنَّهَا مَاتَتْ وَتَرَكَتْ تِلْكَ الْوَلِيدَةَ، قَالَ: "قَدْ وَجَبَ أَجْرُكِ وَرَجَعَتْ إِلَيْكِ فِي الْمِيرَاثِ".

د حضرت بريده رضي الله عنه نه روايت دې چه يوه ښځه د نبى کريم ﷺ په خدمت کښې راغله اووې وئيل : چه ما خپلې مور ته يوه وينځه په صدقه کښې ورکړې وه او اوس زما مور وفات شوې ده او دې وينځې لره ئې په ترکه کښې پريخودې ده - حضور ﷺ اوفرمائيل : ستا اجر او ثواب ثابت شو او هغه وينځه تاته په وراثت کښې واپس شوله -"

د حديث الباب مضمون واضح دې، د بيان محتاج نه دې، ددې نه معلوميږى، که د صدقې څيز متصدق ته په ميراث کښې واپس راشى، نو دهغې په اخستلو کښې هيڅ گناه نشته، او دا عود فى الصدقة نه دې، ځکه چه ميراث امر غير اختيارى دې، د اکثرو علماؤ مسلک هم دادې، او بعضو علماؤ ليکلې دى، چه داسې قسمه څيز اخستلو نه پس دوباره چاته صدقه کول پکار دى، ځکه اولا دې لره صدقه کولو د وجې نه حق الله دې سره اوتړلې شو(عون المعبود) ليکن دهغوى دا خبره په ظاهر کښې ددې حديث خلاف ده.

دويم څيز دلته کښې شراء المتصدق صدقته دې، ددې مستقل باب ډير مخکښې تير شوې دې، په هغې کښې بې شکه د امام احمد رحمه الله اختلاف دې.

باب فِي حُقُوقِ الْمَالِ

باب: د مال د حقوقو بيان

[۱۶۵۷](²) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ أَبِي النَّجُودِ، عَنْ شَقِيقٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: "كُنَّا نَعُدُّ الْمَاعُونَ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَارِيَةَ الدَّلْوِ وَالْقِدْرِ".

حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه بيان کوى چه مونږ خلقو به د رسول الله ﷺ په زمانه کښې د [الماعون] نه دا مراد اخستو چه چاته ئې په سوال سره بوقه(ډولچه) يا کټوئ ورکړه -

تشريح: قوله: قال كنا نعد الماعون على عهد رسول الله(صلى الله عليه وسلم) عارية الدلو والقدر.

په قرآن مجيد کښې د بخلاؤ يعنى کنجوسانو مذمت بيان کړې شوې دې، و يمنعون الماعون،

---

¹): صحيح مسلم/الصيام ۲۷(۱۱۴۹)، سنن الترمذي/الزكاة ۳۱(۶۶۷)، سنن ابن ماجه/الصدقات ۳(۲۳۹۴)،(تحفة الأشراف :۱۹۸۰)، وقد أخرجه: سنن النسائي/الكبري/ الفرائض(۶۳۱۵، ۶۳۱۶)، مسند احمد(۳۵۱/۵، ۳۶۱)، ويأتي هذا الحديث برقم(۲۸۷۷، ۳۳۰۹)(صحيح)

²): تفرد به أبو داود(تحفة الأشراف :۹۲۷۳)، وقد أخرجه: سنن النسائي/الكبري/التفسير(۱۱۷۰۱)، مسند احمد ۳۸۷)(حسن)

دهغوی حال دادې، چه د ماعون [1] نه هم انکار کوی، هغه هم نه ورکوی، ددې په تفسیر کښې حضرت عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه فرمائي چه د ماعون مصداق د حضور ﷺ په زمانه کښې ډولچه او دیګچې وغیره معمولی څیزونه عاریة ورکول وو، او یو قول په دې کښې دادې، چه ددې نه مراد زکوة دې، دریم قول دادې، چه ددې اعلی فرد زکوة دې، او ادنی فرد معمولی څیزونه عاریة ورکول دی، (بذل)

[١٦٥٨] ([2]) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ سُهَيْلِ بْنِ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَا مِنْ صَاحِبِ كَنْزٍ لَا يُؤَدِّي حَقَّهُ إِلَّا جَعَلَهُ اللَّهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يُحْمَى عَلَيْهَا فِي نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكْوَى بِهَا جَبْهَتُهُ وَجَنْبُهُ وَظَهْرُهُ حَتَّى يَقْضِيَ اللَّهُ تَعَالَى بَيْنَ عِبَادِهِ فِي يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُ خَمْسِينَ أَلْفَ سَنَةٍ مِمَّا تَعُدُّونَ ثُمَّ يَرَى سَبِيلَهُ إِمَّا إِلَى الْجَنَّةِ وَإِمَّا إِلَى النَّارِ، وَمَا مِنْ صَاحِبِ غَنَمٍ لَا يُؤَدِّي حَقَّهَا إِلَّا جَاءَتْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَوْفَرَ مَا كَانَتْ فَيُبْطَحُ لَهَا بِقَاعٍ قَرْقَرٍ فَتَنْطَحُهُ بِقُرُونِهَا وَتَطَؤُهُ بِأَظْلَافِهَا لَيْسَ فِيهَا عَقْصَاءُ وَلَا جَلْحَاءُ كُلَّمَا مَضَتْ أُخْرَاهَا رُدَّتْ عَلَيْهِ أُولَاهَا حَتَّى يَحْكُمَ اللَّهُ بَيْنَ عِبَادِهِ فِي يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُ خَمْسِينَ أَلْفَ سَنَةٍ مِمَّا تَعُدُّونَ ثُمَّ يَرَى سَبِيلَهُ إِمَّا إِلَى الْجَنَّةِ وَإِمَّا إِلَى النَّارِ، وَمَا مِنْ صَاحِبِ إِبِلٍ لَا يُؤَدِّي حَقَّهَا إِلَّا جَاءَتْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَوْفَرَ مَا كَانَتْ فَيُبْطَحُ لَهَا بِقَاعٍ قَرْقَرٍ فَتَطَؤُهُ بِأَخْفَافِهَا كُلَّمَا مَضَتْ عَلَيْهِ أُخْرَاهَا رُدَّتْ عَلَيْهِ أُولَاهَا حَتَّى يَحْكُمَ اللَّهُ تَعَالَى بَيْنَ عِبَادِهِ فِي يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُ خَمْسِينَ أَلْفَ سَنَةٍ مِمَّا تَعُدُّونَ ثُمَّ يَرَى سَبِيلَهُ إِمَّا إِلَى الْجَنَّةِ وَإِمَّا إِلَى النَّارِ".

رسول الله ﷺ اوفرمائیل کوم صاحب خزانه چه د هغې حق نۀ ادا کوی نو الله تعالیٰ به د قیامت په ورځ باندې دې مال لره داسې جوړ کړی چه دا به د جهنم په اور سره ګرم کړې شی بیا په دې سره د هغه تندې، اړخ او ملا داغلې شی تردې پورې چه الله تعالیٰ د خپلو بندګانو په مابین کښې فیصله اوفرمائی، په هغه ورځ چه د هغې طوالت (اوږدوالې) ستاسو په شمیر سره پنځوس زره کاله دې - ددې نه پس به هغه خپله لاره اووینی، جنت طرف ته یا جهنم طرف ته - او کوم بکرو چیلو والا چه د هغې حق نۀ ادا کوی نو د قیامت په ورځ باندې به هغه چیلو لره راوستلې شی، د هغې نه په زیات فربه (چاق) حالت کښې په کوم کښې چه مخکښې وو، او دۀ لره به په یو هموار صفا میدان کښې اولټه زوړند کړې شی، چنانچه هغه چیلئ به دۀ لره په خپلو ښکرو سره وهی او په نوکو سره به ئې پائمال کوی او په دې کښې به څۀ کړو ښکرو یا بې ښکرو چیلئ نۀ وی - کومه یوه (چه خپل چکر پوره کړی او) آخری چیلئ تیره شی نو اوله به په دۀ باندې بیا واپس شی تردې پورې چه الله تعالیٰ د خپلو بندګانو په مابین کښې فیصله اوفرمائی، په هغه ورځ کښې چه د هغې طوالت او اوږدوالې ستاسو په حساب سره پنځوس زره کاله ده، ددې نه پس به دې خپله لار اووینی جنت طرف ته، یا جهنم طرف ته - او کوم اوښانو والا چه ددې حق ادا نۀ کړو، نو د قیامت په ورځ باندې به دا راوستلې شی، د هغه حالت نه په زیات فربه حالت کښې په کوم

[1] ماعون د معن نه دې ددې معنی ده شئ قلیل (معمولی څیز) په دې کښې دوه اقوال نورهم دی کوم چه حضرت شیخ د تفسیر جمل نه په حاشیه د بذل کښې نقل کړی دی.

[2]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٢٦٢٤)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الزكاة ٣(١٤٠٢)، والجهاد ١٨٩(٢٣٧٨)، وتفسر براءة ٦(٣٠٧٣)، والحيل ٣(٩٦٥٨)، صحيح مسلم/الزكاة ٦(٩٨٧)، سنن النسائي/الزكاة ٦(٢٤٥٠)، سنن ابن ماجه/الزكاة ٢(١٧٨٦)، موطا امام مالك/الزكاة ١٠(٢٢)، مسند احمد(٢/٤٩٠، ١٠١، ٢٦٢، ٣٨٣)(صحيح)

کښې چه دا مخکښې وو او مالک لره به په يو هموار او صفا ميدان کښې زورند کړې شي او بيا به هغه لره په خپلو خپو سره پائمال کوی کومه چه (دوي نه يو چکر پوره کړی) او آخری اوښ تير شی، نو اول به واپس کولې شی تردې پورې چه الله تعالیٰ په خپلو بندګانو کښې فيصله اوفرمائی په هغه ورځ کومه چه ستاسو په حساب سره پنځوس زره کاله ده، بيا به دې خپله لار اووينی، جنت طرف ته يا جهنم طرف ته ـ"

إِلَّا جَاءَتْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَوْفَرَ مَا كَانَتْ : اصحاب المواشی (څاروؤ والا) ته چه د څاروؤ زکوة نه ورکولو په وجه کوم عذاب د قيامت په ورځ ورکولې شی، په دې حديث کښې دهغې بيان دې، فرمائي چه هغه بزې به راشی، د قيامت په ورځ ډير په ښه حالت کښې، چه کله په دنيا کښې دهغوی وو، يعنی ښه څربې او طاقتورې به وی، دې دپاره چه مالک لره ښه د پښو لاندې کړی، فيبطح لها بقاع قرقر، پس هغه به پر مخې واچولې شی، دهغې بزو په وجه،يعنی دهغې د زکوة نه ورکولو په وجه، په يو هموار ميدان کښې. فتنطحه نطح ينطح از باب ضرب و فتح، په ښکر باندې وهل، و تطوه باظلافها وطي بمعنی د پښو لاندې کول، اظلاف د ظلف جمع ده، دغوا ، ميښې او بزې نوکې، يعنی قدمونه، چه منشق يعنی په مينځ کښې څيرې کړې شوې وی، ددې مقابل حافر دې، يعنی هغه چه غير منشق وی، لکه د اس يا خر نوکان، ليس فيها عقصاء و لا حلجاء، عقصاء چه دهغې ښکرونه کاږه وی، او حلجاء چه دهغې ښکرونه بالکل نه وی، کلما مضت اخواها ردت عليه اولاها.

شرح حديث :

يعنی دهغې څاروو مالک لره به په زمکه باندې اڼه څملولې شی، او هغې ټولو څاروو لره به دهغه دپاسه اوګرځولې شی، هغه ټول به دې د پښو لاندې کړی، او دې به په ښکرو باندې وهی او په دۀ دپاسه به تيريږی، ګويا چه هغه ټول ځناور به د ګول دائرې په شکل کښې جمع وی، چه کله دهغې ټولو يو چکر پوره شی، نو بيا به دوباره هغوی لره په دۀ باندې تاوهلې شی، چه کله هم آخری څاروې تير شی، نو اول به په دۀ باندې اوګرځولې شی، څکه چه د اخری په تيريدو سره به دهغوی يو چکر پوره شی، بيا به سردوباره د اول څاروی نه چکر شروع کولې شی.

تنبيه : د صحيح مسلم په يو روايت کښې خو داسې دی، او په يو بل روايت کښې ددې برعکس دې، کلما مر عليه اولاها رد عليه اخراها، دې باره کښې قاضی عياض خو داسې فرمائيلې دی، چه په دې کښې قلب واقع شو، او دا تصحيف دې، په کوم روايت کښې چه ددې برعکس دې، هغه صحيح دې، ليکن ملا علی قاری رحمه الله ددې توجيه کړې ده، چه ټولو څاروؤ لره به په يو قطار کښې اودرولې شی، هغوی به پرله پسې په دغې سړی باندې ګرځی، د هر يو نه پس دويم، بيا چه کله آخره پورې اورسی، نو اوس به دوباره دهغې اخری څاروی نه سلسله شروع کړې شی، زما په خيال کښې ددې دويم روايت په صورت کښې د څاروؤ نيغ قطار زيات مناسب دې، او د اول روايت دپاره د دائرې شکل زيات مناسب دې، والله تعالی اعلم.

في يوم كان مقداره خمسين الف سنة مما تعدون. يعنى د تعذيب دا ټوله کاروائى به په هغه ورځ کښې کيږي، چه دهغې مقدار د دنيا د ورځو په اعتبار سره پنځوس زره کاله دې، صاحب منهل ليکلې دی، يعنې د کافرانو په حق کښې او د نورو نافرمانو په حق به دهغوی د عصيان په اعتبار سره طول کم او زيات وی، لقوله تعالى يوم عسير على الكافرين غير يسير، او د مومن کامل الايمان په حق کښې به هغه د يو فرض مونځ د وخت نه زياته آسانه وی، ففى رواية احمد و ابن حبان فقيل ما اطول هذ اليوم فقال والذى نفسى بيده انه ليخفف على المؤمن حتى يكون اخف عليه من صلوة مكتوبة، وانا اسال الله تعالى ان يجعلنى و اهل بيتى و غيرهم من الاصول والفروع من هؤلاء الذين يكون هذا اليوم عليهم اخف من صلوة واحدة.
دا حديث مطولا په صحيح مسلم کښې هم شته، او په صحيح بخارى کښې هم ددې مضمون راغلې دی،

[۱۶۵۹](1) حَدَّثَنَا جَعْفَرُ بْنُ مُسَافِرٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي فُدَيْكٍ، عَنْ هِشَامِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، نَحْوَهُ، قَالَ فِي قِصَّةِ الْإِبِلِ بَعْدَ قَوْلِهِ "لَا يُؤَدِّي حَقَّهَا"، قَالَ: "وَمِنْ حَقِّهَا حَلَبُهَا يَوْمَ وِرْدِهَا".

حضرت ابوهريره رضی الله عنه دَ نبى کريم ﷺ نه ددې په مثل باندې روايت کړې دې - او دَ اوښانو په باره کښې چه کوم ذکر شو چه " چا ددې حق نهٔ وی ادا کړې " ددې نه پس فرمائى او دَ هغې دَ حق نه دادی چه په کومه ورځ باندې دا دَ اوبو څښلو دَ پاره راولى دَ هغې پئ اولوشى -
ومن حقها حلبها يوم وردها. ورد بكسر الواو الماء الذى ترد عليه،(عون) يعنى د څاروو حقونه کوم چه د مالک په ذمه دی، دهغې نه دا دی، چه دهغوی نه دې پئى په هغه ورځ واخستلې شى، په کومه چه هغوی اوبو څکلو دپاره چينې يا تالاب ته اورسى، ددې ورځې تخصيص ئې ددې وجې نه اوکړو، چه په دغه ورځ اوبو باندې فقيران او مسکينان جمع کيږي، باقى دا څيز دهغې حقوق واجبه نه نه دې، چه دهغې په تفويت باندې تعذيب دې، بلکه دا صرف د حقوق مستحبه نه دې، دې لره ئې صرف استطرادا د ترغيب دپاره ذکر کړې دې، لکه چه په يو بل حديث کښې راغلې دی، چه د اونې ميوه د شپې مه شوکوه، بلکه د ورځې شوکوه،(دې دپاره چه فقيرانو ته هم څه دهغې نه ورکړې) او قاضى عياض دې لره د حقوق واجبه نه مقرر کړې دې، او دا ئې فرمائيلې دی، چه دا د وجوب زکوة نه مخکښې قصه ده، د نزول زکوة نه پس منسوخ شوه، او يا دې لره په زمان قحط يا حالت اضطرار باندې محمولولې شى، څکه چه د مضطر امداد د واجباتو نه دې. والله تعالى اعلم.

[۱۶۶۰](2) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَبِي عُمَرَ الْغُدَانِيِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَ هَذِهِ الْقِصَّةِ، فَقَالَ لَهُ يَعْنِي لِأَبِي هُرَيْرَةَ: فَمَا حَقُّ الْإِبِلِ؟ قَالَ: "تُعْطِي الْكَرِيمَةَ وَتَمْنَحُ الْغَزِيرَةَ وَتُفْقِرُ الظَّهْرَ وَتُطْرِقُ الْفَحْلَ وَتَسْقِي اللَّبَنَ".

---

(1): تفرد به أبو داود،(تحفة الأشراف :١٢٣٢١)(صحيح)

(2): سنن النسائي/الزكاة ٢(٢٤٤٤)،(تحفة الأشراف :١٥٤٥٣)، وقد أخرجه: مسند احمد(٢/٣٨٣، ٤٨٩، ٤٩٠)(حسن)

دَ حضرت ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي چه هغوی دَ رسول الله ﷺ نه ددې قصې په مثل باندې اوريدلې دی - شاگرد دَ حضرت ابوهريره رضي الله عنه نه تپوس اوکړو چه دَ اوښانو څهٔ حق دې؟ هغوی اووې: چه تهٔ بهترين اوښ ورکړې (دَ الله په لاره کښې) دَ زياتو پيو ورکولو والا اوښه په عطيه کښې ورکړې، څهٔ سورلی په سوال باندې ورکړې، او دَ خيږلو دَ پاره نر اوښ ورکړې او په خلقو باندې يې اخښبې -"

قال تعطى الكريمة و تمنح العزيزة و تفقر الظهر و نظرق الفحل: كريمه يعنى نفيسه، مطلب دادې، چه تهٔ په زكوة كښې اعلى قسم اوښه وركړه، او د عزيزې منيحه وركړه، عزيره بمعنى كثير اللبن، او منيحه وئيلې شی، هغه پئی وركونكې بزه يا اوښه، چه هغې لره دهغې مالک د څو ورځو دپاره عاريتا يو ضرورت مند ته وركړی، دې دپاره چه څو ورځې هغه ددې د پيو نه نفع واخلی، او بيا هغې لره مالک ته واپس كړی، پخوا زمانه كښې د عربو كښې ددې دستور وو، او په احاديثو كښې هم ددې ترغيب راغلې دې، په دې باندې مستقل باب راروان دې، او د دريمې جملې مطلب دادې، چه د سورلئ خاروې چاته عاريتاً د سورلئ دپاره وركول، او د څلورمې جملې مطلب دادې، چه د جفتې دپاره نر خاروې چاته عاريتاً بغير د اجرت ته وركول.

[۱۶۶۱](۱) حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ خَلَفٍ، حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، قَالَ: قَالَ أَبُو الزُّبَيْرِ: سَمِعْتُ عُبَيْدَ بْنَ عُمَيْرٍ، قَالَ: قَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَا حَقُّ الْإِبِلِ؟ فَذَكَرَ نَحْوَهُ، زَادَ: "وَإِعَارَةُ دَلْوِهَا".

حضرت عبيد بن عمير رحمه الله (تابعی) بيان كوی چه يو كس اووې: اې دَ الله رسوله! دَ اوښانو څهٔ حق دې؟ نو دَ مذكوره بالا هم معنیٰ ئې ذكر كړو او مزيد ئې اووې: دَ هغې بوقه (ډولچه) په سوال باندې وركول -"

تشريح: قوله: زاد و اعارة دلوها:

د دلو نه مراد يا خو ددې ظاهری معنی ده، يعنی څاروو ته د اوبه وركولو دپاره عاريتا خپله ډولچه وركول، او وئيلې شوې دی، چه دا كنايه ده د ضرع (تونو) نه، يعنی پيو والا څاروې څو ورځو دپاره عاريتا وركول، لكه چه مخكښې تير شو و تمنح العزيزة.

[۱۶۶۲](۲) حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ يَحْيَى الْحَرَّانِيُّ، حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ يَحْيَى بْنِ حَبَّانَ، عَنْ عَمِّهِ وَاسِعِ بْنِ حَبَّانَ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "أَمَرَ مِنْ كُلِّ جَادٍّ عَشَرَةِ أَوْسُقٍ مِنَ التَّمْرِ بِقِنْوٍ يُعَلَّقُ فِي الْمَسْجِدِ لِلْمَسَاكِينِ".

دَ حضرت جابر بن عبد الله رضي الله عنه نه روايت دې چه نبی كريم ﷺ دَ كجورو دَ ميوې دَ شوكولو والا ته حكم كړې وو چه څوک لس وسقه كجورې كټ كړی نو هغه دې يوه غُنچه دَ مساكينو دَ پاره په جمات كښې زوړنده وی -

(۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۸۹۹۷)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/الزكاة ٦(٩٨٨) (صحيح)
(۲): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۳۱۲۳)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳۵۹/۳، ۳٦۰) (صحيح)

شرح حديث :

تشريح: قوله: عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ مِنْ كُلِّ جَادٍّ [1] عَشْرَةَ أَوْسُقٍ مِنَ التَّمْرِ بِقِنْوٍ يُعَلَّقُ فِي الْمَسْجِدِ لِلْمَسَاكِينِ

ددې حديث حواله او مطلب مخکښې د باب ما لا يجوز من التمر فى الصدقة دلاندې تير شوې دې، دهغې حاصل دادې، چه کوم خلق باغ والا دی، او هغوی سره د کجهورو باغونه دی، نو هغوی لره پکار دی، چه په هر لس وسقه کهجورو کښې يوه غنچکه په جمات کښې زوړنده کړی، مثلا که د چا د باغ نه سل وسق کهجورې راوځی، نو هغه دپاره لس غنچکې په جمات کښې زوړندول پکاردی. باقی د تعليق قنو امر عند الجمهور استحبابی دې، او د بعضې ظاهريه په نزد واجب دې. (منهل)

[١٦٦٣] [2] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدِ اللَّهِ الْخُزَاعِيُّ، وَمُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، قَالَا: حَدَّثَنَا أَبُو الْأَشْهَبِ، عَنْ أَبِي نَضْرَةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: بَيْنَمَا نَحْنُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ، إِذْ جَاءَ رَجُلٌ عَلَى نَاقَةٍ لَهُ فَجَعَلَ يُصَرِّفُهَا يَمِينًا وَشِمَالًا، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ كَانَ عِنْدَهُ فَضْلُ ظَهْرٍ فَلْيَعُدْ بِهِ عَلَى مَنْ لَا ظَهْرَ لَهُ، وَمَنْ كَانَ عِنْدَهُ فَضْلُ زَادٍ فَلْيَعُدْ بِهِ عَلَى مَنْ لَا زَادَ لَهُ، حَتَّى ظَنَنَّا أَنَّهُ لَا حَقَّ لِأَحَدٍ مِنَّا فِي الْفَضْلِ".

حضرت ابو سعيد خدری رضی الله عنه بيان کوی چه مونږ په يو سفر کښې د نبی کريم ﷺ سره وو چه يو کس په اوښ باندې راغې او هغې لره ئې ښی او ګس طرف ته تاؤ راتاؤ کړو نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل: " دَ چا سره چه زياتی سورلی وی نو هغه دې هغه کس ته ورکړی دَ چا سره چه سورلی نۀ وی - او دَ چا سره چه دَ خوراک څښاک زياتی څۀ څيز وی نو هغه دې هغه شخص ته ورکړی چه دَ هغه سره توښه نۀ وی -" (دَ هغوی دَ ارشاد نه) مونږ دا اوګڼړله چه زمونږ په زياتی اموالو کښې هيڅ حق نشته دې -

تشريح: قوله: عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ: بَيْنَمَا نَحْنُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ........ فَلْيَعُدْ بِهِ عَلَى مَنْ لَا زَادَ لَهُ، حَتَّى ظَنَنَّا أَنَّهُ لَا حَقَّ لِأَحَدٍ مِنَّا فِي الْفَضْلِ".

شرح حديث :

ابو سعيد خدری رضی الله عنه فرمائي چه يو ځل مونږ د نبی کريم ﷺ سره په سفرکښې وو، نو يو سړې چه په اوښې باندې سور وو، ناساپه راؤرسيدو، او راتلو نه پس په هغې باندې د

---

[1] في مصباح المنير جده جدا من باب قتل قطعة فهو جديد. فعيل په معنی د مفعول وئيلې شی: هذا زمن الجداد (بفتح وله وكسره) دا د جداد زمانه ده يعنی د ميوو د پرې کولو زمانه او موسم، دلته په حديث کښې به جاد يا خود مجدد په زمانه کښې اخستلې شی او جاد به ما بعد ته مضاف منلې شی، په دې صورت کښې به ترجمه دا وی چه رسول الله ﷺ حکم اوفرمائيلو د دې خبرې چه هر لس وسقه په پرې کړې شوی کهجورو کښې دې يوه غنچه په مسجد کښې زوړنده کړې شی، او دا هم ممکنه ده چه لفظ جاد د فاعل په معنی کښې اوساتلې شی او (من) زائد اومنلې شی، او د اضافت په ځائې تنوين اولوستلې شي، او عشرة لره منصوب د مفعوليت په وجه باندې، من كل جاد عشرة اوسق. ترجمه به دا وی: رسول الله ﷺ حکم اوفرمائيلو هغه سړی ته کوم چه لس وسق پرې کونکې وی چه د هغې نه يوه غنچه په مسجد کښې زوړنده کړی. (منهل بتغير)

[2] صحيح مسلم/اللقطة ٤(١٧٢٨)، (تحفة الأشراف: ٤٣١٠)، وقد أخرجه: مسند احمد(٣٤/٣)(صحيح)

سوريدو په حالت کښې کله به ئې يو طرف ته تاؤ کړه، او کله بل طرف ته، په بذل المجهود کښې ددې دوه مطلبه ليکلې دی،(۱) دهغې سړی سورلی د ضعف او ستړې والی په وجه عاجزه شوې وه، او دې سړی خپله سورلی بدلول غوختل، ددې وجې نه هغه سړی د خپلې سورلئ حالت خلقو ته ښودل غوختل، دې دپاره چه خلق دهغه مدد اوکړی، او د بلې سورلئ انتظام اوکړی، لکه مخکښې په حديث کښې دی، چه نبی کريم ﷺ خلقو ته اوفرمائيل: چه د چا سره د ضرورت نه زياته سورلی وی، نو هغه دې خپل ضرورتمند ورور ته ورکړی.(۲) دويم مطلب دادې، چه هغه سړې په ډير خائسته سورلئ باندې سور وو، چه دهغې مخ به ئې کله يو طرف ته کړو، او کله بل طرف ته، يعنی بطور فخر او لوئې خلقو ته ئې خپله سورلی ښودله، او ممکن ده، چه هغه سره نور هم د ضرورت نه زياتې سورلئ وې، نو ددې وجې نه نبی کريم ﷺ دهغې سړی د اصلاح دپاره اوفرمائيل: چه چاسره د ضرورت نه زياتې سورلئ وی، هغه لره پکار دی، چه نورو ته ئې هبه کړی، او خپل ځان سره دې صرف د ضرورت مطابق اوساتی، او په زياته لوئې کښې دې نه راځی، چه د مال د کثرت او ډيروالی د وجې نه انسان په تکبر کښې مبتلاء کيږی.

تشريح: قوله: حَتَّى ظَنَنَّا أَنَّهُ لَا حَقَّ لِأَحَدٍ مِنَّا فِي الْفَضْلِ

يعنی نبی کريم ﷺ د صدقې دومره ترغيب اوفرمائيلو، چه مونږ دا اوګڼړل، چه سړی سره د ضرورت نه زيات چه کوم مال وی، په هغې کښې دهغه هيڅ حق او حصه نشته.

[۱۶۶۴](۱) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ يَعْلَى الْمُحَارِبِيُّ، حَدَّثَنَا أَبِي، حَدَّثَنَا غَيْلَانُ، عَنْ جَعْفَرِ بْنِ إِيَاسٍ، عَنْ مُجَاهِدٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: لَمَّا نَزَلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ: وَالَّذِينَ يَكْنِزُونَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ سورة التوبة آية ۳۴، قَالَ: كَبُرَ ذَلِكَ عَلَى الْمُسْلِمِينَ، فَقَالَ عُمَرُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَا أُفَرِّجُ عَنْكُمْ، فَانْطَلَقَ، فَقَالَ: يَا نَبِيَّ اللَّهِ، إِنَّهُ كَبُرَ عَلَى أَصْحَابِكَ هَذِهِ الْآيَةُ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ اللَّهَ لَمْ يَفْرِضِ الزَّكَاةَ إِلَّا لِيُطَيِّبَ مَا بَقِيَ مِنْ أَمْوَالِكُمْ وَإِنَّمَا فَرَضَ الْمَوَارِيثَ لِتَكُونَ لِمَنْ بَعْدَكُمْ"، فَكَبَّرَ عُمَرُ، ثُمَّ قَالَ لَهُ: "أَلَا أُخْبِرُكَ بِخَيْرِ مَا يَكْنِزُ الْمَرْءُ: الْمَرْأَةُ الصَّالِحَةُ إِذَا نَظَرَ إِلَيْهَا سَرَّتْهُ وَإِذَا أَمَرَهَا أَطَاعَتْهُ وَإِذَا غَابَ عَنْهَا حَفِظَتْهُ".

دَ حضرت ابن عباس رضی الله عنهما نه منقول دی چه کله دا آيت کريمه ﴿وَالَّذِينَ يَكْنِزُونَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ﴾[التوبة: ۳۴] نازل شو نو په دې سره په مسلمانانو باندې ډيره ګرانی پريوتله - پس حضرت عمر رضی الله عنه اوفرمائيل : زۀ ستاسو مشکل لره لرې کووم، چنانچه دا تول راغلل او هغوی اووې اې دَ الله نبی ! ستاسو صحابهٔ ته دا آيت کريمه ډير دروند محسوسيږی نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل : الله تعالیٰ زکات هم ددې دَ پاره فرض کړې دې چه په دې سره ستاسو باقی مال پاک شی - او وراثت لره ئې ددې وجې نه فرض کړې دې چه ستاسو نه ورستو خلقو ته ملاؤ شی -" په دې باندې حضرت عمر رضی الله عنه اوفرمائيل : [الله اکبر] بيا ئې دۀ ته اوفرمائيل : آيا زۀ تاته خبر درنۀ کړم چه هغه کوم بهترين څيز دې چه هغې لره انسان خزانه کوی وې فرمائيل :" هغه نيکه صالحه بی بی ده، کله چه دې هغې ته نظر اوکړی نو دۀ لره خوشالوی -، هغې ته چه امر اوکړی نو منی ئې او کله چه غائب وی نو ددۀ (دَ کور،

(۱): تفرد به أبو داود،(تحفة الأشراف :۶۳۸۳)(ضعيف)

مال او دَ خپل ځان دَ عفت، حفاظت کوي -
ثُمَّ قَالَ لَهُ أَلَا أُخْبِرُكَ بِخَيْرِ مَا يَكْنِزُ الْمَرْءُ الْمَرْأَةُ الصَّالِحَةُ إِذَا نَظَرَ إِلَيْهَا سَرَّتْهُ وَإِذَا أَمَرَهَا أَطَاعَتْهُ وَإِذَا غَابَ عَنْهَا حَفِظَتْهُ: ددې ټول حديث حاصل دادې، چه سړی سره که څومره ډير مال ولې نه وی، که هغه زکوة واجبه او حقوق واجبه ادا کوی، نودا مال دهغه دپاره موجب مواخذه نه دې، ليکن ددې باوجود د دنيا مال او متاع، ساز او سامان د رغبت او جمع کولو قابل څيز نه دې، البته که د دنيا په څيزونو کښې څه څيز قابل رغبت دې، نو هغه نيکه او خائسته ښځه ده، داسې ښځه چه کله خاوندهغې طرف ته اوګوری، نوهغه په خپل حسن ظاهری او باطنی(حسن صورت و حسن سيرت) سره هغه خوشاله کړی، او هغه د خاوند فرمانبرداره وی، او چه کله خاوند سفر وغيره ته لاړ شي، نو هغه د خپل عصمت او د خاوند دمال حفاظت کوی، يعنی د دنيا چه باقی کوم څيزونه دی، هاتهی، اسونه خائسته بنګلې، باغونه، او قسماقسم د آرام او راحت اسباب ټول فضول او لغو دی، د ديندار او پوهه سړی دپاره د رغبت څيزونه نه دی، واقعی نبی کريم ﷺ رشتيا فرمائيلې دی، د غور کولو ضرورت دې، په دې وخت کښې غور کول فائده مند او نفع ورکونکې دی، ګنی وروستو به پښيمانتيا وی، چه هغې سره به هيڅ فائده نه حاصليږی. والله الموفق.

باب حَقِّ السَّائِلِ

باب: ۳۳- دَ سائل حق

[۱۶۶۵] () حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، حَدَّثَنَا مُصْعَبُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ شُرَحْبِيلَ، حَدَّثَنِي يَعْلَى بْنُ أَبِي يَحْيَى، عَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ حُسَيْنٍ، عَنْ حُسَيْنِ بْنِ عَلِيٍّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لِلسَّائِلِ حَقٌّ وَإِنْ جَاءَ عَلَى فَرَسٍ".

د حضرت حسين بن علی رضي الله عنهما نه روايت دې، چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل :" دَ سائل حق دې، اګر کۀ هغه په اس باندې سوړ راشی -"
عَنْ حُسَيْنِ بْنِ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلسَّائِلِ حَقٌّ وَإِنْ جَاءَ عَلَى فَرَسٍ
د سوال کونکې بهر حال حق شته، اګر چه هغه په اس باندې سور ولې نه وی راغلې، يعنی دهغه د ظاهری حال په وجه په هغه باندې بدګمانی ښکار نه ده، ځکه چه په اس باندې سوريدلو تقاضا اګر چه دهغه عدم حاجت دې، نو دهغه سوال کول خو د احتياج ننبه او دليل دې، ښکاره خبره ده، چه کله هغه د سوال ذلت برداشت کوی، نو غالبه دا ده، چه هغه ته څه حاجت پيښ شوې دې، مثلا تحمل حماله يا کثرت عيال وغيره، او اس ضروری نه دې، چه د هغه ملک وی، ممکن ده چه عاريتا ئې اخستلې وی.
حضرت په بذل کښې ليکلې دی، چه دا د خير القرون خبرې دی، ليکن په دې زمانه کښې خو ډيرو خلقو سوال يو کسب او ذريعه معاش ګرځولې دې، په داسې صورت کښې سوال هم حرام دې، او اعطاء هم حرام ده، ځکه چه دا اعانت علی المعصية دې، او هم دا خبره

[۱]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۳٤١٠)، وقد أخرجه: مسند احمد(۱/۲۰۱)(ضعيف)

صاحب منهل هم ليکلي ده.

دا حديث د اهل بيت د مروياتو نه دې، فاطمه بنت الحسين چه د امام زين العابدين خور ده، هغه دې لره د خپل والد حسين بن علي نه روايت کوی، او علامه سيوطي رحمه الله دې لره په الهاشميات کښې روايت کړې دې، کما في المنهل، او صاحب عون المعبود ليکلي دی، چه دا حديث د حضرت شاه ولی الله صاحب دهلوی په اربعين اهل بيت کښې بالسند المسلسل مروی دې، او دا هم زده کول پکار دی، چه بعضو علماؤ لکه سراج الدين قزوينی او ابن الصلاح محدث دې حديث ته موضوع وئيلې دی، ليکن حافظ ابن حجر او علامه سيوطی وغيره په دې باندې رد کړې دې، او دې لره ئې حسن گرزولې دې، صاحب منهل ليکلې دی، والحديث اخرجه ايضا الامام احمد.

[۱۶۶۶]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ رَافِعٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ آدَمَ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، عَنْ شَيْخٍ، قَالَ: رَأَيْتُ سُفْيَانَ عِنْدَهُ، عَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ حُسَيْنٍ، عَنْ أَبِيهَا، عَنْ عَلِيٍّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، مِثْلَهُ.

حضرت حسين رضي الله عنه د خپل پلار حضرت علی رضي الله عنه نه هغوی رضي الله عنه د نبی کريم ﷺ نه ... د مذکوره بالا حديث په مثل باندې روايت اوکړو -"

[۱۶۶۷]() حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي سَعِيدٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ بُجَيْدٍ، عَنْ جَدَّتِهِ أُمِّ بُجَيْدٍ وَكَانَتْ مِمَّنْ بَايَعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهَا قَالَتْ لَهُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْكَ، إِنَّ الْمِسْكِينَ لَيَقُومُ عَلَى بَابِي فَمَا أَجِدُ لَهُ شَيْئًا أُعْطِيهِ إِيَّاهُ، فَقَالَ لَهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنْ لَمْ تَجِدِي لَهُ شَيْئًا تُعْطِينَهُ إِيَّاهُ إِلَّا ظِلْفًا مُحْرَقًا فَادْفَعِيهِ إِلَيْهِ فِي يَدِهِ".

د حضرت ام بجيد نه روايت دې او دا د هغه ښځو نه وه کومو چه د رسول الله ﷺ نه بيعت کړې وو - هغې اووې اې د الله رسوله ! د الله تعالیٰ رحمت دې په تا باندې نازل وی، مسکين زما په دروازه باندې اودريږی او ما سره څۀ نۀ وی چه هغه ته ئې ورکړم؟ حضور ﷺ اوفرمائيل : کۀ چرې تاسره هغه ته د ورکړې څۀ نۀ وی، او تاسره د بکرئ سوزيدلې نوکه هم وی نو هم هغې لره هغه ته په لاس کښې ورکړه -

تشريح: قوله: إِنْ لَمْ تَجِدِي لَهُ شَيْئًا تُعْطِينَهُ إِيَّاهُ إِلَّا ظِلْفًا مُحْرَقًا فَادْفَعِيهِ إِلَيْهِ فِي يَدِهِ

که هيڅ يو څيز سائل ته د ورکولو دپاره اونه مومې سوا د ظلف مخرق نه، (يعنی دغوا يا بزې سوزيدلې نوکه) نو هم هغه ورکړه.

شرح حديث :

وئيلې شوې دی، چه دا بطور مبالغه ده، مراد معمولی او حقير څيز دې، مقصد دادې، چه سائل خالی لاس واپس مۀ ليږه، او بعضې وائی، چه نا بلکه حقيقت مراد دې، ځکه چه بعضې خلق د بزې وغيره نوکه په اور کښې سوزولو نه پس ميده کړی، او ځان سره ئې ساتی، او بيا د ضرورت او مجبورئ په حالت کښې هغه خوری.

[1]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۰۰۷۱) (ضعيف)

[2]: سنن الترمذي/الزكاة ۲۹ (۶۶۵)، سنن النسائي/الزكاة ۷۰ (۲۵۶۶) (تحفة الأشراف: ۱۸۳۰۵)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/صفة النبي ۵ (۸)، مسند احمد (۷۰/۴) (صحيح)

بَابُ الصَّدَقَةِ عَلَى أَهْلِ الذِّمَّةِ

باب: ۳٤- ذمیانو ته صدقه ورکول

که کافر ذمي وي او که مشرک، هغه ته صدقه مفروضه یعنی زکوة ورکول جائز نه دی، البته صدقه نافله ورکولې شي، د زکوة مصرف کښې مسلمان کیدل ضروري دی، سوا د مؤلفة القلوب نه، چه په هغې کښې اختلاف دې، او د هغې بیان په تفصیل سره په مصارف زکوة کښې تیر شوې دې.

د حضرت شیخ رحمه الله په حاشیه کښې دي، چه د احنافو په نزد صدقة الفطر کافر ذمي ته ورکول جائز دي. (کما في الشامي) ۱هـ

[۱٦٦۸] (۱) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ أَبِي شُعَيْبٍ الْحَرَّانِيُّ، حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَسْمَاءَ، قَالَتْ: قَدِمَتْ عَلَيَّ أُمِّي رَاغِبَةً فِي عَهْدِ قُرَيْشٍ وَهِيَ رَاغِمَةٌ مُشْرِكَةٌ، فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّ أُمِّي قَدِمَتْ عَلَيَّ وَهِيَ رَاغِمَةٌ مُشْرِكَةٌ أَفَأَصِلُهَا؟ قَالَ: "نَعَمْ فَصِلِي أُمَّكِ".

د حضرت اسماء بنت ابی بکر رضي الله عنها نه روایت دې، هغه فرمائي چه د قریشو سره د معاهدهٔ حدیبیه په ورځو کښې زما مور (مدینه) ماته راغله او هغې (اسلام لره) ناخوښه ګڼړلو او مشرکه وه - ما تپوس اوکړو: اې دَ الله رسوله! زما مور ماته راغلې ده او هغه (اسلام) لره ناخوښه ګڼړي او مشرکه ده - آیا زهٔ دَ هغې سره حسنِ سلوک (ښهٔ سلوک) اوکړم؟ حضور ﷺ اوفرمائیل: او دَ خپلې مور سره دَ حسنِ سلوک او دَ صلهٔ رحمئ معامله اوکړه -"

شرح حدیث:

عَنْ أَسْمَاءَ قَالَتْ قَدِمَتْ عَلَيَّ أُمِّي رَاغِبَةً (۲) فِي عَهْدِ قُرَيْشٍ وَهِيَ رَاغِمَةٌ مُشْرِكَةٌ

حضرت اسماء بنت ابو بکر رضي الله عنها فرمائي چه په کومه زمانه کښې د مسلمانانو قریشو سره صلح وه، (یعنی صلح حدیبیه) هغه زمانه کښې زما مور ماته رغبت سره راغله، یعنی زما د حسن سلوک توقع سره، او زما د طرف نه د صله رحمئ امید سره راغله، لیکن د اسلام نه نفرت کونکې وه، یعنی څرنګه چه اسلام راوړونکی مدینې ته د هجرت او د قیام په نیت راځي، دهغې راتلل داسې نه وو، د اسلام سره دهغې بې رغبتي وه، صرف زما د وجې نه ملاقات دپاره راغلې وه، په بعضو روایتونو کښې دي، چه هغې ځان سره څه تحفې هم

(۱): صحيح البخاري/الهبة ۲۹ (۲٦۲۰)، والجزية ۱۸ (۳۱۸۳)، والأدب ۸ (۵۹۷۸)، صحيح مسلم/الزكاة ۱٤ (۱۰۰۳)، (تحفة الأشراف: ۱۵۷۲٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/۳٤٤، ۳٤۷، ۳۵۵) (صحيح)

(۲) د (راغبة) په تفسیر کښې اختلاف دې، صحیح دا ده چه د دې نه مراد (راغبة في صلتي) دې او بعض شارحین په (راغبة في الأسلام) سره د دې شرح کړې ده تردې چه بعض په دې بنیاد باندې هغه په صحابیات کښې شمار کړې دې خو دا صحیح نه ده ځکه چه د ابوداود په دې حدیث کښې (وهي راغمة مشركة) تصریح ده.. بلکه دا چه که هغه د (رغبة في الاسلام) سره راشي نو بیا به اسماء رضي الله عنها نه د رسول الله ﷺ نه د اجازت اخستلو ضرورت نه وو ځکه چه تالیف علي الاسلام په هغه زمانه کښې مشهور وو، د رسول الله ﷺ د فعل او امر د وجې نه. (قاله الحافظ ج ۱ ص ۳۲۵) امام نووی رحمه الله فرمائي: الاكثر علي انها ماتت مشركة، هم دغه شان خبره حافظ هم لیکلې ده چه د یو روایت نه هم د هغې اسلام ثابت نه دې.

راؤړلې وې، لیکن حضرت اسماء خپلې مور ته نه کور ته د داخلیدو اجازت ورکړو، او نه ئې دهغې تحفې قبولې کړې، تر څو پورې چه د نبی کریم ﷺ نه ئې تپوس نه وو کړې، حضور اقدس ﷺ حضرت اسماء رضي الله عنها ته د خپلې مور سره د حسن سلوک او د صله رحمئ حکم ورکړو، دا حدیث متفق علیه دې، امام بخاری دې لره په کتاب الهبه او کتاب الادب دوه ځایونو کښې ذکر کړې دې، او امام مسلم په کتاب الزکوة کښې، امام بخاری په دې باندې یو ځائې کښې باب قائم کړې دې، باب الهدية للمشركين، و قول الله تعالى لا ينهاكم الله عن الذين لم يقاتلوكم في الدين الآية، او بل ځائې کښې ئې باب قائم کړې دې، باب صلة الوالد المشرک، لیکن امام ابوداؤد څرنګه چه تاسو ګورئ، په دې حدیث باندې ئې د ذمی باب قائم کړې دې، دهغې وجه داده، چه د اسماء رضي الله عنها مور مدینې منورې ته د صلح په زمانه کښې راغلې وه، په دې اعتبار سره هغه ذمیه شوه، په اصل کښې ددې حدیث نه دکافر مور پلار سره د صله رحمئ ثبوت کیږی، چه دهغې په جواز کښې هیڅ تامل هم پکار نه دې، د نصوص قرآنیه او حدیثیه دواړو نه ثابت دې، لیکن مصنف رحمه الله په دې باندې د صدقة ترجمه قائمه کړې ده، د صله رحمئ نه د صدقې په جواز باندې استدلال په طریقې د قیاس دې، یعنی د رشته دارونه علاوه نورو کافرانو سره هم احسان او سلوک کولې شی،[1] كما قال الله تعالى لا ينهاكم الله عن الذين لم يقاتلوكم في الدين و لم يخرجوكم من دياركم ان تبروهم و تقسطوا اليهم الآية،لکه چه امام بخاری رحمه الله هم دې آیت لره په ترجمة الباب کښې ذکر کړې دې.

د اسماء رضي الله عنها د مور نوم قتیله بنت عبد العزی دې، او وئیلې شوې دی، چه قتیله دې، هغې ته حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه په زمانه دجاهلیت کښې طلاق ورکړې وو .(فتح الباری ۵\۱۷۱)

بَابُ مَا لَا يَجُوزُ مَنْعُهُ

باب: ۳۵- هغه څیزونه چه دهغې منع جائز نهٔ ده-

هغه څیزونه چه منع کول او صدقه کښې ئې نه ورکول جائز نه دی، بلکه ورکول ضروری او واجب دی.

[۱۶۶۹] ([2]) حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُعَاذٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، حَدَّثَنَا كَهْمَسٌ، عَنْ سَيَّارِ بْنِ مَنْظُورٍ رَجُلٍ مِنْ بَنِي فَزَارَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ امْرَأَةٍ يُقَالُ لَهَا: بُهَيْسَةُ، عَنْ أَبِيهَا، قَالَتْ: اسْتَأْذَنَ أَبِي النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَدَخَلَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ قَمِيصِهِ فَجَعَلَ يُقَبِّلُ وَيَلْتَزِمُ، ثُمَّ قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَا الشَّيْءُ الَّذِي لَا يَحِلُّ مَنْعُهُ؟ قَالَ: "الْمَاءُ"، قَالَ: يَا نَبِيَّ اللَّهِ، مَا الشَّيْءُ الَّذِي لَا يَحِلُّ مَنْعُهُ؟ قَالَ: "الْمِلْحُ"، قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَا الشَّيْءُ الَّذِي لَا يَحِلُّ مَنْعُهُ؟ قَالَ: "أَنْ تَفْعَلَ الْخَيْرَ خَيْرٌ لَكَ".

---

[1] او دا شبهه دې اونکړې شی چه دا خبره د دې آیت کریمه خلاف ده ﴿لا تجد قوما یومنون بالله والیوم الاخر یوادون من حاد الله ورسوله﴾ الایة. ځکه چه په دې آیت کریمه کښې خو کفار او مشرکینو سره د مودة نه منع کړې شوې ده او احسان او صله رحمی مودة لره مستلزم نه دی بعض وخت په چا باندې احسان مصلحة سره د نفرت نه هم کولې شی او مودة وئیلې شی قلبی تعلق او محبت ته.

[2]: تفرد به أبو داود، ويأتي برقم :(٣٤٧٦)،(تحفة الأشراف :١٥٦٩٧)، وقد أخرجه: مسند احمد(٤/ ٨٠، ٨١)، سنن الدارمي /البيوع ٧٠(٢٦٥٥)(ضعيف)

بهیسه رضي الله عنها د خپل پلار نه نقل کوی چه زما پلار د نبی کریم ﷺ نه د ملاویدو اجازت واخستو - او هغه د هغوی ﷺ د قمیص او د هغوی ﷺ په درمیان کښې داخل شو او د هغوی ﷺ جسم (مبارک) ئې ښکل کړو او په هغې پورې پیوست شو - بیا ئې اووې اې د الله رسوله ! هغه کوم څیز دې چه د هغې منع کول حلال نۀ دی حضور ﷺ اوفرمائیل : اوبۀ - بیا ئې تپوس اوکړو هغه کوم څیز دې چه د هغې منع کول حلال نۀ دی؟ هغوی ﷺ اوفرمائیل : مالګه -" بیا ئې تپوس اوکړو اې د الله رسوله ! هغه کوم څیز دې چه د هغې منع کول جائز نۀ دی؟ حضور ﷺ اوفرمائیل : کومه نیکی چه هم کوې هغه ستا د پاره خیر دې -

عَنْ امْرَأَةٍ يُقَالُ لَهَا بُهَيْسَةُ عَنْ أَبِيهَا بهیسه مجهوله ده، ددې د پلار دنوم په باره کښې وئیلې شوې دی، چه عمیر دې، صحابی دې، قلیل الروایة دې.

قَالَتْ اسْتَأْذَنَ أَبِي النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَدَخَلَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ قَمِيصِهِ فَجَعَلَ يُقَبِّلُ وَيَلْتَزِمُ حدیث باب د محبت او عشق باره کښې دې، بهیسه وائی، زما پلار د نبی کریم ﷺ نه ددې خبرې اجازت طلب کړو، چه هغه د ستاسو جسد اطهر او جسم انور ښکلول غواړی، یعنی بغیر د حائل نه، او صرف ښکلول نه، بلکه څومره هم چه بدن سره بدن یو ځائې کیدې شی، (یا خو د نبی کریم ﷺ سره د محبت په غلبه کښې، یا ددې وجې نه چه دهغه جسم د نبی کریم ﷺ د جسم سره د تماس په برکت سره د اور نه محفوظ شی)

ثُمَّ قَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا الشَّيْءُ الَّذِي لَا يَحِلُّ مَنْعُهُ قَالَ الْمَاءُ قَالَ يَا نَبِيَّ اللَّهِ مَا الشَّيْءُ الَّذِي لَا يَحِلُّ مَنْعُهُ قَالَ الْمِلْحُ قَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا الشَّيْءُ الَّذِي لَا يَحِلُّ مَنْعُهُ قَالَ أَنْ تَفْعَلَ الْخَيْرَ خَيْرٌ لَكَ

شرح حدیث من حیث الفقه:

د بهیسې پلار د نبی کریم ﷺ نه بار بار دا سوال اوکړو، چه هغه کوم څیز دې، چه دهغې نه انکار کول جائز نه دی، په اول ځل نبی کریم ﷺ اوفرمائیل: الماء، بیا دویم ځل سوال باندې نبی کریم ﷺ اوفرمائیل: الملح، بیاپه آخره کښې د دغې سوال په جواب کښې نبی کریم ﷺ اوفرمائیل: چه کوم د نیکئ کار وی هغې لره کول پکار دی، په دې جواب سره نبی کریم ﷺ تمادی فی السوال(یعنی د سوال او جواب سلسله) ختمه کړه، په دې حدیث باندې که فقهی حیثیت سره د ټولو مذاهبو په اعتبار سره کلام اوکړې شی، نو په دې کښې ډیر زیات طوالت دې، لهذا څرنګه چه خپله نبی کریم ﷺ په دې حدیث کښې اختصار اختیار کړې دې، مونږ هم مختصر لیکلو باندې اکتفاء کوؤ.

په کتاب البیوع کښې هم مصنف یو باب ددې قسم قائم کړې دې، باب فی منع الماء او په هغې کښې ئې ډیر احادیث ذکر کړې دی، هم دا د بهیسې والا حدیث هم، او بل حدیث د یو رجل مهاجری(چه دهغه د نوم تصریح په سند کښې نشته) چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل: المسلمون شرکاء فی ثلاث فی الماء والکلاء والنار.

علماؤ لیکلې دی، چه د اوبو درې قسمه دی، الانهار الکبار، الانهار الصغار، الماء المحرز فی الاناء، اول لکه نیل او فرات، لوئې لوئې نهرونه، چه دا د هیچا ملک نه دې، په دې کښې د

تولو خلقو شرکت دې، هيڅوک چاله منع کولې نه شي، او دويم قسم، وړوکي نهرونه، چه د لوئي نهرونو نه ويستلي شوي وي، دا نهرونه د هغې خلقو ملک دې، کومو چه په خپلي خرچي سره دا ويستلي او جاري کړې دي، او دهغې حکم دادې، چه څرنګه سرې خپله دهغې نهر نه فائده اخستلې شي، دغه شان نور خلق او دهغوی څاروی هم دهغې نه اوبه څکلې شي، منع کول جائز نه دي، البته که هغه څاروی دهغې نهر غاړه يا دولچه وغيره ماته کړي، يا خرابه کړي، نو بيا مالک منع کولې شي، ليکن په دې اوبو سره نور خلق خپل باغونه او پټی د مالک د اجازت نه بغير خړوب کولې نه شي، ددې نه هغه دوی لره منع کولې شي، او د دريم قسم حکم دادې، چه هغه اوبه دسړی خپل ملک دې، د بل دپاره په هغې کښې بالکل تصرف جائز نه دې.

او د ملح نه مراد هغه مالګه ده، چه په خپل معدن کښې وی، او هغه معدن په ارض غير مملوکه کښې وی، او که په خپل مملوکه زمکه کښې وی، يا داسې مالګه چه د سړی په خپل ملک او خرز کښې وی، نو دهغې منع کول جائز دی، دا خو اصولی او آئينی خبره ده، دويم احتمال په حديث کښې دادې، چه دې سره د حق شرع بيان مقصود نه دې، بلکه دا د حسن معاشرت او د مکارم اخلاق د قبيلې نه دې، او د بخل نه منع کول دی، په دې صورت کښې به قسم ثالث هم په دې حکم کښې داخل شي، او د هيڅ تخصيص حاجت به نه وی. و حديث الباب قال المنذری اخرجه النسائی.

باب الْمَسْأَلَةِ فِي الْمَسَاجِدِ

باب: ۳۶- په جماتونو کښې سوال کول

[۱۶۷۰]([1]) حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ آدَمَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ بَكْرٍ السَّهْمِيُّ، حَدَّثَنَا مُبَارَكُ بْنُ فَضَالَةَ، عَنْ ثَابِتٍ الْبُنَانِيِّ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "هَلْ مِنْكُمْ أَحَدٌ أَطْعَمَ الْيَوْمَ مِسْكِينًا؟" فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: دَخَلْتُ الْمَسْجِدَ فَإِذَا أَنَا بِسَائِلٍ يَسْأَلُ فَوَجَدْتُ كِسْرَةَ خُبْزٍ فِي يَدِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، فَأَخَذْتُهَا مِنْهُ فَدَفَعْتُهَا إِلَيْهِ.

د حضرت عبد الرحمن بن ابی بکر رضی الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ پوښتنه اوکړه :" آيا په تاسو کښې څوک شته چه هغه نن په چا مسکين باندې خوراک کړې وی؟ " نو ابوبکر رضی الله عنه جواب ورکړو : زه جمات ته داخليدم ما يو سوال کوونکې په سوال کولو باندې اوليدلو، ما (د خپل څوی) عبدالرحمن په لاس کښې دَ روټئ يوه ټکړا اومندله نو ما هغې لره دَ هغه نه واخستله او هغه سائل ته مې ورکړه.-"

په حديث الباب کښې دادی چه حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه فرمائي چه يوه ورځ زه جمات ته لاړم، نو اومې ليدل چه يو سائل سوال کوی، هغه فرمائي چه زما د څوی عبدالرحمن په لاس کښې د ډوډئ يوه ټکړه وه، ما دهغه د لاس نه واخستله، او هغې سائل ته مې ورکړه.

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۹۶۹۰)(صحيح)

په حديث باندې كلام من حيث الفقه:

د جمهورو په نزد سوال فى المسجد جائز دې، او اعطاء هم جائز ده، ليكن كه سائل چرته بدعنواني اوكړي، مثلا په سوال كښې الحاح او اصرار اوكړي، يا تخطى رقاب اوكړي، نو بيا سوال او اعطاء دواړه ناجائز دى، دا خو د جمهورو مسلک ددې، او داحنافو په نزد سوال فى المسجد مطلقا حرام دې، او په اعطاء كښې دوه اقوال دى، (١) مطلقا كراهة، (٢) دويم قول دادې چه په اعطاء كښې كراهة په هغه وخت كښې دې، چه كله سائل تخطى رقاب اوكړي، گنى كراهة نشته، قول أصح هم دادې، لهذا دا حديث د سوال فى المسجد په مسئله كښې د احنافو خلاف دې، ددې جواب يو خو دادې، چه په دې حديث كښې ددې تصريح نشته، چه هغه سائل په جمات كښې وو، ممكن ده، چه د جمات نه بهر جمات سره نزدې ئې سوال كولو، چه هغه صديق اكبر رضي الله عنه په جمات كښې واؤريدو، دويم جواب دادې، چه دا حديث ضعيف دې، د مبارک بن فضاله د وجې نه، اكثرو امامانو ددهٔ تضعيف كړې دې، دا حديث مطولا په مسند بزار كښې دې، او امام ابوبكر بزار هم په دې باندې كلام كړې دې، د احنافو دليل په حرمت سوال كښې هغه حديث دې، كوم چه په كتاب الصلوة، ابواب المساجد كښې تير شوې دې، من سمع رجلا ينشد ضالة فى المسجد فليقل لا رادها الله اليک فان المساجد لم تبن لهذا، (بذل و منهل) هركله چه د خپل څيز تلاش كولو نه او دهغې باره كښې د سوال كولو نه منع شوې ده، نو د بل نه سوال كول به په طريقه اولى منع وى، والله تعالى اعلم.

تشريح: قوله: قال المنذرى وقد اخرجه مسلم فى صحيحه والنسائى فى سننه من حديث ابى حازم سلمان الاشجعى عن ابى هريرة بنحوه، اتم منه.

بَابُ كَرَاهِيَةِ الْمَسْأَلَةِ بِوَجْهِ اللَّهِ تَعَالَى

باب: ٣٧- دَ الله تعالى په مخ باندې سوال كول مكروه دى:

[١٦٧١] (١) حَدَّثَنَا أَبُو الْعَبَّاسِ الْقِلَوْرِيُّ، حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِسْحَاقَ الْحَضْرَمِيُّ، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ مُعَاذٍ التَّمِيمِيِّ، حَدَّثَنَا ابْنُ الْمُنْكَدِرِ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا يُسْأَلُ بِوَجْهِ اللَّهِ إِلَّا الْجَنَّةُ".

د حضرت جابر رضي الله عنه نه روايت دې چه نبى كريم صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل: " د الله تعالى د مخ په واسطه باندې صرف د جنت سوال كولې شى ."

عَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يُسْأَلُ بِوَجْهِ اللَّهِ إِلَّا الْجَنَّةُ،

لَا يُسْأَلُ: مضارع منفى مجهول، او صيغه د نهى دواړه كيدې شى.

شرح حديث

د حديث دوه مطلبه كيدې شى، (١) د الله تعالى د ذات په توسل سره څه معمولى څيز نه دى غوختل پكار، يعنى خپله د الله تعالى نه، ځكه چه عظيم ذات لره وسيله جوړول د حقير څيز په طلب كښې غير مناسب دى، بلكه د جنت پشان عظيم الشان څيز غوختل پكار دى، مثلا

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٣٠٤٠) (ضعيف)

داسې دعا غوختل جائز نه دی، چه یا الله د خپل کریم ذات په وسیلې او طفیل سره ماته یو وسیع کور راکړه، بلکه داسې دې اوائی، چه اې الله د خپل کریم ذات په طفیل سره ماته جنت الفردوس راکړه، او دویم مطلب دادې، چه د خلقو نه سوال د الله تعالی د ذات په وسیلې سره کول جائز نه دی، یعنی د دنیوی مال او متاع سوال کول د خلقو نه د الله تعالی په وسیلې سره جائز نه دی، مثلا چاته داسې اوائی، چه ماته د الله تعالی دپاره فلانې څیز راکړه، د الله تعالی په نوم سره حقیر څیز طلب کول پکار نه دی، دا دویم مطلب علامه طیبی رحمه الله لیکلې دې، په دې باندې صاحب منهل لیکلې دی، چه دا کراهت او ممانعت په هغه وخت کښې دې، چه کله مسئول (د چا نه چه سوال کولې شي) سوال سره تنګ دله او سترې کیږی، که دا خبره نه وی، بلکه د الله تعالی د نوم نه متاثره کیږی، او دهغې د عزت خیال ساتی، نو بیا په کښې هیڅ ګناه نشته، کما سیاتی فی الحدیث الآتی.

باب عطية من سأل بالله

باب: ۳۸- کوم کس چه دَ الله تعالی په نوم باندې سوال اوکړی، هغه ته ورکول پکار دی.

[۱۶۷۲] (١) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ مُجَاهِدٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنِ اسْتَعَاذَ بِاللَّهِ فَأَعِيذُوهُ، وَمَنْ سَأَلَ بِاللَّهِ فَأَعْطُوهُ، وَمَنْ دَعَاكُمْ فَأَجِيبُوهُ وَمَنْ صَنَعَ إِلَيْكُمْ مَعْرُوفًا فَكَافِئُوهُ، فَإِنْ لَمْ تَجِدُوا مَا تُكَافِئُونَهُ فَادْعُوا لَهُ حَتَّى تَرَوْا أَنَّكُمْ قَدْ كَافَأْتُمُوهُ".

د حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل :کوم کس چه دَ الله په واسطې سره پناه اوغواړی نو هغه ته امان ورکړئ - او کوم کس چه دَ الله په نوم باندې سوال اوکړی نو هغه ته ورکړئ - او څوک چه ستاسو دعوت اوکړی نو دَ هغه دعوت قبول کړئ - او څوک چه له تاسو سره احسان اوکړی نو دَ هغې بدله ورکړئ - کهٔ چرې دَ بدلې ورکولو دَ پاره څهٔ څیز بیا نهٔ مومئ نو دَ هغه په حق کښې دَعا کوئ تردې پورې چه تاسو ته یقین راشي چه دَ هغه(دَ احسان) بدله تاسو پوره کړه -"

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ اسْتَعَاذَ بِاللَّهِ فَأَعِيذُوهُ وَمَنْ سَأَلَ بِاللَّهِ فَأَعْطُوهُ وَمَنْ دَعَاكُمْ فَأَجِيبُوهُ

کوم سړې چه ستا نه پناه اوغواړی د الله تعالی په وسیلې سره، نو هغه ته پناه ورکړه، او کوم سړې چه ستا نه سوال اوکړی، د الله تعالی په وسیلې سره، نو تهٔ دهغه سوال پوره کړه، مطلب دادې، چه دا خو جدا خبره ده، چه سائل لره پکار دی، چه هغه د دنیوی مال او متاع دپاره د الله تعالی د عظیم الشان ذات په وسیلې سره د خلقو نه سوال نه کوی، لیکن ستا دپاره پکار دی، چه که یو سړې د الله تعالی د نوم په وسیلې سره ستا نه سوال اوکړی، نو تهٔ هغه ته ورکړه، بیا مخکښې فرمائي، او څوک چه تاته دعوت درکړی، مثلا د ولیمې، نو هغې لره قبول کړه، مطلب دادې، چه که څوک تا راوبلی مدد دپاره، نو تهٔ دهغه مدد اوکړه، او څوک چه تاسره هر قسمه احسان اوکړی، نو تهٔ هغه ته دهغې بدله ورکړه، د احسان بدله

(١): سنن النسائي/الزكاة ٧٢(٢٥٦٨)،(تحفة الأشراف: ٧٣٩١)، وقد أخرجه: مسند احمد(٦٨/٢، ٩٥، ٩٩، ١٢٧)(صحيح)

په احسان سره، او که د احسان بدله په احسان سره نه شي ورکولې، (په وجه ددې چه ستا طاقت نشته) نو دهغه دپاره د خيردعا کوه، تردې پورې چه تهٔ پوهه شې، چه اوس دهغه بدله ادا شوه، او په دعا کښې جزاک الله وئيل هم کافي دی، لکه په يو حديث کښې دی، من صنع اليه معروف فقال لفاعله جزاک الله فقد ابلغ في الثناء، (رواه الترمذی والنسائی من حديث اسامة بن زيد مرفوعا)

بَابُ الرَّجُلِ يَخْرُجُ مِنْ مَالِهِ

باب: ۳۹- کهٔ چرې څوک خپل تمام مال صدقه کول اوغواړي

يخرج د ثلاثي مجرد نه دې، يعنې کوم سړې چه د خپل مال صدقه اوکړي، او د خپل مال نه بهر راؤځي، يعنې دهغې نه بالکل جدا او دست بردار شي، او دا هله کيدې شي، چه کله هغه ټول مال صدقه کړي، نو ګويا په دې باب سره د مصنف عرض دتصدق بجميع المال حکم بيانول دی.

[۱۶۷۳] (¹) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ عُمَرَ بْنِ قَتَادَةَ، عَنْ مَحْمُودِ بْنِ لَبِيدٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ الْأَنْصَارِيِّ، قَالَ: كُنَّا عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ جَاءَهُ رَجُلٌ بِمِثْلِ بَيْضَةٍ مِنْ ذَهَبٍ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَصَبْتُ هَذِهِ مِنْ مَعْدِنٍ فَخُذْهَا فَهِيَ صَدَقَةٌ مَا أَمْلِكُ غَيْرَهَا، فَأَعْرَضَ عَنْهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ أَتَاهُ مِنْ قِبَلِ رُكْنِهِ الْأَيْمَنِ، فَقَالَ: مِثْلَ ذَلِكَ، فَأَعْرَضَ عَنْهُ ثُمَّ أَتَاهُ مِنْ قِبَلِ رُكْنِهِ الْأَيْسَرِ، فَأَعْرَضَ عَنْهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ أَتَاهُ مِنْ خَلْفِهِ، فَأَخَذَهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَحَذَفَهُ بِهَا فَلَوْ أَصَابَتْهُ لَأَوْجَعَتْهُ أَوْ لَعَقَرَتْهُ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَأْتِي أَحَدُكُمْ بِمَا يَمْلِكُ فَيَقُولُ هَذِهِ صَدَقَةٌ، ثُمَّ يَقْعُدُ يَسْتَكِفُّ النَّاسَ، خَيْرُ الصَّدَقَةِ مَا كَانَ عَنْ ظَهْرِ غِنًى".

حضرت جابر بن عبد الله انصاري رضي الله عنه بيان کوی چه مونږ د رسول الله ﷺ په خدمت کښې وو چه اچانک يو سړې راغې او د هغه سره د انډې په مقدار باندې سرهٔ زر وو - وې وئيل: اې د الله رسوله! دا ماته د يو کان نه ملاؤ شوې دی تاسو دې لره واخلئ، دا صدقه ده، ما سره ددې نه علاوه نور هيڅ نشته دې - نو رسول الله ﷺ د هغه نه مخ واړولو، نو هغه د حضور ﷺ ښئ جانب ته راغې او د اول په شان ئې اووې - حضور ﷺ د هغه نه مخ واړولو نو هغه کس د حضور ﷺ کس جانب ته راغې نو رسول الله ﷺ د هغه نه مخ واړولو - بيا هغه حضور ﷺ ته د شا د طرف نه راغې - نو رسول الله ﷺ د هغه نه هغه سرهٔ زر واخستل او لره ئې کړل - کهٔ چرې دا دهٔ ته رسيدلې وه نو دهٔ لره به ئې زخمي کړې وو - بيا رسول الله ﷺ اوفرمائيل: په تاسو کښې يو کس خپل ټول مال راوړی اووائی چه دا صدقه ده او بيا د خلقو نه سوال کوی - بهترينه صدقه هغه ده چه هغه د خپلوضرورياتو د پوره کيدو نه پس ورکړی -"

تشريح: قوله: عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ الْأَنْصَارِيِّ قَالَ كُنَّا عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ جَاءَ رَجُلٌ بِمِثْلِ بَيْضَةٍ مِنْ ذَهَبٍ .الخ

د حديث مضمون خو بالکل واضح دې، د تشريح محتاج نه دې، ددې حديث نه واضحه

¹: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۳۰۹۷)، وقد أخرجه: سنن الدارمي/الزكاة ۲۵ (۱۷۰۰) (ضعيف)

کیږی، چه تصدق بجمیع المال ممنوع دې، لیکن دامنع دهغه سړی په حق کښې ده، چه دهغه حال هغه وی، کوم چه په حدیث کښې آخر کښې ذکر دې. ثم قعد یستکف الناس، یعنی ټول مال صدقه کړی، او په بله ورځ د خلقو مخکښې لاسونه خوارهٔ کړې ناست وی سوال کوی.

تصدق بجمیع المال کښې د علماؤ اختلاف:

د تصدق بجمیع المال مسئله مختلف فیه ده، امام نووی په شرح مسلم کښې فرمائي، چه زمونږ یعنی د شافعیه مسلک دادې، چه تصدق بجمیع المال مستحب دې، لیکن ددې دپاره څه قیود او شرائط دی، (۱) هغه سړې قانع او صابر وی، (۲) دهغه په ذمه د چا دین نه وی (۳) هغه سړې عیال دار نه وی که عیال والا وی، نو بیا هغه عیال هم ددهٔ پشان قانع او صابر وی، او که دا شرطونه موجود نه وی، نو بیا مکروه دی. قاضی عیاض فرمائي، عند الجمهور و علماء الامصار تصدق بجمیع المال جائز دې، او یو قول دادې، چه جائز نه دې، ټولو لره به رد کولې شی، وهذا مروی عن عمر بن الخطاب ﷺ او یو قول دادې، چه که څوک خپل ټول مال صدقه کړی، نو دهغه دا تصرف به صرف په ثلث مال کښې نافذ وی، په باقی کښې به نافذ نه وی، وهو مذهب اهل الشام و قیل ان زاد علی النصف ردت الزیادة وهو محکی عن مکحول الشامی، په دې باندې نور کلام په مخکښې باب کښې راروان دې.

[۱۶۷۴] (۱) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا ابْنُ إِدْرِيسَ، عَنْ ابْنِ إِسْحَاقَ، بِإِسْنَادِهِ، وَمَعْنَاهُ، زَادَ: "خُذْ عَنَّا مَالَكَ لَا حَاجَةَ لَنَا بِهِ".

ابن اسحاق په خپل مذکوره سند سره هم ددې روایت هم معنیٰ روایت کړې دې - مګر په دې کښې مزید دادی چه حضور ﷺ اوفرمائیل : زمونږ نه خپل مال یوسه زمونږ دې ته هیڅ ضرورت نشته دې -" (نبی کریم ﷺ هغې لره قبول نهٔ کړو -)

[۱۶۷۵] (۲) حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ ابْنِ عَجْلَانَ، عَنْ عِيَاضِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَعْدٍ، سَمِعَ أَبَا سَعِيدٍ الْخُدْرِيَّ، يَقُولُ: "دَخَلَ رَجُلٌ الْمَسْجِدَ فَأَمَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَطْرَحُوا ثِيَابًا فَطَرَحُوا، فَأَمَرَ لَهُ مِنْهَا بِثَوْبَيْنِ، ثُمَّ حَثَّ عَلَى الصَّدَقَةِ فَجَاءَ فَطَرَحَ أَحَدَ الثَّوْبَيْنِ فَصَاحَ بِهِ، وَقَالَ: خُذْ ثَوْبَكَ".

د حضرت ابو سعید خدری ﷺ نه روایت دې چې یو کس جمات کښې داخل شو نو نبی کریم ﷺ خلقو ته حکم اوکړو : کپړې ورکړئ (په صدقه کښې) او ددهٔ (یعنی د راتلونکی کس) په باره کښې ئې اوفرمائیل چه دهٔ ته دوه کپړې ورکړئ - حضور ﷺ بیا دوباره د صدقې ترغیب ورکړو نو هغه کس هم خپله یوه کپړا راویشته - حضور ﷺ هغه لره اوږټلو اووې فرمائیل : خپله کپړا اوچته کړه -"

خَيْرُ الصَّدَقَةِ مَا كَانَ عَنْ ظَهْرِ غِنًى بهترینه صدقه هغه ده، چه دهغې نه پس په متصدق کښې غنی باقی وی، دهغې صورت دادې، چه سړې د خپل او د خپل أهل او عیال د ضرورت نه

(۱): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۳۰۹۷) (ضعیف)

(۲): سنن النسائي/الجمعة ۲۶ (۱۴۰۹)، والزكاة ۵۵ (۲۵۳۷)، (تحفة الأشراف: ۴۲۷۴)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الصلاة ۲۵۰ (الجمعة ۱۵) (۵۱۱)، حم (۳/۲۵) (حسن)

علاوه صدقه کړی، ددې نه معلومه شوه، چه تصدق بجميع المال په مقابله کښې تصدق بما فضل عن الحاجة(کوم مال چه د ضرورت نه زياتې وی) افضل دې

دوؤ احاديثو کښې تطبيق:

دا دهغې خلقو په حق کښې دی، چه زيات صابر، شاکر او قانع نه وی، او کوم خلق، چه صفت صبر، قناعت، او کمال يقين او توکل سره متصف وی، لکه صديق اکبر رضي الله عنه، نو دهغوی په حق کښې تصدق بجميع المال افضل دې، لکه چه د راتلونکې باب په حديث کښې راروان دی، چه بهترينه صدقه جهد المقل ده، يعنې چه غريب سړې محنت او مزدورئ سره مال ګټی، او بيا هغې لره صدقه کړی، دې سره د دواړو احاديثو په مينځ کښې چه کوم ظاهری تعارض په نظر راتلو، هغه هم ختم شو، چه دا اختلاف د اشخاص و احوال په اعتبار سره دې، او دويمه توجيه دا کيدې شی، چه عن ظهر غنی، کښې د غنی نه عام مراد واخستلې شی، که غنی المال وی، چه د عامو خلقو په اعتبار سره وی، او که غنی النفس وی، چه د قانعينو او صابرينو سره په اعتبار سره دې، بيا به په دې کښې تصدق بجميع المال هم راشی، او علامه سندهی داسې ليکلې دی، چه د غنی نه مراد عامه ده، که غنا قلبی وی، يا د قلب او ظهر اضافت غناء طرف ته اضافت بيانيه دې، څرنګه چه سړې د ملا په زور سره تکيه لګوی، او کښينی، چه هغې سره هغه ته آرام او سکون ملاويږی، دغه شان د کومې صدقې نه پس چه غنی باقی وی، نو هغه غنی به دهغه دپاره په منزله د ملا او ظهر وی، ځکه چه د صدقې نه پس به دهغه دار و مدار په هغې غنی وی، په دې باندې نور بحث په آئنده باب کښې راروان دې.

عَنْ عِيَاضِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَعْدٍ سَمِعَ أَبَا سَعِيدٍ الْخُدْرِيَّ يَقُولُ...دَخَلَ رَجُلٌ الْمَسْجِدَ فَأَمَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَطْرَحُوا ثِيَابًا فَطَرَحُوا فَأَمَرَ لَهُ بِثَوْبَيْنِ الخ

دا دويمه قصه ده، اوله قصه کښې د بيضة من ذهب وه-د رجل نه سليک غطفانی مراد دې، دهغه قصه په ابواب الجمعه کښې باب اذا دخل الرجل والامام يخطب کښې تيره شوې ده. دا واقعه د نسائی شريف په روايت کښې په تفصيل سره مذکور ده، پس حافظ منذری وائی:

واخرجه النسائی اتم منه ۱ هـ(عون)

د واقعې خلاصه داده. چه سليک غطفانی يو ځل چه کله نبی کريم صلی الله عليه وسلم خطبه ورکوله، جمات کښې حاضرشو، په هغه وخت کښې دهغه حالت ډير زيات خراب وو، (يعنې غريب وو) په بدن ئې پوره جامه هم نه وه، ډير په کمزوری لباس کښې وو، نبی کريم صلی الله عليه وسلم دهغه دا حالت ليدلو سره د خطبې په دوران کښې هغه ته د تحية المسجد ادا کولو حکم اوکړو، ټول خلق کوم چه په جمات کښې موجود وو، هغې سړی طرف ته متوجه شو، نبی کريم صلی الله عليه وسلم خلقو ته د صدقې ترغيب ورکړو، دهغې فضائل ئې بيان کړل، خلقو په صدقه کښې ډيرې زياتې جامې پيش کړې، نبی کريم صلی الله عليه وسلم د هغې نه دوه جامې هغې صاحب ته هم ورکړې، دې دپاره چه هغه خپل لباس درست کړی، د هغې نه پس چه کله دويمه جمعه راغله، او د جمعې په خطبه کښې د صدقې ذکر راغلو، نو هغې صاحب دا کار اوکړو، چه په تيره شوې جمعه چه

کومې دوه جامې نبی کریم ﷺ هغه ته ورکړې وې، په هغې دوارو کښې یوه جامه هغه هم په صدقه کښې پیش کړه، په دې باندې نبی کریم ﷺ غصه شو، او په اوچت آواز ئې اوفرمائیل: خذ ثوبک، اونیسه جامه خپله، دې حدیث باره کښې په منهل کښې لیکلې دی، واخرجه ایضا الحاکم و صححه او دا خبره مخکښې تیره شوې ده، چه دا روایت په نسائی کښې په زیات تفصیل سره بیان شوې دې.

[۱۶۷۶]()حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ خَيْرَ الصَّدَقَةِ مَا تَرَكَ غِنًى، أَوْ تُصُدِّقَ بِهِ عَنْ ظَهْرِ غِنًى، وَابْدَأْ بِمَنْ تَعُولُ".

حضرت ابو هریره ﷺ بیان کوی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل: بې شکه بهترینه صدقه هغه ده چه هغه غنا (دَ خلقو نه بې نیازی) باقی پریږدی یا داچه په دې کیفیت کښې صدقه اوکړې شی چه خپله محتاج او ضرورت مند نۀ وی (بلکې غنی وی) او دَ هغه چا نه شروع اوکړئ چه دَ هغوی کفالت ستاسو په ذمه باندې وی-"

تشریح: قوله: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ خَيْرَ الصَّدَقَةِ مَا تَرَكَ غِنًى أَوْ تُصُدِّقَ بِهِ عَنْ ظَهْرِ غِنًى وَابْدَأْ بِمَنْ تَعُولُ

دحدیث دا متن په صحیح بخاری و مسلم کښې هم شته، د حدیث د اولې جملې تشریح خو مخکښې تیره شوې ده، د آخری جملې مطلب دادې، چه د صدقې ابتداء دَ خپل کور د خلقو نه کول پکار دی، دَ چا نفقه چه د سړی په ذمه ده،

عال یعول، دَ خپل اهل عیال نفقه برداشت کول.

بَابٌ فِي الرُّخْصَةِ فِي ذَلِكَ

باب: ۴۰- دَ ټول مال دَ صدقه کولو رخصت

د ذلک اشاره تیر شوې ترجمة الباب طرف ته ده، یعنی د تصدق بجمیع المال رخصت او اجازت، ددې باب په حدیث باندې کلام په تیر شوې باب کښې تیر شوې دی، جهد المقل، یعنی د قلیل المال مشقت، د غریب سړی کوشش، ددې نه معلومه شوه، چه د فقیر (غنی القلب) صدقه اګر چه په مقدار کښې کمه وی، هغه افضله ده، د غنی او مالدار د صدقې نه، اګر چه دهغه صدقه ډیر زیات مقدار کښې ولې نه وی، لکه چه د ابو هریره ﷺ یو حدیث مرفوع دې، سبق درهم مائة الف درهم، (اخرجه النسائی وابن حبان والحاکم و صححه، کما فی المنهل) یعنی بعضې وخت کښې یو درهم د یو لاکهـ درهم نه زیات ثواب لری، صحابه کرامو عرض اوکړو، چه هغه څنګه؟ نبی کریم ﷺ اوفرمائیل: چه یو سړې چه هغه سره صرف دوه درهمه دی، هغه په هغې کښې یو درهم صدقه کړی، او دویم سړې هغه دې، چه هغه سره د دراهمو ډیرې لګیدلې وی، هغه په هغې کښې یو لاکهـ صدقه کړی.

---

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف :١٢٣٥٦)، وقد أخرجه: صحیح البخاري/الزكاة ١٨(١٤٢٦)، والنفقات ٢(٥٣٥٥)، صحیح مسلم/الزكاة ٣٥(١٠٤٢)، سنن الترمذي/الزكاة ٣٨(٦٨٠)، سنن النسائي/الزكاة ٥٣(٢٥٣٥)، مسند احمد(٢/٢٣٠، ٢٤٣، ٢٧٨، ٢٨٨، ٣١٩، ٣٦٢، ٣٩٤، ٤٣٤)(صحیح)

[۱۶۷۷](۱) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، وَيَزِيدُ بْنُ خَالِدِ بْنِ مَوْهَبٍ الرَّمْلِيُّ، قَالَا: حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ يَحْيَى بْنِ جَعْدَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّهُ قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَيُّ الصَّدَقَةِ أَفْضَلُ؟ قَالَ: "جُهْدُ الْمُقِلِّ، وَابْدَأْ بِمَنْ تَعُولُ".

د حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه منقول دی، هغوی پوښتنه اوکړه اې د الله رسوله ! کومه صدقه بهتره ده؟ حضور ﷺ اوفرمائیل : دَ کم مال والا چه محنت او مشقت اوکړی او ورکړی - او شروع دَ هغه چا نه کوئ دَ کومو چه کفالت ستاسو په ذمه باندې وی -

[۱۶۷۸](۲) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، وَعُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ وَهَذَا حَدِيثُهُ، قَالَا: حَدَّثَنَا الْفَضْلُ بْنُ دُكَيْنٍ، حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ سَعْدٍ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: سَمِعْتُ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، يَقُولُ: أَمَرَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا أَنْ نَتَصَدَّقَ، فَوَافَقَ ذَلِكَ مَالًا عِنْدِي، فَقُلْتُ: الْيَوْمَ أَسْبِقُ أَبَا بَكْرٍ إِنْ سَبَقْتُهُ يَوْمًا فَجِئْتُ بِنِصْفِ مَالِي، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا أَبْقَيْتَ لِأَهْلِكَ؟" قُلْتُ: مِثْلَهُ، قَالَ: وَأَتَى أَبُو بَكْرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ بِكُلِّ مَا عِنْدَهُ، فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا أَبْقَيْتَ لِأَهْلِكَ؟" قَالَ: أَبْقَيْتُ لَهُمُ اللَّهَ وَرَسُولَهُ، قُلْتُ: لَا أُسَابِقُكَ إِلَى شَيْءٍ أَبَدًا.

حضرت عمر بن الخطاب رضی الله عنه بیان کوی چه یوه ورځ نبی کریم ﷺ مونږ ته د صدقې کولو حکم اوکړو - په دې موقع باندې ماسره مال هم وو - چنانچه ما (په زړهٔ کښې) اووې : کهٔ چرې زهٔ دَ حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه نه سبقت کول اوغواړم نو نن سبقت کولې شم - چنانچه ما خپل نیم مال (دَ حضور ﷺ په خدمت کښې) راوړو - رسول الله ﷺ تپوس اوکړو تا دَ کور والو دَ پاره څهٔ باقی پریخودلې دی؟ " ما اووې هم دومره (مې پریخې دې او راغلې یم) او بیا حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه خپل تمام مال (دَ حضرت په خدمت کښې) راوړو - رسول الله ﷺ دَ هغوی نه پوښتنه اوکړه تا دَ کور والو دَ پاره څهٔ پریخې دی؟ هغوی رضی الله عنه اوفرمائیل : ما دَ هغوی دَ پاره الله او دَ هغه رسول پریخودلې دې - بیا ما اووې : زهٔ په څهٔ شئ کښې ددوی نه همیشه نهٔ شم مخکښې کیدلې -

قوله: يَقُولُ أَمَرَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا أَنْ نَتَصَدَّقَ فَوَافَقَ ذَلِكَ مَالًا عِنْدِي فَقُلْتُ الْيَوْمَ أَسْبِقُ أَبَا بَكْرٍ إِنْ سَبَقْتُهُ يَوْمًا فَجِئْتُ بِنِصْفِ مَالِي

حضرت عمر رضی الله عنه فرمائي چه یوه ورځ نبی کریم ﷺ مونږ ته د صدقې کولو حکم اوکړو، اتفاقًا هغه ورځ ماسره ډیر زیات سامان موجود وو، ما په خپل زړهٔ کښې سوچ اوکړو، که زهٔ د حضرت صدیق اکبر رضی الله عنه نه مخکښې کیدې شم، نو نن به مخکښې شم (په صدقه کښې) نو ما د خپل ټول مال نیمه راوړه، او د نبی کریم ﷺ خدمت کښې حاضر شوم، نبی کریم ﷺ تپوس اوکړو، چه د خپل کور والو دپاره دې څه پریخودل؟ ما عرض اوکړو، چه ددې برابر، او ابوبکر صدیق رضی الله عنه سره چه څه وو، هغه ټول ئې حاضر کړل، نبی کریم ﷺ دهغه نه هم تپوس اوکړو، چه کور والو دپاره دې څه پریخودل، هغوی عرض اوکړو، چه هغوی دپاره

(۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱٤۸۱۳)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳۵۸/۲) (صحيح)

(۲): سنن الترمذي/المناقب ۱٦ (۳٦۷۵)، (تحفة الأشراف: ۱۰۳۹۰)، وقد أخرجه: سنن الدارمي/الزكاة ۲٦ (۱۷۰۱) (حسن)

ما الله تعالى او دهغه رسول ﷺ پریخودو،(یعنی د الله او د رسول رضامندی مې هغوی دپاره پریخودله)

قُلْتُ لَا أُسَابِقُكَ إِلَى شَيْءٍ أَبَدًا عمر رضی الله عنه فرمائي چه ما اوئيل(په خپل زړه کښې يا ظاهر کښې) چه زۀ ستا نه چرې هم په څه نيکئ کښې مخکښې کيدې نشم

تصدق بجميع المال:

ددې واقعې نه د تصدق بجميع المال اولويت يا کم از کم جواز ثابتيږي، ليکن دهغه سړي دپاره چه په يقين او توکل کښې کمال لري.

صاحب منهل ليکلي دی، چه بهتره داده، چه دې ته د جواز درجه ورکړې شي، نه د استحباب، ځکه چه د نورو احاديثو نه د تصدق بالبعض افضل کيدل ثابتيږي، دغه شان د کعب ابن مالک رضی الله عنه قصه هم ددې مقتضی ده، او دا هغه قصه ده، چه امام ابوداؤد په کتاب الايمان والنذور کښې د باب من نذر ان يتصدق بماله، لاندې راوړلې ده، په هغې کښې دادی، چه هغه نبی کريم ﷺ ته عرض اوکړو، ان من توبتی ان اخرج من مالی کله الی الله والی رسوله صدقة قال لا، يعنی زما د توبې تکميل په دې کښې دې، چه زۀ خپل ټول مال صدقه کړم، نبی کريم ﷺ ورته اوفرمائيل: چه نا، داسې مۀ کوه، هغه بيا عرض اوکړو، چه صحيح ده، نيم مال به صدقه کړم، نبی کريم ﷺ اوفرمائيل: چه نا، هغه عرض اوکړو، چه صحيح ده، ثلث مال به صدقه کړم، نبی کريم ﷺ اوفرمائيل: چه دا صحيح ده، يو ثلث صدقه کړه، اهـ ددې جمهور علماء قائل دی، او بعضې علماء لکه امام مالک رحمه الله او امام اوزاعی رحمه الله فرمائي لا يجوز التصدق الا بالثلث و يرد عليه الثلثان وهو رواية عن مكحول الشامی وعنه ايضا يرد عليه ما زاد علی النصف،(من المنهل) و حديث الباب اخرجه ايضا الترمذی والحاكم و صححاه.

فائده : د احاديث شريفه نه د صدقې ډير لوئې فضيلت او فائدې معلوميږي، لکه په ترمذی شريف کښې دی، عن انس بن مالك مرفوعا ان الصدقة لتطفئ غضب الرب و تدفع ميتة السوء و فی حديث آخر بادروا بالصدقة فان البلاء لا يتخطاها،(په صدقه کښې تلوار کوئ، ځکه چه مصيبت او بلاګانې د صدقې نه مخکښې کيدې نشی) رواه ابو الحسن رزين بن معاوية العبدری(منهل)

بَابٌ فِي فَضْلِ سَقْيِ الْمَاءِ
په خلقو باندې د اوبو څښلو فضيلت

[۱٦۷۹](١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا هَمَّامٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ سَعِيدٍ، أَنَّ سَعْدًا أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: أَيُّ الصَّدَقَةِ أَعْجَبُ إِلَيْكَ؟ قَالَ: الْمَاءُ".

حضرت سعد(بن عباده) رضی الله عنه د نبی کريم ﷺ په خدمت کښې حاضر شو او تپوس ئې اوکړو کومه يوه صدقه د تاسو نه زياته پسنديده ده؟ حضور ﷺ اوفرمائيل : اوبۀ -

١): سنن النسائي/الوصايا ٩(٣٦٩٤)، سنن ابن ماجه/الأدب ٨(٣٦٨٤)،(تحفة الأشراف :٣٨٣٤)، وقد أخرجه: مسند احمد(٢٨٥/٥، ٧/٦)(حسن)

[۱۶۸۰]([1]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحِيمِ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَرْعَرَةَ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيِّبِ، وَالْحَسَنِ، عَنْ سَعْدِ بْنِ عُبَادَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، نَحْوَهُ.

محمد بن عبد الرحيم په خپل سند سره د حضرت سعد بن عباده رضی الله عنه نه، هغوی د نبی کریم ﷺ نه د مذکوره بالا حدیث هم مثل روایت کړی دي -

[۱۶۸۱]([2]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا إِسْرَائِيلُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ رَجُلٍ، عَنْ سَعْدِ بْنِ عُبَادَةَ، أَنَّهُ قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّ أُمَّ سَعْدٍ مَاتَتْ، فَأَيُّ الصَّدَقَةِ أَفْضَلُ؟ قَالَ: "الْمَاءُ"، قَالَ: فَحَفَرَ بِئْرًا، وَقَالَ: هَذِهِ لِأُمِّ سَعْدٍ.

د حضرت سعد بن عباده رضی الله عنه نه منقول دی، هغوی اوفرمائیل اې د الله رسوله ! (زما مور) ام سعد وفات شوې ده نو کومه یوه صدقه افضل ده؟ (چه هغې لره زه د هغې د طرف نه اوکړم) حضور ﷺ اوفرمائیل: اوبهٔ - چنانچه هغوی یو کوهی اوکنیستلو اووې فرمائیل چه دا (زما د مور) ام سعد د طرف نه دی -"

بَابٌ فِي فَضْلِ سَقْيِ الْمَاءِ

قوله: عَنْ سَعْدِ بْنِ عُبَادَةَ أَنَّهُ قَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ أُمَّ سَعْدٍ مَاتَتْ فَأَيُّ الصَّدَقَةِ أَفْضَلُ قَالَ الْمَاءُ قَالَ فَحَفَرَ بِئْرًا وَقَالَ هَذِهِ لِأُمِّ سَعْدٍ

حضرت سعد بن عبادة رضی الله عنه د نبی کریم ﷺ نه تپوس اوکړو، چه زما د مور انتقال شوې دې، که زهٔ دهغې د ایصال ثواب دپاره صدقه کوم، نو څه څیز صدقه کړم، نبی کریم ﷺ ورته اوفرمائیل: چه اوبهٔ صدقه کړه، د اوبونه مراد عامې دی، که د انسانانو د څکلو دپاره وی، او که د څاروؤ یا پټی وغیره دپاره وی، یا د طهارت دپاره وی، نبی کریم ﷺ د اوبو صدقې لره افضل اوګرزوله، ځکه چه اوبهٔ د عام حاجت او ضرورت څیز دې، ددې نفع ډیره زیاته عامه ده، او خصوصا د عربو په ګرم ملک کښې، چه هلته کښې د اوبو قلت هم دې.

مړی ته د کومو اعمالو ثواب رسی، او په دې کښې مذاهب ائمه:

ددې نه معلومه شوه، چه مړی ته د صدقې ثواب ملاویږی، ([3]) امام نووی رحمه الله په شرح مسلم (ص۳۲۴) کښې لیکلې دی، ([4]) چه په دې باندې د علماؤ اجماع ده، چه مړی ته د صدقې ثواب ملاویږی، دغه شان د مړی په حق کښې د دعا نافع کیدو باندې هم اجماع ده، او هم دغه شان په قضاء الدین عن المیت باندې هم اجماع ده، او حجة الاسلام عن المیت یعنی

---

[1]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۳۸۳٤) (حسن)

[2]: انظر حدیث رقم: ۱۶۷۸، (تحفة الأشراف: ۳۸۳٤) (حسن)

[3]: لیکن دا حدیث منقطع دې ځکه چه سعید بن المسیب او حسن بصری دواړو سعد بن عباده نه دې موندلې، ځکه چه د سعد وفات ۱۵ هـ یا ۱۴ هـ کښې دې اود ابن المسیب ولادة ۱۵ هـ کښې دې اود حسن بصری په ۲۱ هـ کښې، کذا في البذل والمنهل، خوصاحب د منهل لیکلی دی چه په دې کښې هیڅ باک نشته ځکه چه دحضرت سعید بن المسیب او خواجه حسن بصری په باره کښې دا دی چه: انهما لا یرویان الاعن ثقة، اهـ

[4]: تحت حدیث عائشه ان رجلا أتي النبي فقال ان امي افتلتت نفسها ولم توص واظنها لو تکلمت تصدقت افلها اجر ان تصدقت عنها قال نعم.اهـ، په حدیث کښې خودا سوال شوې وو چه مړی ته ثواب رسیږی او که نه.

فرض حج هم معتبر دي، دغه شان حج التطوع على الاصح عندنا البته په صوم عن الميت کښې اختلاف دې، په قراءت دقرآن کښې زمونږ مشهور مذهب دادې، چه ددې ثواب نه رسي، او د امام احمد رحمه الله په نزد رسي.

(قلت) د مذاهبو خلاصه داده، چه د عبادت ماليه ثواب بالاتفاق رسي، او په عبادت بدنيه کښې د دعا حکم هم دغه دې، باقي نور عبادت بدنيه مثلا مونځ تلاوت قران وغيره کښې اختلاف دې، د شافعيه په نزد نه رسي، د احنافو او حنابله په نزد رسي، د مالکيه مذهب لکه چه د الشرح الکبير وغيره نه معلوميږي، دادې، چه دهغوی په نزد د تلاوت قرآن ثواب صرف د مړی په نيت سره لوستلو سره رسي، البته که تلاوت کونکې الله تعالى ته دا دعا کولو سره تلاوت اوکړی، چه يا الله په خپل فضل سره ددې ثواب فلاني مړی ته اورسوې، نو رسي، ګويا د دعا په واسطې سره رسي، ددې نه بغير نه رسي، والله تعالى اعلم.
ماته ياديږي، چه غالبا په قصص الاولياء کښې مې لوستلې وو، چه عزالدين بن عبد السلام چا دهغه د مرګ نه پس په خوب کښې اوليدو، نو هغه اوفرمائيل: چه مونږ خو داسې وايو، چه مړی ته دقراءة قرآن ثواب نه رسي، ليکن دلته کښې راتلو نه پس مونږ دهغې خلاف اوموندل.

[۱۶۸۲]()[1] حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ الْحُسَيْنِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ بْنِ إِشْكَابَ، حَدَّثَنَا أَبُو بَدْرٍ، حَدَّثَنَا أَبُو خَالِدٍ الَّذِي كَانَ يَنْزِلُ فِي بَنِي دَالَانَ، عَنْ نُبَيْحٍ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "أَيُّمَا مُسْلِمٍ كَسَا مُسْلِمًا ثَوْبًا عَلَى عُرْيٍ كَسَاهُ اللَّهُ مِنْ خُضْرِ الْجَنَّةِ، وَأَيُّمَا مُسْلِمٍ أَطْعَمَ مُسْلِمًا عَلَى جُوعٍ أَطْعَمَهُ اللَّهُ مِنْ ثِمَارِ الْجَنَّةِ، وَأَيُّمَا مُسْلِمٍ سَقَى مُسْلِمًا عَلَى ظَمَإٍ سَقَاهُ اللَّهُ مِنَ الرَّحِيقِ الْمَخْتُومِ".

حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه د نبي کريم صلى الله عليه وسلم نه روايت کوی چه حضور صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل: کوم مسلمان چه چا مسلمان ته کپړا واغوندوله په داسې حال کښې چه هغه بربنډ وو نو الله تعالى به دهٔ ته دَ جنت شين پوشاک (جوړه) واغونده وی - او کوم مسلمان چه په چا مسلمان باندې خوراک اوکړو په داسې حال کښې چه هغه اوږې وو نو الله تعالىٰ به په هغه باندې دَ جنت ميوو نه خوراک اوکړی - او کوم مسلمان چه په چا مسلمان باندې څښاک اوکړو په داسې حال کښې چه هغه تږې وو نو الله تعالىٰ به په هغه باندې دَ جنت دَ خالص شرابو نه اوڅښی-"

بَابٌ فِي الْمَنِيحَةِ

باب: ۴۲- دَ پيو دَ پاره دَ څاروی دَ هديه کولو فضيلت

منحه او منيحه دواړه لغتونه دی، دا د عطيه او هديه يو خاص صورت دې، چه په هغې کښې تمليک المنفعت وی، نه تمليک الرقبة، ددې وجې نه د هر څيز منيحه دهغې سره مناسب وی، مثلا د ذهب او فضې منيحه داده، چه دراهم او دنانير چاته بطور قرض ورکول، او منيحة اللبن دادې، چه پئې ورکونکې اوښه يا بزه د څو ورځو دپاره چاته عارية

[1]): تفرد به أبو داود(تحفة الأشراف :۴۳۸۷)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/صفة القيامة ۱۸(۲۴۴۹)، مسند احمد(۱۳/۳)(ضعيف)

ورکول، چه څو ورځې هغه ددې نه نفع واخلي، او بیا ئې مالک ته واپس کړي، او د اونو منیحه داده، چه میوه دارې اونې د څو ورځو دپاره چاته عاریة ورکړي، دې دپاره چه هغه ددې د میوؤ نه څو ورځې فائده اوچته کړي، او بعضې علماء وائي چه منیحه پئی ورکونکې اوښې یا بزې سره خاص دې.

[١٦٨٣]() حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى، قَالَ: أَخْبَرَنَا إِسْرَائِيلُ. ح وحَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا عِيسَى وَهَذَا حَدِيثُ مُسَدَّدٍ وَهُوَ أَتَمُّ، عَنِ الْأَوْزَاعِيِّ، عَنْ حَسَّانَ بْنِ عَطِيَّةَ، عَنْ أَبِي كَبْشَةَ السَّلُولِيِّ، قَالَ: سَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَمْرٍو، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَرْبَعُونَ خَصْلَةً: أَعْلَاهُنَّ مَنِيحَةُ الْعَنْزِ مَا يَعْمَلُ رَجُلٌ بِخَصْلَةٍ مِنْهَا رَجَاءَ ثَوَابِهَا وَتَصْدِيقَ مَوْعُودِهَا إِلَّا أَدْخَلَهُ اللَّهُ بِهَا الْجَنَّةَ". قَالَ أَبُو دَاوُد: فِي حَدِيثِ مُسَدَّدٍ، قَالَ حَسَّانُ: فَعَدَدْنَا مَا دُونَ مَنِيحَةِ الْعَنْزِ مِنْ رَدِّ السَّلَامِ، وَتَشْمِيتِ الْعَاطِسِ، وَإِمَاطَةِ الْأَذَى عَنِ الطَّرِيقِ، وَنَحْوَهُ فَمَا اسْتَطَعْنَا أَنْ نَبْلُغَ خَمْسَةَ عَشَرَ خَصْلَةً.

حضرت عبد الله بن عمرو رضي الله عنه بیان کوي چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل ؛ په څلویښتو خصلتونو کښې دَ ټولو نه اعلیٰ خصلت دَ پیو چیلۍ هدیه کول دی -" کوم بنده چه ددې دَ ثواب امیدوار او په دې باندې دَ کړو شوو وعدو دَ تصدیق په بناء باندې په یو باندې عمل اوکړي نو الله تعالیٰ به دهٔ لره ددې په سبب سره په جنت کښې داخل کړي - امام ابوداود رحمه الله فرمائی چه دَ مسدد په روایت کښې حسان بن عطیه وئیلي دی چه مونږ دَ پئ ورکولو چیلۍ دَ هدیې نه علاوه(دَ نورو اعمالو مثلاً) دَ سلام او دَ انتپوشکی جواب ورکول او دَ لارې نه دَ اذیت والا څیز لرې کول، وغیره دَ شمارولو کوشش اوکړو مګر تر دَ پنځلسوخصلتونو پورې هم اونهٔ رسیدو (معلومه نهٔ ده چه هغه کوم کوم خصلتونه دی-)

تشریح: قوله: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرْبَعُونَ خَصْلَةً أَعْلَاهُنَّ مَنِيحَةُ الْعَنْزِ مَا يَعْمَلُ رَجُلٌ بِخَصْلَةٍ مِنْهَا رَجَاءَ ثَوَابِهَا وَتَصْدِيقَ مَوْعُودِهَا إِلَّا أَدْخَلَهُ اللَّهُ بِهَا الْجَنَّةَ قَالَ حَسَّانُ فَعَدَدْنَا مَا دُونَ مَنِيحَةِ الْعَنْزِ مِنْ رَدِّ السَّلَامِ وَتَشْمِيتِ الْعَاطِسِ الخ.

شرح حدیث:

عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه فرمائي چه یوځل نبی کریم ﷺ اوفرمائیل: چه څلویښت خصلتونه او نیک کارونه داسې دی، چه په هغې کښې د ټولو نه اعلی او اوچت خصلت منیحة العنز دې، د بزې منیحه(یعنی ددې نه علاوه چه باقی کوم یو کم څلویښت خصلتونه او عملونه دی، هغه ټول ددې نه کمې درجې والا دی، چه هغې لره اختیارول ډیر زیات اسان دی) کوم سړې چه په دې خصلتونو کښې یو خصلت هم اختیار کړي، د ثواب په امید سره او دالله د رسول په وعدې باندې یقین کولو سره، نو هغه به جنت کښې داخلیږي.

په دې حدیث کښې نبی کریم ﷺ دهغې څلویښتو خصلتونو(کوم چه جنت ته داخلونکې دی) تعین نه دې فرمائیلې، او هغه ئې شمار کړې نه دی، صرف دومره ئې فرمائیلې دی، چه دهغې ټولو نه یو منیحة العنز هم دې، او دا منیحة العنز په هغې ټولو کښې اعلی او د ټولو نه اوچت خصلت دې، باقی نور دهغې نه کم دی.

(): صحيح البخاري/الهبة ٣٥(٢٦٣١)،(تحفة الأشراف :٨٩٦٧)، وقد أخرجه: مسند احمد(٢/١٦٠، ١٩٤، ١٩٦)(صحيح)

اوس دلته کښې فطری طور باندې دا سوال پیدا کیږی، چه هغه باقی اعمال کوم کوم دی، نو حسان بن عطیه د حدیث راوی فرمائي چه مونږ هغې باقی اعمالو لره د احادیثو په ذخیره کښې تلاش کړل، نو تلاش کولو سره پنځلس خصلتونه هم معلوم نه شو، کوم چه هغوی ته معلوم شوې وو، په هغې کښې څو لره هغوی بیان کړې دی، لکه رد السلام، تشمیت العاطس، او اماطة الاذی عن الطریق وغیره.

دا حدیث په صحیح بخاری کښې هم دې،(۱) د کتاب الهبة باب فضل المنیحة دلاندې، حافظ ابن حجر په فتح الباری کښې د ابن بطال مشهور شارح حدیث نه نقل کړې دی، چه هغوی اوفرمائیل: چه ښکاره خبره ده، چه نبی کریم ﷺ ته هغه ټول خصلتونه معلوم وو، لیکن دهغې باوجود هغوی د څه مصلحت د وجې نه هغه شمار نه کړل، او هغه مصلحت دا کیدې شی، چه هسې نه چرته د تعین نه پس خلق باقی نیک عملونه پریږدی، او صرف په دغې څلویښتو باندې اکتفاء اوکړی، او بیا مخکښې فرمائي، لیکن دا هم حقیقت دې، چه که حسان راوی ته د تلاش کولو باوجود دهغې خصلتونو پته اونه لګیده، نو ددې نه دا لازم نه راځی، چه بل چاته هم پته اونه لګی، نو مونږ هغې خصلتونو لره په مختلفو احادیثو کښې تلاش کړل، نو هغه ټول خصلتونو الحمد لله ملاؤ شو، بلکه د څلویښتو نه هم زیات، او بیا ئې هغه ټول خصلتونه بیان کړل، حافظ فرمائي، چه د بخاری یو بل مشهور شارح ابن المنیر په ابن بطال باندې رد کړې دې، هغه وائی، چه ددې څه دلیل دې، چه د حضور ﷺ د هغې څلویښتو نه مراد دا خصلتونه دی، کوم چه ابن بطال تلاش کړې، او شمار کړې دی، او شمارل خو آسان کار دې، لیکن هغه قید چه دلته په حدیث کښې ذکر دې، چه هغه باقی ټول د منیحة العنز نه کم درجې والا دی، دا شرط په هغې کښې کوم ځائې موندلې کیږی، کوم چه تا تلاش کړې دی، بلکه صورت حال دادې، چه بعضې دهغې نه د منیحة العنز سره مساوی دی، او بعضې د هغې نه هم اوچت دی. هغوی دا هم فرمائیلې دی، چه هرکله د څه مصلحت د وجې نه خپله نبی کریم ﷺ هغه شمار نه کړل، حالانکه نبی کریم ﷺ ته یقینا هغه معلوم وو، نو بیا مونږ لره هم دهغې د تعین کوشش کول پکار نه دې، انتهی کلامه.

دغه شان علامه کرمانی هم د ابن بطال تردید کړې دې، او فرمائیلې دی، چه دهغه کلام د رجم بالغیب د قبیلې نه دې، حافظ ابن حجر هغې ټولو لره نقل کولو نه پس فرمائي، چه په دې خبره کښې خو زۀ د ابن بطال سره یم، چه دغې باقی خصلتونو لره په مختلفو احادیثو کښې تلاش کول پکار دی، تلاش کولو سره ملاویدې شی، لیکن په دې خبره کښې زۀ د ابن المنیر سره یم، چه واقعی ابن بطال چه کوم تلاش کړې دی، په هغې کښې بعضې د منیحة العنز نه کمې درجې والا نه دی. (من فتح الباری ج۵ ص۱۷۹)

---

(۱) صاحب د عون المعبود لیکلی دی چه دا حدیث امام بخاری روایت کړې دې خو تعجب دې په حافظ منذری چه هغوی دا حدیث (د ابوداؤد په شرح کښې) بخاری طرف ته نه دې منسوب کړې، او علامه مناوی فرمائي چه حاکم ته وهم اوشو هغوی دا حدیث په المستدرک کښې ذکرکړو، حالانکه مستدرک کښې خو هغه حدیث کیدل پکار دی کوم چه دامام بخاری د شرط کیدو باوجود په صحیح بخاری کښې موجود نه وی.

بَابُ أَجْرِ الْخَازِنِ

باب: ٤٣- دَخزانچي اجر او ثواب-

خازن يعني خزانچي، د مال محافظ او د مطبخ نگران وغيره.

[١٦٨٤]() حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، وَمُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ الْمَعْنَى وَاحِدٌ، قَالَا: حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ، عَنْ بُرَيْدِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي بُرْدَةَ، عَنْ أَبِي بُرْدَةَ، عَنْ أَبِي مُوسَى، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ الْخَازِنَ الْأَمِينَ الَّذِي يُعْطِي مَا أُمِرَ بِهِ كَامِلًا مُوَفَّرًا طَيِّبَةً بِهِ نَفْسُهُ حَتَّى يَدْفَعَهُ إِلَى الَّذِي أُمِرَ لَهُ بِهِ أَحَدُ الْمُتَصَدِّقِينَ".

حضرت ابو مسى بيان کوی چی رسوالله ﷺ اوفرمائيل: بي شکه امانت دار خزانچي کوم چه دَ مالک دَ حکم مطابق دَ زړهٔ په خوشئ سره پوره پوره ورکوی - تردي پوري چه دَ چا متعلق وئيلي شوې دی هغه ته ئي ورکړی، هغه ددو صدقه ورکوونکو نه يو دې -(يو اصل مالک چا چه دَ ورکولو حکم کړي دي او دويم هغه کس چا چه ادا کړو -)

تشريح: قوله: عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْخَازِنَ الْأَمِينَ الَّذِي يُعْطِي مَا أُمِرَ بِهِ كَامِلًا مُوَفَّرًا طَيِّبَةً بِهِ نَفْسُهُ بِهِ أَحَدُ الْمُتَصَدِّقَيْنِ

څوک چه د مال محافظ او نگران وی، او هغه امانتدار وی(دهغه حال داسې وی کوم چه مخکښې حديث کښې راروان دې) مالک چه هغه ته دڅه صدقه کولو وئيلي وی، هغې لره په خوشالئ سره پوره پوره ورکوی، نو دهغه شمار هم په صدقه کونکو کښې کيږی.

ډير کرته داسې کيږی، چه اصل مالک خو صدقه کول غواړی، او هغه ددې حکم هم ورکوی، ليکن دا لاندې خلق يعنی خزانچي وغيره پوره ورکولو ته تيار نه وی، اخوا ديخوا، ټال مټول کوی، حالانکه دهغه خپله هيڅ نه خرچ کيږی، ليکن د حب مال او د سختې کنجوسئ په وجه داسې کوی، ليکن ټول داسې نه وی، بعضې په هغوی کښې سخيان او نيکان هم وی، په خوشالئ خوشالئ پوره صدقه ورکوی، د دغسې حضراتو نبی کريم ﷺ تعريف فرمائيلي دې.

احد المتصدقين: دې لره تثنيه او جمع دواړو طريقې سره لوستلې شوې دې، که جمع ده، نو د هغې ترجمه بره ليکلې شوې ده، او د تثنيه کيدو په صورت کښې مطلب دادې، چه يو متصدق خو اصل مالک دې، او دويم متصدق دا شخص مامور دې، دواړه د صدقې په ثواب کښې شريک دی، باقي دا ضروری نه ده، چه د دواړو ثواب برابر وی، بلکه د يو د بل نه زيات يا کم کيدې شی، بعضو صورتونو کښې به د مالک ثواب زيات وی، او په بعضو صورتونو کښې به د رسونکې ثواب زيات وی. (٢)و حديث الباب اخرجه احمد والبخاری و مسلم والنسائی ايضا(منهل)

---

[1]): صحيح البخاري/الزكاة ٢٥(١٤٣٨)، والإجارة ١(٢٢٦٠)، والوكالة ١٦(٢٣١٩)، صحيح مسلم/الزكاة ٢٥(١٠٢٣)، سنن النسائي/الزكاة ٦٧(٢٥٦١)،(تحفة الأشراف :٩٠٣٨)، وقد أخرجه: مسند احمد(٣٩٤/٤، ٤٠٤، ٤٠٩)(صحيح)

[2]) مثلا که ډير مال وی او چاته ورکولې شی هغه په دروازه ولاړ دې چه په دې کښې مامور ته دهغه پورې رسولو کښې هيڅ مشقت نه وی، ظاهره ده چه دغه وخت به مالک ته ثواب زيات وی او که مال ډير کم وی او ځړنه ئې چه رسوی هغه ځاې ډير لرې دې نو په دې صورت کښې به د مامور ثواب زيات وی.(منهل).

باب المَرْأَةِ تَصَدَّقُ مِنْ بَيْتِ زَوْجِهَا[١]

باب: ٤٤ - دَ ښځې ثواب، کومه چه دَ خپل خاوند دَ کور نه صدقه ورکړي-

کور والا چه د کور د ضرورتونو دپاره د خوراک څکاک کوم سامان خپلې ښځې ته حواله کوي، نو آيا هغې لره په هغې کښې د صدقې ورکولو حق شته، او که نه؟ دغه شان د مطبخ چه کوم خادم او ناظم وي، هغوی په هغې خوراک کښې څه صدقه ورکولې شي او که نه؟ليکن د مطبخ دخادم او د خازن مسئله خو مستقل په مخکښني باب کښې تيره شوې ده، په دې سلسله کښې اکثر شارحينو په شروع کښې د قاضي ابوبکر ابن العربي رحمه الله کلام نقل کړې دې، هغوی فرمائي، چه آيا ښځه د کور په څيزونو کښې صدقه کولې شي او که نه؟ په دې کښې اختلاف دې، بعضي علماء خو دا فرمائي، چه داسې معمولي څيز چه دهغې عام طور باندې خلق پرواه نه ساتي، او هغې طرف ته توجه نه کوي، داسې څيز لره ښځه صدقه کولې شي،(په دې کښې د هيچا د اجازت ضرورت نشته) او بعضي علماء فرمائي چه ددې مدار د زوج په اجازت باندې دې، دکوم قسم څيز چه دهغه د طرف نه اجازت وي، صراحة يا دلالة، يعنى د قرائنو نه معلوميږي، چه خاوند ته به په دې باندې هيڅ اعتراض نه وي، نو داسې څيز لره صدقه کولې شي، ددې نه علاوه نشي صدقه کولې، د امام بخاري رحمه الله ميلان دې طرف ته دې، لکه هغوی په ترجمة الباب کښې د اجازت قيد ذکر کړې دې، هغوی فرمائي، او دا هم احتمال دې، چه ددې مدار د خلقو په عادت باندې وي، د کوم ځائي د خلقو چه څرنګه عادت وي، هغې لره به اعتبار وي، او د عدم افساد قيد چه په حديث کښې مصرح دې، هغه خو بالاجماع معتبر دې، يعنې ښځه چه کوم څيز صدقه کړي، هغه په طريقې او اعتدال سره وي، په هغې کښې ناديده والې بالکل نه وي، مثلاً په زيات مقدار کښې ورکړي، يا داسې سړي ته ورکړي، چه هغه ته ورکول مناسب نه دي، يا خاوند ته هغه سړې خوښ نه دې، وغيره وغيره. او د بعضو علماؤ رائې داده، چه په دې

---

[١]) زوجه د خاوند د مال نه صدقه کولې شي يا نه په دې کښې روايات مختلف دي په بعض کښې د اجازت قيد مذکور دې او په بعض کښې نه او د بعض رواياتو نه معلوميږي چه بعض څيزونه ورکولې شي او بعض نه، تر څيزونه کوم چه په کيخودلو سره خرابيږي هغه ورکولې شي د دې نه علاوه نه. ونحو ذلك من الاختلافات. جواب دا دې چه په دې کښې اصل دا دې چه بغير د اجازت نه اخستل جائز نه دي خو د اجازت دوه قسمونه دي : (دلالة) دويم (صراحة) نو (صراحة) کيدل ضروري نه دي بلکه دلالة هم کافي دی اوس چه په کومو رواياتو کښې د اجازت ذکر نشته هغه محمول دي په روايات مقيده بالاذن باندې ځکه چه دا تقييد د اصول او ضوابط مطابق دې. اوس دا چه په بعض رواياتو کښې چه کوم مطلقا مذکور دې او چرته مقيدا نو د هغې وجه دا هم کيدې شي چه په دې کښې د خلقو عادتونه مختلف دي، په بعض ملکونو او ښهرونو کښې اجازت د مخکښې نه وي، لکه چه د عربو په نزد عام طور سره په هغوی کښې د سخاوت ماده وي او د ميلمستيا ئې د دې په وجه باندې ضرورت نه دې ګنړلې او قيد ئې نه دې ذکر کړې. بله دا چه دا ټول بحث په دې کښې دې چه زنانه د خاوند د مال نه صدقه ورکړي او که هغه د خپل مال نه صدقه اوکړي نو په دې کښې د جمهورو په نزد (اذن) د زوج شرط نه دې البته د امام مالک په نزد په دې کښې هم د زوج اذن ضروري دې کما تذکر من کلام الشيخ قدس سره. ١٣.

احاديثو کښې د خادمانو او ښځو خرچ کولو نه مراد د صاحب مال په اهل و عيال باندې خرچ کول دی، نورو خلقو يعنی فقيرانو او مسکينانو ته ورکول مراد نه دی، او بعضو علماؤ په دې کښې د ښځې او د خادم په حکم کښې فرق کړې دې، چه ښځې ته خو د خاوند په مال کښې د حدودو دننه د صدقې ورکولو حق د تصرف حاصل دې، او خادمانو دپاره بغير د اجازت نه ورکول جائز نه دی، انتهی کلام ابن العربی، زۀ وايم، چه دې اخری قول لره امام بخاري رحمه الله اختيار کړې دې، ځکه چه هغه دې باره کښې دوه بابونه قائم کړې دی، د خادم متعلق باب ئې په امر سره مقيد کړې دې، او د زوجې متعلق باب ئې په غير مفسده سره مقيد کړې دې، په دې کښې هغه د امر زوج قيد نه دې ذکر کړې.

يو اشکال او دهغې جواب:

ليکن دلته کښې يو اشکال پيدا کيږی، هغه داچه دلته مخکښې د ابوهريره رضي الله عنه يو حديث مرفوع راروان دې، او هم دا حديث د بخاري رحمه الله په کتاب البيوع هم دې، په هغې کښې دادی، اذا انفقت المرءة من کسب زوجها عن غير امره فلها نصف اجره، ددې نه په ظاهر کښې دا معلوميږی، چه ښځه د خاوند د اجازت نه بغير د کور د ځيزونو نه صدقه ورکولې شی، او په دې صورت کښې به ښځې ته نيم اجر ملاويږی، ددې مفهوم دا شو، چه که اجازت ورکړی، نو هغې ته به پوره ثواب ملاويږی، حالانکه دا خبره د نورو احاديثو نه خلاف ده، چه په هغې کښې دادی، لا ينقص بعضهم اجر بعض، ددې حل حافظ صاحب ډير زبردست ليکلې دې، هغه دادې، چه ددې نه مراد د ښځې د هغه مال نه خرچ کول دی، کوم چه خاوند دهغې په حصه کښې اچولې وی، بيا دغه ښځه خاص دهغې خپلې حصې نه خرچ کوی، لهذا په دې کښې د خاوند اجازت ته ضرورت نشته، حافظ صاحب بيامخکښې فرمائي، او يا دا تاويل به کولې شی، چه په دې حديث کښې د اذن صريح او تفصيلی نفی مراد ده، د اذن مطلق نفی مراد نه ده، ځکه چه د خاوند د اجازت نه بغير ورکولو کښې د ښځې دپاره د اجر په ځائې وزر دې، او د نيم اجر توجيه دا کولې شی، چه ددې مطلب دا نه دې، چه د ښځې اجر د خاوند د اجر نه نيم دې، بلکه مطلب دادې، چه د دواړو اجر برابر دې، يعنی که د دواړو اجر راجمع کړې شی، نو په هغې کښې به د هر يو حصه نيمه نيمه وی، چه کله يو ځيز لره په دواؤ برابر حصو کښې تقسيمولې شی، نو وئيلې شی، نيم نيم واخله، او په منهل کښې ليکلې دی، چه علامه کرمانی دې حديث لره ددې په ظاهر باندې ساتلو سره فرمائيلې دی، چه لاينقص بعضهم اجر بعض خو په هغه صورت کښې دې، چه کله ښځه د خاوند په اجازت سره صدقه کوی، او د عدم اذن په صورت کښې ثواب نيم ملاويږی.

[۱۶۸۵](۱) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا أَبُوعَوَانَةَ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ شَقِيقٍ، عَنْ مَسْرُوقٍ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا أَنْفَقَتِ الْمَرْأَةُ مِنْ بَيْتِ زَوْجِهَا غَيْرَ مُفْسِدَةٍ كَانَ لَهَا أَجْرُ مَا أَنْفَقَتْ

۱): صحيح البخاري/الزكاة ۱۷(۱٤۲۵)، ۲۵(۱٤۳۷)، ۳٦(۱٤٤۰)، والبيوع ۱۲(۲۰٦۵)، صحيح مسلم/الزكاة ۲۵(۱۰۲٤)، سنن الترمذي/الزكاة ۳٤(٦۷۲)، سنن النسائي/الزكاة ۵۷(۲۵٤۰)، سنن ابن ماجه/التجارات ٦۵(۲۲۹٤)، (تحفة الأشراف: ۱۷٦۰۸)، وقد أخرجه: مسند احمد(٦/٤٤، ۹۹، ۲۷۸)(صحيح)

وَلِزَوْجِهَا أَجْرُ مَا اكْتَسَبَ وَلِخَازِنِهِ مِثْلُ ذَلِكَ لَا يَنْقُصُ بَعْضُهُمْ أَجْرَ بَعْضٍ".

د حضرت عائشې رضي الله عنها نه روايت دې، هغه وائي چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل: " ښځه چه کله دَ خپل خاوند دَ کور نه خرچ اوکړي (صدقه ورکړي) په داسې حال کښې چه دا اسراف کوونکې نهٔ وي نو ددې دَ پاره دَ صدقې کولو او دَ خاوند دَ پاره دَ ګټلو ثواب دې او ددې دَخزانچي دَ پاره هم دومره قدرې دې، اوپه دوی کښې هيڅ يو کس هم دَبل ثواب نهٔ کموي.

[۱۶۸۶]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَوَّارٍ الْمِصْرِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ السَّلَامِ بْنُ حَرْبٍ، عَنْ يُونُسَ بْنِ عُبَيْدٍ، عَنْ زِيَادِ بْنِ جُبَيْرِ بْنِ حَيَّةَ، عَنْ سَعْدٍ، قَالَ: لَمَّا بَايَعَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ النِّسَاءَ، قَامَتِ امْرَأَةٌ جَلِيلَةٌ كَأَنَّهَا مِنْ نِسَاءِ مُضَرَ، فَقَالَتْ: يَا نَبِيَّ اللَّهِ، إِنَّا كَلٌّ عَلَى آبَائِنَا وَأَبْنَائِنَا، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَأُرَى فِيهِ وَأَزْوَاجِنَا فَمَا يَحِلُّ لَنَا مِنْ أَمْوَالِهِمْ، فَقَالَ: "الرَّطْبُ تَأْكُلْنَهُ وَتُهْدِينَهُ"، قَالَ أَبُو دَاوُد: الرَّطْبُ الْخُبْزُ وَالْبَقْلُ وَالرُّطَبُ. قَالَ أَبُو دَاوُد: وَكَذَا رَوَاهُ الثَّوْرِيُّ، عَنْ يُونُسَ.

د حضرت سعد (بن ابی وقاص رضي الله عنه) نه روايت دې چه کله رسول الله ﷺ دَ ښځو نه بيعت واخستو نو يو باوقاره (يا دَ اوږد قد والا) ښځه اودريده، ګويا چه هغه دَ قبيلهٔ مُضر نه وه، هغې اووې : اې دَ الله رسوله ! اې دَ الله نبي ! مونږ مور او پلار خوپه خپل اولاد ... امام ابوداودرحمه الله فرمائی زما خيال دې چه هغې دَ خاوندانو ذکر هم اوکړو ...... باندې بوج يو نو زمونږ دَ پاره دَ هغوی دَ مالونو نه څهٔ حلال دی؟ حضور ﷺ اوفرمائيل : تَر خيزونه خورئ او هديه هم ورکوئ امام ابوداودرحمه الله فرمائي [رطب] " تر خيز " نه مراد ترکاری او تازه کجورې دی امام ابوداودرحمه الله فرمائي : ثوری هم دَ يونس نه داسې روايت کړې دې

تشريح: **قوله**: عَنْ سَعْدٍ قَالَ لَمَّا بَايَعَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ النِّسَاءُ قَامَتْ امْرَأَةٌ جَلِيلَةٌ كَأَنَّهَا مِنْ نِسَاءِ مُضَرَ فَقَالَتْ يَا نَبِيَّ اللَّهِ إِنَّا كَلٌّ(۲) عَلَى آبَائِنَا وَأَبْنَائِنَا

ددې حديث راوی سعد دې، يعنی سعد بن ابی وقاص، كما فی البذل، د حضرت شيخ په حاشيه دبذل کښې دی، چه دعلامه عينی رائې هم داده، ليکن دا صحيح نه ده،وهم دې، بلکه دا سعد انصاری دې، يو بل سړې كما بسطه الحافظ فی التهذيب فی ترجمته. ا هـ

مضمون حديث :

مضمون د حديث دادې، چه حضرت سعد رضي الله عنه فرمائي، کله چه نبی کريم ﷺ ښځو ته بيعت اوفرمائيلو ،يعنی په هغې مضمون باندې کوم چه په دې آيت کريمه کښې دې، علی ان لا يشركن بالله شيئا و لا يسرقن ولا يزنين الاية، نو يوه غټه غونډې زنانه(د بدن په اعتبار سره) اودريده، راوی وائی چه داسې معلوميده، چه هغه د مضر قبيلې د ښځو نه ده، اودريدو نه پس هغې نبی کريم ﷺ ته عرض اوکړو، چه يا رسول الله! مونږ يعنی زنانه په خپلو سړو باندې(ددې نه پلار،خوې او خاوند مراد دې) بوج يو، يعنی زمونږ ټوله خرچه هغوی برداشت کوی، مونږ خو ګټلې نشو، او نه مونږ سره څه شته، چه صدقه ئې کړو، نو آيا مونږ په هغې خيزونو کښې څه صدقه کولې شو، په دې باندې نبی کريم ﷺ اوفرمائيل: الرطب

(۱): تفرد به أبو داود،(تحفة الأشراف:۳۸۵۳)(ضعيف)

(۲) كل دا لفظ په قرآن شريف کښې هم راغلې دې، وضرب الله مثلا عبدا مملوكا لايقدر على شئ وهو كل على مولاه، الآية.

تاکلنه و تهدینه، تر یعنی لواندهٔ څیزونه تاسو په خپله هم خوړلې شئ، او هدیه او صدقه کښې هم ورکولې شئ، دا لفظ رطب د راء فتحې او طاء په سکون سره دې، یعنی هر تر او لوند څیز، چه هغې لره د خرابیدو د وجې نه ذخیره ساتلې نشی، لکه سبزی، میوې، روټی، او ترکاری وغیره، او رطب د راء په ضمې او د طا په فتحې سره لوندو کهجورو سره خاص دې.
ددې نه معلومه شوه، چه کوم څیزونه جمع کولې شی، مثلا غله، دراهم، یا دنانیر وغیره، هغې لره بغیر د اجازت نه صدقه کولې نشی، د خوراک څکاک څیزونه عام طور باندې صدقه کولې شی، عام طور باندې د داسې څیزونو د ورکولو او اخستلو اجازت وی، او که چرته ددې نه زیات وسعت وی، نو د هغې به هم گنجائش وی. والله تعالی اعلم.

[۱۶۸۷]([1]) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنْ هَمَّامِ بْنِ مُنَبِّهٍ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا أَنْفَقَتِ الْمَرْأَةُ مِنْ كَسْبِ زَوْجِهَا مِنْ غَيْرِ أَمْرِهِ فَلَهَا نِصْفُ أَجْرِهِ".

د حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل : کله چه ښځه د خپل خاوند دَ کمائئ نه دَ هغه دَ وینا نه بغیر صدقه ورکړی نو ددې دَ پاره دَ خاوند په نیمه اجر او ثواب دې-"

[۱۶۸۸]([2]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَوَّارٍ الْمِصْرِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدَةُ، عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ، عَنْ عَطَاءٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ فِي الْمَرْأَةِ تَصَدَّقُ مِنْ بَيْتِ زَوْجِهَا، قَالَ: "لَا، إِلَّا مِنْ قُوتِهَا وَالْأَجْرُ بَيْنَهُمَا، وَلَا يَحِلُّ لَهَا أَنْ تَصَدَّقَ مِنْ مَالِ زَوْجِهَا إِلَّا بِإِذْنِهِ". قَالَ أَبُو دَاوُد: هَذَا يُضَعِّفُ حَدِيثَ هَمَّامٍ.

د حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه (تپوس اوکړې شو) ایا ښځه دې د خاوند د کور نه صدقه ورکوی؟ (یا دې نهٔ ورکوی) هغوی رضی الله عنه اوفرمائیل : نهٔ - دَ خپلې حصې دَخرج نه ورکولې شی -، (کومه چه خاوند دې ته ورکړې وی)، او اجر به دَ دواړو په مابین کښې وی - او ددې دَپاره جائز نهٔ دی چه دَخاوند دَ کور نه دَ هغه دَ اجازت نه بغیر صدقه ورکړی -" امام ابوداود رحمه الله فرمائی : چه دَ حضرت ابوهریره رضی الله عنه دا فتوی گویا چه دَ همّام دَ سابقه حدیث تضعیف دې-

بَابٌ فِي صِلَةِ الرَّحِمِ

باب: ۴۵ - دَرشته دارو سره میل جول او حسنِ سلوک

د صلة الرحم لفظی تحقیق:

صله په اصل کښې وَصْلٌ وو، واؤ لره په شروع کښې حذف کړې شو، او په آخره کښې دهغې په عوض کښې هاء راوړلې شوه، وصل یصل وصلا و صلة ددې معنی ده، احسان الی الاقارب، د خپلو رشته دارو سره ښه سلوک او دهغوی سره د احسان معامله کول، گویا سرې د خپلو رشته دارو سره احسان کولو سره هغه رشته جوړوی او قائموی، رحم(بفتح الراء د

[1]): صحیح البخاري/البیوع ۱۲(۲۰۶۶)، والنکاح ۸۶(۵۱۹۲)، والنفقات ۵(۵۳۶۰)، صحیح مسلم/الزکاة ۲۶(۱۰۲۶)، (تحفة الأشراف :۱۴۶۹۵)، وقد أخرجه: مسند احمد(۲۴۵/۲، ۳۱۶)(صحیح)

[2]): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف :۱۴۱۸۵)(صحیح موقوف)

کسر الهاء) بچه دانئ ته وئیلې شی، بیا وروستو ددې استعمال په قرابت او رشته دارئ کښې اوشو، د اتحاد رحم د وجې نه، ځکه چه ټول رشته دار د یو رحم نه وتلې دی، او وئیلې شوې دی، چه لفظ رحم مشتق دې، د رحمت نه، ځکه چه اقرباء په خپلو کښې په یو بل باندې رحیم او مهربان وی، (منهل) په حاشیه د بذل کښې حضرت شیخ رحمه الله د علامه شامی (ص ۲۹۱ ج۹) نه نقل کړې دی، چه صله رحمی شرعا واجب ده. ا هـ

صله رحمی د کومو رشته دارو سره واجب ده:

بیا د علماؤ په دې حد رحم کښې اختلاف دې، دکوم صله چه واجب ده، یعنی هغه کوم اقرباء دی، چه هغوی سره صله رحمی واجب ده، ددې تفصیل او اختلاف صاحب د منهل لیکلې دې[1]، علامه قرطبی فرمائي: هغه رحم یعنی رشته چه دهغې د جوړولو حکم دې، دهغې دوه قسمونه دی، عام او خاص، د اول مصداق قرابة الدین یعنی دینی رشته ده، او دهغې صله داده، چه د عامو مسلمانانو سره د خیر خواهئ او محبت او دهغوی د واجب او مستحب حقوقو ادا کول او هغوی سره د انصاف معامله اوکړې شی، او رحم خاص(رشته خاص) د قرابة النسب نوم دې، ددې صله رحم د عام صلې نه زیاته ده، په دې کښې احسان او اعطاء او دهغوی د حالاتو خبر اخستل، دهغوی د کوتاهئ او خطایئ نه بې پروائی کول وغیره شامل دی، او په صله رحمئ کښې دا څیزونه هم داخل دی، سلام و کلام او ترک خصام(منهل)

[۱۶۸۹] (²) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ هُوَ ابْنُ سَلَمَةَ، عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: لَمَّا نَزَلَتْ لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتَّى تُنْفِقُوا مِمَّا تُحِبُّونَ سورة آل عمران آية ۹۲، قَالَ أَبُو طَلْحَةَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَرَى رَبَّنَا يَسْأَلُنَا مِنْ أَمْوَالِنَا

[1]) هغه لیکی چه بعض علماء کرام فرمائی چه دا هغه خپلوان دی چه د هغوی سره نکاح حرام ده، یعنی په کومو خپلوانو کښې چه داسې رشته داری وی چه که په هغوی کښې یو ذکر او بل انثی فرض کړې شی نو نکاح به حرام وی، د دې قول په وجه باندې به د رحم نه رشتې خارج شی ﴿اولاد الاعمام والعمات والاخوال والخالات﴾ ځکه چه په دې ټولو رشتو کښې نکاح جائز ده، دا حضرات په دلیل کښې وائی چه په کومو رشتو کښې صله رحمی واجب وه لکه ترور، وریره، خاله، خورزه، د دې دواړو د جمع فی النکاح ته شریعت ممنوع وئیلې دی ځکه چه ﴿جمع في النكاح مفضي الي التقاطع﴾ سبب جوړیږی، دغه شان خپله نکاح د دې سبب وی پس چه کله نکاح ممنوع نه وی نو معلومه شوه چه هلته صله رحمی هم واجب نه ده ګویا وجوب صله رحمی او جواز نکاح د دې دواړو په شریعت نه دې جمع کړې شوې. ۲: دویم قول په دې کښې دې چه د رحم نه مراد ﴿کل قریب وارث لحدیث ابي هریره ان رجلا قال یا رسول الله من احق الناس بحق الصحبة؟ قال امك ثم امك ثم امك ثم ابوك ثم ادناك ثم ادناك. (اخرجه مسلم) ۳: دریم قول دا دې چه د دې نه مراد ﴿کل قریب ولو کان غیر وارث لحدیث عبدالله بن عمر مرفوعا ان ابر البر ان یحصل الرجل اہل ود ابیه بعد ان یولي. (اخرجه مسلم) د دې لیکلو نه پس په خپلو فقهی کتابونو کښې چه څه ملاؤ شی هغه لاندې لیکلې شی: وفي الدر المختار وصلة الرحم واجبة ولو كانت بسلام وتحية وهدية ومعاونة ومجالسة ومكالمة وتطلف واحسان ويزورهم غبا ليزيد حبا بل يزور اقرباته كل جمعة او شهر ولا يرد حاجتهم لانه من القطيعة في الحديث ان الله يصل من وصل رحمه ويقطع من قطعها وفي الحديث صلة الرحم تزيد في العمر. اهـ كتب عليه ابن عابدين نقل القرطبي في تفسيره اتفاق الامة علي وجوب صلتها وحرمة قطعها للادلة القطعية من الكتاب.

[2]): سنن الترمذي/تفسير القرآن(آل عمران) ٦(٢٩٢٧)،(تحفة الأشراف :٣١٥)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الوكالة ١٥(٢٣١٨)، والوصايا ١٠(٢٧٥٢)، وتفسير القرآن ٥(٤٥٥٤)، والأشربة ١٣(٥٦١١)، صحيح مسلم/الزكاة ١٣(٩٩٨)، موطا امام مالك/الجامع ٨٣، مسند احمد(١١٥/٣، ٢٨٥)، سنن الدارمي/الزكاة ٢٣(١٦٩٥)(صحيح)

فَإِنِّي أُشْهِدُكَ أَنِّي قَدْ جَعَلْتُ أَرْضِي بِأَرِيحَاءَ لَهُ، فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اجْعَلْهَا فِي قَرَابَتِكَ"، فَقَسَمَهَا بَيْنَ حَسَّانَ بْنِ ثَابِتٍ وَأُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ. قَالَ أَبُو دَاوُد: بَلَغَنِي عَنِ الْأَنْصَارِيِّ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ أَبُو طَلْحَةَ زَيْدُ بْنُ سَهْلِ بْنِ الْأَسْوَدِ بْنِ حَرَامِ بْنِ عَمْرِو بْنِ زَيْدِ مَنَاةَ بْنِ عَدِيِّ بْنِ عَمْرِو بْنِ مَالِكِ بْنِ النَّجَّارِ، وَحَسَّانُ بْنُ ثَابِتِ بْنِ الْمُنْذِرِ بْنِ حَرَامٍ، يَجْتَمِعَانِ إِلَى حَرَامٍ وَهُوَ الْأَبُ الثَّالِثُ، وَأُبَيُّ بْنُ كَعْبِ بْنِ قَيْسِ بْنِ عَتِيكِ بْنِ زَيْدِ بْنِ مُعَاوِيَةَ بْنِ عَمْرِو بْنِ مَالِكِ بْنِ النَّجَّارِ، فَعَمْرٌو يَجْمَعُ حَسَّانَ وَأَبَا طَلْحَةَ وَأُبَيًّا. قَالَ الْأَنْصَارِيُّ: بَيْنَ أُبَيٍّ وَأَبِي طَلْحَةَ سِتَّةُ آبَاءٍ.

حضرت انس رضی الله عنه بیان کوی چه کله دا آیت کریمه {لَن تَنَالُواْ الْبِرَّ حَتَّىٰ تُنفِقُواْ مِمَّا تُحِبُّونَ}[آل عمران :۹۲] نازل شو نو حضرت ابو طلحه رضی الله عنه اووې اې دَ الله رسوله ! مونږ پوهیږو چه زمونږ رب زمونږ نه مال غواړی نو تاسو ګواه اوسئ چه ما خپله دَ اریحاء والا زمکه دَ الله دَ پاره ورکړه، نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل : دې لره په خپلو قرابت دارو کښې تقسیم کړه -" چنانچه دې لره هغه په حسان بن ثابت او ابی بن کعب کښې تقسیم کړه -" امام ابوداود رحمه الله فرمائی چه ما ته دَ انصاری محمد بن عبد الله نه دا خبره رارسیدلې ده چه د حضرت ابو طلحه نسب دادې : ابوطلحه : زید بن سهل بن اسود بن حرام بن عمرو بن زید مناة بن عدی بن عمرو بن مالک بن نجار - او دَ حضرت حسان نسب په دې ډول دې : حسان بن ثابت بن منذر بن حرام، ابوطلحه او حسان دواړه په دریم پلار کښې جمع کیږی - او دَ ابی بن کعب نسب دادې : ابی بن کعب بن قیس بن عتیک بن زید بن معاویه بن عمرو بن مالک بن نجار - عمرو(بن مالک) دې دواړو لره جمع کوی - یعنی حسان ابو طلحه او ابی لره - انصاری وئیلې دی چه په مابین دَ ابی او دَ ابو طلحه کښې شپږ آباء(پلاران) دی -

تشریح: قوله: عَنْ أَنَسٍ قَالَ لَمَّا نَزَلَتْ { لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتَّى تُنْفِقُوا مِمَّا تُحِبُّونَ } قَالَ أَبُو طَلْحَةَ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَرَى رَبَّنَا يَسْأَلُنَا مِنْ أَمْوَالِنَا فَإِنِّي أُشْهِدُكَ أَنِّي قَدْ جَعَلْتُ أَرْضِي بِأَرِيحَاءَ لَهُ

شرح حدیث :

د مذکوره آیت شریف په نازلیدو باندې د رسول الله ﷺ صحابی حضرت ابوطلحه انصاری رضی الله عنه چه د حضرت انس رضی الله عنه ناسکه پلار دې، هغوی حضور ﷺ ته عرض اوکړو، چه په خپل مال کښې ماته محبوب هغه باغ دې، د کوم نوم چه "بئر رحاء" دې، زهٔ تاسو لره ګواه جوړوم، په دې باندې چه ما هغه د الله تعالی دپاره وقف کړو،

(د بئر تلفظ)

ددغې باغ څه نوم دې، دهغې صحیح تلفظ څه دې، په دې کښې روایات مختلف دی، د صحیحینو په روایت کښې خو بیر رحاء راغلې دې، په باء باندې فتح او کسره دواړه دی، او په راء باندې فتحه او ضمه دواړه دی، والا فصح بیرحاء،[۱] (بالقصر بدون الهمزة) لیکن د سنن ابوداؤد په دې روایت کښې خلاف مشهور باریحاء راغلې دې، بموحدة مفتوحة ثم الف وهی بدل او عطف بیان لما قبله، او بعضو دې لره په بلې طریقې سره لوستلې دې،

[۱] وفي بعض الروايات بئرحاء باضافة بئر الي حاء والبساطين في المدينة المنورة تسمي بأسماء الآبار والمعني بستان فيها هذا البئر.

باریحاء، (بالیاء الجارة) فقیل وهم فان اریحاء ارض شام و قیل محتمل فسمی بستان ابی طلحة باسمها، او د مسلم په یو روایت کښې بریحاء راغلي دي، (منهل وبذل) دا حدیث د صحیحینو په روایت کښې لږ په تفصیل سره دي، په هغې کښې داسې دی، چه په انصار مدینه کښې د ټولو نه زیاتو کهجورو والا باغونه د ابوطلحه وو، په هغې باغونو کښې د ټولو نه زیات محبوب بیر حاء وو، چه د مسجد نبوی ﷺ مخښې ته وو، هغې ته به اکثر نبی کریم ﷺ تشریف اوړو، بهرحال ابوطلحه نبی کریم ﷺ ته عرض اوکړو، چه زۀ دا باغ الله تعالی دپاره ورکوم، دا صدقه مطلقه وه، چه ددې د مصرف تعین نه وو کړې شوې، په ظاهر کښې د مشورې په طور باندې هغه حضور ﷺ ته ددې ذکر اوکړو، نبی کریم ﷺ هغه ته مشوره ورکړه، اجعلها فی قرابتک، چه ددې صدقې مخ خپلو رشته دارو طرف ته واړوه، نو هغه دغه باغ حسان بن ثابت رضی الله عنه او ابی بن کعب رضی الله عنه ته هبه کړو، نبی کریم ﷺ ابوطلحه رضی الله عنه ته دا مشوره ورکړه، چه دغې باغ لره په ځائې د مطلق صدقې، صدقه اقربین مقرر کړه، دې دپاره چه د صدقې سره د صله رحمۍ ثواب درته هم حاصل شي.

یو فقهی بحث:

په فتح الباری کښې دی، چه ظاهری خبره داده، چه ابوطلحه رضی الله عنه په هغه ورځ هغه دواړه د باغ مالکان جوړ کړي وو، او دا ورکول بطور وقف نه وو، (۱) ځکه چه د صحیح بخاری په روایت کښې دی، چه وروستو بیا حضرت حسان رضی الله عنه دهغې باغ نه خپله حصه په حضرت امیر معاویه رضی الله عنه باندې په یو لاکهـ درهم خرڅه کړه، نو که دا وقف وو، نو دې لره خرڅول به جائز نه وو.

د حدیث شارحینو ددې حدیث دلاندې ډیر فوائد لیکلي دی، یو ئې دا هم لیکلي دې، چه ددې نه معلومه شوه، چه که یو سړې غنی ته دهغه د سوال کولو نه بغیر صدقه ورکړي، نو هغې لره قبلول جائز دی، ځکه چه مشهوره دا ده، چه ابی ابن کعب د میاسیر (مالدار) صحابه کرامو نه وو.

(د دریو واړو صحابه کرامو خپل مینځ کښې رشته داری)

دلته کښې فطری طور باندې دا سوال پیدا کیږی، چه د حسان بن ثابت رضی الله عنه او د ابی بن کعب رضی الله عنه د ابوطلحه رضی الله عنه سره څه رشته داری وه، ددې جواب مصنف رحمه الله خپله ارشاد فرمائي او د ابوطحه، حسان، او ابی ابن کعب رضی الله عنهم شجره نسب بیانوی.

قَالَ أَبُو دَاوُد بَلَغَنِي عَنْ الْأَنْصَارِيِّ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ

(۱) ابوطلحه: زید بن سهل بن الاسود بن حرام بن عمرو بن زید مناة بن عدی بن عمرو بن مالک بن النجار.

(۲) حسان بن ثابت بن المنذر بن حرام.

---

(۱) خو مولانا حفظ الرحمن صاحب په خپل تصنیف د اسلام اقتصادی نظام کښې د التاج الجامع للاصول د حاشیه نه نقل کړی دی چه دا وقف وو او په حدیث کښې چه د قسمة لفظ راغلي دې ددې نه مراد تقسیم د منافع دې او دا په منزله د وقف علی الاولاد وو. (حاشیه بذل).

(۳) ابی بن کعب بن قیس بن عتیک بن زید بن معاویه بن عمرو بن مالک بن النجار.
ددې نسبونو نه معلومه شوه، چه حضرت حسان د ابوطلحه سره په دریم پشت کښې یعنی حرام کښې یو ځائې کیږی، او ابی بن کعب د ابوطلحه سره په عمرو بن مالک کښې یو ځائې کیږی، عمرو بن مالک د ابوطلحه په اعتبار سره خو اووم پشت دې، او د ابی بن کعب په اعتبار سره شپږم پشت دې.

قَالَ الْأَنْصَارِيُّ بَيْنَ أُبَيِّ وَأَبِي طَلْحَةَ سِتَّةُ آبَاءٍ یعنی د ابوطلحه او د ابی بن کعب په مینځ کښې د شپږو پشتونو فصل دې، او په اووم پشت کښې دواړه ملاویږی، لیکن مونږ مخکښې وئیلې دی، چه عمرو بن مالک ته اووم پشت وئیل د ابوطلحه په اعتبار سره دی، او د ابی بن کعب په اعتبار سره هغه شپږم پشت دې، لهذا د انصاری په کلام کښې فی الجمله تسامح دې.

[۱۶۹۰](۱) حَدَّثَنَا هَنَّادُ بْنُ السَّرِيِّ، عَنْ عَبْدَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ بُكَيْرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْأَشَجِّ، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ مَيْمُونَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَتْ: كَانَتْ لِي جَارِيَةٌ فَأَعْتَقْتُهَا فَدَخَلَ عَلَيَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرْتُهُ، فَقَالَ: "آجَرَكِ اللَّهُ، أَمَا إِنَّكِ لَوْ كُنْتِ أَعْطَيْتِهَا أَخْوَالَكِ كَانَ أَعْظَمَ لِأَجْرِكِ".

د ام المؤمنین حضرت میمونه رضی الله عنها نه روایت دې هغه بیان کوی چه زما یوه وینځه وه، ما هغې لره ازاده کړه، بیا رسول الله ﷺ ماته تشریف راوړو، ما هغوی ته اووئیل نو حضور ﷺ اوفرمائیل: الله تعالیٰ دې تاته جزاء درکړی، کۀ چرې تادې لره خپل ماما ته ورکړې وې نو ستا دپاره به زیات اجر او ثواب وو.

[۱۶۹۱](۲) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَجْلَانَ، عَنِ الْمَقْبُرِيِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: أَمَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالصَّدَقَةِ، فَقَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، عِنْدِي دِينَارٌ، فَقَالَ: "تَصَدَّقْ بِهِ عَلَى نَفْسِكَ"، قَالَ: عِنْدِي آخَرُ، قَالَ: "تَصَدَّقْ بِهِ عَلَى وَلَدِكَ"، قَالَ: عِنْدِي آخَرُ، قَالَ: "تَصَدَّقْ بِهِ عَلَى زَوْجَتِكَ، أَوْ قَالَ: زَوْجِكَ"، قَالَ: عِنْدِي آخَرُ، قَالَ: "تَصَدَّقْ بِهِ عَلَى خَادِمِكَ"، قَالَ: عِنْدِي آخَرُ، قَالَ: "أَنْتَ أَبْصَرُ".

حضرت ابوهریره رضی الله عنه بیان کوی چه نبی کریم ﷺ د صدقې کولو حکم اوکړو نو یو کس اووې اې د الله رسوله! زما سره یو دینار دې، حضور ﷺ اوفرمائیل په خپل ځان باندې صدقه اوکړه - "هغه اووې زما سره بل دینار دې، حضور ﷺ اوفرمائیل: په خپل بچی باندې صدقه اوکړه -" هغه اووې زما سره یو بل دې - اوئې فرمائیل: په خپله بی بی باندې صدقه اوکړه -" لفظ د [زوجتک] یا د [زوجک] ئې اوفرمائیلو، هغه کس اووې زما سره یو بل دې - حضور ﷺ اوفرمائیل: په خپل خادم باندې صدقه اوکړه - هغه اووې زما سره یو بل دې نو حضور ﷺ اوفرمائیل ددې متعلق الله ښهٔ پوهیږی -" (چه دا په کوم ځائې او په چا باندې صدقه کړې شی.)

(۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف :۱۸۰۵۸)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الهبة ۱۵(۲۵۹۲)، صحيح مسلم/الزكاة ۱٤(۹۹۹)، سنن النسائي/الكبري/المعتق(٤۹۳۲)(صحيح)
(۲): سنن النسائي/الزكاة ٥٤(۲٥۳٦)، (تحفة الأشراف: ۱۳۰٤۱)، وقد أخرجه: مسند احمد(۲/۲٥۱، ٤۷۱)(حسن)

[۱۶۹۲](1) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، حَدَّثَنَا أَبُو إِسْحَاقَ، عَنْ وَهْبِ بْنِ جَابِرٍ الْخَيْوَانِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "كَفَى بِالْمَرْءِ إِثْمًا أَنْ يُضَيِّعَ مَنْ يَقُوتُ".

حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنهما بیان کوی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل: د انسان د ګناهګار کیدو د پاره هم دا (عمل) کافی دي چه د چا د رزق او د اخراجاتو دي ذمه دار وی، هغهٔ لره ضائع کړی.

[۱۶۹۳](2) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، وَيَعْقُوبُ بْنُ كَعْبٍ، وَهَذَا حَدِيثُهُ، قَالَا: حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، قَالَ: أَخْبَرَنِي يُونُسُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ سَرَّهُ أَنْ يُبْسَطَ عَلَيْهِ فِي رِزْقِهِ وَيُنْسَأَ فِي أَثَرِهِ فَلْيَصِلْ رَحِمَهُ".

د حضرت انس رضي الله عنه بیان دې چې رسول الله ﷺ اوفرمائیل: چاته چه دا خبره ښهٔ لږی چه ددهٔ رزق دې فراخ اوعمرزیات وی نوهغه لره پکاردی چه د خپلو رشته دارو سره صلهٔ رحمی کوی.

تشریح: قوله: عَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ سَرَّهُ أَنْ يُبْسَطَ عَلَيْهِ فِي رِزْقِهِ وَيُنْسَأَ فِي أَثَرِهِ فَلْيَصِلْ رَحِمَهُ

شرح حدیث:

نسیئة او نساء بمعنی تاخیر،(3) وئیلې شی، نساء الله فی عمرک، الله تعالی دې ستا ژوند مؤخر کړی، یعنی عمر دې اوږد کړی، کوم سړی لره چه دا خبره خوشالوی، چه دهغه په رزق کښې فراخی راوستلې شی، او دهغه عمر زیات کړې شی، نو هغه لره پکار دی، چه صله رحمی کوی، اثر وئیلې شی، اجل او مدت العمر ته، او اصل معنی ددې نشان قدم یعنی د قدم نخښې دې، چه د ژوند سره لازم دی، او دعمر ختمیدو نه پس د زمکې نه دَ قدم نخښې هم ختمیږی، ددې وجې نه د نشانات قدم بقاء کنایه ده، د ژوند نه(بذل)

په دې حدیث کښې د صله رحمئ بعضې ثمرات ذکر کړې شوې دی، اول د رزق وسعت او فراخی، دویم د عمر زیاتوالې، د عمر د زیاتوالی شارحینو دوه مطلبه لیکلې دی، اول داچه دا کنایه ده د برکة العمر نه، په سبب د توفیق الخیرات، او په سبب د حفاظت عن اضاعة الاوقات، چه دهغې د وجې نه د هغه ذکر خیر ډیر وخته پورې باقی وی، ګویا چه هغه ژوندې دې، مړې شوې نه دې، دویم مطلب دادې، چه ددې نه حقیقة زیاتوالې مراد دې، لیکن د علم الهی په اعتبار سره نه، په دغې لحاظ سره خو د هر سړی مدت العمر متعین دې، اذا جاء اجلهم لا یستاخرون ساعة ولا یستقدمون، بلکه دا زیاتوالې د هغې فرشتې په اعتبار سره دې، کوم چه په عمر باندې مقرر ده، مثلا هغې فرشتې ته داسې وئیلې شی، چه که فلانې سړی صله رحمی اوکړه، نو دهغه عمر به سل کاله وی، او که صله رحمی ئې اونه کړه، نو

1): تفرد به أبو داود،(تحفة الأشراف :۸۹۴۳)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/الزكاة ۱۲(۹۹۶)، سنن النسائي/الكبري/عشرة النساء(۹۱۷۶)، مسند احمد(۲/۱۶۰، ۱۹۴، ۱۹۵)(صحيح)

2): تفرد به أبو داود،(تحفة الأشراف :۱۵۱۶، ۱۵۵۵)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/البيوع ۱۳(۲۰۶۷)، والأدب ۱۲(۵۹۸۶)، صحيح مسلم/البر والصلة ۶(۲۵۵۹)، مسند احمد(۳/۲۴۷،۲۳۹)(صحيح)

3) قال ابن الأثير النساء التاخير يقال نسأت الشئ نسأ، وانسأته انساءً اذا اخرته، والنساء الاسم ويكون في العمر والدين.اهـ

صرف شپيتۀ کاله به وی، اول يعنی چه کوم د علم الهی په اعتبار سره وی، هغې ته تقدير مبرم، او ثانی چه د فرشتې د علم په اعتبار سره دې، هغې ته تقدير معلق سره تعبير کولې شی، دغې دواړو قسمونو طرف ته دې آيت کريمه کښې اشاره ده، يمحوا الله ما يشاء و يثبت و عنده ام الکتاب، محو او اثبات د علم ملک په اعتبار سره دې، اوپه ام الکتاب کښې چه څه دی، هغه هم هغه دې، کوم چه په علم الهی کښې دی.

[۱۶۹۴](۱) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، وَأَبُو بَكْرِ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، قَالَا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "قَالَ اللَّهُ: أَنَا الرَّحْمَنُ وَهِيَ الرَّحِمُ شَقَقْتُ لَهَا اسْمًا مِنَ اسْمِي، مَنْ وَصَلَهَا وَصَلْتُهُ وَمَنْ قَطَعَهَا بَتَتُّهُ".

حضرت عبد الرحمن بن عوف رضي الله عنه بيان کوی چه ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل چه هغوی فرمائيل: الله تعالیٰ فرمائی: زۀ رحمٰن يم (بې انتهاء رحم کوونکې) او دا رِشته دارئ کوم ته چه رَحم وئيلې شی، ددې لفظ ما دَ خپل نوم نه ويستلې دې نو څوک چه دَ خپلو رشته دارو سره صِلۀ رحمی (ښۀ سلوک، ميل جول) کوې نو زۀ دَ په هغه پورې پيوست کيږم او څوک چه هغې لره کټ کوی نو زۀ دَ هغه نه کټ کيږم (جُدا کيږم)

عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ قَالَ اللَّهُ أَنَا الرَّحْمَنُ وَهِيَ الرَّحِمُ شَقَقْتُ لَهَا اسْمًا مِنْ اسْمِي مَنْ وَصَلَهَا وَصَلْتُهُ وَمَنْ قَطَعَهَا بَتَتُّهُ او د ترمذی د روايت الفاظ دادی، انا الله و انا الرحمن خلقت الرحم الخ، ددې نه معلومه شوه، چه د ابوداؤد په روايت کښې اختصار دې، او په دې کښې چه کوم ضمير دهی دې، دهغې مرجع رحم دې، لفظ رحم زيات تر مونث استعماليږی.

شرح حديث:

دا حديث حديث قدسی دې، الله تعالی فرمائي چه قرابت او رشته داری، چه هغې ته رحم وئيلې شی، دهغې دا نوم مشتق دې، زما د نوم نه، يعنی د رحمان نه، چه د الله تعالی نوم او صفت دې، مطلب دادې، چه دا رحم يعنی رشته داری او قرابت د رحمان د رحمت د آثارو نه يو اثر دې، او په دې دواړو کښې (يعنې رشته دارئ او د رحمان رحمت کښې) يو خاص قرب او تعلق دې، لهذا کوم سړې چه رحم جوړ ساتی، نو رحمان به په خپل رحمت سره هغه جوړ ساتی، او څوک چه دا ماتوی، نو رحمان به خپل رحمت د هغه نه مات کړی، يعنی رحمت به ترې لرې کړی.

په دې حديث کښې د صله رحمئ زبردست فائده او دهغې بالمقابل د قطع رحمئ زبردست مضرت مذکور دې، په صله رحمئ کښې سراسر فائده ده، خپله هم او د نورو هم، او په قطع رحمئ کښې سراسر نقصان دې، خپل هم او د نوروهم، والله الموفق لما يحب و يرضی.

د صله رحمئ مفهوم او تشريح دلته کښې په حاشيه او اصل دواړو کښې تيره شوې ده، ددې صله رحمئ درجات او مراتب دی، چه د راتلونکې حديث دلاندې به بيانيږی.

والحديث اخرجه ايضا الامام احمد والبخاری فی الادب والحاکم والترمذی (منهل)

---

(۱): سنن الترمذي/البر والصلة ۹(۱۹۰۷)، (تحفة الأشراف: ۹۷۲۸)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱۹۱/۱، ۱۹۴) (صحيح)

[۱۶۹۵](۱) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُتَوَكِّلِ الْعَسْقَلَانِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، حَدَّثَنِي أَبُو سَلَمَةَ، أَنَّ الرَّدَّادَ اللَّيْثِيَّ أَخْبَرَهُ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ، أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، بِمَعْنَاهُ.

د محمد بن متوکل عسقلانی په سند سره مروی دی چه حضرت عبد الرحمن بن عوف د نبی کریم ﷺ نه واوریدل، او د مذکوره بالا حدیث هم معنیٰ ئې روایت کړو۔

[۱۶۹۶](۲) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ، عَنْ أَبِيهِ، يَبْلُغُ بِهِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ قَاطِعُ رَحِمٍ".

د حضرت جبير بن مطعم نه روايت دې هغوی د نبی کريم ﷺ نه روايت کوی چه هغوی ﷺ اوفرمائيل: چه قطع رحمئ والا (د رشته دارئ کټ کولو والا) به په جنت کښې نۀ داخليږی"

تشريح: قوله: عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ عَنْ أَبِيهِ يَبْلُغُ بِهِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ قَاطِعُ رَحِمٍ

قاطع د واصل مقابل دې، واصل، صله رحمی کونکې او قاطع قطع رحمی کونکې، او د امام بخاری په ادب المفرد کښې دغه شان د صحيح مسلم په يو روايت کښې قاطع رحم دې، چه هغې سره د قاطع مفهوم متعين شو، او هم دا اکثر شارحينو ليکلې دې، او په بذل المجهود کښې ددې يو دويم احتمال هم ليکلې دې، يعنی قاطع الطريق (ډاکو، او لار شوکونکې) قطع رحمی يو معصيت او حرام کار دې، او ددې مرتکب عاصی او فاسق دې، او ددې مستحل (يعنی حلال ګنړونکې) کافر دې، او که حديث لره په مستحل باندې محمول کړې شی، نو بيا خو عدم دخول جنت ظاهر دې، او که ددې نه مراد تارک صله رحمی دې، يعنی غير مستحل، نو بيا دا حديث په دخول اولی باندې محمول دې، لکه چه ددې حديث پشان نورو احاديثو کښې دا مشهوره توجيه ده، د قطع رحمئ په باره کښې دا حديث ډير سخت وعيد دې، کما هو ظاهره.

قال المنذری واخرجه البخاری و مسلم والترمذی (عون) زاد صاحب المنهل و احمد.

[۱۶۹۷](۳) حَدَّثَنَا ابْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الْأَعْمَشِ، وَالْحَسَنِ بْنِ عَمْرٍو، وَفِطْرٍ، عَنْ مُجَاهِدٍ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ سُفْيَانُ: وَلَمْ يَرْفَعْهُ سُلَيْمَانُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَرَفَعَهُ فِطْرٌ وَالْحَسَنُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَيْسَ الْوَاصِلُ بِالْمُكَافِئِ وَلَكِنْ هُوَ الَّذِي إِذَا قُطِعَتْ رَحِمُهُ وَصَلَهَا".

د حضرت عبد الله بن عمر و رضی الله عنهما نه مروی دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل: چه په بدل کښې رشته دارئ قائمولو والا صلۀ رحمی کوونکې نۀ دې، بلکې صله رحمی کوونکې هغه دې چه کله د هغه سره رشته داری کټ کړې شی نو دې صله رحمی کوی (رشته داری قائمه وی۔)

(۱): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف :۹۷۲۸)(صحيح)

(۲): صحيح البخاري/الأدب ۱۱(۵۹۸۴)، صحيح مسلم/البر والصلة ۶(۲۵۵۶)، سنن الترمذي/البر والصلة ۱۰(۱۹۰۹)، (تحفة الأشراف: ۳۱۹۰)، وقد أخرجه: مسند احمد(۸۰/۴، ۸۳، ۸۴، ۸۵، ۳۸۲، ۳۸۹، ۳۹۷، ۴۰۳)(صحيح)

(۳): صحيح البخاري/الأدب ۱۵(۵۹۹۱)، سنن الترمذي/البر والصلة ۱۰(۱۹۰۸)، (تحفة الأشراف :۸۹۱۵)، وقد أخرجه: مسند احمد(۱۶۳/۲، ۱۹۰، ۱۹۳)(صحيح)

تشریح: قوله: لَيْسَ الْوَاصِلُ بِالْمُكَافِئِ وَلَكِن الواصل إِذَا قُطِعَتْ رَحِمُهُ وَصَلَهَا:

شرح حدیث:

هغه سړې صله رحمي کونکي نه دې، چه صرف مکافاة یعنی د برابرئ بدله او د احسان په بدله کښې احسان کوی، بلکه واصل هغه سړې دې، چه کله د بل طرف نه د قطع رحمئ معامله اوکړې شی، نو دې د يو ځائي کولو او د جوړولو معامله کوی، شارحینو لیکلې دی، چه اګر چه د مکافات معامله یعنی د احسان په بدله کښې احسان، دا هم فی نفسه صله رحمی ده، لیکن کمال صله نه ده، دلته کښې د کمال نفی مراد ده، او دا حدیث د مکارم اخلاق د قبیلې نه دې، کما ورد صل من قطعک و اعط من حرمک و اعف عمن ظلمک،(عون) صاحب منهل لیکلې دی، چه خلق په درې قسمه دی، واصل، مکافی، قاطع، واصل هغه سړې دې، چه خپلو رشته دارو سره احسان کوی، کله چه هغوی دهٔ سره احسان نه کوی، مکافی هغه سړې دې، چه څومره اخلی هغومره ورکوی،[1] او په خپله عطاء کښې زیاتوالې نه کوی، او قاطع هغه سړې دې، چه دهغه قریبې رشته دار په هغه باندې احسان کوی، لیکن دې په هغه احسان نه کوی.

تشریح: قوله: والحدیث اخرجه ایضا البخاری والترمذی قاله المنذری(عون)

بَابٌ فِي الشُّحِّ

باب: ٤٦- دَ حرص او بخل مذمت-

دا د کتاب الزکوة آخری باب دې، مصنف رحمه الله د باریک نظرئ نه کار اخستې دې، هغه دا چه د پوره کتاب الزکوة او دهغې د احادیثو خلاصه او مقصد دادې، چه سړی لره پکار دی، چه د هغه په ذمه کوم حقوق مالیه دی، که واجب دی او که مستحب دی، هغې ټولو لره ادا کړې، لیکن د هر څیز د تحقق دپاره دوه اموره مطلوب دی، اول د اسباب او شرائطو تحقق، او ثانی د موانع او عوارضو ارتفاع، په دې آخری باب کښې مصنف رحمه الله دې امر ثانی لره بیانوی، چه د سړی ایمان اګر چه هغه لره په انفاق فی سبیل الله باندې تیزوی، لیکن د سړې په طبعیت کښې چه کوم حب مال او بخل طبعی(د مال جمع کولو حرص) دې، هغه د دې انفاق نه مانع جوړیږی، لیکن د دې مانع د لرې کولو ضرورت دې،

---

[1] او مکافات څنګه چه صله من الجانبین نه وی (څومره احسان چه په ده باندې اوکړې شی دومره هغه هم اوکړی) هم دغه شان مقاطعة من الجانبین نه هم وی (د قطع تعلق بدله په قطع تعلق سره ورکول) بیا چه په دې کښې څوک مخکښې کیږی هغه به قاطع وی او دویم یعنی جوابی کارروائی کولو والا مکافی بللې شی (منهل) صله رحمی یو جامع لفظ دې د دې مفهوم کافی وسیع دې چه د هغې خلاصه معارف الحدیث (للنعمانی) کښې داسې لیکلې ده چه د صله رحمی هم هغه دوه صورتونه دی یو دا چه انسان په خپلې ګټې سره د اهل قرابت مالی خدمت اوکړی او دویم دا چه د خپل وخت او خپل ژوند څه حصه په هغه کارونو کښې اولګوی. اهـ د دې بعض صورتونه مونږ مخکښې په حاشیه د در مختار کښې نقل کړې دی. ۱۲

[۱۶۹۸]() حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْحَارِثِ، عَنْ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ: خَطَبَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: "إِيَّاكُمْ وَالشُّحَّ فَإِنَّمَا هَلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ بِالشُّحِّ، أَمَرَهُمْ بِالْبُخْلِ فَبَخِلُوا، وَأَمَرَهُمْ بِالْقَطِيعَةِ فَقَطَعُوا، وَأَمَرَهُمْ بِالْفُجُورِ فَفَجَرُوا".

د حضرت عبد الله بن عمرو ﷺ نه مروي دي چه رسول الله ﷺ خطبه اوفرمائيله : خپل ځانونو لره د حرص او بخل نه بچ کړئ ستاسو نه مخکښې خلق هم په دې وجه سره هلاک شو -(حرص) هغوی ته حکم اوکړو نو بخل ئې شروع کړو، د قطعهٔ رحمئ حکم ئې ورته اوکړو نو دوی قطعهٔ رحمی اوکړه او د بدکارئ امر ئې ورته اوکړو نو بدکاری ئې اوکړه-"

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ خَطَبَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِيَّاكُمْ وَالشُّحَّ فَإِنَّمَا هَلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ بِالشُّحِّ أَمَرَهُمْ بِالْبُخْلِ فَبَخِلُوا وَأَمَرَهُمْ بِالْقَطِيعَةِ فَقَطَعُوا وَأَمَرَهُمْ بِالْفُجُورِ فَفَجَرُوا

شرح حديث :

خپل ځان د بخل نه اوساتئ، ځکه چه ستاسو نه مخکښې چه کوم امتونه تير شوې دی، هغه ددې بخل د وجې نه هلاک شو. (٢)

امرهم بالبخل : امر اوکړو هغې شح (يعنی طبعی بخل او خرص) په بخل سره، پس هغوی بخل اختيار کړو، ددې نه معلوميږی، چه بخل د عدم انفاق مال نوم دې، او شح دهغې طبعی خصلت نوم دې، کوم چه سړې په عدم انفاق باندې آماده کوی، يعنی منشاء دبخل.

ددې شح د وجې نه هغه خلق په قطع رحمئ او په قسما قسم فسق او فجور کښې مبتلاء شو، د قسما قسم فسق او فجور مطلب دادې، چه د حب مال او د حرص مال د وجې نه خلق د ظلم و ستم، قتل، لوټ مار، غصب او غلا مرتکب شو، او په دې لوټ مار کښې د زنانو عزت لوټ کول وغيره بې حيائی هم شامله ده.

والحديث صححه الحاكم قال المنذری و اخرجه النسائی(عون)

[۱۶۹۹]() حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ، أَخْبَرَنَا أَيُّوبُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي مُلَيْكَةَ، حَدَّثَتْنِي أَسْمَاءُ بِنْتُ أَبِي بَكْرٍ، قَالَتْ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَا لِي شَيْءٌ إِلَّا مَا أَدْخَلَ عَلَيَّ الزُّبَيْرُ بَيْتَهُ أَفَأُعْطِي مِنْهُ، قَالَ: "أَعْطِي وَلَا تُوكِي فَيُوكَى عَلَيْكِ".

حضرت اسماء بنت ابی بکر ﷺ بيان کوی چه ما اووې اې د الله رسوله ! زما سره بس صرف

---

[1]: تفرد به أبو داود،(تحفة الأشراف :٨٦٢٨)، وقد أخرجه: سنن النسائي/الكبري(١١٥٨٣)، مسند احمد(١٥٩/٢، ١٦٠، ١٩١، ١٩٥)(صحيح)

[2]) دلته دهلاکت نه هلاکت معنوی يعنی دينی هم مراد کيدې شی چه دبخل په وجه ئې حقوق الله او حقوق العباد ضائع کړل کوم چه دمال سره متعلق وو اوخپل آخرت ئې تباه اوبرباد کړو، او هلاکت حسی يعنی دنيوی هم مراد کيدې شی ځکه چه کله دخلقو حقوق ئې ادانه کړل نو په خپل مينځ کښې يوبل سره جګړه او قتل وقتال جوړشو چه په دې سره په دنيا کښې هم هلاک اوبرباد شو، او ښکاره ده چه هلاکت حسی اومعنوی، دينی او دنيوی دواړه مراد واخستلې شی.(منهل)

[3]): سنن الترمذي/البر والصلة ٤٠(١٩٦٠)، سنن النسائي/الزكاة ٦٢(٢٥٥١، ٢٥٥٢)،(تحفة الأشراف: ١٥٧١٨)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الزكاة ٢١(١٤٣٣)، ٢٢(١٤٣٤)، والهبة ١٥(٢٥٩٠)، صحيح مسلم/الزكاة ٢٨(١٠٢٩)، مسند احمد(١٣٩/٦، ٣٤٤، ٣٥٣، ٣٥٤)(صحيح)

هغه وی کوم چه(زما خاوند) زبیر کورته راوړی - نو آیا زهٔ هغې لره ورکووم؟ حضور ﷺ اوفرمائیل :(اې اسماء !) ورکوه او تهٔ مهٔ تړه هغې لره(د ایخودو د پاره) ورنه په تاباندې به هم(ستا رزق) اوتړلې شی -"

تشریح: قوله: حَدَّثَتْنِي أَسْمَاءُ بِنْتُ أَبِي بَكْرٍ قَالَتْ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا لِي شَيْءٌ إِلَّا مَا أَدْخَلَ عَلَيَّ الزُّبَيْرُ بَيْتَهُ أَفَأُعْطِي مِنْهُ قَالَ أَعْطِي وَلَا تُوكِي فَيُوكَى عَلَيْكِ

حضرت اسماء بنت ابی بکر رضی الله عنها فرمائي چه یو ځل ما نبی کریم ﷺ ته عرض اوکړو، یا رسول الله ﷺ(صورت حال دادې) چه زما په ملک کښې خو هیڅ نشته، سوا دهغې نه کوم چه زما خاوند(زبیر) زما کور ته راوړې دی او ماته ئې حواله کړې دی، نو زهٔ دهغې نه صدقه ورکولې شم؟ نبی کریم ﷺ هغې ته د عطاء اجازت ورکړو، بلکه منع کولو او ساتلو نه ئې منع کړه، چه د مال د بوجئ خولهٔ مهٔ تړه، ګنی ستا نه به هم اوتړلې شی، یعنی الله تعالی به د خپلې خزانې خولهٔ ستا دپاره بنده کړی، ولاتوکی د ایکاء ته ماخوذ دې، یعنی وکاء سره یو څیز تړل، وکاء وئیلې شی هغه رسئ او تار ته، چه دهغې په ذریعې سره د بوړئ او تهیلئ خولهٔ تړلې شی،

په دې حدیث کښې نبی کریم ﷺ زنانه ته د خاوند د مال نه د صدقې کولو اجازت ورکړې دې، چه دهغې د پاره اذن زوج ضروری دې، که دلالة وی، او که صراحة. دلته کښې نبی کریم ﷺ دهغې د ذکر کولو ضرورت ځکه اونه ګڼړو، چه شاید هغوی ته دهغې د خاوند د طبعیت حال معلوم وو، او یا وئیلې شی، چه مراد دادی، چه تهٔ خاص ستا په حصه کښې چه کوم څیز راغلې دې، دهغې نه ضرور صدقه ورکوه، د انفاق المرءة من بیت الزوج تفصیل ددې په باب کښې تیر شوې دې. والله تعالی اعلم.

قال المنذری اخرجه الترمذی والنسائی واخرجه البخاری و مسلم من طریق آخر مختصرا.(عون)

[۱۷۰۰](۱) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ، أَخْبَرَنَا أَيُّوبُ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّهَا ذَكَرَتْ عِدَّةً مِنْ مَسَاكِينَ قَالَ أَبُو دَاوُد: وَقَالَ غَيْرُهُ: أَوْ عِدَّةً مِنْ صَدَقَةٍ، فَقَالَ لَهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَعْطِي وَلَا تُحْصِي فَيُحْصَى عَلَيْكِ".

د حضرت عائشې رضی الله عنها نه روایت دې چه هغې څو مساکینو لره شمیر کړل ...... یائې څو صدقات شمیر کړل نو رسول الله ﷺ هغې ته اوفرمائیل : "(اې عائشه !) ورکوه او شمیر مهٔ کوه، ورنه په تاباندې به هم شمیر کولې شی -"

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا ذَكَرَتْ عِدَّةً مِنْ مَسَاكِينَ الخ: عدة لره د دال په تشدید او تخفیف دواړو طریقو سره لوستلې شوې دې،عدَّة،عدَةً په اول صورت کښې به مطلب دا وی، چه هغې د نبی کریم ﷺ مخکښې د څو مسکینانو تذکره اوکړه، چه هغوی ماته د سوال دپاره راغلې وو، او په دویم صورت کښې به مطلب دا وی، چه عائشه رضی الله عنها د نبی کریم ﷺ مخکښې عرض

(۱): تفرد به أبو داود،(تحفة الأشراف: ۱۶۲۳٤)، وقد أخرجه: سنن النسائي/الزكاة ۶۲(۲۵۵۲)، مسند احمد(۶/۱۰۸، ۱۳۹، ۱۶۰)(صحيح)

اوکړو، چه ما بعضې مسکینانو سره د ورکولو وعده کړې ده، نو آیا زۀ هغوی ته ورکولې شم. نبی کریم ﷺ هغې ته هم د ورکولو حکم اوکړو. والحدیث اخرج النسائی نحوه مطولا (منهل)
الحمد لله الذی بعزته و جلاله تتم الصالحات.

بسم الله الرحمن الرحیم

کتاب اللقطة

دَ پریوتلی گمشده څیز متعلق احکام او مسائل

باب التَّعْرِیفِ بِاللُّقَطَةِ

باب: ۱ - پریوتلې څیز چه اوچت کړی نو دَ هغې دَ اعلان حکم.

په بعضو نسخو کښې د کتاب اللقطه نه قبل آخر کتاب الزکوة لیکلې شوې دې، لیکن زمونږ په نسخه کښې کتاب اللقطه په ختم باندې لیکلې شوې دی آخر کتاب الزکوة، د اول نسخې تقاضا دا ده، چه کتاب اللقطه مستقل کتاب دې، د کتاب الزکوة جزء نه دې، او د دویمې نسخې تقاضا په ظاهر کښې داده، چه مصنف لقطې لره د کتاب الزکوة جزء او دهغې تکمله مقرر کړې ده، بهرحال د لقطې بیان که د کتاب الزکوة جزء وی او که نه، ددې مناسبت د کتاب الزکوة سره ظاهر دې، ځکه چه د لقطې انجام که مالک رانشی، نو تصدق دې.
د عادت او معمول مطابق مونږ دلته کښې د لقطې په شروع کښې څو امور او مفید بحثونه ذکر کوؤ، دې دپاره چه د احادیث الباب په زده کولو او پوهیدلو کښې مفید او د بصیرت باعث وی، والله الموفق.

د لقطې سره متعلق مباحث تسعه:

(۱) تحقیق اللقطة لغة (۲) حکم الالتقاط (۳) الفرق بین لقطة الحیوان وغیر الحیوان (٤) مدة التعریف (۵) التملک بعد التعریف (٦) وجوب الضمان عند مجئی المالک (۷) هل یدفع الی الناشد بمجرد بیان العلامات (۸) الاشهاد عند الالتقاط (۹) لقطة الحاج ما ذا حکمه.

البحث الاول: (تحقیق اللقطة لغةً)

لقطه په ضمې دلام او په فتح دقاف سره دې، اگر چه عوام دې لره د قاف په سکون سره وائی، (زمخشری) و معناه لغة الشئی الملقوط، (هغه پریوتونکې څیز چه هغې لره پورته کړې شوې وی) حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چه مشهور عند اهل اللغة والمحدثین خو دا دی، لیکن خلیل رحمه الله وائی، چه لقطه چه سکون دقاف سره دې، او لقطة بالفتح هغه بمعنی لاقط راځی، حافظ وائی، خلیل چه څه وائی هو القیاس، لیکن مسموع من العرب هم دادی، (کوم چه مشهور دی) بلکه په دې باندې اجماع ده، واما شرعا هو مال یوجد ولا یعرف مالکه، یعنی هغه مال چه غیر محفوظ ځائې کښې اوموندلې شی، او دهغې د مالک پته نه لگی.

البحث الثانی: (حکم الالتقاط)

د احنافو په نزد التقاط اولی دې، په شرط ددې چه لاقط ته په خپل نفس باندې اطمینان وی، او که د خیانت خطره وی، فالترک اولی (درمختار) او صاحب بدائع فرمائي چه په خپل نیت

سره اوچتول خو حرام دی، پشان د غصب، او د خوف ضیاع په وخت کښې التقاط واجب دې، ځکه چه څرنګه د شخص مسلم د نفس دپاره حرمت او عزت دې، دغه شان د مال دپاره هم، د دواړو حفاظت واجب دې، ګنی که هغه څیز ضائع شو، نو ګناهګار به وی[1]ه، او هم دا مذهب د شافعیه، مالکیه او جمهورو دې، البته په مغنی کښې د امام احمد بن حنبل رحمه الله نه نقل کړې شوې دی، چه ترک التقاط اولی دې، او دویم قول د حنابله په نزد هغه دې، کوم چه د جمهورو دې.

البحث الثالث: (الفرق بين لقطة الحيوان وغير الحيوان)[1]

د لقطې په اصل کښې دوه قسمه دی، لقطة الحيوان و غير الحيوان، اول ته ضاله وئیلې شی، او ثانی ته لقطة، د احنافو په نزد د دواړو په حکم کښې هیڅ فرق نشته، کوم حکم چه د

[1]) او په بعض تقریرونو کښې داسې دی: التقاط الابل، امام بخاری رحمه الله ضالة الابل او ضالة الغنم دوه جدا جدا مستقل بابونه تړلې دی، ابل او کوم حیوانات چه د هغه په شان دی په قوت او جسامت کښې صغار سباع (د وړو او لویو درندګانو نه) خپله بچ کیدې شی مثلا بقر او فرس او حمار وغیره د حنابله په نزد د دې التقاط جائز نه دی لکه چه د ظاهر حدیث الباب نه هم دا معلومیږی (چه د هغه نه کله د ضالة الابل په باره کښې تپوس اوکړې شو) ابن قدامه د امام احمد او شافعی دواړو مسلک هم دا لیکلې دې خو دا د شافعیه یو قول دې اصح قول د هغوی کما قال النووي في روضة الطالبين وكذا الحافظ العسقلاني في شرح البخاري دا دې چه صحراء او قریه (ابادی) کښې فرق دې د دې قسم حیواناتو التقاط په صحراء کښې جائز نه دې الا للحفظ فقط لا للتملك بعد التعريف. او که ابادئ یا هغې ته نزدې هم اوموندلې شی نو په دې صورت کښې بیشکه د هغوی التقاط للتملک به جائز وی تر یو کال پورې به ئې تعریف کوی بیا که مالک رانشی نو خپله مالک جوړیدې شی او هم دا مسلک تقریبا د مالکیانو دې. (كما في الكافي لابن عبدالبر والمغنى) او حیوانات چه داسې وی چه هغه د صغار سباع نه خپل ځان خپله نه شی بچ کولې لکه بیزه وغیره نو د هغه التقاط د شافعیه او حنابله په نزد مطلقا جائز دې که آبادئ کښې وی یا په صحرا کښې. په دې کښې د امام مالک اختلاف دې هغه فرمائی چه بیزه که په صحرا کښې ملاؤ شی نو بیا د دې التقاط او تملک جائز دی بلکه تعریف او ضمان هیڅ هم واجب نه دی خو په ابادئ کښې ملاؤ شی یا د هغې په خوا کښې ملاؤ شی نو بیا د هغه تعریف ضروری دی او تملک بعد التعريف هم جائز نه دې بلکه همیشه به د هغه تعریف کولې شی تردې چه د هغه مالک راشی دا تفصیل خو وو د جمهورو په مسلک کښې او د احنافو په نزد ابل او بقر او غنم د تولو حکم یو شان دی، التقاط جائز دې او هم دغه شان د صحراء او قریه هم څه فرق نشته، صاحب بدائع د احنافو دلیل دا بیان کړې دې چه د عمر رضی الله عنه په زمانه کښې یو سړی د اوښ التقاط اوکړو او د هغه تعریف ئې هم اوکړو چه کله ئې مالک رانغلو نو هغه سړې عمر رضی الله عنه ته راغلو او عرض ئې اوکړو نو هغه ورته اوفرمائیل چه مزید تعریف ئې اوکړه، هغه عرض اوکړو چه ماته خو دا ډیره مشکله شوې ده، عمر رضی الله عنه ورته اوفرمائیل چه بیا دې هم هلته پرېږده چرته نه چه دې راوستلې وو. الحاصل عمر رضی الله عنه ورته دا او نه فرمائیل چه تا د دې التقاط ولې کړې دې او د حدیث جواب هغه دا ورکړې دې چه دا منع په دې صورت کښې دې چه هر کله د قرائن نه دا معلومیږی چه مالک ئې چرته نزدې دې هغه به خپله راشی او دا به بوځی. يشير اليه قوله في الحديث حتي ياتيها ربها. (بذل) او علامه سرخسی په مبسوط کښې دا جواب کړې دې چه حدیث د صلاح په زمانه باندې محمول دې چه په کوم وخت کښې د اهل صلاح غلبه او د هغوی کثرت وو نو په دې صورت کښې د ضیاع ویره نه وه او اوس دا خبره نشته لكثرة الخائنين في هذا الزمان. پس اصل څیز په دې کښې د ضائع کیدو ویره ده، هم په دې وجه شافعیه او مالکیانو هم مغازه او د قریه فرق دې ځکه چه په ابادئ کښې د خیانت ویره ده څوک به ئې خپل کور کښې اوتړی مالک ته به معلومات کول ګران شی په خلاف د صحراء. والله تعالي اعلم

لقطة غير حيوان دې، هغه حكم د لقطة حيوان هم دې، دهغوى په نزد په دې كښې ابل او غنم دواړه برابر دى، ليكن د جمهور علماؤ ائمه ثلثة په نزد په دواړو كښې فرق دې، او په ماقبل يعنى بحث ثانى كښې چه كوم حكم بيان شوې دې، هغه عند الجمهور د غير حيوان دې، او په لقطة الحيوان كښې دهغوى په نزد تفصيل دې، هغه دا چه حيوان په دوه قسمه دې.(۱) هغه حيوان چه د خپل قوت د وجې نه د صغار سباع(يعنى وړوكې درنده ګانو) نه حفاظت په خپله كولې شى، او دهغوى د ضائع كيدو خطره نه وى، كالابل والخيل والبغال والحمير، د داسې قسمه څناورو حكم په ائمه ثلثة كښې د امام شافعى رحمه الله په نزد دادې، كه هغوى په صحراء كښې اوموندلې شى، نو بيا خو حكم دادې، چه دهغوى التقاط للحفظ جائز دې، لهذا دا حيوان به هغه سره هميشه دپاره امانت وى، چه كله هم دهغې مالك راشى، هغه ته به وركولې شى، او د تملك دپاره التقاط جائز نه دې، يعنى په دې نيت باندې چه يو كال پورې به ددې لقطې تعريف اوكړم، كه مالك راغلو، نو هغه ته به وركړم، ګنى خپله به ئې مالك شم، په دې طريقې سره التقاط جائز نه دې. او كه داسې قسمه څناور په آبادئ كښې اوموندلې شى، نو د شافعيه يو قول خو دادې، چه په دې صورت كښې هم التقاط للتملك جائز نه دې، كما فى الصحراء، ليكن دهغه اصح قول دادې، چه په آبادئ كښې دهغې التقاط للتملك جائز دې، ځكه چه په آبادئ كښې خيانت كونكې ډير وى، هلته كښې د ضائع كيدو خطره ده، په خلاف د ځنګل.

دا خو مسلك د شافعى رحمه الله وو، او د حنابله په نزد د داسې قسمه څناورو التقاط مطلقا ناجائز دې، كه هغه په صحراء كښې اوموندلې شى، يا په آبادئ كښې، لكه چه د ظاهر حديث نه معلوميږى، پس په ظاهر حديث باندې عمل صرف د حنابله دې، د احنافو نه علاوه د نورو ائمه هم د حديث په ظاهر باندې عمل نه دې، د احنافو باره كښې خو تولو ليكلې دى، چه دا حديث دهغوى خلاف دې.

او د مالكيه نه مختلف روايات منقول دى، يو روايت دهغوى دادې، يجوز الالتقاط فى القرية لا فى الصحراء، ځكه چه د ضائع كيدو خطره صرف په آبادئ كښې ده،(چه څوك ئې خپل كور ته بوځى، او پټ ئې كړى) په صحراء كښې خطره نشته، دا ټول تفصيل او اختلافات خو دهغې څناورو باره كښې وو، د كومو چه د ضائع كيدو خطره نه وى، او هغوى خپل حفاظت په خپله كولې شى، او كوم څناور چه داسې دى، چه هغوى د صغار سباع(وهى الثعلب والذئب وولد الاسد) نه خپل حفاظت نشى كولې، مثل الغنم و فصلان الابل و عجاجيل البقر و افلاء الخيل(اولاد خيل) والدجاج و نحوها، نو دهغوى التقاط د جمهورو په نزد مطلقا جائز دې، كه په قريه كښې وى، او كه په صحراء كښې، په دې كښې د امام مالك رحمه الله اختلاف دې، هغوى فرمائى، بزه وغيره څناور كه په صحراء كښې ملاؤ شى، نو بيا خو د هغې التقاط جائز دې، او تملك هم، ليكن كه په قريه او آبادئ كښې ملاؤ شى، نو التقاط دهغې خو جائز دې، ليكن تملك بعد التعريف جائز نه دې، بلكه هميشه به دهغې حفاظت كولې شى، تردې پورې چه دهغې مالك راشى، دهغوى دپاره دليل دادې، چه په حديث

کښې دا فرمائيلې شوې دی، لک اولاخيک او للذئب، لهذا دا حکم د صحراء دې، د ښهر نه دې، ځکه چه ذئب په مصر کښې نه وی، په صحراء کښې وی، جمهورو ددې جواب دا ورکړې دې، چه په ښهر کښې بل قسم وی، يعنی غلهٔ، ډاکوان، شوکمار وغيره.

البحث الرابع: (مدة التعريف)

عند الجمهور منهم الائمه الثلثة مدة تعريف يو کال دې، او زمونږ په نزد په دې کښې درې روايات دی، (۱) ظاهر الرواية يو کال دې، مثل الجمهور (۲) د لقطې د حيثيت مطابق، که لقطه د لسو درهمو نه کمه ده، نو بيا مدة تعريف څو ورځې دی، او که لس درهم يا دهغې نه زياته ده، نو بيا يو کال دې، (۳) علی رای المبتلی به، تر څو پورې چه دهغه دا ګمان وی، چه تلاش کونکې راتلې شی، نو هغه به تعريف کوی، او کله چه ظن غالب دا وی، چه اوس نه راځی، ډير ورځې تيرې شوې، نو تعريف ختم.

البحث الخامس: (التملک بعد التعريف)

د احنافو په نزد د مدة تعريف پوره کيدو نه پس که دهغې مالک رانشی، او لاقط غنی وی، نو دهغه دپاره د لقطې نه په خپله منتفع کيدل جائز نه دی، بلکه هغې لره دې صدقه کړی، او که هغه فقير دې، نو دهغه دپاره انتفاع جائز ده، هغه خپله دهغې مالک جوړيدې شی، د مالکيه مسلک هم ددې قريب دې، دهغوی د کتابونو نه معلوميږی، چه دهغوی په نزد د غنی دپاره تملک جائز خو دې، ليکن علی کراهة، او د شافعيه او حنابله په نزد تملک مطلقا جائز دې، که لاقط فقير وی، او که غنی وی.

البحث السادس: (وجوب الضمان عند مجئ المالک)

د تعريف نه پس که لاقط په لقطه کښې تصرف کړې وی، بيا وروستو مالک هم راغلو، نو د جمهور علماء او د ائمه اربعه په نزد ضمان واجب دې، په دې کښې د کرابيسی صاحب شافعی رحمه الله او د امام بخاری او داؤد ظاهری اختلاف دې، دهغوی په نزد ضمان واجب نه دې، ليکن د امام مالک رحمه الله په نزد ددې حکم نه ضالة الغنم مستثنی دې، دهغه په نزد د التقاط نه پس نه دهغې تعريف واجب دې، او نه ضمان[1]، بلکه هغه ته اختيار دې، که غواړی، نو صدقه دې کړی، او که غواړی، نو خپله دې اوخوری.

واستدل بقوله عليه السلام فی الحديث: فانما هی لک اولاخيک او للذئب، يعنی نبی کريم ﷺ اوفرمائيل: چه د ضالة الغنم التقاط کول پکار دی، ځکه چه دا ستا دپاره دې، که ته ئې نه خورې، نودا ستا د ورور دپاره دې، که هغه هم وانه خستلو، نو بيا د شرمخ دپاره دې، او ظاهر ده، چه په ذئب باندې ضمان نشته، دغه شان په لاقط باندې هم ضمان نشته.

---

[1] شروحاتو دا مطلقا ليکلې دې خو الکافی لابن عبدالبر (ص۱۶۴ ج۲) کوم چه د فقه مالکيه کتاب دې دا ليکلی دی چه دا دهغوی په نزد په هغه صورت کښې دې کله چه هغوی ته چيلۍ په مفازه کښې ملاؤشی او که په قريه (کلی) يا هغې سره خواوشا کښې ملاؤ شی نو بيا دهغې تعريف ضروری دې.

البحث السابع: (هل یدفع الی الناشد بمجرد بیان العلامات)

دا مسئله هم اختلافی ده، امام بخاری رحمه الله په دې باندې مستقل باب تړلی دې، باب اذا اخبره رب اللقطة بالعلامة دفع الیه. حضرت شیخ رحمه الله په حاشیه دلامع کښې لیکلې دی، چه د امام مالک او احمد مسلک هم دادې، چه کوم سړې عفاص او وکاء لره اوپیژنی، (یعنی علامات اوښائی) هغه ته ورکول پکار دی، او د امام ابوحنیفه رحمه الله او امام شافعی رحمه الله مسلک دادې، چه د ناشد علامات ښودلو نه پس که د لاقط زړهٔ ګواهی ورکړی، نو ورکولې شی، ګنی هغه لره بغیر د ګواهانو نه مجبورولې نشی.

البحث الثامن: (الاشهاد عند الالتقاط)

د حنفیه په نزد عند الالتقاط اشهاد واجب دې، د امام شافعی رحمه الله یو روایت هم دادې، لحدیث عیاض بن حمار قال قال رسول الله (صلی الله علیه وسلم) من وجد لقطة فلیشهد ذاعدل الحدیث، او د امام مالک و احمد و شافعی رحمهم الله فی روایة اشهاد واجب نه دې، صرف مستحب دې، څکه چه حضور ﷺ د زید بن خالد رضی الله عنه په حدیث کښې دې لره بیان کړې نه دې، که واجب وې نو خامخا به ئې بیان فرمائیلې وو.

البحث التاسع: (لقطة الحاج ما ذا حکمه)

حضرت امام بخاری رحمه الله په دې باندې مستقل باب قائم کړې دې، باب کیف تعرف لقطة اهل مکة، د کتاب اللقطة په آخر کښې یو حدیث مرفوع رراوان دې، نهی عن لقطة الحاج، او په یو حدیث کښې دی، ولا تحل لقطتها الا لمعرف و فی روایة الا لمنشد ددې حدیث په بناء باندې امام شافعی رحمه الله او امام احمد رحمه الله په یو روایت کښې دا فرمائی، چه لقطة الحرم یعنی د مکې التقاط صرف د تحفظ او تعریف دپاره کیدې شی، او دا د نورو عامو لقطو پشان نه ده، چه د تعریف نه پس ئې تملک جائز وی، او وجه ددې داده، چه د مکې لقطې لره دهغې مالک ته رسول ممکن او آسان دی، څکه چه هغه لقطة به د دواؤ حالتونو نه خالی نه وی، یا خو به د مکی وی، یا به د آفاقی وی، که د مکی وی، نو بیا خو ظاهره ده، او که د آفاقی ده، نو چونکه مکې مکرمې ته هر کال د هر ملک او د هر ښهر نه خلق راځی، ددې وجې نه چه هر کال تعریف کولې شی، نو د مالک پته به اولګی، او دهغه راتلونکې په ذریعې سره به هغه مالک ته رسول آسان وی.

او د حنفیه بلکه د جمهور ائمه په نزد په لقطة الحل والحرم کښې هیڅ فرق نشته، او د حدیث جواب دهغوی د طرف نه دادې، چه نبی کریم ﷺ چه فرمائی چه ددې لقطه صرف د منشد او معرف دپاره جائز ده، دهغې مقصد دادې، چه دهغه ځائې په لقطه کښې مبالغه فی التعریف کول پکار دی، څکه ممکن ده، چه هغه چرته د حاجی وی، او معلومه نه ده، چه هغه به دوباره دلته راځی او که نه، لهذا په تعریف کښې پوره کوشش کول پکار دی، او یا د مکې تخصیص په تعریف کښې ددې وجې نه کړې شوې دی، چه ممکن ده چه څوک دا اوګنړی، چه ددې لقطې مالک ته رسول ډیر مشکل دی، پته نشته چه د کوم مسافر به وی، د ټولې دنیا نه خلق هلته راځی، رش وی، مالک به کوم ځائې تلاش کوی، لهذا بغیر د

تعریف نه هغه خپل ځان مالک جوړ کړي، ددې خیال د تردید دپاره په حدیث کښې مبالغه فرمائیلې شوې ده، چه ددې التقاط دې صرف د تعریف دپاره اوکړې شي، ګنی په حقیقت کښې چه کوم حکم د نورو لقطو دې، هغه د لقطة الحاج هم دې، یعنی تعریف ثم التملک ان کان فقیرا او التصدق ان کان غنیا، والله تعالی اعلم، و قد تم بتوفیقه سبحانه و تعالی بیان المباحث التسعة فله الحمد والمنة، ددې مباحثو نه پس اوس حدیث الباب ته اوګورئ:

[۱۷۰۱]([1]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ، عَنْ سَلَمَةَ بْنِ كُهَيْلٍ، عَنْ سُوَيْدِ بْنِ غَفَلَةَ، قَالَ: غَزَوْتُ مَعَ زَيْدِ بْنِ صُوحَانَ وَسَلْمَانَ بْنِ رَبِيعَةَ فَوَجَدْتُ سَوْطًا، فَقَالَا لِي: اطْرَحْهُ، فَقُلْتُ: لَا، وَلَكِنْ إِنْ وَجَدْتُ صَاحِبَهُ وَإِلَّا اسْتَمْتَعْتُ بِهِ فَحَجَجْتُ فَمَرَرْتُ عَلَى الْمَدِينَةِ، فَسَأَلْتُ أُبَيَّ بْنَ كَعْبٍ، فَقَالَ: وَجَدْتُ صُرَّةً فِيهَا مِائَةُ دِينَارٍ، فَأَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: "عَرِّفْهَا حَوْلًا"، فَعَرَّفْتُهَا حَوْلًا ثُمَّ أَتَيْتُهُ، فَقَالَ: "عَرِّفْهَا حَوْلًا"، فَعَرَّفْتُهَا حَوْلًا ثُمَّ أَتَيْتُهُ، فَقَالَ: "عَرِّفْهَا حَوْلًا"، فَعَرَّفْتُهَا حَوْلًا ثُمَّ أَتَيْتُهُ، فَقُلْتُ: لَمْ أَجِدْ مَنْ يَعْرِفُهَا، فَقَالَ: "احْفَظْ عَدَدَهَا وَوِكَاءَهَا وَوِعَاءَهَا فَإِنْ جَاءَ صَاحِبُهَا وَإِلَّا فَاسْتَمْتِعْ بِهَا"، وَقَالَ: وَلَا أَدْرِي أَثَلَاثًا قَالَ عَرِّفْهَا أَوْ مَرَّةً وَاحِدَةً.

ترجمه: حضرت سوید بن غفله رحمه الله فرمائي چه په یو سفر کښې د حضرت زید بن صوحان او د سلمان بن ربیعه سره وم مونږ ته یو چابک (کوړه) ملاؤ شوه (چه هغې لره ما اوچت کړو) نو دې دواړو ماته اووې چه دې لره اوغورځوه - ما ورته اووې نه - که چرې ددې مالک ماته ملاؤ شو (نو زه به ئې هغه ته ورکړم) ورنه ددې نه به زه فائده اخلم - بیا زه د حج د پاره لاړم او مدینې ته هم راغلم نو ما د حضرت ابی بن کعب رضی الله عنه نه تپوس اوکړو هغوی اوفرمائیل چه ما ته یوه تیلۍ ملاؤ شوې وه چه په هغې کښې سل دیناره وو - نو زه د نبی کریم ﷺ په خدمت کښې راغلم، هغوی ﷺ اوفرمائیل: تر د یو کاله پورې ددې اعلان اوکړه، چنانچه ما یو کاله پورې د هغې اعلان کولو، بیا هغوی ته راغلم نو هغوی ﷺ اوفرمائیل: یو کاله (بل) اعلان اوکړه - ما یو کال بل د هغې اعلان اوکړو، بیا د حضور ﷺ په خدمت کښې حاضر شوم هغوی اوفرمائیل: یو کال (بل) د هغې اعلان اوکړه ما یو کال مزید د هغې اعلان اوکړو بیا هغوی ته راغلم او عرض مې اوکړو چه ما یو کس داسې اونهٔ موندهٔ چه هغه دې لره پیژندلو - نو حضور ﷺ اوفرمائیل ددې شمیر لره یاد ساته، د هغه تیلۍ او سر بند لره هم (یعنی هغه څیز چه په هغې باندې د تیلۍ خولهٔ تړلې شوې وی -) که د هغې مالک راغې نو بهتره ده، ورنه د هغې نه فائده اخله -" (سلمه بن کهیل) وائی: ما ته معلومه نهٔ ده چه د اعلان کولو حکم ئې درې ځله ورکړې دې یا یو ځل.

تشریح: **قوله**: عن سوید بن غفلة قال غزوت مع زید بن صوحان و سلمان بن ربیعة الخ.

مضمون حدیث:

سوید بن غفله چه د اصح قول مطابق تابعی دې، فرمائي چه زهٔ یو ځل د زید بن صوحان (صحابی) او د سلمان بن ربیعه (مختلف فی صحبته) سره د غزوې په یو سفر کښې

[1]): صحیح البخاري/اللقطة ۱(۲٤۲٦)، ۱۰(۲٤۳۷)، صحیح مسلم/اللقطة ۱(۱۷۲۳)، سنن الترمذي/الأحکام ۳۵(۱۳۷٤)، سنن النسائي/الکبری/ اللقطة(۵۸۲۰، ۵۸۲۱)، سنن ابن ماجه/اللقطة ۲(۲۵۰٦)، (تحفة الأشراف :۲۸)، وقد أخرجه: مسند احمد(۱۲٦۷۵، ۱۲۷)(صحیح)

شریک اوم، په دې حدیث کښې مخکښې دادی، چه حضرت ابی بن کعب فرمائي چه یو ځل ماته یوه تهیلئ ملاؤ شوه، چه په هغې کښې سل دینار وو، هغه مې راواخستله او د نبی کریم ﷺ په خدمت کښې حاضر شوم، نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل: عرفه حولا الخ چه ددې یو کال پورې تعریف کوه، هغه وائی، ما دهغې یو کال پورې تعریف اوکړو، لیکن هیڅوک رانغلل، زۀ د نبی کریم ﷺ په خدمت کښې حاضر شوم، نبی کریم ﷺ بیا یو کال پورې د تعریف حکم اوفرمائیلو، دغه شان دریو کالو پورې تعریف اوکړې شو. مخکښې په روایت کښې دادی، چه یو سړی په مدة التعریف کښې د شک اظهار اوکړو، چه دا ماته صحیح یاد نه دی، چه نبی کریم ﷺ صرف یو کال پورې د تعریف حکم اوکړو، یا دریو کالو پورې. دا حدیث په صحیحینو کښې هم شته، هلته کښې د دریو کالو تعریف ذکر دې، (بدون شک) لیکن دریو کالو پورې د تعریف جمهور قائل نه دی، البته بعضې صحابه کرام لکه حضرت عمر رضی الله عنه او بعضې نور علماؤ نه تعریف الی ثلثة اعوام منقول دې،
دغه شان د احنافو نه هم یو قول د مبتلی به د رائې په اعتبار سره دې، په دې صورت کښې دریو کالو پورې نوبت راتلې شی، حضرت شیخ په اوجز کښې لیکلې دی: لیکن د زید بن خالد په حدیث کښې (کوم چه په ابوداؤد کښې مخکښې راروان دې) دهغې په ټولو طرقو کښې د یو کال تعریف مذکور دې، چه د جمهورو مسلک دې، لهذا هغې ته به ترجیح ورکولې شی، حتی چه ابن حزم او ابن الجوزی خو په یقین سره دا خبره کړې ده، چه دریو کالو والا روایت د راوی وهم دې.

د شافعیه دلیل او دهغې نه جواب:

والا فاستمتع بها: په دې سره شافعیه او حنابله په خپل مسلک باندې استدلال کړې دې، چه د لقطې د تعریف نه پس لاقط دپاره دهغې نه انتفاع اخستل مطلقا جائز دی، یعنی اگر چه هغه غنی وی، ځکه چه دا خبره مشهوره ده، چه حضرت ابی بن کعب د میاسیر (مالدار) صحابه کرامو نه وو، زمونږ د طرف نه ددې جواب دادې، چه مال تلونکې راتلونکې څیز دې، همیشه سړې په یو حالت باندې نه وی، ممکن ده چه هغه دغه وخت کښې غنی نه وو، او زمونږ دلیل هغه دې، چه مخکښې د عیاض بن حمار نه مرفوعا راروان دې، **والا فهو مال الله یؤتیه من یشاء،** شوکانی رحمه الله فرمائي چه مال الله هغه مال ته وئیلې شی، چه د صدقې قابل وی.

[۱۷۰۲] (۱) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ شُعْبَةَ بِمَعْنَاهُ، قَالَ: عَرِّفْهَا حَوْلًا، وَقَالَ ثَلَاثَ مِرَارٍ، قَالَ: فَلَا أَدْرِي قَالَ لَهُ ذَلِكَ فِي سَنَةٍ أَوْ فِي ثَلَاثِ سِنِينَ.

ترجمه: شعبه د مذکوره بالا حدیث په مثل باندې روایت کړې دې: (په دې کښې دی حضور ﷺ) اوفرمائیل: یو کاله پورې ددې اعلان اوکړه " حضور ﷺ دې خبرې لره درې ځلې اوفرمائیله - (سلمه بن کهیل) وائی ماته نۀ ده معلومه چه ددې مفهوم په یو کال کښې درې ځله اعلان کول دی یا تر دَ دریو کالو پورې اعلان کول -"

---

(۱): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۲۸) (صحیح)

[۱۷۰۳]() حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، حَدَّثَنَا سَلَمَةُ بْنُ كُهَيْلٍ، بِإِسْنَادِهِ وَمَعْنَاهُ، قَالَ فِي التَّعْرِيفِ: "قَالَ: عَامَيْنِ أَوْ ثَلَاثَةً، وَقَالَ: اعْرِفْ عَدَدَهَا وَوِعَاءَهَا وَوِكَاءَهَا"، زَادَ: "فَإِنْ جَاءَ صَاحِبُهَا فَعَرَفَ عَدَدَهَا وَوِكَاءَهَا فَادْفَعْهَا إِلَيْهِ". قَالَ أَبُو دَاوُدَ: لَيْسَ يَقُولُ هَذِهِ الْكَلِمَةَ إِلَّا حَمَّادٌ فِي هَذَا الْحَدِيثِ، يَعْنِي فَعَرَفَ عَدَدَهَا.

ترجمه: سلمه بن کهیل په خپل سند سره ددې په مثل باندې روایت کړې دې او د اعلان په باره کښې ئې وئیلې دی: "دوه کاله یا درې کاله -" او فرمائی: ددې شمیر اوکړه او ددې تیلئ او سر بند لره ښهٔ یاد ساته -" مزید وائی بیا کهٔ چرې دَ هغې مالک راغې او دَ هغې شمیر لره اوپېژنی او تیلئ او سر بند لره هم، نو هغه ته ئې حواله کړه -" امام ابوداود رحمه الله فرمائی چه دا الفاظ یعنی کهٔ چرې هغه ددې شمیر اوپېژنی " صرف دَ حماد په روایت کښې دی -

[۱۷۰۴]() حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ جَعْفَرٍ، عَنْ رَبِيعَةَ بْنِ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ يَزِيدَ مَوْلَى الْمُنْبَعِثِ، عَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ الْجُهَنِيِّ، أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ اللُّقَطَةِ، قَالَ: "عَرِّفْهَا سَنَةً، ثُمَّ اعْرِفْ وِكَاءَهَا وَعِفَاصَهَا، ثُمَّ اسْتَنْفِقْ بِهَا فَإِنْ جَاءَ رَبُّهَا فَأَدِّهَا إِلَيْهِ"، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، فَضَالَّةُ الْغَنَمِ، فَقَالَ: "خُذْهَا فَإِنَّمَا هِيَ لَكَ أَوْ لِأَخِيكَ أَوْ لِلذِّئْبِ"، قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، فَضَالَّةُ الْإِبِلِ، فَغَضِبَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى احْمَرَّتْ وَجْنَتَاهُ أَوِ احْمَرَّ وَجْهُهُ، وَقَالَ: "مَالَكَ وَلَهَا مَعَهَا حِذَاؤُهَا وَسِقَاؤُهَا حَتَّى يَأْتِيَهَا رَبُّهَا".

د حضرت زید بن خالد جهنی نه روایت دې چه یو کس د نبی کریم ﷺ نه د لقطې (د پریوتلې څیز) متعلق پوښتنه اوکړه نو حضور ﷺ اوفرمائیل: یو کاله پورې دَ هغې اعلان اوکړه، بیا دَ هغې سربند او تیلئ (لوښې وغیره چه په هغې کښې دا څیز وی) ښهٔ یاد کړه - او هغې لره په خپل استعمال کښې راوله - کهٔ چرې دَ هغې مالک راغې نو هغه ته ئې ورکړه - بیا هغه کس اووې اې دَ الله رسوله! دَ ګمشده چیلئ (په باره کښې څهٔ ارشاد دې؟) حضور ﷺ اوفرمائیل دې لره بوځه دا ستا دَ پاره ده یا ستا دَ رور دَ پاره یا دَ شیر مخ دَ پاره -" هغه اووې او اې د الله رسوله! ورک شوې اوښ؟ په دې باندې حضور ﷺ په غصه کښې راغې تردې پورې چه دَ هغوی ﷺ رُخسار (مبارک) سور شو یائې اووې چه مخ (مبارک) ئې سور شو اووې فرمائیل: ستا ددې سره څهٔ غرض؟ دَ هغهٔ سره خپل پیزار دې او خپله مشکیزه ده -(دَ اوښ په خېته کښې دَ اوبو دَ ذخیره کولو ګنجائش او صلاحیت دې) تردې پورې چه دَ هغې مالک راشی -

تشریح: **قوله**: قَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ فَضَالَّةُ الْإِبِلِ فَغَضِبَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

په دې حدیث باندې په ائمه کښې د امام احمد رحمه الله عمل دې، د شافعیه او مالکیه هم په

---

[1]): انظر حدیث رقم: ۱۷۰۱، (تحفة الأشراف :۲۸)(صحیح)

[2]): صحیح البخاري /العلم ۲۸ (۹۱)، المساقاة ۱۲ (۲۳۷۲)، اللقطة ۲ (۲۴۲۷)، ۳ (۲۴۲۸)، ۴ (۲۴۲۹)، ۹ (۲۴۳۶)، ۱۱ (۲۴۳۸)، الطلاق ۲۲ (۵۲۹۲مرسلاً)، الأدب ۷۵ (۶۱۱۲)، صحیح مسلم /اللقطة ۳۱ (۱۷۲۲)، سنن الترمذي /الأحکام ۳۵ (۱۳۷۲)، سنن النسائي / الکبری /اللقطة (۵۸۱۴، ۵۸۱۵، ۵۸۱۶)، سنن ابن ماجه /اللقطة ۱ (۲۵۰۴)، (تحفة الأشراف : ۳۷۶۳)، وقد أخرجه: موطا امام مالك /الأقضية ۳۸ (۴۶، ۴۷)، مسند احمد (۴/۱۱۵، ۱۱۶، ۱۱۷) (صحیح)

څه درجه کښې دي، ليکن د احنافو نه په ظاهر کښې خلاف دې، په دې باندې کلام او دد ې نه جواب په بحث ثالث کښې تير شوې دې.

تشريح: قوله: فقال مالک ولها معها حذائها و سقائها حتى ياتيها ربها:

ستا د اوښ سره څه مطلب؟ دهغه سره خو دهغه پنړې دي، (پښې او قدمونه چه هغې سره هغه کوم ځائي ته غواړې تلې شي) او هغه سره دهغه مشکيزه ده، يعنى ګيډه، چه په هغې کښې د څو څو ورځو اوبه هغه جمع کوى، قال المنذرى و اخرجه البخارى و مسلم و الترمذى والنسائى وابن ماجه(عون)

[۱۷۰۵](١) حَدَّثَنَا ابْنُ السَّرْحِ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي مَالِكٌ، بِإِسْنَادِهِ وَمَعْنَاهُ، زَادَ: "سِقَاؤُهَا تَرِدُ الْمَاءَ وَتَأْكُلُ الشَّجَرَ"، وَلَمْ يَقُلْ: خُذْهَا فِي ضَالَّةِ الشَّاءِ، وَقَالَ فِي اللُّقَطَةِ: "عَرِّفْهَا سَنَةً فَإِنْ جَاءَ صَاحِبُهَا وَإِلَّا فَشَأْنَكَ بِهَا"، وَلَمْ يَذْكُرْ: اسْتَنْفِقْ. قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ الثَّوْرِيُّ وَسُلَيْمَانُ بْنُ بِلَالٍ وَحَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ رَبِيعَةَ مِثْلَهُ، لَمْ يَقُولُوا: خُذْهَا.

حضرت مالک دې حديث لره هم په دې سند سره دَ مذکوره هم معنى روايت کړې دې - او مزيد ئې فرمائيلې دى: "(دَ هغه سره) خپله مشکيزه ده، هغه اوبو ته اورسى اوبهٔ څکى او اونې (بوټى) خورې - او دَ ګمشده چيلئ په باره کښې ئې دَ [خُذها] " دې لره واخله " لفظ نهٔ دې ذکر کړې او دَ لقطې په باره کښې ئې اوفرمائيل: يو کاله پورې دَ هغې اعلان اوکړه - بيا کهٔ چرې دَ هغې مالک راشى (نو بهتره ده) ورنه تهٔ پيشه - (يعنى دَ هغې مالک جوړ شه) او دَ " خرچ کولو " ذکر ئې نهٔ دې کړې -

امام ابوداود رحمه الله فرمائى چه دې لره ثورى، سليمان بن بلال، او حمّاد بن سلمه دَ ربيعه نه هم ددې په مثل باندې روايت کړې دې -

[۱۷۰۶](٢) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ رَافِعٍ، وَهَارُونُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الْمَعْنَى، قَالَا: حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي فُدَيْكٍ، عَنِ الضَّحَّاكِ يَعْنِي ابْنَ عُثْمَانَ، عَنْ سَالِمٍ أَبِي النَّضْرِ، عَنْ بُسْرِ بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ الْجُهَنِيِّ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُئِلَ عَنِ اللُّقَطَةِ، فَقَالَ: "عَرِّفْهَا سَنَةً فَإِنْ جَاءَ بَاغِيهَا فَأَدِّهَا إِلَيْهِ، وَإِلَّا فَاعْرِفْ عِفَاصَهَا وَوِكَاءَهَا ثُمَّ كُلْهَا فَإِنْ جَاءَ بَاغِيهَا فَأَدِّهَا إِلَيْهِ".

د حضرت زيد بن خالد جهنى رضي الله عنه نه رايت دې چه د رسول الله ﷺ نه د پريوتلى څيز په باره کښې پوښتنه اوکړې شوه نو حضور ﷺ اوفرمائيل: يو کاله پورې دَ هغې اعلان اوکړه - " کهٔ چرې دَ هغې طلب کولو والا راغې نو هغه ته ئې ورکړه، ورنه د هغې تيلئ (يا لوښې) او د هغې سربند ياد ساته، بيا هغې لره خوره، (په خپل استعمال کښې ئې راوله) ددې نه پس کهٔ چرې دَ هغې طلب کوونکې راشى نو هغه ته ئې حواله کړه - "

تشريح: قوله: والا فاعرف عفاصها ووکائها:

اوپيژنه دهغې لقطې تهيلئ لره (په کومه کښې چه دراهم وغيره ملاؤ شوې دى)، او دهغې غوټې لره (د کومې په ذريعې سره چه د هميانئ خولهٔ تړلې شى)

(١): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٣٧٦٣) (صحيح)

(٢): صحيح مسلم/اللقطة ١(١٧٢٢)، سنن الترمذي/الأحكام ٣٥(١٣٧٣)، سنن النسائي/الكبرى(٥٨١١)، سنن ابن ماجه/ اللقطة ١(٥٠٧)، (تحفة الأشراف: ٣٧٤٨)، وقد أخرجه: مسند احمد(١١٦/٤، ١٩٣/٥) (صحيح)

[۱۷۰۷]( ) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَفْصٍ، حَدَّثَنِي أَبِي، حَدَّثَنِي إِبْرَاهِيمُ بْنُ طَهْمَانَ، عَنْ عَبَّادِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ أَبِيهِ يَزِيدَ مَوْلَى الْمُنْبَعِثِ، عَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ الْجُهَنِيِّ، أَنَّهُ قَالَ: سُئِلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَذَكَرَ نَحْوَ حَدِيثِ رَبِيعَةَ، قَالَ: وَسُئِلَ عَنِ اللُّقَطَةِ، فَقَالَ: "تُعَرِّفُهَا حَوْلًا فَإِنْ جَاءَ صَاحِبُهَا دَفَعْتَهَا إِلَيْهِ وَإِلَّا عَرَفْتَ وِكَاءَهَا وَعِفَاصَهَا ثُمَّ أَفِضْهَا فِي مَالِكَ فَإِنْ جَاءَ صَاحِبُهَا فَادْفَعْهَا إِلَيْهِ".

دَ حضرت زید بن خالد جهنی رضی الله عنه نه روایت دي، دَ رسول الله ﷺ نه سوال اوکړې شو - او دَ ربیعه دَ حدیث په مثل باندې ئي روایت اوکړو - فرمائي: دَ حضور ﷺ نه دَ پریوتلي څیز په باره کښې پوښتنه اوکړې شوه نو حضور ﷺ اوفرمائیل یو کاله پورې دَ هغې اعلان اوکړه. پس کهٔ چرې دَ هغې مالک راغې نو هغه ته ئي حواله کړه - کهٔ رانغې نو دَ هغې تیلئ او سربند لره ښهٔ یاد ساته - او هغې لره په خپل مال کښې شامل کړه - بیا کهٔ چرې دَ هغې مالک راغې نو هغه ته ئي ورکړه -"

[۱۷۰۸]( ) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، عَنْ حَمَّادِ بْنِ سَلَمَةَ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، وَرَبِيعَةَ، بِإِسْنَادِ قُتَيْبَةَ وَمَعْنَاهُ، وَزَادَ فِيهِ: "فَإِنْ جَاءَ بَاغِيهَا فَعَرَفَ عِفَاصَهَا وَعَدَدَهَا فَادْفَعْهَا إِلَيْهِ"، وَقَالَ حَمَّادٌ أَيْضًا: عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، مِثْلَهُ. قَالَ أَبُو دَاوُد: وَهَذِهِ الزِّيَادَةُ الَّتِي زَادَ حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ فِي حَدِيثِ سَلَمَةَ بْنِ كُهَيْلٍ وَيَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ وَعُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ وَرَبِيعَةَ: "إِنْ جَاءَ صَاحِبُهَا فَعَرَفَ عِفَاصَهَا وَوِكَاءَهَا فَادْفَعْهَا إِلَيْهِ" لَيْسَتْ بِمَحْفُوظَةٍ، فَعَرَفَ عِفَاصَهَا وَوِكَاءَهَا، وَحَدِيثُ عُقْبَةَ بْنِ سُوَيْدٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَيْضًا، قَالَ: "عَرِّفْهَا سَنَةً"، وَحَدِيثُ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ أَيْضًا، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "عَرِّفْهَا سَنَةً".

دَ یحیی بن سعید او دَ ربیعه نه، دَ قتیبه په سند سره ددې هم معنیٰ روایت دې - په دې کښې اضافه ده: " کهٔ چرې دَ هغې تلاش کوونکې راشي او هغه ددې تیلئ (یا لوښې) او دَ هغې شمیر اوښائي نو هغه څیز هغه ته حواله کړه -" او حماد هم دَ عبید الله بن عمر نه، هغوی دَ عمرو بن شعیب نه، هغوی دَ خپل پلار شعیب نه، هغوی دَ خپل نیکهٔ (عبد الله بن عمرو بن عاص) نه او هغوی دَ نبی کریم ﷺ نه ددې په مثل باندې روایت کړې دې - امام ابوداود رحمه الله فرمائي: چه دَ حماد بن سلمه دا اضافه کومه چه هغوی دَ سلمه بن کهیل، یحیی بن سعید، عبید الله بن عمرو او دَ ربیعه په روایت کښې ذکر کړې ده " کهٔ چرې دَ هغې مالک راشي او دَ هغه څیز تیلئ (یا لوښې) او دَ هغې سربند (او نور علامات وغیره) بیان کړې نو دې لره هغه ته حواله کړه -" (دې سند سره) دا الفاظ محفوظ نهٔ دی - یعنی [فعرف عفاصها ووکاءَ ها] او دَ عقبه بن سوید حدیث کوم چه دَ هغوی دَ والد صاحب نه، دَ نبی کریم ﷺ نه مروی دې چې " دَ یو کاله پورې اعلان اوکړه -" ددې نه علاوه دَ حضرت عمر رضی الله عنه په حدیث کښې هم دَ نبی کریم ﷺ نه مروی دی چې دَ یو کاله پورې اعلان اوکړه -"

( ): انظر حدیث رقم :(١٧٠٤)،(تحفة الأشراف :٣٧٦٣)(صحیح)

( ): انظر حدیث رقم :(١٧٠٤)، ویأتي هذا الحدیث برقم(١٧١٣)،(تحفة الأشراف :٢٨، ٣٧٦٣، ٨٧٥٥، ٨٧٨٤)(صحیح)

[۱۷۰۹]() حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا خَالِدٌ يَعْنِي الطَّحَّانَ. ح وحَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا وُهَيْبٌ الْمَعْنَى، عَنْ خَالِدٍ الْحَذَّاءِ، عَنْ أَبِي الْعَلَاءِ، عَنْ مُطَرِّفٍ يَعْنِي ابْنَ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ عِيَاضِ بْنِ حِمَارٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ وَجَدَ لُقَطَةً فَلْيُشْهِدْ ذَا عَدْلٍ أَوْ ذَوِي عَدْلٍ وَلَا يَكْتُمْ وَلَا يُغَيِّبْ فَإِنْ وَجَدَ صَاحِبَهَا فَلْيَرُدَّهَا عَلَيْهِ وَإِلَّا فَهُوَ مَالُ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ يُؤْتِيهِ مَنْ يَشَاءُ".

حضرت عیاض بن حمار رضی الله عنه نه روایت دي چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل: چاته چه لقطه ملاؤ شي نو هغه لره پکار دی چه یو یا دوو عادلانو لره ګواه جوړ کړي - او نۀ دي پټوی او نۀ دي غائبه وی، ، بیا کۀ چرې د هغې مالک لره اومومی نو هغه ته دي واپس کړی، اورنه دا د الله مال دي چاته چه اوغواړی نو ورکوی ئې -

تشریح: قوله: من وجد لقطة فليشهد ذا عدل الخ:

په اشهاد عند التقاط کښې دا د احنافو دليل دې، و قد مر فى المباحث.

قوله: والا فهو مال الله يؤتيه من يشاء: د احنافو او مالکيه دليل دې، په هغې مسئله کښې، کومه چه په بحث خامس کښې تيره شوې ده.

قال المنذرى واخرجه النسائى و ابن ماجه(عون)

[۱۷۱۰]() حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنِ ابْنِ عَجْلَانَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ سُئِلَ عَنِ الثَّمَرِ الْمُعَلَّقِ؟ فَقَالَ: "مَنْ أَصَابَ بِفِيهِ مِنْ ذِي حَاجَةٍ غَيْرَ مُتَّخِذٍ خُبْنَةً فَلَا شَيْءَ عَلَيْهِ، وَمَنْ خَرَجَ بِشَيْءٍ مِنْهُ فَعَلَيْهِ غَرَامَةُ مِثْلَيْهِ وَالْعُقُوبَةُ، وَمَنْ سَرَقَ مِنْهُ شَيْئًا بَعْدَ أَنْ يُؤْوِيَهُ الْجَرِينُ فَبَلَغَ ثَمَنَ الْمِجَنِّ فَعَلَيْهِ الْقَطْعُ"، وَذَكَرَ فِي ضَالَّةِ الْإِبِلِ وَالْغَنَمِ كَمَا ذَكَرَهُ غَيْرُهُ، قَالَ: وَسُئِلَ عَنِ اللُّقَطَةِ، فَقَالَ: "مَا كَانَ مِنْهَا فِي طَرِيقِ الْمِيتَاءِ أَوِ الْقَرْيَةِ الْجَامِعَةِ فَعَرِّفْهَا سَنَةً، فَإِنْ جَاءَ طَالِبُهَا فَادْفَعْهَا إِلَيْهِ، وَإِنْ لَمْ يَأْتِ فَهِيَ لَكَ، وَمَا كَانَ فِي الْخَرَابِ يَعْنِي فَفِيهَا وَفِي الرِّكَازِ الْخُمُسُ".

حضرت عبد الله بن عمرو بن العاص رضی الله عنه بیان کوی چه د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړې شو چه(په اونو باندې) د رازوړندو میوو څۀ حکم دې؟ "چا ضرورت مند کۀ په خپلې خولې سره خوړلې وی، خپل پلو(د څادر ګوټ، طرف و غیره) پورې ئې نۀ وی تړلې نو په هغه باندې هیڅ(حرج او تاوان) نشته دې - او څوک چه د هغې څائې نه څۀ واخلی لاړ شی نو په هغه باندې دوه چنده جرمانه ده او سزا - او څوک چه ددې مخزن ته راغې او د هغې نه پس ئې غلا کړو نو کۀ چرې هغه د ډال د قیمت برابر وو نو په دې باندې به د هغه لاس کټ کیږي -" او د ورک شوی بکرئ او د اوښ په باره کښې ئې هم داسې بیان اوکړو لکه څنګه چه نورو راویانو ذکر کړې دی -او د لقطې(پریوتلی څیز) په باره کښې ترینه پوښتنه اوکړې شوه نووې فرمائیل: کوم چه تاسو ته د آباد لارو او کلو نه ملاؤ شی نو د هغې د یو کال پورې اعلان اوکړه - پس کۀ چرې د هغه تلاش کوونکې راغې نو ورته ئې حواله کړه او کۀ

[۱]: سنن النسائي / الكبرى(٥٨٠٨، ٥٨٠٩)، سنن ابن ماجه /اللقطة ٢(٢٥٠٥)،(تحفة الأشراف :١٠١٣(١))، وقد أخرجه: مسند احمد(١٦٢/٤)(صحيح)

[۲]: سنن الترمذي /البيوع ٥٤(١٢٨٩)، سنن النسائي /قطع السارق ٩(٤٩٦١)،(تحفة الأشراف :٨٧٩٨)ويأتي عند المؤلف برقم(٤٣٩٠)(حسن)

رانغي نو هغه ستا دي - او کوم چه دَ ويران او شارِ ځائي نه ملاؤ شی نو په هغې کښې او دارنګه کۀ څۀ دفينه (په زمکه کښې دفن کړې شوې څيز) ملاؤ شی، نو په هغې کښې خمس دې -" (يعنی پنځمه حصه زکات دې -)

تشريح: قوله: سُئِلَ عَنِ الثَّمَرِ الْمُعَلَّقِ فَقَالَ مَنْ أَصَابَ بِفِيهِ مِنْ ذِي حَاجَةٍ غَيْرَ مُتَّخِذٍ خُبْنَةً فَلَا شَيْءَ عَلَيْهِ وَمَنْ خَرَجَ بِشَيْءٍ مِنْهُ فَعَلَيْهِ غَرَامَةُ مِثْلَيْهِ وَالْعُقُوبَةُ

مضمون حديث:

د نبی کريم ﷺ نه تپوس اوکړې شو دهغې ميوؤ متعلق، کومې چه په اونو باندې لګيدلې وی (يعنی هغې لره مسافر راشوکولې شی اوکه نه) نو نبی کريم ﷺ په جواب کښې اوفرمائيل: چه کوم ضرورت مند هغې لره راؤشوکوی او په خولۀ کښې واچوی، (او هلته کښې اوخوری) او د خپل لنګ په جيب کښې ئې وانه چوی، نو هيڅ حرج نشته، او کوم سړې چه راؤشوکوی، او ځان سره ئې يوسی، نو په دې صورت کښې به هغه باندې دوچند جرمانه (ضمان) وی، او سزا هم، يعنی د ضمان نه علاوه هغه ته به تعزير هم ورکولې شی (يعنی وهلې به هم شی)

مسئله ثابته بالحديث او په دې کښې اختلاف علماء:

مسئله داده، چه کومې ميوې د اونې نه د هوا وغيره په ذريعې سره راپريوځی، نو په لاره تلونکې هغه راؤچتولې شی، د هغې د مالکانو د طرف نه عام طور باندې اجازت وی، ليکن دچا د اونې نه ميوه شوکول او اوړل، بغير د مالک د اجازت نه، بالاتفاق ناجائز دی، ليکن په دې حديث شريف کښې ددې اجازت مذکور دې، البته دا ده، چه هم دغه ځائې کښې د ضرورت او حاجت مطابق خوړلې شی، خپل ځان سره دې نه اوړی، دې لره يا خو په دې باندې محمولولې شی، چه دا حکم په ابتداء داسلام کښې وو، بيا روستو منسوخ شو، او يا دا وئيلې شی، چه د فلا شئ عليه مطلب دادې، چه د ضرورت او مجبورئ په حالت کښې شوکولې او خوړلې شی، په دې کښې ګناه نشته، اګرچه ضمان به ورکول وی، صرف د ګناه نفی مراد ده.

يوه بله اختلافی مسئله:

بيا ددې نه پس چه فرمائيلې شوې دی، (چه څوک ئې ځان سره يوسی، هغه باندې دوچند ضمان دې) دا خبره د قاعده شرعيه نه خلاف ده، د شئ متلف تاوان دهغې د قيمت برابر وی، دهغې نه زيات نه وی، **قال الله تعالی وان عاقبتم فعاقبوا بمثل عوقبتم به**، ددې حديث په ظاهر باندې د حضرت عمر رضي الله عنه عمل وو، او د ائمه اربعه نه د امام احمد بن حنبل رحمه الله هم په دې باندې عمل دې. او د جمهور علماؤ او ائمه ثلثة په نزد دا يا خو منسوخ دې، يا په زجر او توبيخ باندې محمول دې.

قوله: فَقَالَ مَا كَانَ مِنْهَا فِي طَرِيقِ الْمِيتَاءِ أَوِ الْقَرْيَةِ الْجَامِعَةِ فَعَرِّفْهَا سَنَةً فَإِنْ جَاءَ طَالِبُهَا فَادْفَعْهَا إِلَيْهِ وَإِنْ لَمْ يَأْتِ فَهِيَ لَكَ وَمَا كَانَ فِي الْخَرَابِ فَفِيهَا وَفِي الرِّكَازِ الْخُمُسُ

شرح حدیث:

الطریق المیتاء: روانه لار، چه په هغې باندې خلق تیریږي راتیریږي. المیتاء د اتیان نه ماخوذ دې، د حدیث مطلب دادې، چه کوم څیز د داسې ځائي نه ملاؤ شي، چه آباد وي، نو ظاهر ده، چه هغه به د چا تلونکې یا راتلونکې نه غورزیدلې وي، لهذا هغه به لقطه ګڼړلې شي، او د لقطې حکم به په هغې باندې جاري کولې شي، یعني تعریف سنة.

او کوم څیز چه په ویران غیرآباد ځائي کښې اوموندلې شي، چه هلته کښې د خلقو تګ راتګ نه وي، نو ظاهره داده، چه هغه به رکاز (یعنی خخ کړې شوي څیز) وي، چه د هغې نه خاوره بارانونو او هواګانو اوړلې وي، لهذا په هغې باندې به د رکاز حکم جاري کولې شي، یعني تخمیس "ومن سرق منه شیئا بعد ان یوویه الجرین،، دا د کتاب الحدود مسئله ده، (حدسرقه) چه دلته کښې په دې حدیث کښې راغله، جرین هغه ځائې ته وئیلې شي، کوم ځائې چه کهجورې اوچولې شي، هغه ځائې عام طور باندې محفوظ وي، هلته کښې حرز موندلې شي، په خلاف د ثمر معلق نه، چه هغه غیر محرز (یعنی غیر محفوظ) وي، او د سرقې دپاره حرز یعنی مال محرز کیدل ضروری دی، بغیر د دې نه د سرقې تعریف نه صادقیږي، ددې وجې نه هلته کښې قطع ید نه وي، یعني کوم سړې چه د جرین نه د میوؤ غلا اوکړي، په شرط ددې چه نصاب د سرقې ته رسي، چه ثمن المجن دې، (د ډهال د قیمت برابر) چه دهغې مصداق د جمهورو په نزد ربع دینار (دري درهمه) دې، او د احنافو په نزد یو دینار (یعنی لس درهمه) دی، نو د هغه لاس به پریکولې شي.

[۱۷۱۱] (١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ، عَنْ الْوَلِيدِ يَعْنِي ابْنَ كَثِيرٍ، حَدَّثَنِي عَمْرُو بْنُ شُعَيْبٍ، بِإِسْنَادِهِ، بِهَذَا قَالَ فِي ضَالَّةِ الشَّاءِ، قَالَ: "فَاجْمَعْهَا".

عمرو بن شعیب په خپل هم دې سند سره دې حدیث لره روایت کړې دې او د ګمشده بکرئ په باره کښې د هغه لفظ دادې: [فاجمعها] "یعنی هغې لره د خپلو بکرو سره ملاؤ کړه -"

[۱۷۱۲] (٢) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ الْأَخْنَسِ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، بِهَذَا بِإِسْنَادِهِ وَقَالَ فِي ضَالَّةِ الْغَنَمِ: "لَكَ أَوْ لِأَخِيكَ أَوْ لِلذِّئْبِ، خُذْهَا قَطُّ"، وَكَذَا قَالَ فِيهِ أَيُّوبُ، وَيَعْقُوبُ بْنُ عَطَاءٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "فَخُذْهَا".

حضرت عمرو بن شعیب هم په دې سند سره رایت کړې دې - او د ورک شوې بکرئ په سلسله کښې ئې فرمائیلې دی: دا ستا د پاره دی یا ستا د رور د پاره یا د شیر مخ دپاره، دې لره واخله او بس - او دارنګه په دې روایت کښې ایوب او یعقوب بن عطاء د عمرو بن شعیب نه، هغوی د نبی کریم ﷺ نه [فخذها] لفظ بیان کړې دې -

[۱۷۱۳] (٣) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ. ح وحَدَّثَنَا ابْنُ الْعَلَاءِ، حَدَّثَنَا ابْنُ إِدْرِيسَ، عَنْ ابْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِهَذَا قَالَ فِي ضَالَّةِ الشَّاءِ:

١): سنن ابن ماجه/الحدود ٢٨(٢٥٩٦)، (تحفة الأشراف: ٨٨١٢)(حسن)
٢): سنن النسائي/قطع السارق ٨(٤٩٦٠)، (تحفة الأشراف: ٨٧٥٥)، وقد أخرجه: مسند احمد(٢/١٨٦)(حسن)
٣): انظر حديث رقم: (١٧٠٨)، (تحفة الأشراف: ٨٧٨٤)(حسن)

"فَاجْمَعْهَا حَتَّى يَأْتِيَهَا بَاغِيهَا".

ابن اسحاق، د عمرو بن شعيب نه هغوی د خپل پلار نه، هغوی د خپل نیکهٔ عبد الله بن عمرو بن عاص رضی الله عنه نه، هغه د نبی کریم ﷺ نه هم دا روایت کوی نو د هغوی لفظ دادي : [فاجمعها حتى ياتيها باغيها] دې لره د خپل مال سره ملاؤ کړه تردې پورې چه د هغې طلب کوونکې راشي -"

[۱۷۱۴]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ وَهْبٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ الْحَارِثِ، عَنْ بُكَيْرِ بْنِ الْأَشَجِّ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ مِقْسَمٍ حَدَّثَهُ، عَنْ رَجُلٍ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، أَنَّ عَلِيَّ بْنَ أَبِي طَالِبٍ وَجَدَ دِينَارًا فَأَتَى بِهِ فَاطِمَةَ، فَسَأَلَتْ عَنْهُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: "هُوَ رِزْقُ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ" فَأَكَلَ مِنْهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَكَلَ عَلِيٌّ وَفَاطِمَةُ، فَلَمَّا كَانَ بَعْدَ ذَلِكَ أَتَتْهُ امْرَأَةٌ تَنْشُدُ الدِّينَارَ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَا عَلِيُّ أَدِّ الدِّينَارَ".

د حضرت ابوسعيد خدری رضی الله عنه نه روايت دي چه حضرت علی رضی الله عنه ته يو دينار ملاؤ شو هغې لره ئې حضرت فاطمې رضی الله عنها ته راوړو حضرت فاطمې رضی الله عنها د هغې په باره کښې د نبی کريم ﷺ نه پوښتنه اوکړه نو حضور ﷺ اوفرمائيل : دا د الله تعالیٰ رزق دي -" چنانچه رسول الله ﷺ، حضرت علی رضی الله عنه او حضرت فاطمې رضی الله عنها هغې لره اوخوړلو - ددې نه پس هغوی ته يوه ښځه راغله چه هغې يو دينار لره تلاش کولو رسول الله ﷺ اوفرمائيل : علی ! هغه دينار لره ادا کړه -"

تشريح: قوله: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ....... أَنَّ عَلِيَّ بْنَ أَبِي طَالِبٍ وَجَدَ دِينَارًا فَأَتَى بِهِ فَاطِمَةَ رضی الله عنها

د حضرت علی رضی الله عنه د لقطې موندلو قصه :

د حديث مضمون دادې، چه يو ځل حضرت علی رضی الله عنه خپل کور ته تشريف راؤړو، هلته ئې اوليدل چه حضرات حسنين (دواړه ځامن ئې) ژړل، هغوی د حضرت فاطمې رضی الله عنها نه تپوس اوکړو، چه دوی ولې ژاړی؟ هغې اوفرمائيل چه د اولږې د سختئ د وجې نه ژاړی، حضرت علی رضی الله عنه په پريشانئ کښې د کور نه بهر راؤتلو، په لاره کښې ئې يو دينار اوليدو چه پروت وو، هغوی هغه دينار اوچت کړو، او هغه ئې خپل کور والا ته راؤړو، هغې ورته اوئيل چه په دې باندې لږ شان اوړهٔ راؤړه، نو حضرت علی رضی الله عنه يو يهودی دوکاندار ته لاړو، او هغه نه ئې اوړهٔ واخستل، يهودی تپوس اوکړو، چه آيا تهٔ دهغه سړی ځوم ئې، چه خپل ځان ته نبی وائی، هغوی ورته اوفرمائيل: چه او، په دې باندې يهودی اوئيل، چه واخله دا خپل دينار، او دا اوړهٔ هسې کور ته يوسه، (تاته هديه ده) علی رضی الله عنه هغه اوړهٔ کور ته راوړل، خپل کور والا ته ئې د يهودی خبره بيان کړه، بيا ورته هغې اوئيل چه اوس په دې کښې د يو درهم غوښه راؤړه، نو علی رضی الله عنه قصاب ته لاړو، او د يو درهم غوښه ئې واخستله، او دهغې يو درهم په بدله کښې ئې هغه دينار گانړه کيخودو، او غوښه ئې راوړه، فاطمې رضی الله عنها اوړهٔ واغړل، او غوښه ئې په کټوئ کښې واچوله، او په نغری ئې کيخودله، او نبی کريم ﷺ ئې

(): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف :٤٤٤٣)(حسن)

هم راؤغوختلو، نبي کريم ﷺ چه کله تشريف راؤړو، نو فاطمې ﷞ نبي کريم ﷺ ته عرض اوکړو، چه اول تاسو ددې قصه واورئ، دهغې نه پس که تاسو اجازت راکوئ، نو مونږ به اوخورو، ګني نه، نبي کريم ﷺ ټوله قصه اوريدلو نه پس اوفرمائيل: کلو باسم الله، نو ټول کيناستل، او روټۍ ئې اوخوړه، په دغې دوران کښې يو غلام (هلک) د خدائې او رسول په نوم باندې سوال کولو دپاره راغلو، چه که چا زما دينار اوچت کړې وی، نو ماته دې راکړی، نبي کريم ﷺ هغه هلک راؤغوختلو، او دهغه نه ئې د دينار متعلق تپوس اوکړو، دهغه خبره اوريدلو نه پس نبي کريم ﷺ علي ته اوفرمائيل: اې علي! قصاب ته لاړ شه، او ورته اوايه، چه هغه دينار چه تاسره د رهن په طور باندې ما ايخودلې دې، هغه راکړه، او ستا هغه درهم زما په ذمه دې، نو حضرت علي ﷛ هغه دينار راؤړو، او هغه هلک ته ئې ورکړو، ددې قصې په يو بل طريق کښې داسې دی، چه څو ورځې پس يوه ښځه خپل دينار تلاش کولو دپاره راغله، نو نبي کريم ﷺ حضرت علي ته حکم ورکړو، چه دې ته خپل دينار ورکړه.

په دې قصه باندې کلام من حيث الفقه او توجيهات:

په دې قصه کښې يو اشکال خو عام دې، د ټولو مذاهبو په اعتبار سره، هغه اشکال دادې، چه دلته کښې ددې لقطې تعريف ولې اونه کړې شو، دويم اشکال د احنافو د مسلک په اعتبار سره دې، هغه دادې، چه د احنافو په نزد د لقطې حکم تصدق دې، د غني دپاره دهغې نه فائده اخستل جائز نه دی، او د هاشمي دپاره هم جائز نه دی، حالانکه دې لقطې لره هاشمي (علي و فاطمه ﷠) بلکه سيد الهاشمين ﷺ اوخوړلو، ددې اشکال مختلف جوابونه کړې شوې دی، حضرت په بذل المجهود کښې په دې باندې تفصيلي کلام فرمائيلې دې، مونږ دهغې خلاصه دلته کښې ليکلو.

(۱) حافظ منذري ﷫ فرمائي چه ددې لقطې اطلاع حضرت علي ﷛ نبي کريم ﷺ ته د هغوی په مجلس کښې ورکړې وه، دا في الجمله تعريف شو، د تعريف دپاره الفاظ متعين نه دی، چه دهغې نه بغير تعريف معتبر نه وی.

(۲) علامه زيلعي فرمائي دا روايت په مصنف عبد الرزاق کښې هم شته، په هغې کښې تعريف مذکور دې، هلته کښې داسې دی، فاتى النبى (صلى الله عليه وسلم) فقال عرفه ثلثة ايام قال فعرفه ثلثة ايام فلم يجد من يعرفه الخ.

(۳) امام بيهقي فرمائي دا حديث ضعيف دې، بعضې راويان ددې ضعيف او بعضې مجهول دی، او په دې کښې اضطراب دې، په يو روايت کښې دی چه ناشد (تلاش کونکې) يو غلام وو، او په بل روايت کښې دی، چه هغه يوه زنانه وه، او په يو طريق کښې داسې دی، چه څو ورځې پس ناشد راغلو، او په بعضو کښې دی، چه هم په دغه ورځ په کومه ورځ چه دا واقعه اوشوه، ناشد راغلو، او دا حديث د احاديث صحيحه سره معارض دې، چه په هغې کښې د تعريف لقطه حکم دې، لهذا ددې حديث به اعتبار نه وی، يا به داسې وئيلې شی، چه دا په اضطرار باندې محمول دې، د اضطرار د وجې نه وقتي طور باندې

تعریف ساقط شو.

(۴) د علامه سرخسی رحمه الله توجیه یوه بله ده، هغه دا، چه دا ملقی الملک وو، (یعنی فرشتې په لاره کښې غورزولې وو) د اهل بیت د اعانت دپاره.[1]

(۵) د حضرت اقدس گنگوهی رحمه الله توجیه داده، چه د لقطې التقاط کله خو د تحفظ دپاره وی، په دې صورت کښې ید دلاقط ید دامانت وی، او کله د لقطې التقاط للانفاق (یعنی د خرچ کولو دپاره) وی، لاجل الاضطرار، هلته کښې د لاقط قبضه په لقطې باندې قبض ضمان وی، یعنی د ناشد په راتلو باندې هغه ته ضمان ورکول واجب وی، او د اضطرار د وجې نه سمدستی دهغې لقطې انفاق جائز وی، حضرت فرمائي چه دلته کښې په دې لقطې کښې دا دویم صورت وو، والله تعالی اعلم،

(٦) حضرت سهارنپوری رحمه الله په بذل المجهود کښې خپله رائې دا لیکلې ده، چه زما په نزد دا واقعه د شروع زمانې ده، کوم وخت چه د تعریف لقطې حکم نه وو راغلې، لهذا تعریف خو ددې وجې نه اونه کړې شو، باقي داچه د بنوهاشم دپاره دهغې خوراک څرنګه جائز شو، دهغې خو صدقه کول پکار وو، ددې توجیه داده، چه داسې لأجل الاضطرار اوشو. (ملخصًا من البذل)

[۱۷۱۵] [2] حَدَّثَنَا الْهَيْثَمُ بْنُ خَالِدٍ الْجُهَنِيُّ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ سَعْدِ بْنِ أَوْسٍ، عَنْ بِلَالِ بْنِ يَحْيَى الْعَبْسِيِّ، عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّهُ الْتَقَطَ دِينَارًا فَاشْتَرَى بِهِ دَقِيقًا فَعَرَفَهُ صَاحِبُ الدَّقِيقِ فَرَدَّ عَلَيْهِ الدِّينَارَ فَأَخَذَهُ عَلِيٌّ وَقَطَعَ مِنْهُ قِيرَاطَيْنِ فَاشْتَرَى بِهِ لَحْمًا".

بلال بن یحیی عبسی د حضرت علی رضی الله عنه نه نقل کوی چه هغوی ته یو دینار ملاؤ شو نو هغوی په هغې سره اوړه واخستل، اوړو والا حضرت علی رضی الله عنه لره اوپېژندلو نو هغه دوی ته دینار لره واپس کړو - نو حضرت علی رضی الله عنه هغه واخستو او د هغې نه ئې دوه قیراطه کټ کړل په هغې باندې ئې غوښه واخسته -"

[۱۷۱٦] [3] حَدَّثَنَا جَعْفَرُ بْنُ مُسَافِرٍ التِّنِّيسِيُّ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي فُدَيْكٍ، حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ يَعْقُوبَ الزَّمْعِيُّ، عَنْ أَبِي حَازِمٍ، عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ أَخْبَرَهُ، أَنَّ عَلِيَّ بْنَ أَبِي طَالِبٍ دَخَلَ عَلَى فَاطِمَةَ وَحَسَنٌ وَحُسَيْنٌ يَبْكِيَانِ، فَقَالَ: مَا يُبْكِيهِمَا؟ قَالَتْ: الْجُوعُ، فَخَرَجَ عَلِيٌّ فَوَجَدَ دِينَارًا بِالسُّوقِ فَجَاءَ إِلَى فَاطِمَةَ فَأَخْبَرَهَا، فَقَالَتْ: اذْهَبْ إِلَى فُلَانٍ الْيَهُودِيِّ فَخُذْ لَنَا دَقِيقًا فَجَاءَ الْيَهُودِيَّ فَاشْتَرَى بِهِ، فَقَالَ الْيَهُودِيُّ: أَنْتَ خَتَنُ هَذَا الَّذِي يَزْعُمُ أَنَّهُ رَسُولُ اللَّهِ، قَالَ: نَعَمْ، قَالَ: فَخُذْ دِينَارَكَ وَلَكَ الدَّقِيقُ، فَخَرَجَ عَلِيٌّ حَتَّى جَاءَ فَاطِمَةَ فَأَخْبَرَهَا، فَقَالَتْ: اذْهَبْ إِلَى فُلَانٍ الْجَزَّارِ فَخُذْ لَنَا بِدِرْهَمٍ لَحْمًا فَذَهَبَ فَرَهَنَ الدِّينَارَ بِدِرْهَمِ لَحْمٍ فَجَاءَ بِهِ فَعَجَنَتْ وَنَصَبَتْ وَخَبَزَتْ وَأَرْسَلَتْ إِلَى أَبِيهَا فَجَاءَهُمْ، فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَذْكُرُ لَكَ فَإِنْ رَأَيْتَهُ لَنَا حَلَالًا أَكَلْنَاهُ وَأَكَلْتَ مَعَنَا مِنْ شَأْنِهِ كَذَا وَكَذَا، فَقَالَ: "كُلُوا بِاسْمِ اللَّهِ"، فَأَكَلُوا، فَبَيْنَمَا هُمْ

[1] که څوک داسې اووائی چه په روایت کښې خودادی چه دغه دینار د یو غلام یا ښځې وو چه دهغه نه غورزیدلې وو په دې وجه هغه ددې په تلاش کښې راغلې وو، ددې جواب دا کیدې شی چه ممکن ده دغسې هم شوې وی یعنی ددغه هلک نه هم دینار ورک شوې وی خودا څه ضروری ده چه دا دینار هم هغه وی.

[2]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۰۰۲۸)(صحیح)

[3]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٤٧٧٠)(حسن)

مَكَانَهُمْ إِذَا غُلَامٌ يَنْشُدُ اللَّهَ وَالْإِسْلَامَ الدِّينَارَ، فَأَمَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَدُعِيَ لَهُ فَسَأَلَهُ، فَقَالَ: سَقَطَ مِنِّي فِي السُّوقِ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَا عَلِيُّ، اذْهَبْ إِلَى الْجَزَّارِ، فَقُلْ لَهُ: إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَكَ: أَرْسِلْ إِلَيَّ بِالدِّينَارِ وَدِرْهَمُكَ عَلَيَّ"، فَأَرْسَلَ بِهِ فَدَفَعَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَيْهِ.

د حضرت سهل بن سعد بیان دي چه حضرت علی رضي الله عنه حضرت فاطمي رضي الله عنها ته راغي نو (وي کتل چه) حضرت حسن او حضرت حسين رضي الله عنهما ژاړي - تپوس ئي اوکړو دوی ولې ژاړي؟ پس علی رضي الله عنه (د کور نه) بهر راوتلو نو (اتفاقاً) په بازار کښې هغوی ته یو دینار چه دا پريوتلې وو ملاؤ شو نو هغه حضرت فاطمي رضي الله عنها ته راغي اورته ئي اوفرمائيل: (چه دا دينار راته داسې ملاؤ شو) هغې رضي الله عنها اووې: فلان یهودی ته لاړ شه او زمونږ د پاره اوړه راوړه - چنانچه هغه رضي الله عنه یهودی ته راغي او د هغه نه ئي اوړه واخستل - یهودی اووې: آیا ته د هغه شخص خوم ئي کوم چه خپل ځان ته رسول وائی؟ هغوی رضي الله عنه ورته اووې او - ! نو هغه اووې دینار د خپل ځان سره کیږده او اوړه یوسه - حضرت علی رضي الله عنه د هغه ځائې نه لاړو او حضرت فاطمي رضي الله عنها ته ئي اوړه راوړل او ټوله خبره ئي ورته اوکړه - حضرت فاطمي رضي الله عنها اوفرمائيل: فلان قصاب ته لاړ شه او د یو درهم غوښه راوړه، چنانچه هغوی رضي الله عنه لاړل، خپل دینار ئي د هغه سره ګانړه کیخودو او د یو درهم غوښه ئي واخسته حضرت فاطمي رضي الله عنها اوړه واخل - کټوئ ئي په اور باندې کیخوده، روټئ ئي پخه کړه او خپل پلار صلی الله علیه وسلم ته ئي استاذې اولیږلو او هغوی ئي راوبللو، هغوی صلی الله علیه وسلم دوی کره تشریف راوړو، نو حضرت فاطمي رضي الله عنها اوفرمائيل: اې د الله رسوله ! زه تاسو ته ذکر کووم که چرې تاسو دې ته حلال اووائئ نو مونږ دې لره خورو او تاسو به هم زمونږ سره خوراک فرمائئ او ددې حال داسې دې - حضور صلی الله علیه وسلم واوریدل نو وې فرمائيل: د الله نوم واخلئ او خورئ -" چنانچه ټولو خوراک اوکړو - لا تر اوسه پورې دوی په خپل ځائې (درستخوان باندې) ناست وو چه یو هلک، د الله او د اسلام واسطه ورکوله او خپل ورک شوې دینار ئي تلاش کولو - نو رسول الله صلی الله علیه وسلم حکم اوکړو او هغه راوبللې شو - حضور صلی الله علیه وسلم د هغه نه پوښتنه اوکړه نو هغه اووې زما نه په بازار کښې چرته پريوتې دې - نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائيل: اې علی ! هغه قصاب ته لاړ شه او هغه ته اووایه د الله رسول فرمائی: هغه دینار ماته راولیږه او ستا درهم زما په ذمه باندې دې -" چنانچه هغه دینار راولیږلو - بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم هغې دینار لره دې هلک ته حواله کړو -

[١٧١٧] (¹) حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الدِّمَشْقِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ شُعَيْبٍ، عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ زِيَادٍ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ الْمَكِّيِّ، أَنَّهُ حَدَّثَهُ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: "رَخَّصَ لَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْعَصَا وَالسَّوْطِ وَالْحَبْلِ وَأَشْبَاهِهِ يَلْتَقِطُهُ الرَّجُلُ يَنْتَفِعُ بِهِ". قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ النُّعْمَانُ بْنُ عَبْدِ السَّلَامِ، عَنِ الْمُغِيرَةِ أَبِي سَلَمَةَ، بِإِسْنَادِهِ، وَرَوَاهُ شَبَابَةُ، عَنْ مُغِيرَةَ بْنِ مُسْلِمٍ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: كَانُوا لَمْ يَذْكُرُوا النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

د حضرت جابر بن عبد الله رضي الله عنه نه روایت دې، فرمائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته د امسا،

¹): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٢٩٦٦) (ضعيف)

رسۍ، کوړې، او ددې قسم څیزونو د اوچتولو رخصت راکړې وو چه انسان دې ددې نه فائده اوچته کړي -"

امام ابوداود رحمه الله فرمائی چه دې لره نعمان بن عبد السلام د مغیره (بن مسلم) ابو سلمه نه په خپل سند سره روایت کړې دې - او شبابه د مغیره بن مسلم نه، هغوی د ابو الزبیر نه، هغوی د جابر نه روایت کړې دې -(وائی چه دې حضراتو به د امسا، رسۍ، کوړې (چابک) وغیره څیزونو په اوچتولو کښې څۀ حرج نۀ ګڼړلو -)او د نبی کریم ﷺ ذکر ئې نۀ دې کړې -(موقوف ئې بیان کړې دې) -

تشريح: قوله: عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ رَخَّصَ لَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْعَصَا وَالسَّوْطِ وَالْحَبْلِ وَأَشْبَاهِهِ يَلْتَقِطُهُ الرَّجُلُ يَنْتَفِعُ بِهِ

شرح حديث:

مطلب دادې، چه محقرات اشیاء یعنی معمولی څیزونه، چه دهغې باره کښې ظن غالب دا وی، چه هغې لره څوک تلاش کوی نه، د داسې څیزونو التقاط جائز دې، او د تعریف حاجت نشته، بلکه دهغې نه انتفاع جائز ده. (بذل عن مبسوط السرخسي)

[١٧١٨](١) حَدَّثَنَا مَخْلَدُ بْنُ خَالِدٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مُسْلِمٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ أَحْسَبُهُ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "ضَالَّةُ الْإِبِلِ الْمَكْتُومَةُ غَرَامَتُهَا وَمِثْلُهَا مَعَهَا".

د حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل: د ورک شوی اوښ نیولو والا کۀ پټ کړی نو په هغه باندې جرمانه ده او (مزید) د هغې سره د هغې مثل هم -"

ضَالَّةُ الْإِبِلِ الْمَكْتُومَةُ غَرَامَتُهَا وَمِثْلُهَا مَعَهَا

یعنی کوم سړې چه د چا ورک شوې اوښ اونیسی او پټ ئې کړی، (دهغې تعریف نه کوی) نو د داسې سړی نه به دوچند ضمان اخستلې شی، ددې حدیث نظیر ددې نه مخکښې نزدې تیر شوې دې، دهغې توجیه هم هلته تیره شوې ده،

[١٧١٩](٢) حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ خَالِدِ بْنِ مَوْهَبٍ، وَأَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي عَمْرٌو، عَنْ بُكَيْرٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ حَاطِبٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عُثْمَانَ التَّيْمِيِّ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "نَهَى عَنْ لُقَطَةِ الْحَاجِّ". قَالَ أَحْمَدُ: قَالَ ابْنُ وَهْبٍ: يَعْنِي فِي لُقَطَةِ الْحَاجِّ يَتْرُكُهَا حَتَّى يَجِدَهَا صَاحِبُهَا، قَالَ ابْنُ مَوْهَبٍ: عَنْ عَمْرٍو.

د حضرت عبد الرحمن بن عثمان تیمی رضی الله عنه بیان دې چه رسول الله ﷺ د حاجیانو د لقطې (پریوتلی څیز) د اوچتولو نه منع فرمائیلې ده - احمد روایت کړې دې چه ابن وهب وئیلې دی " د حاجی څیز لره دې پریږدی تردې پورې چه د هغې مالک هغې لره بیا مومی - " ابن موهب په (خپل سند کښې) عن عمرو وئیلې دی -(اخبرنی عمرو ئې نۀ دی وئیلی -)

---

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٤٢٥١) (صحيح)

(٢): م /اللقطة ١ (١٧٢٤)، سنن النسائي/ الكبرى/ اللقطة (٥٨٠٥)، (تحفة الأشراف: ٩٧٠٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤٩٩/٣) (صحيح)

نَهى عَنْ لُقَطَةِ الْحَاجِّ په دې باندې كلام مفصل په ابتدائى مباحثو كښې تير شوې دې.

[۱۷۲۰] (۱) حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَوْنٍ، أَخْبَرَنَا خَالِدٌ، عَنْ أَبِي حَيَّانَ التَّيْمِيِّ، عَنِ الْمُنْذِرِ بْنِ جَرِيرٍ، قَالَ: كُنْتُ مَعَ جَرِيرٍ بِالْبَوَازِيجِ فَجَاءَ الرَّاعِي بِالْبَقَرِ وَفِيهَا بَقَرَةٌ لَيْسَتْ مِنْهَا، فَقَالَ لَهُ جَرِيرٌ: مَا هَذِهِ؟ قَالَ: لَحِقَتْ بِالْبَقَرِ لَا نَدْرِي لِمَنْ هِيَ، فَقَالَ جَرِيرٌ: أَخْرِجُوهَا، فَقَدْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "لَا يَأْوِي الضَّالَّةَ إِلَّا ضَالٌّ".

منذر بن جرير وائى چه زهٔ د خپل پلار جرير (بن عبد الله البجلى رضي الله عنه) سره په مقام بوازيج كښې وم چه يو شپونكى غواګانې راوستلې - او په هغې كښې يوه غوا د هغه نهٔ وه - حضرت جرير رضي الله عنه تپوس اوكړو دا څهٔ دى؟ هغه اووې: پس د غواګانو سره يو ځائې شوې ده - مونږ ته معلومه نهٔ ده چه د چا ده - نو حضرت جرير رضي الله عنه اوفرمائيل: دې لره جُدا كړه ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلى دى: "ورک شوې څيز نهٔ اخلى مګر [ضال] "ګمراه انسان-"

تشريح: قوله: لَا يَأْوِي الضَّالَّةَ إِلَّا ضَالٌّ

شرح حديث:

ورک شوې څاروى ته ځائې هغه څوک وركوى چه خپله ورک شوې وى، دا وعيد مطلقا نه دې، بلكه مقيد دې په ترک دتعريف سره. دا حديث په صحيح مسلم كښې هم شته. هلته كښې دا زياتوالې دې، مالم يعرفها په دې زياتوالي سره اشكال حل كيږى. والله سبحانه و تعالى اعلم بالصواب و هذا آخر كتاب اللقطة فلله الحمد.

اللهم تقبل منا كما تقبلت من عبادك الصالحين واجعله خالصا لوجهك الكريم

بسم الله الرحمن الرحيم

كتاب المناسك

د حج اعمال او د هغې احكام او مسائل

ابتدائى مباحث:

دلته كښې څو امور قابل ذكر دى. (۱) ترتيب الكتب، (۲) د لفظ مناسک او حج لغوى تحقيق او شرعى معنى (۳) بدء الحج يعنى د حج د فرضيت كال (۴) د استطاعة الى الحج تفسير، چه د حج د فرضيت دپاره شرط دې، (۵) د حج وجوب على الفور دې او كه على التراخى (۶) د حضور اقدس ﷺ د حج د تاخير سبب وهلى وجد التاخير؟ (۷) آيا حج ددې امت په خصائصو كښې دې، يا د امم سابقه په حق كښې هم حج فرض وو (۸) د حضور ﷺ د هجرت الى المدينه نه مخكښې د حجونو تعداد

بحث اول: ترتيب الكتاب

د صلوة او زكوة په مينځ كښې ترتيب او په دې كښې د فقهاؤ او محدثينو طرز عمل د كتاب الزكوة په شروع كښې بيان شوې دې، اوس دوه باقى دى، يعنى صوم او حج، په دې دواړو كښې ترتيب څرنګه دې؟ اكثر فقهاء صوم لره په حج باندې مقدم كوى، او د محدثينو طرز

(۱): سنن النسائي/الكبري(۵۷۹۹)، سنن ابن ماجه/اللقطة ۱(۲۵۰۳)،(تحفة الأشراف :۳۲۳۳)، وقد أخرجه: مسند احمد(۴/۳۶۰، ۳۶۲)(صحيح)

مختلف دي، بعض بلکه اکثر صوم لره مقدم کوی په حج باندې، لکه مؤطاامام مالک رحمه الله، صحيح مسلم او ترمذی، دغه شان په مشکوة او سنن بيهقی کښې صوم مقدم دې په حج باندې، او هم داسې په نسائی او ابن ماجه کښې دی، بلکه په هغې کښې خو صوم په زکوة باندې هم مقدم دې، کما تقدم فی مبداء کتاب الزکوة، البته د صحيح بخاری نسخې مختلفې دی، کما قال الحافظ په بعضو کښې صوم مقدم دې، او په بعضو کښې حج مقدم دې، ليکن د بخاری زمونږ په نسخو کښې حج مقدم دې په صوم باندې، او په سنن ابوداؤد کښې هم حج مقدم دې په صوم باندې،[1] او د هر يو دپاره يوه وجه ده.

(و لکل وجهة هو موليها) که تقديم الحج لره واخستلې شی (کما فی البخاری و سنن ابی داؤد) نو دهغې حکمت ئې دا ليکلې دې، چه چونکه عبادات په درې قسمه دی، (۱) صرف بدنيه (۲) صرف ماليه (۳) بدنيه او ماليه مشترک، پس په دې ترتيب سره مصنف ذکر کړې دې، اول بدنيه (صلوة) بيا ماليه (زکوة) ددې نه پس مشترک (حج) او صوم اگر چه د صلوة پشان عبادت بدنيه دې، ليکن چونکه هغه د تروک نه دې، يعنی دهغې تعريف عدمی دې، د څه افعالو د پريخودلو نوم صوم دې،[2] ددې وجې نه هغه ئې مؤخر کړو.

او که تقديم دصوم لره واخستلې شی، نو دا به وئيلې شی، چه چونکه صلوة، زکوة او صيام درې واړه د قبيلې د مفرد نه دی، او حج مرکب دې، او د مرکب وجود او تحقق د اجزاؤ د وجود نه پس وی، ددې وجې نه هغه ئې مؤخر کړو، والله تعالی اعلم.

بحث ثانی : (د حج لغوی معنی)

(د حج لغوی معنی) ليکن مصنف عنوان د کتاب الحج وضع کړې نه دې، بلکه کتاب المناسک ئې وضع کړې دې، ددې وجې نه د دواړو معنی ليکلې شی، په صحيح مسلم کښې خو عنوانات شته نه، او د بخاری نسخې مختلفې دی، په هندی نسخو کښې المناسک دې، په نسائی او ابن ماجه کښې هم المناسک دې، البته په ترمذی شريف کښې عنوان کتاب الحج دې.

مناسک:

د منسک (بکسر السين و فتحها) جمع ده، منسک مصدر ميمی دې، په معنی د نسک او عبادت، او ظرف زمان او مکان په معنی د متعبد دواړه کيدې شی، د نسک معنی عبادت راځی، او ناسک په معنی د عابد، د مناسک استعمال په امور حج او افعال حج کښې کيږی، نسک ينسک نسکا، (بروزن رشدا) ددې معنی ذبح هم راځی، ددې وجې نه منسک بمعنی مذبح او نسيکه بمعنی ذبيحه استعماليږی.

---

[1] فائده: په سنن ابی داؤد کښې ترتيب داسې دې چه د زکوة نه پس حج، ددې نه پس ددې نه پس النکاح والطلاق، بيا ددې نه پس کتاب الصيام، اوپه سنن ابن ماجه کښې کتاب المناسک د کتاب الصوم نه پس هم متصلاً نه دې، بلکه ډير روسته کتاب البيوع، کتاب الحدود، کتاب الفرائض، کتاب الجهاد، ددې ټولو نه د فارغ کيدو نه پس کتاب المناسک دې.

[2] په خلاف د حج چه ددې تعريف وجودی دې او وجود اشرف وی د عدم نه، په دې وجه وجودی مقدم کوی په عدمی باندې.

حج:

بکسر الحاء و فتحها، دواړه لغت دی، (قال الله تعالی و لله علی الناس حج البیت، په دې کښې هم دواړه قراءتونه دی. بیا بعضې خو دا وائی، چه بالکسر مصدر دې، او بالفتح اسم مصدر دې، وقیل بعکسه، ددې لغوی معنی قصد ده، او خلیل وائی، هو کثرة القصد الی معظم، د یو عظیم څیز بار بار قصد کول، دغه شان خطابی رحمه الله وائی، هو قصد فیه تکرار، مخکښې هغه لیکلې دی، ددې وجې نه دلته کښې دا سوال پیدا کیږی، چه آیا وجوب دحج مکرر دې، لیکن د علماؤ په دې باندې اجماع ده، چه په دې کښې تکرار نشته.
او ددې شرعی معنی ده: د بیت المحرم قصد کول چه اعمال مخصوصه سره.

بحث ثالث: (حج کله فرض شو؟)

د حج د فرضیت په کال کښې یوولس اقوال دی، په هغې کښې دوه شاذ او دوه زیات مشهور دی، قولین شاذین دا دی، قبل الهجرة، سنه ۱۰ هجری، او باقی دوه چه مشهور اقوال دی، هغه دادی، سنه ٦ هجری[1] وهو قول الجمهور کما قال الحافظ فی الفتح و القسطلانی، دویم قول د سنه ۹ هجری دې، دا د بعضو محققینو حافظ ابن قیم او قاضی عیاض قول دې، د علامه شامی رحمه الله هم دا رائې ده، هغوی فرمائې چه غالبا نبی کریم ﷺ په هغه کال حج ددې وجې نه اونه کړو، چه د حج حکم د حج دوخت تیریدو نه پس نازل شوی وو، نو ګویا چه نبی کریم ﷺ په حج کولو کښې تاخیر بالکل نه وو کړې، او هم دا رائې د ابن القیم ده، چه نبی کریم ﷺ د نزول حج نه پس سمدستی حج کړې دې، بغیر د تاخیر او تاخر نه.

بحث رابع: (د استقامت نه څه مراد دی؟)

د حج فرضیت عند الجمهور د ولله علی الناس حج البیت من استطاع الیه سبیلا نه ثابت دې، او د بعضو په نزد د واتموا الحج والعمرة لله، نه دې، والاول اظهر(تفسیر ابن کثیر ج۱ ص۳۸۵)
په دې خبره پوهیدل پکار دی، چه د استطاعة تفسیر د ډیرو صحابه کرامو نه زاد او راحله سره مروی دې، اګر چه حافظ په فتح الباری کښې د ابن المنذر نه نقل کړې دی، چه دا حدیث ثابت نه دې، هغه فرمائې آیت کریمه(ولله علی الناس حج البیت) عام دې، مجمل نه دې، لهذا د بیان او تفسیر محتاج نه دې، حافظ وائی، چه د ابن المنذر رحمه الله مراد دادې، چه هر هغه سړې چه قادر بالبدن یا قادر بالمال وی، هغه مستطیع دې، لهذا په هغه باندې حج فرض دې، (قلت) او د حدیث زاد و راحله تقاضه داده، چه د وجوب حج دار و مدار صرف په استطاعة بالمال باندې دې لیکن دا زاد و راحله والا حدیث په صحاح کښې صرف په ترمذی او ابن ماجه کښې دې، دهغې نه علاوه په مستدرک حاکم او مسند احمد کښې هم دې، قال الحاکم صحیح علی شرط مسلم، حافظ ابن کثیر فرمائې چه دا حدیث د ډیرو صحابه کرامو حضرت انس رضی الله عنه، ابن عباس رضی الله عنه، ابن مسعود رضی الله عنه، او حضرت عائشه رضی الله عنها نه مرفوعا

---

[1] په دې کښې د ۴هـ په ځائې بعضو ۵هـ وئیلی دې ځکه چه دحج ذکر د ضمام بن ثعلبه په حدیث کښې هم راغلې دې، وکان قدومه ۵هـ کما قال النووي، والله تعالی أعلم.

روایت دي، لکن فی آسانیدها مقال، امام ترمذی ایجاب الحج بالزاد والراحلة مستقل باب قائم کړې دې، په هغې کښې ئې د ابن عمر رضی الله عنه هم دا حدیث ذکر کړې دې، وقال هذا حدیث حسن و ابراهیم بن یزید الخوزی قد تکلم فیه بعض اهل العلم من قبل حفظه، حافظ ابن کثیر فرمائي چه په دې کښې شک نشته، چه ددې سند ټول راویان ثقات دی، سوا د خوزی نه، لیکن ابن ابی حاتم ددې متابعت ذکر کړې دې، لهذا دا حدیث حسن یقینا دې.

د استطاعت قسمونه چه په هغې باندې د وجوب حج مدار دې:

ددې نه پس په دې پوهه شئ، چه فقهاء کرام هم په دې مسئله کښې مختلف دی، علامه آلوسی حنفی رحمه الله د آیت کریمه د لاندې لیکلي دی، چه د قدرت درې قسمونه دی، بالبدن، بالمال، بالبدن والمال، اول لره امام مالک رحمه الله اختیار کړې دې، او ثانی لره امام شافعی رحمه الله او امام احمد رحمه الله، ددې وجې نه د هغوی په نزد په هغې زمن (شل) باندې هم حج فرض دې، چه خپل نائب لره اجرت ورکولو سره لیږلې شی، او ثالث لره اختیار فرمائیلې دې زمونږ امام اعظم رحمه الله،[1] ددې نه پس بیا د حدیث زاد و راحله لاندې هغه لیکلې دی، چه دا حدیث د امام شافعی موافق دې، او د امام مالک بالکل خلاف دې، او امام ابوحنیفه رحمه الله فرمائي چه په دې حدیث کښې د بعضې شروط استطاعت بیان دې، که امن د طریق مفقود وی، یعنی په لاره کښې امن نه وی، نو بالاجماع حج واجب نه دې اهـ. لهذا دا حدیث د امام صاحب خلاف نه شو.

زۀ وایم، چه د زاد و راحله والا حدیث د امام شافعی رحمه الله سره هم پوره موافق نه دې، کما قال الحافظ ګنی لازم به راشی، چه معضوب سړې به په خپله حج کولو د پاره ځی، اګر که هغه لره په سورلۍ باندې اوتړلې شی، حالانکه داسې نه ده، بلکه په دې صورت کښې هغوی د انابت قائل دی، (بل چالره نائب جوړول او لیږل) د حدیث الخثعمیه د وجې نه، لهذا د زاد و راحله والا حدیث د حدیث الخثعمیه سره د شافعیه دلیل دې، ګنی نه دې، والله تعالی اعلم.

بحث خامس: (دحج وجوب علی الفور دې یا علی التراخی؟)

د ائمه ثلثه، امام ابوحنیفه رحمه الله مالک رحمه الله احمد رحمه الله او د امام ابویوسف رحمه الله په نزد حج واجب علی الفور دې، لهذا بعد حصول الاستطاعة په ومبې کال مکلف باندې حج کول واجب دی، ګنی تاخیر کولو سره به ګناه ګار وی، (یفسق و ترد شهادته کمافی الطحطاوی) او د امام شافعی او امام محمد په نزد د حج وجوب علی التراخی دې، په شرط ددې چه مړ نه شی، (ددې ذمه دار به هغه په خپله وی) لهذا تاخیر سره به ګناه ګار نه، لیکن که د حج نه مخکښې مړ شو، نو ګناه ګار به وی،[2] د جمهورو استدلال د ابن عباس رضی الله عنه دهغې حدیث

---

[1] ویؤیده ما أخرجه البیهقي وغیره عن ابن عباس انه قال السبیل ان یصح بدن العبد ویکون له ثمن زاد وراحلة.اه.

[2] اصولیینو د حج وخت مشکل ګرځولې دې یعنی ددې نوم ئې مشکل ایخې دې، ځکه چه نه خودا من کل وجه معیار دې اونه من کل وجه ظرف دې ځکه چه کوم حضرات حج ته واجب علی الفور وائی دهغې تقاضا دا وه چه دحج وخت دهغې دپاره معیار وی چه دهغې نتیجه دا کیدل بکار وو چه دحج په تاخیر سره د ادا کولو په صورت کښې قضاء ورته اووئیلې شی حالانکه داسې نه ده بلکه دې ته ٤٦

مرفوع نه دي، کوم چه مخکښې په متن کښې راروان دي، من اراد الحج فليتعجل، او د دويم فريق دليل د حضور ﷺ فعل دې، نبی کريم ﷺ په تاخير سره په سنه ۱۰ هجری کښې حج فرمائيلې وو، ددې جواب په بحث سادس کښې راروان دي.

بحث سادس: (حضور پاک ﷺ د حج د تاخير سبب)

دا بحث په بحث سابق باندې متفرع دې، ځکه چه هر کله دا ثابته شوه، چه عند الجمهور د حج فرضيت على الفور دې، او دا هم چه د حج فرضيت دهغوی په نزد سنه ۲ هجری کښې شوې وو، نو بيا نبی کريم ﷺ سنه ۱۰ هجری پورې دومره تاخير په څه مصلحت باندې اوفرمائيلو، شيخ ابن الهمام خو ددې وجه دا ليکلې ده، چه د حج فرضيت او په هغې کښې تعجيل د امت په حق کښې ددې وجې نه ضروری ګرزولې شوې دې، چه چرته حج فوت نه شی، د مرګ او ژوند او د عوارضو هيڅ پته نه لګی، چه کله څه عذر پيښ شی، ليکن د نبی کريم ﷺ په تاخير کښې د فوات خطره نه وه، ځکه چه نبی کريم ﷺ ته دخپل ځان باره کښې دا علم وو، چه هغوی به نور هم ژوندې وی، تردې پورې چه حج اوکړی، په هغې کښې به د تبليغ دين تکميل فرمائي،

او ملا على قاری رحمه الله وغيره يو بل مصلحت ليکلې دې، هغه دا چه سنه ۲ هـ او سنه ۷هـ کښې خو نبی کريم ﷺ ددې وجې نه حج اونه کړې شو، چه تر هغه وخت پورې مکه مکرمه فتح نه وه، او په سنه ۸ هـ کښې د نسئ په وجه ادا نه کړې شو، البته هغوی عتاب بن اسيد لره د مسلمانانو د حج کولو دپاره امير حج مقرر کړې وو، او په سنه ۹هـ کښې ئې غالبا ددې وجې نه اونه کړو، چه اوسه پورې مشرکينو د بيت الله شريف حج کولو، او هغوی به جامې ويستلې او په بربنډه به ئې حج کولو، نبی کريم ﷺ دا خوښ نه کړو، چه په دې حالت کښې د مشرکينو سره يو ځائې حج اوکړی، ددې وجې نه نبی کريم ﷺ په سنه ۹هـ کښې صديق اکبر اوليږلو، دې دپاره چه هغوی هلته کښې لاړ شی، او اعلان اوکړی، چه راتلونکې کال به هيڅ يو مشرک داسې حج نه کوی، دغه شان نور ضروری اعلانات د براءة عن المشرکين متعلق نبی کريم ﷺ په حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه باندې اوکړل، او د دغې انتظاماتو پوره کولو دپاره هغه کال نبی کريم ﷺ حج اونه کړو، دې دپاره چه آئنده کال مکمل انتظام سره حج اوکړی.

او بعضې حضراتو د نبی کريم ﷺ په سنه۹هـ کښې حج نه کولو علت نسئ ليکلې دې، ليکن ابن رشد په مقدمات کښې ددې ترديد کړې دې،(۱) کما في الاوجز او د بعضو علماؤ

ـه......ادا وائی اود واجب على التراخي تقاضا داوه چه ددې وخت ددې دپاره ظرف وی اوپه فوت کيدو سره ګناه ګار نه وی، حالانکه داسې نه ده بلکه ګناهګاريږی په دې وجه وقت الحج ته مشکل وئيلې شوې دی چه ددې وخت نه هلته دې نه دلته، (طحطاوي علي المراقي).

۱) د هغه د کلام نه معلوميږی چه اګر چه دا صحيح ده چه هغه وخت د مشرکينو نسئ روان وو او د صديق اکبر حج في غير وقت الحج اوشو يعنی په ذی قعده کښې خو نسئ تر هغه وخته پورې منسوخ شوې نه وو او که نسئ هغه وخت منسوخ شوې وو نو صديق اکبر ته دا مشکل وه چه هغه حج په خپل صحيح وخت کښې کړې وي علي هذا القياس، خپله رسول الله ﷺ هم که غوښتلې نو په ۹ هجری......ـه

رائې داده، چه په هغوی کښې حافظ ابن القیم او علامه شامی هم شامل دی، چه د نبی کریم ﷺ په حج کښې تاخیر مطلقا موندلې شوې نه دې، کما مر فی البحث الثالث.

البحث السابع: (ایا حج ددې امت د خصوصیاتو نه دې؟)

ملا علی قاری رحمه الله فرمائي چه په دې کښې اختلاف دې، چه حج د شرائع قدیمه نه دې، یا ددې امت د خصائصو نه دې، هغه فرمائي والاظهر الثانی، (ای الخصوصیة) او شیخ ابن حجر مکی قول اول لره اختیار کړې دې، لما ورد ما من نبی الا و حج البیت، ([1])

دغه شان منقول دی، چه حضرت آدم علیه السلام د هندوستان نه پیاده څلویښت حجونه کړي دی، په دې باندې علی قاری رحمه الله فرمائي چه دا استدلال قوی نه دې، اول خو ددې وجې نه چه دې حدیث سره خو صرف د حج مشروع کیدل ثابت شو، مفروض کیدل ثابت نه شو، دویمه دا چه خبره په امم سابقه کښې ده، نه چه په انبیاء سابقینو کښې، کیدې شی چه د تیر شوؤ انبیاؤ په حق کښې حج مشروع یا فرض وو، او دهغوی د امتونو په حق کښې فرض یا مشروع نه وو، والله تعالی اعلم، (بذل)

البحث الثامن: (د نبی کریم ﷺ د حجونو تعداد)

په دې باندې د ټولو اتفاق دې، چه نبی کریم ﷺ د هجرت نه پس صرف یو حج کړې دې، چه هغې ته حجة الوداع وئیلې شی، چه په سنه ۱۰ هجری کښې شوې وو، د هجرت نه مخکښې نبی کریم ﷺ څومره حجونه کړي دی، په دې کښې اختلاف دې، ابن الاثیر وائی، چه نبی کریم ﷺ به د هجرت نه مخکښې مکه مکرمه کښې د قیام په زمانه کښې هر کال حج کولو، او حاکم په صحیح سند سره د سفیان ثوری رحمه الله نه نقل کړي دی، حج قبل ان یهاجر حججا، چه نبی کریم ﷺ د هجرت نه مخکښې ډیرحجونه کړي دی، لیکن امام ترمذی په خپل سنن کښې د حضرت جابر رضی الله عنه نه نقل کړي دی، انه حج قبل ان یهاجر حجتین، چه نبی

ﻟﻪ ......کښې به ئې د حج نسی خلاف په ذی الحجه کښې کړې وې خو اصل خبره دا ده چه په دې کال هغه حج کول نه غوښتل د یو بل مصلحت د وجې نه (اختلاط المشرکین وغیره) لا اجل النسیء. اهـ اصل کښې دا مسئله د علماء کرامو ترمینځه اختلافي ده چه د صدیق اکبر حج په ذی الحجه کښې شوې وو یا د نسی د وجې نه په ذی قعده کښې دا مسئله د حدیث شارحینو د دې حدیث د لاندې لیکلې ده چه په هغې کښې دی چه رسول الله ﷺ په یوم النحر کښې خطبه ورکړه چه په هغې کښې ئې اوفرمائیل: ان الزمان قد استدار کهیئة یوم خلق الله السموات والارض الخ ... چه زمانه واپس خپل حالت ته راغله، د دې نه په ظاهره کښې هم دا معلومیږي چه د حجة الوداع والا کال باندې د میاشتو حساب برابر شوې وو د دې نه مخکښې نه وو شوې بلکه نسی روانه وه. د لامع الدراری دریم جلد په شروع کښې ص ۳ باندې دا بحث متصرا موجود دې.

[1]) یعنی هر یو نبی په خپله زمانه کښې حج اوکړو تردې چه هود علیه السلام او صالح علیه السلام هم، څنګه چه د مسند أحمد په روایت کښې ددې تصریح ده کوم چه حضرت شیخ رحمه الله په جزء حجة الوداع کښې ذکرکړې دې، لیکن د درمنثور په یو روایت کښې دی: ما من نبي الا وقد حج غیر هود وصالح فانهما تشاغلا عنه لقومهما، چه حضرت هود او صالح علیهما السلام حج اونه کړې شو دوی دواړه دخپل قوم په سلسله کښې دومره مصروفه وو چه دحج موقع ورته ملاؤ نه شوه، ددې تعارض جواب دادې چه دا دویم روایت د مسند احمد د روایت مقابله نه شی کولې ضعیف دې.

کریم ﷺ هجرت نه مخکښې دوه حجونه کړې دی، او د ابن ماجه په روایت کښې دی، ثلاثا، ددې جواب دادې، چه حضرت جابر رضی الله عنه د خپل علم په اعتبار سره فرمائي(بذل)
زهٔ وایم، چه امام ترمذی ددې حدیث په سند باندې کلام کړې دې، او د امام بخاری رحمه الله نه ئې نقل کړې دی، چه دا حدیث دغه رنګې محفوظ نه دې، بلکه دا حدیث فی الواقع مرسل دې
ابن الجوزی فرمائي چه دا خبره یقینی ده، چه نبی کریم ﷺ د هجرت نه مخکښې ډېر حجونه کړې دی، لیکن دهغې تعداد د هیچا په علم کښې نشته، سوا د الله تعالی نه.
الحمد لله ابتدائی بحثونه پوره شو، یو بحث دلته کښې بل هم دې، یعنی د حج حکم، او ددې اسرار و مصالح، په دې موضوع باندې حضرت اقدس شاه ولی الله رحمه الله کلام کړې دې، چه هغې لره حضرت شیخ رحمه الله په اوجز المسالک کښې نقل کړې دې، هغې طرف ته رجوع کول پکار دی. (۱)

بَاب فَرْضِ الْحَجِّ

باب: ۱- حج فرض دې

[۱۷۲۱](۲) حَدَّثَنَا زُهَيْرُ بْنُ حَرْبٍ، وَعُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ الْمَعْنَى، قَالَا: حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، عَنْ سُفْيَانَ بْنِ حُسَيْنٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَبِي سِنَانٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ الْأَقْرَعَ بْنَ حَابِسٍ سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، الْحَجُّ فِي كُلِّ سَنَةٍ أَوْ مَرَّةً وَاحِدَةً؟ قَالَ: "بَلْ مَرَّةً وَاحِدَةً فَمَنْ زَادَ فَهُوَ تَطَوُّعٌ". قَالَ أَبُو دَاوُد: هُوَ أَبُو سِنَانٍ الدُّؤَلِيُّ، كَذَا قَالَ عَبْدُ الْجَلِيلِ بْنُ حُمَيْدٍ، وَسُلَيْمَانُ بْنُ كَثِيرٍ جَمِيعًا: عَنِ الزُّهْرِيِّ، وَقَالَ عُقَيْلٌ: عَنْ سِنَانٍ.

د حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه مروی دی چه حضرت اقرع بن حابس رضی الله عنه د نبی کریم ﷺ نه تپوس اوکړو اې دَ الله رسوله! آیا حج هر کال فرض دې یا هم یو ځل؟ حضور ﷺ اوفرمائیل نهٔ - صرف یو ځل(فرض) دې او څوک چه ددې نه زیات(حجونه) اوکړی نو هغه نفل دې-
"امام ابوداود رحمه الله فرمائی چه دَ حدیث راوی(ابو سنان) دا ابو سنان الدؤلی دې - عبد الجلیل بن حُمید او سلیمان بن کثیر ټول دَ زهری نه(ابو سنان) ذکر کوی صرف عُقیل "سنان" وائی -(ابو سنان نهٔ وائی) -

تشریح: قوله: عن ابن عباس رضی الله عنه ان الاقرع بن حابس رضی الله عنه سا ل النبی(صلی الله علیه وسلم) فقال یا رسول الله(صلی الله علیه وسلم) الحج فی کل سنة:
آیا حج هر کال فرض دې، د سوال منشاء څه ده، بعضې خو دا وائی، چه د سوال منشاء قیاس الحج علی الزکوة والصوم ده، چه دا دواړه هم هر کال واجب کیږی، زکوة عبادت مالیه دې، او

---

(۱) وفي حاشية التاج الجامع وحكمة الحج غفران الذنوب ونفي الفقر والتعارف بين الاقاليم الاسلامية والعطف علي اهل الحرمين اجابة لدعوة ابراهيم عليه السلام واجعل افئدة من الناس تهوي اليهم وتذكر البعث بالتجرد من ملابسهم وتذاكر الوقوف بين يدي الله تعالي وقوفهم بعرفة يبتهلون الي الله بالتلبية ويرجون عفوه ورضاه قال الله تعالي ان اول بيت وضع للناس للذي ببكة مباركا وهدي للعلمين فيه آيات بينت مقام ابراهيم ومن دخله كان آمنا ولله علي الناس حج البيت من استطاع اليه سبيلا، ومن كفر فان الله غني عن العلمين وقال تعالي فاذا افضتم من عرفات فاذكروا الله عند المشعر الحرام واذكروه كما هداكم وان كنتم من قبله لمن الضالين ثم افيضوا من حيث افاض الناس واستغفروا الله ان الله غفور رحيم.اه.
(۲): سنن النسائي/المناسك ۱(۲۶۲۱)، سنن ابن ماجه/المناسك ۲(۲۸۸۶)،(تحفة الأشراف: ۶۵۵۶)، وقد أخرجه: مسند احمد(۱/۲۵۵، ۲۹۰، ۳۰۱، ۳۰۳، ۳۲۳، ۳۲۵، ۳۵۲، ۳۷۰، ۳۷۱)، سنن الدارمي/الحج ٤(۱۸۲۹)(صحيح)

صوم عبادت بدنیه، او حج د دې دواړو نه مرکب دې او بعضو علماؤ د سوال منشاء دا لیکلې ده، چه په اصل کښې د حج په لغوی معنی کښې تکرار موندلې شی، (کما تقدم فی البحث الاول) ددې وجې نه دا سوال اوکړې شو. قال المنذری والحدیث اخرجه النسائی وابن ماجه. اهـ فی نفسه دا سوال او جواب د صحیح مسلم په یو حدیث کښې هم شته، چه دهغې راوی حضرت ابوهریره رضی الله عنه دې، لیکن په هغې کښې د سائل تعین نشته.

[۱۷۲۲](۱) حَدَّثَنَا النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ، عَنْ ابْنٍ لِأَبِي وَاقِدٍ اللَّيْثِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لِأَزْوَاجِهِ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ: "هَذِهِ ثُمَّ ظُهُورَ الْحُصْرِ".

د حضرت ابو واقد اللیثی رضی الله عنه نه روایت دې چه ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه واوریدل، هغوی خپلو بیبیانو ته فرمائیل: "حج بس صرف دادې، بیا (د کور) چټایانو لره لازم اونیسئ."

عن ابن الابی واقد اللیثی عن ابیه قال سمعت رسول الله(صلی الله علیه وسلم) یقول لازواجه فی حجة الوداع هذه ثم ظهور الحصر.

شرح حدیث:

دابوواقد لیثی ځوې چه دهغه نوم واقد دې، د خپل پلار نه روایت کوی، چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم په حجة الوداع کښې خپلو بیبیانو رضی الله عنهن ته اوفرمائیل: هذه ثم ظهور الحصر، د هذه اشاره هغه حج طرف ته ده، کوم چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم د خپلو بیبیانو سره ادا کړو، او حصر د حصیر جمع ده، یعنی ددې حج نه پس اوس ستاسو دپاره مناسب د بورو شاګانې دی، یعنی سفر پریخودل او په خپلو خپلو کورنو کښې قیام، ګویا ددې نه پس نبی کریم صلی الله علیه وسلم هغوی لره د نورو حجونو کولو نه منع کول، اوس دا چه ددې نه پس د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د ازواج مطهرات طرز عمل څه وو، هغوی ددې نه پس حج اوکړو او که نه، نو علماؤ لیکلې دی، چه په دې حدیث باندې حضرت سوداء رضی الله عنها او حضرت زینب رضی الله عنها پوره عمل اوکړو، ددې نه پس هغوی بل حج اونه کړو، بلکه دا ئې فرمائیل، لا تحرکنا دابة بعد رسول الله(صلی الله علیه وسلم) چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه پس به مونږ ته هیڅ سورلۍ حرکت نه راکوی، لیکن حضرت عائشه رضی الله عنها وغیره نورو ازواجو د نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه پس هم حجونه کړی دی، هغوی د دې حدیث ابوداؤ مطلب دا اخستلې دې، چه ددې نه پس په تاسو باندې حج واجب نه دې، او دا مطلب نه دی، چه تاسو ددې نه پس حج مه کوئ، او ددې مطلب تائید هغې حدیث نه کیږی، چه په هغې کښې داسې دی، چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم په یوه موقع د حضرت عائشه رضی الله عنها د سوال په جواب کښې اوفرمائیل: لکن افضل الجهاد الحج، چه د زنانو په حق کښې جهاد مشروع نه دې، دهغوی دپاره بهترین جهاد حج دې، خلیفه ثانی حضرت عمر فاروق رضی الله عنه ته په شروع کښې د ازواج مطهراتو په حج کښې تردد وو، چه کول پکار دی، او که نه، بیا وروستو هغوی اجازت ورکړو، او حضرت عثمان رضی الله عنه سره ئې هغوی حج ته اولیږل، کما فی صحیح البخاری، (بذل)

(۱) تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۵۵۱۷)، وقد أخرجه: مسند احمد(۲۱۸/۵، ۲۱۹، ۳۲٤/٦)(صحیح)

بَابٌ فِي الْمَرْأَةِ تَحُجُّ بِغَيْرِ مَحْرَمٍ

باب: ۲- هغه ښځه کومه چه دَ محرم نه بغیر حج اوکړی؟

[۱۷۲۳](¹) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ الثَّقَفِيُّ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ بْنُ سَعْدٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي سَعِيدٍ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا يَحِلُّ لِامْرَأَةٍ مُسْلِمَةٍ تُسَافِرُ مَسِيرَةَ لَيْلَةٍ إِلَّا وَمَعَهَا رَجُلٌ ذُو حُرْمَةٍ مِنْهَا".

حضرت ابوهریره رضي الله عنه بیان کوی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل: حلال نهٔ دی د ښځې د پاره چه دَ خپل محرم دَ معیت نه بغیر دَ یوې شپې سفر هم اوکړی -"

[۱۷۲۴](²) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، وَالنُّفَيْلِيُّ، عَنْ مَالِكٍ. ح وحَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنِي مَالِكٌ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي سَعِيدٍ، قَالَ الْحَسَنُ فِي حَدِيثِهِ، عَنْ أَبِيهِ، ثُمَّ اتَّفَقُوا، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَا يَحِلُّ لِامْرَأَةٍ تُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ أَنْ تُسَافِرَ يَوْمًا وَلَيْلَةً"، فَذَكَرَ مَعْنَاهُ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَلَمْ يَذْكُرِ الْقَعْنَبِيُّ وَالنُّفَيْلِيُّ، عَنْ أَبِيهِ، رَوَاهُ ابْنُ وَهْبٍ، وَعُثْمَانُ بْنُ عُمَرَ، عَنْ مَالِكٍ، كَمَا قَالَ الْقَعْنَبِيُّ.

د حضرت ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دې چه حضور ﷺ اوفرمائیل: "کومه ښځه چه په الله او په ورځ دَ آخرت باندې ایمان لری، دَ هغې دپاره حلال نهٔ دی چه دَ یوې ورځې او یوې شپې سفر اوکړی- او دَ مذکوره بالا هم معنیٰ ئې روایت اوکړو -(یعنی دَ هغې سفر کول بغیر دَ محرم نه حرام دی -) نفیلی دَ [عن مالک] په ځائې باندې په تحدیث صراحت کولو سره [حدثنا مالک] وئیلې دی - امام ابوداود رحمه الله فرمائی چه نفیلی او قعنبی(په سند کښې دَ سعید ابی سعید نه ورستو) " عن ابیه " نهٔ دی وئیلی - ددې نه علاوه ابن وهب او عثمان بن عمر هم دَ حضرت مالک نه داسې روایت کړې دې لکه څنګه چه قعنبی وئیلی دی -(یعنی دَ عن ابیه نه بغیر) -"

تشریح: قوله: ان ابا هریرة رضي الله عنه قال قال رسول الله(صلی الله علیه وسلم) لا یحل لامرأة مسلمة تسافر مسیرة لیلة الا و معها رجل ذو حرمة منها:

د احادیث الباب مضمون دادې، چه زنانه دپاره بغیر د محرم یا خاوند نه سفر کول جائز نه دی، د څومره مسافت سفر جائز نه دې، په دې کښې روایات مختلف دی، چه دهغې توجیه به مونږ مخکښې بیانوؤ.

مسئله ثابته بالحدیث:

ائمه فقه هم په دې کښې مختلف دی، د شافعیه او حنابله په نزد خو مطلق سفر جائز نه دې، که فاصله لږه وی، او که ډیره وی، او د احناف او مالکیه په نزد په دې کښې سفر شرعی معتبر دې، چه دهغې مقدار د احنافو په نزد ثلثة آیام دې، او د مالکیه په نزد یوم و لیلة.

(¹): صحیح مسلم/الحج ۷۴(۱۳۳۹)،(تحفة الأشراف: ۱۳۰۳۵، ۱۴۳۱۶)، وقد أخرجه: صحیح البخاري/تقصیرالصلاة ٤(۱۰۸۸)، سنن الترمذي/الرضاع ۱۵(۱۶۶۹)، سنن ابن ماجه/المناسك ۷(۲۸۹۹)، موطا امام مالك/الاستئذان ١٤(٣٧)، مسند احمد(۲/۲۳۶، ۳٤۰، ۳٤۷، ٤۲۳، ٤۳۷، ٤٤٥، ٤۹۳)(صحیح)

(²): تفرد به أبو داود،(تحفة الأشراف: ۱۲۹٦۰، ۱۳۰۱۰، ۱٤۳۱۷)، انظر حدیث رقم(۱۷۲۳)(صحیح)

مسئله مترجم بها او پلا دې کښې مذاهب ائمه:

ددې نه پس پوهه شئ، چه په احادیث الباب کښې مطلق سفر ذکر دې، په دې اطلاق کښې د حج سفر هم شامل دې، ددې وجې نه مصنف په دې احادیثو باندې د حج المرءة ترجمة الباب قائم کړې دې، مسئله مختلف فیه ده، د احنافو او حنابله په نزد زنانه دپاره دوجوب حج دپاره محرم یا خاوند ملګرې کیدل شرط دی، ګنی په هغې باندې حج واجب نه دې، او د مالکیه او شافعیه په نزد خاوند یا بل محرم کیدل شرط نه دی، البته امن علی نفسها کیدل شرط دی، که هغه د محرم په ذریعې سره وی، یا د دیانتدارې زنانه په ذریعې سره وی، نو دا دواړه حضرات د زنانه دپاره د حج بالامینات قائل دی، د امام مالک رحمه الله په نزد خو د داسې زنانو جماعت کیدل پکار دی، (یعنی چه څو زنانه وی) او د امام شافعی رحمه الله په نزد که صرف یوه زنانه وی، نو هم کافی ده، یعنی په دې صورت کښې هغه د دې سره حج کولې شی، لیکن واجب نه دې، او د جماعة النساء په صورت کښې په دې باندې حج واجب دې. احادیث الباب د احنافو او حنابله سره موافق دی، شافعیه وغیره ددې جواب دا ورکوی، چه ددې احادیثو تعلق د حج تطوع سره دې، د حج فرض سره نه دې.

په مدت مسافت کښې د اختلاف روایات توجیه:

ددې نه پس په دې خبره پوهه شئ، چه په دې احادیثو کښې د سفر د مقدار مسافت په باره کښې سخت اختلاف دې، په بعضو کښې مطلق سفر ذکر دې، او په بعضو کښې د مسیرة یومین قید دې، او په بعضو کښې د ثلثة ایام، او دا ټول روایات مختلفه ددې کتاب نه علاوه په صحیحینو کښې هم دغسې دی، البته د ابوداؤد په یو روایت کښې د بریدا لفظ راغلې دې، چه د یو منزل سفر او برید د نیمې ورځې د مسافت برابر وی، شافعیه خو دا وائی، چه ممانعت د مطلق سفر دې، که طویل وی او که قصیر، او د روایاتو دا اختلاف هغوی محمول کوی، په اختلاف د سائلینو باندې، نه په تحدید باندې، یعنی دا تحدید د نبی کریم ﷺ د طرف نه ابتداء نه دې، بلکه چا چه څرنګه سوال اوکړو، نبی کریم ﷺ هغه ته هم هغسې جواب ورکړو، یو سړې د یوې ورځې د سفر باره کښې سوال اوکړو، نو نبی کریم ﷺ ورته اوفرمائیل: چه او د یوې ورځې سفر هم نشی کولې، چا د دواؤ ورځو باره کښې تپوس اوکړو، چه آیا زنانه د دواؤ ورځو سفر بغیر د محرم نه کولې شی، نبی کریم ﷺ اوفرمائیل: چه نا، و هکذا، او احناف وائی، چه دا قید د تحدید په طور باندې دې، اوس هرکله چه د تحدید د مودې په روایاتو کښې اختلاف دې، کم او زیات دی، نو په دې صورت کښې کمه موده مشکوکه شوه، او اکثره موده متیقنه شوه، دهغې تقاضه داده، چه د دریو ورځو سفر خو یقینا ممنوع دې، او دهغې نه په کمه کښې منع غیر یقینی ده، لهذا متیقن لره به اختیارولې شی، والله تعالی اعلم.

[۱۷۲۵](۱) حَدَّثَنَا يُوسُفُ بْنُ مُوسَى، عَنْ جَرِيرٍ، عَنْ سُهَيْلٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي سَعِيدٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: فَذَكَرَ نَحْوَهُ، إِلَّا أَنَّهُ قَالَ: "بَرِيدًا".

دَ حضرت ابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : ...... او دَ مذكوره بالا حديث هم معنیٰ ئې ذكر كړو، مګر دَ " بريدا " لفظ ئې وئيلي دې ـ (يعني دَ هيڅ مسلمان ښځې دَ پاره دَ خپل محرم نه بغير دَ يو بريد سفر هم حلال نهٔ دې ـ)

[۱۷۲۶](۲) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، وَهَنَّادٌ، أَنَّ أَبَا مُعَاوِيَةَ، وَوَكِيعًا حَدَّثَاهُمْ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا يَحِلُّ لِامْرَأَةٍ تُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ أَنْ تُسَافِرَ سَفَرًا فَوْقَ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ فَصَاعِدًا إِلَّا وَمَعَهَا أَبُوهَا أَوْ أَخُوهَا أَوْ زَوْجُهَا أَوِ ابْنُهَا أَوْ ذُو مَحْرَمٍ مِنْهَا".

دَ حضرت ابوسعيد رضي الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : " كومه ښځه چه په الله او په ورځ دَ آخرت باندې ايمان لرى دَ هغې دَ پاره حلال نهٔ دى، چه دَ خپل پلار، رور، خاوند، ځوى يا دَ بل كوم محرم دَ معيت نه بغير درې ورځې يا دَ هغې نه زيات سفر اوكړى"

[۱۷۲۷](۳) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ، قَالَ: حَدَّثَنِي نَافِعٌ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَا تُسَافِرُ الْمَرْأَةُ ثَلَاثًا إِلَّا وَمَعَهَا ذُو مَحْرَمٍ".

حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنه دَ نبي كريم ﷺ نه بيان كوى چه حضور ﷺ اوفرمائيل : ښځه دې دَ خپل محرم نه بغير دَ دريو ورځو سفر نهٔ كوى ـ"

[۱۷۲۸](۴) حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا أَبُو أَحْمَدَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنْ نَافِعٍ، "أَنَّ ابْنَ عُمَرَ كَانَ يُرْدِفُ مَوْلَاةً لَهُ، يُقَالُ لَهَا: صَفِيَّةُ، تُسَافِرُ مَعَهُ إِلَى مَكَّةَ".

دَ حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنه نه روايت دې چه هغه به خپله وينځه دَ ځان سره كينوله او سفر به ئې كولو، دَ هغې نوم صفيه وه، هغې به ددهٔ سره دَ مكې سفر كولو ـ"

تشريح: قوله: ان ابن عمر كان يردف مولاة له،

يعني حضرت ابن عمر رضي الله عنه به خپل ځان سره سفر ته خپله وينزه بوتله، او په خپله سورلۍ باندې به ئې شاته سوره كړه، معلومه شوه، چه د وينزې په حق كښې مولى پشان د خاوند دې، لكه څرنګه چه آزاده ښځه خپل خاوند سره سفر كولې شى، دغه شان وينزه د خپل مولى سره تلې شى، په دې كښې د زوج تخصيص نشته.

(۱): انظرحديث رقم :(۱۷۲۳)،(تحفة الأشراف: ۱۲۹۶۰)(شاذ)

(۲): صحيح مسلم/الحج ۷۴(۱۳۴۰)، سنن الترمذي/الرضاع ۱۵(۱۱۶۹)، سنن ابن ماجه/المناسك ۷(۲۸۹۸)،(تحفة الأشراف: ۴۰۰۴)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/فضل الصلاة في مسجد مكة والمدينة ۶(۱۱۹۷)، وجزاء الصيد ۲۶(۱۸۶۴)، والصوم ۶۷(۱۹۹۵)، مسند احمد(۵۴/۳)، سنن الدارمي/الاستئذان ۴۶(۲۷۲۰)(صحيح)

(۳): صحيح البخاري/تقصير الصلاة ۴(۱۰۸۶)، صحيح مسلم/الحج ۷۴(۱۳۳۸)،(تحفة الأشراف: ۸۱۴۷)(صحيح)

(۴): تفرد به أبو داود(صحيح)

باب "لَاصَرُورَةَ" فِي الإِسْلَامِ

باب: ۳- په اسلام کښې [صَرورة] نشته دې

دا ترجمه بلفظ الحديث ده، حديث کښې دی: لا صرورة فی الاسلام.

[۱۷۲۹]() حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا أَبُو خَالِدٍ يَعْنِي سُلَيْمَانَ بْنَ حَيَّانَ الْأَحْمَرَ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، عَنْ عُمَرَ بْنِ عَطَاءٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا صَرُورَةَ فِي الْإِسْلَامِ".

د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل: په اسلام کښې "صَروره" نشته دې -" (چه يو کس باوجود دَ استطاعت او طاقت نه دَحج کولو نه اعراض اوکړی-)

شرح حديث:

علماؤ ددې دوه بلکه درې تفسيرونه ليکلې دی، (۱) صرورة يعنی الذی لم يتزوج غير وادهٔ کړې سړې، چه هغه قصدا نکاح نه وی کړې، په طريقې د تبتل او انقطاع عن الدنيا، پس د حديث مطلب دا شو، چه په اسلام کښې هيڅ يو سړی لره نکاح پريخودل جائز نه دی، ځکه چه نکاح سنت طريقه ده. او ترک نکاح رهبانيت دې، ځکه چه هر مستطيع نکاح والا کيدل پکار دی، البته که څه مانع يا عذر وی نو هغه امر آخر دې، (۲) صرورة بمعنی الذی لم يحج، يعنی هغه سړې چه هغه اوسه پورې حج نه وی کړې، په دې صورت کښې به د حديث مطلب دا وی، چه په اسلام کښې هيڅ يو سړی داسې پکار نه دې، چه هغه غير حاجی وی، بلکه هر صاحب استطاعت لره حج کول پکار دی، مصنف هم دا معنی مراد اخستلې ده، ددې وجې نه دا حديث ئې په کتاب الحج کښې راوړې دې، بعضو ددې دريمه معنی هم ليکلې ده، هغه دا چه د صرورة مصداق خو من لم يحج دې، ليکن مقصود دادې، چه په زمانه دجاهليت کښې دا سې وو، چه که يو سړی به په بل باندې جنايت اوکړو، مثلا هغه به ئې ناحق قتل کړو، نو هغه جانی به حرم ته لاړو او هلته به ئې پناه واخستله، او که ولی الدم (يعنی د مقتول اولياؤ کښې به يو سړی) هغه سره تعرض کولو، او د انتقام اراده به ئې کوله، نو خلقو به دا وئيل، چه اې ورورهٔ دا سړې خو صروره دې، يعنی دهٔ اوسه پورې يو حج هم نه دې کړې، لهذا دهٔ لره پريږده، چه حج اوکړی، او دهغې نه پس به کتلې شی، نو په دې حديث شريف کښې دهغې رسم جاهليت ترديد شوې دې، چه حج نه کول څه عذر معتبر نه دې، چه مانع وی د حدود او قصاص نه، والله تعالی اعلم.

په صرورة کښې چه کومه هاء ده، دا د تانيث دپاره نه ده، بلکه د مبالغې دپاره ده، ددې وجې نه په سړی او ښځه دواړو باندې ددې اطلاق کيږی، يقال رجل صرورة و امرأة صرورة، او په دې کښې يو لغت صارورة هم دې، رجل صارورة کما فی مختار الصحاح.

---

(۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۶۱۶۲)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳۱۲/۱) (ضعيف)

باب التزود في الحج

باب: ...... په حج کښې د لارې د توښې د راخستو تاکید

[۱۷۳۰]([1]) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ الْفُرَاتِ يَعْنِي أَبَا مَسْعُودٍ الرَّازِيَّ، وَمُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الْمُخَرِّمِيُّ وَهَذَا لَفْظُهُ، قَالَا: حَدَّثَنَا شَبَابَةُ، عَنْ وَرْقَاءَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "كَانُوا يَحُجُّونَ وَلَا يَتَزَوَّدُونَ"، قَالَ أَبُو مَسْعُودٍ: "كَانَ أَهْلُ الْيَمَنِ أَوْ نَاسٌ مِنْ أَهْلِ الْيَمَنِ يَحُجُّونَ وَلَا يَتَزَوَّدُونَ، وَيَقُولُونَ: نَحْنُ الْمُتَوَكِّلُونَ، فَأَنْزَلَ اللَّهُ سُبْحَانَهُ: وَتَزَوَّدُوا فَإِنَّ خَيْرَ الزَّادِ التَّقْوَى سورة البقرة آية ۱۹۷" الْآيَةَ.

د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما نه مروی دی چه خلق خو به حج ته تلل مګر د لارې توښه به ئې د ځان سره نۀ اخستله ... ابو مسعود رضی الله عنه فرمائي چه اهلِ يمن، يا څۀ اهلِ يمن به حج تل راتلل مګر د لارې توښه به ئې د ځان سره نۀ راوړله ... او وئيل به ئې چه مونږ متوکل خلق يو - پس الله تعالیٰ دا آيت نازل اوفرمائيلو: {وَتَزَوَّدُوا فَإِنَّ خَيْرَ الزَّادِ التَّقْوَى} [البقرة: ۱۹۷] " زادِ راه (يعنی اخراجات سفر) د ځان سره اخلئ ددې د پاره چه بهترينه توښه (زادِ راه) تقویٰ (د سوال نه ځان بچ کول) دی -"

يعنی د حج په سفر کښې، په لاره کښې، يا هلته کښې رسيدلو سره که زاد راه (يعنی د سفر خرچه نه وی، نو دهغې انتظام او بندوبست کول جائز دی، بلکه ضروری دی، دې د پاره چه سوال عن الناس نه بچ شی، او ددې نوبت رانشی، د حصول منافع، او د تکثير مال د پاره تجارت کول مراد نه دی، لکه چه د حديث الباب نه معلوميږی، چه ډير اهل يمن به د حج د پاره راتلل، او د سفر خرچه به ئې ځان سره نه راوړه، چه مونږ د الله تعالی کور ته ځو، دهغه ميلمانۀ يو، هغه به راته په خپله راکوی، د دې سلسلې يو باب راروان دې، باب الكرى، ابن قدامه حنبلی رحمه الله فرمائي چه تجارة او صناعة في الحج بالاتفاق جائز دې، زمونږ په علم کښې په دې کښې هيڅ اختلاف نشته، حضرت شيخ په حاشيه دبذل کښې د سعيد بن جبير او د ابومسلم خولانی په دې کښې اختلاف د بعضو کتابونو نه نقل فرمائيلې دې، چه دهغوی په نزد جائز نه دی، فانزل الله عزوجل و تزودوا فان خير الزاد التقوى، يعنی حج ته دتللو په وخت کښې توښه د ځان سره يوسئ، ځکه چه بهترينه توښه د سوال نه ځان بچ کول دی.

باب التجارة في الحج

باب: ٤- د حج په دوران کښې تجارت جائز دې-

[۱۷۳۱]([2]) حَدَّثَنَا يُوسُفُ بْنُ مُوسَى، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي زِيَادٍ، عَنْ مُجَاهِدٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَرَأَ هَذِهِ الْآيَةَ: لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَبْتَغُوا فَضْلًا مِنْ رَبِّكُمْ سورة البقرة آية ۱۹۸ قَالَ: "كَانُوا لَا يَتَّجِرُونَ بِمِنًى فَأُمِرُوا بِالتِّجَارَةِ إِذَا أَفَاضُوا مِنْ عَرَفَاتٍ".

حضرت مجاهد بيان کوی چه حضرت عبد الله بن عباس رضی الله عنهما دا آيت کريمه تلاوت کړو:

[1]: صحيح البخاري/الحج ٦(١٥٢٣)، سنن النسائي/الكبرى/السير (٨٧٩٠)، (تحفة الأشراف: ٦١٦٦)(صحيح)

[2]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٦٤٢٨)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الحج ١٥٠ (١٧٧٠) والبيوع ١(٢٠٥٠) وتفسير القرآن ٣٤(٢٠٩٨)(صحيح)

{لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَبْتَغُوا فَضْلًا مِنْ رَبِّكُمْ} " په تاسو باندې هيڅ ګناه نشته دې چه د خپل رب فضل تلاش کړئ ـ" اووې فرمائيل چه څۀ خلقو به په منی کښې تجارت نۀ کولو نو هغوی ته حکم ورکړې شو چه کله تاسو دَ عرفات نه واپس شئ نو تجارت کولې شئ ـ"

بَابٌ (بِلَا تَرْجَمَةٍ)

باب ــــ بغير د ترجمې نه

[۱۷۳۲]() حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ مُحَمَّدُ بْنُ خَازِمٍ، عَنِ الْحَسَنِ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ مِهْرَانَ أَبِي صَفْوَانَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ أَرَادَ الْحَجَّ فَلْيَتَعَجَّلْ".

حضرت ابن عباس رضي الله عنهما بيان کوی چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : څوک چه حج کول غواړی نو پکار دی چه زر تر زره ئې اوکړی ـ"

عن ابن عباس رضي الله عنهما قال قال رسول الله(صلى الله عليه وسلم) من اراد الحج فليتعجل، په دې باندې کلام د کتاب الحج په ابتدائی مباحثو کښې تير شوې دې.

بَابُ الْكَرِيِّ

باب: ٦ -(دَحج په سفر کښې) په کرائې باندې سورلی چلول

الکری بروزن الصبی خپلې سورلۍ لره په کرايه باندې ورکول، بمعنی المکاری، کاری، يکاری، مکاراة، په کرايه باندې ورکول، او کری کله د مکتری په معنی کښې هم راځی،(په کرايه باندې اخستونکې) ليکن دلته کښې اوله معنی مراد ده، په دې باندې کلام من حيث الفقه په مخکښې باب کښې تير شوې دې،

[۱۷۳۳]() حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ بْنُ زِيَادٍ، حَدَّثَنَا الْعَلَاءُ بْنُ الْمُسَيَّبِ، حَدَّثَنَا أَبُو أُمَامَةَ التَّيْمِيُّ، قَالَ: كُنْتُ رَجُلًا أُكَرِّي فِي هَذَا الْوَجْهِ وَكَانَ نَاسٌ يَقُولُونَ لِي: إِنَّهُ لَيْسَ لَكَ حَجٌّ، فَلَقِيتُ ابْنَ عُمَرَ، فَقُلْتُ: يَا أَبَا عَبْدِ الرَّحْمَنِ، إِنِّي رَجُلٌ أُكَرِّي فِي هَذَا الْوَجْهِ وَإِنَّ نَاسًا يَقُولُونَ لِي إِنَّهُ لَيْسَ لَكَ حَجٌّ، فَقَالَ ابْنُ عُمَرَ: أَلَيْسَ تُحْرِمُ وَتُلَبِّي وَتَطُوفُ بِالْبَيْتِ وَتُفِيضُ مِنْ عَرَفَاتٍ وَتَرْمِي الْجِمَارَ، قَالَ: قُلْتُ: بَلَى، قَالَ: فَإِنَّ لَكَ حَجًّا، جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَأَلَهُ عَنْ مِثْلِ مَا سَأَلْتَنِي عَنْهُ، فَسَكَتَ عَنْهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ يُجِبْهُ حَتَّى نَزَلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ: لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَبْتَغُوا فَضْلًا مِنْ رَبِّكُمْ سورة البقرة آية ۱۹۸، فَأَرْسَلَ إِلَيْهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَرَأَ عَلَيْهِ هَذِهِ الْآيَةَ، وَقَالَ: "لَكَ حَجٌّ".

حضرت ابو امامه تيمی بيان کوی چه ما به په سفر کښې د کرائۍ سورلی چلوله نو بعضې خلقو ماته اووې : " ستا حج نۀ دې ـ" زۀ دَ حضرت ابن عمر رضي الله عنهما سره ملاؤ شوم او دَ هغه نه مې تپوس اوکړو اې ابو عبد الرحمٰن ! زۀ په سفر کښې په کرائۍ باندې سورلی چلوم او بعضې خلق ماته وائی چه ستا حج نشته دې ـ نو حضرت ابن عمر رضي الله عنهما جواب ورکړو : آيا تۀ احرام نۀ تړې؟ آيا دَ بيت الله طواف نۀ کوې؟ دَ عرفات نه افاضه نۀ کوې؟ او جمرات په

[۱]): تفرد به أبو داود،(تحفة الأشراف: ٦٥٠١)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/المناسك ۱(۲۸۸۳)، مسند احمد(۱/۲۲۵، ۳۶۳، ۳۵۵)، سنن الدارمي/الحج ۱(۱۸۲٥)(حسن)

[۲]): تفرد به أبو داود،(تحفة الأشراف: ۸٥۷٥)، وقد أخرجه: مسند احمد(۲/۱٥٥)(صحيح)

کنکرو باندې نۀ اولي؟ ما اووې ولې نۀ(دا ټول کارونه کووم) هغوی اوفرمائیل : بې شکه ستا حج(صحیح) دې - یو کس د نبی کریم ﷺ په خدمت کښې راغلې وو او هغه بالکل هم دا سوال کړې وو کوم چه تا زما نه اوکړو - نو رسول الله ﷺ خاموش وو او د هغې جواب ئې نۀ وو ورکړې تردې پورې چه دا آیت کریمه نازل شو : {لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَبْتَغُوا فَضْلاً مِنْ رَبِّكُمْ}" په تاسو باندې هیڅ حرج(ګناه) نشته دې چه دخپل رب فضل تلاش کړئ -" نو رسول الله ﷺ هغه ته استاذې اولیږلو او په هغې باندې ئې دا آیت اولوستو اووې فرمائیل : ستا حج(صحیح) دې -

تشریح: قوله: کنت رجلا اکری فی هذا الوجه و کان ناس یقولون انه لیس لک حج،

د هذا الوجه نه مراد د حج سفر دې، په اصل کښې وجه وئیلې شی کار ته، او دلته کښې ددې نه مراد سفر دې، یعنی زۀ چه کله په سفر حج کښې یم، نو ورسره دا کار هم کوم، چه خپلې سورلئ لره په کرایه باندې ورکوم، او په دې طریقې سره ګټه کوم، بعضې خلق دا ګنړی، چه ستا حج نه کیږی،(ځکه چه تۀ د حج په سفر کښې دا کار کوې) چه د حج سره منافی دې، په دې باندې حضرت ابن عمر رضی الله عنهما چه څه اوفرمائیل هغه ظاهر دې، د تشریح محتاج نه دې، ددې حدیث نه معلومه شوه، چه په سفر حج کښې تجارت او کسب جائز دې، کما تقدم قریبا،

انه کان یقرأها فی المصحف، ابن عباس فی مواسم الحج په قرآن مجید کښې لوستلو، یعنی دا خبره هغوی بطور تفسیر نه ده فرمائیلې، بلکه د هغوی په قراءت کښې داسې ده.

[١٧٣٤](1) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ مَسْعَدَةَ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي ذِئْبٍ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ أَبِي رَبَاحٍ، عَنْ عُبَيْدِ بْنِ عُمَيْرٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ، "أَنَّ النَّاسَ فِي أَوَّلِ الْحَجِّ كَانُوا يَتَبَايَعُونَ بِمِنًى وَعَرَفَةَ وَسُوقِ ذِي الْمَجَازِ وَمَوَاسِمِ الْحَجِّ فَخَافُوا الْبَيْعَ وَهُمْ حُرُمٌ، فَأَنْزَلَ اللَّهُ سُبْحَانَهُ: لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَبْتَغُوا فَضْلًا مِنْ رَبِّكُمْ سورة البقرة آية ١٩٨ فِي مَوَاسِمِ الْحَجِّ"، قَالَ: فَحَدَّثَنِي عُبَيْدُ بْنُ عُمَيْرٍ، أَنَّهُ كَانَ يَقْرَؤُهَا فِي الْمُصْحَفِ.

د حضرت عبد الله بن عباس رضی الله عنهما نه روایت دې چه خلقو به مخکښې(قبل از اسلام) د حج په ورځو کښې په منیٰ، عرفات، سوق ذی المجاز او په ایام حج کښې تجارت کولو -(د اسلام راوړو نه پس) هغوی د احرام په حالت کښې په خرید و فروخت کښې حرج اوګڼړلو نو الله تعالیٰ دې آیت لره نازل کړو : {لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَبْتَغُوا فَضْلاً مِنْ رَبِّكُمْ} {فِي مَوَاسِمِ الْحَجِّ}" په تاسو باندې هیڅ ګناه نشته دې چه په ایام حج کښې د الله تعالیٰ فضل لره تلاش کړئ -" عبید بن عمیر بیان کوی چه هغوی به د [فی مواسم الحج] د اضافې سره په مصحف کښې تلاوت کولو -

[١٧٣٥](2) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي فُدَيْكٍ، أَخْبَرَنِي ابْنُ أَبِي ذِئْبٍ، عَنْ عُبَيْدِ بْنِ عُمَيْرٍ، قَالَ أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ: كَلَامًا مَعْنَاهُ، أَنَّهُ مَوْلَى ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ، "أَنَّ النَّاسَ فِي أَوَّلِ مَا كَانَ الْحَجُّ كَانُوا يَبِيعُونَ"، فَذَكَرَ مَعْنَاهُ إِلَى قَوْلِهِ: "مَوَاسِمِ الْحَجِّ".

(1): تفرد به أبو داود،(تحفة الأشراف: ٥٨٧٢)(صحيح)
(2): انظر ما قبله،(تحفة الأشراف: ٥٨٧٢)(صحيح)

دَ حضرت عبد الله بن عباس رضي الله عنهما نه مروی دی چه خلقو به په مخکښې زمانه کښې دَ حج په دوران کښې اخستل او خرڅول کول - او دَ مذکوره بالا هم معنیٰ ئې روایت کړو ... [مواسم الحج] پورې -

بَابٌ فِي الصَّبِيِّ يَحُجُّ

باب: ۷- وړوکي بچي کوم چه حج کوي-

[۱۷۳٦]() حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ عُقْبَةَ، عَنْ كُرَيْبٍ، عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالرَّوْحَاءِ فَلَقِيَ رَكْبًا فَسَلَّمَ عَلَيْهِمْ، قَالَ: "مَنِ الْقَوْمُ؟" فَقَالُوا: الْمُسْلِمُونَ، فَقَالُوا: فَمَنْ أَنْتُمْ؟ قَالُوا: "رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ"، فَفَزِعَتِ امْرَأَةٌ فَأَخَذَتْ بِعَضُدِ صَبِيٍّ فَأَخْرَجَتْهُ مِنْ مِحَفَّتِهَا، قَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، هَلْ لِهَذَا حَجٌّ؟ قَالَ: "نَعَمْ وَلَكِ أَجْرٌ".

دَ حضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه منقول دی چه رسول الله ﷺ په مقام روحاء باندې وو چه هغوی سره يو قافلې والا ملاؤ شو - حضور ﷺ هغوی ته سلام اوکړو او تپوس ئې ترينه اوکړو تاسو څوک ئئ؟ هغوی اووې مونږ مسلمانان يو - هغوی تپوس اوکړو تاسو څوک ئئ؟ صحابهٔ کرامو رضي الله عنهم اوفرمائيل : دا دَ الله تعالیٰ رسول دې - نو يوې ښځې زر په جلدئ سره خپل بچې دَ مېچ نه اونيولو او دَ خپل پړونی نه ئې راويستلو اووې وئيل : اې دَ الله رسوله ! آيا ددهٔ دَ پاره حج شته دې؟ حضور ﷺ اوفرمائيل : هان - او ستا دَ پاره اجر دې -

تشريح: قوله: قال كان رسول الله(صلى الله عليه وسلم) بالروحاء فلقى ركبا فسلم عليهم الخ.

شرح حديث :

د مکې مکرمې او د مدينې منورې په مينځ کښې چه کوم منازل دی، په هغې کښې د يو منزل نوم "روحاء" دې،(دا د مدينې نه دويم منزل دې) د حديث مضمون دادې، چه حضور ﷺ په حجة الوداع کښې کله د سفر حج نه مدينې منورې ته واپس تشريف راؤړو، نو په لاره کښې د يوې قافلې سره د نبی کريم ﷺ ملاقات اوشو، نو نبی کريم ﷺ هغوی ته سلام اوکړو، او تپوس ئې ترې اوکړو، چه تاسو څوک يئ؟ هغوی اوئيل چه مونږ مسلمانان يو، **فقال من القوم فقالوا المسلمون فقالوا فمن انتم قالوا رسول الله(صلى الله عليه وسلم)** بيا دغه شان هغوی هم تپوس اوکړو، چه تاسو څوک ئې؟ په دې باندې صحابه کرامو اوئيل، چه دوی رسول الله ﷺ دی، مخکښې په حديث کښې دادی، چه په دغې قافله کښې يوه ښځه چه په خپله ډولۍ کښې سوره وه، اويريده،[۲] او په تلوار ئې يو ماشوم راؤويستو، او د نبی کريم ﷺ مخښې ته ئې کړو، او تپوس ئې اوکړو، چه يا رسول الله ﷺ ددهٔ حج کيږی، نبی کريم ﷺ اوفرمائيل نعم و لک اجر.

دا په لاره کښې د ملاقات قصه د څه وخت ده، حج نه د تللو په وخت کښې ده، يا په واپسئ

---

[۱]: صحيح مسلم/الحج ۷۲(۱۳۳٦)، سنن النسائي/المناسك ۱۵(۲٦٤۸)، (تحفة الأشراف: ٦۳۳٦)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الحج ۸۱(۲٤٤)، مسند احمد(۱/۲٤٤، ۲۸۸، ۳٤۳، ۳٤٤)(صحيح)

[۲]: اويريده په دې وجه چه هسې نه حضور ﷺ لاړشي او دا خبره پاتې شي.

کښې؟ د نسائي په روايت کښې لفظ صدر واقع دې، چه دهغې معنی واپسی ده، دغه شان په مسند شافعي کښې لفظ د قفل دې، ليکن د حضرت گنگوهي ﷫ تقرير په نسائي کښې دادې، چه دا حج ته د تللو په وخت کښې قصه ده، ليکن په رواياتو کښې چه د څه تصريح ده، ظاهر خبره ده، چه ترجيح به هغې ته ورکولې شي، يو سوال دلته کښې دا پيدا کيږي، چه هر کله دا قصه د واپسئ ده، نو ظاهره ده، چه هغې خلقو به حضور ﷺ ليدلې وو، نو بيا دغه وخت هغوی ولې نبی کريم ﷺ اونه پيژندو، قاضي عياض ددې جواب دا ورکړې دې، چه ممکن ده، د شپې وخت وی، يا که د ورځې قصه ده، نو کيدې شي، چه ددې وجه دا وی، چه هغوی تر اوسه پورې واقعی نبی کريم ﷺ نه وو ليدلې، بلکه اسلام ته داخليدو نه پس په خپل وطن کښې مقيم وو، هجرت ئې نه وو کړې، او نن ئې په اول ځل ليدلې وی، (يعنی حج هم هغوی د نبی کريم ﷺ سره نه وی کړې) والله تعالی اعلم بالصواب.

د حج صبی په معتبر کيدو کښې د فقهاء کرام رائې:

ددې حديث نه معلومه شوه، چه حج الصبی معتبر دې، دهغه احرام او ټول افعال دحج معتبر دی، هغه به خپله دا ټول کارونه کوی، دا مذهب د جمهور علماؤ او د ائمه اربعه دې، ليکن د هغه دا حج به نفلی وی، د بلوغ نه پس که استطاعت ئې اوموندو، نو فرض حج به کوی، د بعضو ظواهرو په نزد بس صرف هم دا حج کافي دې، د صبی نه مراد صبی مميز دې، که صبی غير مميز وی، نو دهغه احرام او افعال معتبر نه دی، بلکه دهغه ولی به دهغه د طرف نه احرام او نور افعال حج ادا کوی، ليکن په حج صبی کښې د جمهورو او د احنافو په مسلک کښې يو فرق دې، هغه دا چه د جمهورو په نزد د محظورات احرام په ارتکاب سره به کفاره او فديه وغيره واجب وی، او د احنافو په نزد به واجب نه وی، دلته کښې دا سوال پيدا کيږي، چه عام طور باندې د حديث شارحينو دا ليکلې دی، چه عند الحنفيه حج الصبی معتبر نه دې، آيا دا صحيح دې؟ جواب دادې، چه د هغوی خبره هم په يو اعتبار سره صحيح ده، ځکه چه يو روايت زمونږ په نزد هم دادې، لکه چه حضرت په بذل المجهود کښې د فقهاء احناف عبارتونه نقل کړې دی.

الحاصل د بعضو فقهاء احناف د کلام نه ددې معتبر کيدل، او د بعضو د کلام نه غير معتبر کيدل معلوميږي، او د تطبيق شکل حضرت په بذل کښې دا ليکلې دې، چه کومو فقهاؤ دا ليکلې دی، چه احرام الصبی منعقد نه دې، دهغوی مراد د نفس انعقاد نفی نه ده، بلکه د لزوم انعقاد نفی مراد ده، چه د احرام نه پس د افعال حج ادا کول په هغه باندې لازم نه دی، دغه شان د محظورات احرام په ارتکاب سره کفاره او فديه هم په هغه باندې واجب نه ده، ځکه چه صبی غير مکلف دې، او دهغه دا حج نفلی دې، صرف د تمرين او اعتياد دپاره دې، والله سبحانه و تعالی اعلم بالصواب.

فائده : حضرت شيخ ﷫ په جزء حجة الوداع کښې د حج الصبی په باره کښې اووه فقهی او اختلافی مسائل ليکلې دی، په شروع کښې ئې خو هغه په اوجز المسالک کښې ليکلې وې، دهغې نه پس په لامع الدراری کښې، او بيا ئې د هلته نه په جزء الحج کښې نقل کړې،

حضرت شیخ رحمه الله به په درس بخاری کښې دا هم فرمائیل، چه بعضې شارحینو چه دا لیکلې دی، چه د احنافو په نزد حج الصبی معتبر نه دې، دا نقل صحیح نه دې، د احنافو په نزد حج الصبی معتبر دې، البته د محظورات احرام نه بچ کیدل زمونږ په نزد په هغه باندې ضروری نه دی.

بَابٌ فِي الْمَوَاقِيتِ

باب: ۸- دَ مواقیتو بیان(یعنی دَ کوم ځائې نه چه احرام تړلې شی-)

مواقیت د میقات جمع ده، میقات د وقت نه ماخوذ دې، د څه کار دپاره چه کوم وقت متعین کړې شی، هغه دهغې میقات دې، په دې کښې نور هم وسعت او گنجائش راؤیستلې شو، او د میقات لفظ د هغې ځائې دپاره هم استعمال کړې شو، چه د څه کار دپاره متعین او مقرر کړې شی، لهذا د میقات معنی شوه، زمان معین یا مکان معین، د حج دپاره میقات زمانی هم دې، یعنی اشهر حج، او میقات مکانی هم دې، لیکن دلته کښې دویمه معنی مراد ده، یعنی میقات مکانی، مواقیت الحج وئیلې شی، مواضع احرام ته، د مکې مکرمې نه څلور واړه طرفونو ته معین ځایونه دی، په هغې باندې بغیر د احرام نه تیریدل هغه سړی دپاره منع دی، چه دهغه قصد حرم مکه ته د داخلیدو وی.

د احرام حقیقت:

د احرام مطلب دادې، چه یو مخصوص شکل او جامې سره د حج یا عمرې په نیت سره تلبیه وئیل، یا یو داسې عمل کول چه د تلبیې قائمقام وی، یعنی سوق هدی(په حرم کښې د قربانئ په نیت خپل ځان سره څاروی بوتلل) د حج په اسرار او حکم کښې لوئې حکمت د بیت الله شریف تعظیم دې، ددې تعظیم ابتداء د احرام په ذریعې سره د میقات نه شروع کیږی، چه بغیر ددې مخصوص شکل او ارادې نه څوک بیت الله شریف ته داخلیدې نشی، د احرام هیئت د مړی د کفن پشان دې، گویا په دې کښې دې طرف ته اشاره ده، چه دغې سړی خپل ځان او خپل وجود فنا کړو، دهغې مالک دپاره، د چا د در د زیارت دپاره چه روان دې.

[۱۷۳۷](۱) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ. ح وحَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا مَالِكٌ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: "وَقَّتَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأَهْلِ الْمَدِينَةِ ذَا الْحُلَيْفَةِ وَلِأَهْلِ الشَّامِ الْجُحْفَةَ وَلِأَهْلِ نَجْدٍ قَرْنَ وَبَلَغَنِي أَنَّهُ وَقَّتَ لِأَهْلِ الْيَمَنِ يَلَمْلَمَ".

د حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنه نه مروی دی، فرمائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د مدینې والو د پاره "ذوالحلیفه" (موجوده آبار علی)، دَ اهل شام والو دَ پاره "جحفه" دَ اهل نجد والو د پاره دَ "قرن المنازل" مقامات متعین فرمائیلې وو - او ماته دا خبر هم رارسیدلې دې چه هغوی دَ اهل یمن والو دَ پاره "یلملم" متعین کړې وو-"

(۱): صحیح البخاري/الحج ۸(۱۵۲۵)، صحیح مسلم/الحج ۲(۱۱۸۲)، سنن الترمذي/الحج ۱۷(۸۳۱)، سنن النسائي/المناسك ۱۷(۲۶۵۲)، سنن ابن ماجه/المناسك ۱۳(۲۹۱۴)،(تحفة الأشراف: ۸۳۲۶)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الحج ۸(۲۲)، مسند احمد(۲/۴۸، ۵۵، ۶۵)، سنن الدارمي/المناسك ۵(۱۸۳۱)(صحیح)

[۱۷۳۸]()حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ، عَنْ طَاوُسٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَعَنِ ابْنِ طَاوُسٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَا: "وَقَّتَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ" بِمَعْنَاهُ، وَقَالَ أَحَدُهُمَا: "وَلِأَهْلِ الْيَمَنِ يَلَمْلَمَ"، وَقَالَ أَحَدُهُمَا: "أَلَمْلَمَ"، قَالَ: فَهُنَّ لَهُمْ وَلِمَنْ أَتَى عَلَيْهِنَّ مِنْ غَيْرِ أَهْلِهِنَّ مِمَّنْ كَانَ يُرِيدُ الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ وَمَنْ كَانَ دُونَ ذَلِكَ. قَالَ ابْنُ طَاوُسٍ: مِنْ حَيْثُ أَنْشَأَ، قَالَ: وَكَذَلِكَ حَتَّى أَهْلُ مَكَّةَ يُهِلُّونَ مِنْهَا.

حماد د عمرو بن دینارنه هغوی د طاوس نه، هغوی د ابن عباس رضی الله عنهما نه ... او ابن طاؤس (عبد الله) د خپل پلار طاؤس نه (هغوی د ابن عباس رضی الله عنهما نه) روایت کوی دي دواړو (عمرو بن دینار او عبد الله بن طاؤس) وئیلي دی : چه رسول الله ﷺ میقات (مقامات احرام) مقرر فرمائیلي وو ددې دواړو نه یو کس اووې چه د اهل یمن د پاره یلملم او بل کس اووې الملم - حضور ﷺ اوفرمائیل : دا مقامات ددغه ځایونو د اوسیدونکو والو د پاره دی او د نورو ځایونو د هغه خلقو د پاره هم کوم چه په دې مقاماتو باندې تیریږی کوم چه د حج او د عمرې نیت لرې- او کوم چه ددې نه (مکې جانب ته) مقیم وی -" ابن طاؤس اووې هغوی دې هم د دغه ځائې نه احرام اوتړی تردې پورې چه اهل مکه دې دخپل ښار او کور نه احرام اوتړی-

تشریح: قوله: حدثنا سلیمان بن حرب نا حماد عن عمرو عن طاؤس عن ابن عباس رضی الله عنهما و عن ابن طاؤس عن ابیه قالا وقت رسول الله (صلی الله علیه وسلم)

ددې سند حاصل دادې، چه دې حدیث لره حماد په دواړو طریقو سره روایت کوی، (۱) عن عمرو عن طاؤس عن ابن عباس رضی الله عنهما، (۲) عن ابن طاؤس عن ابیه، مخکښې د دواړو سندونو متن دادې، وقت رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د اول سند په اعتبار سره حدیث مسند دې، او د دویم سند په اعتبار سره مرسل دې، ځکه په دې کښې صحابی ذکر نه دې، بلکه آخری راوی طاؤس دې.

شرح حدیث مع اختلاف ائمه :

قوله: فهن لهم و لمن اتی علیهن من غیر اهلهن. یعنی دا مواقیت چه د کومو کومو ښهرونو والو دپاره بیان شوې دی، دهغوی دپاره خو دی، او دهغوی نه علاوه هم کوم سړې چه په دې مواقیتو کښې د یو میقات نه تیریږی، هغه به د هغه میقات وی، مثلا که شامی مدینې ته داخل شی، او د ذوالحلیفې نه تیریږی، (لکه چه نن صبا عام طور باندې شامیان داسې کوی) نو هغه به هم د ذوالحلیفې نه احرام تړی، دلته کښې دا سوال پیدا کیږی، چه که شامی په ذوالحلیفې باندې تیریږی، او په ذوالحلیفه کښې احرام اونه تړی، بلکه په خپل اصلی میقات یعنی جحفه باندې احرام اوتړی، نو دا هم جائز دی، او که نه؟

جواب: د شافعیه رحمهم الله په نزد خو جائز نه دی، [۲] که هغه داسې اوکړی، نو دم پرې

[۱]): صحیح البخاري/جزاء الصید ۱۸(۱۸۴۵)، صحیح مسلم/الحج ۲(۱۱۸۳)، سنن النسائي/الحج ۲۰(۲۶۵۵)، ۲۳(۲۶۵۸)، (تحفة الأشراف: ۵۷۳۸، ۱۸۸۲۷)، وقد أخرجه: مسند احمد(۱/۲۳۸، ۲۴۹)(صحیح)

[۲]) امام نووی خوپه دې باندې دعلماؤ اجماع لیکلې ده په دې باندې حفظ ابن حجر وغیره دتعجب اظهار کړې دی چه په دې کښې د مالکیه اوحنیفه و اختلاف مشهور دې او دغسې د بعضې شافعیه ابوثور او ابن المنذر. بیا اجمع څنګه اوشوه.

واجبيږي، د مالکيه او احنافو په نزد جائز دی، بلکه د احنافو په نزد خپله د مدنی دپاره هم جائز دی، چه هغه د ذوالحليفه په ځائې جحفې ته لاړ شي،(١) او هلته نه احرام اوتړي، اګر چه مکروه دی(زيلعی) ليکن د نورو ائمه په نزد دا جائز نه دی، بلکه د هغوی په نزد دادی، چه کوم سړې دخپل اصلی ميقات نه تيريږي، هغه دپاره د هغه ځائې نه احرام تړل ضروري دی، هلته نه بغير احرام تجاوز نشی کولې،

قوله: ممن کان يريد الحج والعمرة، په دې باندې به کلام راشي.

قوله: و من کان دون ذلک من حيث انشاء يعني د آفاقي حکم خو دادې، چه د دې مواقيتو نه به احرام تړي، او کوم خلق چه ميقات کښې داخل اوسيږي، يعنی د ميقات او حرم په مينځ کښې(چه هغې ته حل وئيلې شي) نو هغوی چه د کوم ځائې نه سفر شروع کوی، هغه ځائې نه به احرام اوتړي، يعنی د خپل محل اقامت او مسکن نه، او دهغوی دپاره دا ضروري نه ده، چه هغه روستو لاړ شي، او د ميقات نه احرام اوتړي، ددې جملې تشريح خو داده، او د جمهور مسلک هم دادې، ليکن د احنافو په نزد د هغې خلقو دپاره دا ضروري نه ده، چه هغوی دې د خپل محل اقامت نه احرام اوتړي، بلکه د حد ود حرم نه مخکښې آخر حل کښې هم احرام تړلې شي، ځکه چه د ميقات نه تر حد ود حرم پورې ټوله حصه د مکان واحد په حکم کښې ده، چه هغې ته حل وئيلې شي.

شرح حديث مع اختلاف علماء:

حتی اهل مکة يهلون منها، يعنی داخل ميقات اوسيدونکې به د خپل محل اقامت نه احرام تړي، تردې پورې چه کوم خلق د حل نه اخوا ته په حرم کښې اوسيږي، يا دهغې نه هم مخکښې په خاص مکه مکرمه کښې(ځکه چه حرم په ټوله مکه باندې محيط دې) نو هغوی به دهغه ځائې نه احرام تړي.

دا دې جملې تشريح ده، ددې نه پس په دې خبره پوهه شئ، چه په دې باندې خو د ټولو اتفاق دې، چه مکی لره د مکې نه احرام تړل پکار دی، لکه چه په دې حديث کښې دی، ليکن سوال دادې، چه مکی دپاره داسې کول صرف اولی دی يا ضروري دی؟ جواب: په دې کښې اختلاف دې، د شافعيه په نزد د مکی احرام د مکې نه تړل واجب دی، د مکې نه بهر يعنی د حرم يا حل نه تړل جائز نه دی، ګنی دم پرې واجبيږي، او د احنافو په نزد مکی د حج احرام په مکه کښې او د مکې نه بهر د حرم په حدودو کښې تړلې شي، او د مالکيه او حنابله په نزد نه د مکې قيد شته، نه د حرم، بلکه د حل نه هم تړل جائز دی، کذا فی الاوجز نقلا عن کتب الفروع.

تنبيه: په ظاهر کښې معلوميږي چه دا حکم عام دې، د حج او عمرې دواړو دپاره، حالانکه داسې نه ده، بلکه دا بالنسبت الی الحج دې، او په عمره کښې د مکی دپاره ضروري ده، چه هغه احرام د مکې نه بهر په حل کښې اوتړي، کما فعلت عائشة رضی الله عنها فی عمرة التنعيم بامر

---

(١) دحضرت عائشه په باره کښې منقول دی چه هغې دحج دپاره خو احرام د ذوالحليفه نه تړلو اوکله چه د مدينې نه عمرې دپاره تله نو د ذوالحليفه په ځائ به ئې د جحفه نه تړلو.

النبي(صلى الله علي وسلم) و هذا عند ائمة الاربعة خلافا لبعض العلماء و منهم الحافظ ابن القيم رحمه الله

دخول مکه بغير احرام والا بحث:

قوله: ممن کان يريد الحج والعمرة: مونږ وعده کړې وه، چه په دې باندې به کلام وروستو کوو، دا حديث متفق عليه دې، په صحيح بخاری او مسلم دواړو کښې دې، چه دهغې صريح مفهوم چه هغې ته منطوق وئيلې شی، دادې، چه د ميقات نه احرام تړلو حکم دهغه سړی دپاره دې، چه مکې مکرمې ته د حج يا عمرې په نيت سره داخليدل غواړی، لهذا ددې مفهوم مخالف دا شو، چه د کوم سړی اراده د حج يا عمرې نه وی، بلکه هغه مکې ته د خپل څه ضرورت نه تلل غواړی، نو هغه بغير د احرام نه ميقات ته تيريدې شی، د حضرت امام شافعی رحمه الله قول راجح دادې، که هغه حاجت متکرر وی يا غير متکرر، دويم قول دهغوی دادې، چه که هغه حاجت متکرره وی، بار بار پيښيدونکې دې، نو بيا خو تجاوز الميقات بغير احرام جائز دې، او د حاجت غير متکرره دپاره جائز نه دې، او هم دا مسلک د حنابله او مالکيه دې، او د احنافو مسلک دادې، چه د احرام نه بغير تيريدل مطلقا ناجائز دې، که هغه حاجت متکرره وی، او که غير متکرره، البته چه کوم خلق په ميقات کښې دننه اوسيږی، دهغوی دپاره جائز دی، چه که هغوی د خپل ضرورت دپاره د مکې ته داخليږی، نو بغير د احرام نه داخليدې شی، لکه خپله اهل مکه، چه که هغوی د خپل ضرورت دپاره مکې نه بهر راوځی، نو هغوی باندې مکې ته داخليدو دپاره احرام تړل ضروری نه دی، حديث الباب د شافعيه دليل، او د احنافو خلاف دې.

د فريقينو دلائل

د جمهورو استدلال يو خو ددې حديث مفهوم مخالف دې، او دويم دليل دحضور اقدس ﷺ د فتح مکې دپاره په مکه کښې بغير د احرام نه داخليدل دی، کما في رواية مسلم والنسائي انه عليه السلام دخل مکة يوم الفتح وعليه عمامة سوداء، او په خپله په سنن ابوداؤد کښې په کتاب الجهاد کښې راروان دی چه: دخل مکة وعلى راسه مغفرة (بذل ص ۱۸ ج ۲) او دحنفيه دليل د طبرانی او مصنف ابن ابی شيبه کښې دحضرت ابن عباس رضي الله عنهما مرفوع حديث دې: لا يجاوز الوقت الا باحرام،، اوپه مسند شافعی کښې د ابوالشعثاء نه روايت دې چه کوم سړې به د ميقات نه بغير د احرام نه تيريدلو ابن عباس رضی الله عنه به هغه واپس کولو.

او دحديث الباب جواب دادې چه دا استدلال بالمفهوم دې، او زمونږ استدلال د منطوق نه دې، وهو اولى من المفهوم، او د دويم دليل جواب دادې چه په خپله هم په دې حديث کښې مذکور دی نبی کريم ﷺ اوفرمائيل: انما احلت لي ساعةً من نهار،، چه په دغه ورځ د نبی کريم ﷺ دپاره لږ وخت دپاره حلال شوې وو، يعنی په هغې کښې قتال او بغير د احرام نه دخول، او يو جواب داهم ورکړې شوې دې چه ممکن ده چه نبی کريم ﷺ په دغه وخت هم محرم وی خو ضرورةً وقتی طور باندې تغطيه د رأس مباح کړې شوې وی، خو دا لږ بعيد معلوميږی ځکه چه که هم دا خبره وه نو بيا تحلل عن الاحرام منقول کيد پکار وو، حالانکه

په رواياتو کښې ددې ذکر نشته، والله تعالى أعلم.
حضرت امام بخاری رحمه الله په دې مسئله باندې مستقل باب تړلې دې، هغه په دې مسئله کښې د امام شافعی رحمه الله سره دې، علامه قسطلانی ليکلی دی چه د شوافعو په نزد د داسې سړی دپاره دخول مکه بغير د احرام نه جائز دې. لقوله في حديث ابن عباس ممن اراد الحج والعمرة، والمشهور عن الائمة الثلاثة الوجوب...الخ، حاجت متکرره او غير متکرره سره دوی هيڅ تعرض نه دې کړې.
الحمد لله د حديث المواقيت ضروری تشريح مع مسائل و اختلاف ائمه په ښه وضاحت سره سر ته اورسيده. والله الموفق.

[۱۷۳۹]([1]) حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ بَهْرَامَ الْمَدَائِنِيُّ، حَدَّثَنَا الْمُعَافَى بْنُ عِمْرَانَ، عَنْ أَفْلَحَ يَعْنِي ابْنَ حُمَيْدٍ، عَنِ الْقَاسِمِ بْنِ مُحَمَّدٍ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "وَقَّتَ لِأَهْلِ الْعِرَاقِ ذَاتَ عِرْقٍ".

د حضرت عائشې رضي الله عنها نه روايت دې، چه رسول الله ﷺ د اهلِ عراق والو د پاره د "ذات عرق" مقام متعين کړې وو -(داحرام تړلو د پاره)-

[۱۷۴۰]([2]) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي زِيَادٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَلِيِّ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "وَقَّتَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأَهْلِ الْمَشْرِقِ الْعَقِيقَ".

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه مروی دی چه رسول الله ﷺ د اهلِ مشرق د پاره مقام "عقيق" مقرر کړې وو -"
عن عائشة رضي الله عنها ان رسول الله(صلى الله عليه وسلم) وقت لاهل العراق ذات عرق .... عن ابن عباس رضي الله عنهما قال وقت رسول الله(صلى الله عليه وسلم) لاهل المشرق الخ
تير شوې دواړه احاديث يعنې حديث ابن عمر رضي الله عنهما، او حديث ابن عباس رضي الله عنهما متفق عليه دی، په بخاری او مسلم دواړو کښې شته، په هغې کښې صرف د ځلورو مواقيتو ذکر دې، ذوالحليفه، جحفه، قرن، يلملم.

د ذات عرق توقيت د کوم طرف دپاره دې:

او د ابوداؤد په مذکوره حديث عائشه رضي الله عنها او حديث ابن عباس رضي الله عنهما کښې د يو پنځم ميقات هم ذکر دې، يعنې ذات عرق، د اهل عراق دپاره، دا حديث چه ذات عرق په کښې مذکور دې، د سنن روايت دې، په دغې دواړو احاديثو کښې د ابن عباس رضي الله عنهما حديث د صحاح سته نه په ابوداؤد او ترمذی کښې دې، او عائشه رضي الله عنها والا حديث د ابوداؤد او نسائی دې، ددې دواړو احاديثو نه معلوميږی، چه د ذات عرق توقيت خپله رسول الله ﷺ فرمائيلې دې، ليکن د صحيح بخاری په حديث کښې تصريح ده،([3]) چه د ذات عرق توقيت د حضرت

---

[1]): سنن النسائي/الحج ۱۹(۲۶۵۴)، ۲۲(۲۶۵۷)،(تحفة الأشراف: ۱۷۴۳۸)(صحيح)
[2]): سنن الترمذي/الحج ۱۷(۸۳۲)،(تحفة الأشراف: ۶۴۴۳)(ضعيف)
[3]، او د صحيح مسلم په يو حديث کښې (حديث جابر) د ذات عرق ثبوت مرفوعاً موجود دې.....۶

عمر رضي الله عنه د طرف نه دي، د هغوی په زمانه کښې چه کله عراق فتح شو، نو کوفې او بصرې والو خليفه ثاني ته عرض اوکړو، چه حضور ﷺ د اهل نجد دپاره کوم ميقات مقرر کړې دې، که موږ هغه لار اختيار کړو (يعنی د مکې په سفر کښې) نو زموږ دپاره ډيره مشکل ده، لهذا زموږ دپاره مستقل ميقات مقرر کړئ، په دې باندې حضرت عمر رضي الله عنه اوفرمائيل چه کوم لاره ستاسو دپاره آسانه ده، په هغې لاره باندې د قرن المنازل په برابرئ کښې يو ځائې متعين کړئ، نو د حضرت عمر رضي الله عنه په رائې سره د ذات عرق توقيت په عمل کښې راغلو، بهرحال ددې اختلاف روايات په بناء باندې د علماؤ دوه جماعتونه شول، يو جماعت ومنهم الغزالي والرافعي فی شرح المسند والنووي فی شرح المسلم و مالک فی المدونه د بخاري روايت ته ترجيح ورکوی، او وائي چه د ذات عرق توقيت د خليفه ثاني د طرف نه دې، او دويم جماعت ومنهم الحنفيه والحنابله و جمهور الشافعيه والرافعي فی الشرح الصغير والنووي فی شرح المهذب د سنن روايات اختيار کړې دی، او ددې نسبت ئې حضور ﷺ ته کړې دې، اودائې وئيلې دی، چه ممکن ده، حضرت عمر رضي الله عنه ته د نبی کريم ﷺ د توقيت علم نه وو، ددې وجې نه هغوی اجتهاد اوکړو، او دهغوی اجتهاد د حديث مرفوع موافق شو.

په دوؤ احاديثو کښې رفع د تعارض:

دلته کښې يو اشکال دادې، چه د اهل عراق ميقات په حديث عائشه رضي الله عنها کښې ذات عرق مقرر کړې شوې دې، او حديث ابن عباس رضي الله عنه کښې عقيق مقرر کړې شوې دې، خطابی وائی، چه حديث عقيق اثبت دې د دويم حديث په مقابله کښې، او يا دې دا اوئيلې شی، چه په دې کښې احدهما ميقات الاستحباب دې، او دويم ميقات الوجوب، پس په دې کښې چه کوم ابعد دې، يعنی عقيق هغه ميقات الاستحباب دې، او چه کوم اقرب دې، هغه ميقات الوجوب دې، او يا دا وئيل پکار دی، چه د بعضې اهل عراق او اهل بصرې دپاره ميقات ذات عرق دې، او د بعضې اهل مدائن دپاره عقيق دې.[1] والله تعالی اعلم.

[۱۷۴۱] ([2]) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي فُدَيْكٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ يُحَنَّسَ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي سُفْيَانَ الْأَخْنَسِيِّ، عَنْ جَدَّتِهِ حُكَيْمَةَ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهَا سَمِعَتْ رَسُولَ

---

[1] ... ليکن راوی ددې حديث په رفع کښې د تردد اظهار کړې دې راوی وائی: احسبه رفع الي النبي ﷺ، چه ددې په بناء باندې دا نه شی وئيلې کيدې چه د صحيح مسلم دحديث نه د ذات عرق ثبوت مرفوعاً دې، ليکن بعضو علماؤ ددې اصولو په لحاظ سره چه دحسبان نه مراد ظن غالب دې او ظن غالب شرعاً معتبر دې د ذات عرق مرفوعاً ثبوت د مسلم دحديث طرف ته منسوب کړې دې عنهم صاحب المشکوة.

[1] يوه توجيه ددې دا کړې شوې ده چه ذات عرق يو کلې او منزل دې چه ددې محل وقوع په شروع کښې وادی عقيق وو، روستو دا آبادی ذات عرق هلته منتقل شوه کومه چه نسبتاً مکې مکرمې ته زياته نزدې ده، لهذا په کوم روايت کښې چه ذات عرق راغلې دې هغه ددې د قديم محل په اعتبار سره دې وهما شیء واحد، خو دا توجيه څکه صحيح نه ده چه ددې مقتضی داده چه د اهل عراق اصل ميقات عقيق وی او دهغوی دپاره د ذات عرق نه احرام تړل صحيح نه وی. حالانکه دا خلاف اجماع دی.

[2]: سنن ابن ماجه/المناسک ۴۹(۳۰۰۱، ۳۰۰۲)، (تحفة الأشراف: ۱۸۲۵۳)، وقد أخرجه: مسند احمد(۲۹۹/۶)(ضعيف)

اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "مَنْ أَهَلَّ بِحَجَّةٍ أَوْ عُمْرَةٍ مِنَ الْمَسْجِدِ الْأَقْصَى إِلَى الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ وَمَا تَأَخَّرَ، أَوْ وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ"، شَكَّ عَبْدُ اللّٰهِ أَيَّتَهُمَا قَالَ. قَالَ أَبُو دَاوُد: يَرْحَمُ اللّٰهُ وَكِيعًا أَحْرَمَ مِنْ بَيْتِ الْمَقْدِسِ، يَعْنِي إِلَى مَكَّةَ.

ام المؤمنين حضرت ام سلمه رضی الله عنها بيان کوی چه هغوی د رسول الله ﷺ نه واوريدل چه هغوی فرمائيل: چاچه د مسجد اقصیٰ نه د مسجد حرام پورې د حج يا د عمرې احرام اوتړلو، نو د هغه مخکينی ورستونی تمام ګناهونه معاف کولې شی - يائې اوفرمائيل: د هغه د پاره جنت واجب شو -" عبد الله (ابن عبد الرحمٰن بن يحنّس) ته شک دې چه معلومه نۀ ده چه رسول الله ﷺ د دواړو نه کومه يوه خبره فرمائيلې ده -" امام ابوداود رحمه الله فرمائی: الله تعالیٰ دې په وکيع باندې رحم اوکړی، هغوی د بيت المقدس نه، بيت الله پورې احرام تړلې وو -"

تشريح: قوله: انها سمعت رسول الله (صلى الله عليه وسلم) يقول من اهل بحجة او عمرة من المسجد الاقصى الى المسجد الحرام غفرله ما تقدم من ذنبه و ما تاخر.

په تقديم الاحرام على الميقات کښې اختلاف د علماء:

ددې حديث نه دوه خبرې واضح طور باندې معلوميږی، اول داچه تقديم الاحرام على المواقيت جائز دې، دويم دا چه افضل هم تقديم دې، دواړه مسئلې اختلافی دی، په اوله مسئله کښې د ظاهريه او د بعضې علماؤ اختلاف دې، دهغوی په نزد تقديم الاحرام على المواقيت جائز نه دې، او هم دا قول د اسحق بن راهويه دې، او هم دا رائې د امام بخاری رحمه الله ده، كما قال الحافظ و غيره.

ددې وجې نه هغوی باب تړلې دې، باب ميقات اهل مدينة و لا يهلون قبل ذى الحليفة، او د جمهور علماء او ائمه اربعه په نزد تقديم جائز دې، بلکه ابن المنذر خو په جواز باندې اجماع نقل کړې ده، ليکن اجماع نقل کول صحيح نه دی، لوجود الاختلاف فيه، د قياس تقاضه خو عدم جواز ده، ځکه چه په ميقات زمانی باندې د احرام تقديم بالاتفاق ناجائز دې.

اوس دا چه افضل څه څيز دې، تقديم، كما فى حديث الباب يا د ميقات نه احرام تړل، په دې کښې اختلاف دې، د احنافو او د بعضې شافعيه په نزد تقديم اولې دې، (بان يحرم من دويرة اهله) او د ډيرو صحابه کرامو نه هم تقديم منقول دې، او د مذکوره حديث نه هم دا معلوميږی، اګر چه نبی کريم ﷺ احرام هميشه د ميقات نه تړلې دې، د ملګرو د سهولت او رعايت دپاره، ددې برخلاف د بعضې صحابه کرامو نه او د اکثرو ائمه نه عدم استحباب تقديم منقول دې، دې لره ائمه ثلثه مالک و شافعی و احمد اختيار کړې دې، او بعضې علماء دا فرمائي چه نفس تقديم خو جائز دې، ليکن د مواضع بعيده نه مکروه دې، مخافة الوقوع فى محظور الاحرام، دا حضرات د حديث الباب دا جواب ورکوی، چه دا ضعيف دې، لاجل ابن ابى فديک و محمد بن اسحق

تنبيه: علامه عينی رحمه الله په دې مسئله کښې امام شافعی رحمه الله د امام ابوحنيفه رحمه الله سره ذکر کړې دې، ليکن حافظ ابن حجر رحمه الله استحباب تقديم صرف بعضې شوافعو ته منسوب کړې

دي، دغه شان امام نووی رحمه الله هم إحرام من الميقات لره افضل ليکلي دي، (الحل المفهم) او په کتاب الانوار لاعمال (ص۱۷۷ ج ۱) الابرابر (في فقه الشافعي) کښي دا تصريح ده، چه مکی دپاره خو احرام من دويرة اهله افضل دي، (په ځائي د مسجد حرام) او د آفاقی په حق کښي د علامه رافعي او امام نووی اختلاف دي، د اول الذکر په نزد دهغه په حق کښي هم من دويرة اهله افضل دي، او د ثاني په نزد عدم تقديم اولی دي، وهو المعتمد لان النبی (صلی الله علی وسلم) احرم من الميقات. اهـ

[۱۷٤۲] (۱) حَدَّثَنَا أَبُو مَعْمَرٍ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَمْرِو بْنِ أَبِي الْحَجَّاجِ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ، حَدَّثَنَا عُتْبَةُ بْنُ عَبْدِ الْمَلِكِ السَّهْمِيُّ، حَدَّثَنِي زُرَارَةُ بْنُ كُرَيْمٍ، أَنَّ الْحَارِثَ بْنَ عَمْرٍو السَّهْمِيَّ حَدَّثَهُ، قَالَ: "أَتَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ بِمِنًى أَوْ بِعَرَفَاتٍ وَقَدْ أَطَافَ بِهِ النَّاسُ، قَالَ: فَتَجِيءُ الْأَعْرَابُ فَإِذَا رَأَوْا وَجْهَهُ، قَالُوا: هَذَا وَجْهٌ مُبَارَكٌ، قَالَ: وَوَقَّتَ ذَاتَ عِرْقٍ لِأَهْلِ الْعِرَاقِ".

حضرت حارث بن عمرو سهمی رضی الله عنه بيان کوی چه زهٔ د نبی کريم ﷺ په خدمت کښي حاضر شوم او هغوی په عرفات يا په منیٰ کښي وو - خلقو دَ هغوی نه ګيره (حلقه) اچولي وه، بدوی خلق به دَ هغوی په خدمت کښي حاضريدل، کله چې به ئي دَ هغوی مخ (مبارک) ته کتل نوونيل به ئي " دا خو مبارک مخ دي -" حارث بيان کوی چه هغوی ﷺ دَ اهلِ عراق دَ پاره مقام ذات عرق ميقات مقرر اوفرمائيلو -"

ان الحارث بن عمرو السهمی حدثه قال اتيت رسول الله (صلی الله عليه وسلم) وهو بمنی او بعرفات و قد اطاف به الناس قال فتجئ الاعراب فاذا راو وجهه قالوا هذا وجه مبارک:

صحابه کرامو نبی کريم ﷺ لره د څلور واړو طرفونو نه ګير کړي وو، (د نبی کريم ﷺ د زيارت نه مشرف کيدل، مسائل او ديني معلومات ئي حاصلول) د چا چه هم نظر په مخ مبارک باندې پريوته، نو بې اختياره به د هغه د ژبې نه وتل، چه څومره مبارک مخ دي، ماته په دې باندې د حضرت عبد الله بن سلام رضی الله عنه حديث ياد راځي، هغوی فرمائي چه کله نبی کريم ﷺ هجرت اوکړو، او مديني منورې ته ئي تشريف راوړو، نو خلق د نبی کريم ﷺ د زيارت په شوق کښي هغوی طرف ته منډې کړې، زهٔ هم د زيارت دپاره حاضر شوم، چه کله ما د هغوی د مخ مبارک ځليدل اوليدل، نو پوهه شوم، چه دا مخ د دروغژن نشي کيدې، (بلکه د نبی صادق دې) (۲)

بَابُ الْحَائِضِ تُهِلُّ بِالْحَجِّ

باب: ۹- حائضه ښځه ، چه دَ حج دپاره احرام اوتړی-

په افعال حج کښي د کومو افعالو دپاره طهارت ضروری دی:

د احرام دپاره طهارت بالاتفاق د مستحباتو نه دې، که حدث اصغر وی او که اکبر، يعنی

(۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۳۲۷۹)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳/۴۸۵) (حسن)

(۲) لما استبنت وجه رسول الله عرفت ان وجهه ليس بوجه كذاب وكان اول شئ تكلم به ان قال يايها الناس افشوا السلام واطعموا الطعام وصلوا والناس نيام تدخلوا الجنة بسلام. (ترمذي ص ۷۱ ج ۲)

حیض او نفاس وغیره د صحت احرام نه مانع نه دې، په ارکان حج کښې طهارت صرف د طواف دپاره ضروری دې، د جمهورو په نزد خو شرط دې، بغیر د طهارت نه طواف نه صحیح کیږي، او د احنافو په نزد واجب دې، د صحت دپاره شرط نه دې، لهذا ددې په ترک سره به دم واجبیږي، زمونږ په نزد مسئله داده، چه که یو سړې طواف زیارت د حدث اصغر په حالت کښې اوکړي، نو په هغه باندې شاة واجب دې، او که د حدث اکبر (جنابت، حیض، نفاس) په حالت کښې اوکړي، نو په هغه باندې بدنه واجب ده.

مخکښې په حدیث کښې راروان دی، چه حائضه ټول افعال د حج کولې شي، سوا د طواف نه، او په بعضې روایاتو کښې د سعی هم استثناء ده، لیکن د سعی دپاره طهارت نه د احنافو په نزد شرط دې، نه د جمهورو په نزد، لیکن چونکه د سعی د صحت دپاره دا ضروری ده، چه هغه به بعد الطواف وی، ددې وجې نه ددې هم استثناء کړې شوې ده، لهذا که زنانه د طواف نه فارغیدو نه پس حائضه شي، نو اوس چونکه هغې طواف کړې دې، ددې وجې نه دا سعی به هغې دپاره جائز وی، وهذا عند الائمة الاربعة والجمهور، لیکن د حسن بصری رحمه الله او د بعضې حنابله په نزد د سعی دپاره هم طهارت شرط دې (بذل و اوجز)

[۱۷۴۳] (۱) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا عَبْدَةُ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْقَاسِمِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "نُفِسَتْ أَسْمَاءُ بِنْتُ عُمَيْسٍ بِمُحَمَّدِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ بِالشَّجَرَةِ، فَأَمَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَبَا بَكْرٍ أَنْ تَغْتَسِلَ فَتُهِلَّ".

حضرت عائشه رضی الله عنها بیان کوی چه اسماء بنت عمیس رضی الله عنها (زوجهٔ ابو بکر صدیق رضی الله عنه) د شجره په مقام باندې محمد بن ابی بکر رضی الله عنه لره اوزیږولو نو رسول الله ﷺ ابوبکر صدیق رضی الله عنه ته اوفرمائیل: دې لره پکار دی چه غسل اوکړي، احرام اوتړي."

عن عائشة رضی الله عنها قالت نفست اسماء بنت عمیس بمحمد بن ابی بکر بالشجرة، د اسماء بنت عمیس رضی الله عنها نه محمد بن ابی بکر پیدا شو په ذی الحلیفه کښې، هلته کښې د بیرې یوه اونه وه، دهغې د وجې نه دغه ځائې ته شجره هم وئیلې شي، حضور ﷺ هغې ته د غسل حکم ورکړو، چه څرنګه نور خلق د احرام نه مخکښې غسل کوی، ته هم دغسې اوکړه، دا غسل عند الجمهور مستحب دې، او عند الظاهریه واجب دې، او ددې نه مقصود تنظیف دې، ګنې ظاهره خبره ده، چه د حیض او نفاس د زمانې غسل د طهارت فائده نه ورکوی، د حیض او نفاس احکام چونکه مشترک دی، ددې وجې نه مصنف د نفاس والا حدیث په حیض باندې منطبق کړو.

[۱۷۴۴] (۲) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عِيسَى، وَإِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ أَبُو مَعْمَرٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا مَرْوَانُ بْنُ شُجَاعٍ، عَنْ خُصَيْفٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، وَمُجَاهِدٍ، وَعَطَاءٍ، عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "الْحَائِضُ

[1]: صحيح مسلم/الحج ١٦(١٢٠٩)، سنن ابن ماجه/المناسك ١٢(٢٩١١)، (تحفة الأشراف: ١٧٥٠٢)، وقد أخرجه: سنن النسائي/الحيض ٢٤(٢١٥)، والحج ٥٧(٢٧٦٢)، موطا امام مالك/الحج ٤١(١٢٧، ١٢٨)، سنن الدارمي/المناسك ١١(١٨٤٥)، ٣٤(١٨٩٢)(صحيح)

[2]: سنن الترمذي/الحج ١٠٠(٩٤٥)، (تحفة الأشراف: ٥٨٩٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٣٦٣)(صحيح)

وَالنُّفَسَاءُ إِذَا أَتَتَا عَلَى الْوَقْتِ تَغْتَسِلَانِ وَتُحْرِمَانِ وَتَقْضِيَانِ الْمَنَاسِكَ كُلَّهَا غَيْرَ الطَّوَافِ بِالْبَيْتِ". قَالَ أَبُو مَعْمَرٍ فِي حَدِيثِهِ: "حَتَّى تَطْهُرَ"، وَلَمْ يَذْكُرْ ابْنُ عِيسَى عِكْرِمَةَ وَمُجَاهِدًا، قَالَ: عَنْ عَطَاءٍ، عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَلَمْ يَقُلْ: ابْنُ عِيسَى كُلَّهَا، قَالَ: "الْمَنَاسِكَ إِلَّا الطَّوَافَ بِالْبَيْتِ".

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه مروي دي چه نبي كريم ﷺ اوفرمائيل: د حيض او د نفاس والا ښځي چه كله ميقات ته اورسي نو غسل دې اوكړي او احرام دې اوتړي او د حج تمام افعال دې سرانجام كړي سوا د بيت الله د طواف نه -" د ابو معمر په روايت كښې دی " تردې پورې چه هغوی پاک شي -" د محمد عيسیٰ په روايت كښې د عكرمه او د مجاهد ذكر نشته دې بلكې (د هغه سند) عطاء عن ابن عباس دې " هم داسې د ابن عيسیٰ په روايت كښې د [كلها] لفظ نۀ دې راغلې بلكې داسې ئې وئيلي دي [المناسک الا الطواف بالبيت

بَابُ الطِّيبِ عِنْدَ الْإِحْرَامِ

باب: ۱۰- د احرام په وخت كښې خوشبو لګول

[۱۷۴۵](۱) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، وَأَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا مَالِكٌ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْقَاسِمِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "كُنْتُ أُطَيِّبُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِإِحْرَامِهِ قَبْلَ أَنْ يُحْرِمَ، وَلِإِحْلَالِهِ قَبْلَ أَنْ يَطُوفَ بِالْبَيْتِ".

حضرت عائشه رضي الله عنها بيان كوی چه ما به په حضور ﷺ باندې د احرام تړلو په وخت كښې د احرام نه مخكښې خوشبو لګوله او هم داسې د احرام د كولاؤولو نه پس، د بيت الله شريف د طواف كولو نه مخكښې -"

تشريح: قوله: عن عائشة رضي الله عنها قالت كنت اطيب رسول الله(صلى الله عليه وسلم) لاحرامه قبل ان يحرم و لاهلاله قبل ان يطوف.

په مسئلة الباب كښې اختلاف ائمة:

د عين احرام په حالت كښې د طيب استعمال بالاتفاق منع دې، او قبل الاحرام داسې خوشبو استعمالول چه د هغې لون او اثر وروستو باقي وي، ددې حديث نه معلوميږی، چه هغه جائز بلكه مستحب دې، (۲) په دې كښې درې مسلكونه دی،

(۱) د امام شافعي رحمه الله او احمد رحمه الله په نزد مطلقا (فى البدن والثوب) مباح دې، ليكن په

---

[1]): صحيح البخاري/الغسل ۱۲(۲۶۷)، ۱۴(۲۷۰)، والحج ۱۸(۱۵۳۹)، ۱۴۳(۱۷۵۴)، واللباس ۷۳(۵۹۲۲)، ۷۴(۵۹۲۳)، ۷۹(۵۹۲۸)، ۸۱(۵۹۳۰)، صحيح مسلم/الحج ۷(۱۱۸۹)، سنن النسائي/الحج ۴۱(۲۶۸۶)، سنن ابن ماجه/المناسك ۱۸(۲۹۲۶)، موطا امام مالك/الحج ۷(۱۷)، مسند احمد ۶/۹۸، ۱۰۶، ۱۳۰، ۱۶۲، ۱۸۱، ۱۸۶، ۱۹۲، سنن الدارمي/المناسك ۱۰(۱۸۴۴)،(تحفة الأشراف: ۱۷۵۱۸، ۱۷۵۱۸، ۱۷۵۱۸)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الحج ۷۷(۹۱۷)(صحيح)

[2]) مسئله مختلف فيه ده، دامام مالک او محمد په نزد د احرام نه مخكښې داسې خوشبو استعمالول چه د هغې اثر روسته پورې باقي پاتې شي ممنوع ده، په صحابو كښې د عمرو ابن عمرو وغيره مسلک هم دا دې، دائمه ثلاثه ابوحنيفه، شافعي، احمد او ابويوسف په نزد مباح دې، علامه عيني وغيره ډيرو شارحينو مذاهب هم دغسې مجملا ليكلی دی خو حضرت شيخ په اوجز كښې ليكلی دی چه صحيح دادی چه په دې كښې تفصيل دې بيا حضرت دا تفصيل ليكلې دې چه د هغې خلاصه مونږ پورته په متن كښې ليكلې ده.

بدن باندې خو سنت دې، او په ثوب باندې صرف مباح.
(۲) د شیخینو په نزد په بدن باندې مباح بلکهٔ مسنون دې، او په ثوب باندې غیر مباح،[1]
زمونږ ډیرو فقهاؤ د شیخینو مسلک مطلقا مباح لیکلې دې،د بدن اوثوب فرق ئې نه دې کړې.
(۳) د امام مالک رحمه الله او امام محمد رحمه الله په نزد مطلقا ممنوع دې، د امام مالک په نزد حرام دې، او د امام محمد رحمه الله په نزد مکروه، ورجحه الطحاوی، بیا د مالکیه په وجوب فدیه کښې دواړه قوله دی، نعم او لا.
د شافعیه او حنابله دلیل خو دا حدیث دې، او د امام مالک او امام محمد دلیل د یعلی بن امیه حدیث دې، چه په باب الرجل یحرم فی ثیابه کښې راروان دې،(بذل ص۱۱۵، ج۳) په هغې باندې به کلام به هم دلته کښې راشی، د حدیث مضمون دادې، چه حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائي: ما به یو ځل د حضور ﷺ په احرام باندې د احرام تړلو نه مخکښې خوشبو پورې کوله، او دویم ځل د تحلل اصغر په وخت کښې د طواف زیارت نه مخکښې، او د باب په دویم حدیث کښې دادی، چه عائشه رضی الله عنها فرمائي: چه زهٔ د مشک چمک د نبی کریم ﷺ د سر په ویښتو کښې ګویا اوس وینم. ([2])

(تحلل او ددې اقسام)

د احرام نه بهر راؤتلو ته تحلل وئیلې شی، د تحلل دوه قسمه دی، تحلل اصغر، کوم چه په دې حدیث کښې ذکر دې، دویم تحلل اکبر، اوس دلته کښې دوه څیزونه دی، یو دا چه تحلل اصغر په کوم څیز سره حاصلیږی، او اکبر په څه سره حاصلیږی؟ دویمه خبره داده، چه د تحلل اصغر په مصداق کښې څومره څیزونه ددې، او د تحلل اکبر په مصداق کښې څومره شامل دی، تفصیل به انشاء الله تعالی د باب الرمی (بذل ص ۱۸۱ج ۳)په اخری حدیث اذا رمی احدکم جمرة العقبة فقد حل له کل شئ الا النساء لاندې راشی.

[۱۷٤٦]([3]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الصَّبَّاحِ الْبَزَّازُ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ زَكَرِيَّا، عَنِ الْحَسَنِ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنِ الْأَسْوَدِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى وَبِيصِ الْمِسْكِ فِي مَفْرِقِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ مُحْرِمٌ".

د حضرت عائشې رضی الله عنها نه روایت دې، فرمائی ګویا چه زهٔ د مشکو هغه چمک ته ګورم کوم چی به دَ رسول الله ﷺ دَ سر په لاره کښې لګیدلې وه په داسې حال کښې چه هغوی ﷺ به په احرام کښې وو.''

[1]) شیخین فرمائی اوګورئ په دې کښې د استعمال الطیب في البدن مذکور دې په في الثوب نه دې مذکور.
[2]) حضرت عائشه اګرچه تیره شوې واقعه بیانوی خود مضارع صیغې سره چه دحال د پاره دهٔ، دې ته حکایت د حال ماضیه وائی، تیره شوې واقعه داسې نقل کول چه ګویا دا فی الحال راپیښیږی د قوت استحضار ظاهرولو دپاره یا اظهار دمحبت دپاره چه دا نقشه زما په ستر ګو کښې اوګرځیده.
[3]): صحیح مسلم/الحج ۷(۱۱۹۰)، سنن النسائي/الحج ٤١(٢٦٩٤)،(تحفة الأشراف: ١٥٩٢٥)، وقد أخرجه: مسند احمد(٣٨/٦،١٨٦،٢١٢،١٩١،٢٢٤،٢٢٨،٢٤٥)(صحيح)

بَابُ التَّلْبِيدِ

باب: ۱۱ - دَ احرام دپاره ویښتو لره په څهٔ څیز سره دَ جم کولو بیان

د احرام تړلو په وخت کښې د سر په ویښتو کښې د ګوند اوبهٔ یا ددې پشان څه بل څیز لګول، دې دپاره چه د احرام په حالت کښې ویښتهٔ خوارهٔ نه شی، ځکه چه سړې د احرام په حالت کښې خپل سر خو پټولې نشی، نو د کوم سړې چه سنړې وی، که هغه د احرام په وخت کښې د ویښتو راټولو دپاره څه تدبیر اونه کړی، نو ظاهره خبره ده، چه هغه به خوارهٔ وی،(دې ته تلبید وئیلې شی)

د شافعیه او حنابله په نزد تلبید مطلقا جائز دې، او د احنافو او مالکیه په نزد تلبید یسیر جائز دې، چه په هغې سره تغطیه راس لازم رانشی(جزء الحج)

[۱۷۴۷](١) حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ الْمَهْرِيُّ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي يُونُسُ، عَنْ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ سَالِمٍ يَعْنِي ابْنَ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: "سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُهِلُّ مُلَبِّدًا".

حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنهما بیان کوی چه ما رسول الله ﷺ نه واوریدل چه هغوی تلبیه وئیله، او هغوی دَ خپل سر ویښتهٔ جم(یوځائې کړې) وو.

[۱۷۴۸](٢) حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْأَعْلَى، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْحَاقَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنْ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "لَبَّدَ رَأْسَهُ بِالْعَسَلِ".

حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنهما بیان کوی چه رسول الله ﷺ په عسل سره خپل ویښتهٔ جم کړې وو.

عن ابن عمر رضی الله عنهما ان رسول الله(صلی الله علیه وسلم) لبد راسه بالعسل:

شرح حدیث:

ددې نه مخکښې حدیث هم د ابن عمر رضی الله عنهما وو، په هغې کښې دا وو(یهل ملبدا) د صحیحین الفاظ هم دادی، لیکن په دې دویم روایت کښې لبد راسه بالعسل دې، په دې کښې اشکال دادې، چه شهدو لره خو مچ راځی، ددې جواب بعضې شارحینو دا ورکړې دې، چه د نبی کریم ﷺ په خصائصو کښې یو خصوصیت دادې، لا ینزل علیه ذباب چه(په نبی کریم ﷺ به مچ نه کیناستلو) او بعضې شارحین دا وائی، چه دا لفظ عسل عین مهمله سره نه دې، بلکه غسل بکسر المعجمه و سکون السین دې، غسل وئیلې شی، خطمی وغیره ته، چه هغې سره د سر ویښتهٔ وینځلې شی، حضرت سهارنپوری رحمه الله فرمائې: که لفظ غسل بالغین المعجمه دې، نو بیا خو هیڅ اشکال نشته، او که بالعسل دې، نو بیا به دا وئیلې شی، چه ددې نه مراد معروف معنی یعنی شهد نه دی، بلکه د عسل معنی صَمْغ الغرفط هم راځی، چه یو قسم

---

(١): صحیح البخاري/الحج ۱۹(۱۵۴۰)، واللباس ۶۹(۵۹۱۴)، صحیح مسلم/الحج ۳(۱۱۸۴)، سنن النسائي/المناسك ۴۰(۲۶۸۴)، سنن ابن ماجه/المناسك ۷۲(۳۰۴۷)،(تحفة الأشراف: ۶۹۷۶)، وقد أخرجه: مسند احمد(۱۲۱/۲، ۱۳۱)(صحیح)

(٢): تفرد به أبو داود،(تحفة الأشراف: ۸۴۱۴)(ضعیف)

ګوند وی، (کما فی القاموس) او شهد مراد اخستلو په صورت کښې شارحینو چه کوم جواب ورکړې دې، چه نبی کریم ﷺ د مچ د نزول نه محفوظ وو، داکه په خپل مقام کښې صحیح وی، لیکن فی نفسه په ویښتو کښې شهد لګول، چه په هغې کښې خوږوالې او سلیخ وی، د نظیف او لطیف الطبع سړی نا خوښه وی، او د نبی کریم ﷺ نه زیات څوک لطیف او نظیف کیدې ش، (بذل المجهود)

بَابٌ فِي الْهَدْيِ[1]

باب: ۱۲-د "قربانۍ" بیان

د هدی تعریف:

ما یهدی الی الحرم لیتقرب به فیه:

یعنی هغه مخصوص څاروې چه هغې لره محرم بالحج یا محرم بالعمره د قربانۍ په نیت سره حرم ته بوځی، [2] د الله تعالی تقرب حاصلولو دپاره، احنافو په نزد سوق هدی ډیر زیات اهمیت لرې، حتی چه دا څیز د هغوی په نزد د تلبیه قائم مقام کیږی.

[۱۷۴۹] ([3]) حَدَّثَنَا النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلَمَةَ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْحَاقَ. ح وحَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمِنْهَالِ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ، عَنِ ابْنِ إِسْحَاقَ الْمَعْنَى، قَالَ: قَالَ عَبْدُ اللَّهِ يَعْنِي ابْنَ أَبِي نَجِيحٍ، حَدَّثَنِي مُجَاهِدٌ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "أَهْدَى عَامَ الْحُدَيْبِيَةِ فِي هَدَايَا رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَمَلًا كَانَ لِأَبِي جَهْلٍ فِي رَأْسِهِ بُرَةٌ فِضَّةٍ"، قَالَ ابْنُ مِنْهَالٍ: "بُرَةٌ مِنْ ذَهَبٍ"، زَادَ النُّفَيْلِيُّ: "يَغِيظُ بِذَلِكَ الْمُشْرِكِينَ".

د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما نه مروی دی چه رسول الله ﷺ د صلح حدیبیه په کال باندې د قربانۍ څاروې (دَ ځان سره) لیږلي وو - په دې قربانو کښې یو اوښ هغه هم وو کوم چه دَ ابوجهل وو ...... دَ هغې په پوزه کښې دَ چاندۍ واګې وو ...... ابن منهال وائی: چه دَ سرو زرو واګې وو - نفیلی اضافه کړې ده چه حضور ﷺ دې لره دَ مشرکینو دَ سوزیدلو دَ پاره بوتلې وه -(چه دَ هغوی دَ سردار اوښ دَ محمد ﷺ په قبضه کښې دې -)

تشریح: قوله: عن ابن عباس ان رسول الله(صلی الله علیه وسلم) اهدی عام الحدیبیة فی هدایا رسول الله(صلی الله علیه وسلم) جملاکان لابی جهل:

فی هدایا رسول الله(صلی الله علیه وسلم) : د وضع المظهر موضع المضمر د قبیلې نه دې، د قیاس تقاضه دا وه، فی هدایاه، ددې حدیث تعلق د عمرة الحدیبیه سره دې، چه په هغې کښې احصار واقع شوې وو، چه دهغې قصه مشهوره ده، په دې سفر کښې چه د نبی کریم ﷺ سره کوم د هدی څاروی وو، په هغې کښې د ابوجهل اوښ هم وو، یغیظ بذلک المشرکین،

---

[1]) هديٌ هديٌّ، دواړه لغت دی سکون دال او په تخفیف د یاء، وهو الأصح، او په کسره د دال وتشدید یاء، د اول مفرد هَدْيَةٌ لکه جَدْيٌ وجَدْيَةٌ، اود ثانی هَدِيَّةٌ لکه مطيٌّ ومطيّةٌ.

[2]) د مالکیه په نزد په هدی کښې جمع بین الحَل والحرم هم ضروری دې یعنی چه دحل نه حرم ته پوړلې شی بیا د حرم نه عرفه ته ، ولیس بواجب عند الجمهور.اوجز.

[3]): تفرد به أبو داود،(تحفة الأشراف: ٦٤٠٦)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/المناسك ٩٨(٣١٠٠) مسند احمد(١/٢٦١، ٢٧٣)(حسن) بلفظ: «فضة»

يعنى دغه اوښ نبى كريم ﷺ قصدا ددې وجې نه حلال كړو، چه كافرانو ته په دې باندې تكليف اورسى، او هغوى اوسوزى، كما فى قوله تعالى: ليغيظ بهم الكفار:
د ابو جهل اوښ څومره خوش قسمته وو، چه د حضور ﷺ په عمره مباركه كښې په كار راغلو، ملا على قارى رحمه الله ډيره مزيداره خبره فرمائيلې ده:
خاتمة جمله اجمله منه، د ابوجهل د اوښ خاتمه خپله د ابوجهل د خاتمې نه ډيره بهتره وه.
تنبيه : د ترمذى شريف ص ۱۰۱ (باب ما جاء كم حج النبى(صلى الله على وسلم) په روايت كښې من حديث جابر رضي الله عنه دادى، چه دا اوښ نبى كريم ﷺ سره په حجة الوداع كښې وو، محدثينو د ابوداؤد دې حديث ته ترجيح وركړې ده، د ترمذى په روايت باندې خپله امام ترمذى كلام فرمائيلې دې، او د امام بخارى رحمه الله نه ئې نقل كړې دى، چه دا حديث باين سند محفوظ نه دې، په كوكب كښې هم دادى، چه حديث ترمذى صحيح نه دې، منقول دى، چه دا اوښ د جنګ بدر په غنيمت كښې حاصل شوې وو، او دا اوښ د حديبئې نه مكې مكرمې ته تښتيدلې وو، د حضور ﷺ جمال هغه لره د هلته نه واپس راوستو، (تاريخ خميس)
برة من فضة: په يو روايت كښې دادى، چه ددۀ په پوزه كښې د چاندئ يوه كړى (پيزوان) وه، په دويم روايت كښې دادى، چه د سرو زرو وه، ملا على قارى رحمه الله فرمائي چه ممكن ده يو طرف ته د سرو زرو وه، او بل طرف ته د چاندئ وه، (بذل)

بَابٌ فِي هَدْيِ الْبَقَرِ

باب: ۱۳- دغوا ميښې قربانى

[۱۷۵۰](1) حَدَّثَنَا ابْنُ السَّرْحِ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي يُونُسُ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ عَمْرَةَ بِنْتِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "نَحَرَ عَنْ آلِ مُحَمَّدٍ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ بَقَرَةً وَاحِدَةً".

د حضرت عائشې رضي الله عنها نه روايت دې چه رسول الله ﷺ په حجة الوداع كښې د آل محمد د طرف نه يوه غوا ذبح كړې وه-
تشريح: قوله: عن عائشة ان رسول الله(صلى الله عليه وسلم) نحر عن آل محمد(صلى الله على وسلم) فى حجة الوداع بقرة واحدة. او ددې نه روستنې حديث چه د حضرت ابوهريره رضي الله عنه دې، دادې (عمن اعتمر من نسائه بقرةواحدة)

د ازواج تسعه د طرف نه د بقرهٔ واحده قربانى څرنګه صحيح شوه:

دحجة الوداع په موقع د نبى كريم ﷺ سره ټولې ازواج مطهراتې وې، او ټولې متمتعاتې (يعنى حج تمتع كونكې) وې، په ټولو باندې هدى متعه واجبه وه، ليكن حضرت عائشه رضي الله عنها ته مكې مكرمې ته رسيدلو نه لږ شان مخكښې حيض راتلل شروع شو، چه دهغې وجې نه هغې عمره اونه كړې شوه، بهرحال د هغې د طرف نه هم دم وركول وو، د فسخ د عمرې د

---

(1): سنن ابن ماجه/الأضاحي ٥(٣١٣٥)، (تحفة الأشراف: ١٧٩٢٤)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الحج ١١٥(١٧٠٩)، والأضاحي ٣(٥٥٤٨)، صحيح مسلم/الحج ٦٢(١٣١٩)، موطا امام مالك/الحج ٥٨(١٧٩)، مسند احمد(٢٤٨/٦)(صحيح)

وجې نه،(۱) لهذا یوه بقرة خو د ټولو د طرف نه کافی کیدې نشی؟
د صحیح بخاری په حدیث کښې صرف لفظ د البقر وارد دې،(بغیر د تاء نه) او د واحده قید هم نشته، او دلته په ابوداؤد کښې د بقرة واحدة تصریح ده، دغه شان په نسائی کښې هم، ددې وجې نه اشکال پیدا کیږی، چه بقرة واحده د ازواج تسعه د طرف نه څرنګه کافی کیدې شی؟ دا خو صرف د ابن حزم مسلک دې، چه څرنګه بدنه د لسو کسانو د طرف نه کافی ده(عند البعض) بقره هم کافی ده، لکه هغوی د خپل مسلک تائید په دې حدیث سره کړې دې، د حافظ ابن حجر او علامه عینی رحمه الله په کلام کښې ما ددې اشکال جواب تلاش کړو، لیکن ملاؤ نشو، په اصل کښې په بخاری کښې ددې سلسلې ډیر روایات هم نشته، هسې د حافظ ابن حجر میلان وحدة بقره طرف ته دې، حالانکه په دې کښې اشکال دې، لیکن ددې باوجود حافظ دې طرف ته التفات نه دې کړې، او علامه زرقانی په دې باندې ډیر لیکل کړې دی،(کمافی الاوجز) زمونږ حضرت شیخ هم په دې باندې خپل تصانیف (اوجز، جزء الحج، لامع) کښې ښۀ په دلچسپۍ سره کلام فرمائیلې دې، لیکن د نسائی او مسلم په روایتونو سره دا اشکال ختمیږی، ځکه چه د مسلم په یو روایت کښې من حدیث جابر دادی، ذبح رسول الله(صلی الله علیه وسلم) عن عائشة بقرة دې سره اشکال حل شو، هغه داسې چه اوس کم از کم دوه بقرې شوې، د اووۀ د طرف نه خو یوه شوه، او دویمه چه د حضرت عائشې رضی الله عنها دپاره وه، په هغې کښې اصل خو به عائشه رضی الله عنها وی، باقی یو بله به هم په هغې کښې شامله شوې وی، د حضرت شیخ رحمه الله رائې داده، چه غالبا حضرت سوده رضی الله عنها به ئې شریکه کړې وی، د حضرت سودې رضی الله عنها د حضرت عائشې رضی الله عنها سره یو خصوصیت وو، ځکه چه هغې حضرت عائشې رضی الله عنها ته خپل نمبر ورکړې وو(لکه چه په روایاتو کښې مشهور دی) او د نسائی په یو روایت کښې داسې دی، عن عائشة رضی الله عنها قالت ذبح رسول الله(صلی الله علیه وسلم) عنا یوم حججنا بقرة بقرة، ددې نه معلومیږی، چه نبی کریم ﷺ د ټولو ازواج مطهرات د طرف نه یوه یوه بقرة ذبح کړې وه، اګر چه حافظ ابن حجر دې روایت لره شاذ لیکلې دې، لیکن علامه زرقانی په دې باندې رد کړې دې، او علامه انور شاه کشمیری رحمه الله دا فرمائي، چه د بخاری په روایت کښې خو بقرة(تاء وحدت سره) شته هم نه، او نه پکښې د واحدة تصریح شته، او په کومو روایاتو کښې چه د واحدة تصریح ده، دهغې نه مراد دا نه دی، چه د ټولو ازواج د طرف نه یوه بقرة ذبح کړې وه، بلکه تعدد طرف ته اشاره ده، چه یوه غوا ئې د څو ازواجو د طرف نه قربانی کړې.(۲)

---

(۱) دعائشې داحرام مسئله ډیره معرکة الآراء او مختلف فیه ده، ددې بیان انشاء الله روسته په باب فی افراد الحج کښې راروان دی.
(۲) ابن قیم فرمائی که حضورپاک ﷺ د بیبیانو د طرفه د یو بقره نه زیات قربانی کړې وی بیا خو هیڅ اشکال نشته اوکه یوه ئې کړې وی نو بیا په دې کښې دلیل دې د اسحاق بن راهویه: وهو روایة عن احمد ان البدنة تجزيء عن عشرة. اه. (عون وفیه ما فیه). ځکه چه د اسحاق په نزد دادی: بقرة عن سبعة وبدنة عن عشرة لحدیث ابن عباس عند الترمذي فاشترکنا في البقرة سبعة وفي البعیر عشرة. والله أعلم.

[۱۷۵۱]() حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عُثْمَانَ، وَمُحَمَّدُ بْنُ مِهْرَانَ الرَّازِيُّ، قَالَا: حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ، عَنْ الْأَوْزَاعِيِّ، عَنْ يَحْيَى، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "ذَبَحَ عَمَّنْ اعْتَمَرَ مِنْ نِسَائِهِ بَقَرَةً بَيْنَهُنَّ".

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ د خپلو بيبيانو د طرف نه، کومو چه عمره کړې وه، يوه غوا ذبح کړې وه."

بَاب فِي الْإِشْعَارِ

باب: ۱٤- د قربانۍ د اوښانو اشعار کول.

د اشعار لغوی او اصطلاحی معنی

د اشعار لغوی معنی اعلام ده، (علامت جوړول) شعار بمعنی علامت، او اصطلاحی معنی ئې داده، د هدی د اوښ په قب باندې په نيزې وغيره سره زخم جوړول، او د هغې په وينې سره قب رنګين کول، دې دپاره چه ليدونکو ته معلومه شي، چه دا هدی ده، چه د ورکيدو په صورت کښې، يا د اختلاط په وخت کښې اوپيژندلې شي، او فقيران هم پوهه شي، چه دا هدی ده، که د هلاک کيدو د ويرې په وخت کښې مالک هغه ذبح کړی، او هلته ئې پريږدی، نو فقيران هغې لره اوخوری، او علماؤ دا هم ليکلې دی، چه په دې کښې تعظيم دهدی هم دې، چه د حج او شريعت د شعار نه دې.

د اشعار باره کښې د امام صاحب رائې :

د هدی اشعار د صحيحينو بلکه د صحاح سته د روايات صحيحه نه ثابت دې، جمهور علماء، ائمه ثلثه او صاحبين ددې د سنتيت قائل دی، حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله ددې قائل نه دې، په هدايه کښې ليکلې دی، چه امام صاحب رحمه الله فرمائي چه دا مثله ده، او مثله منسوخ ده، او که نسخ مثلو کښې چاته شک وی، نو بيا به تعارض مثل ضروری وی، لهذا ترجيح به محرم ته په مبيح باندې ورکولې شي.

د امام اعظم رحمه الله په مسلک باندې دوه اشکالات او دهغې جوابات

په دې باندې دوه اشکاله شوې دی:

(۱) يو دا چه هر زخم مثله نه وی، مثله هغه زخم ته وئيلې وی، چه په هغې کښې تشويه خلقة(يعنی شکل خرابول) وی، لکه پوزه يا غوږ پريکول، او اشعار خو د حجامت، اختتان، فصد وغيره د قبيلې نه دې،

(۲) دويم اشکال داچه د مثلې حرمت د هجرت په اول کښې شوې وو، (يعنی د غزوه احد پس) او اشعار د نبی کريم ﷺ نه د هجرت په اخر کښې ثابت دې، د جمهورو دا دواړه اشکالات قوی دی، ([2])

شيخ ابن الهمام په دې کښې د امام طحاوی رحمه الله رائې اختيار کړې ده، هغه داچه امام

---

[1]): سنن ابن ماجه/الأضاحي ٥(٣١٣٣)، سنن النسائي/الكبرى/الحج(٤١٢٨)،(تحفة الأشراف: ١٥٣٨٦)(صحيح)

[2]) حافظ فرمائی ابن حزم په امام ابوحنيفه رحمه الله باندې سخت تنقيد کړې دې او دا چه د امام ابوحنيفه رحمه الله نه مخکښې هيچا داسې نه دی وئيلې، حافظ فرمائی داسې نه ده بلکه ابراهيم نخعی هم به دا مکروه ګنړلو. کما نقل الترمذي في جامعه.

صاحب رحمه الله مطلقا اشعار لره ممنوع نه فرمائيلو، انما كره اشعار اهل زمانه، يعني عجمو ته د اشعار صحيح طريقه نه راتله، هغوی به په دې کښې مبالغه کوله، چه هغې سره به څاروی ته تکليف رسيدو، او دهغه د هلاکيدو خطره به وه، اصل خبره خو داوه، ليکن ممکن ده، چه سدا للباب و ردعا للعوام على الاطلاق ئې دا منع فرمائيلې وی، چه صرف د يو امر مستحب په تحصيل کښې ارتکاب محظور اوکړې شی، حافظ ابن حجر رحمه الله ته دې الله تعالى جزاء خير ورکړی، هغه د ابن الهمام د رائې ليکلو نه پس فرمائي ويتعين الرجوع الى ما قال الطحاوی فانه اعلم من غيره باقوال الصحابة، اهـ

[۱۷۵۲] (۱) حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ الطَّيَالِسِيُّ، وَحَفْصُ بْنُ عُمَرَ الْمَعْنَى، قَالَا: حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ قَتَادَةَ، قَالَ أَبُو الْوَلِيدِ: قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا حَسَّانَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "صَلَّى الظُّهْرَ بِذِي الْحُلَيْفَةِ ثُمَّ دَعَا بِبَدَنَتِهِ فَأَشْعَرَهَا مِنْ صَفْحَةِ سَنَامِهَا الْأَيْمَنِ ثُمَّ سَلَتَ عَنْهَا الدَّمَ وَقَلَّدَهَا بِنَعْلَيْنِ ثُمَّ أُتِيَ بِرَاحِلَتِهِ فَلَمَّا قَعَدَ عَلَيْهَا وَاسْتَوَتْ بِهِ عَلَى الْبَيْدَاءِ أَهَلَّ بِالْحَجِّ".

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دې چه رسول الله ﷺ د ماسپخين مونځ د ذوالحليفه په مقام کښې اوکړو - بيا هغوی دَ خپلې قربانۍ اوښه طلب اوفرمائيله او دَ هغې دَ قُب په ښی جانب ئې اشعار اوکړو (يعنی هغه ئې لږ غوندې زخمی کړو) او دَ هغې نه ئې وينه راويستله، بيا دَ هغوی ﷺ سورلی راوستلې شوه - کله چه حضور ﷺ په هغې باندې کيناستو او هغې رسول الله ﷺ لره بيوړو او بيداء مقام ته اورسيدل نو هغوی دَ حج تلبيه اووئيله -

تشريح: قوله: عن ابن عباس رضي الله عنهما......... ثم دعا ببدنه فاشعرها من صفحة سنامها الايمن.

د اشعار په باره کښې نور اختلاف:

د اشعار په باره کښې دوه مسئلې نورې هم د ذکر قابلې دی، (۱) يو داچه اشعار د ابل سره خاص دې، يا به د غير ابل هم کولې شی، دويمه دا چه محل اشعار د سنام (قب) جانب ايمن دې، او که جانب ايسر؟

امام شافعی رحمه الله او امام احمد رحمه الله فرمائي چه اشعار به ابل او بقر دواړو کښې کولې شی، مطلقا، او د امام مالک په ابل کښې دوه اقوال دی، راجح دادې، چه په ابل کښې خو مطلقا دې، او په بقر کښې دهغوی درې روايتونه دی، (۱) مطلقا اثبات، (۲) مطلقا نفی، (۳) کوم بقر چه ذات سنام (قب والا) وی، دهغه به اشعار کولې شی، او کوم چه نه وی، دهغه به اشعار نه شی کولې، (هامش کوکب)

او په مسئله ثانيه کښې هم اختلاف دې، هغه داچه د امام شافعی رحمه الله په نزد جانب ايمن اولی دې، او د امام مالک رحمه الله په نزد جانب ايسر اولی دې، او دا د احنافو په نزد هم دې، د امام احمد رحمه الله نه دواړه روايتونه نقل دی، (هامش کوکب ص ۲۹۰) د ابن عباس رضي الله عنهما په روايت

(۱): صحيح مسلم/الحج ۳۲(۱۲۴۳)، سنن الترمذي/الحج ۶۷(۹۰۶)، سنن النسائي/الحج ۶۴(۲۷۷۶)، ۶۷(۲۷۸۴)، ۷۰(۲۷۹۳)، سنن ابن ماجه/المناسك ۹۶(۳۰۹۷)، (تحفة الأشراف: ۶۴۵۹)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الحج ۲۳(۱۵۴۹)، مسند احمد(۱/۲۱۶، ۲۵۴، ۲۸۰، ۳۳۹، ۳۴۴، ۳۴۷، ۳۷۳)، سنن الدارمي/المناسك ۶۸(۱۹۵۳) (صحيح)

کښې الایمن مذکور دی، دغه شان په مسلم کښې دی،([1]) لیکن د ابن عمر رضی الله عنه عمل لکه چه په موطا امام مالک رحمه الله کښې دی، جانب ایسر وو، او د بیهقی په روایت کښې دادی، چه ابن عمر رضی الله عنه به اشعار په جانب ایسر کښې کولو، او که په څه وجه به په دې کښې مشکل وو، نو بیا به ئې په ایمن کښې کولو،(فتح الباری)

قوله: ثم سلت عنها الدم: د سلت معنی اوچول او صفا کول دی، لیکن دلته کښې مراد مږل دی، دې دپاره چه ټول قب رنګین شی، ګنی اوچولو او صفا کولو سره خو مقصد نه حاصلیږی.(کوکب)

قوله: فلما قعد علیها واستوت به علی البیداء اهل بالحج، سورلئ باندې سوریدو نه پس چه کله نبی کریم ﷺ بیداء ډیرئ ته اورسیدو، نو د حج احرام ئې اوتړو، د احرام تحقق تلبیئ سره کیږی، په دې کښې روایات حدیثیه هم مختلف دی، او ائمه فقه هم، چه احرام څه وخت تړل پکار دی، ددې دپاره مخکښې یو مستقل باب راروان دې، باب وقت الاحرام په دې باندې به کلام انشاء الله هم هلته کښې راشی،

قوله: عن عائشة رضی الله عنها ان رسول الله (صلی الله علیه وسلم) اهدی غنما مقلدة :

په تقلید غنم کښې اختلاف:

په دې حدیث کښې د تقلید غنم مسئله ذکر ده، تقلید د اشعار پشان یو خیز دې، د دواړو غرض یو دې،(د هدی کیدو علامت لګول) تقلید د نعلینو هم وی، او د صوف هم، یعنی د مالوچو امیل جوړول، او د بزې په غاړه کښې اچول، مصنف صرف د اشعار باب قائم کړې دې، د تقلید([2]) هیڅ باب ئې نه دې قائم کړې، حالانکه امام بخاری رحمه الله او نورو صحاح والو ددې متعدد ابواب قائم کړې دی، او د تقلید الغنم مستقل باب ئې تړلې دې، لیکن د تقلید غنم مسئله د فقهاؤ په مینځ کښې اختلافی ده، حضرت امام شافعی او احمد □ ددې قائل دی، او امام اعظم او امام مالک □ ددې قائل نه دی، حالانکه په صحیحینو بلکه صحاح سته کښې د تقلید غنم روایات موجود دی، علامه سندهی هم په حاشیه د نسائی کښې اشکال کړې دې، چه هرکله تقلید غنم د صحیح حدیث نه ثابت دې، نو ددې د انکار هیڅ وجه نشته، زۀ وایم، د بعضې محدثینو، چه په هغوی کښې ابن عبد البر جلیل القدر محدث هم شامل دې، ددې باره کښې انشراح نشته، بلکه هغوی خو دا وائی، چه د نبی کریم ﷺ نه ابداء غنم هم ثابت نه دې،(چرته ددې تقلید) علامه سرخسی وائی، چه اثر داسود(په کوم کښې چه تقلید غنم مذکور دې) شاذ دې، اسود په دې سره متفرد دې، حافظ چه په فتح الباری کښې په دې سلسله کښې کوم اعتراضات کړې دی،علامه عینی رحمه الله دهغې جوابات ورکړې دی، په بذل المجهود کښې ټول ذکر دی.

[1] ولیس في البخاري ذکر الایمن اوالایسر.
[2] تقلید یعنی قلاده (امیل) اچول.

[۱۷۵۳]() حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ شُعْبَةَ، بِهَذَا الْحَدِيثِ بِمَعْنَى أَبِي الْوَلِيدِ، قَالَ: "ثُمَّ سَلَتَ الدَّمَ بِيَدِهِ". قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ هَمَّامٌ، قَالَ: "سَلَتَ الدَّمَ عَنْهَا بِأُصْبُعِهِ". قَالَ أَبُو دَاوُد: هَذَا مِنْ سُنَنِ أَهْلِ الْبَصْرَةِ الَّذِي تَفَرَّدُوا بِهِ.

شعبه دي حديث لره د ابو الوليد هم معنى روايت کړې دې، فرمائي چه بيا هغوی وينه په خپل لاس سره اوبهوله - امام ابوداود رحمه الله فرمائي : د همام په روايت کښې دی چه هغوی د هغې په خپلې ګوتې سره وينه راويسته -امام ابوداود رحمه الله فرمائي چه دا روايت د اهل بصره د تفرداتو نه دې -

[۱۷۵٤]() حَدَّثَنَا عَبْدُ الْأَعْلَى بْنُ حَمَّادٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ الْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ، وَمَرْوَانَ بْنِ الْحَكَمِ، أَنَّهُمَا قَالَا: "خَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ الْحُدَيْبِيَةِ فَلَمَّا كَانَ بِذِي الْحُلَيْفَةِ قَلَّدَ الْهَدْيَ وَأَشْعَرَهُ وَأَحْرَمَ".

مسور بن مخرمه او مروان(بن حکم) بيان کوی چه د حديبيه په کال باندې رسول الله ﷺ اووتلو کله چه هغوی ﷺ د ذوالحليفې مقام ته اورسيدل نو هغوی ﷺ قربانۍ ته قلاده واچوله، د هغې اشعار ئې اوکړو او احرام ئې اوتړلو -

[۱۷۵۵]() حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ مَنْصُورٍ، وَالْأَعْمَشِ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ الْأَسْوَدِ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "أَهْدَى غَنَمًا مُقَلَّدَةً".

حضرت عائشه رضي الله عنها بيان کوی چه رسول الله ﷺ بکرو(چيلو) لره په طور د هديې(حرم طرف ته) اوليږلې او د هغې په څټونو کښې ئې قلادې واچولې -

بَابُ تَبْدِيلِ الْهَدْيِ

باب: ۱۵ - د قربانۍ د څاروی تبديل کول څنګه وی؟

په کتب احناف کښې دا ليکلې دی، چه د هدی واجب بدلون جائز دې، او د هدی تطوع بدلون جائز نه دې، ځکه چه دهدی واجب تعلق خو د سړی په ذمه دې، چه بهرحال هغه باندې ورکول دی، او هدی تطوع په شراء يا په نيت کولو سره متعين کيږی، ددې وجې نه ددې بدلون جائز نه دې.

[۱۷۵٦]() حَدَّثَنَا النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي عَبْدِ الرَّحِيمِ قَالَ أَبُو دَاوُد: أَبُو عَبْدِ الرَّحِيمِ خَالِدُ بْنُ أَبِي يَزِيدَ خَالُ مُحَمَّدِ بْنِ سَلَمَةَ رَوَى عَنْهُ حَجَّاجُ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنْ جَهْمِ بْنِ الْجَارُودِ، عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: أَهْدَى عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ نَجِيبًا فَأُعْطِيَ بِهَا ثَلَاثَ مِائَةِ دِينَارٍ، فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ

---

[1]): انظر ما قبله،(تحفة الأشراف: ٦٤٥٩)(صحيح)

[2]): صحيح البخاري/الحج ١٠٦(١٦٩٤)، والمغازي ٣٦(٤١٥٧، ٤١٥٨)، سنن النسائي/الحج ٦٢(٢٧٧٣)،(تحفة الأشراف: ١١٢٥٠)، وقد أخرجه: مسند احمد(٤/٣٢٣، ٣٢٧، ٣٢٨، ٣٣١)(صحيح)

[3]): صحيح البخاري/الحج ١٠٦(١٧٠١)، م /الحج ٦٤(١٣٢١)، سنن الترمذي/الحج ٧٠(٩٠٩)، سنن النسائي/الحج ٦٩(٢٧٨٩)، سنن ابن ماجه/المناسك ٩٥(٣٠٩٦)،(تحفة الأشراف: ١٥٩٤٤، ١٥٩٩٥)، وقد أخرجه: مسند احمد(٦/٤١، ٤٢، ٢٠٨)(صحيح)

[4]): تفرد به أبو داود،(تحفة الأشراف: ٦٧٤٨)، وقد أخرجه:(حم(٢/١٤٥)(ضعيف)

اللهِ، إِنِّي أَهْدَيْتُ نَجِيبًا فَأُعْطِيتُ بِهَا ثَلَاثَ مِائَةِ دِينَارٍ أَفَأَبِيعُهَا وَأَشْتَرِي بِثَمَنِهَا بُدْنًا، قَالَ: "لَا انْحَرْهَا إِيَّاهَا". قَالَ أَبُو دَاوُد: هَذَا لِأَنَّهُ كَانَ أَشْعَرَهَا.

د حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنه نه روایت دې چه حضرت عمر رضی الله عنه یو بختی اوښ لره په طور د هدی (حرم طرف ته) اولیږلو - هغوی رضی الله عنه ته ددې درې سوه دیناره پیش کړې شو ... نو هغوی د حضور ﷺ په خدمت کښې حاضر شو او تپوس ئې ترینه اوکړو: اې د الله رسوله! ما یو عمده اوښ هدیه کړې دې او ماته د هغې درې سوره دیناره راکولې شی نو آیا زهٔ دې لره خرڅ کړم او د هغې په قیمت باندې بل اوښ واخلم؟ حضور ﷺ اوفرمائیل: نهٔ - هم دې لره ذبح (قربانی) کړه - "امام ابوداود رحمه الله فرمائی دا ددې وجې نه وو چه د هغې ئې اشعار کړې وو-

تشریح: قوله: اهدی عمربن الخطاب رضی الله عنه بختیا فاعطی بها ثلث مائة دینار الخ

شرح حدیث:

د بختی جمع بخت راځی، او د مؤنث دپاره بختیه لفظ استعمالیږی، بختی اوښ هغه اوښ ته وئیلې شی، چه خالص عربی نه وی، بلکه د عربی او عجمی نسل د اختلاط نه پیدا شوې وی، دا بختنصر طرف ته منسوب دې، دې ته ابل خراسانی هم وئیلې شی، مضمون د حدیث دادې، چه حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه فرمائي چه یو ځل زما پلار حضرت عمر رضی الله عنه یو بختی او ډیر قیمتی اوښ په هدی کښې لیږلو (یا خپله ئې روان کړې وو) په لاره کښې چه کله خلقو هغه اولیدو، نو بعضې خلقو دهغې ډیر قیمت ورکولو سره اخستلو ته تیار شو، تردې پورې چه یو سړی دهغه درې سوه دیناره قیمت اولګوؤ، (حالانکه عام طور باندې یو اوښ تقریبا په پنځلس شل دیناره باندې ملاویږی) حضرت عمر رضی الله عنه د نبی کریم ﷺ نه تپوس اوکړو، چه که اجازت وی، نو زهٔ به دا خرڅ کړم، او ددې په قیمت به ډیر اوښان واخلم؟ نبی کریم ﷺ د داسې کولو نه منع اوفرمائیله، او وې فرمائیل، چه ددې نحر اوکړه، په ظاهر کښې دا اوښ به د هدی تطوع نه وو، لکه چه مونږ مخکښې مسئله بیان کړې ده، لیکن امام ابوداؤد ددې یوه بله وجه بیان کړې ده، هغه داچه لانه کان اشعرها، چه د دې اوښ اشعار شوې وو، دا د مصنف خپله رائې ده.

بَابُ مَنْ بَعَثَ بِهَدْيِهِ وَأَقَامَ

باب: ۱۶ - کوم کس چه هدی اولیږی او خپله لاړ نهٔ شی- (نو څهٔ حکم دې؟)

یعنی کوم سړې چه خپله حج ته نه ځی، بلکه نورو خلقو سره چه تلونکې وی، خپله هدی اولیږی، دې دپاره چه هغوی د دهٔ د طرف نه هغه هدی په حرم کښې ذبح کړی، په داسې کولو کښې هیڅ خرج نشته، بلکه مستحب دی، ډیر د ثواب کار دې، د نبی کریم ﷺ نه ثابت دی، نبی کریم ﷺ به کله کله داسې کول، دا خو صرف د فضیلت خبره شوه.

[۱۷۵۷](١) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ الْقَعْنَبِيُّ، حَدَّثَنَا أَفْلَحُ بْنُ حُمَيْدٍ، عَنِ الْقَاسِمِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "فَتَلْتُ قَلَائِدَ بُدْنِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدِي ثُمَّ أَشْعَرَهَا وَقَلَّدَهَا ثُمَّ بَعَثَ بِهَا إِلَى الْبَيْتِ وَأَقَامَ بِالْمَدِينَةِ فَمَا حَرُمَ عَلَيْهِ شَيْءٌ كَانَ لَهُ حِلًّا".

حضرت عائشه رضي الله عنها بيان كوی چه ما د رسول الله ﷺ د قربانئ د اوښ د هار رسئ په خپلو لاسونو سره اودلي دی، بيا هغوی ﷺ د هغې اشعار اوكړو او د هغې په ګردن كښې ئې قلاده واچوله، بيا ئې هغې لره بيت الله طرف ته روان كړو او خپله په مدينه كښې مقيم وو نو كوم څيزونه چه د هغوی د پاره حلال وو (هم هغه رنګ حلال پاتې شو) څۀ هم حرام نۀ شو -

[۱۷۵۸](٢) حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ خَالِدٍ الرَّمْلِيُّ الْهَمْدَانِيُّ، وَقُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، أَنَّ اللَّيْثَ بْنَ سَعْدٍ حَدَّثَهُمْ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ عُرْوَةَ، وَعَمْرَةَ بِنْتِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، أَنَّ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُهْدِي مِنَ الْمَدِينَةِ فَأَفْتِلُ قَلَائِدَ هَدْيِهِ ثُمَّ لَا يَجْتَنِبُ شَيْئًا مِمَّا يَجْتَنِبُ الْمُحْرِمُ".

حضرت عائشه رضي الله عنها بيان كوی چه رسول الله ﷺ به د مدينې نه هدی ليږله، ما به د هغې د قلادو رسئ اودل او بيا به هغوی د هيڅ څيز نه اجتناب نۀ كولو، د كومو نه چه محرم اجتناب او پرهيز كوی -"

[۱۷۵۹](٣) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ الْمُفَضَّلِ، حَدَّثَنَا ابْنُ عَوْنٍ، عَنِ الْقَاسِمِ بْنِ مُحَمَّدٍ، وَعَنْ إِبْرَاهِيمَ، زَعَمَ أَنَّهُ سَمِعَهُ مِنْهُمَا جَمِيعًا وَلَمْ يَحْفَظْ حَدِيثَ هَذَا مِنْ حَدِيثِ هَذَا وَلَا حَدِيثَ هَذَا مِنْ حَدِيثِ هَذَا، قَالَا: قَالَتْ أُمُّ الْمُؤْمِنِينَ: "بَعَثَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْهَدْيِ، فَأَنَا فَتَلْتُ قَلَائِدَهَا بِيَدِي مِنْ عِهْنٍ كَانَ عِنْدَنَا ثُمَّ أَصْبَحَ فِينَا حَلَالًا يَأْتِي مَا يَأْتِي الرَّجُلُ مِنْ أَهْلِهِ".

ام المؤمنين حضرت عائشه رضي الله عنها بيان كوی چه رسول الله ﷺ هدی اوليږله او ما د وړئ نه كومه چه زما سره وه، د هغې د قلادو رسئ جوړې كړې، بيا هغوی زما سره هم هغه شان حلال وو - خپل اهل ته به راتلو لكه څنګه چه څوک عام سړی خپل اهل ته راتلل كوی -

په مسئله مترجم بها كښې اختلاف:

دويمه خبره دلته كښې فقهی مسئله ده، هغه داچه دا ليږونكې دې ليږلو سره د محرم په حكم كښې كيږی، او كه نه؟ جمهور علماء او ائمه اربعه فرمائي چه محرم كيږی نه، لكه چه په حديث الباب كښې حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائي، په دې كښې د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما اختلاف دې، دهغوی په نزد ليږونكې د محرم په حكم كښې كيږی، او د محظورات احرام

١): صحيح البخاري/الحج ١٠٦(١٦٩٦)، ١٠٧(١٦٩٨)، ١٠٨(١٦٩٩)، ١٠٩(١٧٠٠)، ١١٠(١٧٠١)، والوكالة ١٤(٢٣١٧)، والأضاحي ١٥(٥٥٦٦)، صحيح مسلم/الحج ٦٤(١٣٢١)، سنن النسائي/الحج ٦٢(٢٧٧٤)، ٦٨(٢٧٨٥)، سنن ابن ماجه/المناسك ٩٤(٣٠٩٤)، ٩٦(٣٠٩٨)، وانظر أيضا حديث رقم :(١٧٥٥)،(تحفة الأشراف: ١٧٤٣٣)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الحج ٦٩(٩٠٨)، موطا امام مالك/الحج ١٥(٥١)، مسند احمد(٣٥/٦، ٣٦، ٧٨، ٨٥، ٩١، ١٠٢، ١٢٧، ١٧٤، ١٨٠، ١٨٥، ١٩١، ٢٠٠)(صحيح)

٢): صحيح البخاري/الحج(١٦٩٨)، صحيح مسلم/الحج ٦٤(١٣٢١)، سنن النسائي/الحج ٦٥(٢٧٧٧)، سنن ابن ماجه/الحج ٩٤(٣٠٩٤)،(تحفة الأشراف: ١٦٥٨٢، ١٧٩٢٣)، وقد أخرجه:(٦٢/٦)(صحيح)

٣): صحيح البخاري/الحج(١٧٠٥)، صحيح مسلم/الحج ٦٤(١٣٢١)، سنن النسائي/الحج ٦٥(٢٧٧٨)،(تحفة الأشراف: ١٥٩١٨، ١٧٤٦٦)(صحيح)

نه د هغه دپاره بچ کیدل واجب شو، او تر څو پورې چه دا هدی هلته کښې رسیدلې او ذبح کړې شوې نه وی، دا سړې به نه حلالیږی، حضرت عائشه رضی الله عنها په حدیث الباب کښې په دې باندې رد فرمائي، فما حرم علیه شئ کان له حلالا، ددې تفصیل او تشریح د بخاری شریف په روایت کښې موجود ده، بهرحال چه کومه مسئله حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائي هغه متفق علیه بین الائمه ده.

یوه بله اختلافی مسئله :

دا مسئله خو دهغې سړې باره کښې وه، چه خپله حج یا عمرې دپاره نه ځی، دلته کښې یوه مسئله بله ده، چه د کوم سړی د نسک (حج یا عمرې) اراده ده، او خپل ځان سره د هدی لیږلو هم اراده ده، نو هغه د خپلې هدی تقلید اوکړو، اوسه پورې هغه نه خو تلبیه وئیلې ده، کومه چه د احرام دپاره وئیلې شی، او نه اوسه پورې ئې هدی روانه کړې ده، نو په دې صورت کښې اکثر علماء و منهم الائمه الثلثة (ابوحنیفه، مالک، شافعی) په نزد صرف په تقلید د هدی سره محرم کیږی نه، تر څو پورې چه د نسک په ارادې سره تقلید او سوق د هدی[1] اونه کړی، او د امام احمد او اسحق بن راهویه په نزد حج ته تلونکې سړې صرف د تقلید د هدی سره محرم کیږی، دا دواړه مسئلې د ځان ځانله پوهیدلو دی.

تنبیه : د حدیث الباب تعلق د مسئله اولی سره دې، چه په هغې کښې د ائمه اربعه هیڅ اختلاف نشته، صرف د ابن عباس رضی الله عنهما اختلاف دې، چه په هغې کښې حضرت عائشه رضی الله عنها رد کوی، حضرت اقدس سهارنپوری رحمه الله په بذل المجهود کښې د شرح حدیث په ذیل کښې هم دا تحریر فرمائیلې دی، چه د عائشې رضی الله عنها مقصود په حضرت ابن عباس رضی الله عنهما باندې رد کول دی، لیکن بیا وروستو ئې چه د هدائې کوم عبارت نقل کړې دې، دهغې تعلق د مسئلې ثانیه سره دې، په هغې کښې ائمه ثلثه خو یو طرف ته دی، او امام احمد او اسحق بن راهویه بل طرف ته، والله اعلم، نبه علی هذا شیخنا فی حاشیة البذل.

ددې باب دواړه احادیث متفق علیه دی، شیخینو ددې تخریج کړې دې، دغه شان نسائی او ابن ماجه صرف د اول تخریج کړې دې، (عون عن المنذری)

بَابٌ فِي رُكُوبِ الْبُدْنِ

باب: ۱۷ - دَ قربانۍ په اوښ باندې سورلی کول

بدن په ضم دال او سکون دال دواړو سره وئیلې کیږی، ددې واحد بدنه دې، بدنه د بعضو په نزد ابل سره خاص دې، او بعضې وائی، په اصل کښې خو ابل دې، لیکن ددې اطلاق په بقر باندې هم کیږی، او زیات تر ددې استعمال د هدی په څاروی باندې کیږی. (قسطلانی)

[1]) یعنی د دریو څیزونو د موجود کیدو نه پس به محرم وی، اراده نسک، تقلید هدي، توجه مع الهدي یعني سوق الهدي.

[۱۷۶۰](١) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ أَبِي الزِّنَادِ، عَنِ الْأَعْرَجِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى رَجُلًا يَسُوقُ بَدَنَةً، فَقَالَ: "ارْكَبْهَا"، قَالَ: إِنَّهَا بَدَنَةٌ، فَقَالَ: "ارْكَبْهَا، وَيْلَكَ فِي الثَّانِيَةِ أَوْ فِي الثَّالِثَةِ".

د حضرت ابوهریره رضی الله عنه بیان دي چه رسول الله ﷺ یو کس لره اولیدو چه هغه خپل د قربانۍ اوښ لره شړلو او روان وو (او خپله پیدل روان وو) نو حضور ﷺ هغه ته اوفرمائیل : په دې باندې سور شه -" هغه اووئیل دا د قربانۍ د پاره ده - حضور ﷺ اوفرمائیل : په دې باندې سور شه -" ... په تا باندې افسوس دې ، حضور ﷺ دا (د افسوس لفظ) په دویم یا دریم ځل کښې اوفرمائیلو -"

عن ابی هریرة رضی الله عنه ان رسول الله (صلی الله علیه وسلم) رآی رجلا یسوق بدنة فقال ارکبها الخ

نبی کریم ﷺ یو سړې اولیدو (دهغه نوم معلوم نه دې) چه بدنه ئې روانه کړې وه، د مسند احمد په روایت کښې دی، قد اجهده المشي، یعنی هغه ته په پیدل تګ کښې جهد او مشقت راتلو، نو نبی کریم ﷺ هغه ته اوفرمائیل چه په دې باندې سور شه، بعضو علماؤ ددې امر بالرکوب وجه دا لیکلې ده، چه په دې کښې د اهل جاهلیت مخالفت دې، ځکه چه مشرکینو به د سائبې، وصیلې، حام نه فائده نه اخستله، لیکن جمهور شارحینو دې لره نه دې اختیار کړې، ګنی کم از کم دا امر به د استحباب دپاره وو، خو ددې څوک هم قائل نه دی، الا الظاهریة (بلکه هغوی خو د وجوب قائل دی، دغه شان خپله د نبی کریم ﷺ نه هم رکوب د هدی ثابت نه دی، او نه نبی کریم ﷺ عام طور باندې صحابه کرامو ته د رکوب حکم فرمائیلې دې، بلکه عند الجمهور دا امر امر ارشادی دې، د مصلحت دنیویه د وجې نه دې،

په رکوب د هدی کښې اختلاف ائمه:

بیا مخکښې په دې مسئله کښې د ائمه اختلاف دې، د امام شافعی رحمه الله په نزد رکوب په هدی عند الحاجة مباح دې، او د امام احمد رحمه الله په نزد په یو روایت کښې مطلقا اباحت دې، او د احنافو او مالکیه په نزد جواز د رکوب عند الاضطرار دې، پس په آئنده روایت کښې دی، اذ الجئت الیها وهی روایة عن احمد الحاصل عند الجمهور والائمة الثلثة رکوب په هدی بلا حاجت مکروه دې.

[۱۷۶۱](٢) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، أَخْبَرَنِي أَبُو الزُّبَيْرِ، سَأَلْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ عَنْ رُكُوبِ الْهَدْيِ؟ فَقَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "ارْكَبْهَا بِالْمَعْرُوفِ إِذَا أُلْجِئْتَ إِلَيْهَا حَتَّى تَجِدَ ظَهْرًا".

حضرت ابو الزبیر فرمائی چه ما د حضرت جابر بن عبد الله نه د قربانۍ د خاروی په باره

١): صحیح البخاري/الحج ١٠٣(١٦٨٩)، والوصایا ١٢(٢٧٥٥)، والأدب ٩٥(٦١٦٠)، صحیح مسلم/الحج ٦٥(١٣٢٢)، سنن النسائي/الحج ٧٤(٢٨٠١)،(تحفة الأشراف: ١٣٨٠١)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/المناسك ١٠٠(٣١٠٣)، موطا امام مالك/الحج ٤٥(١٣٩)، مسند احمد(٢/٢٥٤، ٢٧٨، ٣١٢، ٤٦٤، ٤٧٤، ٤٧٨)(صحیح)

٢): صحیح مسلم/الحج ٦٥(١٣٢٤)، سنن النسائي/الحج ٧٦(٢٨٠٤)،(تحفة الأشراف: ٢٨٠٨)، وقد أخرجه: مسند احمد(٣/٣١٧، ٣٢٤، ٣٢٥، ٣٤٨)(صحیح)

کښې تپوس اوکړو نو هغوی اووې ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلي دي، هغوی ﷺ فرمائیل کله چه تاسو مجبور شئ نو (د احسان سره او) د معروف انداز سره په هغې باندې سورلی کوئ تردې پورې چه تاسو ته بله کومه سورلی ملاؤ شي۔"

بَابٌ فِي الْهَدْيِ إِذَا عَطِبَ قَبْلَ أَنْ يَبْلُغَ

باب: ۱۸ - د هدی څاروې کله چه ځائې ته د رسیدو نه مخکښې هلاک شي نو؟

که هدی خپل محل یعنی حرم شریف ته رسیدو نه مخکښې هلاکیږي، نو څه به کولې شي؟

[۱۷۶۲]([1]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، عَنْ هِشَامٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ نَاجِيَةَ الْأَسْلَمِيِّ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ مَعَهُ بِهَدْيٍ، فَقَالَ: "إِنْ عَطِبَ مِنْهَا شَيْءٌ فَانْحَرْهُ، ثُمَّ اصْبُغْ نَعْلَهُ فِي دَمِهِ، ثُمَّ خَلِّ بَيْنَهُ وَبَيْنَ النَّاسِ".

د حضرت ناجیه اسلمی رضی الله عنه بیان دي چه رسول الله ﷺ د هغوی په لاس باندې خپله قربانۍ اولیږله او ورته ئې اوفرمائیل: که چرې ددې نه یو څاروې هلاک شي نو د هغې نحر اوکړه، او د هغې نوکې د هغې په وینې سره رنګ کړه، بیا دې لره د خلقو د پاره پریږده۔"

تشریح: قوله: عن ناجية الاسلمي ان رسول الله (صلى الله عليه وسلم) بعث معه بهدى،

دا د باب رومبې حدیث دې، ددې راوی ناجیه بن جندب اسلمی دې. او دویم حدیث چه دهغې راوی حضرت ابن عباس رضی الله عنه دې، په هغې کښې داسې دی، **بعث رسول الله (صلى الله عليه وسلم) فلانا الاسلمى** په دې کښې د فلان نه مراد ناجیه بن جندب دې، دا دویم حدیث په صحیح مسلم کښې هم شته، هلته کښې هم د نوم تصریح نشته، بلکه **بعث مع رجل** دې، د حدیث خلاصه داده، چه نبی کریم ﷺ هرکله چه هغوی عمرة الحدیبیه ته تشریف اوړو، د خپلو هدایاؤ نګران او سائق ناجیه بن جندب اسلمی رضی الله عنه لره مقرر کړو، په دې باندې هغوی د نبی کریم ﷺ نه تپوس اوکړو، چه که په دې کښې څه هدی ضائع یا هلاکیږي، نو هغې سره به څه کولې شي؟ نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه هغه به حلاله کړې شي، او دهغې په وینو به پښې لوندې کړې شي، او وینه به دهغې په قب باندې اولګولې شي، او بیا به هم هلته کښې پریخودلې شي، **و بعث معه بثمان عشرة بدنة** ددې هدایاؤ تعداد اتلس وو، د مسلم په یو روایت کښې خو تعداد هم دا ذکر دې، او په یو روایت کښې **ست عشرة** دې، امام نووی رحمه الله فرمائې چه کیدې شي، چه تعدد واقعې وی، او بیا مخکښې فرمائې چه دا هم ممکن ده، چه داسې اوئیلې شي، چه مفهوم د عدد معتبر نه دې، په ست عشر والا روایت کښې د زائد نفی نشته، دا حدیث او ددې مضمون ترجمة الباب په بخاری شریف کښې نشته، باقی نورو کتب صحاح کښې شته،

ولا تاكل منها انت ولا احد من رفقتك: په ترجمة الباب کښې چه کومه مسئله ذکر ده، د حدیث دا حصه ګویا دهغې جواب او حکم دې.

---

[1]: سنن الترمذي/الحج ۷۱(۹۱۰)، سنن النسائي/الكبرى/الأطعمة(۶۶۳۹)، سنن ابن ماجه/المناسك ۱۰۱(۳۱۰۶)،(تحفة الأشراف: ۱۱۵۸۱)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الحج ۴۷(۱۴۸)، مسند احمد(۳۳۴/۴)، سنن الدارمي/المناسك ۶۶(۱۹۵۰)(صحيح)

په مسئلة الباب کښې مذاهب ائمة:

هغه دا چه دداسې قسمه هدی غوښه نه خو د مهدی دپاره جائز دي، او نه دهغه د ملګرو دپاره، د امام شافعی رحمه الله او امام احمد رحمه الله مسلک خو مطلقا هم دادې، او امام مالک رحمه الله فرمائي چه د مهدی دپاره خو مطلقا جائز نه ده، او د رفقه دپاره مطلقا جائز دي، او احناف وائی، چه د مهدی حکم خو هم دادې، او د ملګرو دپاره دا نهی په هغه صورت کښې ده، چه کله هغوی غنیان وی، او که هغوی فقراء وی، نو خوړلې شی.

دا حکم او اختلاف مذکور په هدی د تطوع کښې دي، [1] او د هدی واجب دا حکم نه دې، بلکه هغې لره مهدی او رفقاء ټول خوړلې شی، ځکه چه د واجب هدی بدل خو په مهدی باندې واجب دې، لهذا په دې کښې (یعنی هلاک کیدونکې څاروی) کښې هغه ته اختیار دې، چه څه کول غواړی کولې شی.

تکمیل:

اوس دلته کښې یوه مسئله بله قابل ذکر ده، چه د ترجمة الباب والا مسئلې مقابل ده، هغه داچه کومه هدی خپل محل ته اورسی او ذبح شی، دهغې حکم څه دې؟ هغې لره مهدی خوړلې شی، یا نشی خوړلې؟ جواب دادې، چه په دې کښې تفصیل دې، هغه داچه اما الهدی الذی بلغ محله فیجوز الاکل من دم التمتع والقران والتطوع دون ما سواها اعنی دم الجنایة عندنا الحنفیة والحنابلة و قریب منه مذهب المالکیة و عند الشافعی رحمه الله لا یجوز الاکل من الدماء الواجبة حتی دم التمتع والقران بل یجوز التطوع فقط (من الاوجز)

[۱۷۶۳] ([2]) حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ، وَمُسَدَّدٌ، قَالَا: حَدَّثَنَا حَمَّادٌ. ح وحَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ، وَهَذَا حَدِيثُ مُسَدَّدٍ، عَنْ أَبِي التَّيَّاحِ، عَنْ مُوسَى بْنِ سَلَمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: بَعَثَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فُلَانًا الْأَسْلَمِيَّ وَبَعَثَ مَعَهُ بِثَمَانِ عَشْرَةَ بَدَنَةً، فَقَالَ: أَرَأَيْتَ إِنْ أُزْحِفَ عَلَيَّ مِنْهَا شَيْءٌ؟ قَالَ: "تَنْحَرُهَا، ثُمَّ تَصْبُغُ نَعْلَهَا فِي دَمِهَا، ثُمَّ اضْرِبْهَا عَلَى صَفْحَتِهَا وَلَا تَأْكُلْ مِنْهَا أَنْتَ وَلَا أَحَدٌ مِنْ أَصْحَابِكَ، أَوْ قَالَ: مِنْ أَهْلِ رُفْقَتِكَ". قَالَ أَبُو دَاوُد: الَّذِي تَفَرَّدَ بِهِ مِنْ هَذَا الْحَدِيثِ قَوْلُهُ: "وَلَا تَأْكُلْ مِنْهَا أَنْتَ وَلَا أَحَدٌ مِنْ رُفْقَتِكَ"، وَقَالَ فِي حَدِيثِ عَبْدِ الْوَارِثِ: "ثُمَّ اجْعَلْهُ عَلَى صَفْحَتِهَا مَكَانَ اضْرِبْهَا". قَالَ أَبُو دَاوُد: سَمِعْتُ أَبَا سَلَمَةَ، يَقُولُ: إِذَا أَقَمْتَ الْإِسْنَادَ وَالْمَعْنَى كَفَاكَ.

د حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه مروی دی، چه رسول الله ﷺ فلان اسلمی لره اولیږلو او د هغه

---

[1] تنبیه: امام ترمذی په جامع ترمذی (ص ۱۱۰) کښې ددې تصریح کړې ده اود امام شافعي او احمد دوارو مسلک ئې یو لیکلې دې، هم دغسې قاضی عیاض د امام مالک او جمهورو مسلک لیکلې دې او همدغسې ابن قدامه هم، وهکذا ملهب الشافعي في كتاب الأم، لیکن امام نووی په شرح مسلم (ص ۴۲۶) کښې د هدی تطوع په ځائ د هدی واجب حکم لیکلې دې (ګویا معامله ئې برعکس کړه) او د هدی تطوع باره کښې ئې دا لیکلی دی چه ددې مهدی ته اختیار دې چه څه غواړی اودې کړی او هم ددې موافق علامه قسطلانی او علامه عینی لیکلی دی حضرت شیخ په اوجز المسالک کښې دې ته ترجیح ورکړې ده کوم چه مونږ په اصل شرح کښې لیکلې دې.

[2]: صحيح مسلم/الحج ٦٦(١٣٢٥)، سنن النسائي/الكبرى/الحج(٤١٣٦)، وانظر أيضا ما قبله،(تحفة الأشراف: ٦٥٠٣)، وقد أخرجه: مسند احمد(١/٢١٧، ٢٤٤، ٢٧٩)(صحيح)

سره ئې اتلس(۱۸) اوښان دَ قربانئ اولیږل - هغه اووې، اوفرمائیٔ کۀ چرې دَ هغې نه یو(ځاروې) خپله خپه راکاږی(یعنی دَ تللو نه عاجز شی او ستړې شی نو؟) حضور ﷺ اوفرمائیل : هغې لره نحر(ذبح) کړه، دَ هغې نوکو لره په وینې سره رنګ کړه او دَ هغې په ڤُب باندې نشان اولګوه او تۀ او ستا دَ ملګرو نه دې، ددې نه څۀ نۀ خوری-" دَ حدیث لفظ [من اصحابک] وو یا [من اهل رفقتک] وو - امام ابوداودؒ فرمائی چه په دې حدیث کښې دا جمله [ولا تاۡ کل منها انت ولا احد من اهل رفقتک] منفرده ده او دَ عبد الوارث په روایت کښې دَ [ثم اضربها] په ځائې باندې اجعله علی صفحتها] راغلې دې - امام ابوداودؒ فرمائی چه ما دَ ابو سلمه(موسیٰ بن اسماعیل المنقری) نه اوریدلې دی هغه وئیل چه کله تاسو دَ حدیث سند او دَ هغې معنیٰ په صحیح او درست طور باندې بیان کړئ نو کافی ده(دَ الفاظو په بدلولو سره څۀ فرق نۀ پروځی، یعنی روایت بالمعنیٰ جائز دې)

تنبیه : په بعضو نسخو کښې دا باب په حدیث ابن عباس ﷺ باندې ختم شوې دې، او مخکښې چه کوم درې احادیث نور راروان دی، دهغې نه مخکښې په هغې نسخو کښې بسم الله الرحمن الرحیم لیکلې شوې ده، دهغې وجه په ظاهر کښې داده، چه په هغې باندې د سنن ابوداؤد دوه دیرش اجزاؤ کښې لسم جزء ختم شوې دې، او حدثنا هارون بن عبدالله نه الجزء الحادی عشر شروع شوې دې، پس شاید دجزء ابتداء کیدلو د وجې نه بسم الله لیکلې شوې ده، او داسې هم معلومیږی، چه د بسم الله نه پس حدیث شروع کیدو نه مخکښې کیدې شی چه ترجمة الباب وی، چه د ناسخینو نه په لیکلو کښې ساقط شوې دې، ځکه چه اوس کوم درې احادیث په دې باب کښې نور راروان دی، دهغې دې موجوده ترجمة الباب سره هیڅ تعلق نشته.(عون المعبود)

تشریح: قوله: عن علی قال لما نحر رسول الله(صلی الله علیه وسلم) بدنه فنحر ثلاثین بیده و امرنی فنحرت سائرها.

[۱۷٦٤]() حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدٌ، وَيَعْلَى ابْنَا عُبَيْدٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْحَاقَ، عَنْ ابْنِ أَبِي نَجِيحٍ، عَنْ مُجَاهِدٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى، عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: "لَمَّا نَحَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بُدْنَهُ فَنَحَرَ ثَلَاثِينَ بِيَدِهِ، وَأَمَرَنِي فَنَحَرْتُ سَائِرَهَا".

دَ حضرت علی ﷺ نه روایت دې چه رسول الله ﷺ کله خپل اوښ لره نحر کړو نو دیرش اوښان ئې په خپل لاس سره نحر کړل او دَ باقی دَ پاره ئې ماته حکم اوکړو او ما هغې لره نحر کړل-

فائده : صحیح تر روایت دادې چه نبی کریم ﷺ درې شپیتۀ اوښان په خپل لاس سره نحر کړې وو او باقی حضرت علی ﷺ -"(صحیح مسلم، الحج، حدیث : ۱۲۱۸)

د حدیث شرح او د روایات مختلفه توجیه:

په حجة الوداع کښې د نبی کریم ﷺ د هدایاؤ تعداد یو سل وو، لکه چه روایاتو کښې

(): تفرد به أبو داود،(تحفة الأشراف: ۱۰۲۲۱)(منکر)

مشهور دی، ددې نه پس پوهه شئ، چه حديث جابر ﷺ چه د حجة الوداع په سلسله کښې ډير طويل حديث دې، او محکښې په کتاب کښې مستقل باب راروان دې، په هغې کښې دادی، چه نبی کريم ﷺ په سلو اوښانو کښې د ثلاث و ستين نحر په خپلو لاسونو مبارک سره اوکړو، او باقی د اووۀ ديرشو اوښانو نحر حضرت علی ﷺ اوکړو، او په دې موجوده روايت کښې دادی، چه نبی کريم ﷺ په خپله صرف ديرش اوښان نحر کړل؟ ددې تعارض ډير جوابات دی،

(۱) تعدد واقعه يعنی کيدې شی، چه دا د حجة الوداع نه علاوه بله څه موقع وی،

(۲) ذکر القليل لا ينفی الکثير

(۳) حديث جابر الطويل ددې حديث په نسبت اصح دې.

(۴) د يو حديث نه پس بل حديث راروان دې، په هغې کښې دادی، چه کله نبی کريم ﷺ د نحر اراده اوفرمائيله، نو وې فرمائيل، ابوحسن(علی ﷺ) لره راؤغواړئ، چه کله هغه راغلو، نو نبی کريم ﷺ هغه ته اوفرمائيل : خذ باسفل الحربة و اخذ رسول الله(صلی الله عليه وسلم) باعلاها نو دواړو په يو ځائې نحر اوکړو، ددې حديث د وجې نه دا وئيلې شی، چه په سلو اوښانو کښې ديرش اوښان نبی کريم ﷺ د علی ﷺ د مدد نه بغير ذبح کړل، او درې ديرش ئې د علی ﷺ په مدد سره ذبح کړل،(دا ټول درې شپيتۀ شول، چه دهغې ذکر په حديث جابر ﷺ کښې دې) [1] او باقی اووۀ ديرش حضرت علی ﷺ يواځې نحر کړل،

الحمد لله په دريو واړو احاديثو کښې تطبيق اوشو.

[۱۷۶۵]( ) حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى الرَّازِيُّ، أَخْبَرَنَا عِيسَى، ح وحَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، أَخْبَرَنَا عِيسَى، وَهَذَا لَفْظُ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ ثَوْرٍ، عَنْ رَاشِدِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَامِرِ بْنِ لُحَيٍّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ قُرْطٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِنَّ أَعْظَمَ الْأَيَّامِ عِنْدَ اللَّهِ تَبَارَكَ وَتَعَالَى يَوْمُ النَّحْرِ ثُمَّ يَوْمُ الْقَرِّ"، قَالَ عِيسَى: قَالَ ثَوْرٌ: وَهُوَ الْيَوْمُ الثَّانِي، وَقَالَ: وَقُرِّبَ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَدَنَاتٌ خَمْسٌ أَوْ سِتٌّ فَطَفِقْنَ يَزْدَلِفْنَ إِلَيْهِ بِأَيَّتِهِنَّ يَبْدَأُ، فَلَمَّا وَجَبَتْ جُنُوبُهَا، قَالَ: فَتَكَلَّمَ بِكَلِمَةٍ خَفِيَّةٍ لَمْ أَفْهَمْهَا، فَقُلْتُ: مَا قَالَ؟، قَالَ: "مَنْ شَاءَ اقْتَطَعَ".

حضرت عبد الله بن قرط ﷺ بيان کوی چه نبی کريم ﷺ اوفرمائيل : د الله تعالی په نزد باندې دَ ورځو نه زياته دَ عظمت والا ورځ يوم النحر(لسم تاريخ دَ ذی الحجې) او دَ هغې نه پس يوم القرّ(يوولسم تاريخ دَ ذی الحجې) ده ـ" عيسیٰ دَ ثوری نه نقل کړې دی چه دا دويمه ورځ وی - او بيان کوی چه رسول الله ﷺ ته پنځۀ يا شپږ اوښان راوستې شو نو هغه حضور ﷺ ته نزدې شو چه حضور ﷺ ددې نه ابتداء(شروع) اوکړی - کله چه هغه ټول(نحر کړې شو) او په اړخونو باندې پريوتل نو حضور ﷺ په مزه غوندې څۀ اوفرمائيل چه په هغې باندې زۀ پوهه نۀ شوم نو ما اووې حضور ﷺ څۀ اوفرمائيل؟ نو وې وئيل : چه څوک

[1]) نو گويا حديث دجابر کښې چه دادی چه چه حضور په خپله دری شپيته ذبح کړل يعنی مطلقًا که په يواځې وی اوکه په مدد د علی وی.

): تفرد به أبو داود،(تحفة الأشراف: ۸۹۷۷)، وقد أخرجه: سنن النسائي/الكبري/الحج(۴۰۹۸)، مسند احمد(۴/۳۵۰)(صحيح)

غواړی نو (غوښنه دې) کټ کړی - "(او دَ ځان سره دې یوسی -)

قوله: و قرب لرسول الله (صلی الله علی وسلم) بدنات خمس او ست فطفقن یزدلفن الیه بایتهن یبدا.
د کومو هدایاؤ چه نبی کریم ﷺ په خپل لاس مبارک سره نحر کړې وو، په هغې کښې پنځه یا شپږ داسې وو، چه په خپله نبی کریم ﷺ ته نزدې راتلې، چه او ګوری، چه د کومې نه نبی کریم ﷺ شروع کوی، الله اکبر څومره خوش قسمته وې دا اوښې، چه په هغوی کښې هرې یوې دا غوختل، چه زهٔ د ټولو نه مخکښې د نبیٔ کریم ﷺ په لاس مبارک سره ذبح شم، حضرت شیخ رحمه الله به ددې حدیث لوستلو په وخت کښې په ژړا شو، او دا شعر به ئې وئیلې:

همه آهوان صحراء سر خود نهاده برکف

بامید آنکه روزے بشکار خواهی آمد

نشوو نصیب دشمن که شود هلاک تیغت

سر دوستان سلامت که تو خنجر آزمائی

وایضًا: [1] داغ جاتے ہیں تو مقتل میں پر اول سب سے دیکھئے وار کرے وہ ستم آرا کس پر

فلما وجبت جنوبها الخ : د وجوب معنی سقوط ده، یعنی چه کله ددې اوښانو اړخونه په زمکه باندې پریوتل، یعنی ذبح کړې شوې، نو نبی کریم ﷺ په مزه آواز سره اوفرمائیل: ممکن ده، چه ددې منشاء رقت وی، چه دهغې په داسې وخت کښې راتلل ظاهر دی.

[۱۷۶۶] ([2]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ حَاتِمٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ حَرْمَلَةَ بْنِ عِمْرَانَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْحَارِثِ الْأَزْدِيِّ، قَالَ: سَمِعْتُ غُرْفَةَ بْنَ الْحَارِثِ الْكِنْدِيَّ، قَالَ: شَهِدْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ وَأُتِيَ بِالْبُدْنِ، فَقَالَ: "ادْعُوا لِي أَبَا حَسَنٍ"، فَدُعِيَ لَهُ عَلِيٌّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، فَقَالَ لَهُ: "خُذْ بِأَسْفَلِ الْحَرْبَةِ"، وَأَخَذَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِأَعْلَاهَا ثُمَّ طَعَنَ بِهَا فِي الْبُدْنِ فَلَمَّا فَرَغَ رَكِبَ بَغْلَتَهُ وَأَرْدَفَ عَلِيًّا رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ.

حضرت عرفه بن حارث کندی رضی الله عنه فرمائی چه زهٔ په حجة الوداع کښې د نبی کریم ﷺ سره حاضر وُم چه دَ قربانئ اوښان راوستلې شو - حضور ﷺ اوفرمائیل : ابو الحسن (علی) لره راوبله -" چنانچه علي رضی الله عنه دَ هغوی ﷺ دَ پاره راوبللې شو، نو حضور ﷺ ورته اوفرمائیل : حربه (وړوکې نیزه) دَ لاندې نه اونیسه، او خپله هغوی ﷺ اعلیٰ طرف دَ هغې اونیولو، بیا ئې په هغې سره اوښان (په نحر کولو کښې) وهل - هرکله چه هغوی فارغ شو نو په خچر باندې سور شو او حضرت علی رضی الله عنه لره ئې هم دَ ځان سره کینولو -"

بَاب كَيْفَ تُنْحَرُ الْبُدْنُ

باب: ۲۰ - اوښان دې څنګه نحر کړې شی -

بدن د بدنه جمع ده، دا مخکښې تیر شوې دی، چه په بدنه کښې اصل خو ابل دې، او ددې اطلاق په بقره باندې هم کیږی، لیکن دلته کښې مراد ابل دې.

[1] دا درې واړه اشعار دحضرت شیخ په تالیف جزء حجة الوداع کښې هم مذکور دی.

[2]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۱۰۱۹) (ضعیف)

[۱۷٦۷]() حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا أَبُو خَالِدٍ الْأَحْمَرُ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، وَأَخْبَرَنِي عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ سَابِطٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَصْحَابَهُ "كَانُوا يَنْحَرُونَ الْبَدَنَةَ مَعْقُولَةَ الْيُسْرَى قَائِمَةً عَلَى مَا بَقِيَ مِنْ قَوَائِمِهَا".

حضرت ابو خالد احمر، د ابن جریر نه، هغوی د ابو الزبیر نه، او هغوی د حضرت جابر رضی الله عنه نه روایت کوی ... او (ابن جریر وئیلي دی) ماته عبد الرحمن بن ثابت خبر راکړې دې ... چه نبی کریم ﷺ او د هغوی صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم به اوښ لره نحر کولو او هغه (اوښ) به کسه خپه تړلې شوې وه او په باقی درې خپو باندې به ولاړ وو -

په نحر او ذبح کښې فرق :

نحر وئیلې شی: د سینې سره نزدې رګونه په نیزې وغیره سره کټ کولو ته، په داسې طریقې سره چه په یو ځل ئې کار ختم شی، او ذبح وئیلې شی، د زنې نه لاندې رګونه کټ کول، [۲] په دې کښې د عادت مطابق بیا بیا لاس راکاږل وی.

الحاصل محل د نحر د څټ نه لاندې ځائې دې، او محل د ذبح اعلی العنق یعنی د څټ نه بره ځائې دې، قال العینی ص۴۷ ج۱۰ والذبح هو قطع العروق التی فی اعلی العنق تحت اللحیین والنحر یکون فی اللبة کما ان الذبح یکون فی الحلق.

بیا د نحر دوه صورتونه دی، یو قائمه دویم بارکة، یعنی اوښې لره په ولاړه باندې نحر کول، یا په ناسته باندې، افضل قائما دې، بارکة هم جائز دې، لیکن په قائمة کښې خطره کیدې شی، چه اوښ اوتښتی، په اوښ کښې مسنون نحر دې، او په غنم او بقر کښې ذبح مسنون ده، لهذا د ذبح په ځائې نحر او د نحر په ځائې ذبح مکروه ده، او په ذبح کښې اصل طریقه مضطجعا ده، او قائما خلاف اولی ده، دا ټول تفصیل چه کوم اولیکلې شو، د ائمه اربعه مسلک دې، د ائمه ثلثه او احنافو په دې کښې هیڅ اختلاف نشته، لیکن عام طور باندې شراح حدیث دا لیکلې دی، چه د حنفیه په نزد په نحر کښې اطلاق دې، قائمة او بارکة دواړه برابر دی، حالانکه داسې نه ده، زمونږ په نزد هم نحر کښې اصل طریقه او افضله طریقه قائمه ده، لکه چه په کتب احناف کښې مصرح دی، د شارحینو نه په نقل مذهب کښې غلطی شوې ده، دهغې منشاء په ظاهر کښې هغه قصه ده، کومه چه د امام صاحب نه منقول ده، هغه دا چه امام صاحب رحمه الله فرمائي چه ما یو ځل د بدنه نحر کولو قائمة، لیکن ما په هغې باندې قابو اونه موندلو، او هغه اوښ اوتښتیدو، نزدې وه چه ډیر خلق دهغه د وجې نه هلاک شوې وې، نو په دې باندې ما پخه اراده اوکړه، چه ائنده به همیشه د اوښ نحر بارکة کوم،

د حسن بصری اوعطاء په دې کښې اختلاف دې، علامه باجی د حسن بصری او ابن قدامه د عطاء مسلک دا نقل کړې دې، چه ددې دواړوحضراتوپه نزد نحرباركة اولی دې، (بذل و اوجز)

---

[۱]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۲۸٦۸)(صحیح)

[۲] د سکین (چاړه) په ذریعه سره.

هل يجوز نحر ما يذبح و ذبح ما ينحر؟:

دلته کښې يوه مسئله بله ده، د نحر په ځائې باندې ذبح او د ذبح په ځائې باندې نحر اختيارول څنګه دی،(١) جواب دادې، چه داسې کول د داؤد ظاهری په نزد حرام دی، او که وې کړل، نو دهغې خوړل حلال نه دی، او د جمهور علماء او ائمه ثلاثة په نزد داسې کول صرف مکروه دی، په امامانو کښې د امام مالک رحمه الله په دې کښې اختلاف دې، دهغوی په نزد ابل کښې نحر او غنم کښې ذبح واجب ده، او که ددې خلاف ئې اوکړل، نو بيا دهغې خوړل حلال نه دی، ليکن دا مسئله دهغوی په نزد په اختيار کښې ده، که مجبورا ئې داسې اوکړل، نو هيڅ خرج په کښې نشته، او په بقر کښې دهغوی په نزد ذبح اولی ده، واجب نه ده، لهذا که د بقر نحر اوکړې شي، نو جائز دی،(اوجز ج٣ ص٥٩٤)

[١٧٦٨](٢) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، أَخْبَرَنَا يُونُسُ، أَخْبَرَنِي زِيَادُ بْنُ جُبَيْرٍ، قَالَ: "كُنْتُ مَعَ ابْنِ عُمَرَ بِمِنًى فَمَرَّ بِرَجُلٍ وَهُوَ يَنْحَرُ بَدَنَتَهُ وَهِيَ بَارِكَةٌ، فَقَالَ: ابْعَثْهَا قِيَامًا مُقَيَّدَةً سُنَّةَ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ".

حضرت زياد بن جبير رحمه الله فرمائی چه زۀ په منی کښې د حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنه سره وم چه هغوی په يو سړی باندې تير شو او هغه دخپلې اوښې نحر کول غوښتل په داسې حال کښې چه هغه(اوښه) ملاسته وه - نو حضرت ابن عمر رضی الله عنه اوفرمائيل :" دې لره اودروه، چه(يوه) خپه ئې تړلې شوې وی - هم دا دَ محمد ﷺ سنّت دی -"

شرح حديث :

(**نحوی تحقيق**): ابعثها قياما مقيدة : ابعثها يعنی اقمها او قياما بمعنی دقائمة حال مؤکده دې، او مقيدة يا خو حال ثانی دې، يا د ماقبل دپاره صفت دې، يعنی د حضرت ابن عمر رضی الله عنه تيريدل په يو سړی باندې اوشو، چه د خپل اوښ نحر ئې بارکة(په ناسته) کوؤ، حضرت ابن عمر رضی الله عنه اوفرمائيل چه دۀ لره اودروه، په دې حال کښې چه دې مقيد وی،
يعنی ددۀ ګس لاس تړلې شوې وی، لکه چه د نحر په صورت کښې کولې شی،
سنة ابی القاسم(صلی الله علی وسلم) سنة منصوب بنزع الخافض دې، ای علی سنة يا بقدير الزم او يا مرفوع دې، هی سنة محمد(صلی الله علی وسلم)

[١٧٦٩](٣) حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَوْنٍ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ يَعْنِي ابْنَ عُيَيْنَةَ، عَنْ عَبْدِ الْكَرِيمِ الْجَزَرِيِّ، عَنْ مُجَاهِدٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى، عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: "أَمَرَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ أَقُومَ

---

١) وفي الأوجز (ص ٥٩٤ ج ٣) قال الحافظ ونحر البقر جائز عند الجمهور والمستحب الذبح لقوله تعالي ان تذبحوا بقرة وفيه خلاف الحسن بن صالح. آه، اصل کښې په دې کښې اسهل ته کتلې شوی دی چه دکوم حيوان په حق کښې کوم صورت اسهل وو هغه اختيار کړې شوې دې د اوښ په حق کښې اسهل نحر دې په دې وجه دې کښې نحراولی دې اوپه غنم او بقرکښې اسهل ذبح ده په دې وجه دلته ذبح اولی ده.
٢): صحيح البخاري/الحج ١١٨(١٧١٣)، صحيح مسلم/الحج ٦٣(١٣٢٠)، سنن النسائي/الكبري/ الحج(٤١٣٤)،(تحفة الأشراف: ٦٧٢٢)، وقد أخرجه: مسند احمد(٣/٢، ٨٦، ١٣٩) سنن الدارمي/المناسك ٧٠(١٩٥٥) (صحيح)
٣): صحيح البخاري/الحج ١٢٠(١٧١٦)، ١٢١(١٧١٧)، صحيح مسلم/الحج ٦١(١٣١٧)، سنن النسائي/ الكبري/ الحج(٤١٤٦، ٤١٤٧)، سنن ابن ماجه/المناسك ٩٧(٣٠٩٩)،(تحفة الأشراف: ١٠٢١٩)، وقد أخرجه: مسند احمد(١/ ٧٩، ١٢٣، ١٣٢، ١٤٣، ١٥٤، ١٥٩)، سنن الدارمي/المناسك ٨٩(١٩٨٣) (صحيح)

عَلَى بُدْنِهِ وَأَقْسِمَ جُلُودَهَا وَجِلَالَهَا، وَأَمَرَنِي أَنْ لَا أُعْطِيَ الْجَزَّارَ مِنْهَا شَيْئًا"، وَقَالَ: "نَحْنُ نُعْطِيهِ مِنْ عِنْدِنَا".

حضرت علی رضي الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ ماته امر اوکړو چه زهٔ د خپلو اوښانو سره اودریږم ‹‹ چه هغه نحر کولې شو›› او دَ هغې څرمن او جُهول لره تقسیم کړم - قصاب ته ددې نه هیڅ څیز ورنهٔ کړم، هغوی اوفرمائیل چه دَ قصاب مزدوری به مونږ دَ خپل ځان نه ورکوله -‹‹ دَ قربانئ دَ ځاروی نه به مو هیڅ په مزدورئ کښې نهٔ ورکول -›

بَابٌ فِي وَقْتِ الْإِحْرَامِ

باب: ۲۱ - دَ احرام ترلو وخت -

دلته کښې دوه څیزونه دی، یو مکان احرام، یعنی محل احرام چه هغې ته میقات وئیلې شی، ددې باب په شروع کښې تیر شوې دې، او دویم څیز زمان او وقت احرام دې، چه هغې لره مصنف دلته کښې بیانوی.

په دې خبره پوهیدل پکار دی، چه د احرام مسنون طریقه داده، چه اول دې سرې ګنډلې شوې جامې اوباسی، او د احرام په نوم دې دوه څادرونه واغوندی، او دوه رکعته تحیة الاحرام دې ادا کړی‹‹د احرام په څادر کښې دې سر پټ کړی›› بیا دې سلام اړولو نه پس سر ښکاره کړی، او د حج یا عمرې څه چه هم مقصود وی، دهغې په نیت سره دې تلبیه وائی، بس اوس دې محرم شو، خلاصه دا چه د نسک په ارادې سره تلبیه وئیلو نوم احرام دې، دې حاصل دا شو، چه احرام دې دمانځه په ځائې باندې په ناسته قبلې ته مخامخ اوتړی، د احنافو او حنابله په نزد اولی دادی، او د شافعیه په نزد اولی دادی، چه د مونځ نه فارغیدو نه پس، چه کله په سورلئ باندې سور شی، او د میقات نه روانیږی، هغه وخت کښې دې تلبیه اوائی او محرم دې شی، وعن مالک روایتان دا د ترجمة الباب د مسئلې تشریح شوه.

[۱۷۷۰](١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مَنْصُورٍ، حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ يَعْنِي ابْنَ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا أَبِي، عَنِ ابْنِ إِسْحَاقَ، قَالَ: حَدَّثَنِي خُصَيْفُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْجَزَرِيُّ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، قَالَ: قُلْتُ لِعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ: يَا أَبَا الْعَبَّاسِ، عَجِبْتُ لِاخْتِلَافِ أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي إِهْلَالِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ أَوْجَبَ، فَقَالَ: "إِنِّي لَأَعْلَمُ النَّاسِ بِذَلِكَ، إِنَّهَا إِنَّمَا كَانَتْ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَجَّةٌ وَاحِدَةٌ فَمِنْ هُنَاكَ اخْتَلَفُوا خَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَاجًّا، فَلَمَّا صَلَّى فِي مَسْجِدِهِ بِذِي الْحُلَيْفَةِ رَكْعَتَيْهِ أَوْجَبَ فِي مَجْلِسِهِ، فَأَهَلَّ بِالْحَجِّ حِينَ فَرَغَ مِنْ رَكْعَتَيْهِ، فَسَمِعَ ذَلِكَ مِنْهُ أَقْوَامٌ فَحَفِظْتُهُ عَنْهُ، ثُمَّ رَكِبَ فَلَمَّا اسْتَقَلَّتْ بِهِ نَاقَتُهُ أَهَلَّ، وَأَدْرَكَ ذَلِكَ مِنْهُ أَقْوَامٌ، وَذَلِكَ أَنَّ النَّاسَ إِنَّمَا كَانُوا يَأْتُونَ أَرْسَالًا فَسَمِعُوهُ حِينَ اسْتَقَلَّتْ بِهِ نَاقَتُهُ يُهِلُّ، فَقَالُوا: إِنَّمَا أَهَلَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ اسْتَقَلَّتْ بِهِ نَاقَتُهُ، ثُمَّ مَضَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا عَلَا عَلَى شَرَفِ الْبَيْدَاءِ أَهَلَّ، وَأَدْرَكَ ذَلِكَ مِنْهُ أَقْوَامٌ، فَقَالُوا: إِنَّمَا أَهَلَّ حِينَ عَلَا عَلَى شَرَفِ الْبَيْدَاءِ، وَايْمُ اللَّهِ، لَقَدْ أَوْجَبَ فِي مُصَلَّاهُ وَأَهَلَّ حِينَ اسْتَقَلَّتْ بِهِ نَاقَتُهُ وَأَهَلَّ حِينَ عَلَا عَلَى شَرَفِ الْبَيْدَاءِ". قَالَ سَعِيدٌ: فَمَنْ أَخَذَ بِقَوْلِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ أَهَلَّ فِي مُصَلَّاهُ إِذَا فَرَغَ مِنْ رَكْعَتَيْهِ.

حضرت سعید بن جبیر رحمه الله فرمائی چه ما حضرت عبد الله بن عباس رضي الله عنهما ته اووئیل اې ابو العباس ماته تعجب دې چه اصحاب رسول دَ رسول الله ﷺ په احرام کښې اختلاف کوی چه

(١): تفرد به أبو داود،(تحفة الأشراف: ٥٥٠٣)، وقد أخرجه: مسند احمد(١/٢٦٠) (ضعيف الإسناد)

هغوی په کوم وخت کښې احرام تړلې وو - هغوی اوفرمائيل : زۀ په دې باره کښې دَ ټولو نه زيات خبردار يم - په اصل کښې حضور ﷺ هم يو حج کړې دې نو په دې وجه سره اختلاف شوې دې - هغوی ﷺ دَ حج په نيت سره روان شو، کله چه هغوی په خپل جمات ذوالحليفه کښې دوه رکعته ادا کړل نو حضور ﷺ هم په دې مجلس کښې نيت اوفرمائيلو او ددې دوو رکعتونو دَ فارغ کيدو نه پس ئې دَ حج تلبيه اووئيله - پس څۀ خلقو دغه واوريدله او هغې لره ئې ياده کړه - بيا هغوی په خپلې سورلۍ باندې سوارۀ شو، کله چې سورلی اودريدله نو هغوی ﷺ تلبيه اووئيله - څۀ خلقو دې لره ياد کړل - په حقيقت کښې خلق به ډلې ډلې حضور ﷺ ته راتلل نو کومو خلقو چه دَ هغوی نه تلبيه اوريدله په داسې حال کښې چه هغوی ﷺ په اوښه باندې ناست وو، نو هغوی هم دا اوګنړله چه حضور ﷺ په خپله اوښه باندې دَ سوريدو نه پس کله چه هغه اودريدله، تلبيه ئې اوفرمائيله - بيا رسول الله ﷺ روان شو او کله چه دَ مقام بيداء بلندی ته اورسيدو نو هغوی ﷺ تلبيه اووئيله - څۀ خلقو دې لره اومندله نو هغوی اووې چه حضور ﷺ دَ مقام بيداء په بلندئ باندې تلبيه وئيلې ده - (سعيد وائی) قسم دې په الله ! حضور ﷺ هم په خپل جائې نماز باندې تلبيه وئيلې وه - بيا چه کله حضور ﷺ په خپله اوښه باندې کيناستو او اوښه پاسيدله نو تلبيه ئې اووئيله - او کله چه دَ مقام بيداء بلندئ ته اورسيدل نو هغوی تلبيه اووئيله - سعيد بن جبير وائی چه کوم خلق دَ حضرت ابن عباس رضی الله عنهما په بيان باندې عمل پيرا دی نو هغوی دَ خپلودوو رکعتو کولو نه پس په جائې نماز باندې تلبيه وائی -

تشريح: قوله: عن سعيد بن جبير قال قلت لعبدالله بن عباس يا ابا العباس عجبت لاختلاف اصحاب رسول الله(صلى الله عليه وسلم) فى اهلال رسول الله(صلى الله عليه وسلم)

مضمون حديث :

په دې سلسله کښې روايات حديثيه هم مختلف دی، په حديث الباب کښې دادی، چه د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما نه ددې اختلاف روايات تپوس اوکړې شو، هغوی چه کوم جواب ارشاد اوفرمائيلو، دهغې حاصل دادې، چه نبی کريم ﷺ ته بعدالهجرة چونکه صرف د يو حج موقع ملاؤ شوې وه، ددې وجې نه رش وو، چاچه به اوريدل چه نبی کريم ﷺ حج ته تشريف اوړی، نو هغه به د رسول الله ﷺ په قافله کښې شامليدو، عرض دا چه ټول خلق په يو ځائې د مدينې منورې نه روان شوې نه وو، پس کوم خلق چه د شروع نه د نبی کريم ﷺ سره وو، هغوی نبی عليه السلام ته زيات نزدې وو، دهغوی بيان خو دادې، چه نبی کريم ﷺ د مانځه دځائې نه احرام تړلې وو، او کوم خلق چه دهغوی نه لرې وو،د مسجد ذوالحليفه نه بهر هغوی ته خبر اونشو، بيا چه د جمات نه بهر دروازې ته نبی کريم ﷺ تشريف راوړو، او په سورلۍ باندې سوريدو په وخت کښې هغوی تلبيه دوباره وئيله،(۱) نو هغې خلقو دا

---

(۱) د حاجی دپاره دا مستحب دی چه هغه په ټولو تغير د احوالو په وخت کښې تلبيه اووائی، پورته د ختلو په وخت هم، لاندې د رابښکته کيدو په وخت هم، د قافلې سره د ملاقات په وخت هم وغيره، وغيره.

اوګڼړل، چه نبی کریم ﷺ د احرام نیت په دې وخت کښې کړې دې، او کوم خلق چه دغه وخت هم موجود نه وو، بلکه نور هم روستو د نبی کریم ﷺ په قافله کښې شامل شوې وو، نو چه کله د نبی کریم ﷺ سورلی په بیداء ډیرئ باندې ختله، او هغه وخت کښې نبی کریم ﷺ بیا تلبیه وئیله، نو هغې خلقو دا اوګڼړل، چه نبی کریم ﷺ د احرام نیت دې وخت کښې کړې دې، و ایم الله لقد اوجب فی مصلاه، په خدائې قسم حقیقت دادې، چه نبی کریم ﷺ احرام د خپل مانځه دځائې نه تړلې وو،

تشریح: قوله: بیدائکم هذه التی تکذبون علی رسول الله(صلی الله علیه و سلم) فیها الخ:

حضرت ابن عمر ﵄ دهغې حضراتو تردید فرمائی، کوم حضرات چه دا وائی، چه نبی کریم ﷺ احرام په بیداء ډیرئ دپاسه تړلې وو، ددې روایت د الفاظو متبادره معنی دا په پوهه کښې راځی، چه حضرت ابن عمر ﵄ کله د بیداء ډیرئ په خوا کښې تیریدو، هغې لره لیدلو سره هغوی اوفرمائیل، دا هغه ډیرئ ده، د کومې باره کښې چه بعضې خلق دا غلطه خبره کوی، چه نبی کریم ﷺ ددې ځائې نه احرام تړلې وو، بیا ئې ددې نه پس اوفرمائیل، چه نبی کریم ﷺ خو احرام د مسجد ذوالحلیفه سره نزدې ځائې نه تړلې وو(یعنی عند الرکوب کما فی روایة الصحیحین) په دې حدیث کښې ابن عمر ﵄ بعضې صحابه کرامو طرف ته د کذب نسبت کړې دې، کذب وئیلې شی، خلاف واقع خبر ورکولو ته، که عمدا وی او که سهوا او خطاء وی، والمراد ههنا الثانی.

تشریح: قوله: قال المنذری و اخرجه البخاری و مسلم والترمذی والنسائی وابن ماجه(عون)

[۱۷۷۱][1] حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ مُوسَى بْنِ عُقْبَةَ، عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: "بَيْدَاؤُكُمْ هَذِهِ الَّتِي تُكَذِّبُونَ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيهَا مَا أَهَلَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَّا مِنْ عِنْدِ الْمَسْجِدِ، يَعْنِي مَسْجِدَ ذِي الْحُلَيْفَةِ".

حضرت عبد الله بن عمر ﵄ فرمائی : تاسو خلق ددې میدان بیداء په باره کښې د رسول الله ﷺ متعلق غلطه وائئ - هغوی هم دَ جمات نه تلبیه شروع فرمائیلې وه ... یعنی دَ ذوالحلیفه دَ جمات نه -

[۱۷۷۲][2] حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ، عَنْ عُبَيْدِ بْنِ جُرَيْجٍ، أَنَّهُ قَالَ لِعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ: "يَا أَبَا عَبْدِ الرَّحْمَنِ، رَأَيْتُكَ تَصْنَعُ أَرْبَعًا لَمْ أَرَ أَحَدًا مِنْ أَصْحَابِكَ يَصْنَعُهَا، قَالَ: مَا هُنَّ يَا ابْنَ جُرَيْجٍ؟ قَالَ: رَأَيْتُكَ لَا تَمَسُّ مِنَ الْأَرْكَانِ إِلَّا الْيَمَانِيَيْنِ، وَرَأَيْتُكَ تَلْبَسُ النِّعَالَ السِّبْتِيَّةَ، وَرَأَيْتُكَ تَصْبُغُ بِالصُّفْرَةِ، وَرَأَيْتُكَ إِذَا

[1]: صحيح البخاري/الحج ۲(۱۵۱۵)، ۲۰(۱۵٤۱)، والجهاد ۵۳(۲۸٦۵)، صحيح مسلم/الحج ۳، ٤(۱۱۸٦)، سنن الترمذي/الحج ۸(۸۱۸)، سنن النسائي/الحج ۵٦(۲۷۵۸)، وانظر أيضا ما بعده،(تحفة الأشراف: ۷۰۲۰)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/المناسك ۱٤(۲۹۱٦)، موطا امام مالك/الحج ۹(۳۰)، مسند احمد(۲/۱۰، ۱۷، ۱۸، ۲۹، ۳٦، ۳۷، ٦٦، ۱۵٤)، سنن الدارمي/المناسك ۸۲(۱۹۷۰) (صحيح)

[2]: صحيح البخاري/الوضوء ۳۰(۱٦٦)، والحج ۲۸(۱۵۵۲) (مختصرا) ۵۹(۱٦۰۹) (مختصرا)، واللباس ۳۷(۵۸۵۱)، صحيح مسلم/الحج ۵(۱۱۸۷)، سنن الترمذي/الشمائل ۱۰(۷٤)، سنن النسائي/الطهارة ۹۵(۱۱۷)، سنن ابن ماجه/اللباس ۳٤(۳٦۲٦)،(تحفة الأشراف: ۷۳۱٦)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الحج ۹(۳۱)، مسند احمد(۲/۱۷، ۲٦، ۱۱۰) (صحيح)

كُنْتَ بِمَكَّةَ أَهَلَّ النَّاسُ إِذَا رَأَوُا الْهِلَالَ، وَلَمْ تُهِلَّ أَنْتَ حَتَّى كَانَ يَوْمُ التَّرْوِيَةِ، فَقَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ: أَمَّا الْأَرْكَانُ، فَإِنِّي لَمْ أَرَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمَسُّ إِلَّا الْيَمَانِيَيْنِ، وَأَمَّا النِّعَالُ السِّبْتِيَّةُ، فَإِنِّي رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَلْبَسُ النِّعَالَ الَّتِي لَيْسَ فِيهَا شَعْرٌ وَيَتَوَضَّأُ فِيهَا، فَأَنَا أُحِبُّ أَنْ أَلْبَسَهَا، وَأَمَّا الصُّفْرَةُ فَإِنِّي رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصْبُغُ بِهَا، فَأَنَا أُحِبُّ أَنْ أَصْبُغَ بِهَا، وَأَمَّا الْإِهْلَالُ، فَإِنِّي لَمْ أَرَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُهِلُّ حَتَّى تَنْبَعِثَ بِهِ رَاحِلَتُهُ".

حضرت عبید بن جریج وائی، چه هغوی حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنهما ته اوونیل: اې ابو عبد الرحمٰن زهٔ تاله په څلورو کارونو کولو باندې وینم، ستاسو څوک ملګرې دې لره نهٔ کوی. هغوی اوفرمائیل: اې ابن جریج هغه څهٔ دی؟ هغوی اووې ما تاسو لره لیدلې دې چې تاسو (د طواف په دوران کښې) د بیت الله شریف صرف دوه کونې [یمانین] (حجر اسود او رکن یمانی) مسه کوئ، او تاسو مې لیدلې ئې چه تاسو د داسې څرمنې پیزار په خپو کوئ چه په هغې باندې ویښتهٔ نهٔ وی، او تاسو مې لیدلې ئې چه تاسو زرد (زیړ) رنګ استعمالوئ (کپړو کښې یا په ویښتو کښې په طور د خضاب سره) او ما تاسو لره لیدلې دې چه کله تاسو په مکه کښې ئې نو خلق د میاشتې لیدو سره احرام تړی مګر تاسو په اتم ذی الحجې باندې احرام تړئ - حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنهما جواب ورکړو: تر کومه پورې چه (په طواف کښې) د ارکانو د مسه (ښکلولو) تعلق دې نو ما رسول الله ﷺ لره لیدلې دې چه هغوی به صرف دواړو یمانی ارکانو لره مسه کول - (حجر اسود او رکنِ یمانی لره -) او د بې وښتو څرمن د پیزار ...... نو ما رسول الله ﷺ لره لیدلې دې چه د هغوی پیزار به دداسې څرمنې وو چه په هغې باندې به ویښتهٔ نهٔ وو او هغوی ﷺ به په دې کښې وضوء (اودس) کوله نو زهٔ هم داسې پیزار خوښوم - او پاتې شو زرد (زیړ) رنګ ...... نو ما رسول الله ﷺ لره لیدلې دې چه هغوی به په دې سره رنګ کولو، لهذا زهٔ هم په دې سره رنګ کول خوښوم - پاتې شوه احرام او تلبیه ... نو ما رسول الله ﷺ لره نهٔ دې لیدلې چه هغوی د سورلئ د پورته کیدو نه مخکښې تلبیه وئیلې وی -"

یا ابا عبد الرحمن رایتک تصنع اربعا لم ارا احدا من اصحابک یصنعها الخ

مضمون حدیث:

یو سړی د حضرت ابن عمر رضی الله عنهما نه تپوس اوکړو، چه زهٔ تاسو وینم، چه څلور کارونه داسې کوئ، چه هغې لره ستاسو د ملګرو نه بل هیڅوک نه کوی (په دې حصر باندې اشکال دې، هغې لره به هم مخکښې په تشریح کښې بیان کړو) په دې هغوی ترې تپوس اوکړو، چه هغه څلور کارونه څه څه دی، هغه سړی اوئیل (۱) زهٔ وینم، چه تاسو د بیت الله شریف به ارکان اربعه کښې صرف د دواړو رکنین یمانیین استلام کوئ، یعنی د رکنیین شامیین استلام نه کوئ، (۲) او بل دا چه تاسو همیشه سبتی پنړې اچوئ (یعنی د څرمنې صفا پنړې، چه په هغې باندې ویښتهٔ نه وی)

(۳) تاسو د زیړ رنګ جامې اغوندئ، یا مطلب دا چه تاسو په خپلو ویښتو کښې خضاب اصفر یعنی زیړ رنګ پورې کوئ (ففیه قولان صبغ الثوب او صبغ الشعر)

(٤) چه کله تاسو په مکه کښې يئ، نو زهٔ وينم چه نور خلق د يکم ذی الحجې نه احرام تړی،[1] او تاسو د يوم الترويه نه مخکښې احرام نه تړئ، بلکه خاص يوم الترويه يعنی اتم ذی الحجه باندې احرام تړئ.

د جواب خلاصه :

حضرت ابن عمر ﷠ ددې څلورو واړو خبرو ترتيب وار جواب ورکول شروع کړل، په شروع کښې د دريو باره کښې خو د ټولو يو جواب وو، چه ما حضور ﷺ لره اوليدلو، چه داسې ئې کول، او د څلورم څيز باره کښې هغوی خو داسې فرمائيلې نه شو، چه نبی کريم ﷺ داسې کړې وو، ځکه چه نبی کريم ﷺ د ذی قعده په آخره کښې(۲۵ يا ۲۲ ذيقعده فيه قولان) د ذوالخليفه نه د تلو په وخت کښې احرام تړلې وو، ليکن بهرحال د سفر په شروع د سوريدو په وخت کښې ئې تړلې وو، او کوم خلق چه مخکښې نه په مکه کښې مقيم وی(د کومو باره کښې چه خبره کيږی) دهغوی د سفر ابتداء چونکه د يوم الترويه نه کيږی(چه په دغه ورځ هغوی د مکې نه سور شی، او منی طرف ته ځی) ددې وجې نه ابن عمر ﷠ به هم دغه وخت کښې احرام تړلو، دې دپاره چه يو لحاظ سره د حضور ﷺ اتباع اوشی، يعنی عند الرکوب.

په دې افعال اربعه کښې بعضې داسې دی، چه هغې لره ټول حضرات يا کم ازکم اکثر خلق کوی، نو بيا د سائل دا حصر کول، چه ستاسو نه علاوه بل هيڅوک دا نه کوی، څرنګه صحيح ده؟ ددې په جواب کښې يا خو دا وئيلې شی، چه دا خبره سائل د خپل علم په اعتبار سره کړې وه، او يا داسې وئيل پکار دی، چه ددې مراد دادې، چه ددې څلورو مجموعه سوا ستاسو نه بل هيڅوک نه کوی، لهذا د مجموعې په اعتبار سره حصر صحيح شو،(قسطلانی اشارة) په دغې څلورو کښې اول او آخر لږ د تشريح کولو قابل دې، د آخر تشريح خو اوشوه، او د اول تشريح داده.

د بيت الله ارکان اربعه :

دا خبره پيژندل پکار دی، چه د بيت الله څلور ارکان دی، چه د طواف د ترتيب په اعتبار سره دا دی، رکن حجر اسود، يعنی هغه ګوټ چه په کښې حجر اسود پروت دې، ددې نه د طواف شروع کيږی، رکن عراقی، رکن شامی، دا دواړه د حطيم طرف ته دی، دې دواړو ته تغليبا رکنين شامپين وئيلې کيږی، او څلورم رکن رکن يمانی دې،[2] رکن يمانی او رکن اسود دواړو ته تغليبا يمانيين وئيلې شی، لکه چه دلته په حديث کښې دی، په دې څلورو کښې صرف دوه ارکان، يعنی رکن اسود او رکن يمانی ته دا خصوصيت حاصل دې چه دا په قواعد ابراهيمی باندې دی، او باقی دوه يعنی شامپين په قواعد ابراهيمی باندې نه

---

[1] په دې کښې د ائمهٔ مذاهب دادی، د امام مالک په نزد په يکم ذی الحجه باندې تړل اولی دی، اود شوافعو او حنابله ؤ په نزد په يوم الترويه باندې، اود احنافو په نزد کلما قدم فهو افضل (حاشيه بذل).

[2] ددې ارکانو د جهات تعين داسې دې: الأول في الجنوب الشرقي والثاني في الشمال الشرقي والثالث في الشمال الغربي والرابع في الجنوب الغربي وباب الكعبة شرقي اهـ (تکمله منهل)

دی،(۱) ددې وجې نه صرف د یمانیین استلام کیږی، او چونکه د رکن اسود یو فضیلت دا هم دې، چه په دې کښې حجر اسود پروت دې، چه د جنت نه راغلې کانړې دې، ددې وجې نه استلام سره ددې تقبیل هم مستحب دی، د جمهور صحابه، تابعین او د ائمه اربعه مشهور مذهب هم دادې، البته بعضې صحابه کرام لکه حضرت معاویه رضي الله عنه او حضرت عبدالله بن زبیر رضي الله عنه به د څلورو وارو ارکانو استلام کوؤ، کما رواه البخاری(۲) تعلیقا والترمذی موصولا، د ترمذی شریف په روایت کښې دی، چه ابن عباس رضي الله عنه کله معاویه رضي الله عنه اولیدو، چه هغه د څلورو وارو ارکانو استلام کولو، نو هغوی پرې اعتراض اوکړو، معاویه رضي الله عنه اوفرمائیل لیس شئ من البیت مهجورا، چه د بیت الله شریف هیڅ یو حصه قابل ترک نه ده، او هم دا خبره د ابن الزبیر رضي الله عنه نه هم منقول ده(کما فی الفتح ج۳ ص۱۷۹) په دې ابن عباس رضي الله عنه اوفرمائیل لقد کان لکم فی رسول الله اسوة حسنة، هم داسې حضرت امام شافعی رحمه الله فرمائیلې دی، چه دا ترک استلام هجرا للبیت نه دی، بلکه اتباع رسول صلی الله علیه وسلم دې، او هجر څرنګه کیدې شی، هرکله چه هغه د ټول بیت الله شریف طواف کوی.

[۱۷۷۳](۳) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَكْرٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: "صَلَّى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الظُّهْرَ بِالْمَدِينَةِ أَرْبَعًا وَصَلَّى الْعَصْرَ بِذِي الْحُلَيْفَةِ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ بَاتَ بِذِي الْحُلَيْفَةِ حَتَّى أَصْبَحَ فَلَمَّا رَكِبَ رَاحِلَتَهُ وَاسْتَوَتْ بِهِ أَهَلَّ".

حضرت انس رضي الله عنه بیان کوی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم په مدینه کښې د ماسپخین مونځ څلور رکعته ادا کړل او په ذوالحلیفه کښې ئې د مازیګر دوه رکعته اوکړل او هم هلته کښې ئې شپه تیره کړه تردې پورې چه صبا شو، بیا کله چه هغوی په خپله سورلئ باندې سوارهٔ شو او سورلی پورته شوه نو هغوی صلی الله علیه وسلم تلبیه اوفرمائیله."

تشریح: قوله: عن انس رضي الله عنه قال صلی رسول الله(صلی الله علیه و سلم) الظهر بالمدینة اربعا و صلی العصر بذی الحلیفة رکعتین،

نبی کریم صلی الله علیه وسلم د حجة الوداع په سفر کښې د مدینې نه د ماسپخین مونځ کولو نه پس روان شو، او ذوالحلیفه(چه د مدینې نه شپږ میله فاصله کښې دی، او د اهل مدینه میقات دې) رسیدلو نه پس ئې د مازیګر دوه رکعت ادا کړل، نبی کریم صلی الله علیه وسلم په ذوالحلیفه کښې ټول

---

(۱) د حضور صلی الله علیه وسلم د بعثت نه مخکښې واقعه ده چه د قریش کافرانو د بیت الله شریف سر دوباره تعمیر کړې وو، د تعمیر ابتداء ئې د رکنین یمانیین د طرفه کړې وه لیکن موجوده رکنین د شامیین پورې د رسیدو نه پس اندازه اوشوه چه په دې تعمیر باندې دخرچ کولو دپاره کوم طیب مال مونږ جمع کړې دی، که دا عمارت مونږ مخکښې پورې اورسولو تر کوم ځائ پورې چه مخکښې وو نو دا مال به ناکافی شی په دې وجه هغوی ددې تعمیر صرف دهغه ځائ پورې اوساتلو(کوم ځائ پورې چه اوس دی) چه ددې په وجه دا دوه رکن په خپل اصلی قدیم ځائ باندې نه دی(همدا مطلب دې په قواعد ابراهیمی باندې د نه کیدلو.

(۲) فی باب من لم یستلم الا الرکنین الیمانیین.

(۳): صحیح البخاري/الحج ۲۴(۱۵۴۶)، صحیح مسلم/المسافرین ۱(۶۹۰)، سنن النسائي/الصلاة ۱۱(۴۷۰، ۴۷۸)، سنن الترمذي/الصلاة ۲۷۴(۵۴۶)،(تحفة الأشراف: ۱۵۷۳)، وقد أخرجه: مسند احمد(۲۳۷/۳، ۳۷۸)(صحیح)

پنځه مونځونه ادا کړل، مازیګر، ماښام، ماسخوتن، سحر، او بیا د بلې ورځې د ماسپخین مونځ ادا کولو نه پس ئې احرام اوتړو، او روان شو، د مسلم په روایت کښې ددې تصریح ده(بذل) او خپله په دې کتاب کښې راتلونکې روایت کښې هم د ماسپخین نه پس د روانیدو ذکر دې، لیکن د ابوداؤد ددې روایت نه شبه کیږی، چه نبی کریم ﷺ د ذوالحلیفه نه په بله ورځ علی الصباح روان شو، حالانکه داسې نه ده.

[۱۷۷٤](١) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا رَوْحٌ، حَدَّثَنَا أَشْعَثُ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "صَلَّى الظُّهْرَ ثُمَّ رَكِبَ رَاحِلَتَهُ، فَلَمَّا عَلَا عَلَى جَبَلِ الْبَيْدَاءِ أَهَلَّ".

د حضرت انس بن مالک رضی الله عنه نه روایت دې چه نبی کریم ﷺ د ماسپخین مونځ ادا کړو، بیا په خپله سورلۍ باندې سور شو او هر کله چه هغوی ﷺ د مقام بیداء بلندۍ ته اورسیدل نو حضور ﷺ تلبیه اووئیله ـ"

[۱۷۷۵](٢) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا وَهْبٌ يَعْنِي ابْنَ جَرِيرٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا أَبِي، قَالَ: سَمِعْتُ مُحَمَّدَ بْنَ إِسْحَاقَ يُحَدِّثُ، عَنْ أَبِي الزِّنَادِ، عَنْ عَائِشَةَ بِنْتِ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ، قَالَتْ: قَالَ سَعْدُ بْنُ أَبِي وَقَّاصٍ: "كَانَ نَبِيُّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَخَذَ طَرِيقَ الْفُرْعِ أَهَلَّ إِذَا اسْتَقَلَّتْ بِهِ رَاحِلَتُهُ، وَإِذَا أَخَذَ طَرِيقَ أُحُدٍ أَهَلَّ إِذَا أَشْرَفَ عَلَى جَبَلِ الْبَيْدَاءِ".

حضرت سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه بیان کوی چه نبی کریم ﷺ به کله د "فرع" لار اختیار اوفرمائیله نو په دغه وخت کښې به ئې تلبیه شروع کووله او کله چه به سورلۍ هغوی ﷺ لره پورته کړو او سورلی به قائمه شوه، او کله چه به ئې د احد لاره اختیاروله نو په هغه وخت کښې به ئې تلبیته شروع کووله کله چه به د مقام بیداء په ټیلو باندې ختلو ـ"

قال سعد بن ابی وقاص کان نبی الله(صلی الله علیه و سلم) اذا اخذ طریق الفرع اهل اذا استقلت به راحلته واذا اخذ طریق احد اهل اذا اشرف علی جبل البیداء.

د محل احرام باره کښې راوی وائی، چه نبی کریم ﷺ د مدینې نه مکې طرف ته سفر کښې کله طریق الفرع اختیاروله، نو احرام به ئې په سورلۍ باندې د سوریدو په وخت کښې تړلو، او کله به چه د طریق احد نه نبی کریم ﷺ سفر کولو، نو احرام به ئې جبل بیداء باندې ختلو په وخت کښې تړلو.

د نبی کریم ﷺ دا متعدد سفرونه د حج دپاره خو کیدې نشی، ځکه چه حج خو نبی کریم ﷺ بعد الهجرة صرف یو کړې دې، البته عمرې ئې ډیرې کړې دی.

د مکې نه مدینې دپاره طرق اربعه:

ددې نه پس دا پیژندل پکار دی، چه د مدینې نه مکې ته تللو دپاره څلور لارې کتابونو لیکلې دی، په جزء حجة الوداع کښې هم حضرت شیخ رحمه الله لیکلې دی، هغه دادی:
(١) الطریق الشرقی(٢) الطریق السلطانی(٣) الطریق الفرعی(٤) طریق الغائر.

---

(١): سنن النسائي/الحج ٢٥(٢٦٦٣)، ٥٦(٢٧٥٦)، ١٤٣(٢٩٣٤)،(تحفة الأشراف: ٥٢٤)، وقد أخرجه: مسند احمد(٢٠٧/٣)، سنن الدارمي/الحج ١٢(١٨٤٨)(صحيح لغيره)

(٢): تفرد به أبو داود،(تحفة الأشراف: ٣٩٥٦)(ضعيف)

ددې اخرى باره کښې ئې ليکلې دى، چه طريق الهجرة هم دا ده، نبى کريم ﷺ مدينې منورې ته هجرت هم په دې لاره باندې فرمائيلې وو، او نن صبا دا لاره په طريق الهجرة نوم سره مشهوره ده،(۱)

دلته کښې دا اشکال کيږى، چه په مذکوره حديث کښې طريق احد ذکر دې، حالانکه په دې طرق اربعه کښې طريق احد نشته، نو بيا دا کومه يوه لاره ده، بله دا چه حضرت په بذل کښې ليکلې دى، چه احد غر خو د مدينې نه شمال طرف ته دې، او مکه مکرمه جنوب طرف ته ده، زمونږ حضرت شيخ رحمه الله به فرمائيل، چه شايد د طريق احد نه الطريق الشرقى مراددې (احد دمدينې نه مشرق شمال طرف ته واقع دې، والله تعالى اعلم بالصواب.

بَابُ الِاشْتِرَاطِ فِي الْحَجِّ

بابـ ۲۲ - په حج کښې شرط لګول

اشتراط فى الحج مشهوره اختلافى مسئله ده، او حاصل ددې دا دې، چه که يو سړي ته دا خطره وى، چه پته نه لګى، چه زۀ به احرام تړلو نه پس عافيت سره حج يا عمره اوکړې شم، او که نه؟ مکې مکرمې ته به اورسم، او که نه؟ نو هغه ددې حل داسې کوى، چه د احرام نيت داسې کوى، چه که بالفرض زۀ مکې مکرمې ته اونه رسيدم، نو په لاره کښې چه کوم ځائې کښې راته عذر پيښ شى، حلال به شم.

[۱۷۷٦](۲) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا عَبَّادُ بْنُ الْعَوَّامِ، عَنْ هِلَالِ بْنِ خَبَّابٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ ضُبَاعَةَ بِنْتَ الزُّبَيْرِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ أَتَتْ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَتْ: "يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنِّي أُرِيدُ الْحَجَّ أَأَشْتَرِطُ؟ قَالَ: نَعَمْ"، قَالَتْ: فَكَيْفَ أَقُولُ؟ قَالَ: "قُولِي: لَبَّيْكَ اللَّهُمَّ لَبَّيْكَ، وَمَحِلِّي مِنَ الْأَرْضِ حَيْثُ حَبَسْتَنِي".

حضرت ابن عباس رضي الله عنهما بيان کوى چه(ام حکيم) ضباعه بنت الزبير بن عبد المطلب رضي الله عنها د رسول الله ﷺ په خدمت کښې راغله اووې وئيل : اې دَ الله رسوله ! زۀ دَ حج اراده لرم، نو(آيا څۀ) شرط کړم؟ حضور ﷺ اوفرمائيل : او - هغه اووې څنګه اووايم؟ حضور ﷺ ورته اوفرمائيل : [لبيک اللهم لبيک ...... زۀ به په لاره کښې هم په هغه ځائې کښې حلاليږم په کوم ځائې کښې چه تۀ مالره منع کوى -

اختلاف ائمه او منشاء د اختلاف:

په دې کښې د ائمه اختلاف دې، شافعيه او حنابله ددې اشتراط قائل دى، احناف او مالکيه قائل نه دى، او دا اختلاف متفرع دې، په يو بل اختلاف باندې، چه دهغې باب مخکښې مستقل راروان دې، يعنى احصار، په احصار کښې د ائمه اختلاف دادې، چه

(۱) دا لاره د ډير وخت نه غير آباده وه اوس د يو څو کالو راسې تقريبًا د ۱۴۰۳ هـ نه دا لاره شروع شوې ده دوباره دا سړک جوړ شوې دې.

(۲): سنن الترمذي/الحج ۱۷(۹٤۱)، سنن النسائي/الحج ٦۰(۲۷٦۷)،(تحفة الأشراف: ٥۷٥٤، ٦۲۱٤، ٦۲۳۳)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/الحج ۱٥(۱۲۰۸)، سنن ابن ماجه/المناسك ۲٤(۲۹۳٦)، مسند احمد(۱/۳۳۷، ۳٥۲)، سنن الدارمي/المناسك ۱٥(۱۸٥۲)(حسن صحيح)

احنافو خو دا وائی، چه دا د دشمن سره خاص نه دې، بلکه هر عذر او مرض ته شامل دې، لهذا د څه عذر په وجه سره چه محرم حرم شریف ته د تللو نه منع شو، نو ګویا هغه ته احصار لاحق شو، او کوم حکم د احصار چه په قرآن مجید کښې مذکور دې، یعنې دم ورکول او حلالیدل، دا حکم ددې هم دې، لهذا د احرام په وخت کښې د هیڅ شرط لګولو ضرورت نشته، بغیر د شرط نه د قاعدې مطابق هدی ذبح کولو سره محرم حلالیدې شی، او ائمه ثلثه دا فرمائي چه احصار او دهغې کوم حکم چه په قرآن مجید کښې مذکور دې، هغه د دشمن سره خاص دې،[1] د دشمن نه علاوه که څه بل مانع پیښ شی، نو دهغې دا حکم نه دې، آخر ددې حل څه دې؟ نو شافعیه او حنابله فرمائي چه ددې حل اشتراط عند الاحرام دې، چه په حدیث الباب کښې ذکر دې، یعنې د احرام په وخت کښې به دا نیت اوکړی، اللهم محلی من الارض حیث حبستنی، یا الله، په لاره کښې چه کوم ځائې کښې تهٔ مالره د مخکښې تللو نه منع کړې، نو زما د حلالیدو ځائې به هم هغه وی، د شافعیه او حنابله په نزد د اشتراط دوه فائدې دی، یو دا چه اوس به د هغه دپاره حلالیدل جائز وی، دویم دا چه دم پرې هم واجب نه دې، بغیر د هدی نه حلالیدې شی، او د احنافو په نزد اشتراط مطلقا غیر مفید دې، ځکه چه حلالیدل دهغوی په نزد هسې هم جائز دی، او هدی څرنګه چه بغیر اشتراط واجب کیږی، دغه شان بعد الاشتراط هم واجب کیږی، فلا فائدة فی الاشتراط او د مالکیه په نزد هم اشتراط غیر مفید دې، دهغوی په نزد که حابس او مانع غیر عدو دې، یعنې د دشمن نه علاوه بل څه عذر ورته پیښ دې، نو بیا تحلل بغیر د طواف نه هیڅ طریقې سره جائز نه دې، که شرط ئې لګولې وی، او که لګولې ئې نه وی.

د احنافو دلیل او د حدیث الباب توجیه:

د احنافو دلیل د حجاج بن عمرو هغه حدیث مرفوع دې، چه مخکښې په باب الاحصار کښې راروان دې، من کسر او عرج فقد حل، او د شافعیه او حنابله استدلال په حدیث الباب یعنې حدیث ضباعه بنت الزبیر بن عبد المطلب باندې دې،

احنافو وائی، چه که ستاسو مراد په دې حدیث کښې دا وی، چه بعد الاشتراط تحلل جائز کیږی، په داسې طریقې سره چه دم هم ساقطیږی، نو بیا خو دا حدیث او دا حکم صرف دهغوی سره خاص دې، د واقعة حال لا عموم لها د قبیلې نه دې، او که مراد دادې، چه صرف حلال کیدلو دپاره دا شرط لګولې شی، او سقوط دم مراد نه دې، نو بیا په خصوصیت باندې هم د محمولول ضرورت نشته، ځکه چه دا حکم یعنې تحلل بالهدی د ټولو دپاره دې، پاتې شوه دا خبره، چه د احنافو په نزد تحلل بغیر اشتراط هم جائز دې، او دلته کښې حضور ﷺ هغوی ته د اشتراط حکم فرمائي؟ جواب دادې، چه ممکن ده، چه دا امر بالاشتراط صرف د هغوی د تسلئ او تطیب خاطر دپاره وی، بعضې خبرې ښځو ته لږ وروستو په پوهه کښې راځی، که څوک اوائی، چه ددې تاویل حاجت څه دې؟ جواب دادې،

[1] ځکه چه د آیت شان نزول د حدیبیه والا قصه ده اوپه حدیبیه کښې چه کوم حصر واقع شوې وو هغه بالعدد وو لهذا ددې حصر دا حکم دې چه دم ورکولو سره حلال شی.

دي دپاره چه د من کسر او عرج الحديث خلاف نه شي، او شافعيه حضرات د من کسر او عرج والا حديث جواب دا ورکوي، چه دا حديث مطلقا نه دي، بلکه محمول عند الاشتراط دي، يعنى دکسر او او عرج واقع کيدو نه پس هغه دپاره تحلل جائز دي، که چرې عند الاحرام هغه د تحلل شرط کړې وي.

بَابٌ فِي إِفْرَادِ الْحَجِّ

باب: ۲۳- دَ حجِّ افراد احکام او مسائل

اقسام حج:

د جمهورو په نزد د نسك يعنى د حج درې قسمونه دى، قران، تمتع، او افراد، او د امام احمد رحمه الله په نزد يو څلورم قسم هم دې، فسخ الحج الى العمرة، چه په اصل کښې د تمتع يو خاص قسم دې، امام بخاري رحمه الله څلور واړه قسمونه په يو ترجمة الباب کښې ذکر کړې دى.

(۱) **تعريف القرآن:** د حج او عمرې دواړو په يو ځائې احرام تړل، بان يقول لبيك بحج و عمرة، او که مخکښې صرف د عمرې احرام اوتړى، او بيا روستو د حج نيت هم اوکړى، يعنى ادخال الحج على العمرة نو دا هم بغير د کراهت نه جائز دې، او که ددې عکس وى (ادخال العمرة على الحج) نو بيا به هم قران وى، ليکن داسې کول د احنافو په نزد خو صرف مکروه دى، او د شافعيه په قول راجح کښې جائز هم نه دى، بهرحال په قران کښې جمع بين الحج والعمرة وى، [۱] اول عمره کولې شى، (طواف او سعى) د هغې نه فارغ کيدو نه پس چه کله د حج تاريخونه راشى، نو په هغې کښې حج کولې شى، او په مينځ کښې تحلل يعنى خروج عن الاحرام نه وى، بلکه قارن په حالت احرام کښې اوسيږى.

(۲) **تعريف التمتع:** په دې کښې هم جمع بين الحج والعمرة فى سفر واحد وى، ليکن اول په اشهر حج کښې صرف د عمرې احرام تړلې شى، دهغې نه فارغيدو نه پس که هغه سائق الهدى نه وو، نو حلاليږى، او چه کله د حج تاريخونه راشى، نو په هغې کښې بيا د احج احرام تړى اوحج کوى،

(۳) **تعريف الافراد:** صرف د حج په نيت سره احرام تړل، او حج کول،

(۴) **فسخ الحج الى العمرة:** دادې، چه سړې شروع کښې د حج احرام اوتړى، او روستو مکې مکرمې ته رسيدو نه پس د حج احرام فسخ کړى، او هغې لره د عمرې احرام مقرر کړى، او د عمرې د افعالو نه فارغيدو نه پس حلال شى، دهغې نه پس په ايام حج کښې دوباره د حج احرام اوتړى، او حج ادا کړى، نبى کريم ﷺ د حجة الوداع په کال په صحابه کرامو باندې داسې طريقه کړې وه، چه دهغې خاص مصلحت وو [۲]

[۱] دا خو زمونږ په نزد ده او د جمهورو په نزد په قران کښې عملا خو صرف ارکان حج ادا کولې شى، نيت البته د حج او عمرې دواړو وى او گويا د افعال حج په ضمن کښې افعال عمره هم ادا کيږى دا مستقل يوه اختلافى مسئله ده کوم چه به وړاندې په خپل ځائې باندې راشى.

[۲] هغه دا چه د جاهليت د زمانې د حج په مياشتو کښې به عمرې کولو ته افجر فجور (سخته گناه) گڼړلې شوه ﴿ ويقولون اذا عفا الوبر وبراء الدبر ودخل صفر فقد حلت العمرة لمن اعمر ﴾ نو ......←

د جمهورو په نزد دا صورت د تمتع منسوخ دې، حضرت امام احمد ددې قائل دې، هغه دې لره منسوخ نه مني، دا خو دهغې اقسام حج او انواع نسك تعريف شو، اوس دلته دوه خبرې نورې پاتې شوې، چه نبي كريم ﷺ په دې قسمونو كښې كوم قسم اختيار فرمائيلې وو، دويمه خبره دا چه په دغې انواعو كښې د فضيلت په اعتبار سره ترتيب څه دې، دا دواړه خبرې د حديث الباب لاندې راروانې دی،

[۱۷۷۷](۱) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ الْقَعْنَبِيُّ، حَدَّثَنَا مَالِكٌ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْقَاسِمِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "أَفْرَدَ الْحَجَّ".

حضرت عائشه رضي الله عنها بيان كوی چه رسول الله ﷺ حج افراد كړې وو۔

تشريح: قوله: عن عائشة رضي الله عنها ان رسول الله (صلى الله عليه و سلم) افرد الحج:

د نبي كريم ﷺ په حجة الوداع كښې كوم احرام وو، په دې حديث كښې دهغې بيان دې، يعنی په امرين مذكورين كښې د امر اول.

د حضور ﷺ په احرام كښې اقوال سته:

په دې كښې د علماؤ شپږ اقوال مشهور دی، چه هغې لره حضرت شيخ په جزء حجة الوداع كښې ليكلې دی،

(۱) نبي كريم ﷺ مفرد وو، د اول نه تر آخر پورې، هم دا رائې د امام مالك هم ده، او هم دا په مذكوره حديث كښې هم دی.

(۲) نبي كريم ﷺ متمتع وو، او بعد الفراغ عن العمرة حلال شوې هم وو، ليكن دا قول غلط

ـه... رسول الله ﷺ اوغوښتل په لويه مجمع كښې د دې جاهليت د رسم پر زور ترديد اوشي او د ټولو مخكښې دا خبره راشي چه په اشهر حج كښې عمره جائز ده پس رسول الله ﷺ داسې اوكړل چه كومو صحابه كرامو د حج افراد احرام تړلې وو او هغه سائق الهدی هم نه وو (او زيات تر خلق هم داسې وو) دې ټولو ته رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه تاسو خلق طواف او سعی كولو سره دا عمره اومنئ يعنی كوم احرام چه تاسو د حج په نيت سره تړلې دې په هغې كښې د حج نيت لره فسخ كولو سره د عمرې نيت اوكړئ او دا احرام حج احرام عمره كړئ او د عمرې نه فارغيدو سره حلال شئ، حلق راس او ګنډلې جامې واغوندئ او دا څو ورځې حلال اوسيدو سره په مكه كښې تير كړئ چه ستاسو د دې حالت مشاهده ټول خلق اوكړی او پوهه شی چه دوی ټول عمره كولو سره حلال شو دی او دا خبره ښكاره مخې ته راشی چه په اشهر حج كښې عمره كول ناجائز او د ګناه خبره نه ده او د رسول الله ﷺ فسخ الحج الي العمرة صرف په هغه خلقو باندې كول كوم چه سائق الهدی نه وو هم په دې وجه وو چه مسئله ښكاره مخې ته راشی څكه چه د سائق الهدی دپاره حلال كيدل جائز نه دی، او دلته په دې فسخ سره چه د رسول الله ﷺ كوم مقصود وو هغه ښكاره په دې صورت كښې زيات ظاهر وه په داسې حال كښې چه خلق عمره كولو سره حلال هم شی څكه چه كه عمره خو اوكړی خو حلال نه شی نو كتونكو ته به دا څنګه معلومه شی چه هغوی عمره كړې ده او حلال هم هغه څوک كيدې شی چا چه عمره كړې وی. وهذا غاية توضيح للمقام والله ولي المرام. ۱۲

(۱): صحيح مسلم/الحج ۱۷(۱۲۱۱)، سنن الترمذي/الحج ۱۰(۸۲۰)، سنن النسائي/الحج ٤٨(۲۷۱٦)، سنن ابن ماجه/المناسك ۳۷(۲۹٦٤)،(تحفة الأشراف: ۱۷۵۱۷)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الحج ۱۱(۳۷)، مسند احمد(٦/۲٤۳)، سنن الدارمي/المناسك ۱٦(۱۸۵۳)(صحيح الإسناد)

دي، په یوه غلطۍ باندې مبنی دې، چه دهغې تشریح راروانه ده،[1] ځکه چه په کثرت سره احادیثو کښې راغلی دی، لو استقبلت من امری مااستدبرت لما سقت الهدی و لحللت، ددې نه صفا طور باندې معلومیږی، چه نبی کریم ﷺ د سائق الهدی کیدلو د وجې نه په مینځ کښې حلال شوې نه وو،

(۳) نبی کریم ﷺ متمتع وو، لیکن په مینځ کښې حلال شوې نه وو.

(۴) نبی کریم ﷺ د اول نه آخره پورې قارن وو، ابن قیم رحمه الله فرمائي چه د نبی کریم ﷺ قارن کیدل د دولسو صحابه کرامو د روایاتو نه ثابت دی.

(۵) نبی کریم ﷺ ابتداءً مفرد وو، انتهاءً قارن وو، یعنی په شروع کښې نبی کریم ﷺ صرف د حج د احرام نیت فرمائیلې وو، بیا ئې په هغې باندې د عمرې نیت هم اوفرمائیلو، یعنی نبی کریم ﷺ ادخال العمرة علی الحج کړې وو،[2]

(۶) نبی کریم ﷺ ابتداء متمتع وو، او انتهاءً قارن، اختاره الامام الطحاوی او په دې کښې قول خامس بعضې محققین شافعیه او مالکیه لکه امام نووی رحمه الله او قاضی عیاض مالکی رحمه الله اختیار کړې دې.

د نبی کریم ﷺ د قران یو واضح دلیل هغه حدیث دې، چه مخکښې په باب القران کښې راروان دې، چه هغې لره ابن عباس رضی الله عنه د عمر بن الخطاب رضی الله عنه نه روایت کړې دې، چه هغوی اوفرمائیل: اتانی اللیلة آت من عند ربی عزوجل قال وهو بالعقیق فقال صل فی هذا الوادی المبارک و قل حجة فی عمرة، دا حدیث په بخاری شریف کښې هم شته، ددې نه معلومیږی، چه د نبی کریم ﷺ حج، حج قران وو،[3] بلکه نبی کریم ﷺ په دې مامور من الله تعالی وو، بهرحال راجح هم دا دی، چه نبی کریم ﷺ قارن وو، که په شروع کښې وی .او که انتهاء او مآلا.

د نبی کریم ﷺ په احرام کښې د روایات مختلفه توجیه:

او د تعارض بین الروایات المختلفه توجیه یا خو داسې کیدې شی، یعنی د ابتداءً او انتهاءً فرق، چه ابتداء مفرد یا متمتع وو، او انتهاء قارن، او یا داسې اوئیلې شی، چه اصل دا ده، چه د سړې د کوم قسم هم احرام وو، د هغې اظهار په تلبیه کښې کول پکار دی، مثلا که مفرد دې، نو اودې وائی: لبیک اللهم لبیک بحج الخ، او که متمتع وی، نو اودې وائی: لبیک بعمرة الخ، او که قارن دې، نو دواړه دې جمع کړی، او اودې وائی: لبیک بحج و عمرة، لیکن قارن دپاره ضروری نه ده، چه هر ځل بحج و عمرة اوائی، بلکه کله بحج او کله

[1] ددې منشأ هغه حدیث دې کوم چه په باب القران کښې راروان دې: عن ابن عباس ان معاویة قال له اما علمت انی قصرت عن رسول الله ﷺ علی المروة، ددې تشریح به هلته راځی.

[2] داسې کول عند الشافعیه خو جائز نه دی اود احنافو په نزد جائز مع الکراهة دی، وقد تقدم هذا الاختلاف فی بیان انواع الحج.

[3] اګرچه کوم حضرات د حضور پاک ﷺ د قران قائل نه دی هغوی ددې حدیث تاویل کړې دې او بل مطلب ئې اخستې دې هغه دا چه تاسو حج سره هم په دغه کال عمره هم اوکړی یا دا چه تاسو خلقو ته اوفرمایئ چه هغوی غواړی نو حج سره دې عمره هم اوکړی.

صرف بعمرة وئيلې شي، عرض دا چه د قارن دپاره د دواړو ګنجائش شته، ليکن ظاهره خبره ده، چه د تمتع په تلبيه کښې به صرف بعمرة وئيلې شي، او په افراد کښې به صرف بحج وئيلې شي، نوکوم سړې چه د نبی کريم ﷺ نه واؤريدل: لبيك بعمرة، هغه دا اوګڼړل، چه نبی کريم ﷺ متمتع دې، او چا چه واؤريدل: لبيك بحج، نو هغه دا اوګڼړل، چه نبی کريم ﷺ مفرد دې، اوچا چه واؤريدل لبيك بحج و عمرة، نوهغه دا نقل کړل، چه نبی کريم ﷺ قارن وو کما هو فی الواقع کذلك، ځکه چه د غير قارن دپاره لبيك بحج و عمرة وئيل صحيح نه دی.

په اقسامو د حج کښې د فضيلت په اعتبار سره ترتيب:

دويمه خبره دلته کښې دا بيانول دی، د کومې ذکر چه مخکښې راغلې دې، چه په دې اقسامو کښې د فضيلت په اعتبار سره ترتيب څه دې؟ نو په دې خبره پوهيدل پکار دی، چه د احنافو په نزد ترتيب داسې دې، القران ثم التمتع ثم الافراد، او د شافعيه په نزد بالکل ددې برعکس يعنی الافراد ثم التمتع ثم القران. ليکن د افراد افضليت دهغوی په نزد په دې صورت کښې دې، چه هغه سړې په دغه کال د حج نه فارغيدو نه پس عمره هم اوکړی، ګنی فضيلت نشته،(¹) بلکه په دې صورت کښې به افراد مفضول او مکروه وی، کما فی شرح الاقناع وغيره من کتب الشافعيه، او د مالکيه په نزد ترتيب داسې دې، الافراد ثم القران ثم التمتع، و عند احمد هکذا التمتع ثم الافراد ثم القران، د حنابله دليل دادې، چه نبی کريم ﷺ اوفرمائيل: لولا انی اهديت لاهللت بعمرة، او ددې په شان نور روايات، يعنی دا چه نبی کريم ﷺ د تمتع تمنا فرمائيله،(²) او ظاهره خبره ده، چه نبی کريم ﷺ د غير افضل تمنا نشوه فرمائيلې، او د شافعيه دليل دادې، چه کوم افراد ته هغوی افضل وائی، په هغې کښې اهتمام زيات دې، ځکه په هغې کښې د حج دپاره د ميقات نه مستقل احرام تړلې شی، او بيا بعد الفراغ من الحج د عمرې دپاره ځانله مستقل د من ادنی الحل نه احرام تړلې شی، په خلاف د تمتع،(³) چه اګر چه په دې کښې هم د دواړو دپاره ځان ځانله احرام تړل وی، ليکن په مينځ کښې سړې د محظورات احرام نه فائده اخلی، د احرام تسلسل باقی نه پاتې کيږی، او په خلاف د قرآن چه په هغې کښې د عمرې افعال صرف تبعا او ضمنا موندلې کيږی، کما هو مسلك الجمهور.

(¹) يعنی د ذی الحجه د ختميدو نه مخکښې ګنی د ذی الحجه نه پس به دويم کال شروع شی په کتب شافعيه کښې ددې تصريح شته.

(²) ددې جوا دا کيدې شی چه د تمتع تمنا هغوی د يو عارض په وجه کوله هغه داچه صحابو ته په حلال کيدو کښې تردد کيدلو په دې وجه دهغوی د تسلئ دپاره هغوی ﷺ فرمائيلی وو چه که زه هم ستاسو په شان سائق الهدی نه ووم نو زه به هم حلال شوې ووم او فسخ الحج الی العمرة به مې کړې وه او ښکاره ده چه دغه کال فسخ الحج الی العمرة د يو خاص مصلحت په وجه کړې شوې وه. والله تعالی أعلم

(³) دا دليل صراحت سره دهغوی په کتابونو کښې ماته ملاؤ نه شو، مستنبط کيږی.

[۱۷۷۸](1) حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ. ح وحَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ يَعْنِي ابْنَ سَلَمَةَ. ح وحَدَّثَنَا مُوسَى، حَدَّثَنَا وُهَيْبٌ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّهَا قَالَتْ: خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُوَافِينَ هِلَالَ ذِي الْحِجَّةِ، فَلَمَّا كَانَ بِذِي الْحُلَيْفَةِ، قَالَ: "مَنْ شَاءَ أَنْ يُهِلَّ بِحَجٍّ فَلْيُهِلَّ، وَمَنْ شَاءَ أَنْ يُهِلَّ بِعُمْرَةٍ فَلْيُهِلَّ بِعُمْرَةٍ"، قَالَ مُوسَى فِي حَدِيثِ وُهَيْبٍ: "فَإِنِّي لَوْلَا أَنِّي أَهْدَيْتُ لَأَهْلَلْتُ بِعُمْرَةٍ، وَقَالَ فِي حَدِيثِ حَمَّادِ بْنِ سَلَمَةَ: وَأَمَّا أَنَا فَأُهِلُّ بِالْحَجِّ فَإِنَّ مَعِيَ الْهَدْيَ، ثُمَّ اتَّفَقُوا، فَكُنْتُ فِيمَنْ أَهَلَّ بِعُمْرَةٍ، فَلَمَّا كَانَ فِي بَعْضِ الطَّرِيقِ حِضْتُ، فَدَخَلَ عَلَيَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا أَبْكِي، فَقَالَ: مَا يُبْكِيكِ؟ قُلْتُ: وَدِدْتُ أَنِّي لَمْ أَكُنْ خَرَجْتُ الْعَامَ، قَالَ: ارْفُضِي عُمْرَتَكِ وَانْقُضِي رَأْسَكِ وَامْتَشِطِي، قَالَ مُوسَى: وَأَهِلِّي بِالْحَجِّ، وَقَالَ سُلَيْمَانُ: وَاصْنَعِي مَا يَصْنَعُ الْمُسْلِمُونَ فِي حَجِّهِمْ، فَلَمَّا كَانَ لَيْلَةُ الصَّدَرِ أَمَرَ، يَعْنِي رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، عَبْدَ الرَّحْمَنِ فَذَهَبَ بِهَا إِلَى التَّنْعِيمِ، زَادَ مُوسَى: فَأَهَلَّتْ بِعُمْرَةٍ مَكَانَ عُمْرَتِهَا وَطَافَتْ بِالْبَيْتِ فَقَضَى اللَّهُ عُمْرَتَهَا وَحَجَّهَا. قَالَ هِشَامٌ: وَلَمْ يَكُنْ فِي شَيْءٍ مِنْ ذَلِكَ هَدْيٌ. قَالَ أَبُو دَاوُد: زَادَ مُوسَى فِي حَدِيثِ حَمَّادِ بْنِ سَلَمَةَ: فَلَمَّا كَانَتْ لَيْلَةُ الْبَطْحَاءِ طَهُرَتْ عَائِشَةُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا.

حضرت عائشه رضي الله عنها بیان کوی چه د ذوالحجي د میاشتي په راتلو باندي مونږ د رسول الله ﷺ سره اووتلو - کله چه ذوالحلیفه مقام ته راغلو نو حضور ﷺ اوفرمائیل : څوک چه د حج احرام تړل غواړی نو اودي تړی او څوک چه غواړی نو د عمري نیت دي اوکړی - "... موسیٰ بن ابراهیم د وهیب په روایت کښي بیان کوی چه ... (حضور ﷺ اوفرمائیل) که ما د ځان سره قرباني نه وي راخستي نو ما به د عمري احرام تړلو -" په وړاندي روایت کولو کښي راویان متفق دی - (حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائی چه) زه د هغه افرادو نه ومه چاچه د عمري دپاره احرام اوتړلو - بیا په لاره کښي په یوځائي کښي زما حیض شروع شو - رسول الله ﷺ ماته تشریف راوړو او ما ژړل - هغوی ﷺ تپوس اوکړو ولي ژاړئ؟ ما اووي زه غوارم چه دا کال نه وي راغلي (نو ښهٔ به وه) حضور ﷺ اوفرمائیل : خپله عمره پریږده، خپلو ویښتانو لره کولاؤ کړه او ګومنز اوکړه -" موسیٰ وائی :" او د حج نیت اوکړه ... " او سلیمان اووي ... " او داسي اوکړه لکه څنګه چه مسلمان په خپل حج کښي کوی -" الغرض کله چه (د حج نه) د واپسئ ورځ راغله نو رسول الله ﷺ حضرت عبد الرحمٰن (ابن ابی بکر رضي الله عنه چه دا د حضرت عائشي رضي الله عنها رور وو) حکم اوکړو، نو هغه دي لره تنعیم ته بوتله - ... موسیٰ مزید اووئیل : پس هغي د عمري احرام اوتړلو - یعنی د خپلي عمري په بدله کښي، بیا ئي د بیت الله شریف طواف اوکړو - هشام وائی ... په دي صورت کښي څهٔ هدی (فدیه وغیره) نهٔ وه -" امام ابوداود رحمه الله فرمائی چه موسیٰ د حماد بن سلمه په روایت کښي

(1): حديث سليمان بن حرب عن حماد بن زيد قد أخرجه: سنن النسائي/الحج ۱۸۵(۲۹۹۳)، ۱۸۶(۲۹۹٤)،(تحفة الأشراف: ۱٦٨٦٣، ۱٦٨٨٢)، وحديث موسي بن اسماعيل عن حماد بن سلمة وموسي بن اسماعيل عن وهيب، قد تفرد بهما أبو داود،(تحفة الأشراف: ۱۷۲۹۵)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الحيض ۱(۲۹٤)، ۷(۳۰۵)، ۱۵(۳۱٦)، ۱٦(۳۱۷)، ۱۸(۳۱۹)، الحج/۳۱(۱۵۵٦)، ۳۳(۱۵٦۰)، ۳٤(۱۵٦۲)، ۷۷(۱٦۳۸)، ۱۱۵(۱۷۰۹)، ۱۲٤(۱۷۲۰)، ۱٤۵(۱۷۵۷)، العمرة ۷(۱۷۸٦)، ۹(۱۷۸۸)، الجهاد ۱۰۵(۲۹۵۲)، المغازي ۷۷(٤۳۹۵)، صحيح مسلم/الحج ۱۷(۱۲۱۱)، سنن النسائي/الطهارة ۱۸۳(۲۹۱) سنن ابن ماجه/الحج ۳٦(۲۹٦۳)(صحيح)

مزید اوفرمائیل : بیا کله چه د بطحاء ورځ شوه(یعنی په منیٰ کښې د اقامت شپه) نو حضرت عائشه رضي الله عنها پاکه شوې وه-"

تشریح: قوله: انها قالت خرجنا مع رسول الله(صلی الله علیه و سلم) **موافین هلال ذی الحجة الخ**:
مونږ د نبی کریم ﷺ سره د حج دپاره د مدینې منورې نه اوتلو، په دې حال کښې چه مونږ موندونکې وو، د ذی الحجې میاشت لره، یعنی د ذی الحجې میاشت شروع کیدونکې وه، د حافظ ابن قیم رحمه الله تحقیق دادې، چه نبی کریم ﷺ د مدینې منورې نه د خیالې په ورځ ۲۵ ذی قعده باندې روان شو،او د ابن حزم په رائې کښې په ۲۴ ذی قعده یوم الخمیس باندې، یعنی د زیارت په ورځ، لکه چه وارد دی، چه اکثر د نبی کریم ﷺ عادت شریف په یوم الخمیس باندې د سفر شروع کولو وو، او په دې باندې د ټولو اتفاق دې، او په روایاتو کښې تصریح ده، چه مکې مکرمې ته نبی کریم ﷺ ۴ ذی الحجه باندې اورسیدو.

قوله: فلما کان بذی الحلیفة قال من شاء ان یهل بحج فلیهل و من شاء ان یهل بعمرة فلیهل بعمرة:
په شروع کښې[۱] نبی کریم ﷺ په ذوالحلیفه کښې صحابه کرامو ته اختیار ورکړې وو، چه د چا کوم قسم احرام ته زړه کیږی، هغسې دې اوتړی، بیا مخکښې مکې مکرمې سره نزدې نبی کریم ﷺ د فسخ الحج الی العمرة اشاره اوفرمائیله، چه کله صحابه کرامو داسې اونه کړل،[۲] نو بیا مروه ته رسیدلو سره نبی کریم ﷺ صحابه کرامو ته د فسخ الحج الی العمرة امر جازم او قطعی ورکړو، نو هغوی د نبی کریم ﷺ د حکم مطابق دا طواف او سعی لره د عمرې مقرر کړو، او حلال شو.

د احرام عائشه رضي الله عنها تحقیق :

فلما کان فی بعض الطریق حضت : حضرت عائشه رضي الله عنها او ټولې ازواج مطهرات په دې حج کښې متمتعات وې، او په تمتع کښې دا ضروری ده، چه محرم د حج نه مخکښې د عمرې نه فارغ شی، د حضرت عائشې رضي الله عنها دپاره دا ممکن نه وه، ځکه چه دا ټول حضرات مکې مکرمې ته په څلورم ذی الحجه باندې اورسیدل، اوس مخکښې په حج شروع کیدو کښې صرف څلور ورځې باقی وې، او حضرت عائشې رضي الله عنها ته حیض په دریم ذی الحجه باندې راتلل شروع شو، صرف په څلورو پنځو ورځو کښې طهارة عن الحیض او عمره دا ټول کارونه څرنګه کیدې شی، نو بیا عائشې رضي الله عنها څه اوکړل؟ په دې سلسله کښې روایات حدیثیه کښې هم اختلاف دې، او د علماؤ او فقهاؤ په مینځ کښې هم اختلاف دې.

---

[۱]) صحیح صورت حال همدغه دې ګنی ددې موجوده حدیث د ظاهر نه خو دا معلومیږی چه حضور ﷺ صحابؤ ته د فسخ الحج الی العمرة امر په ذوالحلیفه کښې فرمائیلې وو حالانکه داسې نه ده.(کذافی البذل)

[۲]) اوځکه ئې اونه کړل چه هغوی خو دا غوښتل چه په کوم حال کښې تاسو یئ هم په هغه حال کښې هغوی هم وی او هغوی د احرام په حالت کښې وو د سائق الهدی کیدو په وجه حلال کیدې نه شو ځکه هغوی فرمائیلی وو چه: لولا انی اهدیت لأهللت بعمرة وحللت،، چه که ماسره هدی نه وه نو ما به صرف د عمره احرام تړلې وو همدا وخت به تاسو سره حلال شوې ووم لیکن زه سائق الهدی یم او سوق هدی د تحلل نه مانع کیږی.

د احنافو رائې:

د احنافو په نزد خو ددې صرف یو حل وو، هغه دا چه هغه رفض عمره اوکړې، دهغې قضاء به وروستو راؤړې، او د حج احرام دې اوتړې، څکه چه حیض د عمرې نه خو مانع دې، د حج نه مانع نه دې، په حالت حیض کښې ښځه وقوف عرفه او رمی وغیره ټول کولې شي، البته طواف زیارت به پاکیدو نه پس اوکړې، چه کله هم پاکه شي، احناف خو د عائشې ﷞ په قصه کښې دا صورت اختیار کړې دې، هغوی هم دا وائي، چه عائشه ﷞ عمره پریخودله او مفرد بالحج شوه، او روستو بیا هغې ددې عمرې قضا اوکړه، چه هغې ته عمرة التنعیم وئیلې شي، او په روایاتو کښې مشهوره ده.

د جمهورو رائې:

او د شافعیه وغیره په نزد دهغوی د مسلك مطابق ددې دوه حل دی، یو خو دا چه کوم احناف وائي، او دویم حل دا دې، چه عائشه ﷞ د رفض عمره په ځائې د عمرې په احرام باندې د حج د احرام نیت هم اوکړې، او قارنه شي، څکه چه د جمهورو په نزد په قران کښې صرف افعال حج ادا کولې شي، او د حج نه مخکښې د عمرې افعال مستقل نه شي کولې، کما سبق تفصیله في بیان انواع النسك) جمهور علماؤ په احرام عائشه ﷞ کښې دا دویم شکل اختیار کړې دې، یعني عائشه ﷞ په شروع کښې متمتعه وه، او بیا روستو قارنه شوه، او هغې رفض عمره نه وه کړې، اوس سوال دا پیدا کیږي، چه په آخره کښې د محصب نه هغې چه کومه عمره کړې وه(عمرة التنعیم) هغه څنګه وه؟ ددې باره کښې هغوی دا وائي، چه هغه عمره مستانفه وه، یعني مستقل عمره [1]، او د عمره مرفوضه قضاء نه وه، څرنګه چه احناف وائي.

د احنافو او شافعیه په دې اختلاف باندې پوهیدلو نه پس اوس مخکښې تاسو روایات اوګورئ، تاسو به دواړه قسمه روایات اومومئ، د بعضو نه د احنافو تائید په نظر راځي، او د بعضو نه د شوافعو او جمهورو تائید ښکاره کیږي، چه کله یو روایت د احنافو خلاف راځي، نو هغوی په هغې کښې تاویل کوي، دغه شان چه کله د شافعیه خلاف روایت راځي، نو هغوی په هغې کښې تاویل کوي.

فائده : دا چه کوم مخکښې مونږ د حضرت عائشه ﷞ په احرام کښې اختلاف او دهغې تفصیل لیکلې دې، د کتاب الحج ډیر اهم او مشهور بحث دې، عجیبه اتفاق دې، چه څرنګه د حضور ﷺ په احرام کښې د علماؤ سخت اختلاف دې، دغه شان د نبی کریم ﷺ د زوجه محترمه حضرت عائشه ﷞ په احرام کښې هم د علماؤ اختلاف او طویل بحث دې.

قوله: ارفضي عمرتك وانقضي راسك و امتشطي:

دا ټول الفاظ صریح دی د رفض عمره باره کښې، چه دهغې احنافو قائل دی، شافعیه وغیره ددې تاویل دا کوي، چه مراد دادې، چه د عمرې افعال ترك کړه، د عمرې احرام ترك کول

[1] څکه چه په قران کښې چه دحج سره کومه عمره کیږي هغه خوضمنًا کیږي دهغه زړه اوغوښتل چه زه مستقل هم یوه عمره اوکړم لکه څنګه چه نورو ازواجو کړې ده.

مراد نه دی، او مطلب دا دې، چه صرف افعال حج ادا کړه، چه دهغې په ضمن کښې به عمره هم ادا شی، لکه چه عند الجمهور په قران کښې کیږی، لیکن په دې باندې اشکال کیږی، چه نبی کریم ﷺ عائشه رضی الله عنها ته د نقض راس (کمسئ پرانستلو) او امتشاط یعنی ږمنز کولو هم حکم فرمائیلې دې، دا دواړه خو د احرام سره منافی دې، ددې په جواب کښې هغوی وائی، چه د نبی کریم ﷺ مراد دادې، چه که ضرورت اوګنړې، نو په مزه مزه ږمنز وغیره اوکړه، په داسې طریقې سره چه ویښته مات نه شی، والله تعالی اعلم.

قوله: فاهلت بعمرة مکان عمرتها: په دې سره هم د احنافو تائید کیږی، کما هو ظاهر.

قوله: قال هشام و لم یکن فی شئ من ذلك هدی:

په دې جملې سره هم د احنافو تائید کیږی، ځکه که چرې حضرت عائشه رضی الله عنها قارنه وه کما قالوا، نو بیا د هدی نفی ولې کولې شی، په قارن باندې خو دم قران بالاتفاق واجب دې، جناب قاضی عیاض رحمه الله هم ددې اعتراف کړې دې، اګر چه امام نووی رحمه الله دې لره رد کړې دې کما فی الحل المفهم، ابن قیم په جواب کښې وئیلې دی، چه دا جمله د هشام د طرف نه مدرج ده، بعضو نورو راویانو دې لره ذکر کړې نه ده.

قوله: فلما کانت لیلة البطحاء طهرت عائشة رضی الله عنها:

لیلة البطحاء خو لیلة المحصب ته وئیلې شی، کوم ځائې چه هغوی د منی نه د وتلو نه پس په لاره کښې حصار شوې وو، او دا د څوارلسمې ذی الحجې شپه وه (په دیارلسم تاریخ باندې نبی کریم ﷺ د منې نه واپس شوې وو)

په روایت باندې قوی اشکال او جواب:

که مونږ دې روایت لره صحیح اومنو، نو سوال پیدا کیږی، چه حضرت عائشه رضی الله عنها طواف زیارت کله کړې وو؟ ظاهره خبره ده، چه طواف زیارت ئې خو ددې نه ډیر مخکښې کړې وو، او ددې روایت مطابق دهغې مخکښې حالت د حیض وو، او په حیض کښې طواف ممنوع دې، ددې وجې نه ابن حزم دې روایت لره منکر ګرزولې دې.

په دې باندې ټول روایات متفق دی، چه حضرت عائشه رضی الله عنها ته حیض د دخول مکه نه مخکښې په مقام سرف کښې شروع شوې وو، بیا طهر ورته کله حاصل شو، په دې کښې دوه روایتونه دی، په یو روایت کښې دی، یوم عرفه، او په دویم روایت کښې دی، یوم النحر، او وئیلې شوې دی، چه د یوم عرفه د غسل نه مراد خو نفس غسل دې، چه د وقوف عرفه دپاره هغې کړې وو (سره د حیض نه) او په یوم النحر کښې فی الواقع هغې ته طهر حاصل شو.

او د حضرت شیخ والد صاحب مولانا محمد یحیی صاحب دا فرمائې، چه ددې روایت په سیاق کښې تقدیم او تاخیر شوې دې، اصل سیاق ددې هغه دې، چه د څو روایاتو نه پس راروان دې، و لفظه: فلما کانت لیلة البطحاء و طهرت عائشة قالت یا رسول الله (صلی الله علیه و سلم) اترجع صواحبی الخ، په دې روایت کښې طهرت عائشة جمله حالیه ده،[1] ای و قد طهرت عائشة قبلها، سبحان الله څه مزیدار جواب دې.

[1] په خلاف د موجوده روایت چه په دې کښې دا جمله د شرط جزا واقع کیږی. فتأمل.

[۱۷۷۹]() حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ أَبِي الْأَسْوَدِ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ نَوْفَلٍ، عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَتْ: "خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ حَجَّةِ الْوَدَاعِ فَمِنَّا مَنْ أَهَلَّ بِعُمْرَةٍ وَمِنَّا مَنْ أَهَلَّ بِحَجٍّ وَعُمْرَةٍ وَمِنَّا مَنْ أَهَلَّ بِالْحَجِّ، وَأَهَلَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْحَجِّ، فَأَمَّا مَنْ أَهَلَّ بِالْحَجِّ أَوْ جَمَعَ الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ فَلَمْ يَحِلُّوا حَتَّى كَانَ يَوْمَ النَّحْرِ".

ام المؤمنين حضرت عائشه رضي الله عنها بيان کوی چه د حجة الوداع په کال مونږ د رسول الله ﷺ سره اووتلو، په مونږ کښې بعضو د عمرې احرام اوتړلو، بعضو د حج او د عمرې او بعضو صرف د حج احرام اوتړلو - او رسول الله ﷺ د حج احرام تړلي وو، نو کومو خلقو چه د حج يا د حج او د عمرې احرام تړلي وو هغوی د قربانۍ د ورځې(يوم النحر، لسم تاريخ د ذی الحجې) پورې حلال نۀ شو-"

قوله: واما من اهل بالحج (۲)او جمع الحج والعمرة فلم يحل حتی کان يوم النحر:

په دې حديث کښې هغه صحابه کرام چه مفرد او قارن وو، د هغوی باره کښې دا الفاظ راغلی دی، چه هغوی تر هغه وخته پورې حلال شوې نه وو، تر څو پورې چه هغوی د يوم النحر رمی نه وه کړې، دا خبره د قارنين باره کښې خو بالکل صحيح ده، ځکه چه قران د تحلل نه مانع وی، د رمی نه پس يو تحلل راځی، او د مفرد باره کښې خو فی نفسه دا خبره صحيح ده، ليکن په دغه کال چه کوم صحابه مفرد وو، هغوی ته نبی کريم ﷺ د فسخ الحج الی العمرة حکم ورکولو سره حلال کړل، کما سبق تفصيله، بيا د دغه صحابه کرامو باره کښې دا وئيل څرنګه صحيح دی، چه هغوی د يوم النحر د رمی نه مخکښې حلال شوې نه وو، لهذا ددې توجيه به دا کولې شی، چه په دې حديث کښې د مفرد نه هغه مفرد مراد دې، چا سره چه هدی وه، او هغوی سائق الهدی وو، نو چه کوم صحابه مفرد وو، او هغوی سره هدی هم وه، هغوی ته نبی کريم ﷺ د فسخ الحج حکم نه وو ورکړې، او هغوی واقعی د يوم النحر د رمی نه مخکښې حلال شوې نه وو. والله اعلم.

[۱۷۸۰](۳) حَدَّثَنَا ابْنُ السَّرْحِ، أَخْبَرَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي مَالِكٌ، عَنْ أَبِي الْأَسْوَدِ، بِإِسْنَادِهِ مِثْلَهُ. زَادَ: "فَأَمَّا مَنْ أَهَلَّ بِعُمْرَةٍ فَأَحَلَّ".

مالک د ابوالاسود نه په خپل سند سره ددې په مثل باندې بيان کړې دې او دائې مزيد وئيلې دی: او چا چه د عمرې احرام تړلي وو هغوی حلال شول-"

[۱۷۸۱](۴) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهَا قَالَتْ: خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ فَأَهْلَلْنَا بِعُمْرَةٍ، ثُمَّ قَالَ رَسُولُ

---

[1]: صحيح البخاري/البخاري ۳٤(۱۵٦۲)، المغازي ۷۸(٤٤۰۸)، صحيح مسلم/الحج ۱۷(۱۲۱۱)، سنن النسائي/الحج ٤۸(۲۷۱۷)، سنن ابن ماجه/الحج ۳۷(۲۹٦۵)،(تحفة الأشراف: ۱٦۳۸۹)، وقد أخرجه: مسند احمد(٦/۳٦، ۱۰٤، ۱۰۷، ۲٤۳)(صحيح)

[2]) أي واهدي ولا بد من هذا القيد كما اوضحته في الشرح.

[3]: انظر ما قبله،(تحفة الأشراف: ۱٦۳۸۹)(صحيح)

[4]: صحيح البخاري/ الحج ۳۱(۱۵۵٦)، ۷۷(۱٦۳۸)، صحيح مسلم/الحج ۱۷(۱۲۱۱)، سنن النسائي/ الحج ۵۸(۲۷٦۵)،(تحفة الأشراف: ۱٦۵۹۱)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الحج ۷٤(۲۲۳)، مسند احمد(٦/۳۵، ۱۷۷)(صحيح)

اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ كَانَ مَعَهُ هَدْيٌ فَلْيُهِلَّ بِالْحَجِّ مَعَ الْعُمْرَةِ، ثُمَّ لَا يَحِلَّ حَتَّى يَحِلَّ مِنْهُمَا جَمِيعًا"، فَقَدِمْتُ مَكَّةَ وَأَنَا حَائِضٌ وَلَمْ أَطُفْ بِالْبَيْتِ وَلَا بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ، فَشَكَوْتُ ذٰلِكَ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: "انْقُضِي رَأْسَكِ وَامْتَشِطِي وَأَهِلِّي بِالْحَجِّ وَدَعِي الْعُمْرَةَ"، قَالَتْ: فَفَعَلْتُ، فَلَمَّا قَضَيْنَا الْحَجَّ، أَرْسَلَنِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَعَ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ إِلَى التَّنْعِيمِ، فَاعْتَمَرْتُ، فَقَالَ: "هٰذِهِ مَكَانُ عُمْرَتِكِ"، قَالَتْ: فَطَافَ الَّذِينَ أَهَلُّوا بِالْعُمْرَةِ بِالْبَيْتِ وَبَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ ثُمَّ حَلُّوا ثُمَّ طَافُوا طَوَافًا آخَرَ بَعْدَ أَنْ رَجَعُوا مِنْ مِنًى لِحَجِّهِمْ، وَأَمَّا الَّذِينَ كَانُوا جَمَعُوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ فَإِنَّمَا طَافُوا طَوَافًا وَاحِدًا. قَالَ أَبُو دَاوُدَ: رَوَاهُ إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ، وَمَعْمَرٌ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ نَحْوَهُ، لَمْ يَذْكُرُوا: طَوَافَ الَّذِينَ أَهَلُّوا بِعُمْرَةٍ وَطَوَافَ الَّذِينَ جَمَعُوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ.

ام المؤمنین حضرت عائشه رضي الله عنها بیان کوی چه مونږ په حجة الوداع کښې د نبی کریم ﷺ سره اووتلو مونږ د عمرې احرام اوتړلو - بیا حضور ﷺ اوفرمائیل: ' د چا سره چه هدی ده هغوی دې د عمرې سره د حج تلبیه هم اووائی، او هغوی به نۀ حلالیږی تردې پورې چه ددې دواړو (حج او عمرې) نه فارغ شی، -'' لهذا زۀ مکې ته راغلم نو د حیض په کیفیت کښې وُمه - ما د بیت الله طواف اونۀ کړو او نۀ مې د صفا او مروه سعی اوکړه، ما رسول الله ﷺ ته ددې شکایت اوکړو نو هغوی ﷺ اوفرمائیل: خپل سر کولاؤ کړه، ګومنز اوکړه، او د حج احرام اوتړه او عمره پریږده -'' فرمائی: چنانچه ما هم داسې اوکړل - بیا هر کله چه مونږ حج پوره کړو نو رسول الله ﷺ ماله (زما د رور) عبد الرحمٰن بن ابی بکر رضي الله عنهما سره تنعیم ته اولیږله او ما عمره اوکړه - او هغوی اوفرمائیل: دا ستا د هغه عمرې په بدل کښې ده -'' هغه بیان کوی چه (مکې ته د رسیدو نه پس) کومو خلقو چه د عمرې دپاره احرام تړلې وو هغوی د بیت الله طواف اوکړو او د صفاء مروه سعی ئې اوکړه او بیا حلال شو - دغه خلقو د منیٰ نه د واپسئ نه پس د حج د پاره بل طواف اوکړو (طواف افاضه / زیاره) مګر کومو خلقو چه د عمرې او د حج د پاره یوځائې احرام تړلې وو (یعنی د حج قران) نو هغوی صرف یو طواف اوکړو،- امام ابوداود رحمه الله فرمائی چه دې لره ابراهیم بن سعد او معمر د ابن شهاب نه هم ددې په مثل باندې روایت کړې دې -، او دوی نۀ دې ذکر کړې طواف د هغه خلقو چه هغوی احرام تړلې وو د عمرې او د هغه خلقو د طواف چه هغوی د حج او د عمرې جمع کړې وه

ثم قال رسول الله (صلی الله علیه و سلم) من کان معه هدی فلیهل بالحج مع العمرة: لیکون قارنا اقول ففیه تحریض علی القران علی الظاهر والله تعالی اعلم.

فقال هذه مکان عمرتك : معناه علی الظاهر یعنی عمرة التنعیم ستا د عمرې مرفوضې قضا ده، فهذا مؤید للحنفیة فی احرام عائشة رضي الله عنها.

و اما الذین کانوا جمعوا الحج والعمرة فانما طافوا طوافا واحدا :

د طواف قارن په باره کښې د جمهورو دلیل او د احنافو د طرف نه دهغې توجیه :

دا د جمهورو دلیل دې، چه د قارن په ذمه صرف یو طواف او یوه سعی ده، یعنی صرف افعال حج، او ګویا ددې په ضمن کښې په خپله عمره هم ادا شوه، په دې کښې شك نشته، چه د بعضو روایاتو نه په ظاهر کښې هم داسې معلومیږی، مسئله مختلف فیه ده، د صحابه

کرامو په مینځ کښې هم دا مسئله اختلافی ده، لکه چه په شروح حدیث کښې لیکلې دی، د احنافو په نزد خو چونکه د قارن دپاره دوه طوافه او دوه سعی ضروری دی، ددې وجې نه هغوی ددې روایت تاویل کوی، چه سیاق حدیث ته ډیر نزدې دې، هغه دا دې، چه ددې روایت حاصل دادې، چه کومو خلقو فسخ الحج الی العمره کړې وو، هغه دوه ځله حلال شوې وو، یو ځل د طواف عمره او سعی نه پس، او په دویم ځل د طواف حج نه پس، دا خلق ړومبې طواف کولو نه پس حلال شو، او څو ورځې پس ئې د حج احرام اوتړو، او د طواف حج نه دفارغیدو نه پس بیا په دویم ځل حلال شول، دې حضراتو احرام هم دوه ځله تړلې وو، او احلال ئې هم دوه ځله کړې وو، او کوم خلق چه قارنین وو، هغوی اګر چه دوه طوافه اوکړل، لیکن د اول طواف نه پس هغوی حلال نه شو، دهغوی تحلل صرف په دویم طواف باندې مرتب شو، لهذا د هغوی احرام هم یو ځل شو او احلال هم،(۱) و ذلك لان القران مانع عن التحلل ولذا لم یومروا بالفسخ ای بفسخ الحج الی العمرة، والله سبحانه تعالی اعلم، فقهاء احناف او شراح احناف د قارن دپاره د تعدد طواف او تعدد سعی ډیر روایات ذکر کړې دی، فلیراجع الی المطولات، په فیض الباری کښې دا مسئله ښه واضحه او مبرهن طریقې سره لیکلې شوې ده.

مخکښې یو مستقل باب راروان دې، باب طواف القارن، هلته کښې مصنف قصدا هم دا مسئله بیان کړې ده، دلته کښې خو دا مسئله ددې حدیث په ذیل کښې ضمنا راغله.

[۱۷۸۲](۲) حَدَّثَنَا أَبُو سَلَمَةَ مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْقَاسِمِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّهَا قَالَتْ: لَبَّيْنَا بِالْحَجِّ حَتَّى إِذَا كُنَّا بِسَرِفَ حِضْتُ، فَدَخَلَ عَلَيَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا أَبْكِي، فَقَالَ: "مَا يُبْكِيكِ يَا عَائِشَةُ؟" فَقُلْتُ: حِضْتُ، لَيْتَنِي لَمْ أَكُنْ حَجَجْتُ، فَقَالَ: "سُبْحَانَ اللَّهِ! إِنَّمَا ذَلِكَ شَيْءٌ كَتَبَهُ اللَّهُ عَلَى بَنَاتِ آدَمَ"، فَقَالَ: "انْسُكِي الْمَنَاسِكَ كُلَّهَا غَيْرَ أَنْ لَا تَطُوفِي بِالْبَيْتِ"، فَلَمَّا دَخَلْنَا مَكَّةَ، قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ شَاءَ أَنْ يَجْعَلَهَا عُمْرَةً فَلْيَجْعَلْهَا عُمْرَةً إِلَّا مَنْ كَانَ مَعَهُ الْهَدْيُ"، قَالَتْ: وَذَبَحَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ نِسَائِهِ الْبَقَرَ يَوْمَ النَّحْرِ، فَلَمَّا كَانَتْ لَيْلَةُ الْبَطْحَاءِ وَطَهُرَتْ عَائِشَةُ، قَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَتَرْجِعُ صَوَاحِبِي بِحَجٍّ وَعُمْرَةٍ وَأَرْجِعُ أَنَا بِالْحَجِّ؟ فَأَمَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ أَبِي بَكْرٍ فَذَهَبَ بِهَا إِلَى التَّنْعِيمِ فَلَبَّتْ بِالْعُمْرَةِ.

حضرت عائشه رضی الله عنها بیان کوی چه مونږ د حج تلبیه اووئیله تردې پورې چه کله مونږ مقام سَرِف ته اورسیدو نو په ما باندې حیض راغې - رسول الله ﷺ ماته تشریف راوړو نو ما ژړل حضور ﷺ تپوس اوکړو " عائشه! ولې ژاړې؟ ما اووې ماته حیض راغلې دې - کاش! چه زهٔ دَ حج دپاره نهٔ وې راغلې - حضور ﷺ اوفرمائیل : سبحان الله! دا خو یو داسې څیز دې چه دې لره الله تعالیٰ په بنات آدم (دَ آدم علیه السلام په لونړو) باندې لیکلې دی - بیا هغوی ﷺ اوفرمائیل : دَ حج تمام اعمال پوره کړه، صرف دَ بیت الله طواف مهٔ کوه -" چنانچه کله چه مونږ بیت الله شریف ته داخل شو نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل : څوک چه دَ خپل دې احرام نه

(۱) پس مطلب دا شو قارنینو د احلال دپاره یو طواف اوکړو.
(۲): صحیح مسلم/الحج ۱۷(۱۲۱۱)،(تحفة الأشراف: ۱۷۴۷۷)، وقد أخرجه: مسند احمد(۲۱۹/۶)(صحیح)

دَ عمرې احرام جوړول غواړې نو جوړ دې کړې، سوا دَ هغه چا نه چه دَ هغوی سره قربانی ده.
حضرت عائشه ﷺ فرمائی چه رسول الله ﷺ دَ قربانۍ په ورځ باندې دَ خپلو ازواجو مطهراتو دَ طرف نه غوا ذبح کړه او کله چه دَ بطحاء شپه راغله او عائشه ﷺ پاکه شوله نو هغې رسول الله ﷺ ته عرض اوکړو : اې دَ الله رسوله! آیا زما سره راغلی به په حج او عمرې سره واپس کیږی او زۀ به صرف دَ حج سره واپس کیږم؟ نو رسول الله ﷺ عبد الرحمٰن بن ابی بکر ﷺ ته حکم اوکړو هغه دې لره تنعیم ته بوتله او هغې (عائشې ﷺ) دَ عمرې تلبیه اووئیله."

تشریح: قوله: فلما دخلنا مکة قال رسول الله(صلی الله علیه و سلم) من شاء ان یجعلها عمرة فلیجعلها عمرة:

دلته نه نبی کریم ﷺ د فسخ الحج الی العمرة مشوره ورکول شروع کړل، ددې نه پس ئې نور هم زیات تاکید اوفرمایه، او بیا مروه ته رسیدلو نه پس، کوم ځائې کښې چه د سعی تکمیل کیږی، نبی کریم ﷺ حکما اوفرمائیل چه دې لره عمره اوګرزوئی، (او حلق وغیره کولو نه پس حلال شئ)

قوله: و ذبح رسول الله(صلی الله علیه و سلم) عن نسائه البقر:

ددې نه مخکښې باب فی هدی البقر کښې دا حدیث تیر شوې دې، ذبح عمن اعتمر من نسائه بقرة، د ازواج مطهرات د طرف نه چه نبی کریم ﷺ کومه قربانی کړې وه، په هغې باندې تفصیلی کلام هلته کښې تیر شوې دې.

قوله: الرجع صواحبی بحج و عمرة و ارجع انا بالحج :

عمرة التنعیم:

دا مخکښې تیر شوې دی، چه ټول ازواج مطهرات متمتعات وې، ټولو مکې مکرمې ته رسیدلو نه پس عمره کړې وه، سوا د حضرت عائشې ﷺ نه، لاجل الحیض، اوس د واپسئ په ورځ نبی کریم ﷺ ته حضرت عائشه ﷺ عرض کوی، چه ما سره ملګرې ټولې زنانه خو حج او عمره کولو سره واپس کیږم، او زۀ صرف حج کولو سره واپس کیږی، په دې خبره نبی کریم ﷺ هغې لره دهغې رور حضرت عبد الرحمن ﷺ سره د محصب نه تنعیم ته اولیږله، (۱) دې دپاره چه هلته نه د عمرې احرام اوتړی، او بیا مکې مکرمې کښې د عمرې کولو نه پس دلته محصب ته راشی، دې دپاره چه بیا ټوله قافله د دې ځائې نه مکې مکرمې ته یو ځائې روانه شی، نو حضور ﷺ سره د ټولې قافلې نه دلته کښې حصار وو، (۲) او هغوی دواړو د

---

(۱) حضور ﷺ بی بی عائشه رضی الله عنها د عمرې د احرام دپاره د محصب نه تنعیم ته ولې اولیږله؟ جواب دادې چه منی او محصب د حرم په حد کښې داخل دی او مسئله داده چه کوم سړې به مکه یا حرم کښې مقیم وی او عمره کول اوغواړی نو دهغه دپاره ضروری ده چه د حرم نه بهر یعنی حل ته داخل شی دهغه ځائ نه احرام اوتړی مکې ته راشی او د تنعیم تخصیص دې دپاره وو چه هغه ادنی الحل دې یعنی اقرب الحل.

(۲) دحضرت شیخ رحمه الله رائې کومه چه حضرت په حاشیه د لامع اوپه جزء حجة الوداع کښې اختیار کړې ده همدا ده، د شارحینو په دې کښې دویمه رائې ده، چه دا به مونږ د طواف الوداع په باب کښې ذکر کوو.

شپې شپې عمره کولو نه پس دلته محصب ته راغلل، بیا دغې قافلې مکې ته رسیدلو نه پس طواف وداع اوکړه، او بیا د سحر مانځه نه پس د مکې نه مدینې منورې ته روان شو.
دا عمره د احنافو په نزد د عمره مرفوضه قضاء وه، چه په حضرت عائشه رضی الله عنها باندې واجب وه، او د جمهورو په نزد عمره مستقله وه، د عائشې رضی الله عنها د خوشالولو دپاره.(۱)

یو اشکال مع جواب :(۲)

دلته کښې یو اشکال پیدا کیږي، هغه دا چه د احنافو په نزد هرکله چه دا عمره قضاء وه، نو بیا خو دا په هغې باندې هرحال کښې واجب وه، نو بیا حضور ﷺ دا عمره په هغې باندې مخکښې ولې اونه کړه، په داسې تنګ وخت کښې، هغه هم د حضرت عائشې رضی الله عنها په وینا باندې؟ جواب دادې، چه حضور ﷺ په دغې ایام حج کښې دومره مشغول او مصروف وو، چه نبی کریم ﷺ ته د عائشې رضی الله عنها د حیض تول قصه یاده نه وه، او دا چه هغې په شروع کښې، چه کله د مدینې نه مکې مکرمې ته اورسیده، نو عمره ئې اونه کړه، دلیل ددې دادې، لکه چه د بخاري وغیره په روایت کښې دی، اوما طفت لیالی قدمنا، یعنی چه کله حضرت عائشې رضی الله عنها نبي کریم ﷺ ته د عمره نه کولو شکایت اوکړو، نو نبی کریم ﷺ هغې ته اوفرمائیل، چه آیا تا په هغه ورځ، کله چه مونږ مکې ته راغلو، طواف نه وو کړې؟

[۱۷۸۳](۳) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنِ الْأَسْوَدِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَا نَرَى إِلَّا أَنَّهُ الْحَجُّ، فَلَمَّا قَدِمْنَا تَطَوَّفْنَا بِالْبَيْتِ. فَأَمَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ لَمْ يَكُنْ سَاقَ الْهَدْيَ أَنْ يَحِلَّ، فَأَحَلَّ مَنْ لَمْ يَكُنْ سَاقَ الْهَدْيَ".

حضرت عائشه رضی الله عنها بیان کوی مونږ دَ رسول الله ﷺ سره اووتلو، مونږ صرف حج کنړلو - مګر کله چه مونږ مکې ته اورسیدو او دَ بیت الله شریف طواف مو اوکړو نو رسول الله ﷺ حکم اوکړو چه کوم کس قربانی دَ ځان سره نۀ ده راوستې هغوی دې حلال شی -" چنانچه هغه خلق کومو چه قربانئ دَ ځان سره نۀ وې راوستې، هغوی حلال شو -

په شرح حدیث کښې دوه اقوال :

قوله: لا نری الا انه الحج: زمونږ مقصد په دې سفر کښې صرف حج کول وو، یعنی اعتمار مو په زړۀ کښې هم نه وو، ځکه د ډیر پخوا نه د خلقو په زړونو کښې دا وو، چه په اشهر حج کښې عمره کول ناجائز دی، ددې معنی تائید ددې نه کیږي، چه مخکښې حدیث د جابر رضی الله عنه طویل راروان دې، لسنا ننوی الا الحج، لسنا نعرف العمرة، او د حضرت ګنګوهی رحمه الله د تقریر نه معلومیږي، چه دلته کښې حج د عمرې په مقابله کښې نه دې، دا دواړه خو هم جنس دی، ځکه چه عمرې ته حج اصغر وئیلې شی، بلکه مطلب دادې، چه په دې سفر کښې زمونږ مقصد د

(۱) ځکه چه عند الجمهور خو عائشې رضی الله عنها رفض عمره کړې هم نه وه بلکه د عمرې په احرام ئې د احرام حج نیت کړې وو، او قارنه شوې وه.
(۲) دا اشکال اوجواب په هیڅ کتاب کښې زما د نظر نه نه دې تیرشوې.
(۳): صحيح البخاري/ الحج ٣٤(١٥٦١)، صحيح مسلم/ الحج ١٧(١٢١١)، سنن النسائي/ الكبري، الحج(٣٧٨٥)،(تحفة الأشراف: ١٥٩٨٤)، وقد أخرجه: مسند احمد(١٨٩/٦، ١٩١، ١٩٢، ٢١٠)(صحيح)

حج او عمرې نه علاوه بل هيڅ نه وو، مثلا جهاد وغيره،(۱)او دا ددې وجې نه، چه ددې نه مخکښې دا خبره تيره شوه، عائشه ﷞ فرمائي فمنا من اهل بعمره و منا من اهل بحج لهذا که اوله معنی مراد واخستلې شي، نو په روايتينو کښې به تعارض راشي.(والله تعالی اعلم)
او صاحب د عون المعبود اوله معنی مراد اخستلې ده، او دې تعارض لره ئې په بله طريقې سره دفع کړې دې، هغه دا چه لانری الا انه الحج نه دهغوی مراد دا دی، چه په شروع کښې کله مونږ د مدينې نه روان شو، نو په ذهن کښې مو دا وو، چه صرف حج کول دی، ليکن بيا مخکښې چه لاړو، او حضور ﷺ راته د احرام قسمونه بيان کړل، او دا چه څوك كوم قسم اختيارول غواړی، اختيارولې شی، بيا په مونږ کښې بعضو داسې احرام اوتړو، او بعضو هغسې. اهـ

[۱۷۸٤](۲) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ فَارِسٍ الذُّهْلِيُّ، حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ عُمَرَ، أَخْبَرَنَا يُونُسُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَوِ اسْتَقْبَلْتُ مِنْ أَمْرِي مَا اسْتَدْبَرْتُ لَمَا سُقْتُ الْهَدْيَ، قَالَ مُحَمَّدٌ: أَحْسِبُهُ قَالَ: وَلَحَلَلْتُ مَعَ الَّذِينَ أَحَلُّوا مِنَ الْعُمْرَةِ"، قَالَ: أَرَادَ أَنْ يَكُونَ أَمْرُ النَّاسِ وَاحِدًا.

د حضرت عائشې ﷞ نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : کۀ چرې ددې خبر ماته د وړاندې نه وې د کومې چه ماته ورستو خبر اوشو نو ما به د ځان سره قربانی نۀ راوستله محمد بن يحيیٰ اووې : زما خيال دې چه شيخ داهم اووئيلې :" او زۀ به د عمرې نه پس د حلال کيدونکو والا سره حلال شوې وې -" فرمائی : د هغوی اراده وه چه ټول خلق دې په يو حال باندې وی -"

لواستقبلت من امری ما استدبرت لما سقت الهدی و لحللت :
يعنی کومه خبره چه روستو ماته ظاهره شوه، که هغه مخکښې په ذهن کښې راغلې وه، نو ما به سوق هدی نه وه کړې، او په دې وخت کښې به تاسو ټولو سره زۀ هم حلال شوې اوم، صحابه کرامو ته چه کله نبی کريم ﷺ د فسخ الحج الی العمره حکم ورکړو، نو هغوی ته په دې کښې ډير زيات تردد اوشو، چه که مونږ داسې اوکړل، نو زمونږ حج به د حضور ﷺ د حج موافق نه وی، نبی کريم ﷺ خو به په حالت احرام کښې وی، او مونږ به حلال شو، يعنی غير حالت احرام کښې به شو، او د حج ورځې هم بالکل نژدې دی، د حج کارونه شروع کيدو کښې صرف درې څلور ورځې باقی پاتې دی، زمونږ به د خپلو بيبيانو سره اختلاط وی، د صحبت کولو موقع به راشی، تقطر ذکورنا المنی و نحن نذهب الی عرفات، د صحابه کرامو دا تردد ليدلو نه پس نبی کريم ﷺ دهغوی د تسلئ او تردد ختمولو دپاره هغه جمله ارشاد اوفرمائيله، کومه چه بره ذکر شوه، اوس دا چه په دې فسخ الحج کښې څه حکمت وو، دهغې ذکر په تفصيل ابتدائی بحثونو کښې تير شوې دې.

---

۱) حضرت خو دفع دتعارض دغسې فرمائيلې ده.
۲): تفرد به أبو داود،(تحفة الأشراف: ۱٦۷٤۲)، وقد أخرجه: مسند احمد(٦/۲٤۷)(صحيح)

[۱۷۸۵]() حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: "أَقْبَلْنَا مُهِلِّينَ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْحَجِّ مُفْرَدًا، وَأَقْبَلَتْ عَائِشَةُ مُهِلَّةً بِعُمْرَةٍ حَتَّى إِذَا كَانَتْ بِسَرِفَ عَرَكَتْ حَتَّى إِذَا قَدِمْنَا طُفْنَا بِالْكَعْبَةِ وَبِالصَّفَا وَالْمَرْوَةِ، فَأَمَرَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَحِلَّ مِنَّا مَنْ لَمْ يَكُنْ مَعَهُ هَدْيٌ"، قَالَ: فَقُلْنَا: حِلُّ مَاذَا؟ فَقَالَ: "الْحِلُّ كُلُّهُ"، فَوَاقَعْنَا النِّسَاءَ وَتَطَيَّبْنَا بِالطِّيبِ وَلَبِسْنَا ثِيَابَنَا وَلَيْسَ بَيْنَنَا وَبَيْنَ عَرَفَةَ إِلَّا أَرْبَعُ لَيَالٍ، ثُمَّ أَهْلَلْنَا يَوْمَ التَّرْوِيَةِ، ثُمَّ دَخَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى عَائِشَةَ فَوَجَدَهَا تَبْكِي، فَقَالَ: "مَا شَأْنُكِ؟" قَالَتْ: شَأْنِي أَنِّي قَدْ حِضْتُ وَقَدْ حَلَّ النَّاسُ وَلَمْ أَحْلُلْ وَلَمْ أَطُفْ بِالْبَيْتِ وَالنَّاسُ يَذْهَبُونَ إِلَى الْحَجِّ الْآنَ، فَقَالَ: "إِنَّ هَذَا أَمْرٌ كَتَبَهُ اللَّهُ عَلَى بَنَاتِ آدَمَ، فَاغْتَسِلِي، ثُمَّ أَهِلِّي بِالْحَجِّ"، فَفَعَلَتْ وَوَقَفَتِ الْمَوَاقِفَ حَتَّى إِذَا طَهُرَتْ طَافَتْ بِالْبَيْتِ وَبِالصَّفَا وَالْمَرْوَةِ، ثُمَّ قَالَ: "قَدْ حَلَلْتِ مِنْ حَجِّكِ وَعُمْرَتِكِ جَمِيعًا"، قَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنِّي أَجِدُ فِي نَفْسِي أَنِّي لَمْ أَطُفْ بِالْبَيْتِ حِينَ حَجَجْتُ، قَالَ: "فَاذْهَبْ بِهَا يَا عَبْدَ الرَّحْمَنِ فَأَعْمِرْهَا مِنَ التَّنْعِيمِ وَذَلِكَ لَيْلَةَ الْحَصْبَةِ".

د حضرت جابر رضي الله عنه نه روايت دي: مونږ د رسول الله ﷺ سره صرف د حج (حج افراد) په نيت سره روان شو او حضرت عائشي رضي الله عنها د عمرې احرام اوتړلو تردې پورې کله چه مونږ مقام سرف ته اورسيدو نو هغې ته حيض راغي، بيا هر کله چه مونږ مکې ته راغلو او د کعبې طواف ئې اوکړو او د صفا، مروه سعي ئې اوکړه نو رسول الله ﷺ مونږ ته حکم اوکړو چه په مونږ کښې د چا سره قرباني نشته دې هغوی دې ځان حلال کړي، مونږ اووې: حلال کيدل څنګه؟ حضور ﷺ اوفرمائيل: په پوره طور باندې حلال شئ-" ...... چنانچه مونږ د خپلو بيبيانو سره کور والي هم اوکړو، خوشبو مو هم اولګوله او خپلې عام کپړې مو واچولې - حالانکه زمونږ او عرفې ته د تللو په درميان کښې صرف څلور ورځې باقي وې بيا مونږ په اتم تاريخ باندې احرام اوتړلو - رسول الله ﷺ حضرت عائشي رضي الله عنها ته راغي نووې کتل چه هغې ژړا کوله - نو حضور ﷺ تپوس اوکړو چه چه تاله څۀ شوي دی؟ هغې اوفرمائيل: ماته حيض راغلي دې خلق حلال شول، زۀ حلاله نۀ شومه او نۀ مې د بيت الله طواف اوکړو او اوس د حج د پاره ځی - حضور ﷺ اوفرمائيل: دا معامله خو الله تعالیٰ د آدم عليه السلام په لونړو باندې ليکلې ده -تۀ غسل اوکړه او د حج دپاره احرام اوتړه -" چنانچه هغې هم داسې اوکړل او د حج په تمامو مقاماتو باندې ئې وقوف اوکړو تردې پورې چه کله پاکه شوله نو د بيت الله شريف طواف او د صفا، مروه سعي ئې اوکړه - بيا حضور ﷺ اوفرمائيل تاسو د حج او د عمرې تېولو نه حلال شوي يئ -" فرمائي: اې د الله رسوله! زما په زړۀ کښې حسرت دې چه ما کله حج اوکړو نو (په ابتداء) کښې مې طواف اونۀ کړې شو - حضور ﷺ اوفرمائيل: " اې عبد الرحمٰن دې لره بوځه او د تنعيم نه پرې عمره اوکړه -" او دا د حصبه شپه وه -(يعنې د ايام تشريق نه پس په کومه شپه چې د مدينې طرف ته د واپسۍ دپاره ئې

(): صحيح مسلم/الحج ١٦(١٢١٠)، ١٧(١٢١٣)، سنن النسائي/الحج ٥٨(٢٧٦٤)، سنن ابن ماجه/المناسك ١٢(٢٩١١)،(تحفة الأشراف: ٢٩٠٨)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الحج ٤١(١٢٦)، مسند احمد(٣/٣٩٤)، سنن الدارمي/المناسك ١١(١٨٤٥)(صحيح)

په بطحاء کښې پراؤ اچولې وو -
تشریح: قوله: فقلنا حل ماذا: حل بکسر الحاء بلا تنوین مابعد طرف ته د مضاف کیدلو د وجې نه، او دا ما استفهامیه دې، یعنی ستاسو ددې حلال کیدلو نه مراد کوم حلال کیدل دی، آیا د ټول محظورات احرام نه، یعنی تحلل اکبر، یا د بعضو محظوراتو نه، یعنی تحلل اصغر، نبی کریم ﷺ اوفرمائیل، الحل کله، یعنی تحلل اکبر مراد دې، بالکل حلال شئ.

(د جمهورو دلیل او دهغې جواب)

قوله: قد حللت من حجك و عمرتك جميعا : چه کله حضرت عائشه رضی الله عنها د طواف زیارت وغیره افعال حج نه فارغه شوه، نو نبی کریم ﷺ هغې ته اوفرمائیل، اوس ته د خپل حج او عمرې دواړو نه حلاله شوې، په دې سره په ظاهر کښې د جمهورو تائید کیږی، چه عائشه رضی الله عنها مفرده نه وه، بلکه قارنه وه.
ددې دوه جوابونه کیدې شی:
(۱) اول دا چه اوس ته د دواړو نه حلاله شوې، یعنی د عمرې نه خو په شروع کښې حلاله شوې وې، (د رفض د وجې نه) او د حج نه اوس حلاله شوې، طواف زیارت کولو سره.
(۲) دویم جواب دادې، چه د نبی کریم ﷺ په ذهن مبارك کښې د هغې د حیض وغیره قصه نه وه، په دې بنیاد باندې نبی کریم ﷺ هغې ته دا اوفرمائیل، یدل علیه قوله اوما طفت لیالی قدمنا، کما فی روایة الصحیحین د قد ذکرناه قریبا.

[۱۷۸۶] [1] حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، قَالَ: أَخْبَرَنِي أَبُو الزُّبَيْرِ، أَنَّهُ سَمِعَ جَابِرًا، قَالَ: دَخَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى عَائِشَةَ بِبَعْضِ هَذِهِ الْقِصَّةِ، قَالَ: عِنْدَ قَوْلِهِ: "وَأَهِلِّي بِالْحَجِّ ثُمَّ حُجِّي وَاصْنَعِي مَا يَصْنَعُ الْحَاجُّ غَيْرَ أَنْ لَا تَطُوفِي بِالْبَيْتِ وَلَا تُصَلِّي".

ابو الزبیر وائی چه هغوی د حضرت جابر رضی الله عنه نه واوریدل، فرمائیل ئې چه نبی کریم ﷺ حضرت عائشې رضی الله عنها ته راغې - او ددې قصې ئې څۀ حصه ذکر کړه ... او دَ [اهلی بالحج] " دَ حج دَ پاره احرام اوتړه -" نه پس ئې دا اوفرمائیل : " بیا حج اوکړه او تمام هغه څۀ اوکړه کوم چه حاجی کوی - صرف دَ بیت الله طواف مۀ کوه او مونځ مۀ کوه -"

[۱۷۸۷] [2] حَدَّثَنَا الْعَبَّاسُ بْنُ الْوَلِيدِ بْنِ مَزْيَدٍ، أَخْبَرَنِي أَبِي، حَدَّثَنِي الْأَوْزَاعِيُّ، حَدَّثَنِي مَنْ سَمِعَ عَطَاءَ بْنَ أَبِي رَبَاحٍ، حَدَّثَنِي جَابِرُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: "أَهْلَلْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْحَجِّ خَالِصًا لَا يُخَالِطُهُ شَيْءٌ فَقَدِمْنَا مَكَّةَ لِأَرْبَعِ لَيَالٍ خَلَوْنَ مِنْ ذِي الْحِجَّةِ فَطُفْنَا وَسَعَيْنَا، ثُمَّ أَمَرَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ نُحِلَّ، وَقَالَ: لَوْلَا هَدْيِي لَحَلَلْتُ"، ثُمَّ قَامَ سُرَاقَةُ بْنُ مَالِكٍ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَرَأَيْتَ مُتْعَتَنَا هَذِهِ أَلِعَامِنَا هَذَا أَمْ لِلْأَبَدِ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "بَلْ هِيَ لِلْأَبَدِ"، قَالَ الْأَوْزَاعِيُّ: سَمِعْتُ عَطَاءَ بْنَ أَبِي رَبَاحٍ يُحَدِّثُ بِهَذَا فَلَمْ أَحْفَظْهُ حَتَّى لَقِيتُ ابْنَ جُرَيْجٍ فَأَثْبَتَهُ لِي.

---

[1]: صحیح مسلم/الحج ۱۷(۱۲۱۳)، (تحفة الأشراف: ۲۸۱۲)، وقد أخرجه: مسند احمد(۳۰۹/۳)(صحیح)
[2]: سنن ابن ماجه/الحج ۴۱(۲۹۸۰)، (تحفة الأشراف: ۲۴۲۶، ۲۴۵۹)، وقد أخرجه: صحیح مسلم/الحج ۱۷(۱۲۱۶)، سنن النسائي/الحج ۷۷(۲۸۰۷)(صحیح)

حضرت جابر بن عبد الله رضی الله عنه بیان کوی چه مونږ د رسول الله ﷺ سره د خالص حج دپاره احرام اوتړلو، په هغې کښې د هیڅ څیز اختلاط نۀ وو - بیا د ذولحجې د څلورو شپو د تیریدو نه پس مونږ مکې ته اورسیدو - مونږ طواف او سعی اوکړه، بیا رسول الله ﷺ مونږ ته د حلال کیدو حکم اوکړو اووې فرمائیل کۀ زما سره قربانی نۀ وې نو زۀ به هم حلال شوې وې - بیا حضرت سراقه بن مالک رضی الله عنه اودریدو او تپوس ئې اوکړو اې د الله رسوله! زمونږ دا تمتع (د حج سره عمره کول) ددې کال دپاره دی یا د همیشه همیشه دپاره؟ نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل بلکې د همیشه همیشه دپاره دی - اوزاعی وائی چه ما د عطاء بن ابی رباح نه دا حدیث واوریدو چه هغوی دې حدیث لره بیانولو، مګر ما یاد اونۀ ساتلې شو تردې پورې چه د ابن جریج سره ملاؤ شوم نو هغوی ماته یاد کړو -

ارایت متعتنا هذه العامنا هذا ام للابد: یا رسول الله ﷺ! دا هم راته اوفرمایئ، چه زمونږ داتمتع صرف زمونږ ددې کال دپاره ده، یا د همیشه دپاره ده، کوم علماء چه د فسخ الحج الی العمره اوس هم قائل دی (مثل احمد) هغوی دې لره هم په دې باندې محمول کوی.

او جمهور علماء وائی، چه د متعه نه مراد دلته کښې اعتمار فی اشهر الحج دې.

[۱۷۸۸] حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ قَيْسِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ أَبِي رَبَاحٍ، عَنْ جَابِرٍ، (١) قَالَ: قَدِمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَصْحَابُهُ لِأَرْبَعِ لَيَالٍ خَلَوْنَ مِنْ ذِي الْحِجَّةِ، فَلَمَّا طَافُوا بِالْبَيْتِ وَبِالصَّفَا وَالْمَرْوَةِ، قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اجْعَلُوهَا عُمْرَةً، إِلَّا مَنْ كَانَ مَعَهُ الْهَدْيُ"، فَلَمَّا كَانَ يَوْمُ التَّرْوِيَةِ أَهَلُّوا بِالْحَجِّ، فَلَمَّا كَانَ يَوْمُ النَّحْرِ قَدِمُوا فَطَافُوا بِالْبَيْتِ وَلَمْ يَطُوفُوا بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ.

حضرت جابر بن عبد الله رضی الله عنه بیان کوی چه رسول الله ﷺ او د هغه اصحاب (مکې) ته اورسیدل او د ذولحجې څلور شپې تیرې شوې وې کله چه هغوی د بیت الله شریف طواف او د صفا، مروه سعی اوکړه نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل: دې لره عمره اوګرځوئ، سوا د هغه چانه د چا سره چه قربانی وی -" لهذا کله چه اتم تاریخ راغې نو هغه خلقو د حج د پاره احرام اوتړلو او بیا د قربانئ په ورځ (په لسم تاریخ د ذولحجې) دا خلق مکې ته راغلل او د بیت الله طواف ئې اوکړو مګر د صفا او مروه سعی ئې اونۀ کړه "

تشریح: قوله: عن جابر قال قدم رسول الله (صلی الله علیه و سلم) و اصحابه لاربع خلون من ذی الحجة............ فلما کان یوم النحر قدموا فطافوا بالبیت و لم یطوفوا بین الصفا والمروة.

په روایت باندې یو اشکال او دهغې توجیه:

د دې روایت د سیاق نه دا معلومیږی، چه کومو حضراتو فسخ الحج الی العمره کړې وه، هغوی خو د عمرې دپاره طواف او سعی دواړه اوکړل، ددې نه پس ئې چه کله د حج افعال ادا کول، نو په هغې کښې ئې صرف طواف زیارت اوکړو، یعنې دهغې نه پس ئې سعی بین الصفا والمروه اونۀ کړو، په دې باندې لوئې قوی اشکال دې، ځکه چه د متمتع دپاره بالاتفاق دوه طواف او دوه سعی واجب دی، یو طواف او یو سعی د عمرې دپاره، او یو

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٢٤٧٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/٣٦٢) (صحیح)

طواف او يو سعى د حج دپاره، او په دې حديث كښې د دويم طواف نه پس د سعى نفى ده، حالانكه د بخارى شريف په روايت كښې د طواف ثانى نه پس هم د سعى كولو تصريح موجود ده، اوس يا خو دې روايت ته مونږ وهم وايو، او يا په كښې تاويل كوؤ، حضرت په بذل المجهود كښې متعدد تاويلات كړې دى،(۱) ددې تعلق د متمتعينو سره يعنى كومو خلقو چه فسخ الحج الى العمره كړې وو، نه دې، بلكه ددې تعلق د قارنينو سره دې، چه هغوى طرف ته اشاره په دې حديث كښې حرف استثناء سره شوې ده الا من كان معه الهدى، يعنى كومو خلقو سره چه هدى وه، او هغوى قارن وو، نبى كريم ﷺ هغوى ته د فسخ الحج الى العمره حكم نه وو فرمائيلې، او د قارن حكم دادې، چه كه هغه د عمرې نه فارغ شى، او طواف قدوم اوكړى، چه په هغې كښې سعى بين الصفا والمروه هم اوكړى، نو بيا هغه ته د طواف زيارت نه پس د سعى حاجت نشته، ځكه چه طواف قدوم د متعلقاتو د حج نه دې، او د حج په سعى كښې تكرار نشته،صرف يوځل ده، كه د طواف قدوم سره كوى، او كه د طواف زيارت نه پس كوى، يو تاويل خو دا شو،(۲) ددې نه مقصود د سعى نفى نه ده، بلكه د ذكر نفى ده، چه راوى د طواف زيارت نه پس د سعى بين الصفا والمروه ذكر نه دې كړې لكن لا بد منه كما لا يخفى، په بذل كښې حضرت صاحب ددې بعضې نور تاويلونه هم كړې دى.

[۱۷۸۹]() حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ الثَّقَفِيُّ، حَدَّثَنَا حَبِيبٌ يَعْنِي الْمُعَلِّمَ، عَنْ عَطَاءٍ، حَدَّثَنِي جَابِرُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَهَلَّ هُوَ وَأَصْحَابُهُ بِالْحَجِّ وَلَيْسَ مَعَ أَحَدٍ مِنْهُمْ يَوْمَئِذٍ هَدْيٌ إِلَّا النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَطَلْحَةَ، وَكَانَ عَلِيٌّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَدِمَ مِنَ الْيَمَنِ وَمَعَهُ الْهَدْيُ، فَقَالَ: أَهْلَلْتُ بِمَا أَهَلَّ بِهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَإِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ أَصْحَابَهُ أَنْ يَجْعَلُوهَا عُمْرَةً يَطُوفُوا ثُمَّ يُقَصِّرُوا وَيُحِلُّوا إِلَّا مَنْ كَانَ مَعَهُ الْهَدْيُ، فَقَالُوا: أَنَنْطَلِقُ إِلَى مِنًى وَذُكُورُنَا تَقْطُرُ؟ فَبَلَغَ ذَلِكَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: "لَوْ أَنِّي اسْتَقْبَلْتُ مِنْ أَمْرِي مَا اسْتَدْبَرْتُ مَا أَهْدَيْتُ، وَلَوْلَا أَنَّ مَعِي الْهَدْيَ لَأَحْلَلْتُ".

حضرت جابر بن عبد الله رضی الله عنه بيان كوى چه رسول الله ﷺ او دَ هغه اصحابو دَ حج احرام اوتړلو - په دغه ورځ باندې دَ نبى كريم ﷺ او دَ طلحه رضی الله عنه نه علاوه دَ بل چا سره قربانئ نۀ وه - او على رضی الله عنه دَ يمن نه راغلې وو او هغوى دَ خپل ځان سره قربانئ راوستې وه - پس هغوى داسې نيت كړې وو : زۀ هم هغه شان احرام تړم لكه څنګه چه رسول الله ﷺ احرام تړلې دې - او حضور ﷺ خپلو صحابۀ كرامو رضی الله عنهم ته حكم اوكړو چه دَ خپل احرام نه دَ عمرې احرام جوړ كړئ، طواف اوكړئ(دَ صفا مروه سعى هم اوكړئ،) بيا ويښتان كټ كړئ او حلال شئ، سوا دَ هغه چا نه چه دَ هغوى سره قربانى وى - څۀ خلقو اووئيل : آيا مونږ به منىٰ ته په داسې حال كښې ځو چه زمونږ اعضائې تناسل منئ لره غورځوى؟ رسول الله ﷺ ته دا خبره اورسيدله نو حضور ﷺ اوفرمائيل : كۀ چرې ماته دا خبره دَ اول نه معلومه وې نو ما به قربانى دَ ځان سره نۀ راوستله او كۀ زما سره قربانى نۀ وې نو زۀ به(هم) حلال شوې وې -

تشريح: قوله: و ليس مع احد منهم هدى الا النبى(صلى الله عليه و سلم) و طلحة الخ

(۱): صحيح البخاري/الحج ۸۱(۱٦۵۱)،(تحفة الأشراف: ۲۴۰۵)، وقد أخرجه: مسند احمد(۳/۳۰۵)(صحيح)

په حجة الوداع کښې هدی د کومو کومو حضراتو سره وه:

په دې حج کښې د ټولې قافلې نه صرف يو څو صحابه کرامو سره هدی وه، باقي ټول غير سائق الهدی وو، د چا سره چه هدی وه، په هغوی کښې يو خو خپله نبی کريم ﷺ وو، نور حضرات طلحه بن عبيد الله رضي الله عنه، او علي رضي الله عنه وو، ددوی نه علاوه نور هم بعضې صحابه کرام وو، چه دهغوی نومونه حضرت شيخ رحمه الله په جزء حجة الوداع کښې ذکر کړې دی. [1]

وكان علي رضي الله عنه قدم من اليمن و معه الهدى: نبی کريم ﷺ حضرت علي رضي الله عنه لره د حجة الوداع نه مخکښې يمن ته ليږلې وو لاجل السعاية، (د صدقې وصولولو دپاره) چه دهغې ذکر امام بخاري رحمه الله په يو مستقل ترجمة الباب کښې کړې دې، باب بعث علي بن ابی طالب و خالد بن الوليد الى اليمن قبل حجة الوداع، نو حضرت علي رضي الله عنه د يمن نه براه راست مکې مکرمې ته اورسيدو، نبی کريم ﷺ دهغه نه تپوس اوکړو، چه تا کوم احرام تړلې دې، حضرت علي رضي الله عنه جواب ورکړو، بما اهل به النبي(صلى الله عليه و سلم) يعنی ما خو د احرام په وخت کښې دا نيت کړې وو چه د کوم قسم احرام حضور ﷺ تړلې وی، هم هغسې احرام زهٔ هم تړم، او چونکه هغه سره خپله هدی هم وه، ددې وجې نه نبی کريم ﷺ هغه ته د فسخ الحج الى العمره حکم انه فرمائيلو، بلکه هغه د نبی کريم ﷺ پشان په حالت احرام کښې وو.

په رواياتو کښې راځی، چه ابوموسى اشعري رضي الله عنه هم دغه شان احرام تړلې وو، ليکن چونکه هغه سائق الهدی نه وو، ددې وجې نه نبی کريم ﷺ هغه ته دحلال کيدو حکم اوفرمائيلو، داسې قسمه احرام ته احرام معلق وئيلې شی، او يو وی احرام مبهم، چه سړې په شروع کښې د مطلق احرام نيت اوتړی، دهغې تعيين اونه کړی، چه دا احرام د قران دې يا د افراد، بلکه تعيين لره مؤخر کړی، چه روستو به بيا اوکړو، د احرام دا دواړه قسمونه د ائمه اربعه په نزد د راجح قول مطابق جائز دی.

او په علامه عيني باندې تعجب دې، چه هغوی ددې جواز صرف د شافعيه مذهب ګرزولې دې، و قد نبه عليه الشيخ في البذل و شيخنا في حاشية اللامع ايضا.

[۱۷۹۰](۲) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، أَنَّ مُحَمَّدَ بْنَ جَعْفَرٍ حَدَّثَهُمْ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنِ الْحَكَمِ، عَنْ مُجَاهِدٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ قَالَ: "هَذِهِ عُمْرَةٌ اسْتَمْتَعْنَا بِهَا فَمَنْ لَمْ يَكُنْ عِنْدَهُ هَدْيٌ فَلْيَحِلَّ الْحِلَّ كُلَّهُ، وَقَدْ دَخَلَتِ الْعُمْرَةُ فِي الْحَجِّ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ". قَالَ أَبُو دَاوُد: هَذَا مُنْكَرٌ، إِنَّمَا هُوَ قَوْلُ ابْنِ عَبَّاسٍ.

حضرت ابن عباس رضي الله عنه د نبی کريم ﷺ نه روايت کوی چی دا عمره ده مونږ ددې فائده حاصله کړې ده - لهذا دَ چا سره چه قربانی نهٔ وی نو هغه دې حلال شی - په کامل طور باندې

---

[1]) ولم يحمل ابوبكر ولا عمر ولا علي ولا طلحة ولا الزبير رضي الله تعالي عنهم من اجل سوق الهدي كذا في الهدي وزاد الطحاوي عثمان و ذا اليسارة وكذا زاد ذوي اليسار الامام مسلم في صحيح اه، ذوي اليساره ، يعنی بعض متمول صحابه رضی الله عنهم

[2]): صحيح مسلم/الحج ۳۱(۱۲۴۱)، سنن النسائي/الحج ۷۷(۲۸۱۷)،(تحفة الأشراف: ۶۳۸۷)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/تقصير الصلاة ۳(۱۰۸۵)، والحج/۲۳(۱۵۴۵)، ۳۴(۱۵۶۴)، والشركة ۱۵(۲۵۰۵)، ومناقب الأنصار ۲۶(۳۸۳۲)، سنن الترمذي/الحج ۸۹(۹۳۲)، مسند احمد(۱/۲۳۶۱، ۲۵۳، ۲۵۹، ۳۴۱)، سنن الدارمي/المناسك ۳۸(۱۸۹۸)(صحيح)

حلال - او تر قیامته پورې عمره په حج کښې داخله شوې ده - امام ابوداود رحمه الله فرمائی: دا روایت منکر دې - دا صرف دَ ابن عباس رضی الله عنه قول دې -

تشریح: قوله: عن ابن عباس رضی الله عنه عن النبی(صلی الله علیه و سلم) انه قال هذه عمرة استمتعنابها الخ

قال ابوداؤد هذ ا حدیث منکر: په دې حدیث کښې د دغې فسخ الحج الی العمره ذکر دې، نبی کریم صلی الله علیه وسلم صحابه کرامو ته اوفرمائیل، چه اوس تاسو کوم طواف او سعی اوکړه، هغې لره عمره اوګرزوئ، او حلال شئ، په شرط ددې چه چا سره هدی نه وی، ددې نه پس نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل و قد دخلت العمرة فی الحج الی یوم القیمة، چه په اشهر الحج کښې د عمرې جواز تر قیامته پورې دې

د مصنف په قول باندې قوی اشکال او دهغې توجیه:

ددې نه پس په دې خبره پوهه شئ، چه دا مشهور حدیث دې، په صحیح مسلم کښې هم موجود دې، لیکن ددې باوجود مصنف دې ته حدیث منکر ولې وائی؟ ددې جواب او حل دادې، چه دا جمله دلته کښې بې محله نقل شوې ده، ددې تعلق د آئنده حدیث سره دې، هغه حدیث داسې دې: عن ابن عباس رضی الله عنه عن النبی(صلی الله علیه و سلم) قال اذا اهل الرجل بالحج ثم قدم مکة فطاف بالبیت و بالصفا والمروة فقد حل وهی عمرة، ددې مطلب دادې: چه کوم سړې د حج احرام اوتړی، او مکې مکرمې ته راشی، او طواف اوکړی، نو هغه په خپله حلالیږی، یعنی دهغه د قصد او ارادې نه بغیر فسخ الحج الی العمره کیږی، یعنی مفرد بالحج مفرد نه پاتې کیږی، بلکه متمتع کیږی، لهذا که چاته حج افراد کول منظور وی، نو هغه لره پکار دی، چه مکې ته داخلیدو نه پس د حج نه مخکښې د بیت الله شریف طواف اونه کړی، او که هغه طواف اوکړو، نو دهغه د حج احرام فسخ شو، او هغه معتمر شو، او دا په صحابه کرامو کښې د هیچا مذهب نه دې، سوا د ابن عباس رضی الله عنه نه، او نه په ائمه اربعه کښې د چا مذهب دې، ددې سلسلې ډیر روایات په صحیح مسلم کښې شته، لیکن هلته کښې دا ټول روایات موقوفا علی ابن عباس رضی الله عنه دی، یعنی خپله د ابن عباس رضی الله عنه رائې او دهغه قول مرفوعا نه دې، او دلته کښې په ابوداؤد کښې دا روایت مرفوعا روایت دې، مصنف ددې وجې نه دې ته منکر اوئیل، چه دا خو قول د ابن عباس رضی الله عنه دې، د راوی دې لره مرفوعا روایت کول غلط دی، د کلام حاصل دا دې، چه مصنف د نکارة حکم په موجوده حدیث باندې نه دې لګولې، بلکه په راتلونکې حدیث باندې ئې لګولې دې، کوم چه اوس بره ذکر شو، کذا افاد الشیخ قدس سره فی بذل المجهود فلله دره.

[۱۷۹۱](۱) حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُعَاذٍ، حَدَّثَنِي أَبِي، حَدَّثَنَا النَّهَّاسُ، عَنْ عَطَاءٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا أَهَلَّ الرَّجُلُ بِالْحَجِّ ثُمَّ قَدِمَ مَكَّةَ فَطَافَ بِالْبَيْتِ وَبِالصَّفَا وَالْمَرْوَةِ فَقَدْ حَلَّ، وَهِيَ عُمْرَةٌ". قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ ابْنُ جُرَيْجٍ، عَنْ رَجُلٍ، عَنْ عَطَاءٍ، دَخَلَ أَصْحَابُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُهِلِّينَ بِالْحَجِّ خَالِصًا، فَجَعَلَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عُمْرَةً.

(۱): تفرد به أبو داود،(تحفة الأشراف: ۵۹۶۵)(صحیح)

حضرت ابن عباس رضي الله عنه د نبي کريم ﷺ نه نقل کوي چه هغوی ﷺ اوفرمائيل: کله چه سړی د حج احرام اوتړلو بيا مکې ته راغي، د بيت الله طواف ئې اوکړو او د صفا، مروه سعي ئې اوکړه نو هغه حلال شو او دا به عمره وی -" امام ابوداود رحمه الله فرمائي: دې حديث لره ابن جريج د يو کس په واسطې سره د عطاء نه داسې روايت کړې دې چه د نبي کريم ﷺ اصحابو صرف د حج تلبيه وئيله (مکې ته) داخل شول - پس نبي کريم ﷺ هغې لره عمره اوګرځوله -

[۱۷۹۲](١) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ شَوْكَرٍ، وَأَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي زِيَادٍ، قَالَ ابْنُ مَنِيعٍ: أَخْبَرَنَا يَزِيدُ بْنُ أَبِي زِيَادٍ الْمَعْنَى، عَنْ مُجَاهِدٍ، عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "أَهَلَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْحَجِّ، فَلَمَّا قَدِمَ طَافَ بِالْبَيْتِ وَبَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ"، وَقَالَ ابْنُ شَوْكَرٍ: "وَلَمْ يُقَصِّرْ"، ثُمَّ اتَّفَقَا، "وَلَمْ يَحِلَّ مِنْ أَجْلِ الْهَدْيِ، وَأَمَرَ مَنْ لَمْ يَكُنْ سَاقَ الْهَدْيَ أَنْ يَطُوفَ وَأَنْ يَسْعَى وَيُقَصِّرَ ثُمَّ يَحِلَّ"، زَادَ ابْنُ مَنِيعٍ فِي حَدِيثِهِ: "أَوْ يَحْلِقَ ثُمَّ يَحِلَّ".

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه نه روايت دې چه نبي کريم ﷺ د حج تلبيه اووئيله - کله چه ئې مکې ته تشريف راوړو او د بيت الله طواف او د صفا مروه سعي ئې اوکړه ... ابن شوکر وائي او هغوی ﷺ خپل وېښته کم نۀ کړل ... او بيا ابن شوکر او احمد بن منيع دواړه وائي ... او هغوی د خپلې قربانئ په وجه سره حلال نۀ شول، -(ليکن) د کومو خلقو سره چه قرباني نۀ وه، هغوی ته ئې حکم اوکړو چه د طواف او د سعي نه پس خپل وېښته کټ کړئ او حلال شئ - د ابن منيع په روايت کښې اضافه ده: يا دې وېښته اوخروی او حلال دې شي"

ولم يحل من اجل الهدی: ددې نه معلوميږي، چه سوق د هدی، مانع عن التحلل دې، نور هم ددې سلسلې بعضې روايات مخکښې تير شوې دي.

ايا سوق د هدی د تحلل نه مانع دې:

پس د احنافو او حنابله مسلك هم دادې، ليکن د شافعيه او مالکيه مسلك ددې نه خلاف دې، دهغوی په نزد دسوق هدی د تحلل نه مانع نه دې، افاده النووی رحمه الله في شرح مسلم، لهذا دا حديث د هغې دواړو خلاف دې، ليکن امام نووی رحمه الله ددې هيڅ جواب نه دې ورکړې.

[۱۷۹۳](٢) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي حَيْوَةُ، أَخْبَرَنِي أَبُو عِيسَى الْخُرَاسَانِيُّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْقَاسِمِ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيِّبِ، "أَنَّ رَجُلًا مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَى عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فَشَهِدَ عِنْدَهُ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي مَرَضِهِ الَّذِي قُبِضَ فِيهِ يَنْهَى عَنِ الْعُمْرَةِ قَبْلَ الْحَجِّ".

د سعيد بن مسيب نه روايت دې چه د نبي ﷺ دصحابه ؤ نه يو کس حضرت عمر بن خطاب رضي الله عنه ته راغې او ګواهي ئې اوکړه چه هغه د رسول الله ﷺ نه د هغوی ﷺ په مرض الموت کښې اوريدلې دی چه هغوی به د حج نه مخکښې د عمرې کولو نه منع فرمائيله -"

تشريح: قوله: ان رجلا من اصحاب النبی (صلی الله عليه و سلم)...... ينهی عن العمرة قبل الحج.

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٦٤٢٩)، وقد أخرجه: (حم ١/٢٤١، ٣٣٨) (صحيح)
(٢): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٥٥٨٢) (ضعيف)

د حدیث شرح او د بعضې صحابه کرامو د تمتع نه منع کول:

د حج نه مخکښې د عمرې ممانعت د هیچا مذهب نه دې، امام خطابی رحمه الله فرمائي[۱] ددې حدیث په شرح کښې مقال دې، ځکه چه په دې کښې عبد الله بن القاسم دې، چه مجهول دې،[۲] شاید چه د حج د اهمیت د وجې نه نبی کریم ﷺ داسې اوفرمائیل، اول خو حج فرض دې، دویم د حج وخت مخصوص او متعین دې، چه دهغې په بناء د فوت کیدو خطره ده، په خلاف د عمرې نه، چه اول خو هغه فرض نه ده، دویم هغه هر وخت کیدې شی، ددې جواب خلاصه دا شوه، الاهم فالاهم،[۳] حضرت په بذل کښې لیکلې دی، چه شاید ددې حدیث نه حضرت عمر رضی الله عنه استنباط فرمائي، او د تمتع نه ئې منع فرمائیلې ده، لکه چه په روایاتو کښې مشهوره ده، چه د صحابه کرامو یو مختصر شان جماعت چه په هغې کښې عمر فاروق رضی الله عنه، عثمان رضی الله عنه، معاویه رضی الله عنه، زیات مشهور دی، به د تمتع نه منع فرمائیله،[۱] ځکه چه د حج نه مخکښې عمره په تمتع کښې وی.

[۱۷۹٤]([۲]) حَدَّثَنَا مُوسَى أَبُو سَلَمَةَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَبِي شَيْخٍ الْهُنَائِيِّ خَيْوَانَ بْنِ خَلْدَةَ مِمَّنْ قَرَأَ عَلَى أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ مِنْ أَهْلِ الْبَصْرَةِ، أَنَّ مُعَاوِيَةَ بْنَ أَبِي سُفْيَانَ، قَالَ لِأَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "هَلْ تَعْلَمُونَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ كَذَا وَكَذَا وَعَنْ رُكُوبِ جُلُودِ النُّمُورِ؟ قَالُوا: نَعَمْ، قَالَ: فَتَعْلَمُونَ أَنَّهُ نَهَى أَنْ يُقْرَنَ بَيْنَ الْحَجِّ وَالْعُمْرَةِ؟ فَقَالُوا: أَمَّا هَذَا، فَلَا، فَقَالَ: أَمَا إِنَّهَا مَعَهُنَّ وَلَكِنَّكُمْ نَسِيتُمْ".

حضرت معاویه بن سفیان رضی الله عنه د اصحاب نبی ﷺ ته اوونیل: ایا تاسو پوهیږئ چه رسول الله ﷺ دَ فلاں فلاں کار نه منع فرمائیلې ده او دَ پړانګ په څرمن باندې ئې دَ سوریدو(کیناستو) نه هم منع فرمائیلې ده؟ هغوی اوفرمائیل: او - هغه اووې آیا تاسو خلق دا هم پیژنئ چه نبی کریم ﷺ دَ حج او دَ عمرې دَ یوځائې کولو نه هم منع فرمائیلې ده؟ هغوی اووې نهٔ - دا خبره مونږ نهٔ پیژنو - معاویه اووې: دا خو دَ هغه(ممنوعه څیزونو) سره دی مګر تاسو خلقو هیر کړې دی -''

تشریح: قوله: ان معاویه بن ابی سفیان قال.....فتعلمون انه نهی ان یقرن بن الحج والعمرة.

مشهوره خو دا ده، چه حضرت معاویه و عمر رضی الله عنهما، دا حضرات د تمتع نه منع فرمائي، کما سبق آنفا، په دې روایت کښې د تمتع په ځائې قران ذکر دې، باقی په دواړو کښې څه خاص فرق نشته، په تمتع او قران دواړو کښې جمع بین الحج والعمره وی، ددې منع توجیه اوس مخکښې تیره شوې ده، فی الحاشیه، یا داسې وئیلې شی، چه ددې نه مقصود د قران د یو

---

[۱]) ددې منعې یوه توجیه خودا کولې شی چه ددې نه مراد مطلق تمتع نه ده بلکه ددې یوه خاص نوع یعنی فسخ الحج الی العمرة کوم چه عند الجمهور منسوخ ده په دې صورت کښې به دا نهی د تحریم دپاره وی دویمه توجیه دا کړې شوې ده چه دا نهی تنزیهی ده دحج افراد په مقابله کښې، چه دا اختیارول پکار دی ځکه چه دا افضل دې د تمتع نه، او تمتع مفضول دې. فالمقصود ترغیب ما هو الافضل. والله تعالی أعلم.

[۲]): سنن النسائي/الحج ٥٠ مختصراً(۲۷۳٥)،(تحفة الأشراف: ۱۱٤٥٦)، وقد أخرجه: مسند احمد(٤/۹۲، ۹٥، ۹۸، ۹۹)،(ضعیف)

خاص صورت نه منع کول دی، یعنی ادخال العمرة علی الحج، چه د احنافو په نزد جائز مع الکراهت دي، او د شافعیه په نزد جائز نه دي، کما سبق فی بیان انواع الحج.

بَابٌ فِي الْإِقْرَانِ

د قران بیان

دلته کښې نسخې مختلفې دی، زمونږ په نسخه کښې اقران دي، د باب افعال نه، او په بله نسخه کښې قران دې، په صحیح بخاری کښې هم دوه نسخې دی. حافظ ابن حجر رحمه الله اقران والا نسخه په خطا باندې محمول کړې ده، علامه عینی رحمه الله د ابن الاثیر رحمه الله نه نقل کړې دی، چه هغه وائی، وروی الاقران ایضا، عینی رحمه الله وائی، هرکله چه منقول دي، نو بیا غلط څرنګه شو، دغه شان حضرت په بذل کښې د قاموس نه هم دواړو طریقو سره ثابتیدل نقل کړې دی.

[١٧٩٥]() حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، أَخْبَرَنَا يَحْيَى بْنُ أَبِي إِسْحَاقَ، وَعَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ صُهَيْبٍ، وَحُمَيْدٌ الطَّوِيلُ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّهُمْ سَمِعُوهُ، يَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُلَبِّي بِالْحَجِّ وَالْعُمْرَةِ جَمِيعًا، يَقُولُ: "لَبَّيْكَ عُمْرَةً وَحَجًّا، لَبَّيْكَ عُمْرَةً وَحَجًّا".

دانس ابن مالک رضی الله عنه نه روایت دي فرمائي چه ما دنبی علیه السلام نه اوریدلي دی چه دحج او عمرې دپاره یې په یو ځائي باندې تلبیه وئیله ددواړو سره به یې لبیک لبیک وئیل او داسې به یې وئیل «لبیک عمرة وحجا لبیک عمرة وحجا»

تشریح: قوله: عن انس بن مالك يقول سمعت رسول الله(صلی الله علیه و سلم) یلبی بالحج والعمرة جمیعا یقول لبیك عمرة و حجا،

دا صریح او قوی دلیل دي، چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم قارن وو، کما لا یخفی،

بات بها یعنی بذی الحلیفة حتی اصبح ثم رکب، دامطلب نه دي، چه سحر راختلو سره د ذوالحلیفه نه روان شو، بلکه د ماسپخین نه پس روان شو، د باب الاشتراط فی الحج نه مخکښې چه کوم حدیث انس رضی الله عنه تیر شوي دي، په هغې کښې ددې تصریح ده، حضرت شیخ رحمه الله فرمائي چه دلته کښې په دې روایت کښې ثم بنه په غنې سره، اوږده او تجوید سره وایه «د امتداد د صوت سره امتداد زماني طرف ته لطیف اشاره ده»

[١٧٩٦]() حَدَّثَنَا أَبُو سَلَمَةَ مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا وُهَيْبٌ، حَدَّثَنَا أَيُّوبُ، عَنْ أَبِي قِلَابَةَ، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "بَاتَ بِهَا، يَعْنِي بِذِي الْحُلَيْفَةِ، حَتَّى أَصْبَحَ ثُمَّ رَكِبَ حَتَّى إِذَا اسْتَوَتْ بِهِ عَلَى الْبَيْدَاءِ حَمِدَ اللَّهَ وَسَبَّحَ وَكَبَّرَ، ثُمَّ أَهَلَّ بِحَجٍّ وَعُمْرَةٍ وَأَهَلَّ النَّاسُ بِهِمَا، فَلَمَّا قَدِمْنَا أَمَرَ النَّاسَ فَحَلُّوا حَتَّى إِذَا كَانَ يَوْمُ التَّرْوِيَةِ، أَهَلُّوا بِالْحَجِّ وَنَحَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَبْعَ بَدَنَاتٍ بِيَدِهِ قِيَامًا". قَالَ أَبُو دَاوُد: الَّذِي تَفَرَّدَ بِهِ، يَعْنِي أَنَسًا، مِنَ

[1]: صحیح مسلم/الحج ٣٤(١٢٥١)، سنن النسائي/الحج ٤٩(٢٧٣٠)، (تحفة الأشراف: ٧٨١، ١٦٥٣)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الجهاد ١٢٦(٢٩٨٦)، والمغازي ٦١(٤٣٥٣)، سنن الترمذي/الحج ١١(٨٢١)، سنن ابن ماجه/المناسك ١٤(٢٩١٧)، ٣٨(٢٩٦٨، ٢٩٦٩)، مسند احمد(٩٩/٣، ٢٨٢)، سنن الدارمي/المناسك ٧٨(١٩٦٤)(صحيح)

[2]: صحيح البخاري/الحج ٢٤،(١٥٤٧)، ٢٥(١٥٤٨)، ٢٧(١٥٥١)، ١١٩(١٧١٥)، الجهاد ١٠٤(٢٩٥١)، ١٢٦(٢٩٨٦)، صحيح مسلم/صلاة المسافرين ١(٦٩٠)، سنن النسائي/الضحايا ١٣(٤٣٩٢)، ويأتي هذا الحديث برقم(٢٧٩٣)،(تحفة الأشراف: ٩٤٧)(صحيح)

هَذَا الْحَدِيثِ أَنَّهُ: بَدَأَ بِالْحَمْدِ وَالتَّسْبِيحِ وَالتَّكْبِيرِ ثُمَّ أَهَلَّ بِالْحَجِّ.

دانس ابن مالک ﷺ نه روایت دې فرمائی چه نبی ﷺ په ذی الحلیفة کښې شپه تیره کړه تردې چه صبا شو او په خپله سورلئ باندې سور شو کله چه بیداء مقام ته ورسیدو نو دالله حمد یې بیان کړو او تکبیر او تسبیح یې اووئیل او بیایې په یوځائې دحج او عمرې دپاره احرام اوتړلو او باقی خلقو هم داسې اوکړل، کله چه مونږ مکې ته راغلو نو نبی ﷺ خلقو ته داحرام پرانیستلو حکم اوفرمائیلو او کله چه دذی الحجی اتم تاریخ شو نو خلقو دحج دپاره احرامونه وتړل او نبی ﷺ پخپل لاس مبارک باندې اوه اوښان اودرول او نحریې کړل، امام ابوداؤد فرمائی چاچه تفرد کړې دې په دې حدیث باندې یعنی انس بن مالک هغه پخپله په حمد او تسبیح او تکبیر باندې شروع کړې ده اوبیایې دحج دپاره احرام وتړلو.

[۱۷۹۷]() حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مُعِينٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا حَجَّاجٌ، حَدَّثَنَا يُونُسُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ، قَالَ: كُنْتُ مَعَ عَلِيٍّ حِينَ أَمَّرَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْيَمَنِ، قَالَ: فَأَصَبْتُ مَعَهُ أَوَاقِيَ، فَلَمَّا قَدِمَ عَلِيٌّ مِنَ الْيَمَنِ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: وَجَدَ فَاطِمَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَدْ لَبِسَتْ ثِيَابًا صَبِيغًا وَقَدْ نَضَحَتِ الْبَيْتَ بِنَضُوحٍ، فَقَالَتْ: مَا لَكَ؟ فَإِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ أَمَرَ أَصْحَابَهُ فَأَحَلُّوا، قَالَ: قُلْتُ لَهَا: إِنِّي أَهْلَلْتُ بِإِهْلَالِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: فَأَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ لِي: "كَيْفَ صَنَعْتَ؟" فَقَالَ: قُلْتُ: أَهْلَلْتُ بِإِهْلَالِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "فَإِنِّي قَدْ سُقْتُ الْهَدْيَ وَقَرَنْتُ"، قَالَ: فَقَالَ لِي: "انْحَرْ مِنَ الْبُدْنِ سَبْعًا وَسِتِّينَ، أَوْ سِتًّا وَسِتِّينَ، وَأَمْسِكْ لِنَفْسِكَ ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ، أَوْ أَرْبَعًا وَثَلَاثِينَ، وَأَمْسِكْ لِي مِنْ كُلِّ بَدَنَةٍ مِنْهَا بَضْعَةً".

دبراء بن عازب ﷺ نه روایت دې فرمائی کله چه نبی ﷺ علی ﷺ لره دحاکم په طور باندې یمن ته ولیږلو په هغه وخت کښې زه دعلی ﷺ سره موجود وم ما هلته یوڅو اوقیې سپین زر جمع کړې وو، کله چه علی ﷺ دیمن نه واپس راغې او دنبی ﷺ په خدمت کښې حاضر شو نو فاطمه ﷺ یې اولیدله چه رنګینې جامې یې اغوستلې دی او ناسته ده او په کور کښې یې خوشبو یې لګولې ده علی ﷺ ته یې اووئیل په تاباندې څه شوی دی خبره خوپه اصل کښې داسې ده کله چه نبی ﷺ صحابه کراموته حکم اوکړو نو هغوی احرامونه پرانیستل علی ﷺ چه دا واوریدل نو جواب یې ورکړو نبی ﷺ چه کوم نیت کړې دې ماهم هغه نیت کړې دې (یعنی حج قران می کړې دې، نوپه دې وجه باندې احرام نشم پرانیستلې) ددینه پس علی ﷺ دنبی ﷺ په خدمت کښې حاضر شو نبی ﷺ ورته اوفرمائیل ای علی تا څنګه اوکړل علی اوئیل ای دالله رسوله ما هغه نیت کړې دې کوم چه تاکړې دې نبی ﷺ ورته اوفرمائیل ماخو دځان سره قربانی راوستلې ده او ماحج قران کړې دې ددینه پس علی ﷺ اوئیل چه ماته نبی ﷺ د ۶۶ یا ۶۷ اوښانو نحر کولو حکم اوکړو او دایې هم راته اوفرمائیل چه ۳۳ یا ۳۴ اوښان دځان دپاره هم وساته او دهر اوښ نه څما دپاره دغوښې یوه ټیکه وساته.

[1]): سنن النسائي/الحج ۵۲(۲۷۴۶)، (تحفة الأشراف: ۱۰۰۲۶)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/المغازي ۶۱(۴۳۵۴)(صحيح)

عن البراء بن عازب قال كنت مع علي رضي الله عنه الخ، فقال لی انحر من البدن سبعا و ستين، امام نووی رحمه الله او قرطبی رحمه الله دې لره وهم ګرزولې دې، او فرمائيلې دی، چه صحيح هغه دې، چه د مسلم په روايت کښې دی، فنحر ثلاث و ستين و اعطى عليا فنحر ما غبر.

[۱۷۹۸](١) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا جَرِيرُ بْنُ عَبْدِ الْحَمِيدِ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ أَبِي وَائِلٍ، قَالَ: قَالَ الصُّبَيُّ بْنُ مَعْبَدٍ: "أَهْلَلْتُ بِهِمَا مَعًا"، فَقَالَ عُمَرُ: "هُدِيتَ لِسُنَّةِ نَبِيِّكَ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ".

دابو وائل نه روايت دې فرمائی چه صبی بن معبد وئيلی دی چه ما دحج او عمری دپاره احرام وتړلو زما دا عمل چه علی رضي الله عنه اوليدو نو وېې فرمائيل چه تا دنبی عليه السلام دسنت تابعداری کړی ده يعنی په سنت نبوی دی عمل کړې دې.

[۱۷۹۹](٢) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ قُدَامَةَ بْنِ أَعْيَنَ، وَعُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ الْمَعْنَى، قَالَا: حَدَّثَنَا جَرِيرُ بْنُ عَبْدِ الْحَمِيدِ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ أَبِي وَائِلٍ، قَالَ: قَالَ الصُّبَيُّ بْنُ مَعْبَدٍ: كُنْتُ رَجُلًا أَعْرَابِيًّا نَصْرَانِيًّا فَأَسْلَمْتُ فَأَتَيْتُ رَجُلًا مِنْ عَشِيرَتِي، يُقَالُ لَهُ: هُذَيْمُ بْنُ ثُرْمُلَةَ، فَقُلْتُ لَهُ: يَا هَنَاهْ، إِنِّي حَرِيصٌ عَلَى الْجِهَادِ وَإِنِّي وَجَدْتُ الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ مَكْتُوبَيْنِ عَلَيَّ، فَكَيْفَ لِي بِأَنْ أَجْمَعَهُمَا؟ قَالَ: اجْمَعْهُمَا وَاذْبَحْ مَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ، فَأَهْلَلْتُ بِهِمَا مَعًا، فَلَمَّا أَتَيْتُ الْعُذَيْبَ لَقِيَنِي سَلْمَانُ بْنُ رَبِيعَةَ وَزَيْدُ بْنُ صُوحَانَ وَأَنَا أُهِلُّ بِهِمَا جَمِيعًا، فَقَالَ أَحَدُهُمَا لِلْآخَرِ: مَا هَذَا بِأَفْقَهَ مِنْ بَعِيرِهِ؟ قَالَ: فَكَأَنَّمَا أُلْقِيَ عَلَيَّ جَبَلٌ حَتَّى أَتَيْتُ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ، فَقُلْتُ لَهُ: يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ، إِنِّي كُنْتُ رَجُلًا أَعْرَابِيًّا نَصْرَانِيًّا وَإِنِّي أَسْلَمْتُ وَأَنَا حَرِيصٌ عَلَى الْجِهَادِ وَإِنِّي وَجَدْتُ الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ مَكْتُوبَيْنِ عَلَيَّ فَأَتَيْتُ رَجُلًا مِنْ قَوْمِي، فَقَالَ لِي: اجْمَعْهُمَا وَاذْبَحْ مَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ، وَإِنِّي أَهْلَلْتُ بِهِمَا مَعًا، فَقَالَ لِي عُمَرُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: "هُدِيتَ لِسُنَّةِ نَبِيِّكَ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ".

دابو وائل نه روايت دې فرمائی چه صبی بن معبد وئيلی دی چه زه يو بانډچی سړی وم او نصرانی هم وم کله چه مې اسلام قبول کړو نو خپلی قبيلی يو کس ته راغلم چه هذيم بن ثرملة ورته وئيلی شو، ماورته ووئيل چه دجهاد سره مې ډير شوق دې او حج او عمره مې اوموندل چه په مابانديې فرض کړی شوی دی نو چه دا دواړه جمع کړم نو زما دپاره څه حکم دی؟ راته ئې اوفرمائيل جمع ئې کړه اوکومه قربانی چه درته ميسره وی ذبحه ئې کړه نو ماددواړو دپاره په يو ځاي احرام اوتړلو نو هر کله چه عذيب ته راتلم نو سليمان بن ربيعه احرام تړلی وو نو پدوی کښې يو کس بل ته ووئيل پده کښې خو دخپل اوښ برابر عقل هم نشته راوی وائی چه دعمر بن الخطاب رضي الله عنه په خدمت کښې حاضر شوم او عرض مې ورته وکړو چه ای امير المومنين زه يو بانډچی سړی وم او نصرانی هم وم بيامې اسلام قبول کړو او دجهاد سره مې ډير شوق دې او حج او عمره مې هم اوموندل چه په مابانديې فرض کړی شوی دی نو دخپلی قبيلی يو کس ته راغلم اوورته مې ووئيل چه دا دواړه جمع کړم نو زما دپاره څه حکم دی؟ راته ئې اوفرمائيل جمع ئې کړه او کومه قربانی چه درته ميسره وی ذبحه ئې کړه نو ما ددواړو دپاره په يو ځاي احرام اوتړلو نو. عمر رضي الله عنه راته او فرمائيل

(١): سنن النسائي/الحج ٤٩(٢٧٢٠، ٢٧٢١، ٢٧٢٢)، سنن ابن ماجه/المناسك ٣٨(٢٩٧٠)،(تحفة الأشراف: ١٠٤٦٦)، وقد أخرجه: مسند احمد(١/١٤، ٢٥، ٣٤، ٣٧، ٥٣)(صحيح)

(٢): انظر ما قبله،(تحفة الأشراف: ١٠٤٦٦)(صحيح)

دخپل نبی سنت درته خودلی شوی دی.

قوله: قال الصبی بن معبد اهللت بهما معا فقال عمر هدیت لسنة نبیك(صلی الله علیه و سلم)

دا روایت دلته کښې ډیر مختصر دې، د حاشیه والا نسخه کښې مطول دې، چه دهغې مضمون دادې، صبی بن معبد وائی، زه یو اعرابی نصرانی سړې وو، الله تعالی زهٔ په اسلام سره خائسته کړم، مسلمانیدو نه پس د جهاد شوق او جذبه مې راؤچته شوه، بیا راته خیال راغلو، چه ما باندې خو حج هم فرض دې، اول به حج اوکړم، پس ما د خپلو رشته دارو او دوستانو په مشورې سره د حج او عمرې دواړو احرام یو ځائې اوتړو(یعنی حج قران) په لاره کښې ماسره سلمان بن ربیعه او زید بن صوحان ملاؤ شو، هرکله چه ما د حج او عمرې دواړو تلبیه وئیله، چه کله هغې دواړو زما تلبیه واؤریده، نو تنقیداً یو بل ته اوئیل، ماهذا بافقه من بعیره، چه دا سړې خو د خپل اوښ نه هم زیاته پوهه نه لری(په اصل کښې دهغوی اشکال په جمع بین الحج والعمره باندې وو) هغه وائی، چه په دې باندې ماته ډیره غصه راغله. فکانما القی علی جبل، ګویا په ما باندې غر راؤغورزولې شو،(لیکن ما اوریدلو سره برداشت اوکړو، څه مې اونه وئیل) وائی، چه زهٔ د حضرت عمر رضی الله عنه په خدمت کښې حاضر شوم او ټوله خبره مې ورته بیان کړه، هغوی چه واؤریده، نو دا ئې اوفرمائیل، کوم چه دلته بره په حدیث کښې ذکر دی، چه تاته الله تعالی دهغه څیز توفیق درکړو، کوم چه سنت دې، ددې نه معلومه شوه چه د حضور ﷺ حج هم حج قران وو، ددې وجې نه مصنف دې حدیث لره په باب القران کښې راؤړو.

[۱۸۰۰]([1]) حَدَّثَنَا النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا مِسْكِينٌ، عَنِ الْأَوْزَاعِيِّ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، قَالَ: سَمِعْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ، يَقُولُ: حَدَّثَنِي عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ، أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "أَتَانِي اللَّيْلَةَ آتٍ مِنْ عِنْدِ رَبِّي عَزَّ وَجَلَّ، قَالَ: وَهُوَ بِالْعَقِيقِ، وَقَالَ: صَلِّ فِي هَذَا الْوَادِي الْمُبَارَكِ، وَقَالَ: عُمْرَةٌ فِي حَجَّةٍ".
قَالَ أَبُو دَاوُدَ: رَوَاهُ الْوَلِيدُ بْنُ مُسْلِمٍ، وَعُمَرُ بْنُ عَبْدِ الْوَاحِدِ فِي هَذَا الْحَدِيثِ، عَنِ الْأَوْزَاعِيِّ "وَقُلْ عُمْرَةٌ فِي حَجَّةٍ".
قَالَ أَبُو دَاوُدَ: وَكَذَا رَوَاهُ عَلِيُّ بْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ فِي هَذَا الْحَدِيثِ، وَقَالَ: "وَقُلْ عُمْرَةٌ فِي حَجَّةٍ".

دابن عباس رضی الله عنه روایت دې فرمائی چه دعمر بن الخطاب رضی الله عنه نه مې اوریدلی دی هغه به وئیل چه دنبی علیه السلام نه مې اوریدلی دی چه فرمائیل یې کله چه نبی علیه السلام ته مقام کښې دشپې په وخت کښې یو راتلونکې کس راغې اوویې وئیل چه په دې مبارک مقام کښې مونځ اداکړه او راته یې اووئیل چه په حج کښې دننه عمره هم وی، امام ابوداود وائی چه ولید بن مسلم او عمرو بن عبدالواحد پخپل روایت کښې دامام اوزاعی نه دا جمله هم بطور اضافه نقل کړې ده«وقل عمرة في حجة»، امام ابوداود وائی چه همدارنګې علی بن مبارک هم دا جمله«وقل عمرة في حجة» دیحی بن ابی کثیر نه نقل کړې ده.

تشریح: **قوله**: اتانی اللیلة آت من عند ربی عزوجل قال وهو بالعقیق:

وادی عقیق ذوالحلیفې سره نزدې دې، هلته کښې د نبی کریم ﷺ په خدمت کښې یوه

[1]): صحيح البخاري/الحج ١٦(١٥٣٤)، سنن ابن ماجه/المناسك ٤٠(٢٩٧٦)،(تحفة الأشراف: ١٠٥١٣)، وقد أخرجه: مسند احمد(٢٤/١)(صحيح)

فرښته(حضرت جبرائیل کما فی الفتح) راغلو. هغه عرض اوکړو. چه تاسو په دې وادئ مبارکه کښې مونځ ادا کړئ. وقل عمرة فی حجة. چه ددې متبادر معنی داده. چه تاسو د حج او عمرې دواړو احرام اوتړئ. ګویا نبی کریم ﷺ د الله تعالی د طرف نه په حج قران باندې مامور وو. ددې نه د قران افضیلت معلومیږي.

دلته کښې دا اشکال کړې شوې دې. چه هرکله نبی کریم ﷺ په قرآن مامور وو. نو بیا هغوی لواستقبلت من امری ما استدبرت الخ کښې د تمتع تمنی ولې ظاهره کړې وه. د بنده په نزد ددې آسان جواب دادې. چه د عمرة فی حجة نه مقصود جمع بین الحج والعمرة دې. او دا جمع څرنګه چه په قران کښې وی. دغه شان په تمتع کښې هم وی. لهذا تمتع په دې اعتبار سره د قران سره منافی نه ده. والله تعالی اعلم.

ددې اشکال یو جواب حضرت په بذل المجهود کښې هم لیکلې دې. په هغې باندې هم پوهیدل پکار دی.

[۱۸۰۱]()حَدَّثَنَا هَنَّادُبْنُ السَّرِيِّ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي زَائِدَةَ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ عُمَرَ بْنِ عَبْدِ الْعَزِيزِ، حَدَّثَنِي الرَّبِيعُ بْنُ سَبْرَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى إِذَا كَانَ بِعُسْفَانَ، قَالَ لَهُ: سُرَاقَةُ بْنُ مَالِكٍ الْمُدْلِجِيُّ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، اقْضِ لَنَا قَضَاءَ قَوْمٍ كَأَنَّمَا وُلِدُوا الْيَوْمَ، فَقَالَ: "إِنَّ اللَّهَ تَعَالَى قَدْ أَدْخَلَ عَلَيْكُمْ فِي حَجِّكُمْ هَذَا عُمْرَةً فَإِذَا قَدِمْتُمْ فَمَنْ تَطَوَّفَ بِالْبَيْتِ وَبَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ فَقَدْ حَلَّ إِلَّا مَنْ كَانَ مَعَهُ هَدْيٌ".

ربیع بن سبره دخپل پلار نه روایت کوی فرمائی چه مونږ دنبی ﷺ سره روان شو کله چه عسفان مقام ته ورسیدو نو سراقه بن مالک رضی الله عنه اووئیل ای دالله رسوله نن یو داسی مضمون بیان کړه چه داسی اوګڼړلې شی لکه دچاچه اوس پیدائش شوې وی(مطلب یې دا وو چه په واضحه طریقه باندی مونږ پوهه کړه ددی دپاره چه مونږ ښه پوهه شو) نبی ﷺ ورته اوفرمائیل الله تعالی مونږ دپاره په دی حج کښې عمره شامل کړی ده تاسو چه کله په دی وجه په مکه کښې داخل شئ او دبیت الله طواف اوکړئ اوپه صفا مروه کښې سعی اوکړئ نو تاسو به حلال شئ لیکن که چا دځان سره قربانی راوستلی وی هغه کس به حلال نه وی.

تشریح: قوله: قال له سراقه بن مالک جعشم یا رسول الله(صلی الله علیه و سلم) اقض لنا قضاء قوم کانهم ولدوا الیوم.

هسې خو نبی کریم ﷺ به صحابه کرامو ته د دین هره خبره ښه پوره توجه سره همیشه دپاره بیانوله. لیکن په دې سفر حج کښې خو د هغوی دا محنت او سعی خپلې انتهاء ته رسیدلې وه. نبی کریم ﷺ به بار بار فرمائیل. خذوا عنی مناسککم لعلی لا اراکم بعد عامی هذا. دغه شان الله تعالی نبی کریم ﷺ ته اصحاب او همنشین هم داسې ورکړې وو. چه د نبی کریم ﷺ په دې تعلیماتو باندې ئې خانونه قربانول. نو په مذکوره حدیث کښې یو صحابی نبی کریم ﷺ ته عرض کوی. یا رسول الله ﷺ. تاسو مونږ ته دا مسائل او نصائح داسې بیان کړئ. لکه چه څه خبره د یوې ورځې ماشوم ته بیانولې شی. الله اکبر! د دغې حضراتو طلب

[۱]: تفرد به ابو داود(تحفة الأشراف: ۳۸۱۱)، وقد أخرجه: مسند احمد(۳/۴۰۴)، سنن الدارمي/المناسك ۳۸(۱۸۹۹)(صحیح)

او رغبت ځومره درجه کښې وو، وفي ذالك فليتنافس المتنافسون.

[۱۸۰۲] (¹) حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ بْنُ نَجْدَةَ، حَدَّثَنَا شُعَيْبُ بْنُ إِسْحَاقَ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ. ح حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ خَلَّادٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى الْمَعْنَى، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، أَخْبَرَنِي الْحَسَنُ بْنُ مُسْلِمٍ، عَنْ طَاوُسٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ مُعَاوِيَةَ بْنَ أَبِي سُفْيَانَ أَخْبَرَهُ، قَالَ: "قَصَّرْتُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِشْقَصٍ عَلَى الْمَرْوَةِ، أَوْ رَأَيْتُهُ يُقَصِّرُ عَنْهُ عَلَى الْمَرْوَةِ بِمِشْقَصٍ". قَالَ ابْنُ خَلَّادٍ: إِنَّ مُعَاوِيَةَ لَمْ يَذْكُرْ أَخْبَرَهُ.

دابن عباس رضي الله عنهما نه روایت دې فرمائي چه معاویه بن ابی سفیان اووئیل چه ما دنبی عليه السلام ویښته په مروا غر کښې دغشي په څوکه باندې کټ کړل یایې داسې اووئیل مانبی عليه السلام په مروه غر کښې دویښتو په کمولو باندې لیدلې وو.

تشریح: قوله: عن ابن عباس رضي الله عنهما ان معاوية بن ابي سفيان اخبره قال قصرت عن النبي(صلى الله عليه و سلم) بمشقص على المروه. مشقص وئیلې شی د غشی پیکان ته(یعنی د غشی تیرهٔ اړخ ته) په ظاهر کښې ددې نه قینچی مراد ده.

شرح حدیث :

بعضو دې لره په حجة الوداع باندې محمول کړې ده، او بیا ئې ددې نه استدلال کړې دې، په دې خبره باندې، چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم متمتع وو، او عمره کولو نه پس حلال شوې وو، لکه چه دا یو قول دې د اقوال سته نه، (²)

لیکن دا قول بالکل غلط دې، د احادیث صحیحه د تصریح نه خلاف دی، او صحیح دا ده، چه دا حدیث د حجة الوداع سره متعلق نه دی، بلکه دا واقعه د عمرةالجعرانه ده، چه په سنه ۸ھ کښې پیښه شوې وه، دې لره په عمرة القضاء باندې خو ددې وجې نه محمول کولې نه شو، چه تر هغه وخته پورې خو حضرت معاویه رضي الله عنه اسلام راوړې نه وو، ځکه چه د هغوی اسلام د فتح مکه په موقع باندې وو، او په حجة الوداع باندې ددې وجې نه محمول کولې نه شو، چه په هغې کښې خو نبي کریم صلی الله علیه وسلم حلق په منی کښې کړې وو، لکه چه په روایاتو کښې مشهور دی، نه په مروه کښې. (³)

دا خبره دې واضحه وی، چه د حج نه فارغیدو نه پس حلق په منی کښې کولې شی، حاجی د مخکښې نه هلته کښې موجود وی، رمی، ذبح، حلق دا ټول کارونه په لسم ذی الحجه په منی کښې کولې شی،(⁴) او عمرې والا حلق په مروه کښې کولې شی، ځکه چه سعی په مروه باندې

---

¹): صحيح البخاري/الحج ۱۲۷(۱۷۳۰)(إلى قوله: «بمشقص»)، صحيح مسلم/الحج ۳۳(۱۲٤٦)، سنن النسائي/الحج ۵۰(۲۷۳۸)، ۱۸۳(۲۹۹۰)، (تحفة الأشراف: ۱۱٤۲۳)، وقد أخرجه: مسند احمد(۹٦/٤، ۹۷، ۹۸، ۱۰۲)(صحيح)

²) د حضور پاک صلی الله علیه وسلم د احرام باره کښې د علماؤ اختلاف په تفصیل سره په باب افراد الحج کښې تیرشو.

³) اګرچه بعضې شارحینو دا احتمال هم جائز کړې دې هغه داسې چه دا خو صحیح ده چه په حج کښې حضورپاک صلی الله علیه وسلم حلق په منی کښې کړې وو خو کیدې شی چه دهغوی صلی الله علیه وسلم په سر باندې څه ویښته باقی پاتې شوی وی چه هغه ئې د طواف زیارت نه پس په سعی کښې صفا کړی وی، والله تعالی أعلم.

⁴) په دې حدیث باندې دښه پوهیدلو دپاره دا ټول عبارت لیکلې شوې دې کومو خلقو چه حج او عمره کړې وی دهغوی دپاره خو ددې څه خاص ضرورت نشته لیکن چا چه تر اوسه پورې نه دې کړې دهغوی په رعایت کښې لیکلې شوې دې.

پوره کيږي، عام طور باندې خلق د عمرې نه چه فارغ شي، نو په مروه کښې حلق کوي، او حضور ﷺ اګر چه د حج نه مخکښې عمره کړې وه، ليکن د سوق هدی د وجې نه هغوی دغه وخت کښې حلق نه وو کړې، او حلال شوې نه وو.

[۱۸۰۳](¹) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، وَمَخْلَدُ بْنُ خَالِدٍ، وَمُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى الْمَعْنَى، قَالُوا: حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ ابْنِ طَاوُسٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ مُعَاوِيَةَ، قَالَ لَهُ: "أَمَا عَلِمْتَ أَنِّي قَصَّرْتُ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِشْقَصِ أَعْرَابِيٍّ عَلَى الْمَرْوَةِ"، زَادَ الْحَسَنُ فِي حَدِيثِهِ: لِحَجَّتِهِ.

دابن عباس رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه معاويه بن ابی سفيان راته اووئيل ايا تاته معلومه نه ده چه ما دنبی عليه السلام ويښته ديوباندې کس دغشي په څوکه باندې په مروه غرکښې واړه کړي وو.حسن پخپل حديث کښې ددې الفاظو اضافه کړيده چه : دحج په دوران کښې بمشقص اعرابي على المروة بحجته: بره په تفصيل سره تير شو، چه دا واقعه د حجة الوداع نه ده، بلکه د عمرې ده، دا روايت دهغې خلاف دې، جواب دادې، چه په نسائی کښې د بحجة په ځائې بعمرة لفظ دې، وهو الصحيح، يا داسې وئيل پکار دی،چه دلته کښې د حج نه مراد حج اصغر يعنی عمره ده.

تشريح:قوله: وبدا رسول الله(صلى الله عليه و سلم) فاهل بالعمرة ثم اهل بالحج:
ددې نه معلوميږي، چه په شروع کښې نبی کريم ﷺ متمتع وو، او په آخره کښې قارن شوې وو، كما هو قول من الاقوال الستة وهو الذى اختاره الطحاوى على ماقيل.

[۱۸۰٤](²) حَدَّثَنَا ابْنُ مُعَاذٍ، أَخْبَرَنَا أَبِي، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ مُسْلِمٍ الْقُرِّيِّ، سَمِعَ ابْنَ عَبَّاسٍ، يَقُولُ: "أَهَلَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِعُمْرَةٍ، وَأَهَلَّ أَصْحَابُهُ بِحَجٍّ".

دابن عباس رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه نبی عليه السلام احرام وتړلو دعمرې په نيت او صحابه کرامو دحج په نيت باندې احرام وتړلو.

[۱۸۰٥](³) حَدَّثَنَا عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ شُعَيْبِ بْنِ اللَّيْثِ، حَدَّثَنِي أَبِي، عَنْ جَدِّي، عَنْ عُقَيْلٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عُمَرَ، قَالَ: تَمَتَّعَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ بِالْعُمْرَةِ إِلَى الْحَجِّ، فَأَهْدَى وَسَاقَ مَعَهُ الْهَدْيَ مِنْ ذِي الْحُلَيْفَةِ، وَبَدَأَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَهَلَّ بِالْعُمْرَةِ ثُمَّ أَهَلَّ بِالْحَجِّ، وَتَمَتَّعَ النَّاسُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْعُمْرَةِ إِلَى الْحَجِّ، فَكَانَ مِنَ النَّاسِ مَنْ أَهْدَى وَسَاقَ الْهَدْيَ وَمِنْهُمْ مَنْ لَمْ يُهْدِ، فَلَمَّا قَدِمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَكَّةَ، قَالَ لِلنَّاسِ: "مَنْ كَانَ مِنْكُمْ أَهْدَى، فَإِنَّهُ لَا يَحِلُّ لَهُ مِنْ شَيْءٍ حَرُمَ مِنْهُ حَتَّى يَقْضِيَ حَجَّهُ، وَمَنْ لَمْ يَكُنْ مِنْكُمْ أَهْدَى فَلْيَطُفْ بِالْبَيْتِ وَبِالصَّفَا وَالْمَرْوَةِ، وَلْيُقَصِّرْ وَلْيَحْلِلْ ثُمَّ لِيُهِلَّ بِالْحَجِّ وَلْيُهْدِ، فَمَنْ لَمْ يَجِدْ هَدْيًا فَلْيَصُمْ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ فِي الْحَجِّ وَسَبْعَةً إِذَا رَجَعَ إِلَى أَهْلِهِ"،

¹): انظر ما قبله،(تحفة الأشراف: ١١٤٢٣)(صحيح)
²): صحيح مسلم/الحج ٣٠(١٢٣٩)، سنن النسائي/الحج ٧٧(٢٨١٦)،(تحفة الأشراف: ٦٤٦٢)، وقد أخرجه: مسند احمد(١/٢٤٠)(صحيح)
³): صحيح البخاري/الحج ١٠٤(١٦٩١)، صحيح مسلم/الحج ٢٤(١٢٢٧)،سنن النسائي/الحج ٥٠(٢٧٣٣)،(تحفة الأشراف: ٦٨٧٨)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الحج ١٢(٨٢٤)، سنن ابن ماجه/المناسك ١٤(٢٩١٦)، مسند احمد(٢/١٣٩)، سنن الدارمي/المناسك ٨٤(١٩٧٢)(صحيح)(وبدأ رسول الله صلي الله عليه وسلم فأهل بالعمرة ثم أهل بالحج) په جمله ابن قيم ابن حجر، او د البانی په نزد شاذ دې(ملاحظه: فتح الباري، وزاد المعاد، وصحيح ابي داود ٦/٦٨)

وَطَافَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ قَدِمَ مَكَّةَ، فَاسْتَلَمَ الرُّكْنَ أَوَّلَ شَيْءٍ، ثُمَّ خَبَّ ثَلَاثَةَ أَطْوَافٍ مِنَ السَّبْعِ وَمَشَى أَرْبَعَةَ أَطْوَافٍ، ثُمَّ رَكَعَ حِينَ قَضَى طَوَافَهُ بِالْبَيْتِ عِنْدَ الْمَقَامِ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ سَلَّمَ فَانْصَرَفَ، فَأَتَى الصَّفَا فَطَافَ بِالصَّفَا وَالْمَرْوَةِ سَبْعَةَ أَطْوَافٍ، ثُمَّ لَمْ يَحْلِلْ مِنْ شَيْءٍ حَرُمَ مِنْهُ حَتَّى قَضَى حَجَّهُ وَنَحَرَ هَدْيَهُ يَوْمَ النَّحْرِ، وَأَفَاضَ فَطَافَ بِالْبَيْتِ، ثُمَّ حَلَّ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ حَرُمَ مِنْهُ، وَفَعَلَ النَّاسُ مِثْلَ مَا فَعَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، مَنْ أَهْدَى وَسَاقَ الْهَدْيَ مِنَ النَّاسِ.

دابن عمر رضی الله عنه نه روايت دي فرمائي چه نبي علیه السلام په حجة الوداع كښې حج تمتع كړې وو يعني دعمرې نه پس يې حج كړې وو او دځان سره يې اووه قربانئ راوستلې وې دذوالحليفې نه او نبي علیه السلام اول دعمرې دپاره دلبيک اواز اوكړو مطلب دادې چه نبي علیه السلام داسې اواز اوكړو لبيک بعمرة او بيايې داسې اواز اوكړو لبيک بحجة او نورو كسانو هم په دې طريقه حج اوكړو يعني تمتع يې اوكړو بعضې كسانو دځان سره قربانئ راوستې وې او بعضو كسانو دځان سره قربانيانې نه وې راوستلې كله چه نبي علیه السلام مكې ته داخل شو نو خلقو اووئيل چه تاسو كښې چه چا دځان سره قرباني راوستلې وې هغه دې احرام نه پرانيزي هغوى دې طواف اوسعي اوكړه او ويښته دې كم كړې او بيادې احرام پرانيزي، اوددينه پس دې هغه كسان دحج احرام وتړي او قرباني دې اوكړي او كچرې دقربانئ طاقت نه لرې نودرې روژې دې په حج كښې اونيسي او كله چه واپس شي نو اووه روژې دې په كور كښې اونيسي، بيا چه كله نبي علیه السلام مكې ته راغي نواول يې حجرا سود ښكل كړو بيا په درې چكرونو كښې يې تيز رفتارې اوكړه اوپه څلورو چكرونو كښې په مزه وو، ددينه پس دكعبې دطواف نه فارغ شو، دوه ركعته مونځ يې اوكړو دمقام ابراهيم سره او دسلام گرځولو نه پس صفا ته لاړو او دصفا او دمروه په مينځ كښې يې اوه چكرونه اولگول او دځرپورې چه د حج نه اوزگار شوې نه وو دهغه وخته پورې په احرام كښې وو اودلوېې اختر په ورځ يې قرباني اوكړه يعني په لسم تاريخ او مكې ته راغي او طواف زيارت يې وكړو او بيا يې احرام پرانيزو اوټول كارونه يې پوره كړل يعني داحرام په حالت كښې ددينه پس يې احرام ختم كړو او كوم كارونه چه يې داحرام په حالت كښې نه كول هغه يې وكړل او دچا سره چه قرباني وه هغوى هم داسې اوكړل څنګه چه نبي علیه السلام كړې وو.

فمن لم يجد هديا فليصم ثلاثة ايام في الحج و سبعة اذا رجع الى اهله: په متمتع باندې دم واجب وي، ليكن كه هغه سره ددې گنجائش نه وي، نو بيا به د دم په ځائې لس وُرځې روژې اونيسي، په هغې كښې درې روژې د حج نه مخكښې، او اووهٔ روژې د حج نه پس دي، ړومبۍ درې روژې د عمرې د احرام نه پس نيول پكار دي، كه هغه وخت پورې ئې عمره كړې وي او كه نه وي كړې، دا زمونږ په نزد دي، او د شافعيه په نزد د عمرې نه فارغ كيدو نه پس نيول پكار دي، د هغې نه مخكښې نيول جائز نه دي، او انتهاء(آخرې وُرځ) ددې روژو يوم عرفه ده، ليكن كه چا د عرفې د وُرځې پورې روژې اونه نيولې، نو په ايام تشريق كښې نيولې شي او كه نه؟ دا مسئله مختلف فيه ده، د احنافو او امام شافعي رحمه الله د قول جديد مطابق دا درې روژې په ايام تشريق كښې نيول جائز نه دي، لهذا اوس په هغه باندې هدى متعين شوه، او د امام مالك، امام احمد او د امام شافعي رحمهم الله د قول قديم مطابق نيول جائز

دی، بیا دویم اختلاف دا دې، چه بیا اووهٔ روزې چه رجوع الی اهله نه پس نیول دی، په دې کښ د رجوع الی اهله نه څه مراد دې؟

عند الشافعي رحمه الله الصحيح المراد به الرجوع الى الوطن والاهل، و عندنا الحنفيه الرجوع من منى الى مكه اى الفراغ عن الحج وهو رواية عن الشافعي رحمه الله.

تشريح: قوله: و افاض فطاف بالبيت ثم حل من كل شئ حرم منه:

په دې حديث کښ تصريح ده ددې خبرې، چه نبی کريم ﷺ د عمرې نه پس حلال شوې نه وو، بلکه د حج نه فارغيدو نه پس يوم النحر کښ حلال شوې وو، وهذا هو الصحيح بيا ددې حديث په اخره کښ د نبی کريم ﷺ د طواف افاضه يعنی طواف زيارت ذکر دې، ليکن ددې نه پس هغوی سعی بين الصفا والمروه هم کړې وه او که نه؟ ددې تصريح صفا طور باندې هيڅ يو روايت کښ ماته ملاؤ نشوه،(۱) اګر چه احناف دې لره خامخا ثابتوی. والله تعالى اعلم.

[۱۸۰٦](۲) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ نَافِعٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، عَنْ حَفْصَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهَا قَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَا شَأْنُ النَّاسِ قَدْ حَلُّوا وَلَمْ تُحْلِلْ أَنْتَ مِنْ عُمْرَتِكَ؟ فَقَالَ: "إِنِّي لَبَّدْتُ رَأْسِي وَقَلَّدْتُ هَدْيِي فَلَا أُحِلُّ حَتَّى أَنْحَرَ الْهَدْيَ".

دام المومنين حفصة رضي الله عنها نه روايت دې فرمائی چه ما عرض وکړو ای د الله رسوله دخلقو څه حالت او کيفيت دی دعمری د اداکولو نه پس ئی احرامونه پرانستل او نبی ﷺ احرام نه وو پرانستلی، نبی ﷺ اوفرمائيل ما دخپل سر تلبيد کړی دی او دقربانۍ په غاړه کښی می اميل اچولی دی ما چه تر څو قربانی نه وی کړی تر هغی نشم حلاليدې.

تشريح: قوله: فقال انی لبدت راسی و قلدت هديی:

نبی کريم ﷺ د خپل عدم تحلل علت بيانوی، ليکن تلبيد خو فی نفسه مانع عن التحلل نه دې، البته د تلبيد راس حاجت هغه وخت کښ وی، چه کله طول احرام وی، دغه شان په قلدت هديی کښ اصل څيز سوق هدی ده، چه په اصل کښ هم هغه د تحلل نه مانع ده، د تقليد ذکر خو صرف دواقعې د بيان واقع دپاره دې. لم يكن ذلك الا للركب الذين الخ: يعنی د فسخ الحج الی العمرة اجازت صرف دهغې صحابه کرامو دپاره وو، چه په حج کښ نبی کريم ﷺ سره وو، روستو خلقو دپاره نشته، د جمهور مسلک هم دا دې، خلافا للامام احمد رحمه الله و بعض الظاهرية.

(۱) د تعدد طواف روايات په کثرت سره موجود نه دی خو د تعدد سعی مسئله مشکل ده، هغوی قارن وو او عند الجمهور خو په قارن باندې صرف يو طواف او سعی ده چه دحج او عمرې دواړو دطرفه کافی ده، ولكن عند الحنفية لا بد للقارن من طوافين وسعيين كما تقدم قبل ذلك.

(۲): صحيح البخاري/الحج ۳۴(۱۵٦٦)، والمغازي ۷۷(۴۳۹۸)، واللباس ٦۹(۵۹۱٦)، صحيح مسلم/الحج ۲۵(۱۲۲۹)، سنن النسائي/الحج ۴۰(۲٦۸۱)، سنن ابن ماجه/المناسك ۷۲(۳۰۴٦)،(تحفة الأشراف: ۱۵۸۰۰)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الحج ۵۸(۱۸۰)، مسند احمد(۲۸۳/٦، ۲۸۴، ۲۷۵)(صحيح)

بَابُ الرَّجُلِ يُهِلُّ بِالْحَجِّ ثُمَّ يَجْعَلُهَا عُمْرَةً

دحج دپاره ترلی احرام دعمري په احرام باندې بدلول

[۱۸۰۷]([1]) حَدَّثَنَا هَنَّادٌ يَعْنِي ابْنَ السَّرِيِّ، عَنِ ابْنِ أَبِي زَائِدَةَ، أَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْحَاقَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْأَسْوَدِ، عَنْ سُلَيْمِ بْنِ الْأَسْوَدِ، أَنَّ أَبَا ذَرٍّ كَانَ يَقُولُ فِيمَنْ حَجَّ ثُمَّ فَسَخَهَا بِعُمْرَةٍ: "لَمْ يَكُنْ ذَلِكَ إِلَّا لِلرَّكْبِ الَّذِينَ كَانُوا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ".

دسليم بن الاسود نه روايت دې فرماظي چه ابوذر رضی الله عنه به دهغه چاپه باره کښې فرمائيل څوک چه دحج اراده وکړي اوبيائې په عمره باندې بدل کړي نو عمل ئې درست نه دې ځکه چه داده دهغه قافلې خصوصيت ووکوم چه دنبي عليه السلام سره تلې وو.

[۱۸۰۸]([2]) حَدَّثَنَا النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ يَعْنِي ابْنَ مُحَمَّدٍ، أَخْبَرَنِي رَبِيعَةُ بْنُ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنِ الْحَارِثِ بْنِ بِلَالِ بْنِ الْحَارِثِ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، فَسْخُ الْحَجِّ لَنَا خَاصَّةً، أَوْ لِمَنْ بَعْدَنَا؟ قَالَ: "بَلْ لَكُمْ خَاصَّةً".

حارث بن بلال دخپل پلار نه روايت کوي فرمائي ما عرض وکړو اې دالله رسوله ! حج په عمره باندې بدلول زمونږ خصوصيت دې اوکه نه دا حکم زمونږ نه دوروسته خلقو دپاره هم دې؟ رسول پاک صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل بلکه دا حکم ستاسو خصوصيت دې.

بَابُ الرَّجُلِ يَحُجُّ عَنْ غَيْرِهِ

دبل چا دطرفه حج کول (حج بدل)

دلته کښې يوه نوې مسئله شروع کيږي، حج عن الغير، چه هغې ته په عرف کښې حج بدل وئيلې شي، اوس دلته کښې دا مسئله ده، چه په عباداتو کښې استنابة يعنی بل لره د خپل ځان نائب جوړول جائز دی، او که نه؟

په کومو عباداتو کښې نيابة عن الغير جاري کيدې شی؟

په دې خبره پوهيدل پکار دی، چه په عبادات بدنيه محضه کښې استنابة عند الائمة الاربعة مطلقاً جائز نه دې، نه عند القدرة او نه عند العجز، لکه صلوة او صوم، او عبادة ماليه محضه لکه زکوة، په دې کښې مطلقا جائز دی، که يو سړې خپل زکوة د بل سړي په لاس باندې ادا کړي، نو جائز دې، او ددې دواړو قسمونو (بدنيه محضه، ماليه محضه) نه علاوه لکه حج، په دې کښې د ائمه ثلاثه يعنی امام ابوحنيفه رحمه الله، شافعي رحمه الله، او احمد رحمه الله مسلک دادې، چه په دې کښې استنابة عند العجز خو جائز دې، ليکن عند القدرة جائز نه دې، د امام مالك په دې کښې اختلاف دې، د هغوی په نزد حج عن الغير الحی جائز نه دې، لا عند

---

[1]): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١١٩٢٠)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/الحج ٢٣(١٢٢٤)، سنن النسائي/الحج ٧٧(٢٨١٢)، سنن ابن ماجه/المناسك ٤٢(٢٩٨٥)(صحيح)

[2]): سنن النسائي/الحج ٧٧(٢٨١٠)، سنن ابن ماجه/المناسك ٤٢(٢٩٨٤)، (تحفة الأشراف: ٢٠٢٧)، وقد أخرجه: مسند احمد(٣/٤٦٩)، سنن الدارمي/المناسك ٣٧(١٨٩٧)(ضعيف)

القدرة و لا عند العجز الا عن میت اوصی)[1] ددې تفصیل تعلق فرض حج سره دې، او د نفل حج مسئله څانله ده. د احنافو په نزد حج نفل عن الغیر مطلقا جائز دې، او د شافعیه په نزد صرف عند العجز جائز دې. عند القدرة جائز نه دې، ګویا د شافعی رحمه الله په نزد نفل او فرض حج په دې کښې برابر دی.

و عن احمد روایتان(من الاوجز) لیکن په صوم کښې د امام احمد رحمه الله په نزد دا تفصیل دې، چه په واجب اصلی یعنی صوم رمضان کښې نیابة جائز نه دې. او واجب غیر اصلی(یعنی صوم منذور وغیره) کښې د مړی د طرف نه نیابت جائز دې، که د مړی په ذمه صوم منذور وی، نو دهغه د طرف نه ولی قضا کولې شی(د حدیث د طالبانو دپاره د مذاهب ائمه دا تفصیل یادول واجب دی)

[۱۸۰۹](۲) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: كَانَ الْفَضْلُ بْنُ عَبَّاسٍ رَدِيفَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَجَاءَتْهُ امْرَأَةٌ مِنْ خَثْعَمٍ تَسْتَفْتِيهِ، فَجَعَلَ الْفَضْلُ يَنْظُرُ إِلَيْهَا وَتَنْظُرُ إِلَيْهِ، فَجَعَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصْرِفُ وَجْهَ الْفَضْلِ إِلَى الشِّقِّ الْآخَرِ، فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّ فَرِيضَةَ اللَّهِ عَلَى عِبَادِهِ فِي الْحَجِّ أَدْرَكَتْ أَبِي شَيْخًا كَبِيرًا لَا يَسْتَطِيعُ أَنْ يَثْبُتَ عَلَى الرَّاحِلَةِ أَفَأَحُجُّ عَنْهُ؟ قَالَ: نَعَمْ"، وَذَلِكَ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ.

دعبدالله بن عباس رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه فضل بن عباس رضی الله عنه په حجة الوداع کښی په نبی علیه السلام پسی شاته سور وو او دخشعم قبیلې یوه زنانه راغله او دنبی علیه السلام نه یې دمسئلې تپوس کول شروع کړل، فضل رضی الله عنه هغې ته وکتل او هغه ښځې فضل ته وکتل نو نبی علیه السلام خپل مخ مبارک بل طرف ته ستون کړو هغه زنانه عرض اوکړو ای دالله رسوله الله تعالی پخپلو بندګانو باندی حج فرض کړې وو او زما په پلار باندی په داسی وخت کښی حج فرض شو چه په اوښ باندی سورلی نه شی کولې ایا زه دهغه دطرفه حج کولې شم نبی علیه السلام اوفرمائیل هو،(کولې شو)او دا واقعه په حجة الوداع کښی پیښه شوی وه.

تشریح: قوله: فجائته امراة من خثعم تستفتیه...... فقالت یا رسول الله(صلی الله علیه و سلم) ان فریضة الله عزوجل علی عباده فی الحج ادرکت ابی شیخا کبیرا:

د قبیله خثعم یوې زنانه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه ددې مسئلې باره کښې تپوس اوکړو، یا رسول الله صلی الله علیه وسلم ! د الله تعالی چه یوه اهمه فریضه په خپلو بندګانو باندې ده، هغه زما په پلار راغلې ده، په دې حال کښې چه هغه شیخ فانی دې. په سورلۍ باندې کیناستې نشی، نو آیا زۀ دهغه د طرف نه حج کولې شم، نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل او کولې شې.

[1] یعنی دامام مالک په نزد د ژوندی سړی دطرفه مطلقًا جائز نه دی صرف دمړی دطرفه جائز دی په دې شرط چه وصیت ئې کړې وی.

[2]: صحيح البخاري/الحج ١(١٥١٣)، وجزاء الصيد ٢٣(١٨٥٤)، ٢٤(١٨٥٥)، والمغازي ٧٧(٤٣٩٩)، والاستئذان ٢(٦٢٢٨)، صحيح مسلم/الحج ٧١(١٣٣٤)، سنن النسائي/الحج ٨(٢٦٣٤)، ٩(٢٦٣٦)، ١٢(٢٦٤٢)،(تحفة الأشراف: ٥٦٧٠، ٦٥٢٢)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الحج ٨٥(٩٢٨)، سنن ابن ماجه/المناسك ١٠(٢٩٠٩)، موطا امام مالك/الحج ٣٠(٩٧)، مسند احمد(١/٢١٩، ٢٥١، ٣٢٩، ٣٤٦، ٣٥٩)، سنن الدارمي/الحج ٢٣(١٨٧٣)(صحيح)

د حج علی المعضوب مسئله چه د حدیث الباب نه ثابتیږی:

په دې حدیث کښې د حج علی المعضوب مسئله ذکر ده، داسې قسمه ضعیف سړی ته معضوب وئیلې شی، مسئله اختلافی ده، د امام شافعی رحمه الله، احمد رحمه الله، او صاحبینو مسلك دادې، چه که سړې د زاد او راحله مالك په داسې وخت کښې شو، چه په هغه کښې جسمانی طاقت د سفر دپاره بالکل نه وی، په سورلئ باندې سوریدې نه شی، نو ددې حضراتو په نزد په داسې سړې باندې حج واجبیږی، او چونکه هغه په خپله قادر نه دې، ددې وجې نه په هغه باندې حج بدل واجب دې، د امام اعظم رحمه الله او امام مالك رحمه الله په نزد په داسې سړی حج فرض نه دې، لهذا حج بدل هم واجب نه دې، دا حدیث په ظاهر کښې د دغې دوارو امامانو خلاف دې،[1] د هغوی د طرف نه ددې دوه توجیه شوې ده.

(۱) ادرکت ابی شیخا الخ نه دهغه موجوده حالت بیانول مقصود دی، نه دا چه حج په هغه باندې په دغې حالت کښې واجب شوې دې، مطلب دادې، چه دهغه حالت فی الحال دادې، حالانکه حج په هغه باندې ددې نه مخکښې واجب شوې دې، (چه کله په هغه کښې قوت او طاقت وو) لهذا اوس دا حدیث د احنافو او مالکیه خلاف نه شو.

(۲) د حدیث مطلب دادې، چه حج چه د الله تعالی د طرف نه په بندګانو باندې فرض دې، دهغې انتظام یعنی سورلی وغیره زما پلار ته په داسې حال کښې حاصل شوې دې، چه هغه شیخ کبیر یعنی ډیر بوډا دې، په دې کښې ددې تصریح نشته، چه حج زما په پلار واجب دې، بلکه فریضة الله علی عباده، ئې اوئیل، او په دې کښې څه شك دې، چه حج فریضة الله علی عباده دې، عرض دا چه په دې حدیث کښې د سورلئ د نظم وغیره ذکر دې، چه هغه په دې حالت کښې حاصل شوې دې، په پلار باندې د حج فرض کیدو ذکر نشته، والله تعالی اعلم، او ددې دویمې توجیه په صورت کښې به د حضور ﷺ د جواب حاصل دا وی، چه که تهٔ د هغه د طرف نه حج کول غواړې، نو کولې شې، په دې کښې څه حرج نشته، او په اوله توجیه کښې به د نبی کریم ﷺ مراد دا وی، چه او دهغه د طرف نه تهٔ حج اوکړه، دهغې قضاء واجب ده، سبحان الله دواړه توجیه ډیرې بهترین دی.

[۱۸۱۰](^۲) حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ، وَمُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ بِمَعْنَاهُ قَالَا: حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ سَالِمٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ أَوْسٍ، عَنْ أَبِي رَزِينٍ، قَالَ حَفْصٌ فِي حَدِيثِهِ: رَجُلٌ مِنْ بَنِي عَامِرٍ، أَنَّهُ قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّ أَبِي شَيْخٌ كَبِيرٌ لَا يَسْتَطِيعُ الْحَجَّ وَلَا الْعُمْرَةَ وَلَا الظَّعْنَ، قَالَ: "احْجُجْ عَنْ أَبِيكَ وَاعْتَمِرْ".

دابورزرین رضی الله عنه خوک چه دبنوعامر قبیلې والا دې، نه روایت دې فرمائی چه ما عرض اوکړو ای د الله رسوله ﷺ زما پلار بوډا دې دحج او دعمرې کولو دپاره دسفر کولو طاقت نه لرې

---

[1]) دلته دوه مسئلې دی: اول دا چه په معضوب باندې حج فرض کیږی که نه؟ دا مسئله خو اوس تیره شوه. دویمه مسئله دا ده چه د معضوب دطرفه بل سړې حج کولې شی او که نه؟ د ائمه ثلاثه په نزد کولې شی دامام مالک په نزد نه شی کولې ځکه چه ددوی په نزد د ژوند دطرفه حج کول جائز نه دی کما تقدم تقریبًا.

[2]): سنن الترمذي/الحج ۸۷(۹۳۰)، سنن النسائي/الحج ۲(۲۶۲۲)، ۱۰(۲۶۳۸)، سنن ابن ماجه/المناسك ۱۰(۲۹۰۶)(تحفة الأشراف: ۱۱۱۷۴)، وقد أخرجه: مسند احمد(۱۰/۴، ۱۱، ۱۲)(صحیح)

نبي ﷺ اوفرمائيل ته دخپل پلار دطرف نه حج او عمره اوکړه.

ولاالظعن: ظعن راحله ته وئيلي شي، او دلته مراد ددې نه رکوب على الراحله دې.

[۱۸۱۱](١)حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بنُ إِسْمَاعِيلَ الطَّالَقَانِيُّ، وَهَنَّادُ بنُ السَّرِيِّ الْمَعْنَى وَاحِدٌ، قَالَ إِسْحَاقُ: حَدَّثَنَا عَبْدَةُ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنِ ابْنِ أَبِي عَرُوبَةَ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ عَزْرَةَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَمِعَ رَجُلًا، يَقُولُ: لَبَّيْكَ عَنْ شُبْرُمَةَ، قَالَ: "مَنْ شُبْرُمَةُ؟" قَالَ: أَخٌ لِي، أَوْ قَرِيبٌ لِي، قَالَ: "حَجَجْتَ عَنْ نَفْسِكَ"، قَالَ: لَا، قَالَ: "حُجَّ عَنْ نَفْسِكَ، ثُمَّ حُجَّ عَنْ شُبْرُمَةَ".

دابن عباس رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه نبي ﷺ ديوکس نه واوريدل چه وئيل يې «لبيك عن شبرمة» نبي ﷺ تپوس اوکړو چه شبرمه څوک دې هغه اووئيل زما ورور دې يايې داسې اووئيل چه زما رشته دار دې نبي ﷺ ورته اوفرمائيل ايا تا دخپل طرف نه حج کړې دې؟ هغه اووئيل نه نو په دې وخت کښې نبي ﷺ ده ته اوفرمائيل اول دځان دطرف حج اوکړه او بيا دشبرمه دطرف نه حج کوه.

تشريح: قوله: لبيك عن شبرمة.......... حج عن نفسك ثم حج عن شبرمة.

په حج الصرورة عن الغير کښې اختلاف د علماء:

په دې حديث کښې حج الصرورة (٢) عن الغير مذکور دې، يعنې کوم سړې چه خپله حج نه وې کړې هغه د بل د طرف نه نيابة حج کولې شي او که نه؟ ددې حديث نه معلوميږي، چه جائز نه دې، د شافعيه او حنابله مسلك هم دادې، د احنافو او مالکيه په نزد جائز دې، ليکن زمونږ په نزد مکروه دې، او حديث په کراهت باندې محمول دې، يعنې تنزيهاً دويم جواب د حديث نه دادې، چه په دې کښې د راويانو اختلاف دې، بعضې دې لره مرفوعا او بعضو موقوفا ذکر کړې دې، ورجح الطحاوي الوقف وقال احمد رفعه خطاء(بذل)

د حديث مضمون دادې، چه يو سړې د خپل يو عزيز د طرف نه چه دهغه نوم شبرمه وو، حج کولو، نو هغه په تلبيه کښې وئيل، لبيك عن شبرمة، نبي کريم ﷺ دهغه نه تپوس اوکړو، شبرمه څوك دې؟(د چا د طرف نه چه ته تلبيه وائې) او بيا ئې اوفرمائيل، اول خپل حج ادا کړه، دهغې نه پس د بل د طرف نه حج کوه په دې حديث کښې يوه دا هم مسئله ده، چه په حج بدل کښې د چا د طرف نه چه سړې حج کوي، دهغه د نوم تصريح کول پکار دي.

بَابُ كَيْفَ التَّلْبِيَةُ

باب: د تلبيه بيان

د مصنف رحمه الله مقصود ددې نه د تلبيئ چه کوم الفاظ د نبي کريم ﷺ نه منقول دي، دهغې بيانول دي، او دا چه په هغې کښې کمې زياتې کولې شي، او که نه؟

المذاهب في التلبية:

په تلبيه کښې څلور مذاهب دي(١) د امام شافعي او امام احمد □ په نزد سنت ده، لهذا ددې

(١): سنن ابن ماجه/المناسك ٩(٢٩٠٣)،(تحفة الأشراف: ٥٥٦٤)(صحيح)

(٢) صرورة (صاد مهمله سره) هغه سړې چه حج ئې نه وي کړې. كما تقدم في اول كتاب الحج لا صرورة في الاسلام

په ترک سره به هیڅ نه واجب کیږی، ځکه چه دهغوی په نزد د احرام د تحقق دپاره نطق او تلفظ ضروری نه دي. صرف په نیت سره هم د احرام انعقاد کیږی،(۲) د امام مالک رحمه الله په نزد واجب ده، ددې په ترک سره به دم واجب کیږی،(۳) د احنافو په نزد په شروع کښې یو ځل وئیل ددې فرض دی، لیکن د هغوی په نزد د تلبیئ نه علاوه بل ذکر هم ددې قائم مقام کیدې شی، بلکه د قول په ځائ فعل یعنی تقلید و سوق هدی وغیره هم ددې قائم مقام کیږی،(۴) د ظاهریه په نزد تلبیه رکن دې، ددې وجې نه څه بل ذکر ددې قائم مقام نشی کیدې.

[۱۸۱۲](۱) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ نَافِعٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، "أَنَّ تَلْبِيَةَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَبَّيْكَ اللَّهُمَّ لَبَّيْكَ، لَبَّيْكَ لَا شَرِيكَ لَكَ لَبَّيْكَ، إِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكَ، لَا شَرِيكَ لَكَ"، قَالَ: وَكَانَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ يَزِيدُ فِي تَلْبِيَتِهِ: لَبَّيْكَ لَبَّيْكَ لَبَّيْكَ وَسَعْدَيْكَ وَالْخَيْرُ بِيَدَيْكَ وَالرَّغْبَاءُ إِلَيْكَ وَالْعَمَلُ.

دعبدالله بن عمر رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه دنبی علیه السلام تلبیه داسی وه«لبیك اللهمّ لبیك، لبیك لا شریك لك لبیك، إن الحمد والنعمة لك والملك، لا شریك لك»یعنی ای الله زه ستا په خدمت کښې حاضر یم ای الله زه ستاپه در کښې حاضر یم، ای الله زه ستا په در کښې حاضر یم، ستا څوک شریک نشته دې ټول تعریفونه او صفتونه خاص ستا دپاره دی ته بادشاه یې ستا څوک شریک نشته دې، ابن عمر رضی الله عنه به په دی الفاظو کښې دا اظافه کوله«لبیك لبیك لبیك وسعدیك والخیر بیدیك والرغباء إلیك والعمل».

عن عبدالله بن عمر رضی الله عنه ان تلبیة رسول الله(صلی الله علیه و سلم) الخ د حضور صلی الله علیه وسلم د تلبیئ الفاظ خو متعین وو، په هغې کښې حضور صلی الله علیه وسلم کمې زیاتې نه کولو، لبیك اللهم لبیك، لبیك لا شریك لك لبیك، ان الحمد والنعمة لك والملك، لا شریك لك، او ابن عمر رضی الله عنه به په دې کښې زیاتې کولو، لکه چه په روایت کښې ذکر دی.

د تلبیئ په کلماتو کښې کمې زیاتې:

په تلبیه کښې زیاتې کول مختلف فیه دی، د امام ابوحنیفه رحمه الله، امام احمد رحمه الله او امام محمد رحمه الله په نزد جائز دی، او هم دا قول مشهور دې د امام شافعی رحمه الله، او د امام مالک رحمه الله او امام ابویوسف رحمه الله په نزد زیادة فی التلبیه مکروه دی، وهو قول الشافعی رحمه الله واختاره الطحاوی، او یو روایت د احنافو په نزد دادې، چه زیاتوالې مستحب دې، لیکن د حضور صلی الله علیه وسلم د تلبیئ په مینځ کښې نه، بلکه دهغې نه پس، یعنی کوم الفاظ چه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه منقول دی، هغه به په هغې ترتیب سره اوائی، او دهغې کلماتو نه پس چه کوم زیاتوالې په خپل شوق او ذوق سره کول غواړی اوبه کړی.

۱): صحیح البخاري/الحج ۲۶(۱۵٤۹)، واللباس ۶۹(۵۹۵۱)، صحیح مسلم/الحج ۳(۱۱۸٤)، سنن النسائي/الحج ۵٤(۲۷٤۸، ۲۷٤۹)،(تحفة الأشراف: ۸۳٤٤)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الحج ۱۳(۸۲۵)، سنن ابن ماجه/المناسك ۱۵(۲۹۱۸)، موطا امام مالك/الحج ۹(۲۸)، مسند احمد(۲/۳، ۲۸، ۲۸، ۳٤، ٤۱، ٤۳، ٤۷، ٤۸، ۵۳، ۷۶، ۷۷، ۷۹، ۱۳۱)، سنن الدارمي/المناسك ۱۳(۱۸٤۹)(صحیح)

[۱۸۱۳]() حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا جَعْفَرٌ، حَدَّثَنَا أَبِي، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: أَهَلَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَذَكَرَ التَّلْبِيَةَ مِثْلَ حَدِيثِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: وَالنَّاسُ يَزِيدُونَ ذَا الْمَعَارِجِ وَنَحْوَهُ مِنَ الْكَلَامِ، وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْمَعُ فَلَا يَقُولُ لَهُمْ شَيْئًا.

دجابر بن عبدالله رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چه نبي عليه السلام احرام وتړلو بيا جابر رضي الله عنه دابن عمر رضي الله عنه دروايت پشان تلبيه اووئيله او بيايي اوفرمائيل چه خلقوبه دالله په تعريف كښي دا الفاظ زياتول نبي عليه السلام به اوريدل اوددي په باره كښي به يي څه نه وئيل.

[۱۸۱٤]() حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي بَكْرِ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ حَزْمٍ، عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ أَبِي بَكْرِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْحَارِثِ بْنِ هِشَامٍ، عَنْ خَلَّادِ بْنِ السَّائِبِ الْأَنْصَارِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "أَتَانِي جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلَامُ فَأَمَرَنِي أَنْ آمُرَ أَصْحَابِي وَمَنْ مَعِي أَنْ يَرْفَعُوا أَصْوَاتَهُمْ بِالْإِهْلَالِ، أَوْ قَالَ: بِالتَّلْبِيَةِ يُرِيدُ أَحَدَهُمَا".

دخلاد بن السائب انصاري رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چه نبي عليه السلام اوفرمائيل ماته جبرائيل عليه السلام راغي اوماته يي حكم اوكړو چه زه خپلو ملګرو او صحابه كرامو ته حكم اوكړم چه دوی دی لبيك په تيز اواز سره وائي (البته دزنانو دپاره په ټيټ اواز سره وئيل بهتر دی او دمسنون تلبي الفاظ په پورتني حديث كښي تير شوی دی).

تشريح: قوله: ان يرفعوا اصواتهم بالاهلال: رفع الصوت بالتلبيه عند الظاهريه واجب دې، او عند الجمهور مستحب دې.

بَابُ مَتَى يَقْطَعُ التَّلْبِيَةَ

تلبيه كله بندول پكاردي

[۱۸۱۵]() حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، حَدَّثَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ، عَنْ عَطَاءٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ الْفَضْلِ بْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "لَبَّى حَتَّى رَمَى جَمْرَةَ الْعَقَبَةِ".

دابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دي فرمائي چه نبي عليه السلام دجمره عقبه دويشتلو پورې تلبيه وئيله (يعني ددی دويشتلو نه پس يي بنده كړه).

ددې باب تعلق محرم بالحج سره دې، او د راتلونكې باب تعلق محرم بالعمرة سره دې، دا وئيل غواړي، چه محرم بالحج تر كومې پورې تلبيه وئيلې شي، په حديث الباب كښې دی، چه حضور صلى الله عليه وسلم به تلبيه د جمرة العقبه درمي پورې وئيله، يعني د يوم النحر رمي چه صرف د

---

[1]): سنن ابن ماجه/المناسك ١٥(٢٩١٩)(كلاهما بدون قوله: «والناس يزيدون الخ»)،(تحفة الأشراف: ٢٦٠٤)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/الحج ١٩(١٥٤٠)(في سياق حجة النبي صلي الله عليه وسلم الطويل)(صحيح)

[2]): سنن الترمذي/الحج ١٥(٨٢٩)، سنن النسائي/الحج ٥٥(٢٧٥٤)، سنن ابن ماجه/المناسك ١٦(٢٩٢٢)،(تحفة الأشراف: ٣٧٨٨)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الحج ١٠(٣٤)، مسند احمد(٥٥/٤، ٥٦)، سنن الدارمي/المناسك ١٤(١٨٥٠)(صحيح)

[3]): صحيح البخاري/الحج ٢٢(١٥٤٣)، ٩٣(١٦٧٠)، ١٠١(١٦٨٥)، صحيح مسلم/الحج ٤٥(١٢٨٠)، سنن الترمذي/الحج ٧٨(٩١٨)، سنن النسائي/الحج ٢١٦(٣٠٥٧)، ٢٢٨(٣٠٨١)، ٢٢٩(٣٠٨٤)،(تحفة الأشراف: ١١٠٥٠)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/المناسك ٦٩(٣٠٤٠)، مسند احمد(٢١٠/١، ٢١١، ٢١٢، ٢١٣، ٢١٤)، سنن الدارمي/المناسك ٦٠(١٩٤٣)(صحيح)

جمرة العقبه وی، د یوم النحر نه پس خو باقی ؤرځو کښې د جمرات ثلثه رمی کیږی، (کما سیاتی فی محله) په دې مسئله کښې د ائمه ثلثه ابوحنیفه، شافعی او احمد رحمهم الله هم دا مذهب دې، د اولینو په نزد تلبیه د ابتداء د رمی پورې ده، او د امام احمد رحمه الله په نزد فراغ عن الرمی پورې ده، یعنی د امام احمد رحمه الله په نزد د رمی په دوران کښې هم وئیلی شی، د دې درې وارو په مذهب کښې دا لږ شان فرق دې، او د امام مالک رحمه الله مسلك دا نه دې، دهغوی په نزد محرم بالحج لره پکار دی، چه په ۹ ذی الحجه باندې عند الرواح الی عرفه[1] تلبیه منقطع کړی، دهغې نه پس دې نه وائی.

او په محرم بالعمره کښې هم ائمه ثلثه یو طرف ته دی، او امام مالک رحمه الله ځانله دې، ائمه ثلثه فرمائي لکه چه په حدیث الباب کښې دی، حتی یستلم الحجر، یعنی د طواف په شروع کښې دې تلبیه ترك کړی، (د طواف ابتداء استلام د حجر اسود نه کیږی) ددې نه معلومه شوه، چه د طواف په دوران کښې، بلکه دهغې نه پس به هم تلبیه نشی وئیلې، او د امام مالك رحمه الله مسلك دا دې، یقطع التلبیة حین وقع بصره علی البیت،[2] (کوم وخت چه د معتمر نظر په بیت الله شریف باندې پریوځی، هغه وخت دې تلبیه منقطع کړی.

[۱۸۱۶]([3]) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ نُمَيْرٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: "غَدَوْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ مِنًى إِلَى عَرَفَاتٍ مِنَّا الْمُلَبِّي وَمِنَّا الْمُكَبِّرُ".

دابن عمر رضی الله عنهما نه روایت دې فرمائی چه مونږ دنبی علیه السلام سره دعرفات نه منی ته لاړو په دغه وخت کښې په مونږ کښې به بعضو کسانو تلبیه وئیله او بعضو کسانو به تکبیر وئیلو.

بَابُ مَتَى يَقْطَعُ الْمُعْتَمِرُ التَّلْبِيَةَ

عمره کونکی به تلبیه کله بنده وی

[۱۸۱۷]([4]) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، عَنِ ابْنِ أَبِي لَيْلَى، عَنْ عَطَاءٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "يُلَبِّي الْمُعْتَمِرُ حَتَّى يَسْتَلِمَ الْحَجَرَ". قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ أَبِي سُلَيْمَانَ، وَهَمَّامٌ، عَنْ عَطَاءٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، مَوْقُوفًا.

دابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی عمره کونکی به دحجراسود ښکلولو پورې تلبیه وائی. امام ابوداود فرمائی چه ددی حدیث روایت عبدالمطلب بن

---

[1]) یعنی حاجی چه په ۹ ذی الحجه کله د نمر د زوال نه پس عرفات طرف ته وقوف دپاره لاړ شی دهغه وخت نه واخله تر آخره پورې به تلبیه نه وائی.

[2]) دا دهغوی په نزد هغه معتمر دپاره دی دچا احرام چه د تنعیم یا جعرانه نه وی، (وذلك یکون لمن کان مقیمًا بمکة فانه یحرم للعمرة من الحل) او کوم معتمر چه آفاقی وی، د میقات نه ئې احرام تړلې وی راځی نو دهغه حکم دادې چه هغه د حرم حد ته اورسیږی تلبیه دې منقطع کړی. (ذکره الامام مالك في المؤطا).

[3]): صحيح مسلم/الحج ٤٦(١٢٨٤)، (تحفة الأشراف: ٧٢٧١)، وقد أخرجه: سنن النسائي/الحج ١٩١(٣٠٠١)، مسند احمد(٢٢/٢)، سنن الدارمي/المناسك ٤٨(١٩١٨)(صحيح)

[4]): سنن الترمذي/الحج ٧٩(٩١٩)، (تحفة الأشراف: ٥٩١٢) موقوفًا، و(٥٩٥٨)(ضعيف)

سلیمان اوهمام په واسطه دعطاء سره دابن عباس رضي الله عنهما نه موقوفا کړې دي.

باب المحرم يؤدب غلامه

داحرام په حالت کښې دادب دپاره خپل خادم وهل جائز دي

په قرآن مجید کښې دي، فلا رفث و لا فسوق و لا جدال في الحج، په خپلو کښې ملګرو سره جنګ جګړه کول هسې هم جائز نه دي، او د حج په سفر کښې هم خاص طور سره ددې نه منع فرمائیلې شوې ده، دې باره کښې مصنف رحمه الله فرمائي چه آیا تادیبا او تنبیها وهل هم په دې کښې داخل دي؟

[۱۸۱۸](۱) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، وَمُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ أَبِي رِزْمَةَ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ إِدْرِيسَ، أَخْبَرَنَا ابْنُ إِسْحَاقَ، عَنْ يَحْيَى بْنِ عَبَّادِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ، قَالَتْ: خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حُجَّاجًا حَتَّى إِذَا كُنَّا بِالْعَرْجِ نَزَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَزَلْنَا، فَجَلَسَتْ عَائِشَةُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا إِلَى جَنْبِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَجَلَسْتُ إِلَى جَنْبِ أَبِي وَكَانَتْ زِمَالَةُ أَبِي بَكْرٍ وَزِمَالَةُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاحِدَةً مَعَ غُلَامٍ لِأَبِي بَكْرٍ، فَجَلَسَ أَبُو بَكْرٍ يَنْتَظِرُ أَنْ يَطْلُعَ عَلَيْهِ فَطَلَعَ وَلَيْسَ مَعَهُ بَعِيرُهُ، قَالَ: أَيْنَ بَعِيرُكَ؟ قَالَ: أَضْلَلْتُهُ الْبَارِحَةَ، قَالَ: فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ: بَعِيرٌ وَاحِدٌ تُضِلُّهُ؟ قَالَ: فَطَفِقَ يَضْرِبُهُ وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَبَسَّمُ، وَيَقُولُ: "انْظُرُوا إِلَى هَذَا الْمُحْرِمِ مَا يَصْنَعُ"، قَالَ ابْنُ أَبِي رِزْمَةَ: فَمَا يَزِيدُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى أَنْ يَقُولَ: "انْظُرُوا إِلَى هَذَا الْمُحْرِمِ مَا يَصْنَعُ" وَيَتَبَسَّمُ.

داسماء بنت ابی بکر رضي الله عنها نه روایت دې فرمائي چه مونږ دنبی علیه السلام سره حج ته روان شو کله چه مونږ عرج مقام ته داخل شو نو نبی علیه السلام هلته کوز شو او مونږ ورسره هم کوز شو عائشه رضي الله عنها خو دنبی علیه السلام سره په خوا کښې کښیناسته اوزه دخپل پلار ابوبکر رضي الله عنه سره کښیناستم او دنبی علیه السلام او زما دپلار دخوراک سامان شریک وو اوپه یو اوښ باندې ترلې شوې وو او هغه اوښ دابوبکر ء دیو غلام سره وو، ابوبکر رضي الله عنه په دې انتظار کښې کښیناستو چه غلام به راشي کله چه غلام راغې اوښ ورسره نه وو ابوبکر رضي الله عنه ورنه تپوس اوکړو چه اوښ دې چرته دې هغه اووئیل پرون ورک شوې دې ابوبکر ووئیل چه یو اوښ درسره وو او هغه دې هم ورک کړې دې ددې په وئیلو سره ابوبکر رضي الله عنه غلام اووهلو نبی علیه السلام ددې منظر په لیدلو سره اوفرمائیل چه دې احرام تړونکی ته اوګوره څه کوی یعنی داحرام په حالت کښې غلام وهی اوبیایې وخاندل اوددینه علاوه یې نور څه اونه وئیل

د حدیث الباب نه معلومیږي، چه یو دوه چاپړق لګول په دې کښې داخل نه دي، کما فعل الصدیق رضي الله عنه لیکن اولی داده، چه ددې نه هم احتیاط اوکړي، کما اشار الیه رسول الله (صلی الله علیه و سلم) : انظروا الی هذا المحرم ما یصنع، اوګوره! دې حاجی صاحب ته، چه څه کوی؟

د حدیث مضمون دادې، حضرت اسماء رضي الله عنها فرمائي: د نبی کریم صلی الله علیه وسلم سره په سفر کښې کله چه مونږ روان شو، په لاره کښې یو منزل باندې، چه دهغې نوم عرج وو، مونږ راکوز شو، زه د خپل پلار ابوبکر صدیق رضي الله عنه سره خوا کښې ناسته اوم، او زما خور حضرت عائشه رضي الله عنها د

(۱): سنن ابن ماجه /المناسك ۲۱(۲۹۳۳)،(تحفة الأشراف: ۱۵۷۱۵)(حسن)

حضور ﷺ سره نزدې ناسته وه، د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه غلام چه هغه سره زماله وه[1] هغه تر هغه وخته پورې رارسیدلې نه وو، مونږ دهغه انتظار کولو، ډیر ساعت پس هغه غلام د لرې نه په نظر راغلو، هغه سره هغه زماله نه وه، چه کله هغه نزدې راغلو، نو ابوبکر صدیق رضی الله عنه دهغه نه د زماله باره کښې تپوس اوکړو، هغه جواب ورکړو،

اضللته البارحة چه هغې لره خو ما تیره شوې شپه اورکه کړې ده، صدیق رضی الله عنه ورته اوفرمائیل چه تاسره خو یو اوښ وو، هغه ستا نه اورك شو، او هغه ئې وهل شروع کړل، په دې حضور ﷺ مسکې شو، او وې فرمائیل، اوګوره دې حاجي صاحب ته، چه دې څه کوی، د بنده خیال دادې، چه صدیق اکبر رضی الله عنه چه هغه اوهلو، دا د خپلې وجې نه نه وو، بلکه ددې وجې نه وو، چه په هغې باندې د حضور ﷺ سامان هم بار کړې شوې وو، او هغه اوښ هغه اورك کړې وو، ففعل الصدیق ما کان ینبغي له و ارشده النبي(صلی الله علیه و سلم) الی ما یلیق بشانه الکریم.

بَابُ الرَّجُلِ يُحْرِمُ فِي ثِيَابِهِ

دګنډله شوو جامو نه داحرام جوړولو بیان

د کتاب په شروع کښې د احرام په بیان کښې تیر شوې دی، چه د احرام نیت کولو نه مخکښې سړی لره پکار دی، چه کومې ګنډلې شوې جامې هغه اغوستې دی، اول هغې لره اوباسی، او غیر مخیط (یعنی ناګنډلې شوې) جامې اچولو نه پس د احرام نیت اوکړی، په دې باب کښې دا مسئله مذکور ده، چه که یو سړې خپلو زړو جامو کښې د احرام نیت اوکړی، (چه دهغې تحقیق په تلبیه سره کیږی، نو ددې څه حل دې.

[۱۸۱۹] [2] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا هَمَّامٌ، قَالَ: سَمِعْتُ عَطَاءً، أَخْبَرَنَا صَفْوَانُ بْنُ يَعْلَى بْنِ أُمَيَّةَ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ رَجُلًا أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ بِالْجِعْرَانَةِ وَعَلَيْهِ أَثَرُ خَلُوقٍ، أَوْ قَالَ: صُفْرَةٍ وَعَلَيْهِ جُبَّةٌ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، كَيْفَ تَأْمُرُنِي أَنْ أَصْنَعَ فِي عُمْرَتِي؟ فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْوَحْيَ، فَلَمَّا سُرِّيَ عَنْهُ، قَالَ: "أَيْنَ السَّائِلُ عَنِ الْعُمْرَةِ؟" قَالَ: "اغْسِلْ عَنْكَ أَثَرَ الْخَلُوقِ، أَوْ قَالَ: أَثَرَ الصُّفْرَةِ، وَاخْلَعِ الْجُبَّةَ عَنْكَ وَاصْنَعْ فِي عُمْرَتِكَ مَا صَنَعْتَ فِي حَجَّتِكَ".

دیعلاء بن امیه نه روایت دې فرمائی چه یو کس دنبی علیه السلام په خدمت کښې حاضر شو او په دې وخت کښې نبی علیه السلام په جعرانه مقام کښې موجود وو او ددغه کس په جامو باندې دخوشبو او دزیړ رنګ اثروو او یوه جبه یې اغوستلې وه دغه کس ورنه تپوس اوکړو ای دالله رسوله زه عمره څنګه ادا کړم؟ په دې وخت کښې په نبی علیه السلام باندې وحی نازلیدل شروع شول نبی علیه السلام اوفرمائیل دعمرې په باره کښې تپوس کونکې چرته دې؟ بیایې هغه ته اوفرمائیل چه دخوشبو اثر ووینځه یایې ورته داسې اوفرمائیل چه دزیړ رنګ داغونه اووینځه اوجبه اوباسه او دعمرې اعمال دحج داعمالو په طریقه باندې کوه.

[1] زماله او زامله د سامان اوښې ته وئیلې شی، په کومې باندې چه مسافر خپل سامان بار کړې وی.

[2]): صحیح البخاري/الحج ۱۷(۱۵۳٦) والعمرة ۱۰(۱۷۸۹)، وجزاء الصید ۱۹(۱۸٤۷)، والمغازي ۵٦(٤۳۲۹)، وفضائل القرآن ۲(٤۹۸۵)، صحیح مسلم/الحج ۱(۱۱۸۰)، سنن الترمذي/الحج ۲۰(۸۳٦)، سنن النسائي/الحج ۲۹(۲٦٦۹)، ٤٤(۲۷۱۰)، (تحفة الأشراف: ۱۱۸۳٦)، وقد أخرجه: مسند احمد(٤/۲۲۲، ۲۲٤)(صحیح)

تشريح: قوله: ان رجلا اتى النبي(صلى الله عليه و سلم) و هو بالجعرانة:

شرح حديث:

دا د يعلى بن اميه روايت دې، هغه ته يعلى بن منيه هم وئيلې شى، اميه ئې د پلار نوم دې، او منيه ئې د مور نوم دې، كوم وخت چه نبى كريم ﷺ په جعرانه كښې وو(د كوم ځائې نه چه هغوى عمره كړې وه په ۸هـ كښې) يو سړې د نبى كريم ﷺ په خدمت كښې حاضر شو، په حالت د احرام كښې، چه دهغه اراده د عمرې كولو وه، ليكن حالت د هغه دا وو، چه په بدن ئې د خلوق اثر هم وو(چه د خوشبو مشهور قسم دې) او هغه جبه(چوغه) هم اغوستې وه، په دې دواړو كښې اول څيز مختلف فيه دې، او ثانى يعنى لبس مخيط، دا بالاتفاق په احرام كښې ممنوع دې، هغه د نبى كريم ﷺ نه سوال اوكړو، چه اوس زۀ څه اوكړم، په تاسو باندې دې باره كښې څه وحې نازله شوې ده؟ نبى كريم ﷺ هغه ته اوفرمائيل چه چوغه سمدستى اوباسه، او د خلوق اثر په ښه طريقې سره اوينځه، ددې حديث حواله باب الطيب عند الاحرام د لاندې راغلې ده، او په مسئله د طيب كښې د علماؤ مذاهب هم هلته كښې تير شوې دى، هلته كښې دا هم تير شوې دى، چه د يعلى حديث د امام مالك رحمه الله او امام محمد رحمه الله دليل دې.

حديث د چا خلاف دې:

ددې متعدد جواباب وركړې شوې دى،(۱) دا حديث منسوخ دې، ځكه حديث عائشه رضي الله عنها چه د جواز دپاره دليل دې، او په باب الطيب كښې تير شوې دې، هغه روستو قصه ده، يعنى د حجة الوداع، او حديث يعلى د جعرانه ۸هـ واقعه ده،(۲) دويم جواب دا وركړې شوې دې، چه دلته كښې طيب په جامو باندې وو، و به نقول انه لا يجوز على الثوب و يجوز بالبدن(۳) دريم جواب دا وركړې شوې دې، چه دلته كښې منع د خلوق د وجې نه ده، چه من طيب النساء(د ښځو خوشبوئى) ده، په دې كښې جواب ثانى باندې دا اشكال دې، لو كان الغرض ازالة الطيب عن الثوب لحصل المقصود بخلع الجبة بل الظاهر من لفظ الحديث هو الازالة عن البدن لقوله اغسل عنك الخ، و يؤيد مسلك الشيخين بل الجمهور ما سياتى فى الباب الآتى من حديث عائشة رضي الله عنها فنضمد جباهنا بالسُك المطيب عند الاحرام.

[۱۸۲۰]([1]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عِيسَى، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ أَبِي بِشْرٍ، عَنْ عَطَاءٍ، عَنْ يَعْلَى بْنِ أُمَيَّةَ، وَهُشَيْمٌ، عَنْ الْحَجَّاجِ، عَنْ عَطَاءٍ، عَنْ صَفْوَانَ بْنِ يَعْلَى، عَنْ أَبِيهِ بِهَذِهِ الْقِصَّةِ، قَالَ فِيهِ: فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اخْلَعْ جُبَّتَكَ"، فَخَلَعَهَا مِنْ رَأْسِهِ وَسَاقَ الْحَدِيثَ.

صفوان بن يعلى دخپل پلاره نه پورتنې روايت ددى اضافى سره نقل كړې دې چه: نبى عليه السلام ورته حكم اوكړو چه جبه اوباسه نو هغه اوويستله. او حديث يې تر اخره پورى بيان كړو

تشريح: قوله: اخلع جبتك فخلعها من راسه: چوغې لره به څرنګه اوباسى، عند الجمهور مطلقا. څرنګه چه اوغوارى، و عند النخعى والشعبى بالشق، يعنى هغه به اوشلوى، ددې

[1]): انظر ما قبله، سنن الترمذي/الحج ۲۰(۸۳۵) سنن النسائي/الكبري/ فضائل القرآن(۷۹۸۱)،(من ۱۸۲۰ حتي ۱۸۲۲)،(تحفة الأشراف: ۱۱۸۳۶، ۱۱۸٤٤)، وقد أخرجه: مسند احمد(٤/٢٢٤)(صحيح)(په حديث كښې واقع دا لفظ ؟من رأسه؟ منكر دې)(اوګورى: صحيح ابي داود ٦/٨٤)

دپاره چه چرته تغطیه راس لازم رانشي.

[۱۸۲۱]([1]) حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ خَالِدِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَوْهَبٍ الْهَمْدَانِيُّ الرَّمْلِيُّ، قَالَ: حَدَّثَنِي اللَّيْثُ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ أَبِي رَبَاحٍ، عَنِ ابْنِ يَعْلَى ابْنِ مُنْيَةَ، عَنْ أَبِيهِ بِهَذَا الْخَبَرِ، قَالَ فِيهِ: "فَأَمَرَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَنْزِعَهَا نَزْعًا وَيَغْتَسِلَ مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلَاثًا" وَسَاقَ الْحَدِيثَ.

دیعلی بن امیه یوځوی دځپل پلار نه پورتني روایت ددی اضافی سره نقل کړې دې چه: نبی ﷺ ورته حکم اوکړو چه جبه اوباسه او جامې دوه پیرې یا درې پیرې اووینځه او حدیث یې تر اخره پورې بیان کړو.

[۱۸۲۲]([2]) حَدَّثَنَا عُقْبَةُ بْنُ مُكْرَمٍ، حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ جَرِيرٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، قَالَ: سَمِعْتُ قَيْسَ بْنَ سَعْدٍ يُحَدِّثُ، عَنْ عَطَاءٍ، عَنْ صَفْوَانَ بْنِ يَعْلَى بْنِ أُمَيَّةَ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ رَجُلًا أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْجِعْرَانَةِ، وَقَدْ أَحْرَمَ بِعُمْرَةٍ وَعَلَيْهِ جُبَّةٌ وَهُوَ مُصَفِّرٌ لِحْيَتَهُ وَرَأْسَهُ، وَسَاقَ هَذَا الْحَدِيثَ.

صفوان بن یعلی دځپل پلار نه روایت کوی فرمائی چه یو کس دنبی ﷺ په خدمت کښې په جعرانه مقام کښې حاضر شو اودعمرې دپاره یې احرام تړلې وو او یوه جبه یې اغوستلې وه، او ږیره او سر یې زیږ کړې وو، او حدیث یې تر اخره پورې بیان کړو.

بَابُ مَا يَلْبَسُ الْمُحْرِمُ

باب: دحالت احرام دلباس بیان

[۱۸۲۳]([3]) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، وَأَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَالِمٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: سَأَلَ رَجُلٌ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَا يَتْرُكُ الْمُحْرِمُ مِنَ الثِّيَابِ؟ فَقَالَ: "لَا يَلْبَسُ الْقَمِيصَ وَلَا الْبُرْنُسَ وَلَا السَّرَاوِيلَ وَلَا الْعِمَامَةَ وَلَا ثَوْبًا مَسَّهُ وَرْسٌ وَلَا زَعْفَرَانٌ وَلَا الْخُفَّيْنِ إِلَّا لِمَنْ لَا يَجِدُ النَّعْلَيْنِ، فَمَنْ لَمْ يَجِدِ النَّعْلَيْنِ فَلْيَلْبَسِ الْخُفَّيْنِ وَلْيَقْطَعْهُمَا حَتَّى يَكُونَا أَسْفَلَ مِنَ الْكَعْبَيْنِ".

سالم رحمه الله دځپل پلار ابن عمر رضی الله عنه نه روایت کوی فرمائی چه یو کس دنبی ﷺ نه تپوس اوکړو چه محرم به کوم لباس نه استعمالوی؟ نبی ﷺ اوفرمائیل نه به قمیص اغوندی او نه به توپۍ پسروی اونه به لنګ او عمامه استعمالوی، اونه به هغه جامې اغوندی کوم چه په ورس (ګیا) باندې یا په زعفرانو باندې رنګ شوی وی اونه به موزې اغوندی مګر که دچا سره پیزار نه وی نو موزې اغوندی لیکن دګیټو نه دې ښکته پرېږدی او بره دې پریکړی.

تشریح: قوله: فقال لا یلبس القمیص ولا البرنس الخ، د لبس مخیط ممانعت د سړو دپاره دې، د ښځو دپاره ممانعت نشته

---

[1]): انظر حدیث رقم:(۱۸۱۹)،(تحفة الأشراف: ۱۱۸۳٦)(صحیح)

[2]): انظر حدیث رقم:(۱۸۱۹)،(تحفة الأشراف: ۱۱۸۳٦)(صحیح)

[3]): صحیح البخاري/العلم ۵۳(۱۳٤)، والصلاة ۹(۳٦٦)، والحج ۲۱(۱۵٤۲)، وجزاء الصید ۱۳(۱۸۳۸)، ۱۵(۱۸٤۲)، واللباس ۸(۵۷۹٤)، ۱۳(۵۸۰۳)، ۱۵(۵۸۰٦)، صحیح مسلم/الحج ۱(۱۱۷۷)، سنن النسائي/الحج ۲۸(۲٦٦۸)،(تحفة الأشراف: ٦۸۱۷، ۸۳۲۵)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الحج ۱۸(۸۳۳)، سنن ابن ماجه/المناسك ۱۹(۲۹۲۹)، موطا امام مالك/الحج ۳(۸)، ٤(۹)، مسند احمد(۲/٤، ۸، ۲۲، ۲۹، ۳۲، ۳٤، ٤۱، ۵٤، ۵٦، ۵۹، ٦۳، ٦۵، ۷۷، ۱۱۹)، سنن الدارمي/المناسك ۹(۱۸۳۹)(صحیح)

قوله: ولا ثوبا مسه ورس ولا زعفران، د ثوب مورّس او مزعفر ممانعت په حالت احرام کښې عام دې، د سړو او ښځو دواړو دپاره دې عند الائمة الاربعة.

قوله: فمن لم يجد النعلين فليلبس الخفين: د عدم وجدان نعلين قيد د اکثرو په نزد باندې احترازي دې، وعند الحنفيه و بعض الشافعيه دا قيد اتفاقي دې، لهذا د وجدان نعلين باوجود لبس خفين جائز دې، او د سړي دپاره د لبس خفين جواز د ائمه ثلثه په نزد مقيد دې، په هغې قيد سره کوم چه په حديث کښې دلته ذکر دې، يعنى وليقطعهما اسفل من الكعبين و عند احمد لا حاجة الى القطع لحديث ابن عباس رضی الله عنه الآتي قريبا، حاصل دادې، چه د ابن عمر رضی الله عنه په حديث مرفوع کښې د قطع قيد مذکور دې، هغې لره جمهورو اختيار کړې دې، او د ابن عباس رضی الله عنه په حديث مرفوع کښې د قطع قيد مذکور نه دې، هغې لره امام احمد رحمه الله اختيار کړې دې، يو اختلاف دلته کښې دادې، چه د کعبين نه څه مراد دى، فعندنا الحنفيه معقد الشراك[1] وعند الجمهور مثل الوضوء.

[١٨٢٤](٢) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، بِمَعْنَاهُ.

ترجمه: نافع دابن عمر رضی الله عنه نه او هغه دنبی علیه السلام نه دتير شوى روايت پشان هم معنى روايت بيان کړې دې.

[١٨٢٥](٣) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، بِمَعْنَاهُ، وَزَادَ: "وَلَا تَنْتَقِبُ الْمَرْأَةُ الْحَرَامُ وَلَا تَلْبَسُ الْقُفَّازَيْنِ". قَالَ أَبُو دَاوُد: وَقَدْ رَوَى هَذَا الْحَدِيثَ: حَاتِمُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ وَيَحْيَى بْنُ أَيُّوبَ، عَنْ مُوسَى بْنِ عُقْبَةَ، عَنْ نَافِعٍ عَلَى مَا قَالَ اللَّيْثُ، وَرَوَاهُ مُوسَى بْنُ طَارِقٍ، عَنْ مُوسَى بْنِ عُقْبَةَ مَوْقُوفًا عَلَى ابْنِ عُمَرَ، وَكَذَلِكَ رَوَاهُ عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ وَمَالِكٌ وَأَيُّوبُ مَوْقُوفًا، وَإِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعِيدٍ الْمَدِينِيُّ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، "الْمُحْرِمَةُ لَا تَنْتَقِبُ وَلَا تَلْبَسُ الْقُفَّازَيْنِ". قَالَ أَبُو دَاوُد: إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعِيدٍ الْمَدِينِيُّ شَيْخٌ مِنْ أَهْلِ الْمَدِينَةِ، لَيْسَ لَهُ كَبِيرُ حَدِيثٍ.

عبدالله بن عمر رضی الله عنه دنبى علیه السلام نه دتيرشوى روايت نقل کړې دې مګر دى اضافى سره چه: احرام تړونکې ښځه به په مخ باندې پرده نه اچوى يعنى ښکاره مخ به وى او دستانې به لاسونو ته نه اغوندى، امام ابوداود فرمائى چه حاتم بن اسماعيل او يحيىٰ بن ايوب هم دنافع نه دمذکوره روايت پشان روايت نقل کړې دې لکه څنګه چه دليث او موسى نه په واسطه دموسى بن عقبه دابن عمر رضی الله عنه نه موقوف روايت نقل کړې دې، اوهمدارنګې عبيدالله بن عمرو او مالک او ايوب موقوفا نقل کړې دې، او ابراهيم بن سعيد المدينى په واسطه

---

[1]: د خپې شاته لاندې هغه حصه چرته چه د څپلې تسمه (وندنې) تړلې کيږى.

[2]: صحيح البخاري/ الحج ١٨(١٥٣٩)، صحيح مسلم/الحج ١(١١٧٧)، سنن النسائي/ الحج ٣٠(٢٦٧٠)، سنن ابن ماجه/ المناسك ١٩(٢٩٢٩)،(٢٩٣٢)،(تحفة الأشراف: ٨٣٢٥)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الحج ٣(٨)، مسند احمد(٦٣/٢)، دي/المناسك ٩(١٨٣٩)(صحيح)

[3]: صحيح البخاري/ الصيد ١٣(١٨٣٨)، سنن النسائي/الحج ٣٣(٢٦٧٤)، سنن الترمذي/الحج ١٨(٨٣٣)،(تحفة الأشراف: ٨٢٧٥)، وقد أخرجه: مسند أحمد(١١٩/٢)(صحيح)

دنافع سره دابن عمر نه مرفوع روایت نقل کړې دې او الفاظ یې داسې دی(الْمُحْرِمَةُ لَا تَنْتَقِبُ وَلَا تَلْبَسُ الْقُفَّازَيْنِ) امام ابوداود فرمائی چه داهل مدینه په مشائخو کښې ډیرو په روایت کښې دا الفاظ نه دی مروی.

قوله: و تنتقب المرءة الحرام: په حالت احرام کښې په ښځه په خپل مخ باندې نقاب نه اچوی، مخکښې یو مستقل باب راروان دې، باب فی المحرمة تغطی و جهها، په هغې باندې به کلام هلته کښې راشی،

قوله: ولا تلبس القفازین، ښځه به دستانې نه اچوی، د ائمه ثلثه مسلك هم دادې، د احنافو په نزد جائز دی، دهغوی په نزد دا نهی تنزیهاده، چه خلاف اولی دی، او د احرام د شان نه خلاف دی، او ددې حدیث په رفع او وقف کښې هم د راویانو اختلاف دې، کما ذکره المصنف، دویمه خبره داده، چه په لبس قفازین کښې تغطیه د کفین ده، او تغطیه د کفینو د ښځې دپاره د قمیص په لستونړی وغیره سره جائز ده، او د حضرت سعد رضی الله عنه نه ثابت دی، چه هغه به خپلو لونړو ته قفازین اچول،(کذا فی هامش الشیخ)

[۱۸۲۶](۱) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعِيدٍ الْمَدِينِيُّ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "الْمُحْرِمَةُ لَا تَنْتَقِبُ وَلَا تَلْبَسُ الْقُفَّازَيْنِ".

نافع دابن عمر رضی الله عنه نه دتیر شوی روایت پشان روایت کړې دې لیکن ددومره اضافې سره چه احرام والا زنانه به په مخ باندې پرده نه اچوی یعنی ښکاره مخ به وی اودستانې به نه اغوندی.

[۱۸۲۷](۲) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ، حَدَّثَنَا أَبِي، عَنِ ابْنِ إِسْحَاقَ، قَالَ: فَإِنَّ نَافِعًا مَوْلَى عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ حَدَّثَنِي، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "نَهَى النِّسَاءَ فِي إِحْرَامِهِنَّ عَنِ الْقُفَّازَيْنِ وَالنِّقَابِ وَمَا مَسَّ الْوَرْسُ وَالزَّعْفَرَانُ مِنَ الثِّيَابِ وَلْتَلْبَسْ بَعْدَ ذَلِكَ مَا أَحَبَّتْ مِنْ أَلْوَانِ الثِّيَابِ مُعَصْفَرًا أَوْ خَزًّا أَوْ حُلِيًّا أَوْ سَرَاوِيلَ أَوْ قَمِيصًا أَوْ خُفًّا". قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَى هَذَا الْحَدِيثَ عَنِ ابْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ نَافِعٍ عَبْدَةُ بْنُ سُلَيْمَانَ وَمُحَمَّدُ بْنُ سَلَمَةَ، إِلَى قَوْلِهِ: "وَمَا مَسَّ الْوَرْسُ وَالزَّعْفَرَانُ مِنَ الثِّيَابِ" وَلَمْ يَذْكُرَا مَا بَعْدَهُ.

نافع(دابن عمر ازاد کړې شوې غلام) دابن عمر رضی الله عنه نه روایت کوی فرمائیلی چه دنبی علیه السلام نه می اوریدلی دی چه ښځې داحرام په حالت کښې ددستانو اغوستلو اوپه مخ باندې دپردې اچولو نه منع کړې وی او دهغه کپړې داستعمال نه چه په ورس(یو قسم گیا) یا په زعفران رنګ شوی وی اوداحرام نه پس به هررنګه جامې اغوندی ځنګه چه ددوی زړه غواړی برابره خبره ده چه په زعفران رنګ شوی وی اوکه ریشمې وی اوکه زیور وی لنګ وی اوکه پرتوګ وی اوکه موزې وی اوکه قمیص وی(هیڅ باک یې نشته) امام ابوداود فرمائی ددې حدیث روایت کړې دې محمد بن اسحق او هغه دمحمد بن مسلمه نه او هغه دعبده نه دومره قدرې

---

(۱): تفرد به أبو داود،(تحفة الأشراف: ۷۴۷۰)، وقد أخرجه: مسند احمد(۴۱/۲)(صحیح)

(۲): صحیح البخاري/جزاء الصید ۱۳(۱۸۳۸تعلیقاً)،(تحفة الأشراف: ۸۴۰۵)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الحج ۱۸(۸۳۳)، مسند احمد(۲۲/۲، ۳۲، ۱۱۹)(حسن صحیح)

جمله نقل کړی ده چه داحرام پرانیستلو نه پس دی په زافرانو یا ورس باندی رنګ شوی کپړه استعمالولې شی، البته راوی په دی پسی ددینه ورستنی جمله نه ده نقل کړی.

ولتلبس بعد ذلك ما احبت من الوان الثیاب معصفرا او خزا.

معصفر: په عصفر کښې رنګ کړې شوې جامه، او خز: ریښمینه جامه.

په لبس معصفر کښې اختلاف ائمه:

ښځه په حالت احرام کښې ثوب معصفر اغوستلې شی او که نه؟ دا مسئله مختلف فیه ده، د امام شافعی رحمه الله او امام احمد رحمه الله په نزد جائز ده، د حنفیه په نزد جائز نه ده، و عن مالك الفرق بین المقدم و غیر المقدم یعنی که تیز او شوخ رنګ دې، نو بیا خو جائز نه ده، او که سپك او پیکه رنګ دې، نو جائز ده، دا حدیث د احنافو خلاف دې، ددې متعدد جوابات ورکړې شوې دي.(۱) ولتلبس بعد ذلك الخ، دا جمله مدرج ده، ذکرها بعض الرواة دون بعض کما ذکر المصنف(۲) د حضرت عمر رضی الله عنه نه منع ثابته ده(۳) مورّس د معصفر نه من حیث الطیب خفیف دې، پس هرکله چه مورس بالاتفاق ممنوع دې، نو معصفر به په طریقه اولی سره منع وی، قاله الشیخ ابن الهمام رحمه الله، او په هدایه کښې ئې لیکلې دی، چه د اختلاف منشاء دا ده، چه عصفر زمونږ په نزد طیب دې، او د امام شافعی رحمه الله په نزد صرف د لون د قبیلې نه دې، طیب نه دې، (بذل)

[۱۸۲۸](۱) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّهُ وَجَدَ الْقُرَّ، فَقَالَ: "أَلْقِ عَلَيَّ ثَوْبًا يَا نَافِعُ، فَأَلْقَيْتُ عَلَيْهِ بُرْنُسًا، فَقَالَ: تُلْقِي عَلَيَّ هَذَا وَقَدْ نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَلْبَسَهُ الْمُحْرِمُ".

دعبدالله بن عمر رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه یوه ورځ دهغه یخنی کیدله نو هغه اووئیل ای نافع څه کپړه راکړه نو نافع ورته دبرنس په نوم باندی یوه کپړه ورکړه عبدالله بن عمر رضی الله عنه چه داولیدله نووې وئیل ته راته برنس راکوی او حالانکه نبی علیه السلام دمحرم دپاره ددی داغوستلو نه منع فرمائیلې ده.

تشریح: قوله: عن نافع عن ابن عمر رضی الله عنه انه وجد القر فقال الق علی ثوبا: حضرت ابن عمر رضی الله عنه ته یو ځل په حالت احرام کښې یخنی محسوس شوه، نو هغوی خپل خادم نافع ته اوفرمائیل چه په ماباندې څه کپړه واچوه، هغه د ابن عمر رضی الله عنه په بدن باندې برنس واچولو (یعنی څادر پشان ئې ورته باقاعده واغوستولو) په دې باندې هغوی اوفرمائیل: ای! ګنډلې شوې جامه راته اچوې، دا خو په احرام کښې منع ده، دا د حضرت ابن عمر رضی الله عنه احتیاط او تورع ده، ګنی اصل ممانعت په لبس مخیط کښې په هغه صورت کښې دې، چه هغې لره داسې استعمال کړې شی، څرنګه چه دهغې د استعمال طریقه ده، یعنی کومه جامه چه د بدن د ساخت او جوړخت په اعتبار سره ګنډلې شوې وی، هغې لره هغسې واچولې شی، لهذا که محرم مثلا قمیص د اغوستلو په ځائې د څادر پشان واغوندی، نو جائز دی.

(۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۷۵۸۵)، وقد أخرجه: مسند احمد(۲/۱۴۱، ۱۴۸)(صحیح)

[۱۸۲۹](١) حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ زَيْدٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "السَّرَاوِيلُ لِمَنْ لَا يَجِدُ الْإِزَارَ، وَالْخُفُّ لِمَنْ لَا يَجِدُ النَّعْلَيْنِ". قَالَ أَبُو دَاوُدَ: هَذَا حَدِيثُ أَهْلِ مَكَّةَ وَمَرْجِعُهُ إِلَى الْبَصْرَةِ إِلَى جَابِرِ بْنِ زَيْدٍ وَالَّذِي تَفَرَّدَ بِهِ مِنْهُ ذِكْرُ السَّرَاوِيلِ، وَلَمْ يَذْكُرِ الْقَطْعَ فِي الْخُفِّ.

دابن عباس رضی الله عنه نه روایت دي فرمائی چه دنبی علیه السلام نه می اوریدلی وو چه فرمائیل یې پرتوګ اغوښتل دهغه چا دپاره پکاردی چه لنګ ورته نه ملاویږی او موزی اغوستل هغه چا لره پکاردی چه پیزار ورته نه ملاویږی.

[۱۸۳۰](٢) حَدَّثَنَا الْحُسَيْنُ بْنُ الْجُنَيْدِ الدَّامِغَانِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ، قَالَ: أَخْبَرَنِي عُمَرُ بْنُ سُوَيْدٍ الثَّقَفِيُّ، قَالَ: حَدَّثَتْنِي عَائِشَةُ بِنْتُ طَلْحَةَ، أَنَّ عَائِشَةَ أُمَّ الْمُؤْمِنِينَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا حَدَّثَتْهَا، قَالَتْ: "كُنَّا نَخْرُجُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى مَكَّةَ فَنُضَمِّدُ جِبَاهَنَا بِالسُّكِّ الْمُطَيَّبِ عِنْدَ الْإِحْرَامِ فَإِذَا عَرِقَتْ إِحْدَانَا سَالَ عَلَى وَجْهِهَا، فَيَرَاهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَا يَنْهَاهَا".

دعائشه بنت طلحه رضی الله عنها نه روایت دي فرمائی چه ام المومنین عائشه رضی الله عنها راته وئیلی دی چه مونږ دنبی علیه السلام سره مکی ته دتلو په اراده باندی روان شو کله چه مونږه احرامونه تړل شروع کړل نو پخپو تندو باندی مو خوشبو راښکله کله چه به په مونږ کښې یوه تنه خوله شوه نو خوشبو به یې په مخ را اوبهیدله او حالانکه نبی علیه السلام به دی ته کتل اوددینه به یې منع نه فرمائیله

شرح حدیث:

تشریح: قوله: كنا نخرج مع النبى(صلى الله عليه و سلم) الى مكة فنضمد جباهنا بالسك المطيب الخ: حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائي، چه مونږ به د حضور ﷺ سره د مکې مکرمې سفر کولو (نو د احرام نیت کولو نه مخکښې) به مو په خپل تندی باندې خوشبو پورې کوله، بیا چه به کله مونږ باندې خوله راغله، نو هغه خوشبو به خولې سره په مخ باندې خوره شوه، د نبی کریم ﷺ به هم په هغې باندې نظر پریوتۀ، لیکن هغوی به ددې نه منع نه فرمائیله.

ددې حدیث حواله دلته کښې نزدې تیره شوې ده، او دا چه دا حدیث د امام محمد او امام مالك رحمه الله خلاف دې.

[۱۸۳۱](٣) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عَدِيٍّ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، قَالَ: ذَكَرْتُ لِابْنِ شِهَابٍ، فَقَالَ: حَدَّثَنِي سَالِمُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ يَعْنِي ابْنَ عُمَرَ كَانَ يَصْنَعُ ذَلِكَ، يَعْنِي يَقْطَعُ الْخُفَّيْنِ لِلْمَرْأَةِ الْمُحْرِمَةِ، ثُمَّ حَدَّثَتْهُ صَفِيَّةُ بِنْتُ أَبِي عُبَيْدٍ، أَنَّ عَائِشَةَ حَدَّثَتْهَا، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ كَانَ "رَخَّصَ لِلنِّسَاءِ فِي الْخُفَّيْنِ"، فَتَرَكَ ذَلِكَ.

---

[1]): صحيح البخاري/جزاء الصيد ١٥(١٨٤١)، ١٦(١٨٤٣)، واللباس ١٤(٥٨٠٤)، ٣٧(٣٨٥٣)، صحيح مسلم/الحج ١(١١٧٨)، سنن الترمذي/الحج ١٩(٨٣٤)، سنن النسائي/الحج ٣٢(٢٦٧٢، ٢٦٧٣)، ٣٧(٢٦٨٠)، والزينة ١٠٠(٥٣٢٧)، سنن ابن ماجه/المناسك ٢٠(٢٩٣١)، (تحفة الأشراف: ٥٣٧٥)، وقد أخرجه: مسند احمد(١/٢١٥، ٢٢١، ٢٢٨، ٢٧٩، ٣٣٧)، سنن الدارمي/المناسك ٩(١٨٤٠)(صحيح)

[2]): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٧٨٧٨)، وقد أخرجه: مسند احمد(٦/٧٩)(صحيح)

[3]): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٧٨٦٧)، وقد أخرجه: مسند احمد(٢/٢٩، ٣٥، ٦/٣٥)(حسن)

دمحمد بن اسحق نه روایت دي فرمائی چه ماددی روایت په باره کښي داابن شهاب نه تپوس اوکړو نو هغه راته اووئیل چه سالم بن عبدالله ماته حدیث بیان کړې دې دابن عمر رضي الله عنه نه چه هغه به داسی کول، یعنی احرام والا ښځی موزی به يې پريکولې، ابی اسحق وائی چه بیا صفیه بنت ابی عبید ابن شهاب ته حدیث بیان کړو کوم چه هغی دام المومنین عائشی رضي الله عنها نه اوریدلي دي چه فرمائیل یې یقینا نبی علیه السلام ښځوته دموزو اغوستلو اجازت ورکړې وو اوبیايې موزی پریکول پریخودل.

باب الْمُحْرِمِ يَحْمِلُ السِّلاَحَ

باب: دمحرم دپاره داسلحی ترلوبیان

[۱۸۳۲] (¹) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، قَالَ: سَمِعْتُ الْبَرَاءَ، يَقُولُ: "لَمَّا صَالَحَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَهْلَ الْحُدَيْبِيَةِ، صَالَحَهُمْ عَلَى أَنْ لاَ يَدْخُلُوهَا إِلاَّ بِجُلُبَّانِ السِّلاَحِ"، فَسَأَلْتُهُ: مَا جُلُبَّانُ السِّلاَحِ؟، قَالَ: "الْقِرَابُ بِمَا فِيهِ".

دابو اسحاق نه روایت دي فرمائی چه دبراء بن عازب رضي الله عنه نه می اوریدلی دی چه فرمائیل ئی هرکله چه نبی علیه السلام په حدیبیه کښی صلح وکړله په هغی کښی شرط دا وو چه مسلمانان به کعبی ته پداسی حال کښی داخلیږی چه اسلحی به ئی په غلافونو کښی پټی کړی شوی وی (یعنی دبرینډو تورو سره به حرم ته نه داخلیږی).

کوم سړي چه د حج یا عمري په نیت سره مکي مکرمي ته روان وی (ظاهره خبره ده چه هغه به محرم وی) آیا هغه خپل ځان سره وسله اوړلي شي؟ دا خبره خو ظاهره ده، چه په مکه مکرمه کښ قتال خو قطعاً جائز نه دي، نو بیا آیا وسله هم هلته کښ اوړلي شی او که نه؟ عند الجمهور جائز دي، د حسن بصری رحمه الله په نزد مکروه دی، دهغوی دلیل په مسلم شریف کښ حدیث جابر رضي الله عنه مرفوعا دي، لا يحل لاحدكم ان يحمل بمكة سلاحا، دغه شان په ابوداؤد کښ دکتاب الحج په اخر کښ باب تحريم المدينه کښ راروان دی، ولا يصلح لرجل ان يحمل فيها السلاح لقتال (لیکن ددي حدیث تعلق حرم مدینه سره دي) او د جمهور دلیل حدیث الباب دی، په دي کښ دا دی، چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم حدیبیه کښ د مکي کافرانو سره مصالحت اوکړو، نو هغه وخت کښ دا خبر شوي وه، چه آئنده کال چه کله مسلمانان د عمري کولو دپاره دلته کښ راشي، نو وسلي او برینډو تورو سره به مکه کښ داخلیږی نه، بلکه تورو له به په غلافونو کښي او یا په تهیلو کښ پټ راوړی، ددي نه معلومه شوه، چه مکي ته وسله اوړل جائز دی، (²) د حدیث مسلم جواب دا کیدې شی، چه مراد دادي، چه د قتال په نیت سره اوړل ناجائز دی.

---

¹): صحيح البخاري/جزاء الصيد ۱۷(۱۸٤٤)، والصلح ٦(۲٦۹۸)، والجزية ۱۹(۳۱۸٤)، والمغازي ٤۳(٤۲٥۱)، صحيح مسلم/الجهاد ۳٤(۱۷۸۳)، (تحفة الأشراف: ۱۸۷۱)، وقد أخرجه: مسند احمد(۲۹/۲، ۲۸۹/٤، ۲۹۱)، سنن الدارمي/السير ٦٤(۲٥٤۹)(صحيح)

²) لیکن په دي استدلال کښي ماته دا اشکال دي چه دا مصالحت دهغه وخت دي ترڅو چه مکه مکرمه نه وه فتح شوي، دارالحرب وو، او ممکن ده چه په حدیث دمسلم کښي منع مذکورده دا دفتح مکي نه پس وی فليتأمل.

بَابٌ فِي الْمُحْرِمَةِ تُغَطِّي وَجْهَهَا

کچرې ښځې په حالت احرام کښې پټ مخ وي نو څه حکم دی؟

یو حدیث کښې دی، احرام الرجل فی راسه و احرام المرأة فی وجهها، ددې تقاضا داده، چه د سړی دپاره تغطیة الراس ناجائز دې،([1]) او د ښځې دپاره تغطیة الراس خو جائز دی، لیکن تغطیة الوجه جائز نه دې، پس د جمهور علماء یعنی ائمه ثلثه مذهب هم دادې، چه ښځه د نقاب په ذریعې سره خپل مخ نشی پټولې، البته عند حضور الاجانب، سدل ثوب متجافیا عن الوجه کولې شی، او د امام احمد رحمه الله په نزد د تجافی قید نشته، لاصقا بالوجه هم په مخ باندې نقاب اچولې شی

[۱۸۳۳]([2]) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، أَخْبَرَنَا يَزِيدُ بْنُ أَبِي زِيَادٍ، عَنْ مُجَاهِدٍ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "كَانَ الرُّكْبَانُ يَمُرُّونَ بِنَا وَنَحْنُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُحْرِمَاتٌ، فَإِذَا حَاذَوْا بِنَا سَدَلَتْ إِحْدَانَا جِلْبَابَهَا مِنْ رَأْسِهَا عَلَى وَجْهِهَا، فَإِذَا جَاوَزُونَا كَشَفْنَاهُ".

دام المومنین عائشه رضی الله عنها نه روایت دې فرمائی چه په سورلو سواره کسان به زمونږ په خوا کښې تیریدل او مونږ به داحرام په حالت کښې دنبی علیه السلام په خوا کښې موجود وو، کله چه به پدې اس سوارانو کښې یوتن زمونږ سره نزدې تیریدو نو مونږ به خپل نقاب په مخ راخورکړو، کله چه به زمونږ نه تیرشول نو مونږ به بیرته خپل مخونه ښکاره کړل

عن عائشة قالت كان الركبان يمرون بنا ونحن محرمات الخ:

شرح حدیث:

حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائي، چه کله به مونږ د حضور صلی الله علیه وسلم سره په سفر کښې په حالت احرام کښې وو، نو د مسافرو قافلې به هم تیریدلې، چه کله به هغه مسافر مونږ ته رانزدې شو، نو مونږ به د خپل سر څادرونه لاندې مخ ته راؤخویول، او په مخ باندې به مو واچول، بیا به چه کله هغه قافلې تیرې شوې، نو مونږ په خپل مخونه ښکاره کړل، دا حدیث په ظاهر کښې د مذهب دامام احمد رحمه الله سره موافق دې، ځکه په دې کښې سدل مطلقا ذکر دې، او د تجافی عن الوجه قید په کښې نشته، ددې جواب به دا وی، چه ددې نه مخکښې حدیث کښې تیر شو ولا تنتقب المرأة الحرام، چه په هغې کښې مطلقا د ښځې دپاره په مخ باندې د نقاب اچولو ممانعت دې، لهذا د جمع بین الروایتین صورت دادې، چه د نقاب یو شکل لره جائز کړې شی، او یو لره ناجائز(بذل) یعنی متجافیا عن الوجه لره جائز، او متلاصقا بالوجه لره ناجائز، نن صبا داسې نقابونه چه د مخ نه جدا وی، ښځې خپله جوړوی.

---

[1]) اوس سوال دا پاتې کیږی چه دسړی دپاره تغطیة الوجه، جائز ده که نه؟ عند الشافعی او احمد جائز دې او عندنا او مالک جائز نه دې.

[2]): سنن ابن ماجه/المناسك ۲۳(۲۹۳۵)، (تحفة الأشراف: ۱۷۵۷۷)، وقد أخرجه: مسند احمد(۶/۳۰)(حسن)

باب في المحرم يظلل

محرم لره په حالت احرام کښې په خپل سر باندې د سورې کولو بیان

تظلیل محرم، یعنې د محرم په خپل ځان باندې د څه څیز سورې کول، د نمر وغیره نه د بچ کیدو دپاره، په تظلیل کښ چونکه فی الجمله تغطیه راس راځی، ددې وجې نه ددې د بیان ضرورت پیښ شو.

د تظلیل صورتونه مع مذاهب ائمه:

په دې خبره پوهیدل پکار دی، چه د تظلیل درې قسمونه دی،(۱) بالثوب المتصل مثلا څه رومال وغیره په سر باندې اچول(۲) تظلیل بالسقف و نحوه یعنې د چت لاندې یا خیمه کښ دننه کیناستل، او سورې حاصلول(۳) تظلیل بالثوب المنفصل کالشمسیة والرحل والهودج یعنې چهترئ یا پالان یا کیجاوه وغیره سره سورې حاصلول، په دې قسمونو کښ قسم اول بالاتفاق ممنوع دې، او قسم ثالث بالاتفاق جائز دې، او درمیانه قسم مختلف فیه دې، یجوز عندنا والشافعي و لا یجوز عند مالك واحمد.

[۱۸۳٤](1) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي عَبْدِ الرَّحِيمِ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَبِي أُنَيْسَةَ، عَنْ يَحْيَى بْنِ حُصَيْنٍ، عَنْ أُمِّ الْحُصَيْنِ حَدَّثَتْهُ، قَالَتْ: "حَجَجْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَجَّةَ الْوَدَاعِ، فَرَأَيْتُ أُسَامَةَ وَبِلَالًا وَأَحَدُهُمَا آخِذٌ بِخِطَامِ نَاقَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالْآخَرُ رَافِعٌ ثَوْبَهُ لِيَسْتُرَهُ مِنَ الْحَرِّ حَتَّى رَمَى جَمْرَةَ الْعَقَبَةِ".

دام الحصین رضی الله عنها نه روایت دې فرمائی چه مونږ دحجة الوداع په کال دنبی علیه السلام سره په حج کښې شریک وو نو اسامه بن زید او بلال رضی الله عنه اولیدل چه په دوی کښې یو کس دنبی علیه السلام دسورلئ واږې نیولې وی اوپه دوی کښې دویم کس دنبی علیه السلام په سر باندې دیوی کپړې سورې کړې وو تردې چه رسول پاک صلی الله علیه وسلم دجمره عقبې دویشتلو نه فارغ شو.

فرایت اسامة و بلالا واحدهما آخذ بخطام ناقة رسول الله(صلی الله علیه و سلم):

حضرت اسامه او بلال رضی الله عنهما په سفر حج کښ د حضور صلی الله علیه وسلم سورلئ سره وو، په هغوی کښ یو(بلال رضی الله عنه) د حضور صلی الله علیه وسلم د سورلئ مهار نیولې وو، او دویم(اسامه رضی الله عنه) د حضور صلی الله علیه وسلم د سر مبارك دپاسه په کپړې سره سورې کړې وو، تر دې پورې چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم د جمرهٔ عقبه د رمې نه فارغه شو،(صلی الله علیه و سلم شرف و کرم.

دا حدیث په مسئلة الباب کښ د احناف او شافعیه دپاره دلیل دې، او د مالکیه او حنابله استدلال د بیهقی یو روایت سره دې، چه دهغه مضمون دادې، چه یو ځل حضرت ابن عمر رضی الله عنه یو محرم اولیدلو، چه په اوښ باندې سور وو، او هغه په خپل ځان باندې سورې کړې وو، دهغه لیدلو سره حضرت ابن عمر رضی الله عنه اوفرمائیل: اضح لمن احرمت له، د کوم ذات دپاره چه تا احرام تړلې دې، یعنې الله تعالی، دهغه دپاره په نمر کښ شه، یعنې سورې کوه

(1): صحیح مسلم/الحج ۵۱(۱۲۹۸)، سنن النسائي/الحج ۲۲۰(۳۰۶۲)،(تحفة الأشراف: ۱۸۳۱۰)، وقد أخرجه: مسند احمد(۴۰۲/۶)(صحیح)

مهٔ، ددې جواب دادې، چه دا حديث موقوف دې، او کيدې شي، چه هغوی د افضليت په اعتبار سره فرمائيلي وی، (بذل)

باب الْمُحْرِمِ يَحْتَجِمُ

دمحرم دپاره دښکر لګولو بیان

[١٨٣٥](1) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ، عَنْ عَطَاءٍ، وَطَاوُسٍ، عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "احْتَجَمَ وَهُوَ مُحْرِمٌ".

دابن عباس رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه نبی علیه السلام ښکر اولګولو او حال دادې چه هغه په حالت داحرام کښې وو.

[١٨٣٦](2) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، أَخْبَرَنَا هِشَامٌ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "احْتَجَمَ وَهُوَ مُحْرِمٌ فِي رَأْسِهِ مِنْ دَاءٍ كَانَ بِهِ".

ترجمه : دابن عباس رضی الله عنه نه روايت ديت دې فرمائی چه نبی علیه السلام ښکر اولګولو په سر کښې دهغی بيمارئ په وجه کومه چه په هغه باندی وه، او حال دادې چه هغه په حالت داحرام کښې وو.

په حالت احرام کښ ښکر لګول د ائمه ثلثه په نزد جائز دې، ليکن دهغې دپاره ويښتهٔ پريکول جائز نه دی، (3) ګنی فديه ورکول به لازم وی، او د امام مالک رحمه الله په نزد جائز نه دې، البته که ضرورت پيښ شی، نو د عذر په بناء جائز دې، احتجم وهو محرم فی راسه: دا د نبی کريم صلی الله علیه وسلم د حج قصه ده، او مخکښ چه کوم راروان دی علی ظهر القدم، چه نبی کريم صلی الله علیه وسلم ښکر د پښې په شا باندې اولګوؤ، هغه د بل سفر واقعه ده.

[١٨٣٧](4) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "احْتَجَمَ وَهُوَ مُحْرِمٌ عَلَى ظَهْرِ الْقَدَمِ مِنْ وَجَعٍ كَانَ بِهِ". قَالَ أَبُو دَاوُد: سَمِعْتُ أَحْمَدَ، قَالَ: ابْنُ أَبِي عَرُوبَةَ أَرْسَلَهُ، يَعْنِي عَنْ قَتَادَةَ.

دانس بن مالک رضی الله عنه نه روايت ديت دې فرمائی چه نبی علیه السلام ښکر اولګولو په شاه دخپلی خپی باندی دهغی بيمارئ په وجه کومه چه په هغه باندی وه، او حال دادې چه هغه په حالت داحرام کښی وو، امام ابوداود فرمائی چه داحمد نه نه می اوريدلی دی چه دابن ابی عروبه نه ئی نقل کول چه دا روايت قتاده مرسل بيان کړی دی.

---

[1]: صحيح البخاري/جزاء الصيد ١١(١٨٣٥)، الصوم ٣٢(١٩٣٨)، الطب ١٢(٥٦٩٥)، ١٥(٥٧٠٠)، صحيح مسلم/الحج ١١(١٢٠٢)، سنن الترمذي/الحج ٢٢(٨٣٩)، الصوم ٦١(٧٧٥)، سنن النسائي/الحج ٩٢(٢٨٤٩)، (تحفة الأشراف: ٥٧٣٧)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/المناسك ٨٧(٣٠٨١)، مسند احمد(١/٢١٥، ٢٢١، ٢٢٢، ٢٣٦، ٢٤٨، ٢٤٩، ٢٦٠، ٢٨٤، ٢٨٦، ٢٩٢، ٣٠٦، ٣١٥، ٣٣٣، ٣٤٦، ٣٥١، ٣٧٢، ٣٧٤)، سنن الدارمي/المناسك ٢٠(١٨٦٠)(صحيح)

[2]: صحيح البخاري/الطب ١٥(٥٧٠٠)، سنن النسائي/ الكبرى/ الطب(٧٥٩٩)، (تحفة الأشراف: ٦٢٢٦)، وقد أخرجه: مسند احمد(١/٢٣٦، ٢٤٩، ٢٥٩، ٢٧٢)(صحيح)

[3]: کوم ځای چه ښکر لګولی شی اول هلته تيره څيز (چاره وغيره) لګوی اوکه ويښته وی نوهغه صفا کوی.

[4]: سنن الترمذي/الشمائل ٤٩(٣٤٨)، سنن النسائي/الحج ٩٤(٢٨٥٢)، (تحفة الأشراف: ١٣٣٥)، وقد أخرجه: مسند احمد(٣/١٦٤، ٢٦٧)(صحيح)

بَابٌ يَكْتَحِلُ الْمُحْرِمُ

د محرم دپاره په رنجو باندې دسترګو تورولو بيان

د محرم دپاره اكتحال جائز دي، په شرط ددې چه هغه كحل غير مطيب وي (يعنى خوشبودار نه وي) اګر چه هغه اكتحال بغير د ضرورت نه وي، ليكن بغير د ضرورت نه رانجهٔ لګول خلاف اولى دى، د محرم د شان نه خلاف دى، او كه مطيب وي، نو درې څله لګولو سره په محرم باندې دم واجب كيږي، او صرف يو ځل يا دوه ځله لګولو سره صدقه واجبه كيږي.(بذل)

[۱۸۳۸] (¹) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ أَيُّوبَ بْنِ مُوسَى، عَنْ نُبَيْهِ بْنِ وَهْبٍ، قَالَ: "اشْتَكَى عُمَرُ بْنُ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ مَعْمَرٍ عَيْنَيْهِ، فَأَرْسَلَ إِلَى أَبَانَ بْنِ عُثْمَانَ، قَالَ سُفْيَانُ: وَهُوَ أَمِيرُ الْمَوْسِمِ مَا يَصْنَعُ بِهِمَا؟ قَالَ: اضْمِدْهُمَا بِالصَّبِرِ، فَإِنِّي سَمِعْتُ عُثْمَانَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يُحَدِّثُ ذَلِكَ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

دنبيه بن وهب نه روايت دې فرمائي چه دعمر بن عبيدالله بن معمر سترګې خوږ شوى نو هغه ابان بن عثمان ته څوك وليږلو او ابان پدغه كال دحج امير وو ددى تپوس كولو دپاره چه زه دسترګو دخوږيدو په تكليف باندى مبتلى شوى يم زما دپاره څه كول پكاردي، اوددى بيمارئ څنګه علاج وكړم؟ ابان بن عثمان ورته ووئيل چه ته صبر(ترخه اوتروشه ميوه) استعمال كړه ځكه چه ما دعثمان رضي الله عنه نه اوريدلي وو چه نبى عليه السلام به داسې كول.

د حديث مضمون دادې، چه ابان بن عثمان، چه امير المواسم وو، يعنى امير الحاج، د مواسم نه مراد موسم حج دي، دهغه نه ددې مسئلې باره كښې تپوس اوكړې شو، چه د فلانې سړي په سترګو كښې تكليف دې، څه كول پكار دى؟ هغوى ورته اوفرمائيل، صبر(ايلوا) لره په اوبو كښې واچوه، او په سترګو باندې ئې اولګوه، مصنف ددې نه د جواز اكتحال مسئله مستنبط فرمائيلې ده، چه قرين قياس ده.

[۱۸۳۹] (²) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ ابْنِ عُلَيَّةَ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنْ نُبَيْهِ بْنِ وَهْبٍ بِهَذَا الْحَدِيثِ.

نافع دنبيه بن وهب نه دتير شوى روايت پشان روايت بيان كړې دې.

بَابُ الْمُحْرِمِ يَغْتَسِلُ

داحرام په حالت كښې دغسل كولو بيان

په حالت احرام كښې سرې د تنظيف(صفايئ) دپاره غسل كولې شى او كه نه؟ عند الجمهور والائمة الثلثة لا باس به، په دې كښې د امام مالك رحمه الله اختلاف دې، دهغوى په نزد مكروه دى، په حديث الباب كښې د غسل راس ذكر دې، هركله چه غسل راس جائز دې، نو باقى بدن په طريقه اولى سره جائز شو. ځكه چه خطره خو په اصل كښې غسل راس كښې ده، چه په دې كښې د ويښتو ماتيدلو احتمال دې.

¹: صحيح مسلم/الحج ۱۲(۱۲۰٤)، سنن الترمذي/الحج ۱۰٦(۹۵۲)، سنن النسائي/الحج ٤۵(۲۷۱۲)،(تحفة الأشراف: ۹۷۷۷)، وقد أخرجه: مسند احمد(۱/۵۹، ۶۵، ۶۸، ۶۹)، سنن الدارمي/المناسك ۸۳(۱۹۷۱)(صحيح)

²: انظر ما قبله،(تحفة الأشراف: ۹۷۷۷)(صحيح)

[۱۸۴۰] (۱) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ حُنَيْنٍ، عَنْ أَبِيهِ، "أَنَّ عَبْدَ اللهِ بْنَ عَبَّاسٍ وَالْمِسْوَرَ بْنَ مَخْرَمَةَ اخْتَلَفَا بِالْأَبْوَاءِ، فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: يَغْسِلُ الْمُحْرِمُ رَأْسَهُ، وَقَالَ الْمِسْوَرُ: لَا يَغْسِلُ الْمُحْرِمُ رَأْسَهُ، فَأَرْسَلَهُ عَبْدُ اللهِ بْنُ عَبَّاسٍ إِلَى أَبِي أَيُّوبَ الْأَنْصَارِيِّ فَوَجَدَهُ يَغْتَسِلُ بَيْنَ الْقَرْنَيْنِ وَهُوَ يُسْتَرُ بِثَوْبٍ، قَالَ: فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ، فَقَالَ: مَنْ هَذَا؟ قُلْتُ: أَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ حُنَيْنٍ، أَرْسَلَنِي إِلَيْكَ عَبْدُ اللهِ بْنُ عَبَّاسٍ أَسْأَلُكَ: كَيْفَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَغْسِلُ رَأْسَهُ وَهُوَ مُحْرِمٌ؟ قَالَ: فَوَضَعَ أَبُو أَيُّوبَ يَدَهُ عَلَى الثَّوْبِ فَطَأْطَأَهُ حَتَّى بَدَا لِي رَأْسُهُ، ثُمَّ قَالَ: لِإِنْسَانٍ يَصُبُّ عَلَيْهِ اصْبُبْ، قَالَ: فَصَبَّ عَلَى رَأْسِهِ، ثُمَّ حَرَّكَ أَبُو أَيُّوبَ رَأْسَهُ بِيَدَيْهِ، فَأَقْبَلَ بِهِمَا وَأَدْبَرَ، ثُمَّ قَالَ: هَكَذَا رَأَيْتُهُ يَفْعَلُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ".

دعبدالله بن حنين رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چه دعبدالله بن عباس رضي الله عنه او دمسور بن مخرمه په مينځ کښې په ابواء مقام کښې اختلاف رائې پيدا شو عبدالله ابن عباس رضي الله عنه اووئيل چه محرم په حالت داحرام کښې خپل سر وينځلې شي نو عبدالله ابن عباس رضي الله عنه عبدالله بن حنين ابو ايوب انصارى ته وليږلو او هغه يې په داسې حال کښې اوليدو چه دوه لرګى يې ديوکوهې خواته ودرولې وو او غسل يې کول او دغسل په وخت کښې يې يو څادر په دغه دوه لرګو باندې اچولې وو دپردې دپاره اوپه دې حالت کښې يې غسل کولو، عبدالله بن حنين ورته سلام وکړو ابو ايوب رضي الله عنه تپوس اوکړو چه که څوک يې؟ ده ورته اووئيل چه عبدالله بن حنين يم او زه عبدالله بن عباس تاته ددې دپاره رالیږلې يم چه داتپوس درنه وکړم چه نبى عليه السلام به داحرام په حالت کښې څنګه غسل کول؟ ابو ايوب چه دا واوريدل نوپه کپړه يې خپل لاس کيخودو او دسر دپاره کپړه يې لرې کړه تردې چه سر يې ماته ښکاره شو او بيايې هغه کس ته اووئيل چاچه دهغه په سر باندې اوبه اچولې زما په سر اوبه واچوه، راوى وائي چه دغه کس به دده په سر اوبه اچولې اوده به په خپلو دواړو لاسونو خپل سر مږلو او لاسونه به يې دمخې دطرف نه شاته او دشا دطرف نه مخې ته وړل راوړل اووئيل يې چه ما نبى عليه السلام په داسې عمل کولو باندې ليدلې وو.

تشريح:قوله: فوجده يغتسل بين القرنين: د قرنين نه مراد هغه دوه لرګى دي، چه د ښکر په شکل کښې وى، چه د کوهى دپاسه خښولې شي، چه په هغې باندې د اوبو څرخه تاويږى.
په ظاهر کښې دهغې دپاسه حضرت ابوايوب رضي الله عنه پرده زوړنده کړې وه، او د دغې پردې پناه هغه غسل کولو، عبدالله بن حنين دهغه نه د غسل راس دمسئلې په باره کښې تپوس اوکړو، او دا چه حضور عليه السلام په حالت احرام کښې څرنګه غسل راس کولو؟ نو حضرت ابوايوب رضي الله عنه (هغه ته د مشاهده کولو دپاره) په پردې باندې لاس کيخودو، او پرده ئې ښکته کړه، نو عبدالله بن حنين ته دهغوى سر ښکاره شو، ابوأيوب رضي الله عنه خپل خادم ته اوئيل، چه زما په سر اوبهٔ واچوه، هغه خپل سر مږلو او وينځلو سره هغه ته اوښودلو، په دواړو لاسونو ئې خپل سر اومږلو، فاقبل بهما و ادبر، يو ځل ئې لاسونه مخکښې طرف ته يوړل، او يو ځل ئې لاسونه

(۱): صحيح البخاري/جزاء الصيد ١٤(١٨٤٠)، صحيح مسلم/الحج ١٣(١٢٠٥)، سنن النسائي/الحج ٢٧(٢٦٦٦)، سنن ابن ماجه/المناسك ٢٢(٢٩٣٤)، موطا امام مالك/الحج ٢(٤)، (تحفة الأشراف: ٣٤٦٣)، وقد أخرجه: مسند احمد(٥/٤١٦، ٤١٨، ٤٢١)، سنن الدارمي/المناسك ٦(١٨٣٤)،(صحيح)

د مخکښ نه وروستو طرف ته راؤړل، بیا هغوی اوفرمائیل چه ما حضور ﷺ لره داسې کولو باندې لیدلې وو.

بَابُ الْمُحْرِمِ يَتَزَوَّجُ

داحرام په حالت کښې د نکاح کولو دمما نعت بيان

سړې په حالت احرام کښ خپله یا د بل چا د طرف نه د ولې یا وکیل په حیثیت سره نکاح کولې شی او که نه؟ په دې کښ ډیر لوئې او مشهور اختلاف دې، په هغې باندې محدثین ډیر اوږد بحث کوی، مونږ هغې لره اختصار سره لیکو:

د احنافو په نزد دا نکاح صحیح او منعقد ده(اګر چه د شان دمحرم نه خلاف ده) د جمهور علماء او ائمه ثلثه په نزد دا نکاح فاسد او غیر منعقد ده، دویمه مسئله د وطی ده، په حالت احرام کښ هغه بالاتفاق حرام ده، دریمه مسئله د خطبې(کویژدن) ده، هغه د محرم دپاره بالاتفاق جائز ده.

[۱۸۴۱](۱) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ نَافِعٍ، عَنْ نُبَيْهِ بْنِ وَهْبٍ أَخِي بَنِي عَبْدِ الدَّارِ، أَنَّ عُمَرَ بْنَ عُبَيْدِ اللَّهِ أَرْسَلَ إِلَى أَبَانَ بْنِ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ يَسْأَلُهُ وَأَبَانُ يَوْمَئِذٍ أَمِيرُ الْحَاجِّ وَهُمَا مُحْرِمَانِ: إِنِّي أَرَدْتُ أَنْ أُنْكِحَ طَلْحَةَ بْنَ عُمَرَ ابْنَةَ شَيْبَةَ بْنِ جُبَيْرٍ، فَأَرَدْتُ أَنْ تَحْضُرَ ذَلِكَ فَأَنْكَرَ ذَلِكَ عَلَيْهِ أَبَانُ، وَقَالَ: إِنِّي سَمِعْتُ أَبِي عُثْمَانَ بْنَ عَفَّانَ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا يَنْكِحُ الْمُحْرِمُ وَلَا يُنْكِحُ".

دنبیه بن وهب دعبد الدار ورور نه روایت دې فرمائی چه عمرو بن عبید الله ابان بن عثمان ته څوک ورورلیږلو او ابان په دې ورځو کښې دحاجیانو امیروو عمرو بن عبید الله دا تپوس کول غوښتل چه زما دا اراده ده چه دشیبه بن جبیر دلور سره نکاح وکړم او دا غوارم چه ته هم په دې نکاح کښې شریک شی ابان بن عثمان دده په نکاح کولو باندې اعتراض وکړو اووېې وئیل چه ما دعثمان بن عفان رضی الله عنه نه اوریدلی دی چه فرمائیل یې یقینا نبی ﷺ فرمائیلی دی چه محرم په حالت داحرام کښې نه پخپله نکاح کولې شی او نه بل څوک په نکاح ورکولې شی.

[۱۸۴۲](۲) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، أَنَّ مُحَمَّدَ بْنَ جَعْفَرٍ حَدَّثَهُمْ، حَدَّثَنَا سَعِيدٌ، عَنْ مَطَرٍ، وَيَعْلَى بْنِ حَكِيمٍ، عَنْ نَافِعٍ، عَنْ نُبَيْهِ بْنِ وَهْبٍ، عَنْ أَبَانَ بْنِ عُثْمَانَ، عَنْ عُثْمَانَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ذَكَرَ مِثْلَهُ، زَادَ: "وَلَا يَخْطُبُ".

تنبیه بن وهب د ابان بن عثمان او هغه دخپل پلار عثمان بن عفان رضی الله عنه نه او هغه دنبی ﷺ نه دتیر شوی روایت پشان روایت نقل کړی مګر ددی اضافی سره چه«ولا یخطب» یعنی محرم به چاته دنکاح پیغام هم نه ورکوی.

(۱): صحيح مسلم/النكاح ۵(۱۴۰۹)، سنن الترمذي/الحج ۲۳(۸۴۰)، سنن النسائي/الحج ۹۱(۲۸۴۵)، والنكاح ۳۸(۳۲۷۷)، سنن ابن ماجه/النكاح ۴۵(۱۹۶۶)، الحج ۲۲(۲۹۳۴)،(تحفة الأشراف: ۹۷۷۶)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/ الحج ۲۲(۷۰)، مسند احمد(۱/۵۷، ۶۴، ۶۹، ۷۳)، سنن الدارمي/المناسك ۲۱(۱۸۶۴)(صحيح)

(۲): انظر ما قبله،(تحفة الأشراف: ۹۷۷۶)(صحيح)

د جمهورو دليل او د احنافو د طرف نه دهغې جواب :

د جمهورو استدلال د منع والا حديث نه دې، يعنى د حضرت عثمان رضي الله عنه حديث مرفوع، چه دهغې تخريج امام مسلم رحمه الله، ابوداؤد رحمه الله، ترمذى رحمه الله، او نسائى رحمه الله كړې ده، قال رسول الله(صلى الله عليه و سلم) لا ينكح المحرم و لا ينكح و لا يخطب، قال الترمذى حديث عثمان حديث حسن صحيح والعمل عليه عند بعض اصحاب النبى(صلى الله عليه و سلم) و هو قول بعض الفقهاء التابعين و به يقول مالك والشافعي و احمد قالوا ان نكح فنكاحه باطل.

احناف وائى، چه په دې حديث كښې نهى للتنزيه ده، للتحريم نه ده، چه دهغې دپاره دوه قرينې دى، اول دا چه په دې حديث كښې دريم جزء دادې ولا يخطب، او د محرم دپاره خطبه(پيغام نكاح) بالاتفاق جائز ده، پس څرنګه چه په دې كښې نهى للتنزيه ده، دغه شان په لا ينكح كښې هم نهى للتنزيه پكار ده، مطلب دا چه نكاح د محرم د شان نه خلاف ده، دويمه قرينه داده، چه خپله حضور صلى الله عليه وسلم د حضرت ميمونې رضي الله عنها سره نكاح د عمرة القضاء په سفر كښې د احرام په حالت كښې كړې وه، لكه په صحاح ستة كښې د حضرت ابن عباس رضي الله عنه حديث روايت دې، ان النبى(صلى الله عليه و سلم) تزوج ميمونة وهو محرم، او قياس هم د جواز تقاضا كوى، چه څرنګه نكاح د آزادې ښځې د حل استمتاع سبب دې، دغه شان په وينځه كښې دهغې شراء د جواز استمتاع ذريعه ده، او په دې دواړو كښې ثانى بالاتفاق د محرم دپاره جائز دې، فكذ الاول اى النكاح. او جمهور علماء په دې حديث كښې نهى للتحريم منى، ددې وجې نه نكاح د محرم لره فاسد او غير منعقد شماروى.

[۱۸۴۳](١) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ حَبِيبِ بْنِ الشَّهِيدِ، عَنْ مَيْمُونِ بْنِ مِهْرَانَ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ الْأَصَمِّ ابْنِ أَخِي مَيْمُونَةَ، عَنْ مَيْمُونَةَ، قَالَتْ: "تَزَوَّجَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ حَلَالَانِ بِسَرِفَ".

دام المومنين ميمونة رضي الله عنها نه روايت دې فرمائى چه نبى عليه السلام زما سره نكاح وكړه په سرف مقام كښې او مونږ دواړه حلال وو.

[۱۸۴۴](٢) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "تَزَوَّجَ مَيْمُونَةَ وَهُوَ مُحْرِمٌ".

دابن عباس رضي الله عنه نه روايت دې فرمائى چه يقينا نبى عليه السلام دام المومنين ميمونة رضي الله عنها سره نكاح وكړه او هغه په حالت داحرام كښې وو.

---

[١]: صحيح مسلم/النكاح ٥(١٤١١)، سنن الترمذي/الحج ٢٤(٨٤٥)، سنن النسائي/ الكبرى/ النكاح(٥٤٠٤)، سنن ابن ماجه/النكاح ٤٥(١٩٦٤)،(تحفة الأشراف: ١٨٠٨٢)، وقد أخرجه: مسند احمد(٣٣٢/٦، ٣٣٣، ٣٣٥)، سنن الدارمي/ المناسك ٢١(١٨٦٥)(صحيح)

[٢]: صحيح البخاري/جزاء الصيد ١٢(١٨٣٧)، والمغازي ٤٣(٤٢٥٨)، والنكاح ٣٠(٥١١٤)، سنن الترمذي/الحج ٢٤(٨٤٣)،(تحفة الأشراف: ٥٩٩٠)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/النكاح ٥(١٤١٠)، سنن النسائي/الحج ٩٠(٢٨٤٣، ٢٨٤٤)، والنكاح ٣٧(٣٢٧٣)، سنن ابن ماجه/النكاح ٤٥(١٩٦٥)، مسند احمد(٢٢/١، ٢٤٥، ٣٥٤، ٣٦٠، ٣٨٣)، سنن الدارمي/المناسك ٢١(١٨٦٣)(صحيح)

حديث ابن عباس رضي الله عنه عند الجمهور مرجوح دې او که مؤول دې:

او حديث ابن عباس رضي الله عنه چه د نکاح ميمونه رضي الله عنها په باره کښې دې، ددې هغوی تاويل کوی، يا هغې لره مرجوح گرزوی، يو تاويل خو دا کړې شوې دې، چه د وهو محرم مطلب دا نه دې، چه په حالت د احرام کښې وو، بلکه د احرام معنی دخول فی الحرم هم راځی، احرم بمعنی دخل فی الحرم، انجد دخل فی النجد، اعرق دخل فی العراق، وقال الشاعر : قتلوا ابن عفان الخليفة محرما، قاتلينو خليفه حضرت عثمان رضي الله عنه قتل کړو، په دې حال کښې چه هغه د حرم په حدودو کښې وو، د حرم نه مراد حرم مدينه دې،(١) د حضرت عثمان د اوسيدو کور د مسجد نبوی صلى الله عليه وسلم سره نزدې په حدود حرم کښې وو، او دويم تاويل دا مشهور دې، ای ظهر امر تزويجها وهو محرم يعنی نکاح خو په حالت احلال کښې شوې وه، ليکن ددې نکاح شهرت هغه وخت کښې اوشو، چه کله نبی کريم صلى الله عليه وسلم محرم وو.

او ترجيح والا جواب دادې، چه هغوی فرمائي، چه د نکاح ميمونه رضي الله عنها سلسله کښې دوه روايتونه دی، يو د ابن عباس رضي الله عنه روايت وهو محرم، او دويم حديث د يزيد بن الاصم او ابورافع، ددې دواړو په حديث کښې دادی، تزوجها وهو حلال، وئيلې شی، چه يزيد بن الاصم د حضرت ميمونه رضي الله عنها خورئې وو، او ابورافع چه د حضور صلى الله عليه وسلم مولی دې، هغوی فرمائي وکنت الرسول بينهما، يعنی د حضور صلى الله عليه وسلم د طرف نه ميمونې رضي الله عنها ته، چه هغه وخت کښې په مکه کښې وه، د نکاح پيغام رسونکې هم زۀ اوم، نو هرکله چه قاصد هغه وو، نو هغه ته به ددې معلومات زيات وی.

د احنافو په نزد د حديث ابن عباس رضي الله عنه وجه د ترجيح:

او د احنافو په نزد ددې برعکس ترجيح حديث ابن عباس رضي الله عنه ته ده، ځکه چه هغه په صحاح سته کښې موجود دې، په خلاف د يزيد بن الاصم رضي الله عنه د روايت، چه دهغې تخريج امام بخاری او نسائی نه دې کړې، صرف په احد الصحيحين کښې دې،(د افراد دمسلم نه دې) او د ابورافع حديث صرف په سنن کښې دې، اخرجه الترمذی وغيره، ددې نه علاوه په دې دواړو احاديثو کښې اضطراب او اختلاف دې، بعضو راويانو دې لره مسنداً(بذکر الصحابی) او بعضو مرسلا(بدون ذکر الصحابی) روايت کړې دې، ددې تفصيل امام ترمذی بيان کړې دې، په خلاف د حديث ابن عباس، چه دهغې په سند کښې هيڅ گړبړ او اختلاف رواة نشته، او بيا هغه متفق عليه يعنی د صحيحينو روايت دې، او څرنګه چه يزيد بن الاصم د حضرت ميمونه رضي الله عنها خورئې دې، دغه شان ابن عباس رضي الله عنه هم دهغې خورئې دې(کما تقدم فی کتاب الصلوة قول ابن عباس رضي الله عنه بت عند خالتی ميمونة) او هغه چه کوم هغوی وائی، چه ابورافع قاصد وو د نبی کريم صلى الله عليه وسلم د طرف نه، ددې جواب دادې، چه دا خو صحيح ده، چه هغه د

---

(١) ليکن اسمعی رحمه الله کوم چه ډير لوئې لغوی وو په دې باندې رد کول سره اووئيل چه دمحرم معنی ده ذو حرمة يعنی محترم اوبې قصوره، کما فی قوله : ع: قتلوا کسری بليل محرمًا، فتولی ولم يمتع بالکفن. يعنی کسری شاه فارس د شپې په وخت قتل کړې شو حالانکه هغه بې قصوره وو.(فيض الباری ص ١٣٨، ج٣).

نکاح پيغام ورونکې وو، ليکن په رواياتو کښې خو دا دی، چه حضرت ميمونه ددې نکاح مسئله خپلې خور ام الفضل ته سپارلې وه، ام الفضل خپل خاوند حضرت عباس رضی الله عنه ته اوسپارله، پس د نکاح متولی خو حضرت عباس رضی الله عنه شو، نه ابورافع، او د حضرت عباس رضی الله عنه قصې باندې دهغه ځوې حضرت ابن عباس رضی الله عنه ځومره خبر دې، ظاهره خبره ده، چه بل ځوک دهغې نه دومره نشی خبريدې.

په تاويل د شافعيه باندې رد:

او دوی چه کوم دا تاويل کوی، ای ظهر امر تزو يجها وهو محرم، چه دهغې تشريح امام ترمذی رحمه الله داسې فرمائيلې ده، چه دا نکاح په طريق مکه اوشوه، په حالت د احلال کښې، دهغې نه پس نکاح ښکاره شوه(د خلقو په علم کښې) هرکله چه نبی کريم صلی الله عليه وسلم محرم شوې وو، ددې نه پس په واپسئ کښې رخصتی اوشوه په مقام سرف کښې، ددې باره کښې زۀ وايم، چه ددې شکل سوا ددې نه هيڅ نه جوړيږی، چه دا اومنلې شی، چه دا نکاح په ذوالحليفه کښې اوشوه، د احرام نه مخکښې، ليکن دا تاويل د نسائی د روايت نه خلاف دې، په هغې کښې دا دی، تزوجها و هو محرم بسرف، مګر دا چه داسې اوئيلې شی، چه د نسائی په روايت کښې د تزوج نه مراد بناء ده، نکاح نه ده، ليکن داسې هم چرته کيدې شی، ځکه اګر چه دا صحيح ده، چه بناء په سرف کښې شوې ده، ليکن حالت احرام خو د بناء نه مانع دې، لهذا په حديث نسائی کښې د تزوج نه مراد نکاح ده، او ظاهره خبره ده، چه د تللو په وخت کښې په مقام سرف کښې حضور صلی الله عليه وسلم محرم وو، لکه چه په روايت کښې ددې تصريح ده.

د امام طحاوی بيان کړې شوې وجه د ترجيح:

دغه شان امام طحاوی په شرح معانی الآثار کښې دا حديث د ابن عباس رضی الله عنه په روايت د مجاهد او عطاء سره د هغوی نه ذکر کړې دې، دهغې مضمون دادې، چه نبی کريم صلی الله عليه وسلم د ميمونه بنت الحارث سره تزوج اوکړو وهو حرام(په حالت د احرام کښې) پس نبی کريم صلی الله عليه وسلم په مکه کښې درې ورځې مقيم وو، نو هغوی ته بعضې قريش مکه راغلل، او وې وئيل، چه درې ورځې پوره شوې دی(او په صلح حديبيه کښې معاهده د دريو ورځو د قيام وه) لهذا تاسو ددې ځائې نه لاړ شئ، په دې نبی کريم صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل : وما عليکم لو ترکتمونی فعرست بين اظهرکم الحديث، په دې کښې تاسو ته څه تکليف دې، چه تاسو ماته دلته کښې د قيام نور هم مهلت راکړئ، دې دپاره چه زۀ دلته کښې بناء اوکړم، او بيا تاسو ته د وليمې دعوت اوکړم، هغوی جواب ورکړو، لا حاجة لنا الی طعامك فاخرج عنا، په دې باندې نبی کريم صلی الله عليه وسلم سره د ميمونه رضی الله عنها نه روان شو، تردې پورې چه هغوی مقام سرف ته اورسيدل، او هلته ئې بناء اوکړه، په دې باندې حضرت په بذل کښې ليکلې دی، چه ددې روايت نه معلوميږی، چه نکاح مکې ته رسيدلو نه مخکښې په لاره کښې شوې وه، ځکه خو نبی کريم صلی الله عليه وسلم په مکه کښې د دعوت وليمه اراده ظاهره کړې وه،(افتراه اراد الوليمة قبل النکاح)

[۱۸۴۵] (۱) حَدَّثَنَا ابْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ إِسْمَاعِيلَ بْنِ أُمَيَّةَ، عَنْ رَجُلٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، قَالَ: وَهِمَ ابْنُ عَبَّاسٍ فِي تَزْوِيجِ مَيْمُونَةَ وَهُوَ مُحْرِمٌ.

دسعید بن المسیب نه روایت دي فرمائی چه ابن عباس رضی الله عنهما نه وهم شوی دی په باره دنکاح دنبی علیه السلام کښې دمیمونې سره په حالت داحرام کښې.

تشریح: قوله: عن سعید بن المسیب قال وهم ابن عباس في تزویج میمونة وهو محرم:

ابن المسیب رحمه الله فرمائي، ابن عباس رضی الله عنهما ته په دي روایت کښې وهم شوي دې، زمونږ د طرف نه بعضو خلقو جواب ترکی بترکی ورکړي دی، (۲) چه ابن شهاب د عمروبن دینار په مخکښې په زیر بحث مسئله کښې د ابن عباس رضی الله عنهما په مقابله کښې د یزید بن الاصم روایت پیش کړو، نو هغه اوفرمائیل اتجعل اعرابیا بوالا علی عقبیه الی ابن عباس(بذل)

بَابُ مَا يَقْتُلُ الْمُحْرِمُ مِنَ الدَّوَابِّ

دمحرم دپاره په احرام کښې دکوم قسم څناور قتل کول جائز دی؟

دلته کښې دوه مسئلې دی، (۱) الاصطیاد للمحرم یعنی په حالت د احرام کښې ښکار کول (۲) اکل لحم الصید، د محرم سړی د بل سړی ښکار کړې شوې غوښه خوړل، په دې باب کښې اوله مسئله ذکر ده، او په راتلونکې باب کښې دویمه مسئله ذکر ده.

[۱۸۴۶] (۱) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَالِمٍ، عَنْ أَبِيهِ، سُئِلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَمَّا يَقْتُلُ الْمُحْرِمُ مِنَ الدَّوَابِّ، فَقَالَ: "خَمْسٌ لَا جُنَاحَ فِي قَتْلِهِنَّ عَلَى مَنْ قَتَلَهُنَّ فِي الْحِلِّ وَالْحَرَمِ: الْعَقْرَبُ وَالْفَأْرَةُ وَالْحِدَأَةُ وَالْغُرَابُ وَالْكَلْبُ الْعَقُورُ".

سالم دخپل پلار نه روایت کوی فرمائی چه دنبی علیه السلام نه تپوس وکړی شو چه محرم په احرام کښې کوم قسم څناور وژلې شی؟ نبی علیه السلام او فرمائیل پنځه څناور داسې دی چه دهغې په قتل کولو کښې ګناه نشته برابره خبره ده چه دحرم نه بهر وی اوکه په حرم کښې وی او هغه څناور دادی: لړم، منږک، ټپوس او کارغه او چیچونکی سپی.

سئل النبی(صلی الله علیه و سلم) عما یقتل من الدواب فقال خمس الخ:

په دې خبره پوهیدل پکار دی، چه محرم دپاره صید البر(د اوچې ښکار) حرام دې، سوا دهغې بعضې حیواناتو نه، د کومو استثناء چه ددې باب په حدیث کښې ذکر ده، او صید البحر(د دریاب ښکار) جائز دې، او دا دواړه احکام د نص قرآن نه ثابت دې، احل لکم صید البحر و طعامه متاعا لکم و للسیارة و حرم علیکم صید البر ما دمتم حرما، دغه شان د حیوان اهلی(پاللې شوې ځاروی) باره کښې هم اتفاق دې، چه دهغې حلالول محرم دپاره جائز دی.

[۱]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۵۹۹۰)(صحیح)

[۲] اول خو دا روایت ضعیف دی ځکه چه په دې سند کښې يو رجل مبهم دې، هسې هم هغه داسې جرأت نه شی کولی چه دحضرت ابن عباس طرف ته د وهم نسبت اوکړی.

[۱]: صحیح مسلم/الحج ۹(۱۱۹۹)، سنن النسائي/الحج ۸۸(۲۸۳۸)، سنن ابن ماجه/المناسك ۹۱(۳۰۸۸)، (تحفة الأشراف: ۶۸۲۵)، وقد أخرجه: صحیح البخاري/جزاء الصید ۷(۱۸۲۶)، وبدء الخلق ۱۶(۳۳۱۵)، موطا امام مالك/الحج ۳۸(۸۸، ۸۹)، مسند احمد(۲/۸، ۳۲، ۳۷، ۴۸، ۵۰، ۵۲، ۵۴، ۵۷، ۶۵، ۷۷)، سنن الدارمي/ المناسك ۱۹(۱۸۵۷)(صحیح)

ددې نه پس پوهیدل پکار دی، چه د مذهب احناف تفصیل داسې دې، د صید البر دوه قسمه دی، ماکول، او غیر ماکول، په دې کښې د قسم اول ښکار کول ممنوع دی بغیر د څه استثناء نه، او قسم ثانی یعنی غیر ماکول کښې تفصیل دادې، چه په هغې کښې کوم څناور داسې دی، چه هغه د انسان په حق کښې ضرري او مبتدی بالاذی دی،[1] یعنی ابتداء بغیر د چیړلو نه په انسان باندې حمله کوی، او هغه ته نقصان رسوی، مثلا زمرې او شرمخ، مار، لړم وغیره، محرم دپاره ددې څیزونو قتل جائز دې، په حدیث کښې د خمس قید د حصر دپاره نه دې[2] او کوم څناور چه مبتدی بالاذی نه دی، دهغې قتل کول جائز نه دی، لکه ضبع (لیوۀ) ثعلب (لومبړه) دا څناور مبتدی بالاذی نه دی، بلکه دا خو سړی لیدلو سره تښتی، تر هغې پورې چه څوك دا اونه چیړی، (بدائع)

العقرب والغراب والفارة والحداة: بروزن عنبه، په دې کښې دا تاء د تانیث دپاره نه ده، لکه چه په تمرة کښې تاء تانیث دپاره نه ده، و فی روایة الحدیا، تصغیر حداة، والکلب العقور، او په دویم روایت کښې د الغراب په ځائې الحیه ذکر دې، د غراب نه کوم کارغۀ مراد دې، په دې کښې اختلاف دې، ځکه چه د غراب ډیر قسمونه دی، په دې کښې فقهاؤ او شراح حدیث تفصیلی کلام کړې دې، د صحیح مسلم په روایت کښې د غراب سره د الابقع قید مذکور دې، ددې وجې نه د اکثر علماؤ په نزد ددې مطلق نه مقید مراد دې، غراب ابقع هغه کارغۀ دې، چه نجاست او مرداره خوری، دهغه د بدن بعضې حصه سپینه وی، او هغه غراب چه غله دانه وغیره خوری، چه هغه ته غراب الزرع او زاغ هم وئیلې شی، چه ټول په ټوله تور وی، سپین والی په هغه کښې نه وی، د جمهورو په نزد په حدیث کښې هغه مراد نه دې، ځکه چه دا قسم ماکول او حلال دې، د محرم دپاره ددې ښکار جائز نه دې.

الکلب العقور: ددې په تفسیر کښې هم اختلاف دې، بعضې وائی، چه ددې نه معروف معنی مراد ده، او بعضو علماؤ ددې تفسیر په اسد سره کړې دې، او بعضو په ذئب سره، او امام مالك رحمه الله په مؤطا کښې ددې تفسیر فرمائیلې دې: کل ما عقر الناس و عدا علیهم و اخافهم مثل الاسد والنمر والفهد والذئب، ددې حاصل دا دې، چه د کلب عقور نه السبع العادی (هر هغه درنده چه په انسان باندې حمله کوی) مراد دې، دا ټول څلور اقوال شو.

او په هدایه کښې دادی: وئیلې شوې دی، چه د کلب عقور نه مراد ذئب دې، او یا داسې اووائې، چه ذئب هم په دې حکم کښې داخل دې، بیا مخکښې فرمائي، چه د امام ابوحنیفه رحمه الله نه مروی دې، چه کلب عقور او غیر عقور، مستانس او متوحش ټول برابر دی، ځکه چه اعتبار جنس لره دې، او په شرح لباب کښې دا لیکلې دی، چه د کلب عقور په قتل کښې نه خو فدیه شته، او نه ګناه شته، او د غیر عقور په قتل کښې فدیه خو نشته، لیکن ګناه شته، عقور بمعنی عاقر یعنی جارح، د بعضو فقهاؤ د کلام نه معلومیږی، چه کلاب خو ټول په

[1] یعنی السبع الصائل المبتدي بالاذي، فقهاؤ دا ټول قیاس کړی دی په کلب عقور باندې.
[2] او وئیلې شوې دی چه قید خود قصر په طور وو لیکن بیا روسته حضور ﷺ په دې باندې د بعضو څناورو اضافه فرمائیلې ده لکه چه په نورو روایاتو کښې دی.

توله عقور او عاقر وی(ګویا دا صفت صفت کاشفه دې) او د بعضو د کلام نه فرق معلومیږی، د امام شافعي رحمه الله په کتاب کښې دا دی، چه د غیر عقور قتل هم د محرم دپاره جائز دې، او د امام نووی رحمه الله کلام په دې کښې مضطرب دې، په شرح مهذب کښې یو ځائې کښې خو دا لیکلې دی، چه د غیر عقور قتل کول حرام دی، او په بل ځائې کښې لیکلې دی، چه جائز دې، او یو ځائې کښې لیکلې دی، چه جائز خو دې، لیکن مکروه تنزیهي دې(اوجز)

والفويسقة : دا د فاسقة تصغیر دې، ددې نه مراد فاره(مږه) ده، تصغیر د تحقیر دپاره دې، د فسق اصل معنی خروج ده، فاسق ته فاسق وئیلې شی لخروجه عن طاعة الله تعالى، او فاره ته فاسقه ددې وجې نه اوئیلې شوه، لخروجها عن حجرها على الناس للافساد، او په بذل المجهود کښې لیکلې دی، چه دې دواب خمسه ته په حدیث کښې فواسق وئیلې شوي دی، ځکه چه دا ځناور د نورو حیواناتو د حکم نه خارج او مستثنى دی په جواز د قتل کښې، یا په اعتبار د فساد او ایذاء سره د نورو حیواناتو نه خارج او ممتاز دی.

[١٨٤٧](١) حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ بَحْرٍ، حَدَّثَنَا حَاتِمُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ عَجْلَانَ، عَنِ الْقَعْقَاعِ بْنِ حَكِيمٍ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "خَمْسٌ قَتْلُهُنَّ حَلَالٌ فِي الْحَرَمِ: الْحَيَّةُ وَالْعَقْرَبُ وَالْحِدَأَةُ وَالْفَأْرَةُ وَالْكَلْبُ الْعَقُورُ".

ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دې فرمائي چه یقینا نبی علیه السلام فرمائیلی دی : پنځه ځناور داسې دی چه په کوم حرم کښې ئې قتلول جائز دی، مار، لړم، تپوس، مږه، او چیچونکی سپی.

[١٨٤٨](٢) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ أَبِي زِيَادٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ أَبِي نُعْمٍ الْبَجَلِيُّ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُئِلَ عَمَّا يَقْتُلُ الْمُحْرِمُ، قَالَ: "الْحَيَّةُ وَالْعَقْرَبُ وَالْفُوَيْسِقَةُ وَيَرْمِي الْغُرَابَ وَلَا يَقْتُلُهُ وَالْكَلْبُ الْعَقُورُ وَالْحِدَأَةُ وَالسَّبُعُ الْعَادِي".

دابو سعید خدری رضي الله عنه نه روایت دې فرمائي چه دنبی علیه السلام نه تپوس وکړې شو چه د محرم دپاره دکوم کوم قسم ځناور وژل په حالت داحرام کښې جائز دی؟ نبی علیه السلام او فرمائیل: مار، لړم، منږک اوکارغه به شړی وژنی به ئې نه او همدارنګی چیچونکی سپی او تپوس او هریو حمله کونکی ځناور.

و يرمي الغراب ولا يقتله: د غراب باره کښې مشهور روایاتو کښې جواز د قتل وارد دې، دا روایت دهغې تولو روایاتو نه خلاف دې، په ظاهر کښې مطلب دادې، چه غراب سره نفس تعرض مثلا تنفیر(یعنی شړل وغیره) خو جائز دې، لیکن د کارغهٔ قتل جائز نه دې، بعضې محدثینو دې زیاتوالی(ولا يقتله) لره منکر ګرزولې دې، یا ئې دا تاویل کړې دې، چه ددې نه مراد غراب زرع دې، والله تعالى اعلم.

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٢٨٦٦)(حسن صحيح)
(٢): سنن الترمذي/الحج ٢١(٨٣٨)، سنن ابن ماجه/المناسك ٩١(٣٠٨٩)، (تحفة الأشراف: ٤١٣٣)، وقد أخرجه: مسند احمد(١/١٠٤، ٣/٣، ٣٢، ٧٩)(ضعيف) وقوله: «يرمي الغراب ولا يقتله» منكر(يزيد ضعيف هي ب)

بَابُ لَحْمِ الصَّيْدِ لِلْمُحْرِمِ

باب: دمحرم دپاره دښکار دغوښې مسئله

دا هغه دويمه مسئله ده، د کومې ذکر چه مونږ د باب سابق په شروع کښې کړې وو.

په مسئلة الباب کښې مذاهب علماء:

په دې خبره پوهيدل پکار دی، چه کوم ښکار محرم په خپله اوکړي، هغه د ميته په حکم کښې دې، دهغې اکل حرام دې، د محرم او غير محرم ټولو دپاره،[1] او کوم ښکار چه غير محرم اوکړي، دهغې دوه قسمونه دی، الاول ما صاده لاجل المحرم يعنی ښکار کونکې خو غير محرم دې، ليکن هغه دا ښکار د محرم په نيت سره کړې دې، والثانی ما صاده لنفسه او لشخص آخر غير محرم، يعنی يعنی ښکار کونکې هم غير محرم دې، او د چا دپاره چه ئې ښکار کړې دې هغه هم غير محرم دې، د احنافو په نزد دواړه قسمونه جائز دې، محرم دغې دواړو لره خوړلې شی، د ائمه ثلثه او جمهورو په نزد قسم اول ناجائز او صرف قسم ثانی جائز دې، او بعضې صحابه او تابعين لکه حضرت علی، حضرت ابن عباس، حضرت ابن عمر رضي الله عنهم، او حضرت سفيان ثوری، او حضرت اسحق بن راهويه □ په نزد محرم دپاره د دې دواړو قسمونو خوړل جائز نه دی، ددې تفصيل نه معلومه شوه، چه په دې کښې د علماؤ درې مذاهب دی.

[۱۸٤٩]([2]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ كَثِيرٍ، عَنْ حُمَيْدٍ الطَّوِيلِ، عَنْ إِسْحَاقَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْحَارِثِ، عَنْ أَبِيهِ، وَكَانَ الْحَارِثُ خَلِيفَةَ عُثْمَانَ عَلَى الطَّائِفِ فَصَنَعَ لِعُثْمَانَ طَعَامًا فِيهِ مِنَ الْحَجَلِ وَالْيَعَاقِيبِ وَلَحْمِ الْوَحْشِ، قَالَ: فَبَعَثَ إِلَى عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ، فَجَاءَهُ الرَّسُولُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَخْبِطُ لِأَبَاعِرَ لَهُ فَجَاءَهُ وَهُوَ يَنْفُضُ الْخَبَطَ عَنْ يَدِهِ، فَقَالُوا لَهُ: كُلْ، فَقَالَ: "أَطْعِمُوهُ قَوْمًا حَلَالًا فَإِنَّا حُرُمٌ"، فَقَالَ عَلِيٌّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: أَنْشُدُ اللَّهَ مَنْ كَانَ هَا هُنَا مِنْ أَشْجَعَ، أَتَعْلَمُونَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَهْدَى إِلَيْهِ رَجُلٌ حِمَارَ وَحْشٍ وَهُوَ مُحْرِمٌ فَأَبَى أَنْ يَأْكُلَهُ؟ قَالُوا: نَعَمْ.

اسحاب بن عبدالله بن حارث دخپل پلار نه روايت کوی چه حارث دعثمان رضي الله عنه دطرف نه دطائف گورنر وو هغه دعثمان دپاره دخوراک انتظام اوکړو او دځنگلی مرغو اود وحشی غواغوښه يې تياره کړه او علی رضي الله عنه ته يې يو قاصد هم اوليږلو قاصد چه دهغه خواته اورسيدو نو هغه دخپول اوښانو دپاره پاڼړی رخنډلې او هغه راغلل دلاسونو نه يې گردو غبار ځنډلو هغوی ته اووئيل خورئ نو هغه جواب ورکړو دا خوراک داسی خلقو ته ورکړئ کوم چه په احرام کښې نه وی مونږ خوپه احرام کښې يو بيا هغه اوفرمائيل زه قسم درکوم اووايم چه دقبيله اشجع نه څوک دلته شته دې ايا تاسو پوهيږئ چه يو کس رسول الله صلى الله عليه وسلم ته دوحشی غوا غوښه په حالت داحرام کښې هديه کړې وه نونبی کريم صلى الله عليه وسلم دهغې دخوړلو نه انکار فرمائيلې وو هغه خلقو اووئيل هو دا خبره ريښتياده.

---

[1] لهذا دا نوع خو د بحث نه خارج گڼړل پکار دی دمصنف مقصد هم دا بيانول نه دی.

[2]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۰۱٦٥)، وقد أخرجه: مسند احمد(۱/۱۰۰، ۱۰۳)(صحيح)

تشريح: قوله: فقال علي رضي الله عنه انشد الله من كان ههنا من اشجع اتعلمون ان رسول الله (صلى الله عليه و سلم) اهدى اليه رجل حمار وحش و هو محرم فابى ان ياكله قالوا نعم:

حضرت علي رضي الله عنه اوفرمائيل، زۀ په الله تعالى قسم وركولو سره هغې خلقو ته تپوس كوم، كوم چه دلته د قبيله اشجع نه موجود دى، چه آيا تاسو ته ددې خبرې پته ده، چه د رسول الله ﷺ په خدمت كښې يو سړي حمار وحشى (زيبرا) پيش كړو، په دې حال كښې چه نبى كريم ﷺ محرم وو، نو هغوى د هغې د خوړلو نه انكار اوكړو، هغې ټولو خلقو اوئيل، چه او هم داسې ده.

د احاديث الباب تجزيه او تفصيل:

مصنف رحمه الله په دې باب كښې څلور احاديث ذكر كړې دى، په هغې كښې حديث علي رضي الله عنه (كوم چه بره ذكر دې) او حديث ابن عباس رضي الله عنه، دا دواړه دهغه حضراتو دپاره مستدل دې، كوم حضرات چه د محرم دپاره د ښكار د غوښې د مطلقا عدم جواز قائل دى، لكه چه د بعضو صحابه كرامو او تابعينو مسلك دې، دهغوى نومونه بره تير شوي دى، او دريم حديث چه د جابربن عبدالله رضي الله عنه دې، هغه د ائمه ثلثه دليل دې، او څلورم حديث يعنى حديث ابوقتاده رضي الله عنه، د احنافو مستدل دې، فلله در المصنف، چه هغوى د ټولو مذاهبو دلائل په يو باب كښې جمع كړې دى.

د حديث اول مضمون دادې، چه د حضرت عثمان رضي الله عنه د ضيافت دپاره خوراك تيار كړې شو، په هغې كښې د مرغو غوښه هم وه، (حجل يوه مرغۍ ده، چه هغې ته چكور[1] وئيلې شى، او يعاقيب، د يعقوب جمع ده، حجل او يعقوب د يوې مرغۍ دوه نومونه دى، صرف د نر او مادې فرق دې، حجل ماده وى، او يعقوب نر) چه كله دا خوراك د حضرت عثمان رضي الله عنه مخښې ته راوړلې شو، نو هغوى حضرت علي رضي الله عنه پسې هم سړى اوليږه، او راوي غوختلو، كوم وخت چه قاصد حضرت علي رضي الله عنه ته لاړو، نو وې ليدل، چه هغه د خپلو اوښانو دپاره د اونې نه پاڼرې څنډلې (اباعر، د ابعرة جمع ده، او ابعره د بعير جمع ده، لهذا اباعر جمع الجمع شوه) چه كله حضرت علي رضي الله عنه تشريف راوړو، او هغه ته اوئيلې شو، چه تاسو هم اوخورئ، نو هغوى عذر ظاهر كړو، او وې وئيل، چه كوم خلق غير محرم وى، هغوى باندې اوخوروه، مونږ خو محرم يو، او بيا هغوى د حضور ﷺ دا مذكوره حديث بيان كړو، (چه دهغې ترجمه بره ليكلې شوې ده) ددې حديث نه په ظاهر كښې دا معلوميږى، چه محرم دپاره لحم صيد مطلقا ممنوع دې، حضرت علي رضي الله عنه لره شارحينو په هغې صحابه كرامو كښې شمار كړې دى، چه د مطلقا منع قائل دى.

[۱۸۵۰] (٢) حَدَّثَنَا أَبُوسَلَمَةَ مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ قَيْسٍ، عَنْ عَطَاءٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّهُ قَالَ: يَا زَيْدَ بْنَ أَرْقَمَ، هَلْ عَلِمْتَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُهْدِيَ إِلَيْهِ عَضُوُ صَيْدٍ فَلَمْ يَقْبَلْهُ؟ وَقَالَ: "إِنَّا حُرُمٌ"، قَالَ: نَعَمْ.

[1] چكور د تيتر پشان يو مارغه دې د تيتر نه وروكې دې پښتوكښې ورته زرك وائى. (مترجم)

[2] سنن النسائي/الحج ٧٩ (٢٨٢٣)، (تحفة الأشراف: ٣٦٧٧)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/الحج ٨ (١١٩٥)، مسند احمد (٤/٣٦٧، ٣٦٩، ٣٧١) (صحيح)

دابن عباس ﷺ نه روایت دي هغوی اوونیل اې زید بن ارقم ﷺ ایا تاته معلومه ده چه رسول الله ﷺ ته دښکار شوی حیوان یو اندام هدیه کړې شوې وو او نبی ﷺ هغې لره قبول کړې نه وو؟ او فرمائیلې یې وو مونږ په احرام کښې یو، زید ﷺ جواب ورکړو هو.

تشریح: قوله: اهدی الیه عضو صید فلم یقبله : یعنی د نبی کریم ﷺ په خدمت کښې د ښکار غوښه پیش کړې شوه، نو هغوی هغه قبوله نه کړه.

د هدیه صید په سلسله کښې د قبول او رد والا روایاتو کښې تطبیق:

په دې سلسله کښې روایات مختلف دی، د بعضو نه د ښکار قبلول ثابتیږی، او د بعضو نه رد کول ثابتیږی، په جمع بین الروایات المختلفه کښې علماء مختلف دی، حضرت امام بخاری ﷫ او بیهقی ﷫ تطبیق داسې کړې دې، چه د رد روایات ئې په ژوندې ښکار باندې محمول کړې دی، او د قبول روایات ئې په لحم صید باندې محمول کړې دی، ددې وجې نه امام بخاری ﷫ باب قائم کړې دې، اذا اهدی للمحرم حمارا وحشیا حیا لم یقبل، لیکن امام نووی ﷫ په شرح مسلم کښې په دې توجیه باندې سخت رد کړې دې، ځکه چه د صحیح مسلم په بعضې روایاتو کښې د لحم صید د تصریح باوجود دا دی، چه نبی کریم ﷺ هغه رد کړه، دغه شان دلته په ابوداؤد کښې د عضو صید په باره کښې د عدم قبول روایت ذکر دې، لهذا دا توجیه خو واقعی صحیح نه ده، او دویمه توجیه هغه ده، چه ائمه ثلثه او جمهورو د خپل مسلك د وجې نه اختیار کړې ده، چه د رد روایاتو لره ئې په ماصید لاجل المحرم باندې محمول کړې دې، او د قبول روایات ئې دهغې نه علاوه باندې.

[۱۸۵۱](۱) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ يَعْنِي الإِسْكَنْدَرَانِيَّ الْقَارِيَّ، عَنْ عَمْرٍو، عَنِ الْمُطَّلِبِ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "صَيْدُ الْبَرِّ لَكُمْ حَلاَلٌ مَا لَمْ تَصِيدُوهُ أَوْ يُصَدْ لَكُمْ". قَالَ أَبُو دَاوُد: إِذَا تَنَازَعَ الْخَبَرَانِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُنْظَرُ بِمَا أَخَذَ بِهِ أَصْحَابُهُ.

دجابر بن عبدالله نه روایت دې چه ما درسول الله ﷺ نه واوریدل چه فرمائیل ئې داوچې ښکار ستا سو دپاره حلال دې خوپه دی شرط سره چه تاسو هغی لره ښکار کړې نه وی یا ستاسو دپاره ښکار کړې شوې نه وی.

عن جابر بن عبدالله ﷺ قال سمعت رسول الله(صلی الله علیه و سلم) لیتول صید البر لکم حلال مالم تصیدوه او یصاد لکم الخ:

په اکثرو نسخو کښې داسې دی او یصاد لکم، په نسائی کښې هم داسې دی، لیکن د قواعدو تقاضا داده، چه اویصد لکم پکار وو، ځکه چه ددې عطف په مجزوم باندې دې، او دا د لم لاندې دې، لکه چه په ترمذی شریف کښې اویصد لکم دې.

(۱): سنن الترمذي/الحج ۲۵(۸۴۶)، سنن النسائي/الحج ۸۱(۲۸۳۰)،(تحفة الأشراف: ۳۰۹۸)، وقد أخرجه: مسند احمد(۳/۳۶۲، ۳۸۷، ۳۸۹)(ضعیف)

د ائمه ثلاثه دليل او د احنافو د طرف نه دهغې جواب :

بهر حال ددې حديث نه ائمه ثلثه استدلال کړې دې، ځکه چه ددې حديث صريح مفهوم دادې، چه صيد البر ستاسو دپاره يعنی د محرم دپاره حلال دې، ترڅو پورې چه هغه ښکار تاسو خپله اونه کړئ، او نه هغه ستاسو دپاره شوې وی، زمونږ د طرف نه ددې دوه جوابه دی:(۱) اول دا چه دا حديث متکلم فيه دې، منقطع دې، د مطلب بن عبدالله بن حنطب سماع د حضرت جابر رضی الله عنه نه ثابت نه ده، كما نقل الترمذی عن شيخه الامام البخاری رحمهما الله تعالی، دغه شان امام شافعی رحمه الله دې لره روايت کړې دې، عن عمرو عن رجل من الانصار عن جابر رضی الله عنه،(۲)ممکن ده چه د لکم مطلب دا وی، بامرکم او باشارتکم(۳) ددې حديث نه استدلال په دې باندې موقوف دې، چه ددې الفاظ داسې وی، او يصد لکم(په دې صورت کښې به دا جمله د نفی لاندې وی) حالانکه په رواياتو کښې اويصادلکم دې، لهذا د اويصادلکم مطلب دادې، الا ان يصاد لکم، يعنی الا دا چه که هغه ښکار ستاسو دپاره اوکړې شی(نو بيا په دې صورت کښې جائز دې) يعنی که تاسو خپله کوئ، نو ناجائز دې، او که بل څوك ستاسو دپاره اوکړی، نو هغه جائز دې، ددې وجې نه بذل کښې ئې ليکلې دی، چه ددې حديث نه خو د احنافو تائيد کيږی.

قال ابوداؤد اذا تنازع الخبران عن النبی(صلی الله عليه و سلم) ينظر الی ما عمل به اصحابه.

د مصنف رحمه الله بعينه هم داسې عبارت په کتاب الصلوة کښې ابواب السترة کښې قطع الصلوة بمرور الحمار والمرأة لاندې راغلې دې، مطلب ددې واضح دې، چه هرکله په دې مسئله کښې احاديث مرفوعه خپلو کښې مختلف او متعارض دی، نو په داسې صورت کښې د صحابه کرامو طرز عمل لره کتل پکار دی، چه هغه څه دی.

[۱۸۵۲](۱) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ أَبِي النَّضْرِ مَوْلَى عُمَرَ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ التَّيْمِيِّ، عَنْ نَافِعٍ مَوْلَى أَبِي قَتَادَةَ الْأَنْصَارِيِّ، عَنْ أَبِي قَتَادَةَ، أَنَّهُ كَانَ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى إِذَا كَانَ بِبَعْضِ طَرِيقِ مَكَّةَ تَخَلَّفَ مَعَ أَصْحَابٍ لَهُ مُحْرِمِينَ وَهُوَ غَيْرُ مُحْرِمٍ، فَرَأَى حِمَارًا وَحْشِيًّا فَاسْتَوَى عَلَى فَرَسِهِ، قَالَ: فَسَأَلَ أَصْحَابَهُ أَنْ يُنَاوِلُوهُ سَوْطَهُ فَأَبَوْا، فَسَأَلَهُمْ رُمْحَهُ فَأَبَوْا، فَأَخَذَهُ ثُمَّ شَدَّ عَلَى الْحِمَارِ فَقَتَلَهُ فَأَكَلَ مِنْهُ بَعْضُ أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبَى بَعْضُهُمْ، فَلَمَّا أَدْرَكُوا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَأَلُوهُ عَنْ ذَلِكَ، فَقَالَ: "إِنَّمَا هِيَ طُعْمَةٌ أَطْعَمَكُمُوهَا اللَّهُ تَعَالَى".

دابو قتاده رضی الله عنه انصاری نه روايت دې چه هغه دنبی کريم صلی الله عليه وسلم سره وو تردې پورې چه دمکې په لاره کښې يو ځائې کښې هغه دخپلو ملګرونه روستو پاتې شو په داسې حال کښې چه دوی په احرام کښې وو اودې بغير داحرام نه وو ابوقتاده رضی الله عنه يو ځنګلی غوا اوليدله اوپه خپل اس باندې سور شو اوملګرو نه يې اووئيل چه ماته خپله کوړا راکړئ هغوی دکوړې

(۱): صحيح البخاري/جزاء الصيد ۲(۱۸۲۱)، ٥(۱۸۲٤)، والهبة ۳(۲۵۷۰)، والجهاد ٤٦(۲۸۵٤)، ۸۸(۲۹۱٤)، والأطعمة ۱۹(٥٤۰۷)، والذبائح ۱۰(٥٤۹۰)، ۱۱(٥٤۹۱)، صحيح مسلم/الحج ۸(۱۱۹٦)، سنن الترمذي/الحج ۲۵(۸٤۷)، سنن النسائي/الحج ۷۸(۲۸۱۸)، سنن ابن ماجه/المناسك ۹۳(۳۰۹۳)،(تحفة الأشراف:۱۲۱۳۱)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الحج ۲٤(۷٦)، مسند احمد(٥/۳۰۰، ۳۰۷)، سنن الدارمي/المناسك ۲۲(۱۸٦۷)(صحيح)

دراخستو نه انکار اوکړو بیایې نیزه اوغوښتله هغوی ددې(دور کولو نه) هم انکار اوکړو اخر یې پخپله باندې اوچته کړه اوپه هغه وحشي غوا پسې ورپسې شو پس هغه یې قتل کړه نو بعض اصحاب کرامو دهغې نه خوراک اوکړو او څه اصحابه کرامو انکار اوکړ بیا چه هر کله دوی دنبي کریم ﷺ سره یوځای شو نو ورنه ئې ددې په باره کښې پوښتنه اوکړه نبي کریم ﷺ اوفرمائیل داخو هغه رزق دې کوم چه الله تعالی په تاسو باندې خوړلې دې.

تشریح: قوله: عن ابی قتادة انه کان مع رسول الله(صلی الله علیه و سلم)........... تخلف مع اصحاب له محرمین وهو غیر محرم.

دا د باب هغه څلورم حدیث د ابوقتاده رضی الله عنه دې، چه د احنافو دلیل دې، د حدیث مضمون خو واضح دې، د هغې دلیکلو حاجت نشته، دا واقعه د عمره حدیبیه د سفر ده، کما فی روایة البخاری زمونږ ددې حدیث نه استدلال په دې طریقې سره دې، چه ظاهره خبره ده، چه ابوقتاده رضی الله عنه به د وحشي خر ښکار یواځې د خپل ځان دپاره نه وی کړې، بلکه هغه ښکار کولو نه پس سمدستی هغه ښکار خپلو ملګرو ته راوړو، بعضو هغې لره قبول کړو، او وې خوړو، او بعضو هغه وخت کښې اونه خوړو، بیا چه کله حضور ﷺ سره ملاؤ شو، نو دهغوی نه ئې تپوس اوکړو، حضور ﷺ د قتاده نه څه تپوس کولو نه بغیر[1] دهغې د خوړولو اجازت ورکړو.

یو مشهور اشکال او جواب:

په دې روایت باندې یو مشهوراشکال دې، هغه دا چه د ابوقتاده رضی الله عنه ملګرو خو احرام تړلې وو، خپله هغوی ولې احرام نه وو تړلې؟ ددې متعدد جوابات ورکړې شوې دی.(۱) لم یجاوز المیقات، یعنی تر اوسه پورې هغه د میقات نه تجاوز نه وو کړې.(۲) ممکن ده، چه تر دغه وخت پورې د حضور ﷺ د طرف نه د مواقیت تعیین نه وو شوې.(۳) دهغوی دا سفر د دخول مکه او عمرې په ارادې سره نه وو، بلکه حضور ﷺ هغه لره څه ځائې ته بل کار دپاره لیږلې وو، ففی روایة بعثه فی وجه، و فی روایة بعثه علی الصدقة، او ممکن ده، چه شروع کښې ئې ددې وجې نه تړلې نه وی، بیا روستو چه کله ئې د عمرې اراده اوکړه، نو احرام ئې تړلې وی.(بذل) الحمد لله باب پوره شو.

بَابٌ فِي الْجَرَادِ لِلْمُحْرِمِ

باب: دمحرم دپاره دملخانو ښکار څنګه دی

[۱۸۵۳]([2]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عِيسَى، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ مَيْمُونِ بْنِ جَابَانَ، عَنْ أَبِي رَافِعٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "الْجَرَادُ مِنْ صَيْدِ الْبَحْرِ".

ابوهریره رضی الله عنه دنبي کریم ﷺ نه روایت کوی فرمائی چه ملخ دسمندری ښکار(داقسامونه یو قسم) دې.

[1]) اود ابوقتاده نه ئې دا تپوس اونه کړو چه تا دا په کوم نیت سره ښکار کړې دې.
[2]): تفرد به أبو داود،(تحفة الأشراف: ١٤٦٧٥، ١٩٢٣٨)(ضعيف)

تشریح: قوله: عن ابی هریرة رضی الله عنه عن النبی(صلی الله علیه و سلم) قال الجراد من صید البحر:
د ابوسعید خدری رضی الله عنه او عروة بن الزبیر رضی الله عنه مسلك هم دادې، چه جراد(ملخان) بحری ځناور دې، چه د مهیانو نه پیدا کیږی، بیا دریاب هغې لره بهر په غاړه باندی غورزوی، لهذا د محرم دپاره دهغې ښکار جائز دې، فدیه پرې واجبیږی نه، او د جمهور علماء ومنهم الائمة الاربعة په نزد د اوچې ښکار دې، د محرم دپاره ددې ښکار جائز نه دی، که وی کړو، نو فدیه پرې واجبیږی، د فدیې مقدار یو تمر دې، لکه چه په مؤطا امام مالك رحمه الله کښې د حضرت عمر رضی الله عنه فیصله مذکوره ده، تمرة خیر من جرادة(چه هغې لره تا په شرح جامی کښې غالبا د مبتدا د تعریف او تنکیر په بحث کښې لوستلې دې)
مصنف رحمه الله دې حدیث لره په دواړ طریقو سره ذکر کړې دې، اول طریق د میمون بن جابأن دې، میمون غیر معروف راوی دې، او کله هغه دې حدیث لره مرفوعا روایت کوی او کله موقوفا علی ابی هریرة رضی الله عنه، په دویم طریق کښې ابو المهزم راوی دې، چه ضعیف بلکه متروک دې، خپله مصنف دواړو احادیثو لره وهم ګرزولې دې، کما فی المتن، په دې وجهو سره دا حدیث قابل استدلال نه دې، دویم جواب دادې، چه ددې حدیث نه مقصودتشبیه ده، بیان د خلقت او حقیقت نه دې، او تشبیه په دې امر کښې ده، چه څرنګه میتة البحر حلال دی، هغې لره د حلالولو حاجت نشته، هم دغه حال د جراد هم دې، لقوله علیه السلام احلت لنا المیتان السمك والجراد، الحدیث.

[۱۸۵٤](١) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ، عَنْ حَبِيبٍ الْمُعَلِّمِ، عَنْ أَبِي الْمُهَزِّمِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: أَصَبْنَا صِرْمًا مِنْ جَرَادٍ، فَكَانَ رَجُلٌ مِنَّا يَضْرِبُ بِسَوْطِهِ وَهُوَ مُحْرِمٌ، فَقِيلَ لَهُ: إِنَّ هَذَا لَا يَصْلُحُ، فَذُكِرَ ذَلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ "إِنَّمَا هُوَ مِنْ صَيْدِ الْبَحْرِ". سَمِعْتُ أَبَا دَاوُد، يَقُولُ: أَبُو الْمُهَزِّمِ ضَعِيفٌ وَالْحَدِيثَانِ جَمِيعًا وَهْمٌ.

دابو هریره رضی الله عنه نه روایت دې چه مونږ ته دملخ دل ملاو شو نوزمونږ یوکس کوم چه په احرام کښې وو هغه په خپلې کوړې سره اووهلو، او هغه په احرام کښې وو، خلقو ورته ووئیل چه دا عمل جائز نه دې، بیا ددې نه پس دنبی علیه السلام په وړاندې دا واقعه بیان کړی شوه نو نبی علیه السلام اوفرمائیل ملخ دسمند دښکار نه دې. امام ابوداود فرمائی چه دحدیث راوی ابو المهزم ضعیف دې اودواړه روایتونه دراوی وهم دې.

[۱۸۵۵](٢) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ مَيْمُونِ بْنِ جَابَانَ، عَنْ أَبِي رَافِعٍ، عَنْ كَعْبٍ، قَالَ: "الْجَرَادُ مِنْ صَيْدِ الْبَحْرِ".

دکعب بن مالک رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه ملخ دسمندر دښکارنه دې.

---

١): سنن الترمذي/الحج ٢٧(٨٥٠)، سنن ابن ماجه/الصيد ٩(٣٢٢٢)،(تحفة الأشراف: ١٤٨٣٢)، وقد أخرجه: مسند أحمد(٣٠٦/٢، ٣٦٤، ٣٧٤، ٤٠٧)(ضعيف جدا)
٢): تفرد به أبو داود،(تحفة الأشراف: ١٤٦٧٥، ١٩٢٣٨)(ضعيف)

بَابٌ فِي الْفِدْيَةِ

دفدیې بیان

[١٨٥٦]([1]) حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ بَقِيَّةَ، عَنْ خَالِدٍ الطَّحَّانِ، عَنْ خَالِدٍ الْحَذَّاءِ، عَنْ أَبِي قِلَابَةَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى، عَنْ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ بِهِ زَمَنَ الْحُدَيْبِيَةِ، فَقَالَ: "قَدْ آذَاكَ هَوَامُّ رَأْسِكَ؟" قَالَ: نَعَمْ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "احْلِقْ ثُمَّ اذْبَحْ شَاةً نُسُكًا، أَوْ صُمْ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ، أَوْ أَطْعِمْ ثَلَاثَةَ آصُعٍ مِنْ تَمْرٍ عَلَى سِتَّةِ مَسَاكِينَ".

دکعب بن عجره ﷺ نه روایت دي چه دحدیبیه په ورځو کښې نبی کریم ﷺ په وه باندې تیر شو اووې فرمائیل په تحقیق سره ستا دسر هوامو تاته تکلیف درکړې دې هغه اوویل هو نونبی کریم ﷺ اوفرمائیل سر او خر وه او یایوه چیلئ قربانی کړه یا درې ورځې روژې اونیسه یا درې صاع کجورې په شپږ مسکینانو کښې تقسیم کړه.

تشریح: قوله: عن کعب بن عجرة ان رسول الله(صلی الله علیه و سلم) مربه زمن الحدیبیة فقال قد آذاك هوام راسك:

شرح حدیث او په هغې باندې کلام من حیث الفقه:

هوام د هامة جمع ده ([2]) (لکه په دې حدیث کښې من کل شیطان وهامة) یعنی زهریله ځناور، مثلاً مار، لړم وغیره، دلته کښې ددې نه مراد د سر سپګې دی، دا حدیث تقریبا په ټولو صحاح ستة کښې شته، د کعب بن عجره په سر کښې تکلیف ورکونکې ځناور(سپګې) شوې وې، دا د عمرة الحدیبیه د سفر قصه ده، هغه اوبهٔ ګرمولو دپاره د دیګچې لاندې اور بلولو، او سپګې دهغه د سر نه دوړیدې، په روایت کښې راځي، والقمل یتهافت علی وجهه وهو یوقد تحت قدر، نبی کریم ﷺ چه کله دهغه خوا کښې تیر شو، نو تپوس ئې ترې اوکړو، نو هغه خپل حالت بیان کړو، په دې نبی کریم ﷺ اوفرمائیل : احلق ثم اذبح شاة نسکا او صم ثلثة ایام او اطعم ثلثة اصع من تمر علی ستة مساکین، په دې روایت کښې اختصار دې، مخکښې دا راروان دی، فانزل الله عزوجل فی فمن کان منکم مریضا او به اذی من راسه ففدیة الآیة، یعنی زما په باره کښې دا آیت مبارك نازل شو، په دې حضور ﷺ زهٔ راؤغوختلم، او راته ئې اوفرمائیل، چه د خپل سر ویښته حلق کړه، او فدیه ورکړه، فدیه چه دلته کښې ذکر ده، هغه درې خیزونه دی، نسك یعنی دم، صوم ثلثه ایام، اطعام ستة مساکین.

[1]): صحیح البخاري/المحصر ٥(١٨١٤)، ٦(١٨١٥)، ٧(١٨١٦)، ٨(١٨١٧)، والمغازي ٣٥(٤١٥٩)، وتفسیر البقرة ٣٢(٤٥١٧)، والمرضي ١٦(٥٦٦٥)، والطب ١٦(٥٧٠٣)، وکفارات الأیمان ١(٦٨٠٨)، صحیح مسلم/الحج ١٠(١٢٠١)، سنن الترمذي/الحج ١٠٧(٩٥٣)، سنن النسائي/الحج ٩٦(٢٨٥٤)،(تحفة الأشراف: ١١١١٤)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/المناسك ٨٦(٣٠٧٩)، موطا امام مالك/الحج ٧٨(٢٣٧)، مسند احمد(٤/٢٤٢، ٢٤٣، ٢٤٤)(صحیح)

[2]) د هوام مقابل سوام دې هوام او سوام خو دواړه زهریله وی خو فرق ئې دا لیکلې دې چه اول قاتل وی لکه ماران وغیره، او دویم قاتل نه وی لکه مچې وغیره

د فدئې سره متعلق څو مسائل فقهيه اختلافيه:

اوس دلته کښې څو مسائل اختلافي دي(۱) دا دم مطلق نسيکه او ذبيحه دې د امام مالك او امام احمد په نزد، او د احناف او شافعيه په نزد هدی ده، لهذا د رومبو دواؤ امامانو په نزد کوم ځائې چه غواړې دې لره ذبح کولې شي، په خلاف د احنافو او شافعيه، د دوی په نزد ددې محل د ذبح حرم دې،(۲) د طعام مقدار څه دې؟ د ائمه ثلثه په نزد لكل مسكين نصف صاع من كل شئ فالمجموع ثلثة آصع كما في الحديث،(۱) و عندنا لكل مسكين مثل صدقة الفطر فمن التمر والشعير صاع و من البر نصف صاع(۳) ددې اشياء ثلثه په مينځ کښې ترتيب واجب دې اوکه نه؟ جواب دادې، چه که حلق د ضرورت او عذر د وجې نه وی، نو بيا خو هيڅ ترتيب واجب نه دې باتفاق ائمه اربعه، لهذا په فديه کښې چه څه ورکول غواړې ورکولې شی، او که حلق بغير د عذر نه وی، په دې صورت کښې اختلاف دې، د احنافو په نزد په دې صورت کښې دم مقدم دې، که په دې باندې قدرت نه وی، نو بيا په باقی دواړو کښې اختيار دې، د احنافو دليل په ورپسې روايت کښې دې، په هغې کښې دادی، امعك دم قال لا، او عند الشافعيه والحنابله روايتان ولا يجب الترتيب عند مالك مطلقا(تراجم بخاری) دا مسائل ددې مقام سره ډير مناسب دی، ددې وجې نه اوليکلې شو.

[۱۸۵۷](۱) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ دَاوُدَ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى، عَنْ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ لَهُ: "إِنْ شِئْتَ فَانْسُكْ نَسِيكَةً، وَإِنْ شِئْتَ فَصُمْ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ، وَإِنْ شِئْتَ فَأَطْعِمْ ثَلَاثَةَ آصُعٍ مِنْ تَمْرٍ لِسِتَّةِ مَسَاكِينَ".

د کعب بن عجره رضی الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ ده ته اوفرمائيل که غواړې نو قربانی اوکړه اوکه غواړې نو درې ورځې روژې اونيسه اوکه غواړې نو درې صاعه کجورې شپږو مسکينانو ته ورکړه.

[۱۸۵۸](۲) حَدَّثَنَا ابْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ. ح وحَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ، وَهَذَا لَفْظُ ابْنِ الْمُثَنَّى، عَنْ دَاوُدَ، عَنْ عَامِرٍ، عَنْ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ بِهِ زَمَنَ الْحُدَيْبِيَةِ، فَذَكَرَ الْقِصَّةَ، فَقَالَ: "أَمَعَكَ دَمٌ؟" قَالَ: لَا، قَالَ: "فَصُمْ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ، أَوْ تَصَدَّقْ بِثَلَاثَةِ آصُعٍ مِنْ تَمْرٍ عَلَى سِتَّةِ مَسَاكِينَ بَيْنَ كُلِّ مِسْكِينَيْنِ صَاعٌ".

د کعب بن عجره رضی الله عنه نه روايت دې چه دحديبيه په دورځو کښې په ده باندی رسول الله ﷺ تير شو او قصه يې بيان کړه رسول الله ﷺ تپوس اوکړو ايا تاسو سره څاروې شته هغه اووئيل نه نبی عليه السلام اوفرمائيل درې ورځې روژې اونيسه يا درې صاعه کجورې په شپږو مسکينانو ته يو صاع ورکړه.

---

(۱) لهذا حديث الباب د جمهورو دليل شو اود احنافو دليل دادې چه په دې کښې اختلاف د رواياتو دې، کما في البذل (ص ۱۴۵) عن الحافظ ابن حجر ففي رواية للطبراني نصف صاع من تمر وفي رواية نصف صاع طعام وفي رواية نصف صاع حنطة، لهذا احتياط په دې کښې دې کوم چه احنافو اختيار کړې دې. والله أعلم

(۲) انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۱۱۱۴)(صحيح)

(۳) تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۱۱۱۱)، وقد أخرجه: مسند احمد(۴/۲۴۱، ۲۴۳)(صحيح)

[۱۸۵۹](١) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ نَافِعٍ، أَنَّ رَجُلًا مِنَ الْأَنْصَارِ أَخْبَرَهُ، عَنْ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ، وَكَانَ قَدْ أَصَابَهُ فِي رَأْسِهِ أَذًى فَحَلَقَ، "فَأَمَرَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُهْدِيَ هَدْيًا بَقَرَةً".

دكعب بن عجرة رضي الله عنه نه روايت دي او دهغوى حالت داوو چه په سر كښي يې اذيت وو (يعنى سپږې په كښي شوى وى) نو هغوى خپل سر خرئيلي وو پس نبى كريم ﷺ هغه ته حكم كړې وو چه يوه غوا قربانى كړه.

[۱۸۶۰](٢) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مَنْصُورٍ، حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ، حَدَّثَنِي أَبِي، عَنِ ابْنِ إِسْحَاقَ، حَدَّثَنِي أَبَانُ يَعْنِي ابْنَ صَالِحٍ، عَنِ الْحَكَمِ بْنِ عُتَيْبَةَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى، عَنْ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ، قَالَ: أَصَابَنِي هَوَامُّ فِي رَأْسِي وَأَنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ الْحُدَيْبِيَةِ حَتَّى تَخَوَّفْتُ عَلَى بَصَرِي، فَأَنْزَلَ اللَّهُ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى فِيَّ: فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَرِيضًا أَوْ بِهِ أَذًى مِنْ رَأْسِهِ سورة البقرة آية ١٩٦ الْآيَةَ، فَدَعَانِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ لِي: "احْلِقْ رَأْسَكَ وَصُمْ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ، أَوْ أَطْعِمْ سِتَّةَ مَسَاكِينَ فَرَقًا مِنْ زَبِيبٍ، أَوِ انْسُكْ شَاةً"، فَحَلَقْتُ رَأْسِي ثُمَّ نَسَكْتُ.

دكعب بن عجر رضي الله عنه نه روايت دي چه زما په سر كښي سپږې اوشوى اوزه دحديبيه په كال باندې (په دغه سفر كښي) دنبي كريم ﷺ سره ووم او (دسر اذيت دومره شديد وو) چه ماته دخپل نظر انديښنه پيدا شوې وه پس الله تعالى زما په باره كښي دا ايت اوفرمائيلو: «فمن كان منكم مريضا أوبه أذى من رأسه» پس رسول الله ﷺ زه رااوبللم اوويې فرمائيل خپل سر اوخريه يا درى روژې اونيسه يا شپږ مسكينانو باندى يوه توكرئ اوځكې اوخوروه يايوه چيلئ قربانى كړه چانچه ما خپل سر اوخرئيلو او بيامى قربانى اوكړه.

[۱۸۶۱](٣) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ عَبْدِ الْكَرِيمِ بْنِ مَالِكٍ الْجَزَرِيِّ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى، عَنْ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ، فِي هَذِهِ الْقِصَّةِ، زَادَ: "أَيَّ ذَلِكَ فَعَلْتَ أَجْزَأَ عَنْكَ".

دكعب بن عجرة رضي الله عنه نه روايت دي چه رسول الله ﷺ اوفرمائى ددې نه (دريو كارونو) چه كوم يو هم كوئ نو ستاسو نه به كفايت كوى.

باب الإحصار

باب: د حج نه د بنديدلو (منع كولو) بيان.

د احصار تعريف او په دې كښې اختلاف د علماء:

د احصار لغوى معنى حبس او منع ده، چا لره د څه كار نه منع كول، او په كتاب الحج كښې ددې نه مراد محرم لره دهغه د نسك (حج يا عمره، د كوم احرام ئې چه تړلې وى) نه منع كول، كه دا منع كونكې څيز دشمن وى، يا مرض وغيره وى، دا مسلك د احنافو دې، وروى عن ابن عباس رضي الله عنه و ابن مسعود رضي الله عنه و زيد بن ثابت رضي الله عنه، او د اكثر علماء ومنهم الائمة الثلة په نزد يختص الاحصار بالعدو، دهغوى په نزد د دشمن نه علاوه كه بل يو څيز محرم لره حرم ته د رسيدلو نه منع كړى، نو دا احصار شرعى نه دې، او داسې سړې ته به د جمهورو په نزد محصر نشى

(١): انظر حديث رقم: ١٨٥٦، (تحفة الأشراف: ١١١١٤) (ضعيف) (وقوله: «بقرة» منكر)
(٢): انظر حديث رقم: ١٨٥٦، (تحفة الأشراف: ١١١١٤) (حسن)
(٣): انظر حديث رقم: ١٨٥٦، (تحفة الأشراف: ١١١١٤) (صحيح)

وتیلې، او د احصار چه کوم حکم شرعي دې، هغه به په دهٔ باندې نه جاري کیږي، (بذل)

[۱۸۶۲]() حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ حَجَّاجٍ الصَّوَّافِ، حَدَّثَنِي يَحْيَى بْنُ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، قَالَ: سَمِعْتُ الْحَجَّاجَ بْنَ عَمْرٍو الْأَنْصَارِيَّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ كُسِرَ أَوْ عَرِجَ فَقَدْ حَلَّ وَعَلَيْهِ الْحَجُّ مِنْ قَابِلٍ" قَالَ عِكْرِمَةُ: سَأَلْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ وَأَبَا هُرَيْرَةَ عَنْ ذَلِكَ، فَقَالَا: صَدَقَ.

دحجاج بن عمرو انصاری رضي الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه دچا هډوکې مات شي یا په خپو باندې ګوډ شي نو هغه حلال شو (یعنی دهغه دپاره حلال کیدل مباح دي) اودائنده دپاره په هغه باندې حج دې • عکرمه فرمائي چه ماد ابن عباس او ابوهریره رضي الله عنهما نه په دې باره کښې تپوس اوکړو نودې دواړه (دحجاج دروایت) تصدیق اوکړو.

من کسر او عرج[۲] فقد حل: د کوم محرم چه په لاره کښې یو اندام مات شي، یا هغه ګوډ شي، نو د هغه دپاره شرعا حلالیدل جائز دي.

په حدیث باندې کلام من حیث الفقه:

د ظاهریه په نزد دا حدیث بالکل په خپل ظاهر باندې دې، د هغوی په نزد نفس کسر او عرج سره سرې حلالیږي، عند الجمهور داسې نه ده، بلکه مطلب دادې، جاز له التحلل کما فی قوله ﷺ اذا اقبل اللیل من ههنا و ادبر النهار من ههنا فقد افطر الصائم، ای حل له الافطار و دخل فی وقت الافطار، لیکن په دې جواز تحلل کښې د فقهاؤ په مینځ کښې تفصیل دې، عند الحنفیه یحل بالنیة والذبح والحلق، یعنی د حلالیدو په نیت سره ذبح او حلق اوکړی، نو هله به حلال شي، او د شافعیه او حنابله په نزد دا حدیث په اشتراط باندې محمول دې، یعنی که هغه د احرام ترلو په وخت کښې د حلالیدو شرط لګولې وو، نو اوس حلالیدې شي، او دم یعنی هدی به هم واجب نه وي، او د امام مالک رحمه الله په نزد شخص مذکور د طواف نه پس حلالیدې شي، بغیر د طواف نه حلالیدې نشي، په دې مسئله باندې به ډیر کلام په باب الاشتراط فی الحج کښې تیر شوې دې، هغې طرف ته رجوع کول پکار دي.

په دې حدیث کښې احصار بالمرض مذکور دې، چه دهغې احناف قائل دي، لهذا دا حدیث د ائمه ثلثه خلاف دې، هغوی ددې تاویل کوي، کما تقدم قریبا و فیه تامل کما لا یخفی،

وعلیه الحج من قابل : دا د محصر بالحج دپاره دې، چه په دې وخت کښې خو بغیر د نسك ادا کولو نه حلال شي، او بیا به آئنده کال حج کوي، د احنافو په نزد محصر بالحج باندې آئنده کال حج او عمره دواړه واجب دي، او عند الجمهور صرف حج پرې واجب دې.

[۱]: سنن الترمذي/الحج ۹۶(۹۴۰)، سنن النسائي/الحج ۱۰۲(۲۸۶۳)، سنن ابن ماجه/المناسك ۸۵(۳۰۷۸)،(تحفة الأشراف: ۳۲۹۴، ۶۲۴۱)، وقد أخرجه: مسند احمد(۴۵۰/۳)، سنن الدارمي/المناسك ۵۷(۱۹۳۶)(صحيح)

[۲] عرج که د باب نصر نه وي نو ددې معنی ده دخه عارض په وجه ګوډ کیدل، اوکه د باب سمع نه وي نو ددې معنی به وي خلقة (پیدائشي) ګوډ کیدل، دلته اوله معنی مراد ده لهذا دا په فتحې د راء وئیل پکار دي.

په محصر بالعمرة باندې څه واجبيږي:

او که يو سړې محرم بالعمره وي، نو دهغه حکم په راتلونکې حديث کښې ذکر دې، دهغې تفصيل دادې، چه عند الحنفيه په محصَر بالعمرة باندې هدى او(د زوال عذر نه پس) د عمرې قضاء دواړه ځيزونه واجب دي، وهو المشهور عن احمد، او د مالکيه په نزد دواړه واجب نه دي، نه هدى او نه د عمرې قضاء، او د امام شافعي رحمه الله په نزد هدى خو واجب ده، قضاء واجب نه ده، وهو رواية عن احمد،

د احنافو دليل د حضور ﷺ عمرة القضاء ده، چه هم په دې نوم سره مشهور ده، معلومه شوه چه د عمرې قضاء وي، شافعيه ددې جواب ورکوي، په عمرة القضاء کښې د قضاء نه مراد قضيه او فيصله ده، دا هغه قضاء نه ده، کومه چه د اداء مقابل وي،

دا خبره دې هم واضحه وي، چه د شافعيه او حنابله په نزد دا حکم يعنى وجوب د دم په هغې صورت کښې دې، چه کله احصار بالعدو وي، او که احصار بالمرض وي، نو په دې صورت کښې چونکه دهغوى په نزد اشتراط ضرورى دې، او اشتراط سره دهغوى په نزد دم هم ساقطيږي. كما تقدم قريبا.

[۱۸٦۳]([1]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُتَوَكِّلِ الْعَسْقَلَانِيُّ، وَسَلَمَةُ، قَالَا: حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ رَافِعٍ، عَنْ الْحَجَّاجِ بْنِ عَمْرٍو، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنْ كُسِرَ أَوْ عَرِجَ أَوْ مَرِضَ"، فَذَكَرَ مَعْنَاهُ، قَالَ سَلَمَةُ بْنُ شَبِيبٍ: قَالَ: أَنْبَأَنَا مَعْمَرٌ.

حجاج بن عمرو دنبى كريم ﷺ نه روايت كوى چه هغه اوفرمائيل چه دچا هډوکى مات شو يا هغه ګوډ شو يابيمارشو لود پورته ذکر شوى حديث په شان ئې روايت کړو. سلمه بن شبيب په خپل سند کښې د انبا (يعنى مونږ ته ئې خبر راکړو) کلمه استعمال کړې ده (په دې شان سره هغوى دخپل شيخ نه دسماع کولو تصريح کړې ده.

[۱۸٦٤]([2]) حَدَّثَنَا النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مَيْمُونٍ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا حَاضِرٍ الْحِمْيَرِيَّ يُحَدِّثُ أَبِي مَيْمُونَ بْنَ مِهْرَانَ، قَالَ: خَرَجْتُ مُعْتَمِرًا عَامَ حَاصَرَ أَهْلُ الشَّامِ ابْنَ الزُّبَيْرِ بِمَكَّةَ وَبَعَثَ مَعِي رِجَالٌ مِنْ قَوْمِي بِهَدْيٍ، فَلَمَّا انْتَهَيْنَا إِلَى أَهْلِ الشَّامِ مَنَعُونَا أَنْ نَدْخُلَ الْحَرَمَ، فَنَحَرْتُ الْهَدْيَ مَكَانِي ثُمَّ أَحْلَلْتُ ثُمَّ رَجَعْتُ، فَلَمَّا كَانَ مِنَ الْعَامِ الْمُقْبِلِ خَرَجْتُ لِأَقْضِيَ عُمْرَتِي، فَأَتَيْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ فَسَأَلْتُهُ، فَقَالَ: "أَبْدِلِ الْهَدْيَ، فَإِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ أَصْحَابَهُ أَنْ يُبْدِلُوا الْهَدْيَ الَّذِي نَحَرُوا عَامَ الْحُدَيْبِيَةِ فِي عُمْرَةِ الْقَضَاءِ".

عمروبن ميمون وائى. مادابوحاضر حميرى نه واوريدل هغه زما دپلار ميمون بن مهران نه بيان کولو چه په کوم کال اهل شام په مکه کښې ابن زبير په محاصره کړې وو زه دعمرې په غرض سره روان شوم زماسره دقوم څوافرادو خپلې قربانئ هم ليږلې و کله چه مونږ اهل شام ته اورسيدو نوهغوى مونږ حرم ته دداخليدونه بند کړو اوزه دعمرې دقضاء دپاره لاړم نوابن

[1]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۳۲۹٤، ۳٦٢٤١)(صحيح)

[2]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٥٨٧٣)(ضعيف)

عباس ته ورغلم او دهغوی نه مې پوښتنه اوکړه نو هغوی اوفرمائيل دخپلې قربانۍ هم بدل ورکړه بې شکه رسول الله ﷺ په عمره قضاء کښې خپلو صحابه کرامو ته فرمائيلي وو چه دحديبيه په کال باندې هغوی کومې قربانۍ کړې وې چه دهغې عوض قربانۍ هم اوکړي

تشريح: قوله: عن عمرو بن ميمون قال سمعت اباحاضر الحميرى يحدث ابى ميمون بن مهران قال خرجت معتمرا عام حاصر اهل الشام ابن الزبير رضي الله عنه بمكة:

شرح حديث:

ميمون لره منصوب لوستل پکار دى، دا په ترکيب کښې د ابى نه بدل واقع دې، عمرو بن ميمون وائى، چه ابوحاضر حميرى يوه ورځ زما پلار يعنى ميمون بن مهران ته واقعه بيانوله، هغې لره ما هم اوريده، (هغه واقعه داده) ابوحاضر وائى، په کوم کال چه اهل الشام د عبدالله بن زبير رضي الله عنه په مکه مکرمه کښې محاصره کړې وه، په هغه کال زۀ د عمرې په ارادې سره دخپل وطن نه روان شوم، څه خلقو چه زمونږ د قوم نه وو، ماسره خپلې خپلې هدايا اوليږلې، دې دپاره چه زۀ دهغوی د طرف نه قربانۍ اوکړم، چه کله زمونږ قافله شامى لښکر ته نزدې اورسيده، نو هغوی مونږ لره حرم ته د داخليدو نه منع کړو (دا احصار عن العمره شو) لهذا ما خپله هدى هم هغه ځائې کښې ذبح کړه، بيا حلال شوم او خپل وطن ته واپس راغلم، بيا آئنده کال زۀ دهغې عمرې د قضاء دپاره روان شوم، او د حضرت ابن عباس رضي الله عنه نه مې د مسئلې باره کښې تپوس اوکړو، نو هغوی راته اوفرمائيل، چه د مخکښنئ هدى بدل هم ځان سره بوځه، ځکه چه حضور ﷺ هم هغې صحابه کرامو ته، کومو چه په حديبيه کښې خپلې هدايا ذبح کړې وې، آئنده کال په عمرة القضاء کښې د تير شوې کال هدى بدل ورکولو حکم فرمائيلې وو.

ذکر ما يستفاد من الحديث:

ددې حديث نه څو مسائل معلوم شول(۱) د محصر بالعمرة په ذمه د عمرې قضاء شته(۲) په هغه باندې دم(هدى) هم واجب ده، په دې دواړو مسئلو کښې دا حديث د احناف او حنابله موافق دې(۳) د دم احصار محل ذبح حرم دې، او چونکه ابوحاضر چه اول کال کوم هدى ذبح کړې وه، هغه بې محله ذبح شوې وه، ددې وجې نه ابن عباس رضي الله عنه دهغې اعتبار اونه کړو، او هغه ته ئې حکم ورکړو، چه دوباره هدى بوځه، او هغې لره په حرم کښې ذبح کړه، د احنافو په نزد مسئله هم داده، د جمهورو په دې کښې اختلاف دې، دهغوی په نزد د دم احصار محل ذبح خپله محل حصر دې، دهغې په حرم کښې ذبح کول ضرورى نه دى،(۴) څلورمه مسئله ددې نه دا معلوميږى، چه حديبيه خارج حرم ده، ددې وجې نه حضور ﷺ د تير شوې کال هداياؤ اعتبار اونه فرمائيلو، ځکه چه هغه په حديبيه کښې ذبح شوې وې، دا مسئله هم اختلافى ده، کوم چه ماته ياد دى،

مذاهب داذی: عند الحنفيه والشافعيه بعض الحديبية من الحرم و بعضها من الحل و عند مالك الكل من الحرم و عند احمد الكل من الحل، والله سبحانه و تعالى اعلم.

په حدیث کښې یو تاریخي واقعې طرف ته اشاره:

دا خو په حدیث باندې کلام شو من حیث الفقه، او ددې حدیث یو بل جزء تاریخي دې، عام حصر اهل الشام، دا واقعه د ۷۳ هـ ده، ددې خلاصه داده، د حضرت عبدالله بن زبیر رضي الله عنه حکومت په حجاز او عراق باندې وو،[1] او د عبدالملك بن مروان په مصر او شام باندې حکومت وو، عبدالملك د عبدالله بن زبیر حکومت نه برداشت کولو، هغه په حجاز او عراق باندې هم خپله غلبه غوختله، د حضرت عبدالله بن زبیر رضي الله عنه قیام په مکه مکرمه کښې وو، نو هغه یعنی عبد الملك لوئي لښکر تیار کړو، دهغې امیر ئې حجاج بن یوسف الثقفي جوړ کړو، او په مکې مکرمې باندې د حملې کولو دپاره ئې اولیږلو، یوه میاشت پورې محاصره او زبردسته مقابله اوشوه، حجاج ته غلبه حاصله شوه، او هغه عبدالله بن زبیر په سولئ اوخیژولو، انا لله و انا الیه راجعون، عبدالله بن الزبیر رضي الله عنه د حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه نمسې او ډیر زیات عبادت گزار او ډیر لوئي بهادر او زړه ور وو، رضی الله عنه، او د دغې محاصرې په وخت کښې چه کله د حج وخت نزدې راغلو، نو عبدالملك خلقو لره د حج کولو نه او مکې مکرمې ته د داخلیدو نه منع کړل، چه هسې نه دا خلق حج ته لاړ شي، او هلته د عبدالله بن زبیر رضي الله عنه په لاس باندې بیعت اوکړي، لکه چه په حدیث الباب کښې مذکور دی، او ددې وجې نه مصنف دې لره په باب الاحصار کښې ذکر کړې دې.

---

[1] اصل کښې عبدالله بن زبیر رحمه الله د هغه خلقو نه دې چا چه د یزید د بیعت نه انکار کړې وو او د مدینې منورې نه مکې معظمې ته راغلو او هلته ئې پناه واخستله. (هم په دې وجه هغه ته عائذ البیت وئیلې شي) چه په دې باندې یزید د هغه نه سخت خفه شوې وو، د یزید استخلاف په ٦٠ هـ کښې شوې وو او په ٦٤ هـ کښې څلور کلونو پورې هغه خلیفه وو، هم په دې دوران کښې ئې د عبدالله بن زبیر رضي الله عنه سره د قتال کوشش کولو خو په مقصد کښې کامیاب نه شو تردې چه په ٦٥ هـ کښې وفات شو. علامه زرقاني رحمه الله لیکي چه د یزید د مرگ نه پس د هغه خوئې معاویه بن یزید بن معاویه خلیفه شو او صرف درې میاشتې پس هغه هم وفات شو، پس هغه څوك هم خپل ولي عهد جوړ نه کړو په دې وجه د هغه د وفات نه پس دوه میاشتو پورې خو خلق هم داسې بغیر د خلیفه نه وو بیا د دې نه پس د مکې مکرمې ارباب حل وعقد د عبدالله بن زبیر رضي الله عنه سره بیعت اوکړو پس په حجاز او عراق باندې د هغه حکومت وو او اهل مصر او شام د مروان په لاس بیعت اوکړو او د هغه حکومت په مصر او شام باندې شو. اهـ او په تاریخ الخلفاء للسیوطي کښې دی چه د یزید په وفات باندې اهل حجاز او عراق او خراسان د عبدالله بن زبیر رضي الله عنه په لاس باندې بیعت اوکړو، اهل مصر وشام دې وخته پورې د هغه سره بیعت نه وو کړې مگر د معاویه بن یزید د وفات نه پس هغوی هم دهغه سره بیعت کړې وو لیکن مروان بن الحکم بغاوت اوکړو او شام او مصر ئې گیر کړل او دخپل مرگه پورې په هغې باندې قبضه ساتلې وه. آه، لیکن زه وائم چه عبدالله بن الزبیر سره بیعت په رجب ٦٤ هـ کښې اوشو لکه څنگه چه د تاریخ په کتابونو کښې دی او مروان سره په ذیقعده ٦٤ هـ کښې یعنی د ابن الزبیر نه څلور میاشتې پس، په دې وجه مروان ته باغي وئیلې شوی دی باقي د مروان خلافت زیات اونه چلیدو بلکه هغه د خپل خلافت نه نهه میاشتې پس د دنیا نه رخصت شو دهغه نه پس دهغه خوئې عبدالملك بن مروان په ٦٥ هـ کښې خلیفه شو، ددهٔ خلافت تقریبا شل کاله وو د ٦٥ هـ نه ٨٦ هـ پورې، اود عبدالله بن الزبیر خلافت د ٦٤ هـ نه واخله تر ٧٣ هـ پورې یعنی نهه کاله پورې وو. په ٧٣ هـ کښې دده د قتل قصه پیښه شوه چه هغې طرف ته په حدیث الباب کښې اشاره شوې ده. فسبحان من لا فناء لملکه. ١٢.

بَاب دُخُولِ مَكَّةَ

باب په مکه کښې د داخليدو بيان

[۱۸۶۵] () حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدٍ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ نَافِعٍ، "أَنَّ ابْنَ عُمَرَ كَانَ إِذَا قَدِمَ مَكَّةَ بَاتَ بِذِي طَوًى حَتَّى يُصْبِحَ وَيَغْتَسِلَ ثُمَّ يَدْخُلَ مَكَّةَ نَهَارًا، وَيَذْكُرُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ فَعَلَهُ.

دابن عمرنه روايت دې چه هغوی به کله مکې ته راتلل نوپه وادئ ذی طوی کښې به ئې شپه تيروله تردې پورې چه صبابه شو اوغسل به ئې وکړو بيا به دورځې مکې ته داخليدو اونبي کريم ﷺ متعلق به ئې بيان کولو چه هغوی به هم داسې کول.

قوله: ان ابن عمر کان اذا قدم مکة بات بذی طوی حتی يصبح و يغتسل ثم يدخل مکة نهار الخ:

د دخول مکه درې آداب مع اختلاف علماء:

مصنف ترجمة الباب مطلقادخول مکه قائم کړې دی ،بيا ئې دهغې لاندې چه کوم احاديث راوړې دی، دهغې نه د دخول مکه درې آداب مستفاد کيږی، د دخول مکه نه مخکښې غسل کول، دخول نهاراً يعنی د ورځې داخليدل، د ثنية العليا نه مکې ته داخليدل، او د ثنية السفلی نه خارج کيدل، امام بخاری دې څلورو لره په څان څانله مستقل بابونو کښې ذکر کړې دی، ددې څلورو واړو تفصيل دادې:(۱) د دخول مکه دپاره غسل کول بالاتفاق مستحب دې، بيا ډير علماء دا فرمائي چه د غسل په ځائې اودس هم کافی کيدې شی، او شافعيه وائی، که د غسل نه عاجز وی، نو تيمم دې اوکړی،(بذل) دا غسل د مالکيه په نزد لاجل الطواف دې(ځکه چه مکې ته داخليدو سره سمدستی طواف کولې شی، او دا د مسجد حرام تحيه ده) او د باقی ائمه ثلثه په نزد د دخول مکه دپاره دې.

(۲) په دې کښې د علماؤ درې اقوال دی، د احناف او مالکيه په نزد دخول مکه نهاراً مستحب دې، وهو اصح الوجهين للشافعيه، دويم قول دادې، هما سواء، يعنی دخول ليلاً او نهاراً دواړه برابر دی، ددې قائل دی، طاؤس، ثوری، ابوالحسن ماوردی رحمهم الله من الشافعيه واليه ميل الحنابلة، دريم قول دادې، چه دخول ليلاً اولی دې، دی لره ختيار کړې دې، حضرت عائشه رضي الله عنها، او عمربن عبدالعزيز رحمه الله او سعيد بن جبير رحمه الله، څلورم قول چه د بعضو علماؤ نه منقول دې، هغه دادې، چه کوم سړې د خپل وخت امام او مقتدی وی، دهغه دپاره دخول نهاراً اولی دې، دې دپاره چه خلق هغه سره ملاقات اوکړی، او د هغه نه مستفيد شی.

حافظ ابن حجر رحمه الله ليکلې دی، چه د نبی کريم ﷺ معمول په دې کښې دخول نهاراً وو، او دخول ليلاً د هغوی نه صرف يو ځل يعنی عمرة الجعرانه کښې ثابت دی، لکه امام نسائی د

[1]): صحيح البخاري/الصلاة ۸۹(۴۸۴)، والحج ۳۸(۱۵۷۳)، ۳۹(۱۵۷۴)، ۱۴۸(۱۷۶۷)، ۱۴۹(۱۷۶۹)، صحيح مسلم/الحج ۳۸(۱۲۵۹)، سنن النسائي/الحج ۱۰۳(۲۸۶۲)،(تحفة الأشراف: ۷۵۱۳)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الحج ۳۱(۸۵۴)، سنن ابن ماجه/المناسك ۲۶(۲۹۴۰)، موطا امام مالك/الحج ۲(۶)، مسند احمد(۲/ ۸۷)، سنن الدارمي/المناسك ۸۰(۱۹۶۸)(صحيح)

دخول مكة ليلا مستقل باب ترلې دې، او په هغې کښې ئې د محرش کعبي حديث راوړلې دې، د عمرة الجعرانه والا (من تراجم البخارى) دريم او څلورم ادب په مخکښې حديث کښې راروان دې.

[۱۸۶۶](۱) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ جَعْفَرٍ الْبَرْمَكِيُّ، حَدَّثَنَا مَعِنٌ، عَنْ مَالِكٍ. ح وحَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، وَابْنُ حَنْبَلٍ، عَنْ يَحْيَى. ح وحَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ جَمِيعًا، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "كَانَ يَدْخُلُ مَكَّةَ مِنَ الثَّنِيَّةِ الْعُلْيَا"، قَالَا: عَنْ يَحْيَى، إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "كَانَ يَدْخُلُ مَكَّةَ مِنْ كَدَاءٍ مِنْ ثَنِيَّةِ الْبَطْحَاءِ وَيَخْرُجُ مِنَ الثَّنِيَّةِ السُّفْلَى"، زَادَ الْبَرْمَكِيُّ: "يَعْنِي ثَنِيَّتَيْ مَكَّةَ"، وَحَدِيثُ مُسَدَّدٍ أَتَمُّ.

دابن عمرنه روايت دې فرمائي چه نبي کريم ﷺ به دغونډئ د پورتنئ حصې د طرف نه مکې ته تشريف راوړلو مسدد او احمد بن حنبل د يحيٰ نه نقل کوی او وائي چه نبي کريم ﷺ و به د بطحا دغونډئ نه دکداء په طرف مکې ته تشريف راوړلو اودغونډئ په لاندې طرف به واپس تللو مکی ته (عبدالله بن جعفر) مزيد وائی چه دمکې دوه غونډئ مراد دی اودمسدد روايت زيات کامل دې

تشريح: **قوله**: كان يدخل مكة من الثنية العليا: د ثنية عليا نوم كداء دې (۲) (بفتح الكاف المد) او د ثنية سفلى نوم كدىٰ دې، (بضم الكاف والقصر) په صحيح بخارى کښې ددې برعکس دې، يعنى كدى لره ئې اعلى مکه او كداء لره ئې اسفل مکه ليکلې دې، علماؤ دهغې تخطيه کړې ده، چه دا سهو ده، مخکښې حديث عائشة رضی اللہ عنہا راروان دې.

و دخل فى العمرة من كُدى: د ابوداؤد په دې روايت کښې دادی، چه نبي کريم ﷺ د فتح مکه په موقع مکې ته د کُداء نه داخل شوې وو، او په سفر عمره کښې د کدی نه داخل شوې وو، دا دعائشې رضی اللہ عنہا دمشهورحديث نه خلاف دی، باقي په ټولو کښې مطلقًا دا دی، (۳) چه نبي کريم ﷺ مکې ته د علی مکې نه يعنی بره لارې نه داخل شوې وو، (که سفر د حج وو او که د عمرې)

حافظ ابن قيم په زاد المعاد کښې د ابوداؤد ددې روايت لاندې ليکلې دی، چه نبي کريم ﷺ عمره کښې مکې مکرمې ته د کدی نه داخل شوې وو، حالانکه دا خبره د تحقيق نه خلاف ده، حضرت په بذل کښې په دې باندې په تفصيل سره کلام فرمائيلې دې، او د ابوداؤد دې روايت لره ئې غيرمعتمد ګرزولې دې، او دا ئې هم ليکلې دی، چه د ابوداؤد دا روايت د

---

(۱): صحيح البخاري/الحج ٤٠(١٥٧٦)، ٤١(١٥٧٧)، صحيح مسلم/الحج ٣٧(١٢٥٧)، سنن النسائي/الحج ١٠٥(٢٨٦٦)، (تحفة الأشراف: ٧٨٦٩، ٨١٤٠، ٨٣٨٠)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الحج ٣٠(٨٥٣)، سنن ابن ماجه/المناسك ٢٦(٢٩٤٠)، مسند احمد(٢/١٤، ١٩)، سنن الدارمي/المناسك ٨١(١٩٦٩)(صحيح)

(۲) هم ددې نوم حجون هم دې او دا په لاره د معلی (کومه چه د مکې والو قبرستان دې) باندې راکوزيږی، او نن صبا دا ځائې په معاهده نوم باندې مشهور دې هم دلته قصر الملک هم دې او د رابطه اسلامی مرکز هم (جزء الحج).

(۳) لکه چه په خپله ابوداؤد کښې ددې نه پس دعائشې رضی الله عنها حديث راروان دې په هغې کښې هم مطلق دخول مذکور دې.

بیهقی د روایت نه خلاف دي[1]، سره ددي نه چه طریق کښې اتحاد دي.

[۱۸۶۷](2) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "كَانَ يَخْرُجُ مِنْ طَرِيقِ الشَّجَرَةِ وَيَدْخُلُ مِنْ طَرِيقِ الْمُعَرَّسِ".

دعبدالله ابن عمر رضي الله عنهما نه روایت دي فرمائی چه نبی کریم ﷺ به(دمديني منورى نه وتلو نودشجره لاربه ئي اختیاروله(یعنی دذوالحلیفه په لاره په دغه زمانه کښې دغلته کښې یوه اونه هم نه وه) او د معرس په لاره باندې به داخلیدو مدینې ته.

تشریح: قوله: كان يخرج من طريق الشجرة و يدخل من طريق المعرس: ددې حديث تعلق د دخول مکه سره نه دې، بلکه د دخول و خروج عن المدينه سره دې، په اصل کښې دا د اول حديث ټکړه ده، مصنف دې لره د هغې نه جدا کړه، په صحيح مسلم کښې دا دواړه مضامين په يو حديث کښې ذکر دی، فثبت المناسبة بين الحديث والترجمة،(بذل)

شرح حديث:

دا شجره په ذوالحلیفه کښې ده، او د معرس تفسیر(3) بعضو خو په مسجد ذوالحليفه سره کړې دې، او د بعضو د کلام نه معلوميږي، چه هغه مستقل ځائې دې، مسجد ذوالحليفه سره نزدې، حافظ رحمه الله وائی، چه شجره او معرس، په دې دواړو کښې هر يو د مدينې نه شپږ ميله فاصله کښې دې، زۀ د شارحينو د کلام نه پوهه شوم، چه ذوالحليفه يو لوئې ځائې دې، او هلته کښې څه قدر فاصله سره دا دواړه لارې دی(يعنی طريق الشجرة وطريق المعرس) د يوې لارې نه د نبی کريم ﷺ معمول د خروج وو، او بلې لارې باندې معمول د دخول وو، په عون المعبود کښې ئي ليکلي دی، مطلب دادې، چه کله به نبی کريم ﷺ د مدينې نه وتلو، نو په طريق الشجره به وتلو، چه مسجد ذوالحليفه سره نزدې ده، او چه کله به داخليدو، نو په طريق المعرس به داخليدو، او دا لاره د مسجد ذوالحليفه نه لره لاندې ده، ابن بطال وائی، او دا هم داسې ده، لکه څرنګه به چه نبی کريم ﷺ د اختر په ورځ عيد ګاه ته تلو راتللو کښې لاره بدلوله.(چه دهغې مصلحتونه مشهور دی) قال المنذری و اخرجه مسلم والبخاری(عون)

[۱۸۶۸](4) حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ، حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: "دَخَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ الْفَتْحِ مِنْ كَدَاءٍ مِنْ أَعْلَى مَكَّةَ وَدَخَلَ فِي الْعُمْرَةِ مِنْ كُدًى"، قَالَ: وَكَانَ عُرْوَةُ يَدْخُلُ مِنْهُمَا جَمِيعًا، وَكَانَ أَكْثَرُ مَا كَانَ يَدْخُلُ مِنْ كُدًى، وَكَانَ أَقْرَبَهُمَا إِلَى مَنْزِلِهِ.

دعائشې رضي الله عنها نه روایت دي چه رسول الله ﷺ دفتح په کال باندې دهغې دپورتنې حصې نه دکداء په طرف باندې داخل شوې وو او په عمره کښې په کدئ طرف(يعنی په لاندې طرف

---

[1]: خو دا خبره صحيح نه ده، په اصل کښې دلته په بذل المجهود کښې د بيهقی روايات نقل کولو کښې خلط شوې دې کنې په واقع کښې د ابوداؤد دا روايت د بيهقی مطابق دې.

[2]: تفرد به أبو داود،(تحفة الأشراف: ۷۸۷۰)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/الحج ۳۷(۱۲۵۷)، مسند احمد(۲/۲۹-۳۰)(صحيح)

[3]: په دې باندې نور کلام د کتاب الحج په آخری حديث کښې هم راروان دې.

[4]: صحيح البخاري/الحج ۴۱(۱۵۷۸)، والمغازي ۴۹(۴۲۹۰)، صحيح مسلم/الحج ۳۷(۱۲۵۷)،(تحفة الأشراف: ۱۶۷۹۷)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الحج ۳۰(۸۵۳)، مسند احمد(۶/۵۸، ۲۰۱)(صحيح)

راغلی وو او عروه به په دواړه لاروباندې راتللو(کله په یوطرف اوکله په بل طرف، اوداپه اکثرو وختونو کښې کندې طرف ته(لاندې طرف باندې) داخلیدو اوداطرف دهغوی منزل ته زیات قریب وو.

[۱۸۶۹]([1]) حَدَّثَنَا ابْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "كَانَ إِذَا دَخَلَ مَكَّةَ دَخَلَ مِنْ أَعْلَاهَا وَخَرَجَ مِنْ أَسْفَلِهَا".

عائشې رضي الله عنها نه روایت دې چه نبی کریم ﷺ به کله مکې ته داخلیدو نو دهغې دپورتنی حصې نه به ئې تشریف راوړو(په دې لاره کښې دمکې معروف قبرستان دې او په دې طرف باندې راتلو کښې هغوی ته اسانی وه او په واپسئ کښې به په لاندې طرف باندې وتلو.

بَاب فِي رَفْعِ الْيَدَيْنِ إِذَا رَأَى الْبَيْتَ

باب: د بیت الله په لیدو سره د لاسونو پورته کولو بیان

دا ترجمة الباب ماته په صحاح سته کښې صرف په دواؤ کتابونو کښې ملاؤ شوې دې، سنن ابوداؤد او سنن ترمذی، امام ابوداؤد د مطلق رفع الیدین باب قائم کړې دې، او امام ترمذی په کراهة د رفع سره ترجمة الباب قائم کړې دې، باب فی کراهیة رفع الید اذا رآی البیت، او بیا ئې تحت الباب صرف حدیث د جابر رضي الله عنه چه په منع باندې دلالت کوی، راوړې دې، امام ابوداؤد حدیث د جابر رضي الله عنه نه علاوه یو هغه حدیث هم ذکر کړې دې، چه په هغې کښې د رفع الیدین ثبوت دې، یعنی د باب دریم حدیث ثم اتی الصفا فعلاه حیث ینظر الی البیت فرفع یدیه: لیکن په دې باندې دا اشکال کړې شوې دې، چه دا رفع خو دعاء علی الصفا دپاره وه، نه چه عند رؤیة البیت دپاره، دا ځانله خبره ده، چه هلته نه بیت الله شریف په نظر راتلو، بعضو وئیلې دی، چه دا خبره نشته، بلکه په دې کښې دواړه طرفونه دی، دا رفع للدعاء هم وه، او عند رؤیة البیت هم وه، ځکه چه دعاء په صفا باندې هغه ځائې کښې غوختلې شی، د کوم ځائې نه چه بیت الله شریف په نظر راځی.

[۱۸۷۰]([2]) حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مَعِينٍ، أَنَّ مُحَمَّدَ بْنَ جَعْفَرٍ حَدَّثَهُمْ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا قَزَعَةَ يُحَدِّثُ، عَنِ الْمُهَاجِرِ الْمَكِّيِّ، قَالَ: سُئِلَ جَابِرُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ عَنِ الرَّجُلِ يَرَى الْبَيْتَ يَرْفَعُ يَدَيْهِ، فَقَالَ: مَا كُنْتُ أَرَى أَحَدًا يَفْعَلُ هَذَا إِلَّا الْيَهُودَ، وَقَدْ حَجَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ يَكُنْ يَفْعَلُهُ".

دعبدالله بن جابر رضي الله عنه نه تپوس اوکړې شو چه خلك بیت الله اووینی نولاس دی اوچتوی هغوی اوفرمائیل ما د یهودو نه علاوه په داسې عمل کولو باندې بل څوك نه دی لیدلی(هغه خلق بیت المقدس ته ګوری اولاسونه پورته کوی او مونږ د رسول الله ﷺ په موجودګئ کښې دهغه سره حج کړې دې نوهغوی داسې نه کول.

[1]): صحیح البخاري/الحج ٤١(١٥٧٧)، صحیح مسلم/الحج ٣٧(١٢٥٨)، ن الکبري/ الحج ٢٩(٤٢٤١)، سنن الترمذي/الحج ٣٠(٨٥٣)، (تحفة الأشراف: ١٦٩٢٣)، وقد أخرجه: مسند احمد(٤٠/٦)(صحیح)

[2]): سنن الترمذي/الحج ٣٢(٨٥٥)، سنن النسائي/الحج ١٢٢(٢٨٩٨)، سنن الدارمي/المناسك ٧٥(١٩٦١)، (تحفة الأشراف: ٣١١٦)(ضعیف)

سئل جابر بن عبدالله عن الرجل یری البیت یرفع یدیه فقال ما کنت اری احدا یفعل هذا الا الیهود:
په دې مسئله کښې د فقهاؤ اختلاف دې، او روایات حدیثیه هم مختلف دی، د حضرت جابر رضی الله عنه په دې حدیث کښې خو نفی مذکور ده، لیکن مثبتین رفع ددې حدیث تضعیف کړې دې، د دواؤ وجهو نه، یو دا چه ددې په سند کښې مهاجر مکي دې، چه مجهول دې، دویم ددې وجې نه، چه په اکثر روایاتو کښې ثبوت د رفع دې، دهغې تولو نه هغه حدیث چه په کتاب الصلوة کښې د رفع الیدین په مسئله کښې تیر شوې دې، یعنی حدیث ابن عباس رضی الله عنه مرفوع ترفع الایدی فی سبعة مواطن افتتاح الصلوة و استقبال البیت الخ، امام بیهقی په خپل سنن کښې دواړه قسمه روایات ذکر کولو نه پس فرمائیلي دی، چه د ثبوت روایات اګر چه مرسل دی، لیکن د اهل علم په نزد هم هغه اشهر دی. اهـ

په مسئلة الباب کښې مذاهب ائمه:

او په فقهاؤ کښې حضرت امام احمد ددې قائل دې، یو روایت د احنافو هم داسې دې، لیکن راجح عندنا نفی ده، صرح به الطحاوی، دغه شان مالکیه هم ددې قائل دی، د شافعیه دواړه روایتونه دی، امام نووی رحمه الله او بیهقی رحمه الله ثبوت ته ترجیح ورکړې ده.
روایات متعارضه کښې تطبیق په څو طریقو سره کړې شوې دې،(۱) ملا علی قاری رحمه الله فرمائي د ثبوت رفع روایات په اول کرت باندې محمول دی، او د نفی په هرکرت باندې محمول دی، یعنی په بیت الله باندې چه کله اول کرت نظر پریوته نو نبی کریم ﷺ رفع یدین اوکړل، او بیا هر کرت نظر پریوتلو سره ئې نه دی کړې.(۲) حضرت سهارنپوری رحمه الله فرمائي د ثبوت رفع د روایاتو تعلق هغې رفع یدین سره دې، چه د دعا په وخت کښې لاسونه اوچتولې شی، او د نفی تعلق هغې رفع سره دې، چه تعظیما للبیت وی، څرنګه چه په افتتاح الصلوة کښې وی.

تشریح: قوله: ما کنت اری احدا یفعله الا الیهود:
یعنی مسلمانان بیت الله شریف لیدلو سره چرته رفع الیدین کوی، دا خو د یهودیانو طریقه ده، چه کله هغوی خپله قبله اوینی، چه بیت المقدس ده، نو رفع یدین کوی، او که مراد دا دې، چه هغوی بیت الله شریف لیدلو سره رفع یدین کوی، نو په دې صورت کښې به په ظاهر کښې مطلب دا وی، چه هغوی تحقیرا داسې کوی، اشارة الی هدمه، نه تعظیما، ځکه چه هغوی خو د مسلمانانو د قبلې مخالف او دشمنان دی.(بذل)

[۱۸۷۱]() حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا سَلَّامُ بْنُ مِسْكِينٍ، حَدَّثَنَا ثَابِتٌ الْبُنَانِيُّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ رَبَاحٍ الْأَنْصَارِيِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "لَمَّا دَخَلَ مَكَّةَ طَافَ بِالْبَيْتِ وَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ خَلْفَ الْمَقَامِ، يَعْنِي يَوْمَ الْفَتْحِ".

دابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې چه نبی کریم ﷺ کله مکې ته داخل شو نو د بیت الله طواف ئې اوکړو او دمقام ابراهیم شاته په دوه رکعته اوفرمائیل یعنی دفتح مکې په ورځ باندې.

[۱]): تفرد به أبو داود،(تحفة الأشراف: ۱۳۵۶۲)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/الجهاد ۳۱(۱۷۸۰)، مسند احمد(۵۳۸/۲)(صحيح)

[۱۸۷۲]() حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا بَهْزُ بْنُ أَسَدٍ، وَهَاشِمٌ يَعْنِي ابْنَ الْقَاسِمِ، قَالَا: حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ الْمُغِيرَةِ، عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ رَبَاحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: "أَقْبَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَدَخَلَ مَكَّةَ، فَأَقْبَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الْحَجَرِ فَاسْتَلَمَهُ، ثُمَّ طَافَ بِالْبَيْتِ، ثُمَّ أَتَى الصَّفَا فَعَلَاهُ حَيْثُ يَنْظُرُ إِلَى الْبَيْتِ، فَرَفَعَ يَدَيْهِ فَجَعَلَ يَذْكُرُ اللَّهَ مَا شَاءَ أَنْ يَذْكُرَهُ وَيَدْعُوهُ"، قَالَ: وَالْأَنْصَارُ تَحْتَهُ، قَالَ هَاشِمٌ: فَدَعَا وَحَمِدَ اللَّهَ وَدَعَا بِمَا شَاءَ أَنْ يَدْعُوَ.

عبدالله بن رباح دابوهريره رضي الله عنه نه روايت كوي فرمائي چه رسول الله ﷺ تشريف راوړو او مکې ته داخل شو اود حجراسود طرف ته ورغې هغه ئې ښکل کړو بيائې دبيت الله طواف اوکړو بياصفا طرف ته راغې اوپه هغه باندې بره اوختلو دکوم ځائې نه چه بيت الله شريف په نظر راتلو بيا هغوى خپل دواړه لاسونه پورته کړل اودالله ذکرئې کولو څومره چه دالله پاک خوښه وه اودعائې کوله اوانصاردهغه سره وو د حديث راوى هاشم وائى دعائې اوفرمائيله اودالله حمدئې اوکړو اوڅه چه ئې خوښ وو هغه ئې دالله تعالى نه اوغوښتل.

والانصاب تحته : دا د احجار صفت دې، يعنى احجار منصوبه(نصب کړې شوې کاڼرى) دهغوى لاندې وو، غالبا ددې نه هغه کاڼرى مراد دې، چه په صفا ډهيرئ باندې ختلو دپاره هلته کښې ايخودلې شوې وو، د پوړو پشان، او د حضرت رائې په بذل کښې داده، چه شايد ددې نه مراد اصنام دى(مورتى) چه هلته کښې صفا باندې د مخکښې نه کافرانو ايخودلې وو، او د تحته مطلب دادې، چه نبى کريم ﷺ په هغې باندې اودريدلو، هغه د پښو لاندې کولو دپاره، او په بعضو نسخو کښې د انصاب په ځائې انصار دې، يعنى حضور ﷺ خو صفا باندې وو، او بعضې انصارى صحابه کرام د هغوى مخښې ته د ډهيرئ نه لاندې ولاړ وو،(٢) دا واقعه د فتح مکه د موقع ده.

بَابٌ فِي تَقْبِيلِ الْحَجَرِ

باب د حجر اسود ښکلول

[۱۸۷۳]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عَابِسِ بْنِ رَبِيعَةَ، عَنْ عُمَرَ، أَنَّهُ جَاءَ إِلَى الْحَجَرِ فَقَبَّلَهُ، فَقَالَ: "إِنِّي أَعْلَمُ أَنَّكَ حَجَرٌ لَا تَنْفَعُ وَلَا تَضُرُّ، وَلَوْلَا أَنِّي رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُقَبِّلُكَ مَا قَبَّلْتُكَ".

---

(١): انظر حديث رقم(١٨٧١)،(تحفة الأشراف: ١٣٥٦٢)(صحيح)

(٢)، په دې باندې به سوال کيږى چه دا صحابه کرام د حضورپاک ﷺ سره صفا ته ولې نه اوختل؟ جواب که دا ختل د سعى بين الصفا والمروه دپاره وې نو صحابه به هم پورته ختلې وې ليکن دا ختل خو دبل غرض دپاره وو يعنى دعا او صحابو ته دخطاب وغيره دپاره او ددې نه مخکښې چه کوم طواف حضور ﷺ کړې وو هغه دعمرې طواف نه وو چه دهغې نه پس حضور ﷺ سعى کړې وې. والله أعلم (بذل)

(٣): صحيح البخاري/الحج ٥٠(١٥٩٧)، ٥٧(١٦٠٥)، ٦٠(١٦١٠)، صحيح مسلم/الحج ٤١(١٢٧٠)، سنن الترمذي/الحج ٣٧(٨٦٠)، سنن النسائي/الحج ١٤٧(٢٩٤٠)،(تحفة الأشراف: ١٠٤٧٣)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/المناسك ٢٧(٢٩٤٣)، موطا امام مالك/الحج ٣٦(١١٥)، مسند احمد(٢١/١، ٢٦، ٣٤، ٣٥، ٣٩، ٤٦، ٥١، ٥٣، ٥٤)، سنن الدارمي/المناسك ٤٢(١٩٠٦)(صحيح)

ترجمه: دعمر رضی الله عنه روایت دې چه هغوی دحجر اسود خواته راغلل او هغه ئې ښکل کړو بیائي اوفرمائیل بې شکه زه پوهیږم چه ته صرف یو کاڼړې ئې نه نفع ورکولې شې او نه نقصان که چرې ما رسول الله ﷺ لره نه وې لیدلې چه ته ئې ښکل کړې وې نوما به ته نه وې ښکل کړې.
عن عمر رضی الله عنه انه جاء الی الحجر فقبله فقال انی اعلم انك حجر لا تنفع و لا تضر الخ:
حضرت عمر رضی الله عنه یو ځل د حجر اسود تقبیل اوکړو، او دهغې نه پس ئې اوفرمائیل، زهٔ پوهیږم، چه تهٔ یو کاڼړې ئې، نه تهٔ نفع رسولې شې، او نه نقصان رسولې شې، دا حدیث په صحاح سته کښې موجود دې، په صحاح کښې خو بس دومره قدرې دې، حافظ رحمه الله وائی، د حاکم په روایت کښې دا زیاتوالې دې، چه د حضرت عمر رضی الله عنه دې فرمائیلو نه پس حضرت علی رضی الله عنه اوفرمائیل بل یا امیر المؤمنین انه ینفع و یضر، او بیا ئې د حضور ﷺ ارشاد نقل کړو، چه ما دهغوی نه واؤریدل، چه حجر اسود لره به د قیامت په ورځ میدان حشر ته راؤړلې شی، او دهٔ ته به ګویائی ورکړې شی، کومو خلقو چه په ایمان او توحید سره ددهٔ استلام کړې وی، دهغوی په حق کښې به دې ګواهی ورکوی، علماؤ لیکلې دی، حضرت عمر رضی الله عنه چه څه دې باره کښې اوفرمائیل هغه ددې مصلحت د وجې نه، چه کوم خلق نوې نوې مسلمانان شوې دی، د استلام حجر د وجې نه چرته هغوی په شك او تردد کښې مبتلاء نشی، او دې لره د عبادت اصنام د قبیلې نه اونه ګڼړی.
د حجر اسود په فضائلو کښې روایات په صحیحینو کښې خو نشته، په ابوداؤد کښې هم نشته، البته په ترمذی شریف او نور کتابونو د احادیثو کښې شته، په بذل المجهود کښې حضرت بعضې نقل کړې دی، هلته کښې دې اوکتلې شی، دلته کښې بخوف اطالة مونږ نه لیکلو.
ولولا انی رایت رسول الله (صلی الله علیه و سلم) یقبلك ما قبلتك:
شارحینو لیکلې دی، چه ددې نه یوه قاعده کلیه معلومه شوه، هغه دا چه په امورو د دین کښې اصل څیز اتباع د شارع ده، که مونږ ته دهغې کار علت او حکمت معلوم وی، او که نه، د شارع مخښې ته سر ټیټول پکار دی.

باب استلام الأركان

باب د کعبې د ارکانو استلام (لاس لګول او ښکلولو) بیان

د بیت الله په ارکان اربعه باندې کلام او دهغې تعارف په باب وقت الاحرام کښې رایتك تصنع اربعا لم اراحدا من اصحابك یصنعها الخ د لاندې تیر شوې دې، استلام یا خو سلام بمعنی د تحیه نه ماخوذ دې، (ګویا کاڼړې ښکلول، دهغې تعظیم او سلام کول دی) یا سلام بکسر السین بمعنی الحجارة یعنی مس الحجارة، او وئیلې شوې دی، چه دا ماخوذ دې د لامه نه، بمعنی دوسلې، نو څرنګه چه انسان د دوسلې په ذریعې سره د دشمن نه محفوظ کیږی، دغه شان کوم سړې چه حجر اسود مس کړی، هغه ګویا د عذاب نه محفوظ کیږی. (اوجز)

[١٨٧٤]() حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ الطَّيَالِسِيُّ، حَدَّثَنَا لَيْثٌ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ سَالِمٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: "لَمْ أَرَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمْسَحُ مِنَ الْبَيْتِ إِلَّا الرُّكْنَيْنِ الْيَمَانِيَيْنِ".

دابن عمر نه روایت دي چه ما رسول الله ﷺ لره اولیدلو چه هغوی د بیت الله شریف صرف د دوو یماني ارکانو استلام کولو.

[١٨٧٥]() حَدَّثَنَا مَخْلَدُ بْنُ خَالِدٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَالِمٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، "أَنَّهُ أُخْبِرَ بِقَوْلِ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، إِنَّ الْحِجْرَ بَعْضُهُ مِنَ الْبَيْتِ، فَقَالَ ابْنُ عُمَرَ: وَاللَّهِ إِنِّي لَأَظُنُّ عَائِشَةَ إِنْ كَانَتْ سَمِعَتْ هَذَا مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، إِنِّي لَأَظُنُّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَتْرُكِ اسْتِلَامَهُمَا إِلَّا أَنَّهُمَا لَيْسَا عَلَى قَوَاعِدِ الْبَيْتِ، وَلَا طَافَ النَّاسُ وَرَاءَ الْحِجْرِ إِلَّا لِذَلِكَ".

ابن عمر رضي الله عنهما ته دعائشې رضي الله عنها دابیان اوښودلې شو چه دحجر څه حصه دبیت الله نه ده نوهغوی اوفرمائیل قسم په الله باندې زماخیال دې چه عائشې رضي الله عنها نه که داخبره د رسول الله ﷺ نه اوریدلې ده نوزه پوهیږم چه رسول الله ﷺ هم ددې ارکانو استلام صرف ددې وجې نه ترک فرمائیلې وو چه دادبیت الله شریف په اصل بنیادونو باندې نه دی اوخلق هم دحجر نه بهر په دې بناء باندې طواف کوې.

ان الحجر بعضه من البيت: دا حجر د حاء په کسرې سره دې، چه هغې ته حطیم هم وئیلې شی، چه د خانه کعبې شمال طرف ته د نصف دائرې په شکل کښې د احاطې په طور باندې یو دیوال دې، تقریبا د یو سړی د قد برابر اوچت، د بیت الله شریف د عمارت نه لره فاصله کښې، دا دیوال ددې ظاهرولو دپاره قائم کړې شوې دې، چه ددې دننه حصه هم په خانه کعبه کښې داخل ده، اګر چه د کعبې شریفې عمارت ددې نه مخکښې پوره شوې دې، ددې منشاء مخکښې چرته دیو حدیث دلاندې تیره شوې ده، ددې وجې دې حصې لره هم په طواف کښې شاملولې شی.

[١٨٧٦]() حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ أَبِي رَوَّادٍ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَدَعُ أَنْ يَسْتَلِمَ الرُّكْنَ الْيَمَانِيَ وَالْحَجَرَ فِي كُلِّ طَوْفَةٍ"، قَالَ: وَكَانَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ يَفْعَلُهُ.

دابن عمر نه روایت دې چه رسول الله ﷺ به په هیڅ یوچکر کښې درکن یماني او حجراسود استلام نه پریخودلو، عبدالله بن عمر به هم داسې کول.

[1]: صحيح البخاري/الحج ٥٧(١٦٠٦)، ٥٩(١٦١١)، صحيح مسلم/الحج ٤٠(١٢٦٨)، سنن النسائي/الحج ١٥٧(٢٩٥٢)، (تحفة الأشراف: ٦٩٠٦، ٦٩٨٨)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/المناسك ٢٧(٢٩٤٦)، مسند احمد(٢/٨٦، ٨٩، ١١٤، ١١٥، ١٢٠)(صحيح)

[2]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٦٩٥٨)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الحج ٥٩(١٦٠٨)، صحيح مسلم/الحج ٤٠(١٣٣٥)، سنن النسائي/الحج ١٥٦(٢٩٥١)، سنن ابن ماجه/المناسك ٢٧(٢٩٤٦)، مسند احمد(٢/٨٦، ١١٤، ١١٥)، سنن الدارمي/المناسك ٢٥(١٨٨٠)(صحيح)

[3]: سنن النسائي/الحج ١٥٦(٢٩٥٠)، (تحفة الأشراف: ٧٧٦١)(حسن)

بَابُ الطَّوَافِ الْوَاجِبِ

باب د واجب طواف بیان

د طواف واجب نه مراد طواف زیارت دې، دې ته طواف افاضه هم وئیلې شی، په حج کښې درې طوافونه وی، طواف قدوم، طواف زیارت، طواف وداع.

[١٨٧٧]() حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي يُونُسُ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ يَعْنِي ابْنَ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُتْبَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "طَافَ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ عَلَى بَعِيرٍ يَسْتَلِمُ الرُّكْنَ بِمِحْجَنٍ".

دعبدالله بن عباس رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم په حجة الوداع کښې په اوښ باندې سور شو او طواف ئې اوکړو هغوی ته به په امسا باندې رکن مسه کولو.

عن ابن عباس ان رسول الله(صلى الله عليه و سلم) طاف فى حجة الوداع على بعيره:

په حدیث کښې امور اربعه وضاحت طلب:

په دې حدیث کښې څو امور او مسائل دی،(١) د طواف ماشیا کیدل ضروری دی او که غیر ضروری(٢) نبی کریم صلی الله علیه وسلم طواف راکبا ولې کړې وو؟ په دې کښې څه مصلحت وو.(٣) دا طواف چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم راکباً کړې وو، کوم یو وو.(۴) نبی کریم صلی الله علیه وسلم په دې حج کښې ټول څومره طوافونه کړې وو.

بحث اول: (طواف په ماشیاً وی)

د طواف ماشیا کول د احنافو او مالکیه په نزد واجب دی، بغیر د عذر نه راکبا جائز نه دې، و يعيد ما دام بمكة والا يجب الدم، او د امام شافعی رحمه الله په نزد مشی صرف مستحب ده، وعن الحنابلة روايتان.

بحث ثانی: (د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د طواف راکباً مصلحتونه)

په طواف راکبا کښې چه کوم مصلحتونه وو، هغه په روایاتو کښې مصرح دی ليراه الناس و ليشرف و يسالوه، يعنى دې دپاره چه خلق د نبی کریم صلی الله علیه وسلم په آسانئ سره زیارت اوکړی، او دې دپاره چه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم نظر هم په ټولو باندې وی، او په سوال او جواب کښې آسانی وی. او په یو روایت کښې دی، كراهية ان يضرب عنه الناس، طواف پیدل کولو په صورت کښې د خلقو ټیل وهل، او اخوا دیخوا کول وو، ځکه چه خلق د زیارت په شوق کښې ډیر زیات راتلل، د رکوب په صورت کښې دهغې نه امن دې، مخکښې په یو روایت کښې دا راروان دی، انه قدم مكة وهو يشتكى، ددې نه معلومیږی، چه ددې علت د طبیعت ناسازی وه، لیکن دا حدیث ضعیف دې.

(): صحيح البخاري/الحج ٥٨(١٦٠٧)، ٦١(١٦١٢)، ٦٢(١٦١٣)، ٧٤(١٦٣٢)، الطلاق ٢٤(٥٢٩٣)، صحيح مسلم/الحج ٤٢(١٢٧٢)، سنن النسائي/المساجد ٢١(٧١٤)، الحج ١٥٩(٢٩٥٧)، ١٦٠(٢٩٥٨)، سنن ابن ماجه/المناسك ٢٨(٢٩٤٨)،(تحفة الأشراف: ٥٨٣٧)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الحج ٤٠(٨٦٥)، مسند احمد(١/٢١٤، ٢٣٧، ٢٤٨، ٣٠٤)، سنن الدارمي/المناسك ٣٠(١٨٨٧)(صحيح)

بحث ثالث: (د نبي کريم ﷺ طواف ماشيا کوم طواف وو؟)
ظاهره خبره داده، چه دا طواف زيارت وو، هم دا رائې د حضرت ده په بذل کښې، او هم دا رائې د حافظ ابن قيم هم ده، وبه جزم النووي في مناسكه، او ددې تائيد ددې نه کيږي، چه مخکښې باب طواف الافاضه کښې چه کوم حديث راروان دې، په هغې کښې ددې خبرې تصريح ده، چه نبي کريم ﷺ په دې طواف کښې رمل نه وو کړې، دهغې وجه داده، چه نبي کريم ﷺ په هغې کښې راکب وو، په خلاف د طواف قدوم، چه په هغې کښې د هغوی رمل کول، په حديث د جابر ﷺ کښې ذکر دی، او رمل په طواف ماشيا کښې کيدې شي، (بذل و هامشه)

بحث رابع: (په حج کښې د نبي کريم ﷺ ټول طوافونه)
نبي کريم ﷺ خو درې طوافه بالاتفاق کړې وو. د ټولو نه مخکښې مکې مکرمې ته رسيدلو سره نبي کريم ﷺ چه کوم طواف کړې وو. هغه عند الجمهور طواف قدوم وو، او عند الحنيفه طواف عمره وو، ځکه چه هغوی قارن وو. او عند الجمهور په قران کښې طواف عمره مستقل نه وی (کما تقدم الخلاف) او دويم طواف زيارة ئې کړې وو، او دريم طواف وداع، دا درې طوافه د روايات کثيره نه ثابت دی، په دې کښې هيڅ تردد نشته، على مسلک الجمهور خو خبره صفا او واضحه ده، ليکن على مسلک الحنفيه څلور طوافه کول پکار دی، د طواف عمره نه پس طواف قدوم هم د ددوی په نزد د قارن دپاره مسنون دې، اوس داچه ددې ثبوت هم شته او که نه، د طحاوی د ظاهر کلام نه خو د ثبوت انکار معلوميږي، ليکن حضرت شيخ په جزء الحج کښې ليکلي دی، چه د حجة الوداع په کال نبي کريم ﷺ مکې ته په څلورم ذی الحجه باندې رسيدلې وو، او د هغه وخت نه تر يوم الترويه پورې تقريبا څلور ورځې دهغوی په مکه مکرمه کښې قيام وو، په يوم الترويه باندې منى ته روان شو، نو د هغوی د احوالو نه دا خبره بعيده معلوميږي، چه په دې څلورو ورځو کښې نبي کريم ﷺ د عمرې نه علاوه بل هيڅ يو طواف نه وی کړې، حالانکه په ايام منى کښې هم (چه په هغې کښې د حاجی قيام په منى کښې وی) د بعضو رواياتو نه معلوميږي، چه نبي کريم ﷺ مکې مکرمې ته تشريف راوړې دې، او طواف ئې کړې دې، فکيف لا هو بمكة والله سبحانه و تعالى اعلم.

[۱۸۷۸] ([1]) حَدَّثَنَا مُصَرِّفُ بْنُ عَمْرٍو الْيَامِيُّ، حَدَّثَنَا يُونُسُ يَعْنِي ابْنَ بُكَيْرٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ إِسْحَاقَ، حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرِ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي ثَوْرٍ، عَنْ صَفِيَّةَ بِنْتِ شَيْبَةَ، قَالَتْ: "لَمَّا اطْمَأَنَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَكَّةَ عَامَ الْفَتْحِ طَافَ عَلَى بَعِيرٍ يَسْتَلِمُ الرُّكْنَ بِمِحْجَنٍ فِي يَدِهِ، قَالَتْ: وَأَنَا أَنْظُرُ إِلَيْهِ".

دصفيه بنت شيبه ﷺ نه روايت دې چه دفتح مکې په کال هرکله چه رسول الله ﷺ ته اطمينان حاصل شونو نبي ﷺ په خپل اوښ باندې طواف اوکړو، فرمائي چه ما نبي کريم ﷺ لره ليدلو چه په خپلې عصا سره به ئې درکن استلام کولو.

[1]: سنن ابن ماجه/المناسك ۲۸(۲۹۴۷)،(تحفة الأشراف: ۱۵۹۰۹)(حسن)

يستلم الركن بمحجن: محجن هغه لرګی ته وئيلې شي، چه دهغې سر کوږ او تاؤ شوې وي (لکه د کونټۍ پشان) په طواف راکبا کښې خو د حجر اسود تقبيل کيدې نشي، استلام باليد هم نشي کيدې، ددې وجې نه نبی کريم ﷺ د استلام باليد په ځائې استلام بالمحجن کولو، يعنې په لرګی سره ئې حجر اسود مسه کوؤ، بيا ئې دهغې محجن تقبيل کولو، ګويا د حجر اسود تقبيل بالواسطه اوشو، لکه چه مخکښې د ابوالطفيل په حديث کښې راروان دی، يستلم الركن بمحجنه ثم يقبله، دغه شان طواف ماشيا کښې هم که د رش د وجې نه تقبيل نه شی کولې، نو په استلام باليد باندې دې اکتفا اوکړی، او که دا هم نه کيږی، نو د طواف په دوران کښې چه کله د حجر اسود محاذات ته اورسی، نو دهغې استقبال دې اوکړی، او د تکبير تحريمې پشان دې رفع يدين اوکړی،([1]) او بسم الله الله اکبر دې اوائی، امام ترمذی رحمه الله فرمائې، والعمل على هذا عند اهل العلم يستحبون تقبيل الحجر فان لم يمكنه ان يصل اليه استلمه بيده و قبل يده، و ان لم يصل اليه استقبله اذا حاذى به و كبر وهو قول الشافعي. اهـ

د استلام سره متعلق څو فروع مختلف فيها:

اوس دلته کښې په څو امورو کښې د علماؤ اختلاف دې،(۱) د کوم څيز په ذريعې سره چه د حجر اسود استلام کولې شی،(يد يا محجن) دهغې تقبيل عند الجمهور مستحب دې، او د امام مالک رحمه الله په نزد مستحب نه دې،(۲) په کوم صورت کښې چه دا وئيلې شوې دی، چه استقبال حجر دې اوکړی تکبير سره، هغه وخت کښې به اشاره باليد هم کوی او که نه، د ائمه ثلثه په نزد اشاره مستحب ده، خلافا لمالک رحمه الله فلا يستحب عنده، او اشاره باليد کولو نه پس تقبيل د يد هم مستحب دې او که نه، د احنافو او شافعيه په نزد مستحب دې، ولا يستحب عند احمد(جزء الحج)

[۱۸۷۹]([2]) حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، وَمُحَمَّدُ بْنُ رَافِعٍ الْمَعْنَى، قَالَا: حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ، عَنْ مَعْرُوفٍ يَعْنِي ابْنَ خَرَّبُوذَ الْمَكِّيَّ، حَدَّثَنَا أَبُو الطُّفَيْلِ، قَالَ: "رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَطُوفُ بِالْبَيْتِ عَلَى رَاحِلَتِهِ يَسْتَلِمُ الرُّكْنَ بِمِحْجَنِهِ ثُمَّ يُقَبِّلُهُ"، زَادَ مُحَمَّدُ بْنُ رَافِعٍ: "ثُمَّ خَرَجَ إِلَى الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ فَطَافَ سَبْعًا عَلَى رَاحِلَتِهِ".

ابوالطفيل نه وائی چه ما نبی عليه السلام لره اوليدو چه هغه په خپل اوښ باندې سور وو او دبيت الله طواف کښې کولو په خپلې عصا سره ئې درکن اسلام کولو اوبيابه ئې هغې لره ښکلولو محمد بن رافع مزيد وائی بيا هغوی صفا مروه طرف ته تشريف يوړو اوپه خپله سورلئ باندې ئې دهغې په مابين کښې اوه چکرې اولګولې.

تشريح: قوله: ثم خرج الى الصفا والمروة فطاف سبعا على راحلته: دا سعى بين الصفا والمروه راکبا ده، په دې کښې هم مذاهب د علماء هم هغه دی، کوم چه په طواف بالبيت راکبا کښې دی، د احنافو او مالکيه په نزد بغير د عذر نه جائز نه دی، د امام شافعی رحمه الله په نزد جائز

[1] په دې طريقه چه د لاسونو تلې حجر اسود طرف ته وی
[2] صحيح مسلم/الحج ۳۹(۱۲۷۵)، سنن ابن ماجه/المناسك ۲۸(۲۹۴۹)،(تحفة الأشراف: ۵۰۵۱)، وقد أخرجه: مسند احمد(۵/۴۵۴)(صحيح)

دی، وعن احمد روايتان.

[۱۸۸۰]() حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، أَخْبَرَنِي أَبُو الزُّبَيْرِ، أَنَّهُ سَمِعَ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ، يَقُولُ: "طَافَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ عَلَى رَاحِلَتِهِ بِالْبَيْتِ وَبِالصَّفَا وَالْمَرْوَةِ لِيَرَاهُ النَّاسُ وَلِيُشْرِفَ وَلِيَسْأَلُوهُ فَإِنَّ النَّاسَ غَشُوهُ".

دجابر بن عبدالله رضی الله عنه نه روايت دې چه نبی کريم صلی الله علیه وسلم په حجة الوداع کښې په خپله سورلۍ باندې سورشو دبيت الله طواف ئې اوکړو او د صفا مروه سعی ئې اوکړه ددې دپاره چه خلق هغوی لره اووينی اوهغه دخلقو نه لوړ وی اوخلق دهغه نه پوښتنې اوکړی ځکه چه خلقو هغوی لره په ګيره کښې راوستې وو.

[۱۸۸۱]() حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ أَبِي زِيَادٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، "أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدِمَ مَكَّةَ وَهُوَ يَشْتَكِي فَطَافَ عَلَى رَاحِلَتِهِ، كُلَّمَا أَتَى عَلَى الرُّكْنِ اسْتَلَمَ الرُّكْنَ بِمِحْجَنٍ، فَلَمَّا فَرَغَ مِنْ طَوَافِهِ أَنَاخَ فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ".

دعبدالله بن عباس رضی الله عنهما نه روايت دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم مکه مکرمې ته تشريف راوړو اودهغه طبيعت برابر نه وو چنانچه هغه په خپلې سورلۍ باندې طواف اوکړو هغه و چه به کله هم د حجراسود خواته تللو نوپه خپلې امساسره به ئې دهنی استلام کولونو کله چه هغه دخپل طواف نه فارغ شو نو(خپله اوښه ئې کينوله اودوه رکعته ئې اداکړل.

[۱۸۸۲]() حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ نَوْفَلٍ، عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ زَيْنَبَ بِنْتِ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهَا قَالَتْ: شَكَوْتُ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنِّي أَشْتَكِي، فَقَالَ: "طُوفِي مِنْ وَرَاءِ النَّاسِ وَأَنْتِ رَاكِبَةٌ"، قَالَتْ: فَطُفْتُ وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَئِذٍ يُصَلِّي إِلَى جَنْبِ الْبَيْتِ وَهُوَ يَقْرَأُ بِ: الطُّورِ وَكِتَابٍ مَسْطُورٍ.

دام المومنين ام سلمه نه روايت دې فرمائی چه ما رسول الله صلی الله علیه وسلم ته اووئيل چه زما طبيعت خراب دې نونبی علیه السلام اوفرمائيل په سورلۍ باندې سورشو اودخلقو شاته طواف اوکړه وائی چه ما طواف اوکړو او رسول په دغه وخت کښې دبيت الله شريف په طرف کښې مونځ کولو اوهغه د(الطور وکتاب مسطور) قرائت فرمائيلو.

عن ام سلمة انها قالت شكوت الى رسول الله(صلى الله عليه وسلم)........... قالت فطفت و رسول الله(صلى الله عليه وسلم) حينئذ يصلى الى جنب البيت وهو يقرأ بالطور و كتاب مسطور.

طواف د ام سلمه رضی الله عنها راکبا:

حضرت ام سلمه رضی الله عنها د خپل څه عذر(مرض) وغيره د وجې نه د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اجازت

---

[1]): صحيح مسلم/الحج ٤٢(١٢٧٣)، سنن النسائي/الحج ١٧٣(٢٩٧٨)،(تحفة الأشراف: ٢٨٠٣)، وقد أخرجه: مسند احمد(٣١٧/٣، ٣٣٤)(صحيح)

[2]): تفرد به أبو داود،(تحفة الأشراف: ٦٢٤٨)، وقد أخرجه: مسند احمد(٢١٤/١، ٣٠٤)(ضعيف)

[3]): صحيح البخاري/الصلاة ٧٨(٤٦٤)، الحج ٦٤(١٦١٩)، ٧١(١٦٢٦)، ٧٤(١٦٣٣)، تفسير سورة الطور ١(٤٨٥٣)، صحيح مسلم/الحج ٤٢(١٢٧٦)، سنن النسائي/الحج ١٣٨(٢٩٢٨)، سنن ابن ماجه/المناسك ٣٤(٢٩٦١)،(تحفة الأشراف: ١٨٢٦٢)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الحج ٤٠(١٢٣)، مسند احمد(٢٩٠/٦، ٣١٩)(صحيح)

اوغوختلو، او طواف راکښا ئې اوکړو، دا طواف وداع وو، د ۱۴ ذی الحجې واقعه ده، او د نبی کریم ﷺ دا مونځ د سحر مونځ وو، رسول الله ﷺ د منی نه وتلو نه پس په محصب کښې حصار شو، بیا د هلته نه په اخیره شپه کښې ئې د طواف وداع دپاره مکې مکرمې ته تشریف راوړو، او د سحر مونځ ئې هم ادا کړو، کوم وخت چه رسول الله ﷺ د سحر مونځ ادا کولو، عین په دغه وخت کښې أم سلمه رضي الله عنها طواف کولو،(۱) مونځ د بیت الله شریف سره بالکل متصل ادا کیدو، او ام سلمه رضي الله عنها طواف راکښا د خلقو شاته کولو، دې دپاره چه تباعد عن الرجال او تستر حاصل شي، او په سورلئ سره مونځ گزار ته تکلیف اونه رسي.

فائده : په حجة الوداع کښې د حضور ﷺ دمکې مکرمې نه واپسی مدینې منورې ته چه په کومه ورځ اوشوه، دهغې ورځې د نبی کریم ﷺ د سحر د مونځ ذکر په کتب صحاح کښې هیڅ روایت کښې نشته، سوا د ام سلمه رضي الله عنها ددې روایت نه. یا کم از کم ماته نه دې ملاؤ شوې، قال المنذری والحدیث اخرجه البخاری و مسلم و النسائی وابن ماجه(عون)

بَابُ الْاِضْطِبَاعِ فِي الطَّوَافِ

باب: په طواف کښې د اضطباع بیان

[۱۸۸۳](۲) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، عَنْ ابْنِ جُرَيْجٍ، عَنْ ابْنِ يَعْلَى، عَنْ يَعْلَى، قَالَ: "طَافَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُضْطَبِعًا بِبُرْدٍ أَخْضَرَ".

د یعلی بن امیه رضي الله عنه نه روایت دې چه نبی کریم ﷺ طواف - اوکړو په داسې حال کښې چه هغوی اضطباع کړې وه او څادر دشین رنگ وو.

په اصل کښې په مناسک حج کښې بعضې څیزونه داسې دی، چه د انبیاؤ او اولیاؤ یادگار دې، مثلا سعی بین الصفا والمروه، دغه شان رمی جمرات علی هذا رمل واضطباع، دا دواړه څیزونه هم حضور ﷺ د یو خاص وقتی مصلحت د وجې نه په عمرة القضاء کښې اختیار فرمائیلي وو، لیکن ددې سلسله روستو هم شروع شوه، لکه منځکښې د حضرت عمر رضي الله عنه ارشاد دې، فیما الرملان و الکشف عن المناکب الخ، اگر چه په دې زمانه کښې د رمل او اضطباع (چه په هغې کښې کشف مناکب وی) حاجت نشته، ځکه چه الله تعالی اسلام ته مضبوطوالي ورکړې دې،(۳) لیکن کوم کار چه مونږ د حضور ﷺ په زمانه کښې کولو، هغه به نه پریږدو.

(۱) په دې کښې مصلحت هم دا وو چه سړی په خپل کار کښې مشغول اوسی او دوی په خپل کار کښې، اود طواف راکښا په وجه چه کومه بې پردگی کیږی هغه نه وو.(نووی)

(۲): سنن الترمذي/الحج ۳۶(۸۵۹)، سنن ابن ماجه/المناسك ۳۰(۲۹۵٤)،(تحفة الأشراف: ۱۱۸۳۹)، وقد أخرجه: مسند احمد(٤/۲۲۲، ۲۲۳، ۲۲٤)، سنن الدارمي/المناسك ۲۸(۱۸۸۵)(حسن)

(۳) اودا هم وئیلې شوی دی چه حضور ﷺ په عمرة القضاء کښې خو اضطباع د اظهار تشجع دپاره کړې وه او ددې نه پس په حجة الوداع کښې د امن دحصول باوجود اظهار د تشکر یعنی د نعمت د تذکره دپاره، لکه څنگه چه په محصب کښې د قیام هم یوه وجه دا بیانولې شي.

[۱۸۸٤]() حَدَّثَنَا أَبُو سَلَمَةَ مُوسَى، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُثْمَانَ بْنِ خُثَيْمٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، "أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَصْحَابَهُ اعْتَمَرُوا مِنَ الْجِعْرَانَةِ فَرَمَلُوا بِالْبَيْتِ وَجَعَلُوا أَرْدِيَتَهُمْ تَحْتَ آبَاطِهِمْ قَدْ قَذَفُوهَا عَلَى عَوَاتِقِهِمُ الْيُسْرَى".

دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دې فرمائي چه رسول الله ﷺ او دهغه صحابو دمقام جعرانه نه عمره اوکړه او د بيت الله کښې هغوی رمل اوکړو اوخپل. څادرونه ئې دخپلو ترخونو لاندې ګرځولي وو اوپه ګسه اوګه باندې ئې اچولي وو.

اضطباع (۲) دې ته وئيلې شي، چه د احرام څادر دهغې د مينځ نه د ښي ترخ لاندې راؤباسي، او دهغې يو سر مخکښې سينې طرف ته او دويم سر شاته ملا طرف ته په ګسه اوګه باندې واچوي، چونکه په دې کښې ابداء ضبعين وي، د سرې دواړه لاسونه او يوه اوګه ښکاري، ددې وجې نه دې ته اضطباع وئيلې شي، رمل او اضطباع دواړه د اظهار تشجع (يعنی بهادری ښکاره کولو دپاره) کولې شي، ددې مقصد مخکښې په روايت کښې راروان دې، او بعضو د اضطباع حکمت دا ليکلې دې، چه دا په اسراع د مشی کښې معين دې، په دې حالت کښې تيز تلل اسان وي،

اضطباع عند الائمة الثلثه مسنون دې، او امام مالک رحمه الله ددې قائل نه دې، اضطباع د طواف په ټولو شوطونو کښې کولې شي، او رمل صرف د شروع په درې اشواطو کښې، اضطباع د رمل په شان عند الحنفيه والشافعيه على الراجح صرف په هغه طواف کښې مستحب دې، چه دهغې نه پس سعی وي.

فائده : اضطباع د سنن د روايتو نه ثابت دې، په صحيحين او سنن نسائی کښې ددې حديث او باب نشته، امام ترمذی رحمه الله د اضطباع حديث ته حسن صحيح ليکلې دی، په خلاف د رمل چه هغه نه صرف د صحيحينو نه بلکه د صحاح سته نه ثابت دې.

بَاب فِي الرَّمَلِ (۳)

باب: په طواف کښې د رمل بيان

په دې کښې څو بحثونه دی، **معنى الرمل، حكمه، لمن، في اى طواف، في كم اشواط، في كم جوانب، حكمة الرمل**، دا اووه بحثونه دی،

بحث اول: (د رمل معنی)

هو اسراع المشى مع تقارب الخطى وهز المنكبين، اوګې خوزولو سره واړهٔ واړهٔ قدمونه اخستل، او معمولی شان تيز رفتار سره تلل، څرنګه چه د مقابلې په وخت کښې پهلوانان تلل کوی.

(۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٥٥٣٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٢٩٥، ٣٠٦، ٣٧١) (صحيح)

(۲) افتعال من الضبع بسكون الباء الموحدة وهو العضد. (نووي).

(۳) رَمَل بفتحتين از باب نصر.

بحث ثاني: (د رمل حکم)

د ائمه اربعه په نزد سنت دی، د ابن الماجشون مالکی او ابن حزم په نزد واجب دی، د حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه ددې انکار منقول دې، لکه چه د باب په رومبی حدیث کښې راروان دی.

بحث ثالث: (رمل دچا دپاره دې؟)

د ائمه ثلثه په نزد مکی او آفاقی دواړو دپاره دې، د امام احمد رحمه الله په نزد صرف آفاقی دپاره دې. (۱)

بحث رابع: (رمل به په کوم طواف کښې وی؟)

د امام احمد رحمه الله په نزد صرف طواف قدوم کښې، د احنافو او شافعيه په نزد فی کل طواف بعده سعی، دهر هغه طواف نه پس، چه دهغې نه پس سعی کولې شی.

ددې تفصيل دادې، مثلا په حج افراد کښې صرف يوه سعی وی، که د طواف قدوم نه پس اوکړې شی، او که د طواف زيارت نه پس، پس که د چا اراده د طواف قدوم نه پس د سعی کولو وی، نو رمل به په هغه طواف قدوم کښې کوی، او طواف وداع کښې هم رمل نشته، ځکه چه ددې نه پس سعی بين الصفا والمروه نه وی، او د امام مالک رحمه الله په نزد په طواف قدوم کښې شته، او که په دې کښې ئې اونه کړه، نو په طواف زيارت کښې به ئې کوی، حضرت شيخ خو داسې ليکلې دی، ليکن د دوی په مسلک کښې ددې نه زيات تفصيل معلوميږی، كما يظهر من الاوجز.

بحث خامس: (د طواف په څومره چکرونو کښې به رمل کولې شی؟)

رمل د ائمه اربعه په نزد د شروع په اشواط ثلثه کښې دی، که په هغې کښې ئې اونه کړو، نو بيا ددې قضا او تلافی په نورو اشواطو کښې نشی کولې، ځکه چه په باقی اشواطو کښې د سکون او وقار هيئت اختيارول مسنون دی، په دې کښې د عبدالله بن زبير رضی الله عنه اختلاف دې، دهغوی په نزد رمل په ټولو اشواطو کښې سنت دې، (منهل عن النووی)

بحث سادس: (رمل به د بيت الله د څلورو واړو طرفونو نه کولې شی)

رمل عند الائمه الاربعه د بيت الله په جوانب اربعه کښې مسنون دې، خلافا لبعض التابعين، اذ قالوا يمشي فيما بين الركنين، يعنی د رکن يمانی او رکن حجر اسود په مينځ کښې به رمل نه وی، هلته کښې به خپل معتاد، (د عادت مطابق) تګ سره تګ کوی، ددې منشاء به مخکښې معلومه شی.

بحث سابع: (د رمل بعضې حکمتونه)

د رمل حکمت او مصلحت اظهار د جلادة او قوت (بهادری) دې، ددې منشاء مخکښې په

---

(۱) حضرت شيخ همدا ليکلی دی ليکن زرقانی مالکی د امام مالک مشهول قول هم ليکلې دې، او دويم قول هغه کوم چه جمهورو دې چه د مکی په حق کښې مستحب دې.

روايت کښې راروانه ده، دا خو د ابتداء په اعتبار سره دې،(١) واما الآن فحكمته تذكر نعمة الامن و حصول الغلبة على الكفار.

[١٨٨٥](٢) حَدَّثَنَا أَبُو سَلَمَةَ مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ الْغَنَوِيُّ، عَنْ أَبِي الطُّفَيْلِ، قَالَ: قُلْتُ لِابْنِ عَبَّاسٍ: "يَزْعُمُ قَوْمُكَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ رَمَلَ بِالْبَيْتِ وَأَنَّ ذَلِكَ سُنَّةٌ، قَالَ: صَدَقُوا وَكَذَبُوا، قُلْتُ: وَمَا صَدَقُوا وَمَا كَذَبُوا؟ قَالَ: صَدَقُوا، قَدْ رَمَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَكَذَبُوا: لَيْسَ بِسُنَّةٍ، إِنَّ قُرَيْشًا قَالَتْ زَمَنَ الْحُدَيْبِيَةِ: دَعُوا مُحَمَّدًا وَأَصْحَابَهُ حَتَّى يَمُوتُوا مَوْتَ النَّغَفِ، فَلَمَّا صَالَحُوهُ عَلَى أَنْ يَجِيئُوا مِنَ الْعَامِ الْمُقْبِلِ فَيُقِيمُوا بِمَكَّةَ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ، فَقَدِمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالْمُشْرِكُونَ مِنْ قِبَلِ قُعَيْقِعَانَ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأَصْحَابِهِ: ارْمُلُوا بِالْبَيْتِ ثَلَاثًا وَلَيْسَ بِسُنَّةٍ، قُلْتُ: يَزْعُمُ قَوْمُكَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَافَ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ عَلَى بَعِيرِهِ وَأَنَّ ذَلِكَ سُنَّةٌ، فَقَالَ: صَدَقُوا وَكَذَبُوا، قُلْتُ: مَا صَدَقُوا وَمَا كَذَبُوا؟ قَالَ: صَدَقُوا، قَدْ طَافَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ عَلَى بَعِيرِهِ، وَكَذَبُوا: لَيْسَ بِسُنَّةٍ كَانَ النَّاسُ لَا يُدْفَعُونَ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَا يُصْرَفُونَ عَنْهُ، فَطَافَ عَلَى بَعِيرٍ لِيَسْمَعُوا كَلَامَهُ وَلِيَرَوْا مَكَانَهُ وَلَا تَنَالُهُ أَيْدِيهِمْ".

دابوطفیل نه روایت دې چه ما عبد الله بن عباس ته اووئیل ستاسو دقوم خیال دې چه رسول الله په طواف کښې رمل کړې دې اودا چه داسنت دی نوهغه اوفرمائیل چه هغه رښتیا وئیلی دی اوځه غلط، ما اووئیل چه ځه ئې رښتیاوئیلی دی - اوځه غلط و ئې فرمائیل داخو رښتیا دی چه رسول - الله و رمل کړې وو مګرسنت وئیل غلط دی په و حقیقت کښې قریشو دحدیبیه په زمانه کښې وئیلی ا وو چه محمد اودهغه اصحابو لره پریږدی تردې پورې چه هغه خپله دخاروو په مرګ باندې مړه شی بیاچه کله هغوی دنبی ﷺ سره صلح اوکړه چه داخلق به کله راځی او په مکه کښې به دری ورځې. مقیم وی چنانچه رسول الله ﷺ تشریف راوړو نومشرکینو دکوه قعقعان دطرف نه کتل نوپه دغه وخت کښې رسول الله ﷺ خپلو صحابو ته اوفر مائیل دبیت الله شریف نه په دریو چکروکښې رمل اوکړئ یعنی خپلې اوږې وهی اوپه مزه مزه باندې منډې وهئ داخوځه سنت نه دی ما اووئې ستاسو دقوم خیال دې چه رسول الله ﷺ دصفا اودمروه سعی کړې وه په داسې حال کښې چه هغه په اوښ باندې سور وو اوداهم سنت دی نوهغه اوفرمائیل رښتیا دادی چه رسول الله ﷺ دصفا او مروه سعی په اوښ باندې سور ور کړې ده اودوی دروغ وئیلی دی چه داسنت دی خلق د رسول الله ﷺ نه نۀ شولړې کولې اونه ترینه اړولې شو اوخلقو په هغه باندې ازدهام ګڼه جوړه کړې وه نوهغه په اوښ باندې سور شواو سعی ئې کوله ددې دپاره چه داخلق دهغوی خبره واوری هغه لره اووینی اوددوی لاسونه دهغوی پورې اونه رسی.

تشریح: قوله: عن ابی الطفیل قال قلت لابن عباس........ قال صدقوا و کذبوا.

---

(١) یعنی رمل کولو سره دا خبره په ذهن کښې راځی چه یو وخت هغه وو چه دلته په مکه مکرمه کښې د کافرانو او مشرکانو تسلط وو او دهغوی د استهزاء او تمسخر دفعه کولو دپاره مونږ ته د رمل کولو هدایت راکړې شوې وو او یو وخت الحمد لله دادی چه هرڅه مو په خپله قبضه کښې دی.

(٢): صحيح مسلم/الحج ٣٩(١٢٦٤)،(تحفة الأشراف: ٥٧٧٦)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/المناسك ٢٩(٢٩٥٣)، مسند احمد(١/٢٢٩، ٢٣٣، ٢٩٧، ٢٩٨، ٣٦٩، ٣٧٢، ٣٧٣)(صحيح)

شرح حدیث:

د حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه تپوس اوکړې شو، چه ډېر خلق دا وائی، چه حضور ﷺ د بیت الله شریف په طواف کښې رمل کړې دې، او دا چه رمل مستقل سنت دې، هغوی په جواب کښې اوفرمائیل، په دې کښې یوه خبره رشتیا ده، او یوه خبره دروغ ده، سائل ددې تشریح اوغوښتله، نو وې فرمائیل، چه دا خو صحیح ده، چه نبی کریم ﷺ رمل کړې دې، لیکن دا خبره چه دا مستقل سنت دې، غلطه ده (بیا ددې نه پس هغوی د رمل ابتداء او دهغې د مشروعیة علت بیان کړو) چه د عمرة القضاء په کال کله چه حضور ﷺ د صحابه کرامو یو جماعت سره مکې مکرمې ته د عمرې دپاره تشریف راوړو، نو چونکه د کافرانو په ذهن کښې د مخکښې نه دا خبره وه، چه مدینه یو وبائی ښهر دې، دهغه ځائې تبه ډېره سخته وی، ددې وجې نه هغوی وئیل، چه د مدینې تبه وهونکې طواف دپاره راغلې دی، وهنتهم حمی یثرب، چالره چه د یثرب تبې کمزورې کړې دی (هغوی به څرنګه طواف اوکړی) ددې نه علاوه دا ئې هم اوکړل، چه حطیم طرف ته چه کومه ډهیرئ ده، چه هغې ته جبل قعقعان وئیلې شی، په هغې باندې دغه کافران کیناستل، چه کله مسلمانان دلته راشی، او طواف کوی، نو مونږ به هغوی پورې ټوقې کوؤ، الله تعالی حضور ﷺ د کافرانو ددې وینا نه خبردار کړو (دشمن چه کند چو مهربان باشد دوست) پس نبی کریم ﷺ دهغوی دې افواه او منصوبې لره ناکامه کولو دپاره صحابه کرامو ته هدایت اوفرمائیلو، چه په دې طواف کښې رمل اوکړئ، او په ټوپونو ټوپونو سره طواف اوکړئ، او په روستنی روایت کښې دا هم دی، چه نبی کریم ﷺ ورته د اضطباع حکم هم اوفرمائیلو.

(رمل مستقل سنت دې)

د حضرت ابن عباس رضی الله عنه د جواب حاصل دادې، چه رمل نبی کریم ﷺ د یو وقتی ضرورت او مصلحت د وجې نه کړې وو، او هغه علت اوس موجود نه دې، لهذا دا سنت مستقله نه دې، جمهور دا وائی، چه نبی کریم ﷺ رمل دهغې نه پس په حجة الوداع کښې هم کړې دې، ددې وجې نه دا سنت مستقله دې.

قوله: حتی یموتوا موت النغف: تر دې پورې چه هغوی هلاک شی، په دومره کثرت سره، څرنګه چه اوښان او ګډې بزې هلاکیږی د نغف د وجې نه، نغف یو چینجې وی، چه د اوښانو او بزو په پوزه کښې پیدا کیږی، دهغې د وجې نه په لږ ساعت کښې په ...ونو مړهٔ کیږی،

قوله: قلت یزعم قومک ان رسول الله (صلی الله علیه وسلم) طاف بین الصفا والمروة علی راحلته وان ذلک سنة: دا دویم سوال دې، چه د سعی سره متعلق دې، ددې باره کښې هم هغوی هم دا اوفرمائیل، چه نبی کریم ﷺ سعی راکبا د یوې مجبورئ د وجې نه فرمائیلې وه، چه خلق ډېر زیات وو، خلق د هغوی د زیارت د شوق په وجه مخکښې راتلل، او لرې کولو سره لرې کیدل نه، نو نبی کریم ﷺ سعی راکبا اوفرمائیله، لیسمعوا کلامه و لیروا مکانه الخ، دې دپاره

چه خلق په اسانئ سره دهغوی خبره واؤری، او د لرې نه دهغوی زیارت هم اوکړې شی، او د خلقو لاسونه هغوی ته اونه رسی، بخلاف سعی ماشیا، چه په دې صورت کښې به لویه پریشانی وه، چا به د نبی کریم ﷺ لاس نیولو، او چابه لمن نیوله، الله اکبر، د صحابه کرامو د شوق او جانثارئ عجیبه حالت وو، صلی الله علیه و سلم شرف کرم و ضی عن اصحابه و ارضاهم، قال المنذری وابوالطفیل هو عامر بن واثلة وهو آخر من مات من الصحابه رضی الله عنهم و قد اخرج هذا الحدیث مسلم فی صحیحه(عون)

[١٨٨٦](١) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، أَنَّهُ حَدَّثَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "قَدِمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَكَّةَ وَقَدْ وَهَنَتْهُمْ حُمَّى يَثْرِبَ، فَقَالَ الْمُشْرِكُونَ: إِنَّهُ يَقْدَمُ عَلَيْكُمْ قَوْمٌ قَدْ وَهَنَتْهُمُ الْحُمَّى وَلَقُوا مِنْهَا شَرًّا، فَأَطْلَعَ اللَّهُ سُبْحَانَهُ نَبِيَّهُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى مَا قَالُوهُ، فَأَمَرَهُمْ أَنْ يَرْمُلُوا الْأَشْوَاطَ الثَّلَاثَةَ، وَأَنْ يَمْشُوا بَيْنَ الرُّكْنَيْنِ، فَلَمَّا رَأَوْهُمْ رَمَلُوا، قَالُوا: هَؤُلَاءِ الَّذِينَ ذَكَرْتُمْ أَنَّ الْحُمَّى قَدْ وَهَنَتْهُمْ، هَؤُلَاءِ أَجْلَدُ مِنَّا"، قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: "وَلَمْ يَأْمُرْهُمْ أَنْ يَرْمُلُوا الْأَشْوَاطَ كُلَّهَا إِلَّا إِبْقَاءً عَلَيْهِمْ".

د عباس رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ مکې ته تشریف راوړو اودې خلقو لره دیثرب تبې کمزورې کړې وو نومشرکینو اووئیل تاسوته یوداسې قوم راغلی دې چه هغوی لره تبې کمزوری کړې دی اوهغه ته ددې نه زیات اذیت رسیدلې دې الله تعالی دمشرکینو ددې وینا کومه چه هغه کړې وه خپل پیغمبرته اطلاع ورکړه پس نبی علیه السلام هغه ته حکم اوکړو چه تاسو په دریو چکرو کښې رمل اوکړئ اودرکن یمانی اوحجراسود په مینځ کښې په عام رفتارسره ځئ لهذا هرکله چه دې خلقو هغوی لره په رمل کولوباندې اولیدل نووئې وئیل ددې خلقو په باره کښې تاسو وائی چه دوی لره تبې کمزوری کړی دی داخو زمونږ نه زیات طاقتور دې، ابن عباس نه فرمائی چه نبی علیه السلام په خپلو اصحابو کراموباندې شفقت اوفرمائیلو اوپه تمامو چکرو کښې ئې درمل حکم اونه فرمائیلو.

عن سعید بن جبیر انه حدث عن ابن عباس........ وان یمشوا بین الرکنین،

د رکن یمانی او رکن حجر اسود په مینځ کښې خپل تګ سره تلل، یعنی رمل نه کول، ددې وجه په بل روایت کښې دا راروانه ده، چه کافرانو د کتلو دپاره په کومه ډهیرئ باندې ناست وو، هغه حطیم طرف ته وه، چه د رکنین یمانیین جانب مقابل دې، نو صحابه کرامو به د طواف کولو په وخت کښې چه کله دغه طرف ته راغلل، نو چونکه په مینځ کښې به د بیت الله شریف عمارت حائل وو، نو هغوی به کافرانو ته په نظر نه راتلل، او د رمل نه مقصود هغوی ته ښودل وو، ددې وجې نه په دې طرف کښې رمل اونه کړې شو، ددې وجې نه بعضې علماء دا فرمائی، چه رمل به صرف په جوانب ثلثه کښې وی، کما تقدم فی البحث السادس، جمهور دا وائی، چه نبی کریم ﷺ په حجة الوداع کښې په جوانب اربعه کښې رمل کړې دې، لهذا په هغې باندې به عمل کولې شی.

---

١): ● تخريج:صحيح البخاري/الحج ٥٥(١٦٠٢)، والمغازي ٤٤(٤٢٥٦)، صحيح مسلم/الحج ٣٩(١٢٦٦)، سنن النسائي/الكبري/ الحج(٣٩٤٢)،(تحفة الأشراف: ٥٤٣٨)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الحج ٣٩(٨٦٣)، مسند احمد(٢٢١/١، ٢٥٥، ٣٠٦، ٣١٠، ٣١١، ٣٧٣)(صحيح)

هؤلاء اجلد منا: دا خو زمونږ نه هم زيات قوی دی، او مخکښې دهغوی مقوله دا راروانه ده، کانهم الغزلان، چه دوی خو د هوسئ د بچو پشان ټوپونه وهی،(غزلان بروزن غلمان جمع غزال، د هوسئ بچې)

الا الابقاء عليهم: د ابقاء معنی شفقت ده، يعنی په ټولو اشواطو کښې د رمل حکم شفقة نه دې ورکړې شوې، ګنی سترې کيدل لازمی دی.

قال المنذری واخرجه البخاری و مسلم والنسائی.

[۱۸۸۷]([1]) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ عَمْرٍو، حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ سَعْدٍ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: سَمِعْتُ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ، يَقُولُ: "فِيمَ الرَّمَلَانُ الْيَوْمَ وَالْكَشْفُ عَنِ الْمَنَاكِبِ، وَقَدْ أَطَّأَ اللَّهُ الْإِسْلَامَ وَنَفَى الْكُفْرَ وَأَهْلَهُ مَعَ ذَلِكَ، لَا نَدَعُ شَيْئًا كُنَّا نَفْعَلُهُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ".

اسلم عدوی رضی الله عنه فرمائی چه ما دعمربن خطاب بدنه نه واوريدل هغوی فرمائيل نن صبا دا اوګې وهل اوددې، بربندول ولې دی(ددی خوڅه ضرورت نشته دې) و حالانکه الله تعالی دين لره قوی اومضبوط کړې دې اوکفر اوکفارولره ئې دې ځائې نه ويستلی دی سره ددې نه مونږ هغه عمل نه شو پريخودلې کوم چه مونږ د رسول الله ﷺ په دور کښې کولو.

[۱۸۸۸]([2]) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي زِيَادٍ، عَنِ الْقَاسِمِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّمَا جُعِلَ الطَّوَافُ بِالْبَيْتِ وَبَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ وَرَمْيُ الْجِمَارِ لِإِقَامَةِ ذِكْرِ اللَّهِ".

دعائشې رضی الله عنها نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل دبيت الله طواف دصفا مروه سعی اوجمراتو - و لره په ګيتوباندې ويشتل دا ټول دالله دذکرد قائمولو دپاره دی.

عن عائشة رضی الله عنها قالت قال رسول الله(صلی الله عليه وسلم) انما جعل الطواف بالبيت و بين الصفا والمروة و رمی الجمار لاقامة ذکر الله.

د بيت الله شريف طواف، سعی بين الصفا والمروه او رمی جمار ددې دپاره مشروع شوې دی، چه دې تاريخی او مقدس مقاماتو کښې الله تعالی ياد کړې شی، لهذا دا ټول کارونه په پوره توجه سره کول پکار دی، نه په غفلت سره، علماؤ ليکلې دی، چه اګر چه د ټولو عباداتو نه مقصود ذکر الله دې، ددې امورو تخصيص ددې وجې نه اوکړې شو، چه دا کارونه په ظاهر کښې عبادت نه معلوميږی.

[۱۸۸۹]([3]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سُلَيْمَانَ الْأَنْبَارِيُّ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سُلَيْمٍ، عَنِ ابْنِ خُثَيْمٍ، عَنْ أَبِي الطُّفَيْلِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اضْطَبَعَ فَاسْتَلَمَ وَكَبَّرَ، ثُمَّ رَمَلَ ثَلَاثَةَ أَطْوَافٍ، وَكَانُوا إِذَا بَلَغُوا الرُّكْنَ الْيَمَانِيَ وَتَغَيَّبُوا مِنْ قُرَيْشٍ مَشَوْا، ثُمَّ يَطْلُعُونَ عَلَيْهِمْ يَرْمُلُونَ، تَقُولُ قُرَيْشٌ: كَأَنَّهُمُ الْغِزْلَانُ"، قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: فَكَانَتْ سُنَّةً.

[1]: سنن ابن ماجه/المناسك ۲۹(۲۹۵۲)،(تحفة الأشراف: ۱۰۳۹۱)، وقد أخرجه: مسند احمد(۱/٤٥)(حسن صحيح)

[2]: سنن الترمذي/الحج ٦٤(۹۰۲)،(تحفة الأشراف: ۱۷۵۳۳)، وقد أخرجه: مسند احمد(٦/٦٤، ۷۵، ۱۳۸)، سنن الدارمي/المناسك ۳٦(۱۸۹۵)(ضعيف)

[3]: تفرد به أبو داود،(تحفة الأشراف: ۵۷۷۷، ۵۷۷۹)(صحيح)

دابن عباس ته نه روایت دي چه رسول الله ﷺ اضطباع اوکړه خپل څادرئي دښئ اوګي لاندې کړو اودګسي اوګي دپاسه ئي واچولوبیائي دحجراسود استلام اوکړو او الله اکبر کښي اووئيل بيا ئي په دريو چکرو کښي رمل اوکړو صحابه کرام چه کله رکن يمانى ته اورسيدل اودقريشو د نظرونونه به غائب شول نوپه عام رفتار سره به تلل بياچه به کله دهغوى مخي ته راتلل نوپه مزه مزه باندي به ئي منډه وهله قريشو اووئيل داخوګوياچه اوسئ دي. ابن عباس نه اوفرمائيل داسنت دي.

[۱۸۹۰]([1]) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُثْمَانَ بْنِ خُثَيْمٍ، عَنْ أَبِي الطُّفَيْلِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، "أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَصْحَابَهُ اعْتَمَرُوا مِنَ الْجِعْرَانَةِ فَرَمَلُوا بِالْبَيْتِ ثَلَاثًا وَمَشَوْا أَرْبَعًا".

دعبدالله بن عباس رضی الله عنهما نه روايت دي چه رسول الله ﷺ اودهغه اصحابو د جعرانه نه عمره اوکړه اوهغوى په بيت الله کښي رمل اوکړواوپه څلورو چکرو کښي په خپل عام رفتارسره تلل.

[۱۸۹۱]([2]) حَدَّثَنَا أَبُو كَامِلٍ، حَدَّثَنَا سُلَيْمُ بْنُ أَخْضَرَ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ، عَنْ نَافِعٍ، "أَنَّ ابْنَ عُمَرَ رَمَلَ مِنَ الْحَجَرِ إِلَى الْحَجَرِ، وَذَكَرَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَعَلَ ذَلِكَ".

دنافع نه روايت دي چه ابن عمره دحجر اسود نه ترد حجراسود پورې رمل اوکړو (يعنى په پوره چکرکښي) اوذکرئي کړل چه رسول الله ﷺ داعمل کړې وو

بَابُ الدُّعَاءِ فِي الطَّوَافِ

د طواف په دوران کښي دعا کول

باب الدعاء فى الطواف په صحاح سته کښي يو کتاب کښي هم ماته ملاؤ نشو، البته باب الكلام فى الطواف په بخاری او نسائی کښي موجود دې، او امام ترمذی په باب بلاترجمه کښي د کلام فى الطواف حديث ذکر کړې دې، امام بخاری په باب الكلام فى الطواف کښي د ابن عباس رضی الله عنهما حديث ذکر کړې دې، دهغې مضمون دادې، چه يو ځل دطواف کولو په وخت کښي د حضور ﷺ تيريدنه په يو داسې سړی اوشوه، چه طواف ئي کولو، او هغه خپل لاس د تسمې وغيره په ذريعې سره د بل سړی لاس سره تړلې وو، او هغه دواړو په داسې حالت کښي طواف کولو، نبی کريم ﷺ هغه تسمه په خپل لاس مبارک سره قطع کړه، او په ژبه مبارکه ئي دا اوفرمائيل، خذبيده، چه د تړلو په ځائې دده لاس اونيسه، ددې حديث نه د کلام فى الطواف ثبوت اوشو، ځکه چه نبی کريم ﷺ د طواف کولو په دوران کښي هغه ته اوفرمائيل خذبيده، او امام ترمذی رحمه الله د ابن عباس رضی الله عنهما يو روايت مرفوعه ذکر کړې دې، الطواف حول البيت مثل الصلوة الا انكم تتكلمون فيه فمن تكلم فيه فلا يتكلم الا بخير، او هم دا

[1]): سنن ابن ماجه/ الحج ۲۹(۲۹۵۳)،(تحفة الأشراف: ۵۷۷۷)، وقد أخرجه: مسند احمد(۲۴۷/۱، ۲۹۵، ۳۰۵، ۳۰۶، ۳۱۴)(صحيح)

[2]): صحيح مسلم/الحج ۳۹(۱۲۶۲)،(تحفة الأشراف: ۷۹۰۶)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الحج ۶۳(۱۶۱۶)، سنن النسائي/الحج ۱۵۰(۲۹۴۳)، سنن الترمذي/الحج ۳۳(۸۵۶)، سنن ابن ماجه/المناسك ۲۹(۲۹۵۰)، موطا امام مالك/الحج ۳۴(۱۰۸)، مسند احمد(۱۰۰/۲، ۱۱۴)، سنن الدارمي/المناسك ۲۷(۱۸۸۲)(صحيح)

دواړه روايتونه امام نسائی رحمه الله ذکر کړي دی، په هغې کښې داسې دی، الطواف بالبيت صلوة فاقلوا من الکلام، معلومه شوه، چه کلام فی الطواف جائز دې، د جمهور علماء ائمه اربعه هم دا مذهب دې، ددې تمهيد نه پس دا پيژندل پکار دی، چه په طواف کښې څه دعا غوختل پکار دی، په حديث الباب کښې دا دی، چه حضور ﷺ د طواف کولو په وخت کښې کله رکنين يمانيين ته اورسيدو، نو هغه وخت ئې ربنا آتنا فی الدنيا حسنة الخ اولوستلو، په دې سلسله کښې د حج چه کوم کتابونه چاپ شوې دی، او د حج په زمانه کښې چه هلته کښې تقسيمیږی، په هغې کښې د طواف د هر هر شوط دپاره ځان ځانله دعا ليکلې دی، ليکن دهغې دعاګانو ثبوت حديث کښې نشته، په قسطلانی شرح بخاری کښې دی، ابن المنذر فرمائي، چه طواف کښې د حضور ﷺ نه هيڅ دعا ثابته نه ده، سوا د ربنا آتنا فی الدنيا حسنه الخ نه بين الرکنين يمانيين، بيا هغوی مخکښې ليکلې دی، چه د رافعی نه نقل دی، چه په طواف کښې قراءة د قران افضل دې، د دعاء غير ماثور نه، او دعاء ماثور افضل ده د تلاوت د قران نه، او صاحب هدايه ليکلې دی، چه په طواف کښې ذکر الله افضل دې، بنسبت د تلاوت، او د مالکيه په نزد طواف کښې قراءة مکروه دی. ١هـ مختصراً

[١٨٩٢](١) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ عُبَيْدٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ السَّائِبِ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَا بَيْنَ الرُّكْنَيْنِ: "رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ".

عبدالله بن سائب رضی الله عنه فرمائی چه ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل چه هغه درکن يمانی او د حجراسود په مينځ کښې دادعافرمائيله (ربنا آتنا فی الدنيا حسنه وفی الآخرة حسنة وقنا عذاب النار) اې زمونږه ربه مونږ ته په دنيا کښې خير عنايت اوفرمائی او په آخرت کښې هم خير راکړې او مونږ لره د اُور دعذاب نه محفوظ اوساتې.

[١٨٩٣](٢) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ، عَنْ مُوسَى بْنِ عُقْبَةَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "كَانَ إِذَا طَافَ فِي الْحَجِّ وَالْعُمْرَةِ أَوَّلَ مَا يَقْدَمُ فَإِنَّهُ يَسْعَى ثَلَاثَةَ أَطْوَافٍ وَيَمْشِي أَرْبَعًا ثُمَّ يُصَلِّي سَجْدَتَيْنِ".

ابن عمر رضی الله عنهما نه روايت دې چه رسول الله ﷺ حج اوپه عمره کښې (مکې ته) تشريف راوړو اوکوم اول طواف (طواف قدوم) چه به ئې کولونو دهغې په دريو چکرو کښې به ئې په مزه مزه باندې منډه وهله اوپه څلورو کښې به په عام رفتار سره تلو بيابه ئې دوه رکعته ادا کول.

ثم يصلي سجدتين: دا هغه دوه رکعته دی، چه د طواف نه پس کولې شی، (تحية الطواف) دا مونځ چونکه د متعلقاتو د طواف نه دې، او مونځ په دعا باندې مشتمل وی، پس ګويا په هغې کښې دعا غوختل دعاء فی الطواف ده، (بذل)

١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٥٣١٦)، وقد أخرجه: سنن النسائي/ الكبري/ الحج (٣٩٣٤)، مسند احمد (٤١١/٣) (حسن)

٢): صحيح البخاري/ الحج ٦٣ (١٦١٦)، صحيح مسلم/ الحج ٣٩ (١٢٦١)، سنن النسائي/ الحج ١٥١ (٢٩٤٤)، (تحفة الأشراف: ٨٤٥٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (١١٤/٢) (صحيح)

تحية الطواف د احنافو په نزد واجب دي، او د امام احمدرحمه الله په نزد سنت دي، او د شافعيه نه دواړه اقوال نقل دی، او دريم قول دادی، چه د طواف واجب نه پس واجب دي، او د غير واجب نه پس سنت دي، د مالکيه په نزد دا ټول اقوال دی، (جزء الحج)

بَابُ الطَّوَافِ بَعْدَ الْعَصْرِ

بابه د مازیګر نه پس د طواف کولو بیان

[١٨٩٤] (١) حَدَّثَنَا ابْنُ السَّرْحِ، وَالْفَضْلُ بْنُ يَعْقُوبَ وَهَذَا لَفْظُهُ، قَالَا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بَابَاهَ، عَنْ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ، يَبْلُغُ بِهِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَا تَمْنَعُوا أَحَدًا يَطُوفُ بِهَذَا الْبَيْتِ وَيُصَلِّي أَيَّ سَاعَةٍ شَاءَ مِنْ لَيْلٍ أَوْ نَهَارٍ". قَالَ الْفَضْلُ: إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "يَا بَنِي عَبْدِ مَنَافٍ لَا تَمْنَعُوا أَحَدًا".

جبير بن مطعم رضی الله عنه دنبی کريم صلی الله علیه وسلم نه روايت کوی چه هغه اوفرمائيل چالره مه منع کوئ په کوم وخت په کښې چه هم څوك ددي کور طواف کول غواړی اوکه مونځ کول اوغواړی(نوا ودی کړي) ورځ وی که شپه، خواه که هر وخت وي.

تشريح: قوله: عن جبير بن مطعم بلغ به النبی(صلی الله عليه وسلم) قال لا تمنعوا احدا يطوف بهذا البيت و يصلی ای ساعة شاء من ليل او نهار:

قوله: د لا تمنعوا خطاب بنو عبدمناف ته دي، لکه چه په بعضو رواياتو کښې دی، يا عبد مناف لا تمنعوا الخ، په دي حديث کښې بنوعبدمناف ددي خبري نه منع کړي شوي دی، چه هغوی چالره منع کړی، د بيت الله شريف د طواف کولو نه، يا په مسجد حرام کښې د مونځ کولو نه، په هر وخت کښې، که شپه وی او که ورځ وی.

دا حديث د سنن اربعه روايت دي، په دي سره شافعيه په دي باندي استدلال کړي دي، چه په مکه مکرمه کښې هيڅ يو وخت وقت مکروهه نه دي، بلکه هلته کښې هر وخت مونځ کولي شی، کما تقدم فی کتاب الصلوة، ددي جواب او مذاهب ائمه هلته کښې تير شوي دی، علامه سندهی رحمه الله د حديث مطلب دا ليکلي دي، چه د نبی کريم صلی الله علیه وسلم مراد دادي، چه کوم سړی هم مسجد حرام ته د طواف يا مونځ په ارادي سره داخليدل غواړی، په ورځ کښې يا شپه کښې، هر وخت کښې، نو تاسو لره د هغه د منع کولو حق نشته، او دا مطلب نه دي، چه په مکه کښې که څوک هر وخت مونځ يا طواف کول غواړی، نو کوی دي، او دا مطلب ددي وجي نه اخستلي شوي دي، چه دا حديث د احاديث النهی خلاف نشی، او د حرم شريف چه کوم دربان وو، هغوی به خپل حکومت چلوؤ، هر سړی ته به ئي هر وخت د داخليدو اجازت نه ورکوؤ، ددي وجي نه هغوی ته تنبيه ورکړي شوه، (کذا سمعت من بعض الاساتذة)

ددي نه پس پوهه شئ، چه طواف بعد العصر يا بعد الفجر بالاتفاق جائز دي، البته په تحية الطواف کښې اختلاف دي، د احنافو او مالکيه په نزد مکروه دي، د شافعيه او حنابله په

---

(١): سنن الترمذي/الحج ٤٢(٨٦٨)، سنن النسائي/المواقيت ٤١(٥٨٦)، والحج ١٣٧(٢٩٢٧)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ١٤٩(١٢٥٦)، (تحفة الأشراف: ٣١٨٧)، وقد أخرجه: مسند احمد(٤/٨٠، ٨١، ٨٤)، سنن الدارمي/المناسك ٧٩(١٩٦٧)(صحيح)

نزد هغه هم بلاکراهت جائز دې، دهغوی استدلال دهغه حديث دجبیربن مطعم نه دې، چه دهغې جواب مونږ بره ليکلې دې. والله تعالی اعلم.

بَابُ طَوَافِ الْقَارِنِ

باب: دقران کونکی د طواف بیان

دا مشهوره اختلافی مسئله ده، چه مخکښې څو ځايونو کښې تيره شوې ده،([1]) عند الجمهور په قارن باندې صرف يو طواف او يوه سعی ده، او عند الحنفيه لا بد له من طوافين و سعيين.

د طواف قارن په سلسله کښې د فريقينو د استدلال جائزه:

په دې باب کښې مصنف رحمه الله درې احاديث ذکر کړې دی، حديث جابر بن عبدالله رضی الله عنه، او دوه احاديث د حضرت عائشې رضی الله عنها، په هغې کښې اول حديث د سنن اربعه او د صحيح مسلم دې، او دويم حديث د نسائی شريف، او دريم حديث د صحيح مسلم دې، ددې نه علاوه کوم حديث په دې سلسله کښې چه متفق عليه دې، د کوم تخريج چه بخاری او مسلم دواړو کړې دې، هغې لره مصنف په باب الافراد کښې راوړې دې، يعنی حديث عائشه رضی الله عنها چه دهغې په آخر کښې دادی، واما الذين جمعوا بين الحج والعمرة فانما طافوا طوافا واحدا، امام بخاری رحمه الله په باب طواف القارن کښې اول دا حديث ذکر کړې دې، ددې حديث چه کومه توجيه زمونږ د طرف نه کولې شی، هغه مونږ په باب الافراد کښې ليکلې ده، او الحمدلله هغه توجيه د سياق حديث سره ډيره نزدې ده، بلکه په فيض الباری کښې د شاه صاحب نه دا نقل شوې دی، چه د بعضو رواياتو الفاظ په دې کښې صريح دی، حضرت امام بخاری رحمه الله په باب مذکور کښې چه کوم دويم حديث ذکر کړې دې، هغه حديث د ابن عمر دې، چه هغوی يو ځل حج قران اوکړو، او د هغې دپاره ئې صرف يو طواف او يوه سعی اوکړه، بيا ئې اوفرمائيل هکذا فعل رسول الله(صلی الله عليه وسلم).

ددې په جواب کښې شاه صاحب فرمائي (کما فی فيض الباری) چه دې معامله کښې زيات اهميت د علی رضی الله عنه روايت نه کيدې شی، ځکه چه اول خو حضرت علی رضی الله عنه حضرت علی دې، او حضرت ابن عمر رضی الله عنه ابن عمر دې، دويم دا چه د علی رضی الله عنه احرام هم هغه وو، کوم چه د حضور صلی الله عليه وسلم وو، لکه چه په رواياتو کښې مشهور او معروف دی، او د حضرت علی رضی الله عنه مسلک دادې، القارن يطوف طوافين و يسعی سعيين، دغه شان د حضرت ابن مسعود رضی الله عنه نه هم دا منقول دی. رواهما الطحاوی باسانيد قوية، حتی چه حافظ ابن حجر رحمه الله هم ددې اعتراف کړې دې، او ابن حزم دا وئيلې دی، چه په دې سلسله کښې د حضور صلی الله عليه وسلم او دهغوی د صحابه کرامو نه هيڅ ثابت نه دی، په دې باندې حافظ صاحب فتح الباری کښې فرمائي

---

[1]) قال الحافظ شمس الدين ابن القيم في تهذيب السنن، اختلف العلماء في طواف القارن والمتمتع علي ثلثة مذاهب احدها ان علي كل منهما طوافين وسعيين وروي ذلك عن علي وابن مسعود وهو قول سفيان ثوري وابي حنيفة واهل الكوفه والأوزاعي واحدي الروايات عن الامام احمد الثاني ان عليهما كلهما طوافًا واحدًا وسعيًا واحدًا نص عليه الامام احمد في رواية ابنه عبدالله وهو ظاهر حديث جابر هذا الثالث ان علي المتمتع طوافين وسعيين وعلي القارن سعيٌ وحدٌ وهذا هو المعروف عن عطأ وطاؤس والحسن وهو مذهب مالك والشافعي وظاهر مذهب احمد.

(قلت) لکن روی الطحاوی وغیره مرفوعا عن علي و ابن مسعود ذلک باسانید لا باس بها، او شیخ ابن الهمام او علامه عینی حدیث علی رضي الله عنه د نسائی د سنن کبری په حوالې سره نقل کړې دي، هکذا عن حماد بن عبد الرحمن الانصاری عن ابراهیم بن محمد بن الحنفیه قال طفت مع ابی و قد جمع الحج والعمرة فطاف لهما طوافین و سعی سعیین و حدثنی ان علیا رضی الله عنه فعل ذلک و حدثه ان رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فعل ذلک قال العلامة ابن الهمام و حماد هذا و ان ضعفه الازدی فقد ذکره ابن حبان فی الثقات فلا ینزل حدیثه عن درجة الحسن مع انه روی عن علی رضي الله عنه بطرق کثیرة مضعفة ترتقی الی الحسن. اهـ

علامه قسطلانی په شرح بخاری کښې د شیخ ابن الهمام مذکوره بالا کلام ذکر کولو نه پس فرمائي ولا ریب ان العمل بما فی صحیح البخاری.

فلما کان بذی الحلیفة قال من شاء ان یهل بحج فلیهل و من شاء ان یهل بعمرة فلیهل بعمرة:

په شروع کښې نبی کریم ﷺ په ذوالحلیفه کښې صحابه کرامو ته اختیار ورکړې وو، چه د چا کوم قسم احرام ته زړهٔ کیږی، هم هغسې دې اوتړی، بیا وروستو مخکښې تللو نه پس نبی کریم ﷺ د فسخ الحج الی العمرة اشاره اوفرمائیله، چه کله صحابه کرامو داسې اونه کړل، نو بیا مروه ته رسیدلو نه پس نبی کریم ﷺ صحابه کرامو ته د فسخ الحج الی العمره امر جازم او قطعی ورکړو، نو هغوی د نبی کریم ﷺ د حکم مطابق دې طواف او سعی لره عمره اوګرځوله، او حلال شو،

اولی من حدیث لم یکن علی رسم الصحیح علی مالا یخفی اهـ لیکن زمونږ علماء دا وائی چې حدیث د بخاری خو مؤول دې او که دا په ظاهر باندې کیخودې شی نو د ټولو به خلاف شی نه صرف د ائمه فقه بلکه د ټولو روایات حدیثیه هم (کما تقدم توضیحه فی باب الطواف الواجب)

اصل خبره دا ده چې پیغمبر ﷺ مکې مکرمې ته د رسیدلو په ورځ کوم طواف کړې وو چې هغوی ئې هم منی او مونږ هم دې باره کښې دا وا. و چې هغه طواف عمره وو او هغوی دا وائی چې هغه طواف قدوم وو(¹) هغوی په خپله رائې باندې قرینه دا حدیث پیش کوی اما الذین جمعوا بین الحج والعمرة طافوا طوافاً واحداً او احناف د خپل رائې په تائید کښې هغه روایات پیش کوی چې په هغې کښې تعدد د طواف او سعی مذکور دې هغه ګویا سنداً دومره قوی نهٔ دی څومره چې دا دی لیکن اول خو هغه صریح دی مؤول نهٔ دی دویم دا چې د قیاس موافق هم هغه دی والله سبحانه وتعالی اعلم بالصواب

[۱۸۹۵](²) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، قَالَ: أَخْبَرَنِي أَبُو الزُّبَيْرِ، قَالَ: سَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ، يَقُولُ: "لَمْ يَطُفِ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَا أَصْحَابُهُ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ إِلَّا طَوَافًا وَاحِدًا طَوَافَهُ الْأَوَّلَ".

---

¹) په دې باندې انورشاه فرمائی چه دا اختلاف رائې نه دې بلکه اختلاف د تخریج دې د شافعیه د مشائخو تخریج دادې اود احنافو مشائخو تخریج هغه دې.

²): صحیح مسلم/الحج ۱۷(۱۲۱۳)، سنن النسائي/الحج ۱۸۲(۲۹۸۹)، (تحفة الأشراف: ۲۸۰۲)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الحج ۱۰۲(۹۴۷)، سنن ابن ماجه/المناسک ۳۹(۲۹۷۲)، مسند احمد(۳/۳۱۷)(صحیح)

دجابر بن عبدالله نه روايت دې چه نبي كريمﷺ اودهغه صحابه كرامو دصفا اودمروه په مينځ كښې به صرف يوسعى كړې وه يعنى په اول ځل طواف قدوم ياطواف عمرې سره.

قَالَ: سَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ، يَقُولُ: "لَمْ يَطُفْ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَا أَصْحَابُهُ بَيْنَ الصَّفَا وَ الْمَرْوَةِ إِلَّا طَوَافًا وَاحِدًا طَوَافَهُ الْأَوَّلَ".

دا د باب اولنى حديث دې چې په دې كښې د طواف ذكر نشته بلكه سعى بين الصفا والمروه مذكور ده چې پيغمبر عليه السلام صرف يو سعى اوفرمائيله زمونږ له طرفه د دې جواب دا دې چې مراد دا دې چې پيغمبر عليه السلام دحج دپاره صرف يو سعى اوكړه او دا صحيح ده ځكه چې په حج كښې خو طوافونه ډير وى(طواف قدوم، طواف زيارت او طواف وداع) ليكن سعى صرف يو ځل وى ليكن كه يو سړې حج سره عمره هم كوى كما فى القران والتمتع،،

نو ښكاره خبره ده چې د هغې دپاره به طواف او سعى هم جدا او مستقل كوى د نورو دلائلو په بناء باندې

[١٨٩٦](¹) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ، عَنْ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، "أَنَّ أَصْحَابَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الَّذِينَ كَانُوا مَعَهُ لَمْ يَطُوفُوا حَتَّى رَمَوْا الْجَمْرَةَ".

دعائشې رضي الله عنها نه روايت دې چه اصحاب رسول كوم چه دهغه سره وو هغه جمرې لره په ګيټو سره دويشتلونه. پس طواف كړې وو.

تشريح: قوله: عَنْ عَائِشَةَ، "أَنَّ أَصْحَابَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الَّذِينَ كَانُوا مَعَهُ لَمْ يَطُوفُوا حَتَّى رَمَوْا الْجَمْرَةَ".دا دويم حديث دې، د دې مضون دا دې چې صحابه كرامو كښې چا هم د بيت الله طواف د جمره عقبه د رمى نه مخكښې نۀ دې كړې په دې روايت باندې اشكال ظاهر دې ځكه چې د نورو روايتونو نه خو دا معلوميږى چې هغې ټولو حضراتو په څلورمه (۴ ذى الحجه) باندې مكې ته د رسيدلو سره طواف كړې وو بيا دا وئيل څنګه صحيح دى چې د رمى جمره نه مخكښې ئې طواف نۀ وو كړې لهذا د دې مطلب به دا اخستلې شى چې د دې نه د راوى مقصود د مطلق طواف نفى نۀ ده بلكه د طواف افاضه نفى مراد ده ځكه چې په يوم النحر كښې چې كوم افعال اربعه كبرى(رمى، ذبح، حلق او طواف) په هغې كښې دا طواف زيارت د رمى نه پس اوكړې شو د رمى نه قبل چا هم اونكړو او يا دا اووئيلې شى چې د دې نه مراد هغه صحابه دى چې د هدى بوتلونكې وو او مطلب دا دې چې هغې خلقو طواف للاحلال د رمى نه پس اوكړو(او د دې نه مخكښې اګرچه هغوى طواف كړې وو ليكن هغه لاجل الاحلال نۀ وو ځكه چې سوق هدى د تحلل نه مانع ده) يا دا اووئيلې شى چې د دې تعلق هغې صحابو سره دې چې غيرسائق الهدى وو او مطلب دا دې چې هغوى د حج دپاره طواف د رمى نه مخكښې نۀ وو كړې(او د دې نه مخكښې ئې اګرچه طواف كړې وو ليكن هغه د حج دپاره نۀ وو بلكه د عمرې دپاره وو) (²) (بذل)

¹): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ١٦٦٠١)، وقد أخرجه: سنن النسائي/ الكبري/ الحج(٤١٧٢، ٤١٧٣)(صحيح)

²) ځكه چه داخلق د فسخ الحج الى العمره مامور وو دغې خلقو خو د عمرې طواف او سعى په شروع كښې كړې وه بيا ئې روستو چه كوم طواف زيارت اوكړو هغه ئې د رمى جمره نه پس اوكړو. والله اعلم.

[۱۸۹۷](۱) حَدَّثَنَا الرَّبِيعُ بْنُ سُلَيْمَانَ الْمُؤَذِّنُ، أَخْبَرَنِي الشَّافِعِيُّ، عَنْ ابْنِ عُيَيْنَةَ، عَنْ ابْنِ أَبِي نَجِيحٍ، عَنْ عَطَاءٍ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ لَهَا: "طَوَافُكِ بِالْبَيْتِ وَبَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ يَكْفِيكِ لِحَجَّتِكِ وَعُمْرَتِكِ"، قَالَ الشَّافِعِيُّ: كَانَ سُفْيَانُ رُبَّمَا قَالَ: عَنْ عَطَاءٍ، عَنْ عَائِشَةَ، وَرُبَّمَا قَالَ: عَنْ عَطَاءٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِعَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا.

دعائشې رضي الله عنها نه روایت دې چه نبی کریم ﷺ د هغه ته فرمائیلی وو ستادبیت الله طواف او د صفا مروه سعی ستا حج او عمرې لره کافی دی شافعی فرمائی چه سفیان کله سند داسې بیانوی عن عطاءعن عائشة رضي الله عنها او کله داسې وائی قال لعائشة رضی الله عنها.

تشریح: قوله: عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ لَهَا: "طَوَافُكِ بِالْبَيْتِ .... أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِعَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا.

د دې حدیث نه هم جمهور استدلال کوی چې د قارن دپاره یو طواف او یو سعی ده زمونږ له طرفه د دې جواب دا دې چې دا استدلال خو په دې مبنی دې چې حضرت عائشه رضي الله عنها قارنه وه او زمونږ په نزد داسې نۀ ده بلکه زمونږ تحقیق دا دې چې هغه مفرده وه (كما سبق مفصلاً فی احرام عائشة) لهذا مطلب دا دې چې اګرچه تاسو صرف حج کړې دې عمره مو نۀ ده کړې لیکن شروع کښې اراده خو د دواړو وه په دې وجه دا طواف او سعی من حیث الاجر و النیة دواړو دپاره کافی دې (۲) او یا دا اووئیلې شی چې د دوی دا ګمان حضرت عائشې رضي الله عنها ته په دې ګمان باندې وو چې هغوی په شروع کښې طواف عمره کړې وو او د هغوی د حیض وغیره قصه د پیغمبر علیه السلام ذهن کښې نۀ وه یدل علیه قوله صلی الله علیه وسلم اوماطفت لیالی قدمنا (۳) کما فی بعض الروایات والله تعالی اعلم(بذل) قال المنذری واخرجه مسلم فی صحیحه(عون)

بَابُ الْمُلْتَزَمِ

باب: د ملتزم بیان

دا باب په صحاح سته کښې صرف په دواؤ کتابونو کښې دې دلته په سنن ابوداؤد کښې او سنن ابن ماجه کښې او د ملتزم متعلق حدیث هم د صحاح سته صرف په دې دواؤ کتابونو کښې دې هسې بیهقی وغیره کښې هم دې بیهقی کښې د ابن عباس رضي الله عنهما نه روایت دې مابین الرکن والباب(۴) ته ملتزم وئیلې کیږی چې کوم کس هم دې سره پیوست شی(۵) او دعا غواړی نو هغه قبلیږی(تهذیب السنن لابن القیم) او علامه زرقانی په حواله د ابن عبدالبراس د ابن عباس نه مرفوعاً روایت کړې دې (کما فی الاوجز ص ۷۳۵ج۳) د مناسک حج په کتابونو کښې امام نووی او ملاعلی قاری لیکلې دی چې د طواف وداع نه فارغ کیدو نه پس حاجی دپاره

---

۱): تفرد به أبوداود،(تحفة الأشراف: ۱۷۳۸۱)(صحیح)

۲) په دې جواب باندې دا اشکال کیږی چه که داسې وو نو بیا ددې ارشاد ګرامی فائده څه ده؟

۳) وقد تقدم الاستدلال بهذا الحديث في باب الافراد ذيل عمرة التنعيم.

۴) یعنی د بیت الله د دیوال هغه حصه کومه چه دبیت الله د دروازې اود حجر اسود په مینځ کښې ده.

۵) د پیوست کیدو صورت په حدیث الباب کښې دا مذکوردې چه دغه ځای کښې خپل مخ، او سینه او د دواړو لاسونو مړوندونه خواره کړی دغه حصې سره ئې اولګوی او په ژړا ژړا دعاګانې اوغواړی.

مستحب دی چې عتبة البیت(د بیت الله شریف د دروازې چوکهټ) بنکل کړی او ملتزم شریف سره پیوست شی او دعا اوغواړی د حضرت شاه ولی الله صاحب دهلوی قدس سره په المسلسلات کښې هم استجابة الدعاء عند المتلزم په حدیث مرفوع په روایت ابن عباس کښې موجود دی چې په هغې کښې دا دی چې هر راوی د روایت په وخت خپل شاګرد ته دا اووې چې ما هلته دعا غوښتلې ده او قبول شوې ده تذکرة الخلیل کښې لیکلې دی حضرت سهارنپوری رحمه الله به فرمائیل چې په ملتزم باندې ما د الله تعالی نه درې دعاګانې غوښتلې وې چې په هغې کښې مې د دواؤ[1] قبلیدل خو اولیدل او د دریمې د الله تعالی د ذات نه توقع ده

[۱۸۹۸](۲) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا جَرِيرُ بْنُ عَبْدِ الْحَمِيدِ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي زِيَادٍ، عَنْ مُجَاهِدٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ صَفْوَانَ، قَالَ: "لَمَّا فَتَحَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَكَّةَ، قُلْتُ: لَأَلْبَسَنَّ ثِيَابِي، وَكَانَتْ دَارِي عَلَى الطَّرِيقِ، فَلَأَنْظُرَنَّ كَيْفَ يَصْنَعُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَانْطَلَقْتُ، فَرَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ خَرَجَ مِنَ الْكَعْبَةِ هُوَ وَأَصْحَابُهُ وَقَدِ اسْتَلَمُوا الْبَيْتَ مِنَ الْبَابِ إِلَى الْحَطِيمِ، وَقَدْ وَضَعُوا خُدُودَهُمْ عَلَى الْبَيْتِ، وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَسْطَهُمْ".

عبدالرحمن بن صفوان ﷛ فرمائی چه رسول الله ﷺ کله مکه فتح کړه نوما اووئیل زه خپلې کړې ضرور اغوندم زما کور هم لاره کښې وو اوخامخابه ګورم چه رسول الله ﷺ به څنګه کوی چنانچه زه لاړم نبی کریم ﷺ ته مې کتل چه نبی ﷺ اودهغه صحابه کرام دبیت الله شریف نه وتلی وو اوددروازې نه ترحطیم پورې ئې دبیت الله شریف استلام کولو هغه خپل مخ دکعبې سره لګولی وو اورسول الله ﷺ دهغه په مینځ کښې وو.

تشریح: قوله: عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ صَفْوَانَ، قَالَ: "لَمَّا فَتَحَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَكَّةَ، .... وَقَدْ وَضَعُوا خُدُودَهُمْ عَلَى الْبَيْتِ، وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَسْطَهُمْ".

عبدالرحمن بن صفوان وائی چې په کومه ورځ رسول الله ﷺ مکه مکرمه فتح کړه نو ما خپل زړۀ کښې سوچ اوکړو چې زۀ به اوس په خوشحالئ کښې کپړې واچوم او اوبه ګورم چې اوس حضور اکرم ﷺ څۀ کوی هغوی وائی چې زمونږ کور په لار کښې وو

وقد استلموا البیت من الباب الی الحطیم نو ما اولیدل پیغمبر ﷺ او د هغوی صحابه چې د کعبې نه بهر راوتلو نه پس د بیت الله شریف هغې حصې سره پیوست وو چې د باب کعبه او حطیم مینځ کښې دې په دې روایت باندې اشکال دا دې چې ملتزم خو د هغې حصې نوم دې چې من الباب الی الحجر دې نه چې من الباب الی الحطیم؟ د دې جواب بعضې علماؤ دا ورکړې دې چې دا ضروری نه ده چې حضور ﷺ هم په هغې خلقو کښې شامل وو(بلکه پیغمبر ﷺ په اصل ملتزم باندې موجود وو) او حضرت سهارنپوی د دې دا

[1]) اول دا چه په دغه زمانه کښې په حجاز کښې د شریف حسین د بغاوت په وجه کومه سخته بدآمنی وه دهغې أمن سره بدلیدل، دویم تصنیف د بذل المجهود تکمیل د مدینې منورې په قیام کښې، دریم د مدینې مرګ ملاویدل، الله تعالی په خپل فضل سره دا دریمه دعا هم قبوله کړه.

[2]): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۹۷۰۳)، وقد أخرجه: مسند احمد(۴۳۰/۳، ۴۳۱)(ضعیف)

توجیه کړې ده چې ممکن ده اصل روایت کښې خو من الباب الی الحجر وی لیکن یو راوی ته اشتباه شوې وی چې هغهٔ حجر (بفتح الحاء) لره حِجر (بکسر الحاء) ګنړلې وی او حِجر (بالکسر) حطیم ته وئیلې کیږی بیا ئې دا اوګڼل چې دا روایت ئې بالمعنی ذکر کړو او وې وئیل چې من الباب الی الحطیم (د کوم ځائې نه کوم ځائې ته خبره اورسیده)([1]) والله تعالی اعلم بالصواب ۱۲

[۱۸۹۹]([2]) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا الْمُثَنَّى بْنُ الصَّبَّاحِ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: "طُفْتُ مَعَ عَبْدِ اللَّهِ، فَلَمَّا جِئْنَا دُبُرَ الْكَعْبَةِ، قُلْتُ: أَلَا تَتَعَوَّذُ؟ قَالَ: نَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ النَّارِ، ثُمَّ مَضَى حَتَّى اسْتَلَمَ الْحَجَرَ، وَأَقَامَ بَيْنَ الرُّكْنِ وَالْبَابِ، فَوَضَعَ صَدْرَهُ وَوَجْهَهُ وَذِرَاعَيْهِ وَكَفَّيْهِ هَكَذَا، وَبَسَطَهُمَا بَسْطًا، ثُمَّ قَالَ: هَكَذَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَفْعَلُهُ".

عمرو بن شعیب رضي الله عنه د خپل پلار نه روایت کوی چه به ما دعبدالله بن عمرو نه سره طواف اوکړو کله چه و مونږ دکعبې په شاطرف باندې راغلو نو ما ووئیل و آیا تاسو تعوذ نه کوئ هغه اوفرمائیل مونږ په الله سره و پناه غواړو د دوزخ نه بیا روان شو تردې پورې چه و دحجراسود استلام ئې اوکړو او دحجراسود او د دروازې په مینځ کښې اودریدو بیائې خپله سینه او مخ په هغې باندې کیخودو اوخپلو لاسونو اوتلو لره ئې داسې کړل اودې لره ئې ښه خواره کړل بیائې اووئیل ما رسول الله ﷺ لره په داسې کولو سره لیدلې دې،

[۱۹۰۰]([3]) حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ بْنِ مَيْسَرَةَ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا السَّائِبُ بْنُ عُمَرَ الْمَخْزُومِيُّ، حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ السَّائِبِ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّهُ كَانَ يَقُودُ ابْنَ عَبَّاسٍ فَيُقِيمُهُ عِنْدَ الشُّقَّةِ الثَّالِثَةِ مِمَّا يَلِي الرُّكْنَ الَّذِي يَلِي الْحَجَرَ مِمَّا يَلِي الْبَابَ، فَيَقُولُ لَهُ ابْنُ عَبَّاسٍ: أُنْبِئْتُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُصَلِّي هَاهُنَا، فَيَقُولُ: نَعَمْ، فَيَقُومُ فَيُصَلِّي".

محمد بن سائب دخپل پلار نه روایت کوی چه هغه دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما لاس نیولې وو اوتلل اوهغوی لره ئې د دریم ګوټ سره اودرولو کوم چه دحجراسود سره ددروازې دکعبې سره دې نو ابن عباس رضي الله عنهما به هغوی ته وئیل آیا خبر درکړې شوې دې تاسوته چه رسول الله ﷺ به دلته کښې مونځ کولو سه نو هغه به وئیل او بیا به هغه اودریدلو او مونځ به ئې و کولو.

تشریح: قوله: کان یعقود ابن عباس فیقیمه عند الشقة الثالثة الشقة الثالثه (دریمه ټکړه)

---

[1]) خو بعض نورو شارحینو لیکلې دی چه ملتزم خو ما بین الباب والرکن الاسود ته وئیلې شی دا خبره متعین دې، خو د حطیم په مصداق کښې اختلاف دې یو قول دا دې چه د کعبې شمالی طرف ته چه کوم دیوال دې کوم چه د بیت الله دا حصهٔ ګیره کړې ده کوم چه په تعمیر سره ورو کې شوې دې، دویم قول دا دې چه حطیم او حجر د هغه زمکې نوم دې کوم چه دې دیوال راګیر کړې دی، او دریم قول دا دې چه حطیم ما بین الرکن الاسود والباب ته وئیلې شی (کوم ته چه ملتزم وئیلې شی) لهذا په دې اخری قول باندې د ابوداود په دې روایت باندې هیڅ اشکال نشته. ۱۲

[2]): سنن ابن ماجه/المناسك ۳۵(۲۹۶۲)، (تحفة الأشراف: ۸۷۷٦) (حسن)

[3]): سنن النسائي/الحج ۱۳۳(۲۹۲۱)، (تحفة الأشراف: ۵۳۱۷)، وقد أخرجه: مسند احمد(۳/٤١٠) (ضعيف)

د حدیث شرح :

حضرت سهارنپوری په بذل المجهود کښې فرمائی ملتزم د بیت الله د دیوال دریمه ټکړه په دې لحاظ سره ده چې د بیت الله په کوم دیوال کښې دروازه ده د هغې درې حصې دغه شان شوې چې یو ټکړه خو د هغې دیوال ده چې د رکن عراقی نه تر د بیت الله د دروازې د بازو پورې ده او دویمه ټکړه هغه چې په هغې کښې په خپله دروازه ده او دریمه ټکړه هغه ده چې د دروازې د دویم بازو نه تر د رکن حجر اسود پورې ده او هم دې ته ملتزم وئیلې شی

قوله: مما یلی الرکن الذی یلی الحجر مما یلی الباب

د بیت الله شریف د دیوال هغه حصه چې هغې کونې سره متصل ده چې هغې سره متصل حجر اسود دې (یعنی یو طرف سره او دویم طرف سره متصل دې باب کعبه سره)

حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهما آخر کښې نابینا شوې وو په دې وجه به عبدالله بن السائب د هغوی لاس نیولو او هغې ځائې ته به ئې راوستلو ابن عباس ترې تپوس اوکړو چې تاسو ته پته ده چې نبی علیه السلام به دلته مونځ کولو نو بیا به ابن عباس رضی الله عنهما هم هلته مونځ کولو د دې حدیث نه معلومه شوه چې څنګه د ملتزم التزام کولې شی دغه شان د هغې نزدې مونځ کول هم پکار دی .

بَابُ أَمْرِ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ

باب: د صفا او مروه بیان

د صفا مروه په مینځ کښې سعی کول دا د حضرت هاجره رضی الله عنها یادګار دې چې د اوبو په تلاش کښې ئې دلته منډه وهلې وه مشهور واقعه ده[1]

په سعی کښې درې بحثونه دی. (۱) حکمه (۲) د صفا نه مروه او بیا د مروه نه صفا دا دواړه یو چکر دې یا دوه چکرونه دی (۳) بین الصفا والمروة سعی یعنی منډه وهل ضروری دی یا پیاده تګ هم جائز دې.

بحث اول :

د صفا او مروه مینځ کښې د سعی په حکم کښې اختلاف دې په دې کښې څلور اقوال دی د امام شافعی (۱) او امام مالک رحمهم الله د مشهور قول مطابق سعی رکن دې لا یتم الحج الا به اصح الروایتین عن احمد هم دا دې او (۲) د احنافو په نزد واجب دې چې د دې په ترک

[1]) چه کله ابراهیم علیه السلام د الله پاک په حکم سره سیده هاجره رضی الله عنها او د هغه وړوکې خوئې سیدنا اسماعیل علیه السلام په وادی غیر ذی ذرع (بیابان) کښې چرته چه اوس مسجد حرام دې پریخودلو نو کومې اوبه چه د هغې سره په مشک کښې وې چه کله هغه ختمې شوې نو اوس هغه د اوبو په لټون کښې اوتله مخامخ ورته صفا غونډئ وه هغې ته اوختله خو اوبه ورته ملاؤ نه شوې، بیا ئې د ماشوم په فراق کښې لاندې راکوزه شوه او په منډه د خپل ماشوم لیدو لره راغله بیا دوباره مروه غونډئ ته هم د دې اوبو په لټون کښې اوختله دغه شان اووه کرته صفا او مروه ته اوختله او په اووم کرت باندې چه هلته راغله نو ګوری چه ماشوم چرته خپې وهی هلته د الله پاک په رحمت سره چینه راوتله کومې ته چه زمزم وئیلې شی، الحاصل الله پاک ته د هغې دا ادا خوښه شوه او د همیشه دپاره په حج کښې د سعی سنت جاری شو. ۱۲

سره دم واجب کیږي هم دا د امام مالک رحمه الله هم یو روایت دي (۳)د سفیان ثوری رحمه الله په نزد چې په هیره سره ترک کړې شي نو په دم سره تلافی کیدی شي البته قصداً چې پریخودې شي نو بیا نۀ کیږي هم دا د عطاء قول دي (۴)د ابن عباس رضي الله عنهما په نزد سنت دي وهو روایة عن احمد(لامع وفتح الباری) د وجوب دلیل د مسند احمد روایت دي حبیبه بنت ابی تجراة مرفوعاً روایت کوی ما د پیغمبر علیه السلام نه اوریدلي دی چې کله ئې سعی کوله کتب علیکم السعی فاسعوا ...،، دغه شان حدیث د مسلم دي ما اتم الله الحج امرئ ولا عمرته لم یطف بین الصفا والمروة(عون)

بحث ثانی :

د صفا نه مروه یو چکر شمارلې شي او بیا د مروه نه صفا ته واپسی دا دویم چکر دي هکذا عندالجمهور خلافاً لبعض الشافعیه والطحاوی من الحنفیه د هغوی په نزد د صفا نه مروه پورې او بیا د مروه نه صفا پورې دا دواړه یو چکر دي

بحث ثالث :

بطن وادی[۱]کښې سعی کول یعنی منډه وهل مستحب دی که څوک د دې په ځائې تګ اختیار کړی نو بالاتفاق جائز دي لیکن صرف خلاف اولی کار دي

[۱۹۰۱](۲) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ. ح وحَدَّثَنَا ابْنُ السَّرْحِ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّهُ قَالَ: قُلْتُ لِعَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا يَوْمَئِذٍ حَدِيثُ السِّنِّ: أَرَأَيْتِ قَوْلَ اللَّهِ تَعَالَى: إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَائِرِ اللَّهِ سورة البقرة آية ۱۵۸؟ فَمَا أَرَى عَلَى أَحَدٍ شَيْئًا أَنْ لَا يَطَّوَّفَ بِهِمَا، قَالَتْ عَائِشَةُ: كَلَّا، لَوْ كَانَ كَمَا تَقُولُ، كَانَتْ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِ أَنْ لَا يَطَّوَّفَ بِهِمَا، إِنَّمَا أُنْزِلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ فِي الْأَنْصَارِ، كَانُوا يُهِلُّونَ لِمَنَاةَ وَكَانَتْ مَنَاةُ حَذْوَ قُدَيْدٍ وَكَانُوا يَتَحَرَّجُونَ أَنْ يَطُوفُوا بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ، فَلَمَّا جَاءَ الْإِسْلَامُ، سَأَلُوا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ذَلِكَ، فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى: إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَائِرِ اللَّهِ سورة البقرة آية ۱۵۸.

عروه بن زبیر رضي الله عنه فرمائی چه ما عائشې رضي الله عنها ته اووئیل اوزه په دغه ورځو کښې نوجوان ووم ماته خبر راکړئ دالله تعالی ددې فرمان په باره کښې:«إن الصفا والمروة من شعائر الله» نه زه داګنړم که چرې څوک ددې په مینځ کښې سعی اونه کړی چه په هغه باندې څه حرج نشته عائشې رضي الله عنها اوفرمائیل بالکل نه لکه چرې داخبره داسې وه لکه څنګه چه ته وائې نو بیا به

---

[۱]) یعنی ددواړو غرونو دمینځ هغه حصه کومه چه هواره ده چه په هغې کښې ښکته پورته نشته، اود کوم ځائ نه چه ښکته راکوزیدل شروع کیږی هلته سعی مستحب نه ده بلکه مشی اګرچه نن صبا تقریباً ټوه حصه هواره کړې شوې ده په دې وجه بطن وادی کښې دوه نښې لګولې شوی دی کوم ته چه میلین اخضرین وئیلې شي.

[۲]): صحیح البخاري/الحج ۷۹(۱۶۴۳)، والعمرة۱۰(۱۷۹۰)، وتفسیر البقرة ۲۱(۴۴۹۵)، وتفسیر النجم ۳(۴۸۶۱)، سنن النسائي/الحج ۱۶۸(۲۹۷۱)،(تحفة الأشراف: ۱۶۸۲۰، ۱۷۱۵۱)، وقد أخرجه: صحیح مسلم/الحج ۴۳(۱۲۷۷)، سنن الترمذي/تفسیر سورة البقرة(۲۹۶۹)، سنن ابن ماجه/المناسك ۴۳(۲۹۸۶)، موطا امام مالك/الحج ۴۲(۱۲۹)، مسند احمد(۶/۱۴۴، ۱۶۲، ۲۲۷)(صحیح)

آیت کریمه داسې وو («فلا جناح علیه أن لا یطوف بهما») که چرې دوی دوې سعی اونکړي نو په دوی باندې څه ګناه نشته دې په اصل کښې دا آیت دانصارو په باره کښې نازل شوې وو دې خلقوبه دمنات په اراده سره احرام تړلو اودابت دمقام قدید کښې بالمقابل نصب وو اوبیابه دوی دصفا اودمروه په مینځ کښې په سعی کولو کښې حرج ګڼړلو کله چه اسلام راغي نوهغوی د رسول الله ﷺ نه ددې په باره کښې تپوس اوکړو نوالله تعالی دایت نازل اوفرمائیلو: («إن الصفا والمروة من شعائر الله»).

تشریح: قوله: فَلَمَّا جَاءَ الْإِسْلَامُ، سَأَلُوا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ذَلِكَ، فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى: إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَائِرِ اللَّهِ سورة البقرة آية ١٥٨.

د عروه او عائشې رضی الله عنه په مابین کښې سوال وجواب

دا حدیث یعنی د عروه د حضرت عائشې رضی الله عنها نه د دې آیت په باره کښې سوال وجواب مختلف طریقو سره ټولو صحاح سته کښې موجود دې د صحیح مسلم په بعضو طریقو کښې څۀ ګړ بړ هم شته عروه د حضرت عائشې رضی الله عنها خوریئ او ډیر محبوب او بې تکلف شاګرد دې د عائشې رضی الله عنها نه کثیر الروایة دې هغوی یو ځل د حضرت عائشې رضی الله عنها نه سوال اوکړو چې په آیت کریمه ان الصفا والمروة من شعائر الله الخ کښې په ظاهر دا معلومیږي چې حج کښې سعی بین الصفا والمروة ضروری نۀ ده دې لره سرې ترک کولې هم شي ځکه چې فرمائی فلا جناح علیه ان یطوف بهما چې څوک حج کښې د دې دواړو مینځ کښې سعی اوکړي نو په هغۀ باندې هیڅ ګناه او حرج نشته حضرت عائشې رضی الله عنها جواب ورکړو چې تا غلطه اوګڼړله[1] که داسې وې ځنګه چې تۀ وائې نو بیا داسې کیدل پکار وو فلا جناح علیه ان لا یطوف بهما چونکه دلته طالبعلمانه سوال دا وو چې هرکله سعی ضروری ده نو بیا آیت کښې دا طرز ولې اختیار کړې شو چې سعی کولو کښې صرف د حرج نفی کړې شوې ده په دې وجه حضرت عائشې رضی الله عنها د دې وضاحت اوکړو انما انزلت هذه الاية فی الانصار کانوا یهلون لمناة الخ چې اصل خبره دا ده چې د جاهلیت په زمانه کښې د انصارو دوه ډلې وې یو ډلې به د منات نومې بت حج کولو او دویمې ډلې به د اساف او نائله حج کولو د مناة محل وقوع مشلل وه (ځنګه چې د صحیح بخاری شریف په روایت کښې دی) علی شط البحر [2] یعنی د سمندر په غاړه د قدید مخامخ او د هغې په محاذات کښې او اساف او نائله په صفا او مروه باندې کیخودلې شوې وو، د اساف او نائله والا به منات ته نزدې نۀ شو تلې او منات والا به اساف او نائله ته نزدې نشو ورتلې بیا چې کله دا دواړه ډلې اسلام کښې داخل شوې نو دواړو ته د صفا مروه سعې کولو کښې اشکال اوشو چې دا ځیز خو د جاهلیت رسم دې نو په دې باندې الله تعالی دا آیت کریمه نازل کړو او د دې حرج نفی ئې اوفرمائیله چې کوم

[1] ځکه چه فاعل د سعی نه د اثم نفی مستلزم نه ده تارک د سعی نه نفی د اثم لره.
[2] د صحیح مسلم په یو روایت کښې د اساف او نائله باره کښې دادی چه دا دواړه علی شط البحر وو قاضی عیاض دې لره وهم ګرځولې دې (بذل).

د هغوی په ذهن کښې وو الحاصل د قرآن کریم دا طرز بیان او تعبیر د مخاطبینو د مافی الذهن په لحاظ سره دې

تنبیه : دا ټول مضمون دلته د ابوداؤد په روایت کښې نشته مونږ په دې سلسله کښې ټول روایات وړاندې کیخودلو سره لیکلې دی او دې لره هم دغه شان یادول پکار دی او ځان پرې پوهه کول پکار دی ورنه بعضې روایات مبهم او بعضې مختصر او بعضو کښې وهم واقع شوې دې والله الموفق .

[١٩٠٢] ( ) عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي أَوْفَى، "أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اعْتَمَرَ فَطَافَ بِالْبَيْتِ وَصَلَّى خَلْفَ الْمَقَامِ رَكْعَتَيْنِ وَمَعَهُ مَنْ يَسْتُرُهُ مِنَ النَّاسِ"، فَقِيلَ لِعَبْدِ اللَّهِ: أَدَخَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْكَعْبَةَ؟ قَالَ: لَا.

دعبدالله بن ابی اوفی رضی الله عنه نه روایت دې فرمائي چه رسول الله ﷺ عمره اوکړه اودبیت الله طواف ئې اوکړو او دوه رکعته ئې اوکړل اودهغه سره هغه خلق ووچه هغه نبی علیه السلام لره دخلقونه بچ کړې وو دعبدالله رضی الله عنه نه تپوس اوکړې شوچه ایارسول الله ﷺ کښې ته داخل شوې وو هغه اووئیل نه

تشریح: **قوله**: أَدَخَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْكَعْبَةَ؟ قَالَ: لَا:
دا سوال و جواب د عمرة القضاء سره متعلق دې چې په دې موقع باندې پیغمبر علیه السلام بیت الله شریف ته داخل شو که نه؟

د حجة الوداع په سفر کښې حضور صلی الله علیه وسلم بیت الله شریف ته داخل شو که نه؟

ځان پوهول پکار دی چې مدینې منورې ته د هجرت کولو نه پس مکې مکرمې ته د پیغمبر علیه السلام درې ځله تشریف آوری شوې ده اولاً عمرة القضاء دپاره ۷ هـ کښې هغه وخت پورې چونکه مکه مکرمه فتح شوې نۀ وه او په بیت الله شریف کښې مشرکینو بتان کیخودلې وو په دې وجه ورته هغه وخت پیغمبر علیه السلام داخل نۀ شو ځنګه چې دې روایت کښې مذکور دی دویم سفر په اتمه(۸) هـ کښې د پیغمبر علیه السلام فتح مکه دپاره اوشو هغه وخت پیغمبر علیه السلام بالاتفاق بیت الله شریف ته داخل شوې وو اول ترې پیغمبر علیه السلام هغه ټول بتان بهر راؤغورزول د دې نه پس بیت الله شریف ته داخل شو دریمه حاضری د پیغمبر علیه السلام لسمه(۱۰) هـ کښې د حجة الوداع په موقع اوشوه په دې سفر کښې دوی بیت الله شریف ته داخل شو یا نۀ؟ په دې کښې د علماؤ اختلاف دې بعضې د دې قائل دی او بعضې منکر د کتاب الحج په آخر کښې یو باب راځی باب الصلوة فی الکعبة هلته په دې سلسله کښې څو روایات دی هغه دې اوکتلې شی هلته یو حدیث د حضرت عائشې رضی الله عنها راځی ان النبی صلی الله علیه وسلم خرج من عندها وهو مسرور ثم رجع الی وهو کئیب د دې روایت باره کښې د

( ): صحيح البخاري/الحج ٥٣(١٦٠٠)، سنن ابن ماجه/المناسك ٤٤(٢٩٩٠)، (تحفة الأشراف: ٥١٥٥، ٥١٥٦)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/الحج ٦٨(١٣٣٢)، مسند احمد(٤/٣٥٣، ٣٥٥، ٣٨١)، سنن الدارمي/المناسك ٧٧(١٩٦٣)(صحيح)

شراح حدیث دا اختلاف کیږي چې دا حدیث د پیغمبر ﷺ کوم سفر سره متعلق دې چې کوم حضرات دا وائي چې دا حدیث د فتح مکې والا سفر سره متعلق دې د هغې حضراتو رائې خو دا ده چې پیغمبر ﷺ د حجة الوداع په موقع بیت الله شریف ته نۀ وو داخل شوي ځکه چې د دې حدیث نه علاوه بل یو حدیث داسې نشته چې د هغې نه د حجة الوداع په کال بیت الله شریف کښې د پیغمبر ﷺ دخول ثابت وي نو هرکله چې دا حدیث د حجة الوداع سره متعلق نۀ دې نو بیا به هم دا منل ضروري وي چې په دې موقع باندې پیغمبر ﷺ نۀ وو داخل شوي

او چې کوم شراح دا وائي چې د دې حدیث تعلق هم د حجة الوداع سره دې نو هغوی د دې قائل دی چې په دې سفر کښې پیغمبر ﷺ بیت الله شریف کښې داخل شوي وو او ظاهره هم دا ده چې دا حدیث د حجة الوداع سره متعلق دې چې وجه به ئې مونږ هم دلته لیکو

[۱۹۰۳]([1]) حَدَّثَنَا تَمِيمُ بْنُ الْمُنْتَصِرِ، أَخْبَرَنَا إِسْحَاقُ بْنُ يُوسُفَ، أَخْبَرَنَا شَرِيكٌ، عَنْ إِسْمَاعِيلَ بْنِ أَبِي خَالِدٍ، قَالَ: سَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ أَبِي أَوْفَى، بِهَذَا الْحَدِيثِ، زَادَ: "ثُمَّ أَتَى الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ فَسَعَى بَيْنَهُمَا سَبْعًا ثُمَّ حَلَقَ رَأْسَهُ".

اسماعیل بن ابی خالد فرمائي چه ما دعبدالله بن ابی اوفی نه دا روایت واوریدلو او دائي مزید اووئیل بیانبی ﷺ صفا، مروه طرف ته راغې اودهغې په در میان کښې ئې اووه چکرونه اولګول او بیائې خپل سر اوخرئیلو

[۱۹۰۴]([2]) حَدَّثَنَا النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، حَدَّثَنَا عَطَاءُ بْنُ السَّائِبِ، عَنْ كَثِيرِ بْنِ جُمْهَانَ، أَنَّ رَجُلًا، قَالَ لِعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ: يَا أَبَا عَبْدِ الرَّحْمَنِ، إِنِّي أَرَاكَ تَمْشِي وَالنَّاسُ يَسْعَوْنَ، قَالَ: "إِنْ أَمْشِ، فَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمْشِي، وَإِنْ أَسْعَ، فَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْعَى، وَأَنَا شَيْخٌ كَبِيرٌ".

دکثیر بن جمهان رحمه الله نه روایت دې چه یو کس دعبدالله بن عمر، نه دصفا اودمروه په مینځ کښې دسې په باره کښې تپوس اوکړو اې ابوعبدالرحمن زه تاسوته ګورم چه تاسو روان یئ اوخلق منډې وهي هغه اوفرمائیل که زه روان یم نو ما خونبی ﷺ لره په تللو باندې لیدلې دې اوکه چرې زه منډې وهم نوماهغه لره په سعی(منډې) سره لیدلې دې اوزه اوس بوډا شوې یم

د حدیث مبارک تشریح:

قوله: يَا أَبَا عَبْدِ الرَّحْمَنِ، إِنِّي أَرَاكَ تَمْشِي وَالنَّاسُ يَسْعَوْنَ..الخ:
دا مخکښې تیر شو چې د صفا مروه مینځ کښې سعی کول مستحب دی او تګ هم جائز دې په دې کښې څۀ حرج نشته

یو سړي د حضرت ابن عمر رضي الله عنه نه تپوس اوکړو چې تاسو د صفا او مروه درمیان کښې تګ کوئ او نور خلق سعی کوي دا ولې؟ نو هغوی جواب ورکړو چې که زۀ تګ اوکړم نو بیا صحیح ده او که سعی اوکړم نو بیا هم صحیح ده ځکه چې ما پیغمبر ﷺ په سعی کولو

[1]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۵۱۵۵، ۵۱۵۶)(صحيح)
[2]: سنن الترمذي/الحج ۳۹(۸۶۴)، سنن النسائي/الحج ۱۷۴(۲۹۷۹)، سنن ابن ماجه/المناسك ۴۳(۲۹۸۸)، (تحفة الأشراف: ۷۳۷۳، ۷۳۷۹)، وقد أخرجه: مسند احمد(۲/۵۳)(صحيح)

باندې هم ليدلې دې او په تګ باندې مې هم ليدلې دې شارحينو د دې مطلب دا ليکلې دې چې د ابن عمر رضي الله عنهما مراد دا دې چې حضور اکرم ﷺ به مسعی کښې سعی کوله او په ممشی کښې به ئې مشی کوله (١) او د دې نه پس چې ئې اوفرمائيل وانا شيخ کبير دې باره کښې ئې دا ليکلې دی چې دا دويم جواب دې هغه دا چې ماته دا عذردې په دې وجه سعی نۀ کوم قال المنذری واخرجه الترمذی والنسائی وابن ماجه قال الترمذی حديث حسن صحيح ولفظ الترمذی رايت ابن عمر يمشی فی المسعی فقلت اتمشی فی المسعی الخ (عون)

بَابُ صِفَةِ حَجَّةِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم

باب د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم د حج کا طریقه

په دې باب کښې مصنف صرف يو حديث ذکر کړې دې چې د هغې راوی حضرت جابر بن عبدالله رضي الله عنه دې چونکه دا حديث ډير اوږد دې په دې کښې د حضور اکرم ﷺ د حج قصه د اول نه آخر پورې پوره تفصيل سره مذکور ده په دې وجه دا حديث د جابر الطويل په نوم سره مشهور دې. (٢)

دا حديث د افراد مسلم نه دې امام بخاری صاحب رحمه الله د دې تخريج نۀ دې کړې (٣) صحاح سته کښې دريو ځايونو کښې صحيح مسلم، سنن ابوداؤد او ابن ماجه کښې دا حديث د اوږدوالی سره مذکور دې او مام ترمذی او نسائی متعدد مقاماتو او ابوابو کښې د دې قطعات ذکر کړې دی صاحب مشکوة هم دا حديث ذکر کړې دې

دا حديث ډير جامع دې حضرت جابر رضي الله عنه د حضور ﷺ د حج دا قصه د اهل بيت د يو فرد حضرت امام محمد باقر چې د امام زين العابدين ځوې او د حضرت حسين رضي الله عنه نمسې دې په فرمائش باندې ډيره تفصيل او دلچسپئ سره اوروله وه امام نووی شرح مسلم

---

(١) خو ماته د دې په مطلب کښې دا اشکال دې چه په دې صورت کښې دا اولنې جواب څنګه شو؟ په دې سره د سائل اشکال حل شو ځکه چه د سائل مقصد هم دا وو چه هغه ته په مسعی کښې سعی او په ممشی کښې مشی کول پکار وو (کما هو مقتضي لفظ الترمذي) حال دا چه هغه به په ټول مسافت کښې مشی کوله په دې وجه زما ناقص خيال دا دې چه ابن عمر رضي الله عنهما دلته په خپل کلام کښې په طريقه د ظرافت توريه استعمال فرمائيلې ده، څه ګول مول خبره ئې کړې ده چه د رسول الله ﷺ نه هم دواړه قسم ثابت دې، سعی هم او مشی هم. (اشکال ولې کوې) بيا د دې نه پس هغوی چه کوم اصل او تحقيقی جواب وو هغه کړې دې چه ﴿انا شيخ كبير والله تعالي اعلم﴾ په توريه کښې دا وی چه متکلم د خپل کلام ظاهر يو څه اخلی او مراد بل څه اخلی. ١٢

(٢) حديث جابر الطويل د دې نه علاوه يو بل دې چه په هغې باندې امام نووی رحمه الله باب حديث جابر الطويل ترجمه تړلې ده د مسلم جلد ثانی بالکل په اخر کښ. ١٢

(٣) په ظاهره کښې ځکه چه د دې حديث طويل مدار په جعفر بن محمد باندې دې، او د جعفر روايت امام بخاری په صحيح بخاری کښې نه دې اخستلې. دا حديث د جعفر بن محمد نه علاوه په نورو طرقو سره هم نقل دې، خو نورو راويانو دا مطولا نه دې ذکر کړې بلکه مختصرا. پس امام بخاری رحمه الله دا د امام عطاء بن ابی رباح او د مجاهد په طريق سره ذکر فرمائيلې دې. واضحه دې وی چه دا حديث د جابر رضي الله عنه نه روايت کولو والاد محمد باقر نه علاوه شپږ راويان نور دی. ابو الزبير، عطاء، مجاهد، محمد بن المنکدر، ابو صالح ذکوان، ابو سفيان طلحه بن نافع الواسطي (ناصر الدين البانی) په دوی کښې د اکثرو روايات په صحاح کښې موجود دی او ټول مختصر دی.

کښې د دې حديث ډير تعريف او اهميت بيان کړې دې چې ډير جامع دې په ډيرو فوائدو او اهم قواعدو باندې مشتمل دې فرمائي چې ډيرو علماء کرامو د دې حديث نه کثرت سره د فقهې مسائل مستنبط کړې دی او ابن المنذر په دې باندې يو مستقل جزء تاليف کړې دې چې په هغې کښې د يو نيم سل نه زيات مسائلو استخراج کړې دې او که د کلام استقصاء ئې کوله نو تقريباً دومره مسائل به ئې نور هم مستنبط کړې وو (نووی)

حضرت شيخ په جزء حجة الوداع کښې ليکی شيخ ابن الهمام په فتح القدير کښې د کتاب الحج په شروع کښې اولاً دا پوره حديث ذکر کړو او وې فرمائيل چې زۀ د کتاب الحج افتتاح د دې حديث مبارک نه کوم فانه اصل کبير واجمع حديث فی الباب اهـ ډيرو حضرات محدثينو او مؤرخينو چې په حجة الوداع باندې ليکل کړې دی نو اکثرو په کښې هم دا حديث د خپل تاليف اساس او بنياد ګرځولې دې

د حجة الوداع اسماء عديده

ځان پوهول پکار دی چې د حضور ﷺ د دې حج مشهور نوم حجة الوداع دې د دې نه علاوه نور هم نومونه دی پس ديته حجة الاسلام هم وئيلې شی د حجة الاسلام اطلاق د فقهاء په نزد په فرضی حج باندې کيږی يعنی هغه حج چې د اسلام يو اهم رکن دې پيغمبر ﷺ چونکه د حج فرض کيدلو نه پس صرف هم دا يو حج کړې دې په دې وجه ورته حجة الاسلام وئيلې کيږی او حجة البلاغ هم ځکه چې په دې کښې پيغمبر ﷺ خلقو ته د احکام شرعيه خصوصاً د حج مسائل رسولې دی قولاً وفعلاً او حجة التمام والکمال هم شايد په دې وجه سره چې آيت کريمه اليوم اکملت لکم دينکم واتممت عليکم نعمتی په دې حج کښې نازل شو ليکن ډير مشهور نوم حجة الوداع دې (د واؤ په فتحه سره او کسره هم جائز ده) د دې نوم وجه تسميه ئې دا ليکلې ده چې په دې حج کښې پيغمبر ﷺ مسلمانانو ته رخصت ورکړې وو نو پيغمبر ﷺ اوفرمائيل خذوا عنی مناسککم لعلی لا اراکم بعد عامی هذا چې زما نه د حج مناسک ښۀ طريقې سره ياد کړئ شايد چې د دې نه پس زما تاسو سره ملاقات اونۀ شی

فائده اولی: صحيح بخاری کښې د ابن عمر رضی الله عنهما مقوله مروی ده کنا نتحدث بحجة الوداع والنبی صلی الله عليه وسلم بين اظهرنا ولا ندری ما حجة الوداع چې د حضور ﷺ په ژوند کښې مونږ د حجة الوداع تذکره خو به کوله ليکن مونږ ته دا خبر نۀ وو چې د دوی دا حجة الوداع په کوم لحاظ سره ده او ولې دې ته حجة الوداع وئيلې کيږی حافظ ابن حجر د دې په شرح کښې ليکی يعنی بيا چې کله د دې نه پس قريب د پيغمبر ﷺ وفات اوشو نو مونږ پوهه شو چې دې ته به دې لحاظ سره حجة الوداع وئيلې کيدو (چې پيغمبر ﷺ د دنيا نه رخصتيږی) د حضرت ګنګوهی رحمه الله په يو تقرير کښې دی چې حضور اکرم ﷺ د انتهائی محبت او عشق په وجه صحابه کرام رضی الله عنهم په شروع کښې د وداع دا لفظ په معنی باندې محمول کولو ته تيار نۀ وو ليکن بيا مجبوراً منل وو. [1]

---

[1]) ولنعم ما قال شيخ الهند في مرثية شيخه القطب الګنګوهي رحمه الله.

نہ کہے تھے کہ اس جان جہاں سے یوں جدا ہوگے یہ سننے کو چلے آئے تھے اک دن جان ہی جانی

دويمه فائده : د ابن عباس رضي الله عنهما نه منقول دی چې هغوی به دا تسميه يعنی حجة الوداع مکروه ګڼړله دغه شان په نيل المآرب(فی فقه الحنابله) کښې ئې هم دا وجه تسميه مکروه ليکلې ده په ظاهره د دې وجه دا ده چې په وداع کښې د ترک معنی موندې کيږی او ښکاره خبره ده چې په حج د چې په شان عظيم عبادت د رخصت کولو او پريخودلو څيز نه دې بلکه بار بار د نيکئ کولو يو څيز دې نه دا چې بس يو ځل اوکړې شو او بيا چهټی

دريمه فائده : حضرت امام بخاری صاحب رحمه الله د باب حجة الوداع ترجمه د کتاب المغازی په آخر کښې ذکر کړې ده د مغازی نه پس سرايا او بيا وفود لره ترتيب وار ذکر کولو نه پس ئې اخر کښې حجة الوداع ذکر کړې ده ځکه چې دا د پيغمبر عليه السلام په سفرونو کښې آخری سفر دې د پيغمبر عليه السلام زيات تر سفرونه به دغزوات يا د حج او عمرې دپاره وو حاصل دا چې د امام بخاری صاحب رحمه الله دې باب لره هلته ذکر فقهی حيثيت سره نه دی بلکه تاريخی حيثيت سره دی والله تعالی اعلم

[١٩٠٥]([1]) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مُحَمَّدٍ النُّفَيْلِيُّ، وَعُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، وَهِشَامُ بْنُ عَمَّارٍ، وَسُلَيْمَانُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الدِّمَشْقِيَّانِ وَرُبَّمَا زَادَ بَعْضُهُمْ عَلَى بَعْضِ الْكَلِمَةَ وَالشَّيْءَ، قَالُوا: حَدَّثَنَا حَاتِمُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا جَعْفَرُ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: "دَخَلْنَا عَلَى جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، فَلَمَّا انْتَهَيْنَا إِلَيْهِ سَأَلَ عَنِ الْقَوْمِ حَتَّى انْتَهَى إِلَيَّ، فَقُلْتُ: أَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَلِيِّ بْنِ حُسَيْنٍ، فَأَهْوَى بِيَدِهِ إِلَى رَأْسِي فَنَزَعَ زِرِّي الْأَعْلَى ثُمَّ نَزَعَ زِرِّي الْأَسْفَلَ ثُمَّ وَضَعَ كَفَّهُ بَيْنَ ثَدْيَيَّ وَأَنَا يَوْمَئِذٍ غُلَامٌ شَابٌّ، فَقَالَ: مَرْحَبًا بِكَ وَأَهْلًا يَا ابْنَ أَخِي، سَلْ عَمَّا شِئْتَ فَسَأَلْتُهُ وَهُوَ أَعْمَى،

د محمد بن جعفرنه روايت دې فرمائی چه مونږ بی دجابر بن عبدالله انصاری په خدمت کښې حاضر شو مونږ چه کله دهغه خواته اورسيدو هغه ديو يوکس نه تپوس اوکړو څوک ئې تردې چه ماته راورسيدو نوزمانه ئې هم تپوس اوکړو ماورته اووئيل - زه محمد بن علی بن حسين يم نوهغه خپل لاس زماپه د سرباندې کيخودو زمامخکنئ لمن اوبيائې وروستنی و لمن اوچته کړه او بيائې زماپه دواړو تشوباندې لاسونه و کيخودل اوزه په دې وخت کښې ځوان هلك وم، او راته ئې اووئيل پخير راغلې دی وی تاته اوخوشحاله اوسی پخپل اهل کښې، اې وراره څه چه دی زړه غواړی تپوس اوکړه مادهغه نه تپوس کول غوښتل اوهغه ړوند هم وو.

وَجَاءَ وَقْتُ الصَّلَاةِ فَقَامَ فِي نِسَاجَةٍ مُلْتَحِفًا بِهَا، يَعْنِي ثَوْبًا مُلَفَّقًا، كُلَّمَا وَضَعَهَا عَلَى مَنْكِبِهِ رَجَعَ طَرَفَاهَا إِلَيْهِ مِنْ صِغَرِهَا فَصَلَّى بِنَا وَرِدَاؤُهُ إِلَى جَنْبِهِ عَلَى الْمِشْجَبِ، فَقُلْتُ: أَخْبِرْنِي عَنْ حَجَّةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ بِيَدِهِ: فَعَقَدَ تِسْعًا، ثُمَّ قَالَ: إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَكَثَ تِسْعَ سِنِينَ لَمْ يَحُجَّ، ثُمَّ أُذِّنَ فِي النَّاسِ فِي الْعَاشِرَةِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَاجٌّ، فَقَدِمَ الْمَدِينَةَ بَشَرٌ كَثِيرٌ كُلُّهُمْ يَلْتَمِسُ أَنْ يَأْتَمَّ بِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَيَعْمَلَ بِمِثْلِ عَمَلِهِ، فَخَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَخَرَجْنَا مَعَهُ حَتَّى أَتَيْنَا ذَا الْحُلَيْفَةِ، فَوَلَدَتْ أَسْمَاءُ بِنْتُ عُمَيْسٍ مُحَمَّدَ بْنَ أَبِي بَكْرٍ فَأَرْسَلَتْ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَيْفَ أَصْنَعُ، فَقَالَ: اغْتَسِلِي وَاسْتَذْفِرِي

[1]): صحيح مسلم/الحج ١٩(١٢١٨)، سنن النسائي/الحج ٤٦(٢٧١٣)، ٥١(٢٧٤١)، ٥٢(٢٧٤٤)، ٧٣(٢٨٠٠)، سنن ابن ماجه/المناسك ٨٤(٣٠٧٤)، (تحفة الأشراف: ٢٥٩٣)، وقد أخرجه: مسند احمد(٣/٣٢٠، ٣٣١، ٣٣٣، ٣٤٠، ٣٧٣، ٣٨٨، ٣٩٤، ٣٩٧)، سنن الدارمي/المناسك ١١(١٨٤٦)(صحيح)

بِثَوْبٍ وَأَحْرِمِي، فَصَلَّى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْمَسْجِدِ ثُمَّ رَكِبَ الْقَصْوَاءَ حَتَّى إِذَا اسْتَوَتْ بِهِ نَاقَتُهُ عَلَى الْبَيْدَاءِ،

خو په دې وخت کښې دمونځ وخت راغې دمونځ دپاره ئې څادر وغوړولو اودومره ورکرتې څادر وو که چرې دا څادر دده په ولو غوړيدلې وې نوغورزيدلې به وو بهرحال څادر ئې تړول کړو او په يو تپائۍ باندې ئې کېخودو اوبيائې مونځ ورکړو ماورته عرض اوکړو چه ماته دنبي عليه السلام حج بيان کړه؟ نو پخپل لاس کښې اشاره اوکړه او نهه ئې وشميرل، بيائې اووئيل نبي عليه السلام په مدينه کښې نهه کاله اوسيدلې وو خوحج ئې نه وو کړې ددې نه پس په لسم کال باندې اعلان وکړې شو چه نبي عليه السلام حج ته تلونکې دې ډير صحابه کرام په مدينه منوره کښې جمع شول اود هر يو دا خواهش وو چه دنبي عليه السلام اتباع اوکړی اوچه کوم عمل نبي عليه السلام کوی هغه اختيارکړی بهرحال نبي عليه السلام حج ته روان شو او نورخلق ورسره هم روان شول تردې چه ذوالحليفه مقام ته ورسيدل دلته په ذوالحليفه کښې دا سماء بنت عميس خوی محمد بن أبي بکر پيدا شو اسماء نبي عليه السلام ته څوك اوليږو چه ماله څه کول پکاردی نبي عليه السلام په جواب کښې اووئيل غسل اوکړه اويوجانګې واغونده او احرام وتړه ددې نه پس نبي عليه السلام په جومات کښې مونځ اوکړو اوپه قصوی اوښه باندې سور شو کله چه اوښه په بيداء مقام کښې اودريده.

قَالَ جَابِرٌ: نَظَرْتُ إِلَى مَدِّ بَصَرِي مِنْ بَيْنِ يَدَيْهِ مِنْ رَاكِبٍ وَمَاشٍ وَعَنْ يَمِينِهِ مِثْلُ ذَلِكَ وَعَنْ يَسَارِهِ مِثْلُ ذَلِكَ وَمِنْ خَلْفِهِ مِثْلُ ذَلِكَ وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ أَظْهُرِنَا وَعَلَيْهِ يَنْزِلُ الْقُرْآنُ وَهُوَ يَعْلَمُ تَأْوِيلَهُ فَمَا عَمِلَ بِهِ مِنْ شَيْءٍ عَمِلْنَا بِهِ، فَأَهَلَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالتَّوْحِيدِ: لَبَّيْكَ اللَّهُمَّ لَبَّيْكَ، لَبَّيْكَ لَا شَرِيكَ لَكَ لَبَّيْكَ، إِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكَ، لَا شَرِيكَ لَكَ، وَأَهَلَّ النَّاسُ بِهَذَا الَّذِي يُهِلُّونَ بِهِ، فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيْهِمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْئًا مِنْهُ وَلَزِمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَلْبِيَتَهُ، قَالَ جَابِرٌ: لَسْنَا نَنْوِي إِلَّا الْحَجَّ، لَسْنَا نَعْرِفُ الْعُمْرَةَ حَتَّى إِذَا أَتَيْنَا الْبَيْتَ مَعَهُ اسْتَلَمَ الرُّكْنَ فَرَمَلَ ثَلَاثًا وَمَشَى أَرْبَعًا ثُمَّ تَقَدَّمَ إِلَى مَقَامِ إِبْرَاهِيمَ فَقَرَأَ: وَاتَّخِذُوا مِنْ مَقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى سورة البقرة آيه ١٢٥ فَجَعَلَ الْمَقَامَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْبَيْتِ،

نوجابر او وئيل څومره پورې چه زمانظر رسيدو ماد نبي عليه السلام ښئ اوکس مخکښې اوشاته طرفونه اوليدل چه دپيدل خلقونه ډك وو اونبي عليه السلام زمونږ په مينځ کښې وو او قرآن کريم ورباندې نازليدو اوهغه ددې په مطلب پوهيدو مونږ به صرف هغه کارونه سرته و رسول کوم چه به هغه کول. هغه لبيك په اوچت آواز سره اووئيلوچه اې الله زه ستاپه دركښې حاضريم ستاپه دربار کښې حاضريم ستاسره څوك شريك نشته اوزه ستا په حضور کښې حاضريم، تمام تعريفونه اونعمتونه ستا شان دې اوحکومت هم ستادې ستاسره هيڅوك شريك نشته اوخلقوهم په تيز اواز سره لبيك وئيل شروع کړل چاچه به په لا ډير تيز آواز سره وئيل نبي عليه السلام به هغوی نه منع کول ليکن پخپله به ئې لبيك وئيل. جابر ته وائې چه مونږ صرف دحج نيت کړې وو مونږ عمره نه پيژندله مونږ چه دنبي عليه السلام سره کله کعبې ته داخل شو نوهغه د اول حجراسود ښکل کړو اوبيائې په اولنو درې چکرونو کښې تيزرفتاری اوکړله اوباتې څلور چکرونه ئې داعتدال په حال کښې الله وکړل بيادمقام ابراهيم طرف ته روان

شول اودا آيت کريمه ئي تلاوت کړو (واتخذوا من مقام ابراهيم) مقام ابراهيم دنبی ﷺ اودکعبې په مينځ کښې وو.

قَالَ: فَكَانَ أَبِي يَقُولُ: قَالَ ابْنُ نُفَيْلٍ وَعُثْمَانُ: وَلَا أَعْلَمُهُ ذَكَرَهُ إِلَّا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ سُلَيْمَانُ: وَلَا أَعْلَمُهُ إِلَّا، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ فِي الرَّكْعَتَيْنِ بِ: قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ وَقُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ، ثُمَّ رَجَعَ إِلَى الْبَيْتِ فَاسْتَلَمَ الرُّكْنَ ثُمَّ خَرَجَ مِنَ الْبَابِ إِلَى الصَّفَا، فَلَمَّا دَنَا مِنَ الصَّفَا قَرَأَ: إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَائِرِ اللَّهِ سورة البقرة آية ١٥٨ نَبْدَأُ بِمَا بَدَأَ اللَّهُ بِهِ، فَبَدَأَ بِالصَّفَا فَرَقِيَ عَلَيْهِ حَتَّى رَأَى الْبَيْتَ فَكَبَّرَ اللَّهَ وَوَحَّدَهُ، وَقَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ يُحْيِي وَيُمِيتُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ أَنْجَزَ وَعْدَهُ وَنَصَرَ عَبْدَهُ وَهَزَمَ الْأَحْزَابَ وَحْدَهُ، ثُمَّ دَعَا بَيْنَ ذَلِكَ وَقَالَ مِثْلَ هَذَا ثَلَاثَ مَرَّاتٍ،

نبی ﷺ په دوه رکعتونو کښې (قل هوالله احد) او (قل يا ايها الکافرون) اولوستل اوبیاد حجراسود طرف ته راغي اوحجر اسود ئي ښکل کړو بيا دجومات ددروازی دطرف نه دصفا غرطرف ته روان شو کله چه صفا ته نزدې شونودا آيت کريم (إِنَّ الصَّفَا والمروة من شعائر الله) تلاوت و کړو، اوبيائي اوفرمائيل مونږ به سعی ددې غرنه ذی شروع کوو دکوم چه الله تعالی مخکښې نوم اخستلی ذی دې نودصفانه تی شروع اوکړله اود صفا ډيرئ ته وختلو تردې چه بيت الله ورته ښکاره شونودتکبير آواز ئي وکړو او دالله تعالی توحيد ئي بيان کړو، اوبيائی به او فرمائيل چه الله يودې دهغه نه علاوه بل څوك حقدار دبندګئ نشته دهغه څوك شريك نشته اوهغه د لره بادشاهی ده اود تعريف مستحق هم الله تعالی دې اوهم هغه ژوندی کول اومړه کول کوی اوهغه په. هرڅه باندې قادردې، دهغه نه علاوه څوك ربښتونی بل معبودنشته هغه يواځی دې اوهغه خپله وعده پوره ئي کړه اودخپل نبی امداد ئې وکړو، او د کفارو ډلونه يواځی د الله شکست ورکړو او ددی په مينځ کښې ئې بيا دعا وکړه، او دغسې ئې درې ځله اووئيل.

ثُمَّ نَزَلَ إِلَى الْمَرْوَةِ حَتَّى إِذَا انْصَبَّتْ قَدَمَاهُ رَمَلَ فِي بَطْنِ الْوَادِي حَتَّى إِذَا صَعِدَ مَشَى حَتَّى أَتَى الْمَرْوَةَ فَصَنَعَ عَلَى الْمَرْوَةِ مِثْلَ مَا صَنَعَ عَلَى الصَّفَا حَتَّى إِذَا كَانَ آخِرُ الطَّوَافِ عَلَى الْمَرْوَةِ، قَالَ: إِنِّي لَوِ اسْتَقْبَلْتُ مِنْ أَمْرِي مَا اسْتَدْبَرْتُ لَمْ أَسُقِ الْهَدْيَ وَلَجَعَلْتُهَا عُمْرَةً، فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ لَيْسَ مَعَهُ هَدْيٌ فَلْيُحْلِلْ وَلْيَجْعَلْهَا عُمْرَةً، فَحَلَّ النَّاسُ كُلُّهُمْ وَقَصَّرُوا إِلَّا النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَنْ كَانَ مَعَهُ هَدْيٌ، فَقَامَ سُرَاقَةُ بْنُ جُعْشُمٍ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَلِعَامِنَا هَذَا أَمْ لِلْأَبَدِ؟ فَشَبَّكَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَصَابِعَهُ فِي الْأُخْرَى، ثُمَّ قَالَ: دَخَلَتِ الْعُمْرَةُ فِي الْحَجِّ هَكَذَا مَرَّتَيْنِ، لَا بَلْ لِأَبَدِ أَبَدٍ، لَا بَلْ لِأَبَدِ أَبَدٍ،

بياد مروه دتلو دپاره دصفانه راکوزشو، کله چه دنبی ﷺ قدمونه دمرو په خاوره کښې داخل شول نوپه جلتئ سره لاړو، کله چه دمخ خکته تلونه فارغ شو او پورته ختل ئي شروع کړل نوپه معتدل رفتارسره روان شوتردې چه مروه ته ورسيدواوکوم اعمال چه ئي په صفاکښې کړی وو هغه شان ئي دلته هم وکړل کله چه په مروه کښې آخرنی چکرختم شول نو اوئی فرمائيل که چرې ماته هغه حال معلوم وی کوم چه راته اوس معلوم شو نو دځان سره به مې قربانی نه وو راوستلې، اودحج په ځای به مو عمره کړی وه ليکن په تاسوکښې چه و دچاسره قربانی نه وی هغه کسان دی احرام پرانيزی اوحج دی په عمره بدل کړی چنانچه

ټولوخلقو احرامونه لرې کړل اوويختنه ئي کم کړل مګرعلاوه دنبي ﷺ اودهغه چانه چه دچاسره قرباني موجوده وه په دې وخت کښې سراقه بن جعشم پاڅيدو اوعرض ئي وکړو اې دالله رسوله داعمل(حج ختمول بر اوعمره کول) صرف ددې کال دپاره دی اوکه دهميشه دپاره دی نونبي ﷺ ديولاس ګوتي دبل لاس په ګوتو کښې واچولی او وئي فرمائيل: عمره په حج کښې داخل شوه، يوځل دوه ځله نه بلکه دهميشه دپاره.

قَالَ: وَقَدِمَ عَلِيٌّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ مِنَ الْيَمَنِ بِبُدْنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَوَجَدَ فَاطِمَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا مِمَّنْ حَلَّ وَلَبِسَتْ ثِيَابًا صَبِيغًا وَاكْتَحَلَتْ، فَأَنْكَرَ عَلِيٌّ ذَلِكَ عَلَيْهَا، وَقَالَ: مَنْ أَمَرَكِ بِهَذَا؟ فَقَالَتْ: أَبِي، فَكَانَ عَلِيٌّ يَقُولُ بِالْعِرَاقِ: ذَهَبْتُ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُحَرِّشًا عَلَى فَاطِمَةَ فِي الْأَمْرِ الَّذِي صَنَعَتْهُ مُسْتَفْتِيًا لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الَّذِي ذَكَرَتْ عَنْهُ فَأَخْبَرْتُهُ أَنِّي أَنْكَرْتُ ذَلِكَ عَلَيْهَا، فَقَالَتْ: إِنَّ أَبِي أَمَرَنِي بِهَذَا، فَقَالَ: صَدَقَتْ صَدَقَتْ، مَاذَا قُلْتَ حِينَ فَرَضْتَ الْحَجَّ؟ قَالَ: قُلْتُ: اللَّهُمَّ إِنِّي أُهِلُّ بِمَا أَهَلَّ بِهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: فَإِنَّ مَعِيَ الْهَدْيَ فَلَا تَحِلُّ،

راوي وائي چه علي رضی الله عنه ديمن نه دنبي ﷺ اوبښ راوستلي وی اوحج ته راغلي وو نوفاطمة رضی الله عنها ئي اوليدله چه احرام ئي پرانستلي وواورنګ دار لباس ئي اغوستلي وو اوسترګي ئي توری کړی وی علي رضی الله عنه ته دفاطمی داعمل ښه ښکاره نشونو اوئي وئيل: تاسوته چاوئيلي دی چه داسی وکړئ؟ هغي ووئيل نبي ﷺ، جابر رضی الله عنه ووئيل چه علي رضی الله عنه به په عراق کښې وئيل چه زه دنبي ﷺ په خدمت کښې حاضرشوم چه فاطمه داسي وائي اوماته ښه نه ښکاري، اوهغه وائي چه زما پلار وئيلي دی،نبي ﷺ اوفرمائيل فاطمی رښتياوئيلي دی، تادااحرام تړلو په وخت کښې دڅه شي نيت کړی وو؟ علي رضی الله عنه ووئيل ماداسي نيت کړی وو چه و اې زما دهغه عمل په نيت احرام تړم دکوم عمل دپاره چه نبي ﷺ احرام تړلي دي، نبي ﷺ اوفرمائيل چه زماسره خوهديه يعني قرباني ده ته هم اوس احرام مه ختموه،

قَالَ: وَكَانَ جَمَاعَةُ الْهَدْيِ الَّذِي قَدِمَ بِهِ عَلِيٌّ مِنَ الْيَمَنِ وَالَّذِي أَتَى بِهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْمَدِينَةِ مِائَةً فَحَلَّ النَّاسُ كُلُّهُمْ وَقَصَّرُوا إِلَّا النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَنْ كَانَ مَعَهُ هَدْيٌ، قَالَ: فَلَمَّا كَانَ يَوْمُ التَّرْوِيَةِ وَوَجَّهُوا إِلَى مِنًى أَهَلُّوا بِالْحَجِّ، فَرَكِبَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَصَلَّى بِمِنًى الظُّهْرَ وَالْعَصْرَ وَالْمَغْرِبَ وَالْعِشَاءَ وَالصُّبْحَ ثُمَّ مَكَثَ قَلِيلًا حَتَّى طَلَعَتِ الشَّمْسُ وَأَمَرَ بِقُبَّةٍ لَهُ مِنْ شَعَرٍ فَضُرِبَتْ بِنَمِرَةَ فَسَارَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَلَا تَشُكُّ قُرَيْشٌ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاقِفٌ عِنْدَ الْمَشْعَرِ الْحَرَامِ بِالْمُزْدَلِفَةِ كَمَا كَانَتْ قُرَيْشٌ تَصْنَعُ فِي الْجَاهِلِيَّةِ، فَأَجَازَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى أَتَى عَرَفَةَ فَوَجَدَ الْقُبَّةَ قَدْ ضُرِبَتْ لَهُ بِنَمِرَةَ فَنَزَلَ بِهَا حَتَّى إِذَا زَاغَتِ الشَّمْسُ أَمَرَ بِالْقَصْوَاءِ فَرُحِلَتْ لَهُ فَرَكِبَ حَتَّى أَتَى بَطْنَ الْوَادِي، فَخَطَبَ النَّاسَ،

جابر رضی الله عنه وئيلي دی چه نبي ﷺ دمدينې نه دومره دقربانۍ ځاروی راوستلي وو اوڅومره چه علي رضی الله عنه راوستلي وو، دټولوځاروو تعداد سلوته ورسيدو، تمام صحابه کرام حلال شول اوويختنه ئي کم کړل او احرامونه ئي پرانستل، مګر نبي ﷺ اوهغه کسان دچاسره چه قربانيانی موجودی وی هغوی داحرام په حالت کښې پاتی شول، کله چه يوم الترويه تمام عازمين حج منی ته متوجه شول اود ارکان حج داداکولو دپاره ئي احرامونه وتړل اونبي ﷺ په خپله سورلۍ سور شو او دماسپخين اومازيګر اوماښام اوماسخوتن مونځونه ئي

په منی کښې وکړل په ورپسې ورځ ئې دسحر مونځ وکړواودنمرختوپورې ایسار ووبیائې په نمره مقام کښې دخپلې خیمې لګولوحکم وکړوکومه چه دورئ نه جوړه وه اوبیا و دمنی نه عرفات ته روان شو او د قریشوخلقوپه دې کښې شك نه کولوچه نبی ﷺ به په مزدلفه، دمشعرالحرام سره نزدې قیام کوی لکه څنګه چه به د قریشود جاهلیت په دور کښې هلته قیام کولو نبی ﷺ نور هم مخکښې لاړو تردې چه عرفات د ته ورسیدونووی لیدل چه په نمره مقام کښې خیمه « ودرولی شوی ده هغه دلته دمه وکړله کله چه نمر ښه ګرم شو نودقصوی اوښې د راوستو حکم ئې وکړو چنانچه په هغه اوښه باندې پالان (زین) ایښودلی شوی وو ،نبی ﷺ ورباندې سور شو " تردې چه وادی مقام ته راغی اوهلته ئې خطبه ورکړه.

فَقَالَ: إِنَّ دِمَاءَكُمْ وَأَمْوَالَكُمْ عَلَيْكُمْ حَرَامٌ كَحُرْمَةِ يَوْمِكُمْ هَذَا فِي شَهْرِكُمْ هَذَا فِي بَلَدِكُمْ هَذَا، أَلَا إِنَّ كُلَّ شَيْءٍ مِنْ أَمْرِ الْجَاهِلِيَّةِ تَحْتَ قَدَمَيَّ مَوْضُوعٌ وَدِمَاءُ الْجَاهِلِيَّةِ مَوْضُوعَةٌ وَأَوَّلُ دَمٍ أَضَعُهُ دِمَاؤُنَا دَمُ، قَالَ عُثْمَانُ: دَمُ ابْنِ رَبِيعَةَ، وَقَالَ سُلَيْمَانُ: دَمُ رَبِيعَةَ بْنِ الْحَارِثِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ، وَقَالَ بَعْضُ هَؤُلَاءِ: كَانَ مُسْتَرْضَعًا فِي بَنِي سَعْدٍ، فَقَتَلَتْهُ هُذَيْلٌ وَرِبَا الْجَاهِلِيَّةِ مَوْضُوعٌ وَأَوَّلُ رِبًا أَضَعُهُ رِبَانَا رِبَا عَبَّاسِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ فَإِنَّهُ مَوْضُوعٌ كُلُّهُ، اتَّقُوا اللَّهَ فِي النِّسَاءِ فَإِنَّكُمْ أَخَذْتُمُوهُنَّ بِأَمَانَةِ اللَّهِ وَاسْتَحْلَلْتُمْ فُرُوجَهُنَّ بِكَلِمَةِ اللَّهِ وَإِنَّ لَكُمْ عَلَيْهِنَّ أَنْ لَا يُوطِئْنَ فُرُشَكُمْ أَحَدًا تَكْرَهُونَهُ فَإِنْ فَعَلْنَ فَاضْرِبُوهُنَّ ضَرْبًا غَيْرَ مُبَرِّحٍ وَلَهُنَّ عَلَيْكُمْ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ، وَإِنِّي قَدْ تَرَكْتُ فِيكُمْ مَا لَنْ تَضِلُّوا بَعْدَهُ إِنِ اعْتَصَمْتُمْ بِهِ: كِتَابَ اللَّهِ وَأَنْتُمْ مَسْئُولُونَ عَنِّي، فَمَا أَنْتُمْ قَائِلُونَ؟، قَالُوا: نَشْهَدُ أَنَّكَ قَدْ بَلَّغْتَ وَأَدَّيْتَ وَنَصَحْتَ، ثُمَّ قَالَ بِأُصْبُعِهِ السَّبَّابَةِ يَرْفَعُهَا إِلَى السَّمَاءِ وَيَنْكُبُهَا إِلَى النَّاسِ: اللَّهُمَّ اشْهَدْ، اللَّهُمَّ اشْهَدْ، اللَّهُمَّ اشْهَدْ،

او وئې فرمائیل اې خلقو ستاسو ځانونه او مالونه په تاسوکښې په یوبل باندې حرام دی لکه څنګه چه نن ورځ ده په دې میاشت کښې او په دې ښارکښې. پوهه شئ دجاهلیت ددور هر رسم زمادخپرونه الی لاندې کړې شو اوچاچه دجاهلیت په دورکښې څومره قتلونه کړې وی ټول معاف دی او اولنې خون کوم خونونه چه په علاقه کښې شوی دی هغه معاف کوم اوهغه خون د ربیعه بن حارث بن عبد المطلب دې (د نبی ﷺ دتره څوي) بعضوئیلی دی چه ربیعه بن حارث دبنی سعد قبیلې پئ څکلی وو لله اودهزیل قبیلی والا کسانوقتل کړې وو، بله داخبره سوق ده چه څومره سود دجاهلیت ددور دخلقو په ذمه لله د هغه معاف شو، اواولنې سود چه زه ئې معاف کوم هغه خپل سود دې کوم چه دعباس بن عبد المطلب دې ځکه چه سود بالکل بند کړې شوې دې بله داچه اې خلقو تاسو ټول دزنانوو په باره کښې دالله نه ویره وکړئ ځکه چه تاسودوی لره دالله تعالی په امان سره په قبضه کښې اخستلی دی (مراد ئې دزنانوو دحقوقو د ادا کولو وعده کول دي) اودالله په حکم سره تاسوددوی شرم ګاهونه حلال کړی دی اوستاسو دپاره په زنانوو باندې داحق دې چه دوی ستاسو بسترونه داسې څوك نه راولی دچا راتلل چه تاسو بدګنړئ، اوکه چرې دوی داسې اوکړی نوتاسو دوی لره اووهئ اوداسې سخت وهل مه ورکوئ چه هډوکی یسې مات شي یاښکاره زخم جوړ شي، اودزنانوودپاره په تاسوباندې داحق دې چه دوی ته درواج مطابق خوراك څښاك اولباس ورکړئ اوزه په تاسوکښې یوداسې شې پریږدم که چرې تاسوهغه مضبوط اونیسئ نوګمراه به نه شئ اوهغه دالله تعالی کتاب دې اوستاسونه به دقیامت په ورځ زما

په باره کښې تپوس کيږي بيابه څه جواب ورکوئ؟ ټولو خلقو جواب ورکړو يقينا تا دالله تعالى پيغام اورسوو او خپل فرض دې اداکړل اونصيحت دې اوکړو نبي ﷺ دشهادت په ګوته باندې اشاره اوکړه اوداسمان طرف ته ئې پورته کړه اوبيائې دخلقوطرف ته راښکته کړه اوبيائې اوفرمائيل اې الله ګواه شه، اې الله ګواه شه، اې الله ګواه شه،

ثُمَّ أَذَّنَ بِلَالٌ ثُمَّ أَقَامَ فَصَلَّى الظُّهْرَ ثُمَّ أَقَامَ فَصَلَّى الْعَصْرَ وَلَمْ يُصَلِّ بَيْنَهُمَا شَيْئًا ثُمَّ رَكِبَ الْقَصْوَاءَ حَتَّى أَتَى الْمَوْقِفَ فَجَعَلَ بَطْنَ نَاقَتِهِ الْقَصْوَاءِ إِلَى الصَّخَرَاتِ وَجَعَلَ حَبْلَ الْمُشَاةِ بَيْنَ يَدَيْهِ فَاسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ، فَلَمْ يَزَلْ وَاقِفًا حَتَّى غَرَبَتِ الشَّمْسُ وَذَهَبَتِ الصُّفْرَةُ قَلِيلًا حِينَ غَابَ الْقُرْصُ، وَأَرْدَفَ أُسَامَةَ خَلْفَهُ فَدَفَعَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَدْ شَنَقَ لِلْقَصْوَاءِ الزِّمَامَ حَتَّى إِنَّ رَأْسَهَا لَيُصِيبُ مَوْرِكَ رَحْلِهِ وَهُوَ يَقُولُ بِيَدِهِ الْيُمْنَى: السَّكِينَةَ أَيُّهَا النَّاسُ، السَّكِينَةَ أَيُّهَا النَّاسُ، كُلَّمَا أَتَى حَبْلًا مِنَ الْحِبَالِ أَرْخَى لَهَا قَلِيلًا حَتَّى تَصْعَدَ حَتَّى أَتَى الْمُزْدَلِفَةَ فَجَمَعَ بَيْنَ الْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ بِأَذَانٍ وَاحِدٍ وَإِقَامَتَيْنِ، قَالَ عُثْمَانُ: وَلَمْ يُسَبِّحْ بَيْنَهُمَا شَيْئًا، ثُمَّ اتَّفَقُوا،

ددې نه پس بلال اذان اوکړو اواقامت ئې اوکړو اونبي ﷺ دماسپخين مونځ اوکړو اوبيائې تکبير اوکړو اودمازيګرمونځ ئې اوکړو او په مينځ کښې ئې نوافل اونکړل بيا په قصوی اوښه باندې سور شو اوميدان عرفات ته لاړو دخپلې اوښې خېټه ئې دکاڼوطرف ته کړه اوجبل مشاة طرف ته ئې مخامخ کړه او قبلې ته ئې ورله مخ کړو او اودريدو تردې چه نمرپريوتو اوزيړوالې کم شو، کله چه نمر پريوتو نواسامه ئې په ځان پسې سور کړو اودعرفات نه مزدلفې ته واپس شو او داوښې واګې ئې سختې کړې تردې چه سر به ئې دزن سره لګيدو او په خپل ښي لاس به ئې خلقوته اشاره کوله چه په مزه مزه ځئ کله چه به په کوم لوړ ځائې باندې ختلو نوداوښ واګې به ئې لږې سستې کړې ددې دپاره چه پورته اوختلې شي بهرحال مزدلفې ته راورسيدو اوهلته ئې دماښام او د ماسخوتن مونځ په يواذان اودوه تکبيرونو سره جمع کړو، عثمان وئيلي دي چه د دواړو مونځو په مينځ کښې ئې نفل ياسنت اونکړل، په باقي روايت کښې ټول راويان متفق دي .

ثُمَّ اضْطَجَعَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى طَلَعَ الْفَجْرُ، فَصَلَّى الْفَجْرَ حِينَ تَبَيَّنَ لَهُ الصُّبْحُ، قَالَ سُلَيْمَانُ: بِنِدَاءٍ وَإِقَامَةٍ، ثُمَّ اتَّفَقُوا، ثُمَّ رَكِبَ الْقَصْوَاءَ حَتَّى أَتَى الْمَشْعَرَ الْحَرَامَ فَرَقِيَ عَلَيْهِ، قَالَ عُثْمَانُ وَسُلَيْمَانُ: فَاسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ، فَحَمِدَ اللَّهَ وَكَبَّرَهُ وَهَلَّلَهُ، زَادَ عُثْمَانُ: وَوَحَّدَهُ، فَلَمْ يَزَلْ وَاقِفًا حَتَّى أَسْفَرَ جِدًّا ثُمَّ دَفَعَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَبْلَ أَنْ تَطْلُعَ الشَّمْسُ،

چه بيا نبي ﷺ ارام اوکړو تردې چه سهرشو کله چه نمر روښانه شو نودسحرمونځ ئې اوکړو سليمان وئيلي دي په اذان اواقامت سره، او بيا په قصوی اوښه باندې سور شوتردې چه مشعرالحرام ته راورسيدو او په هغې اوختلو سليمان وئيلي دي چه قبيلې ته ئې مخ کړو دالله تعالى تعريف ئې اوکړو اوتکبيرئې اووئيلو اوعثمان دا اضافه کړې ده چه توحيد کښې بيان کړو اوبيائې قيام اوکړو تردې چه ښه رڼرا شوه بيا دنمرختونه مخکښې ددغه ځائې نه روان شو.

وَأَرْدَفَ الْفَضْلَ بْنَ عَبَّاسٍ: وَكَانَ رَجُلًا حَسَنَ الشَّعْرِ أَبْيَضَ وَسِيمًا، فَلَمَّا دَفَعَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ الظُّعُنُ يَجْرِينَ فَطَفِقَ الْفَضْلُ يَنْظُرُ إِلَيْهِنَّ، فَوَضَعَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدَهُ عَلَى وَجْهِ الْفَضْلِ وَصَرَفَ

الْفَضْلُ وَجْهَهُ إِلَى الشِّقِّ الْآخَرِ، وَحَوَّلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدَهُ إِلَى الشِّقِّ الْآخَرِ، وَصَرَفَ الْفَضْلُ وَجْهَهُ إِلَى الشِّقِّ الْآخَرِ يَنْظُرُ حَتَّى أَتَى مُحَسِّرًا فَحَرَّكَ قَلِيلًا ثُمَّ سَلَكَ الطَّرِيقَ الْوُسْطَى الَّذِي يُخْرِجُكَ إِلَى الْجَمْرَةِ الْكُبْرَى حَتَّى أَتَى الْجَمْرَةَ الَّتِي عِنْدَ الشَّجَرَةِ فَرَمَاهَا بِسَبْعِ حَصَيَاتٍ يُكَبِّرُ مَعَ كُلِّ حَصَاةٍ مِنْهَا بِمِثْلِ حَصَى الْخَذْفِ فَرَمَى مِنْ بَطْنِ الْوَادِي،

اوفضل بن عباس ئې په ځان پسې سور کړو فضل يو داسې سړې وو چه ډير ښائسته ويښته ئې وو او تک سپين خوبصورته سړې وو کله چه نبي ﷺ ددغه ځائي نه روان شو نو زنانه دخپلو اوښانو په کجاوو کښې ميناستې کيناستې فضل دې زنانوته کتل نبي ﷺ خپل لاس مبارک دفضل په مخ باندې کيخودو په دې سره فضل خپل مخ بل طرف ته ستون کړو بيانبي ﷺ خپل لاس بل طرف ته کيخودو هغه بيابل طرف ته مخ کړو نبي ﷺ هم خپل لاس وروګرځولو تردې چه وادي محسر مقام ته ورسيدو بيائې خپله سورلۍ تيزه کړه او په يوه بله مينځنۍ لار باندې روان شو کومه چه جمراء عقبې ته تلې وه تردې چه هغه جمرې ته ورسيدو کومه چه دونې سره نزدې ده بيانبي ﷺ اوه ګيټې ورويشتلې اود هرې ګيټۍ سره به ئې الله اکبر وئيل اوهره يوه ګيټې به داسې وه کومه چه په ګوتو کښې دويشتلودپاره اينبودلې شي ليکن ګيټې ئې په وادي کښې دننه ويشتلې.

ثُمَّ انْصَرَفَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الْمَنْحَرِ فَنَحَرَ بِيَدِهِ ثَلَاثًا وَسِتِّينَ، وَأَمَرَ عَلِيًّا فَنَحَرَ مَا غَبَرَ، يَقُولُ: مَا بَقِيَ وَأَشْرَكَهُ فِي هَدْيِهِ، ثُمَّ أَمَرَ مِنْ كُلِّ بَدَنَةٍ بِبَضْعَةٍ فَجُعِلَتْ فِي قِدْرٍ فَطُبِخَتْ فَأَكَلَا مِنْ لَحْمِهَا وَشَرِبَا مِنْ مَرَقِهَا، قَالَ سُلَيْمَانُ: ثُمَّ رَكِبَ، ثُمَّ أَفَاضَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الْبَيْتِ فَصَلَّى بِمَكَّةَ الظُّهْرَ، ثُمَّ أَتَى بَنِي عَبْدِ الْمُطَّلِبِ وَهُمْ يَسْقُونَ عَلَى زَمْزَمَ، فَقَالَ: انْزِعُوا بَنِي عَبْدِ الْمُطَّلِبِ، فَلَوْلَا أَنْ يَغْلِبَكُمُ النَّاسُ عَلَى سِقَايَتِكُمْ لَنَزَعْتُ مَعَكُمْ فَنَاوَلُوهُ دَلْوًا فَشَرِبَ مِنْهُ".

بيا دغه ځائي نه دقربانۍ ځائي ته لاړو او پخپل لاس مبارک ئې ۹۳ اوښان نحرکړل او علي رضي الله عنه ئې په قربانۍ کښې شامل کړو اوبيائې دهر اوښ نه ديوې يوې ټيکې دغوښې اخستلو حکم اوکړو هغه ټولې تيې په يو ديګ کښې پخې کړې شوې، نبي ﷺ او علي رضي الله عنه اوخوړلې او دهغې شوروا ئې وڅکله اوبيا پخپله سورلۍ سور شو اوکعبې ته لاړو سليمان وئيلي دي نبي ﷺ چه مې ته راغې نودماسپخين مونځ ئې اداکړو اوبيا د عبدالمطلب داولاد طرف ته لاړو وئې فرمائيل اې دعبدالمطلب اولاده اوبه راوباسئ که چرې دا ويره نه وې چه خلق به په تاسو زورور شي په تاسو باندې داوبو په ورکولو کښې نومابه هم ستاسو سره خلقوته اوبه ورکولې او راويستلې به مو هغوي يوه جدا بوکه راوويستله اونبي ﷺ ته ئې پيش کړه اوهغه ددې نه اوبه وڅکلې

تشريح: قوله: حدثنا عبدالله بن محمد النفيلي وعثمان بن ابي شيبة ...الخ :

دا حديث مصنف رحمه الله ته د متعدد شيوخو نه رسيدلې دې حتّٰی انتهی الٰی،، تردې چې زما نمبر راغې ما خپل نوم اووئيلو چې زهٔ محمد بن علي بن حسين يم حضرت جابر رضي الله عنه د هغوي په نوم نسب اوريدلو سره د اهل بيت سره نزدې تعلق او محبت په وجه سره خوشحاله شو او دهغه د ګريوان تڼۍ ئې خلاصې کړې اوپه سينه ئې ورله لاس د شفقت تيرکړو. حضرت په بذل کښې هم دا ليکلې دې چې دا لاس راښکل حبًّاواکرامًا لأهل البيت وو او امام

نووی دا لیکلي دی چې چونکه د عمر په لحاظ سره وړوکي وو په دې وجه ئې تانیساً دغه شان اوکړل ورنه د ځوان سړی په سینه باندې دغه شان لاس وهل مناسب نه دی (بذل)

قلت والا ظهر هو الاول فقام فی نساجة،، د نساجه تفسیر کتاب کښې مذکور دی ثوب ملفق یعنی ډبل څادر، دوه غبرګې، ممکن ده چې د هغې دواړه سرونه دې دپاره ګنډلې شوې وو چې هغه دردیده وی د ټولو حاصل دا دې چې هغوی یو معمولی څادر واغستو او مونځ ئې اوکړو چې د وړوکوالی له وجې د هغوی په اوږو باندې قائم نۀ پاتې کیدو بلکه لاندې به پریوتلو حالانکه یو بل لوپ او غټ څادر هغوی سره نزدې په تپائی باندې پروت وو (پته نشته چې داسې کولو کښې څۀ مصلحت وو) د دې حدیث نه په صلوٰة فی ثواب واحد باندې هم استدلال کړې شوې دې باوجود د دې چې د یو نه زیاته کپړه موجود وی

فقال بیده فعقد تسعاً قال بمعنی اشار یعنی هغوی په خپلو ګوتو سره شمار کولو سره اوښودل او وې وئیل چې پیغمبر ﷺ د هجرت نه پس دومره کالونه یعنی نهو کالو پورې اوسیدلو حج ئې اونکړو بیا چې کله لسم کال شو نو په هغې کښې پیغمبر ﷺ عام اعلان اوکړو چې په دې کال به زۀ حج کوم نو مدینه منوره کښې بې شماره خلق جمع کیدل شروع شو (چې د هغوی په تعداد کښې مختلف اقوال دی کم نه کم لس کم یو لاکهه او زیات نه زیات یو لاکهه دیرش زره خلق وو)

کلهم یلتمس ان یاتم برسول الله صلی الله علیه وسلم الخ هر سړی دا غوښتل چې په دې حج کښې د نبی کریم ﷺ پوره پوره اتباع اوکړی او چې کوم قسم احرام د پیغمبر ﷺ وی نو چې هم هغه قسم زما هم وی فخرج رسول الله صلی الله علیه وسلم وخرجنا معه د دې نه مخکښې باب الافراد کښې په حدیث د عائشه رضی الله عنها کښې فخرجنا مع رسول الله صلی الله علیه وسلم موافین هلال ذی الحجة دې حدیث کښې د مدینې منورې نه د روانیدو تاریخ بیان شوې دې فولدت اسماء بنت عمیس الخ دا مضمون باب الحائض تهل بالحج کښې تیر شوې دې ورسول الله صلی الله علیه وسلم بین اظهرنا وعلیه ینزل القرآن

انتهائی بابرکت او مقدس منظر

څلور وارو طرفته د صحابه کرام رضی الله عنهم مجمع او مینځ کښې فخرالانبیاء او سیدالرسل فخرموجوات نبی کریم ﷺ تشریف فرما دې او په دې حال کښې چې قرآن هم نازلیږی جبرائیل امین ﷺ بار بار تشریف راوړی څومره عظیم القدر او بابرکت منظر وو چې د هغې مثال نۀ تیرو شوو زمانو کښې موندلې شوې دې او نۀ به آئنده دې دنیا کښې د دې مثال راشی واهل الناس بهذا الذی یهلون به یعنی صحابه کرامو به خپله خپله تلبیه لوستله (چې خپل شوق ذوق سره به ئې د تلبیه په الفاظو کښې اضافه کوله) او نبی کریم ﷺ خپله تلبیه لازم نیولې وه یعنی پیغمبر ﷺ په کښې هیڅ قسم کمی زیاتی نه کولو لسنا ننوی الا الحج تقدم الکلام علیه فی باب الافراد فی الحج تحت قوله لا نری الا انه الحج

قوله: حتی اذا اتینا البیت معه دا حدیث جابر اگرچه ډیر مفصل او جامع دې لیکن دلته په

کښې اختصار شوې دې مدينې منورې ته روانيدو نه پس مکې مکرمې ته رسيدلو کښې اتۀ ورځې صرف کيږي په دې دوران کښې چې کوم واقعات دوی ته پيښ شو په دې حديث کښې د هغې مطلقاً ذکر نشته البته نورو رواياتو کښې شته چې هغه حضرت شيخ صاحب په جزء حجة الوداع کښې ذکر کړې دی

قوله: استلم الرکن دا د پيغمبر ﷺ په مکه مکرمه کښې داخليدو سره اولنې طواف دې چې جمهور ورته طواف قدوم وائی او احناف ورته طواف عمره وائی، د طواف ابتدا د حجر اسود د استلام (١) نه کيږی فرمل ثلثا د دې نه معلومه شوه چې دا طواف ماشياً يعنی د پيدل وو څکه چې رمل صرف په طواف ماشياً کيدې شی يعنی تګ کولو کښې بعضې طوافونه پيغمبر ﷺ د سورلئ په حالت کښې هم کړې دی کما تقدم الکلام عليه فی باب الطواف الواجب قال فکان ابی يقول د دې قائل حضرت جعفر بن محمد دې او د ابی نه مراد محمد دې چې دا قصه د حضرت جابر نه روايت کوی شرح السند قال ابن نفيل وعثمان

چونکه د مصنف شيوخ په دې حديث کښې متعدد دی په دې وجه د کان ابی يقول نه پس چې کوم عبارت دې په هغې کښې د مصنف د شيوخو اختلاف دې مصنف هغه بيانوی هغه دا چې ابن نفيل او عثمان خو دا اووې ولا اعلمه ذکره الا عن النبی صلی الله عليه وسلم او د مصنف دريم استاذ سليمان اووې ولا اعلمه الا قال قال رسول الله صلی الله عليه وسلم مطلب د دې ټولو دا دې چې د جعفر پلار محمد وائی چې وراندې کومه خبره زۀ کول غواړم يعنی د تحية الطواف په دواړ رکعتونو کښې د سورة کافرون او اخلاص قراءت دا جابر (٢) د حضور اکرم ﷺ نه نقل کړې دې چې هغوی به دې دواړ رکعتونو کښې سورة کافرون او اخلاص لوستلو او د سليمان د الفاظو نه دا معلوميږی چې په دې رکعتونو کښې د دې دواړ سورتونو لوستل د پيغمبر ﷺ نه قولاً روايت دې يعنی پيغمبر ﷺ اوفرمائيل چې دې دواړ رکعتونو کښې دې دا دوه سورتونه لوستلې کيږی ليکن د صحيح مسلم په روايت کښې د الا قال قال رسول الله په ځائې الا قال کان رسول الله دې په دې صورت کښې به دا روايت قولی نۀ وی بلکه فعلی به وی وهو الموافق للسياق کمالا يخفی

ثم رجع الی البيت فاستلم الرکن د دې نه معلومه شوه چې د سعی ابتداء هم د استلام دحجر نه کول پکار دی زمونږ فقهاء کرامو هم د دې د استحباب تصريح کړې ده بلکه ابن قدامه په دې باندې د ائمه اربعه اتفاق ليکلې دې ثم خرج من الباب الی الصفا د باب نه مراد باب الصفا دې کما فی رواية الطبرانی دا باب د حجر اسود بالکل مخامخ دې او صفا ته د تلو

---

(١) دغه شان د طواف اختتام هم په استلام باندې کيږی لهذا په يو طواف کښې اتۀ ځله استلام کيږی، بيا که د طواف نه پس سعی هم کول وی لکه چه دلته په روايت کښې ذکردی نو ددې په شروع کښې هم چونکه استلام مستحب دې لهذا ټول به نهه ځله شی ليکن په بذل المجهود کښې دې آخری استلام ته نې استلام ثامن ليکلې دې چه دا په ظاهر سبقت دقلم دې د ثامن په ځائې تاسع کيدل پکار دی.

(٢) دا حصر د حديث د راوی جابر ؓ په لحاظ سره دې يعنی محمد د جابر نه د دواړو سورتونو کوم قراءة نقل کړې دې هغه د حضور ﷺ د مونځ متعلق دې نه چه د جابر ؓ د مونځ

دپاره د ټولو نه نزدې هم دا دروازه ده په دې دروازې باندې وتل مستحب دی

قوله: نبدا بما بدالله به د سعی ابتداء د صفا نه کول په نزد د ائمه اربعه واجب ده خلافاً لبعض التابعین

قوله: حتی اذا انصبت قدماه رمل فی بطن الوادی په صفا باندې د دعاء نه د فارغیدو نه پس پیغمبر ﷺ لاندې تشریف راوړو او بطن وادی کښې ئې رمل اوفرمائیلو او منډه ئې اووهله بیا چې کله د مروه چړهائی شروع شوه نو د سعی په ځائې ئې مشی اوکړه

د طواف او سعی نه پس د پیغمبر ﷺ له طرفه د فسخ الحج امر جازم

قوله: فمن کان منکم لیس معه هدی فلیحلل:

د سعی مکمل کیدو نه پس پیغمبر ﷺ هغې صحابو ته د حلالیدو حکم اوفرمائیلو چاچې ځان سره څاروې نه وُو بوتلې او دا چې دا طواف او سعی عمره اوګرځوی یعنی په ځائې د دې چې هغوی ئې طواف قدوم اوګرځوی او دې سعی لره د حج سعی اوګرځوی چې د طواف قدوم نه پس هم جائز ده څنګه چې د طواف زیارت نه پس هم کولې شی د دې ټولو نوم فسخ الحج الی العمره دې او دا زیات تر هغه حضرات وو چې مفرد حج والا وو ومن کان معه هدی دې حضراتو تعیین مونږ سره مخکښې په باب فی افراد الحج کښې تیر شوې دې دخلت العمرة فی الحج د دې نه د اکثرو په نزد مراد جواز الاعتماد فی اشهرالحج دې چې د هغې د ظاهر او ثابت کولو دپاره پیغمبر ﷺ فسخ الحج الی العمره کړې وو د دې نورې معنې هم اخستلې شوې دی[1] کما فی البذل

فوجد فاطمة رضی الله عنها ممن حل.............فانکر علی رضی الله عنه ذلک علیها الخ

حضرت علی رضی الله عنه چې اول پیغمبر ﷺ یمن ته لیږلې وو د هغه ځائې نه واپسئ کښې مکې ته راؤرسیدل خپلې او د پیغمبر ﷺ هدې راوړلو سره او دلته اکثر صحابه چې په هغې ازواج مطهرات او حضرت فاطمه رضی الله عنهن هم شامل وو د پیغمبر ﷺ په حکم سره فسخ الحج الی العمره کولو سره حلال شوې وو حضرت علی رضی الله عنه چونکه د دې نه پس بیا راؤرسیدلو او د دې واقعې خبر ورته نهٔ وو نو چې څنګه ئې حضرت فاطمه رضی الله عنها اولیدله چې هغه د خپل احرام نه حلاله شوې ده نو په دې خبره خفه شو او وې فرمائیل چې دا تا څه کړې دی؟ نو په دې باندې حضرت فاطمه رضی الله عنها اوفرمائیل چې ما د خپل پلار په وینا داسې کړې دی حضرت علی رضی الله عنه فرمائی چې زهٔ د دې په اوریدلو سره ناراض شوم او پیغمبر ﷺ ته

---

[1] فقیل معناه جواز القران والمراد بالدخول دخول افعال العمرة فی افعال الحج کما هو عند الجمهور خلافا للحنفیه وقیل معناه جواز فسخ الحج الی العمرة الی الابد کما هو مسلک الحنابلة والظاهریة وضعف هذین المعنیین النووی کما فی البذل، خو حافظ ابن قیم په زاد المعاد کښې دی لره په فسخ الحج الی العمره باندې محمول کړې دې او ډیر په زور او شور سره ئې ونیلی دی چه که په مونږ کښې څوک د حج احرام اوتړی نو زه په هغه باندې فرض او واجب ګرځوم چه هغه دا فسخ کړی او عمره ئې اوګنړی، او درسول الله ﷺ ددې ناراضګئ نه بچ شی کومه چه حضور ﷺ په هغه صحابؤ باندې ښکاره کړې وه چاته چه په فسخ الحج کښې شک وو، الی آخر ماقال۔

ورغلم او ټوله خبره مې حضور اکرم ﷺ ته عرض کړه نو پيغمبر عليه السلام اوفرمائيل صدقت صدقت،، چې فاطمه رشتيا وائی هغه زما په حکم سره حلال شوې ده قال فکان علی يقول بالعراق راوی وائی چې کله حضرت علی رضي الله عنه په خپله دارالخلافه عراق کښې وو نو هغه وخت به ئې دا خبره بيانوله چې زۀ د فاطمه نه ناراض شوم او حضور اکرم ﷺ ته ورغلم..الخ.

قوله: ماذا قلت حين فرضت الحج پيغمبر عليه السلام د حضرت علی رضي الله عنه د جواب ورکولو نه پس اوفرمائيل چې تۀ خپله اووايه ! چې تا کله احرام تړلې وو نو څۀ نيت دې کړې وو يعنی کوم قسم احرام دې تړلې وو هغوی عرض اوکړو چې ما د احرام تړلو په وخت دا نيت کړې وو چې يا الله ! کوم قسم احرام ستا د نبی عليه السلام دې هم د هغې احرام زۀ هم نيت کوم(دې ته احرام معلق وائی) په احرام معلق او احرام مبهم باندې مونږ خبره کړې ده حضور عليه السلام حضرت علی ته اوفرمائيل چې چونکه زۀ او تاسو دواړه سائق الهدی يو لهٰذا مونږ حلال نۀ يو او باقی ټول خلق چې غيرسائق الهدی وو نو په عمرې کولو سره حلال شو

قوله: فلما کان يوم التروية ووجهوا الی منی اهلوا بالحج چې کوم خلق په عمره کولو سره څلورمه ذی الحجه باندې حلال شوې وو هغوی(د دريو ورځو تيريدلو نه پس څلورمه ورځ) يوم الترويه يعنی اتمه ذی الحجه باندې چې کله هغوی د منی د تللو اراده اوکړه نو دوباره ئې نوې احرام د حج دپاره اوتړلو او منی ته چې لاړل نو ټولو د ماسپخين مونږ او بيا د مازيگر په وخت کښې د مازيگر مونځ دغه شان د ماښام، ماسخوتن او بيا د سحر مونځ يې اوکړو د دې نه معلومه شوه چې د حج مسنون طريقه دا ده چې د مکې مکرمې نه منی ته په اتمه ذی الحجه د ماسپخين نه مخکښې اورسی او هلته يو شپه تيره کړی او د ماسپخين نه سحر پورې پنځه مونځونه هلته اوکړی څنگه چې پيغمبر عليه السلام اوکړل

قوله: حتی طلعت الشمس بيا په نهمه ۹ ذی الحجه په سحر د طلوع شمس نه پس نبی عليه السلام د دې ځائې نه عرفات ته روان شو

د حج پنځۀ ورځې او د هغې ورځو کارونه

د حج پنځه مشهورې ورځې دی چې په هغې کښې د حج ټوله کاروائی شروع شی او پوره شی يعنی د اتمې ذی الحجې نه دولسمې ذی الحجې پورې، حاجی په اتمه ذی الحجه باندې منی ته لاړ شی هلته يو شپه تيره کړی نو بيا په نهم تاريخ سحر د طلوع آفتاب نه پس د هغۀ ځائې نه عرفات او بيا د نمر پريوتلو نه پس واپسئ کښې مزدلفه کښې شپه تيرول او بيا په يوم النحر يعنی لسمه ذی الحجه باندې د صبح صادق نه پس د سحر مونځ کولو نه پس مشعر حرام سره نزدې لږ ساعت وقوف کول د دې نه پس د طلوع شمس نه مخکښې د مزدلفې نه منی ته واپس کيدل او منی ته راتللو سره په اوله ورځ (لسمه ذی الحجه) رمی جمرة العقبه يعنی صرف د غټ شيطان ويشتل، د دې نه پس ذبح يعنی قربانی کول بيا حلق بيا مکه مکرمه کښې طواف زيارت کول دا څلور کارونه دې ترتيب سره په لسمه ذی الحجه

باندې کولې شی، حاجی په دې ورځ باندې د ټولو نه زیات مشغول وی چې مسلسل څلور کارونه کول وی بیا په یوولسمه او دولسمه ذی الحجه باندې د دریو واړو شیطانانو ویشتل دا ټولې پنځه ورځې شوې اوس حاجی ته اختیار دې که غواړی نو په دیارلسمه ذی الحجه هم پاتې کیدې شی او په هغه ورځ دې رمی اوکړی او که غواړی نو په دولسمه ورځ د منی نه مکې مکرمې ته هم واپس راتلې شی قال تعالی فمن تعجل فی یومین فلا اثم علیه ومن تاخر فلا اثم علیه.

دولسمې ذی الحجې ته یوم النفر الاول، دیارلسمې ته یوم النفر الثانی او ۱۱، ۱۲او ۱۳ دې دریو واړو ورځو ته ایام منی وئیلې شی اوس د حاجی په ذمه صرف یو کار کول دی یعنی د مکې مکرمې نه چې کله وطن ته واپس کیږی نو طواف وداع کول، دا کارونه د حج اجمالی ترتیب دې (¹)

د حدیث تشریح :

قوله: وامر بقیة له من شعر فضربت بنمرة..الخ:

پیغمبر ﷺ د منی نه د روانیدو نه مخکښې دا ترتیب جوړ کړو چې خپل څان دپاره ئې عرفات ته نزدې په نمره مقام کښې د ویښتو نه جوړه شوې یو خیمه اولګوله چې هلته رسیدلو سره آرام اوکړی او بیا چې کله د وقوف عرفات وخت راشی نو د دې ځائې نه غسل وغیره اوکړی او تیار روان شی نو هلته رسیدلو سره پیغمبر ﷺ هلته پاتې شو زوال شمس پورې، د زوال نه پس پیغمبر ﷺ د دې ځائې نه سور شو او بطن عرنه ته اورسیدل هلته کښې ئې خطبه اولوسته د خطبې نه پس ئې د ماسپخین او مازیګر دواړه مونځونه په جمع ادا کړل لیکن واضحه دې وی چې اوسه پورې وقوف عرفات شروع شوې نۀ وو څکه چې بطن عرنه د جمهورو په نزد د عرفات نه خارج ده په دې وجه په ائمه اربعه کښې د چا په نزد هم د دې ځائې وقوف معتبر نۀ دې کما فی الاوجز، دغه شان نمره هم چرته چې پیغمبر ﷺ قبه قائم کړې وه د جمهورو په نزد د عرفات نه خارج ده البته د احنافو په نزد عرفات کښې داخل ده وقیل عندمالک ایضاً

بهرحال چې پیغمبر ﷺ کله د خطبه او جمع بین الصلوتین نه فارغ شو نو د خپل وقوف ځائې ته ئې تشریف یوړو یعنی د جبل رحمت لمن ته چې د میدان عرفات په مینځ کښې واقع دې نو پیغمبر ﷺ په خپله اوښه باندې د سوریدو په حالت کښې نمر پریوتلو پورې دې ځائې کښې وقوف اوکړو د دې ټولو ذکر مخکښې روایت کښې راغې مونږ د مضمون د تکمیل دپاره ټول دلته یوځایۍ ذکر کړل

ولا تشک قریش ان رسول الله صلی الله علیه وسلم واقف عندالمشعر الحرام څان پوهول پکار دی چې حاجی اولاً د مکې مکرمې نه منی ته راځی بیا هلته یو شپه کولو نه پس

---

¹) کومو خلقوچه تر اوسه پورې حج نه وی کړې هغوی ته دکتاب الحج احادیث باندې پوهیدل لږ مشکل وی څکه چه دحج نقشه ئې مخې ته نه وی دداسې خلقو دپاره مونږ دا اجمالی کیفیت لیکلې دې.والله الموفق

میدان عرفات ته ځی د منی او عرفات مینځ کښې مزدلفه واقع ده څنګه چې منی د مکې مکرمې نه درې میله فاصله باندې ده دغه شان د منی نه مزدلفه هم درې میله فاصله باندې ده بیا دغه شان د مزدلفې نه وړاندې عرفات هم درې میله فاصله باندې دې

د دې نه پس ځان پوهه کړئ اچې منی او مزدلفه دا دواړه خو د حرم په حدود کښې داخل دی او عرفات د حرم نه خارج دې د اسلام نه وړاندې دا دستور وو چې عامو خلقو به وقوف هم عرفات کښې کوو لیکن قریشو دې معامله کښې خپل ځان سره خصوصی سلوک کولو هغوی به وئیل نحن قطین الله،، یعنی دا چې مونږ د بیت الله اوسیدونکی او ګاونډیان یو د حج سره چې څومره متعلق کارونه دی نو هغه ټول به زمونږ دپاره د حرم په حدودو کښې دننه وی نو هغوی به د عرفات وقوف د عرفات په ځائې په مزدلفه کښې کولو او بیا به د دې ځائې نه منی ته واپس تلل، د کفار قریش اسلام راؤړلو نه پس پیغمبر ﷺ صرف یو حج کړې دې چې هغې ته حجة الوداع وئیلې شی نو دې حج کښې چې کوم قریش پیغمبر ﷺ سره وو هغوی دا ګنړل چې پیغمبر ﷺ به هم وقوف په مزدلفه کښې کوی لیکن کار داسې اوشو چې کله لار کښې مزدلفه راغله نو پیغمبر ﷺ هغه پریخودله او خپل ټول لښکر او مجمع سره سیدهه عرفات ته اورسیدل ټول قریش حیران پاتې شو دا راوی بیانوی ولا تشک قریش ان رسول الله صلی الله علیه وسلم واقف عند المشعرالحرام د دې باره کښې قرآن کریم فرمائی ثم افیضوا من حیث افاض الناس یعنی ټولو خلقو ته هم دا پکار دی چې هغوی په عرفات کښې وقوف اوکړی او د هغه ځائې نه واپس شی

د عرفات د خطبې د بعضې جملو تشریح

قوله: ان دمائکم واموالکم علیکم حرام کحرمة یومکم هذا ...الخ:

یعنی څنګه چې ستاسو په نزد په دې مخصوص ورځو او د ذی الحجه په میاشت کښې او خاص د حرم شریف په حد کښې د یو بل په مال جان باندې حمله کول حرام دی دغه شان دا کار د الله تعالی په نزد او نورو ورځو او میاشتو کښې هم حرام دې لهذا هر وخت او هر ځائې کښې د یو بل په مال او جان باندې ناحق حمله کول او ناحق قبضه کول حرام ګنړل پکار دی الا ان کل شئ من امرالجاهلیة تحت قدمی موضوع پیغمبر ﷺ دې خطبه کښې ډیر طاقت والا او مؤثر جملې ارشاد اوفرمائیلې او د اسلام بنیادی تعلیمات ئې واضح کړل سبحان الله ! د رسالت حق ئې ادا کړو ارشاد فرمائی د جاهلیت رسمونه د جاهلیت د زمانې ټول رسمونه او رواجونه او عادات، زۀ د خپلو قدمونو لاندې چخنړی کوم او پامال کوم، دغه شان د جاهلیت په زمانه کښې چې کوم جنګونه اوشو چې د هغې انتقام او قصاص په ذهنونو کښې دې هغه ټول موضوع او ساقط دی مضی مامضی یعنی چې تیر شو نو هغه هیر شو اوس به د هغې بدله نۀ اخستلې کیږی

قوله: واول دم اضعه من دمائنا فرمائی او د دې قصاص او بدلې پريخودلو ابتداء او شروع زۀ د خپل ځان نه کوم لهذا زۀ د ربيعه بن الحارث[1] ځوي (چې نوم ئې اياس دې) د هغۀ خون معاف کوم چې هغه هذيل قتل کړې وو (لهذا اوس به زۀ د هذيل نه د هغۀ قصاص يا ديت نۀ اخلم)

واول ربا اضع ربانا ربا عباس بن عبدالمطلب فرمائی دغه شان د سودی معاملې په سلسله کښې زما د ترۀ عباس چې کومه پيسه دې مد کښې په دې خلقو ده هغه ساقط ده نۀ صرف د سود رقم بلکه د هغوی په حق کښې پيغمبر ﷺ دا فيصله اوکړه چې هغوی به راس المال هم نۀ اخلی کما هو مصرح فی بعض الروايات په خلاف د نورو خلقو چې هغوی به صرف د سود رقم نه اخلی وان لکم ان لا يوطين فرشکم يعنی د سړو حقوق په ښځو باندې دا دی چې هغوی ستاسو بسترې داسې خلقو باندې پامال نۀ کړی چې هغه تاسو نۀ خوښوئ يعنی د خاوندانو په غير موجودګئ کښې به ښځې داسې سړو ته اجازت نۀ ورکوی چې د هغوی کور کښې داخليدل خاوند ته ناخوښ وی د جاهليت په زمانه کښې چې هرکله ډيره زياته بې پردګی وه د خاوند په غيرموجودګئ کښې به هم ښځې نور سړی کور ته راغوښتل او خپلو کښې به ئې بلاتکلف خبرې اترې کولې پيغمبر ﷺ دې خطبه کښې د دې خراب او بد عادت نه منع فرمائی د ايطاء مجرد وطأ دې يعنی پامال کول د ايطاء فرش نه مراد دا دې چې څۀ مونږ ذکر کړل او دا د زنا نه کنايه نۀ ده ورنه بيا خو به ئې سزا حد او رجم وو نۀ چې وهل (بلل) دغه شان به دې صورت کښې د تکرهونه قيد هم بې ځايه شی ځکه چې زنا مطلقاً هر سړی باندې حرام ده وانتم مسئولون عنی پيغمبر ﷺ فرمائی چې د قيامت په ورځ باندې به ستاسو نه زما باره کښې سوال کيږی چې ستاسو پيغمبر د الله تعالی احکامات رسولې وو که نه؟ د رسالت حق ئې ادا کړې وو که نه؟ نو تاسو به څه جواب ورکوی؟ ټولو يو ځل باندې اووې چې مونږ به دا ګواهی ورکوو چې بيشک تاسو ټول احکامات راؤرسول او امانت مو پوره کړو او امت سره مو پوره پوره خيرخواهی اوفرمائيله چې کله پيغمبر ﷺ د صحابه کرامو ﷺ دا جواب وآوريدلو نو په دې ئې الله تعالی ګواه جوړ کړو خپلې ګوتې مبارکې سره به ئې آسمان طرفته اشاره کوله او بيا به ئې دحاضرينو طرفته ښکته کوله اودا به ئې وئيل اللهم اشهد اې الله تۀ ګواه اوسې د دې ټولو په دې اعتراف باندې کوم چې دوی د رسالت د رسولو باره کښې کوی

فائده: دا خطبه د عرفات والا خو دلته دې روايت کښې هم دومره ده هسې پيغمبر ﷺ حجة الوداع کښې مختلف مقاماتو باندې مختلف خطبې ارشاد فرمائيلې دی، د منی په ورځو کښې چې پيغمبر ﷺ کومې خطبې ارشاد فرمائيلې دی د هغې ذکر مصنف رحمه الله وړاندې يو څو مستقل بابونو کښې کړې دې، کتب صحاح کښې خو دا جملې مجمل او

---

[1] ربيعه بن الحارث دهغوی د تره ځوې دې، د ربيعه ځوې اياس په ماشوموالی کښې په قبيله بنوسعد کښې پېږ څکلی وو (د يوې داينړې) ددغه قبيلې د قبيله هذيل سره جنګ روان وو، اتفاق سره داسې اوشو چه يوه ورځ دا ماشوم په ځږپوسو روان وو چه اچانک د هذيل د طرفه يو کاڼړې راغې هغه پرې اولګيدو او مړشو.

مختصر دی لیکن د حدیث په نورو کتابونو مسند احمد وغیره کښې قدر تفصیل سره ملاویږی هغې کښې ډیرو خطبو لره حضرت مولنا حبیب الرحمن اعظمی رحمه الله زمونږ د حضرت شیخ صاحب په وینا باندې جمع کړې دی یو مستقل رساله د جزء خطبات النبی ﷺ په نوم سره د جزء حجة الوداع تکمله ګرځولې شوې ده

قوله: ثم اذن بلال ثم اقام د دې خطبې نه چې کله فارغ شو نو د ماسپخین په وخت ئې د ماسپخین او مازیګر دواړه مونځونه په جمع سره اوکړل

جمع بین الصلوتین بعرفه

دې حدیث کښې دی چې پیغمبر ﷺ دلته دا دواړه مونځونه اذان او اقامت سره ادا کړل د ائمه ثلثه ابوحنیفه، شافعی او احمد رحمهم الله مسلک هم دا دې د امام مالک صاحب په نزد دا جمع باذانین واقامتین ده د دې جمع دپاره یو شرط هم دې هغه دا چې د جماعت مونځ وی او دې سره سره د امام المسلمین یا د هغهٔ د نائب په اقتداء کښې وی لیکن دا شرط د امام ابوحنیفه،سفیان ثوری او ابراهیم نخعی په نزد دې د ائمه ثلثه او صاحبینو په نزد نهٔ دې د هغوی په نزد منفرد هم جمع کولې دی دلته یو بل اختلاف هم دې هغه دا چې دا جمع د ائمه ثلثه په نزد للنسک ده(د دې تعلق د حج سره دې) لهذا په دې کښې مسافر او مقیم برابر دې او د امام شافعی صاحب په نزد دا جمع للسفر ده لهذا څوک چې د مکې مکرمې مقیم وی نو هغهٔ دپاره به دا جمع بین الصلوتین جائز نهٔ وی

د دې نه پس ځان پوهول پکار دی چې مزدلفه کښې کومه جمع بین الصلوتین کیږی په هغې کښې د ائمه مسلک هم هغه دې چې کوم په جمع بین الصلوتین بعرفه کښې دې یعنی د شافعیه او حنابله په نزد باذان واقامتین او د امام مالک صاحب په نزد باذانین و اقامتین لیکن د احنافو په نزد دې دواړو جمعو کښې فرق دې اول ځائې کښې باذان واقامتین او مزدلفه کښې باذان واقامة یعنی اذان هم یو او اقامت هم یو په خلاف د عرفات چې هلته اذان یو او اقامت دوه، چې د دې اصل وجه خو د روایاتو اختلاف دې دویمه وجه موافقت دقیاس دې ځکه چې اول ځائې کښې خو مازیګر د خپل وخت نه مخکښې کیږی په دې وجه د هغې دپاره مزید اطلاع ضروری ده په خلاف د مزدلفې چې دلته دویم مونځ په خپل وخت کښې کیږی فلا حاجة الی تکرار الاعلام

قوله: ولم یصل بینهما شیئاً د دواړو مونځونو په مینځ کښې به بالاتفاق څهٔ نفل یا سنت وغیره نشی کولې ثم رکب القصواء حتی اتی الموقف بیا پیغمبر ﷺ د دې ځائې یعنی عرنه نه په قصوی اوښه سور شو او موقف یعنی هغه خاص ځائې ته چرته چې پیغمبر ﷺ وقوف کول غوښتل ئې تشریف یوړو فجعل بطن ناقته[1] القصواء الی الصخرات د دې نه د راوی مقصد دا دې چې پیغمبر ﷺ اوښه کوم ځائې او څنګه اودروله؟ هغه دا چې پیغمبر ﷺ خپله اوښه(د جبل رحمت لاندې) هغه ځائې کښې اودروله چرته چې کاڼړی خوارهٔ وارهٔ وو

---

[1]) حضور پاک ﷺ د خپلې اوښې خیټه صخرات طرف ته کړه دهغې خیټه به صخرات طرف ته هغه وخت وی کله چه هغه په صخرات باندې ولاړه وی او دهغې لاندې به صخرات وی،کما لا یقې.

وجعل حبل المشاة[1] د حبل المشاة نه مراد حبل الرمل دې يعنى شګلونه زمکه د دې نسبت مشاة طرفته ځکه اوکړې شو چې په داسې لار کښې صرف پيدل تلونکى خلق تلې شى د سوارلئ په ذريعې سره په دې باندې تلل ډير مشکل دى د کلام خلاصه دا شوه چې اوښه داسې ځائې کښې ولاړه وه چرته چې کانړى خوارۀ وارۀ وو او د هغې وړاندې شګلونه زمکه وه او د اوښې مخ قبلې طرفته وو فلم يزل واقفاً حتى

غربت الشمس په عرفات کښې نمر پريوتلو پورې ايساريدل واجب دى د نمر پريوتلو نه پس د دې ځائې نه روانيدل پکار دى په عرفات کښې د کوم وخت نه کوم وخت پورې ايساريدل ضرورى دى او د دې وقوف فرض مقدار څومره دې او واجب مقدار څومره دې؟ د دې تفصيل به د ائمه کرامو د اختلاف سره باب الوقوف بعرفه کښې راشى.

واردف اسامه خلفه پيغمبر ﷺ د عرفات نه مزدلفې ته واپسئ کښې خپل رديف (شاته دوئم کس کينول) حضرت اسامه جوړ کړو او د مزدلفې نه منئ ته د روانيدو په وخت کښې حضرت فضل بن عباس (کما سياتى قريباً) وقد شنق للقصواء الزمام شنق يعنى ضيق يعنى کوم وخت چې د عرفات نه روان شو نو د پيغمبر ﷺ په اوښه شريفه په ډير زور وه او ډير قوت او جوش سره روانه وه[2] حالانکه پيغمبر ﷺ د هغې واګې وغيره ډير تنګ ساتلې وو (او خپل طرفته ئې راښکلې وې) تردې پورې چې د اوښې سر د کجاوې وړاندې حصې[3] سره لګيدو وهو يقول بيده اليمنى السکينة خلقو د عرفات نه د روانيدو په وخت (مزدلفې ته جلدئ سره د رسيدلو په اهتمام کښې) خپلې خپلې سورلئ ښۀ تيزې کړې وې نو وړاندې روايت کښې رآځى والناس يضربون الابل يميناً وشمالاً.

او دويم روايت کښې دى فقال يا ايهاالناس عليکم بالسکينة فان البر ليس بايجاف الخيل والابل دلته روايت کښې دى يقول بيده بذل المجهود کښې د يقول تفسير ئې يشير سره کړې دې چې د هغې وجه دا ده چې په روايت کښې د بيده لفظ موجود دې د دې تقاضه خو دا ده ليکن چونکه نورو رواياتو نه معلوميږى څنګه چې مخکښې راروان دى چې دا هدايت پيغمبر ﷺ قولاً او لساناً ورکولو په دې وجه د يقول بيده مطلب دا اخستل پکار دى يقول بلسانه مشيراً بيده يعنى ژبې مبارکې سره ئې فرمائيل د لاس په اشارې سره والله تعالى اعلم

کلما اتى حبلا من الحبال چې تللو تللو کښې به کله د شګو ډيرئ راغله نو پيغمبر ﷺ به د سورلئ واګې سست کړې چې په آسانه سره اوخيژى

---

[1]) مشاة د ماشي جمع ده لکه څنګه چه قضاة د قاضي جمع ده، او حبل د حاء مهمله په فتحې اود باء موحده په سکون سره په معنى د الرمل المستطيل د شګې اوږده سلسله او دا جبل بالجيم وبفتحتين هم وئيلې شى يعنى لاره.

[2]) ممکن ده چه د شهسوار روحانيت په اوښه کښې اثر انداز شوې وى يا په سبب د افتخار سره چه ددې شهسوار د دوارو جهانو سردار وو.

[3]) مورک په فتحه دميم او کسرې د راء سره د کجاوې مخکښې هغه حصه په کوم چه شهسوار د سترې کيدو په وخت خپې ايږدى چه دا د څرمنې تسمه شان وى.

جمع بين الصلوتين بمزدلفه

حتى اتى المزدلفة فجمع بين المغرب والعشاء باذان واحدٍ واقامتين

د اذان او اقامت باره کښې د ائمه اربعه د جمع بين الصلوتين بعرفة په باب کښې تير شو يعنی د امام شافعی او احمد په نزد يو اذان او دوه اقامتونه(كمافي هذه الرواية) او د حنفيه په نزد يو اذان او يو اقامت او د امام مالک په نزد دوه اذانونه او دوه اقامتونه دلته يعنی په مزدلفه کښې جمع بين الصلوتين کښې درې قولونه نور دی (۱)باقامة فقط به قال الثورى واحمد فى رواية،(۲)باقامتين فقط به قال اسحاق واحمد فى رواية،(۳) لا اذان ولا اقامة اختاره بعض السلف

ولم يسبح بينهما شيئاً د دواړو مونځونو په مينځ کښې به بالاتفاق څه سنت يا نفل مونځ نۀ شی کولې البته بيا روسته د ماښام او د ماسخوتن سنت او وتر کولې شی عندالحنفيه والشافعيه دون المالكيه

ثم اضطجع رسول الله صلى الله عليه وسلم حتى طلع الفجر يعنی په مزدلفه کښې چې کله د جمع بين الصلوتين نه فارغ شو نو نبی ﷺ تکيه اولګوله او د سحر د راختلو پورې ئې ارام اوکړو

ليلة المزدلفة کښې نبی عليه السلام تهجد کړې وو يا نه؟

د دې د ظاهر نه دا معلوميږی چې په دې شپه کښې نبی ﷺ قيام الليل نۀ وو کړې يعنی د شپې ئې تهجد نۀ وو کړې د حضرت شاه ولی الله قدس سره هم دا رائې ده شاه صاحب فرمائی چې نبی ﷺ به بعضې مستحبات په مجامع کښې ترک کول د خلقو د آسانتيا دپاره ورنه بيا به تهول د نبی ﷺ په اتباع کښې د دې په کولو باندې مجبور وو اګرچه بعضو ته په کښې عذر وی او هم دا خبره علامه قسطلانی په مواهب لدنيه کښې هم ليکلې ده كما فى البذل د دې نه پس حضرت سهانپوری رحمه الله ليکی په دې روايت کښې خو د سنت او وتر ذکر هم نشته(حالانکه د وتر او د سنت تهول قائل دی) لهذا يا خو دې دا توجيه اوکړې شی چې دا نفی په علم د راوی باندې مبنی ده او ظاهر دا ده چې نبی ﷺ قيام الليل فرمائيلې وو او يا دې کم از کم دومره تسليم کړې شی چې د راوی مراد دا دې چې نبی ﷺ د فرض مونځ نه پس سنت او وتر اوکړل او بيا اودۀ شو د تهجدو دپاره بيدار نۀ شول د مطلق مونځ نفی مراد نۀ ده والله تعالى اعلم

فصلى الفجر حين تبين له الصبح چې سحر څنګه را اوختلو نو نبی ﷺ د سحر مونځ اوکړو په دې باندې د تهولو اتفاق دې چې دلته د سحر په مانځه کښې تغليس مسنون دې

حتى اتى المشعر الحرام وړاندې په باب الصلوة بجمع کښې د المشعر الحرام په ځائې لفظ قزح دې ووقف على قزح فقال هذا قزح معلومه شوه چې مشعرحرام او قزح يو څيز دې امام نووی صاحب رحمه الله فرمائی چې دا په مزدلفه کښې يو مشهور غر دې

دلته دوه څيزونه دی يو مبيتِ مزدلفه يعنی په مزدلفه کښې شپه تيرول او دويم

وقوف عرفه یعنی د صبح صادق نه پس د سحر د مونځ نه پس لږ وخت دپاره د مشعرحرام نزدې وقوف کول، د دې دواړو په حکم کښې د ائمه کرامو اختلاف دې چې هغه به مونږ آئنده د دې په مناسب باب کښې ذکر کوو

قوله: ثم دفع قبل ان تطلع الشمس د مزدلفې نه نبی ﷺ د طلوع شمس نه مخکښې روان شو او هغه وخت نبی ﷺ خپل د ترۀ ځوې فضل بن عباس په خپله سورلۍ باندې وروستو کینوو (او د عرفات نه د روانیدلو په وخت کښې ئې اسامه په خپله سورلۍ باندې سور کړې وو) کما سبق

یاد ساتل پکار دی چې په باب الصلوة بجمع کښې د حضرت عمر رضی الله عنه حدیث راروان دې کان اهل الجاهلیة لا یفیضون حتی یروا الشمس علی ثبیر یعنی په زمانه د جاهلیت کښې به چې مشرکینو کله حج کوو نو د مزدلفې نه به هغه وخت پورې نۀ روانیدل چې ترڅو به طلوع آفتاب نه وو شوې نبی ﷺ د هغوی مخالفت اوکړو او د دې ځائې نه د طلوع آفتاب نه مخکښې روان شو

قوله: من الظعن یجرین: ظعن[۱] د ظعینه جمع ده دا مضمون د دې نه مخکښې په باب الرجل یحج عن الغیر کښې د ابن عباس رضی الله عنهما په روایت سره دغه شان تیر شوې دې فجائته امراة من خثعم تستفتیه فجعل الفضل ینظر الیها

د حدیث شرح او په نظر الرجل الی المرأة وعکسه کښې مذاهب ائمه

د دې نه معلومیږی چې د فضل بن عباس نظر په ټولو تیریدونکو ښځو باندې نۀ پریوتلو بلکه صرف په هغه ښځه باندې چې کومه د نبی ﷺ مخې ته راغلې وه د مسئلې د تپوس کولو دپاره نو د دې سوال وجواب په وخت کښې ورته هغوی اوکتل او عادتاً دغه شان کیږی چې کله یو سړې وړاندې یعنی مخامخ راشی او چاسره خبرې اترې کوی نو دې کس سره د ناست سړی نظر هم خامخا په هغې خبرې کوونکی باندې پریوځی او دې وخت کښې عام طور سره په داسې موقع باندې مقصود متکلم ته کتل نۀ وی بلکه په کتلو سره مقصود هغې متکلم خبرې اوریدل وی لیکن بیا هم احتیاطًا نبی ﷺ دوی لره هغې طرفته د نظر کولو نه منع کړل لیکن د بعضې روایاتو د سیاق او الفاظو نه معلومیږی چې فضل هم د دې خثعمیه حسن ته کتل[۲] لیکن دا د راوی خپل ګمان دې بهرحال که داسې وی نو بیا هم څۀ خاص د اشکال خبره نۀ ده ځکه چې د اکثر ائمه کرامو په نزد نظر الرجل الی المرأة، د مخ او د کفینو په حق کښې جائز دې.[۳] په دې شرط چې د فتنې او فساد ویره نۀ وی او نه دا کتل د

---

[۱] د دې مزید تحقیق په باب الرجل یحج عن الغیر کښې (لا یستطیع الحج والعمرة ولا الظعن) د لاندې تیر شوی دی.

[۲] قال الحافظ (ص ۵۷ ج ۲) وفي رواية وكان الفضل رجلا وضيا اي جميلا واقبلت لمراءة من خثعم وضيئة فطفق الفضل ينظر اليها واعجبه حسنها. اهـ

[۳] په دې سلسله کښې د مذاهب ائمه تحقیق ان شاء الله دا دی: نظر الرجل الي المراءة، په دې کښې خلاصة المذاهب دې چه په شوافعو کښې د امام نووی رحمه الله په نزد مطلقا حرام او ناجائز دی......۶

لذت او شهوت په قصد سره وی وههنا کذلک یعنی دلته هم دغه شان خبره وه لکه د ترمذی شریف په روایت کښې راځی چې کله نبی ﷺ د فضل مخ د هغه طرفنه واړؤو نو د دوی تره حضرت عباس رضي الله عنه سوال اوکړو چې یا رسول الله ! تاسو د خپل تره د ځوی مخ واړوو نو نبی ﷺ اوفرمائیل رایت شاباً فلم آمنِ الشیطان علیهما د دې نه معلومه شوه چې دا د مخ اړول صرف د فتنې د ویرې په وجه وو نۀ چې د فتنې د واقع کیدو په وجه هم دا خبره شارح د مسلم هم فرمائیلې ده او هغوی په امام نووی او قاضی عیاض باندې رد کړې دې چې د هغوی د کلام نه دا وضاحت کیږی چې دلته نبی ﷺ د امر منکر تغییر بالید فرمائیلې دې ابی فرمائی وقوع نۀ وه بلکه د وقوع خوف وو لکه څنګه چې قرطبی لیکلې دی والله تعالی اعلم (من الاوجز ص ۴۵۴ ج۳)

شارحینو لیکلې دی چې د سړی په فطرت کښې دا خبره ده د ښائسته او حسین صورت طرفته د کتلو رغبت او دا ګناه هم نۀ ده په دې شرط چې د لذت او د شهوت قصد او اراده نۀ وی ورنه بیا ناجائز او ممنوع دی

تنبیه: د صحیحین وغیره[1] اکثرد احادیث د کتابونو نه معلومیږی چې پیغمبر ﷺ کله د فضل په مخ باندې لاس کیخودلو نو هغوی خپل مخ بل طرفته واړوو او د هغې طرفنه ئې کتل نو نبی ﷺ د هغې طرفنه هم منع کړو فقط

او دلته د ابوداؤد په روایت کښې مزید دا دی چې کله نبی ﷺ هغوی لره د دویم طرف د کتلو نه هم منع کړل نو بیا هغوی د هغې دویم طرفته کتل شروع کړل دا دریم ځل باندې کتل بنده ته د ابوداؤد د روایت نه بغیر بل ځائې نۀ دی ملاؤ شوې لهذا زما غالب ګمان دا دې چې دا زیادتی شاذ او غیرمعتمد ده والله سبحانه وتعالی اعلم او حضرت په بذل المجهود کښې د دې دا توجیه کړې ده چې په دې دریم ځل کښې د ینظر نه مراد نظر الی ذلک الجانب دې ۱ه

قوله: قلت ولم آل جُهداً فی تحقیق هذا المقام وتشریحه ولم اره مجموعاً فی شرح من شروح الحدیث فلله الحمدوالمنه

له ....که د فتنې ویره وی یا نه وی، که شهوة وی او که نه وی، او هم دا د امام احمد رحمه الله رائې ده کمافي المغني. او په شوافعو کښې د علامه رافعی رائې دا ده چه د سړی نظر د زنانه مخ او لاسونو ته کتل جائز دی بشرط عدم الشهوة واللذة. او هم دا مسلک د احنافو او مالکیانو دې، نظر المراءة الي الرجل، په شوافعو کښې د امام نووی په نزد مطلقا جائز او حرام دی. (کعکسه) او د احنافو او مالکیانو په نزد زنانه د سړی د بدن هغه حصې ته کتلې شی. څومره چه انسان خپلې محرم زنانه ته کتلې شی (یعنی وجه او کفین کښې انحصار نشته) او د حنابله یو روایت خو هم دا دې او دویم دا دې چه صرف مخ او لاسونه کتلې شی (وهي رواية عن الشافعية (ملخصا من الاوجز ص ۴۱۳، ج ٤) بزيادة من الروضة المحتاجين).

[1] پس هم دا حدیث د جابر طویل کوم چه مونږ سره روان دې په دې کښې د مسلم په روایت کښې داسې دی ﴿فوضع رسول الله صلي الله عليه وسلم يده علي وجه الفضل فحول الفضل وجهه الي الشق الاخر ينظر فحول رسول الله صلي الله عليه وسلم يده من الشق الاخر علي وجه الفضل يصرف وجهه من الشق الاخر ينظر﴾ او په صحيح بخاری کښې د ابن عباس په روایت کښې داسې دی ﴿فجعل الفضل ينظر اليها وتنظر اليه فجعل النبي صلي الله عليه وسلم يصرف وجه الفضل الي شق الاخر﴾ اهـ

د وادي محسر (وجه تسميه او ددې) نه د تيز تللو وجه

حتی اتی محسراً په وادی محسر کښې نبی ﷺ خپله سورلی لږه تيزه اوچلوله د دې په وجه تسميه کښې مشهور قول دا دې چې په دې ځائې کښې په اصحاب فيل باندې حسر واقع شوې وو يعنی هغوی چې دلته راؤرسيدل نو اودريدل او په دې ځائې کښې په هغوی باندې عذاب نازل شوې وو نو د هغوی د محل عذاب کيدلو په وجه نبی ﷺ دې ځائې کښې جلدئ سره تير شول لکه څنګه چې ديارِ عاد وثمود سره نبی ﷺ تيز تلې وو ليکن ملاعلی قاری رحمه الله د دې وجه تسميه ترديد کړې دې هغوی فرمائی صحيح دا ده چې اصحاب فيل دحرم شريف حد ته نۀ وو رسيدلی د دې نه مخکښې په دوی باندې عذاب نازل شوې وو او دا وادی محسر په حرم کښې ده بلکه د دې ځائې نه د دې تيز تللو وجه دا ده چې يو سړی دلته ښکار کړې وو نو په هغه باندې د آسمان نه اور وريدلې وو په دې وجه دې ته وادی نار هم وئيلې شی(بذل)

ثم سلک الطريق الوسطى الذی يخرجک الى الجمرة الکبرى دلته د رارسيدلو نه پس اوس منی ته دوه لارې تلې دی د يو نوم طريق ضب دې او د دويمې نوم طريق المازمين دې د راتلو په وخت کښې چې کله پيغمبر ﷺ د منی نه عرفات ته راتلل نو هغه وخت کښې نبی ﷺ د ضب لار اختيار کړې وه او په واپسئ کښې ئې طريق المازمين چې د دې مصلحت په خپله په روايت کښې موجوددې چې اې مخاطبه! هغه لار داسې لار ده چې تالره به نيغ جمرة الکبرى ته اورسوی زۀ وايم چې تلل هم هغوی ته په دې لاره وو په دې وجه په دې ورځ باندې صرف د دې جمره رمی وی

بمثل حصی الخذف وئيلې شی کاڼړې د دواؤ ګوتو په مينځ کښې په زور سره[1] غورزول يعنی ويشتل لکه څنګه چې واړۀ ماشومان په لوبو کښې دغه شان کوی نو مطلب دا شو چې کوم مقدار دغه شان اولی (چې د هغې مقدار د ټولو په ذهنونو کښې دې) هم دغه شان کاڼړو سره نبی ﷺ رمی اوکړه

فرمی من بطن الوادی يعنی نبی ﷺ وادئ ته راکوز شو او رمی ئې اوکړه يعنی د پورته نه ئې اونکړه (د هغې ځائې په زمکه او لارو کښې ښکته پورته والې دې)

د جمره عقبه د رمی کيفيت او په دې کښې اختلاف

ځان پوهول پکار دی چې د جمره عقبه د رمی صحيح صورت چې علماؤ اختيار کړې دې هغه دا دې چې سړې د جمره په طرف مخ کړې داسې ولاړ وی چې د هغۀ ښی طرفته منی وی او ګس طرفته مکه مکرمه وی کما فی روايت الصحيحين جعل البيت عن يساره ومنى عن يمينه او د سنن ترمذی په روايت کښې دی چې د حضرت ابن مسعود رضی الله عنه نه روايت دې چې هغوی رمی مستقبل القبله اوکړه يعنی د رمی په وخت ئې مخ مبارک قبلې طرفته کړو په دې صورت کښې به منی شا طرفته او مکه مکرمه وړاندې طرفته وی نو بعضې شوافعو او

[1]) د ګوتې په سر باندې کاڼړې ايخودل په ګوته باندې زور ورکول او لرې غورزول.

حنابله دې لره مستحب ګرځولې دی مستدلاً بروایة الترمذی لیکن علماؤ د ترمذی دا روایت ضعیف ګرځولې دې(لاجل المسعودی وهو عبدالرحمن بن عبدالله بن عتبه بن مسعود) د رمی په وخت کښې تکبیر هم مستحب دې باسم الله الله اکبر رضې للرحمن ورغماً للشیطن.

(دا رمی راکبا وه)

په دې حدیث کښې دا نشته چې نبی ﷺ رمی د رکوب په حالت کښې اوکړه یا پیدل لیکن په روایاتو کښې مشهوره دا ده چې نبی ﷺ رمی د رکوب په حالت کښې اوکړه او د بعضو روایاتو نه دا معلومیږی چې د یوم النحر رمی نبی ﷺ د رکوب په حالت کښې کړې وه او د دې نه پس ئې پیدل،د دې تفصیل به په باب الرمی کښې راشي

ثم انصرف رسول الله صلی الله علیه وسلم الی المنحر د رمی کولو نه پس نبی ﷺ د اوښانو قربانی اوکړه،نبی ﷺ د سلو اوښانو قربانی کړې وه د قربانۍ غوښه خوړل سنت دی او ښکاره خبره ده چې د ټولو نه خوراک کول مشکل وو په دې وجه نبی ﷺ د هغې دپاره دا تدبیر اوفرمائیلو چې د هر یو نه ئې یو یو بوټۍ واخسته او هغه ئې په کټوۍ کښې پخه کړه بیا د هغې نه څۀ غوښه او باقی ښوروا اوڅکله

ثم افاض رسول الله صلی الله علیه وسلم الی البیت یوم النحر(۱۰ ذی الحجه) کښې څلور مناسک ادا کولې شی چې د هغې ترتیب دا دې اول د جمره عقبه رمی کول، بیا ذبح، بیا حلق او بیا طواف کول(طواف افاضه و زیارت)

په دې حدیث د جابر کښې په دې کښې د دریو څیزونو ذکر دې د حلق ذکر په دې کښې پاتې شوې دې په دې افعالو کښې مذکوره ترتیب سنت دې یا واجب؟ مسئله مختلف فیه ده په باب من قدم شیئاً قبل شئ کښې راروانه ده

په یوم النحر کښې نبی علیه السلام د ماسپخین مونځ کوم ځائې اوکړو؟

فصلی بمکة الظهر په لسم تاریخ باندې نبی ﷺ مکې ته راغې او اول ئې طواف زیارت اوکړو د دې نه پس ئې د ماسپخین مونځ چرته اوکړو هم په مکه مکرمه کښې یا واپس راتلو سره په منی کښې؟ په دې کښې روایات مختلف دی په دې د حدیث جابر کښې دا دی چې هم په مکه مکرمه کښې ئې اوکړو دغه شان په باب رمی الجمار کښې د حضرت عائشه رضي الله عنها حدیث راځی په هغې کښې هم دا دی چې په مکه مکرمه کښې ئې اوکړو د دې برخلاف حدیث د ابن عمر رضي الله عنهما چې په باب الافاضه فی الحج کښې راځی په هغې کښې دا دی فافاض یوم النحر ثم صلی الظهر بمنی یعنی راجعاً دا حدیث د ابن عمر د صحیحینو روایت دې او حدیث د جابر د افراد د مسلم نه دې لیکن حدیث د عائشه ئې تاکید کوی اوس خو یا جمع بین الروایتین کول پکار دی چې ممکن ده چې په مکه مکرمه کښې نبی ﷺ کوم تحیة الطواف کړې وو نو هغه راوی د ماسپخین مونځ ګنړلې دې یا دې طریق ترجیح اختیار کړې شی په دې طور سره چې د ابن عمر حدیث متفق علیه دې لهذا هغه راجح دې او یا په دې طور سره چې د حدیث د جابر تاکید کوونکې حدیث عائشه موجود دې بله داچه په مکه

مکرمه کښې مونځ کول د منی نه غوره دی لهذا حدیث د جابر رضي الله عنه راجح دې والله تعالی اعلم
ثم اتی بنی عبدالمطلب وهم یسقون علي زمزم فقهاء کرام فرمائی چې د طواف نه د فراغت نه پس اول تحیة الطواف کول بیا د آب زمزم نه اوبۀ څکل مستحب او سنت دی لیکن دلته په دې روایت کښې د طواف کولو نه پس د تحیة الطواف ذکر نشته او نۀ بنده ته په بل یو حدیث کښې ملاؤ شوې دی (هسې زیات تلاش مې هم نۀ دې کړې) شارحینو دې سره هم تعرض نۀ دې کړې

حضرت شیخ هم په جزء حجة الوداع کښې په دې باندې څه نۀ دی لیکلي البته د دې نه وړاندې په شروع کښې چې کوم ځائې د طواف قدوم ذکر راغلې وو هلته تحیة الطواف مذکور دې لیکن هلته د شرب زمزم ذکر نشته

د بنوعبدالمطلب نه مراد اولاد عباس دې چې د سقایة الحاج خدمت به ئې کوو نبی علیه السلام چې کله هغوی اولیدل چې په حاجیانو باندې اوبه څکوی نو خوشحاله شو او په دې کار ئې د هغوی همت افزائی اوکړه چې تکړۀ شئ په حاجیانو باندې اوبه اوڅکوئ او که ماته دا ویره نۀ وې چې خلق به په تاسو باندې غالب راشي (او ستاسو نه به بوقه او رسئ په خپله راښکی یعني زما په اتباع کښې) نو زۀ به هم تاسو سره په راښکلو کښې شریک شوې ووم امام نووی رحمه الله د دې جملې دویمه معنی لیکلې ده چې که زۀ داسې اوکړم نو خلق به دا په مناسک حج کښې ضروری کار اوګڼړی او بیا به ئې هر کس د ادا کولو کوشش کوی

په دې باندې دا اشکال دې چې د بعضې روایاتو نه معلومیږی چې نبی علیه السلام هم په خپل لاس مبارک سره راښکلې وو لکه څنګه چې صاحب هدایه لیکلې دی شیخ ابن الهمام د دې توجیه کړېده چې ددې حدیث د جابر تعلق د طواف افاضه سره دې او د دویم حدیث تعلق د طواف وداع سره دې (بذل) نو د اثبات او د نفی د هر یو محمل جدا جدا دې

د الله تعالی په فضل سره د حجة الوداع حدیث پوره شو الله تعالی دې مونږ ته او تاسو ته د دې په برکت سره حج مبرور نصیب کړی او په دې شرح کښې چې د احقر نه څۀ قصور او بې ادبی شوې وی نو هغه دې الله تعالی معاف کړی آمین

[١٩٠٦](1) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ يَعْنِي ابْنَ بِلَالٍ. ح وحَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ الثَّقَفِيُّ الْمَعْنَى وَاحِدٌ، عَنْ جَعْفَرِ بْنِ مُحَمَّدٍ، عَنْ أَبِيهِ، "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى الظُّهْرَ وَالْعَصْرَ بِأَذَانٍ وَاحِدٍ بِعَرَفَةَ وَلَمْ يُسَبِّحْ بَيْنَهُمَا وَإِقَامَتَيْنِ، وَصَلَّى الْمَغْرِبَ وَالْعِشَاءَ بِجَمْعٍ بِأَذَانٍ وَاحِدٍ وَإِقَامَتَيْنِ وَلَمْ يُسَبِّحْ بَيْنَهُمَا". قَالَ أَبُو دَاوُد: هَذَا الْحَدِيثُ أَسْنَدَهُ حَاتِمُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ فِي الْحَدِيثِ الطَّوِيلِ، وَوَافَقَ حَاتِمَ بْنَ إِسْمَاعِيلَ عَلَى إِسْنَادِهِ مُحَمَّدُ بْنُ عَلِيٍّ الْجُعْفِيُّ، عَنْ جَعْفَرٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَابِرٍ، إِلَّا أَنَّهُ، قَالَ: "فَصَلَّى الْمَغْرِبَ وَالْعَتَمَةَ بِأَذَانٍ وَإِقَامَةٍ".

جعفر رحمه الله دخپل پلار نه روایت کوی چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم په عرفات کښې ماسپخین او د مازیګر مونځ په یو اذان او دوو اقامتونو سره ادا کړې وو او ددې په مینځ کښې ئې څه سنت مونځ نه وو کړې اودماښام اودماسخوتن مونځونه ئې په مزدلفه کښې په یو اذان او دوو

(1): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٩٣٢٠)(ضعيف)

اقامتونوسره کړې وو اوددې په مينځ کښې ئې څه سنت نه وو کړي. ابوداودفرمائی چه دی، روايت لره حاتم بن اسماعيل په خپل طويل حديث و کښې مسند بيان کړې دې (اوداسند مرسل دې حاتم دجابر رضي الله عنه نه مسند روايت کړې دې) اودحاتم دروايت د مسند کيدو موافقت محمد بن علي الجعفی هم کړې دې اودجعفر عن أبيه عن جابر په سند سرا سې روايت کړې دې فرق صرف دومره دې چه جعفی وئيلی دی فصلی المغرب والعتمة باذان واقامة هغه د ماښام اودماسخوتن مونځ په يواذان اويواقامت سره ادا کړل.

[١٩٠٧](١) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا جَعْفَرٌ، حَدَّثَنَا أَبِي، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: ثُمَّ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "قَدْ نَحَرْتُ هَاهُنَا وَمِنًى كُلُّهَا مَنْحَرٌ" وَوَقَفَ بِعَرَفَةَ، فَقَالَ: "قَدْ وَقَفْتُ هَاهُنَا وَعَرَفَةُ كُلُّهَا مَوْقِفٌ" وَوَقَفَ بِالْمُزْدَلِفَةِ، فَقَالَ: "قَدْ وَقَفْتُ هَاهُنَا وَمُزْدَلِفَةُ كُلُّهَا مَوْقِفٌ".

دجابر رضي الله عنه نه روايت دې چه بيانبی عليه السلام اوفرمائيل مادلته تحرکړې دې اومنی ټول په ټوله دقربانی ځائې دې هغه په عرفات کښې وقوف اوکړو اووئې فرمائيل مادلته کښې وقوف کړې دې اوټول عرفات دوقوف ځائې دې نبی عليه السلام په مزدلفه کښې وقوف اوکړو اووئې فرمائيل ماپه دې ځائې باندې وقوف کړې دې اوتمامه مزدلفه جائې وقوف دې.

[١٩٠٨](٢) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ غِيَاثٍ، عَنْ جَعْفَرٍ بِإِسْنَادِهِ، زَادَ: "فَانْحَرُوا فِي رِحَالِكُمْ".

حفص بن غياث دجعفر صادق نه دهغه په سند سره روايت کړې دې اودا اضافه ئې کړې ده پس تاسو په خپل خپل پړاو باندې نحر اوکړئ.

[١٩٠٩](٣) حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ الْقَطَّانُ، عَنْ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنِي أَبِي، عَنْ جَابِرٍ، فَذَكَرَ هَذَا الْحَدِيثَ وَأَدْرَجَ فِي الْحَدِيثِ عِنْدَ قَوْلِهِ: وَاتَّخِذُوا مِنْ مَقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى سورة البقرة آية ١٢٥، قَالَ: "فَقَرَأَ فِيهِمَا بِالتَّوْحِيدِ وَقُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ"، وَقَالَ فِيهِ: قَالَ عَلِيٌّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ بِالْكُوفَةِ: قَالَ أَبِي: هَذَا الْحَرْفُ لَمْ يَذْكُرْهُ جَابِرٌ، فَذَهَبْتُ مُحَرِّشًا، وَذَكَرَ قِصَّةَ فَاطِمَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا.

دجعفر رضي الله عنه نه روايت دې چه ماته زما پلار جابر بيان کړې دې اوداحديث ئې بيان کړو او په خپل حديث باندې ئې د«واتخذوا من مقام إبراهيم مصلی» په ځائې باندې داخبره دخپل طرف نه زياته کړې ده چه هغه په دې رکعاتو کښې دتوحيد قل هو الله احد اود (قل يا أيها الكافرون) تلاوت وکړو او په دې کښې ئې بيان کړې دې چه علي رضي الله عنه دا واقعه په کوفه کښې بيان کړې ده زما پلار وائی جابر رضي الله عنه دالفظ هم نه وو وئيلی چه زه دغصې په حالت کښې په تيزئ سره تلې وم او د فاطمې رضي الله عنها واقعه ئې بيان کړه.

١): صحيح مسلم/الحج ١٩(١٢١٨)، سنن النسائي/الحج ٥١(٢٧٤١)، (تحفة الأشراف: ٢٥٩٦)(صحيح)

٢): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٢٥٩٦)(صحيح)

٣): انظر حديث رقم(١٩٠٥)، (تحفة الأشراف: ٢٥٩٣)(صحيح)

بَابُ الْوُقُوفِ بِعَرَفَةَ

بابد په عرفات کښې د وقوف (ايساريدلو) بيان

[١٩١٠]() حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، عَنْ أَبِي مُعَاوِيَةَ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "كَانَتْ قُرَيْشٌ وَمَنْ دَانَ دِينَهَا يَقِفُونَ بِالْمُزْدَلِفَةِ، وَكَانُوا يُسَمَّوْنَ الْحُمْسَ، وَكَانَ سَائِرُ الْعَرَبِ يَقِفُونَ بِعَرَفَةَ، قَالَتْ: فَلَمَّا جَاءَ الْإِسْلَامُ، أَمَرَ اللَّهُ تَعَالَى نَبِيَّهُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَأْتِيَ عَرَفَاتٍ فَيَقِفَ بِهَا ثُمَّ يُفِيضُ مِنْهَا، فَذَلِكَ قَوْلُهُ تَعَالَى: ثُمَّ أَفِيضُوا مِنْ حَيْثُ أَفَاضَ النَّاسُ سورة البقرة آية ١٩٩".

دعائشه رضي الله عنها نه روايت دې چه قريش اودهغوی هم مذهبو به په مزدلفه کښې وقوف کولو اوخپل ځان ته به يې، حمس وئيلو او نورو ټولو عربوبه په عرفات کښې وقوف کولو بيان کوی چه کله اسلام راغی نوالله تعالی خپل نبی ته حکم اوکړو چه عرفات ته راشي او وقوف اوکړي بيا دهغه ځائي نه واپس شی چنانچه هم دا تفسير دې دالله تعالی ددې فرمان «ثم أفيضوا من حيث أفاض الناس» بيا واپس شئ دهغه ځائي نه دکوم ځائي نه چه خلق راواچس کيږي. الاية.

تشريح: قوله: كانت قريش ومن دان دينها قريش او کوم خلق چې د هغوی طور طريقې اختياروونکی وو يعنی د هغوی تابع او هم مسلک وو وکانوا يُسمون الحُمسَ،، د قريش لقب حمس وو، حمس د احمس جمع ده ماخوذ دې د حماسه نه چې د دې معنی ده شجاعت او بهادري د هغوی دا لقب ځکه وو چې هغوی په خپل مذهب او دين کښې متصلب او پاخهٔ وو د دې روايت مضمون دا دې چې قريشو به د عرفات په ځائي په مزدلفه کښې وقوف کوو د دې وضاحت په سابقه باب ولا تشك قريش الخ کښې تير شوې دې

د دې نه پس ځان پوهول پکار دی چې وقوف عرفه بالاتفاق د حج يو رکن دې چې د دې په فوت کيدو سره حج فوت کيږي

د وقوف وقت ابتداء وانتهاءً او مقدار د وقوف وجوباً وفرضاً

اوس دا چې د دې وخت د کوم وخت نه کوم وخت پورې دې او د وقوف څومره مقدار فرض دې په دواړو مسئلو کښې اختلاف دې هر چه اولنئ مسئله ده يعنی وقت الوقوف ابتداءً وانتهاءً نو د جمهور او د ائمه ثلاثه په نزد د وقوف وخت دعرفې په ورځ د زوال نه تر د يوم النحر د سحر پورې دې (په نهم تاريخ د زوال نه تر د لسم تاريخ د صبح صادقَ پورې) او د امام احمد په نزد د يوم عرفه د سحر نه تر د يوم النحر د سحر پورې (يعنی د نهم تاريخ د سحر نه د لسم تاريخ د صبح صادق پورې د وقوف وخت دې)

قوله: واما المسئلة الثانيه اعنى مقدارالوقوف نو مقدار د وقوف دوه دی يعنی د دې دوه درجې دی يو فرض او يو واجب چې کوم مقدار فرض دې په هغې کښې کمی کولو سره خو به

[1]: صحيح البخاري/الحج ٩١(١٦٦٥)، وتفسير البقرة ٣٥(٤٥٢٠)، م /الحج ٢١(١٢١٩)، سنن النسائي/ الحج ٢٠٢(٣٠١٥)،(تحفة الأشراف: ١٧١٩٥)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الحج ٥٣(٨٨٤)، سنن ابن ماجه/المناسك ٥٨(٣٠١٨)(صحيح)

وقوف نهٔ کیږي او چې کوم مقدار واجب دې نو په هغې کښې کمې کولو سره به وقوف ناقص وي نو مقدار واجب د حنفیه او حنابله په نزد امتداد الوقوف من الزوال الی الغروب دې یعنی د زوال نه تر دَ نمر پریوتلو پورې مسلسل هلته ایساریدل واجب دی لیکن فرض به د دې نه په کم وقوف سره هم ادا شی لیکن واجب مقدار هم دا دې

او د شافعیه و مالکیه په نزد الجمع بین اللیل والنهار فی ای وقتٍ منهما یعنی څه حصه د شپې او څهٔ حصه د ورځې هلته ایساریدل واجب دی(شرعاً د شپې ابتداء د نمر پریوتلو نه کیږي) لیکن د شافعیه په نزد که صرف په ورځ کښې(د زوال نه پس) یا صرف په شپه کښې وقوف اوکړي نو فرض وقوف به ادا شي او ترک د واجب به لازم راشي او د مالکیه په نزد صرف په ورځ کښې وقوف سره فرض نهٔ ادا کیږي البته صرف په شپه کښې وقوف کولو سره فرض ادا کیږي

د دې تفصیل نه معلومه شوه چې د نمر پریوتلو نه پس وقوف د ائمه ثلثه په نزد صرف واجب دې او د مالکیه په نزد فرض دې انشاء الله د دې مسئلې تحقیق او تفصیل هم دا دې چې مونږ کوم اولیکهٔ.

بَابُ الْخُرُوجِ إِلَى مِنًى

باب د مکې مکرمې نه د منی طرفته د روانیدو بیان

د دې باب نه تر د باب التعجیل من جمیع پورې ټول اتهٔ بابونه دی دا ابواب مصنف علیه الرحمة هم په هغه ترتیب سره قائم کړیدی چې په کوم ترتیب سره حج کیږي په دې اتو بابونو کښې هغه ټول افعال او مناسک راغلې دی چې کوم د حج په پنځو ورځو کښې کیږي د اتمې ذي الحجه (١) نه تر دولسمې یا دیارلسمې ذی الحجه پورې، فلله در المصنف،، د سنن ابوداؤد ترتیب زما په نزد په صحاح سته کښې د ټولو نه غوره دې.

[١٩١١](٢) حَدَّثَنَا زُهَيْرُ بْنُ حَرْبٍ، حَدَّثَنَا الْأَحْوَصُ بْنُ جَوَّابٍ الضَّبِّيُّ، حَدَّثَنَا عَمَّارُ بْنُ رُزَيْقٍ، عَنْ سُلَيْمَانَ الْأَعْمَشِ، عَنْ الْحَكَمِ، عَنْ مِقْسَمٍ، عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "صَلَّى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الظُّهْرَ يَوْمَ التَّرْوِيَةِ وَالْفَجْرَ يَوْمَ عَرَفَةَ بِمِنًى".

دابن عباس رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ د ترویې په ورځ د ماسپخین مونځ اودعرفې په ورځ دسحرمونځ په منی کښې اداکړې وو.

(١) په ٨ ذوالحجه دټولو نه اول دا کار کیږي چه حاجی دمکې نه منی ته راځی دې لره مصنف په دې رومبی باب کښې بیانوی، دحج د پنځو ورځو افعال په ترتیب سره مونږ ددې نه مخکښې بیان کړی دی لهذا تاسوهغه ترتیب په ذهن کښې اوساتئ او دا ابواب په هغې باندې منطبق کړئ، طالب علم له په خپله هم څه محنت کول پکار دی بغیر دهمت اومحنت نه هیڅ کار نه کیږي.

(٢): سنن الترمذي/الحج ٥٠(٨٨٠)،(تحفة الأشراف: ٦٤٦٥)، وقد أخرجه: مسند احمد(١/٢٥٥، ٢٩٦، ٢٩٧، ٣٠٣)، دي/المناسك ٤٦(١٩١٣)(صحيح)

[١٩١٢]() حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ الْأَزْرَقُ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ رَفِيعٍ، قَالَ: سَأَلْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ، قُلْتُ: أَخْبِرْنِي بِشَيْءٍ عَقَلْتَهُ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، "أَيْنَ صَلَّى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الظُّهْرَ يَوْمَ التَّرْوِيَةِ؟ فَقَالَ: بِمِنًى، قُلْتُ: فَأَيْنَ صَلَّى الْعَصْرَ يَوْمَ النَّفْرِ؟ قَالَ: بِالْأَبْطَحِ، ثُمَّ قَالَ: افْعَلْ كَمَا يَفْعَلُ أُمَرَاؤُكَ".

عبدالعزیز بن رفیع وائی چه ما انس نشته اووئیل ماته هغه خبره بیان کړه کومه چه تا د رسول الله ﷺ نه یاده کړې وی دترویې(اتم تاریخ دذی الحجې) په ورځ باندې رسول الله ﷺ دماسپخین مونځ کوم ځائې اداکړې وو، هغوی اوفرمائیل په منی کښې ما اووئیل دنفر په ورځ(یعنی دواپسئ ورځ دیارلسم ذی الحجه) هغه دمازیګر مونځ کوم ځائې اداکړې وو ده اووئیل په وادئ ابطح کښې بیائې اوفرمائیل هم داسې عمل اوکړه لکه څنګه چه ستاامراء کوي.

تشریح: قوله: اخبرنی بشئ عقلته عن رسول الله صلی الله علیه وسلم د حضرت انس رضی الله عنه نه چا سوال اوکړوچې تاسو نبی علیه السلام سره حج کړې دې لهذا نبی علیه السلام سره د حج کولو په دوران کښې چې تاسو څه لیدلې دی او په څه باندې پوهه شوې ئې په هغې کښې د دې سوال جواب راکړئ چې نبی علیه السلام په یوم الترویه یعنی په اتمه ذی الحجه باندې د ماسپخین مونځ چرته کړې وو په مکه مکرمه کښې یا په منی کښې؟ یعنی د ماسپخین مونځ کولو نه پس منی ته روان شوې وو یا ئې منی ته په رسیدلو سره مونځ کړې وو؟ هغوی جواب ورکړو چې منی ته لاړل او هلته ئې مونځ اوکړو(دا مخکښې تیر شوې دی چې منی ته په رسیدلو سره پنځهٔ مونځونه د ماسپخین نه تر سحر پورې کول مسنون دی)

قوله: قلت این صلی العصر یوم النفر(دویم سوال ئې دا اوکړو چې دا هم اووایئ چې د منی نه په واپسئ باندې نبی علیه السلام د مازیګر مونځ کوم ځائې کړې وو هم په منی کښې یا په محصب کښې په دې دواړو سوالونو کښې مناسبت دا دې چې د یو سوال تعلق د حج پنځو ورځو کښې اولنئ ورځ سره دې او د دویم سوال تعلق د آخری ورځ سره دې نو یو سوال د ابتداء سره متعلق شو او دویم د انتهاء سره

د دې سوال په جواب کښې هغوی اوفرمائیل چې په دغه ورځ باندې د مازیګر مونځ نبی علیه السلام په محصب کښې فرمائیلې وو د دې سوال و جواب نه په ظاهره دا معلومیږی چې هرکله د مازیګر باره کښې دا تردد دې چې دا مونځ ئې کوم ځائې کړې وو په منی کښې یا محصب کښې نو د ماسپخین باره کښې ګویا دا متعین شوه چې هغه ئې په منی کښې لوستلې وو حالانکه داسې نه ده بلکه هغه ورځ د ماسپخین مونځ هم نبی علیه السلام په محصب کښې اداکړې وو چه د هغې دلیل دا دې چې د باب التحصیب آخری حدیث چې د ابن عمر رضی الله عنهما نه مروی دې په هغې کښې وضاحت موجود دې چې نبی علیه السلام په هغه ورځ د ماسپخین نه تر ماسخوتن پورې ټول مونځونه په محصب کښې ادا کړې وو ثم قال افعل کما

(): ● تخریج: صحیح البخاري/الحج ٨٣(١٦٥٣)، ١٤٦(١٧٦٣)، صحیح مسلم/الحج ٥٨(١٣٠٨)، سنن الترمذي/الحج ١١٦(٩٦٤)، سنن النسائي/الحج ١٩٠(٣٠٠٠)،(تحفة الأشراف: ٩٨٨)، وقد أخرجه: مسند احمد(١٠٠/٣)، سنن الدارمي/المناسك ٤٦(١٩١٤)(صحیح)

يفعل امراؤک مطلب دا دې چې محصب کښې د دې مونځونو کول صرف سنت دی واجب نهٔ دی او د امير اطاعت واجب دې لهذا که ستاسو د حج امير بالفرض د دې خلاف اوکړی نو تاسو ته د هغهٔ اطاعت کول پکار دی د نبی عليه السلام مبارک له طرفه مونږ ته دا هدايت دې

بَابُ الْخُرُوجِ إِلَى عَرَفَةَ

باب: (د منی نه) عرفات ته د تلو بيان

يعنی په دويمه ورځ په نهم تاريخ باندې د منی نه عرفات طرفته روانګی،
ياد ساتئ چې په دې ورځ باندې د منی نه روانګی نيغ عرفات ته نهٔ وی بلکه په لاره کښې يو بل منزل دې يعنی نمره هلته د ايساريدلو نه پس حاجی بيا وړاندې ځی لهذا دلته په ترجمة الباب کښې د عرفه نه مراد قرب عرفه دې او د دې نه وړاندې ترجمة الباب کښې چې د کومې روانګئ ذکر دې نو هغه دلته د نمره نه مراد دې نو په دواړوترجمو کښې فرق ظاهر شو چې په اولنی باب کښې د روانګئ نه مراد د منی نه نمره ته ده (چې عرفات ته نزدې مقام دې) او په راتلونکی باب کښې د روانګئ نه مراد د نمره نه عرفات ته ده دا خبره هم ياد ساتئ چې دلته هم روانګی د نمره نه براه راست عرفات ته نهٔ وی بلکه حاجی د نمره نه لاړ شی نو په لار کښې بطن عرنه کښې حصار شی او بيا عرفات ته ځی لکه څنګه چې د حجة الوداع په حديث کښې تير شو دې بطن عرنه ته چې اورسی نو د حج امير اول خطبه ورکړی د دې نه پس جمع بين الصلوتين يعنی ماسپخين او مازيګر دواړه د ماسپخين په وخت کښې ادا کړی بيا د دې ځائې نه د وقوف په نيت د عرفات ميدان ته ځی بنهٔ ځان پوهه کړئ

[۱۹۱۳] (١) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ، حَدَّثَنَا أَبِي، عَنِ ابْنِ إِسْحَاقَ، حَدَّثَنِي نَافِعٌ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: "غَدَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ مِنًى حِينَ صَلَّى الصُّبْحَ صَبِيحَةَ يَوْمِ عَرَفَةَ حَتَّى أَتَى عَرَفَةَ فَنَزَلَ بِنَمِرَةَ وَهِيَ مَنْزِلُ الْإِمَامِ الَّذِي يَنْزِلُ بِهِ بِعَرَفَةَ، حَتَّى إِذَا كَانَ عِنْدَ صَلَاةِ الظُّهْرِ رَاحَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُهَجِّرًا فَجَمَعَ بَيْنَ الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ، ثُمَّ خَطَبَ النَّاسَ، ثُمَّ رَاحَ فَوَقَفَ عَلَى الْمَوْقِفِ مِنْ عَرَفَةَ".

دابن عمر رضی الله عنهما نه روايت دې چه رسول الله صلی الله عليه وسلم دعرفې په ورځ په منی کښې دصبامونځ اداکړو بياعرفات طرف ته ئې تشريف راوړو او په وادئ نمره کښې ئې دمه اوکړه په هغه مقام کښې په کوم چه په عرفات کښې امام راکوزيږی تردې پورې چه کله دماسپخين وخت شو نو رسول الله صلی الله عليه وسلم دماسپخين په ګرمئ کښې دهغه ځائې نه روان شو اودماسپخين اومازيګر مونځونه ئې يوځائې اداکړل بيائې خلقوته خطبه او فرمائيله بيا دهغه ځائې نه روان شو او په عرفات کښې خپل موقوف ته راغلل او وقوف ئې اوکړو

بَابُ الرَّوَاحِ إِلَى عَرَفَةَ

باب: (د نمره نه) عرفات دپاره د تلو بيان

دې باب سره متعلق خبرې اترې مخکښينی باب کښې اوشوې رواح وائی د زوال نه پس تلو ته لکه څنګه چې د نمره مقام نه د زوال نه پس ځی په تير شوې باب کښې که څرته د خروج

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٨٤١٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٢٩/٢) (حسن)

په ځائې باب الغدو الی عرفة وې نو ډير ښكلې او عمده تقابل به وو ځكه چې د منى نه روانګى د سحر په وخت كښې وى

[۱۹۱۴]([1]) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، حَدَّثَنَا نَافِعُ بْنُ عُمَرَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ حَسَّانَ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: "لَمَّا أَنْ قَتَلَ الْحَجَّاجُ ابْنَ الزُّبَيْرِ، أَرْسَلَ إِلَى ابْنِ عُمَرَ أَيَّةَ سَاعَةٍ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَرُوحُ فِي هَذَا الْيَوْمِ؟ قَالَ: إِذَا كَانَ ذَلِكَ رُحْنَا فَلَمَّا أَرَادَ ابْنُ عُمَرَ أَنْ يَرُوحَ، قَالُوا: لَمْ تَزِغْ الشَّمْسُ، قَالَ: أَزَاغَتْ؟ قَالُوا: لَمْ تَزِغْ، أَوْ زَاغَتْ، قَالَ: فَلَمَّا قَالُوا: قَدْ زَاغَتْ، ارْتَحَلَ".

دابن عمر رضي الله عنهما نه روايت دې چه كله حجاج ابن الزبير لره شهيد كړو نوابن عمر رضي الله عنهما ته ئې استاذې اوليږلو چه رسول الله ﷺ په دې ورځ باندې په كوم وخت كښې ددې ځائې نه واپس كيدو هغوى أووئيل چه كله وخت راشى نو مونږ به ځنو بيا كله چه ابن عمر رضي الله عنهما دتللو اراده اوكړه نوملګرى اووئيل نمرنه دې زائله شوې بيائې تپوس اوكړو ايانمرزائله شوې. د هغه اووئيل نه دې زائله شوې يا زائله شوې دې پس كله چه هغوى اووئيل چه زائله شوې دې نوهغوى روان شول

تشريح: قوله: لماان قتل الحجاج ابن الزبير: د دې واقعې څه قدرې تشريح په باب الاحصار كښې تيره شوې ده

قوله: ارسل الى ابن عمر اية ساعة كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يروح: په دې روايت كښې اختصار دې د نسائى په روايت كښې د دې حديث ابتدائى حصه مذكور ده پوره مضمون دا دې چې كله حجاج بن يوسف ابن زبير رضي الله عنه لره په سولئ باندې خيژولو او قتل كولو نه فارغ شو او اوس په حجاز باندې هم د عبدالملك بن مروان حكومت شو نو عبدالملك حجاج بن يوسف ته دا هدايت اوليږلو چې هغه د حج په مسئلو كښې د ابن عمر رضى الله تابعدارى اوكړى چې څنګه هغوى فرمائى نو هم هغه شان په خلقو باندې حج اوكړئ او په هيڅ مسئله كښې د هغوى مخالفت اونكړئ([2]) نو په نهم تاريخ چې په كوم وخت كښې حجاج په وادى نمره كښې وو نو حجاج بن يوسف د ابن عمر رضي الله عنهما نه دا معلوم كړل چې اوس د دې ځائې نه عرفات ته كله تلل دى نو هغوى اوفرمائيل چې كله د تللو وخت راشى نو مونږ به خو‌د او تاسو ته به د هغې اطلاع دركړو)

[1]: سنن ابن ماجه المناسك ٥٤(٣٠٠٩)،(تحفة الأشراف: ٧٠٧٣)، وقد أخرجه: صحيح البخاري الحج ٨٧(١٦٦٠)، موطا امام مالك الحج ٦٤(١٩٥)، مسند احمد(٢/٢٥)(حسن)

[2]: ځكه چه دحكومتونو كوم په خپل مينځ كښې جنګونه كيږى لكه دلته چه د ابن الزبير رضي الله عنه او عبدالملك په مينځ كښې وو په دې كښې به عوامو زيات دخل نه كولو، خوپه مسائل شرعيه كښې عوام د علماؤ او مفتيانو خبره منى په دې كښې د حكامو خبره نه چليږى، په دې وجه عبدالملك، حجاج بن يوسف ته كوم چه هغه وخت اميرالحج وو دتجربې دا خبره اوليكله چه هغه دې دحج په مناسكو كښې دحضرت ابن عمر رضي الله عنهما سره مشوره كوى اوهم دهغې مطابق دې په خلقو باندې حج اوكړى ګنى خلق به نې مخالفت كوى او انتشار به پيدا شى. كذا سمعت من شيخي مولانا محمد زكريا رحمه الله تعالى.

بَابُ الْخُطْبَةِ عَلَى الْمِنْبَرِ بِعَرَفَةَ

په عرفات کښې د خطبې بیان

مشهوره خو دا ده چې د حج په خطباتو کښې يوه خطبه هغه ده چې په عرفات کښې کيږي لکه څنګه چې مصنف دلته په ترجمة الباب کښې فرمائي ليکن دا خطبه په بطن عرنه کښې کيږي چې د جمهورو په نزد د عرفات نه خارج ده ليکن چونکه عرفات ته بالکل قريب ده بلکه د هغې کناره ده نو شايد چې په دې وجه ورته خطبه عرفه وئيلې شي والله تعالى اعلم(ولم ارمن نبه عليه)

د حج د خطبو تعداد او تعيين او د امامانو اختلاف

د حج د خطبو په تعداد کښې د فقهاؤ اختلاف دې د حنفيه ومالکيه په نزد درې دی په دې تاريخونو کښې ٩،٧ او ١١ ذی الحجه او د شافعيه په نزد څلور خطبې دی په دې تاريخونو کښې ٧، ٩، ١١، او ١٢ او د امام زفر په نزد درې دی اولنۍ په اتمه ذی الحجه، دويمه په نهمه او دريمه په لسمه ذی الحجه باندې خطبې سره متعلق دا اولنې باب دې د باقي خطبو ذکر وړاندې مستقل بابونو کښې راروان دې

[١٩١٥](١) حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، عَنْ ابْنِ أَبِي زَائِدَةَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ، عَنْ رَجُلٍ مِنْ بَنِي ضَمْرَةَ، عَنْ أَبِيهِ أَوْ عَمِّهِ، قَالَ: "رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ عَلَى الْمِنْبَرِ بِعَرَفَةَ".

دبنی ضمره يو کس دخپل پلار يادخپل تره نه روايت کوی فرمائي چه ما رسول الله ﷺ لره دعرفات په ورځ باندې په منبرباندې ناست ليدلې وو.

قوله: وهو على المنبر بعرفة..الخ: نبی علیه السلام خطبه په عرفات کښې په قصواء نومې اوښه باندې لوستلې وه لکه څنګه چې دجابر رضی الله عنه په اوږد حديث کښې تير شو او دا خبره متعين ده چې د نبی علیه السلام په زمانه کښې په عرفات کښې منبر نۀ وو شارحين فرمائي يا خو دا د راوی وهم دې او يا دا اووايئ چې د راوی مراد د منبر نه هم دا اوښه ده.

[١٩١٦](٢) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ دَاوُدَ، عَنْ سَلَمَةَ بْنِ نُبَيْطٍ، عَنْ رَجُلٍ مِنَ الْحَيِّ، عَنْ أَبِيهِ نُبَيْطٍ، أَنَّهُ "رَأَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاقِفًا بِعَرَفَةَ عَلَى بَعِيرٍ أَحْمَرَ يَخْطُبُ".

ابن سلمه بن نبيط دخپلې قبيلې ديوکس نه هغه ددوی لط دپلار نبيط نه روايت کوی چه هغه نبی کريم ﷺ لره په عرفات کښې په وقوف کولوباندې اوليدو هغه په سور اوښ باندې وو او خطبه ئې فرمائيله.

قوله: على بعير احمر يخطب..الخ: دا هم خلاف مشهور ده بعير خو اوښ ته وئيلې شی حالانکه نبی علیه السلام په اوښه باندې وو او د نسائی په روايت کښې چې هم په دې سند سره دې د بعير په ځائې جمل احمر دې حالانکه امام نسائی په خپله په دې باندې باب خطبة يوم عرفة

---

(١): تفرد به أبو داود،(تحفة الأشراف: ١٥٧٠٠)، وقد أخرجه: مسند احمد(١٩٤/٢، ٣٦٩، ٤٣٠)(ضعيف)

(٢): سنن النسائي/الحج ١٩٨(٣٠١٠)، ١٩٩(٣٠١١)،(تحفة الأشراف: ١١٥٨٩)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ١٥٨(١٢٨٦)، مسند احمد(٣٠٥/٤، ٣٠٦)(صحيح)

علی الناقة قائم کړې دي ممکن ده چې د بعير اطلاق په ناقه يعنی اوښه باندې هم کيدې شي او يا دا چې راوی د لرې نه ليدلې وی او اوښ ئې ګڼرلې وی والله تعالی اعلم په سند کښې چې کوم راوی دې خالد بن العداء بن هوذة دا په مقلوب الاسماء کښې دې صحيح د دې عکس دې يعنی العداء بن خالد کما فی التقريب

[١٩١٧](١) حَدَّثَنَا هَنَّادُ بْنُ السَّرِيِّ، وَعُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، قَالَا: حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ عَبْدِ الْمَجِيدِ، قَالَ: حَدَّثَنِي الْعَدَّاءُ بْنُ خَالِدِ بْنِ هَوْذَةَ، قَالَ هَنَّادٌ: عَنْ عَبْدِ الْمَجِيدِ أَبِي عَمْرٍو، قَالَ: حَدَّثَنِي خَالِدُ بْنُ الْعَدَّاءِ بْنِ هَوْذَةَ، قَالَ: "رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْطُبُ النَّاسَ يَوْمَ عَرَفَةَ عَلَى بَعِيرٍ قَائِمٌ فِي الرِّكَابَيْنِ". قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ ابْنُ الْعَلَاءِ، عَنْ وَكِيعٍ، كَمَا قَالَ هَنَّادٌ.

خالد بن عدا رضی الله عنه نه روايت دې چه ما د عرفې په ورځ باندې رسول الله ﷺ لره اوليدو چه هغه په خپل اوښ باندې ناست وو او دهغې په رکابونو کښې ئې خپې پرتې وې او خطبه ئې فرمائيله. ابوداود فرمائی چه ابن العلاء د وکيع نه داسې روايت کړې دې لکه څنګه چه هناد وئيلی دې.

[١٩١٨](٢) حَدَّثَنَا عَبَّاسُ بْنُ عَبْدِ الْعَظِيمِ، حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْمَجِيدِ أَبُو عَمْرٍو، عَنِ الْعَدَّاءِ، بِمَعْنَاهُ.

عبدالمجيد بن عمرو دعداء بن خالد نه روايت کړې دې او دپورتنی روايت په شان روايت ئې بيان کړې دې.

بَابُ مَوْضِعِ الْوُقُوفِ بِعَرَفَةَ

په عرفات کښې د وقوف (يعنی ايساريدلو) ځائی

[١٩١٩](٣) حَدَّثَنَا ابْنُ نُفَيْلٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عَمْرٍو يَعْنِي ابْنَ دِينَارٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ صَفْوَانَ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ شَيْبَانَ، قَالَ: "أَتَانَا ابْنُ مِرْبَعٍ الْأَنْصَارِيُّ وَنَحْنُ بِعَرَفَةَ فِي مَكَانٍ يُبَاعِدُهُ عَمْرٌو عَنِ الْإِمَامِ، فَقَالَ: أَمَا إِنِّي رَسُولُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَيْكُمْ، يَقُولُ لَكُمْ: قِفُوا عَلَى مَشَاعِرِكُمْ، فَإِنَّكُمْ عَلَى إِرْثٍ مِنْ إِرْثِ أَبِيكُمْ إِبْرَاهِيمَ".

د زيد بن شيبان نه روايت دې چه ابن مربعه انصاری و مونږ ته تشريف راوړو او مونږ په عرفات کښې په داسې ځائې باندې وقوف کړې وو چه عمرو بن عبدالله هغې لره د امام د موقف نه لرې ګڼلو (ابن مربعه) اوفرمائيل بې شکه زه ستاسو طرف ته د رسول الله ﷺ پيغام رسوونکې راغلې يم هغه تاسو ته فرمائی په خپل مقاماتو باندې وقوف اوکړئ بې شکه تاسو د خپل پلار ابراهيم علیه السلام د وراثت نه په يو وراثت کښې يئ.

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٩٨٤٩)، وقد أخرجه: مسند احمد(٣٠/٥)(صحيح)
(٢): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٩٨٤٩)(صحيح)
(٣): سنن الترمذي/الحج ٥٣(٨٨٣)، سنن ابن ماجه/المناسك ٥٥(٣٠١١) سنن النسائي/ الحج ٢٠٢(٣٠١٧)، (تحفة الأشراف: ١٥٥٢٦)، وقد أخرجه: مسند احمد(١٣٧/٤)(صحيح)

د حدیث شرح

اتانا ابن مربع الانصاری ونحن بعرفة فی مکان[1] یباعده عمرو عن الامام

د حدیث شریف مضمون دا دې یزید بن شیبان چې صحابی دې فرمائی چې د حجة الوداع په موقع کوم وخت چه مونږ په عرفات کښې وو نو مونږ ته ابن مربع انصاری (قیل اسمه زید وقیل یزید وقیل عبدالله) راغې او وې فرمائیل چې زهٔ نبی ﷺ رالیږلے یم او دا پیغام مې د پیغمبر ﷺ راوړې دې فرمائی چې تاسو خلق کوم ځائې موجود ئې نو هم دلته اوسئ ځکه چې تاسو د حضرت ابراهیم ﷺ په میراث باندې ئې یعنی د هغوی په طریقه باندې او ستاسو دا وقوف د هغوی د سنت مطابق دې سوال دا کیږی چې نبی ﷺ دا خبره ولې ارشاد اوفرمائیله؟ د دې د وضاحت دپاره راوی یو جمله په حدیث کښې درج کړه[2] فی مکان یباعده عمرو عن الامام د عمرو نه عمرو بن عبدالله مراد دې مطلب دادې چې عمرو بن عبدالله وائی چې په کوم ځائې کښې دې خلقو په عرفات کښې وقوف کوو نو هغه ځائې د امام د موقف نه لرې وو امام د دوی نه په کافی فاصله باندې وو په دې وجه نبی ﷺ ته د دوی د تسلئ دپاره د دې خبرې کولو ضرورت پیښ شو

اصل کښې عرفات ډیر اوږد او پلن میدان دې په دې کښې چې کوم ځائې کښې هم وقوف اوشی نو صحیح دې په عرفات کښې د وقوف دپاره خیمې د مخکښې نه نصب کولې شی دې حضراتو خیمې داسې ځائې کښې لګولې وې چې هغه د حضور ﷺ د موقف نه لرې وې او بیا ښکاره خبره ده چې د دې ځائې نه په منتقل کیدو کښې حرج وو په دې وجه نبی ﷺ هغوی ته تسلی ورکړه او دا خبر ئې ورته راؤلیږلو چې تاسو کوم ځائې ئې نو هم هلته اوسئ امام صاحب سره خوا کښې وقوف کول څه ضروری نهٔ دی او اصل خو په دې کښې د حضرت ابراهیم ﷺ اتباع کول دی نو هغه خو بحمدالله حاصل ده په خلاف د قریش چې هغوی به د ابراهیم ﷺ د سنتو خلاف په مزدلفه کښې وقوف کوو چې شرعاً ورله هیڅ اعتبار نشته والله تعالی اعلم

سبحان الله! نبی ﷺ به څومره قدرې د خپلو صحابه کرامو زړهٔ ساتلو جزی الله سیدنا ومولنا محمداً عنا بما هو اهله قال المنذری واخرجه الترمذی والنسائی وابن ماجه(عون)

---

[1] دا د عمرو بن دینار مقوله ده کوم چه هغه د عمرو بن عبدالله نه نقل کوی، ترجمه دا خلق په داسې ځائې کښې وقوف کوی کوم ته چه عمرو بن عبدالله د امام د ځائې نه لرې ښائی، حضرت په بذل کښې د دې جملې په تشریح کښې کلام طویل فرمائیلې دې چه د هغې وجه دا ده چه په بعض کتب حدیث کښې دا جمله په نورو الفاظو کښې ده

[2] د ابوداود د روایت نه هم دا مستفاد کیږی چه دا جمله مدرج ده او د نسائی سیاق د دې نه مختلف دې د هغې نه مدرج کیدل نه معلومیږی په هغې کښې داسې دی ﴿ ان یزید بن شیبان قال کنا وقوفا بعرفة مکانا بعیدا من الموقف الخ ﴾ د دې تقاضه دا ده چه دا جمله خپله د اصل راوی یزید بن شیبان ده د لاندې راوی د طرف نه مدرج نه ده، غالبا صحیح صورت حال هم هغه دې کوم چه د ابوداود په روایت کښې دې. والله تعالی اعلم

تنبيه: د بذل المجهود په نسخه کښې داسې دی فالكم على ارث من ارث ابراهيم ،، په دې کښې لفظ د ابيكم پاتې شوې دې، من ارث ابيكم ابراهيم لکه څنګه چې په نورو نسخو کښې دی او د نسائی په روايت کښې هم

بَابُ الدَّفْعَةِ مِنْ عَرَفَةَ

باب د عرفات د واپس کيدلو بيان

يعنی د عرفات نه مزدلفې طرفته واپس کيدل (مزدلفه د منی او عرفات په مينځ کښې ده) د دې باب د اولنی حديث شرح د حجة الوداع والا په حديث کښې تيره شوې ده

[۱۹۲۰] (۱) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الْأَعْمَشِ. ح وحَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ بَيَانٍ، حَدَّثَنَا عُبَيْدَةُ، حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ الْأَعْمَشُ الْمَعْنَى، عَنِ الْحَكَمِ، عَنْ مِقْسَمٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "أَفَاضَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ عَرَفَةَ وَعَلَيْهِ السَّكِينَةُ وَرَدِيفُهُ أُسَامَةُ، وَقَالَ: أَيُّهَا النَّاسُ، عَلَيْكُمْ بِالسَّكِينَةِ، فَإِنَّ الْبِرَّ لَيْسَ بِإِيجَافِ الْخَيْلِ وَالْإِبِلِ"، قَالَ: فَمَا رَأَيْتُهَا رَافِعَةً يَدَيْهَا عَادِيَةً حَتَّى أَتَى جَمْعًا، زَادَ وَهْبٌ: ثُمَّ أَرْدَفَ الْفَضْلَ بْنَ الْعَبَّاسِ، وَقَالَ: "أَيُّهَا النَّاسُ، إِنَّ الْبِرَّ لَيْسَ بِإِيجَافِ الْخَيْلِ وَالْإِبِلِ، فَعَلَيْكُمْ بِالسَّكِينَةِ"، قَالَ: فَمَا رَأَيْتُهَا رَافِعَةً يَدَيْهَا حَتَّى أَتَى مِنًى.

د ابن عباس رضی الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ د عرفات نه روان شو او په ډير ارام او سکون سره روان شو اسامه هغه پسې وروستو ناست وو نبی علیه السلام او فرمائيل اې خلقو په ارام سره ځئ نيکی په اس او اوښ زغلولو کښې نشته او ما اوکتل چه خپلې دواړه خپه نه وې اوچتې کړې چه منډې ئې وهلی تردې پورې چه نبی علیه السلام مزدلفت ته اورسيدل وهب زياتوی چه بيا هغه فضل بن عباس نه لره ځان پسې وروستو کينولو اووئې فرمائيل اې خلقو نيکی داس او داوښ په زغلولو کښې نشته دې په سکون سره ځئ او ما نه دی ليدلی چه هيڅ يوې سورلی خپې اوچتې کړې وی او تلی وی تردې پورې چه هغه منی ته راغې.

[۱۹۲۱] (۲) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ يُونُسَ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ. ح وحَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ وَهَذَا لَفْظُ حَدِيثِ زُهَيْرٍ، حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ عُقْبَةَ، أَخْبَرَنِي كُرَيْبٌ، أَنَّهُ سَأَلَ أُسَامَةَ بْنَ زَيْدٍ، قُلْتُ: أَخْبِرْنِي كَيْفَ فَعَلْتُمْ أَوْ صَنَعْتُمْ عَشِيَّةَ رَدِفْتَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ قَالَ: جِئْنَا الشِّعْبَ الَّذِي يُنِيخُ النَّاسُ فِيهِ لِلْمُعَرَّسِ، فَأَنَاخَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَاقَتَهُ ثُمَّ بَالَ، وَمَا قَالَ زُهَيْرٌ: أَهْرَاقَ الْمَاءَ، ثُمَّ دَعَا بِالْوَضُوءِ فَتَوَضَّأَ وُضُوءًا لَيْسَ بِالْبَالِغِ جِدًّا، قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، الصَّلَاةَ، قَالَ: الصَّلَاةُ أَمَامَكَ، قَالَ: رَكِبَ حَتَّى قَدِمْنَا الْمُزْدَلِفَةَ فَأَقَامَ الْمَغْرِبَ، ثُمَّ أَنَاخَ النَّاسُ فِي مَنَازِلِهِمْ وَلَمْ يَحِلُّوا حَتَّى أَقَامَ الْعِشَاءَ وَصَلَّى، ثُمَّ حَلَّ النَّاسُ". زَادَ مُحَمَّدٌ فِي حَدِيثِهِ، قَالَ: قُلْتُ: كَيْفَ فَعَلْتُمْ حِينَ أَصْبَحْتُمْ؟ قَالَ: رَدِفَهُ الْفَضْلُ وَانْطَلَقْتُ أَنَا فِي سُبَّاقِ قُرَيْشٍ عَلَى رِجْلَيَّ.

د کريب نه روايت دې چه ما اسامه بن زيد ته اوفرمائيل ماته دا اوښائی چه په کومه شپه ته

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٦٤٧٠)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الحج ٢٢ (١٥٤٤)، صحيح مسلم/الحج ٤٥ (١٢٨٢)، سنن الترمذي/الحج ٧٨ (٩١٨)، سنن النسائي/الحج ٢٠٤ (٣٠٢٢)، مسند احمد (١/٢٣٥، ٢٥١، ٢٦٩، ٢٧٧، ٣٢٦، ٣٥٣، ٣٧١) (صحيح)

[2]: سنن النسائي/ الحج ٢٠٧ (٣٠٣٣)، سنن ابن ماجه/المناسك ٥٩ (٣٠١٩)، (تحفة الأشراف: ١١٦)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الوضوء ٣٥ (١٣٩)، والحج ٩٥ (١٦٦٦)، صحيح مسلم/الحج ٤٧ (١٢٨٠)، سنن الترمذي/الحج ٥٤ (٨٨٥)، موطا امام مالك/الحج ٦٥ (١٩٧)، مسند احمد (٥/٢٠٠، ٢٠٢، ٢٠٨، ٢١٠)، سنن الدارمي/المناسك ٥١ (١٩٢٢) (صحيح)

رسول الله ﷺ پسې وروستو ناست وې نوتاسو خلقو څنګه فعل کولو هغه اوفرمائيل چه مونږ د غونډۍ ته راغلو په کوم کښې چه خلق سورلۍ کينه وی هغه ځائې ته معرس وائی رسول الله ﷺ خپله اوښه کينوله بيائې بول اوکړل اسامه بن داهراق الماء الفاظ نه دی ذکرکړې بيا هغه اوبه طلب کړې او اودس ئې اوکړو اندامونه ئې يوځل دوه او وينځل ماوونيل اې دالله رسوله مونځ هغه اوفرمائيل مونځ ستاسو مخ ته دې بياهغه سور شو تردې پورې چه مزدلفې ته اورسيدلو نو بياهغه هلته دماښام مونځ اداکړو بياخلقو خپلو سورلو لره په خپل خپل پړاو کښې کينولې مګر دهغې بوجونه ئې کولاو نه کړل تردې پورې چه دماسخوتن اقامت اووئيلې شواومونځ ئې اداکړو بياخلقو خپل بوجونه کولاو کړل محمدبن کثير په خپل روايت کښې مزيد وئيلې دی ماتپوس اوکړو کله چه تاسو صبا کړو نو څنګه فعل موکړې وو هغه اووئيل فضله هغه پسې ورستو سور شو اوزه دقريشو دهغه افرادو سره پېدل لاړم کوم چه دنورو خلقونه مخکښې روان شوې وو.

قوله: قلت اخبرني كيف فعلتم عشيةً ردفتَ..الخ:

يعنی د عرفې په ماښام چې کله تاسو نبی عليه السلام پسې شاته سوارهٔ شوئ او مزدلفې ته روان شوئ نو په لاره کښې مو څه اوکړل يعنی کوم ځائې کښې حصار شوئ يا بس مسلسل روان وی(د دې حال بيان کړئ) قال جئنا الشعب الذی ينيخ فيه الناس اللمعرس يعنی په لاره کښې چې کله مونږ هغې ګهاټۍ ته اورسيدو چرته چې نن صبا خلق يعنی بنواميه تعريس کوی نو نبی عليه السلام هلته کوز شو او بول ئې اوکړل او مختصر شان اودس ئې اوفرمائيلو(چې په هغې کښې ئې زياتې اوبه استعمال نه کړې) د دې نه پس فوراً د هغې ځائې نه وړاندې لاړل(دې دپاره چې جلدۍ سره مزدلفې ته اورسی او هلته ماښام او ماسخوتن جمع کړی) په دې کلام کښې تعريض دې دې طرفته چې امراء د بنواميه خلاف سنت دلته تعريس کوی صرف دا نهٔ بلکه هلته د ماښام مونځ هم کوی لکه څنګه چې د مسلم شريف په روايت کښې د دې تصريح موجود ده لکه په يو روايت کښې دی چې کوم ځائې نبی عليه السلام د بولو ځائې ګرځولې وو نو هغه تاسو د مونځ ځائې ګرځوئ څومره د تعجب خبره ده قال الصلوة امامک مونځ دلته نهٔ وړاندې کول دی وړاندې په روايت کښې دا دی چې کله بيا نبی عليه السلام مزدلفې ته اورسيدهٔ نو رسيدلو سره ئې د ماښام مونځ اوکړود دې نه پس ئې سورلۍ کينولې چې تردغه وخت پورې ولاړې وې ليکن د هغې نه ئې سامان کوز نکړو بيا ئې د ماسخوتن مونځ اوکړو او د هغې نه ئې سامان او کجاوې وغيره کوزې کړې د دې نه معلومه شوه چې مزدلفې ته په رسيدلو سره په مونځ کولو کښې لږ شان تاخير هم کول پکار نهٔ دی بلکه د ټولو نه مخکښې دا کار کول پکار دی نن صبا خلق په مونځ کولو کښې ډير تاخير کوی داسې نهٔ دی کول پکار

د ماښام مونځ د مزدلفه په لار کښې او په دې کښې څلور مذهبونه

د ماښام مونځ د مزدلفه په لار کښې کولې شی يا نهٔ؟ دې مسئله کښې هم اختلاف دې د طرفينو(امام ابوحنيفه و امام محمد)په نزد صحيح نهٔ دې او د امام ابويوسف صاحب په نزد جائز دی(قدوری) او د ائمه ثلثه يعنی امام شافعی،مالک و احمد په نزد هم جائزدی بلکه د

دي حضراتو په نزد خو جمع بين المغرب والعشاء هم جائز ده د امام شافعي واحمد په نزد خو مطلقاً ولو في وقت المغرب او د امام مالک په نزد مابنام خو بهرحال صحيح دي او جمع بين المغرب والعشاء هغه وخت صحيح ده چې کله د ماسخوتن وخت شي ورنه صرف مابنام به صحيح وي او ماسخوتن نه(منهل وتحفة الاحوذي)

قلت کيف فعلتم حين اصبحتم سائل تپوس اوکړو بيا چې کله په مزدلفه کښې د شپې تيرولو نه پس سحر شو نو تاسو څۀ اوکړل يعني اوس د دې نه وړاندې کارگذاري بيان کړئ نو په دې باندې حضرت اسامه رضي الله عنه جواب ورکړو چې د مزدلفې نه وړاندې زۀ نبي عليه السلام سره نۀ ووم بلکه د دې ځائې نه د نبي عليه السلام رديف فضل بن عباس شو(لهذا د دې تفصيل به هغوی بيان کړي) زۀ خو په هغه نوجوانانِ قريش کښې ووم چې د مزدلفې نه منی ته په وخت باندې پيدل روان شوي وو لکه وړاندې په باب التعجيل کښې راروان دی ابن عباس رضي الله عنهما فرمائي قدمنا رسول الله صلى الله عليه وسلم ليلة المزدلفة أغيلمة بني عبدالمطلب على جمراتٍ ...الخ.

[١٩٢٢](١) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ آدَمَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَيَّاشٍ، عَنْ زَيْدِ بْنِ عَلِيٍّ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عُبَيْدِ اللهِ بْنِ أَبِي رَافِعٍ، عَنْ عَلِيٍّ، قَالَ: ثُمَّ أَرْدَفَ أُسَامَةَ فَجَعَلَ يُعْنِقُ عَلَى نَاقَتِهِ وَالنَّاسُ يَضْرِبُونَ الْإِبِلَ يَمِينًا وَشِمَالًا لَا يَلْتَفِتُ إِلَيْهِمْ، وَيَقُولُ: السَّكِينَةَ أَيُّهَا النَّاسُ، وَدَفَعَ حِينَ غَابَتِ الشَّمْسُ.

دعلي رضي الله عنه نه روايت دې هغه اوفرمائيل بيانبي عليه السلام اسامه رضي الله عنه دځان پسې ورستو سور کړو بات بيا هغه په خپله اوښه باندې په درمياني تگ سره روان شو او خلقو ښي او گس طرف ته اوښانو لره وهل هغه به دوی طرف ته نه کتل اوفر مائيل به يې، اې خلقو په سکون سره تلل کوئ او هغه دعرفات نه د نمر د نمر پريوتلو نه پس روان شول

فجعل يُعنق على ناقته عنق وئيلې شي درميانه رفتار ته يعني نبي عليه السلام خپله اوښه درمياني رفتار سره چلوله او نورو خلقو خپلې سورلئ وهلې او په وهلو وهلو ئې په منډه کړې وې نبي عليه السلام هغوی ته په سکون سره د تللو ترغيب ورکولو

لا يلتفت اليهم نبي عليه السلام به هغوی ته په شا باندې نۀ کتل بلکه صرف په ژبې مبارکې سره به ئې اشاره فرمائيله چې جلدی مۀ کوئ او مسند احمد دغه شان ترمذی شريف کښې د لا يلتفت په ځائې يلتفت دې دواړو روايتونو ملاؤولو سره دا مطلب راوځي چې نبي عليه السلام به کله توجه کوله او کله نۀ والله اعلم

[١٩٢٣](٢) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّهُ قَالَ: سُئِلَ أُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ وَأَنَا جَالِسٌ، كَيْفَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسِيرُ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ حِينَ دَفَعَ؟ قَالَ: "كَانَ يَسِيرُ الْعَنَقَ، فَإِذَا وَجَدَ فَجْوَةً نَصَّ"، قَالَ هِشَامٌ: النَّصُّ فَوْقَ الْعَنَقِ.

---

(١): سنن الترمذي/الحج ٥٤(٨٨٥)، (تحفة الأشراف: ١٠٢٢٩)، وقد أخرجه: مسند احمد(١/٧٢، ٧٥، ٧٦، ٨١)(حسن)

(٢): صحيح البخاري/الحج ٩٣(١٦٦٦)، والجهاد ١٣٦(٢٩٩٩)، والمغازي ٧٧(٤٤١٣)، صحيح مسلم/الحج ٤٧(١٢٨٦)، سنن النسائي/الحج ٢٠٥(٣٠٢٦)، ٢١٤(٣٠٥٤)، سنن ابن ماجه/المناسك ٥٨(٣٠١٧)، (تحفة الأشراف: ١٠٤)، وقد أخرجه: موطا امام مالک/الحج ٥٧(١٧٦)، مسند احمد(٥/٢٠٥، ٢١٠)، سنن الدارمي/المناسك ٥١(١٩٢٢)(صحيح)

د عروه رضي الله عنه نه روایت دې چه داسامه رضي الله عنه نه تپوس اوکړې شو اوزه ناست وم چه رسول الله ﷺ به په الوداع کښې کله چه هغه دعرفې نه روان شو په کوم و رفتار سره تللو هغه اوفرمائیل په درمیانی رفتارسره کله چه به ئې فراخی بیاموندله نوڅه قدرې تیزیه تللو، هشام اووئیل چه دنص والارفتار د تنق نه څه قدرې تیز وي.

تشریح: قوله: النص فوق العنق..الخ: د فجوه میدان یعنی کوم ځائې کښې چې به رش وو نو هلته به نبی علیه السلام لږ په مزه رفتار سره تلو(دې ته عنق وئیلې شی) او چې کوم ځائې کښې به کهولاؤ میدان وو نو هلته به نبی علیه السلام رفتار تیزولو.

[١٩٢٤](١) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ، حَدَّثَنَا أَبِي، عَنِ ابْنِ إِسْحَاقَ، حَدَّثَنِي إِبْرَاهِيمُ بْنُ عُقْبَةَ، عَنْ كُرَيْبٍ مَوْلَى عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ، عَنْ أُسَامَةَ، قَالَ: "كُنْتُ رِدْفَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَلَمَّا وَقَعَتِ الشَّمْسُ دَفَعَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ".

د اسامه رضي الله عنه نه روایت دې چه زه نبی کریم ﷺ و پسې وروستو سور وم کله چه نمر پریوتونو رسول الله ﷺ دهغه ځائې نه روان شو..

تشریح: قوله: فلما وقعت الشمس دفع رسول الله صلى الله عليه وسلم..الخ:

یعنی د عرفات نه نبی علیه السلام د نمر پریوتلو نه پس روان شو د دې نه مخکښې نه،او هم دا واجب دی د حنفیه او حنابله په نزد وقد تقدمت المذاهب فی مقدارالوقوف فی باب الوقوف بعرفة که یو سړې د نمر پریوتلو نه مخکښې روان شی یصح عندالائمة الثلثة ویجب الدم وعندالامام مالک لا یصح حجه اذ فرض الوقوف عنده لا یحصل الا بالوقوف بعدالغروب اعنی لیلة المزدلفة

[١٩٢٥](٢) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ مُوسَى بْنِ عُقْبَةَ، عَنْ كُرَيْبٍ مَوْلَى عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ، عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ، أَنَّهُ سَمِعَهُ، يَقُولُ: "دَفَعَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ عَرَفَةَ، حَتَّى إِذَا كَانَ بِالشِّعْبِ نَزَلَ فَبَالَ فَتَوَضَّأَ، وَلَمْ يُسْبِغِ الْوُضُوءَ، قُلْتُ لَهُ: الصَّلَاةَ، فَقَالَ: الصَّلَاةُ أَمَامَكَ فَرَكِبَ، فَلَمَّا جَاءَ الْمُزْدَلِفَةَ نَزَلَ فَتَوَضَّأَ فَأَسْبَغَ الْوُضُوءَ، ثُمَّ أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ فَصَلَّى الْمَغْرِبَ، ثُمَّ أَنَاخَ كُلُّ إِنْسَانٍ بَعِيرَهُ فِي مَنْزِلِهِ، ثُمَّ أُقِيمَتِ الْعِشَاءُ فَصَلَّاهَا وَلَمْ يُصَلِّ بَيْنَهُمَا شَيْئًا".

کریب چه دعبدالله بن عباس رضي الله عنه ازاد کرده غلام دې دوی داسامه بن زیدونه واوریدل هغه فرمائیل چه رسول الله ﷺ دعرفات نه روان شو تردې پورې چه هغه دغره دغاښې ته اورسیدو نوهغه کوز شو بول ئې اوکړل بیائې اودس اوکړو خوپه هغې کښې څه مبالغه نه وه ماعرض اوکړو مونځ نبی علیه السلام اوفرمائیل مونځ ستاسو مخکښې دې بیاهغوی سواره به شو کله چه مزدلفه ته اورسیدو نوکوز شواودس ئې اوکړو کامل اودس بیادمونځ اقامت اووئیلې شو نودماښام مونځ ئې اوکړو بیاهر کس خپل خپل اوښ لره په خپل خپل پړاو کښې کینولو بیا د ماسخوتن اقامت اووئیلې شونوهغه مونځ اداکړو اودده په مینځ کښې ئې څه ادانه کړل.

---

(١): تفرد به أبو داود،(تحفة الأشراف: ١١٧)(حسن صحيح)

(٢): صحيح البخاري/الوضوء ٣٥(١٣٩)، والحج ٩٥(١٦٦٦)، صحيح مسلم/الحج ٤٧(١٢٨٠)، سنن النسائي/ الحج ٢٠٦(٣٠٢٧، ٣٠٢٨)، سنن الترمذي/الحج ٥٤(٨٨٥)،(تحفة الأشراف: ١١٥)، وقد أخرجه: مسند احمد(١٩٩/٥، ٢٠٨، ٢١٠)(صحيح)

بَابُ الصَّلَاةِ بِجَمْعٍ

باب: په مزدلفه کښې دمونځ بيان

(د مزدلفه وجه تسميه)

مزدلفه ته جمع ځکه وئيلې شي چې د نزول من السماء نه پس حضرت آدم او حوا عليهما السلام دلته ملاؤ شوي وو او دې ته مزدلفه ځکه وائي د ازدلاف معنى قرب يعنى نزديکت ده چې حاجيان صاحبان دلته په وقوف کولو او شپې تيرولو سره د الله تعالى قرب او نزديکت حاصلوي او يا په دې وجه چې هلته په رسيدلو سره حاجيان منى ته نزدې شي په خلاف د عرفات چې کله هلته وو نو د منى نه لرې وو

په دې باب کښې مصنف هغه احاديث بيان کړې دى چې په کومو کښې هغه امور مذکور دى چې کوم په مزدلفه کښې کولې شي يعنى جمع بين الصلوتين نيز د دې دواړو په يو اذان او يو اقامت سره کيدل يا د اذان او اقامت تعدد سره کيدل چې اختلافي مسئله ده مونږ سره د دې نه مخکښې ئې دوه ځله تذکره شوې ده او بيا د صبح صادق نه پس مشعرحرام ته نزدې لړ شان وقوف کول او بيا د دې نه پس د طلوع شمس نه مخکښې د هغه ځائې نه منى ته روانيدل

[۱۹۲۶] (¹) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، "أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى الْمَغْرِبَ وَالْعِشَاءَ بِالْمُزْدَلِفَةِ جَمِيعًا".

دعبدالله بن عروه رضي الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ په مزدلفه کښې دماښام او د ماسخوتن مونځ يوځائې ادا کړو.

[۱۹۲۷] (²) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ خَالِدٍ، عَنْ ابْنِ أَبِي ذِئْبٍ، عَنْ الزُّهْرِيِّ بِإِسْنَادِهِ وَمَعْنَاهُ، وَقَالَ: "بِإِقَامَةٍ إِقَامَةٍ جَمَعَ بَيْنَهُمَا"، قَالَ أَحْمَدُ: قَالَ وَكِيعٌ: "صَلَّى كُلَّ صَلَاةٍ بِإِقَامَةٍ".

زهرى په خپل سند سره پورته ذکر شوى حديث روايت کړې دې اوفرمائى په يويو اقامت سره ئې دې دواړو مونځونولره جمع اوفرمائيل، احمدفرمائيلى دى چه وکيع بيان کړې دې چه نبى عليه السلام هريومونځ لره داقامت سره ادا کړل

[۱۹۲۸] (³) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا شَبَابَةُ. ح وحَدَّثَنَا مَخْلَدُ بْنُ خَالِدٍ الْمَعْنَى، أَخْبَرَنَا عُثْمَانُ بْنُ عُمَرَ، عَنْ ابْنِ أَبِي ذِئْبٍ، عَنْ الزُّهْرِيِّ بِإِسْنَادِ ابْنِ حَنْبَلٍ، عَنْ حَمَّادٍ وَمَعْنَاهُ، قَالَ: "بِإِقَامَةٍ وَاحِدَةٍ لِكُلِّ صَلَاةٍ، وَلَمْ يُنَادِ فِي الْأُولَى وَلَمْ يُسَبِّحْ عَلَى إِثْرِ وَاحِدَةٍ مِنْهُمَا"، قَالَ مَخْلَدٌ: "لَمْ يُنَادِ فِي وَاحِدَةٍ مِنْهُمَا".

---

¹): صحيح مسلم/الحج ۴۷(۷۰۳)، سنن النسائي/ الصلاة ۱۸(۴۸۲)، ۲۰(۴۸۴، ۴۸۵)، سنن النسائي/ الصلاة ۱۸(۴۸۲)، ۲۰(۴۸۴، ۴۸۵)، المواقيت ۴۹(۶۰۷)، والأذان ۱۹(۶۵۸)، والحج ۲۰۷(۳۰۳۳)،(تحفة الأشراف: ۶۹۱۴)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الحج ۹۶(۱۶۷۴)، سنن الترمذي/الحج ۵۶(۸۸۸)، سنن ابن ماجه/المناسك ۶۰(۳۰۲۰)، موطا امام مالك/الحج ۶۵(۱۹۶)، مسند احمد(۲/ ۳، ۶۲، ۷۹، ۸۱)(صحيح)

²): صحيح البخاري/ الحج ۹۶(۱۶۷۳)، سنن النسائي/ الأذان ۲۰(۶۶۱)، الحج ۲۰۷(۳۰۳۱)،(تحفة الأشراف: ۶۹۲۳)، وقد أخرجه: مسند احمد(۲/ ۵۶، ۱۵۷)، دي/ المناسك ۵۲(۱۹۲۶)(صحيح)

³): انظر ما قبله،(تحفة الأشراف: ۶۹۲۳)(صحيح)

عثمان بن عمر دابن أبی زئب نه هغه دزهری نه یعنی د(عن احمد بن حنبل عن حماد) په سند سره ددې ما حدیث په شان روایت ذکرکړو چه دهریومونځ دپاره ئې جدا اقامت اووئیلو او په اول کښې ئې اذان اونکړواونه ئې په کښې دیونه وروستو سنت اولوستل مخلد فرمائی په دې کښې ئې دیودپاره اذان اونه کړو.

[۱۹۲۹](۱) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: "صَلَّيْتُ مَعَ ابْنِ عُمَرَ الْمَغْرِبَ ثَلَاثًا وَالْعِشَاءَ رَكْعَتَيْنِ، فَقَالَ لَهُ مَالِكُ بْنُ الْحَارِثِ: مَا هَذِهِ الصَّلَاةُ؟ قَالَ: صَلَّيْتُهُمَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي هَذَا الْمَكَانِ بِإِقَامَةٍ وَاحِدَةٍ".

دعبد الله بن مالك بن حارث نه روایت دې چه بن مادعبد الله بن عمر رضی الله عنه سره مونځ وکړو د ماښام درې اودماسخوتن دوه رکعته مالك بن حارث هغه ته و اووئیل داځنګه مونځ دې هغه اوفرمائیل مادې لره د نبی علیه السلام سره په دې ځائ کښې هم په یوتکبیر سره کړی دې.

[۱۹۳۰](۲) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سُلَيْمَانَ الْأَنْبَارِيُّ، حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ يَعْنِي ابْنَ يُوسُفَ، عَنْ شَرِيكٍ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَا: "صَلَّيْنَا مَعَ ابْنِ عُمَرَ بِالْمُزْدَلِفَةِ الْمَغْرِبَ وَالْعِشَاءَ بِإِقَامَةٍ وَاحِدَةٍ، فَذَكَرَ مَعْنَى حَدِيثِ ابْنِ كَثِيرٍ".

د سعید بن جبیر اودعبد الله بن مالك دواړو نه روایت ابی دې چه مونږ دابن عمر رضی الله عنه سره په مزدلفه کښی لا دماښام اودماسخوتن مونځونه په یوتکبیر سره و اداکړل اودمحمدبن کثیر دروایت په شان یې بیان اوکړو.

[۱۹۳۱](۳) حَدَّثَنَا ابْنُ الْعَلَاءِ، حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ، عَنْ إِسْمَاعِيلَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، قَالَ: "أَفَضْنَا مَعَ ابْنِ عُمَرَ، فَلَمَّا بَلَغْنَا جَمْعًا صَلَّى بِنَا الْمَغْرِبَ وَالْعِشَاءَ بِإِقَامَةٍ وَاحِدَةٍ ثَلَاثًا وَاثْنَتَيْنِ، فَلَمَّا انْصَرَفَ، قَالَ لَنَا ابْنُ عُمَرَ: هَكَذَا صَلَّى بِنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي هَذَا الْمَكَانِ".

سعید بن جبیر اوفرمائیل مونږ دابن عمر رضی الله عنه په معیت قال کښی واپس شو کله چه مزدلفې ته اورسیدو نوهغه مونږ ته د ماښام اودماسخوتن مونځ درې رکعته اودوه رکعته په یوتکبیر سره ادا کړل کله چه فارغ شو نوابن عمر رضی الله عنه اووئیل چه رسول الله ﷺ په دې ځائې کښې مونږ ته داسې مونځ راکړې وو.

[۱۹۳۲](۴) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ شُعْبَةَ، حَدَّثَنِي سَلَمَةُ بْنُ كُهَيْلٍ، قَالَ: "رَأَيْتُ سَعِيدَ بْنَ جُبَيْرٍ أَقَامَ بِجَمْعٍ فَصَلَّى الْمَغْرِبَ ثَلَاثًا ثُمَّ صَلَّى الْعِشَاءَ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ قَالَ: شَهِدْتُ ابْنَ عُمَرَ صَنَعَ فِي هَذَا الْمَكَانِ مِثْلَ هَذَا، وَقَالَ: شَهِدْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَنَعَ مِثْلَ هَذَا فِي هَذَا الْمَكَانِ".

سلمه بن کهیل اووئیل چه ماسعید بن جبیر په مزدلفه کښې اولیدو چه هغه اقامت اووئیلو اودماښام درې رکعته ئې اداکړل بیائې دماسخوتن دوه رکعته اوکړل بیائې اووئیل

(۱): سنن الترمذي/الحج ٥٦(٨٨٧)،(تحفة الأشراف: ٧٢٨٥)، وقد أخرجه: مسند احمد(١٨/٢، ٣٣، ٧٨، ١٥٢)(صحيح)
(۲): صحيح مسلم/الحج ٤٧(١٢٨٨)، سنن الترمذي/الحج ٥٦(٨٨٨)، سنن النسائي/الحج ٢٠٧(٣٠٣٣)،(تحفة الأشراف: ٧٠٥٢)، وقد أخرجه: مسند احمد(٢٨٠/١، ٢/٢، ٣، ٣٣، ٥٩، ٦٢، ٧٩، ٨١)(صحيح)
(۳): انظر حديث رقم(١٩٣٠)،(تحفة الأشراف: ٧٠٥٢)(صحيح)
(۴): انظر حديث رقم(١٩٣٠)،(تحفة الأشراف: ٧٠٥٢)(صحيح)

چه زه دابن عمر سره حاضرشوې وم هغه په دې ځائې کښې داسې کړې وو اوهغه بیان کړل چه زه د رسول الله ﷺ سره وم او رسول الله ﷺ په دې ځائې کښې داسې کړې وو.

[١٩٣٣](١) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا أَبُو الْأَحْوَصِ، حَدَّثَنَا أَشْعَثُ بْنُ سُلَيْمٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: "أَقْبَلْتُ مَعَ ابْنِ عُمَرَ مِنْ عَرَفَاتٍ إِلَى الْمُزْدَلِفَةِ فَلَمْ يَكُنْ يَفْتُرُ مِنَ التَّكْبِيرِ وَالتَّهْلِيلِ حَتَّى أَتَيْنَا الْمُزْدَلِفَةَ، فَأَذَّنَ وَأَقَامَ، أَوْ أَمَرَ إِنْسَانًا فَأَذَّنَ وَأَقَامَ، فَصَلَّى بِنَا الْمَغْرِبَ ثَلَاثَ رَكَعَاتٍ، ثُمَّ الْتَفَتَ إِلَيْنَا، فَقَالَ: الصَّلَاةُ، فَصَلَّى بِنَا الْعِشَاءَ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ دَعَا بِعَشَائِهِ، قَالَ: وَأَخْبَرَنِي عِلَاجُ بْنُ عَمْرٍو بِمِثْلِ حَدِيثِ أَبِي، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: فَقِيلَ لِابْنِ عُمَرَ فِي ذَلِكَ. فَقَالَ: صَلَّيْتُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَكَذَا".

اشعث بن سلیم دخپل پلار نه روایت کوی چه زه دابن عمر سره دعرفات نه مزدلفې ته لاړم هغه په دې دوران کښې تکبیر اوتهلیل نه دې پریخودلې تردې پورې چه مونږ مزدلفې ته اورسیدو بیائې اذان او اقامت وکړل یائې چاته حکم اوکړو چه اذان او اقامت اوکړئ بیائې مونږ ته د ماښام درې رکعته راکړل بیا مونږ ته متوجه شو اووئې فرمائیل مونږ بیائې مونږ ته د ماسخوتن مونځ راکړو بیائې دشپې خوراک طلب کړو وائې چه زما پلار دابن عمر ﷺ نه روایت کړې دې دابن عمرنه ددې په باره کښې تپوس اوکړې شو نو هغه اووئیل ماد رسول الله ﷺ سره هم داسې مونځ کړې وو.

[١٩٣٤](٢) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، أَنَّ عَبْدَ الْوَاحِدِ بْنَ زِيَادٍ، وَأَبَا عَوَانَةَ، وَأَبَا مُعَاوِيَةَ حَدَّثُوهُمْ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ عُمَارَةَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ يَزِيدَ، عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: "مَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى صَلَاةً إِلَّا لِوَقْتِهَا، إِلَّا بِجَمْعٍ فَإِنَّهُ جَمَعَ بَيْنَ الْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ بِجَمْعٍ وَصَلَّى صَلَاةَ الصُّبْحِ مِنَ الْغَدِ قَبْلَ وَقْتِهَا".

دعبدالله بن مسعود ﷺ نه روایت دې چه ما رسول الله ﷺ لره هیڅ کله نه دی لیدلې چه هغه کوم مونځ بې وخته کړې وی هغه به همیشه په وخت باندې مونځ کولو مګرپه مزدلفه کښې هغه دماښام اودماسخوتن مونځونه یوځائې اداکړل او د راتلونکې صبامونځ ئې دخپل وخت نه مخکښې اداکړو.

[١٩٣٥](٣) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ آدَمَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَيَّاشٍ، عَنْ زَيْدِ بْنِ عَلِيٍّ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي رَافِعٍ، عَنْ عَلِيٍّ، قَالَ: "فَلَمَّا أَصْبَحَ، يَعْنِي النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَوَقَفَ عَلَى قُزَحَ، فَقَالَ: هَذَا قُزَحُ وَهُوَ الْمَوْقِفُ وَجَمْعٌ كُلُّهَا مَوْقِفٌ، وَنَحَرْتُ هَا هُنَا وَمِنًى كُلُّهَا مَنْحَرٌ، فَانْحَرُوا فِي رِحَالِكُمْ".

دعلی ﷺ نه روایت دې چه کله نبی کریم ﷺ صبا کړو او په جبل قزح باندې ئې وقوف اوکړو نووئې فرمائیل داقزح دې اودوقوف ځائې دې اومزدلفه ټول دوقوف ځائې دې ماپه دې ځائې کښې قربانی کړې ده اومنی ټول قربان ګاه ده لهذا په خپل خپل پړاو باندې قربانی اوکړئ.

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٧٠٩١)(صحيح)

(٢): صحيح البخاري/الحج ٩٩(١٦٨٢)، صحيح مسلم/الحج ٤٨(١٢٨٩)، سنن النسائي/المواقيت ٤٩(٦٠٦)، والحج ٢٠٧(٣٠٣٠)، ٢١٠(٣٠٤١)، (تحفة الأشراف: ٩٣٨٤)، وقد أخرجه: مسند احمد(٣٨٤/١، ٤٢٦، ٤٣٤)(صحيح)

(٣): سنن الترمذي/الحج ٥٤(٨٨٥)، سنن ابن ماجه/المناسك ٥٥(٣٠١٠)، (تحفة الأشراف: ١٠٢٢٩)(حسن صحيح)

قوله: هذا قزح وهو الموقف...الخ: قزح وئیلې شی مشعر حرام ته چې په مزدلفه کښې یو غر دې کوم ځائې چې نبی ﷺ وقوف کړې وو د ارشاد عالی مطلب دا دې چې خاص په هغه ځائې کښې چه ما وقوف کړې دې هر سړی ته هلته وقوف کول ضروری نهٔ دی بلکه پوره مزدلفه محل د وقوف دې چې کوم ځائې کښې ستاسو خوښه شی نو کوئ دغه شان په منی کښې کوم ځائې چې ما قربانی اوکړه نو دا ضروری نهٔ ده چې ټول خلق دغه خاص ځائې کښې قربانی اوکړی د صحابه کرام شوق او ذوق چونکه دا وو چې کوم کار نبی ﷺ کوم ځائې کښې او څنګه کړې دې نو چې مونږ ئې هم هغه شان په هغه ځائې کښې اوکړو او ښکاره خبره ده چې په دې صورت کښې ټولو ته پریشانی پیښیده په سختئ او تنګئ کښې به مبتلا کیدل په دې وجه د صحابه کرامو رضی الله عنهم د آسانئ دپاره نبی ﷺ دا تعلیم اوفرمائیلو

[١٩٣٦]([1]) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ غِيَاثٍ، عَنْ جَعْفَرِ بْنِ مُحَمَّدٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَابِرٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "وَقَفْتُ هَا هُنَا بِعَرَفَةَ وَعَرَفَةُ كُلُّهَا مَوْقِفٌ، وَوَقَفْتُ هَا هُنَا بِجَمْعٍ وَجَمْعٌ كُلُّهَا مَوْقِفٌ، وَنَحَرْتُ هَا هُنَا وَمِنًى كُلُّهَا مَنْحَرٌ، فَانْحَرُوا فِي رِحَالِكُمْ".

دجابر رضی الله عنه نه روایت دې چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل ما په عرفات کښې په دې ځائې باندې وقوف کړې دې اوعرفات ټول په ټوله ځائې دوقوف دې ما په مزدلفه کښې په دې ځائې باندې وقوف کړې دې او مزدلفه ټول په ټوله ځای د وقوف دې اوما په دې ځائې باندې قربانی کړې ده اومنی ټوله په ټوله قربان ګاه ده پس تاسو په خپل خپل پړاو باندې قربانی اوکړئ

[١٩٣٧]([2]) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ، عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ، عَنْ عَطَاءٍ، قَالَ: حَدَّثَنِي جَابِرُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "كُلُّ عَرَفَةَ مَوْقِفٌ وَكُلُّ مِنًى مَنْحَرٌ وَكُلُّ الْمُزْدَلِفَةِ مَوْقِفٌ وَكُلُّ فِجَاجِ مَكَّةَ طَرِيقٌ وَمَنْحَرٌ".

د جابر بن عبد الله رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل عرفات ټول مقام وقوف دې اومنی ټوله قربان ګاه ده او مزدلفه ټوله دوقوف ځائې دې اودمکې ټولې لارې (دلته کښې دراتلو) لارې هم دی او قربان ګاه هم

[١٩٣٨]([3]) حَدَّثَنَا ابْنُ كَثِيرٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مَيْمُونٍ، قَالَ: قَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ: كَانَ أَهْلُ الْجَاهِلِيَّةِ لَا يُفِيضُونَ حَتَّى يَرَوُا الشَّمْسَ عَلَى ثَبِيرٍ، فَخَالَفَهُمُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَدَفَعَ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ".

دعمربن خطاب رضی الله عنه نه روایت دې چه اهل جاهلیت به ترهغه وخته پورې نه روانیدل ترڅو چه به هغه په کوهی ثبیر باندې نمرلره اونه لیدلو لهذا نبی نه ددوی مخالفت اوکړو اودنمر

---

[1]): صحيح مسلم/ الحج ١٩(١٢١٨)، سنن النسائي/ الحج ٥١(٢٧٤١)،(تحفة الأشراف: ٢٥٩٦)، وقد أخرجه: سنن الدارمي /المناسك ٥٠(١٩٢١)(صحيح)

[2]): سنن ابن ماجه/ المناسك ٧٣(٣٠٤٨)،(تحفة الأشراف: ٢٣٩٧)، وقد أخرجه: مسند احمد(٣٢٦٧٣)(حسن صحيح)

[3]): صحيح البخاري/الحج ١٠٠(١٦٨٤)، ومناقب الأنصار ٢٦(٣٨٣٨)، سنن الترمذي/الحج ٦٠(٨٩٦)، سنن النسائي/الحج ٢١٣(٣٠٥٠)، سنن ابن ماجه/المناسك ٦١(٣٠٢٢)،(تحفة الأشراف: ١٠٦١٦)، وقد أخرجه: مسند احمد(١٤/١، ٢٩، ٣٩، ٤٢، ٥٠، ٥٢)، سنن الدارمي /المناسك ٥٥(١٩٣٢)(صحيح)

دراختونه وړاندې ددې ځائې نه روان شول.

قوله: قال قال عمر بن الخطاب رضى الله عنه كان اهل الجاهلية...الخ: د دې حديث مضمون او حواله مونږ سره د حجة الوداع والا په حديث كښې تيره شوې ده

د حضرت عمر رضي الله عنه دا اثر د صحيح مسلم نه سوا په ټولو صحاح سته كښې شته او په ابن ماجه كښې صرف د يو لفظ اضافه ده اشرق ثبير كيما نغير،، ثبير مزدلفه كښې يو غر دې د مكې مكرمې په غرونو كښې د ټولو نه لوې هم دا دې دا منصرف دې ليكن دلته په دې باندې تنوين نشته ځكه چې دا منادى مفرد معرفه ده په اصل كښې يا ثبير دې اشرق په معنى د ادخل فى وقت الشروق سره دې يعنى پكار ده چې په تا باندې جلدئ سره د نمر رڼړا پريوځى دې دپاره چې بيا مونږ د دې ځائې نه تيزئ سره روان شو او بعضو د كيماتغير مطلب دا ليكلې دې چې مونږ تيزئ او جلدئ سره د قربانئ په غوښه باندې لوټ مار اوكړو

بَابُ التَّعْجِيلِ مِنْ جَمْعٍ

بابـ د مزدلفه نه منى ته د زر واپس كيدلو بيان

ليلة المزدلفه(د يوم النحر شپه چې په دې كښې حاجى په مزدلفه كښې وى) دلته دوه څيزونه دى(۱) مبيتِ مزدلفه يعنى دا شپه په مزدلفه كښې تيرول(۲) وقوف مزدلفه يعنى د شپې تيرولو نه پس د صبح صادق په وخت كښې دلته لږ وخت دپاره وقوف كول د دې دواړو په حكم كښې اختلاف دې

په مبيت مزدلفه او وقوف مزدلفه كښې د ائمه كرامو اختلاف

د جمهورو په نزد خو په دې كښې اولنې واجب دې[1] او دويم يعنى وقوف سنت دې او د حنفيه په نزد د دې برعكس دې يعنى وقوف واجب دې او مبيت سنت دې او د ابن حزم په نزد وقوف مزدلفه ركن دې د دې په فوت كيدلو سره حج فوت كيږى بيا د جمهورو په نزد په دې كښې اختلاف دې چې د مبيت څومره مقدار واجب دې د امام شافعى و احمد په نزد الى مابعد نصف الليل وهذا لمن ادركه قبل النصف والا فالحضور ساعةً فى النصف الاخير كافٍ، (جزء الحج) او دامام مالک صاحب په نزد مقدار يسير بقدر حط الرحال(چې په څومره وخت كښې انسان د خپلې سورلئ نه خپل سامان كوزولې شى)

[۱۹۳۹](۲) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، أَخْبَرَنِي عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي يَزِيدَ، أَنَّهُ سَمِعَ ابْنَ عَبَّاسٍ، يَقُولُ: "أَنَا مِمَّنْ قَدَّمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْلَةَ الْمُزْدَلِفَةِ فِي ضَعَفَةِ أَهْلِهِ".

دابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دې چه زه درسول الله ﷺ انا په اهل كښې په هغه ضعيف افرادو كښې شاملوم كومولره چه نبى عليه السلام دمزدلفې په شپه باندې مخكښې دوخت نه روان كړې وو.

---

[1] اوبعضې مالكيه لكه ابن الماجشون او ابن العربى دهغوى په نزد په مزدلفه كښې شپه تيرول فرض دى.

[2]: صحيح البخاري/الحج ۹۸(۱۶۷۸)، وجزاء الصيد ۲۵(۱۸۵٦)، صحيح مسلم/الحج ۴۹(۱۲۹۳)، سنن النسائي/الحج ۲۰۸(۳۰۳۲)،(تحفة الأشراف: ۵۸٦۴)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الحج ۵۸(۲۹۲، ۸۹۳)، سنن ابن ماجه/المناسك ٦۲(۳۰۲۵)، مسند احمد(۱/۲۲۱، ۲۲۲، ۲۴۵، ۲۷۲، ۳۳۴، ۳۴٦)(صحيح)

[١٩٤٠]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، قَالَ: حَدَّثَنِي سَلَمَةُ بْنُ كُهَيْلٍ، عَنِ الْحَسَنِ الْعُرَنِيِّ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "قَدَّمَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْلَةَ الْمُزْدَلِفَةِ أُغَيْلِمَةَ بَنِي عَبْدِ الْمُطَّلِبِ عَلَى حُمُرَاتٍ فَجَعَلَ يَلْطَخُ أَفْخَاذَنَا، وَيَقُولُ: أُبَيْنِيَّ لَا تَرْمُوا الْجَمْرَةَ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ". قَالَ أَبُو دَاوُد: اللَّطْخُ: الضَّرْبُ اللَّيِّنُ.

د ابن عباس رضی الله عنهما نه روايت دي چه رسول الله ﷺ د مزدلفې په شپه مونږ دبنی عبد المطلب وړو هلكانو - لره په خرو باندې سواره كړو اومخكښې ئې اوليږلو په دې موقع باندې هغه مونږ لره په ورون باندې په مزه كښې مزه وهلو اوفرمائيل ئې بچو دنمر دراختونه مخكښې جمرې لره په ګيټو باندې مه اولئ. ابوداود فرمائی داللطح معنی ده په نرم اندازه كښې وهل.

تشريح: قوله: عن ابن عباس قال...الخ: ([2])ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی مونږ يعنی د بنو عبد المطلب هلكانو لره د مزدلفه په شپه نبی كريم ﷺ د مزدلفه نه منی ته مخكښې روان كړې وو په دې باندې د ټولو اتفاق دې چې په ماشومانو او ښځو باندې هلته شپه تيرول واجب نۀ دی هغوی هم په شپه كښې د مزدلفه نه منی ته راتلې شی على حمرات فجعل يلطح افخاذنا نبی علیه السلام مونږ په خرو باندې كينولو او د روانولو په وخت كښې به نبی علیه السلام زمونږ پنډو باندې لاس راښكلو ويقول أبينى([3])لا ترموا الجمرة حتى تطلع الشمس د روانولو په وخت كښې نبی علیه السلام مونږ ته هدايت كولو زما بچوا چې منی ته اورسئ نو د طلع شمس نه مخكښې رمی جمره مۀ كوئ په اوله ورځ يعنی په يوم النحر كښې صرف جمرة العقبه وی چې هغې ته جمرة الكبرى هم وئيلې شی او بيا د دې نه پس ايام تشريق كښې(د يوولسمې نه دیارلسمې پورې) د جمرات ثلثه رمی كيږی

د رمی يوم النحر او رمی ايام التشريق وخت او د امامانو اختلاف

بيا ځان پوهول پكار دی چې د يوم النحر د رمی وخت جدا دې او د ايام تشريق د رمی وخت جدا دې رمی يوم النحر د امام شافعی واحمد رحمهما الله په نزد د نصف ليل نه پس كيدې شی يعنی په ليلة المزدلفه كښې او د حنفيه او مالكيه په نزد د شپې تيريدلو نه پس د سحر د راختلو نه پس د دې وخت شروع كيږی د دې نه مخكښې جائز نۀ دی د ابراهيم نخغی او سفيان ثوری په نزد د طلوع شمس نه پس د دې وخت شروع كيږی او په دې باندې د ټولو اتفاق دې چې غوره د طلوع شمس نه پس ده ځكه چه نبی علیه السلام هم داسې كړې وو

او د ايام تشريق د رمی وخت بالاتفاق د زوال شمس نه پس وی البته يوم النفر الثانی يعنی ١٣ ذی الحجه باندې اول خو په منی كښې پاتې كيدل د چا په نزد هم ضروری نۀ دی ليكن كۀ يو كس حصار شی نو بيا د جمهورو(الائمة الثلثه والصاحبان) په نزد د دې ورځې رمی هم د

[1]): سنن النسائي/الحج ٢٢٢(٣٠٦٦)، سنن ابن ماجه/المناسك ٦٢(٣٠٢٥)،(تحفة الأشراف: ٥٣٩٦)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الحج ٥٨(٨٩٣)، مسند احمد(١/٢٣٤، ٣١١، ٣٤٣)(صحيح)

[2]) اغيلمة : تصغير دې د غلمة، او غلمة جمع ده د غلام.

[3]) ددې لفظ په تحقيق كښې اختلاف دې (١) بتشديد الياء: دا تصغير دې د ابناء جمع د ابن،(٢) د ابن تصغير ابين دې چه ددې جمع ابيين دې بيا ددې اضافت شوې دې ياء د متكلم ته، نون دجمع ساقط شو ابينى شو.

زوال نه پس کولې شي د دې نه مخکښې نۀ لیکن صرف د امام ابوحنیفه په نزد د دې ورځ رمی د زوال نه مخکښې کولې شي جائز ده لیکن د کراهت سره

[١٩٤١]() حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ بْنُ عُقْبَةَ، حَدَّثَنَا حَمْزَةُ الزَّيَّاتُ، عَنْ حَبِيبِ بْنِ أَبِي ثَابِتٍ، عَنْ عَطَاءٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُقَدِّمُ ضُعَفَاءَ أَهْلِهِ بِغَلَسٍ وَيَأْمُرُهُمْ يَعْنِي لَا يَرْمُونَ الْجَمْرَةَ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ".

د ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دې چه نبی علیه السلام به دخپل اهل ضعیف افرادو لره په تیاره کښې وړاندې و لیږلو اوهغه ته به ئې حکم کولو چه دنمر دراختونه مخکښې جمرې لره په ګیټو باندې نه اولې.

[١٩٤٢]() حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي فُدَيْكٍ، عَنِ الضَّحَّاكِ يَعْنِي ابْنَ عُثْمَانَ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّهَا قَالَتْ: "أَرْسَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِأُمِّ سَلَمَةَ لَيْلَةَ النَّحْرِ فَرَمَتِ الْجَمْرَةَ قَبْلَ الْفَجْرِ ثُمَّ مَضَتْ فَأَفَاضَتْ وَكَانَ ذَلِكَ الْيَوْمُ الْيَوْمَ الَّذِي يَكُونُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَعْنِي عِنْدَهَا".

د عائشې رضی الله عنها نه روایت دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ام سلمه رضی الله عنها لره دنحر والا په شپه دسحر نه مخکښې اولیږله پس هغې دصبانه مخکښې جمرې لره په ګیټو باندې : اویشتله بیاهغه لاړله اوطواف افاضه ئې اوکړو د او دا دهغې د نمبر ورځ وه چه نبی علیه السلام دهغې سره وو.

تشریح: قوله: ارسل النبی صلی الله علیه وسلم بام سلمة لیلة النحر فرمت الجمرة..الخ:

نبی علیه السلام حضرت ام سلمه رضی الله عنها په شپه کښې د مزدلفه نه منی ته لیږلې وه نو هغوی چې منی ته راغلل نو د سحر نه مخکښې ئې رمی اوکړه دا حدیث د امام شافعي و احمد موافق او مؤید دې په مذکوره پورته مسئله کښې

د حنفیه له طرفه د حدیث توجیه

د حنفیه و مالکیه په نزد د دې توجیه دا کولې شي چې د قبل الفجر نه مراد قبل صلوة الفجر دې قبل طلوع الفجر نۀ دې یا دې داسې اوونیلې شي چې دا د هغوی خپل فعل دې د نبی علیه السلام د اجازت نه بغیر لکه پورته هم اوس تیر شوې دی چې نبی علیه السلام هغې هلکانو ته دا فرمائیلې وو ابینی لا ترموالجمرة حتی تطلع الشمس چه کوم هلکان ئې وړاندې لیږلې وو په جزء حجة الوداع کښې دی چې دا حدیث صرف په سنن ابوداؤد کښې دې ابوداؤد په دې سره متفرد دې ابن قیم دې لره وهم او منکر ګرځولې دې دغه شان امام طحاوی او بیهقی هم د دې حدیث نه انکار کړې دې والله تعالی اعلم فافاضت او طواف افاضه ئې اوکړو

قوله: وکان ذلک الیوم الذی یکون رسول الله صلی الله علیه وسلم تعنی عندها، دې سره راوی اشاره کوی د تعجیل علت طرفته چې دوی لره مخکښې لیږلو کښې دا مصلحت وو چې دا ورځ د هغوی د نمبر وه دې دپاره چې هغوی زر د رمی وغیره نه فارغ شي نو هغوی د طلوع شمس نه وړاندې منی ته لاړل اورمی ئې اوکړه او بیا ئې هم په ورځ کښې طواف افاضه اوکړو په خلاف

[1]: سنن النسائي/الحج ٢٢٢(٣٠٦٧)،(تحفة الأشراف: ٥٨٨٨)(صحيح)
[2]: تفرد به أبو داود،(تحفة الأشراف:١٦٩٦١)(ضعيف)

دباقي ازواج مطهرات چې هغوی طواف افاضه په راتلونکې شپه کښې اوکړو (بذل)

يو اشكال او د هغې جواب

دلته يو سوال دې هغه دا چې دې حديث نه خو دا استفاده کيږي چې يوم النحر د ام سلمه ﷺ د نمبر ورځ وه او په باب الافاضة فى الحج کښې يو حديث راروان دې چې په هغې کښې ام سلمه ﷺ په خپله دا فرمائي كانت ليلتى التى يصير الى فيها رسول الله صلى الله عليه وسلم مساء يوم النحر چې د يوم النحر په ماښام باندې يعنې د دې نه پس راتلونکې شپه کښې زما د نمبر شپه وه نو چې هرکله د يوم النحر نه پس راتلونکې شپه کښې د هغوی باري وه نو د دې تقاضه خو دا ده چې د يوم النحر نه پس والا ورځ يعنې يوولسمه د هغوی د باريْ ورځ وی، اشكال ظاهر دې د دې جواب حضرت شيخ صاحب په لامع او جزء حجة الوداع کښې دا ورکړې دې او په درس بخاری کښې ئې دا هم فرمائيلې وو چې فقهاؤ تصريح کړې ده د دې خبرې چې اګرچه شپې د راتلونکې ورځو تابع وی ليکن د حج په زمانه کښې د دې برعكس وی يعنې شپې د ايام ماضيه تابع وی لهذا د يوم النحر نه پس چې کومه شپه راځي هغه به د يوم النحر شپه شمار وی نۀ چې د راتلونکې ورځې والله تعالى اعلم

[١٩٤٣](١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ خَلَّادٍ الْبَاهِلِيُّ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، أَخْبَرَنِي عَطَاءٌ، أَخْبَرَنِي مُخْبِرٌ، عَنْ أَسْمَاءَ، "أَنَّهَا رَمَتِ الْجَمْرَةَ، قُلْتُ: إِنَّا رَمَيْنَا الْجَمْرَةَ بِلَيْلٍ، قَالَتْ: إِنَّا كُنَّا نَصْنَعُ هَذَا عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ".

يوخبرورکونکی بيان کړې دې چه اسماء ﷺ دجمرې رى اوکړه نوماواوئيل مونږ خوپه شپه کښې ئې رمى کړې ده هغې جواب راکړو چه درسول اللهﷺ په زمانه کښې به مونږ داسې کول.

د حديث شرح

قوله: اخبرنى مخبر عن اسماء انها رمت الجمرة قلت..الخ:

په اولنی حديث کښې چې کومه قصه ذکر وه هغه د ام المؤمنين حضرت ام سلمه ﷺ متعلق وه دا دويمه قصه د حضرت اسماء بنت ابى بكر ﷺ متعلق ده چې په صحيحينو کښې ډيره په تفصيل سره ده هغه دا چې عبدالله چې د اسماء مولى دې هغه وائي چې کله حضرت اسماء په مزدلفه کښې وه نو د شپې څۀ وخت پورې ئې نفلونه کول بيا ئې تپوس اوکړو چې هل غاب القمر (سپوږمۍ په نظر راځي يا نه) ما اووې اوسه پورې نۀ ده غائبه شوې، په نظر راځي هغوی بيا د نفلو نيت اوتړۀ د سلام نه پس ئې تپوس اوکړو هل غاب القمر ما اووې چې اوسه پورې نۀ، نو هغوی بيا د نفلو نيت اوتړۀ

د سلام اړولو نه پس ئې بيا تپوس اوکړو هل غاب القمر نو ما ورته اووې چې غائبه شوه وې فرمائيل چې بس ځۀ دۀ ددې مقام نه لاړشئ نو د هغه ځائې نه منى ته راغله هلته د رمى جمره نه

(١): سنن النسائي /الحج ٢١٤(٣٠٥٣)،(تحفة الأشراف: ١٥٧٣٧)، وقد أخرجه: صحيح البخاري /الحج ٩٨(١٦٧٩)، صحيح مسلم /الحج ٤٩(١٢٩١)، موطا امام مالك /الحج ٥٦(١٧٢)، مسند احمد(٦/٣٤٧، ٣٥١)(صحيح)

چې فارغه شوه نو خپلې خيمې ته راغله او د سحر مونځ ئې ادا کړو.

فقلت لها يا هنتاه ما ارانا الا قد غلسنا ما ورته اووې داسې معلوميږي چې مونږ په رمی کښې جلدي اوکړه(په غلس کښې مو اوکړه) په دې باندې هغې اوفرمائيل چې هيڅ خبره نۀ ده حضور عليه‌السلام ښځو او ماشومانو ته د دې اجازت ورکړې دې(بخاری)

د شافعيه د استدلال جواب

د دې حديث نه شافعيه وحنابله(فی رواية) په دې باندې استدلال اوکړو چې د يوم النحر رمی د نصف ليل نه پس کولې شی د حنفيه مالکيه او احمد فی رواية په نزد داسې جائز نۀ دی د دې جواب دا دې د دې د مياشتې لسم تاريخ باندې سپوږمۍ سحر راختلو ته نزدې غائبيږی شی نو چې هرکله د سحر د راختلو نه مخکښې مزدلفې ته روان شو نو ښکاره خبره ده چې د سحر د راختلو نه پس به منی ته رسيدلې وی هغه وخت چې منی ته اورسيدل نو رمی ئې اوکړه نو دا رمی د سحر د راختلو نه پس شوه نۀ چې مخکښې د سحر د راختلو نه.او د دې تائيد د لفظ غلسنا نه هم کيږی چې د ليل نه مراد(چې د ابوداؤد په روايت کښې دی) غلس دی نۀ چې حقيقةً شپه(افاده ابن القيم رحمه الله تعالی فی تهذيب السنن)

[١٩٤٤](1) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، حَدَّثَنِي أَبُو الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: "أَفَاضَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَلَيْهِ السَّكِينَةُ، وَأَمَرَهُمْ أَنْ يَرْمُوا بِمِثْلِ حَصَى الْخَذْفِ وَأَوْضَعَ فِي وَادِي مُحَسِّرٍ".

دجابر رضی الله عنه نه روايت دې چه رسول الله صلی الله عليه وسلم د مزدلفې نه روان شو اوډير په سکون او ارام سره تلو اوخلقوته ئې حکم اوکړو چه وړې وړې ګيټۍ اولئ اودوادئ محسنه په تيزۍ سره وتلې وو.

بَاب يَوْمِ الْحَجِّ الْأَكْبَرِ

باب د حج اکبر ورځ کومه ده؟

[١٩٤٥](2) حَدَّثَنَا مُؤَمَّلُ بْنُ الْفَضْلِ، حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ، حَدَّثَنَا هِشَامٌ يَعْنِي ابْنَ الْغَازِ، حَدَّثَنَا نَافِعٌ، عَنْ ابْنِ عُمَرَ، أَنّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَفَ يَوْمَ النَّحْرِ بَيْنَ الْجَمَرَاتِ فِي الْحَجَّةِ الَّتِي حَجَّ، فَقَالَ: "أَيُّ يَوْمٍ هَذَا؟"، قَالُوا: يَوْمُ النَّحْرِ، قَالَ: "هَذَا يَوْمُ الْحَجِّ الْأَكْبَرِ".

دعبدالله بن عمرو رضی الله عنه نه روايت دې چه رسول الله صلی الله عليه وسلم په خپل حج کښې دقربانۍ په ورځ باندې د جمراتو په - ورځ اودريدو اوتپوس ئې اوکړو داکومه ورځ ده و خلقو اووئيل دادقربانۍ ورځ ده نبی عليه‌السلام ته اوفرمائيل داد حج اکبر ورځ ده

قوله: فقال ای يوم هذا قالوا يوم النحر قال هذا يوم الحج الاكبر ..الخ: د بنده په خيال کښې دلته دوه څيزونه جدا جدا دی الحج الاکبر دويم يوم الحج الاکبر(3) اګرچه شارحينو ددې تصريح او وضاحت نۀ دې کړې بلکه دواړه ئې ګډوډ کړې دی په يوم الحج الاکبر کښې درې اقوال

---

1): سنن النسائي/ الحج ٢٠٤(٣٠٢٤)، سنن ابن ماجه/ المناسك ٦١(٣٠٢٣)،(تحفة الأشراف: ٢٧٤٧)، وقد أخرجه: مسند احمد(٣٠١/٣، ٣٣٢، ٣٦٧، ٣٩١)، سنن الدارمي/المناسك ٥٩(١٩٤٠)(صحيح)

2): صحيح البخاري/ الحج ١٣٢(١٧٤٢ تعليقًا)، سنن ابن ماجه/المناسك ٧٦(٣٠٥٨)،(تحفة الأشراف: ٨٥١٤)(صحيح)

3) ددې تائيد دباب دويم حديث نه کيږی په هغې کښې دادی: يوم الحج الاكبر يوم النحر والحج الاكبر الحج.

دی یوم النحر،یوم عرفه او یوم حج ابی بکر یعنی ابوبکر صدیق رضی الله عنه چې په کومه ورځ باندې حج اوکړو په نهمه(٩) هـ کښې ځکه چې په دې ورځ مسلمانانو،مشرکانو او اهل کتاب یهودیانو او نصاری ټولو حج کړې وو د دې نه پس بیا چرته ټول طوائف او اهل ملل یعنی د ټولو ملتونو والا نۀ دی جمع شوې بلکه د مشرکینو د حج د بندش اعلان کړې شوې وو الا لا یحجن بعدالعام مشرک.

او په الحج الاکبر کښې هم درې اقوال دی قیل هو القران والحج الاصغر الافراد وقیل الحج الاکبر هو الحج والحج الاصغر هو العمرة وقیل الحج الاکبر هو وقفة الجمعه یعنی چې په کوم حج کښې وقوف عرفه د جمعة المبارک ورځ وی چې د دې فضیلت زیات دې په دې وجه ملاعلی قاری رحمه الله په دې باندې مستقل یو تصنیف کړې دې الحظ الاوفر فی الحج الاکبر[1] چې د هغې ذکر هغوی په شرح لُباب کښې کړې دې

[١٩٤٦](٢) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ فَارِسٍ، أَنَّ الْحَكَمَ بْنَ نَافِعٍ حَدَّثَهُمْ، حَدَّثَنَا شُعَيْبٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، حَدَّثَنِي حُمَيْدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ، قَالَ: "بَعَثَنِي أَبُو بَكْرٍ فِيمَنْ يُؤَذِّنُ يَوْمَ النَّحْرِ بِمِنًى أَنْ لَا يَحُجَّ بَعْدَ الْعَامِ مُشْرِكٌ، وَلَا يَطُوفَ بِالْبَيْتِ عُرْيَانٌ، وَيَوْمُ الْحَجِّ الْأَكْبَرِ يَوْمُ النَّحْرِ وَالْحَجُّ الْأَكْبَرُ الْحَجُّ".

دابوهریره نه روایت دې چه ابوبکرصدیق زه تې د هغه خلګوسره اولیږلم کوموچه دقربانۍ په ورځ باندې په منی کښې دا اعلان کړې وو چه ددې کال نه پس دې هیڅ مشرک دحج دپاره نه راځی اوهیڅ یوکس دې په بربنډه د بیت الله طواف نه کوی اودقربانۍ ورځ دحج اکبر ورځ ده اودحج اکبرنه مراد حج دې.

بَابُ الْأَشْهُرِ الْحُرُمِ

د حرمت والا د میاشتو بیان

[١٩٤٧](٣) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ، حَدَّثَنَا أَيُّوبُ، عَنْ مُحَمَّدٍ، عَنْ أَبِي بَكْرَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَطَبَ فِي حَجَّتِهِ، فَقَالَ: "إِنَّ الزَّمَانَ قَدِ اسْتَدَارَ كَهَيْئَتِهِ يَوْمَ خَلَقَ اللَّهُ السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضَ، السَّنَةُ اثْنَا عَشَرَ شَهْرًا، مِنْهَا أَرْبَعَةٌ حُرُمٌ: ثَلَاثٌ مُتَوَالِيَاتٌ: ذُو الْقَعْدَةِ وَذُو الْحِجَّةِ وَالْمُحَرَّمُ وَرَجَبُ مُضَرَ الَّذِي بَيْنَ جُمَادَى وَشَعْبَانَ".

دابوبکر رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپل حج کښې خطبه فرمائیله نوارشاد ئې اوفرمائیلو ئې شکه زمانه په خپل دې کیفیت باندې راګرځیدلی ده(په کوم کیفیت باندې چه په اوله ورځ کښې وه) اوالله تعالی اسمانونه او زمکې لره پیداکړی وو په کال کښې

---

[1] اود شرح الباب په حاشیه ،ارشاد الساری الی مناسک ملا علی قاری،، کښې او پوره رساله ئې نقل کړې ده. بیا حضرت شیخ نورالله مرقده په خپل اخری ژوند کښې دا مستقل جدا چاپ کړې وه.

[2]): صحيح البخاري/الصلاة ١٠(٣٦٩)، والحج ٦٧(١٦٢٢)، صحيح البخاري/الجزية ١٦(٣١٧٧)، والمغازي ٦٦(٤٣٦٣)، وتفسير البراءة ٢(٤٦٥٦)، ٣(٤٦٥٥)، وتفسير البراءة ٤(٤٦٥٧)، صحيح مسلم/الحج ٧٨(١٣٤٧)، سنن النسائي/الحج ١٦١(٢٩٦٠)، مسند احمد(٢/٢٩٩)،(تحفة الأشراف: ٦٦٢٤)(صحيح)

[3]): تفرد به أبو داود،(تحفة الأشراف: ١١٧٠٠)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الحج ١٣٢(١٧٤٢)، وبدء الخلق ٢(٣١٩٧)، والمغازي ٧٧(٤٤٠٣)، وتفسير سورة التوبة ٨(٤٦٦٢)، والأضاحي ٥(٥٥٥٠)، والتوحيد ٢٤(٧٤٤٧)، صحيح مسلم/القسامة ١٠(١٦٧٩)، سنن النسائي/الكبري/المحاربه/(٣٥٩٥)، مسند احمد(٥/٣٧)، سنن الدارمي/المناسك ٧٢(١٩٥٧)(صحيح)

دولس میاشتی دی او په دې کښې څلور میاشتې دحرمت والادی درې میاشتې متواتر دی، یعنې ذوالقعده ذوالحجه او محرم او(څلورمه میاشت) مضر رجب دې کومه چه دجمادینو او د شعبان په مینځ کښې وي.

اشهر حرم څلور میاشتې دی رجب،ذی قعده،ذی الحجه او محرم اهل جاهلیت به د دې میاشتو تعظیم کوو په دې کښې به ئې قتل و قتال ناجائز او حرام ګڼړلو د اسلام په ابتداء کښې هم د دې رعایت کولې شو پس په دې وجه د جهاد د مشروعیت په ابتدا کښې په دې میاشتو کښې جهاد او قتال ممنوع وو

لیکن مشرکینو به په دې کښې ګړ بړ کوو چې ورته نسئ وئیلې شي یعنی تقدیم و تاخیر قال الله تعالی انما النسئ زیادة فی الکفر وفی الحدیث یجعلون المحرم صفراً چې کله به ئې په محرم کښې د قتال اراده کوله نو دې دپاره به ئې دا حیله کوله داسې به ئې وئیل چې دې کال کښې د صفر میاشت د محرم نه وړاندې راغله لیکلي دی چې دوی به هرکال دغه شان کول تردې چې د محرم میاشت به د کال په ټولو میاشتو کښې ګرځیدله او په دې ګرځیدلو ګرځیدلو کښې به خپل وخت ته هم راغله په دې وجه به حج هم کله کله په خپل وخت کښې اوشو او کله به په غیروخت کښې اوشو لیکن په کوم کال کښې چې نبی ﷺ حج اوکړو نو هغه کال د میاشتو حساب صحیح وو او حج په خپل وخت کښې شوې وو[1] دې ته دوی فرمائی ان الزمان قد استدار کهیئته چې زمانه په ګرځیدلو سره خپل اصلی حالت ته راغلې ده ورجب مضر د رجب نسبت قبیله مضر طرفته ځکه کولې شی چې هغوی به د نورو قبیلو په نسبت د دې تعظیم زیات کوو الذی بین جُمادی وشعبان دا قید ځکه زیات کړې شوې دې دپاره چې معلومه شی چې د رجب نه اصلی رجب مراد دې او نسی والا رجب مراد نۀ دې چې د خپل صحیح وخت نه لرې شوې وی

[۱۹۴۸]([2]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ فَيَّاضٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ، حَدَّثَنَا أَيُّوبُ السَّخْتِيَانِيُّ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سِيرِينَ، عَنِ ابْنِ أَبِي بَكْرَةَ، عَنْ أَبِي بَكْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، بِمَعْنَاهُ. قَالَ أَبُو دَاوُد: سَمَّاهُ ابْنُ عَوْنٍ، فَقَالَ: عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي بَكْرَةَ، عَنْ أَبِي بَكْرَةَ، فِي هَذَا الْحَدِيثِ.

محمدبن سیرین د ابن ابی بکر رضی الله عنه نه هغه دخپل پلار) ابوبکر رضی الله عنه نه هغه دنبی کریم ﷺ و نه دمذکور بالاحدیث په شان روایت نقل کوي

بَابُ مَنْ لَمْ يُدْرِكْ عَرَفَةَ

باب چاته چه د عرفات وقوف ملاو نه شی د هغه د حکم بیان

وقوف عرفه بالاتفاق د حج رکن دې بلکه د حج په ارکانو کښې لوې رکن دې لیکن د دې د وخت ابتداء او انتهاء او د وقوف د مقدار مسئله کښې د امامانو په مینځ کښې اختلاف دې چې د هغې تفصیل په باب الوقوف بعرفه کښې تیر شوې دې

[1]) ددې نه معلومیږي چه ددې نه مخکښې په ۹ هـ کښې حج د ابوبکر په غیر وقت کښې شوې و، په دې باندې څه قدرې کلام زمونږ د کتاب الحج په ابتدائی بحثونو کښې شوې دې

[2]): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۱۶۸۶)(صحيح)

[۱۹۴۹] ([1]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، حَدَّثَنِي بُكَيْرُ بْنُ عَطَاءٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ يَعْمَرَ الدِّيلِيِّ، قَالَ: "أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ بِعَرَفَةَ، فَجَاءَ نَاسٌ أَوْ نَفَرٌ مِنْ أَهْلِ نَجْدٍ، فَأَمَرُوا رَجُلًا فَنَادَى رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، كَيْفَ الْحَجُّ؟ فَأَمَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلًا فَنَادَى: الْحَجُّ، الْحَجُّ يَوْمُ عَرَفَةَ، مَنْ جَاءَ قَبْلَ صَلَاةِ الصُّبْحِ مِنْ لَيْلَةِ جَمْعٍ فَتَمَّ حَجُّهُ أَيَّامُ مِنًى ثَلَاثَةٌ، فَمَنْ تَعَجَّلَ فِي يَوْمَيْنِ فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ، وَمَنْ تَأَخَّرَ فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ، قَالَ: ثُمَّ أَرْدَفَ رَجُلًا خَلْفَهُ فَجَعَلَ يُنَادِي بِذَلِكَ". قَالَ أَبُو دَاوُد: وَكَذَلِكَ رَوَاهُ مِهْرَانُ، عَنْ سُفْيَانَ، قَالَ: "الْحَجَّ الْحَجَّ مَرَّتَيْنِ"، وَرَوَاهُ يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ الْقَطَّانُ، عَنْ سُفْيَانَ، قَالَ: "الْحَجُّ مَرَّةً".

دعبد الرحمن بن یعمر الدیلی رضی الله عنه نه روایت دي چه زه ایا د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شوم اوهغه په میدان عرفات کښې وو په دې دوران کښې دنجد و دطرف نه څه خلق راغلل اوهغه یوکس ته اوویل اوهغه اواز اوکړو اووئي وئیل اې دالله رسوله حج څنګه دې؟ نو رسول الله ﷺ هم یوکس ته حکم اوکړو اوهغه اواز اوکړو اووئیل ئې حج د عرفات ورځ ده کوم کس چه دمزدلفې په شپه دسحردمانځه نه مخکښې مخکښې دلته راغې نودهغه حج پوره شو، ثم دمنی درې ورځې دی کوم کس چه دوه ورځې پس په تیزئ سره واپس شي نوپه هغه باندې هیڅ ګناه بیان نشته دې او څوک چه تاخیر اوکړي نوپه هغه باندې هم څه ګناه نشته دې بیاهغه خپل ځان پسې ورستو یو کس لره سور کړو کوم چه ددې خبرې اواز کولو، ابوداود فرمائي چه مهران دسفیان نه داسې روایت کړې دې الحج الحج یعنی دوه ځله اویحیی بن سعید القطان دسفیان نه دا لفظ یوځل بیان کړې دې.

من جاء قبل صلوة الصبح من لیلة جمع فتم حجه چې کوم کس د مزدلفه په شپه کښې([2]) د سحر د مانځهٔ نه مخکښې د دې نه مراد د سحر د راختلو نه مخکښې دې (ځکه چې هلته د سحر مونځ بالکل غلس اول وخت کښې وی) چې میدان عرفات ته اورسیدهٔ نو داسې اوګنړه چې ګویا حج ئې بیا موندهٔ ایام منی ثلثة درې ورځې یعنی د یوولسمې ذی الحجه نه دیارلسمې ذی الحجه پورې ورځو ته ایام منی وئیلې شی یوم النحر یعنی لسمه ذی الحجه په دې کښې داخل نهٔ ده او ایام النحر هم د جمهورو په نزد درې دی د لسمې ذی الحجه نه دولسمې ذی الحجه پورې او د شافعیه په نزد ایام نحر څلور ورځې دی دیارلسم تاریخ هم په دې کښې شامل دې

[۱۹۵۰] ([3]) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا عَامِرٌ، أَخْبَرَنِي عُرْوَةُ بْنُ مُضَرِّسٍ الطَّائِيُّ، قَالَ: أَتَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْمَوْقِفِ، يَعْنِي بِجَمْعٍ، قُلْتُ: جِئْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ مِنْ جَبَلِ طَيِّئٍ أَكْلَلْتُ مَطِيَّتِي وَأَتْعَبْتُ نَفْسِي وَاللَّهِ مَا تَرَكْتُ مِنْ حَبْلٍ إِلَّا وَقَفْتُ عَلَيْهِ، فَهَلْ لِي مِنْ حَجٍّ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

---

[1]): سنن الترمذي/الحج ۵۷(۸۸۹)، سنن النسائي/الحج ۲۰۳(۳۰۱۹)، ۲۱۱(۳۰۴۷)، سنن ابن ماجه/المناسك ۵۷(۳۰۱۵)،(تحفة الأشراف: ۹۷۳۵)، وقد أخرجه: مسند احمد(۳۰۹/۴، ۳۱۰، ۳۳۵)، سنن الدارمي/المناسك ۵۴(۱۹۲۹)(صحيح)

[2]) ددې نه په ظاهره دامام مالک د مسلک تائید کیږی چه دهغه په نزد باندې د فرض وقوف اداکول په لیلة المزدلفه کښې وقوف سره کیږی اوپه ورځ کښې وقوف دهغوی په نزد په واجباتو کښې دی فرض نه دی، کما تقدم في باب الوقوف. والله تعالى أعلم.

[3]): سنن الترمذي/الحج ۵۷(۸۹۱)، سنن النسائي/الحج ۲۱۱(۳۰۴۲، ۳۰۴۳، ۳۰۴۴)، سنن ابن ماجه/المناسك ۵۷(۳۰۱۶)،(تحفة الأشراف: ۹۹۰۰)، وقد أخرجه: مسند احمد(۱۵/۴، ۲۶۱، ۲۶۲)، سنن الدارمي/المناسك ۵۴(۱۹۳۰) (صحيح)

وَسَلَّمَ: "مَنْ أَدْرَكَ مَعَنَا هَذِهِ الصَّلَاةَ وَأَتَى عَرَفَاتَ قَبْلَ ذَلِكَ لَيْلًا أَوْ نَهَارًا فَقَدْ تَمَّ حَجُّهُ وَقَضَى تَفَثَهُ".

د عروه بن مضرس الطائی نه روایت دې فرمائی چه زه د مزدلفې په ورځ باندې دوقوف په وخت د رسول اللهﷺ په خدمت کښې جاضر شوم اوعرض مې اوکړو اې دالله رسوله زه دقبیله دوو غرونونه راغلې یم ماخپه سورلئ کلاله کړې ده اوخپل ځان مې ډیر ستړې کړې دې قسم په الله ماهیڅ غونډئ نه ده د پریخودلی مګر په هغې باندې مې وقوف کړې دې نو آیا زما حج اوشو؟ رسول اللهﷺ اوفرمائیل چاچه زمونږ سره دامونځ اومندلو اوددې نه خپل مَیل کچیل(خیرې) لرې کړو(هغه مناسک حج ئې پوره کړو اوس دمابعد نور اعمال حج دې اوکړی اواحرام دې کولاؤ کړی.

د حدیث مبارک تشریح:

تشریح: قوله: اخبرنی عروة بن مضرسِ الطائی...الخ:

د حجة الوداع والا په کال چې کله نبی کریم ﷺ د حج دپاره مکې مکرمې ته تشریف اوړلې وو نو عروة بن مضرس نومې صحابی ته د دې پته اولګیده نو فوراً د خپل وطن نه د حج دپاره روان شو دې دپاره چې حضور ﷺ سره یوځایئ حج اوکړی لیکن دوی ته دا معلومه نۀ وه چې وقوف حج کوم ځائې او په کوم میدان کښې وی په دې وجه دوی په لاره کښې په هره شګلنه(ریت والا) علاقه کښې ایساریدل په دې خیال سره چې شاید دې مقام کښې به وقوف کیږی او خپله سورلی به ئې ډیره تیزله چلوله حضور اقدس ﷺ ته ئې مزدلفه ته ځان اورسوو رسیدلو سره ئې د نبی ﷺ نه تپوس اوکړو یا رسول الله! ما خپل ځان او خپله سورلی په منډو باندې ستړې کړه او په هر میدان کښې حصاریدم دې وخت کښې تاسو ته راؤرسیدم یا رسول الله! دا اووایئ چې زما حج اوشو که نه؟ په دې باندې نبی ﷺ(روحی فداه) ارشاد اوفرمائیلو من ادرک معنا هذه الصلوة په دې جمله کښې وقوف مزدلفه ذکر دې چې کوم سرې مونږ سره دا مونځ صلوة الفجر اوموندلو واتی عرفاتٍ قبل ذلک په دې جمله کښې وقوف عرفه ذکر دې دا دویم خو بالاتفاق فرض او رکن دې او په وقوف مزدلفه[1] کښې اختلاف دې د ائمه ثلثه په نزد دا وقوف سنت دې د حنفیه په نزد واجب دې د ابن الماجشون،مالکی و ابن العربی مالکی په نزد فرض دې او د ظاهریه په نزد رکن دې(جزء الحج) د شعبی،نخعی،ابن خزیمه،ابن جریر الطبری په نزد هم رکن دې د دې نه بغیر حج نۀ کیږی(عون)

قوله: لیلاً ونهاراً:[2] د نهار د عموم نه امام احمد استدلال کړې دې چې خواه هغه وقوف قبل الزوال وی نو په دې وجه د هغوی په نزد د وقوف عرفه ابتداد یوم عرفه د صبح صادق نه کیږی او د امام ثلثه په نزد د زوال نه کما تقدم یعنی مخکښې چې څنګه تیر شو څکه چې حضور ﷺ او د هغوی نه پس خلفاء راشدینو ټولو همیشه وقوف د زوال نه پس شروع کړې

---

[1] د سحر راختلو نه پس لږ وخت په مزدلفه کښې ایساریدل.

[2] د دې نه د وقوف عرفه تحقق معلوم شو، دا د وقوف لیلا او وقوف نهارا هر یو نه کیدې شی لکه چه د ائمه ثلاثه مسلک دی په خلاف د مالکیانو چه د هغوی په نزد د فرض وقوف تحقق په وقوف لیلا سره وی. کما سبق فی محله. ١٢

دې نۀ چې د دې نه مخکښې

فقد تم حجه وقضی تفثه: (١) د پوره حدیث مطلب دا شو چې کوم کس وقوف عرفه او وقوف مزدلفه دواړه اوکړل نو د هغۀ حج پوره شو او ازالۀ تفث (خیرې (میل کچیل) لرې کول د غسل وغیره په ذریعه سره) د هغۀ دپاره جائز شو (د دې جملې تشریح مونږ په حاشیه کښې کړې ده) قال المنذری والحدیث اخرجه الترمذی والنسائی وابن ماجه وقال الترمذی حدیث حسن صحیح اهـ

بَابُ النُّزُولِ بِمِنًى

باب: په منی کښې د پړاؤ کولو بیان

[١٩٥١] (٢) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنْ حُمَيْدٍ الْأَعْرَجِ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ التَّيْمِيِّ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ مُعَاذٍ، عَنْ رَجُلٍ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: خَطَبَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ النَّاسَ بِمِنًى وَنَزَّلَهُمْ مَنَازِلَهُمْ، فَقَالَ: "لِيَنْزِلِ الْمُهَاجِرُونَ هَا هُنَا، وَأَشَارَ إِلَى مَيْمَنَةِ الْقِبْلَةِ، وَالْأَنْصَارُ هَا هُنَا، وَأَشَارَ إِلَى مَيْسَرَةِ الْقِبْلَةِ، ثُمَّ لِيَنْزِلِ النَّاسُ حَوْلَهُمْ".

عبدالرحمن بن معاذ د یو صحابی رضی الله عنه نه روایت کوی هغه وائی چه نبی کریم ﷺ خلقوته په منی کښې خطبه اووئیله اوخلقو ته ئې په خپلو خپلو مقاماتو باندې دنازلید و ارشاد اوفرمائیلو نبی علیه السلام اوفرمائیل مهاجرین دې دلته کښې پړاو ا اوکړی اوخی طرف ته ئې اشاره اوفرمائیله اوانصار، دې دلته کښې پړاو اوکړی اودقبلې ګس طرف ته اشاره اوفرمائیله اونور خلق دې ددوی نه ګیر چاپیره نازل شي.

تشریح: قوله: ونزلهم منازلهم په منی کښې چونکه د حاجیانو قیام مسلسل درېو ورځو پورې وی په خلاف د عرفه او مزدلفه په دې وجه پیغمبر علیه السلام ټول خلق د هغوی په مناسب منزلونو کښې کوز کړل یعنی مختلف ډلو کښې ئې هر یو چې کوم ځائې مناسب اوګڼړل نو د هغوی د ځائې تعین ئې اوکړو دا اجمال دې وړاندې د دې تفصیل دې هغه دا چې مهاجرینو ته ئې اوفرمائیل چې هغوی د قبلې ښی طرفته اودرېږی او انصارو ته ئې اوفرمائیل چې هغوی د قبلې ګس طرفته حصار شی وړاندې باب کښې راځی چې نبی علیه السلام مهاجرینو لره مقدم مسجد یعنی مسجد ثقیف ته مخامخ طرف کښې کوز کړل او انصار ئې د مسجد نه شاته لهذا حدیث الباب کښې هم د میمنة القبل نه د مقدم مسجد ښې طرف او د میسرة القبله نه به مراد د مسجد مؤخر ګس طرف مراد وی (بذل)

قوله: ثم لینزل الناس حولهم د مهاجرینو او انصارو دپاره د ځائې د متعین کولو نه پس نورو خلقو ته نبی علیه السلام اوفرمائیل چې هغوی د دوی نه ګیرچاپیره قیام اوکړی یعنی د باقی خلقو دپاره ئې څۀ تخصیص اونۀ فرمائیلو والله اعلم

(١) والتفث في الاصل بمعني الوسخ والمحرم ما دام محرما ممنوع عن ازالة التفث، فمعني الكلام كما في حاشية السندي علي النسائي انه قضي مدة ابقاء التفث فقد جاز له ازالة التفث. والله تعالي اعلم. یعنی د بدن د خیرو د لرې کولو چه کومه موده وه هغه ئې پوره کړو، اوس د هغې دپاره ازاله تفث جائز شوه یعنی د احرام نه بهر راتلل جائز شو د تکمیل حج د وجې نه.

(٢): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٥٦٢٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦١/٤) (صحيح)

باب أي يوم يخطب بمنى

باب: په منى کښې به خطبه په کومه ورځ وائى؟

[١٩٥٢]([1]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، حَدَّثَنَا ابْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ أَبِي نَجِيحٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ رَجُلَيْنِ مِنْ بَنِي بَكْرٍ، قَالَا: "رَأَيْنَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْطُبُ بَيْنَ أَوْسَطِ أَيَّامِ التَّشْرِيقِ وَنَحْنُ عِنْدَ رَاحِلَتِهِ وَهِيَ خُطْبَةُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الَّتِي خَطَبَ بِمِنًى".

ابن ابی نجیح دخپل پلار نه هغه دبنوبکر ددوو و کسانونه روایت کوی هغه بیان کوی چه مونږ نبی ﷺ لره دایام تشریق په درمیانی ورځ کښې و اولیدو اوهغه خطبه فرمائیله مونږ دهغه دسورلی سره نزدې وو اودا د رسول اللهﷺ هغه خطبه وه کومه چه هغه په منى کښې ارشاد فرمائیلې وه.

يخطب بين اوسط ايام التشريق یعنی دولسمه ذی الحجه د حج خطبې څومره دی او په کوم کوم تاریخ باندې دی په دې کښې د علماء کرامو اختلاف تیر شوې دې په دولسمه ذی الحجه باندې خطبه د امام شافعی و احمد په نزد شته د مالکیه په نزد نشته د دې جواب دا دې چې دا خطبه لغوی وه([2]) یعنی سوال و جواب خطبه عرفی نه وه

[١٩٥٣]([3]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ، حَدَّثَنَا رَبِيعَةُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ حُصَيْنٍ، حَدَّثَتْنِي جَدَّتِي سَرَّاءُ بِنْتُ نَبْهَانَ وَكَانَتْ رَبَّةَ بَيْتٍ فِي الْجَاهِلِيَّةِ، قَالَتْ: خَطَبَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الرُّءُوسِ، فَقَالَ: "أَيُّ يَوْمٍ هَذَا؟" قُلْنَا: اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ، قَالَ: "أَلَيْسَ أَوْسَطَ أَيَّامِ التَّشْرِيقِ؟". قَالَ أَبُو دَاوُدَ: وَكَذَلِكَ قَالَ عَمُّ أَبِي حُرَّةَ الرَّقَاشِيِّ: "إِنَّهُ خَطَبَ أَوْسَطَ أَيَّامِ التَّشْرِيقِ".

ربیعه بن عبدالرحمن بن حصین دخپلې نیاسراء بنت نبهان نه روایت کوی دابښځه مخکښې داسلام نه دیوکور نګرانه وه هغه بیان کوی چه رسول اللهﷺ درؤوس په ورځ مونږ ته خطبه راکړه هغه اوفرمائیل داکومه ورځ ده مونږ اووئیل الله اودهغه رسول ښه پوهیږی نبی ﷺ اوفرمائیل ایادا دایام تشریق درمیانی ورځ نه ده؟ ابوداود وائی چه دابوحره رقاشی، تره هم داسې روایت کړې دې چه هغه دایام تشریق په درمیانی ورځ خطبه او فرمائیله.

تشریح: قوله: حدثتنی سراء بنت نبها ن....الخ

د حدیث مبارك تشریح

سراء بنت نبهان صحابیه ده د بیت نه مراد بیت الصنم دې یعنی په زمانه جاهلیت کښې دا د مندر والا وه یعنی د دوی په کور کښې بت کیخودلې شوې وو دا فرمائی چې نبی ﷺ په یوم الرؤس کښې خطبه اولوستله یوم الرؤس([4]) یوولسمې ذی الحجه ته وئیلې شی دا حدیث

---

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٥٦٨٥)، وقد أخرجه: مسند احمد(٣٧٠/٥)(صحيح)

[2]: لأنها خوطب بها بعض الناس.

[3]: تفرد به أبو دواد، (تحفة الأشراف: ١٥٨٩١)(ضعيف)

[4]: د سر او خپو (پانچو) ورځ، عام طور په روميې ورځ خلق د قربانئ غوښه خوری بیا د شپې سر خپې (پانچې) پخولې شی چه دا بیا په راروانه ورځ (په ١١ ذی الحجه) خوری، غالبا په دې وجه دې ورځ ته یوم الرؤس وئیلې شی

مبارک د حنفیه د مسلک مطابق دي هم دا خبره د سنن ابی داؤد په نسخه مطبوعات مجتبائیه په حاشیه کښې لیکلې ده دا حاشیه د حضرت شیخ الهند طرفته منسوب ده په جزء حجة الوداع کښې هم حضرت شیخ صاحب هم دا لیکلي دی لیکن په بذل المجهود کښې د دې مصداق دولسمه ذی الحجه ښودلې ده دا خبره قابل اشکال ده البته د اوسط ایام تشریق نه مراد دولسمه ذی الحجه ده لکه څنګه چې د دې نه وړاندې حدیث کښې ذکر شوې دی

بَابُ مَنْ قَالَ خَطَبَ يَوْمَ النَّحْرِ

باب: نبی اکرم صلی الله علیه وسلم په یوم النحر خطبه ورکړه ددې د قائلینو د دلیل بیان

[١٩٥٤](1) حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ عَبْدِ الْمَلِكِ، حَدَّثَنَا عِكْرِمَةُ، حَدَّثَنِي الْهِرْمَاسُ بْنُ زِيَادٍ الْبَاهِلِيُّ، قَالَ: "رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْطُبُ النَّاسَ عَلَى نَاقَتِهِ الْعَضْبَاءِ يَوْمَ الْأَضْحَى بِمِنًى".

هرماس بن زیاد باهلی رضی الله عنه نه روایت دي فرمائی چه د ما رسول الله ﷺ لره اولیدو چه هغه په منی کښې - دقربانۍ په ورځ په خپله غضباء اوښه باندې خطبه ورکوله.

[١٩٥٥](2) حَدَّثَنَا مُؤَمَّلٌ يَعْنِي ابْنَ الْفَضْلِ الْحَرَّانِيَّ، حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ، حَدَّثَنَا ابْنُ جَابِرٍ، حَدَّثَنَا سُلَيْمُ بْنُ عَامِرٍ الْكَلَاعِيُّ، سَمِعْتُ أَبَا أُمَامَةَ، يَقُولُ: "سَمِعْتُ خُطْبَةَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِنًى يَوْمَ النَّحْرِ".

د ابوامامه رضی الله عنه نه روایت دي چه ما په منی کښې : دقربانۍ په ورځ درسول الله ﷺ خطبه واوریدله.

بَابُ أَيِّ وَقْتٍ يَخْطُبُ يَوْمَ النَّحْرِ

باب: دقربانۍ په ورځ د خطبې ورکولو وخت

[١٩٥٦](3) حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ بْنُ عَبْدِ الرَّحِيمِ الدِّمَشْقِيُّ، حَدَّثَنَا مَرْوَانُ، عَنْ هِلَالِ بْنِ عَامِرٍ الْمُزَنِيِّ، حَدَّثَنِي رَافِعُ بْنُ عَمْرٍو الْمُزَنِيُّ، قَالَ: "رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْطُبُ النَّاسَ بِمِنًى حِينَ ارْتَفَعَ الضُّحَى عَلَى بَغْلَةٍ شَهْبَاءَ، وَعَلِيٌّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يُعَبِّرُ عَنْهُ وَالنَّاسُ بَيْنَ قَاعِدٍ وَقَائِمٍ".

درافع بن عمرونه نه روایت دي چه مارسول الله ﷺ اولیدو چه هغه په منی کښې په خپلې سپین قچر باندې ناست وو او خلقو ته ئې خطبه ورکوله اوصبا ښه واضح شوې وو او علیه به دهغه خبره مخکښې رسوله، خلق څه ناست وو اوڅه ولاړ وو.

رایت رسول الله صلی الله علیه وسلم یخطب الناس بمنی علی بغلة شهباء شهباء هغه اوښه چې د هغې سپین والې په سیاهۍ یعنی توروالی باندې غالب وی د دې نه وړاندې حدیث شریف کښې وو علی ناقة العضباء فی نفسه نو د هغې توجیه دا کیدې شی چې په مخکښینی حدیث کښې د یوم الاضحی یعنی د یوم النحر تصریح وه دلته په روایت کښې د ورځ تصریح نشته نو کیدې شی چې دا د بلې ورځې واقعه وی لیکن دا توجیه د ترجمة المصنف خلاف ده

(1): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١١٧٢٦)، وقد أخرجه: سنن النسائي/ الكبري/ الحج(٤٠٩٥)، مسند احمد(٤٨٥/٣)(حسن)

(2): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٤٨٦٧)(صحيح)

(3): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٣٥٩٧)، وقد أخرجه: سنن النسائي/الكبري/الحج(٤٠٩٤)(صحيح)

هغوی دا هم په یوم النحر باندې محمول کړې ده لهذا اوس د دې توجیه دا کیدې شی چې ممکن ده چې په دې ورځ باندې نبی ﷺ دوه ځله خطبه ورکړې وی یو ځل په عضباء باندې او یو ځل په په بغله شهباء باندې(منهل)

بَابُ مَا يَذْكُرُ الْإِمَامُ فِي خُطْبَتِهِ بِمِنًى

باب: د منی په خطبه کښې به امام څه بیان کوی؟

[١٩٥٧] (١) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ، عَنْ حُمَيْدٍ الْأَعْرَجِ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ التَّيْمِيِّ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ مُعَاذٍ التَّيْمِيِّ، قَالَ: "خَطَبَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ بِمِنًى فَفُتِحَتْ أَسْمَاعُنَا حَتَّى كُنَّا نَسْمَعُ مَا يَقُولُ وَنَحْنُ فِي مَنَازِلِنَا، فَطَفِقَ يُعَلِّمُهُمْ مَنَاسِكَهُمْ حَتَّى بَلَغَ الْجِمَارَ فَوَضَعَ أُصْبُعَيْهِ السَّبَّابَتَيْنِ، ثُمَّ قَالَ: بِحَصَى الْخَذْفِ، ثُمَّ أَمَرَ الْمُهَاجِرِينَ فَنَزَلُوا فِي مُقَدَّمِ الْمَسْجِدِ وَأَمَرَ الْأَنْصَارَ فَنَزَلُوا مِنْ وَرَاءِ الْمَسْجِدِ ثُمَّ نَزَلَ النَّاسُ بَعْدَ ذَلِكَ".

عبدالرحمن بن معاذ تیمینه نه روایت دې چه نبی ﷺ مونږ ته خطبه اوفرمائیله په داسې حال الله کښې چه مونږ په منی کښې وو اوهغه زمونږ غوږونه کولاو کړل مونږ په خپل خپل پړاو باندې وو اوهغه. هرڅه مو اوریدل کوم چه نبی ﷺ فرمائیل هغه مونږ ته داعمال حج تعلیم راکولو تردې پورې چه جمراتو پورې اورسید و نوهغه خپله دشهادت والا وین ګوته کیخودله اووئې فرمائیل وړی وړی ګیټئ اولئ من هغه مهاجرینوته حکم اوفرمائیلونوهغه دمسجد مخ ته نازل شول اوانصاروته ئې حکم اوکړو نوهغه دجومات شاته نازل شو بیانور خلق ددوی نه پس نازل شول.

تشریح: قوله: ففتحت اسماعنا حتی کنا نسمع ما یقول زمونږ غوږونه کهلاؤ شو یعنی د نبی ﷺ د خطبې آواز مونږ ټولو ته په آسانئ سره رارسیدهٔ تردې چې مونږ د نبی ﷺ خبره اوریدله سره د دې چې په خپلو منزلونو کښې وو د منزلونو نه مرادخیمې دی چې په منی کښې د قیام دپاره حاجیان عارضی طور قائموی

قوله: فطفق یعلمهم مناسکهم نبی ﷺ په دې خطبه کښې خلقو ته د حج د مناسک او د مسائلو تعلیم ورکوو تردې چې د رمی جمار تعلیم ته اورسیدو نو د کنکری مقدار باره کښې ئې هدایت بیانولو په وخت کښې اوچت اواز سره په غوږونو کښې ګوتې ورکړې او وې فرمائیل بمثل حصی الخذف(٢) چې رمی داسې کنکرو سره اوکړې شی چې د خذف د کنکرو برابر وی الله اکبر! په تعلیم و تفهیم کښې څومره قدرې اهتمامِ بلیغ اختیار کړې شو چې د هغې نظیر ناممکن دې جزی الله سیدنا ومولنا محمداً عنا بما هو اهله

(١): سنن النسائي/الحج ١٨٩(٢٩٩٩)،(تحفة الأشراف: ٩٧٣٤)، وقد أخرجه: مسند احمد(٦١/٤)، سنن الدارمي/المناسك ٥٩(١٣٩٣)(صحيح)

(٢) د یوې ګوتې په سر باندې کانړې ایخودل په ګوته باندې نیول او تیز غورزول ښکاره ده چه داسې قسم کانړې وړوکې وی د کرښې (چنړې) برابر.

باب يَبِيتُ بِمَكَّةَ لَيَالِيَ مِنًى

باب: د منی شپه په مکه کښې د تیرولو بیان

ایام منی یوولسمه،دولسمه او دیارلسمه ذی الحجه ته وئیلې شي په دې ورځو کښې حاجی په منی کښې وی د رمی کولو په غرض سره په دې وجه دې ته ایام منی وئیلې شی اصل خو دا ده چې څنګه په دې تاریخونو کښې د حاجی ورځ دلته تیریږی دغه شان مبیت یعنی شپه هم دلته تیرول پکار دی اوس دا خبره چې داسې کول ضروری دی یا صرف سنت دی نو په دې کښې اختلاف دې

د منی د مبیت په حکم کښې د علماء کرامو اختلاف

د حنفیه په نزد د منی په شپو کښې په منی کښې شپه تیرول سنت مؤکد دی او د جمهورو په نزد واجب دی دغه شان یو روایت د شافعیه و حنابله په نزد د عدم وجوب دې نو چې د چا په نزد په منی کښې شپه تیرول واجب دی د هغوی په نزد به د دې په ترک کولو سره دم واجبیږی او د حنفیه په نزد به نۀ واجبیږی

[١٩٥٨](١) حَدَّثَنَا أَبُوبَكْرٍ مُحَمَّدُ بْنُ خَلَّادٍ الْبَاهِلِيُّ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، حَدَّثَنِي حَرِيزٌ، أَوْ أَبُوحَرِيزٍ الشَّكُّ مِنْ يَحْيَى، أَنَّهُ سَمِعَ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ فَرُّوخٍ يَسْأَلُ ابْنَ عُمَرَ، قَالَ: "إِنَّا نَتَبَايَعُ بِأَمْوَالِ النَّاسِ فَيَأْتِي أَحَدُنَا مَكَّةَ فَيَبِيتُ عَلَى الْمَالِ؟ فَقَالَ: أَمَّا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَبَاتَ بِمِنًى وَظَلَّ".

عبدالرحمن بن فروخ دابن عمر رضی الله عنهما نه تپوس اوکړو زمونږ د خلقو سره اخستل خرخول کوو، نو زمونږ چه څوك مي ته راشي اودخپل مال سره شپه تیره کړي نوهغه جواب ورکړو چه نبی علیه السلام خوپه منی کښې شپې تیری کړی وی او ورځې هم

د باب په اولنی حدیث کښې دا دی چې یو سړی د حضرت ابن عمر رضی الله عنهما نه تپوس اوکړو چې مونږ خلق د خریدوفروخت دپاره د ایام منی په دوران کښې مکې مکرمې ته راځو بیا بعضې وخت کښې د اخستلې شوی مال د حفاظت دپاره چې کوم په مکه مکرمه کښې پروت وی هغه شپه په مکه مکرمه کښې تیروو په منی کښې د تیرولو په ځایې(او بیا د ورځې منی ته راشو او رمی کوو) نو ایا داسې کولې شو نو ابن عمر رضی الله عنهما جواب ورکړو اما رسول الله صلی الله علیه وسلم فبات بمنی وظل یعنی حضور علیه السلام خو شپه هم دلته په منی کښې تیره کړې ده او ورځ هم نو مطلب دا شو چې ستاسو دا کار او عمل خلاف سنت دې

[١٩٥٩](٢) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا ابْنُ نُمَيْرٍ، وَأَبُو أُسَامَةَ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: "اسْتَأْذَنَ الْعَبَّاسُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَبِيتَ بِمَكَّةَ لَيَالِيَ مِنًى مِنْ أَجْلِ سِقَايَتِهِ، فَأَذِنَ لَهُ".

د ابن عمر رضی الله عنهما نه روایت دې چه ابن عباس فقه درسول الی الله و نه اجازت طلب کړې وو چه خلقو ورباندې - دابو څښلو په غرض سره دمنی شپې په مکه کښې تیری کړی نونبی علیه السلام

---

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٦٦٨٧)(ضعيف)

(٢): حديث ابن نمير أخرجه صحيح البخاري/الحج ١٣٣(١٧٤٥)، صحيح مسلم/الحج ٦٠(١٣١٥)، سنن ابن ماجه/المناسك ٨٠(٣٠٦٥)، مسند احمد(٢/٢٢)، وحديث أبو أسامة أخرجه: صحيح البخاري/ الحج ١٣٣(١٧٤٥ تعليقاً)، صحيح مسلم/الحج ٦٠(١٣١٥)، سنن الدارمي/المناسك ٩١(١٩٨٦)، (تحفة الأشراف: ٧٨٢٤)(صحيح)

هغه ته اجازت ورکړې وو.

استاذن العباس رسول الله صلى الله عليه وسلم د نبي ﷺ ترۀ حضرت عباس رضي الله عنه د نبي ﷺ نه په مکه مکرمه کښې د شپې تیرولو اجازت طلب کړو د سقاية الحاج دپاره (چې هغوی به حاجیانو باندې اوبۀ څکولې) نو نبي ﷺ هغوی ته اجازت ورکړو دغه شان په باب رمی الجمار کښې يو حديث راځي د عاصم بن عدی رضي الله عنه چې د هغې نه معلوميږي چې نبي ﷺ رعاة يعنی شپونکو ته هم د منی نه علاوه د شپې تیرولو اجازت ورکړې وو لهذا د رعاة او سقاة دپاره خو بالاتفاق د دې اجازت دې په حديث شريف کښې د وضاحت راتلو په وجه سره ليکن د دې دواؤ نه علاوه د يو بل غرض دپاره هم د مبيت ترک کول جائز دی يا نۀ؟

د سقاية او رعاية نه علاوه بل غرض دپاره ترک مبيت؟

د مالکيه په نزد خو دا اجازت هم دې دواؤ سره خاص دې او د شافعيه و حنابله په نزد د مال د حفاظت او د مرض په وجه باندې هم جائز دې او د حنفيه په نزد خو دا مبيت بالکل واجب نۀ دې كما سبق اولاً د استيذان عباس والا روايت په باره کښې منذری فرمائي واخرجه البخاری ومسلم والنسائی وابن ماجه ا هـ

باب الصلاة بمنى

په منى کښې د مونځونو کولو بيان

د ترجمة الباب تشريح او د هغې غرض

حاجيان عام طور سره اکثر مسافر وی د هغې ځائې مقامی خلق خو ډير کم وی لهذا د قصر فی الصلوة د مسئلې د بيانولو ضرورت پيښ شو د حج دوران کښې په عرفات او مزدلفه کښې جمع بين الصلوتين هم کيږی د جمهورو په نزد خو جمع بين الصلوتين په هر سفر کښې کيږی ليکن دلته د احنافو په نزد[1] هم کيږی ځکه چې دا جمع بين الصلوتين د جمهورو او د ائمه ثلثه په نزد (ابوحنيفه، مالک، احمد) لاجل النسک ده د سفر په وجه نۀ ده لهذا دا جمع د ټولو حاجيانو دپاره ده په دې کښې د امام شافعی صاحب رحمه الله اختلاف دې د هغوی په نزد دا جمع د سفر په وجه ده لهذا د دوی په نزد چې کوم حاجی د هغې مقام وی نو د هغۀ دپاره به دا جمع جائز نۀ وی بلکه دواړه مونځونه به په خپل خپل وخت کښې کوی

په منى کښې په مانځۀ کښې د قصر باره کښې د امام مالک رحمه الله تحقيق

اوس د قصر مسئله پاتې شوه نو قصر د ائمه اربعه په نزد د سفر په وجه دې په عرفات کښې وی يا په منى کښې مزدلفه وی يا مکه مکرمه که حاجی مسافر دې نو قصر به کوی ورنه پوره کول دی صحيح خبره خو دا ده ليکن د شارحينو په نزد مشهوره دا ده چې دا قصر د امام مالک په نزد د نسک په وجه دې لکه په بذل المجهود کښې هم حضرت هم دا ليکلې دی زمونږ حضرت شيخ په درس کښې او په خپلو تصانيفو کښې په دې باندې تنبيه

[1] چه ددې څه شرطونه دی بغير دهغې نه د احنافو په نزد دا جمع جائز نه ده.

کړې ده چې داسې نۀ ده بلکه د امام مالک رحمه الله په نزد هم دا قصر د سفر په وجه دې البته د جمهورو او امام مالک په مسلک کښې فرق دا دې چې د جمهورو په نزد خو حاجی کۀ د مسافة قصر نه راغلې دې نو بيا خو به قصر کوی ورنه نۀ، او د امام مالک صاحب په نزد دا قيد ملحوظ نۀ دې بلکه مطلق سفر کافی دې مسافة د قصر وی يا نۀ وی په دې وجه د هغوی په نزد چې اهل مکه کله مزدلفه وغيره ته راشی نو په مانځه کښې به قصر کوی ليکن که يو کس هم په منی کښې اوسيږی هلته مقيم دې نو په منی کښې به د حج په زمانه کښې قصر نۀ کوی دغه شان اهل مکه به هم په مکه مکرمه کښې قصر نۀ کوی د دې نه معلومه شوه چې د امام مالک په نزد دا قصر دې نو د سفر په وجه باندې ليکن سفر عام دې مختصر وی يا اوږد او کۀ د هغوی په نزد دا قصر د نسک په وجه وې(١) نو بيا د حج په زمانه کښې اهل مکه ته هم په مکه مکرمه کښې قصر کول پکار ؤو لکه څنګه چې په منی کښې قصر کوی والله تعالی اعلم افاده الشيخ رحمه الله تعالی

[١٩٦٠](٢) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، أَنَّ أَبَا مُعَاوِيَةَ، وَحَفْصَ بْنَ غِيَاثٍ حَدَّثَاهُ وَحَدِيثُ أَبِي مُعَاوِيَةَ أَتَمُّ، عَنْ الْأَعْمَشِ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ يَزِيدَ، قَالَ: "صَلَّى عُثْمَانُ بِمِنًى أَرْبَعًا، فَقَالَ عَبْدُ اللَّهِ: "صَلَّيْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَكْعَتَيْنِ، وَمَعَ أَبِي بَكْرٍ رَكْعَتَيْنِ، وَمَعَ عُمَرَ رَكْعَتَيْنِ، زَادَ عَنْ حَفْصٍ، وَمَعَ عُثْمَانَ صَدْرًا مِنْ إِمَارَتِهِ ثُمَّ أَتَمَّهَا، زَادَ مِنْ هَا هُنَا عَنْ أَبِي مُعَاوِيَةَ: ثُمَّ تَفَرَّقَتْ بِكُمُ الطُّرُقُ، فَلَوَدِدْتُ أَنْ لِي مِنْ أَرْبَعِ رَكَعَاتٍ رَكْعَتَيْنِ مُتَقَبَّلَتَيْنِ، قَالَ الْأَعْمَشُ: فَحَدَّثَنِي مُعَاوِيَةُ بْنُ قُرَّةَ، عَنْ أَشْيَاخِهِ، أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ صَلَّى أَرْبَعًا، قَالَ: فَقِيلَ لَهُ: عِبْتَ عَلَى عُثْمَانَ ثُمَّ صَلَّيْتَ أَرْبَعًا، قَالَ: الْخِلَافُ شَرٌّ".

عبدالرحمن بن يزيد بيان کړې دي چه عثمان نه بن په منی کښې څلور رکعته ادا کړل نوعبدالله بن ال مسعود اووئيل ماد نبی عليه السلام سره و دابوبکر رضی الله عنه سره اودعمر رضی الله عنه سره دوه دوه رکعتونه د کړی دی دحفص بن غياث نه مزيد داهم وئيلی دی د اودعثمان سره هم چه هغه په ابتدائی دوره خلافت ع کښې(قصرکولو) بيا په آخر کښې هغه پوره(مونځ) ن اداکړې وو دلته کښې دابومعاويه نه دااضافه کړې لی ده چه(ابن مسعودنه اوفرمائيل) بيا ستاسو لاری د مختلف شوې اوماته دوه رکعته کوم چه دالله په و نزد باندې) قبول شی دڅلورو رکعتونه و بهتر معلوميږی اعمش وائی چه ماته معاويه بن قره دخپلو مشرانو نه بيان کړې دې چه عبدالله بن مسعوده هم څلور رکعته ادا کړل اوهغه ته اووئيلې شو چه تاسو په عثمان باندې عيب لګوئ اوبياهم څلور رکعته کوئ هغه اوفرمائيل اختلاف کول بدکار دې.

تشريح: قوله: صلی عثمان بمنی اربعاً فلوددت ان لی من اربع رکعات دا د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه مقوله ده چې کله هغوی حضرت عثمان رضی الله عنه پسې د دواؤ په ځائې څلور رکعته اوکړل

(١) زه وائم، امام مالک خو عام سفرونو کښې د مسافت قصر په اعتبار سره دجمهوروسره دې، صرف دحج په سفر کښې هغوی دا عموم اختيار کړې دې چه مسافت دقصر وی اوکه نه وی قصربه کولې شی، لهذا دا وئيلې شی چه د امام مالک په نزد دا قصر لاجل النسک دې، فتأمل.

(٢): صحيح البخاري/تقصير الصلاة ٢(١٠٨٤)، والحج ٨٤(١٦٥٧)، صحيح مسلم/المسافرين ٢(٦٩٥)، سنن النسائي/تقصير الصلاة ٣(١٤٥٠)،(تحفة الأشراف: ٩٣٨٣)، وقد أخرجه: مسند احمد(١/٣٧٨، ٤١٦، ٤٢٢، ٤٢٥، ٤٦٤)، سنن الدارمي/المناسك ٤٧(١٩١٦)(صحيح)

نو هغه وخت هغوی دا جمله فرمائیلې وه چې د دې دوه مطلبه کیدې شي(١) کاش چې په دې څلورو رکعتونو کښې دوه رکعته قبول کړې شي(چې اصل دی)(٢) کاش چې عثمان د دې څلورو رکعتونو په ځائې دوه رکعته کړې وې چې مقبول وې(د دې څلورو خو خبر نشته چې قبول به وی یا نهٔ ځکه چې خلاف سنت دی) قال الخلاف شر چا حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ ته عرض اوکړو چې تاسو خو به د حضرت عثمان ﷺ په څلورو رکعتونو باندې اعتراض کوو نو اوس مو په خپله هغوی پسې څلور رکعته څنګه اوکړل په دې باندې هغوی اوفرمائیل الخلاف شر چې د امیر په مخالفت کښې شر او فتنه ده قال المنذری، واخرجه البخاری ومسلم والنسائي مختصرًا ومطولًا.

[١٩٦١](١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، أَخْبَرَنَا ابْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنْ الزُّهْرِيِّ، "أَنَّ عُثْمَانَ إِنَّمَا صَلَّى بِمِنًى أَرْبَعًا لِأَنَّهُ أَجْمَعَ عَلَى الْإِقَامَةِ بَعْدَ الْحَجِّ.

دامام زهری ﷺ نه روایت دې چه عثمانه په منی اې کښې څلور رکعته ځکه کړې وو چه هغه د حج نه پس هلته کښې داقامت عزم کړې وو.

حضرت عثمان ﷺ به په منی کښې مونځ ولې پوره کوو؟

قوله: ان عثمان انما صلی بمنی اربعاً لانه اجمع علی الاقامة بعد الحج..الخ:

امام ابوداؤد ﷫ چې د حضرت عثمان ﷺ د اتمام باره کښې کوم وجوه او اسباب منقول کړې دی په هغې کښې ئې بعضې دلته ذکر کړې دی دوه وجوهات خو مصنف د امام زهری نه نقل کړې دی(١) حضرت عثمان ﷺ په طائف کښې د خپل ځان دپاره څهٔ اموال باغ یا زمکه وغیره پریخودلې وه چې د هغې د نګرانئ دپاره په مکه مکرمه کښې د قیام کولو نوبت راتلو نو په هغه زمانه کښې به په قیام کښې هغوی اتمام یعنی پوره والې کوو(٢) یو کال داسې اوشو چې په مکه مکرمه کښې اعراب په کثرت سره جمع شو نو د هغې په رعایت کښې ئې څلور رکعته اوکړل چې چرته دوی په غلط فهمئ کښې مبتلا نهٔ شی او رباعی مونځونه ثنائی اوګنړی(٣) یو وجه ابراهیم نخعی نقل کړې ده لانه اتخذها وطناً چې هغوی مکه مکرمه خپل وطن جوړ کړې وو دا څهٔ مستقل وجه نهٔ ده بلکه دا او اولنئ وجه یو شان ده دا لړه مجمل ده(۴) یو وجه دا بیانولې شی انه تاهل بمکة چې د حضرت عثمان ﷺ بعضې اهل وعیال هلته وو په دې وجه به چې کله هغوی مکې مکرمې ته راتلل نو پوره والې به ئې کوو په دې باندې حافظ منذری دا اشکال کړې دې چې نبی ﷺ هم د خپلو بیبیانو سره سفر کړې دې نو باوجود د خپلو بیبیانو سره د سفر کولو نبی ﷺ هلته پوره والې اونکړو او حافظ ابن قیم ﷫ په تهذیب السنن کښې دا داسې رد کړې ده چې دا خبره چې د حضرت عثمان ﷺ بعضې اهل وعیال په مکه مکرمه کښې مقیم وو لهذا چې کله به حضرت عثمان مکې مکرمې ته تلو نو هلته به يې د خپل اعیال و عیال کیدو په وجه پوره والې کوؤ دا خبره خلاف مشهور ده مشهوره خو دا ده چې د حضرت عثمان صاحب په اهل

(١): تفرد به أبوداود(ضعيف)

و عیال کښې هلته یعنی په مکه مکرمه کښې څوک نهٔ وو او نهٔ ئې هلته څهٔ مال وو ځکه چې په موطا امام مالک کښې یو روایت دا راغلې دې چې بعضې وختونو کښې به داسې کیدل چې حضرت عثمان به کله مکې مکرمې ته د عمرې دپاره راتلو نو د سورلئ نه به د کجاوې وغیره کوزولو نوبت هم نهٔ راتلو تردې چې واپس به شو[1] نو کهٔ هلته د دوی بعضې اهل وو نو داسې ئې ولې کول؛ دغه شان حضرت عثمان په اولنو مهاجرینو کښې دې هغوی دپاره په مکه مکرمه کښې قیام اختیارول کله جائز وو(۵) ابن عبدالبر صاحب فرمائی چې صحیح توجیه دا ده چې عثمان رضي الله عنه به په سفر کښې قصر او اتمام دواړه مباح ګڼړل(۲) او بعضو دا وئیلي دی چې د عثمان او عائشې رضي الله عنهما اعتقاد د نبی عليه السلام د قصر باره کښې دا وو چې هغه نبی عليه السلام د رخصت کیدو په حیثیت سره رفقاً بالامة اختیار فرمائیلي وو په دې وجه دې دواړو په خپل حق کښې عزیمت ته ترجیح ورکړه چې د نبی عليه السلام په رخصت باندې عمل کول خو د امت د مصلحت په وجه سره وو نهٔ چې د افضل یا متعین کیدو په وجه

[١٩٦٢][2] حَدَّثَنَا هَنَّادُ بْنُ السَّرِيِّ، عَنْ أَبِي الْأَحْوَصِ، عَنْ الْمُغِيرَةِ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، قَالَ: "إِنَّ عُثْمَانَ صَلَّى أَرْبَعًا لِأَنَّهُ اتَّخَذَهَا وَطَنًا".

دابراهیم نخعی رضي الله عنه نه منقول دی چه دعثمانه ا دڅلورو رکعتوکولو وجه داوه چه هغه دې ځائې لره وطن ګرځولي وو.

[١٩٦٣][3] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، أَخْبَرَنَا ابْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ يُونُسَ، عَنْ الزُّهْرِيِّ، قَالَ: "لَمَّا اتَّخَذَ عُثْمَانُ الْأَمْوَالَ بِالطَّائِفِ وَأَرَادَ أَنْ يُقِيمَ بِهَا صَلَّى أَرْبَعًا، قَالَ: ثُمَّ أَخَذَ بِهِ الْأَئِمَّةُ بَعْدَهُ".

د امام زهري رضي الله عنه نه منقول دی چه عثمان نه کله په وال طائف کښې خپل جائیداد واخستو اودلته کښې ئې به داقامت نیت اوکړو نو څلور رکعته ئې اداکړل دهغه نه پس نورو ائمه و دا عمل اختیارکړو.

[١٩٦٤][4] حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ الزُّهْرِيِّ، "أَنَّ عُثْمَانَ بْنَ عَفَّانَ أَتَمَّ الصَّلَاةَ بِمِنًى مِنْ أَجْلِ الْأَعْرَابِ لِأَنَّهُمْ كَثُرُوا عَامَئِذٍ فَصَلَّى بِالنَّاسِ أَرْبَعًا لِيُعَلِّمَهُمْ أَنَّ الصَّلَاةَ أَرْبَعٌ".

د امام زهري رضي الله عنه نه روایت دې چه عثمان په منی کښې به دبدوی خلقو په وجه سره پوره مونځ کړې وو ځکه ما چه هغه په دغه کال باندې ډیر زیات په کثیر تعداد کښې حج ته راغلی وو نوهغه خلقو ته څلور رکعته مونځ ورکړو ددې دپاره چه دې بدوی خلقوته معلومه وی چه مونځ څلور رکعته دې.

بَابُ الْقَصْرِ لِأَهْلِ مَكَّةَ

د اهل مکه والو قصر کول

په ظاهره دا باب تیر شوې باب سره متعلق دې یعنی په منی کښې مسافر امام چې کله قصر

[1]) قد ذكره مالك في الموطأ انه بلغه ان عثمان بن عفان كان اذا اعتمر ربما لم يحطط راحلته حتي رجع.
[2]): تفرد به أبو داود (ضعيف)
[3]): تفرد به أبوداود (ضعيف)
[4]): تفرد به أبوداود (حسن لغيره)

مونځ اوکړی نو ایا مکی خلق به ورپسې هم قصر کوی؟ جواب دا دې چې د جمهور علماء ثلثه په نزد خو به هغوی اتمام کوی لیکن د امام مالک په نزد به هغوی هم قصر کوی کما تقدم فی الباب السابق

[١٩٦٥](1) حَدَّثَنَا النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، حَدَّثَنَا أَبُو إِسْحَاقَ، حَدَّثَنِي حَارِثَةُ بْنُ وَهْبٍ الْخُزَاعِيُّ وَكَانَتْ أُمُّهُ تَحْتَ عُمَرَ فَوَلَدَتْ لَهُ عُبَيْدَ اللَّهِ بْنَ عُمَرَ، قَالَ: "صَلَّيْتُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِنًى وَالنَّاسُ أَكْثَرُ مَا كَانُوا، فَصَلَّى بِنَا رَكْعَتَيْنِ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ". قَالَ أَبُو دَاوُد: حَارِثَةُ بْنُ خُزَاعَةَ وَدَارُهُمْ بِمَكَّةَ.

دحارثه بن وهب الخزاعی رضی الله عنه موردعمر رضی الله عنه په زوجیت کښې وه اودهغې نه دهغه څوئې عبیدالله بن عمر پیداشوې وو حارثه وائی چه مادرسول الله ﷺ سره په منی کښې مونځ اداکړو دخلقو تعداد ډیرزیات وو نوهغه مونږ ته په حجة الوداع کښې دوه رکعته ادا اوفرمائیل. ابوداود وائی چه حارثه دقبیله خزاعه فرد سره په منی کښې مونځ اداکړو دخلقو تعداد ډیرزیات وو نوهغه مونږ ته په حجة الوداع کښې دوه رکعته ادا . اوفرمائیل. ابوداود وائی چه حارثه دقبیله خزاعه فرد وو اودهغه کور په مکه کښې وو.

د حدیث مبارک تشریح

تشریح: قوله: حدثنی حارثة بن وهب الخزاعی:

د حارثه بن وهب مور صاحبه ام کلثوم ده دا اول د وهب په نکاح کښې وه بیا د حضرت عمر رضی الله عنه په نکاح کښې راغله او بیا ترینه عبیدالله بن عمر پیدا شو نو ګویا حارثه د عبیدالله بن عمر اخیافی ورور شو د حارثه کور په مکه مکرمه کښې وو لکه څنګه چې د ابوداؤد په بعضو نسخو کښې دی نو ظاهره دا ده چې د حارثه قیام به هم په مکه مکرمه کښې وی(اګرچه ضروری نۀ ده) په دې وجه مصنف دې حدیث لره د ترجمة الباب لاندې راوړو چې حارثه د اهل مکه نه وو والله اعلم

صلیت مع رسول الله صلی الله علیه وسلم بمنی والناس اکثر ما کانوا حارثه دا وائی چې ما د نبی علیه السلام سره په منی کښې قصر مونځ په داسې حالت کښې اوکړو چې د خلقو زیات کثرت هلته د مخکښې نه وو یعنی دومره کثرت د خلقو هلته د دې نه مخکښې چرته نۀ وو دې کثرت بیانولو سره هغوی دې خبرې طرفته اشاره کول غواړی چې په مانځه کښې قصر کول د خوف(ویرې)سره خاص نۀ دې لکه څنګه چې د قرآن د ظاهر نه معلومیږی(2) بلکه په حالت د امن او په کثرت کښې به هم په سفر کښې قصر کولې شی

(1): صحیح البخاري/تقصیر الصلاة ٢(١٠٨٣)، والحج ٨٤(١٦٥٦)، صحیح مسلم/المسافرین ٢(٦٩٦)، سنن الترمذي/الحج ٥٢(٨٨٢)، سنن النسائي/تقصیر الصلاة ٢(١٤٤٦)،(تحفة الأشراف: ٣٢٨٤)، وقد أخرجه: مسند احمد(٣٠٦/٤)(صحیح)

(2) ﴿ واذا ضربتم في الارض فليس عليكم جناح ان تقصروا من الصلاة ان خفتم ان يفتنكم ..... الاية ﴾ اوګورئ ددې نه په ظاهره کښې هم دامعلومیږی چه قصر فی الصلاة دویرې په صورت کښې دې هسې نشته.

د حديث نه د مالکيه استدلال او د جمهورو له طرفه د هغې جواب

د دې حديث د ترجمة الباب سره مناسبت دا دې چې حارثه مکی وو او بیا هم هغوی د نبی عليه السلام سره په منی کښې قصر اوکړو لهذا دا حديث د مالکيه دليل شو په بذل کښې د جمهورو له طرفه د دې متعدد جوابات ليکلې شوې دی(١) فصلی بنا رکعتين کښې ضروری نۀ ده چې اهل مکه هم شامل وی او که وی هم نو بيا هم دا ضروری نۀ ده چې نبی عليه السلام سره ئې دوه رکعتونه کړې وی او باقی دوه رکعتونه ئې د اتمام دپاره نۀ وی کړې(٢) د هغوی کور په مکه مکرمه کښې وو دې سره دا لازم نۀ راځی چې هغوی دې په مکه مکرمه کښې مقيم هم وی(بذل) خطابی وائی چې هغوی واقعی دوه رکعته اوکړل نو کيدې شی دا د هغوی خپل اجتهاد وی د نبی عليه السلام نه هغوی چونکه د خپل ځان باره کښې څۀ پوښتنه اونکړه نو په دې وجه به نبی عليه السلام هم نۀ وی فرمائيلې وړاندې فرمائی چې د حضرت عمر رضی الله عنه معمول وو چې کله به هغوی د منی په سفر کښې مونځ ورکوو نو قصر به ئې کوو اتموا يا اهل مكة فانا قوم سفر(عون)

بَابٌ فِي رَمْيِ الْجِمَارِ[١]

جمرات په کيتو(کاڼړو) باندې ويشتل

د رمی ورځې څلور دی او چې د کومو جمارو رمی کيږی هغه درې دی الجمرة الاولی، الجمرة الوسطی، الجمرة الکبری دې دريم ته جمرة العقبه او جمرة القصوی والاخری هم وئيلې شی جمره اولی مسجد خيف او مزدلفه ته نزدې ده او جمرة العقبه يعنی دريمه جمره دا مکې مکرمې ته نزدې او د منی نه لرې ده په دې وجه ورته جمرة القصوی وئيلې شی يعنی د منی نه لرې د رمی ابتدا د جمره اولی نه کيږی بيا د وسطی او بيا د کبری دا ترتيب د حنفيه په يو قول کښې سنت او په دويم قول کښې واجب دې(شرح لباب) په دې جمراتو کښې اولنۍ ورځ(يوم النحر) کښې صرف د جمرة العقبه رمی کيږی(حاجيان چې کله د مزدلفه نه منی ته راشی نو په لاره کښې جمرة الاولی او وسطی پريږدی او نيغ په دې جمره باندې راؤرسی او رمی کوی) او په باقی دريو ورځو کښې د جمرات ثلثه رمی کيږی

بيا ځان پوهه کړئ دلته درې مسئلې قابل ذکر دی د رمی حکم، د رمی وخت او رمی راکباً غوره ده يا ماشياً يعنی په حالت د سورلۍ کښې يا پيدل

---

[١] جمار د جمره جمع ده په معنی د ګيټکی (وړوکې کاڼړې) مګر دلته د دې نه مراد د منی هغه خاص مقامات دی د کومو چه رمی کولې شی بيا په دغه مواضع باندې د علاماتو دپاره د انسان د قد برابر ستنې جوړې کړې شوې دی، نو اصل کښې جمار د کومو چه رمی کول مقصود دې هغه دا ستن نه ده لکه چه اکثر عوام خيال کوی بلکه چه په کوم ځائې باندې دا ستن قائم ده هغه او د هغې خواته ځائې مقصود بالرمی دې. د دې رمی مقصود هغه دې کوم چه ابن خزيمه په خپل صحيح کښې د ابن عباس رضی الله عنه په روايت نقل کړې دې چه سيدنا ابراهيم عليه السلام د افعال حج ادا کولو دپاره راغلو نو اولا جمرة العقبة باندې هغه ته شيطان په نظر راغلو نو هغه په اووه کاڼړو باندې ويشتلو چه هغې سره هغه په زمکه کښې ننوتلو بيا نور وړاندې لاړو نو بيا ورته په نظر راغلو نو بيا ئې هغه په کاڼړو ويشتلو (دا جمرة الوسطی شو) بيا چه وړاندې لاړو نو په دريم کرت ورته په نظر راغلو نو دلته ئې بيا په کاڼړو باندې ويشتلو. (دا جمرة الاولی شو) (معلم الحجاج)

مسئله اولي: (د رمی حکم)

رمی د ائمه ثلثه په نزد واجب ده او د امام مالک په نزد سنت مؤکده او د ابن الماجشون مالکی په نزد د یوم النحر رمی رکن او فرض ده

مسئله ثانیه: (د رمی وخت)

څان پوهول پکار دی چې د یوم النحر د رمی وخت جدا دې او د ایام تشریق[1] د رمی وخت جدا دې د دې تفصیل سره د اختلاف ائمه په ائمه باب التعجیل کښې تیر شو

مسئله ثالثه: (رمی راکبا افضل ده که ماشیا)

د حنفیه په نزد دې کښې درې اقوال دی مطلقا د سورلئ په حالت کښې غوره دی،مطلقاً پیدل رمی کول غوره دی کل رمی بعده رمی فماشیاً والا فراکباً لهذا د جمره اولی او وسطی رمی به ماشیاً غوره وی او د جمرة العقبه به راکباً

او د شافعیه په نزد په اولنئ او آخری ورځ راکباً او مینځ کښې دوه ورځې یوولسمه او دولسمه باندې ماشیاً غوره ده د امام احمد په نزد په اولنئ ورځ باندې راکباً او باقی کښې ماشیاً او د امام مالک په نزد په اولنئ ورځ علی حاله السابق ان کان راکباً فراکباً وان ماشیاً فماشیاً ([2]) وفی الباقی المشی.

[١٩٦٦](*) حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنِي عَلِيُّ بْنُ مُسْهِرٍ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي زِيَادٍ، أَخْبَرَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ عَمْرِو بْنِ الْأَحْوَصِ، عَنْ أُمِّهِ، قَالَتْ: رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَرْمِي الْجَمْرَةَ مِنْ بَطْنِ الْوَادِي وَهُوَ رَاكِبٌ يُكَبِّرُ مَعَ كُلِّ حَصَاةٍ، وَرَجُلٌ مِنْ خَلْفِهِ يَسْتُرُهُ، فَسَأَلْتُ عَنِ الرَّجُلِ: فَقَالُوا: الْفَضْلُ بْنُ الْعَبَّاسِ، وَازْدَحَمَ النَّاسُ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَا أَيُّهَا النَّاسُ، لَا يَقْتُلْ بَعْضُكُمْ بَعْضًا، وَإِذَا رَمَيْتُمُ الْجَمْرَةَ فَارْمُوا بِمِثْلِ حَصَى الْخَذْفِ".

دسلیمان بن عمرو الاحوص مور بیان کوی چه ما رسول اللهﷺ لره دوادئ په مینځ کښې اولیدو چه هغه په ګیټو سره جمرې ویشتلې اوهغه په سورلی باندې وو هغه به دهرې ګیټئ سره الله اکبر فرمائیلو یوکس هغه لره دشانه پټ کړې وو - مادهغه کس په باره تپوس اوکړو نو خلقو اووئیل دافضل بن عباس دې خلقو ډیرزیات ازدحام جوړ کړې وو نونبی کریمﷺ وفرمائیل اې خلقو یوبل لره مه وژنئ اوکله چه تاسو جمرې په ګیټو سره اولئ نو په ورو

---

[1]) ایام نحر درې دی د ذی الحجه لسم، یولسم او دولسم تاریخ،او ایام تشریق هم درې دی، یولسم، دولسم او دیارلسم. لهذا لسم د ذی الحجه خو صرف یوم النحر دې او دیارلسم ذی الحجه صرف یوم التشریق دې او په مینځ کښې دوه یعنی یولسم، دولسم ذی الحجه یوم النحر هم دې او یوم التشریق هم او دا څلور ورځې د لسم نه دیارلسم پورې ایام رمی دی چه په هغې کښې اخری ورځ اختیاری ده په دې کښې ایسارېدل په منی کښې ضروری نه دی خو که ایسار شو نو بیا به رمی واجب وی.

[2]) په اوله ورځ یعنی په یوم النحر کښې که په اوله ورځ باندې سور دې او هم په دې حال کښې جمره ته رسیدلې دې نو په دې صورت کښې د دې جمره رمی هم په سوریدو سره افضل ده او که ماشی وی نو ماشیا افضل دې. ١٢

(*): سنن ابن ماجه/المناسک ٦٣(٣٠٢٨)،(تحفة الأشراف: ١٨٣٠٦)، وقد أخرجه: مسند احمد(٥٠٣/٣، ٢٧٠/٥، ٣٧٩، ٣٧٩/٦)(حسن)

وړو ګیټو سره اولئ.

يرمى الجمرة من بطن الوادى رمى ئې د وادى يعنى په نشيب کښې په ولاړه کوله ورجل من خلفه يستره چې کوم وخت نبى عليه السلام رمى کوله نو هغه وخت فضل بن عباس د نبى عليه السلام بچاؤ کوو يعنى د حجاره نه چې کوم خلق کانړى اولى نو په هغې باندې چرته پيغمبر عليه السلام اونه لګى او د دې نه وړاندې په باب فى المحرم يظلل کښې دا تير شوې دى چې بچاؤ کوونکې حضرت اسامه وو او حضرت بلال د اوښې واګې نيولې وې ليکن هلته دا هم تير شو يستره من الحر يعنى د نمر د دهوپ او د ګرمئ نه ئې بچ کوو ،نو يوځايئ کښې د ستر نه ستر من حر الشمس او دويم ځائې کښې د ستر نه ستر من الحجارة مراد دې(بذل)

[١٩٦٧]() حَدَّثَنَا أَبُو ثَوْرٍ إِبْرَاهِيمُ بْنُ خَالِدٍ، وَوَهْبُ بْنُ بَيَانٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا عُبَيْدَةُ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي زِيَادٍ، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْأَحْوَصِ، عَنْ أُمِّهِ، قَالَتْ: "رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِنْدَ جَمْرَةِ الْعَقَبَةِ رَاكِبًا، وَرَأَيْتُ بَيْنَ أَصَابِعِهِ حَجَرًا فَرَمَى وَرَمَى النَّاسُ".

دسليمان بن عمرو بن الاحوص مور بيان کوى چه مانبى عليه السلام لره دجمره عقبه سره اوليدو هغه په سورلئ باندې وومادهغه په ګوتوکښې کانړى اوليدل چه نبى عليه السلام هغې لره اويشتل نوبياخلقو هم رمى اوکړه

[١٩٦٨](٢) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، حَدَّثَنَا ابْنُ إِدْرِيسَ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ أَبِي زِيَادٍ بِإِسْنَادِهِ فِي مِثْلِ هَذَا الْحَدِيثِ، زَادَ: "وَلَمْ يَقُمْ عِنْدَهَا".

يزيد بن زياد په خپل سند سره ددې په مثل روايت کوى او اضافه ئې کړې ده چه هغه دجمرې سره ولاړ نه وو.

ولم يقم عندها يعنى د جمرة العقبه د رمى کولو نه پس پيغمبر عليه السلام دعا وغيره دپاره حصار نهٔ شو په خلاف د جمرة اولى او وسطى چې هلته نبى عليه السلام د رمى نه فارغ شو نو هغې سره لږه شان فاصله باندې اودريدل او په دعا کښې مشغول شو،په دې وجه فقهاء کرامو دا هم ليکلې دى چې د جمرة اولى او وسطى سره نزدې په ولاړه دعا غوښتل پکار دى او په جمرة العقبه نهٔ دى ايساريدل پکار والله اعلم بحكمته .(٣)

[١٩٦٩](٤) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ يَعْنِي ابْنَ عُمَرَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّهُ "كَانَ يَأْتِي الْجِمَارَ فِي الْأَيَّامِ الثَّلَاثَةِ بَعْدَ يَوْمِ النَّحْرِ مَاشِيًا ذَاهِبًا وَرَاجِعًا، وَيُخْبِرُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَفْعَلُ ذَلِكَ".

---

[١]): انظر ما قبله،(تحفة الأشراف: ١٨٣٠٦)(صحيح)

[٢]): انظر حديث رقم: ١٩٦٦،(تحفة الأشراف: ١٨٣٠٦)(صحيح)

[٣]) ددې په حكمت کښې د علماؤ درې اقوال دى. (١) توسط الدعاء بين العبادتين: او ښکاره ده چه کومه دعا د دوه عبادتونو په مينځ کښې کيږى هغه به اسرع الى الاجابت وى، (٢) د جمرة العقبه محل وقوع تنګه ده او ممرالناس ده. لهذا هلته به ايساريدلو کښې خلقو ته تکليف وى، (٣) د تغائل په طور دعا پريږدى چه د رمى نه فارغ کيدو سره به انشاء الله ټولې دعاګانې قبولې شوې وى.والله تعالى أعلم.

[٤]): تفرد به أبو داود،(تحفة الأشراف: ٧٧٢٧)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الحج ٦٣(٨٩٩)، مسند احمد(٢/١١٤، ١٣٨، ١٥٦)(صحيح)

دحضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دې چه هغه د يوم النحر نه پس په دريو ورځو كښې د جمرات د رمې دپاره پيدل راغلې وو او پيدل به واپس تلو اوهغه به دا وئيل چه نبی كريم ﷺ به په خپله داسې كول.

[١٩٧٠]([1]) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، أَخْبَرَنِي أَبُو الزُّبَيْرِ، سَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ، يَقُولُ: رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَرْمِي عَلَى رَاحِلَتِهِ يَوْمَ النَّحْرِ، يَقُولُ: "لِتَأْخُذُوا مَنَاسِكَكُمْ فَإِنِّي لَا أَدْرِي لَعَلِّي لَا أَحُجُّ بَعْدَ حَجَّتِي هَذِهِ".

دجابر بن عبد الله رضي الله عنه نه روايت دې چه ما رسول الله ﷺ لره اوليد و چه هغه دقربانۍ په ورځ په خپلې سورلۍ باندې سور وو اورى ئې كوولې اوفرمائيل به ئې زمانه خپل اعمال دحج زده كړئ ماته نه ده معلومه شائد چه زه ددې خپل حج نه پس بل حج اونه كړې شم.

[١٩٧١]([2]) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، قَالَ: أَخْبَرَنِي أَبُو الزُّبَيْرِ، أَنَّهُ سَمِعَ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ، يَقُولُ: "رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَرْمِي عَلَى رَاحِلَتِهِ يَوْمَ النَّحْرِ ضُحًى، فَأَمَّا بَعْدَ ذَلِكَ فَبَعْدَ زَوَالِ الشَّمْسِ".

دجابر بن عبد الله رضي الله عنه نه روايت دې چه ما رسول الله ﷺ لره اوليدو چه هغه دقربانۍ په ورځ دڅاښت په وخت كښې په خپلې سورلۍ باندې رى كوله مگر ددې نه په وروستنو ورځو كښې ئې دنمر دزوال نه پس رمې اوكړه.

[١٩٧٢]([3]) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ الزُّهْرِيُّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ مِسْعَرٍ، عَنْ وَبَرَةَ، قَالَ: "سَأَلْتُ ابْنَ عُمَرَ: مَتَى أَرْمِي الْجِمَارَ؟ قَالَ: إِذَا رَمَى إِمَامُكَ فَارْمِ، فَأَعَدْتُ عَلَيْهِ الْمَسْأَلَةَ، فَقَالَ: كُنَّا نَتَحَيَّنُ زَوَالَ الشَّمْسِ، فَإِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ رَمَيْنَا".

وبره وائي چه ما دابن عمرنه تپوس اوكړو چه زه په و كوم وخت كښې د جمراتو رى كوم هغه اوفرمائيل كله چه ستاسو امام رى كوى نوتاسو هم رمې اوكړئ ماخپل سوال دوباره كړو نوهغه اوفرمائيل مونږ به دنمردزوال انتظار كولو چه كله به نمر زائله شونورى به مو كوله.

[١٩٧٣]([4]) حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ بَحْرٍ، وَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ سَعِيدٍ الْمَعْنَى، قَالَا: حَدَّثَنَا أَبُو خَالِدٍ الْأَحْمَرُ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْقَاسِمِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "أَفَاضَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ آخِرِ يَوْمِهِ حِينَ صَلَّى الظُّهْرَ، ثُمَّ رَجَعَ إِلَى مِنًى فَمَكَثَ بِهَا لَيَالِيَ أَيَّامِ التَّشْرِيقِ يَرْمِي الْجَمْرَةَ إِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ، كُلَّ جَمْرَةٍ بِسَبْعِ حَصَيَاتٍ يُكَبِّرُ مَعَ كُلِّ حَصَاةٍ، وَيَقِفُ عِنْدَ الْأُولَى وَالثَّانِيَةِ فَيُطِيلُ الْقِيَامَ وَيَتَضَرَّعُ وَيَرْمِي الثَّالِثَةَ وَلَا يَقِفُ عِنْدَهَا".

دعائشې رضي الله عنها نه روايت دې چه رسول الله ﷺ دماسپخين دمونځ كولو نه پس دورځې په

[1]): صحيح مسلم/الحج ٥٣(١٢٩٧)، سنن النسائي/الحج ٢٢٠(٣٠٦٤)،(تحفة الأشراف: ٢٨٠٤)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الحج ٥٩(٨٩٤)، سنن ابن ماجه/المناسك ٧٥(٣٠٥٣)، مسند احمد(٣١٣/٣، ٣١٩، ٤٠٠)، سنن الدارمي/المناسك ٥٨(١٩٣٧)(صحيح)

[2]): صحيح مسلم/ الحج ٥٣(١٢٩٩)، سنن الترمذي/ الحج ٥٩(٨٩٤)، سنن النسائي/ الحج ٢٢١(٣٠٦٥)، سنن ابن ماجه/ ٧٥ المناسك(٣٠٥٣)،(تحفة الأشراف: ٢٧٩٥)، وقد أخرجه: مسند احمد(٣١٢/٣، ٣٩٩)، دي/ المناسك ٥٨(١٩٣٧)(صحيح)

[3]): صحيح البخاري/الحج ١٣٤(١٧٤٦)،(تحفة الأشراف: ٨٥٥٤)(صحيح)

[4]): تفرد به أبو داود،(تحفة الأشراف: ١٧٥٢٣)، وقد أخرجه: مسند احمد(٩٠/٦)(صحيح)

اخري حصه کښي طواف افاضه اوکړو بیاهغه منی ته واپس راغی اودایام تشریق شپې ئې دلته کښي تیرې کړې دنمر دزوال نه پس به ئې الله اکبر فرمائیل داولې اود دویمې جمرې سره به ئې کافي وخت پورې وقوف کولو اودخپلې عاجزی اوتضرع اظهاربه ئې کولو بیابه ئې دریمې جمرې لره په ګیټو باندې ویشتله مګردهغې سره به ئې وقوف نه فرمائیلو.

عن عائشه قالت افاض رسول الله صلى الله عليه وسلم من آخر يومه نبي ﷺ طواف افاضه اوکړو د يوم النحر په آخری حصه کښې د اخری حصې نه مراد بعدالزوال دې بیا ئې د ماسپخین مونځ اوکړو او منی ته واپس شو په دې ورځ نبی ﷺ د ماسپخین مونځ چرته کړې وو په مکه مکرمه کښې یا واپس په منی کښې په دې سلسله کښې مختلف روایات دی او په دې باندې کلام د حضرت جابر رضی الله عنه په اوږد حدیث مبارک کښې تیر شو

په دې روایت کښې د دې خبرې وضاحت دې چې نبی ﷺ طواف زیارة یوم النحر کښې د ماسپخین په وخت کښې اوکړو او د دې نه پس په باب الافاضه کښې یو حدیث راځی چې په هغې کښې دا دی اخر طواف یوم النحر الی الیل په دې باندې به کلام انشاء الله هم دې ځائې کښې راشی

[١٩٧٤](١) حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ، وَمُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ الْمَعْنَى، قَالَا: حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنِ الْحَكَمِ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ يَزِيدَ، عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: "لَمَّا انْتَهَى إِلَى الْجَمْرَةِ الْكُبْرَى جَعَلَ الْبَيْتَ عَنْ يَسَارِهِ وَمِنًى عَنْ يَمِينِهِ وَرَمَى الْجَمْرَةَ بِسَبْعِ حَصَيَاتٍ"، وَقَالَ: هَكَذَا رَمَى الَّذِي أُنْزِلَتْ عَلَيْهِ سُورَةُ الْبَقَرَةِ.

دعبدالله بن مسعود نه روایت دې چه کله هغه بن جمری کبری ته اورسیدل نوهغه بیت الله لره خپل د ګس طرف ته اومنی لره ئې ښی طرف ته کړله: اوبیائې جمره په اوه ګیټو اوویشتله ابن مسعود رضی الله عنه اوفرمائیل اوپه دې شان سره ئې رمی اوکړه هغه ذات په کوم باندې چه سورة بقره نازل شوې وه.

د جمراتو د رمی کیفیت او د امامانو اختلاف

لما انتهى الى الجمرة الكبرى جعل البيت عن يساره ومنى عن يمينه

په دې حدیث مبارک کښې د رمی جمره کیفیت ذکر دې چې څنګه اودریدل او څنګه رمی کول پکار دی؟ هغه داسې چې د جمره په طرف باندې به مخ کړی او داسې به ولاړ وی چې مکه مکرمه ئې ګس طرفته وی او منی ئې ښی طرفته وی لیکن دا کیفیت د جمرة العقبه د رمی دې کما فی الحدیث، او د جمرة الاولی او وسطی رمی به مستقبل القبله وی(کما فی العرف الشذی) او د حنابله په نزد کما فی الروض المربع مستحب دا دی چې د ټولو جمراتو رمی دې مستقبل القبله وی او د شافعیه په نزد مستحب دا ده چې په یوم النحر کښې د جمرة العقبه رمی خو مستقبل الجمره وی وی او په باقی ورځو کښې د ټولو جمراتو رمی مستقل القبله وی چې په هغې کښې جمرة العقبه هم شامل ده

(١): صحيح البخاري/الحج ١٣٥(١٧٤٧)، ١٣٨(١٧٥٠)، صحيح مسلم/الحج ٥٠(١٢٩٦)، سنن الترمذي/الحج ٦٤(٩٠١)، سنن النسائي/المناسك ٢٢٦(٣٠٧٣، ٣٠٧٥)، سنن ابن ماجه/المناسك ٦٤(٣٠٣٠)،(تحفة الأشراف: ٩٣٨٢)، وقد أخرجه: مسند احمد(١/٣٧٤، ٤٠٨، ٤١٥، ٤٢٧، ٤٣٠، ٤٣٢، ٤٣٦، ٤٥٦، ٤٥٨)(صحيح)

د دې نه پس ځان پوهول پکار دی چې دا حديث د ابو داؤد نه علاوه په ترمذی او صحيحينو کښې هم شته په صحيحينو کښې خو دغه شان دې لکه څنګه چې په ابوداؤد کښې دې،ليکن په ترمذی کښې د دې خلاف دې په هغې کښې داسې دې لما اتى عبدالله جمرة العقبه استبطن الوادى واستقبل القبلة الحديث د استقبال قبله په صورت کښې به منى شى طرفته نۀ وى بلکه شا طرفته به وى اګرچه د حنابله او د بعضې شافعيه مسلک هم دا دې کما قال النووى ليکن د ترمذی شريف د روايت الفاظ د مشهور روايت خلاف دی او نۀ په دې باندې د جمهور فقهاؤ عمل دې د ترمذی په روايت کښې يو راوی دې المسعودی(عبدالرحمن بن عبدالله بن عتبة بن مسعود الكوفى) دا ضعيف دې

[١٩٧٥]([1]) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ. ح وحَدَّثَنَا ابْنُ السَّرْحِ، أَخْبَرَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي مَالِكٌ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي بَكْرِ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ حَزْمٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي الْبَدَّاحِ بْنِ عَاصِمٍ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "رَخَّصَ لِرِعَاءِ الْإِبِلِ فِي الْبَيْتُوتَةِ، يَرْمُونَ يَوْمَ النَّحْرِ ثُمَّ يَرْمُونَ الْغَدَ وَمِنْ بَعْدِ الْغَدِ بِيَوْمَيْنِ وَيَرْمُونَ يَوْمَ النَّفْرِ".

ابو البداح بن عاصم رضي الله عنه ته د خپل پلارنه روايت کوی چه رسول الله ﷺ داوښانو شپونکو له په منى کښې در دشپو تيرولونه رخصت ورکړې وو دوی دې د قربانى ورځ باندې رمى اوکړی بيا په صبائۍ ورځ بيا دهغې نه پس صباورځ دې پريږدی اودر وانګى په ورځ دې د دوو ورځو رمى اوکړی.

تشريح: قوله: ان رسول الله صلى الله عليه وسلم رخص لرعاء الابل فى البيتوتة يرمون يوم النحر د دې حديث حواله مونږ سره دلته نزدې په استاذن العباس رسول الله صلى الله عليه وسلم....الخ کښې تيره شوې ده او مسئله هم هلته تيره شوې ده هغه دا چې د رعاة او سُقاة دپاره ترک مبيت بمنى جائز دې د دې حديث شريف د مزيد وضاحت ضرورت دې هغه دا چې د شپونکو دپاره نبى عليه السلام د دې خبرې اجازت ورکړو چې هغوی د منى په ځائې په مکه مکرمه کښې شپه تيرولې شى او دغه شان دا هم هغوی ته اجازت دې چې هغوی د دواؤ ورځو رمى په يو ورځ کښې اوکړی هغوی ته روزانه د مکى مکرمې نه منى ته د راتللو ضرورت نشته لهذا هغوی دې يوم النحر باندې رمى اوکړی او بيا دې يوولسمه او دولسمه د دواؤ ورځو رمى په يو ورځ کښې اوکړی چې د دې دوه صورتونه کيدې شى يو تقديماً او دويم تاخيراً د تقديم مطلب دا دې چې هغوی د يوولسم او دولسم دوارو تاريخونو رمى په يوولسم باندې اوکړی او د تاخيراً مطلب دا دې چې د دوارو ورځو رمى په دولسم تاريخ باندې اوکړی ليکن مسئله دا ده چې تقديم د رمى په ائمه اربعه کښې د چا په نزد هم جائز نۀ دې البته د ابن حزم ظاهری په نزد جائز دې لهذا دلته د تقديم

[1]): سنن الترمذي/الحج ١٠٨(٩٥٤ و ٩٥٥)، سنن النسائي/الحج ٢٢٥(٣٠٧)، سنن ابن ماجه/المناسك ٦٧(٣٠٣٦، ٣٠٣٧)،(تحفة الأشراف: ٥٠٣٠)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الحج ٧٢(٢١٨)، مسند احمد(٥/٤٥٠)، سنن الدارمي/المناسك ٥٨(١٩٣٨)(صحيح)

والا صورت نهٔ شي مراد کيدي.[١]

اوس دلته دا سوال پاتې شو چې تقديم د رمي خو بالاتفاق ناجائز دي او د تاخير رمي څهٔ حکم دې؟ جواب دا دې چې په دې مسئله کښې اختلاف دې د امام ابوحنيفه او امام مالک په نزد د هرې ورځ رمي هغه ورځ سره مؤقت ده[٢] چې څنګه تقديم جائز نهٔ دې نو دغه شان تاخير هم جائز نهٔ دې(الا لمن رخص) او د امام شافعي و احمد او صاحبينو په نزد د هرې ورځ رمي هغه ورځ سره مؤقت نهٔ ده بلکه يجوز التاخير الى آخر ايام التشريق اليوم الرابع من ايام الرمي اعني ١٣ ذى الحجه

[١٩٧٦](٣) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، وَمُحَمَّدٌ ابْنَيْ أَبِي بَكْرٍ، عَنْ أَبِيهِمَا، عَنْ أَبِي الْبَدَّاحِ بْنِ عَدِيٍّ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "رَخَّصَ لِلرِّعَاءِ أَنْ يَرْمُوا يَوْمًا وَيَدَعُوا يَوْمًا".

ابوالبداح بن عدى دخپل پلارنه روايت کوي چه بن رسول اللهﷺ شپونکولره رخصت ورکړې وو چه د يوه ورځ دې رمي اوکړي اويوه ورځ دې ترک کړي.

[١٩٧٧](٤) حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ الْمُبَارَكِ، حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ الْحَارِثِ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ قَتَادَةَ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا مِجْلَزٍ، يَقُولُ: سَأَلْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ عَنْ شَيْءٍ مِنْ أَمْرِ الْجِمَارِ، قَالَ: "مَا أَدْرِي أَرَمَاهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِسِتٍّ أَوْ بِسَبْعٍ".

دابومجلز نه روايت دې چه ما دابن عباس رضي الله عنهما نه درمي جمارپه باره کښې تپوس کړې وو نو هغه اووئيل ماته معلومه نه ده چه رسول الله په شپږو کاڼوباندې رې کړې وه يا په اووه سره.

قوله: ما ادرى ارماها رسول الله صلى الله عليه وسلم بست او بسبع، دا حضرت ابن عباس رضي الله عنهما د خپل علم په اعتبار سره فرمائي ورنه د سبع(اووهٔ) ثبوت خو په رواياتو کښې موجود دې او د جمهورو په نزد استيفاء سبعه واجب ده البته د امام احمد نه مختلف روايتونه نقل دي(١) د يو يا دواؤ کمي جائز ده(٢) که هير شي نو جائز دی قصداً نهٔ(٣) دريم قول د جمهور په شان د اوو(٧) پوره کول ضروري دی اذا رمى احدكم جمرة العقبة فقد حل له كل شئ الا النساء

---

[١] پس امام مالک رحمه الله په موطاء کښې د دې حديث په تشريح کښې هم دا فرمائي چه د يولسم او دولسم دوه ورځو رمي دې په دولسم تاريخ باندې اوکړي. خو په ترمذی شريف کښې داسې دی (قال مالك ظننت انه قال في الاول منها) خو دا تفسير د موطاء خلاف دې او د مذاهب فقهاء هم، پس يا خو به ونيلې شي چه په ترمذی کښې چه څه دی هغه وهم دې او يا به دا ونيلې شي چه په ترمذی کښې امام مالک دخپل استاذ قول نقل کوی او په موطاء کښې چه دی هغه د امام مالک خپله رائې ده. والله اعلم

[٢] د امام صاحب په نزد د ايام تشريق د رمي وخت د مستحب زوال نه روستو تر غروب پورې دې او بعد الغروب الي طلوع الفجر جائز مع الكراهة دې. او د طلوع نه روستو ناجائز دې، دم به واجبيږی، او د امام مالک په نزد د غروب پورې وقت ادا دې او د هغې نه روستو به قضاء دم واجب شی ګويا د شپې شروع کيدو سره د هغه په نزد رمي قضاء کيږی او د امام صاحب په نزد شپه هم وقت ادا دې. (جزء حجة الوداع)

[٣]: انظر ما قبله،(تحفة الأشراف: ٥٠٣٠)(صحيح)

[٤]: سنن النسائي/الحج ٢٢٧(٣٠٨٠)،(تحفة الأشراف: ٦٥٤١)، وقد أخرجه: مسند احمد(٣٧٢/١)(صحيح)

[۱۹۷۸]() حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ بْنِ زِيَادٍ، حَدَّثَنَا الْحَجَّاجُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عَمْرَةَ بِنْتِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا رَمَى أَحَدُكُمْ جَمْرَةَ الْعَقَبَةِ فَقَدْ حَلَّ لَهُ كُلُّ شَيْءٍ إِلَّا النِّسَاءَ". قَالَ أَبُو دَاوُد: هَذَا حَدِيثٌ ضَعِيفٌ، الْحَجَّاجُ لَمْ يَرَ الزُّهْرِيَّ وَلَمْ يَسْمَعْ مِنْهُ.

دعائشې رضی الله عنها نه روايت دې چه رسول الله او فرمائيل کله چه په تاسو کښې څوک دجمره عقبه رمي اوکړي نودهغه دپاره دښځو(يعنى دخپلو بيبيانو)نه ماسواهرشئ حلال شو. ابوداود وائى داحديث ضعيف دې حجاج زهري لره نه دي ليدلې اونه ئې دهغه نه څه اوريدلي دي.

په حج کښې دوه تحلل وی تحلل اصغر او اکبر

•په حج کښې دوه تحلل وی اصغر اواکبر په اصغر کښې بعضې محظورات احرام حلال وی او په اکبر کښې ټول محظورات تحلل اصغر په کوم څيز سره حاصليږى په دې کښې اختلاف دې د امام مالک صاحب په نزد صرف رمى د جمره عقبه سره كما فى هذا الحديث، ليکن دا حديث ضعيف دې كما قال المصنف او د شافعيه و حنابله په نزد باى اثنين من الامور الثلاثة الرمي والحلق والطواف، يعنى په دې دريو کښې صرف د دواؤ په ذريعې سره حاصليدې شى خواه چې په کښې کوم دوه هم وى او چې کله دريم کار اوکړى نو دې سره به تحلل اکبر حاصل شى(د دې دواړو امامانو په نزد نحر ته په تحلل کښې هيڅ دخل نشته دا ټول تفصيل مونږ د ائمه کرامو د کتب فروع نه نقل کړې دې(كتاب الكافى لابن عبدالبر،وروضة المحتاجين ونيل المآرب) او دحنفيه په نزد تحلل اصغر د مفرد په حق کښې رمى او حلق سره حاصليږى او د متمتع او قارن په حق کښې رمى،ذبح او حلق دريو څيزونو سره حاصليږى. اوس دا چې تحلل اصغر کښې حلال کيدو سره څۀ څيز باقى پاتې کيږى نود حنفيه په نزد صرف ښځې يعنى وطى او دواعى د وطى او د شافعيه و حنابله په نزد وطى و داعى د وطى او عقد نکاح هم او دمالکيه په نزد الاالنساء والطيب والصيد(ليکن طيب صرف مکروه دې په دې کښې فديه نشته او په ښکار کښې فديه ده(كذا فى الكافى لابن عبدالبر)

دا حديث د مالکيه موافق او د جمهور خلاف دې

د تحلل اصغر باره کښې دا حديث الباب د مالکيه موافق دې او د حنفيه بلکه د جمهورو خلاف دې جواب دا دې چې دا حديث په مسند احمد او بيهقى کښې هم شته په هغې کښې هم حلق مذکوردې اذا رميتم وحلقتم فقدحل لكم كل شئ الاالنساء فزال الاشكال بحمد الله تعالى

بَابُ الْحَلْقِ وَالتَّقْصِيرِ

باب:(په حج کښې) د سر خرئيلو يا دکمولو بيان

په حج کښې د سر خرئيلو حکم

حلق يا تقصير د شافعيه په نزد د حج په ارکانو کښې دى د هغوى په کتابونو کښې ليکلې شوې دى چې ترڅو محرم حلق نۀ وى کړې نو د احرام د حکم نه به خارج نۀ وى هميشه دپاره به محرم وى او د باقى ائمه ثلثه په نزد په واجباتو کښې دې

[1]: تفرد به أبو داود،(تحفة الأشراف: ١٧٩٢٦)، وقد أخرجه: مسند احمد(٦/١٤٣)(صحيح)

يو بله اختلافي مسئله

دلته يو اختلافي مسئله دا ده چې حلق په مناسکو کښې دې استباحة محظور دې يعنې حلق د يو عبادت او کار ثواب کيدو په حيثيت سره کولې شي يا دا چې يو مباح کار کول دي چې د احرام په وجه سره محظور او ممنوع شوې وو(اظهار تحلل) امام بخاري رحمه الله يو باب قائم کړې دې باب الحلق والتقصير عندالاحلال حافظ ابن حجر صاحب فرمائي چې امام بخاري صاحب اشاره اوفرمائيله چې حلق نسک دې صرف د تحلل نوم نۀ دې په دې وجه ئې عندالاحلال اوفرمائيلو.

[۱۹۷۹](١) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ نَافِعٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "اللَّهُمَّ ارْحَمِ الْمُحَلِّقِينَ"، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، وَالْمُقَصِّرِينَ؟ قَالَ: "اللَّهُمَّ ارْحَمِ الْمُحَلِّقِينَ"، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، وَالْمُقَصِّرِينَ؟ قَالَ: "وَالْمُقَصِّرِينَ".

دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دې چه رسول الله صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل اې الله په سر خرئيلووالا باندې رحم اوکړې صحابه کرامو اوفرمائيل اې دالله رسوله اودسرکمولو والا دپاره هم(دعا اوفرمائې)نبی عليه السلام اوفرمائيل اې الله په سرخرئيلو والا باندې رحم اوکړې صحابه کرامو اوفرمائيل اې دالله رسوله دسر په کمولو والا باندې هم بياهغه اوفرمائيل اودويښتانو په کمولو والاباندې هم رحم اوکړې.

بله دا چه حلق غوره دې د تقصير نه په دې وجه نبی عليه السلام د محلقين دپاره بار بار دعاء مغفرت اوغوښتله او د مقصرينو دپاره ئې يو ځل هغه هم د صحابه کرامو په درخواست باندې،او د ښځې په حق کښې خو تقصير متعين دې حلق د هغې دپاره حرام او مُثله ده

د سر د حلق مقدار

يو مسئله دلته دا ده چې د حلقِ راس څومره مقدار واجب دې په دې کښې د مذاهب ائمه خلاصه دا ده چې کوم مذاهب په اودس کښې د مسح راس دې نو هغه دلته هم دې يعنی د حنفيه په نزد د سر څلورمې حصې حلق کولو سره به واجب ادا شي اګرچه داسې کول مکروه تحريمی دی ځکه چې دا قزع ده چې ممنوع ده لکه څنګه چې په کتاب اللباس کښې راروان دی او د شافعيه په نزد به دريو ويختو کټ کولو سره واجب ادا شي او د امام مالک و احمد په نزد استيعاب راس ضروری دې ليکن په دې مسئله کښې ملا علی قاری رحمه الله د حنفيه په مسلک باندې بحث او نقد کړېدې او د مالکيه و حنابله مسلک ته ئې ترجيح ورکړې ده ځکه چې د حضور عليه السلام او د صحابه کرامو نه په حلقِ بعض باندې اکتفا کول ثابت نۀ دی او نبی عليه السلام فرمائيلې دی خذوا عنی مناسککم وهو مختار الشيخ ابن الهمام،واجاب عنه الشيخ فی البذل فارجع اليه لو شئت

---

١): صحيح البخاري/الحج ١٤٧(١٧٢٧)، صحيح مسلم/الحج ٥٥(١٣٠١)، سنن ابن ماجه/المناسك ٧١(٣٠٤٣)،(تحفة الأشراف: ٧٩٤٧، ١٨٣٥٤)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الحج ٤٧(٩١٣)، موطا امام مالك/الحج ٦٠(١٨٤)، مسند احمد(٣٤/٢، ٧٩، ١٣٨، ١٥١)، سنن الدارمي/المناسك ٦٤(١٩٤٧)(صحيح)

[١٩٨٠]() حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ يَعْنِي الْإِسْكَنْدَرَانِيَّ، عَنْ مُوسَى بْنِ عُقْبَةَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "حَلَقَ رَأْسَهُ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ".

د ابن عمرنه منقول دي چه رسول الله الوداع په موقع باندې خپل سر خرئيلي وو.

[١٩٨١]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، حَدَّثَنَا حَفْصٌ، عَنْ هِشَامٍ، عَنِ ابْنِ سِيرِينَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "رَمَى جَمْرَةَ الْعَقَبَةِ يَوْمَ النَّحْرِ، ثُمَّ رَجَعَ إِلَى مَنْزِلِهِ بِمِنًى فَدَعَا بِذِبْحٍ فَذُبِحَ، ثُمَّ دَعَا بِالْحَلَّاقِ فَأَخَذَ بِشِقِّ رَأْسِهِ الْأَيْمَنِ فَحَلَقَهُ فَجَعَلَ يَقْسِمُ بَيْنَ مَنْ يَلِيهِ الشَّعْرَةَ وَالشَّعْرَتَيْنِ، ثُمَّ أَخَذَ بِشِقِّ رَأْسِهِ الْأَيْسَرِ فَحَلَقَهُ، ثُمَّ قَالَ: هَا هُنَا أَبُو طَلْحَةَ، فَدَفَعَهُ إِلَى أَبِي طَلْحَةَ".

دانس بن مالك رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چه نبي عليه السلام دلوي اختر په ورځ باندې جمره عقبه وويشتله اوبيانبي عليه السلام په منې كښې خپل قيامګاه ته واپس راغې اوخپله قرباني ئې را اوغوښتله اوذبحه ئې كړه اوبيائې هغه كسان را اوغوښتل چه سرونه ئې خريلي وو. اوبيائې سرخريلو والا را اوغوښتو اودخپل سر مخكنئ حصه ئې وربادي او خريله اوبيا موجودوكسانو هغه ويښته په خپل مينځ كښې يويو او دوه دوه وويشل اوبيائې دخپل سر وروستنى حصه وخريله او بيائې اوفرمائيل چه ايادلته ابوطلحه موجود دې؟ اوټول ويخته ئې ابوطلحه رضي الله عنه ته وركړل.

ثم دعا بالحلاق اسمه معمر بن عبدالله العدوى وقيل خراش بن اميه ليكن حافظ رحمه الله قول اول ته صحيح وئيلي دى او د خراش باره كښې وائې چې دوى په حديبيه كښې حلق كړې وو وراندې په روايت كښې دا دى چې نبي عليه السلام د سر مبارك د يو طرف ويختهٔ حاضرينو كښې تقسيم كړل او دويم طرف ئې حضرت ابوطلحه رضي الله عنه ته وركړل او د صحيح مسلم په يو روايت كښې د دوى په ځائې د ام سليم ذكر دې نو كيدې شي چې كله نبي عليه السلام حضرت ابوطلحه طلب كړو نو هغه وخت هغوى هلته حاضر نه وو په دې وجه نبي عليه السلام ام سليم ته وركړل چې هغوى دا خپل خاوند ته اورسوى بله دا چه د صحيحينو روايات په دې باره كښې هم مختلف دى چې نبي عليه السلام د كوم طرف والا ويختهٔ مبارک تقسيم كړې وو او دكوم طرف هغه ئې حضرت ابوطلحه رضي الله عنه ته وركړې وو د حافظ ابن قيم صاحب تحقيق دا دې چې د ښى طرف والا ويختهٔ مبارک ئې خو تقسيم كړل چې په هغې كښې د ابوطلحه حصه هم وه او د ګس طرف ويختهٔ ئې خالص ابوطلحه ته وركړل والله اعلم

د ويختو د تقسيمولو مصلحت

د ويختو د تقسيمولو باره كښې حضرت شيخ صاحب د علامه زرقانى نه نقل كړې دى انما قسم رسول الله صلى الله عليه وسلم شعره فى اصحابه ليكون بركة باقية بينهم وتذكرة لهم وكانه اشار بذلک الى اقتراب الاجل وخص اباطلحة بالقسمة التفاتاً الى هذا المعنى لانه هوالذى حفر قبره صلى

[1]): صحيح البخاري/المغازي ٧٨(٤٤١٠)، صحيح مسلم/ الحج ٥٥(١٣٠٤)،(تحفة الأشراف: ٨٤٥٤)، وقد أخرجه:(٢/٨٨، ١٢٨)(صحيح)

[2]): صحيح مسلم/الحج ٥٦(١٣٠٥)، سنن الترمذي/الحج ٧٣(٩١٢)، سنن النسائي/ الكبري/ الحج(٤١١٦)،(تحفة الأشراف: ١٤٥٦)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الوضوء ٣٣(١٧١)، مسند احمد(٣/١١١، ٢٠٨، ٢١٤، ٢٥٦)(صحيح)

الله عليه وسلم ولحد له وبني فيه اللبن يعني ويختهٔ مبارک نبي ﷺ څکه تقسيم کړل دي دپاره چې د برکت يو څيز صحابه کرامو سره وی او دغه شان د نبي ﷺ يو يادګار دوی سره وی نو په دې کښې د وفات د نزديکت طرفته هم اشاره اوشوه څکه چې د يادګار مسئله خو د مرګ نه پس وی په ژوند کښې خو اصل څيز مخامخ وی او د ابوطلحه خصوصيت چې يو طرف والا ټول په ټوله دوی ته ورکړې شو په دې وجه کيدې شي چې نبي ﷺ سره متعلق آخري خدمت دوی اوکړو پس دنبي ﷺ دپاره لحد شريف هم دوی جوړ کړې وو(١) نو کيدې شي چې په نبي ﷺ باندې دا خبره د مخکښې نه په څه طريقې سره منکشف شوې وه.

[١٩٨٢](٢) حَدَّثَنَا عُبَيْدُ بْنُ هِشَامٍ أَبُو نُعَيْمٍ الْحَلَبِيُّ، وَعَمْرُو بْنُ عُثْمَانَ الْمَعْنَى، قَالَا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ هِشَامِ بْنِ حَسَّانَ، بِإِسْنَادِهِ بِهَذَا، قَالَ فِيهِ: قَالَ لِلْحَالِقِ: "ابْدَأْ بِشِقِّيَ الْأَيْمَنِ فَاحْلِقْهُ".

سفيان دهشام بن حسان نه په خپل سند سره مذکوره روايت په شان روايت بيان کړې دې مګر ددې اضافې سره چه: سرخربونکي ته ئې ووئيل: چه په خې طرف باندې اول شروع وکړه او اوئې خروه.

[١٩٨٣](٣) حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ، أَخْبَرَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ، أَخْبَرَنَا خَالِدٌ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُسْأَلُ يَوْمَ مِنًى، فَيَقُولُ: "لَا حَرَجَ، فَسَأَلَهُ رَجُلٌ، فَقَالَ: إِنِّي حَلَقْتُ قَبْلَ أَنْ أَذْبَحَ، قَالَ: اذْبَحْ وَلَا حَرَجَ، قَالَ: إِنِّي أَمْسَيْتُ وَلَمْ أَرْمِ، قَالَ: ارْمِ وَلَا حَرَجَ".

دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دې، فرمائي چه دنبي ﷺ نه به دمنى په ورځ باندې تپوسونه کيدل اوهغه به فرمائيل چه هيڅ حرج نشته نو په دې وخت کښې ترې يوکس تپوس وکړو ما د قرباني نه مخکښې سرخريلې دی نبي ﷺ ورته اوفرمائيل قرباني وکړه څه باك نشته، بيائې دوباره عرض وکړوچه ماپه داسې حال کښې ورځ تيره کړه چه دجمراتو رى مې نه ده کړې، نبي ﷺ ورته اوفرمائيل اوس رمى وکړه هيڅ باك نشته.

فقال انى حلقت قبل ان اذبح: د يوم النحر په څلورو کارونو کښې د ترتيب مسئله نزدې په يو باب کښې راروانه ده. انى امسيت ولم ارم.

په رمى کښې تاخير کول جائز دی که نه؟

د يوم النحر په رمى کښې غوره دا ده چې د زوال نه مخکښې اوشي او که د نمر پريوتلو نه مخکښې اوشى نو بيا هم څهٔ حرج نشته البته خلاف اولى ده البته که شپه شوه نو بيا

١) دحديث په کتابونو کښې راځي چه دحضورپاك ﷺ د قبر شريف په باره کښې د صحابؤ اختلاف شو چه څنګه جوړ کړې شی، شق او که لحد، فيصله دا اوشوه چه دواړو سړو ته قاصد اوليږلې شي کوم چه په هغوى کښې مخکښې راشي هغسې به جوړولې شي، ابوطلحه به لحد جوړولو، هغه لاحد وو، او ابوعبيده ابن الجراح شقاق وو، هغه به شق جوړولو، نو ابوطلحه مخکښې راورسيدلو په دې وجه لحد جوړ کړې شو، اوهميشه دپاره ددې سعادت سهرا دهغوى په سر شوه.

٢): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١٤٥٦)(صحيح)

٣): صحيح البخاري/العلم ٢٤(٨٤)، والحج ١٢٥(١٧٢٣)، ١٣٠(١٧٣٥)، والأيمان ١٥(٦٦٦٦)، سنن النسائي/الحج ٢٢٤(٣٠٦٩)، سنن ابن ماجه/المناسك ٧٤(٣٠٥٠)، (تحفة الأشراف: ٦٠٤٧)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/الحج ٥٧(١٣٠٧)، مسند احمد(١/٢١٦، ٢٥٨، ٢٦٩، ٢٩١، ٣٠٠، ٣١١، ٣٢٨)(صحيح)

اختلاف دي د امام مالک یو روایت دا دي چې دم به واجب شي ثوری وائی چې که قصداً ئې داسې اوکړل نو بیا دم واجب دي ورنه نهٔ دي زمونږ په نزد صبح صادق پورې کولې شي که د دې نه پس ئې اوکړه نو د امام صاحب په نزد به دم واجب شي د صاحبینو او د شافعیه و حنابله په نزد دم نهٔ واجبیږی اصل اختلاف په دې کښې دې د امام صاحب او امام مالک صاحب په نزد د هرې ورځ رمی هغې ورځ سره مؤقت یعنی خاص ده د شافعیه وحنابله او صاحبینو په نزد مؤقت نهٔ ده بلکه آخری ورځو پورې رمی کولې شي کما تقدم قريباً

[١٩٨٤]([1]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْحَسَنِ الْعَتَكِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَكْرٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ، قَالَ: بَلَغَنِي عَنْ صَفِيَّةَ بِنْتِ شَيْبَةَ بْنِ عُثْمَانَ، قَالَتْ: أَخْبَرَتْنِي أُمُّ عُثْمَانَ بِنْتُ أَبِي سُفْيَانَ، أَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَيْسَ عَلَى النِّسَاءِ حَلْقٌ، إِنَّمَا عَلَى النِّسَاءِ التَّقْصِيرُ".

دعبدالله بن عباس رضی الله عنهما نه روایت دي فرمائي چه نبي علیه السلام فرمائیلي دي: لازم نه دی په ښځو باندې سرونه خریل لیکن لازم دی په دوی باندې ویخته لنډول.

[١٩٨٥]([2]) حَدَّثَنَا أَبُو يَعْقُوبَ الْبَغْدَادِيُّ ثِقَةٌ، حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ يُوسُفَ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، عَنْ عَبْدِ الْحَمِيدِ بْنِ جُبَيْرِ بْنِ شَيْبَةَ، عَنْ صَفِيَّةَ بِنْتِ شَيْبَةَ، قَالَتْ: أَخْبَرَتْنِي أُمُّ عُثْمَانَ بِنْتُ أَبِي سُفْيَانَ، أَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَيْسَ عَلَى النِّسَاءِ الْحَلْقُ، إِنَّمَا عَلَى النِّسَاءِ التَّقْصِيرُ".

دعبدالله بن عباس رضی الله عنهما نه روایت دي فرمائي چه نبي علیه السلام فرمائیلي دي: لازم نه دی په ښځو باندې سرونه خریل لیکن لازم دی په دوی باندې ویخته لنډول.

بَابُ الْعُمْرَةِ

بابـ د عمرې د احکامو بیان

عمرې سره متعلق بعضې فقهي مسائل

دا مخکښې تیر شو چې عمرې ته حج اصغر وئیلې شي د عمرې لغوی معنی ده زیارت کول او شریعت کښې د بیت الحرام زیارت کول د طواف او سعی دپاره په عمره کښې دوه فرض دی او دوه واجب احرام او طواف د بیت الله شریف فرض دی او سعی او حلق واجب دی وهذا عندنا یعنی دا زمونږ په نزد او د شافعیه په نزد د عمرې ارکان څلور دی نیت کول، طواف کول، سعی او حلق یا تقصیر کول او احرام په واجباتو کښې دې عمره د شافعیه و حنابله د مشهور قول مطابق فرض عین ده د حج په شان د شافعیه او حنابله په کتابونو کښې د دې خبرې وضاحت او صراحت شته هسې یو روایت د دوی دواړو په نزد د عدم وجوب هم دې د مالکیه په نزد سنت مؤکد ده د حنفیه په نزد دوه اقوال دی د سنت کیدو اود واجب کیدو بعضې فقهاؤ (کصاحب البحر) سنت کیدو ته ترجیح ورکړې ده وقال هو ظاهر الرواية او بعضو (کصاحب البدائع و قاضی خان) وجوب ته ترجیح ورکړې ده لیکن د فرضیت هیڅ یو قول زمونږ په نزد نشته چې څوک د فرضیت قائل دی نو د هغوی استدلال د اتموالحج والعمرة

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٦٥٧٦)، وقد أخرجه: سنن الدارمي/المناسك ٦٣(١٩٤٦)(صحيح)

[2]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٦٥٧٦)(صحيح)

ﷲ ايت نه دې د دې نه علاوه بعضې ضعيف احاديثو نه چې په هغې کښې د فرضيت تصريح ده حالانکه د ضعيف احاديثو نه د فرضيت ثبوت مشکل دې دغه شان استدلال په آيت سره هم مخدوش دې اذ لا يلزم من وجوب الاتمام وجوب الابتداء د سنت قائلين وائی هغه احاديث مشهوره چې په کوم کښې د اسلام فرائض شمار کړې شوې دی مثل بنی الاسلام علی خمس وغيره کښې د حج سره عمره مذکور نۀ ده(اوجز)

د عمره احرام به د آفاقی دپاره د ميقات د حج نه وی او د حلی دپاره به د حل نه وی او چې کوم کس په مکه مکرمه کښې وی يا په حرم کښې داخل وی نو هغۀ دپاره حل سره نزدې، دی دپاره چې جمع بين الحل والحرم[1] اوموندلې شی لکه څنګه چې نبی عليه السلام بی بی عائشه رضی الله عنها د محصب(چې د حرم شريف په حد کښې دی) نه احرام دپاره تنعيم ته ليږلې وه دغه شان د عمرې دپاره څه وخت هم متعين نۀ دی پوره کال کښې کيدې شی صرف پنځو ورځو کښې کول مکروه دی د نهمی ذی الحجه نه د ايام تشريق آخره پورې(يعنی ديارلسمه ذی الحجه)

[١٩٨٦](٢) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا مَخْلَدُ بْنُ يَزِيدَ، وَيَحْيَى بْنُ زَكَرِيَّا، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ بْنِ خَالِدٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: "اعْتَمَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَبْلَ أَنْ يَحُجَّ".

ابن عمر رضی الله عنهما نه روايت دې فرمائی چه نبی عليه السلام دحج نه مخکښې عمره وکړله.

اعتمر رسول الله صلى الله عليه وسلم قبل ان يحج دا حديث شريف دلته مختصر دې پوره حديث شريف په مسند احمد کښې دې هغه دا چې يو سړی د ابن عمر رضی الله عنه نه سوال اوکړو چې ما اوسه پورې حج نۀ دې کړې نو آيا د حج نه مخکښې عمره کولې شم په دې باندې هغوی دا اوفرمائيل چې کوم څه دلته مذکوردی ياد ساتئ چې د باب الاقران نه وړاندې يو حديث تير شوې دې چې يو سړې د حضرت عمر رضی الله عنه په خدمت کښې حاضر شو او عرض ئې اوکړو چې ما د نبی عليه السلام نه په مرض الوفات کښې اوريدلې دی ينهى عن العمرة قبل الحج، چې د حج نه مخکښې عمره کولو نه به ئې منع فرمائيله په دې باندې هلته کلام تير شوې دې

[١٩٨٧](٣) حَدَّثَنَا هَنَّادُ بْنُ السَّرِيِّ، عَنِ ابْنِ أَبِي زَائِدَةَ، حَدَّثَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ، وَمُحَمَّدُ بْنُ إِسْحَاقَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ طَاوُسٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "وَاللَّهِ مَا أَعْمَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَائِشَةَ فِي ذِي الْحِجَّةِ إِلَّا لِيَقْطَعَ بِذَلِكَ أَمْرَ أَهْلِ الشِّرْكِ، فَإِنَّ هَذَا الْحَيَّ مِنْ قُرَيْشٍ وَمَنْ دَانَ دِينَهُمْ كَانُوا يَقُولُونَ: إِذَا عَفَا الْوَبَرْ وَبَرَأَ الدَّبَرْ وَدَخَلَ صَفَرْ فَقَدْ حَلَّتِ الْعُمْرَةُ لِمَنِ اعْتَمَرْ، فَكَانُوا يُحَرِّمُونَ الْعُمْرَةَ حَتَّى يَنْسَلِخَ ذُو الْحِجَّةِ وَالْمُحَرَّمُ"

دعبدالله بن عباس رضی الله عنهما نه روايت دې فرمائی چه په الله قسم نبی عليه السلام په ذی الحجه کښې په عائشه رضی الله عنها باندې عمره نه وه کړی مګرددی دپاره چه دمشرکانو رسم مات شی څکه چه

[1]) اوجز چونکه په عرفات کښې کيږی کوم چه خارج دې دحرم نه او حل دې، په دې وجه مکی دحج احرام دحرم نه تړی چه جمع بين الحل والحرم اوشی.

[2]): صحيح البخاري/العمرة ٢(١٧٧٤)،(تحفة الأشراف: ٧٣٤٥)(صحيح)

[3]): تفرد به أبو داود،(تحفة الأشراف: ٥٧٢٢)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الحج ٣٤(١٥٦٤)، ومناقب الأنصار ٢٦(٣٨٣٢)، صحيح مسلم/الحج ٣١(١٢٤٠)، سنن النسائي/الحج ٧٧(٢٨١٦)، ١٠٨(٢٨٧٠)، مسند احمد(١/٢٥٢، ٢٦١)(حسن)

قریشیان اوکوم خلق چه ددوی په طریقه روان وو. وئیل به ئې چه عمره کول په هغه وخت کښې درست کوی کله چه داوښ ویښته لوی شی اوداوښ دخیټې و زخم جوړ شی اوصفری میاشت شروع شی(مطلب و دادې چه دحرمت په میاشتو کښې ئې عمره کول ناجائز ګڼړل اوداچه عمره کول ئې حرام ګڼړل ترڅوچه دذی الحجی اومحرم میاشت نه وی تیره شوې)

کانوا یقولون اذا عفا الوبر[1] وبر (دا مضمون زمونږ په نزد د دې نه مخکښې غالباً د فسخ الحج الی العمره په بحث کښې تیر شوې دې) د دې جملو ترجمه دا ده چې کله د اوښانو د شا ویختهٔ غټې شی او د هغوی د شاګانو (ملاګانو) زخمونه صحیح شی(چې د حج په زمانه کښې د سفر د ډیروالی په وجه د هغوی په شاګانو کښې پیدا شوې وو) او د صفر میاشت داخل شی نو اوس د عمره کونکی دپاره عمره کول حلال او جائز کیږی

تنبیه: د صحیحینو په روایت کښې د دخل صفر په ځائې انسلخ صفر دې یعنی چې کله د صفر میاشت تیره شی او دلته دی دخل صفر جواب دا دې چې په ابوداؤد کښې د صفر نه مراداصلی صفر دې او د صحیحینو په روایت کښې د صفر نه مراد نسئ والا صفر دې لکه څنګه چې راځی یجعلون المحرم صفراً لهذا هلته د صفر نه مراد محرم دې په دې وجه یوځایځ کښې اووئیلې شو انسلاخ محرم او بل ځائې کښې اووئیلې شو دخول صفر نو د یو بل موافق شو اوس وړاندې مصنف د یو صحابیه قصه نقل کوی چې هغې ته ام معقل وئیلې شی چې په هغې کښې د رمضان المبارک د عمرې فضیلت مذکور دې

[١٩٨٨] ([2]) حَدَّثَنَا أَبُو كَامِلٍ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ مُهَاجِرٍ، عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، أَخْبَرَنِي رَسُولُ مَرْوَانَ الَّذِي أُرْسِلَ إِلَى أُمِّ مَعْقِلٍ، قَالَتْ: كَانَ أَبُو مَعْقِلٍ حَاجًّا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَلَمَّا قَدِمَ، قَالَتْ أُمُّ مَعْقِلٍ: قَدْ عَلِمْتَ أَنَّ عَلَيَّ حَجَّةً فَانْطَلَقَا يَمْشِيَانِ حَتَّى دَخَلَا عَلَيْهِ، فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّ عَلَيَّ حَجَّةً وَإِنَّ لِأَبِي مَعْقِلٍ بَكْرًا، قَالَ أَبُو مَعْقِلٍ: صَدَقَتْ جَعَلْتُهُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَعْطِهَا فَلْتَحُجَّ عَلَيْهِ فَإِنَّهُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ"، فَأَعْطَاهَا الْبَكْرَ، فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنِّي امْرَأَةٌ قَدْ كَبِرْتُ وَسَقِمْتُ، فَهَلْ مِنْ عَمَلٍ يُجْزِءُ عَنِّي مِنْ حَجَّتِي؟ قَالَ: "عُمْرَةٌ فِي رَمَضَانَ تُجْزِءُ حَجَّةً".

د ابوبکر بن عبدالرحمن رحمه الله نه روایت تی دې فرمائی چه ماته دمروان پیغام وړونکی خبر راکړې دې کوم چه دام معقل خواته تلې وو هغه دام معقل نه نقل کړی دی چه ابومعقل دنبی علیه السلام سره دحج کولو اراده وکړه هرکله چه کورته راغې ام معقل ورته ووئیل چه آیا تاته معلومه ده چه په ما باندې حج فرض شوې دې؟ نودواړه نبی علیه السلام ته روان شول تردې چه وړورسیدل ام معقل اووئیل اې دالله رسوله په ما باندې حج فرض شوې به دې اودابومعقل سره صرف یو اوښ دې ابومعقل تو اووئیل دی ریښتیا اووئیل اوهغه اوښ مې دالله په لار کښې وقف کړې دې نبی علیه السلام اوفرمائیل دې ته ئې ورکړه چه داپرې حج ته لاړه شی څکه چه

[1]) قال النووي وهذه الالفاظ تقرأ ساكنة الراء لا رادة السبجع.اه.

[2]): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٨٣٥٩)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الحج ٩٥(٩٣٩)، سنن النسائي/ الكبري/ الحج(٤٢٢٧)، سنن ابن ماجه/المناسك ٤٥(٢٩٩٣)، مسند احمد(٤٠٥/٦، ٤٠٦)(حسن)

هغه فی سبیل الله دي، ابومعقل ورته اوښ ورکړو ام معقل بیا عرض اوکړو اې د الله رسوله زه بوډۍ شوی یم او مریضه هم یم ایا کوم داسې عمل شته زما دپاره دحج بدل جوړ شی؟ نبی ﷺ اوفرمائیل په رمضان کښې عمره کول دحج بدل جوړیدلې شي.

اخبرنی رسول مروان الذی ارسل الی ام معقل قالت مروان چې کوم قاصدام معقل ته لیږلې وو(د هغوی د حج د قصې د تپوس کولو دپاره) هغۀ ماته خبر راکړو د هغې مضمون چې وړاندې روایت کښې راځی

تشریح: قوله: قالت کان ابومعقلٍ حاجاً مع رسول الله صلی الله علیه وسلم ...الخ:

د رمضان المبارک د عمرې سره متعلق د ام معقل رضی الله عنها قصه او دغه شان نورې قصې

ام معقل رضی الله عنها خپله قصه داسې بیان کړه چې ماته دا خبره معلومه شوه چې زما د خاوند ابومعقل رضی الله عنه اراده نبی ﷺ سره د حج کولو ده نو کله چې هغوی کور ته راغلل نو ما ورته اووې چې تاسو ته دا خبره معلومه ده چې په ما باندې حج فرض دي(لهذا ما هم ځان سره بوځه) بیا د ا دواړه(ابومعقل او ام معقل) نبی ﷺ ته ورغلل هلته چې لاړل نو ام معقل نبی ﷺ ته عرض اوکړو چې یا رسول الله! په ما باندې حج واجب دي او ابومعقل سره یو ځوان اوښ دې(چې په هغې باندې زۀ حج ته تلې شم) په دې باندې ابومعقل اووې بیشکه ام معقل رښتیا وائی لیکن ما خو هغه اوښ د جهاد فی سبیل الله دپاره وقف کړې دې د دې په اوریدلو سره نبی ﷺ اوفرمائیل اې ابومعقل! هغه اوښ تۀ دې ته ورکړه حج هم فی سبیل الله دي نو هغوی هغه اوښ ام معقل ته ورکړو(لیکن کله چې د سورلۍ انتظام اوشو) نو وې وئیل یا رسول الله ! زۀ بوډۍ شوې یم او بیماره هم یم نو آیا یو بل عمل داسې شته چې د حج بدل جوړ شی نبی ﷺ اوفرمائیل عمرة فی رمضان تعدل حجةً یعنی په رمضان المبارک کښې یو عمره کول د حج برابر ده په دې حدیث مبارک کښې په رمضان المبارک کښې د عمرې کولو ډیر لوې فضیلت بیان کړې شوې دې یعنی چې دغه عمره د حج برابر ده او په دویم طریق کښې دا دی چې هغه عمره ماسره د حج کولو برابر ده یعنی د ثواب او فضیلت په لحاظ سره او دا مطلب نۀ دې چې د رمضان المبارک عمره د فرض حج قائم مقام کیږی په دې وجه د علماؤ په دې باندې اجماع ده چې د رمضان المبارک په عمرې سره حج نۀ ساقطیږی امام ترمذی صاحب رحمه الله فرمائی دا هم داسې ده لکه څنګه چې په حدیث شریف کښې راځی قل هو الله تعدل ثلث القرآن امام بخاری صاحب په دې حدیث باندې مستقل ترجمة الباب قائم کړېدې باب فی عمرة رمضان لیکن چې کومه قصه ئې ذکر کړې ده هغه د دې نه مختلف ده د بخاری په یو روایت کښې خو داسې دی چې نبی ﷺ یو انصاری ښځې ته اوفرمائیل او په یو روایت کښې دا دی چې نبی ﷺ ام سنان ته اوفرمائیل چې تۀ مونږ سره حج ته ولې لانۀ ړې هغوی عرض اوکړو چې مونږ سره دوه اوښان وو په یو باندې خو زما خاوند او ځوې حج ته لاړل او دویم اوښ چې وو نو هغه د پټې د اوبۀ خور دپاره وو په

دې وجه زۀ تاسو سره حج ته لانۀ ړم په دې باندې نبي ﷺ اوفرمائيل چې کله درمضان المبارک مياشت راشي نو په هغې کښې عمره اوکړه فان عمرة في رمضان حجة اهـ په صحيح مسلم کښې هم دا روايت دغه شان دې امام بخاري دا قصه او حديث دوه ځايونو کښې ذکر کړېدې يو ځائې کښې خو ئې په دې باندې باب في عمرة رمضان او دويم ځائې کښې باب حج النساء قائم کړې دې ګويا په رمضان المبارک کښې عمره کول د ښځو حج کول دی

د دې نه پس ځان پوهول پکار دی چې امام ابوداؤد اول خو دا قصه په خپله د ام معقل په روايت بيان کړې ده د دې نه پس ئې د ابن عباس رضي الله عنهما په روايت بيان کړېده ليکن په هغې کښې د ام معقل د نوم وضاحت نشته مطلق امرأة يعنی ښځه مذکور ده او په صحيحينو کښې هم دا روايت د ابن عباس په روايت سره دې ليکن د صحيحينو او د ابوداؤد په سياق کښې فرق دې کما ترى دغه شان حافظ په فتح الباري جلد ۳صفحه ۴۸۰ کښې داسې قسم څو قصې ذکر کړې دی د حديث د نورو کتابونو نه په بعضو کښې د قصې نسبت ام سليم طرفته کړې شوې دې او په بعضو کښې د ام طليق طرفته دغه شان هغوى د ابوداؤد او نسائي حواله ورکولو سره د ام معقل دا قصه هم نقل کړې ده حافظ صاحب فرمائي ظاهره دا ده چې دا قصې جدا جدا او مستقل دی والله تعالى اعلم بله دا چې مصنف د ام معقل قصه د نوم په تصريح او وضاحت سره په دواړو طريقو سره ذکر کړې ده ليکن د دواړو طريقو سياق بظاهر مختلف دې او د توجيه او د تاويل محتاج دی

[١٩٨٩](1) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَوْفٍ الطَّائِيُّ، حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ خَالِدٍ الْوَهْبِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْحَاقَ، عَنْ عِيسَى بْنِ مَعْقِلِ بْنِ أُمِّ مَعْقِلٍ الْأَسَدِيِّ أَسَدِ خُزَيْمَةَ، حَدَّثَنِي يُوسُفُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَلَامٍ، عَنْ جَدَّتِهِ أُمِّ مَعْقِلٍ، قَالَتْ: "لَمَّا حَجَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَجَّةَ الْوَدَاعِ وَكَانَ لَنَا جَمَلٌ فَجَعَلَهُ أَبُو مَعْقِلٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَأَصَابَنَا مَرَضٌ وَهَلَكَ أَبُو مَعْقِلٍ وَخَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَلَمَّا فَرَغَ مِنْ حَجِّهِ جِئْتُهُ، فَقَالَ: يَا أُمَّ مَعْقِلٍ، مَا مَنَعَكِ أَنْ تَخْرُجِي مَعَنَا؟ قَالَتْ: لَقَدْ تَهَيَّأْنَا فَهَلَكَ أَبُو مَعْقِلٍ وَكَانَ لَنَا جَمَلٌ هُوَ الَّذِي نَحُجُّ عَلَيْهِ فَأَوْصَى بِهِ أَبُو مَعْقِلٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، قَالَ: فَهَلَّا خَرَجْتِ عَلَيْهِ، فَإِنَّ الْحَجَّ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، فَأَمَّا إِذْ فَاتَتْكِ هَذِهِ الْحَجَّةُ مَعَنَا فَاعْتَمِرِي فِي رَمَضَانَ، فَإِنَّهَا كَحَجَّةٍ، فَكَانَتْ تَقُولُ: الْحَجُّ حَجَّةٌ وَالْعُمْرَةُ عُمْرَةٌ، وَقَدْ قَالَ هَذَا لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، مَا أَدْرِي أَلِيَ خَاصَّةً".

د ام معقل رضي الله عنها نه روايت دې فرمائي هرکله چه نبي ﷺ حجة الوداع وکړو اوزمونږ يو اوښ وو ابومعقل دا الله په لارکښې وقف کړې وو او مونږ بيماران شوى وو او مرګ ته نزدې شوى وو په دې وخت کښې ابومعقل وفات شو اونبي ﷺ حج ته لاړو هرکله چه دحج نه واپس راغې ماته ئې اووئيل اې ام معقل زمونږ سره په څه وجه باندې حج ته نه وى تلې؟ ام معقل اووئيل ماخودحج دپاره ځان تيارکړې وو خو ابومعقل مړشو او زمونږ سره صرف يو اوښ وو په کوم باندې چه به مونږه دحج په وخت کښې سورلى کوله ابومعقل دمرکيدو په وخت کښې وصيت اوکړو چه دادى دا الله په لارکښې وقف شي نبي ﷺ اوفرمائيل په دغه اوښ باندې سوره حج ته ولې لانړې؟ ځکه چه حج هم في سبيل الله دې خير حج خودرنه فوت شو خو دنورو خلقوسره په رمضان کښې عمره وکړه ځکه چه په رمضان کښې عمره دحج

(1): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١١٨٥٧، ١٨٣٦١)(صحيح لغيره)

برابروی، أم معقل به وئیل حج خوحج وی اوعمره، عمره وی(یعنی په دواړه کښې فرق دې) لیکن نبی ﷺ چه داحکم کړې وو ماته معلومه نه ده چه داصرف زماد پاره خاص وو اوکه د ټولو مسلمانانو دپاره عام وو.

[١٩٩٠](١) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، وَحَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ، عَنْ عَامِرٍ الْأَحْوَلِ، عَنْ بَكْرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: أَرَادَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْحَجَّ، فَقَالَتِ امْرَأَةٌ لِزَوْجِهَا: أَحِجَّنِي مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى جَمَلِكَ، فَقَالَ: مَا عِنْدِي مَا أُحِجُّكِ عَلَيْهِ، قَالَتْ: أَحِجَّنِي عَلَى جَمَلِكَ فُلَانٍ، قَالَ: ذَاكَ حَبِيسٌ فِي سَبِيلِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ، فَأَتَى رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: إِنَّ امْرَأَتِي تَقْرَأُ عَلَيْكَ السَّلَامَ وَرَحْمَةَ اللَّهِ وَإِنَّهَا سَأَلَتْنِي الْحَجَّ مَعَكَ، قَالَتْ: أَحِجَّنِي مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقُلْتُ: مَا عِنْدِي مَا أُحِجُّكِ عَلَيْهِ، فَقَالَتْ: أَحِجَّنِي عَلَى جَمَلِكَ فُلَانٍ، فَقُلْتُ: ذَاكَ حَبِيسٌ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، فَقَالَ: أَمَا إِنَّكَ لَوْ أَحْجَجْتَهَا عَلَيْهِ كَانَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، قَالَ: وَإِنَّهَا أَمَرَتْنِي أَنْ أَسْأَلَكَ مَا يَعْدِلُ حَجَّةً مَعَكَ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَقْرِئْهَا السَّلَامَ وَرَحْمَةَ اللَّهِ وَبَرَكَاتِهِ وَأَخْبِرْهَا أَنَّهَا تَعْدِلُ حَجَّةً مَعِي يَعْنِي عُمْرَةً فِي رَمَضَانَ".

دعبدالله بن عباس رضی الله عنهما نه روایت دې فرمائی کله چه نبی ﷺ دحج اراده اوکړه نويوې ښځې خپل خاوند ته اووئیل ماهم دنبی ﷺ سره حج کولوته پریږده ستاپه هغه اوښ باندې، خاوند ورته اووئیل زماسره دسورلۍ دپاره څه نشته چه ته پرې حج اوکړې هغې اووئیل ستاپه دی اوښ باندې چه فلانې دې، خاوند ئې اووئیل هغه دالله په لیه لارکښې بندکړې شوې دې او په دې وخت کښې به دنبی ﷺ په خدمت کښې حاضر شو سول اوعرض ئې اوکړو چه زماښځه په تاباندې سلام وائی اوهغې زمانه ستاسره دحج کولو اجازت غوښتلې دې دن ماورته اووئیل زماسره دحج دپاره دسورلۍ انتظام نشته هغې راته اووئیل ستاپه دی فلانی اوښ باندې ما ورته اووئیل هغه دالله په لار کښې بندې، نبی ﷺ ورته په جواب کښې اوفرمائیل که چرې په دې اوښ باندې دی حج کړې وې نودا به هم فی حمة سبیل الله وې ابو معقل اووئیل هغې ماته داحکم کړې دې چه دهغې دپاره ستانه تپوس اوکړم چه آیا کوم بل عمل داسې شته چه دحج برابروی نبی ﷺ اوفرمائیل زماسلام ورته اووایه اودالله تعالی رحمتونه اوبرکتونه دی وی په هغې باندې اوخبر ورته ورکړه چه په رمضان کښې عمره کول زماسره دحج کولو برابر دې.

تشریح: قوله: فقلت ما عندی ما احجک علیه قالت احجنی علی جملک فلان ما اووې ماسره داسې سورلۍ نشته چې په تا باندې پرې حج اوکړم هغوی اووئیل چې په ما باندې په فلانی اوښ باندې حج اوکړه

[١٩٩١](٢) حَدَّثَنَا عَبْدُ الْأَعْلَى بْنُ حَمَّادٍ، حَدَّثَنَا دَاوُدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "اعْتَمَرَ عُمْرَتَيْنِ: عُمْرَةً فِي ذِي الْقِعْدَةِ، وَعُمْرَةً فِي شَوَّالٍ".

د ام المومنین عائشة رضی الله عنها نه روایت دې یقة فرمائی چه نبی ﷺ دوه عمرې وکړلی یوه عمره

(١): تفرد به أبو داود(تحفة الأشراف: ٥٣٧٤)، وقد أخرجه:(صحيح البخاري/العمرة ٤(١٧٨٢)، صحيح مسلم/الحج ٣٦(٢٢١) بدون ذكر: «أن الحج في سبيل الله»(حسن صحيح)

(٢): تفرد به أبو داود،(تحفة الأشراف: ١٦٨٨٩)(صحيح)

په ذی القعدة میاشت کښې اوبله په شوال میاشت کښې.

تشریح: قوله: اعتمر عمرتين عمرة فی ذی قعده وعمرة فی شوال :

په دې روایت کښې دا دی چې نبی ﷺ دوه عمرې اوکړې یو په ذی قعده کښې او دویمه په شوال کښې.

د نبی علیه السلام د عمرو تعداد او د هغې اجمالی بیان

ځان پوهول پکار دی چې په ډیرو او مشهورو روایتونو کښې دا دی چې نبی ﷺ څلور عمرې کړې دی(١) عمرة الحدیبیه ٦ هجری کښې(٢) عمرة القضاء په ٧ هجری کښې(٣) عمرة الجعرانه ٨ هجری کښې(۴) هغه عمره چې نبی ﷺ حج سره اوکړه ځکه چې د نبی ﷺ حج حج قران وو په دې څلورو کښې اولنۍ یعنې عمرة الحديبيه عمره حکمی ده حقیقی نه ده ځکه چې په دې کښې نبی ﷺ ته احصار واقع شوې وو د کفار مکه له طرفه چې په هغې کال باندې نبی ﷺ عمره نه وه کړې شوې لیکن چونکه احرام ئې هم تړلې وو او د هدی قربانی هم په حدیبیه کښې ئې کړې وه دویم دا چې د عمرې ئې پخه اراده وه په دې وجه دا هم په عمره کښې شمارلې شی

په دویمه دې خبره بآندې هم ځان پوهه کړئ چې د نبی ﷺ دا ټولې عمرې په ذی قعده کښې شوې دی لیکن په دې حدیث کښې حضرت عائشه ﷺ صرف دوه عمرې بیانوی او دې سره دا هم فرمائی چې په دې کښې یو په شوال کښې اوشوه لهذا دلته دوه اشکاله شو یو په تعدا د کښې او دویمه د میاشت باره کښې جواب دا دې چې داسې معلومیږی چې حضرت عائشه ﷺ صرف عمرة القضاء او عمرة الجعرانه اخستلې دی عمرة الحديبيه ئې ځکه پریخودله چې هغه عمره حکمی ده او د حج والا عمره ئې ځکه پریخودله چې هغه د حج په ضمن کښې شوې وه او د عمره شوال نه مراد عمرة الجعرانه ده ځکه چې د دې عمرې صورت دا شوې وو چې د فتح مکه نه پس د شوال په میاشت کښې نبی ﷺ د مکې مکرمې نه روان شو د غزوه حنین دپاره، بیا د دې غزوې نه فراغت نه پس چې کله د جعرانه مقام ته اورسیدل او هلته ئې د حنین غنیمتونه تقسیم کړل

عمره جعرانه

نو چونکه د هغې ځائې نه مکه مکرمه نزدې ده پیغمبر ﷺ مناسب اونۀ ګڼړل چې د عمرې کولو نه بغیر د دې ځائې نه سیدهه مدینې منورې ته روان شی([1]) په دې وجه د واپسۍ نه یو ورځ مخکښې د شپې نبی ﷺ د جعرانه نه د عمرې احرام اوتړلو او مکې مکرمې ته ئې تشریف راوړو په شپه کښې ئې د عمرې افعال ادا کړل د فراغت نه پس هغه وخت جعرانه ته واپس راغلل د سحر مونځ ئې دلته اوکړو چونکه د شپې په شروع کښې هم دوی په جعرانه کښې وو او بیا د سحر کیدو نه مخکښې جعرانې ته راؤرسیدل په دې وجه راوی وائی لکه

[1] یوقول په دې کښې دادې د حضورپاک ﷺ مقصود په اصل کښې عمره کول وو، چونکه اوس نزدې مکه فتح شوې وه په دې وجه هلته رسیدلو سره د فتح نه پس د حالاتو جائزه اخستل وو.

خنګه چې وړاندې راغی فاصبح بالجعرانة کبائت (١) (سحر نبی ﷺ په جعرانه کښې په دې طور سره چې ګویا شپه ئې هم دلته تیره کړه، حالانکه پوره شپه ئې دلته نهٔ وه تیره کړې بلکه هغه شپه خو په عمره کولو او مکې مکرمې ته په تللو کښې تیره شوه دې تفصیل سره زمونږ غرض دا دې چې د کوم سفر په ضمن کښې دا عمره اوشوه یعنې غزوه حنین د هغه سفر ابتداء د شوال په میاشت کښې شوې وه په دې وجه دې عمرې ته د شوال عمره وئیلې شي ورنه حقیقت کښې دا عمره هم د نبی ﷺ د نورو عمرو په شان په ذی قعده کښې شوې وه

فائده : حضرت شیخ صاحب نورالله مرقده چې څنګه جزء حجة الوداع رساله تصنیف کړه دغه شان ئې د دې تکمله جزء العمرات هم تالیف کړې ده چې په هغې کښې د نبی ﷺ د ټولو عمرو تفصیل مذکور دې په دغه رساله کښې ئې د عمره جعرانه بیان لیکلې دې چې چونکه دا عمره د شپې په وخت کښې شوې وه په دې وجه بعضې صحابه کرام د دې نه بې خبره پاتې شو لکه صحیح مسلم کښې د نافع نه روایت دې ذکر عند ابن عمر رضی الله تعالی عنه عمرة رسول الله صلی الله علیه وسلم من الجعرانة، فقال لم یعتمرمنها او په صحیح بخاری کښې داسې دی نافع رضی الله عنه فرمائی چې حضور ﷺ هیڅ یو عمره د جعرانه نه نهٔ ده کړې او که دا عمره پیغمبر ﷺ کړې وې نو ابن عمر به ترینه خبر وو

[١٩٩٢](٢) حَدَّثَنَا النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، حَدَّثَنَا أَبُو إِسْحَاقَ، عَنْ مُجَاهِدٍ، قَالَ: "سُئِلَ ابْنُ عُمَرَ كَمْ اعْتَمَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ فَقَالَ: مَرَّتَيْنِ"، فَقَالَتْ عَائِشَةُ: "لَقَدْ عَلِمَ ابْنُ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ اعْتَمَرَ ثَلَاثًا، سِوَى الَّتِي قَرَنَهَا بِحَجَّةِ الْوَدَاعِ".

د مجاهدنه روایت دې فرمائی چه دعبدالله بن از عمر رضی الله عنهما نه تپوس اوکړې شو چه نبی ﷺ څو عمری کړی وی هغه اوفرمائیل: درې عمرې علاوه دهغې نه چه په حجة الوداع کښې ئې کړی وه.

[١٩٩٣](٣) حَدَّثَنَا النُّفَيْلِيُّ، وَقُتَيْبَةُ، قَالَا: حَدَّثَنَا دَاوُدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْعَطَّارُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "اعْتَمَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرْبَعَ عُمَرٍ: عُمْرَةَ الْحُدَيْبِيَةِ، وَالثَّانِيَةَ حِينَ تَوَاطَئُوا عَلَى عُمْرَةٍ مِنْ قَابِلٍ، وَالثَّالِثَةَ مِنَ الْجِعْرَانَةِ، وَالرَّابِعَةَ الَّتِي قَرَنَ مَعَ حَجَّتِهِ".

دعبدالله بن عباس رضی الله عنهما نه روایت دې فرمائی چه نبی ﷺ څلور عمری کړی وی د یوه عمره دحدیبی دویمه دقضا عمره دریمه دجعرانه و مقام عمره اوڅلورمه هغه وه چه دخپل حج سره ئې کړی وه.

---

(١) صحیح هم دغه دی، لیکن د ابوداؤد شریف په روایت کښې ددې په ځای فاصبح بمکة کبائت، دې کما سیأتي التنبیه علیه.

(٢): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٧٣٨٤، ١٧٥٧٤)(ضعیف)

(٣): سنن الترمذي/الحج ٧(٨١٦)، سنن ابن ماجه/المناسك ٥٠(٣٠٠٣)، (تحفة الأشراف: ٦١٦٨)، وقد أخرجه: مسند احمد(٢٤٦/١، ٣٢١)، سنن الدارمي/المناسك ٣٩(١٩٠٠)(صحیح)

[١٩٩٤]([1]) حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ الطَّيَالِسِيُّ، وَهُدْبَةُ بْنُ خَالِدٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا هَمَّامٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "اعْتَمَرَ أَرْبَعَ عُمَرٍ: كُلُّهُنَّ فِي ذِي الْقِعْدَةِ إِلَّا الَّتِي مَعَ حَجَّتِهِ". قَالَ أَبُو دَاوُد: أَتْقَنْتُ مِنْ هَاهُنَا مِنْ هُدْبَةَ، وَسَمِعْتُهُ مِنْ أَبِي الْوَلِيدِ، وَلَمْ أَضْبِطْهُ عُمْرَةً زَمَنَ الْحُدَيْبِيَةِ أَوْ مِنَ الْحُدَيْبِيَةِ وَعُمْرَةَ الْقَضَاءِ فِي ذِي الْقِعْدَةِ وَعُمْرَةً مِنَ الْجِعْرَانَةِ حَيْثُ قَسَمَ غَنَائِمَ حُنَيْنٍ فِي ذِي الْقِعْدَةِ وَعُمْرَةً مَعَ حَجَّتِهِ.

انس بن مالك رضي الله عنه نه روایت دې فرمائی - چه نبی علیه السلام څلور عمرې کړې وې تولې په ذی القعده کې دی مګرعلاوه دهغې نه کومه چه ئې و دخپل حج سره کړې وه. امام ابوداود فرمائی ددې نه پس ماته دابو الولید الفاظ یاد نه دی لیکن دخطبه الفاظ محفوظ نه دی چه هغه زمن الحدیبیة یا من الحدیبیة، دحدیبی عمره اودجعرانی عمره دواړه نبی علیه السلام په ذی القعه کښې کړې وې، کله چه نبی علیه السلام دذی القعدة په میاشت کښې دحنین دغنیمت مال تقسیم کړو نو دنبی علیه السلام دحج سره یوه عمره وه.

بَابُ الْمُهِلَّةِ بِالْعُمْرَةِ تَحِيضُ فَيُدْرِكُهَا الْحَجُّ فَتَنْقُضُ عُمْرَتَهَا وَتُهِلُّ بِالْحَجِّ هَلْ تَقْضِي عُمْرَتَهَا:

باب: کومه زنانه چه دعمری دپاره احرام وتړی او بیماری ئې راشی اودحج ورځی شروع شی نوعمره دی پریږدی اودحج دپاره دی احرام وتړی اوبیادی دعمری قضا راوړی

[١٩٩٥]([2]) حَدَّثَنَا عَبْدُ الْأَعْلَى بْنُ حَمَّادٍ، حَدَّثَنَا دَاوُدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُثْمَانَ بْنِ خُثَيْمٍ، عَنْ يُوسُفَ بْنِ مَاهَكَ، عَنْ حَفْصَةَ بِنْتِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ، عَنْ أَبِيهَا، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ لِعَبْدِ الرَّحْمَنِ: "يَا عَبْدَ الرَّحْمَنِ، أَرْدِفْ أُخْتَكَ عَائِشَةَ فَأَعْمِرْهَا مِنَ التَّنْعِيمِ فَإِذَا هَبَطْتَ بِهَا مِنَ الْأَكَمَةِ فَلْتُحْرِمْ فَإِنَّهَا عُمْرَةٌ مُتَقَبَّلَةٌ".

دحفصة بنت عبد الرحمن رضي الله عنها دخپل پلارنه روایت کوی فرمائی چه نبی علیه السلام ورته ووئیل چه اې عبد الرحمن ! ته خپله خور عائشه په خان پسی سوره کړه اوتنعیم ته ئې دعمری دپاره بوځه کله چه کوز شئ اوتنعیم ته ورسئ نوورته اووایه چه احرام وتړه انشاء الله دا به قبوله کړې شوی عمره وي.

د حدیث الباب تعلق د احرام عائشه رضي الله عنها سره دې چې د هغې تفصیل دلته مونږ سره د کتاب الحج په اوائلو کښې تیر شوې دې چې د هغې خلاصه دا ده چې د حنفیه په نزد هغه مفرده وه او د جمهورو په نزد قارنه وه زمونږ په نزد هغوی رفض عمره کړې وه چې د هغې په قضاء کښې هغوی عمره تنعیم اوکړه

[1]): صحيح البخاري/العمرة ٣(١٧٧٨)، صحيح مسلم/الحج ٣٥(١٢٥٣)، سنن الترمذي/الحج ٦(٨١٥)،(تحفة الأشراف: ١٣٩٣)، وقد أخرجه: مسند احمد(٢٥٦/٣)، سنن الدارمي/المناسك ٣(١٨٢٨)(صحيح)

[2]): تفرد به أبو داود،(تحفة الأشراف: ٩٦٩١)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/العمرة ٦(١٧٨٤)، والجهاد ١٢٥(٢٩٨٥)، صحيح مسلم/الحج ١٧(١٢١٢)، سنن الترمذي/الحج ٩١(٩٣٤)، سنن ابن ماجه/المناسك ٤٨(٢٩٩٩)، مسند احمد(١٩٧/١، ١٩٨)، سنن الدارمي/المناسك ٤١(١٩٠٤)(صحيح)

حضرت عائشې رضي الله عنها په احرام کښې د مصنف رائې


امام ابوداؤد رحمه الله چې کوم ترجمة الباب قائم کړو او بيا ئې په دې کښې د حضرت عائشه رضي الله عنها د احرام والا روايت ذکر کړو د دې نه معلومه شوه چې مصنف هم د احرام عائشه باره کښې د حنفيه موافق دې چې هغوی رفض عمره اوکړه او بيا ئې د هغې قضا اوکړه

[١٩٩٦]() حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ مُزَاحِمِ بْنِ أَبِي مُزَاحِمٍ، حَدَّثَنِي أَبِي مُزَاحِمٍ، عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَسِيدٍ، عَنْ مُحَرِّشٍ الْكَعْبِيِّ، قَالَ: دَخَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْجِعْرَانَةَ فَجَاءَ إِلَى الْمَسْجِدِ فَرَكَعَ مَا شَاءَ اللَّهُ ثُمَّ أَحْرَمَ ثُمَّ اسْتَوَى عَلَى رَاحِلَتِهِ فَاسْتَقْبَلَ بَطْنَ سَرِفَ حَتَّى لَقِيَ طَرِيقَ الْمَدِينَةِ فَأَصْبَحَ بِمَكَّةَ كَبَائِتٍ".

د محرش الکعبی رضي الله عنه نه روايت دې فرمائی چه نبی عليه السلام چه کله جعرانه مقام ته داخل شو نوجومات ته ورغې اومونځ ئې وکړو څومره چه دالله تعالی خوښه وه اوبيائې احرام وتړلو بيا په خپله سورلئ باندې سور شو اوبطن سرف مقام طرف ته ئې مخ کړو تردې چه دمدينې په لارباندې لاړو بيا په سحرکښې مکې ته روان شو او واپس هم راغې نوپه مکه کښې په شان دشپې تيرونکی شو.

عَنْ مُحَرِّشٍ الْكَعْبِيِّ، ......فَاسْتَقْبَلَ بَطْنَ سَرِفَ حَتَّى لَقِيَ طَرِيقَ الْمَدِينَةِ فَأَصْبَحَ بِمَكَّةَ كَبَائِتٍ".([2]) يعنی د جعرانه نه ئې احرام اوتړلو او په سورلئ باندې سور شو او د بطن سرف طرفته روان شو او مقام سرف ته چې نبی عليه السلام اورسيدۀ نو هلته ورته سړک ملاؤ شو چې د مکې مکرمې نه د مدينې منورې لاره ده يعنی په دې سړک باندې د راتلو نه پس د هغۀ ځائې نه مکې مکرمې ته راغلو او د سحر مونځ ئې اوکړو داسې لکه چې ګويا هلته ئې شپه تيره کړې وی.

ياد ساتئ چې سرف مقام هم د سړک په غاړه واقع دې هغه سړک چې د مکې مکرمې نه مدينې منورې ته راغلې دې لهذا اول ئې د جعرانه نه سرف ته تشريف راؤړو(د جعرانه نه براه راست مکې مکرمې طرفته نۀ دې) او د هغې ځائې نه سيدهه مکې مکرمې ته څی نو نبی عليه السلام د هغې ځائې نه مکې مکرمې ته تشريف راؤړو، ددغې لارو نقشه داسې ده.



[1]: سنن الترمذي/الحج ٩٢(٩٣٥)، سنن النسائي/الحج ١٠٤(٢٨٦٦، ٢٨٦٧)،(تحفة الأشراف: ١١٢٢٠)، وقد أخرجه: مسند احمد(٤٢٦/٣، ٤٢٧، ٦٩/٤، ٣٨٠/٥) سنن الدارمي/المناسك ٤١(١٩٠٣)(صحيح) دون ركوعه في المسجد، فإنه منكر

[2]: د نسائی په يو روايت کښې داسې دی: انه صلى الله عليه وسلم خرج من الجعرانة ليلا كانه سبيكة فضة فاعتمر ثم اصبح بها كبائت، يعنی کوم وخت چه حضور صلى الله عليه وسلم دشپې په تياره کښې دجعرانه نه روان شو نو هغوی صلى الله عليه وسلم داسې ځليدل لکه چه د چاندئ (سپينو زرو) بهيدونکې اوبه.

د ابوداؤد په روایت کښې یو وهم

د دې نه پس ځان پوهه کړئ چې دا حدیث چې د عمره جعرانه سره متعلق دې دلته په ابوداؤد شریف کښې ډیر مختصر دې په دې کښې اختصار مخل واقع دې تفصیلي روایت په ترمذی شریف کښې دې د دې عمرې صورت حال مونږ سره دلته اوس نزدې تیر شوې دې د ابوداؤد شریف په روایت کښې د اختصار نه علاوه یو وهم دې په دې کښې دی فاصبح بمکة کبائتٍ حالانکه صحیح دا ده فاصبح بالجعرانة کبائتٍ حالانکه په ترمذی او نسائی کښې داسې دی چې د کوم وضاحت او تصریح مونږ سره تیره شوې ده دویمه خبره قابل ذکر دا ده چې دا حدیث دلته بې محله دې د باب اولنې حدیث چې په هغې کښې عمر د تنعیم تذکره ده هغه خو عین د ترجمة الباب مطابق دې لیکن د دې حدیث د ترجمة الباب سره هیڅ تعلق نشته بظاهر ناسخینو دلته غلطئ سره نقل کړې دې والله تعالی اعلم سوچ کولو سره یو مناسب سمجهـ ته راغلو هغه دا چې اګرچه د دې عمرې د ترجمة الباب سره څه تعلق نشته لیکن خپل مینځ کښې د دې دوارو عمرو په بعضې وجوهاتو سره مناسبت دې هغه دا چې دا دواړه عمرې د شپې په وخت کښې شوې دی دغه شان دواړه د عجلت په حالت کښې شوې دی دغه شان د یو تعلق په دې کښې دحضور ﷺ سره دې او د دویم تعلق د نبی ﷺ د اهلیه محترمه سره دې چې کومه نبی ﷺ ته زیاته محبوبه او نزدې وه او د مصنف دا عادت دې چې هغوی بعضې بعضې علمی فوائد د باب لاندې څۀ مناسبت سره راوړی والله تعالی اعلم

بَابُ الْمُقَامِ فِي الْعُمْرَةِ

د عمرې په ورځو کښې د قیام کولو بیان

[۱۹۹۷](١) حَدَّثَنَا دَاوُدُ بْنُ رُشَيْدٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ زَكَرِيَّا، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْحَاقَ، عَنْ أَبَانَ بْنِ صَالِحٍ، وَعَنِ ابْنِ أَبِي نَجِيحٍ، عَنْ مُجَاهِدٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "أَقَامَ فِي عُمْرَةِ الْقَضَاءِ ثَلَاثًا".

دعبدالله بن عباس رضی الله عنهما نه روایت دې فرمائی چه نبی ﷺ په مکه کښې دعمره قضا په وخت کښې درې ورځې قیام کړې وو (داعمره دحدیبیه په موقعه په مکه کښې دکفارودطرف نه دایساریدو په وجه قضاء شوې وه).

بَابُ الْإِفَاضَةِ فِي الْحَجِّ

باب: د طواف افاضه بیان

یعنی د حج د طواف افاضه بیان، چې ورته طواف زیارت او طواف رکن هم وئیلې شي

[۱۹۹۸](٢) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "أَفَاضَ يَوْمَ النَّحْرِ ثُمَّ صَلَّى الظُّهْرَ بِمِنًى يَعْنِي رَاجِعًا".

---

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٦٣٧٦)(صحيح)

(٢): صحيح مسلم/الحج ٥٨(١٣٠٨)، (تحفة الأشراف: ٨٠٢٤)، وقد أخرجه: سنن النسائي/ الكبرى/ الحج(٤١٦٨)، مسند احمد(٢/٣٤)(صحيح)

دعبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام دلوی اختر په ورځ باندې طواف افاضه وکړو اوبیا ئې په واپسئ کښې په منې کښې دماسپخین مونځ اوکړو.

ان النبی صلی الله علیه وسلم افاض یوم النحر ثم صلی الظهر بمنی د دې نه دوه خبرې معلومې شوې اول دا چې نبی علیه السلام طواف افاضه په یوم النحر یعنی په لسمه ذی الحجه د ورځې اوکړو د ماسپخین نه مخکښې دویمه خبره دا چې نبی علیه السلام د ماسپخین مونځ په منی کښې رسیدلو سره اوکړو په دې دویمه خبره کښې روایات مختلف دی کما تقدم فی حدیث جابرالطویل او په اولنی امر کښې صحیح دا ده چې کوم دلته دی او د دې تائید د دې نه مخکښې باب رمی الجمار کښې تیر شوې دې چې د هغې الفاظ دا دی افاض رسول الله صلی الله علیه وسلم من آخر یومه لیکن په دې باب کښې د دې نه وړاندې حدیث کښې دا دی.

[١٩٩٩](١) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، وَيَحْيَى بْنُ مَعِينٍ الْمَعْنَى وَاحِدٌ، قَالَا: حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عَدِيٍّ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، حَدَّثَنَا أَبُو عُبَيْدَةَ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ زَمْعَةَ، عَنْ أَبِيهِ، وَعَنْ أُمِّهِ زَيْنَبَ بِنْتِ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ يُحَدِّثَانِهِ جَمِيعًا ذَاكَ عَنْهَا، قَالَتْ: كَانَتْ لَيْلَتِي الَّتِي يَصِيرُ إِلَيَّ فِيهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَسَاءَ يَوْمِ النَّحْرِ، فَصَارَ إِلَيَّ وَدَخَلَ عَلَيَّ وَهْبُ بْنُ زَمْعَةَ وَمَعَهُ رَجُلٌ مِنْ آلِ أَبِي أُمَيَّةَ مُتَقَمِّصَيْنِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِوَهْبٍ: "هَلْ أَفَضْتَ أَبَا عَبْدِ اللَّهِ؟" قَالَ: لَا وَاللَّهِ يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَالَ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "انْزِعْ عَنْكَ الْقَمِيصَ"، قَالَ: فَنَزَعَهُ مِنْ رَأْسِهِ وَنَزَعَ صَاحِبُهُ قَمِيصَهُ مِنْ رَأْسِهِ، ثُمَّ قَالَ: وَلِمَ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: "إِنَّ هَذَا يَوْمٌ رُخِّصَ لَكُمْ إِذَا أَنْتُمْ رَمَيْتُمُ الْجَمْرَةَ أَنْ تَحِلُّوا، يَعْنِي مِنْ كُلِّ مَا حُرِمْتُمْ مِنْهُ إِلَّا النِّسَاءَ، فَإِذَا أَمْسَيْتُمْ قَبْلَ أَنْ تَطُوفُوا هَذَا الْبَيْتَ صِرْتُمْ حُرُمًا كَهَيْئَتِكُمْ قَبْلَ أَنْ تَرْمُوا الْجَمْرَةَ حَتَّى تَطُوفُوا بِهِ".

دام سلمه رضی الله عنها نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام په هغه شپه باندې په کومه کښې چه زما په کور کښې ئې دشپې تیرولو نمبروو اوداده لوبې اختر ورځ وه، دماښام په وخت کښې نبی علیه السلام زما کور ته راغی او یودوه کسان ورسره وویو وهم بن زمعه اودهغه سره یوبل ملګرې وو کوم چه دبنو امیه دخاندان نه وو اوقمیصونه ئې اغوستلي وو نبی علیه السلام وهب ته اوفرمائیل ایا طواف افاضه دې کړې دې؟ هغه عرض اوکړو نه په الله مې دې قسم وي اې دالله رسوله نبی علیه السلام اوفرمائیل خپل قمیص اوباسه چنانچه هغه خپل قمیص اوویستلو اودهغه ملګرې هم خپل قمیص اوویستلو اوعرض ئې اوکړو په څه وجه باندې اې دالله رسوله نبی علیه السلام اوفرمائیل داهغه ورځ ده په کومه کښې چه تاسو رې کوې اوحلالیږئ اوهغه شیان کوم چه ستاسو دپاره په حالت احرام کښې حرام دې هغه تاسوته حلالیږي خو علاوه د یوځائې والې نه دښځوسره ترڅوچه دطواف نه فارغې شوې نه ئې که چرې تاسوپه داسې حال کښې ماښام کړو چه طواف مونه وي کړې نوپه داسې حالت کښې دګیټو دویشتلو نه دمخکنی حالت په شان اوس هم په احرام کښې ئې ترڅوچه تاسو طواف نه وی کړې.

---

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٨١٨٦، ١٨١٧٥، ١٨٢٧٥)، وقد أخرجه: مسند احمد(٦/٢٩٥، ٣٠٣)(حسن صحيح)

اخر طواف یوم النحر الی اللیل باندې تفصیلی کلام

اخر طواف یوم النحر الی اللیل د دې روایت حواله مونږ سره دلته په باب رمی الجمار کښې هم تیره شوې ده په دې روایت کښې دا دی چې نبی علیه السلام طواف زیارت په شپه کښې اوکړو ځکه چې په یوم النحر کښې کوم طواف کیږی هغه هم طواف زیارت دې، حافظ ابن قیم صاحب رحمه الله د دې حدیث په سختئ سره تغلیط کړې دې چې دا د ټولو روایتونو خلاف دې د دې په غلط کیدو کښې هیڅ یو عالم شک نۀ شی کولې دغه شان ابن القطان هم دې ته غیرصحیح وئیلې دی ځکه چې نبی علیه السلام طواف افاضه بالاتفاق په ورځ کښې کړې وو نۀ چې په شپه کښې

د عائشې اوابن عباس رضی الله عنهما اثر لره حضرت امام بخاری صاحب رحمه الله هم په صحیح بخاری کښې تعلیقاً ذکر کړې دې لیکن دهغې الفاظ جدا دی اخر النبی صلی الله علیه وسلم الزیارة الی اللیل په دې صورت کښې اشکال ډیر سپکیږی یعنی طواف زیارت مراد نۀ دې بلکه نفسِ زیارتِ بیت ځکه چې زیارتِ بیت هم عبادت دې یا نفلی طواف نۀ چې طواف زیارت بعضې علماؤ فرمائیلې دی چې شاید په تسمیه د طواف کښې غلطی اوشوه د شپې چې نبی علیه السلام کوم طواف کړې وو یعنی په اخری شپه کښې هغه طواف وداع دې نۀ چې طواف زیارت یو توجیه دا کړې شوې ده(کما فی الکوکب) مراد عملاً تاخیر نۀ دې بلکه تجویز تاخیر(تاخیر لره جائز ګرځول) او دې سره اشاره طواف النساء طرفته ده چې نبی علیه السلام خپلو بیبیانو ته د تاخیر طواف اجازت ورکړو([1]) نو په دې وجه هغوی طواف زیارت د یوم النحر نه پس راتلونکی شپه کښې اوکړو یو توجیه دا هم کړې شوې ده چې ممکن ده د لیل نه مراد بعدالغروب نۀ وی بلکه وقت العشی یعنی بعدالزوال وی چې مجازاً د دې نه تعبیر په لیل سره اوکړې شو بله داچه په دې حدیث کښې سنداً کمزوری دا ده چې ابوالزبیر دې لره د عائشه او ابن عباس نه بلفظ عن روایة کوی ابوالزبیر مدلس دې بله داچه د دې سماع اګرچه د ابن عباس نه ثابته ده لکن فی سماعه عن عائشة نظر کما قال الامام البخاری وحکاه عنه الترمذی فی کتاب العلل(ملخص من جزء الحج) په امام ترمذی باندې تعجب دې هغوی خو په دې حدیث باندې مستقل ترجمة الباب باب ما جاء فی طواف الزیارة الی الیل قائم کړې دې او د حدیث باره کښې فرمائی هذا حدیث حسن ا ه حالانکه د دې حدیث باره کښې اکثر محدثینو کلام کړې دې یا کم از کم تاویل په کښې کړې شوې دې

[1]) پوهیدل پکار دی چه طواف زیارت دامام اعظم رحمه الله په نزد ایام النحر سره مؤقت دې که ددې نه پس ئې اوکړو نو دم به واجب وی، دامام شافعی او صاحبینو رحمهم الله په نزد مؤقت نه دی بلکه تاخیر عن ایام النحر جائز دې، پس معلومه شوه چه د یوم النحر نه پس والا شپه کښې بالاتفاق جائزدی.

[٢٠٠٠]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ عَائِشَةَ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "أَخَّرَ طَوَافَ يَوْمِ النَّحْرِ إِلَى اللَّيْلِ".

دام المومنین عائشة رضي الله عنها او عبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه روایت دي فرمائي چه نبي عليه السلام دلوي اختر په ورځ باندې طواف زیارت کول دشپې پورې موخر کړل.

عن ام سلمة قالت كانت ليلتى التى يصير الى فيها رسول الله صلى الله عليه وسلم د دې جملې تشریح او وضاحت د مالهٔ و ماعلیهِ سره په باب التعجیل کښې د وكان ذلك اليوم اليوم الذى يكون رسول الله صلى الله عليه وسلم عندها لاندې تیر شوې دي فارجع اليه لو شئت، فدخل على وهب بن زمعة ومعه رجل من آل ابى امية متقمصين.،،

دا حدیث بالاتفاق د تاویل محتاج دې:

د دې حدیث نه دا فائده حاصلیږي چې د رمی وغیره نه پس چې کوم تحلل اصغر حاصلیږي هغه په دې شرط سره مشروط دې چې سرې په یوم النحر کښې د نمر پریوتلو نه مخکښې پورې طواف افاضه اوکړي او که د شپې کیدو نه مخکښې ئې طواف افاضه اونکړه نو هغه حاصل شده تحلل ختمیږي او بیا دوباره دغه سړې هغه شان شي لکه څنګه چې د رمی کولو نه مخکښې وو یعنی لبس د مخیط وغیره د دهٔ دپاره ناجائز شي لیکن دا د یو فقیه او د امام مسلک نهٔ دې لهذا دا حدیث بالاتفاق د توجیه او د تاویل محتاج دې تاویل خو دې یا دا اوکړې شي چې مقصود دا دې چې په طواف زیارت کښې تاخیر کول نهٔ دي پکار او تغلیظاً ئې دا هم اوفرمائیل چې کهٔ تاخیر ئې اوکړو نو بیا چې اول څنګه وو نو بیا هم هغه شان شي دا صرف توبیخ او تغلیط دې حقیقتِ د کلام مراد نهٔ دې یا دا داسې اووئیلې شي چې ممکن ده د هغوی هغه قیمص چې کوم ئې اغوستې وو هغه خوشبودار وی او خوشبو چونکه د جماع طرفته دعوت ورکوونکې وی نو په دې ویره سره چې دا قمیص چرته د جماع دپاره سبب جوړ نهٔ شي داسې اوفرمائیلې شو یعنی دا چې دا قمیص اوباسه والله سبحانه وتعالی اعلم

[٢٠٠١]() حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ، أَخْبَرَنَا ابْنُ وَهْبٍ، حَدَّثَنِي ابْنُ جُرَيْجٍ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ أَبِي رَبَاحٍ، عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "لَمْ يَرْمُلْ فِي السَّبْعِ الَّذِي أَفَاضَ فِيهِ".

د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه روایت دې فرمائي چه یقینانبی عليه السلام تیزرفتاري نه وه کړي د طواف افاضه وم چکرکښې (کیدې شي چه په طواف قدوم کښې ئې تیز رفتاری کړې وی)

[1]: صحيح البخاري/ الحج ١٢٩(قبيل ١٧٣٢) تعليقًا، سنن الترمذي/الحج ٨٠(٩٢٠)، سنن ابن ماجه/المناسك ٧٧(٣٠٥٩)،(تحفة الأشراف: ٦٤٥٢، ١٧٥٩٤)، وقد أخرجه: سنن النسائي/ الكبرى/ الحج(٤١٦٩)، مسند احمد(٢٨٨/١)(ضعيف)

[2]: سنن ابن ماجه/المناسك ٧٧(٣٠٦٠)،(تحفة الأشراف: ٥٩١٧)، وقد أخرجه: سنن النسائي/ الكبرى/ الحج(٤١٧٠)(صحيح)

د حديث مبارك تشريح:

قوله: حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ، أَخْبَرَنَا ابْنُ وَهْبٍ............ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "لَمْ يَرْمُلْ فِي السَّبْعِ الَّذِي أَفَاضَ فِيهِ". نبی ﷺ چې په دې اوو چکرو کښې کوم طواف افاضه کړې وو رمل ئې نۀ وو کړې ملاعلی قاری رحمه الله د هغې وجه بيان کړې ده لتقدم السعی عليه يعنی چونکه پيغمبر ﷺ طواف قدوم سره په شروع کښې سعی بين الصفا والمروه کړې وه او دغه وخت يعنی د طواف افاضه نه پس سعی کول نه وو (لکه څنګه چې مسئله هم داسې ده) او رمل په هغې طواف کښې وی چې د هغې نه پس سعی وی، په دې وجه نبی ﷺ په دې طواف کښې رمل اونکړو ليکن په دې باندې زمونږ حضرت په بذل المجهود کښې د حنفيه او شافعيه طرفته د اختلاف اشاره کړې ده چې قابل غور ده[1] بيا حضرت خپله رائې دا ليکلې ده چې په ظاهره د رمل نۀ کولو وجه دا ده چې د نبی ﷺ دا طواف راکباً وو او د رکوب په صورت کښې رمل کول ممکن نۀ دی (بذل) زۀ وايم چې په باب الطواف الواجب کښې دا بحث تير شوې دې چې نبی ﷺ کوم طواف راکباً کړې وو نو هغه کوم طواف وو هلته هم تير شوې دی چې ظاهر دا ده چې هغه هم طواف زيارت وو او دا روايت د دې خبرې تائيد کوی قال المنذری واخرجه الترمذی والنسائی وابن ماجه ا هـ

بَابُ الْوَدَاعِ

باب: د طواف وداع (رخصتی کولو) بيان

طواف وداع (د رخصتئ طواف) د ائمه ثلثه په نزد واجب دې د امام مالک او داؤد ظاهری صاحب په نزد سنت دې دغه شان دا طواف د حج کوونکی په حق کښې دې په معتمر باندې نشته دغه شان په آفاقی باندې دې په مکی باندې نشته بشخه که حائضه وی نو په هغې باندې هم نشته لکه څنګه چې په آئنده باب کښې راځی خلافاً لعمر بن الخطاب رضی الله تعالى عنه فيجب عنده على الحائض ايضاً فتقيم حتى تطهر فتطوف

[٢٠٠٢][2] حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ سُلَيْمَانَ الْأَحْوَلِ، عَنْ طَاوُسٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: كَانَ النَّاسُ يَنْصَرِفُونَ فِي كُلِّ وَجْهٍ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا يَنْفِرَنَّ أَحَدٌ حَتَّى يَكُونَ آخِرُ عَهْدِهِ الطَّوَافَ بِالْبَيْتِ".

---

[1] د حضرت مقصد دا دې چه د اکثرو په نزد رسول الله ﷺ قارن وو او د احنافو په نزد په قارن باندې دوه طوافونه او دوه سعی دی په خلاف د شوافعو وغيره چه د هغوی په نزد يو طواف او يوه سعی ده، لهذا زمونږ د مسلک تقاضه دا ده چه رسول الله ﷺ د طواف افاضه نه پس سعی اوکړی، دا خو تشريح شوه د حضرت د کلام خو زه وايم چه مسئله د احنافو په نزد هم داسې ده چه که قارن طواف قدوم نه پس سعی اوکړی نو بيا اوس د طواف افاضه نه پس به سعی نه وی، د ملا علی قاری رحمه الله کلام په دې باندې مبنی دې. والله اعلم ..... په بذل المجهود کښې يو مقام باندې خپله حضرت هم دې طرف ته اشاره فرمائيلې ده. ١٢

[2]: صحيح مسلم/الحج ٦٧(١٣٢٧)، سنن ابن ماجه/المناسك ٨٢(٣٠٧٠)، سنن النسائي/ الكبري/ الحج(٤١٨٤)،(تحفة الأشراف: ٥٧٠٣)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الحج ١٤٤(١٧٥٥)، مسند احمد(٢٢٢/١)، سنن الدارمي/المناسك ٨٥(١٩٧٤)(صحيح)

دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دي فرمائي چه دمكي مكرى نه به خلق دهرطرف نه بهر ته وتل نبي عليه السلام اوفرمائيل چاچه آخرى طواف نه وى كړې دهغه دپاره دمكي نه تلل پكارنه دي.

تشريح: قوله: كان الناس ينصرفون في كل وجه اى جانب وطريق يعني خلق د حج نه چې فارغ شو نو خپلو خپلو كورونو او وطنونو طرفته روان شو څوك په يو لاره روان دې او څوك په بله لاره باندې(ښكاره خبره ده چې كوم كس په كوم طرف بآندې رآغلي وو نو په هغې بآندې به ځي) يعني بغير د طواف آو بيت الله شريف ته د حاضرئ نه، چې هركله نبي عليه السلام دا منظر اوليدو نو وې فرمائيل لا ينفرن احد حتى يكون اخر عهده الطواف بالبيت، هيڅكله دې نه واپس كيږي هغه كس خپل وطن طرفته چې ترڅو آخرى ملاقات بيت الله سره اونكړي د طواف په طريقې سره، دا حديث مبارک د جمهورو دليل دې د طواف په وجوب كښې قال المنذرى اخرجه مسلم والنسائي وابن ماجه(عون)

بَابُ الْحَائِضِ تَخْرُجُ بَعْدَ الْإِفَاضَةِ

په كومه زنانه چه بيمارى راغلې وى هغه دطواف افاضه نه پس تللى شى

د ترجمة الباب والا مسئله په تير شوې باب كښې تيره شوې ده

[۲۰۰۳](١) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَكَرَ صَفِيَّةَ بِنْتَ حُيَيٍّ، فَقِيلَ: إِنَّهَا قَدْ حَاضَتْ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَعَلَّهَا حَابِسَتُنَا". قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّهَا قَدْ أَفَاضَتْ، فَقَالَ: "فَلَا إِذًا".

دام المومنين عائشة رضي الله عنها نه روايت دي فرمائي چه نبي عليه السلام دصفية بنت حيي ذكر اوكړو نوعرض وكړې شو چه هغې ته بيمارى راغلى ده نبي عليه السلام اوفرمائيل شايد هغه مونږ لره ايسارونكى ده، خلقو اووئيل اې دالله رسوله هغه دطواف افاضه نه فارغه شوى ده نبي عليه السلام اوفرمائيل بياخه حرج نشته.

د حديث تشريح د اشكال او جواب سره

عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَكَرَ صَفِيَّةَ بِنْتَ حُيَيٍّ...... "لَعَلَّهَا حَابِسَتُنَا"، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّهَا قَدْ أَفَاضَتْ، فَقَالَ: "فَلَا إِذًا".

حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائي چې حضور صلى الله عليه وسلم د واپسئ په ورځ د حضرت صفيه ذكر اوكړو(او ذكر ئې داسې انداز كښې اوكړو چې په هغې باندې عائشه رضي الله عنها پوهه شوه چې د دوى اراده د وقاع ده) په دې باندې عائشې رضي الله عنها عرض اوكړو چې يا رسول الله! هغه خو حائضه ده د دې په اوريدلو سره نبي عليه السلام اوفرمائيل چې كيدې شي اوس خو به د دې په وجه مونږ هم حصاريږو (نبي عليه السلام دا اوګنړل چې هركله حائضه ده نو كيدې شي چې طواف افاضه به ئې هم

---

١): تفرد به أبو داود،(تحفة الأشراف: ١٧١٧٢)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الحيض ٢٧(٣٢٨)، والحج ٣٤(١٥٦٢)، والمغازي ٧٧(٤٤٠٨)، والطلاق ٤٣(٥٣٢٩)، والأدب ٩٣(٦١٥٧)، صحيح مسلم/الحيض ٦٧(١٢١١)، سنن الترمذي/الحيض ٩٩(٩٤٣)، سنن النسائي/الحيض ٢٣(٣٩١)، سنن ابن ماجه/المناسك ٨٣(٣٠١٢)، موطا امام مالك/الحج ٧٥(٢٢٥)، مسند احمد(٦/٣٨، ٣٩، ٨٢، ٩٩، ١٢٢، ١٦٤، ١٧٥، ١٩٣، ٢٠٢، ٢٠٧)، سنن الدارمي/المناسك ٧٣(١٩٥٨)(صحيح)

نۀ وی کړې او طواف وداع خو ئې بالکل نۀ دې کړې، حضرت عائشه ﷺ اوفرمائیل یا رسول الله! طواف زیارت خو ئې کړې دی نبی ﷺ اوفرمائیل چې هیڅ خبره نۀ ده، یعنی اوس به مونږ صرف د طواف وداع په وجه نۀ حصاریږو د دې نه معلومه شوه چې د حائضې نه طواف وداع ساقط دی

دلته یو مشهور اشکال او د هغې جواب دې حضرت شیخ په درس بخاری کښې هم ذکر کړې وو هغه دا چې د دې مقام نوعیت د دواړ حالو نه خالی نۀ دې یا خو به نبی ﷺ ته د صفیه طواف افاضه کول معلوم وو یا نۀ؟ که معلوم وو نو نبی ﷺ لعلها حابستنا ولې اوفرمائیل؟ او که معلوم نه وو نو بیا ورسره نبی ﷺ ولې د استمتاع اراده اوفرمائیله؟ د دې جواب ډیر زیات آسان دې هغه دا چې د نبی ﷺ په ذهن کښې د مخکښې نه مجموعی طور دا وو چې ټولو ازواج مطهراتو طواف افاضه کړې دې په دې بنیاد باندې ئې د جماع اراده هم اوکړه لیکن چې کله ورته د صفیه باره کښې دا اووئیلې شو چې هغه فی الحال په حیض کښې ده چې د دې خبرې نبی ﷺ ته د مخکښې نه معلومات نۀ وو نو په دې باندې نبی ﷺ ته دا خیال پیدا شو چې چرته خو داسې نۀ ده چې د مخکښې نه ورته حیض وی او طواف افاضه ئې هم نۀ وی کړې په دې وجه نبی ﷺ اوفرمائیل لعلها حابستنا قال المنذری واخرجه البخاری ومسلم والنسائی اهـ(عون)

[٢٠٠٤]([1]) حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَوْنٍ، أَخْبَرَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ يَعْلَى بْنِ عَطَاءٍ، عَنِ الْوَلِيدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنِ الْحَارِثِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَوْسٍ، قَالَ: "أَتَيْتُ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ فَسَأَلْتُهُ عَنِ الْمَرْأَةِ تَطُوفُ بِالْبَيْتِ يَوْمَ النَّحْرِ ثُمَّ تَحِيضُ، قَالَ: لِيَكُنْ آخِرُ عَهْدِهَا بِالْبَيْتِ، قَالَ: فَقَالَ الْحَارِثُ: كَذَلِكَ أَفْتَانِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: فَقَالَ عُمَرُ: أَرِبْتَ عَنْ يَدَيْكَ، سَأَلْتَنِي عَنْ شَيْءٍ سَأَلْتَ عَنْهُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِكَيْ مَا أُخَالِفَ".

دحارث بن عبد الله بن اوس نه روایت دې فرمائی چه زه د عمربن الخطاب په په خدمت کښې حاضر شوم اودهغه زنانه په باره کښې مې ترې تپوس اوکړو څوك چه دلوی اختر په ورځ باندې دبیت الله طواف اوکړی اوبیائې بیماری راشی(نوهغې لره څه کول پکاردی)؟ عمر ﷺ اوفرمائیل طواف وداع دی وکړی اولاړه دی شی حارث اووئیل چه ماته نبی ﷺ داسې وئیلی ووعمر ﷺ اووئیل لاسونه دې وغورزیږه تا زمانه دهغې تپوس اوکړو کوم چه دی دنبی ﷺ نه کړې وو په دې خیال باندې چه ګنې زه خو دهغه نه خلاف نه کوم

تشریح: **قوله**: اتیت عمر بن الخطاب فاسلته عن المرءة د دې خلاصه دا ده چې د حضرت عمر ﷺ نه سوال اوکړې شو چې که ښځې ته د طواف وداع نه مخکښې حیض راشی نو آیا په دې وجه سره به حصاریږی نو هغوی اوفرمائیل چې او ' حصاریږی به په دې باندې سائل اووې چې تاسو صحیح جواب راکړو ما د دې مسئلې تپوس د نبی ﷺ نه کړې وو نو هغوی هم دا جواب راکړې وو حضرت عمر ﷺ.د دې په اوریدلو سره اوفرمائیل اربت عن یدیک تاته دې خدایږ د خپل لاسه مصیبت دراورسوی چې هرکله تا د نبی ﷺ نه معلومه کړې وه

[1]): سنن الترمذي/الحج ١٠١(٩٤٦)،(تحفة الأشراف: ٣٢٧٨)، وقد أخرجه: سنن النسائي/الكبري/ الحج(٤١٨٥)، مسند احمد(٤١٦٧٣)(صحيح)

نو بیا زما نه د تپوس کولو څه ضرورت وو دې دپاره دې تپوس کړې وو چې ممکن ده چې زهٔ د دې خلاف مسئله تاته اووایم(۱) یعنی حضور ﷺ خو تاته دا فرمائیلې وو چې حائضه به حصاریږي د دې نه پس تا زما نه تپوس اوکړو چې شاید دا به اووائي چې حائضې ته د حصاریدو ضرورت نشته اې بیوقوفه! آیا زهٔ د نبي ﷺ خلاف څهٔ وئیلې شم؟

بَابُ طَوَافِ الْوَدَاعِ

باب د طواف وداع بیان

دتیر شوې باب نه مقصود د طواف وداع حکم بیانول وو او په دې باب سره غرض او مقصد د نبي ﷺ طواف وداع بیانول دی چې نبي ﷺ هم طواف وداع کړې وو

[۲۰۰۵](۲) حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ بَقِيَّةَ، عَنْ خَالِدٍ، عَنْ أَفْلَحَ، عَنْ الْقَاسِمِ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: أَحْرَمْتُ مِنَ التَّنْعِيمِ بِعُمْرَةٍ فَدَخَلْتُ فَقَضَيْتُ عُمْرَتِي وَانْتَظَرَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْأَبْطَحِ حَتَّى فَرَغْتُ وَأَمَرَ النَّاسَ بِالرَّحِيلِ، قَالَتْ: وَأَتَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْبَيْتَ فَطَافَ بِهِ ثُمَّ خَرَجَ".

دام المومنین عائشة رضي الله عنها نه روایت دې فرمائي چه دتنعیم نه مې دعمری دپاره احرام اوتړلومی ته لاړم او عمره مې وکړله او نبي ﷺ دمکی اومدینې په مینځ کښې په ابطح مقام کښې زما انتظار کولو کله چه زه دعمری کولو نه فارغه شوم نو نبي ﷺ خلقو ته دتلو حکم وکړو او په خپله ملی ته لاړو بیت الله ته چه ورسیدو نو اول ئې طواف وکړو بیا ددې نه پس ووتلو.

تشریح: قوله: وَانْتَظَرَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْأَبْطَحِ حَتَّى فَرَغْتُ..الخ:

په دې حدیث مبارک کښې حضرت عائشه رضي الله عنها خپله عمره بیانوی چې د عمرة التنعیم په نوم سره مشهوره ده د دې عمرې بیان مونږ سره د یو حدیث لاندې په باب فی افراد الحج کښې تیر شوې دې دلته بی بی عائشه رضي الله عنها دا فرمائي چې نبي ﷺ په محصب کښې زما انتظار اوکړو او ترڅو چې زهٔ د عمرې کولو نه فارغه شوې نهٔ ووم نو هغه وخت پورې نبي ﷺ روان نهٔ شو.

په حدیث باندې اشکال او د هغې جواب

په دې باندې اشکال دا دې چې د صحیح بخاری په روایت کښې په دې سلسله کښې داسې دی فلقینی النبی صلی الله علیه وسلم وهو منهبط وانا مصعدة او انا منهبطة وهو مصعد اصل کښې د محصب محل وقوع په بلندئ باندې ده او مکه مکرمه او بیت الله شریف په نشیب کښې دې په دې وجه حضرت عائشې رضي الله عنها د انهباط او صعود لفظ استعمال کړو دلته په روایت کښې اګرچه د راوی شک دې لیکن صحیح په دې کښې شقِ اول دې یعنی کله چې زهٔ د

(۱) زما په ذهن کښې د دې مطلب دا راځي چه سیدنا عمر رضي الله عنه په دې مسئله کښې د رسول الله ﷺ نه څه اوریدلي وو چه هغه په دې کښې د خپل اجتهاد نه کار اخستلو چه په هغې کښې د خطاء او ثواب دواړو احتمال دې او دلته اګر چه هغه اجتهاد صحیح راوتلو د حدیث د موافق کیدو د وجې نه خو في نفسه د خلاف کیدو احتمال خو ضرور وو او اګر چه د خلاف کیدو د علم نه پس عمر رضي الله عنه د خپل اجتهاد نه رجوع کړې وه خو د لږ ساعته پورې خو مخالفت موندلې شي. والله تعالی اعلم

(۲): صحیح مسلم کالحج ۱۷(۱۲۱۱)، (تحفة الأشراف: ۱۷۴۴۳، ۱۷۴۴۰)، وقد أخرجه: مسند احمد(۶/۱۲۴)(صحیح)

عمرې نه فارغه شوم او د نبي ﷺ په خدمت کښې راتلم نو هغه وخت نبي ﷺ ما سره په لاره کښې ملاؤ شو نبي ﷺ د محصب نه راکوزيدو (مکې مکرمې ته د راتلو دپاره چې طواف وداع اوکړي) او زۀ محصب ته د نبي ﷺ خوا ته ورتلم لهذا د ابوداؤد شريف دا روايت د بخاري شريف د روايت خلاف شو د بخاري د روايت نه معلوميږي چې نبي ﷺ انتظار اونکړو او د ابوداؤد په روايت کښې انتظار مذکور دې د حديث شارحينو د دې اشکال او تعارض جواب دا ورکړې دې چې دواړه روايتونه په خپل خپل ځائې باندې صحيح دی او د جمع بين الروايتين صورت دا دې چې نبي ﷺ د عائشې ؓ د تلو نه پس کافي وخت پورې د هغې انتظار اوکړو بيا چې کله نبي ﷺ ته اندازه اوشوه چې اوس به هغه راځي نو هغه وخت نبي ﷺ د محصب نه روان شو نو په لاره کښې د محصب په حدودو کښې يو بل سره ملاقات اوشو نو په انتظار او لاره کښې د دواړو ملاقات کيدل دواړه خبرې صادق راغلې

واتي رسول الله صلى الله عليه وسلم البيت فطاف به ثم خرج حاصل دا چې کله حضرت عائشه ؓ د شپې په اخره کښې محصب ته راؤرسيده نو بيا نبي ﷺ خلقو ته د واپسئ اعلان اوکړو چې ټول قافلې والا دې ځي يعنې په بيت الله شريف باندې تيريدلو سره د مدينې منورې طرفته او طواف وداع کولو سره کما هو راى شيخنا خلافاً لاكثر الشراح والبسط فى حاشية اللامع .(١)

د نبي ﷺ لاره مدينې منورې ته د بيت الله شريف د طرفه وه ځکه چې د نبي ﷺ واپسی د

---

(١) د عمره تنعيم او د رسول الله ﷺ د طواف چه کوم ترتيب مونږ ليکلې دې هغه هم هغه دې کوم چه زمونږ شيخ په خپل تقرير بخاري او تاليفات لامع الدراري وغيره کښې اختيار کړې دې، او دا رائې په دې باندې مبنی ده چه په حديث کښې ﴿ فلقيني وهو منهبط وانا مصعدة ﴾ صحيح دې خو عام شارحين بالخصوص امام نووي رحمه الله او د حضرت ګنګوهي رحمه الله دا رائې نه ده دا حضرات خو فرمائي چه رسول الله ﷺ عائشه ﷺ د هغې د رور عبدالرحمن ؓ سره د عمرې د احرام دپاره تنعيم ته اوليږله او خپله د محصب نه مکې مکرمې ته د طواع وداع دپاره لاړو ځکه چه هغه خو احرام نه تړلو. د طواف دپاره خو د احرام ضرورت نشته) بيا چه کوم وخت رسول الله ﷺ د مکې نه واپس محصب طرف ته واپس کيدو نو هغه وخت ورته دوی دواړه (عائشه او عبدالرحمن) په لاره کښې ملاؤ شو. دې دواړو د تنعيم نه احرام تړلې وو مکې ته د عمرې دپاره داخليدل. بيا نبي عليه السلام محصب ته اورسيدلو نود عائشې ﷺ انتظار ئې کولو لکه څنګه چه ورسره نبي عليه السلام د انتظار وعده کړې وه، بيا کله چه د شپې په آخره کښې سحر ته نزدې عائشه ﷺ د عمرې نه فارغه شوه او محصب ته اورسيده (کما في رواية ثم جئته بسحر) نو نبي عليه السلام د محصب نه د تلو اعلان اوکړو. فاذن فى اصحابه بالرحيل، خو وريسې په روايت کښې دی چه فمر بالبيت قبل صلوة الصبح فطاف به حين خرج، ددې نه معلوميږي چه کله عائشه ﷺ د عمرې نه فارغه شوه محصب ته اورسيده او بيا ټولو دهغه ځائې نه کوچ اوکړو نو دغه وخت ئې طواف وداع اوکړه دا د نووي وغيره د مذکوره رائې خلاف دی په دې وجه امام نووي په شرح د مسلم کښې فرمائيلی دی چه په دې روايت کښې تقديم تاخير دې او قاضي عياض ددې دا تاويل کړې دې چه ممکن ده نبي عليه السلام دوباره طواف وداع کړې وی، او ددې نه پس قاضي عياض د مصنف عبدالرزاق د روايت په لحاظ سره يوبل احتمال بيان کړې دې کوم چه حافظ هم خوښ کړې دې، فارجع الى الفتح (ص ٢٨٩ ج٣) ليکن حضرت شيخ چه کوم ترتيب اختيار کړې دې په دې کښې دا د طواف د تکرار اشکال نه کيږي.١٢.

مکې مکرمې نه مدینې دپاره کدی یعنی اسفل مکه سره طې شوې وه او محصب د دې مخالف طرف یعنی اعلی مکه کښې دې نونبی ﷺ ته دمکې مکرمې د طرفه تلل وو(بذل)

تنبیه: دلته راوی د حضور ﷺ د سحر د مانځه باره کښې څۀ نه دی وئیلې حالانکه د سحر مونځ نبی ﷺ دلته په مکه مکرمه کښې اوکړو د نبی ﷺ د دې مونځ ذکر د ام سلمه په حدیث کښې شته طوفی من وراء الناس وانت راکبة قالت فطفت ورسول الله صلی الله علیه وسلم حینئذ یصلی الی جنب البیت وهو یقرأ بالطور وکتاب مسطور مرالحدیث فی باب الطواف الواجب تعجب دې چې عام طور سره د حدیث د راویانو نه د نبی ﷺ د دې مونځ بیان فوت شو او د ذکر کولو نه پاتې شو

[۲۰۰۶]([1]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرٍ يَعْنِي الْحَنَفِيَّ، حَدَّثَنَا أَفْلَحُ، عَنِ الْقَاسِمِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "خَرَجْتُ مَعَهُ، تَعْنِي مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فِي النَّفْرِ الْآخِرِ، فَنَزَلَ الْمُحَصَّبَ". قَالَ أَبُو دَاوُد: وَلَمْ يَذْكُرِ ابْنُ بَشَّارٍ قِصَّةَ بَعْثِهَا إِلَى التَّنْعِيمِ فِي هَذَا الْحَدِيثِ، قَالَتْ: ثُمَّ جِئْتُهُ بِسَحَرٍ، فَأَذَّنَ فِي أَصْحَابِهِ بِالرَّحِيلِ، فَارْتَحَلَ فَمَرَّ بِالْبَيْتِ قَبْلَ صَلَاةِ الصُّبْحِ فَطَافَ بِهِ حِينَ خَرَجَ ثُمَّ انْصَرَفَ مُتَوَجِّهًا إِلَى الْمَدِينَةِ.

دام المومنین عائشة رضی الله عنها نه روایت دې فرمائی چه کله نبی ﷺ دمنی نه واپس راغی نوزه ورسره یوځای ووتلم او په مقام محصب کښې ئې قیام وکړوبیازه په سحرکښې دنبی ﷺ په خدمت کښې حاضره شوم او نبی ﷺ تمام کسانوته دتلوحکم وکړو اودسحر دمونځ نه مخکښې بیت الله ته لاړواوطواف ئې وکړو اوبیا مدینې ته روان شو.

[۲۰۰۷]([2]) حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مَعِينٍ، حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ يُوسُفَ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، أَخْبَرَنِي عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي يَزِيدَ، أَنَّ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ طَارِقٍ أَخْبَرَهُ، عَنْ أُمِّهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ "إِذَا جَازَ مَكَانًا مِنْ دَارِ يَعْلَى نَسِيَهُ عُبَيْدُ اللَّهِ اسْتَقْبَلَ الْبَيْتَ فَدَعَا".

عبد الرحمن بن طارق دخپلې مورنه روایت کوی فرمائی چه کله نبی ﷺ دیعلی د کورونونه مخکښې تیرشونوقبلې ته ئې مخ کړو اودعاء ئې اوغوښتله.

تشریح: قوله: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ "إِذَا جَازَ مَكَانًا مِنْ دَارِ يَعْلَى نَسِيَهُ عُبَيْدُ اللَّهِ اسْتَقْبَلَ الْبَيْتَ فَدَعَا".

عبدالرحمن بن طارق د خپلې مور نه روایت کوی چې نبی ﷺ د مکې مکرمې نه په واپسئ باندې په لاره کښې چې کله د یعلی په یو خاص حصه باندې تیریدلو نو هلته حصار شو او بیت الله شریف طرفته ئې مخ کولو سره دعا غوښتله عبیدالله د حدیث راوی وائی چې هغه ځائې اوس ماته یاد نۀ دې چې کوم ځائې دې؟ نبی ﷺ په لاره کښې دې مقام ته رسیدلو سره حصار شو او دعا ئې ولې غوښتله؟ دې طرفته امام نسائی صاحب د یو ترجمة الباب ([3]) ذریعې سره اشاره کړې ده هغه دا چې د دې ځائې نه بیت الله شریف په نظر راتلی په دې وجه نبی ﷺ هغې ته کتل اود هغې ځائې نه ئې دعا غوښتله کذا قال السندی فی حاشیته فجزاه الله

[1]): انظر ما قبله،(تحفة الأشراف: ١٧٤٣٤، ١٧٤٤١)(صحيح)

[2]): سنن النسائي /الحج ١٢٣(٢٨٩٩)،(تحفة الأشراف: ١٨٣٧٤)، وقد أخرجه: مسند احمد(٦/٤٣٦، ٤٣٧)(ضعيف)

[3]، هغوی په دې حدیث باندې ترجمه قائم کړې ده: الدعاء عند رؤية البيت،،

تعالی چې هغوی خبره صفا کړه په بذل کښې حضرت سهارنپوری رحمه الله د دې سلسلې روایات نقل کړې دی او لیکی چې ظاهر دا ده چې دا لفظ جاز نۀ دې بلکه جاء دې په دې کښې د کاتب نه تصحیف شوې دې اهـ لکه چه په نسائی کښې لفظ د جاء دې باقی که د جاز لفظ هم وی نو هم څۀ اشکال نشته معنی صحیح ده یعنی چې کله نبی علیه السلام هغه مقام سره تیریدلو

باب التَّحْصِيبِ

باب: په محصر مقام کښې د دمې کولو دپاره دکوزیدو بیان

تحصیب یعنی نزول فی المحصب،محصّب،حصبه،ابطح،بطحاء،خیف بنی کنانه دا ټول د یو مقام نومونه دی دا یو وسیع میدان دې د منی او مکه مکرمه په مینځ کښې او منی ته نزدې دې د مکې مکرمې په نسبت،نفرثانی یعنی په دیارلسمه ذی الحجه باندې د زوال نه پس د رمی نه فارغیدو نه پس(چې د منی نه د روانیدو آخری ورځ ده چې په دې کښې حاجی د منی نه مکې مکرمې ته راځی) په دې ورځ باندې نبی علیه السلام په ځائې د سیدهه راتلو د منی نه مکې مکرمې ته په لاره کښې په دې میدان کښې حصار شوې وو او هلته نبی علیه السلام دماسپخین،مازیگر،ماښام او ماسخوتن څلور مونځونه کړې وو او د شپې اکثره حصه ئې هلته تیره کړې وه او هم د دې ځائې نه نبی علیه السلام حضرت عائشه رضی الله عنها د هغې ورور عبدالرحمن بن ابی بکر سره عمره تنعیم دپاره لیږلې وه آو فرمائیلې ئې وو چې تۀ زر عمره اوکړه او واپس دلته راشه دې دپاره چې مونږه ټوله قافله یوځایئ د دې ځائې نه روان شو او په مکه مکرمه کښې طواف وداع کولو سره مدینه منوره ته روان شو

د دې نه پس ځان پوهه کړئ چې د محصب د نزول په نوعیت کښې د صحابه کرامو اختلاف دې هغه دا چې د دې نزول شمار په مناسک حج کښې دې یا څۀ خارجی مصلحت سره وو یا په نورو الفاظو کښې داسې چې دا نزول اتفاقی وو یو جماعت[1] دې لره په مناسک حج کښې شماری لیکن واجب نۀ دې بلکه مسنون او مستحب،ابن عمر هم په دې کښې دې ففی الصحیحین عن نافع ان ابن عمر رضی الله عنه کان یری التحصیب سنة، او یو جماعت دا وائی چې دا نزول خارجی مصلحت سره وو ابن عباس و عائشه په دې جماعت کښې دی ففی الصحیحین عن ابن عباس انه قال لیس التحصیب بشيئ انما هو منزل نزله رسول الله صلی الله علیه وسلم

[۲۰۰۸](٢) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ هِشَامٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "إِنَّمَا نَزَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمُحَصَّبَ لِيَكُونَ أَسْمَحَ لِخُرُوجِهِ، وَلَيْسَ بِسُنَّةٍ فَمَنْ شَاءَ نَزَلَهُ وَمَنْ شَاءَ لَمْ يَنْزِلْهُ".

دام المومنین عائشة رضی الله عنها نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام په محصب کښې ددې کولو

---

[1]) ففي الصحيحين عن ابي هريرة رضي الله عنه ان رسول الله صلي الله عليه وسلم قال حين اراد ان ينفر من مني نحن نازلون غدا ان شاء الله تعالي بخيف بني كنانة حيث تقاسموا علي الكفر. او د دې بالمقابل روایت د ابو رافع رضی الله عنه دې کوم چه د افراد مسلم نه دې او په دې باب کښې هم راروان دې.

[2]): تفرد به أبو داود،(تحفة الأشراف: ١٦٧٨٥، ١٧٣٣٠)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الحج ١٤٧(١٧٦٥)، صحيح مسلم/الحج ٥٩(١٣١١)، سنن الترمذي/الحج ٨٢(٩٢٣)، سنن ابن ماجه/المناسك ٨١(٣٠٦٧)، مسند احمد(٦/١٩٠)(صحيح)

دپاره کوزشو ددې دپاره چه مدينې ته په تلوکښې سهولت ميسرشي، ليکن په محصب کښې دمه کيدل مسنون عمل نه دې که دچازړه غواړي نوکوزدې شي اوکه دچازړه غواړي نونه دې کوزيږي.

د اسمح لخروجه شرح

دغه شان د حضرت عائشه رضي الله عنها روايت چې د دې باب اولنې حديث دې انما نزل رسول الله صلى الله عليه وسلم المحصب ليكون اسمح لخروجه، [1]

يعنى نبي عليه السلام دلته په لاره کښې د سفر د سهولت په خاطر حصار شوې وو دې دپاره چې د منى نه د وتلو نه مخکښې ټول حاجيان او ملګري يوځايئ جمع شي او بيا ټول د هغې مقام نه يوځايئ روان شي که څوک سوال اوکړي چې آيا د منى نه ټول ملګري يوځايئ روانيدې نۀ شو؟ نو د دې جواب دا دې چې په مجمع کښې داسې کيدل لږ مشکل دى ډيره لويه مجمع ده ټولو سره د ټولو ضرورياتو سامان هم دې څوک ځوان دې او څوک بوډا دې څوک ضعيف دې ماشومان او ښځې هم په کښې دى د چا سورلى تيزرفتار ده او د چا هغه کمزورې ده او د نزول محصب په صورت کښې دا اوشوه چې نبي عليه السلام په منى کښې د روانيدو اعلان اوکړو بيا نبي عليه السلام د منى نه راووتلو او محصب ته راؤرسيدو نو دلته ئې آرام اوکړو په دې کښې په قلار قلار ټول خلق دلته راؤرسيدل بيا په اخرى شپه کښې ټوله قافله د هغې ځائې نه مکې مکرمې ته راغله هلته ټولو طواف وداع اوکړو[2] د سحر مونځ ئې اوکړو د دې نه پس نبي عليه السلام او اهل مدينه مدينې منورې طرفته روان شو او نور خلق خپل خپل وطن طرفته.

اوس پاتې شوه دا خبره چې ائمه فقه د تحصيب باره کښې څۀ فرمائي؟ نو ائمه اربعه د دې په استحباب باندې متفق دى ليکن د امام مالک په نزد د دې استحباب مقيد دې بشرط ان لا يكون متعجلاً وان لا يكون اليوم يوم جمعة چې ورنه د تللو جلدى نۀ وى او دويم دا چې د جمعې ورځ نۀ وى

[۲۰۰۹] ([3]) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، وَعُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ الْمَعْنَى. ح وحَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، قَالُوا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، حَدَّثَنَا صَالِحُ بْنُ كَيْسَانَ، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ، قَالَ: قَالَ أَبُو رَافِعٍ: "لَمْ يَأْمُرْنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ أُنْزِلَهُ وَلَكِنْ ضَرَبْتُ قُبَّتَهُ فَنَزَلَهُ"، قَالَ مُسَدَّدٌ: وَكَانَ عَلَى ثَقَلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَقَالَ عُثْمَانُ: يَعْنِي فِي الْأَبْطَحِ.

دسليمان بن يسار نه روايت دې چه ماته ابو رافع په نا اووئيل ماته نبي عليه السلام حکم نه وو کړې چه په محصب مقام کښې کوزشم ليکن ماهلته خيمه وهلې وه نو نبي عليه السلام ورته ورکوزشو، مسدد وئيلى دى ابورافع دنبي عليه السلام دسامان محافظ وو په ابطح مقام کښې.

[1] قال المنذري وأخرجه البخاري ومسلم والترمذي والنسائي وابن ماجه ..اه. (عون)

[2] په دې ترتيب کښې چه د شارحين حديث کوم اختلاف دې هغه مونږ نزدې ليکلې دې. ۱۲

[3]: صحيح مسلم/الحج ۵۹(۱۳۱۳)، (تحفة الأشراف: ۱۲۰۱۶)(صحيح)

تشریح: قوله: وکان علی ثقل النبی صلی الله علیه وسلم ثقل په معنی د سامان او د مسافر سامان قال تعالی وتحمل اثقالکم الی بلد لم تکونوا بالغیه الا بشق الانفس الایة یعنی ابورافع چې د رسول الله مبارک مولی او خادم دې هغه د حج په دې سفر کښې د نبی ﷺ د سامان نګران او محافظ وو

[۲۰۱۰]() حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ حُسَيْنٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ عُثْمَانَ، عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ، قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَيْنَ تَنْزِلُ غَدًا فِي حَجَّتِهِ؟ قَالَ: "هَلْ تَرَكَ لَنَا عَقِيلٌ مَنْزِلًا؟" ثُمَّ قَالَ: "نَحْنُ نَازِلُونَ بِخَيْفِ بَنِي كِنَانَةَ حَيْثُ قَاسَمَتْ قُرَيْشٌ عَلَى الْكُفْرِ، يَعْنِي الْمُحَصَّبَ، وَذَلِكَ أَنَّ بَنِي كِنَانَةَ حَالَفَتْ قُرَيْشًا عَلَى بَنِي هَاشِمٍ أَنْ لَا يُنَاكِحُوهُمْ وَلَا يُبَايِعُوهُمْ وَلَا يُؤْوُوهُمْ". قَالَ الزُّهْرِيُّ: وَالْخَيْفُ الْوَادِي.

داسامه بن زید رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه په حج کښې مې نبی ﷺ ته ووئیل چه سبابه په کوم ځای کښې کوزیږې؟نبی ﷺ اوفرمائیل آیا عقیل په مکه کښې کوم کور زمونږ دپاره پریښودلی دې؟ اوبیافی اوفرمائیل مونږبه ۱ دبنو کنانه په خیف ابطح، بطحاء، محصب) کښې، چرته چه قریشو په کفرباندې قسم کړی وو، یعنی و بنی کنانه داقسم کړې وواودقریشوسره ئې لوظ کړی و ووچه دبنوهاشم سره به نکاح نه کوو اونه به ورته ځای ورکوواونه به ورسره دخریدوفرخت معاملات کوواونه به ورسره بیعت کوو. زهری وئیلی دی چه خیف دځای نوم دې۔

قلت یا رسول الله این تنزل غداً فی حجته دا حدیث مصنف په باب التحصیب کښې راوړلې دې د دې مقتضا دا ده چې د دې سوال وجواب تعلق د نزول محصب نه مخکښې د منی نه روانیدو په موقع باندې وو بلکه د ابوهریره حدیث چې د دې نه پس راځی په هغې کښې د دې تصریح ده او د صحیح مسلم په یو روایت کښې دغه شان دی وذلک فی حجته حین دنونا من مکة د دې روایت تقاضه بظاهر دا ده چې دا سوال اګرچه د حج په موقع باندې وو لیکن د منی نه د روانیدو په وخت نۀ بلکه د دخول مکه نه مخکښې، او هم د مسلم شریف په یو روایت[۲] کښې د فی حجته په ځائې وذلک زمن الفتح دې د دې د اختلاف جواب حافظ په فتح الباری جلد۳صفحه ۳۲۰ کښې د علی بن مدینی نه دا نقل کړې دې چې دا د واقعه په تعدد باندې محمول دې

دغه شان د بخاری په یو روایت کښې دی تنزل فی دارک بمکة او په مسلم کښې دی اتنزل فی ادراک بمکة(همزه استفهام سره)

[۱]: صحیح البخاري/الحج ٤٤(١٥٨٨)، والجهاد ١٨٠(٣٠٥٨)، ومناقب الأنصار ٣٩(٤٢٨٢)، والمغازي ٤٨(٤٢٨٢)، والتوحید ٣١(٧٤٧٩)، صحیح مسلم/الحج ٨٠(١٣٥١)، سنن ابن ماجه/الفرائض ٦(٢٧٣٠)، والمناسك ٢٦(٢٩٤٢)،(تحفة الأشراف: ١١٤)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الفرائض ١٥(٢١٠٧)، موطا امام مالك/الفرائض ١٣(١٠)، مسند احمد(٢/٢٣٧)، سنن الدارمي/الفرائض ٢٩(٣٠٣٦)(صحیح)

[۲]) اوردهما مسلم في باب النزول بمكة للحاج وتوريث دورهما.

د حديث تشريح او وضاحت

قوله: هل ترک لنا عقيل منزلاً: وفی رواية البخاری هل ترک عقيل من رباع[1] وفی رواية مسلم وهل ترک لنا عقيل من منزل او د غيرصحاح په يو روايت کښې دی کما فی الفتح وهل ترک لنا عقيل من رباع، د دې نه پس خان پوهه کړئ چې د دې دار نه مراد د حديثو شارحين وائی چې د نبی ﷺ هغه جدی مکان دې چې په هغې کښې د نبی ﷺ ولادت شريفه شوې وو دا مکان د هاشم بن عبدمناف وو چې د هغوی نه پس د هغهٔ ځوی عبدالمطلب ته په ترکه کښې پاتې شوې وو اوس وراندې دا خو نهٔ شی وئيلې چې د عبدالمطلب نه وروستو د هغهٔ ځوی عبدالله ته د هغهٔ حصه په ترکه کښې ملاؤ شوه ځکه چې عبدالله خو د عبدالمطلب په ژوند کښې وفات شوې وو بلکه وئيلې شوې دی چې عبدالمطلب په خپل ژوند کښې چې کله بوډا شو نو هغه خپل مکان په زامنو کښې تقسيم کړې وو لهذا د عبدالله هغه حق او حصه نبی ﷺ ته منتقل شوه (حکاه الحافظ عن الفاکهی جلد۳ صفحه ۳٦۰)

دويم قول په دې کښې دا دې چې اصل کښې دا مکان د ابوطالب وو ځکه چې د عبدالمطلب د مرګ نه پس په دې ټول مکان باندې د ابوطالب قبضه وه ځکه چې هغه د عبدالمطلب په زامنو کښې د ټولو نه لوې اومشر وو او په زمانه جاهليت کښې به داسې کيدل چې د مړی په اولاد کښې به څوک مشر وو نو هغهٔ به ټوله ترکه اخستله نو د دې قول په بناء باندې د دې کور اضافهٔ نبی ﷺ طرفته په حيثيت د سکنی به وی دغه شان د خپل قريب او رشته دار کور هم خصوصاً په سفر کښې هم خپل کور وی

بهرکيف! عقيل چونکه دا کور خرڅ کړې وو که دا ئې نهٔ وو خرڅ کړې نو بيا د سياق حديث نه معلوميږی چې بيا به نبی ﷺ په دې کښې قيام کړې وو([2]) اوس دلته دا خبره د وضاحت مطالبه کوی چې د ابوطالب خو څلور زامن وو نو بيا صرف عقيل يواځې په دې کښې څنګه تصرف اوکړو؟ د دې جواب دا دې چې د ابوطالب د مرګ په وخت کښې د هغهٔ دوه زامن حضرت جعفر او علی ﷺ خو مسلمانان وو نو هغه دوه خو ځکه د ابوطالب وارثان نهٔ شو په باقی دواؤ کښې د ابو طالب باره کښې دا وئيلې شی چې هغه په جنګ بدر کښې ورک شوې وو اوس صرف عقيل پاتې شو چې دې وخته پورې ئې اسلام نهٔ وو قبول کړې نو په دې وجه په ټول مکان باندې د هغهٔ قبضه شوه چې کوم هغهٔ خرڅ کړې وو دې ته نبی ﷺ فرمائی وهل ترک لنا عقيلاً منزلاً.

---

[1]) بکسر الراء جمع ربع مثل سهم وسهام.

[2]) خان پوهه کړئ چه يو قول د دې دار په باره کښې دا دې چه دا عقيل نه وو خرڅ کړې بلکه هغه کور د عقيل د اولاد سره د يوې مودې پورې وو او د هغه اولاد دا د حجاج بن يوسف په رور محمد بن يوسف باندې په ګران قيمت باندې خرڅ کړې وو، غالبا هم په دې بنياد باندې شارح حديث خطابی دا خبره کړې ده چه زما رائې دا ده چه که هغه کور د عقيل په ملکيت کښې وو نو بيا رسول الله ﷺ هغې ته نزول په دې وجه اونکړو چه هغه هجرت فرمائيلو سره هغه د الله پاک دپاره پريخودلې وو، خو نورو شارحينو د هغه رائې په دې وينا سره رد کړې ده چه دا خلاف ظاهر ده، سياق حديث د دې مقتضی دې چه که عقيل هغه کور خرڅ کړې نه وو نو بيا به په کښې رسول الله ﷺ قيام کولو. اهـ

د دې پوره حديث مضمون دا دې چې د پيغمبر ﷺ خادم حضرت اسامه د نبي ﷺ نه په منی کښې سوال اوکړو چې صبا ته د دې خائې نه مکې مکرمې ته زمونږ روانګې ده نو مکه مکرمه کښې به په کوم مکان کښې زمونږ قيام وی تاسو به په خپل مکان کښې قيام کوی؟ په دې باندې نبي ﷺ اوفرمائيل چې عقيل زمونږ دپاره د مکان کوم خائې پريخودلې دې(لهذا چې هرکله په مکه مکرمه کښې د قيام خائې نشته) نو مونږ به داسې اوکړو چې دمنی نه به لاړ شو اوپه لاره کښې به محصب کښې شپه تيره کړو او بيا به سحر وختی په مکه مکرمه کښې طواف وداع اوکړو او مدينې منورې ته به روان شو لهذا نۀ به په مکه مکرمه کښې قيام راشی او نۀ به هلته د قيام کولو ضرورت پيښ شی دا ډير د عبرت اود موعظت مقام دې چې هغه سردار دوجهان چې دهغوی پلارنيکۀ او ټول خاندان به په مکه مکرمه کښې اوسيدو او مکه مکرمه چې د چا وطن اصلي وو هلته د هغوی دپاره د يو شپې تيرولو خائې نشته دالله تعالی دخپلو مقربينو سره مختلف معاملات دی

فائده: دا حديث امام ابوداؤد په کتاب الفرائض کښې هم ذکر کړې دې د باب هل يرث المسلم الکافر لاندې څکه چې جعفر او علي ﷺ دواړه د ابوطالب د وفات نه مخکښې مسلمانان شوې وو په دې وجه دا دواړه د پلار په مکان کښې وارثان نۀ شو څکه چې د توارث دپاره د مورث دمرګ په وخت کښې د وارث او د مورث درميان کښې اتحاد د ملت شرط دې

[۲۰۱۱] (۱) حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ خَالِدٍ، حَدَّثَنَا عُمَرُ، حَدَّثَنَا أَبُو عَمْرٍو يَعْنِي الْأَوْزَاعِيَّ، عَنْ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ حِينَ أَرَادَ أَنْ يَنْفِرَ مِنْ مِنًى: "نَحْنُ نَازِلُونَ غَدًا"، فَذَكَرَ نَحْوَهُ، وَلَمْ يَذْكُرْ أَوَّلَهُ وَلَا ذَكَرَ الْخَيْفَ الْوَادِي.

د ابو هريره ﷺ نه روايت دې فرمائي چه نبي ﷺ کله دمنی نه دتلواراده وکړه نووئي فرمائيل مونږ به صبا هلته يو اوددې نه پس ئې داسې روايت بيان کړو چه په هغې کښې نه خودمخکښې حديث په شان الفاظ شته اونه په کښې دوادی خيف ذکر دې.

[۲۰۱۲] (۲) حَدَّثَنَا مُوسَى أَبُو سَلَمَةَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ حُمَيْدٍ، عَنْ بَكْرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ وَأَيُّوبَ، عَنْ نَافِعٍ، أَنَّ ابْنَ عُمَرَ كَانَ "يَهْجَعُ هَجْعَةً بِالْبَطْحَاءِ، ثُمَّ يَدْخُلُ مَكَّةَ، وَيَزْعُمُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَفْعَلُ ذَلِكَ".

د نافع نه روايت دې فرمائي چه عبدالله بن عمر د ﷺ به په بطحا مقام کښې اوده ته کيدو اوبيابه مې ته داخل شو او وئيل به ئې چه د نبي ﷺ به داسې کول.

[۲۰۱۳] (۳) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا عَفَّانُ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، أَخْبَرَنَا حُمَيْدٌ، عَنْ بَكْرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ ابْنِ عُمَرَ، وَأَيُّوبَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنْ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "صَلَّى الظُّهْرَ وَالْعَصْرَ وَالْمَغْرِبَ وَالْعِشَاءَ

[1]: صحيح البخاري/ الحج ٤٥(١٥٩٠)، صحيح مسلم/الحج ٥٩(١٣١٤)، سنن النسائي/ الكبري/ الحج(٤٢٠٢)،(تحفة الأشراف: ١٥١٩٩)، وقد أخرجه: مسند احمد(٢/ ٢٣٧، ٥٤٠)(صحيح)

[2]: تفرد به أبو داود،(تحفة الأشراف: ٦٦٥٨، ٧٥٩٠)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الحج ١٤٨(١٧٦٧)، صحيح مسلم/الحج ٥٩(١٢٧٥)، سنن الترمذي/الحج ٨١(٩٢١)، سنن ابن ماجه/المناسك ٨١(٣٠٦٨)، مسند احمد(٢/ ٢٨، ١٣٨)(صحيح)

[3]: انظر ما قبله،(تحفة الأشراف: ٦٦٥٨، ٧٥٩٠)(صحيح)

بِالْبَطْحَاءِ، ثُمَّ هَجَعَ هَجْعَةً، ثُمَّ دَخَلَ مَكَّةَ"، وَكَانَ ابْنُ عُمَرَ يَفْعَلُهُ.

دنافع نه روايت دې فرمائى چه عبد الله بن عمر رضي الله عنهما به فرمائيل يقينانبى عليه السلام دماسپخين مازيګر اومانښام او ماسخوتن مونځ په بطحا مقام كښې كړې وو اوبيائې آرام اوكړو اوبيا مكې ته داخل شو او ابن عمر رضي الله عنهما به هم داسې كول.

بَابٌ فِيمَنْ قَدَّمَ شَيْئًا قَبْلَ شَيْءٍ فِي حَجِّهِ

باب: په اركان حج كښې د تقديم تاخير كولو بيان

په يوم النحر كښې چې كوم څلور افعال كيږى په هغې كښې ترتيب دا دې رمى، ذبح، حلق او بيا طواف نبى عليه السلام په دې ترتيب سره دا افعال اداكړې دى په دې كښې اختلاف دې چې دا ترتيب صرف سنت دې يا واجب دې د شافعيه و حنابله او صاحبينو په نزد سنت دې لهذا د دې خلاف كولو سره به څۀ فديه وغيره نۀ واجبيږى د امام ابوحنيفه صاحب او امام مالک صاحب په نزد په دې كښې په بعضې امورو كښې ترتيب سنت دې او په بعضو كښې واجب دې د امام صاحب په نزد په طواف كښې ترتيب واجب نۀ دې دې لره چې څنګه غواړى نو مؤخر كولې هم او مقدم كولې هم شى باقى د دريو امورو ترتيب دا دې چې كه حاجى قارن يا متمتع وى نوپه دريو واړو كښې واجب دې او كه حاجى مفرد وى نو چونكه په مفرد باندې هدى واجب نۀ ده په دې وجه د دۀ دپاره په باقى دواؤ يعنى رمى او حلق كښې ترتيب واجب دې خلاف ترتيب كار كولو سره به دم واجبيږى

د امام مالک صاحب په نزد صرف تقديم الرمى على الاخيرين[1] يعنى حلق او طواف واجب دې د دې خلاف كولو سره به دم واجبيږى په ذبح كښې د دوى په نزد څۀ ترتيب نشته چې كله ئې خوښه شى نو اودې كړى دغه شان په حلق او طواف كښې هم څه ترتيب نشته يو لره په بل باندې مقدم كولې او مؤخر كولې شى

[٢٠١٤] ([2]) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ عِيسَى بْنِ طَلْحَةَ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ، أَنَّهُ قَالَ: وَقَفَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ بِمِنًى يَسْأَلُونَهُ، فَجَاءَهُ رَجُلٌ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنِّي لَمْ أَشْعُرْ فَحَلَقْتُ قَبْلَ أَنْ أَذْبَحَ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اذْبَحْ وَلَا حَرَجَ"، وَجَاءَ رَجُلٌ آخَرُ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، لَمْ أَشْعُرْ فَنَحَرْتُ قَبْلَ أَنْ أَرْمِيَ، قَالَ: "ارْمِ وَلَا حَرَجَ"، قَالَ: فَمَا سُئِلَ يَوْمَئِذٍ عَنْ شَيْءٍ قُدِّمَ أَوْ أُخِّرَ إِلَّا قَالَ: "اصْنَعْ وَلَا حَرَجَ".

عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما نه روايت دې فرمائى چه نبى عليه السلام په حجة الوداع كښې په منى كښې ودريدلې وو خلقو ترې دحج دمسئلو تپوسونه كول شروع كړل يوكس راغې او

---

[1]) والمشهور عند الشراح في مذهب مالك انه يجب عنده تقديم الرمي علي الثلاثة الباقية والصحيح ما ذكرته كما قال الدردير اعني تقديم الرمي علي الحلق والطواف والترتيب فيما سواه وهو اربعة صور سنة.

[2]): صحيح البخاري/العلم ٢٣،٢(٨٣)، الحج ١٣١(١٧٣٦)، الأيمان والنذور ١٥(٦٦٦٥)، صحيح مسلم/الحج ٥٧(١٣٠٦)، سنن الترمذي/الحج ٧٦(٩١٦)، سنن النسائي/ الكبري/ الحج(٤١٠٦)، سنن ابن ماجه/المناسك ٧٤(٣٠٥١)،(تحفة الأشراف: ٨٩٠٦)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الحج ٨١(٢٤٢)، مسند احمد(١٥٩/٢، ١٦٠، ١٩٢، ٢٠٢، ٢١٠، ٢١٧)، سنن الدارمي/المناسك ٦٥(١٩٤٨)(صحيح)

عرض ئې اوکړو اې دالله رسوله ماپه ناخبرۍ کښې دذبح کولونه مخکښې سر خرولې دې نبي ﷺ اوفرمائیل هیڅ باك نشته، بناءبل کس راغې او عرض ئې اوکړو اې دالله رسوله زما نه ګیتې ویشتل هیرشو او مخکښې مې سر وخروو نبي ﷺ ورته وفرمائیل اوس رې وکړه هیڅ باك نشته. امام ابوداود فرمائیل ددې په شان دځومره څیزونوپه باره کښې چه دنبي ﷺ نه تپوس شوې دې کوم چه په حج کښې مخکښې وروسته کړې شوی دی ددې ټولو متعلق نبي ﷺ دا فرمائیلی دی چه په دې کښې هیڅ حرج نشته.

[٢٠١٥]() حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنِ الشَّيْبَانِيِّ، عَنْ زِيَادِ بْنِ عِلَاقَةَ، عَنْ أُسَامَةَ بْنِ شَرِيكٍ، قَالَ: خَرَجْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَاجًّا، فَكَانَ النَّاسُ يَأْتُونَهُ، فَمَنْ قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، سَعَيْتُ قَبْلَ أَنْ أَطُوفَ، أَوْقَدَّمْتُ شَيْئًا أَوْ أَخَّرْتُ شَيْئًا، فَكَانَ يَقُولُ: "لَا حَرَجَ لَا حَرَجَ إِلَّا عَلَى رَجُلٍ اقْتَرَضَ عِرْضَ رَجُلٍ مُسْلِمٍ وَهُوَ ظَالِمٌ، فَذَلِكَ الَّذِي حَرِجَ وَهَلَكَ".

داسامه بن شریك رضی الله عنه نه روایت دې فرمائي چه د نبي ﷺ سره د حج ادا کولو دپاره لاړم خلق به نبي ﷺ ته راتلل چاچه به ورته اوونیل اې دالله رسوله مادطواف نه مخکښې سعی کړې ده اوفلان فلان عمل مې مقدم اوموخرکړې دې نبي ﷺ به ورته فرمائیل هیڅ خرج نشته البته دا ښه خبره نه ده ځوك چه دکوم مسلمان جان مال یاعزت په ظلم سره برباد کړې وی او تباه کړې ئې وی او په ظلم کښې واقع شوې وي.

د احادیث الباب نه په ظاهره د شافعیه وحنابله تائید کیږی جواب دا دې چې په دې احادیثو کښې حرج اخروی یعنی د مؤاخذه او د ګناه نفی مراد ده د حرج دنیوی نفی مراد نۀ ده ځکه چې د باب په آخری حدیث کښې راځی انما الحرج علی من اقرض عرض رجل مسلم له حرج او ګناه خو په هغې سرې باندې ده چې د یو مسلمان پرده درې اوکړی او مسلمان لره رسوا کړی،ښکاره خبره ده چې د مسلمان په بی عزتۍ کښې حرج اخروی دې نۀ چې حرج دنیوی کفاره وغیره د دې تقابل نه معلومه شوه چې په جمله اولی کښې د کوم حرج نفی ده نو هغه حرج اخروی دې

دویمه وجه دا ښودلې شی چې د حرج د نفی والا روایت د ابن عباس نه هم منقول دې حالانکه هغوی د کفارې د وجوب قائل دی

بَابٌ فِي مَكَّةَ

باب: په مکه کښې د مونځ کولوبیان

د ترجمة الباب غرض

دا ترجمة الباب مبهم دې مقصود ستره بیانول دی چې په مکه مکرمه کښې د مونځ کوونکی وړاندې سترې ته ضرورت شته که نه؟ لهذا ترجمة الباب داسې کیدل پکار وو باب السترة بمكة نو مصنف د حديث الباب نه ثابت کړل چې په مسجد حرام کښې د سترې حاجت نشته د حدیث شریف مضمون دا دې مطلب بن ابی وداعه فرمائي چې ما نبي ﷺ د باب بنی سهم نزدې په مسجد حرام کښې په مونځ کولو اولیدۀ هغه وخت چې خلق د نبي

(): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٢٨)(صحيح)

عليه السلام مخې ته تيريدل حالانکه هلته ستره قائم نۀ وه حضرت په بذل المجهود کښې ليکلي دي چې نن صبا دا په باب العمره سره مشهور دې په دې دروازې سره خلق تنعيم ته ځی د عمرې احرام تړلو دپاره

په مکه مکرمه کښې د ستره قائمولو ضرورت شته یا نه؟

د دې نه پس تاسو ځان پوهه کړئ چې امام بخاری باب تړلې دې باب السترة بمكة وغيرها چې دې سره ئې اشاره اوکړه د جمهورو د مسلک طرفته چې د سترې باره کښې مکه او غيرمکه برابر دی[1] البته په دې کښې د امام احمد اختلاف دې د هغوی په نزد علی الراجح په مکه مکرمه کښې د سترې حاجت نشته بل سائر الحرم عنده كذلك د دې باب او حديث حواله مونږ سره په ابواب السترہ کښې تیره شوې ده(الدرالمنضود جلدثانی ص۱۹۶)هلته دې د حنفيه مسلک اوکتلې شی چې د هغې حاصل دا دې چې مسجد حرام چونکه مسجد کبير دې په دې کښې د موضع سجود نه علاوه د وړاندې نه تيريدې شی يو قول زمونږ په نزد دا دې طواف حکماً مونځ دې لهذا طواف کوونکی د مونځ کوونکو په وړاندې تيريدې شی لکه څنګه چې د مونځګذارو په وړاندې د نورو مونځګذارو صف ولاړ وی صرح به الشامی كذا فى هامش البذل

[۲۰۱۶](٢) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، حَدَّثَنِي كَثِيرُ بْنُ كَثِيرِ بْنِ الْمُطَّلِبِ بْنِ أَبِي وَدَاعَةَ، عَنْ بَعْضِ أَهْلِهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّهُ رَأَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "يُصَلِّي مِمَّا يَلِي بَابَ بَنِي سَهْمٍ وَالنَّاسُ يَمُرُّونَ بَيْنَ يَدَيْهِ وَلَيْسَ بَيْنَهُمَا سُتْرَةٌ". قَالَ سُفْيَانُ: لَيْسَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْكَعْبَةِ سُتْرَةٌ. قَالَ سُفْيَانُ: كَانَ ابْنُ جُرَيْجٍ أَخْبَرَنَا عَنْهُ، قَالَ: أَخْبَرَنَا كَثِيرٌ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: فَسَأَلْتُهُ، فَقَالَ: لَيْسَ مِنْ أَبِي سَمِعْتُهُ، وَلَكِنْ مِنْ بَعْضِ أَهْلِي، عَنْ جَدِّي.

کثير بن کثير دخپلې کورنۍ ديوکس نه اوهغه دده دنيکه نه روايت کوی فرمائی چه نبی عليه السلام به په کعبه کښې د بنی سهم ددروازی سره نزدې مونځ کولو اوخلق به ئې په مخکښې تيريدل او دده اودخلقو ترمينځ به ستره نه وه، سفيان وائی چه ابن جريج مونږ ته وئيلی دی چه مونږ ته کثير دخپل پلار په واسطه باندې روايت بيان کړې دې، چنانچه ما دکثير نه په دې باره کښې تپوس اوکړو نوهغه اووئيل زه دا روايت دخپل پلار نه نه بلکه پخپله کورنۍ کښې ديوکس نه نقل کوم چه هغه زمانيکه نه اوريدلی دی.

شرح السند

تشريح: قوله: قال سفيان كان ابن جريج اخبرنا عنه ...الخ:

د دې حاصل دا دې چې پورته سند سفيان داسې بيان کړې وو سفيان عن كثير عن بعض اهله

[1]، حافظ وائی شايد امام بخاری رحمه الله دې عدم الفرق سره اشاره اوکړه دهغه حديث تضعيف طرف ته دکوم تخريج چه اصحاب السنن کړې دې د مطلب بن ابی وداعه رضی الله عنه حديث،اه، زه وائم امام ابوداؤد هم دهغې په سند باندې کلام کړې دې. کما ترى.

[2]): سنن النسائي/القبلة ٩(٧٥٩)، والحج ١٦٢(٢٩٦٢)، سنن ابن ماجه/المناسك ٣٣(٢٩٥٨)،(تحفة الأشراف: ١١٢٨٥)، وقد أخرجه: مسند احمد(٣٩٩/٦)(ضعيف)

عن جده یعنی د کثیر استاذ سفیان د هغوی په کوروالو کښې څوک مبهم کس جوړ کړو او بیا ئې د هغوی استاذ جدکثیر یعنی مطلب بن ابی وداعه جوړ کړو د دې نه پس سفیان[1] دا فرمائی اصل خبره دا ده چې دا حدیث اولاً ماته په واسطه د ابن جریج د کثیر نه رارسیدلې وو نو هغه وخت ابن جریج د کثیر استاذ د هغهٔ پلار ګرځولې وو او سند ئې داسې بیان کړې وو اخبرنا کثیر عن ابیه سفیان وائی چې د دې نه پس زهٔ براه راست کثیر سره ملاؤ شوم نو هغوی ماته دا اوفرمائیل چې دا حدیث ما د خپل پلار نه نهٔ دې اوریدلې بلکه د خپل بعضې اهل نه مې اوریدلې دې لهذا تحقیقی خبره دا ده چې کثیر دې حدیث لره عن ابیه عن جده نهٔ بیانوی بلکه عن بعض اهله عن جده ئې بیانوی اوس دا معلومه نهٔ ده چې د بعضې اهل مصداق څوک دی؟ البته دومره معلومه ده چې د دې مصداق پلار نهٔ دې

بَابُ تَحْرِيمِ حَرَمِ مَكَّةَ

باب: په مکه کښې د حرم دحرمت بیان

تحریم په معنی د اثباتِ حرمة وعظمة یعنی د مکې مکرمې دپاره د حرمت او د عظمت اثبات یا تحریم په معنی د جعل الشئ حراماً ممنوعاً نو بعضې هغه افعال چې په غیرمکه کښې حلال دی او په مکه مکرمه کښې هغه حرام دی مثلاً قتال،ښکار،اونې کټ کول وغیره لیکن منشا دلته د دې تحریم هم هغه تعظیم مکه دې نو تحریم و تعظیم دواړه متقارب المعنی او متلازم دی اصل کښې د تعظیم معنی یوڅیز لره عظیم او لوې ګڼړل که من حیث الفضل والثواب او که من حیث الجرم والعقاب نو مصنف په دې کتاب کښې یو باب تړلې دې په ځائې د باب تحریم الزنا باب تعظیم الزنا یعنی زنا لره جرم عظیم ګڼړل والله تعالی اعلم

[۲۰۱۷](۲) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ بْنُ مُسْلِمٍ، حَدَّثَنَا الْأَوْزَاعِيُّ، حَدَّثَنِي يَحْيَى يَعْنِي ابْنَ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: لَمَّا فَتَحَ اللَّهُ تَعَالَى عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَكَّةَ، قَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيهِمْ فَحَمِدَ اللَّهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ، ثُمَّ قَالَ: "إِنَّ اللَّهَ حَبَسَ عَنْ مَكَّةَ الْفِيلَ وَسَلَّطَ عَلَيْهَا رَسُولَهُ وَالْمُؤْمِنِينَ، وَإِنَّمَا أُحِلَّتْ لِي سَاعَةً مِنَ النَّهَارِ ثُمَّ هِيَ حَرَامٌ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ لَا يُعْضَدُ شَجَرُهَا وَلَا يُنَفَّرُ صَيْدُهَا وَلَا تَحِلُّ لُقَطَتُهَا إِلَّا لِمُنْشِدٍ". فَقَالَ عَبَّاسٌ: أَوْ قَالَ: قَالَ الْعَبَّاسُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِلَّا الْإِذْخِرَ، فَإِنَّهُ لِقُبُورِنَا وَبُيُوتِنَا. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِلَّا الْإِذْخِرَ". قَالَ أَبُو دَاوُد: وَزَادَنَا فِيهِ ابْنُ الْمُصَفَّى، عَنِ الْوَلِيدِ، فَقَامَ أَبُو شَاهٍ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْيَمَنِ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، اكْتُبُوا لِي. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اكْتُبُوا لِأَبِي شَاهٍ". قُلْتُ لِلْأَوْزَاعِيِّ: مَا قَوْلُهُ اكْتُبُوا لِأَبِي شَاهٍ؟ قَالَ: هَذِهِ الْخُطْبَةَ الَّتِي سَمِعَهَا مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

دابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه کله الله تعالی نبی علیه السلام ته مکه فتح کړه نونبی علیه السلام

---

(۱) ابن جريج روي الحديث عن كثير عن ابيه عن جده، واما سفيان بن عيينة فرواه عن كثير عن بعض اهله عن جده وصرح بان المراد بالاهل غير ابيه فالظاهر ان الصحيح رواية سفيان.

(۲): صحيح البخاري/اللقطة ۷(۲۴۳۴)، صحيح مسلم/الحج ۸۲(۱۳۵۵)، سنن الترمذي/الديات ۱۳(۱۴۰۵)، سنن النسائي/القسامة ۲۴(۴۷۸۹، ۴۷۹۰، ۴۷۹۱)، سنن ابن ماجه/الديات ۳(۲۶۲۴)،(تحفة الأشراف: ۱۵۳۸۳)، وقد أخرجه: مسند احمد(۲/۲۳۸)، سنن الدارمي/البيوع ۶۰(۲۶۴۲)، ويأتي هذا الحديث في العلم(۳۶۴۹، ۳۶۵۰) وفي الديات(۴۵۰۵)(صحيح)

خلقو په مينځ ښى ودريدو دالله تعالى حمد اوتعريف ئې بيان کړو اووئې فرمائيل الله تعالى دمکې مکرى نه اصحاب فيل منع کړله او په دې باندې ئې خپل رسول اونور مومنان غالب کړل، اوپه مکه کښې جنګ اوقتل قتال زما دپاره دلږ وخت دپاره حلال شوې وو ددې نه پس به دقيامت دورځې پورې حرام وى ددې ځائې ونه به نشى کټ کولې اونه دى ددې ځائې ځناور دښکار دپاره پاځولې شى اوددى ځائې لقطه (غورزيدلې څيز) پورته کولې شى مګرهغه څوك چه ددې ښى بيانولې شى خلقوته، په دې وخت کښې عباس رضي الله عنه پاڅيدو او عرض ئې اوکړو اې دالله رسوله ليکن اذخر(ګيا) خو زمونږ په قبرونو او کورونو کښې استعماليږى نبى عليه السلام اوفرمائيل اذخر(په وخت دضرورت ريبل جائزدي) ابوداود وائى چه ابن المصفى دوليد نه نقل کړى دى چه ابو شاه يمنى پاڅيدو اوعرض يسې اوکړو اې دالله رسوله ماته کښې وليکه نبى عليه السلام اوفرمائيل ابو شاه ته ليکلى ورکړئ وليد وائى ما اوضاعى ته اووئيل ابوشاه ته ليکلى ورکړئ ددې جملى څه مطلب دې؟ هغه جواب راکړو چه ددې نه مراد هغه خطبه ده کومه چه ئې دنبى عليه السلام نه اوريدلى وه.

د حديث مبارك شرح:

قوله: ان الله حبس عن مكة الفيل ..الخ: يعنى کوم ذات چې هاتهيان په مکه مکرمه باندې د حملې کولو نه منع کړې وو هغې ذات خپل رسول ته په مکه مکرمه باندې د ورتللو حکم اوکړو ليکن د اصحاب الفيل مقصد په دې حمله باندې د کعبې مبارک شهيد کول او ورانول وو او د رسول الله مبارک صلى الله عليه وسلم مقصود د بيت الله شريف تعظيم او مکه معظمه د بتانو او د مشرکانو نه خالى کول او د دين د دشمنانو نه خالى کول وو وانما احلت لى ساعة من نهار فرمائى زما دپاره هم احلال مکه صرف د يو ساعت دپاره وو د دې نه پس هميشه دپاره حرمت واپس راغې اوس دوباره قيامته پورې د چا دپاره هم په دې کښې قتال جائز نۀ دې.[1]

لا يعضد شجرها ولا ينفر صيدها چې کوم امور خاص په حرم کښې ناجائز دى او د حرم د شان خلاف دى دا د هغې بيان دې چې نۀ دې د حرم د زمکې اونې کټ کړې شى او نۀ دې د هغه ځائې ښکار اوچيړلې شى(دا د خپل ځائې نه لرې نۀ کړې شى) چې هرکله صرف تنفير حرام دې نو اتلاف و اهلاك به بطريق اولى ناجائز وى

[1] سوال: آيا جهاد به هم جائز نه وى؟ جواب: نه، ځکه چه ان شاء الله تعالى دې نه پس آئنده به کله هم کافرانو ته طاقت او غلبه حاصله نه شى، مکه به دارالحرب نه جوړيږى. فقد روى الترمذى (ص ۱۹٤ ج۱) عن الحارث بن مالك بن برصاء قال سمعت النبي يوم فتح مكة يقول لا تغزي هذه بعد اليوم الي يوم القيامة (قال الترمذي هذا حديث حسن صحيح) چه بيشکه د نن نه پس به په مکه باندې حمله او ددې د فتح کولو ضرورت نه راځى، باقى دا بله خبره ده چه يومسلمان بادشاه په مکه مکرمه باندې د بل بادشاه حکومت ختمولو دپاره حمله اوکړى او دا واقع شوى دى. په حديث کښې ددې نفى نشته. لکه عبدالملك بن مروان په ۳۷هـ کښې حجاج بن يوسف د لښکر امير جوړ کړو اوپه مکه مکرمه باندې ئې حمله اوکړه، هلته د عبدالله بن الزبير حکومت وو، هغه ته ئې شکست ورکړو، ښهانسى ئې کړو، دا مشهوره قصه ده، دا حمله په اصل کښې په مکه يا بيت الله شريف باندې نه وه بلکه دهغه ځائې په حکومت باندې وه.

د حرم کوم وابنهٔ او اونه کټ کول منع دي

د حرم کومه اونه او وابنهٔ ممنوع دی په دې کښې تفصيل دې د شافعيه په نزد په دې کښې هيڅ قيد نشته هر قسم اونه او وابنهٔ منع دی سواء کان مما ينبة الناس او ينبت بنفسه يعنی خوا داسې وی چې عام طور ئې خلق لګوی او خوا خودرو وی د امام مالک په نزد په دې کښې د جنس اعتبار دې يعنی کوم چې د جنس په لحاظ سره خودرو وی(چې عام طور ئې خلق نهٔ کری بلکه په خپله راخيژی) د هغې کټ کول ممنوع دی اګرچه فی الحال اوس چا کرلې وی د امام احمد په نزد د جنس اعتبار نشته بلکه دا کتل دی چې بالفعل څنګه دي که په خپله راخيژی نو بيا خو ئې کټ کول منع دی او که چا کرلې وی(خواه د جنس په لحاظ سره خودرو وی) نو بيا د هغې کټ کول جائز دی او د حنفيه په نزد د منع کيدو دپاره د جنس او د فعل دواړو اعتبار دې(¹) لهذا چې کومه اونه د جنس په لحاظ سره خودرو وی او هسې هم خودرو وی چا کرلې نهٔ وی نو بيا به د هغې کټ کول منع وی هکذا يستفاد من الاوجز

قوله: قال العباس يا رسول الله صلى الله عليه وسلم الا الاذخرفانه لقبورنا وبيوتنا : حضرت عباس رضي الله عنه نبی عليه السلام ته عرض اوکړو چې يا رسول الله! د اذخر استثناء اوکړئ يعنی د دې د کټ کولو اجازت اوکړئ څکه چې(دا زمونږ د ضرورت او د کار څيز دې) په کورونو کښې هم په کار راځی او په قبرونو کښې ،کورونو کښې هم په کار راځی څکه چې په څپر کښې دا لګوو او د قبر لحد چې کله په کچه ښختو سره بند کړو نو د ښختو مينځ کښې سوری په دې سره بندوو نبی عليه السلام د دوی په ترغيب او تلقين سره د دې استثناء اوفرمائيله د دې استثناء - نوم استثناء تلقين دې چې د بل په کلام کښې اضافه کولې شی اکتبوا لابی شاة د دې تشريح د علم حديث په مقدمه کښې د کتابت حديث په بحث کښې تيره شوې ده قال المنذری واخرجه البخاری ومسلم والترمذی والنسائی(عون)

> [۲۰۱۸](²) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ مُجَاهِدٍ، عَنْ طَاوُسٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، فِي هَذِهِ الْقِصَّةِ، قَالَ: وَلَا يُخْتَلَى خَلَاهَا.

طاوس دابن عباس رضي الله عنهما نه دتير شوی روايت په شان روايت نقل کړې دې مګر په دې روايت کښې دا اضافه ده ولا يختلی خلاها » يعنی ددې ګيادی نشی ريبلې.

د مقام مناسب بعضې فقهی جزئيات او د امامانو اختلاف

قوله: عن ابن عباس رضى الله تعالى عنهما فى هذه القصة ولا يختلى خلاها..الخ:

(¹) او که بالفعل خپله راټوکيدونکې دې او چا کرلې نه دې خو د جنس په لحاظ سره داسې نه دې بلکه عام طور خلق دا کری، او د دې پرې کول د احنافو په نزد ممنوع نه دی بلکه جائز به وی،څکه چه د منع صرف يو قيد موجود دې بل نه ۱۲

(²): صحيح البخاري/ جزاء الصيد ۹(۱۸۳٤)، الجهاد ۱(۲۷۸۳) صحيح مسلم/الحج ۸۲(۱۳۵۳)، سنن الترمذي/ السير ۳۳(۱۵۹۰)، سنن النسائي/ الكبرى/ الحج(۳۸۵۷)،(تحفة الأشراف: ۵۷٤۸)، وقد أخرجه: مسند احمد(۲۲٦۷۱، ۲۵۹، ۳۱۵، ۳۵۵) ويأتي هذا الحديث في الجهاد(۲٤۸۰)(صحيح)

خلا وائی لمدې (شنه) وښو ته (النبات الرطب) د شنو وښو کټ کول خو بالاتفاق ممنوع دی واما الیابس فکذلک عندمالک .و د حنفیه و حنابله په نزد د منع تعلق دې سره نۀ دې د دې دواړو په نزد د دې قطع کول او قلع دواړه جائز دی او د شافعیه په نزد د اوچو وښو کټ کول خو جائز دی لیکن قلع (یعني د ویخ نه ویستل) جائز نۀ دی دلته یو مسئله بله ده هغه دا چې دې حدیث نه د وښو کټ کول خو معلوم شو لیکن رعی (څاروی څرول) د دې حکم معلوم نۀ شو جواب دا دې چې د حنفیه و حنابله په نزد دا هم ناجائز دی بلکه بطریق اولی ناجائز دی فانه اشد من الاحتشاش ځکه چې په دې کښې د حرمت هتک او د رعایت ترک کول زیات موندې شي په نسبت د قطع کولو ،په خلاف د شافعیه ومالکیه چې د هغوی په نزد رعی یعني څاروی څرول جائز دی (بذل) یاد ساتئ چې د دې منع نه زروع وبقول واذخر مستثنی دی د دې کټ کول بالاتفاق جائز دی بیا دا هم یاد ساتل پکار دی چې په دې کښې د فقهاء کرامو اختلاف دې چې د حرم شریف د اونو د کټ کولو جزا او کفاره څۀ ده؟ نو د امام مالک په نزد په دې کښې جزا واجب نۀ ده بس دا کار کول حرام دی او په کښې گناه ده او د امام شافعي و احمد په نزد په لویه اونه کټ کولو کښې غوا ده او په وړه اونه کټ کولو کښې چیلۍ واجب ده او په ډیره وړه کښې قیمت واجب دې او زمونږ احنافو په نزد مطلقاً قیمت واجب دې او هم دا جزا ده قال المنذری واخرجه البخاری ومسلم (عون)

[٢٠١٩] [1] حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنَا إِسْرَائِيلُ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ مُهَاجِرٍ، عَنْ يُوسُفَ بْنِ مَاهَكَ، عَنْ أُمِّهِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَلَا نَبْنِي لَكَ بِمِنًى بَيْتًا أَوْ بِنَاءً يُظِلُّكَ مِنَ الشَّمْسِ؟ فَقَالَ: "لَا، إِنَّمَا هُوَ مُنَاخُ مَنْ سَبَقَ إِلَيْهِ".

دام المومنین عائشة رضي الله عنها نه روایت دې فرمائی چې ما عرض اوکړو اې د الله رسوله آیا ستا د پاره په منی کښې یو کور جوړ نکړو چې ته په کښې د غرمونه محفوظ ئې نبی ﷺ اوفرمائیل دا دهغه چاځائې دې څوک چې هلته مخکښې ورسیږی (یعني د دې ځائې زمکه دچا دپاره محسوس نه ده بلکه وقف کړې شوی زمکه ده).

الا نبنی لک بمنی بیتاً د نبی ﷺ نه اجازت طلب کړې شو چې که اجازت وی نو ستاسو دپاره به باقاعده عمارت (یعني کچه عمارت چې کوم په هغه زمانه کښې عام وو او رواج ئې وو) په منی کښې به جوړ کړې شي چې په هغې کښې به تاسو په ایام منی کښې اوسیږی نو نبی ﷺ د دې نه منع اوفرمائیله منی مناخ من سبق چې منی د هغې سړی قیام گاه ده چې هغې ته مخکښې اورسی گویا نبی ﷺ اشاره اوفرمائیله دې خبرې طرفته چې منی مباح زمکه ده د هیچا ملکیت نۀ دې د ټولو مسلمانانو په دې کښې برابر حق دې که په دې کښې ترجیح کیدې شي نو هغه د تقدم او د سبقت په وجه باندې کیدې شي

[1]: سنن الترمذي/الحج ٥١(٨٨١)، سنن ابن ماجه/المناسك ٥٢(٣٠٠٦)، (تحفة الأشراف: ١٧٩٦٣)، وقد أخرجه: مسند احمد(١٨٧/٦، ٢٠٦)، سنن الدارمي/المناسك ٨٧(١٩٨٠)(ضعيف)

د حرم زمکه موقوف ده یا مملوک؟او په دې کښې څلور مذاهب

علامه طیبی د دې په شرح کښې لیکی یعنی منی د نسک د ادا کولو ځائې دې رمی،نحر او حلق وغیره چې په دې کښې ټول خلق برابر شریک دی هیچا ته اختصاص حاصل نهٔ دې او که د نبی ﷺ دپاره هلته عمارت او آبادی وی نو بیا به د دوی په اتباع کښې جوړولې شو او ځائې به تنګ شوې وو بیا وړاندې علامه طیبی صاحب لیکی او د حرم شریف زمکه د امام اعظم صاحب په نزد موقوف ده د دې تملک جائز نهٔ دې اهـ زهٔ وایم ټوله مکه مکرمه او منی و مزدلفه دا ټول د حرم شریف په زمکه کښې داخل دی البته عرفات د حرم شریف د زمکې نه خارج دې کما سبق فی محله دغه شان په دې مسئله کښې هم اختلاف دې چې ارض حرم موقوف دې چې د دې تملک ناجائز دې یا غیرموقوف او مملوک ده؟ په دې سلسله کښې امام بخاری صاحب باب قائم کړې دې باب توریث دور مکة وبیعها وشرائها الخ چې هغې سره هغوی ثابته کړې ده چې د مکې مکرمې کورونه د هغې د مشرانو ملکیت دې چې په هغې کښې به د وراثت امور وغیره جاری کیږی لکه څنګه چې د سړی په ملکیتونو وغیره کښې جاری کیږی دغه شان د هغې بیع و شراء،اصل کښې په دې سلسله کښې دلیلونه متعارض دی بعضو روایتونو کښې تصریح سره د دې تصرفاتو نه منع کړې شوې ده او د دې بالمقابل د بعضو نه جواز ثابتیږی دا ټول دلیلونه د فقه و شروح حدیث په کتابونو کښې موجود دی حضرت شیخ صاحب هم په لامع الدراری صفحه ۱۹۷ج۲ کښې کافی تفصیل سره متعدد کتابونو نه نقل کړې دی په هغې کښې ئې لیکلې دی چې امام ابوحنیفه وامام مالک سفیان ثوری،عطاء بن ابی رباح او امام احمد فی روایة د دې خبرې قائل دی چې د حرم شریف زمکه موقوف ده د چا ملک نهٔ دې د ټولو دپاره د دې نه فائده او نفع اخستل مباح دی لهذا د دې بیع و شراء واجاره وغیره ناجائز دی او څوک چې کوم ځائې او په کومه بناء باندې مقیم دې نو هغهٔ ته هلته د اوسیدو حق حاصل دې هغه په کښې په خپله اوسیږی یا په کښې بل څوک اوسوی نو ورته اختیار حاصل دې او د حضرت امام شافعی و صاحبین او امام احمد فی روایة په نزد ارض حرم و مکه مکرمه موقوف نهٔ دې بلکه څوک چې په کومه زمکه او مکان کښې اوسیږی نو هغه د هغهٔ ملک دې لهذا په هغې کښې به وراثت هم جاری کیږی او بیع وشراء و اجاره وغیره به هم جائز وی د فریق اول(حنفیه وغیره) دلیل دا دې چې مکه مکرمه عنوة فتح شوې ده او چې کوم ملک او زمکه عنوة فتح شی نو د هغې اصول دا دی چې کهٔ دې له د غانمینو چه مینځ کښې تقسیم کړې شی نو بیا خو د هغوی ملک وی او که تقسیم نهٔ کړې شی نو بیا هغه وقف کیږی او د مکې مکرمې د زمکې باره کښې ټولو ته معلومه ده چې دا د فتح کولو نه پس تقسیم شوې نهٔ ده لهذا د مکې مکرمې زمکه به موقوفه وی د قیامت پورې راتلونکو ټولو مسلمانانو دپاره.

آیا په ارض حرم او په بناء د حرم کښې فرق شته؟

دا هم یاد ساتئ چې د وقف تعلق د زمکې سره دې آبادئ او کورونو سره نهٔ دې د دې بیع و شراء او اجاره هبه وراثت ټول څیزونه به په دې کښې جاری کیږی لیکن که ابادی زائله شی نو

بیا به دا تصرفات په زمکه کښې جائز نهٔ وی البته دوباره آبادی کولې شی او حافظ ابن قیم په دې کښې مسلک خو د امام أبوحنیفه صاحب اختیار کړې دې لیکن هغوی په آبادئ او د مکې مکرمې په کورونو کښې د بیع و شراء او اجاره په مینځ کښې فرق اوکړو یعنی د مکې مکرمې د کورونو بیع و شراء وغیره خو ئې جائز اوګرځوله لیکن د دې اجارې ته ناجائز وائی البته د مکې په زمکه کښې دواړو ته ناجائز وائی دویم فریق دا وائی (د امام شافعی نه علاوه) چې اګرچه دا خبره بالکل صحیح ده چې مکه مکرمه عنوةً فتحه شوې ده او دا هم صحیح ده چې دا تقسیم کړې شوې نهٔ ده لیکن خبره دا ده چې حضور اقدس ﷺ په اهل مکه باندې احسان اوکړو او هغوی املاک او زمکې ئې هم هغوی ته پرېخودلې لکه څنګه چې بنو هوازن ته ئې د هغوی ښځې اولاد او آبادئ پرېخودلې وې لهذا اهل مکه د فتح مکه نه پس د خپلو زمکو او کورونو هغه شان مالکان پاتې شو لکه څنګه چې د فتح نه وړاندې وو لهذا د حرم زمکه موقوف نه شوه بلکه مملوک شوه

او په جمهور علماؤ کښې د امام شافعی رائې خو مشهور دا ده چې هغوی دا فرمائی چې مکه مکرمه عنوةً نهٔ ده فتح شوې بلکه صلحاً فتح شوې ده په دې صورت کښې د اهل مکه په خپل ملکیت باندې قائم پاتې کېدل او د ارض حرم موقوف نهٔ کېدل ظاهر دی والله سبحانه وتعالی اعلم

تنبیه: د بنده په خیال کښې په دې مسئله کښې حافظ وغیره د شارحینو نه د امام صاحب په مسلک نقل کولو کښې تسامح شوې ده زمونږ صحیح مسلک هغه دې چې کوم امام طحاوی ابوبکر جصاص رازی او ملاعلی قاری رحمهم الله نقل کړېدې مونږ پورته هم هغه نقل کړېدې قال المنذری واخرجه الترمذی وابن ماجه(عون)

[٢٠٢٠](1) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ، عَنْ جَعْفَرِ بْنِ يَحْيَى بْنِ ثَوْبَانَ، أَخْبَرَنِي عُمَارَةُ بْنُ ثَوْبَانَ، حَدَّثَنِي مُوسَى بْنُ بَاذَانَ، قَالَ: "أَتَيْتُ يَعْلَى بْنَ أُمَيَّةَ، فَقَالَ: إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "احْتِكَارُ الطَّعَامِ فِي الْحَرَمِ إِلْحَادٌ فِيهِ".

دموسی بن باذان نه روایت دې فرمائی چه زه یعلی بن امیه ته ورغلم هغه اوفرمائیل یقینا نبی علیه السلام فرمائیلی دی په حرم باندې غله بندول بی دینی ده.

قوله: احتکار الطعام فی الحرم الحاد فیه: (2) احتکار وائی د تاجر غله د ګرانئ او قحط په زمانه کښې بندول او کېخودل د مزید ګرانئ په انتظار کښې چې کله نوره هم ګرانه شی نو بیا به ئې خرڅه کړم د دې مزید تفصیل به په کتاب البیوع کښې راشی په مکه مکرمه کښې کر کیله نهٔ کیږی هغه وادی غیرذی زرع ده هلته د غلې فراوانی نشته نو چې هرکله په عامو ځایونو کښې احتکار یعنی غله جمع کول ممنوع او مکروه دی نو په مکه مکرمه کښې به یقیناً سخت مکروه وی چې څنګه په مقدس مقاماتو کښې د نیکو اجر ډېر زیات دې نو دغه شان د هغې ځائې د ګناه وبال هم زیات دې په دې وجه ورته الحاد (ظلم او بددینی) وئیلې شوېده.

(1): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١١٨٤٨)(ضعيف)

(2) الالحاد، الانحراف عن الحق الي الباطل.

باب في نَبِيذِ السِّقَايَةِ

باب: (په حاجيانو باندې) د نبيذو د څکولو بيان

د سقاية نه مراد سقاية الحاج دې چې د ډير فضيلت څيز دې چې په قران كريم كښې هم د دې ذكر دې اجعلتم سقاية الحاج وعمارة المسجد الحرام يعنى په حاجيانو باندې نبيذ څکل اودا خدمت كول، لكه آل عباس به دا خدمت كوو كما تقدم فى باب يبيت بمكة ليالى منى استاذن العباس رسول الله صلى الله عليه وسلم ان يبيت بمكة ليالى منى من اجل سقايته

[۲۰۲۱] (١) حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَوْنٍ، حَدَّثَنَا خَالِدٌ، عَنْ حُمَيْدٍ، عَنْ بَكْرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: قَالَ رَجُلٌ لِابْنِ عَبَّاسٍ: مَا بَالُ أَهْلِ هَذَا الْبَيْتِ يَسْقُونَ النَّبِيذَ وَبَنُو عَمِّهِمْ يَسْقُونَ اللَّبَنَ وَالْعَسَلَ وَالسَّوِيقَ، أَبُخْلٌ بِهِمْ أَمْ حَاجَةٌ؟ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: مَا بِنَا مِنْ بُخْلٍ وَلَا بِنَا مِنْ حَاجَةٍ، وَلَكِنْ دَخَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى رَاحِلَتِهِ وَخَلْفَهُ أُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ، فَدَعَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِشَرَابٍ، فَأُتِيَ بِنَبِيذٍ، فَشَرِبَ مِنْهُ وَدَفَعَ فَضْلَهُ إِلَى أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ فَشَرِبَ مِنْهُ، ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَحْسَنْتُمْ وَأَجْمَلْتُمْ"، كَذَلِكَ فَافْعَلُوا، فَنَحْنُ هَكَذَا لَا نُرِيدُ أَنْ نُغَيِّرَ مَا قَالَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

دبكر بن عبد الله نه روايت دې فرمائي چه يو كس عبد الله بن عباس رضي الله عنهما ته اووئيل څه وجه ده چه ستاسو كورنئ والا خلق په نورو خلقو باندې نبيذ (دكجورو شربت) څكوي، اوستاسو تربوران (قريش) په خلقو باندې شوده اوشهد څكوي آيا تاسو بخيلان ئي اوكه فقيران؟ ابن عباس رضي الله عنهما اووئيل مونږ نه بخيلان يو اونه فقيران يو بلكه نبى عليه السلام يوه ورځ پخپله اوښه سور وو اوراغي او اسامه بن زيد وروسته شاته ناست وو نبى عليه السلام دڅكلو اوبه اوغوښتلې نو دكجورو شربت ورته پيش كړې شو نبى عليه السلام شربت وڅكلو اوچه كوم باقي پاتې شو هغه ئي اسامه بن زيد ته وركړو اوهغه هم وڅكلو ددې نه پس نبى عليه السلام اوفرمائيل تاسو ډيرښه كار اوكړو دا كار هر وخت كوئ، ابن عباس رضي الله عنه اووئيل مونږ نه غواړو چه دا معمول بدل كړو كوم ته چه نبى عليه السلام ښه وئيلې دې (يعنى مونږ دنبى عليه السلام د تابعدارى په وجه باندې خلقو ته دكجورو شربت پيش كوو او كنجوسان اوفقيران نه يو).

د حديث الباب مضمون دا دې چې يو سړي د ابن عباس رضي الله عنه نه سوال اوكړو چې مابال اهل هذا البيت دې سره اشاره په خپله د ابن عباس د كور والو طرفته ده چې په تاسو خلقو څه اوشو چې تاسو خلق خو حاجيانو باندې صرف نبيذ څكى، (چې معمولى څيز دې) او ستاسو خاندان والا نورو خلقو به د نبيذ په ځائې پئ او شهد (لسى) او ستوان څكول (چې ډير غوره او عمده څيز دې) نو آيا د دې وجه ستاسو بخل دې يا تنگدستى نو په دې باندې ابن عباس رضي الله عنهما جواب وركړو چې نۀ دا خبره ده او نۀ هغه بلكه د دې اصل وجه دا ده چې كوم كال باندې نبى عليه السلام حج اوكړو نو نبى عليه السلام په خپله سورلئ باندې د سوريدو په حالت كښې زمونږ نزدې تشريف راوړو كوم ځائې چې مونږ د سقاية الحاج خدمت كوو (هغه وخت مونږ اتفاقاً په

(١): صحيح مسلم/الحج ٦٠(١٣١٦)، (تحفة الأشراف: ٥٣٧٣)، وقد أخرجه: مسند احمد(١/٢٤٥، ٢٩٢، ٣٣٦، ٣٦٩، ٣٧٣)(صحيح)

خلقو باندې نبيذ څکوو) نو نبی ﷺ زمونږ نبيذ اوڅکل او باقی ئې اسامه ته ورکړو او وې فرمائيل احسنتم واجملتم کذلک فافعلوا چې دا تاسو ډير ښۀ کوئ دغه شان دا کار کوئ لهذا د کوم څيز چې نبی ﷺ تحسين فرمائيلي دې مونږ په هغې کښې څۀ تغير کول نۀ غواړو (ورنه زمونږ دپاره پئ او لسی وغيره څکول څه ګران کار نۀ دې) اصل کښې د صحابه کرامو ﷡ به دا کوشش وو چې ترڅو کيدې شي نو چې مونږ په هغې حال باندې يو چې په کوم حال باندې د نبی ﷺ په زمانه کښې وو اللهم ازقنا اتباعهم وسلوک سيرتهم قال النووی وفيه دليل علی استحباب الثناء علی اصحاب السقاية وکل صانع جميل قال المنذری واخرجه مسلم(عون)

بَابُ الْإِقَامَةِ بِمَكَّةَ

باب: په مکه مکرمه کښې د قيام کولو بيان

[٢٠٢٢] (١) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ يَعْنِي الدَّرَاوَرْدِيَّ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ حُمَيْدٍ، أَنَّهُ سَمِعَ عُمَرَ بْنَ عَبْدِ الْعَزِيزِ يَسْأَلُ السَّائِبَ بْنَ يَزِيدَ: هَلْ سَمِعْتَ فِي الْإِقَامَةِ بِمَكَّةَ شَيْئًا؟ قَالَ: أَخْبَرَنِي ابْنُ الْحَضْرَمِيِّ، أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ لِلْمُهَاجِرِينَ: "إِقَامَةٌ بَعْدَ الصَّدَرِ ثَلَاثًا فِي الْكَعْبَةِ".

عمر بن عبد العزيزد سائب بن يزيد ﷛ نه تپوس اوکړو چه ايا تا په مکه کښې داوسيدو په حقله څه اوريدلي دی؟ هغه اوونيل ماته ابن الحضری ونيلی وی اوهغه دنبی ﷺ نه اوريدلی دی چه فرمائيل ئې مهاجرين چه دحج دارانو دادا کولونه فارغ شی نوپه مکه مکرمه کښې د درې ورځو پورې قيام کولې شي.

للمهاجرين اقامة بعد الصدر ثلثاً علاء بن الحضرمی ﷛ د نبی ﷺ ارشاد مبارک نقل کوی چې نبی ﷺ اوفرمائيل د طواف صدر يعنی طواف وداع نه پس(چې د حج آخری نسک دې) مهاجرين په مکه مکرمه کښې زيات نه زيات درې ورځې حصاريدې شی د دې نه زيات نۀ د نسائی د روايت الفاظ دا دی يمکث المهاجربعد قضاء نسکه ثلثاً په دې حديث کښې د مهاجرينو نه مراد مطلق مهاجرين نۀ دی بلکه هغه کسان چې د مکې مکرمې نه ئې مدينې منورې ته هجرت کړې وو د جمهور علماؤ مسلک هم دا دی چې د مهاجرين مکه دپاره دوباره په مکه مکرمه کښې سکونت اختيارول جائز نۀ دی چې کوم ښار دوی يو ځل د الله تعالی دپاره پريخودلې دې نو اوس دوباره دا اختيارول ښکار نۀ دی په دې کښې د بعضې علماؤ اختلاف دې هغوی دا وائی چې دا حکم د فتح مکه نه قبل وو د فتح مکۀ نه پس د مهاجرينو دپاره هلته قيام کول جائز شوې وو او د دې حديث باره کښې دا خلق وائی چې د نبی ﷺ دا ارشاد د هغې وخت او د هغې زمانې دې چې کله د مکې مکرمې نه مدينې منورې طرفته هجرت کول واجب وو او دا حکم هجرة بعدالفتح منسوخ شوې وو

فائده: په کتاب الصلوة کښې تير شوې دی چې د جمهورو په نزد د اقامت مده څلور ورځې

(١): صحيح البخاري/مناقب الأنصار ٤٧(٣٩٣٣)، صحيح مسلم/الحج ٨١(١٣٥٢)، سنن الترمذي/الحج ١٠٣(٩٤٩)، سنن النسائي/تقصير الصلاة ٣(١٤٥٥)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ٧٦(١٠٧٣)، (تحفة الأشراف: ١١٠٠٨)، وقد أخرجه: مسند احمد(٣٣٩/٤، ٥٢/٥)، سنن الدارمي/الصلاة ١٨(١٢٤٧)(صحيح)

دی که مسافر منزل ته اورسی او هلته دري ورځې حصار وی نو بیا به هم مسافر وی او که د څلورو ورځو د قیام نیت اوکړی نو د مقیم په حکم کښې به وی په دې مسئله کښې د جمهورو استدلال هم د دې حدیث نه دې

باب الصَّلَاةِ فِي الْكَعْبَةِ

باب: په بیت الله کښې د مونځ کولو بیان

دلته د حدیث الباب پیش نظر یو څو امور او مسائل دی(۱) نبی ﷺ د حجة الوداع په موقع باندې بیت الله شریف ته دننه داخل شوې وو که نه؟(۲) بیت الله شریف ته داخلیدل مستحب ومندوب دی که نه؟(۳) نبی ﷺ د فتح مکه په ورځ په بیت الله شریف کښې د داخلیدو نه پس مونځ کړې وو که نه؟(۴) په بیت الله شریف کښې فرض مونځ ادا کول صحیح دی که نه؟

اولني بحث:

دا بحث مونږ سره د باب حجة الوداع نه قبل د یو حدیث لاندې مجملاً تیر شوې دې په جزء حجة الوداع او الابواب والتراجم کښې ئې لیکلې دی په دې باندې خو اتفاق دې چې نبی ﷺ د عمرة القضاء په سفر کښې په بیت الله شریف کښې نۀ وو داخل شوې او په دې باندې هم اجماع ده چې د فتح مکه په موقع باندې نبی ﷺ داخل شوې وو لیکن د حجة الوداع په موقع باندې هم داخل شوې وو که نه؟ نو په دې کښې اختلاف دې ابن قیم، ابن تیمیه او امام نووی صاحب خو ددې نه انکار کړې دې اود ابن سعد ،بیهقی او د ابن حبان وغیره رائې دا ده چې داخل شوې وو د سهیلی او ابن الهمام رائې دا ده چې په دې موقع باندې نبی ﷺ بیت الله شریف ته دوه ځله داخل شوې وو یو ځل د داخلیدو نه پس ئې په دې کښې مونځ هم اوکړو او یو ځل ئې مونځ اونکړو اول ځل په یوم النحر کښې داخل شوې وو هغه وخت ئې مونځ اونکړو او دویم ځل په صبا داخل شو او مونځ ئې هم اوکړو

دویم بحث:

د مذاهب اربعه د کتابونو نه دخول بیت او په دې کښې د مونځ مستحب کیدل ثابت دی لیکن حافظ ابن قیم وغیره بعضې علماء د دې د استحباب قائل نۀ دی په فتح الباری کښې د دې په استحباب کښې ئې دا حدیث لیکلې دې عن ابن عباس رضی الله تعالی عنه مرفوعاً من دخل البیت دخل فی حسنة وخرج مغفوراً له رواه ابن خزیمة والبیهقی وهو ضعیف باقی دخول بیت د حج په مناسکو کښې نۀ دې په دې وجه امام بخاری باب تړلې دې باب من لم یدخل الکعبة او په دې کښې هغوی د ابن عمر رضی الله عنهما فعل ذکر کړې دې چې اګرچه هغوی به کثرت سره حجونه کول لیکن بیت الله شریف ته نۀ وو داخل شوې دغه شان ابن عباس رضی الله عنهما هم د دخول کعبه قائل نۀ وو لکه د مسلم شریف په روایت کښې دی هغوی به فرمائیل امرتم بالطواف ولم تؤمروا بدخوله

دریم بحث:

په دې کښې روایات مختلف دی اثباتاً و نفیاً حضرت بلال مثبت دې او حضرت ابن عباس

د دې نفی کوی[1] لیکن حضرت بلال ﷺ خو نبی ﷺ سره بیت الله شریف کښې داخلیدونکو کښې دې لکه څنګه چې په روایاتو کښې د دې صراحت سره ذکر دې او د ابن عباس شمار په داخلیدونکو کښې نۀ دې په دې وجه ابن عباس د دې نفی نسبت کله خو د اسامه طرفته کوی(چې په داخلیدونکو کښې دې) او کله د خپل رور فضل بن عباس طرفته کوی(حالانکه د فضل دخول په خپله مشکوک دې په مشهور روایتونو کښې نشته)لهذا ترجیح به د حضرت بلال روایت ته وی

څلورم بحث:

امام بخاری هم دا باب تړلې دې باب الصلوة فی الکعبة حضرت شیخ صاحب لیکی مسئله اختلافی ده د ابن عباس نه روایت دې چې په بیت الله شریف کښې مطلقاً مونځ کول صحیح نۀ دی للزوم الاستدبار وبه جزم بعض اهل الظاهر وابن جریر واصبغ المالکی والجمهور علی الجواز بیا د امامانو په دې کښې اختلاف دې چې هلته صرف نفل مونځ صحیح دې یا نفل او فرض دواړه جائز دی امام مالک واحمد د اول قائل دی او حنفیه و شافعیه د ثانی یعنی د عموم جواز قائل دی

په جوف کعبه او د کعبې په چهت باندې مونځ کله صحیح دې؟

لیکن شافعیه دا وائی چې په بیت الله شریف کښې اګرچه ټولو طرفونو ته مونځ کولې شی لیکن د باب کعبه طرفته مخ کول او مونځ کول هغه وخت صحیح دی چې کله باب کعبه بند وی کهلاؤ نه وی یا کم از کم د هغې چوکهټ مخامخ وی چې تقریباً یو ګز پورته وی دې دپاره چې د عمارت کعبه استقبال وی صرف فضاء نۀ وی نوره هم مسئله د هغوی په نزد د کعبې د چهت ده چې په دې باندې به مونځ هغه وخت صحیح وی چې کله د مونځ کوونکی مخامخ د چهت منډیر وی(هغه دیوال چې راوتلې غوندې وی) ورنه نۀ کیږی.

---

[1]) او دواړه روایتونه د صحیحین دی، د ابن عمر ﷺ په روایت کښې خو داسې د چه ما د بلال ﷺ نه تپوس اوکړو چه ﴿ هل صلي فيها رسول الله صلي الله عليه وسلم قال نعم ﴾، او د ابن عباس ﷺ په یو روایت کښې خو داسې دی ﴿ ان رسول الله صلي الله عليه وسلم كبر في نواحيه ولم يصل فيه ﴾، یعنی هغه داخلیدو سره هلته صرف تکبیر اوکړو مونځ ئې نه دې کړې. (صحیح بخاری) او په یو روایت کښې دی ﴿ اخبرني اسامة بن زيد ان النبي صلي الله عليه وسلم لما دخل البيت دعا في نواحيه كلها ولم يصل فيه ﴾ (صحیح مسلم) دا ټول روایات د فتح مکه په موقع دی، د رسول الله ﷺ سره په بیت الله شریف کښې، اسامه، بلال، عثمان بن طلحه الجمهی داخل شوې وو، لکه چه په روایاتو کښې د دې تصریح ده، ابن عمر ﷺ خو دا فرمائی چه ما د بلال نه تپوس اوکړو، چه ایا رسول الله ﷺ مونځ اوکړو، هغه اوفرمائیل او مونځ ئې اوکړو، او ابن عباس داسې فرمائی: ماته اسامه اوئیل چه هغه هلته مونځ اونکړو، حافظ فرمائی په دې دواړو کښې امام نووی وغیره داسې جمع فرمائیلې دې چه کله دا حضرات بیت الله ته داخل شو نو په دعا کښې مشغول شو، اسامه رسول الله ﷺ اولیدو چه هغه دعا کوی نو هغه هم په دعا کښې مصروف شو په یو ګوټ کښې، او حضور په بل ګوټ کښې وو، نبی علیه السلام چه د دعاء نه فارغ شو نو مونځ ئې هم اوکړو چه دې مونځ لره بلال ﷺ اولیدل ځکه چه هغه ورته نږدې وو او اسامه ﷺ اونه لیدلو ځکه چه هغه لرې وو او په دعاء کښې مشغول وو، او د دروازې د بندیدلو په وجه هسې هم لږه تیاره وی په دې وجه اسامه ﷺ د مونځ نفی اوکړه.

(كذا في الفتح جلد۳ص ۳۷۱)

د بخاری شریف شارحینو دا مسئله په ترجمة البخاری باب اغلاق البیت لاندې لیکلې ده

[۲۰۲۳]() حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ نَافِعٍ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "دَخَلَ الْكَعْبَةَ هُوَ وَأُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ وَعُثْمَانُ بْنُ طَلْحَةَ الْحَجَبِيُّ وَبِلَالٌ فَأَغْلَقَهَا عَلَيْهِ فَمَكَثَ فِيهَا"، قَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ: فَسَأَلْتُ بِلَالًا حِينَ خَرَجَ: مَاذَا صَنَعَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ فَقَالَ: جَعَلَ عَمُودًا عَنْ يَسَارِهِ وَعَمُودَيْنِ عَنْ يَمِينِهِ وَثَلَاثَةَ أَعْمِدَةٍ وَرَاءَهُ، وَكَانَ الْبَيْتُ يَوْمَئِذٍ عَلَى سِتَّةِ أَعْمِدَةٍ، ثُمَّ صَلَّى.

دعبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه روایت دي - فرمائی چه رسول الله ﷺ بیت الله شریف ته راغې - اودهغه سره اسامه بن زید اوبلال بن رباح عثمان بن و طلحه رضی الله عنهم وو هغوی دروازه بنده کړه اوهم دلته اودریدل عبدالله وائی مادبلال رضی الله عنه نه تپوس اوکړو نبی علیه السلام چه کله تشریف د یوړو نوایا څه عمل ئې کړې وو؟ هغه اوفرمائیل چه یوه ستن ئې دڅان نه ښئ طرف ته کړه او بله ستن ئې م دڅان نه ګس طرف ته کړه اودرې ستنې ئې دڅان نه شاته کړې او په دغه وخت کښې بیت الله شریفې په شپږو ستنوولاړ وو او دوه رکعته مونځ ئې وکړو.

ان رسول الله صلی الله علیه وسلم دخل الکعبة نبی علیه السلام سره کعبې مبارکې ته دا درې حضرات داخل شو اسامه، بلال، عثمان بن طلحه او د مسلم په روایت کښې دی ولم یدخل معهم احد چې د دې دریو نه علاوه بل څوک نه وو لیکن د نسائی په روایت کښې د فضل بن عباس هم اضافه ده دا عثمان به طلحه حجبی دې کلید بردار د خانه کعبې دا نسبت د حجابة البیت طرفته دې (د بیت الله دربانی) دا بندول او کهولاؤل او دوی اهل بیت ته حجبه وئیلې شی د مسلم په روایت کښې دی نبی علیه السلام د دوی نه د فتح مکه په ورځ د کعبې مبارکې چابی طلب کړه دوی خپلې مور ته ورغلل د چابئ اخستلو دپاره (چې نوم ئې سلافه وو) هغوی د ورکولو نه انکار اوکړو هغوی اووې چې که خپل خیر غواړې نو چابی دې ورکړې ورنه ماسره دا توره ده هغې فوراً چابی ورکړه دوی هغه راؤړه او نبی علیه السلام ته ئې ورکړه او د کعبې مبارکې دروازه ئې کهولاؤ کړه امام نووی په شرح مسلم کښې لیکی عثمان بن طلحه خالد بن الولید سره صلح حدیبیه په زمانه کښې اسلام راؤړو او دوی په فتح مکه کښې شریک شو حضور علیه السلام دوی ته او شیبة بن عثمان بن ابی طلحه (۲) ته د کعبې چابی ورکړه او وې

---

(۱): صحیح البخاري/الصلاة ۳۰(۳۹۷)، ۸۱(۴۸۶)، ۹۶(۵۰۴)، التهجد ۲۵(۱۱۶۷)، الحج ۵۱(۱۵۹۸)، الجهاد ۱۲۷(۲۹۸۸)، المغازي ۴۹(۴۲۸۹)، ۷۷(۴۴۰۰)، صحیح مسلم/الحج ۶۸(۱۳۲۹)، سنن النسائي/المساجد ۵(۶۹۳)، القبلة ۶(۷۵۰)، الحج ۱۲۶(۲۹۰۸)، ۱۲۷(۲۹۰۹)، سنن ابن ماجه/المناسك ۷۹(۳۰۶۳)، (تحفة الأشراف: ۲۰۳۷، ۸۳۳۱)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الحج ۴۶(۸۷۴)، موطا امام مالك/الحج ۶۳(۱۹۳)، مسند احمد(۲/۳۳، ۵۵، ۱۱۳، ۱۲۰، ۱۳۸، ۶/۱۲، ۱۳، ۱۴، ۱۵)، سنن الدارمي/المناسك ۴۳(۱۹۰۸)(صحیح)

(۲) دا شیبه د عثمان بن طلحه ابن العم (د تره خوی) دې، خپل خوی ئې نه دې، یو د یو رور اولاد دې، دویم د بل رور، افاده الحافظ في الفتح، ما په بعضې شروحاتو کښې لیکلې دی چه دا عثمان بن طلحه الحجبی لاولد وو (خوې ئې نه وو) په دې وجه ددوی نه پس د کعبې چابیانې د شیبه په حصه کښې راغلې وې، په دې وجه اوس دغه کلید برادران ته شیبین وئیلې شی، والله تعالی أعلم.


ددوی سلسله نسب داسې ده: ددې نقشې نه معلومیږی چه شیبه بن عثمان ......

فرمائیل خذوها یا بنی ابی طلحة خالدة تالدةً لاینزعها منکم الا ظالم(واخلئ سنبهال کړئ دا چابی اې د ابوطلحه اولاده همیشه دپاره به څوک دا نۀ اخلی ستاسو نه مگر هغه سړې چې څوک ظالم وی) قاضی عیاض رحمه الله صاحب فرمائی چې علماؤ لیکلې دی چې دا چابی د هغوی حق دې او حصه ده دا د هغوی نه اخستل جائز نه دی دا ولایت د بیت الله شریف د حضور ﷺ له طرفه هغوی ته ملاؤ شوې دې[1] د دې نه پس به د هغوی په اولاد کښې باقی وی ترڅو چې په دنیا کښې موجود وی او د دې خدمت صلاحیت په کښې موجود وی والله تعالی اعلم

جعل عموداً عن یساره وعمودین عن یمینه په دې سلسله کښې په روایاتو کښې شدید اختلاف دې د صحیحینو روایات او فتح الباری په کتلو سره سمجهـ ته دا خبره راځی چې زیات تر د صحیحینو په روایاتو کښې بین العمودین الیمانیین یا بین العمودین المقدمین دې او د بخاری په یو روایت کښې عموداً عن یساره و عمودین عن یمینه دې او دغه شان دلته په ابوداؤد کښې دی په دې روایاتو کښې خو څه خاص اشکال نشته په دې وجه مونږ وایو اگرچه نبی طرفته دوه ستنې وې او کس طرفته یوه لیکن د دې باوجود بین العمودین وئیل صحیح دی په دې طور چې نبی طرفته چې یو بله ستن وه د هغې صرف ذکر حذف شوې دې نفی ئې نۀ ده کړې لیکن د مسلم په یو روایت کښې چې داسې دې جعل عمودین عن یساره وعموداً عن یمینه دا قابل اشکال خامخا دې حافظ په فتح الباری جلد ۱ ص۴۷۸ کښې امام دارقطنی نه نقل کړې دی چې اکثرو راویانو د امام مالک نه عموداً عن یمینه وعموداً عن یساره نقل کړې دې او اسماعیل د امام مالک نه عموداً عن یساره وعمودین عن یمینه نقل کړې دې(کما فی روایة البخاری وابی داؤد) او یحیی بن یحیی نیسابوری د هغوی نه د دې عکس نقل کړې دې عمودین عن یساره وعموداً عن یمینه(کما فی روایة المسلم) لیکن د اسماعیل متابعت کوونکی اکثر دی د یحيٰ په مقابله کښې په دې وجه امام بیهقی د اسماعیل روایت ته ترجیح ورکړې ده حاصل دا چې د مسلم دا روایت مرجوح دې والله سبحانه وتعالی اعلم

وکان البیت یومئذ علی ستة اعمدة د یومئذ نه معلومیږی چې روستو بیا د دې په آبادئ کښې

ـــهـ......د عثمان بن طلحه الحجی د تره خوې دې، دا شیبه هم صحابی دې او دده د پلار عثمان اسلام ثابت نه دې، بلکه هغه په جنگ أحد کښې مړ کړې شو کما في البذل.



[1] یعنی اگرچه دا عهده او ولایت کوم چه حجابة البیت او سدانة البیت سره تعبیر کولې شی هغه خلقو ته دمخکښې نه حاصل وو لیکن حضور ﷺ دا برقرار اوساتله او مضبوطه ئې کړه.

تغیر واقع شوي وو لکه ملاعلی قاری رحمه الله لیکي چې اوس په بیت الله شریف کښې دننه صرف درې ستنې دي

[۲۰۲٤]([1]) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ الْأَذْرَمِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، عَنْ مَالِكٍ، بِهَذَا الْحَدِيثِ، لَمْ يَذْكُرِ السَّوَارِيَ، قَالَ: ثُمَّ صَلَّى وَبَيْنَهُ وَبَيْنَ الْقِبْلَةِ ثَلَاثَةُ أَذْرُعٍ.

دمالك په روایت کښې دستنو ذکرنشته اونبی علیه السلام مونځ اوکړو دبیت الله شریف نه درې لاسه نه وروسته په مونځ ودریدو.

[۲۰۲٥]([2]) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، بِمَعْنَى حَدِيثِ الْقَعْنَبِيِّ، قَالَ: وَنَسِيتُ أَنْ أَسْأَلَهُ كَمْ صَلَّى.

نافع دعبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه اوهغه د نبی علیه السلام نه دقعنبی دروایت په شان روایت نقل کښې کړې دې او دا اضافه ئې په کښې کړې ده چه هغه اووئیل زمانه هیرشو چه تپوس ترې اوکړم چه څومره مونځ ئې وکړو.

[۲۰۲٦]([3]) حَدَّثَنَا زُهَيْرُ بْنُ حَرْبٍ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي زِيَادٍ، عَنْ مُجَاهِدٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ صَفْوَانَ، قَالَ: قُلْتُ لِعُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ: كَيْفَ صَنَعَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ دَخَلَ الْكَعْبَةَ؟ قَالَ: "صَلَّى رَكْعَتَيْنِ".

دعبدالرحمن بن صفوان نه روایت دې فرمائي چه عمر بن الخطاب رضی الله عنه ته مې اووئیل نبی علیه السلام چه کله کعبې ته داخل شو نوڅه عمل ئې وکړو؟ هغه اووئیل دوه رکعته مونځ ئې وکړو.

[۲۰۲۷]([4]) حَدَّثَنَا أَبُو مَعْمَرٍ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَمْرِو بْنِ أَبِي الْحَجَّاجِ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا قَدِمَ مَكَّةَ أَبَى أَنْ يَدْخُلَ الْبَيْتَ وَفِيهِ الْآلِهَةُ، فَأَمَرَ بِهَا فَأُخْرِجَتْ، قَالَ: فَأُخْرِجَ صُورَةُ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ وَفِي أَيْدِيهِمَا الْأَزْلَامُ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "قَاتَلَهُمُ اللَّهُ، وَاللَّهِ لَقَدْ عَلِمُوا مَا اسْتَقْسَمَا بِهَا قَطُّ"، قَالَ: ثُمَّ دَخَلَ الْبَيْتَ فَكَبَّرَ فِي نَوَاحِيهِ وَفِي زَوَايَاهُ، ثُمَّ خَرَجَ وَلَمْ يُصَلِّ فِيهِ.

دعبدالله بن عباس رضی الله عنهما نه روایت دې کله چه نبی علیه السلام مکې ته راغې نوکعبې ته د داخلیدلونه ئې انکار وکړو ځکه چه په هغې کښې دبتانو تصویرونه موجود وو نبی علیه السلام حکم اوکړو اوهغه تصویرونه بهر اوویستل شول اوبیاد ابراهیم علیه السلام اوداسماعیل علیه السلام تصویرونه هم بهر وویستل شول اوددوی په لاسونوکښې غشي وونبی علیه السلام اوفرمائیل الله دې دوی هلاك کړي په الله قسم دوی ښه پوهیدل چه هغوی کله په غشوباندې تقسیم نه دې کړې راوی وائي بیانبی علیه السلام کعبې ته داخل شو اودکعبې په ګوټونو کښې ئې دالله اکبر اواز وکړو اومونځ ئې وکړو.

---

[1]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۲۰۳۷، ۸۳۳۱)(صحیح)
[2]: انظر حدیث رقم(۲۰۲۳)، (تحفة الأشراف: ۲۰۳۷)(صحیح)
[3]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۰۵۹۰)، وقد أخرجه: (حم ۳/۴۳۰، ۴۳۱)(صحیح)
[4]: صحیح البخاري/الصلاة ۳۰(۳۹۷)، وأحادیث الأنبیاء ۸(۳۳۵۱)، والحج ۵٤(۱۶۰۱)، والمغازي ٤۸(٤۲۸۸)، (تحفة الأشراف: ۵۹۹۵)، وقد أخرجه: صحیح مسلم/الحج ۶۸(۱۳۲۹)، سنن النسائي/المناسك ۱۳۰(۲۹۱۶)، مسند أحمد(۱/۳۳٤، ۳۶۵)(صحیح)

لما قدم مكة ابى ان يدخل البيت دا د فتح مكه واقعه ده يعنى په دغه ورځ باندې نبى ﷺ هغه وخت پورې بيت الله شريف ته دننه نۀ وو داخل شوې چې ترڅو د هغې نه بتان نۀ وو راويستلې شوې پس دغه ټول څيزونه بهر راؤغورزولې شو (دغې خبيثانو په دغې بتانو كښې دوه تصويران د حضرت ابراهيم او حضرت اسماعيل عليهما السلام په نوم سره هم جوړ كړې وو) (ګويا دغه د دې دواړو انبياء كرامو تصويران وو) او د دې دواړو په لاسونو كښې هغوى ازلام [1] (دا د زلم جمع ده د دې تفسير په اقلام سره كوى يا قداح سره يعنى تراشلې شوې لرګى د غشى د لرګو په شان) وركړې وو (ګويا دې دواړو حضراتو هم د دې قلمونو په ذريعې سره خپل قسمت معلومولو د اهل جاهليت په شان) د دې په ليدلو سره نبى ﷺ اوفرمائيل الله تعالى دې دوى هلاک كړى په خپله هم دوى ته د دې خبرې يقين دې چې دې دواړو كله هم په دې غشو سره قسمت آزمائى نۀ ده كړې (ليكن د دې باوجود هم دې خلقو د دوى په لاسونو كښې دا ازلام او اقلام وركړې دى)

بَابُ الصَّلَاةِ فِي الْحِجْرِ

باب: په حطيم (كښې د مونځ كولو) بيان

[۲۰۲۸] ([2]) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ، عَنْ عَلْقَمَةَ، عَنْ أُمِّهِ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّهَا قَالَتْ: كُنْتُ أُحِبُّ أَنْ أَدْخُلَ الْبَيْتَ فَأُصَلِّيَ فِيهِ، فَأَخَذَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدِي فَأَدْخَلَنِي فِي الْحِجْرِ، فَقَالَ: "صَلِّي فِي الْحِجْرِ إِذَا أَرَدْتِ دُخُولَ الْبَيْتِ، فَإِنَّمَا هُوَ قَطْعَةٌ مِنَ الْبَيْتِ، فَإِنَّ قَوْمَكِ اقْتَصَرُوا حِينَ بَنَوُا الْكَعْبَةَ فَأَخْرَجُوهُ مِنَ الْبَيْتِ".

دام المومنين عائشة ﷺ نه روايت دې: فرمائى چه زمادا خواهش وو چه بيت الله ته لاړه شم نه اومونځ په كښې اوكړم نو يوځل نبى ﷺ دلاس نه اونيولم او حطيم ته ئې داخل كړم او راته ئې اوفرمائيل كله چه بيت الله ته داخليدل أوغواړې د نوپه حطيم كښې مونځ اوكړه ځكه چه حطيم دبيت الله يوجزء دې اوستا قوم (قريش) دبيت الله په جوړولو كښې كوتاهى كړې ده ته داكوتاهى دبيت الله نه اوباسه.

---

[1] په هغې كښې په يو باندې ليكلې وو (افعل) او په يو باندې (لا تفعل) او يو خالى غشې چه په هغې باندې ليكلې شوې نه وو دا ازلام سادن (خادم بيت الله) په لاس كښې وه چه كله به چاته څه حاجت وو سفر وغيره يا واده يا بل څه كار او دا معلومول غوښتل چه ما له دا كار كول پكار دى يا نه؟ نو هغه به دې كاهن ته راغلو او هغه ته به ئې وئيل چه ته زما قسمت معلوم كه چه آيا ماله دا كار كول پكار دى يا نه؟ دا كار زما په حق كښې بهتر دې يا نه؟ نو په دې باندې به هغه ټوله ورځ قرعه اندازى كوله، كه به هغې كښې به (افعل) راوتلو نو هغه كار به ئې كولو او كه (لا تفعل) به راوتلو نو هغه كار به ئې نه كولو، او كه خالى غشې به راوتلو نو بيا به ئې دوباره قرعه اندازى كوله او بيا به ئې هم دغه شان كول، هغه خلقو ډير نامعلوم څيزونو د معرفت ذريعه هم دا طريقه جوړه كړې وه ډير نزاعى مسائل هم دغه شان حل كيدې. لا حول ولا قوة الا بالله العلي العظيم.

[2]): سنن النسائي/الحج ۱۲۹ (۲۹۱۵)، سنن الترمذي/الحج ٤٨ (٨٧٦)، (تحفة الأشراف: ١٧٩٦١)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الحج ٤٢ (١٥٨٣)، وأحاديث الأنبياء ١٠ (٣٣٦٨)، وتفسير سورة البقرة ١٠ (٤٤٨٤)، والتمني ٩ (٧٢٤٣)، صحيح مسلم/الحج ٦٩ (١٣٩٨)، سنن ابن ماجه/المناسك ٣١ (٢٩٥٥)، موطا امام مالك/الحج ٣٣ (١٠٤)، مسند احمد (٦/٦٧، ٩٢، ٩٣)، سنن الدارمي/المناسك ٤٤ (١٩١١) (حسن صحيح)

بَابٌ فِي دُخُولِ الْكَعْبَةِ

باب: په کعبه کښې د داخليدو بيان

[۲۰۲۹](۱) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ دَاوُدَ، عَنْ إِسْمَاعِيلَ بْنِ عَبْدِ الْمَلِكِ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ مِنْ عِنْدِهَا وَهُوَ مَسْرُورٌ، ثُمَّ رَجَعَ إِلَيَّ وَهُوَ كَئِيبٌ، فَقَالَ: "إِنِّي دَخَلْتُ الْكَعْبَةَ، وَلَوِ اسْتَقْبَلْتُ مِنْ أَمْرِي مَا اسْتَدْبَرْتُ مَا دَخَلْتُهَا، إِنِّي أَخَافُ أَنْ أَكُونَ قَدْ شَقَقْتُ عَلَى أُمَّتِي".

ام المومنين عائشة رضي الله عنها نه روايت دې فرمائي چه نبی عليه السلام زما د خوانه روان شو په داسې حال کښې چه خوشحاله ووخوچه کله واپس راغی نوغمژن ښکاره کيدو، نو په دې وخت کښې ئې اوفرمائيل بيت الله ته داخل شوم که چرې ماته مخکښې د دې خبرې علم وې کوم چه ماته اوس حاصل شونوزه به ورته نه وم داخل شوې زما سره دا انديښنه ده چه زما امت ته مشکلات پيښ نشي بيت الله ته په داخليدو کښې.

تشريح: قوله: عن عائشة ان النبی صلی الله عليه وسلم خرج من عندها وهو مسرور الخ:

د دې حديث حواله مونږ سره د دې نه قبل چې دا بحث کوم ځائې تير شوې دې چې حضور عليه السلام د حجة الوداع په موقع باندې بيت الله شريف ته داخل شوې وو که نه؟ د دې حديث مفهوم دا دې حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائی نبی عليه السلام زما د خوا نه تشريف يوړو په داسې حال کښې چې نبی عليه السلام خوشحاله او راضی وو د دې نه پس چې کله واپس شو نو بيا خفه او غمژن وو(او د غم وجه ئې دا بيانکړه) چې زهٔ بيت الله شريف ته داخل شوې ووم ليکن کومه خبره چې زما ذهن ته د دننه تلو نه پس راغله که دا خبره د دننه تلو نه مخکښې زما ذهن ته راغلې وې نو زهٔ به نهٔ ووم داخل شوې او هغه خبره دا ده چې ما په خپلو داخليدو سره خپل امت په مشقت کښې واچوو(ځکه چې اوس به ټول خلق زما په اتباع کښې د داخليدو کوشش کوی او په مشقت کښې به پريوځی)

آيا نبی عليه السلام د حجة الوداع په موقع باندې بيت الله شريف ته داخل شوې وو؟

چې کوم خلق د دې خبرې قائل دی چې نبی عليه السلام د حجة الوداع په موقع باندې بيت الله شريف ته داخل شوې وو نو هغوی د دې حديث نه استدلال کوی چې په دې باندې خو د ټولو خلقو اتفاق دې چې نبی عليه السلام د هيڅ يو عمرې په سفر کښې بيت الله شريف ته نهٔ وو داخل شوې او په دې باندې هم اتفاق دې چې په فتح مکه کښې داخل شوې وو په رواياتو کښې د دې تصريح موجود ده اوس پاتې شو دا روايت په دې کښې څهٔ تصريح نشته چې دا د کوم وخت واقعه ده د فتح مکه يا د حجة الوداع ليکن په فتح مکه باندې محمول کول خلاف ظاهر دی ځکه چې په دې سفر کښې عائشه رضي الله عنها د نبی عليه السلام سره نهٔ وه او په حجة الوداع کښې ورسره وه باقی دا احتمال کيدې شی چې دا واقعه د فتح مکه وی او مطلب دا دې چې کله نبی عليه السلام د سفر نه مدينې منورې ته واپس تشريف راوړو نو هغه وخت حضور

(۱): سنن الترمذي/الحج ۴۵(۸۷۳)، سنن ابن ماجه/المناسك ۷۹(۳۰۶۴)، (تحفة الأشراف: ۱۶۲۳۰)، وقد أخرجه: مسند احمد(۱۳۷/۶)(ضعيف)

عليه السلام حضرت عائشه ته دا خبره اوفرمائيله بالکل خلاف ظاهر ده ځکه چې د نبی عليه السلام دا سفر مبارک د ډيرو خوشحالو باعث وو په دې کښې دوه عظيم الشانه فتح اوشوې يو فتح مکه او دويمه فتح حنين او تقريباً د نبی عليه السلام دوه مياشتې په دې سفر کښې خرچ شوې بيا د دخول کعبه دا غم په دې ټولو خوشحالو باندې څنګه غالب راغې بلکه صحيح دا ده چې نبی عليه السلام په مکه مکرمه کښې د عائشې نه پاسيدلو او حرم ته ئې تشريف يوړو او په بيت الله شريف کښې داخل شو بيا چې يو څو ګهنټې پس واپس شو او بی بی عائشې ته راغې نو هغه وخت ئې ورته دا خبره اوکړه په دې صورت کښې دا واقعه د حجة الوداع کيدې شي (جزء حجة الوداع وبذل المجهود)

[٢٠٣٠]() حَدَّثَنَا ابْنُ السَّرْحِ، وَسَعِيدُ بْنُ مَنْصُورٍ، وَمُسَدَّدٌ، قَالُوا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ مَنْصُورٍ الْحَجَبِيِّ، حَدَّثَنِي خَالِي، عَنْ أُمِّي صَفِيَّةَ بِنْتِ شَيْبَةَ، قَالَتْ: سَمِعْتُ الْأَسْلَمِيَّةَ، تَقُولُ: قُلْتُ لِعُثْمَانَ: مَا قَالَ لَكَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ دَعَاكَ؟ قَالَ: قَالَ: "إِنِّي نَسِيتُ أَنْ آمُرَكَ أَنْ تُخَمِّرَ الْقَرْنَيْنِ، فَإِنَّهُ لَيْسَ يَنْبَغِي أَنْ يَكُونَ فِي الْبَيْتِ شَيْءٌ يَشْغَلُ الْمُصَلِّيَ"، قَالَ ابْنُ السَّرْحِ: خَالِي مُسَافِعُ بْنُ شَيْبَةَ.

منصوروائی چه ماته زما ماما زما د مورنه روايت بيان کړې دی هغې وئيل چه دااسلميه رضي الله عنها نه مې اوريدلی دی وئيل ئې چه ما عثمان بن عفان رضي الله عنه ته ووئيل نبی عليه السلام چه ته غوښتلې وې نوڅه ئې درته ووئيل: عثمان رضي الله عنه ووئيل نبی عليه السلام راته اوفرمائيل چه ماتاته د داخبره کول هيرکړې ووچه دهغه ګې ښکرونه پټ کړئ (کوم ګډ چه دااسماعيل عليه السلام د ذبح کيدوپه وخت کښې جبرئيل عليه السلام راوړې وو) ددې دپاره چه په کعبه کښې هيڅ يو داسې شی پاتی نشی کوم ته چه دمونځ په وخت کښې توجه ورګرځی ځکه چه په دې سره په خشوع کښې فرق راځي. ابن السرح وئيلی دی چه زما د ماما نوم مسافع بن شيبه وو.

عَنْ مَنْصُورٍ الْحَجَبِيِّ..الخ: دا منصور، شيبة بن عثمان حجبی (کليد بردار) چې د دهٔ ذکر پورته شوې دې نمسې دې (په دې وجه دې هم حجبی شو) وائی چې ماته زما ماما بيان اوکړو زما د مور نه نقل کونکې وو د منصور مور صفيه بنت شيبه ده او وړاندې په روايت کښې راځی چې د دوی د ماما نوم مسافع دې په دې کښې اشکال دې هغه دا چې ماما خو د مور رور ته وائی نو مسافع به ئې هغه وخت مامام وې چې کله دا د منصور د مور رور وو حالانکه داسې نهٔ ده بلکه مسافع د هغهٔ د مور خوريې دې لهذا دهٔ ته ماما وئيل مجاز دې (بذل)

قلت لعثمان ما قال لک رسول الله صلی الله عليه وسلم : اسلميه داسې وائی ما د عثمان بن طلحه الحجبی نه دا تپوس اوکړو چې حضور عليه السلام د بيت الله شريف نه بهر راتللو سره تاسو ته څهٔ خبره کړې وه هغوی جواب راکړو چې نبی عليه السلام ماته دا فرمائيلې وو چې کله زهٔ په بيت الله کښې دننه ووم نو دا خيال راته شوې وو چې تاسو به داسې وايم چې دا په بيت الله شريف کښې چې کوم دوه ښکرې اويزاند دی نو دا په څهٔ څيز سره پټ کړئ ليکن بيا رانه هير شو او تاسو ته مې اونهٔ وئيل لهذا اوس وايم چې دا پټ کړئ داسې وئيلې شی چې دا دوه ښکرې د هغې ګډ دی چې کوم د جنت نه د حضرت اسماعيل عليه السلام په فديه کښې راوړلې

(): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٩٧٦٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٨٠/٥) (صحيح)

شوې وو چونکه يو تاريخي خيز وو په دې وجه به دا هغه وخت په بيت الله شريف کښې محفوظ کړې شوې وی والله تعالى اعلم (۱)

باب فِي مَالِ الْكَعْبَةِ

باب: په کعبه کښې د دفن کړی شوی مال بيان

په بيت الله شريف کښې دننه د صندوق په شکل کښې يو غار وو (بعضو د دې نه تعبير په کوهی سره کړې دی) د اسلام نه مخکښې هميشه چې په بيت الله شريف باندې کوم منختې کړې شوې وې (هدايا) نو هغه به په دې کوهی کښې محفوظ کولې شوې چې د هغې مقدار ښکاره خبره ده چې څومره زيات شوې به وو

[۲۰۳۱](۲) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مُحَمَّدٍ الْمُحَارِبِيُّ، عَنْ الشَّيْبَانِيِّ، عَنْ وَاصِلٍ الْأَحْدَبِ، عَنْ شَقِيقٍ، عَنْ شَيْبَةَ يَعْنِي ابْنَ عُثْمَانَ، قَالَ: "قَعَدَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فِي مَقْعَدِكَ الَّذِي أَنْتَ فِيهِ، فَقَالَ: لَا أَخْرُجُ حَتَّى أَقْسِمَ مَالَ الْكَعْبَةِ، قَالَ: قُلْتُ: مَا أَنْتَ بِفَاعِلٍ، قَالَ: بَلَى، لَأَفْعَلَنَّ، قَالَ: قُلْتُ: مَا أَنْتَ بِفَاعِلٍ، قَالَ: لِمَ قُلْتُ؟ لِأَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ رَأَى مَكَانَهُ وَأَبُو بَكْرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وَهُمَا أَحْوَجُ مِنْكَ إِلَى الْمَالِ فَلَمْ يُخْرِجَاهُ، فَقَامَ فَخَرَجَ".

شقيق د شيبه يعنى ابن عثمان نه روايت کوی فرمائی چه شيبه راته اووئيل ستادناستی په دې ځای باندې عمر بن الخطاب رضي الله عنه ناست وواو وئی فرمائيل ترهغې پورې به اونه اوځم ترڅوپورې چه مې په کعبه کښې دفن شوی مال تقسيم کړی نه وی راوی وائی ماورته ووئيل چه داسې به ونکړې هغه ووئيل ولې نه خامخابه ئې کوم راوی وائی ماورته بيا ووئيل چه داسې به ونکړې هغه ووئيل ولې؟ ماورته ووئيل چه نبی صلی الله علیه وسلم اوابوبکر رضي الله عنه هم داځای ليدلی وو اوهغوی ستانه زيات محتاج وو مال ته اوهغوی نه دی راويستلې، راوی وائی چه پاڅيدو او را اوئی ويستلو.

قعد عمر بن الخطاب فى مقعدک الذى انت فيه او د صحيح بخاری الفاظ داسې دی قال جلست مع شيبة على الكرسى فى الكعبة شقيق وائی زۀ يو ورځ شيبه (۳) سره په کعبه شريفه کښې په کرسۍ باندې ناست ووم نو شيبه ماته بيان اوکړو چې يوورځ حضرت عمر رضي الله عنه ماسره دلته په کعبه کښې دغه شان ناست وو څنګه چې تۀ اوس ماسره ناست ئې نو هغوی يعنی عمر رضي الله عنه ماته اوفرمائيل لا اخرج حتى اقسم مال الكعبة (۴) چې زۀ به د دې ځائې نه هغه وخت پورې نۀ اوځم چې ترڅو زه دا مال کعبه په ضرورتمندو کښې تقسيم نۀ کړم (څکه چې

---

(۱) حضرت شيخ رحمه الله په حاشيه د بذل کښې ليکلی دی په حواله د حيوة الحيوان چه دا ښکرې هغه وخت سوزيدلی وی کوم وخت چه حجاج په عبدالله بن الزبير رضي الله عنه باندې په مکه حمله کړې وه.

(۲): صحيح البخاري/الحج ۴۸(۱۵۹۴)، والاعتصام ۲(۷۲۷۵)، سنن ابن ماجه/المناسك ۱۰۵(۳۱۱۶)، (تحفة الأشراف: ۴۸۴۹)، وقد أخرجه: مسند احمد(۳/۴۱۰)(صحيح)

(۳) دا شيبه، وهي شيبة بن عثمان الحجبي رضي الله عنه دې، دچا ذکر چه اوس نزدې تيرشوې دې.

(۴) اود صحيح بخاری الفاظ دادی: فقال لقد هممت ان لا ادع فيهما صفرآء ولا بيضاء، د صفراء او بيضاء نه مراد سره زر اوسپين زردی، دراهم او دنانير.

دا مال د ډير وخت نه دغه شان فضول پروت دې د دې نه ښۀ خبره دا ده چې دا په مسلمانانو کښې تقسيم کړې شی دی دپاره چې په کار راشی) قلت ما انت بفاعل شيبه وائی چې په دې باندې ما حضرت عمر رضي الله عنه ته اووې چې تاسو دا کار هيڅکله هم نۀ شئ کولې هغوی اوفرمائيل چې ولې نه ! زۀ به ئې خامخا کوم ما بيا دا عرض اوکړو چې تاسو دا کار نه شئ کولې هغوی تپوس اوکړو چې آخر څه وجه ده؟زۀ ئې ولې نۀ شم کولې؟ ما ورته عرض اوکړو چې څکه چې ستاسو نه مخکښې نبی عليه السلام او حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه ته هم د دې مال معلومات وو ليکن په هغوی دواړو کښې يو کس هم دې مال ته د دې ځائې نه حرکت ورنکړو حالانکه د هغوی په زمانه کښې د دې مال حاجت د دې وخت نه زيات وو

فقام فخرج شيبه وائی چې عمر رضي الله عنه زما د دې خبرې په اوريدو سره فوراً اودريدۀ او لاړلو د دې نه پس په صحيح بخاری کښې دی عمر اوفرمائيل هما المرآن اقتدی بهما چې دا دواړه واقعی داسې شخصيات دی چې ماته د دوی اقتداء کول دی ابن بطال شارح د بخاری فرمائی چې حضور عليه السلام دا مال څکه اونۀ چيړلو چې دغه مال ګويا د بيت الله دپاره وقف وو چې په هغې کښې څۀ تغير او تصرف کول جائز نه وو ليکن حافظ دا تعليل رد کړې دې او وائی چې ظاهره دا ده چې نبی عليه السلام په دې مال کښې تصرف د قريش د دلدارئ او د رعايت په وجه اونکړو لکه څنګه چې د بيت الله شريف دتعمير و بناءِ قواعد ابراهيمی باندې د قريشو رعايت نۀ وو کړې لکه څنګه چې په حديث کښې د دې تصريح ده <

قال الحافظ ويؤيده ما وقع عند مسلم فی بعض طرق حديث عائشة فی بناء الكعبة لولا ان قومک حديث عهد بكفر لانفقت كنزالكعبة فی سبيل الله

[۲۰۳۲] (۱) حَدَّثَنَا حَامِدُ بْنُ يَحْيَى، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْحَارِثِ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ إِنْسَانٍ الطَّائِفِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنِ الزُّبَيْرِ، قَالَ: لَمَّا أَقْبَلْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ لِيَّةَ حَتَّى إِذَا كُنَّا عِنْدَ السِّدْرَةِ وَقَفَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي طَرَفِ الْقَرْنِ الْأَسْوَدِ حَذْوَهَا، فَاسْتَقْبَلَ نَخِبًا بِبَصَرِهِ، وَقَالَ مَرَّةً: وَادِيَهُ، وَوَقَفَ حَتَّى اتَّقَفَ النَّاسُ كُلُّهُمْ، ثُمَّ قَالَ: "إِنَّ صَيْدَ وَجٍّ وَعِضَاهَهُ حَرَامٌ مُحَرَّمٌ لِلَّهِ"، وَذَلِكَ قَبْلَ نُزُولِهِ الطَّائِفَ وَحِصَارِهِ لِثَقِيفٍ.

دزبير بن العوام رضي الله عنه نه روايت دې فرمائی چه مونږ د نبی عليه السلام سره دليه مقام نه راغلو، کله چه مونږ دبيری ونې ته راورسيدو نونبی عليه السلام دقرن اسود غرسره اودريدو اوخپل نظر ئې نخب مقام ته ورستون کړواو اودريدو اوخلق هم اودريدل او اوئی فرمائيل چه د وج (يوځناوردې) ښکارکول اودده هډوکی حرام دی اوحرام کړې شوی دی دالله تعالی دپاره اوداد دهغه دطائف ته دتلونه اودبنو ثقيف دمحاصره کولونه مخکښې خبره ده.

تشريح: قوله: عن الزبير قال لما اقبلنا مع رسول الله صلی الله عليه وسلم من لية

---

۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۳۶٤۰)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱/۱٦۵) (ضعيف)

د حديث مبارك شرح:

ليه په طائف کښې يو وادی ده يا غر دې القرن الاسود دا يو غر دې او نخب دا هم په طائف کښې يو وادی ده حضرت زبير فرمائی چې کله مونږ راتلو د نبی ﷺ سره د مقام ليه نه (دا د غزوه حنين نه د راتلو او طائف طرفته د تلو د وخت خبره ده) نو چې مونږ کله د بيرې يو اونې سره نزدې وو نو هلته نبی ﷺ اودريدو د قرن اسود په جانب کښې د هغه بيرې د اونې په څوا کښې نو هلته نبی ﷺ حصار شو او وادی نخب ته د خپل نظر مخامخ کړه او ټول خلق هم دلته اودريدل د نبی ﷺ په اتباع کښې

غرض دا چې نبی ﷺ دلته حصار شو او دا ارشاد ئې اوفرمائيلو ان صيدوج وعضاهه حرام محرم لله تعالى چې د مقام وج ښکار او د هغې خاردار اونې ټول حرام دی د الله تعالى دپاره، يعنی څنګه چې الله تعالى د حرم مکه ښکار وغيره حرام کړې دې نو دغه شان حال د مقام وج هم دې چې د دې ښکار وغيره هم حرام دې

آيا وج طائف د حرم په حکم کښې دې؟

وج په طائف کښې د يو مقام نوم دې د دې حديث شريف نه معلومه شوه چې د مقام وج هم هغه حکم دې چې کوم د حرم مکه دې لکه د شافعيه مسلک دا دې ليکن په دې کښې او په حرم مکه کښې فرق دا دې چې د حرم په ښکار کښې جزاء او ضمان واجب دې او په دې کښې جزاء او ضمان واجب نهٔ دې په جمهور علماؤ کښې حنفيه او حنابله هم داخل دی د دې قائل نهٔ دی جمهور دا وائی دا حديث د دومره درجې قوی او مشهور نهٔ دې چې په دې باندې د حلت او د حرمت دارومدار اوساتلې شی په دې مسئله کښې عموم بلوی ده (که داسې وې نو د دې خبر به ټولو خلقو ته وو او دا حديث به مشهور شوې وو حالانکه داسې نهٔ ده) او چې په کوم څيز کښې عموم بلوی وی نو هلته خبر مشهور پکار وی په خبر واحد سره کار نهٔ چليږی اصولی مسئله ده خطابی مشهور شارح حديث هم د دې قائل نهٔ دې ممکن ده چې د نبی ﷺ دا فرمان بطريق حمٰی وی[1] په يو مخصوص وخت کښې نهٔ چې د هميشه دپاره والله تعالى اعلم بالصواب د حديث د شارحينو د کلام نه معلومه شوه چې د وج د ښکار د حرمت شافعيه قائل دی لکه د فقه شافعی په کتابونو کښې دا مسئله مذکور ده او د دې صراحت مذکور دې ففی شرح الاقناع ج۲ص۳۸۹ ويحرم اخذ نبات حرم المدينة ولا يضمن ويحرم صيد وج الطائف ونباته، ولا ضمان فيها قطعاً اهـ د حرم مدينه بيان وړاندې په کتاب کښې راروان دې دغه شان د حضرت شيخ په حاشيه د بذل کښې دی وقال ابن قدامة صيدوج وشجره مباح وقال اصحاب الشافعی حرام اهـ بعضې علماؤ د امام مالک هم دا مسلک ليکلې دې چې

---

[1] او بجيرمی په شرح قناع ص ۳۸۹ په حاشيه کښې د دې يو بل حکمت ليکلې دې هغه دا چه په طائف کښې کفارو رسول الله ﷺ ته سخت تکليف ورکړو تردې چه د هغه قدمين په وينو ککړ شو نو د دې مصيبت نه پس رسول الله ﷺ دلته ناست وو او دلته راتلو سره ئې سکون او آرام حاصل کړو، او الله پاک د هغه اکرام فرمائيلې وو نو د رسول الله ﷺ په وجه باندې د هغه مکان هم اکرام اوکړې شو چه د دې ښکار او اونې پرې کول منع کړې شو. ۱۲

کوم د امام شافعي دي ليکن دا خبره صحيح نهٔ ده د مالکيه په کتابونو کښې ماته چرته د دې ذکر نهٔ دې ملاؤ شوې لا فی الکافی لابن عبدالبر ولا فی الدسوقی وغیره

بَابٌ فِي إِتْيَانِ الْمَدِينَةِ

باب: مدينې منورې ته د رسيدو بيان

کتاب الحج ختميږي په اخره کښې مصنف علیه الرحمة د اتيان مدينه (د مدينې منورې د حاضرۍ) باب قائم کړې دې څکه چې په حديث کښې دی من حج البيت ولم يزرنی فقد جفانی (رواه ابن عدی بسند حسن کما فی البذل) نبی ﷺ فرمائی چې کوم کس حج اوکړی او زما د زيارت دپاره مدينې منورې ته رانهٔ شی نو دهٔ په ما باندې ظلم اوکړو حضرت امام بخاری صاحب هم د کتاب الحج په آخر کښې د حرم مدينه او فضل مدينه په باره کښې متعدد بابونه قائم کړې دی تقريباً يو درڅن

[۲۰۳۳] (١) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَا تُشَدُّ الرِّحَالُ إِلَّا إِلَى ثَلَاثَةِ مَسَاجِدَ: مَسْجِدِ الْحَرَامِ، وَمَسْجِدِي هَذَا، وَالْمَسْجِدِ الْأَقْصَى".

دابوهريره رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه رسول پاك ﷺ فرمائيلی دي: چه د دری جوماتونو نه علاوه نورو جوماتونوته دثواب په نيت باندې بستره ونه تړلی شی (کنايه ده د سفرکولونه) يومسجد حرام اوبل زما داجومات يعنی مسجد نبوی اودريم بيت المقدس څکه چه باقی جمله مساجد په فضيلت کښې يوبرابردی نو په دې وجه باندې ددې دريونه علاوه بل مسجد ته دسفرکولو څه ضرورت دې؟

د حديث شرح علی احسن وجه

قوله: قال لا تشد الرجال الا الی ثلاثة مساجد..الخ: دا حديث متفق عليه دې امام بخاری و مسلم د دې تخريج کړې دې (٢) رحال د رحل جمع ده په معنی د کجاوه او پالان دا صيغه اګرچه د مضارع منفی ده ليکن مراد د دې نه نهی ده يعنی نهٔ دی تړلې کجاوه په اوښانو باندې، او دا کنايه ده د سفر نه مطلقاً خواه په سورلئ سره وی يا بغير يعنی سفر دې نهٔ شی کولې ماسوا د دريو مساجدو نه (چې کوم پورته په حديث کښې مذکور دی) په دې حديث کښې دا استثناء استثناء مفرغ ده څکه چې دلته مستثنی منه مذکور نهٔ ده چې په دې کښې دوه احتمالات دی خاص مقدر اومنلې شی يا عام، (٣) په اولنی صورت کښې به هغه لفظ

---

(١): صحيح البخاري/فضائل الصلاة ١(١١٨٩)، صحيح مسلم/الحج ٩٥(١٣٩٧)، سنن النسائي/المساجد ١٠(٦٩٩)، (تحفة الأشراف: ١٣١٣٠)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ١٩٦(١٤٠٩)، موطا امام مالك/ الجمعة ٧(١٦)، مسند احمد(٢/٢٣٤، ٢٣٨، ٢٧٨)، سنن الدارمي/الصلاة ١٣٢(١٤٦١)(صحيح)

(٢) بلکه په صحاح سته کښې دی قال المنذري واخرجه البخاري ومسلم والنسائي وابن ماجة. اهـ دا حديث په ترمذی ص ۴۴ کښې هم دې خو من حديث ابي سعيد الخدري لا من حديث ابي هريرة، هم په دې وجه منذری د دې حواله نه ده ورکړې.

(٣) د استثناء د مفرغ کيدو تقاضه هم دا ده چه مستثنی منه عام او مطلق اومنلې شی خو دا ضروری نه ده چه د عام نه مراد هم عام وی بلکه کله عام مراد کولو سره خاص مراد کولې شی کما قال الحافظ في الفتح ... يعنی د موضع نه مراد هم مسجد کيدې شی. ۱۲

مسجد وی او په دویم صورت کښې به لفظ مکان یا موضع یعنی لا تشدالرحال الی مسجد من المساجد الا الی الخ یا لا تشد الرحال الی موضع من المواضع الا الی ثلاثة مساجد الخ هسې خو به په دواړو صورتونو کښې دا مستثنی متصل وی څکه چې مستثنی متصل هغه وی چې هلته مستثنی د مستثنی منه د جنس نه وی او په لفظ مسجد او مکان کښې صرف دا فرق دې چې یو په دې کښې جنس قریب دې او یو جنس بعید لیکن چونکه د مسنداحمد په یو روایت کښې د دې وضاحت دې لا تشد الرحال الی مسجد لیصلی فیه الا الی الخ په دې وجه هم احتمال د خصوص راجح دې واختاره الحافظ العراقی هغوی فرمائی د دې حدیث نه مقصود د مساجدو احکامات بیانول دی بهرکیف؛ که مستثنی منه مسجد اومنلې شی نوبیا خوڅه اشکال نشته او مطلب دا دې چې د دریو مساجدو نه علاوه یو بل مسجد ته سفر کول هلته تلل د مونځ کولو دپاره بې فائدې دی په دې کښې هیڅ فضیلت نشته څکه چې د ټولو مساجدو ثواب برابر دې په خلاف د دې دریو مساجدو غرض داچې د فضیلت او فائدې نفی ده د جواز نفی نۀ ده لهذا دا نفی د شفقت دپاره ده د تحریم دپاره نۀ ده کذا قال النووی وغیره من الشراح وهکذا فی الکوکب الدری

او که مستثنی منه عام لفظ یعنی مکان منلې شی[1] نو په دې کښې اشکال ظاهر دې څکه چې په دې صورت کښې د سفر بالکل سدباب کیږی چې هیڅ یو سفر دې نۀ شی کولې د مساجد ثلاثه نه علاوه خواه هغه سفر د طلب علم دپاره وی خواه د تجارت دپاره وی یا د جهاد دپاره یا دوستانو سره د ملاقات وغیره دپاره وی حالانکه دا سفرونه بالاتفاق مشروع او جائز دی اوس د دې اشکال نه د بچ کیدو دپاره دوه صورتونه دی یو دا چې دا اووئیلې شی چې دا سفرونه د دلیلونو په ذریعې د دې حکم نه مستثنی دی او یا دې دا توجیه[2] اوکړې شی چې په دې حدیث کښې مراد دا دې چې د مساجد ثلثه نه علاوه د یو مکان طرفته او د سفر مقصود دغه مکان جوړول او ذریعه د تقرب ګنړلنو دا سفر دې نشې کولې.

په دې صورت کښې به دا مذکوره سفرونه د نهی نه خارج شی څکه چې په دې سفرونو کښې ذوات امکنه مقصود نۀ دی بلکه مقصود د هغې اغراضو حصول دې چې د کومو دپاره سفر کیږی یعنی علم وتجارت و زیارت وغیره

---

[1]) چه د کوم تائید د دې حدیث نه کیږی کوم چه په نسائی ص ۲۱۰ کښې دې، حدیث خو اوږد دې د هغې یو جزء دا دې چه ابوهریره رضی الله عنه فرمائی چه یو کرت زه کوه طور ته (د کور طور د زیارت دپاره) لاړم، په واپسۍ مې په بصره کښې د بصره بن ابی بصره الغفاری سره ملاقات اوشو، هغه تپوس اوکړو ته د کوم ځائې نه راروان ئې، قلت من الطور. په دې باندې هغه اووې چه که زما ملاقات تا سره هلته د تلو نه مخکښې شوې وې نو بیا به ته هلته نه تلې (قلت لم قال انی سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول: لا تعمل المطي الا الي ثلاثة مساجد الخ) په دې باندې د ابوهریره رضی الله عنه د سکوت نه معلومه شوه چه هغه هم د دې رائې سره اتفاق اوکړو. ۱۲

[2]) تقی الدین سبکی په دې حدیث باندې تفصیلی کلام کولو نه پس فرمائی، او خلاصه زمونږ د اوږد بحث دا ده چه د مساجد ثلاثه نه علاوه د بل ځائې سفر هغه وخت ممنوع دې چه کله په دې سفر سره مقصود تعظیم بقعه وی اوکه مقصود د ساکن بقعه تعظیم وی یا بل څه غرض وی نو بیا ممنوع نه دې. اهـ

او بعضې علماؤ دا حديث په نذر باندې محمول کړې دې که يو سړې دا نذر اومنی چې زۀ به په فلانی مسجد کښې دوه رکعته مونځ کوم نو د نذر پوره کولو دپاره هغه مسجد ته تلل او مونځ کول ضروری نۀ دی بلکه چې په کوم مسجد کښې ئې هم اوکړی نو نذر به پوره شی ماسوا د دې دريو مساجدو نه چې که په دې کښې ئې د مونځ کولو نذر منلې وی نو د اکثرو علماؤ په نزد به نذر د دې دريو مساجدو نه علاوه نۀ پوره کيږی[1] بلکه دې مساجدو طرفته به سفر کول ضروری وی ليکن د حنفيه په نزد په دې دريو مساجدو کښې به مونځ کول خو اولی وی ليکن واجب نۀ دی(کوکب)

او بعضې علماؤ دا حديث په اعتکاف باندې محمول کړې دې لکه بعضې صحابه کرام لکه د حضرت حذيفه رضی الله عنه په نزد اعتکاف د دې دريو مساجدو نه علاوه په بل يو مسجد کښې نۀ صحيح کيږی او دبعضو په نزد اعتکاف صرف په مسجد النبی کښې صحيح کيږی

د علماؤ صلحاؤ يا د هغوی د قبرونو د زيارت دپاره شد رحل

اوس پاتې شوه مسئله د هغې سفر چې د علماؤ او صلحاؤ په حيات د هغوی د زيارت دپاره يا د وفات نه پس د هغوی د قبرونو د زيارت دپاره کولې شی حافظ ابن الحجر په فتح البارى کښې ليکی ج۳ص۵۳ شيخ ابومحمد جوينی دا ناجائز او حرام ګرځولې دی او قاضی عياض او يو جماعت هم دا قول اختيار کړې دې[2] ليکن د امام الحرمين وغيره علماء شافعيه په نزد صحيح دا ده چې داسې سفر کول جائز دی او د حديث دې حضراتو مختلف جوابونه ورکړې دی بيا حافظ هغه په تفصيل سره ليکلې دی(۱) مثلاً يو دا چې په حديث کښې د فضيلت تامه نفی مراد ده د نفس فضيلت او د جواز نفی مراد نۀ ده(۲) حديث په نذر باندې محمول دې که يو سړې د مساجد ثلاثه نه علاوه په يو بل مسجد کښې د مونځ کولو نذر اومنی نو د هغې د پوره کولو دپاره بل مسجد ته د سفر کولو ضرورت نشته په خلاف د دې مساجدو(۳) د دې حديث تعلق صرف مساجدو سره دې غيرمساجدو سره د دې هيڅ تعلق نشته وغيره وغيره متعدد توجيهات د حضرت ګنګوهی او حضرت شيخ الهند قدس سرهما په تقارير درسيه کښې دا دی چې د قبرونو د زيارت دپاره سفر کول اګرچه جائز دی په دې حديث کښې د دې نه منع نۀ ده کړې شوې ليکن د عوارضو او د بدعاتو د ويرې تقاضه هم دا ده چې دا ممنوع اوګرځولې شی او شيخ عبدالحق محدث دهلوی رحمه الله په اشعة اللمعات او لمعات التنقيح کښې په دې باره کښې صرف په اختلاف نقل کولو باندې اکتفاء کړې ده چې په دې کښې د علماؤ دوه جماعتونه دی يو جماعت ورته جائز او دويم ورته ناجائز وائی اهـ زمونږ حضرت اقدس شاه ولی الله رحمه الله دا سفر

---

[1] ، امام مالک، امام احمد او امام شافعی في رواية او بل روايت د امام شافعی نه دا دې کوم چه زيات مشهور دې چه په نذر کښې د مسجد حرام تعيين خو معتبر دې د باقی دوه مسجدونو نه دې. کما في الفتح ص ۵۳ ج ۲)

[2] ، امام نووی رحمه الله هم دا قول نقل کولو سره د دې تغليط کړې دې حيث کتب (ص ۴۳۳ ج ۱) وهو غلط والصحيح عند اصحابنا وهو الذي اختاره امام الحرمين والمحققون انه لا يحرم ولا يكره قالوا والمراد ان الفضيلة التامة انما هي في شد الرحال الي هذه الثلاثة خاصة. والله اعلم

ناجائز ګرځولې دي لکه چه هغوی په حجة الله البالغه کښې لیکی چې د اهل جاهلیت دستور وو چې هغوی به په خپل خیال کښې کوم مقامات معظم او مقدس ګڼړل د هغې په اراده به ئې سفر کوو اود خپل خیال مطابق به ئې د هغې نه تبرک حاصلولو چې په دې کښې ښکاره خبره ده چې تحریف او فساد دې په دې وجه نبی علیه السلام د داسې قسم سفرونو سدباب اوفرمائیلو الخ وړاندې فرمائی والحق عندی ان القبر ومحل عبادة ولی من اولیاء الله والطور کل ذلک سواء فی النهی اهـ(عون) مولانا شاه انورشاه کشمیری رحمه الله هم د دې په جواز کښې د تردد اظهار فرمائیلې دې(کما فی العرف) او جمهور شافعیه خو چونکه د جواز قائل دی په دې وجه حضرت امام غزالی رحمه الله په هغې خلقو باندې رد کړې دې چې کوم خلق د دې حدیث(لا تشد الرحال) نه د عدم جواز استدلال نیسی هغوی فرمائی چې د دې حدیث تعلق خو صرف د مساجدو سره دې ځکه چې د دې دریو مساجدو نه علاوه باقی ټول په خپلو کښې برابر دی او په هر کلي او ښار کښې مسجد وی بیا څۀ وجه ده د یو مسجد پریخودلو او بل ته د سفر کولو په خلاف د اولیاؤ د قبرونو او دیدار چې د هغوی د برکاتو انکار نۀ شی کیدې چې په درجه کښې برابر نۀ دی د هر صاحب قبر برکت د هغۀ حسب مرتبه دې نو څنګه چې د علماؤ او صلحاؤ زیارت د هغوی په حیات یعنی ژوند کښې په اعلی مقاصدو کښې دې نو دغه شان د هغوی د وفات نه پس د هغوی د قبرونو زیارت په مقاصد رحله کښې دې کذا فی الاحیاء(التعلیق الصبیح) احقر وائی چې ماته شیخ ومرشد حضرت شیخ الحدیث مولانا محمد زکریا صاحب مهاجر مدنی قدس سره یو ځل فرمائیلې وو چې کله کله د خپلو اکابرینو مزارونو ته ځئ او د حضرت شیخ صاحب خپل معمول هم دا وو چې د موقع په مناسب به په کال کښې یو ځل نیم یا چې به کله موقع ملاؤ شوه نو خواوشا کښې مزارات ګنګوه، دیوبند، رائپور وغیره ته به ئې تشریف اوړلو

شد رحل د روضه شریفه نبویه په اراده

اوس پاتې شوه مسئله د نبی کریم ﷺ د زیارت دپاره شد رحل،نو په دې کښې اګرچه د حدیث الباب پیش نظر بعضې علماؤ اختلاف کړې دې لیکن د جمهور علماؤ او محدثینو په نزد دا عمل من اعظم القربات واجل السعادات دې بلکه بعضې علماؤ لکه تقی الدین سبکی خو د دې په جواز بلکه په استحباب باندې د علماؤ اجماع نقل کړې ده یعنی اجماع عملی(تعامل) لکه هغوی فرمائی د همیشه نه په هره زمانه کښې بې شماره حاجیان د حج په موقع باندې مدینه منوره کښې د روضې مبارکې د دیدار او زیارت دپاره حاضریږی چې په هغې کښې د هر ملک علماء او صلحاء هم وی او ښکاره خبره ده چې کوم کس د علماؤ د دې دومره ګڼړې تخطیه کوی نو هغه به په خپله په خطاء باندې وی اهـ د دې خبرې نه د علامه سبکی صاحب اشاره د ابن تیمیه طرفته ده چې د قبر اطهر د زیارت دپاره شد رحل ته ناجائز وائی د هغوی مسلک دا دې چې سړی ته پکار دی چې هغه د مسجد نبوی او په دې کښې د مونځ کولو په نیت سره د مدینې منورې د سفر نیت اوکړی بیا چې کله هلته حاضر شی نو بیا دې روضه مبارکه باندې حاضرشی دهغې زیارت دې اوکړی او صلوة و سلام دې اوکړی

په عرف الشذی کښې ئې ليکلي دی چې په دې مسئله کښې د متقدمينو نه د ابن تيميه سره څلورو علماؤ موافقت کړې دې چې په هغې کښې شيخ ابومحمدجوينی والد د امام الحرمين هم دې او په حاشيه د بذل المجهود کښې حضرت شيخ صاحب قاضی حسين من الشافعيه او قاضی عياض من المالکيه هم شمار کړې دی.[1] په فتح الباری ص ۵۳ ج ۳ کښې ئې د علامه کرمانی نه نقل کړې دی هغوی فرمائی چې زمونږ په زمانه کښې د شام په ښارونو کښې په دې مسئله باندې د علماؤ مينځ کښې لوې لوې مناظرې شوې دی او د دواړو طرفو نه لوې رسالې ليکلې شوې دی په دې باندې حافظ ابن حجر ليکی د دې نه اشاره هغه بحث او رد طرفته ده چې کوم تقی الدين سبکی په ابن تيميه باندې کړې دې او بيا د ابن تيميه له طرفه شمس الدين ابن عبدالهادی وغيره په سبکی باندې کړې دې[2] دغه شان حافظ وغيره شارحينو ليکلي دی وهی من البشع المسائل المنقولة عن ابن تيمية(ابن تيميه چې په کومو مسئلو کښې د جمهورو مخالفت کړېدې نو په هغې کښې دامسئله د ټولو نه زياته ترخه او بدذائقه ده) الحمد لله حديث لا تشدالرحال الا الی ثلثة مساجد باندې چې احقر څه ليکل غوښتل نو هغه پوره شو د دې مقام مناسب مې يو بل مضمون زړهٔ ليکل غواړی چې د حديث د طالبانو دپاره خاص ضرورت لری چې هغه د استدراک په عنوان سره ليکم

استدراک

مصنف رحمه الله د مسجد حرام او مسجد نبوی په فضيلت کښې صرف دا يو حديث ليکلي دې چې د ترجمة الباب عين مناسب دې حضرت امام بخاری صاحب رحمه الله په کتاب الصلوة کښې باب فضل الصلوة فی مسجد مکة والمدينة قائم کړې دې او د دې لاندې ئې دوه احاديث مبارکه ذکر کړې دی يو خو دا حديث چې کوم دلته ذکر دې لا تشدالرحال الخ

د مسجد حرام او مسجد نبوی په فضيلت کښې احاديث او د هغې توضيح او تشريح

دويم حديث دا دې عن ابی هريرة مرفوعاً صلوة فی مسجدی هذا خير من الف صلوة فيما سواه الا المسجد الحرام دغه شان صاحب د مشکوة په باب المساجد ومواضع الصلوة کښې دا دواړه احاديث مبارکه ذکر کړې دی او د دواړو باره کښې ئې ليکلي دی متفق عليه په دې دواړو کښې په يو باندې خو مونږ کلام اوکړو او يو باقی دې چې د هغې مضمون دا دې نبی عليه السلام فرمائی يو مونځ زما په دې مسجد کښې د هغې زرو مونځونو نه غوره او افضل دې چې

---

[1] د دې حضراتو نوم امام نووی رحمه الله د مسلم په شرح کښې او حافظ په فتح الباری کښې هم ليکلي دی خو شد رحال الی غير المساجد الثلاثة د لاندې ئې ليکلي دی د روضه شريفه د تخصيص سره ئې نه دی ليکلي. ۱۲

[2] د سبکی د دې رسالې نوم "شفاء السقام فی زيارة خير الانام" دی هغه په شروع کښې د دې نوم "شن الغارة علی من انکر سفر الزيارة" کيخودلې وو روستو ئې نوم بدل کړې وو، بيا د دې په ترديد کښې ابن عبدالهادی چه کومه رساله ليکلې وه د هغې نوم هغه کيخودلو : الصارم المنکی علی نحر السبکی، بيا ابن علان د دې رد اوکړو المبرد المبکی علی الصارم المنکی ... او دا سلسله هم دغه شان روانه وه. (عرف الشذی)

کوم په نورو مساجدو کښې اوکړې شی ماسوا د مسجد حرام نه، د دې حدیث په تشریح کښې درې اقوال دی یعنی په دې استثناء کښې چې کومه په دې حدیث کښې ذکر ده(۱) د مسجد نبوی مونځ د باقی ټولو مساجدو نه غوره دې لیکن د مسجد حرام د مونځ نه افضل نهٔ دې بلکه د مسجد حرام مونځ د مسجدنبوی د مونځ نه غوره دې هم دا مطلب جمهور علماؤ اختیار کړې دې او د دې تائید د عبدالله بن الزبیر د حدیث مرفوع نه کیږی چې هغه امام احمد روایت کړې دې چې په هغې کښې د مذکوره حدیث نه پس دا هم زیاتې دې وصلوة فی المسجد الحرام افضل من مائة صلوة فی هذا اوس د پوره حدیث مضمون دا شو چې د مسجد نبوی یو مونځ د باقی مساجدو د زرو مونځونو نه غوره دې او د مسجد حرام یو مونځ د مسجد نبوی د سلو مونځونو نه غوره دې لهذا نتیجه دا شوه چې د مسجد حرام یو مونځ د عامو مساجدو د سلو زرو(یعنی یو لاکهـ) مونځونو نه غوره دې وعند البزار وقال اسناده حسن والطبرانی من حدیث ابی الدرداء رفعه الصلوة فی المسجد الحرام بمائة الف صلوة والصلوة فی مسجدی بالف صلوة والصلوة فی بیت المقدس بخمسمائة صلوة یعنی د مسجد حرام یو مونځ د یو لاکهـ د مونځونو برابر دې او د مسجد نبوی یو مونځ د زرو مونځونو برابر دې او د بیت المقدس یو مونځ د پنځو سوو مونځونو برابر دې د دې استثناء یو مطلب خو دا شو چونکه د دې مطلب تائید د نورو روایتونو نه هم شوې دې په دې وجه دا راجح او متعین دې.

(۲) دویم قول په دې کښې دا دې چې د مسجد نبوی مونځ افضل خو د مسجد حرام نه هم دا دې لیکن بدونِ الف یعنی زر درجې غوره نهٔ دې بلکه د دې نه کم او کم واحد ته هم شامل دې لهذا چې په زرو کښې صرف یو کم کړې شی یعنی د مسجد نبوی یو مونځ خو د عامو مساجدو نه زر درجې غوره دې او د مسجد حرام د مونځ نه یو کم زر درجې غوره دې.[1] قال ابن عبدالبر.

(۳) دریم قول په دې کښې دا دې چې د دې نه مراد مساواة دې یعنی د مسجد نبوی د مونځ چې کوم فضیلت دې نو هغه د نورو مساجدو په لحاظ سره دې د مسجد حرام په لحاظ سره نهٔ دې د مسجد حرام د مونځ برابر دې[2] دا مطلب ابن بطال المالکی اختیار کړېدې او د ترجیح وجه دا بیانوی چې کهٔ اولنی او دویم مطلب واخستلې شی نو په دې صورت کښې به دویم دلیل طرفته د رجوع ګولو حاجت وی چې هغې سره د دې تفاوت مقدار معلومیږی په خلاف د مساوات چې په دې مطلب کښې خبره پوره معلومیږی په دې باندې حافظ ابن حجر فرمائی چې شاید ابن بطال رحمه الله ته د عبدالله بن الزبیر رضی الله عنه هغه حدیث نهٔ دې رسیدلې

[1] لیکن ددې قول په وجه به دا لازمیږی چه د مسجد نبوی او عامو مساجدو په مینځ کښې خود زر مونځونو تفاوت (فرق) دې، اود مسجد حرام او عامو مساجد په مینځ کښې صرف د یو درجې تفاوت وی.وهو کما تری.

[2] د مسجد حرام مونځ څومره افضل دې دمسجد نبوی نه (في المعني الاول) یا د مسجد نبوی مونځ څومره افضل دې د مسجد حرام نه، (في المعني الثاني)

چې کوم په مسند احمد (۱) کښې دې څکه چې د هغې پیش نظر یو بل حدیث طرفته د رجوع کولو حاجت نۀ پیښیږی اهـ د دې نه پس ځان پوهول پکار دی چې د صحیحینو کوم حدیث پورته تیر شو په هغې کښې خو هم دا دی چې د مسجد نبوی د یو مونځ ثواب د زرو مونځونو د ثواب برابر دې او د ابن ماجه په حدیث کښې خو داسې دی چې د هغې راوی جابر رضی الله عنه دې(۲) او د ابن ماجه په یو بل حدیث کښې دی چې د هغې راوی انس بن مالک دې او صاحب د مشکوة هم ذکر کړېدې چې د مسجد نبوی یو مونځ د پنځوس زره مونځونو برابر دې لیکن د دې حدیث په سند کښې یو راوی ابوالخطاب الدمشقی هم دې چې د هغه باره کښې په بذل المجهود کښې د حافظ ابن حجر نه نقل دی چې وهو مجهول

فائده: د حدیث بعضو شارحینو لیکلې دی چې د مسجد حرام د یو مونځ ثواب یولاکهـ د ځاناله کولو په صورت کښې دې او که جماعت سره اوکړې شی نو بیا اوویشت لاکهه دې(۳) او په دې صورت کښې به د پنځو مونځونو ثواب د یو کروړ پنځه دیرش لاکهه مونځونو برابر وی او چې بیا د یو کس سل کاله عمر وی او هغه په خپل وطن کښې سل کاله ځانله مونځ کوی نو د هغې مونځونو تعداد صرف یو لاکهـ اتیا زره وی

دویمه فائده: دلته دوه درې خبرې نورې هم داسې پاتې شوې چې د تحقیق احتیاج لری اول دا چې په مسجد نبوی کښې د نبی علیه السلام نه پس کومه توسیع اوشوه خلفاء راشدینو کړې وی یا نورو خلفاؤ نو هغه حصه د دې اجر په زیاتوالی کښې شامله ده یا صرف دا دومره اجر هغې قدیم حصې سره خاص دې د امام نووی رائې دا ده چې کومه حصه د نبی علیه السلام په زمانه کښې وه نو دا اجر د هغې حصې سره خاص دې څکه چې په حدیث شریف کښې فی مسجدی هذا اسم اشاره سره وئیلې شوې دی نبی علیه السلام صرف فی مسجدی نۀ دې فرمائیلې علامه عینی رحمه الله فرمائی چې کله اسم او اشاره دواړه جمع شی نو د کوم یو په مقتضی باندې به عمل کیږی په دې مسئله کښې اختلاف دې د امام نووی هم میلان دې طرفته دې چې اسم اشاره به غالبه وی او ښکاره خبره ده چې اشاره د یو موجود څیز طرفته کولې شی لهذا د دې نه مراد هغه مسجد شو چې کوم د نبی علیه السلام په زمانه کښې وو او د حنفیه په نزد لکه څنګه چې د دوی د ظاهر کلام نه معلومیږی خبره دا ده چې اسم ته به غلبه ورکولې شی په اشاره باندې اهـ(تعلیق الصبیح) د اسم نه مراد مسجد نبوی چې د نبی علیه السلام په کلام کښې مذکور دې او د مسجد نبوی اطلاق په مزید او مزید علیه دواړو باندې کیږی لهذا تضعیف یعنی د اجر دا زیاتیدل هم عام کیدل پکار دی او شیخ عبدالحق محدث دهلوی رحمه الله په لمعات کښې د امام نووی اختلاف ذکر کړې دې او بیا ئې د جمهور علماؤ مسلک د عدم تخصیص

---

(۱) دا حدیث په شروع کښې تیر شوې دې.

(۲) قال الحافظ (ص ٥٤ ج ۲) وفي ابن ماجه من حديث جابر مرفوعا صلوة في مسجدي افضل من الف صلوة فيما سواه الا المسجد الحرام وصلوة في المسجد الحرام افضل من مائة الف صلوة فيما سواه، اه، لهذا صرف د واحد داستثناء کولو به ځای معتد به مقدار مثلا یو زرنه د نصف استثناء اوکړې شی نو اشکال به نه وی.

(۳) لیکن په دې کښې بعضې شارحینو ته تأمل دې، قال الحافظ (ص ٥٦ ج ۲) لكن هل يجتمع التضعيفان اولا محل بحث .اه، وهكذا في القسطلاني.

ليکلي دي هغوى فرمائى لکه چه راغلي دى چې نبى ﷺ اوفرمائيل لو مد هذا المسجد الى صنعاء اليمن کان مسجدى دغه شان د حضرت عمر او حضرت عثمان رضي الله عنهما قيام په مونځ کښې په هغه حصه کښې چې کومه حصه وروسته زياته کړې شوې وه دا د دې دليل دې وړاندې ليکى چې د ابن تيميه رائې هم دا ده بلکه هغوى په دې باندې د ټولو اتفاق نقل کړې دې ابن تيميه وائى دا جدا خبره ده چې د نبى ﷺ مقام (د قيام ځايې) اعظم او افضل دې د ټولو مقاماتو نه اهـ يعنى په دې کښې خو شک نشته چې د مسجد قديم حصه چې په هغې کښې نبى ﷺ مونځونه کړې دى نو هغه د هغې حصې نه غوره ده چې کومه د هغوى نه روسته زياته کړې شوې ده ليکن د اجر دا زياتوالې د هغې اولنئ او قديم حصې سره خاص نۀ دې په دې وجه بهتره دا ده چې په هغې کښې د مونځ کولو کوشش اوکړې شى صاحب لمعات فرمائى چې محب طبرى په دې مسئله کښې د امام نووى رجوع نقل کړې ده يعنى د جمهورو د مسلک طرفته او د مسجد حرام باره کښې په خپله د امام نووى او تقريباً د ټولو علماؤ رائې دا ده چې هغه عام دې د مونځ د ځائې سره خاص نۀ دې د پوره مکې مکرمې بلکه د ټول حرم هم دا حکم دې لهذا د مکې مکرمې کورونه هم د مسجد حرام په حکم کښې دى ځکه چې په ټولو حرم باندې د مسجد حرام اطلاق کيږى (قسطلانى)

ثانى: دويمه خبره دا ده چې د دې اجر د زياتوالى تعلق صرف د فرض مونځ سره دې يا فرض او نفل دواړو سره دې حافظ ابن حجر د جمهورو مسلک عموم ليکلې دې يعنى فرض او نفل دواړه او د امام طحاوى رائې ئې دا ليکلې ده چې د دې نه مراد صرف فرض مونځ دې ځکه چې نفل کول په کور کښې غوره او افضل دى لحديث افضل الصلوة المرء فى بيته الا المکتوبة په دې باندې حافظ فرمائى چې د امام طحاوى د رائې پيش نظر ساتلو باوجود هم په دې تضعيف يعنى د اجر په دې زياتوالى کښې عموم کيدې شى د عموم نه هيڅ ځيز مانع نشته په دې طريقه چې داسې اووئيلې شى چې د مکې مکرمې او مدينې منورې نفل مونځ يو لاکهـ يا زر درجې غوره دې د غير مکه مکرمه او د غيرمدينه منوره نه يعنى نورو مساجدو سره د مسجدمکه مکرمه او مسجدمدينه منوره تقابل اوکړئ او د نورو کورونو د مکې مکرمې او مدينې منورې د کورونو سرهَ تقابل اوکړئ اهـ

ثالث: دريمه خبره دلته دا ده چې مسجد حرام او مکه مکرمه افضل دى يا مسجد نبوى او مدينه منوره نو جمهور علماء د مکې مکرمې د فضيلت قائل دى د پورته مذکوره حديث په وجه سره، (د مکې مکرمې يو مونځ د يو لاکهـ مونځونو برابر دې او د مسجد نبوى د زرو مونځونو برابر دې) ځکه چې د مکاناتو شرف د عبادت د شرف تابع دې چې هرکله د مکې مکرمې عبادت د مدينې منورې د عبادت نه غوره او افضل دې نو په خپله به مکه مکرمه هم د مدينې منورې نه غوره وى د امام مالک يو روايت او د هغوى د بعضې ملګرو مسلک هم دا دې لکه ابن وهب او ابن حبيب مالکى .ليکن د امام مالک مشهور قول او د هغوى د اکثرو ملګرو مسلک د دې برعکس دې يعنى د مدينې منورې د فضيلت قائل دى ځکه چې نبى ﷺ فرمائى مابين قبرى ومنبرى روضة من رياض الجنة چې زما د قبر نه د منبر پورې دا ټوله

حصه د جنت یو حصه او د هغې باغ دې او په دویم حدیث کښې دی موضع سوط فی الجنة خیر من الدنیا و مافیها ابن عبدالبر د دې جواب دا ورکړې دې چې دا صرف یو استنباط دې صریح نص نۀ دې په خلاف د مکه مکرمه چې د هغې په فضیلت باندې صریح نص موجود دې چې د هغې تخریج اصحاب السنن کړې دې وصححه الترمذی([1]) وابن خزیمة وابن حبان چې د هغې الفاظ دا دی عن عبدالله بن عدی بن الحمراء قال رایت رسول الله صلی الله علیه وسلم واقفاً علی الحزورة فقال والله انک لخیرارض الله واحب ارض الله الی الله ولولا انی أخرجت منک ما خرجت،، حزوره په مکه مکرمه کښې د یو ځائې نوم دې نبی ﷺ په دې حدیث کښې مکې مکرمې ته خیرارض الله او احب ارض الله فرمائی دغه شان دا چې کۀ زۀ د تا نه ویستلې شوې نۀ وې نو زۀ به د دې ځائې نه هیڅکله هم نۀ ووم وتلې حافظ ابن حجر فرمائی اکثر منصفین ([2]) مالکیه (انصاف پسند) د دې قول نه رجوع کړې ده او د مکې مکرمې د فضیلت قائل شوې دی قاضی عیاض مالکی فرمائی لیکن د دې نه هغه بقعه مستثنی ده چې په کومه کښې نبی ﷺ دفن کړې شوې دې د هغې په خیرالبقاع کیدو باندې د ټولو اتفاق دې (تردې چې هغه حصه د عرش نه هم اعلی او غوره ده) په دې باندې حافظ ابن حجر فرمائی چې دا خبره د بحث نه خارج ده ځکه چې بحث په دې لحاظ سره کیږی چې کوم ځائې د عبادت دپاره غوره دې (ملخصاً من الفتح) بنده وائی چې مالکیه د مدینې منورې د فضیلت د هغه حدیث نه هم استدلال کړې دې چې د هغې مضمون دا دې چې نبی ﷺ یو ځل دا دعا اوفرمائیله چې اې الله! ابراهیم ﷺ ستا نبی وو هغوی د اهل مکه دپاره د برکت دعا کړې وه او زۀ ستا نه د اهل مدینه دپاره دعا غوارم او دوچند او څلور چنده زیاته دعا غوارم اهـ اخرجه الترمذی ایضاً فی باب فضل المدینة.

بَابٌ فِي تَحْرِيمِ الْمَدِينَةِ

باب: د مدینې د حرمت بیان

په صحیح بخاری شریف کښې دی باب حرم المدینة، په دې کښې خو شک نشته چې حرم دوه دی حرم مکه او حرم مدینه په دې وجه وئیلې شی حرمین شریفین، لیکن د دواړو په نوعیت کښې فرق دې د بهر نه راتلونکې سړې حرم مکه ته د احرام نه بغیر داخلیدې نۀ شی په خلاف دحرم مدینه په دې کښې بالاتفاق د احرام نه بغیر داخلیدل جائز دی او د بعضې فرقو په کښې اختلاف دې په دې وجه د اکثرو او د ائمه ثلثه په نزد د مدینې منورې اونې بوټی او ښکار حرام دې یعنی څنګه چې د حرم مکه اونې کټ کول حرام دی او د هغې ځائې ښکار حرام دې نو دغه شان حکم د حرم مدینه هم دې لیکن دومره خبره ده چې په دې کښې به جزا واجب نۀ وی وهو مذهب مالک واحمد فی روایة وقول الشافعی فی الجدید او د امام احمد یو روایت او د امام شافعی قدیم قول دا دې چې جزا به هم واجبیږی هغه جزا چې کومه په حرم

[1]) أخرجه الترمذي في أواخر كتاب المناقب في باب فضل مكة.١٢.

[2]) په فتح الباری کښې لفظ مصنفین دې. قسطلانی کښې منصفین دې. وهو الصحیح.

مکه کښې واجبيږي او وئيلې شوې دی چې د دې جزا اخذ السلب دې(د بدن کپړې او ورسره سامان) لکه څنګه چې وړاندې په کتاب کښې د سعد بن ابی وقاص په حديث کښې راغلې د تحريم دليل روايات الباب دی

د حرم مدينه په حکم کښې د جمهورو او د احنافو اختلاف

او د حنفيه په نزد د حرم مدينه حکم دا نۀ دې چې د هغې ځائې اونې او ښکار حرام دې بلکه صرف دا دې چې هغه معظم او محترم مقام دې د هغې د شان خلاف چې د هغې دشان سره مناسب نۀ وی نو داسې کار هلته کول پکار نۀ دی د هغې ځائې خوشنما منظرونه دې باقي اوساتلې شی او بغير د ضرورت نه په هغې کښې څۀ خرابي نۀ راولي امام طحاوی په دې باندې د حضرت انس ﷺ د هغې حديث نه استدلال کړې دې چې په هغې کښې دی يا ابا عميرمافعل النغير چې که د مدينې منورې ښکار حرام وې نو د هغې نيول به هم جائز نه وو د دې جواب دا ورکړې شوې دې چې ممکن ده هغه مرغۍ(نغير) هغوی د حل(يعنی د حرم نه خارج) څۀ ځائې کښې نيولې وی ليکن حافظ دا په خپله رد کړې ده حيث قال لکن لا يرد ذلک علی الحنفية لان صيد الحل عندهم اذا دخل الحرم کان کحکم الحرم چې د حل ښکار حرم ته راشي نو هغه هم د حرم د ښکار په حکم کښې شمار شي

دغه شان امام طحاوی د تحريم د رواياتو يو جواب دا ورکړې دې چې ممکن ده چې دا حکم د هغه وخت وی چې کله مدينې منورې ته هجرت واجب وو دې دپاره چې د مدينې منورې زينت باقي وی او دا د زينت بقاء د هجرت طرفته د رغبت او د مدينې منورې د الفت و محبت ذريعه وی نو چې هرکله هجرت منسوخ شو نو دا تحريم هم منسوخ شو لکه د دې تائيد د دې نه کيږی چې په بعضې روايتونو کښې راغلي ان النبی صلی الله عليه وسلم نهی عن هدم آطام المدينة فانها من زينة المدينة يعنی نبی ﷺ د مدينې منورې د اوچتو او قديم ديوالونو د وړانولو نه منع اوفرمائيله ځکه چې د هغې وجود د زينت باعث دې دغه شان د دې تحريم په روايتونو کښې په خپله استثناء موجود ده الا ان يعلف رجل بعيره چې د ضرورت په اندازه سړې د خپلې سورلۍ دپاره واښۀ کټ کولې شی د دويم روايت الفاظ دا دی الا ما يساق به الجمل او په يو روايت کښې دی ولکن يهش هشار قيقاً يعنی د هغې ځائې پاڼړې ضرورةً په قلار قلار شوکولې شي غرض دا چې جمهور د کومو روايتونو نه د تحريم استدلال کوی نو په خپله په هغې کښې د عدم تحريم پهلو موجود ده

[٢٠٣٤] (١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ التَّيْمِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: مَا كَتَبْنَا عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَّا الْقُرْآنَ وَمَا فِي هَذِهِ الصَّحِيفَةِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الْمَدِينَةُ حَرَامٌ مَا بَيْنَ عَائِرٍ إِلَى ثَوْرٍ، فَمَنْ أَحْدَثَ حَدَثًا أَوْ آوَى مُحْدِثًا فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللَّهِ

(١): صحيح البخاري/العلم ٣٩(١١١)، وفضائل المدينة ١(١٨٦٧)، والجهاد ١٧١(٣٠٤٧)، والجزية ١٠(٣١٧٢، ٣١٧٩)، والفرائض ٢١(٦٧٥٥)، والديات ٢٤(٦٩٠٣)، والاعتصام ٥(٧٣٠٠)، صحيح مسلم/الحج ٨٥(١٣٧٠)، سنن الترمذي/الديات ١٦(١٤١٢)، والولاء والهبة ٣(٢١٢٧)، سنن النسائي/القسامة ٩، ١٠(٤٧٤٩)،(تحفة الأشراف: ١٠٣١٧)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/الديات ٢١(٢٦٥٨)، مسند احمد(١/٨١، ١٢٢، ١٢٦، ١٥١، ٢/٣٩٨)، سنن الدارمي/الديات ٥(٢٤٠١)(صحيح)

وَالْمَلَائِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ لَا يُقْبَلُ مِنْهُ عَدْلٌ وَلَا صَرْفٌ، وَذِمَّةُ الْمُسْلِمِينَ وَاحِدَةٌ يَسْعَى بِهَا أَدْنَاهُمْ، فَمَنْ أَخْفَرَ مُسْلِمًا فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللهِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ لَا يُقْبَلُ مِنْهُ عَدْلٌ وَلَا صَرْفٌ، وَمَنْ وَالَى قَوْمًا بِغَيْرِ إِذْنِ مَوَالِيهِ فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللهِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ لَا يُقْبَلُ مِنْهُ عَدْلٌ وَلَا صَرْفٌ".

دعلی ﷺ نه روایت دې فرمائی چه مونږ دنبی ﷺ نه د قران کریم اوددی صحیفی(په کومه کښې چه د دیت احکام لیکلی شوی وو) نه علاوه نور څه نه دی لیکلی او وئې وئیل چه نبی ﷺ فرمائیلی دی مدینه منوره دعائر غرنه واخله ترثور غره پورې حرامه ده، څوك چه په مدینه کښې څه قسم نوی خبره پیداکړی یا کوم نوی خبری پیداکونکی ته ځائې ورکړی نوپه داسې کس باندې دی دالله تعالی اودملائکو اودتمامو خلقو لعنت وی، ددغه کس به نه فرض عبادت اونه نفل دالله په نزد. قبول وي، دټولو مسلمانانو ذمه یوه ده، که چرې په دوی کښې کوم ادنی کس یو مشرك ته پناه ورکړی اوبل کس دهغه پناه ماته کړه نوپه داسې کس باندې دی هم دالله تعالی اودفرشتو اودتما موخلقو لعنت وی اودداسې کس به هم فرائض اونوافل عندالله مقبول نه وی او څوك چه دکوم قوم نه دخپلو دوستانو سره داجازت نه بغیر دوستی اوکړی نو په داسې کس باندې دی هم دالله تعالی اودفرشتو اودتماموخلقو لعنت وی اودداسې کس به فرائض او نوافل عندالله مقبول نه وي.

د حدیث تفصیلی تشریح

قوله: المدینة حرم ما بین عائر الی ثور...الخ: په دې حدیث مبارک کښې د حرم مدینه حد مذکور دې او وړاندې په روایت کښې راځی حمی[1] رسول الله صلی الله علیه وسلم کل ناحیة من المدینة بریداً بریداً یعنی نبی ﷺ د مدینې منورې څلور واړه طرفونه د یو یو برید په قدر محفوظ کړل برید منزل ته وئیلې شی چې د هغې مسافت دولس میله وی او د بخاری په یو روایت کښې دی حرم ما بین لابتی المدینة او په بعضې روایتونو کښې مابین حریتها راغلې دې لابه او حره مترادف دی الحجارة اسود(تور کاڼړی) مدینه منوره د حرتین(دواړ تورو کاڼړیژن زمکو به مینځ کښې واقع ده) او په صحیح مسلم کښې په دې سلسله کښې روایات په مختلف الفاظو سره موجود دی ففی روایة ان ابراهیم حرم مکة وانی احرم مابین لابتیها،وفی روایة منه اللهم انی احرم مابین جبلیها مثل ما حرم به ابراهیم مکة وفی روایة وانی حرمت المدینة مابین مازمیها

د دې نه پس تاسو د حدیث الباب باره کښې ځان پوهه کړئ چې په دې کښې دوه الفاظ مذکور دی عائر(چې عیر ورته هم وئیلې شی) او دویم لفظ ثور دا دواړه د دواړ غرونو نومونه دی یعنی د دې مینځنۍ حصه ټوله په ټوله حرم مدینه دې په صحیح بخاری کښې یو ځائې خو داسې دی من کذا الی کذا او یو بل ځائې کښې دی: ما بین عائر الی کذا ،، ګویا یوځائې کښې دواړه مبهم دی او په دویم ځائې کښې اولنې معین او دویم مبهم دې غرض

[1]) په دې حدیث کښې راوی د حرم په ځائې د حمي لفظ استعمال کړو چه دا زما په خیال کښې د احنافو دمسلک طرف ته راهنمائی کوی یعنی لکه څنګه چه حمي (د مخصوص چراګاه یعنی ورشو) تحریم د یو وقتی او دڅه خاص ضرورت او مصلحت په وجه باندې شوې دې دغسې د حرم مدینه هم دې والله تعالی أعلم.

دا چې امام بخاري د ثور لفظ اختيار نهٔ کړو او د صحيح مسلم په روايت کښې من کذا الى کذا دی او په يو روايت کښې مابين الى عير الى ثور دې حافظ فرمائی د بعضو شارحينو خيال دا دې چې امام بخاری د ثانی تعيين قصداً اونکړو څکه چې د ثور لفظ د هغوی په نزد صحيح نهٔ وو په دې وجه د الى ثور په ځائې الى کذا نقل کړو څکه چې د عائر خو په مدينه منوره کښې کيدل معروف او مشهور دی او د ثور هلته کښې کيدل غيرمعروف دی بلکه د دې په مکه مکرمه کښې کيدل مشهور و معروف دی[۱] او دا هغه غر دې چې د دې په غار کښې حضور ﷺ د هجرت په وخت د کفارو نه ځان بچ کړې وو په دې وجه بعضې خو دا وائی چې دا لفظ د راوی وهم دې د دې په ځائې به بل څهٔ وی مثلاً الى احد لکه د مسند احمد په يو روايت کښې داسې دی.

او بعضې شارحينو د دې يو بله توجيه کړې ده هغه دا چې کلام په قياس او تشبيه باندې محمول دې هغه په دې طور سره چې څنګه د جبل ثور په مکه مکرمه کښې کيدل معروف دی دغه شان هلته يو غر د عائر په نوم سره هم دې لهذا په دې حديث کښې د جبل عير و ثور نه مراد دمکې مکرمې دا دوه غرونه دی او مطلب دا دې چې څومره مسافت د دې دواؤ غرونو په مينځ کښې دې(په مکه مکرمه کښې) دومره وسيع ځائې په مدينه منوره کښې د هغې حرم دې

او د بعضې علماؤ تحقيق دا دې چې په کښې مجدالدين فيروزآبادی(صاحب قاموس) دې هغه دا چې د بعضې علماؤ نه منقول دی چې مونږ مدينې منورې ته لاړو او مونږ په خپله د دې تحقيق اوکړو نو د بعضې مشرانو نه پته اولګيده چې او د احد غر نه شاته يو غر دې چې د هغې نوم ثور دې والله سبحانه وتعالى اعلم

د صحيح مسلم دبعضې مصری نسخو په حاشيه کښې د تاج العروس نه نقل کړې دی چې د حديث الجبلين او حديث اللابتين د مجموعې نه د حرم مدينه د حدود اربعه تعيين اوشو څکه چې لابتين په شرق او غرب او عيروثور د مدينې په شمال او جنوب کښې واقع دی. په دې کښې اولنې په جنوب کښې او دويم په شمال کښې دې فمن احدث حدثاً او آوی محدثاً مطلب دا دې چې هرکله معلومه شوه چې د مدينې منورې دپاره حرم شته او د حرم کيدو مطلب دا دې چې دا مقدس ځائې دې نو د دې تقاضه دا ده چې هلته خصوصيت سره انسان د ګناه نه ځان بچ کړی او خاص کر د بدعاتو او احداث فی الدين[۲] نه او دغه شان د ايواء محدث نه يعنی د بدعتی د اعانت نه او بدعتی له په مدينه منوره کښې د ځائې ورکولو نه او دا لفظ محدَث هم کيدې شی يعنی امر بدعت چې کوم څيز د بدعت د قبيل نه وی نو د هغې ترويج او اشاعت خو اول په يو ځائې کښې هم پکار نهٔ دې ليکن بيا په مدينه منوره

[۱] اګرچه مصعب زبيری خو د دواړو انکار کړې دې چه په دې کښې يو غر هم په مدينه کښې نشته، ليکن علماؤ د عير نفی تسليم کړې ده.

[۲] مدينه منوره چونکه د دين اسلام مرکز دې په دې وجه دهغه ځائ نه چه څه څيز هم راؤخی هغه به دين ګنړلې کيږی په دې وجه مدينه د بدعت اود اهل بدعت د هلته د قيام نه د بچ کولو ډير سخت ضرورت دې.

کښې خو قطعاً کول نۀ دی پکار ځکه چې په مقدس ځائې کښې ځنګه د نیکو اجروثواب زیات وی نو دغه شان هلته د ګناه کولو وبال هم زیات وی لا یقبل منه عدل ولا صرف[1] د دې نه معلومیږی چې بدعت یو داسې منحوس څیز دې چې دې سره نورې نیکۍ هم تباه کیږی وذمة المسلمین واحدة کۀ یو مسلمان سړې یو کافر ته پناه او امان ورکړی نو د هغې رعایت په ټولو باندې واجب دې د یو مسلمان پناه ورکول ګویا د ټولو پناه ورکول دی او د دې پناه ورکولو کوشش یو ادنی سړې هم کولې شی او دا ادنی کیدل عام دی خواه د عدد په لحاظ سره وی چې پناه ورکوونکې صرف یو سړې وی یا د مرتبې په لحاظ سره وی مثلاً دا چې ښځه وی یا غلام وی آزاد نۀ وی دغه شان خواه د کمزورې خاندان والا وی یا اوچت او شریف خاندان والا ومن والی قوماً بغیر اذن موالیه چې کوم کس چه عقد موالاة اوکړی پردو(اجنبی) خلقو سره د مولی د اجازت نه بغیر نو په دۀ باندې لعنت دې د مَوالاة او د ولاء دوه قسمونه دی ولاء العتاقة او ولاء الموالاة دلته دواړه مراد کیدې شی که اول مراد واخستلې شی نو د دې تشریح دا ده چې په حدیث مبارک کښې دی الولاء لمن اعتق ولاء په اصل کښې د هغې خصوصی تعلق نوم دې چې د اعتاق(آزادیدو) په وجه د معتِق او معتَق درمیان کښې پیدا کیږی چې د هغې په نتیجه کښې مولی(معتِق) د معتَق وارث جوړیږی په دې وجه بعضې وخت کښې ولاء اووئیلې شی لیکن مجازاً ترینه مال معتَق هم اخستلې شی بهرحال! ولاء د معتِق دپاره وی ځکه چې په معتَق باندې خو د معتِق ډیر احسان دې اوس که یو آزاد کړې شوې غلام د خپل آزادولو نسبت د خپل معتق په ځائې بل یو کس طرفته اوکړی او اووائی چې دا زما معتق دې نو دا د دۀ ډیر زیات رذالت او احسان فراموشی نۀ ده نو څۀ دی؟ په پورته مذکوره حدیث شریف کښې په دې حرکت باندې وعید بیان کړې شوې دې او یقیناً دا کار حرام دې او په دې صورت کښې به د بغیر داذن موالیه قید په حدیث کښې احترازی نۀ وی چې که بغیر د اجازت نه داسې اوکړی نو حرام او ناجائز به وی ورنه جائز به وی ځکه چې دا فعل خو په هر صورت کښې ناجائز دې بلکه د بیانِ واقع په طور دې ښکاره خبره ده چې غلام به داسې کار د مولی او آقا د اجازت نه بغیر کوی

او دا هم ممکن ده چې دلته د موالاة نه عقد موالاة مراد وی چې هغې ته ولاء الموالاة هم وئیلې شی(د دوستئ عقد) چې د جاهلیت په زمانه او د اسلام په ابتداء کښې به ډیر زیات وو او په دې وجه به استحقاق د ارث هم کیدو یعنی په میراث کښې به حقدار جوړیدۀ چې بیا روسته د جمهورو په نزد منسوخ شو لیکن د حنفیه په نزد منسوخ خو نۀ شو البته په دې کښې فرق راغې. [2] کما سیاتی فی کتاب الفرائض په دې دویم صورت کښې به د بغیراذن

---

[1]) د صرف او عدل په تعریف او تفسیر کښې مختلف اقوال دی چه د بذل المجهود اود کتاب په حواشی لیکلی دی.

[2]) هغه داچه په ابتداء کښې خو مولی الموالاة په ذوی الارحامو باندې مقدم وو، روسته چه کله دا آیت: و اولوا الأرحام بعضهم اولی ببعض، نازل شو نو مولی الموالاة د ذوی الارحام نه مؤخر کړې شو، یعنی د ذوی الارحام د نه موجود کیدو په صورت کښې به مولی الموالاة وارث وی، دهغوی په موجودګئ کښې به نه وی.

موالیه قید احترازی وی ځکه چې سړي د خپل مولی الموالاة نه په اجازت اخستلو سره بل سړي سره عقد موالاة کولي شی البته د اجازت نه بغیر حرام دی

[٢٠٣٥](١) حَدَّثَنَا ابْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا عَبْدُ الصَّمَدِ، حَدَّثَنَا هَمَّامٌ، حَدَّثَنَا قَتَادَةُ، عَنْ أَبِي حَسَّانَ، عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، فِي هَذِهِ الْقِصَّةِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَا يُخْتَلَى خَلَاهَا وَلَا يُنَفَّرُ صَيْدُهَا وَلَا تُلْتَقَطُ لُقَطَتُهَا إِلَّا لِمَنْ أَشَادَ بِهَا، وَلَا يَصْلُحُ لِرَجُلٍ أَنْ يَحْمِلَ فِيهَا السِّلَاحَ لِقِتَالٍ وَلَا يَصْلُحُ أَنْ يُقْطَعَ مِنْهَا شَجَرَةٌ إِلَّا أَنْ يَعْلِفَ رَجُلٌ بَعِيرَهُ".

دعلی رضی الله عنه نه روایت دې چه ددې قصې په باره کښې نبی ﷺ فرمائیلی دی چه دمدینې منورې ګیاه نشی کټ کولي اونه به دښکار کولو دپاره ددې ځائې ښکاروي زغلولي شی اونه به ددې ځائې پریوتلې څیز اوچتولي شی لیکن پریوتلې څیز به هغه څوک اوچتوی څوك چه ددې مالك ته اطلاع ورکوی او د هیچا دپاره جائزنه دی چه په مدینه باندې دجنګ دپاره اُصلحه اوچته کړی او دهیچا دپاره جائزنه دی چه ددې ځائې ونه پرې کړی مګر دخپل اوښ د انتظام دپاره.

رایت سعد بن ابی وقاص اخذ رجلاً سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه یو سړي اولیدهٔ چې په حرم مدینه کښې ئې ښکار کوو نو هغوی هغه اونیوهٔ او کپړې او سامان ئې ترینه واخستهٔ په دې حدیث باندې د ابن حزم ظاهری عمل دې دغه شان د امام شافعی قدیم قول او د امام احمد په یو روایت کښې هم دغه شان دی امام ابوبکر بزار وائی چې دا حدیث د سعد بن ابی وقاص نه علاوه د بل یو صحابی نه مروي نهٔ دې اهـ بنده وائی چې په دې حدیث باندې د جمهورو عمل نشته ځکه چې دا په اخبار آحاد کښې دې او د دې طرق هم متعد.د نهٔ دی او د بل چا د مال اخستلو مسئله خو ډیره سخته ده د دې دپاره چې څنګه د مشهور او قوی حدیث ضرورت دې نو دا هغه شان نهٔ دې والله اعلم

[٢٠٣٦](٢) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، أَنَّ زَيْدَ بْنَ الْحُبَابِ حَدَّثَهُمْ، حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ كِنَانَةَ مَوْلَى عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي سُفْيَانَ، عَنْ عَدِيِّ بْنِ زَيْدٍ، قَالَ: "حَمَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلَّ نَاحِيَةٍ مِنَ الْمَدِينَةِ بَرِيدًا بَرِيدًا، لَا يُخْبَطُ شَجَرُهُ وَلَا يُعْضَدُ إِلَّا مَا يُسَاقُ بِهِ الْجَمَلُ".

د عدی بن زید نه روایت دې فرمائی چه نبی ﷺ مدینه منوره دیویو برید دفاصلی پورې محفوظه کړی ده چه نه دی ددې ځائې ونې کټ کولي شی اونه دی پاڼړی ماتولي شی مګر داوښ دشړلو دپاره.

[٢٠٣٧](٣) حَدَّثَنَا أَبُو سَلَمَةَ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ يَعْنِي ابْنَ حَازِمٍ، حَدَّثَنِي يَعْلَى بْنُ حَكِيمٍ، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ أَبِي عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: رَأَيْتُ سَعْدَ بْنَ أَبِي وَقَّاصٍ أَخَذَ رَجُلًا يَصِيدُ فِي حَرَمِ الْمَدِينَةِ الَّذِي حَرَّمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَسَلَبَهُ ثِيَابَهُ، فَجَاءَ مَوَالِيهِ فَكَلَّمُوهُ فِيهِ، فَقَالَ: إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَرَّمَ هَذَا الْحَرَمَ، وَقَالَ: "مَنْ وَجَدَ أَحَدًا يَصِيدُ فِيهِ فَلْيَسْلُبْهُ ثِيَابَهُ"، فَلَا أَرُدُّ عَلَيْكُمْ طُعْمَةً أَطْعَمَنِيهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَلَكِنْ إِنْ شِئْتُمْ دَفَعْتُ إِلَيْكُمْ ثَمَنَهُ.

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٠٢٧٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/١١٩) (صحيح)
(٢): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٩٨٧٩) (حسن)
(٣): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٣٨٦٣)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/الحج ٨٥ (٤٠٦٠)، مسند احمد (١/١٦٨، ١٧٠) (صحيح)

دسليمان بن ابوعبدالله نه روايت دي فرمائي چه سعد بن أبي وقاص د مې اوليدل چه يوکس ئې ونيور چه ښکارئې کولو په حرم دمدينه کښې دهغه حدودو په احاطه کښې کوم چه نبي عليه السلام حرام کړې دی سعد رضي الله عنه دهغه نه جامې واغستلې، خلق سعد ته دهغه سره دخبرو کولو دپاره راغلل سعد رضي الله عنه اوفرمائيل چه نبي عليه السلام دا حرم حرام ګرځولی دې اوفرمائيلی ئې دی څوک چه کوم ښکاري اونيسي نودهغه نه دی دهغه سامان واخلی اوزه تاسوته دده سامان بالکل نه درکوم کوم سامان چه ماته نبي عليه السلام راکړې دې ليکن که چرې تاسو خامخا غواړئ نوزه به تاسوته ددې سامان قيمت درکړم دسعد هند د آزاد کړې شوی غلام نه روايت دې فرمائي چه سعد نه په مدينه منوره کښې يوغلام دونې په کټ کولو وليدو نو سعد دهغه سامان واغستو اودهغه مالکانوته ئې اووئيل چه مادنبي عليه السلام نه اوريدلی دی چه دمدينې دونو دکټ کولونه سې منع فرمائيلی وه، اودائې هم فرمائيل څوک چه ددې ځائې ونې وغيره پريکوی اوبيائې څوک ونيسي نوځه سامان چه ورسره وی هغه دی ترې واخلی.

[٢٠٣٨]([1]) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، أَخْبَرَنَا ابْنُ أَبِي ذِئْبٍ، عَنْ صَالِحٍ مَوْلَى التَّوْءَمَةِ، عَنْ مَوْلًى لِسَعْدٍ، أَنَّ سَعْدًا وَجَدَ عَبِيدًا مِنْ عَبِيدِ الْمَدِينَةِ يَقْطَعُونَ مِنْ شَجَرِ الْمَدِينَةِ، فَأَخَذَ مَتَاعَهُمْ، وَقَالَ يَعْنِي لِمَوَالِيهِمْ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْهَى أَنْ يُقْطَعَ مِنْ شَجَرِ الْمَدِينَةِ شَيْءٌ، وَقَالَ: "مَنْ قَطَعَ مِنْهُ شَيْئًا فَلِمَنْ أَخَذَهُ سَلَبُهُ".

دجابر بن عبدالله رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائيلی دی چه دمدينې دحرم نه به نه پاڼړی ماتولې شی اونه به ونه وهلې شی البته پاڼړی په مزه مزه څندلې شئ په دې کښې څه حرج نشته.

[٢٠٣٩]([2]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ حَفْصٍ أَبُو عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْقَطَّانُ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ خَالِدٍ، أَخْبَرَنِي خَارِجَةُ بْنُ الْحَارِثِ الْجُهَنِيُّ، أَخْبَرَنِي أَبِي، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَا يُخْبَطُ وَلَا يُعْضَدُ حِمَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَلَكِنْ يُهَشُّ هَشًّا رَفِيقًا".

دجابر بن عبدالله رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائيلی دی چه دمدينې دحرم نه به نه پاڼړی ماتولې شی اونه به ونه وهلې شی البته پاڼړی په مزه مزه څندلې شئ په دې کښې څه حرج نشته.

[٢٠٤٠]([3]) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى. ح حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، عَنْ ابْنِ نُمَيْرٍ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنْ نَافِعٍ، عَنْ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "كَانَ يَأْتِي قُبَاءَ مَاشِيًا وَرَاكِبًا، زَادَ ابْنُ نُمَيْرٍ، وَيُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ".

دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دې فرمائي چه نبي عليه السلام به مسجد قبا ته پيدل او کله په سورلی هم راتلو ابن نمير دا اضافه کړی ده چه هلته به لاړو نودوه رکعته نفل به ئې وکړل.

[1]): تفرد به أبو داود،(تحفة الأشراف: ٣٩٥١)(صحيح)

[2]): تفرد به أبو داود،(تحفة الأشراف: ٢٢١٨)(صحيح)

[3]): صحيح البخاري/الصلاة في مسجد مكة والمدينة ٣(١١٩٤)تعليقًا، والاعتصام ١٦(٧٣٢٣)، صحيح مسلم/الحج ٩٧(١٣٩٩)، سنن النسائي/المساجد ٩(٦٩٩)،(تحفة الأشراف: ٧٩٤١، ٨١٤٨)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/ قصر الصلاة ٢٣(٧١)، مسند احمد(٢/٥، ٣٠، ٥٧، ٥٨، ٦٥)(صحيح)

كان ياتى قباء ماشياً وراكباً مضمون خو روان دې د حرم مدينه او فضيلت مدينه او چونكه د قباء كلي هم د مدينې منورې په اطرافو كښې واقع دې په دې وجه ئې تبعاً د دې فضيلت هم دلته په دې حديث كښې ذكر كړو

بَاب زِيَارَةِ الْقُبُورِ

باب د قبرونو د زيارت بيان

د دې نه يو باب وړاندې باب اتيان المدينة تير شوې دې چې په هغې كښې مصنف د شد رحال والا حديث ذكر كړې دې چې د هغې نه په ظاهره اشاره دې طرفته شوې ده چې د مدينې په حاضرئ سره مقصود د مسجد نبوى زيارت كول او په هغې كښې مونځ كول دى او په دې سره غالباً دويم مقصد طرفته اشاره كول غواړى يعنى د نبى ﷺ د قبر شريف زيارت او په هغې باندې حاضرى، بلكه زمونږ بعضې فقهاء چې ابن الهمام په كښې هم دې هغوى خو دا فرمائى چې غوره او اولى دا ده چې د مدينې منورې د حاضرئ نه مقصود د روضې مباركې زيارت وى ځكه چې د قبر شريف د زيارت باره كښې په صراحت او وضاحت سره بيشماره احاديث راغلي دى ففى رواية من جاءنى زائراً لم تنزعه حاجة الا زيارتى كان حقا على ان اكون له شفيعاً يوم القيامة(شفاء السقام) يعنى چې كوم سړې زما د قبر زيارت دپاره راشى او د دې نه سوا ئې بل څه غرض نۀ وى نو په ما باندې د دۀ سفارش كول حق دى

[٢٠٤١]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَوْفٍ، حَدَّثَنَا الْمُقْرِئُ، حَدَّثَنَا حَيْوَةُ، عَنْ أَبِي صَخْرٍ حُمَيْدِ بْنِ زِيَادٍ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ قُسَيْطٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَا مِنْ أَحَدٍ يُسَلِّمُ عَلَيَّ، إِلَّا رَدَّ اللَّهُ عَلَيَّ رُوحِي حَتَّى أَرُدَّ عَلَيْهِ السَّلَامَ".

د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دې فرمائى چه نبى ﷺ فرمائيلي دى څوك چه په ما باندې سلام وائى، اوراليږى ئې الله تعالى ماته زما روح راواپس كوى و او زه د هغه كس د سلام جواب وركوم.

ما من احد يسلم على الا ردالله على روحى چې كوم كس په ما باندې سلام وائى (د قبر شريف په خوا كښې، كما يشير اليه ترجمة الباب) نو الله تعالى ماته زما روح واپس كوى ترديې چې زۀ د هغۀ د سلام جواب په خپله وركوم خومره لويه خوش قسمتى او سعادت دې نبى ﷺ د سلام كوونكى سلام اورى او بيا د هغې جواب وركوى (گويا يو لحاظ سره هم كلامى شوه) كه دا نعمت په ټوله دنيا خرچ كولو او خرڅولو باندې هم واخستلې شى نو د نبى ﷺ د امتى په حق كښې ارزان دې

د حديث مبارك تشريح د ماله و ماعليه سره

دلته يو علمى اشكال و جواب دې او اشكال په هغې مطلب او ترجمه باندې دې چې كوم پورته مونږ ذكر كړل اشكال دا دې چې جسم ته روح واپس كيدل دا مستلزم دى مفارقة الروح عن

(): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٤٨٣٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/٥٢٧) (حسن)

الجسد ته چې دحیاة الانبیاء[۱] دمسئلې خلاف دی ددې متعدد توجیهات بیان کړې شوې دی.

د علامه سندي رحمه الله توجیه

علامه سندي رحمه الله د دې یو توجیه دا کړې ده چې په کلام عرب کښې دا څيز ډیر شائع دې چې اکثر وختونو کښې دا خلق د شرط جزا حذف کړي او د هغې علت د هغې قائم مقام جوړ وی کما في قوله تعالى فان کذبوک فقد کذب رسل من قبلک په دې آیت کریمه کښې اصل جزا حذف کړې شوه یعنی فلا تحزن او د دې علت د دې په ځائې ذکر کړې شوې دې تاسو غم مۀ کوئ ځکه چې د تیرو شوو انبیاء کرامو خو هم دا تکذیب کړې شوې دې والبلیة اذا عمت طابت دغه شان په دې آیت کریمه کښې ان الذین آمنوا وعملوا الصالحات انا لا نضیع اجر من احسن عملاً د دې اصل جزا فلا نضیع عملهم وه هغه حذف کړې شوې او د هغې علت د هغې قائم مقام اوګرځولې شو د کلام تقدیر داسې دې ان الذین آمنوا وعملوالصالحات لا نضیع عملهم لانا لانضیع اجر من احسن عملاً دغه شان په دې حدیث شریف کښې تقدیر د عبارت داسې دې ما من احد یسلم علی الا أرد علیه السلام لان الله تعالى قد رد علی روحی یعنی یو کس داسې نشته چې هغه په ما باندې سلام اولولی مګر دا چې زۀ د هغۀ د سلام جواب ورکوم ځکه چې الله تعالى زما روح ماته واپس کړې دې (په عالم برزخ کښې) بیا چې وړاندې په حدیث دی حتی ارد علیه السلام د دې مطلب دا دې پس د دې په سبب زۀ د هغۀ د سلام جواب ورکوم او د حدیث ترجمه او مطلب دا نۀ دې چې کوم د ظاهر نه په سمجه کښې راځي چې نشته یو کس چې په ما باندې سلام لولی مګردا چې د هغۀ د سلام نه پس الله تعالى ماته زما روح واپس کوی دې دپاره چې زۀ د هغۀ د سلام جواب ورکړم بلکه د حدیث ترجمه او مطلب هغه دې چې کوم مونږ پورته بیان کړو.[۲]

د علامه سیوطي رحمه الله توجیه

دغه شان علامه سیوطی صاحب رحمه الله په دې حدیث باندې د مذکوره اشکال نه پس فرمائی چې ما د دې اشکال د جواب دپاره یو مستقل رساله لیکلې ده چې د هغې نوم ما (انباء الاذکیاء بحیاة الانبیاء) کیخودلې دې[۳] او په دې کښې ما پنځلس جوابات لیکلې دی چې

---

[۱] علامه سیوطی رحمه الله ددې حدیث توجیه او تاویل ضروری ګنړی اوفرمائی: ومنها مخالفة الاحادیث المتواترة الدالة علي حیاة الانبیاء وما خالف القرآن والسنة المتواترة یجب تاویله ..اه، صاحب د عون المعبود هم دا د دوی نه نقل کړې دې.

[۲] یعنی نشته دې څوک سړې چه هغه په ما باندې سلام وائی لیکن زه دهغه دسلام جواب ورکوم ځکه چه الله تعالى ماته زما روح (په عالم برزخ) کښې راواپس کړې دی.

[۳] دا رساله په، الحادي للسیوطي، کښې شامل ده چه ددې نوم: انباء الاذکیاء بحیاة الانبیاء، دې ددې رسالې ابتداء داسې ده: بسم الله الرحمن الرحیم الحمد لله وسلام علي عباده الذین اصطفي وقع السوال، قد اشتهران الذي في قبره، وورد انها حال مامن احد یسلم علي الا ردالله علي روي حتى ارد علیه السلام، فظاهره مفارقة الروح له في بعض الاوقات نکیف الجمع؟ وهو سوال حسن یحتاج إلي النظر والتأمل، فأقول حیاة النبي في قبره هو وسائر الانبیاء معلومة عندنا علما قطعیا لما قام عندنا من الأدلة في ذلك وتوارث به الأخبار، وکن الف البیهقي جزء في حیاة الانبیاء في قبورهم ۶

په هغې تولو کښې مضبوط جواب دا دې چې رد الله على روحی جمله حالیه ده او د جمله حالیه قاعده دا ده چې کله هغه مصدر بفعل ماضی وی نو د هغې په شروع کښې لفظ د قد کیدل ضروری دی خواه لفظاً مذکور وی یا مقدر کما فی قوله تعالی(او جاؤکم حصرت صدورهم) ای وقد حَصِرَتْ دغه شان دلته هم لفظ د قد مقدر دې (١) الا وقد ردالله علی روحی ترجمه به داسې وی چې نشته یو کس چې په ما باندې سلام لولی مگر حال دا دې چې ماته روح واپس کړې شوې وی(د هغهٔ د سلام نه مخکښې) او زهٔ د هغهٔ د سلام جواب ورکوم هغوی فرمائی دا حتّٰی د تعلیل دپاره نهٔ ده بلکه عاطفه ده د واؤ په معنی کښې دلته چې کوم اشکال پیدا کیږی هغه په دې بناء باندې چې الا ردالله على روحی لره د شرط مذکور(ما من احد یسلم علی) جزا او په حتی ارد کښې حتّٰی تعلیلیه گرځوی والامر لیس کذلک ځکه چې الا ردالله على روحی لره جزا گرځولو سره خو دا لازم راځی چې دا د روح ردکول په سلام باندې مرتب وی د مخکښې نه په جسم کښې نهٔ وی(او هم دا څیز موجب د اشکال او د حیات انبیاء خلاف دې) او چې هرکله دا اووئیلې شو چې الا ردالله على روحی جمله حالیه ماضیه ده چې په جزا باندې دلالت کوی یعنی ارد علیه السلام بیا اشکال ختمیږی(٢) ځکه چې په دې صورت کښې د دې حدیث حاصل مطلب دا راوځی چې د سلام کونکی سلام ما باندې په داسې حال کښې پیش کولې شی چې ماته روح واپس کړې شوې وی او زهٔ هغهٔ ته د هغهٔ د سلام جواب ورکوم یعنی دلته په دنیا کښې خو د وفات په وخت کښې د نبی ﷺ روح قبض کړې شوې وو بیا عالم برزخ ته د تشریف اوړلو نه پس نبی ﷺ ته روح واپس کړې شو چې د هغې په وجه سره د سلام کوونکی سلام نبی ﷺ اوری هم او د هغې جواب هم ورکوی دغه شان دا حدیث کهٔ په خپل ظاهر باندې کیخودلې شی د څهٔ توجیه او تاویل نه بغیر او هم دا اووئیلې شی چې په نبی ﷺ باندې د روح واپسی د سلام په وخت کښې کیږی د مخکښې نه روح په جسد اطهر کښې موجود نهٔ وی نو قطع نظر د دې نه چې دا د مسلماتو خلاف ده یو لویه خرابی په دې کښې دا ده چې بار بار د روح واپسی او د روح قبض کول راځی ځکه چې په روضه مبارکه باندې د صلوة و سلام پیش کولو سلسله خو مختصر شان وقفو سره قائمیږی او بښکاره خبره ده چې په دې بار بار روح قبض کولو کښې د جسمانی تکلیف او

له......فمن الاخبار الدالة علي ذلك مااخرجه مسلم عن انس ان النبي ﷺ ليلة اسري به مربموسي عليه السلام وهو يصلي في قبره، په دې تالیف کښې سیوطی د احادیث مرفوعه نه علاوه د ډیرو کتابونو په حوالو سره دا روایت هم نقل کړې دې چه سعید بن المسیب فرمائی د وقعة الحره په زمانه کښې چه کله په مسجد نبوی شریف کښې تر درېو ورځو پورې اذان او اقامت بند شوې وو، (چه کله به هم د فرض مونځ وخت راغی) ما به د قبر شریف نه د اذان او اقامت آواز په خپلو غوږونو باندې اوریدلو آه، دچا چه زړه غواړی اصل تصنیف طرف ته دې رجوع اوکړی.

١) سیوطی لیکلی دی بلکه د بیهقی په روایت کښې لفظ قد موجود دې یعنی اصل حدیث کښې، فلله الحمد والمنة.

٢) دحدیث حل کولو اود اشکال دفع کولو دپاره مونږ دلته څه قدرې اوږدوالې اختیار کړو، انشاء الله تعالی مفید به وی.

اذيت نه علاوه تعدد د مرګ او ژوند هم دي چې د عقل و نقل خلاف دي(سيوطی)

د علامه خفاجي رحمه الله جواب:

علامه خفاجي په نسيم الرياض (ص ٥٠٠ ج٣) شرح شفاء للقاضي عياض کښې فرمائی د حديث مطلب چې کوم بلا تکلف په ذهن کښې راځي هغه دا دي چې نبی عليه السلام او نور انبياء کرام عليهم السلام په خپلوخپلو قبرونو کښې ژوندي دی او د هغوی حيات د شهيدانو د حيات نه مضبوط او قوی دي دا حضرات په قبرونو کښې ارام فرمائي په منزله د نائمينو دی او ښکاره خبره ده چې اودهٔ کس د متکلم سلام او د هغهٔ کلام د بيداريدو نه پس اوری هم دغه شان نبی عليه السلام د سلام کوونکی سلام اوريدلو نه پس بيداريږی او د هغهٔ د سلام جواب ورکوی اهنو ګويا د روح واپس کيدل دا کنايه ده د بيداريدو نه.

او د دې قسم يو جواب هغه دي چې کوم حضرت سهارنپوری رحمه الله په بذل المجهود کښې نقل کړې دي چې د روح د واپس کيدو نه مطلب دادې چې حضور اقدس صلی الله عليه وسلم په عالم برزخ کښې د نبی عليه السلام روح د تجليات ربانيه او معارف الهيه طرفته متوجه وی چې کله يو امتی په نبی عليه السلام باندې درود و سلام پيش کړی نو الله تعالی د نبی عليه السلام روح د دې سلام کوونکی طرفته متوجه کړی دې دپاره چې نبی عليه السلام ورته جواب ورکړی اهـ زهٔ وايم چې علامه سيوطی هم په اخره کښې دا توجيه زياته خوښه کړې ده[1] (کما فی رسالته انباء الاذکياء ص١٥١ ج٢) چې د هغې حاصل دا دې چې د روح د واپسئ نه مراد افاقة عن الاستغراق والمشاهده ده د دوی اولنئ توجيه چې مونږ سره په شروع کښې نقل کړې شوې ده هغه من حيث العربيه والقواعد النحويه ده او دا توجيه روحانی او معنوی ده لا تجعلوا بيوتکم قبوراً د حديث دا ټکړه په کتاب الصلوة کښې باب صلوة الرجل التطوع فی بيته کښې تيره شوې ده ولا تجعلوا قبری عيداً زما قبر د عيد(اختر) مظهر مهٔ جوړوئ يعنی د سرور او جشن مناوولو ځائې ئې مهٔ جوړوئ هلته زينت او سرور سره مهٔ جمع کيږئ قبر خو د عبرت ځيز دې او بعضو د دې مطلب دا اخستلې دې چې زما د قبر زيارت زر زر او ډير ډير کوئ دا نهٔ چې د اختر په شان کله راځئ يعنی اختر په کال کښې يو ځل راځی(خصوصاً هغه حضرات چې مدينې منورې سره نزدې اوسيږی) او وئيلې شوې دی چې عيد په معنی د اعتياد(د يو کار عادت جوړول) يعنی زما قبر ته د راتلو بار بار عادت مهٔ جوړوئ ځکه چې په دې کښې د بې ادبئ ويره ده دغه شان دې سره دا شبه هم کيدې شی چې د دې سری په نزد په نبی عليه السلام

---

[1]) په دې توجيه باندې بعضې خلق دا اعتراض کوی چه د حضور صلی الله عليه وسلم په روضه شريفه باندې خو تقريبا هر وخت د سلام وئيلو سلسله قائمه وی نو ايا بار بار دا د استغراق کيفيت او ددې نه افاقه کيږی؟ جواب دادې چه ترڅو پورې د صلوة اوسلام سلسله جاری وی توجه هم دغه طرف ته وی اوکله چه په دې کښې انقطاع کيږی نو په توجه کښې هم انقطاع کيږی په دې څه اشکال دې، روح خو ډير لطيف او سريع السير دی. دويمه خبره داده چه سلام ويونکی په دې عالم کښې دی اوبه چا چه سلام وئيلې شی هغه ذات په بل عالم کښې دی، په دې دنيا کښې نه دې هرکله چه په مکان کښې اختلاف دې نو په ژبه کښې هم اختلاف کيدې شی، ممکن ده چه دهغه ځائې په ژبه کښې طول او امتداد زيات وی په نسبت ددې ځائې (دنيا) د ژبې نه، کما يظهر بالتامل في قصة الاسراء المعراج. والله أعلم.

باندې درود او سلام نهٔ پيش کيږی په دې وجه وړاندې فرمائی وصلوا علی فان صلوتکم تبلغنی حيث کنتم تاسو چې د کوم ځائې نه هم په ما باندې صلوة و سلام لولئ او راليږئ نو د هغې ځائې نه به رارسی اللهم صل علی سيدنا ومولانا محمد وعلی آل سيدنا ومولانا محمد وبارک وسلم تسليماً اللهم وآته الوسيلة والفضيلة والمقام المحمود الذی وعدته واجزه عنا ما هو اهله واجزه عنا افضل ماجزيت نبياً عن امته وصل علی جميع اخوانه من النبيين والصالحين

[۲۰۴۲](١) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، قَرَأْتُ عَلَى عَبْدِ اللَّهِ بْنِ نَافِعٍ، أَخْبَرَنِي ابْنُ أَبِي ذِئْبٍ، عَنْ سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تَجْعَلُوا بُيُوتَكُمْ قُبُورًا، وَلَا تَجْعَلُوا قَبْرِي عِيدًا، وَصَلُّوا عَلَيَّ، فَإِنَّ صَلَاتَكُمْ تَبْلُغُنِي حَيْثُ كُنْتُمْ".

دابوهريره رضی الله عنه نه روايت دې فرمائی چه نبی ﷺ فرمائيلی دی دخپلو کورونونه قبرونه مه جوړوئ (يعنی لکه څنګه چه په قبرونو کښې څوک و مونځ نه کوی نو داسې تاسو هم په خپلو کورونو کښې مونځ نه کوئ) اوزمادقبرنه عيدګاه مه جوړوئ البته په ما باندې درود وائی تاسو چه هر چرته ئې ستاسو درود ماته رارسيږی.

[۲۰۴۳](٢) حَدَّثَنَا حَامِدُ بْنُ يَحْيَى، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مَعْنٍ الْمَدَنِيُّ، أَخْبَرَنِي دَاوُدُ بْنُ خَالِدٍ، عَنْ رَبِيعَةَ بْنِ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ رَبِيعَةَ يَعْنِي ابْنَ الْهُدَيْرِ، قَالَ: مَا سَمِعْتُ طَلْحَةَ بْنَ عُبَيْدِ اللَّهِ يُحَدِّثُ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، حَدِيثًا قَطُّ غَيْرَ حَدِيثٍ وَاحِدٍ، قَالَ: قُلْتُ: وَمَا هُوَ؟ قَالَ: خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُرِيدُ قُبُورَ الشُّهَدَاءِ، حَتَّى إِذَا أَشْرَفْنَا عَلَى حَرَّةِ وَاقِمٍ، فَلَمَّا تَدَلَّيْنَا مِنْهَا وَإِذَا قُبُورٌ بِمَحْنِيَّةٍ، قَالَ: قُلْنَا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَقُبُورُ إِخْوَانِنَا هَذِهِ؟ قَالَ: "قُبُورُ أَصْحَابِنَا" فَلَمَّا جِئْنَا قُبُورَ الشُّهَدَاءِ، قَالَ: "هَذِهِ قُبُورُ إِخْوَانِنَا".

ربيعه بن الحدير وئيلی دی چه ما دطلحه بن عبيد الله نه ديو حديث نه علاوه بل حديث نه دې اوريدلی چه هغه دنبی ﷺ نه روايت کړې وی ربيعه بن عبد الرحمن اووئيل هغه حديث کوم يودې ربيعه بن حدير اووئيل هغه دادې چه طلحه نه وئيلی دی چه ضحابه کرام دنبی ﷺ په ملګرتيا کښې دشهيدانو د قبرونو طرف ته لاړل مونږ چه کله په حرة واقم غونډئ باندې اوختو اوبياکوز شو نوهلته يوڅو قبرونه وو مونږ عرض اوکړوای دالله رسوله ايادا زمونږ دورونو قبرونه نه دي. نبی ﷺ اوفرمائيل داقبرونه زمونږه د ملګرودی کله چه مونږ د شهيدانو قبرونوته اورسيدو نبی ﷺ اوفرمائيل داقبرونه زمونږ د ورونودي.

خرجنا مع رسول الله صلی الله عليه وسلم يريد قبورالشهدا مونږ د مدينې منورې نه نبی ﷺ سره راؤوتو د شهداؤ د قبرونو د زيارت دپاره (بنده ته په هيڅ يو شرح کښې دا ملاؤ نهٔ شو چې د دې نه کوم شهيدان مراد دی والله تعالی اعلم)

حتی اذا اشرفنا علی حرة واقم فلما تدلينا منها فاذا قبور بمحنية تردې چې کله مونږ په حره واقم باندې اوختو (مدينه منوره د حرتينو درميان کښې واقع ده لکه څنګه چې مشهوره ده بذل المجهود کښې ئې د معجم البلدان نه نقل کړې دی چې د دې نه حره شرقيه مراد ده او د واقم باره کښې ئې دواړه قوله نقل کړې دی اسم رجل، او دويم قول دا چې واقم د مدينې

١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٣٠٣٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/٣٦٧) (صحيح)

٢): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٤٩٩٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/١٦١) (صحيح)

منورې په آطام کښې د يو آطم نوم دې (آطم قلعه ته وائي شايد دې حره سره به يو قديمه قلعه وی والله تعالی اعلم) بيا چې مونږ کله دغه حره نه ښکته کوزيدو نو اچانک مونږ ته د دې وادئ په موړ باندې يو څو قبرونه په نظر راغلل محنيه او محنوه دواړه لغته دی د وادئ موړ ته وئيلې شی قلنا يا رسول الله اقبور اخواننا هذه قال قبور اصحابنا صحابه کرامو د نبی عليه السلام نه تپوس اوکړو چې دا زمونږ د رونړو قبرونه دی نو نبی عليه السلام اوفرمائيل چې داخو زمونږ دملګرو اواصحابو قبرونه دی بياچې کله مونږ دشهيدانوقبرونوته اورسيدو کوم ځائې ته چې تلل مقصود وو نو نبی عليه السلام اوفرمائيل دادی زمونږ د رونړو قبرونه

په دواړو احاديثو کښې د تعارض دفع کول

په بذل المجهود کښې د حضرت ګنګوهی صاحب د تقرير نه دلته يو اشکال و جواب نقل کولې شی چې مونږ ئې دلته خپلې تشريح سره ليکو هغه دا چې تاسو به په مشکوة شريف کښې وئيلې وی چې يو ځل نبی عليه السلام اوفرمائيل وددت انی[1] رايت اخوانی،قالوا السنا اخوانک يا رسول الله! قال بل انتم اصحابی واخوانی الذين لم ياتوا بعد يعنی يو ځل نبی عليه السلام اوفرمائيل چې کاش ما خپل رونړه ليدلې وې نو په دې خبره باندې صحابه کرامو عرض اوکړو چې يا رسول الله ! آيا مونږ ستاسو رونړه نۀ يو نو نبی عليه السلام اوفرمائيل چې تاسو خو زما اصحاب (ملګرى) ئې او زما رونړه خو هغه خلق دی چې اوسه پورې پيدا شوې نۀ دی روستو به بيا راځی دلته سوال دا کيږی چې نبی عليه السلام د ابوداؤد شريف په دې حديث کښې بعضې صحابه کرامو ته خپل اصحاب او بعضو ته خپل رونړه اوفرمائيل د دې نه معلوميږی چې وصف د اخوة او د صحبت دواړه جمع کيدې شی حالانکه د مشکوة والا حديث مبارک کښې ئې ټولو صحابو ته صرف خپل اصحاب او روسته راتلونکو خلقو ته خپل رونړه اوفرمائيل (چې د هغې نه معلوميږی چې په اصحاب او اخوان يعنی ملګرو او رونړو کښې فرق دې) د دې جواب حضرت دا ليکلې دې چې د ابوداؤد په حديث شريف کښې د اخوة نه مراد اخوة نسبی دې چې صحبت سره جمع کيدې شی او د مشکوة شريف په حديث مبارک کښې د اخوة نه مراد اخوة دينيه محضه دې فلا تعارض بينهما

[٢٠٤٤][2] حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ نَافِعٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "أَنَاخَ بِالْبَطْحَاءِ الَّتِي بِذِي الْحُلَيْفَةِ، فَصَلَّى بِهَا"، فَكَانَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ يَفْعَلُ ذَلِكَ.

دعبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه روايت دې فرمائي چه نبی کريم صلی الله عليه وسلم خپله اوښه په بطحاء مقام کښې کښينوله کوم چه په ذو الخليفه کښې دې ددې نه پس بيانبی عليه السلام هلته مونځ اوکړو اوعبدالله بن عمر رضی الله عنه به هميشه داسې کول.

[1]) دا حديث شريف ډير دعبرت قابل دې، اوګورئ! دحضور پاک صلی الله عليه وسلم دخپل امت سره څومره محبت دې هغوی صلی الله عليه وسلم ددې خبرې تمنا (آرزو) ښکاره کوی چه په څه طريقه ما خپل امت ليدلې وې (هم په دنيا کښې) کوم چه به زما نه پس پيدا کيږی.

[2]): صحيح البخاري/الصلاة ٨٩(٤٨٤)، والحج ١٤(١٥٣٢)، ١٥(١٥٣٣)، ١٦(١٥٣٥)، والعمرة ١٤(١٧٩٩)، والمزارعة ١٦(٢٣٣٦)، صحيح مسلم/الحج ٦٧(١١٨٨)، ٧٧(١٢٧٥)، سنن النسائي/المناسك ٢٤(٢٦٦٠)،(تحفة الأشراف: ٨٣٣٨)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الحج ٦٩(٢٠٦)، مسند احمد(٢/٢٨، ٨٧، ١١٢، ١٣٨)(صحيح)

د حديث وضاحت او تشريح

قوله: عن عبدالله بن عمر ان رسول الله صلى الله عليه وسلم اناخ بالبطحاء التى بذى الحليفة فصلى بها..الخ: حضرت امام بخاری رحمه الله د کتاب الحج په آخر کښې باب ترلې دې باب النزول بذى طوى قبل ان يدخل مكة والنزول بالبطحاء التى بذى الحليفة او بيا د دې لاندې هغوی د ابن عمر رضي الله عنهما حديث ذکر کړې دې چې د هغې مضمون دا دې چې هغوی په مکه مکرمه کښې د داخليدو نه مخکښې به يو شپه په ذی طوی کښې تيروله او بيا به سحر د هغې ځائې نه په مکه مکرمه کښې داخليدو او د مکې مکرمې نه په واپسئ باندې مدينه منوره کښې د داخليدو نه مخکښې بطحاء ذی الحليفه کښې به ئې قيام فرمائيلو د دې نه پس به مدينه منوره کښې داخليدو. (۱)بطحاء او ابطح وسيع ميدان ته وائی بطحاء دوه دی يو هغه چې د منی او مکه مکرمه درميان کښې ده چې ورته محصب وائی او يو هغه چې په ذی الحليفه کښې ده چې کومه دلته په حديث کښې مذکور ده ذوالحليفه خو يو کلې دې په هغې کښې دا ميدان دې کوم ځائې به ئې چې خپله اوښه کينوله او هلته يو جمات هم دې چې هغې ته مسجد ذی الحليفه او مسجد المعرس وئيلې شی

د دې نه پس ځان پوهول پکار دی چې يو معمول خو د نبی عليه السلام دا وو چې کوم اوس تير شو(په مکه مکرمه کښې د داخليدو نه مخکښې په ذی طوی کښې يو شپه تيرول او په مدينه منوره کښې د داخليدو نه مخکښې په ذوالحليفه کښې ايساريدل)

د ذوالحليفه نه مديني منورې ته دوه لارې او د نبی عليه السلام معمول

د دې نه علاوه د نبی عليه السلام يو معمول په احاديثو کښې بل راځی چې په سنن ابوداؤد کښې په باب دخول مکه کښې تير شوې دې عن ابن عمر رضی الله عنهما ان النبی صلى الله عليه وسلم كان يخرج من طريق الشجرة ويدخل من طريق المعرس د نبی عليه السلام معمول وو چې کله به د مدينې منورې نه وتلو نو په طريق الشجرة به وتلو او د سفر نه په واپسئ کښې به چې کله په مدينه منوره کښې داخليدو نو په طريق المعرس سره به داخليدو د ذوالحليفه نه د مدينې منورې طرفته دوه لارې راځی يو ته طريق الشجرة وائی او دويمه طريق المعرس حضرت امام بخاری صاحب رحمه الله په دې باندې مستقل باب قائم کړې دې باب خروج النبى صلى الله عليه وسلم على طريق الشجرة .

دغه شان د نبی عليه السلام معمول په دخول مکه کښې دا وو چې مکې مکرمې ته به پورته والا لارې سره داخليدو او خروج به ئې په سفل يعنی لاندينی طرف سره کولو فقد تقدم فى باب دخول مكة من حديث ابن عمر مرفوعاً كان يدخل من الثنية العليا ويخرج من ثنية السفلى ثنيه عليا ته كداء او ثنيه سفلى ته کُدی وئيلې شی لکه څنګه چې په رواياتو کښې مشهوره ده د لارې

---

(۱) دامام بخاری رحمه الله په ترجمة الباب او ددې لاندې چه کوم حديث هغوی ذکرکړې دې دهغې نه واضحه شوه چه د ابوداؤد په دې حديث کښې چه دا ذکردی چه (اناخ بالبطحاء) دا دمکې نه واپسئ او مدينې ته دداخليدو د وخت خبره ده. هم دغسې ددې نه پس چه دامام مالک رحمه الله کوم قول مصنف نقل کړې دې هغه هم هغې طرف ته اشاره کوی، کما فى بذل المجهود، باقی فى نفسه دا خبره هم په خپل ځائ صحيح ده چه هغوی ﷺ به د مدينې نه د مکې په طرف د روانيدو په وخت هم ذوالحليفه کښې قيام کولو لکه چه دحجة الوداع په سفرکښې د حضور ﷺ هلته ايساريدل په رواياتو کښې مشهوردی.

په دې بدلولو کښې علماؤ څۀ مصلحتونه هم ليکلې دی لکه څنګه چې به نبی ﷺ په اخترونوکښې لاره بدلوله چې دهغې مصلحتونه هم بعضې شارحينو شلو (۲۰) پورې رسولې دی چې په هغې کښې درې څلور په درالمنضود کښې تير شوې دی. (۱)

[۲۰۴۵](۲) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، قَالَ: قَالَ مَالِكٌ: "لَا يَنْبَغِي لِأَحَدٍ أَنْ يُجَاوِزَ الْمُعَرَّسِ إِذَا قَفَلَ رَاجِعًا إِلَى الْمَدِينَةِ حَتَّى يُصَلِّيَ فِيهَا مَا بَدَا لَهُ، لِأَنَّهُ بَلَغَنِي أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَرَّسَ بِهِ". قَالَ أَبُو دَاوُد: سَمِعْتُ مُحَمَّدَ بْنَ إِسْحَاقَ الْمَدَنِيَّ، قَالَ: الْمُعَرَّسُ عَلَى سِتَّةِ أَمْيَالٍ مِنَ الْمَدِينَةِ.

امام مالک رحمه الله وئيلی دی چه کله يوکس مدينې ته واپس راشی نو دهغه دپاره مناسب نه دی چه دمعرس مقام نه مخکښې تيرشی ترڅوچه ئې هلته دخپلې مرضۍ مطابق مونځ نه وی کړې ځکه چه ماته معلومه شوی ده چه نبی ﷺ په دغه ځائې کښې تعريس (لږ ارام اوخوب) کړې وو. امام ابوداود وائی چه ماد محمد بن اسحق مدنی نه اوريدلی دی چه معرس دمدينی نه شپږ ميله لری دې -

قال قال مالک لا ينبغی لاحد ان يجاوز المعرس حضرت امام مالک امام دارالهجرة رحمه الله فرمائی چې کوم کس په مدينه منوره کښې داخليږی نو هغۀ ته پکار دی چې کله په مسجد ذوالحليفه باندې تيريږی نو هلته د کوزيدلو او مونځ کولو نه بغير دې نۀ تيريږی ځکه چې د حضور ﷺ معمول شريف ماته هم رارسيدلې دې، د معرس لغوی معنی د نزول ځائې او منزل دې تعريس په معنی د نزول دې په ذوالحليفه کښې چونکه نبی ﷺ (او بيا د دوی په اتباع کښې ټولو) د مدينې منورې نه په روانيدو او واپسئ کښې به دلته ايساريدل په دې وجه ورته معرس وئيلې شی او چونکه د نبی ﷺ نزول به په مسجد ذوالحليفه کښې وو په دې وجه معرس وئيلو سره مسجد ذوالحليفه هم مراد اخستلې شی

د کتاب الحج په آخر کښې دا يو څو ابواب د مدينې منورې د فضائلو سره متعلق دی د حضرت امام مالک رحمه الله چونکه مدينې طيبې سره خصوصيت هميشه دپاره پاتې شوې دې د دې نه هرڅوک باخبر دی د دې بابونو په آخر کښې د امام موصوف د رائې او نصيحت راتلل شايد هم دې خصوصيت ثمره ده د الله تعالی نه دعا ده چې الله تعالی دې ناکاره او د کتاب لوستونکو ته هم په خپل فضل وکرم سره د مدينې منورې او صاحب مدينه منوره (حضرت محمد مصطفی و مجتبی ﷺ) سره خصوصي تعلق و محبت نصيب کړی آمين

وهذا آخر کتاب المناسک فالحمد لله اولاً واخراً والصلوة والسلام علی نبيه سرمداً ودائماً وبه قد تم الجزء الثالث(۳) من الدرالمنضود علی سنن ابی داؤد فالحمد لله الذی بنعمته تتم الصالحات
محمد عاقل عفاالله عنه ۲۳ ربيع الاول ۱۴۱۹هجری(۴)

---

(۱) دهغې خلاصه داده: (۱) شهادة الطريقين وسكانها من الثقلين. (۲) د اسلام د شان اوشوکت اظهار. (۳) حصول البركة للطريقين.

(۲): تفرد به أبو داود، موطا امام مالك/الحج/عقب حديث(۲۰۶)(صحيح)

(۳) د الدر المنضود په دې جزء کښې د بذل المجهود دريم جلد نصف حصه راغله، حضرت سهارنپوری رحمه الله په طبع اول کښې د بذل دريم جلد دوه حصې فرمائيلې وې، رومبۍ حصه د کتاب الحج پورې، او د دويمې حصې ابتداء د کتاب النکاح نه وه، د طبع ثانی په وخت حضرت شيخ دواړه حصې يوځائې کړې او صفحات ئې مسلسل کړې وو.

(۴) قد شرعت في جمعه وتاليفه رمضان المبارك ۱۴۱۷هـ

بسم الله الرحمن الرحیم

كتاب النكاح

باب: د نكاح د متعلق احكامو بيان

مباحثه اربعه علميه مفيده

د كتاب په شروع كښې څو اهم امور قابل ذكر دي:

۱: ترتيب الكتب، ۲: د نكاح لغوى او اصطلاحى معنى.

۳: د نكاح په حكم شرعى كښې مذاهب ائمه، ۴: د نكاح فوائد او مصالح.

البحث الاول: (د كتاب ترتيب)

د كتاب الحج په شروع كښې تير شوې دى چه اكثر محدثين صوم لره په حج باندې مقدم كوى او بعض د دې برعكس حج لره په صوم باندې مقدم كوى، مصنف هم د هغوى نه دې، خو مصنف صوم د حج نه روستو هم متصلاً نه دې ذكر كړې بلكه د صوم نه مخكښې ئې نكاح ذكر كړې ده، د سنن ابى داود په اكثر نسخو كښې هم دغه شان ده، البته د خطابى په نسخه كښې صوم دنكاح نه مخكښې دې لكه چه كيدل هم پكار دى، په كومو نسخو كښې چه نكاح دصوم نه مخكښې دې هغې ته خلاف قياس دترتيب دپاره څه نكته كيدل پكار دى.

ممكنه ده چه هغه نكته دا وى چه مصنف په دې سره اشاره فرمائيلې وى دې طرف ته چه د نكاح شمار هم په عباداتو كښې دې او دا چه هغه د عام معاملات او مباحات د قبيل نه دې، لكه چه د اكثر علماء كرامو رائې هم دا ده، په خلاف د امام شافعى رحمه الله چه هغه نكاح په مباحات او معاملاتو كښې شمار كړې ده، پس هم په دې مناسبت سره مصنف صوم د نكاح نه روستو ذكر فرمائيلې ده.

د دې نه پس ځان پوهه كړه چه په عباداتو كښې د اسلام د اركان اربعه نه روستو دوه نور واضح او ښكاره سرخيانې باقى پاتې كيږى، يو جهاد او بل نكاح، كيدل دا پكار وو چه د دې اركان اربعه نه پس د معاملاتو نه مخكښې هغه دوه ذكر كړې شى، پس امام ابوداود او امام نسائى هم دغه شان كړې دى، خو مصنف اول نكاح او بيا جهاد، او امام نسائى اول جهاد او بيا نكاح ذكر كړې ده، او صحيح مسلم، سنن ترمذى او موطاء امام محمد كښې د كتاب النكاح نه پس خو حج متصلاً ذكر دې خو كتاب الجهاد په دې كتابونو كښې د بيوع او حدود نه روستو دې، الحاصل اكثر د صحاح مصنفين كتاب النكاح د عباداتو نه روستو متصلاً د معاملاتو نه مخكښې ذكر فرمائيلې ده، خو امام بخارى رحمه الله د دې ټولو حضراتو خلاف كتاب النكاح لره بيوع وغيره معاملات بلكه مغازى او تفسير نه هم مؤخر فرمائيلې دې.

په دې كښې عام طور سره فقهاء كرام هم هغه ترتيب اختيار فرمائيلې دې كوم چه اكثر محدثين اختيار كړې دې، البته فقهاء شافعيه د امام بخارى په شان نكاح د بيوع وغيره نه مؤخر كړې ده، د دې اختلاف فى الترتيب اصل كښې وجه دا ده چه د اكثرو په نزد نكاح اقرب الى العبادات او د معاملات نه افضل دى په خلاف د اكثر شوافعو چه هغه

نکاح د بیع په مثل د معاملاتو نه منی. کما سیاتی فی البحث الثالث.

البحث الثانی : (د نکاح لغوی او اصطلاحی معنی)

امام نووی رحمه الله فرمائی النکاح فی اللغة الضم...([1]). بیا وړاندې فرمائی چه د دې اطلاق په عقد او وطی باندې راځی. (بیا وړاندې فرمائی) او ازهری وائی اصل معنی د دې وطی ده.([2]) او عقد یعنی تزوج ته چه نکاح وئیلې شی هغه هم په دې وجه باندې چه نکاح سبب د وطی دې او ابو القاسم زجاجی وائی، النکاح فی کلام العرب الوطی والعقد جمیعا، یعنی دا لفظ په دواړو معنو کښې مشترک دې، لهذا دواړه معنې حقیقی شوې. اهـ حافظ ابن حجر رحمه الله وغیره بعض اهل لغت نه نقل کړې دی چه په اصل کښې ﴿نکح﴾([3]) (د نون په ضمې او د کاف په سکون سره) وئیلې شی فرج (شرمګاه) ته. بیا د دې استعمال د وطی په معنی کښې شروع شو.

د دې نه پس ځان پوهه کړه چه د نکاح په حقیقت شرعیه کښې د احنافو او شوافعو اختلاف دې، احناف وائی د دې معنی حقیقی "وطی" دې او عقد د دې معنی مجازی دی، او د شوافعو په نزد مسئله د دې برعکس ده، لهذا د احنافو په نزد چه په قران او حدیث کښې په کوم ځائې کښې لفظ نکاح مجردا عن القرائن استعمال شوې دې د هغه ځائې نه مراد به وطی وی، او د شوافعو په نزد به هلته عقد مراد وی.

د زنا نه د حرمة مصاهرة ثبوت :

په دې اختلاف باندې یوه اهم مسئله هم متفرع کیږی کومه چه احناف او شوافعو دواړو ذکر کړې ده هغه دا ده چه ﴿لا تنکحوا ما نکح اباءکم﴾ کښې چونکه د احنافو په نزد د نکاح نه مراد وطی ده عقد مراد نه دې، لهذا وطی به د خپل عموم په وجه باندې حلال او حرام دواړو ته شاملیدو د وجې نه به هغه زنانه هم په دې کښې داخله شی چه پلار ورسره زنا کړې وی، لهذا څنګه چه د پلار دپاره منکوحة الاب حرام ده هم دغه شان به مزنیة الاب هم حرامه وی، په خلاف د شوافعو چه د هغوی په نزد به حرامه نه وی.

پس مسئله مشهوره ده چه د احنافو په نزد زنا سره حرمت مصاهرة ثابتیږی او د شوافعو په نزد به نه وی، دا خبرې خو وې د نکاح په حقیقت شرعیه باندې، او د دې اصطلاحی معنی د فقهاء کرامو په عرف کښې دا ده ﴿هو عقد یفید ملک المتعة قصدا﴾ یعنی نکاح د هغه خاص عقد نوم دې چه د هغې فائده دا ده چه د سړی دپاره د زنانه د فرج او جمله اعضاء نه د تمتع جواز حاصل شی بالقصد نه تبعا، په دې اخری قید سره شراء الامة خارج شو ځکه چه اګرچه

[1]) کما فی قوله : ضمت الی صدری معطر صدرها :: کما نکحت ام العلاء صبیها).

[2]) ومنه قول الفرزدق : اذا سقی الله قوتا صوب غادیة :: فلا سقی الله ارض الکوفة المطرا ::: التارکین علی طهر نسائهم ::: والناکحین بشطی دجلة البقرا.(من القسطلانی) ترجمه : چه کله الله پاک خړوب کوی یو قوم لره د سحر په باران سره، پس خړوب دې نه کړی د کوفې زمکه. هغه اهل کوفه چه خپلو بیبیانو لره سره د هغوی د طهر نه د دجله په غاړه باندې د حیواناتو سره وطی کوی)

[3]) او علامه عینی د ﴿یحکم﴾ نه د نکاح او نکح دواړو هم دا معنی لیکلې ده)

هلته هم بعینه دا فائده حاصلیږي خو تبعا څکه چه اصل مقصود خو هلته د ملک رقبه حصول دي بیا هم د دې په ضمن کښې ملک متعه هم حاصلیږي.

البحث الثالث : (د نکاح شرعي حکم)

د نکاح په حکم کښې درې مذاهب دي. ظاهریه، ائمه ثلاثه، شافعیه.

۱: د ظاهریه په نزد نکاح فرض عین ده، عند القدرة على الوطى والمهر والنفقة.

۲: د ائمه ثلاثه په نزد سنت ده فى حال الاعتدال وواجب فى حال التوقان اى شدة الاحتیاج والاشتیاق ان خاف على نفسه الزنا.

۳: د امام شافعي رحمه الله په نزد فى حال الاعتدال مباح دې او عند التوقان مندوب دې. هم په دې وجه د هغوی په نزد په اول صورت کښې تخلى للنوافل اولى دې د اشتغال بالنکاح نه، خو واضحه دې وی چه فقهاء احناف وغیر احناف ټول د دې خبرې تصریح کړې ده چه د ظلم د ویرې په صورت کښې نکاح کول مکروه او د تیقن جور په صورت کښې حرام دې یعنی د حقوق زوجیة ضیاع وهذا اجمال المذاهب[1].د نکاح په حکم کښې راجح او مشهور قول زمونږ په نزد هم دا دې..... چه سنت مؤکده دې یاثم بترکه کما فى الدر المختار وغیره. علامه شامي په دې کښې نور هم اقوال لیکلي دی، فرض کفایه، واجب على الکفایه، واجب لعینه، قال الشامي هو افضل من الاشتغال بتعلم وتعلیم وافضل من التخلى للنوافل. اهـ

په دې سلسله کښې د شوافعو یو دلیل د الله پاک قول ﴿سیدا وحصورا﴾ هم دې چه الله پاک سیدنا یحیى علیه السلام مدح فرمائیلې دې په ترک وطى باندې، جمهور وائی کیدې شي چه د

---

[1]) د مذاهب ائمه تفصیل : د احنافو مسلک دا دې چه د نکاح اعتدال په حالت کښې چه کله د زنا ویره نه وی سنت مؤکده دې په دې شرط چه د نفقې او مهر په ورکولو باندې ئې قدرت وی، او هغه ته د زنا ویره وی نو واجب دې او تیقن د زنا په صورت کښې کښې فرض دې بالشرط المذکور. (شامي) امام نووي رحمه الله د شوافعو د مسلک دا تفصیل لیکلې دې چه په دې کښې څلور قسم سړی دی.
۱: تائق واجد: یعنی چاته چه د نکاح سخت حاجت وی د غلبه شهوت د وجې نه او هغه مؤن نکاح (مهر او نفقه وغیره) باندې قادر وی.
۲: غیر تائق غیر واجد چه دواړه څیزونه نه وی.
۳: تائق غیر واجد، د توقان کیفیت دې خو وسعت نه.
٤: واجد غیر تائق وسعت دې خو غلبه شهوت نشته. د قسم اول دپاره نکاح مستحب ده، د قسم ثانی دپاره مکروه ده، د ثالث دپاره هم مکروه دې خو دا سړې مامور بالصوم دې، د قسم رابع دپاره د اکثر شوافعو په نزد د نکاح ترک اولى دې او تخلى للعبادة افضل دې، او د بعض په نزد نکاح اولى ده اهـ امام نووي خو هم دا لیکلي دی چه د نکاح وجوب د چا په حق کښې هم نه دې، خو په شرح اقناع کښې تائق واجد په حق کښې یو روایت دا لیکلې دې که هغه ته د زنا ویره وی او او تسری وغیره باندې هم قادر نه وی نو بیا په دې باندې نکاح واجب دې او په نیل المارب (فى فقه الحنابله) کښې دا تفصیل لیکلې دې چه د غیر ذی شهوت په حق کښې مباح دې، او ذی شهوت که داسې وی چه هغه سره د زنا ویره ده نو په دې باندې نکاح واجب ده اگر چه فقیر وی او که د زنا ویره نه وی نو بیا سنت ده. اهـ او دردیر مالکی په شرح کبیر کښې دا لیکلي دی چه کوم سړې راغب نکاح وی او د هغه د زنا ویره وی نو د هغه په حق کښې نکاح واجب ده. والا فمندوب او د غیر راغب په حق کښې مکروه یا مباح دې. اهـ)

هغوی په شریعت کښي هم دغه شان وی زمونږ په شریعت کښې خو د نکاح ترغیب او د هغې امر راغلې دې په آیتونو او احادیث کښ.
د صحیحین په حدیث طویل کښې دې ﴿ولکنی اصوم وافطر واتزوج النساء فمن رغب عن سنتی فلیس منی﴾ امام ترمذی رحمه الله د کتاب النکاح په شروع کښې دا حدیث مرفوع ذکر کړې دې چه د هغې راوی سیدنا ابو ایوب انصاری رضی الله عنه دې : ﴿اربع من سنن المرسلین، الحیاء والتعطر والسواک والنکاح. وقال حدیث حسن غریب اه ﴾او بعض نور احادیث خپله په کتاب کښې راروان دی.

البحث الرابع : (دنکاح فوائد اوفضائل)

د نکاح فوائد او فضائل ډیر زیات دی، د ټولو نه لوئې فضیلت خو دا دې چه نکاح نه صرف د سید المرسلین بلکه د ټولو انبیاء او مرسلین سنت او د هغوی طریق دې، قال الله سبحانه وتعالی : ﴿وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلًا مِنْ قَبْلِكَ وَجَعَلْنَا لَهُمْ أَزْوَاجًا وَذُرِّيَّةً﴾ په التعلیق الصبیح کښې د احیاء العلوم نه نقل کړې دی چه وئیلې شوې دی چه الله پاک په خپل کتاب کښې صرف دهغه انبیاء علیهم السلام ذکر فرمائیلې دې کوم چه متاهل او متزوج وو تردې چه یحیی علیه السلام هم اګر چه مجامعت نه دې فرمائیلې خو نکاح ئې کړې وه د فضل د حصول او د سنت د قائمولو دپاره او وئیلې شوې دی چه د غض بصر دپاره هم دغه شان عیسی علیه السلام هم چه کله نزول فرمائی نو هغه وخت به نکاح کوی او د هغه به اولاد هم کیږی. اه

امام ترمذی رحمه الله د کتاب النکاح په شروع کښې د سیدنا ابو ایوب انصاری رضی الله عنه حدیث ذکر فرمائیلې دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل : ﴿اربع من سنن المرسلین الحیاء، والتعطر، والسواک، والنکاح، وقال حدیث غریب﴾

او د فوائد د لاندې دلته څو فوائد د کتب حدیث او کتب فقه نه لیکلې شی.

١ : تحصین فرجه وفرج زوجته... د خپل ځان او د خپلې ښځې د شرمګاه حفاظت، د عفت او پاکدامنی حصول فانه اعض للبصر واحصن للفرج.

وفی المشکاة عن انس قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم اذا تزوج العبد فقد استکمل نصف الدین فلیتق الله فی النصف الباقی. رواه البیهقی فی شعب الایمان. امام غزالی رحمه الله فرمائی چه عام طور سره د انسان دین لره خرابونکی دوه څیزونه وی یو فرج او دویم خیټه. نکاح په دې دواړو کښې د یو نه کافی کیږی. په دې وجه دې ته نصف دین وئیلې شوې دې. اه

٢ : قضاء الوطر بنیل اللذة والتمتع بالنعمة، د حاجت طبعیه پوره کیدل د حصول لذت سره، او شهوت او زنانه کوم چه د الله پاک نعمتونه دی د هغې نه جائز او مناسب طریقې سره فائده اوچتول. علماء کرامو لیکلې دی چه د نکاح په منافع کښې دغه یو منفعت داسې دې کوم چه به په جنت کښې هم موندلې کیږی ځکه چه په جنت کښې به اګر چه نکاح وی خو توالد او تناسل به هلته نه وی بلکه صرف د لذت او ارام د حصول دپاره به وی. زه وائم چه د نکاح د دې فائدې حصول اول خو محسوس او مشاهد دې، دویم دا چه په احادیثو کښې هم

دې طرف ته اشاره کړې شوې ده.(۱)

۳: القيام بمصالح المراءة : د زنانه د ضرورياتو تکفل او ذمه داري کوم چه يو ډير لوئې خدمت دې بلکه د ژوند تيرولو يو زبردست نظام دې ځکه چه د ښځې د تکفل سره د ورو بچو تکفل هم دې، هم دغه شان د هغوی تعليم او تربيت او د دې نظم دې په خلاف د اولاد زنا چه نه د هغوی څوک پلار شته او نه مور او نه مربی او معلم

۴: تحصيل النسل على الوجه الاكمل : يعنی د بنی نوع انسان تحصيل او بقاء په طريق اکمل د نسب د حفاظت سره بغير په چا باندې د ظلم کولو او د هغه د عزت اخستلو نه بلکه په کمال محبت او انس سره، قال الله تعالى:﴿وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَلَكُمْ مِنْ أَنْفُسِكُمْ أَزْوَاجًا لِتَسْكُنُوا إِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُمْ مَوَدَّةً وَرَحْمَةً﴾

۵: تكثير الاسلام والمسلمين وتحقيق مباهاة النبى صلى الله عليه وسلم، امت مسلمه له زياتولو سره د رسول اللهﷺ دپاره د تفاخر على الامم زيات نه زياته موقع ورکول، تناكحوا تكاثروا فاني اباهي بكم الامم يوم القيامة.(شرح اقناع) وفي رواية فاني مكاثر بكم الامم(ابوداود)

په بهشتی زيور(جنتی کالي) کښې ئې د کتاب النکاح په شروع کښې ليکلې دی چه نکاح هم د الله پاک يو لوئې نعمت دې، د دين او دنيا دواړو کارونو په دې سره صحيح کيږي او په دې کښې ډيرې فائدې او بې انتهاء مصلحتونه دی، انسان د ګناه نه بچ وی زړه ئې په ځائې وی، نيت ئې نه خرابيږی او لويه خبره دا ده چه د فائدې فائده ده او د ثواب نه ثوابو ځکه چه د ښځې او خاوند يوځائې کيناستلو سره د مينې او محبت خبرې کول، خندا او د يو بل سره ملاعبه د نفل مونځ نه غوره ده. اهـ

فائده : په در مختار کښې ليکلې دی چه الله پاک د انسان دپاره داسې يو عبادت هم نه دې مشروع کړې چه د هغې تسلسل د ادم عليه السلام د زمانې نه تر قيامته پورې او بيا د هغې نه هم وراندې په جنت کښې پاتې شی سوا د نکاح او ايمان نه، صرف دا دوه عبادتونه دی کوم چه داسې دی. اهـ خو په دې باندې علامه شامی رحمه الله نقد کړې دې، هغه دې ا. کتلې شی. (۲)الحمد لله ابتدائی مباحث پوره شو.

---

(۱) پس ارشاد دې ﴿فانه احصن للفرج ﴾ چه نکاح شرمګاه له د حرام کارئ نه بچ کوی، ويضعة اهله صدقة قالوا يا رسول الله احدنا يقضي شهوته ويكون له صدقة؟ قال ارايت لو وضعها في غير محلها الحديث. هم دغه شان هغه قصه کومه چه د حديث په ډيرو کتابونو کښې ده،(صحيح مسلم، ابوداود، ترمذي) ان النبي صلي الله عليه وسلم راي امراءة الحديث... وفي اخره انه عليه السلام قال اذا راي احدكم امراءة فاعجبته فليات اهله، فان معها مثل الذي معها. هم دغه شان په آيت کريمه ﴿فلما قضي زيد منها وطرا ﴾په تفسير کښې ابن عباس نه نقل دی چه د وطر نه مراد جماع ده، والمراد لم يبق له بها حاجة الجماع وطلقها. اهـ(روح المعاني) معلومه شوه چه د نکاح يوه لويه فائده د لذت حصول او حاجت طبعيه له په جائز او حلال طريقې سره پوره کول دی.

(۲) نقد خو ئې اولا په دې وجه کړې دې چه د نکاح عبادت کيدل په دنيا کښې په دې حيثيت باندې دی چه هغه د اسلام او د مسلمانانو په وجود کښې د راتلو سبب دې او هم دغه شان سبب عفت دې او دا حيثيت به ئې په جنت کښې نه وی. دويم په دې وجه چه ذکر او شکر دا دوه عبادتونه داسې دی کوم چه به په دنيا او اخرت دواړو کښې موندلې شی بلکه جنت کښې به د دنيا نه هم زيات وی، بيا حصر څنګه صحيح شو.(شامي)

بَابُ التَّحْرِيضِ عَلَى النِّكَاحِ

بابد د نكاح د ترغيب بيان

[٢٠٤٦](١) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عَلْقَمَةَ، قَالَ: إِنِّي لَأَمْشِي مَعَ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ بِمِنًى، إِذْ لَقِيَهُ عُثْمَانُ فَاسْتَخْلَاهُ، فَلَمَّا رَأَى عَبْدُ اللَّهِ أَنْ لَيْسَتْ لَهُ حَاجَةٌ، قَالَ لِي: تَعَالَ يَا عَلْقَمَةُ، فَجِئْتُ، فَقَالَ لَهُ عُثْمَانُ: أَلَا نُزَوِّجُكَ يَا أَبَا عَبْدِ الرَّحْمَنِ بِجَارِيَةٍ بِكْرٍ، لَعَلَّهُ يَرْجِعُ إِلَيْكَ مِنْ نَفْسِكَ مَا كُنْتَ تَعْهَدُ؟ فَقَالَ عَبْدُ اللَّهِ: لَئِنْ قُلْتَ ذَاكَ، لَقَدْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "مَنِ اسْتَطَاعَ مِنْكُمُ الْبَاءَةَ فَلْيَتَزَوَّجْ، فَإِنَّهُ أَغَضُّ لِلْبَصَرِ وَأَحْصَنُ لِلْفَرْجِ، وَمَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ مِنْكُمْ فَعَلَيْهِ بِالصَّوْمِ فَإِنَّهُ لَهُ وِجَاءٌ".

علقمه نه روايت دي فرمائي چه زه دعبدالله بن مسعود رضی الله عنه سره روان وم په لاره ورسره و عثمان ملاوشو نوهغه. ورسره جدا شو (يعني په پرده كښي ئي خبرى كولي) كله چه عبدالله وليدل چه نكاح ته مي ضرورت نشته نوماته ئي اواز وكړوچه راشه اې علقمه په دې وخت كښي عثمان ووئيل اې ت ابوعبدالرحمن ديوى پيغلى جينئ سره درله نكاح د ونكړو؟ چه تيره شوى ځواني دى درباندې بيا دوباره دل راشى ته ابن مسعود اووئيل هركله چه خبره داسې ده د نومادنبى عليه السلام نه اوريدلى دى چه فرمائيل ئي و ځوك چه دنكاح طاقت لرى (خرچ خوراك مهر، اونور حقوق زوجيت ادا كولى شى هغه دى نكاح وكړى ځكه چه نكاح دنظرخكته كونكى ده اوشرمګاه لره دزنا نه بچ كونكى ده او په تاسوكښې چه څوك دنكاح طاقت نه لرى نوهغه دى روژى ونيسى ځكه روژى نيول دده دپاره خصى كونكى دي. روژى دانسان شهوت نفساني كموي).

مضمون حديث :

دا د كتاب النكاح اولنى باب او رومبې حديث دې. د حديث مضمون دا دې چه علقمه كوم چه د ابن مسعود رضی الله عنه مشهور شاګرد دې هغه فرمائي چه يو ځل زه د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه سره په منى كښې روان اوم، په لاره كښې سيدنا عثمان رضی الله عنه ملاؤ شو، سيدنا عثمان رضی الله عنه د ابن مسعود رضی الله عنه نه تخليه طلب كړه او په تخليه كښې ئې د هغه مخكښې د نكاح خبره كيخودله. شارحينو ليكلي دى چه په ظاهره عثمان رضی الله عنه د ابن مسعود رضی الله عنه د ظاهرى هيئت او بد حالئ نه دا اندازه اولګوله چه كيدې شى د هغه به ښځه نه وى چه د هغه هيئت برابر كړى په دې وجه ئې هغه ته اوفرمائيل چه كه ته غوارې نو ستا واده به د يوې پيغلې جينئ سره اوكړو.

﴿فلما راى ابن مسعود ان ليست له حاجة﴾ يعني عبدالله بن مسعود رضی الله عنه ته چونكه د نكاح حاجت نه وو او بل واده ئې كولو نه.(٢) نو بيا د تخليه حاجت څه پاتې شو لهذا هغه علقمه

---

(١): صحيح البخاري/الصوم ١٠(١٩٠٥)، النكاح ٢(٥٠٦٥)، ٣(٥٠٦٦)، صحيح مسلم/النكاح ١(١٤٠٠)، سنن الترمذي/النكاح ١(١٠٨١تعليقًا)، سنن النسائي/الصيام ٤٣(٢٢٤١)، والنكاح ٣(٣٢٠٩)، سنن ابن ماجه/النكاح ١(١٨٤٥)،(تحفة الأشراف: ٩٤١٧)، وقد أخرجه: مسند احمد(١/٣٧٨، ٤٢٤، ٤٢٥، ٤٣٢، ٤٤٧)، سنن الدارمي/النكاح ٢(٢٢٦٢)(صحيح)

(٢) فائده : په الحل المفهم ٢/٨٦ كښې د ﴿جارية بكراء﴾ د لاندې ليكلې دى چه د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه اګر چه زوجه وه خو ځوانه نه وه چه د هغې نوم زينب دې اهـ زه وايم چه دهغه د زوجې ذكر په ابوداود كښې د باب احياء الموات په يو روايت كښې راغلې دى فليراجع اليه، او هم دغه شان په صحيح بخارى كښې په باب الزكاة علي الزوج والايتام په روايت كښې عن زينب امراءة عبدالله صراحة موجود دى.

ته اواز ورکړو چه راشه
دا د حديث مضمون چه مونږ ليکلي دې دا د بخاري د سياق او سباق مطابق دې، دلته د سنن ابی داود سياق د دې نه مختلف دې چه د هغې نه په ظاهره کښې دا معلوميږي چه د نکاح خبره سيدنا عثمان رضي الله عنه دابن مسعود رضي الله عنه په وړاندې علقمه لره رابللو سره اوفرمائيلو او په صحيح مسلم کښې هم د ابوداود په شان دی، کيدل داسې پکار وو څنګه چه دبخاری په روايت کښې دی.[1] نبه عليه الحافظ في الفتح وحكاه عنه في بذل المجهود.

شرح حديث:

قوله :يرجع اليک من نفسک : کيدې شي چه په دې سره ستا سابقه حالت راواپس شي او قوت او نشاط پيدا کيدو سره حالت برابر شي.
قوله : فقال عبدالله لئن قلت ذاک الخ... سيدنا عثمان رضي الله عنه چه عبدالله بن مسعود رضي الله عنه چه د نکاح چه کوم مصلحت او فائده بيان کړه په دې باندې عبدالله بن مسعود رضي الله عنه هغه ته فرمائی چه د نکاح چه کوم مصلحت تاسو بيانوئ د دې نه چرته لوئې مصلحت او فائده خو ما خپله د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه اوريدلې ده.(غض بصر وتحصين فرج)
قوله : من استطاع منكم الباءة فليتزوج : ﴿ باءة ﴾کښې دويم لغت ﴿باه ﴾هم دې کوم چه په پښتو کښې هم استعماليږی.[2] د دې اصل معنی خو د جماع ده او د نکاح په معنی کښې هم مستعمل دې، په حديث کښې څه مراد دې په دې کښې د شارحينو دواړه اقوال دی يعنی جماع او نکاح، خو بهر صورت د جماع او نکاح نه د هغې لوازم او مؤن[3] مراد دې (د نکاح نه نه روستو ذمه دارئ او نفقه وغيره) يعنی د هغوی استطاعت او نفس جماع مراد نه ده څکه چه وړاندې راځی.
قوله : ومن لم يستطع فعليه بالصوم: څکه چه په کوم کښې د جماع طاقت نه وی د دې دپاره د دې تدبير حاجت نشته کوم چه رسول الله صلى الله عليه وسلم په حديث کښې بيان فرمائيلې دې.

وجاء او اخصاء کښې فرق:

قوله : فانه له وجاء... د وجاء معنی رض الخصيتين ليکلې دی يعنی خصيتين تکول، لاندې کول چه د هغې حاصل د شهوت زور کم کول نه استيصال او بالکليه قطع کول.[4] لکه چه په

[1] (وهو طريق حفص بن غياث عن الاعمش واما طريق ابي داود ومسلم فهو جرير عن الاعمش)
[2] (لکه وئيلې شی چه فلانی: دوانی مقوی باه ده)
[3] (جمع مؤنة په معنی د مشقت)
[4] (پس په يو روايت کښې هم د ﴿اخصاء ﴾لفظ چه په هغې کښې استيصال شهوت وی نه دې راغلې، او د ابن حبان په کوم روايت کښې چه د ﴿اخصاء ﴾ لفظ راغلې دې، دې ته علامه عينی مدرج منلې دې پس هغه وړاندې ليکی واستدل به الخطابي علي جواز المعالجة لقطع شهوة النكاح بالادوية، وينبغي ان يحمل علي دواء يسكن الشهوة دون ما يسقطها اصالة لانه قد يقدر بعد فينهدم لفوات ذلك في حقه وقد صرح الشافعية بانه لا يكسرها بالكافور ونحوه، واستدل به بعض المالكية علي تحريم الاستمناء وقد ذكر اصحابنا الحنفية انه مباح عند العجز لأجل تسكين الشهوة اهـ)

اخصاء کښې وی.
فائده : دلته دا اشکال راځي چه په روژې سره خو ډیر کرته د انسان په شهوت کښې نور هم حرکت پیدا شی، د دې جواب دا ورکړې شوې دې چه دا خبره په شروع کښې او صرف یو یا دوه روژې نیولې شی، خو د روژو که تسلسل وی نو بیا په دې سره شهوت کمیږی، هم دغه شان په حدیث کښې ﴿فعلیه بالصوم﴾ فرمائیلې شوې دې چه داسې سړې دې د روژو التزام اوکړی او ﴿فلیصم﴾ ئې نه دې فرمائیلې.
دا حدیث د سنن ابی داود نه علاوه صحیح بخاری او صحیح مسلم او په نسائی کښې هم دی. قاله المنذری.

بَابُ مَا يُؤْمَرُ بِهِ مِنْ تَزْوِيجِ ذَاتِ الدِّينِ [1]

باب: د دینداری په وجه د نکاح کولوبیان

[۲۰۴۷](2) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى يَعْنِي ابْنَ سَعِيدٍ، حَدَّثَنِي عُبَيْدُ اللَّهِ، حَدَّثَنِي سَعِيدُ بْنُ أَبِي سَعِيدٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "تُنْكَحُ النِّسَاءُ لِأَرْبَعٍ: لِمَالِهَا وَلِحَسَبِهَا وَلِجَمَالِهَا وَلِدِينِهَا، فَاظْفَرْ بِذَاتِ الدِّينِ تَرِبَتْ يَدَاكَ".

دابوهریره رضی الله عنه نه روایت فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی چه دښځوسره نکاح کول دڅلورو صفاتو په وجه کیدی شی یوددی دمال په وجه دویم ددې دحسب اونسب په وجه دریم دحسن وجمال په وجه څلورم ددینداریٔ په وجه اوتاسوپه نکاح کولوکښې دینداریٔ ته ترجیح ورکړئ، لاسونه دی په خاورو ککړشه.
یعنی عام طور سره د خلقو عادت دا دې چه هغه په نکاح کښې د دې څلورو صفاتو لحاظ ساتی، اول مال، دویم حسب یعنی د زنانه خاندانی شرافت، دریم حسن او جمال او څلورم د هغې دینداری. وړاندې هغه فرمائی چه انسان له پکار دی چه د نکاح په وخت په دې صفات اربعه کښې صفت دین لره مقدم کړو، یعنی اګر چه نور صفتونه هم فی الجمله قابل لحاظ دی خو ترجیح وصف دین لره کیدل پکار دی، **قال تعالی : "ان اکرمکم عند الله اتقاکم"**
د دې حدیث تعلق د مسئله کفاءت سره دې چه د هغې باب وړاندې مستقل راروان دې. د باب فی الاکفاء د مسئلې تفصیل خو به هلته راشی ان شاء الله... دلته دومره ځان پوهه کړئ چه دا حدیث په دې سلسله کښې د مالکیانو مستدل دې چه د هغوی په نزد کفاءت کښې صرف د دین اعتبار دې د نورو صفاتو نه. والله تعالی اعلم
قال المنذری : والحدیث اخرجه البخاری ومسلم والنسائی وابن ماجة.

[1]) وترجمه علیه الامام البخاري، باب قول النبي من استطاع منكم الباءة فليتزوج ..الخ، والنسائي، باب الحث علي النكاح.
[2]): صحيح البخاري/النكاح ۱۵(۵۰۹۰)، صحيح مسلم/الرضاع ۱۵(۱۴۶۶)، سنن النسائي/النكاح ۱۳(۳۲۳۲)، سنن ابن ماجه/النكاح ۶(۱۸۵۸)، مسند احمد(۴۲۸/۲)، سنن الدارمي/النكاح ۴(۲۲۱۶)،(تحفة الأشراف: ۱۴۳۰۵)(صحيح)

بَابٌ فِي تَزْوِيجِ الْأَبْكَارِ

باب: د پيغلو جينکو سره د نکاح کولو بيان

[۲۰۴۸](¹) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، أَخْبَرَنَا الْأَعْمَشُ، عَنْ سَالِمِ بْنِ أَبِي الْجَعْدِ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَتَزَوَّجْتَ؟" قُلْتُ: نَعَمْ، قَالَ: "بِكْرًا أَمْ ثَيِّبًا"، فَقُلْتُ: "ثَيِّبًا"، قَالَ: "أَفَلَا بِكْرٌ تُلَاعِبُهَا وَتُلَاعِبُكَ؟".

د جابر بن عبدالله رضی الله عنهما نه روايت دی ان فرمائی نبی علیه السلام راته اوفرمائيل: ايا واده دی کړی دي؟ ما ووئيل هو، نوتپوس ئي وکړو چه کونډه ده اوکه پيغله ما ورته ووئيل کونډه ده نوراته ئي اوفرمائيل د پيغلې سره دی ولی واده نه کولو چه لوبی به دی ورسره کولی اوهغې به ستاسره لوبی کولي.

شرح حديث:

رسول الله ﷺ د سيدنا جابر رضی الله عنه نه تپوس اوکړو چه تا واده کړې دې؟ هغه عرض اوکړو چه او کړې مې دې، تپوس ئي اوکړو چه د باکرې سره يا د ثيبه سره؟

په دې باندې رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه ﴿افلا بكرا تلاعبها وتلاعبک﴾ چه د باکرې سره دې ولې اونکړو چه د واده پوره فائده درته حاصله شوې وې. او تا به د هغې سره لوبې کولې او هغې به تا سره کولې.

د بخاری شريف په يو روايت کښې داسې دی ﴿مالک وللعذارى ولعابها﴾ په دې کښې لعاب په کسرې د لام او په ضمې د لام دواړو طريقو سره لوستلې شوې دې، د بالکسر په صورت کښې ظاهر دې چه هغه مصدر دې په معنی د ملاعبت او د بالضم په صورت کښې لعاب په معنی د ريق ده، قال الحافظ: وفيه اشارة الى مص لسانها ورشف شفتيها وذلک يقع عند الملاعبة والتقبيل وليس هو ببعيد كما قال القرطبي، په دې حديث کښې د تزويج ابکار ترغيب دې لکه چه مصنف ترجمه هم قائم کړې ده.

د دې نه پس ځان پوهه کړئ چه په دې طريق کښې خو د سيدنا جابر رضی الله عنه جواب صرف دومره ذکر دې او په بعض نورو طرق کښې كما فى الصحيحين په دې کښې زيادت دې.

﴿ قلت كن لى اخوات فاصببت ان اتزوج امراءة تجمعهن وتمشطهن، وتقووم عليهن ﴾ او په يو روايت کښې دی ﴿هلک ابی وترک سبع بنات او تسع بنات فتزوجت ثيبا ﴾.... فقال بارک الله لک... چه د هغې حاصل دا دې چه هغه د ثيبه نکاح ته د ترجيح ورکولو وجه بيان کړه چه د هغه اووه يا نهه خويندې وې او پلار ئې په غزوه احد کښې شهيد شوې وو نو د هغه خويندو د خبر ساتلو ضرورت وو چه د هغې دپاره ظاهره ده چه ثيبه به مناسب وی نه باکره،

¹): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٢٢٤٨)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/البيوع ٣٤(٢٠٩٧)، الوكالة ٨(٢٣٠٩)، الجهاد ١١٣(٢٩٦٧)، المغازي ١٨(٤٠٥٢)، النكاح ١٠(٥٠٧٩)، ١٢١(٥٢٤٥)، ١٢٢(٥٢٤٧)، النفقات ١٢(٥٣٦٧)، الدعوات ٥٣(٦٣٨٧)، صحيح مسلم/الرضاع ١٦(٧١٥)، سنن الترمذي/النكاح ١٣(١١٠٠)، سنن النسائي/النكاح ٦(٣٢٢١)، ١٠(٣٢٣٦)، سنن ابن ماجه/النكاح ٧(١٨٦٠)، مسند احمد (٣/٢٩٤، ٣٠٢، ٣٠٨، ٣١٤، ٣٦٢، ٣٦٩، ٣٧٤، ٣٧٦)، سنن الدارمي/النكاح ٣٢(٢٢٦٢) (صحيح)

د سیدنا جابر رضي الله عنه د هغه خویندو ذکر د ابوداود په یو روایت کښې هم دې کوم چه په کتاب الفرائض کښې راروان دي.

"عن جابر قال اشتکیت وعندی سبع اخوات" الحدیث . قال المنذری : والحدیث اخرجه البخاری ومسلم والترمذی والنسائی من حدیث عمرو بن دینار عن جابر، واخرجه ابن ماجة من حدیث عطاء بن ابی رباح عن جابر.

بَابُ النَّهْيِ عَنْ تَزْوِيجِ مَنْ لَمْ يَلِدْ مِنَ النِّسَاءِ

باب: شنډې ښځې سره د واده کولو د مما نعت بیان

[٢٠٤٩](١) قَالَ أَبُو دَاوُد: كَتَبَ إِلَيَّ حُسَيْنُ بْنُ حُرَيْثٍ الْمَرْوَزِيُّ، حَدَّثَنَا الْفَضْلُ بْنُ مُوسَى، عَنِ الْحُسَيْنِ بْنِ وَاقِدٍ، عَنْ عُمَارَةَ بْنِ أَبِي حَفْصَةَ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: إِنَّ امْرَأَتِي لَا تَمْنَعُ يَدَ لَامِسٍ، قَالَ: "غَرِّبْهَا"، قَالَ: أَخَافُ أَنْ تَتْبَعَهَا نَفْسِي، قَالَ: "فَاسْتَمْتِعْ بِهَا".

دابن عباس رضي الله عنهما نه روایت دې فرمائی بن یوکس دنبی علیه السلام په خدمت کښې حاضر شو. او شکایت ئې وکړوچه زمانښځه دپالاس دخپل ځان نه نۀ منع کوی(یعنی په خوشحالی سره زناته اماده کیږی)نبی علیه السلام اوفرمائیل:طلاق ورته ورکړه هغه ووئیل زه ویریږم چه زما زړه ورپسی لارنشی نبی علیه السلام ورته اوفرمائیل نوبیاتری فائده اخله.

رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یو سړې راغلو او هغه خبره ئې عرض کړه کومه چه دلته په حدیث کښې ذکر شوې ده.

شرح حدیث :

﴿لا تمنع ید لامس﴾د دې جملې په شرح کښې شارحینو ډیر اقوال لیکلې دی اول دا چه د دې نه مراد فاحشه ده یعنی زنا، یعنی چه څوک غواړی هغه د لاسه اونیسی او ځان ته ئې راکاږی او د هغې نه خپل حاجت پوره کوی، هغه ئې بالکل منع کوی نه، دویم قول دا دې چه د دې نه مراد د هغې بې ځایه سخاوت دې چه د خاوند په مال کښې صرف کولو سره صدقه وغیره کوی، او هر ورکونکی ته ورکوی او انکار نه کوی ګویا لامس نه مراد سائل دې، په دې معنی باندې دا اشکال کړې شوې دې چه که سائل مراد وې نو په دې صورت کښې د لامس په ځائې ملتمس کیدل پکار وو، لهذا دا مطلب صحیح نه دی، دریم قول دا دې چه د لمس نه مراد صرف د خوند دپاره مس کول دی، او حافظ ابن کثیر رحمه الله اول معنی لره بعید منلې ده لهذا اخری معنی راجح ده.

بهرحال رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه سړی ته د شکایت په وجه باندې د طلاق مشوره ورکړه، په دې باندې هغه سړی عرض اوکړو چه ما کښې د دې طاقت نشته ځکه چه زما هغې سره ډیره مینه ده، که ما هغې ته طلاق ورکړو نو زما نفس به هم د هغې سره لاړ شی، په دې باندې رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه که هم دا خبره وی نو بیا د هغې نه هم د دې موجوده حالت سره فائده اوچتوه.

١): سنن النسائي/النكاح ١٢(٣٢٣١)، والطلاق ٣٤(٣٤٩٤، ٣٤٩٥)،(تحفة الأشراف: ٦١٦١)(صحيح)

دلته دا شبه راځي چه رسول الله ﷺ دې مذکوره سړی ته فوری د طلاق مشوره ولې ورکړه حال دا چه هغه شرعا ناخوښه خيز دې، شارحينو خو دا ليکلي دی چه رسول الله ﷺ هغه ته دا مشوره احتياطا ورکړې وه، خو زما په ذهن کښې دا خبره راځي چه دا (خذه بالموت حتى يرضى بالحمى) د قبيل نه دې او دا چه د نعمت قدر هغه وخت ډير زيات وی کله چه هغه په تلو شی، نو ګويا رسول الله ﷺ په حکمت عملئ او حسن تدبير سره د خاوند شکايت او غصه ئې يخه کړه ګينې د رسول الله ﷺ اراده هم د تعجيل بالطلاق نه وه. هذا ما عندی والله اعلم بالصواب.

تنبيه : د دې حديث په سند کښې د مصنف استاذ حسين بن حريث المروزی دې او مصنف ته دا حديث د هغه نه په طريق د مکاتبت رارسيدلې دې نه مشافهة، په دې وجه مصنف دا طرز اختيار فرمائيلې دې : کتب الى حسين بن حريث... لهذا د سند ابتداء هم د دې ځائې نه ده چه د هغې مقتضی دا ده چه لفظ "کتب" په جلی قلم سره کيدل پکار دی او د هغې نه روستو چه کوم (حدثنا الفضل بن موسى) راځي هغه جلی نه دی کيدل پکار ځکه چه هغه وسط سند دې، داسې معلوميږی چه د مصنف د حسين بن حريث نه روايت صرف مکاتبة دې ځکه چه وړاندې يو بل ځائې کښې په باب الظهار کښې هم مصنف د حسين بن حريث نه د (کتب) لفظ سره روايت کړې دې، او هلته لفظ (کتب) په جلی قلم سره دې، فتدبر وتشکر.

فائده : دا حديث د سنن ابی داود په هغه روايات تسعه کښې دې کوم چه ابن الجوزی په موضوعات کښې شمار کړې دې کما تقدمفی المقدمة... اوس پاتې شوه دا خبره چه دا حديث د کومې درجې دې نو دا جدا خبره ده، علماء کرامو د دې موضوع کيدل نه دی تسليم کړی پس سيوطی په "لآلی مصنوعة" کښې د حافظ ابن حجر رحمه الله نه د دې حديث صحيح کيدل نقل کړې دی، تفصيلی کلام دې هم په دې کښې اوکتلې شی.

دا حديث د ابوداود نه علاوه په سنن نسائی کښې هم دې.

مطابقة الحديث للترجمة :

د دې حديث د ترجمة الباب سره په ظاهره کښې څه مناسبت نشته البته حضرت په بذل کښې د حضرت ګنګوهی د تقرير نه نقل فرمائيلې دی لعل الوجه فی ايراد الحديث فی هذا الباب ان الابکار قلما يکن مبتليات بامثال تلک المعاصی لکثرة حيائهن فالتزوج بهن اولی. اهـ

[۲۰۵۰](۱) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، أَخْبَرَنَا مُسْتَلِمُ بْنُ سَعِيدٍ ابْنَ أُخْتِ مَنْصُورِ بْنِ زَاذَانَ، عَنْ مَنْصُورٍ يَعْنِي ابْنَ زَاذَانَ، عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ قُرَّةَ، عَنْ مَعْقِلِ بْنِ يَسَارٍ، قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: إِنِّي أَصَبْتُ امْرَأَةً ذَاتَ حَسَبٍ وَجَمَالٍ وَإِنَّهَا لَا تَلِدُ، أَفَأَتَزَوَّجُهَا؟ قَالَ: "لَا"، ثُمَّ أَتَاهُ الثَّانِيَةَ، فَنَهَاهُ، ثُمَّ أَتَاهُ الثَّالِثَةَ، فَقَالَ: "تَزَوَّجُوا الْوَدُودَ الْوَلُودَ، فَإِنِّي مُكَاثِرٌ بِكُمُ الْأُمَمَ".

د معقل بن يسار رضی الله عنه نه روايت دې ر فرمائی يوکس دنبی عليه السلام په خدمت کښې حاضر شو او عرض ئې وکړو چه اې د الله رسوله يوه داسې ښځه مې پيدا کړی ده چه انتهائی شريفه

(۱): سنن النسائي/النكاح ۱۱(۳۲۲۹)، (تحفة الأشراف: ۱۱۴۷۷)(حسن صحيح)

اوښکلې ده او بچي نه راوړي ايانکاح ورسره ونکړم؟نبي ﷺ اوفرمائيل نه نودي دوباره ورغي اوبيائي هم منع کړه، کله چه په دريم ځل ورغي نوورته ئي اوفرمائيل د داسې ښځې سره نکاح کوئ کومه چه محبت کونکې اوډيربچي راوړونکې وي يقينازه به په تاسوکښې دکثرت په لحاظ سره په نورو امتونوباندې فخرکوم.(يعنی په قيامت کښې)

﴿ عن معقل بن يسار رضی الله عنه قال جاء رجل الى النبی صلى الله عليه وسلم الخ ﴾د حديث مضمون دا دې چه يو سړې د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شو چه ماته يوه داسې زنانه ملاؤ شوې ده کومه چه ذی جمال او ذی حسب ده خو بچي نه راوړي نو ايا زه ورسره واده اوکړم؟ رسول الله ﷺ منع کړو، اوس دا خبره چه دا څنګه معلومه شوه چه هغه بچي نه راوړي نو کيدې شي چه هغه د مخکښې نه واده شوې وي او د زوج اول نه ئي بچي نه وي راوړي، يا د دې نه علاوه بل يو علامت موندلې شي، مثلا انها لا تحيض او بانها لم تنهد ثدياها.(بذل)

قوله : ﴿تزوجوا الودوود الولود فانی مکاثر بکم الامم ﴾يعنی د داسې زنانه سره واده کول پکار دی چه په کثرت سره بچي راوړي او د خاوند سره مينه کونکې وی، څکه چه زه به ستاسو په کثرت باندې د نورو امتونو په مقابله کښې فخر کوم.

د دې حديث مناسبت هم د ترجمه سره زيات واضح نه دې، پس دا وئيلې کيدې شي چه په باکره کښې د مودت ماده د ثيبه په نسبت زياته وی. **كذا فی البذل.**

قال المنذری : واخرجه النسائی.

بَابٌ فِي قَوْلِهِ تَعَالَى {الزَّانِي لَا يَنْكِحُ إِلَّا زَانِيَةً}

باب د آيت کريمه «الزاني لا ينكح الا زانية» تفسير

[٢٠٥١](١) حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُحَمَّدٍ التَّيْمِيُّ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ الْأَخْنَسِ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّ مَرْثَدَ بْنَ أَبِي مَرْثَدٍ الْغَنَوِيَّ كَانَ يَحْمِلُ الْأَسَارَى بِمَكَّةَ، وَكَانَ بِمَكَّةَ بَغِيٌّ يُقَالُ لَهَا: عَنَاقُ، وَكَانَتْ صَدِيقَتَهُ، قَالَ: جِئْتُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَنْكِحُ عَنَاقَ؟ قَالَ: فَسَكَتَ عَنِّي، فَنَزَلَتْ: وَالزَّانِيَةُ لَا يَنْكِحُهَا إِلَّا زَانٍ أَوْ مُشْرِكٌ سورة النور آية ٣، فَدَعَانِي، فَقَرَأَهَا عَلَيَّ، وَقَالَ: "لَا تَنْكِحْهَا".

عمرو بن شعيب دخپل پلار اوهغه دده دنيکه عمروبن العاص رضی الله عنه نه روايت کوی فرمائی تا مرثد بن أبي مرثد غنوی به په مکه کښې قيديان ورل و هلته په مکه کښې يوه زناکاره ښځه اوسيدله دچاچه عناق نوم وواوهغه دجاهليت دده محبوبه وه مرثد وائي چه زه دنبی ﷺ په خدمت کښې حاضر شوم ت اوعرض مې ورته وکړوچه اې دالله رسوله دعناق سره د نکاح وکړم؟نبي ﷺ چه دا واوريدل نوخاموش شو په دې وخت کښې دا آيت کريمه نازل شو:«والزانية لا ينكحها إلا زان أو مشرك» زه ئي راوغوښتلم اودا آيت کريمه ئي راته واورولو اودهغې سره دنکاح کولونه ئي منع کړم.

---

(١): سنن الترمذي/تفسير سورة النور(٣١٧٧)، سنن النسائي/النكاح ١٢(٣٢٣٠)،(تحفة الأشراف: ٨٧٥٣)(حسن صحيح)

مضمون حدیث :

دا روایت دلته مختصرا دي او په ترمذی شریف کښې مطولا دا روایت طویل په بذل کښې ذکر شوې دې چه د هغې مفهوم دا دې چه په مکه مکرمه کښې چه کوم مسلمانان د مشرکانو په قید کښې وو دا مرثد بن ابی مرثد صحابی داسې صحابه کرامو ته ډیر همت او حسن تدبیر سره. د مدینې نه مکه مکرمه د شپې په وخت رسیدو سره، اوچتولو سره راوړې دې او صحابی دا خدمت پوره کوی، کیدله به داسې چه د کوم مسلمان قیدی راوستل به منظور وو د هغه نه به ئې وعده اخستله چه زه به په فلانی وخت په فلانۍ ورځ باندې د اخستلو دپاره راځم، هغه قیدی به هم د دې دپاره تیار وو او هغه به په موعود وخت باندې رسیدلو سره په خپله اوږه باندې هغه خو راوړلو، یو ځل داسې اوشو چه هغه د یو قیدی سره وعده اوکړه او دا په دې وعده باندې د شپې په وخت کښې مکې مکرمې ته اورسیدو او د یو دیوال نه پناه کیناستلو، د سپوږمۍ رڼا وه، اتفاق ته ګوره چه داسې اوشو چه عناق نومې زنانه کومه چه د هغه زمانې د ډمو نه وه او د هغه صحابی د هغې سره د جاهلیت د زمانې یارانه وه هغې دا صحابی اولیدو او په لیدو سره ئې اوپیژندلو، او د خپل عادت مطابق د بد نیتئ اظهار ئې ورته اوکړو، او هغې سره د شپې تیریولو فرمائش ئې اوکړو، دې اویریدو او وې وئیل یا عناق! حرم الله الزنا... چه کله هغې اولیدل چه دې خو زما خواهش نه پوره کوی نو شور ئې جوړ کړو چه ټول خلق رابیدار شی او دې په خپل کوشش کښې ناکام شی‌و پس په روایت کښې دی چه ﴿قالت یا اهل الخیام هذا الرجل یحمل اسراءکم﴾ الغرض دا راز ښکاره شو نو چه کله خلق بیدار شو نو په هغوی کښې اته کسان په مرثد پسې شو، دې وائی چه زه تختیلو سره د یو غر په غار کښې پټ شوم. هغه کفار دې غار ته راورسیدل تردې چه په هغوی کښې یو تن چه هغه ته د اودس ماتی حاجت راغلو هغه هم دې غار خولې ته کیناستلو سره متیازې اوکړې کومې چه د هغه صحابی په سر باندې راپریوتلې خو دا د الله پاک فضل اوشو چه هغه دې غار ته ښکته کیدو سره او نه کتل او واپس شو ،مرثد په خپل کار کښې ډیر مضبوط وو هغه چه د لږ شان توقف نه پس چه کله دا خیال اوکړو چه دا خلق واپس اوده شو دوباره مکې ته راغلو اوخپل قیدی ئې کوم چه په بیړو کښې اینختلې وو په خپله اوږه باندې کینولو سره مکې ته راوستلو، مرثد مدینې ته رارسیدو سره رسول الله ﷺ ته عرض اوکړو یا رسول الله ﷺ ایا زه د عناق سره واده کولې شم؟ رسول الله ﷺ خاموش شو تردې چه دا آیت کریمه نازل شو : ﴿الزانی لا ینکح الا زانیة او مشرکة والزانیة لا ینکحها الا زان او مشرک﴾ په دې باندې رسول الله ﷺ هغه د نکاح نه منع کړو.

مسئله ثابته من الحدیث:

اوس دلته د یوې مسئلې خبره پیدا شوه چه ایا د زانی نکاح صرف د زانیه سره کیدې شی د پاک دامنې سره نه شی کیدې، او هم دغه شان د زانیه نکاح صرف د زانی سره کیدې شی د پاکدامن سره نه شی کیدې. د آیت کریمه د ظاهر نه خو عدم جواز معلومیږی، پس د بعض علماء کرامو مسلک هم دا دې چه د عفیف نکاح ند زانیه سره صحیح نه ده، خو جمهور

علماء کرام چه په هغوی کښې ائمه اربعه هم دی د هغوی په نزد د زانی نکاح د زانیه سره هم دغه شان د عفیفه سره صحیح دې او هم دغه شان د عفیف نکاح د زانیه سره جائز دې، د جمهورو د طرف نه د دې آیت څو ابواب منقول دی. ۱: قیل الایة منسوخة لقوله تعالی وانکحوا الایامی منکم، په دې آیت کریمه کښې ایامی مطلقا ذکر دې برابره خبره ده که عفیفه وی یا غیر عفیفه. ۲: الایة محمولة علی الذم لا التحریم، یعنی مقصود د دې نکاح مذمت دې نه تحریم او عدم جواز. ۳: بعض مفسرینو دا جواب کړې دې چه مقصود په آیت کریمه سره مقصود د میلان طبعی بیان دې نه جواز او عدم جواز، یعنی د زانیه د نکاح طرف ته د یو عفیف سړی طبیعت نه مائل کیږی هغه صرف زانی لره مائل کولې شی. والله تعالی اعلم

قال المنذری : واخرجه الترمذی والنسائی من حدیث عبدالله بن عمرو بن العاص رضی الله عنه.

[۲۰۵۲](1) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، وَأَبُو مَعْمَرٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ، عَنْ حَبِيبٍ، حَدَّثَنِي عَمْرُو بْنُ شُعَيْبٍ، عَنْ سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا يَنْكِحُ الزَّانِي الْمَجْلُودُ إِلَّا مِثْلَهُ". وقَالَ أَبُو مَعْمَرٍ: حَدَّثَنِي حَبِيبٌ الْمُعَلِّمُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ.

دابوهریره نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی چاچه دزناکارو سره کوړې - خوړلی وی هغوی نکاح نه کوی مګر دخپل ځان په شان خلقوسره. ابومعمروئیلی دی دا روایت حبیب معلم دعمرو بن شعیب نه نقل کړې دې.

بَابٌ فِي الرَّجُلِ يَعْتِقُ أَمَتَهُ ثُمَّ يَتَزَوَّجُهَا

باب: خپله وینزه آزادولو نه پس هغې سره د واده کولو د ثواب بیان

[۲۰۵۳](2) حَدَّثَنَا هَنَّادُ بْنُ السَّرِيِّ، حَدَّثَنَا عَبْثَرٌ، عَنْ مُطَرِّفٍ، عَنْ عَامِرٍ، عَنْ أَبِي بُرْدَةَ، عَنْ أَبِي مُوسَى، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ أَعْتَقَ جَارِيَتَهُ وَتَزَوَّجَهَا كَانَ لَهُ أَجْرَانِ".

دابوموسی رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی چاچه خپله وینځه ازاده کړه اوبیائې ورسره نکاح وکړه نوده دپاره دوچند اجردې.

﴿عن ابی موسی رضی الله عنه... قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من اعتق جاریة وتزوجها کان له اجران﴾ دا حدیث دلته مختصر دې، په صحیحین کښې دا حدیث مطولا دې،

ولفظه ﴿ثَلَاثَةٌ لَهُمْ أَجْرَانِ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ آمَنَ بِنَبِيِّهِ وَآمَنَ بِمُحَمَّدٍ صلی الله علیه وسلم وَالْعَبْدُ الْمَمْلُوكُ إِذَا أَدَّى حَقَّ اللَّهِ وَحَقَّ مَوَالِيهِ وَرَجُلٌ كَانَتْ عِنْدَهُ أَمَةٌ { يَطَؤُهَا } فَأَدَّبَهَا فَأَحْسَنَ تَأْدِيبَهَا وَعَلَّمَهَا فَأَحْسَنَ تَعْلِيمَهَا ثُمَّ أَعْتَقَهَا فَتَزَوَّجَهَا فَلَهُ أَجْرَانِ﴾ د دې باب سره متعلق د حدیث دا اخری جزء دې په دې وجه مصنف په دې باندې اکتفاء اوکړه

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۳۰۰۰)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳۲٤/۲)(صحیح)

[2]: صحیح البخاري/العلم ۳۱(۹۷)، العتق ۱٤(۲۵٤٤)، ۱٦(۲۵٤۷)، الجهاد ۱۵٤(۳۰۱۱)، أحادیث الأنبیاء ٤۷(۳٤٤٦)، النکاح ۱۳(۵۰۸۳)، صحیح مسلم/النکاح ۱٤(۱۵٤)، سنن النسائي/النکاح ٦۵(۳۳٤۷)،(تحفة الأشراف: ۹۱۰۸، ۹۱۷۰)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/النکاح ۲٤(۱۱۱٦)، سنن ابن ماجه/النکاح ٤۲(۱۹۵٦)، مسند احمد(۳۹۵/٤، ۳۹۸، ٤۱٤، ٤۱۵)، سنن الدارمي/النکاح ٤٦(۲۲۹۰)،(صحیح)

شرح حدیث:

د حدیث مضمون دا دې چه کوم سړې خپلې وینځې ته تعلیم او تادیب ورکړی بیا هغه ازاده کړی او د ازادیدو نه پس ورسره نکاح اوکړی نو د هغه دپاره دوه اجرونه دی. په دې حدیث باندې چه کوم طالب علمانه اشکال راځی هغه ظاهر دې هغه دا چه په دې حدیث کښې دتعدد عمل سره تعدد اجرمذکوردې یعنی څنګه چه عملونه دوه دی په هغې باندې مرتب کیدونکې اجرونه هم دوه دی بیا وجه د تخصیص څه ده؟ یو عمل تعلیم او تربیت دې، دویم عمل اعتاق په دې باندې دوه اجرونه کیدل پکار دی، د دې توجیه په ډیرو طریقو کړې شوې ده.

١: اول دا چه مراد دا دې چه دې درې واړو کسانو ته به د دوی په عمل باندې دوچند اجر ملاویږی، په دې صورت کښې به هیڅ اشکال نه واقع کیږی.

٢: مراد خو دا دې چه عملین مذکورین باندې دوه ثوابونه ملاویږی او د تخصیص د اشکال جواب دا دې چه چونکه دلته په دې دواړو عملونو کښې تزاحم وو. ځکه چه د حقوق مولی د ادا کولو دپاره خو ګویا د دې عملین فاعل، فاعل ضدین شو چه په هغې کښې کمال پیدا کیدل ظاهره ده چه مشکل دی چه د هغې تقاضه دا وه چه کامل دوه اجرونه ورته ملاؤ نه شی خوالله پاک ئې په خپل فضل سره ورکوی. دا دویم جواب د علامه کرمانی نه منقول دې زمونږ حضرت شیخ رحمه الله به هم دا په سبق کښې بیانولو. دا توجیه ثانی په درې واړه اشخاص مذکوره فی الحدیث باندې غور کولو نه پس منطبق کیدلې شی. قال المنذری : واخرجه البخاری ومسلم والنسائی مختصرا ومطولا.

[٢٠٥٤] (١) حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَوْنٍ، أَخْبَرَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ قَتَادَةَ، وَعَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ صُهَيْبٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "أَعْتَقَ صَفِيَّةَ وَجَعَلَ عِتْقَهَا صَدَاقَهَا".

د انس بن مالک رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام ام المومنین صفیه رضی الله عنها ازاده کړه تل اوهغې دازادول ئې دهغې دپاره مهر وګرځوو.

قوله: ﴿عن انس رضی الله تعالی عنه ان النبی صلی الله علیه وسلم اعتق صفیة وجعل عتقها صداقها﴾

دا روایت دلته مختصر دې پوره حدیث په کتاب الخراج باب ما جاء فی سهم الصفی (بذل ١٣٨/٤) کښې متعدد طرق سره راغلې دې چه د هغې حاصل دا دې چه سیده صفیه رضی الله عنها رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د غنائم خیبر نه حاصله شوې وه، رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه مخکښې ازاد کړو، د ازادولو نه روستو ئې هغې سره نکاح اوکړه.

(١): صحيح مسلم/الحج ٧٦(١٣٤٥)، النكاح ١٤(١٣٦٥)، سنن الترمذي/النكاح ٢٣(١١١٥)، والسير ٣(١٥٥٠)، سنن النسائي/النكاح ٦٤(٣٣٤٤، ٤٢٠٠)، (تحفة الأشراف: ١٠٦٧)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الصلاة ١٢(٣٧١)، صلاة الخوف ٦(٩٤٧)، البيوع ١٠٨(٢٢٢٨)، الجهاد ٧٤(٢٨٩٣)، المغازي ٣٨(٤٢٠٠)، النكاح ١٣(٥٠٨٦)، الأطعمة ٨(٥٣٨٧)، ٢٨(٥٤٢٥)، الدعوات ٣٦(٦٣٦٣)، سنن ابن ماجه/النكاح ٤٢(١٩٥٧)، مسند احمد(٩٩/٣، ١٣٨، ١٦٥، ١٧٠، ١٨١، ١٨٦، ٢٠٣، ٢٣٩، ٢٤٢)، سنن الدارمي/النكاح ٤٥(٢٢٨٨)(صحيح)

مسئله ثانیه بالحدیث کښي اختلاف ائمه :

په حدیث الباب راوی وائی چه رسول اللهﷺ عتق صفیه لره د هغه مهر مقرر کړو، د دې نه علاوه یو بل مستقل مهر رسول اللهﷺ هغې ته ورنکړو، دلته د مصنف مقصد هم دا خبره بیانول دی چه ایا عتق امة لره د هغې مهر مقرر کولې شی یا نه، مسئله مختلف فیه ده، د ائمه ثلاث او امام محمد په نزد عتق لره مهر مقرر کول جائز نه دی، او امام احمد، ابویوسف او بعض نورو علماء کرام لکه اسحاق بن راهویه، حسن بصری، سفیان ثوری په نزد داسې کول جائز نه دی لهذا حدیث الباب په ظاهره کښې د جمهورو خلاف دې چه مهر مال کیدل پکار دی او عتق مال نه دې. قال تعالی ﴿ان تبتغوا باموالکم الایة﴾ د جمهورو د طرف نه د دې حدیث مختلف توجیهات کړې شوې دی، اول دا چه دا په تطییب قلب باندې محمول دې، یعنی د صفیه د خوشحالولو دپاره اوئیلې شو چه ستا عتق ستا مهر دې ګڼې د رسول اللهﷺ دپاره خو نکاح بغیر د مهر نه هم کول جائز دی او دا د هغه د خصوصیاتو نه ده. ۲: دا روایت د راوی په ظن باندې محمول دې یعنی چونکه په دې نکاح کښې د مهر هیڅ قسم تذکره نه وه نو راوی دا خیال اوکړو چه کیدې شی عتق مهر مقرر کړې شوې وی حال دا چه واقعه داسې نه ده چه د هغې تائید د بیهقی د هغه روایت نه کیږی کوم چه د رزینه نه روایت دې چه د هغې په اخر کښې دی ﴿فاعتقها وخطبها وتزوجها وامهرها رزینة﴾ چه د هغې نه معلومه شوه چه رسول اللهﷺ خپله خادمه رزینه په طور د مهر صفیه رضی الله عنها ته ورکړې وه، **کذافی البذل عن العینی**، خو حافظ د بیهقی په دې روایت باندې نقد کړې دې. فارجع الیه ان شئت. ۳: که دا تسلیم کړې شی چه دلته عتق مهر مقرر کړې شوې وو نو بیا به دا وئیلې شی چه دا د رسول اللهﷺ د خصائصو نه ده.

د دې نه پس په دې باندې ځان پوهه کړئ چه صورت مسئله او د هغې تفصیل داسې دې چه که یو سړې خپله وینزه په دې شرط باندې ازاده کړی چه د ازادیدو نه پس به ورسره نکاح کوی پس هغه ازاده کړه نو اوس په دې کښې تفصیل دې چه دا د دوه حالو نه خالی نه ده یا خو به د ازادیدو نه پس هغه د دې سړی سره نکاح کوی یا نه کوی، پس که نکاح کوی نو په هغې کښې د شوافعو مسلک دا دې چه هغوی دواړه خپل مینځ کښې مهر مقرر کړی او مهر مسمی به واجب وی او هم دا مذهب د احنافو دې، فرق دا دې چه د شوافعو په نزد دلته مهر مسمی او د احنافو په نزد به دلته مهر مثل وی او که د ازادیدو نه روستو هغه زنانه په تزوج باندې راضی نه شی نو په دې صورت کښې خو د مهر ظاهره ده چه سوال نه پیدا کیږی، البته په زنانه باندې به واجب وی چه هغه خپل قیمت مولی ته ادا کړی ځکه چه مولی ئې په مفت ازادولو باندې راضی نه وو، دا دې هم واضحه وی چه په زنانه باندې د قیمت ادا کول د احنافو په نزد خو صرف د عدم تزوج په صورت کښې دی او د شوافعو په نزد تزوج او عدم تزوج هر دواړو صورتونو کښې په زنانه باندې دومره قیمت ادا کول واجب دی او د مالکیانو په نزد د قیمت د ادا کولو په صورت کښې نه دې او د عتق امة به بهر حال د تولو ائمه کرامو په نزد صحیح شی.

تنبیه : امام ترمذی رحمه الله په دې حدیث باندې کلام کولو سره د امام شافعي او امام احمد دواړو مذهب د دې حدیث موافق لیکلې دې حال دا چه داسې نه ده پس حافظ فرمائی «ومن المستغربات قول الترمذي وبه قال الشافعي واحمد» اهـ

د دې نه علاوه هم یو دوه ځایونو کښې د امام ترمذی رحمه الله نه په مذهب شافعی نقل کولو کښې تسامح شوې ده او حافظ وغیره په هغې باندې تنبیه کړې ده. والله تعالی اعلم

قال المنذری : واخرجه مسلم والترمذی والنسائی.

بَاب يَحْرُمُ مِنَ الرَّضَاعَةِ مَا يَحْرُمُ مِنَ النَّسَبِ

د پیو څکلو په وجه داسې حرمت پیدا کیږی لکه د نسب په وجه چه پیدا کیږی

د دې ځائې نه ابواب الرضاع شروع کیږی پس په بعض نسخو کښې دلته د ابواب الرضاع سرخی قائم کړې شوې ده.

[٢٠٥٥](١) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ دِينَارٍ، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "يَحْرُمُ مِنَ الرَّضَاعَةِ مَا يَحْرُمُ مِنَ الْوِلَادَةِ".

دام المومنین عائشة رضی الله عنها نه روایت دې و فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی حرمته تی پیدا کیږی درضاع (دتی ورکولو) په وجه کوم حرمت و چه دنسب په وجه پیدا کیږی.

متن حدیث

د حدیث مفهوم واضح دې چه کومې رشتې د نسب د وجې نه حرامې وی هغه تولې د رضاعت د وجې نه هم حرامیږی.(٢) ځکه چه پئ ورکولو والا د رضیع رضاعی مور وی او زوج مرضعه د رضیع دپاره په منزله د پلار وی چه هغې سره د رضیع او مرضعه ترمینځه او هم دغه شان رضیع او زوج مرضعه ترمینځه حرمت نکاح ثابتیږی، نو ګویا حرمت والا نو په طرفین کښې موندلې شی د هغې نه روستو کوم چه د هر یو خپلوان دی چه د هغې نه د نسب د وجې نه حرمت وی د دې تعلق رضیع او رضاعی مور او پلار او د هغې نه اقارب سره وی، د رضیع چه کوم نسبی مور او پلار دی او د هغوی خپلوان د هغوی سره تعلق نه وی، پس رضاعی مورد رضیع نسبی رورباندې به حرام نه وی، وعلی هذا القیاس.

د دې نه پس ځان پوهه کړئ چه د رضاعت د وجې نه چه کوم حرمت ثابتیږی د دې تعلق د نکاح سره دې د تولو څیزونو سره نه دې، لهذا د رضاعت د وجې نه توارث او وجوب نفقه او هم دغه شان شهادت وغیره مسئله دا څیزونه د رضاعت نه نه ثابتیږی.

---

(١): سنن الترمذي/الرضاع ٢(١١٤٧)، سنن النسائي/النكاح ٤٩(٣٣٠٢)،(تحفة الأشراف: ١٦٣٤٤)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الشهادات ٧(٢٦٤٦)، فرض الخمس ٤(٣١٠٥)، تفسير سورة السجدة ٩(٤٧٩٢)، النكاح ٢٢(٥١٠٣)، ١١٧(٥٢٣٩)، الأدب ٩٣(٦١٥٦)، صحيح مسلم/الرضاع ٢(١٤٤٤)، سنن ابن ماجه/النكاح ٣٤(١٩٣٧)، موطا امام مالك/الرضاع ٣(١٥)، مسند احمد(٤٤/٦، ٥١، ٦٦، ٧٢، ١٠٢)، سنن الدارمي/النكاح ٤٨(٢٢٩٥)(صحيح)

(٢) قال القاري واستثني منه بعض المسائل اهـ قلت وهي مذكورة في كتب الفقه فارجع اليه وفي شرح السنة ولا تحرم المرضعة علي اب الرضيع ولا علي اخيه، ولا يحرم عليك ام اختك من الرضاع اذا لم تكن اما لك ولا زوجة ابيك ويتصور هذا في الرضاع ولا يتصور في النسب ام اخت الاولي ام لك او زوجة لابيك الي اخر ما في البذل)

لبن الفحل:

د پورته ذکر شوی بیان نه معلومه شوه چه حرمت رضاعت د رضاعی مور سره خاص نه دې بلکه رضاعی مور او زوج مرضعه یعنی رضاعی پلار دواړو طرف ته خوریږی لکه چه د جمهور علماء کرامو مسلک دې، په دې کښې د یو جماعت اختلاف دې کوم چه دا حرمت د رضاعی مور سره خاص کوی او هم دا هغه مسئله ده کوم نه چه فقهاء په "لبن الفحل" سره تعبیر کوی کومه چه وړاندې په کتاب کښې هم مستقل راروان دې.

دلته د دې خبرې هم ضرورت دې چه کوم رضاعت موجب تحریم دې د هغې تعریف معلوم کړئ لکه چه فقهاء کرامو لیکلې دې پس په فتح القدیر کښې دی:

وهوفی اللغة مص اللبن من الثدی... وفی الشرع مص الرضیع اللبن من ثدی الادمیة فی وقت مخصوص ای مدة الرضاع المختلف فی تقدیرها اهـ لهذا چه کوم رضاعت چه د رضاعت په موده کښې دننه وی، دا مسئله وړاندې په مستقل کتاب کښې "باب رضاعة الکبیر" د لاندې راروان دې.

﴿عن عائشة رضی الله عنها ان النبی صلی الله علیه وسلم قال: یحرم من الرضاعة ما یحرم من الولادة﴾ په دې باندې کلام پورته راغلې دې، **قال المنذری: اخرجه الترمذی والنسائی بمعناه واخرجه البخاری ومسلم والنسائی من حدیث عمرة عن عائشة رضی الله تعالی عنها.**

[٢٠٥٦](1) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ زَيْنَبَ بِنْتِ أُمِّ سَلَمَةَ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، أَنَّ أُمَّ حَبِيبَةَ، قَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، هَلْ لَكَ فِي أُخْتِي؟ قَالَ: "فَأَفْعَلُ مَاذَا؟" قَالَتْ: فَتَنْكِحُهَا، قَالَ: "أُخْتَكِ؟" قَالَتْ: نَعَمْ، قَالَ: "أَوَتُحِبِّينَ ذَلِكَ؟" قَالَتْ: لَسْتُ بِمُخْلِيَةٍ بِكَ، وَأَحَبُّ مَنْ شَرِكَنِي فِي خَيْرٍ أُخْتِي، قَالَ: "فَإِنَّهَا لَا تَحِلُّ لِي"، قَالَتْ: فَوَاللَّهِ لَقَدْ أُخْبِرْتُ أَنَّكَ تَخْطُبُ دُرَّةَ أَوْ ذَرَّةَ شَكَّ زُهَيْرٌ بِنْتَ أَبِي سَلَمَةَ، قَالَ: "بِنْتَ أُمِّ سَلَمَةَ"، قَالَتْ: نَعَمْ، قَالَ: "أَمَا وَاللَّهِ لَوْ لَمْ تَكُنْ رَبِيبَتِي فِي حِجْرِي مَا حَلَّتْ لِي، إِنَّهَا ابْنَةُ أَخِي مِنَ الرَّضَاعَةِ، أَرْضَعَتْنِي وَأَبَاهَا ثُوَيْبَةُ، فَلَا تَعْرِضْنَ عَلَيَّ بَنَاتِكُنَّ وَلَا أَخَوَاتِكُنَّ".

دام سلمه رضی الله عنها نه روایت دې فرمائی چه ام بی حبیبه رضی الله عنها نبی علیه السلام ته عبرض اوکړو چه ایا زما خور ته دی رغبت شته دې؟ نبی علیه السلام اوفرمائیل څنګه اوخبره څه ده؟ ام حبیبه او فرمائیل چه نکاح ورسره وکړئ نبی علیه السلام اوفرمائیل آیا ستادخورسره؟ ام حبیبه اووئیل: هو، نبی علیه السلام اوفرمائیل که داسې وشی و نوستاخوښه ده ام حبیبه رضی الله عنها اووئیل چه یواځې زه خو ستا په نکاح کښې نه یم (یعنی نوری ښځې هم دی اوهغه دی هم وي)، داسې نه ده چه زه په راتلوباندې خفه کیږم) زماسره چه څومره زیات لا خلق شریك وی او په هغوی کښې زماسره زما خورهم وی نوزه دادیر خوښوم نبی علیه السلام اوفرمائیل نه. چه ترڅو پورې زماپه نکاح کښې بی نوهغه زما دپاره حلاله نه ده ام حبیه چه دا واوریدل نوونې وئیل ماته معلومه ده چه تا دره یاذره څوك چه دابوسلمه لورده دنکاح پیغام دی ورته لیږلې دې نبی علیه السلام په تعجب سره تپوس اوکړه چه دام سلمه لور دره یادوی؟ ام حبیبه اووئیل هو، نبی علیه السلام

(1): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٨٢٦٧)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/النكاح ٢٠(٥١٠١)، ٢٥(٥١٠٦)، ٢٦(٥١٠٧)، ٣٥(٥١٢٣)، النفقات ١٦(٥٣٧٢)، صحيح مسلم/الرضاع ٤(١٤٤٩)، سنن النسائي/النكاح ٤٤(٣٢٨٦)، سنن ابن ماجه/النكاح ٣٤(١٩٣٩)، مسند احمد(٦/٢٩١، ٣٠٩، ٤٢٨)(صحيح)

اوفرمائيل هغه خو زما پرکتيئ ده که چرې پرکتيئ هم نه وی نوهغه زما د رضاعی ورور لورده، ما او ابوسلمه ته ثويبه بی بی تې راکړې وو نو په دې وجه باندې ماته دخپلو خويندو اولونړو ذکرمه کوه.

مضمون حديث :

سيده ام سلمهؓ يو ځل ام المومنين ام حبيبه بنت ابی سفيانؓ رسول اللهﷺ ته عرض اوکړو چه ايا ته زما په خور کښې رغبت لرې؟ هغه ترې تپوس اوکړو ستا څه مراد دې؟ هغې عرض اوکړو ته د هغې سره نکاح اوکړه. رسول اللهﷺ اوفرمائيل: ستا د خور سره؟ هغې عرض اوکړو او جی! رسول اللهﷺ اوفرمائيل ايا ستا دا خبره خوښه ده او برداشت کوې ئې؟ په دې باندې هغې اووې چه زه کومه ستاسو په نکاح کښې يواځې يم؟(بلکه نورې هم ازواج او بنې دی نو هر کله چه دا صورت حال دې) نو په دې خير کښې ما سره شريکيدونکې زما په نزد خپله زما خور زياته غوره ده، مطلب دا دې چه ستا په نکاح کښې که زه يواځې وې نو بيا خو ظاهره ده چه ما په د بل چا په نکاح کښې راتلل نه خوښول، خو چه هر کله زما نه علاوه نورې هم دی نو بيا دې پکښې زما خور هم وی، نو په دې باندې ورته رسول اللهﷺ اوفرمائيل: ﴿فانها لا تحل لی﴾چه زما دپاره هغې سره نکاح جائز نه ده ځکه چه جمع بين الاختين ناجائز ده. ﴿قالت : فوالله لقد اخبرت انک تخطب درة او ذرة شک زهير بنت ابی سلمة﴾يعنی ماته دا خبره رارسيدلې ده چه هغه دره بنت ابی سلمه ته د نکاح پيغام ليږل غواړې، په دې باندې رسول اللهﷺ اوفرمائيل ﴿بنت ام سلمة؟﴾ ايا د دره بنت ام سلمه په باره کښې فرمائې؟ ﴿قالت نعم! قال : اما والله لو لم تكن ربيبتی فی حجری ما حلت لی﴾رسول اللهﷺ اوفرمائيل چه اول خو هغه زما ربيبه ده چه هغې سره نکاح زما دپاره ناجائز ده، خو که هغه زما ربيبه هم نه وې نو بيا هم زما دپاره جائز نه وې ځکه چه هغه زما د رضاعی رور لور ده، ځکه چه ماته او د هغې پلار يعنی ابو سلمه ته يوې زنانه پئ ورکړې دی چه د هغې نوم ثويبه ده، په بذل المجهود کښې د فتح الباری نه دا واقعه نقل کړې ده چه سيدنا عباسؓ فرمائی چه د ابو لهب د مرګ نه يو کال پس ما هغه په خوب کښې اوليدو چه هغه ډير په بد حال کښې دې او هغه مزيد اووې چه ما د دنيا نه جدا کيدو نه پس څه راحت دلته نه دې ليدلې، البته دا ده چه د ګل په ورځ باندې زما نه عذاب کښې تخفيف کولې شی، چه د هغې وجه دا بيانولې شی چه رسول اللهﷺ چه کله د ګل په ورځ باندې پيدا شو نو هم دې ثويبه خپل مولی ابو لهب ته د هغه د پيدائش زيرې ورکړې وو، او د دې زيرې په خوشحالئ کښې ئې هغه ازاده کړې وه. اه د دې نه پس هغې اوفرمائيل: ﴿لا تعرضن علی بناتکن ولا اخواتکن﴾[1] چه داسې مه کوئ او په ما باندې زما لونړه او اخوات مه پيش کوئ، دلته لفظ "ثويبه" په ترکيب کښې فاعل واقع شوې دې، ﴿ارضعتنی﴾فعل دپاره.

---

[1] ظاهره ده چه ﴿لا تعرضن﴾جمع مؤنث حاضر صيغه ده، بل احتمال دا هم دې چه د واحد مونث حاضر صيغه وی بانون ثقيله په دې صورت کښې ضاد مکسوره دې)

د دې حدیث نه معلومیږی چه رسول الله ﷺ او ابوسلمه دواړه رضاعی رونړه دی، لهذا دره بنت ابی سلمه د رسول الله ﷺ رضاعی وریره شوه، پس یو وجه د حرمت نکاح خو دا شوه، او دویمه دا چه هغه د رسول الله ﷺ د زوجه محترمې لور ده کومې ته چه ربیبه وئیلې شی چه د هغې حرمت د قران کریم نه ثابت دې. ﴿وربائبکم اللاتی فی حجورکم﴾ د ام حبیبه رضی الله عنها د کومې خور ذکر چه په دې حدیث کښې راغلې دې د هغې په نوم کښې اختلاف دې، قیل اسمها عزة بنت ابی سفیان، (کما فی روایة مسلم والنسائی) وقیل حمنة بنت ابی سفیان وقیل درة. (عون)

د دې حدیث د ترجمة الباب سره مناسبت ظاهر دې ځکه چه د دې نه معلومیږی چه رضاعی وریره سره نکاح ناجائز ده.

قال المنذری واخرجه البخاری ومسلم والنسائی وابن ماجة.

باب فِي لَبَنِ الْفَحْلِ

باب سړی سره د پلیو رشته

دا ترجمه هم په دې الفاظو سره په ټولو کتب صحاح کښې واقع شوې ده.

د لبن الفحل تشریح:

ای اللبن الذی نزل فی ثدی المراءة بسبب الفحل وهو الزوج... د پیو نسبت چه څنګه د زنانه طرف ته کولې شی او کیدل پکار دی، هم دغه شان د دې نسبت د سړی طرفته هم وی د سبب کیدو په حیثیت سره، ځکه چه د زنانه په سینه کښې د پیو تحقق د الله پاک په قدرت سره د ولادت ولد نه پس وی چه په هغې کښې ظاهره ده د سړی دخل دې، او دا هم هغه مسئله ده چه د هغې طرف ته اشاره زمونږ په نزد د باب الرضاع په شروع کښې راغلې دې، جمهور علماء کرام چه په هغوی کښې ائمه اربعه هم شامل دی د لبن الفحل قائل دی پس څنګه چه د رضاعی خوئی واده د رضاعی مور سره ناجائز دې هم دغه شان د رضاعی لور واده د رضاعی مور د خاوند سره ناجائز دې. ګویا پئ ورکونکې زنانه چه څنګه رضاعی مور اومنلې شوه هم دغه شان د هغې خاوند د رضیع دپاره پلار منلې شوې دې. وهذا هو معنی لبن الفحل عند الفقهاء. اصل کښې په بادی الرای کښې دا خبره ذهن ته راځی چه د رضیع نکاح د مرضعه سره خو ناجائز کیدل پکار دی خو د هغې د خاوند سره جائز کیدل پکار دی ځکه چه د پیو تعلق په ظاهره باندې صرف د زنانه سره دې پس سیده عائشه رضی الله عنها هم دا اشکال اوفرمائیلو لکه په حدیث الباب کښې راځی.

په دې مسئله کښې اختلاف بعض صحابه لکه ابن عمر وغیره او بعض تابعین لکه نخعی، شعبی وسعید بن المسیب او داودظاهری اختلاف دې، ددې حضراتو په نزد حرمت رضاعت صرف د مور طرف ته منتشر کیږی، رضاعی پلار سره د دې هیڅ تعلق نشته د لبن الفحل ډیر صریح او واضح مثال هغه دې کوم چه امام ترمذی رحمه الله د ابن عباس رضی الله عنه نقل فرمائیلې دې هغه دا چه د هغوی نه تپوس اوکړې شو چه یو سړې دې چه د هغې دوه وینزې

دی په هغې کښې يوې پردئ ماشوم ته پئ ورکړل او دويمې وينځې يو پردی ماشوم ته پئ ورکړل نو اوس د هغه نه تپوس اوکړې شو چه ايا د دې جينئ واده د هغه هلک سره جائز دې، هغه اوفرمائيل ﴿لا اللقاح واحد﴾ اوګورئ په دې مثال کښې دې دواړو ماشومانو دپاره پئ ورکولو والا مرضعه هم يوه نه ده د دې باوجود هغوی رضاعی رور خور منلې شوې دی ځکه چه سرې د دواړو يو دې چه د هغې په سبب پئ راکوزيږی، امام ترمذی رحمه الله فرمائی : وهذا التفسير لبن الفحل. وهذا الاصل فی هذا الباب، وهو قول احمد واسحاق. اهـ

د اختلاف وجه :

کوم حضرات چه د لبن الفحل قائل نه دی د هغه استدلال د آيت کريمه نه دې، ﴿وامهاتكم اللاتى ارضعنكم﴾ او طريق استدلال دا دې چه په آيت کريمه کښې په حرمت نسبيه کښې خو دواړه قسم محارم مذکور دی يعنی من قبل الام ومن قبل الاب، پس ارشاد دې ﴿وعماتكم وخالاتكم﴾ عمه د پلار د طرف رشته ده او خاله د مور د طرف، او د حرمت رضاعيه د لاندې په قران کريم کښې صرف محرمات من قبل الام ذکر دې، حيث قال ﴿وامهاتكم اللاتى ارضعنكم﴾ دلته عمه رضاعيه نه ده ذکر کړې شوې، د جمهورو د طرف نه جواب ورکړې شوې دې، تخصيص الشئ بالذکر لا يدل علی نفی الحکم عما عداه، او خصوصا هر کله چه پکښې احاديث صحيحه ثابت دی.

[٢٠٥٧]([1]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ الْعَبْدِيُّ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: دَخَلَ عَلَيَّ أَفْلَحُ بْنُ أَبِي الْقُعَيْسِ فَاسْتَتَرْتُ مِنْهُ، قَالَ: تَسْتَتِرِينَ مِنِّي وَأَنَا عَمُّكِ؟ قَالَتْ: قُلْتُ: مِنْ أَيْنَ؟ قَالَ: أَرْضَعَتْكِ امْرَأَةُ أَخِي قَالَتْ: إِنَّمَا أَرْضَعَتْنِي الْمَرْأَةُ وَلَمْ يُرْضِعْنِي الرَّجُلُ، فَدَخَلَ عَلَيَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَحَدَّثْتُهُ، فَقَالَ: "إِنَّهُ عَمُّكِ فَلْيَلِجْ عَلَيْكِ".

د ام المومنين عائشه رضي الله عنها نه روايت دې فرمائی چه افلح بن ابو القعيس زماخواته راغې اوهغه دعائشې رضي الله عنها رضاعی تره وو ام المومنين وائی ما ترې پرده اوکړه هغه اووئيل اياته زمانه پرده کوی زه خوستاتره يم ما ووئيل هغه څنګه؟ نوهغه اووئيل زما ورندار و تاته تې درکړې دې ماورته اووئيل چه ماته خو د ښځې تې راکړې دې سړی خوندې راکړې په دې په وخت کښې نبی ﷺ راغې اوددی واقعی ذکر. ورته اوشو نبی ﷺ اوفرمائيل يقينا افلح ستاتره دې په بې تکلفی سره ستاخواته راتلې شي.

مضمون حديث :

دا دې چه سيده عائشه رضي الله عنها فرمائی چه يوه ورځ ماته افلح بن القيس راغلو او ما د هغه نه پرده کوله، هغه اووې چه ته زما نه پرده کوې؟ زه خو ستا تره يم، ما اووې ته زما تره څنګه ئې؟ هغه اووې تاته زما د رور ښځې پئ درکړې دی، په دې باندې هغې اووې : ﴿انما ارضعتنى

[1]): تفرد به أبو داود،(تحفة الأشراف: ١٦٣٧٣، ١٦٩١٧)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الشهادات ٧(٢٦٤٤)، صحيح مسلم/الرضاع ٢(١٤٤٥)، سنن النسائي/النكاح ٤٩(٣٣٠٣)، موطا امام مالك/ الرضاع ١(٣)، مسند احمد(١٩٤/٦، ٢٧١)(صحيح)

امراءة ولم يرضعنى الرجل ﴾د دې نه پس سيده عائشه رضي الله عنها فرمائي چه کله رسول الله ﷺ زما خواته راغلو نو هغه اوفرمائيل چه او! هغه ستا تره دې ته بغير د پردې نه هغه ته تلې راتلې شي، ځان پوهه کړئ چه د افلح د عائشې رضي الله عنها د تره کيدو درې صورتونه دی. ۱: افلح د سيده عائشه رضي الله عنها د نسبي پلار رضاعی رور وی،
۲: افلح د عائشې رضي الله عنها د پلار نسبی رور وی.
۳: افلح د سيده عائشه رضي الله عنها د رضاعی پلار رضاعی رور خو دلته دوه صورتونه متحقق وی چه د هغې په روايت کښې تصريح ده ﴿ارضعتک امرة اخى﴾
تنبيه: د ابوداود په دې روايت کښې افلح بن ابى القيس واقع شوې دې او دا صحيح نه دې، صحيح په دې کښې افلح بن القيس اخو ابى القيس دې كما فى رواية الصحيحين والحديث اخرجه مالک والشافعی وباقی الستة. (المنهل)

بَابٌ فِي رَضَاعَةِ الْكَبِيرِ

باب: د لوئی کس د رضاعت بيان

د ابواب رضاع په شروع کښې دا تير شوې دی چه رضاعت هغه معتبر دې او مؤثر دې کوم چه د رضاعت په موده کښې وی چه په هغې کښې فى الجمله اختلاف دې، د دې مودې د تيريدو نه پس چه کوم رضاعت وی هغه معتبر نه دې په دې سره به حرمت نه ثابتيږي. امام بخاری رحمه الله باب قائم کړې دې ﴿من قال لارضاع بعد حولين﴾ د دې د لاندې شارحينو اختلاف نقل کړې دې چه ائمه ثلاثه او صاحبين مسلک هم دا دې په خلاف د امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله چه د هغه په نزد د رضاعت موده ديرش مياشتې دې. (دوه نيم کاله) د دلائلو دپاره دې د کتب فقه طرف ته رجوع اوکړې شی.

[۲۰۵۸](۱) حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ. ح وحَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، عَنْ أَشْعَثَ بْنِ سُلَيْمٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ مَسْرُوقٍ، عَنْ عَائِشَةَ الْمَعْنَى وَاحِدٌ، أن رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ عَلَيْهَا وَعِنْدَهَا رَجُلٌ، قَالَ حَفْصٌ: فَشَقَّ ذَلِكَ عَلَيْهِ وَتَغَيَّرَ وَجْهُهُ ثُمَّ اتَّفَقَا، قَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّهُ أَخِي مِنَ الرَّضَاعَةِ، فَقَالَ: "انْظُرْنَ مَنْ إِخْوَانُكُنَّ، فَإِنَّمَا الرَّضَاعَةُ مِنَ الْمَجَاعَةِ".

مسروق دام المومنين عائشة رضي الله عنها نه روايت ان کوی فرمائی چه نبی علیه السلام زما خواته راغې اويو سړې زما خواته ناست وو حفص وئيلی دی چه دا کار نبی علیه السلام بدو ګڼلو اودغصی په وجه ئې دمخ رنګ بدل شو، عائشه رضي الله عنها عرض اوکړو اې دالله رسوله داخوزمارضاعی ورور دې نبی: علیه السلام اوفرمائيل اوګورئ اوسوچ وکړئ ستاسو اوررونه څوک دی؟ دپيورشته صرف دولږی په ورځو کښې وی (يعنی اوس ترې پرده کول پکاردي).

(۱): صحيح البخاري/الشهادات ۷(۲٦٤۷)، والنكاح ۲۲(۵۱۰۲)، صحيح مسلم/الرضاع ۸(۱٤۵۵)، سنن النسائي/النكاح ۵۱(۳۳۱٤)، سنن ابن ماجه/النكاح ۳۷(۱۹٤۵)، (تحفة الأشراف: ۱۷٦۵۸)، وقد أخرجه: مسند احمد(٦/ ۹٤، ۱۳۸، ۱۷٤، ۲٤۱)، سنن الدارمي/النكاح ۵۲(۲۳۰۲)(صحيح)

شرح حدیث:

واضح دي، د حدیث په اخر کښې دی چه رسول اللهﷺ ارشاد اوفرمائیل: انما الرضاعة من المجاعة... وفی القاموس الجوع ضد الشبع... وبالفتح مصدر جاع جوعا ومجاعة، یعنی جوع بالضم اسم مصدر دې او جوع بالفتح او مجاعة دا دواړه مصدرونه دی.

د دې مطلب دا دې چه رضاعت هغه معتبر دې کوم چه د لوږې د وجې نه وی، یعنی په کومه زمانه کښې د لوږې حل د پیو نه علاوه بل څیز نه وی شرعا هغه معتبر دې او ظاهره ده چه دا هم هغه رضاعت دې کوم چه د ماشومتوب په مخصوص موده کښې وی، پس ظاهره ده چه د ماشوم د پیدائش نه واخله تر دوه کالو پورې دا داسې زمانه ده چه په دې کښې د ماشوم خوراک فطرة او عادة د پیو نه علاوه بل هیڅ هم نه شی کیدې.

خان پوهه کړه چه د حدیث الباب نه دا خبره مستفاد کیږی چه په رضاعت کښې اصل څیز ازاله جوع ده او د دې ازالې تعلق وصول اللبن الی المعده دې لهذا ثبوت رضاعت دپاره براه راست په سینه باندې خوله لګولو سره څکل ضروری نه وی بلکه څنګه چه هم د زنانه پئ د ماشوم خیټې ته اورسیږی اکلا وشربا تردې چه په طریق د وجود او سعوط تول صورتونه په دې کښې داخل دی، البته په دې کښې لیث بن سعد او اهل ظاهر اختلاف دې حیث قالوا ان الرضاعة انما تکون بالتقام الثدی ومص اللبن منه(بذل)

[۲۰۵۹]([1]) حَدَّثَنَا عَبْدُ السَّلَامِ بْنُ مُطَهَّرٍ، أَنَّ سُلَيْمَانَ بْنَ الْمُغِيرَةِ حَدَّثَهُمْ، عَنْ أَبِي مُوسَى، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ ابْنٍ لِعَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: "لَا رِضَاعَ إِلَّا مَا شَدَّ الْعَظْمَ وَأَنْبَتَ اللَّحْمَ". فَقَالَ أَبُو مُوسَى: لَا تَسْأَلُونَا وَهَذَا الْحَبْرُ فِيكُمْ.

د ابن مسعود رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه تې ورکول هغه معتبردی(درضاع په احکامو کښې کوم چه هډوکی له طاقت ورکوی او غوښه زیاتوی، په دې وخت کښې ابوموسی اشعری اووئیل ترڅوپوری چه دا عالم(عبد الله بن مسعود) په تاسو کښې موجود وی نوزمانه دمسائلو تپوس مه کوئ.

﴿عن ابن مسعود... الخ﴾ یعنی رضاعت هغه معتبر دې چه په هغې سره د ماشوم هډوکی سخت او مضبوط وی او انبات لحم وی.

دا حدیث مختصر دې:

دا حدیث دلته مختصر دې، اصل واقعه هم هغه ده کومه چه حضرت په بذل کښې د بدائع الصنائع نه نقل کړې ده هغه دا دې چه د یو باندې په کور کښې پیدائش اوشو، د پیدائش نه څو ورځې پس ماشوم وفات شو، د ماشوم د مور په سینه کښې پئ راجمع شو او سینه اوپړسیده، نو د هغه زنانه خاوند د خپلې ښځې تکلیف نه کتلو سره داسې اوکړل چه د هغې د سینې نه پئ خوله کښې واچول او د تیرولو په ځائې ئې بهر اوغورځول، یو ځل ئې اتفاق سره څو قطرې د حلق نه لاندې تیرې شوې، هغه د دې په باره کښې د ابو موسی اشعری رضی الله عنه

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۹۶۳۸)، وقد أخرجه: مسند احمد(۴۳۲/۱)(ضعیف)

نه تپوس اوکړو، هغه ورته اوفرمائيل چه ستا ښځه په تا باندې حرامه شوه، هغه سړې د دې نه روستو عبدالله بن مسعود رضي الله عنه ته راغلو، هغه تپوس اوکړو چه ايا تا دا مسئله د بل چا نه هم تپوسلې ده؟ هغه جواب ورکړو چه نه! او د ابو موسى اشعرى رضي الله عنه نه مې تپوسلې ده او هغه راته اوفرمائيل چه ستا ښځه په تا باندې حرامه شوه (د رضاعى مور کيدو د وجې نه) په دې باندې هغه ابو موسى اشعرى رضي الله عنه ته لاړو او هغه ته ئې اوفرمائيل ﴿لا رضاع الا ما شد العظم﴾، په دې باندې ابو موسى اشعرى رضي الله عنه هغه خبره اوکړه کومه چه دلته په کتاب کښې مذکور ده چه ترڅو پورې دا عالم يعنى عبدالله بن مسعود رضي الله عنه په تاسو کښې موجود دې تر هغه وختنه پورې دې زما نه د مسئلې تپوس اونکړې شى.

دا اثر ابن مسعود رضي الله عنه په صحاح سته کښې صرف دلته ابوداود کښې دې، صاحب منهل ليکى واخرجه البيهقى من طريق المصنف، هم دغه شان اصل روايت مختصرا موطاء مالک کښې هم دى.

[۲۰۶۰] (۱) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سُلَيْمَانَ الْأَنْبَارِيُّ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ الْمُغِيرَةِ، عَنْ أَبِي مُوسَى الْهِلَالِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، بِمَعْنَاهُ، وَقَالَ: أَنْشَزَ الْعَظْمَ.

دابن مسعود نه دتير شوى روايت په شان روايت نقل شوې دې مګرپه دى روايت کښې ددې الفاظو اظافه ده: أَنشَزَ العَظمَ.

بَابٌ فِيمَنْ حَرَّمَ بِهِ

باب: د بالغ سړى د حرمت احکام

تير باب کښې او د هغې احاديث خو د جمهورو په تائيد کښې وو يعنى د رضاعت کبير نه عدم تحريم او دا باب د هغې مقابل دې چه په دې کښې د قائلين تحريم دليل بيان کړې شوې دې يعنى ظاهريه، عائشه، عروه، ليث بن سعد، عطاء او ابن تيميه وغيره.

[۲۰۶۱] (۲) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا عَنْبَسَةُ، حَدَّثَنِي يُونُسُ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، حَدَّثَنِي عُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ، عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأُمِّ سَلَمَةَ، أَنَّ أَبَا حُذَيْفَةَ بْنَ عُتْبَةَ بْنِ رَبِيعَةَ بْنِ عَبْدِ شَمْسٍ كَانَ تَبَنَّى سَالِمًا وَأَنْكَحَهُ ابْنَةَ أَخِيهِ هِنْدَ بِنْتَ الْوَلِيدِ بْنِ عُتْبَةَ بْنِ رَبِيعَةَ، وَهُوَ مَوْلًى لِامْرَأَةٍ مِنَ الْأَنْصَارِ، كَمَا تَبَنَّى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَيْدًا، وَكَانَ مَنْ تَبَنَّى رَجُلًا فِي الْجَاهِلِيَّةِ دَعَاهُ النَّاسُ إِلَيْهِ وَوُرِّثَ مِيرَاثَهُ، حَتَّى أَنْزَلَ اللهُ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى فِي ذَلِكَ: ادْعُوهُمْ لِآبَائِهِمْ إِلَى قَوْلِهِ: فَإِخْوَانُكُمْ فِي الدِّينِ وَمَوَالِيكُمْ سورة الأحزاب آية ۵، فَرُدُّوا إِلَى آبَائِهِمْ، فَمَنْ لَمْ يُعْلَمْ لَهُ أَبٌ كَانَ مَوْلًى وَأَخًا فِي الدِّينِ، فَجَاءَتْ سَهْلَةُ بِنْتُ سُهَيْلِ بْنِ عَمْرٍو الْقُرَشِيِّ، ثُمَّ الْعَامِرِيِّ، وَهِيَ امْرَأَةُ أَبِي حُذَيْفَةَ، فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللهِ، إِنَّا كُنَّا نَرَى سَالِمًا وَلَدًا، وَكَانَ يَأْوِي مَعِي وَمَعَ أَبِي حُذَيْفَةَ فِي بَيْتٍ وَاحِدٍ، وَيَرَانِي فُضُلًا، وَقَدْ أَنْزَلَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ فِيهِمْ مَا قَدْ عَلِمْتَ، فَكَيْفَ تَرَى فِيهِ؟ فَقَالَ لَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَرْضِعِيهِ"، فَأَرْضَعَتْهُ خَمْسَ رَضَعَاتٍ، فَكَانَ بِمَنْزِلَةِ وَلَدِهَا مِنَ الرَّضَاعَةِ، فَبِذَلِكَ كَانَتْ عَائِشَةُ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا تَأْمُرُ

---

(۱): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۹۶۳۸) (ضعيف) (روستنې روايت اوګورئ.)

(۲): سنن النسائي/النكاح ۵۳ (۳۳۲۱)، سنن ابن ماجه/النكاح ۳۶ (۱۹۴۳)، (تحفة الأشراف: ۱۶۷۴۰، ۱۸۱۹۷، ۱۸۳۷۷)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/المغازي ۱۲ (۲۹۶۰)، والنكاح ۱۵ (۵۰۸۸)، صحيح مسلم/الرضاع ۷ (۱۴۵۳)، موطا امام مالك/الرضاع ۲ (۱۲)، مسند احمد (۶/ ۲۵۵، ۲۷۱)، سنن الدارمي/النكاح ۵۲ (۲۳۰۳) (صحيح)

بَنَاتِ أَخَوَاتِهَا وَبَنَاتِ إِخْوَتِهَا أَنْ يُرْضِعْنَ مَنْ أَحَبَّتْ عَائِشَةُ أَنْ يَرَاهَا وَيَدْخُلَ عَلَيْهَا وَإِنْ كَانَ كَبِيرًا خَمْسَ رَضَعَاتٍ، ثُمَّ يَدْخُلُ عَلَيْهَا، وَأَبَتْ أُمُّ سَلَمَةَ وَسَائِرُ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُدْخِلْنَ عَلَيْهِنَّ بِتِلْكَ الرَّضَاعَةِ أَحَدًا مِنَ النَّاسِ حَتَّى يَرْضَعَ فِي الْمَهْدِ، وَقُلْنَ لِعَائِشَةَ: وَاللَّهِ مَا نَدْرِي؟ لَعَلَّهَا كَانَتْ رُخْصَةً مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِسَالِمٍ دُونَ النَّاسِ.

د ام المومنين عائشه او ام سلمه رضي الله عنها نه روايت دي فرمائى چه ابو حذيفة بن عتبة بن ربيعه سالم لره خپل متبنى جوړ كړې وو، اوسالم ديوى انصارى زنانه آزاد كړې شوې غلام وو لكه څنګه چه زيده دنبى عليه السلام تش په نوم خوى وو اودجاهليت په زمانه كښې دارواج وو چه چابه چاته څوى اووئيل نوهغه به ئې دهغه په نوم سره، يادولو اوهغه به دمرى وارث جوړيدو تردې پورې چه دا آيت كريمه «ادعوهم لآبائهم» نازل شو.تر «فإخوانكم في الدين ومواليكم» نو ددې ورځې نه خلقو به ددوى نسبت ددوى خپلو پلا رانوته كولو أودچاچه به پلار معلوم نه وو نوهغه به ددوى آزاد كړې شوې غلام يادينى ورور حسابيدو، نوسهله بنت سهيل دابوحذيفه په ښځه دنبى عليه السلام په خدمت كښې حاضره شوه اوعرض ئې اوكړو اې دالله رسوله مونږ خوبه سالم خپل ځوى ګڼړلو اوهغه به، زما او د ابوحذيفه رضي الله عنه سره يوځائې اوسيدلو اوزه به ئې دكور په لباس او يوائې والى كښې ليدلم اوس چه الله پاك ددوى په باره كوم حكم نازل كړې دې ته ددينه خبر ئې اوس زمادپاره څه حكم دې؟ نبى عليه السلام اوفرمائيل خپل پئ ورته وركړه، نوهغې ورته پنځه ځل خپل پئ وركړل ددې نه پس بياهغه به ددوى خوى ګڼړلې شو ددې حديث په وجه به عائشې رضي الله عنها خپلو وريرو او خورزوته حكم كولو چه هغه كس ته پئ وركړئ دچاچه عائشه رضي الله عنها ليدل غواړى اودهغې خواته راتلل اوغواړى اګرچه هغه لوى هلك وى ليكن پنځه ځل پئ به وركوئ ددې نه پس به بياهغه كس عائشې رضي الله عنها ته راتلو او ام سلمه اونورو ازواج مطهراتو به ددې نه انكاركولو چه دوى ته دى داسې څوك راشى چه هغه ته ئې پئ وركړى وى ترڅوچه هغه په ماشوم والى كښې پئ نه وى خوړلي، اوعائشې رضي الله عنها به وئيل كيدى شى چه نبى عليه السلام صرف سالم ته اجازت وركړې وى نه چه نورو خلقوته.

مضمون حديث :

روايت خو اوږد دې د دې حاصل دا دې چه يو هلک چه د هغه نوم سالم بن عبيد بن ربيعه دې هغه ته ابوحذيفه بن عتبه خپل متبنى جوړ كړې وو پس هغه د هغه سره اوسيدو تردې چه هغه لوئې شو او د نكاح قابل شو، حذيفه د هغه واده اوكړو او دا د هغه وخت خبره ده چه كله به د متبنى حكم د حقيقى څوئى وو، پس د ابوحذيفه كور والا به د سالم مخې ته راتله او پرده وغيره هيڅ نه وه تردې چه آيت كريمه ﴿ادعوهم لابائهم هو اقسط عند الله﴾ نازل شو او حكم سابق منسوخ كيدو سره د متبنى نه د پردې كولو حكم اوكړې شو، په دې باندې د ابوحذيفه رضي الله عنه ښځه سهله بنت سهيل رضي الله عنها د رسول الله صلى الله عليه وسلم په خدمت كښې كښې تلو سره خپل حال عرض كړو او د خپلې پريشانئ اظهار ئې اوكړو چه دا څه اوشو مونږ خو درې واړه په يوځائې كښې اوسيدو هيڅ قسم پرده نه وه. ﴿ويرانى فضلا﴾ (فضل) (بضم الفاء

والضاد) په لغت کښې هغه سړی یا زنانه ته وئیلې شی چه کومه په معمی او خراب لباس کښې وی یاهغه سړې کوم چه په پوره جامه کښې نه وی او د بدن بعض حصه ښکاره وی، دسهله مقصد دا ووچه که د دې پریشانئ څه حل وی نوهغه راته بیان کړئ.

﴿فقال لها النبی صلی الله علیه وسلم ارضعیه ﴾یعنی رسول الله ﷺ هغه ته دا حال بیان کړو چه ته هغه ته خپل پئ ورکړه د دې دپاره چه د رضاعت حرمت ثابتیدو سره د پردې حاجت باقی پاتې نه شی پس هغوی داسې اوکړل، وړاندې روایت کښې دی.

﴿فبذلک کانت عائشة تامر بنات اخواتها وبنات اخوتها ان یرضعن من احبت عائشة ان یراها ویدخل علیها ﴾یعنی چونکه د سیده عائشه رضی الله عنها په علم کښې دا د سهله بنت سهیل والا قصه وه چه هغې سره رضاعت کبیر ثابتیږی نو د کوم سړی په باره کښې چه به عائشې رضی الله عنها ته منظوره وې چه هغه به هغوی ته بغیر د پردې نه تلې راتلې شو نو خپلو وریرونو یا خورزو ته به ئې دا وئیلې شو چه هغوی ته پئ ورکړئ نو د دې نه صفا معلومیږی چه عائشه رضی الله عنها د رضاعت کبیر قائله وه خو نور ازواج مطهرات د هغوی د رائې سره اتفاق نه وو پس وړاندې په روایت کښې دی.

﴿وابت ام سلمة وسائر ازواج النبی صلی الله علیه وسلم ان یدخلن علیهن بتلک الرضاعة احدا من الناس حتی یرضع فی المهد الخ﴾

د جمهورو دلیل :

هم د دې روایت نه د جمهورو دلیل هم معلومیږی چه بقیه ازواج د سیده عائشه رضی الله عنها دا خبره نه وه تسلیم کړې. **کما فی حدیث الباب.**

بَابٌ هَلْ يُحَرِّمُ مَا دُونَ خَمْسِ رَضَعَاتٍ

باب: آیا د پنځه ځلو نه په کمو پیو خوړلو رضاعت ثابتیږی؟

د رضاعت په مسائلو کښې دا مسئله هم مختلف فیه ده چه ایا د حرمت رضاعت د ثبوت دپاره مطلق رضاعت کافی دې یا د دې څه خاص مقدار متعین دې، د جمهور علماء کرامو چه په هغوی کښې ائمه ثلاثه هم دی د هغوی په نزد صرف یو ځل ځکل کافی دی او امام شافعی رحمه الله په نزد پنځه کرته، وهو روایة عن احمد. ومذهب لابن حزم، او د داود ظاهری په نزد ثلاث مرات، وهو روایة عن احمد، د سیده عائشه رضی الله عنها په مسلک کښې مختلف روایات وارد دی په یو روایت کښې په دې کښې د هغه نه عشر مرات منقول دې او یو د سبع او یو خمس.

[۲۰۶۲](۱) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مَسْلَمَةَ الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي بَكْرِ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ حَزْمٍ، عَنْ عَمْرَةَ بِنْتِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّهَا قَالَتْ: "كَانَ فِيمَا أَنْزَلَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ مِنَ الْقُرْآنِ عَشْرُ رَضَعَاتٍ يُحَرِّمْنَ، ثُمَّ نُسِخْنَ بِخَمْسٍ مَعْلُومَاتٍ يُحَرِّمْنَ، فَتُوُفِّيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُنَّ مِمَّا يُقْرَأُ مِنَ الْقُرْآنِ".

[۱]: صحیح مسلم/الرضاع ٦(١٤٥٢)، سنن الترمذي/الرضاع ٣(١١٥٠)، سنن النسائي/النكاح ٥١(٣٣٠٩)، سنن ابن ماجه/النكاح ٣٥(١٩٤٤، ١٩٤٢)، (تحفة الأشراف: ١٧٨٩٧، ١٧٩١١)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الرضاع ٣(١٧)، مسند احمد(٦/٢٦٩)، سنن الدارمي/النكاح ٤٩(٢٢٩٩)(صحيح)

دام المومنين عائشة رضي الله عنها نه روايت دي فرمائي چه اول په قرآن كريم كښې دا حكم نازل شوی ووچه د سينې نه لس پيرې پئ څكل حرمت راولي بيادا حكم منسوخ شو اوصرف پنځه خله پئ رول درضاعت دثبوت دپاره باقي پاتي شول بيا نبي عليه السلام وفات شو اوهغه حكم په قرآن كريم كښې لوستلې كيږي.

قوله: ﴿عن عائشة رضى الله تعالى عنها انها قالت الخ ﴾

په دې مسئله كښې د جمهورو استدلال خو د آيت كريمه د اطلاق نه دې، وامهاتكم اللاتى ارضعنكم... او سيده عائشه رضي الله عنها روايات اول خو اخبار احاد دی، دويم دا چه هغه د عدد رضعات په باره كښې مختلف او مضطرب دی لكه چه دا روايات مختلفه په بذل المجهود كښې مذكور دی، پاتې شوه دا خبره چه سيده عائشه رضي الله عنها خو خپله د قران كريم د قراءت حواله وركوی. پس د دې جواب دا دې چه عائشه رضي الله عنها دا روايت د قران كريم په حيثيت نقل كوی او د قران كريم ثبوت بغير د تواتر نه نه شي كيدې، او كه هغې دا روايت د حديث په حيثيت باندې پيش كولې نو معتبر كيدې شو. والله تعالى اعلم

[۲۰۶۳](١) حَدَّثَنَا مُسَدَّدُ بْنُ مُسَرْهَدٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تُحَرِّمُ الْمَصَّةُ وَلَا الْمَصَّتَانِ".

دام المومنين عائشة رضي الله عنها نه روايت دي فرمائي چه نبي عليه السلام فرمائيلي دی يوځل يادوه خله پئ رول درضاعت حرمت نه واقع كوي.

﴿ عن عائشة رضى الله عنها قالت : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم لا تحرم المصة والمصتان﴾

مص په معنى د راښكلو او په دې كښې ﴿ة ﴾د مرة دپاره ده يعنى يو ځل راښكل، يعنى د ماشوم يو ځل د خپل مور سينه راښكل د حرمت سبب نه دې، پس د بعض علماء كرامو مذهب هم دا دې، زيد بن ثابت، ابوثور، ابن المنذر، داود ظاهري او احمد في رواية. د دې جواب خو مخكښې راغلو چه د عدد رضعات والا رواياتو كښې اختلاف او اضطراب دې او يو جواب خاص د دې روايت دا وركړې شوې دې چه ﴿انه محمول على ما اذا لم يتحقق وصول اللبن الى جوف الصبى ﴾لكه چه دا خبره په مشاهده كښې راغلې ده چه بعض وخت مور ماشوم ته پئ وركوی او سينه د هغه خوله كښې داخله هم كړی خو هغه ئې خوړل نه غواړی پس د مسلم په روايت كښې دی ﴿لا تحرم الاملاجة والاملاجتان ﴾

(١): صحيح مسلم/الرضاع ٥(١٤٥٠)، سنن الترمذي/الرضاع ٣(١١٥٠)، سنن النسائي/النكاح ٥١(٣٣١٢)، سنن ابن ماجه/النكاح ٣٥(١٩٤١)،(تحفة الأشراف: ١٦١٨٩)، وقد أخرجه: مسند احمد(٦/٣١، ٩٦، ٢١٦، ٢٤٧)، سنن الدارمي/النكاح ٤٩(٢٢٩٧)(صحيح)

بَابٌ فِي الرَّضْخِ عِنْدَ الْفِصَالِ

باب: د تی خورلو نه د بس کولو په وخت کښې ورته د انعام ورکولو بیان

رضخ معنی معمولی شان ورکړه او عطیه.

[۲۰۶۴]([1]) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ. ح وحَدَّثَنَا ابْنُ الْعَلَاءِ، حَدَّثَنَا ابْنُ إِدْرِيسَ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ حَجَّاجِ بْنِ حَجَّاجٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَا يُذْهِبُ عَنِّي مَذَمَّةَ الرَّضَاعَةِ؟ قَالَ: "الْغُرَّةُ الْعَبْدُ أَوِ الْأَمَةُ". قَالَ النُّفَيْلِيُّ: حَجَّاجُ بْنُ حَجَّاجٍ الْأَسْلَمِيُّ، وَهَذَا لَفْظُهُ.

دحجاج رضي الله عنه نه روایت دې فرمائی چه ما عرض وکړو اې دالله رسوله کوم داسې عمل وکړم چه دتی ورکونکی داحسان نه آزاد شم؟نبی عليه السلام اوفرمائیل غلام یاوینځه یعنی رضاعی مورته غلام یاوینځه خدمت دپاره ورکړه، نفیلی وئیلی دی حجاج بن حجاج اسلمی دی او دا دهغه دروایت الفاظ دي.

قوله: ﴿عن حجاج بن حجاج عن ابیه قال قلت یا رسول الله صلى الله عليه وسلم ما یذهب عن مذمة الرضاعة؟ قال المغرة العبد او الامة﴾

شرح حدیث:

د مذمت معنی د حق راځی، په ظاهره کښې د دې وجې نه چه په دې اضاعت سره انسان د مذمت مستحق کیږی، او دلته د دې نه هغه حق مراد دې کوم چه مرضعه ته حاصل وی د رضاعت د وجې نه، دلته دوه څیزونه دی یو اجرت رضاعت، کوم چه په تراضی طرفین سره متعین کولې شی، او دویم څیز هغه دې کوم چه مرضعه ته د فصال یعنی د تکمیل رضاعت نه پس په طور د ورکړې او انعام ورکولې شی هم د دې نه په مذمه سره تعبیر کولې شی، پس د هغه خلقو عادت وو چه هغوی به عند الفطام مرضعه ته د انعام په طور څه ورکول، په دې حدیث کښې هغه صحابی د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه هم دا تپوس اوکړو چه هغه ورکړه څه کیدل پکار دی، رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائیل یو غلام یا یوه وینزه.

ځان پوهه کړه چه د اعطاء رضخ حکم ایجابی نه دې، واجب خو د اصل اجرت ورکول دی، دا حکم استحبابی دې.

امام ترمذی رحمه الله چه په دې حدیث باندې کومه ترجمه قائم کړې ده هغه بلفظ الحدیث دې: ﴿باب ما یذهب مذمة الرضاع﴾د مصنف په ترجمه کښې د استنباط کولو شان دې پس په شروع کښې د دې کتاب په مقدمه کښې تیر شو چه د سنن ابی داود تراجم د سنن ترمذی د تراجم نه اوچت دی، او داهم په ذهن کښې ساتې چه د لفظ ﴿رضخ﴾ذکر په کتاب الجهاد کښې د مغانم په بیان کښې په کثرت سره راځی، د دې بحث د لاندې چه د غلام او زنانه دپاره باقاعده د غنیمت حصه نه وی البته هغوی ته رضخ ورکولې شی.

والحدیث اخرجه ایضا احمد والنسائی والترمذی وقال هذا حدیث حسن صحیح(المنهل)

---

[1]): سنن الترمذي/الرضاع ٦(١١٥٣)، سنن النسائي/النكاح ٥٦(٣٣٣١)،(تحفة الأشراف: ٣٢٩٥)، وقد أخرجه: مسند احمد(٣/٤٥٠)، سنن الدارمي/النكاح ٥٠(٢٣٠٠)(ضعيف)

بَابُ مَا يُكْرَهُ أَنْ يُجْمَعَ بَيْنَهُنَّ مِنَ النِّسَاءِ

باب: کومې کومې محرمې زنانه په نکاح کښې نشي جمع کیدې؟

یعنی هغه زنانه چه هغې سره فی نفسه نکاح خو جائز ده خو په هغوی کښې دوه په نکاح کښې جمع کول جائز نه دی، لکه چه په قران کریم کښې په بیان محرمات کښې دی. ﴿وان تجمعوا بین الاختین﴾ په دې آیت کریمه کښې خو تصریح صرف د جمع بین الاختین ده خو احادیث الباب او د صحابه کرام او تابعین او ائمه اربعه په اتفاق سره په دې کښې غیر اختین هم شامل کړې شوې دی چه د هغې ضابطه دا بیان کړې شوې ده چه داسې دوه زنانه چه که په هغوی کښې یو سړې فرض کړې شی نو د هغې نکاح به د بل سره جائز نه وی، ففی تفسیر الجلالین تحت قوله: وان تجمعوا بین الاختین ویلحق بهما بالسنة الجمع بینها وبین عمتها او خالتها. اهـ

[۲۰۶۵] ([1]) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، حَدَّثَنَا دَاوُدُ بْنُ أَبِي هِنْدٍ، عَنْ عَامِرٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تُنْكَحُ الْمَرْأَةُ عَلَى عَمَّتِهَا، وَلَا الْعَمَّةُ عَلَى بِنْتِ أَخِيهَا، وَلَا الْمَرْأَةُ عَلَى خَالَتِهَا، وَلَا الْخَالَةُ عَلَى بِنْتِ أُخْتِهَا، وَلَا تُنْكَحُ الْكُبْرَى عَلَى الصُّغْرَى، وَلَا الصُّغْرَى عَلَى الْكُبْرَى".

دابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی کریم ﷺ فرمائیلی دی په نکاح سره نشی اخستلې یوه ښځه په ترور (چه دمور دطرفه وی او که دپلار) دهغې، اونه یوه ښځه دهغې په وریرې باندې څکه چه ددې په سبب دصلحه ختمیدو او په دواړو کورونو کښې د دشمنۍ پیښیدو اندیښنه ده) از اونه په خورزې باندې اونه دورو ی خاندان والا ښځه په لوی خاندان والا ښځه باندې اونه دلوی خاندان واله ښځه دوړوی خاندان والا په ښځه باندې.

قوله: ﴿ عن ابی هریرة رضی الله تعالی عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم الخ ﴾

یعنی که د یو سړی په نکاح کښې د یوې زنانه وریره ده نو اوس دا سړې د هغې د ترور سره نکاح نه شی کولې، وکذا العکس یعنی که د هغه په نکاح کښې د مخکښې نه ترور وی نو اوس هغه د هغې د وریرې سره نکاح نه شی کولې او هم دا حال د خاله او خورزې دې (چه د مور د طرف نه وی) امام ترمذی رحمه الله په دې حدیث کښې فرمائی ﴿والامر علی هذا عند عامة اهل العلم لا نعلم بینهم اختلافا انه لا یحل للرجل ان یجمع بین المراءة وعمتها او خالتها اهـ﴾ خو په دې مسئله کښې د خوارجو اختلاف دې چه هغوی جمع بین المراءة وعمتها وبین المراءة وخالتها ته جائز وئیلې دی.

ځان پوهه کړه چه د جمع دوه صورتونه دی. ۱: فی النکاح، ۲: وفی الوطی. پس د جمهور علماء کرامو په نزد څنګه چه جمع بین المحارم بالنکاح ناجائز ده هم دغه شان جمع فی الوطی بملک الیمین هم ناجائز دې، او په دې دویم صورت کښې د شیعه ګانو اختلاف دې د هغوی په نزد جمع فی الوطی بملک الیمین جائز دې.

[1]: صحیح البخاري/النکاح ۲۷(۵۱۰۹)، سنن الترمذي/النکاح ۳۱(۱۱۲۶)، سنن النسائي/النکاح ۴۸(۳۲۹۸)،(تحفة الأشراف: ۱۳۵۳۹)، وقد أخرجه: صحیح مسلم/النکاح ٤(١٤٠٨)، سنن ابن ماجه/النکاح ۳۱(۱۹۳۰)، ۳۰(۱۱۲۶) موطا امام مالك/النکاح ۸(۲۰)، مسند احمد(۲/۲۲۹، ۲۵۵، ۳۹٤، ٤٠١، ٤٢٣، ٤٢٦، ٤٣٢، ٤٥٢، ٤٦٢، ٤٦٥، ٤٧٤، ٤٨٩، ٥٠٨، ٥١٦، ٥١٨، ٥٢٩، ٥٣٢)، سنن الدارمي/النکاح ۸(۲۲۲٤)(صحیح)

قوله: ﴿ ولا تنكح الكبرى على الصغرى ولا الصغرى على الكبرى ﴾ دا د ماقبل تاكيد دې، د كبرى نه مراد عمه او خاله او د صغرى نه مراد وريره او خورزه ده.

[۲۰۶۶](1) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا عَنْبَسَةُ، أَخْبَرَنِي يُونُسُ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، أَخْبَرَنِي قَبِيصَةُ بْنُ ذُؤَيْبٍ، أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا هُرَيْرَةَ، يَقُولُ: "نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُجْمَعَ بَيْنَ الْمَرْأَةِ وَخَالَتِهَا، وَبَيْنَ الْمَرْأَةِ وَعَمَّتِهَا".

دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه: نبي كريم ﷺ منع فرمائيلې ده چه - يوښځه دې دترورياڼو (چه دمور د طرفه وي اوكه د پلار سره په نكاح كښې جمع كړې شي.

[۲۰۶۷](2) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا خَطَّابُ بْنُ الْقَاسِمِ، عَنْ خُصَيْفٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ "كَرِهَ أَنْ يُجْمَعَ بَيْنَ الْعَمَّةِ وَالْخَالَةِ، وَبَيْنَ الْخَالَتَيْنِ وَالْعَمَّتَيْنِ".

دابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دې چه نبي عليه السلام منع فرمائيلې ده چه يوښځه دې ن دترور (چه دمور د طرفه وي اوكه د پلار سره په نكاح كښې جمع كړې شي اوددې نه ئې هم منع فرمائيلې ده چه دوه ترورياني (چه دمور د طرفه وي اوكه د پلار) دې په يووخت كښې ديوكس په نكاح كښې جمع كړې شي.

قوله: ﴿ وبين الخالتين والعمتين ﴾ په دې كښې دوه احتمالات دی اول دا چه خاله او خورزې لره او هم دغه شان عمه او خورزې لره تغليبا په خالتين او عمتين سره تعبير كړې شوې دې، او بل احتمال ئې دا دې چه دا په خپل ظاهر باندې دې يعنې د خالتين نه مراد داسې دوه زنانه چه خپل مينځ كښې د يو بل ترورياني وي او على هذا القياس عمتين، يعنې هغه دوه زنانه چه په دې كښې هر يو د بلې ترور وي، او داسې هم كيدې شي په دې كښې هيڅ اشكال نشته، پس د عمتين صورت دا كيدې شي چه دوه پردي سړي دي چه د هغوی پلار وفات شواو د هر يو مور موجود ده او س په هغوی كښې هر يو د بلې د مور سره نكاح اوكړه (پس هر يو په هغوی كښې د بل پلار شو) د هغې نه روستو د هر يو يوه يوه لور پيدا شوه، پس د هر يو لور په هغوی كښې د بلې جينئ ترور سره (3) ځكه چه هر يو په هغوی كښې د بل د پاره خور ده او د پلار خور ته عمه وئيلې شي.

او د خالتين مثال داسې دې چه دوه سړي دي چه په هغوی كښې هر يو د بل د لور سره نكاح اوكړه مثلا زيد د عمرو د لور سره او عمرو د زيد د لور سره نكاح اوكړه او بيا د هر يو نه يوه يوه جينئ پيدا شوه، پس دا دواړه جينكئ داسې دي چه هره يوه په دوی كښې د يو بل ترور ده.

(1): صحيح البخاري/ النكاح ۲۷(۵۱۱۰، ۵۱۱۱)، صحيح مسلم/النكاح ٤(۱٤۰۸)، سنن النسائي/ النكاح ٤۷(۳۲۹۱)،(تحفة الأشراف: ۱٤۲۸۸)، وقد أخرجه: مسند احمد(۲/٤۰۱، ٤۵۲، ۵۱۸)(صحيح)

(2): تفرد به أبو داود،(تحفة الأشراف: ۶۰۷۰)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/النكاح ۳۰(۱۱۲۵)، مسند احمد (۱/۲۱۷)(ضعيف)

(3) ...... تصوير العمتين



تصوير الخالتين



[۲۰۶۸]() حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَمْرِو بْنِ السَّرْحِ الْمِصْرِيُّ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي يُونُسُ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، قَالَ: أَخْبَرَنِي عُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ، أَنَّهُ سَأَلَ عَائِشَةَ زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ قَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى: وَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تُقْسِطُوا فِي الْيَتَامَى فَانْكِحُوا مَا طَابَ لَكُمْ مِنَ النِّسَاءِ سورة النساء آية ۳، قَالَتْ: "يَا ابْنَ أُخْتِي، هِيَ الْيَتِيمَةُ تَكُونُ فِي حِجْرِ وَلِيِّهَا، فَتُشَارِكُهُ فِي مَالِهِ فَيُعْجِبُهُ مَالُهَا وَجَمَالُهَا فَيُرِيدُ وَلِيُّهَا أَنْ يَتَزَوَّجَهَا بِغَيْرِ أَنْ يُقْسِطَ فِي صَدَاقِهَا، فَيُعْطِيَهَا مِثْلَ مَا يُعْطِيهَا غَيْرُهُ، فَنُهُوا أَنْ يَنْكِحُوهُنَّ إِلَّا أَنْ يُقْسِطُوا لَهُنَّ وَيَبْلُغُوا بِهِنَّ أَعْلَى سُنَّتِهِنَّ مِنَ الصَّدَاقِ، وَأُمِرُوا أَنْ يَنْكِحُوا مَا طَابَ لَهُمْ مِنَ النِّسَاءِ سِوَاهُنَّ"، قَالَ عُرْوَةُ: قَالَتْ عَائِشَةُ: "ثُمَّ إِنَّ النَّاسَ اسْتَفْتَوْا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ هَذِهِ الْآيَةِ فِيهِنَّ، فَأَنْزَلَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ: وَيَسْتَفْتُونَكَ فِي النِّسَاءِ قُلِ اللَّهُ يُفْتِيكُمْ فِيهِنَّ وَمَا يُتْلَى عَلَيْكُمْ فِي الْكِتَابِ فِي يَتَامَى النِّسَاءِ اللَّاتِي لَا تُؤْتُونَهُنَّ مَا كُتِبَ لَهُنَّ وَتَرْغَبُونَ أَنْ تَنْكِحُوهُنَّ سورة النساء آية ۱۲۷، قَالَتْ: وَالَّذِي ذَكَرَ اللَّهُ أَنَّهُ يُتْلَى عَلَيْهِمْ فِي الْكِتَابِ الْآيَةُ الْأُولَى الَّتِي قَالَ اللَّهُ سُبْحَانَهُ فِيهَا وَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تُقْسِطُوا فِي الْيَتَامَى فَانْكِحُوا مَا طَابَ لَكُمْ مِنَ النِّسَاءِ سورة النساء آية ۳، قَالَتْ عَائِشَةُ: وَقَوْلُ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ فِي الْآيَةِ الْآخِرَةِ: وَتَرْغَبُونَ أَنْ تَنْكِحُوهُنَّ سورة النساء آية ۱۲۷ هِيَ رَغْبَةُ أَحَدِكُمْ عَنْ يَتِيمَتِهِ الَّتِي تَكُونُ فِي حِجْرِهِ حِينَ تَكُونُ قَلِيلَةَ الْمَالِ وَالْجَمَالِ، فَنُهُوا أَنْ يَنْكِحُوا مَا رَغِبُوا فِي مَالِهَا وَجَمَالِهَا مِنْ يَتَامَى النِّسَاءِ إِلَّا بِالْقِسْطِ مِنْ أَجْلِ رَغْبَتِهِمْ عَنْهُنَّ". قَالَ يُونُسُ: وَقَالَ رَبِيعَةُ فِي قَوْلِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ: وَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تُقْسِطُوا فِي الْيَتَامَى سورة النساء آية ۳، قَالَ: يَقُولُ: اتْرُكُوهُنَّ إِنْ خِفْتُمْ، فَقَدْ أَحْلَلْتُ لَكُمْ أَرْبَعًا.

دعروة بن الزبير رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه دام المومنين عائشة رضي الله عنها نه مې دالله تعالى ددې قول: «وإن خفتم ألا تقسطوا في اليتامى فانكحواء ما طاب لكم من النساء سورة النساء» په باره كښې تپوس وكړودا حكم دهغه يتيمې دپاره دې كومه دخپل وارث زير پرورش وى اودهغې مال دخپل مال سره شريكوى اودهغې دمال اودجمال نه متاثره وى اوغواړى چه نكاح ورسره وكړى بغير دانصاف كولو نه دهغې سره په مهردهغې كښې اودى ته دومره څه وركوى څومره چه دې بل چاته وركوى نومومنان دداسې نكاح كولو نه منع كړى شول مگر داچه ددوى سره انصاف وكړى او پوره مهر. ورته وركړى دڅومره مهرچه دا لائق وى اوكه چرې داسې نشى كولى نو الله تعالى حكم كړى دى چه دبلى زنانه سره دى نكاح وكړى كومه چه دده خوښه وى اوديتيمى دنكاح كولو نه دى تيرشى، عروه وائى چه بيا عائشې رضي الله عنها ووئيل: چه ددې ايت دنازليدو نه پس خلقو نبى عليه السلام ديتيمانانو جينكو په باره كښې تپوس وكړونو په دې وخت كښې دا آيت كريمه «ويستفتونك في النساء قل الله يفتيكم فيهن وما يتلى عليكم في الكتاب في يتامى النساء اللاتي لا تؤتونهن ما كتب لهن وترغبون أن تنكحوهن» نازل شو، عروه وائى چه بيا عائشې رضي الله عنها ووئيل اوكوم آيت چه په قرآن كريم كښې لوستلى شى دهغې نه مراد اولنى آيت دې يعنى «وإن خفتم أن لا تقسطوا في اليتامى فانكحواء ما طاب لكم من النساء» ددې جزاء محذوف ده يعنى كه چرې. انصاف نشئ كولى د يتيمانانو جينكوسره نوددوى نه م تيرشئ اودبل چاسره نكاح وكړئ ځكه چه : دڅلورو ښځو پورې تاسو نكاح كولى شئ

() : صحيح البخاري/الشركة ۷(۲۴۹۴)، الوصايا ۲۱(۲۷۶۳)، تفسير سورة النساء ۱(۴۵۷۶)، النكاح ۱(۵۰۶۴)، ۱۶(۵۰۹۲)، ۱۹(۵۰۹۸)، ۳۶(۵۱۲۸)، ۳۷(۵۱۳۱)، ۴۳(۵۱۴۰)، الحيل ۸(۶۹۶۵)، صحيح مسلم/التفسير ۱(۳۰۱۸)، سنن النسائي/النكاح ۶۶(۳۳۴۸)، (تحفة الأشراف: ۱۶۶۹۳) (صحيح)

دا حدیث ډیر مشهور دی په صحیحین کښې هم موجود دې چه په هغې کښې حضرت عروه رحمه الله د سیده عائشه رضی الله عنها نه یو علمی تپوس کړې وو.

شرح حدیث:

د سوال حاصل دا دې چه دلته صرف د یو مضمون متعلق دوه آیتونه مونډلې شوې دی دواړه د سورة النساء آیتونه دی، یو د سورة په ابتداء کښې واقع دې او دویم وړاندې تلو سره د هغې په اخر کښې، رومبې آیت دې ﴿وان خفتم ان لا تقسطوا فی الیتامی الایة ﴾، او د دویم آیت کریمه مصداق ﴿ویستفتونک فی النساء الی اخر الایة ﴾دې، عروه رحمه الله د خپلې ترور عائشې رضی الله عنها نه د دې مقام تشریح طلب کوی چه د هغې نه د دواړو آیتونو فرق فهم ته راځی، ځکه چه دواړه آیتونه د یو مضمون سره متعلق دی، سیده عائشه رضی الله عنها چه د دې کوم تفسیر او تشریح بیان فرمائیلې ده مونږ هغه دلته په خپلو الفاظو باندې لیکی هغه دا چه یتیمې بچئ کوم چه د خپلې ولی ما تحتئ او سرپرستئ کښې شوې دی نو په بعض صورتونو کښې دا جینئ خپله د ولی نکاح هم نکاح جائز وی لکه د تره د خوئی نکاح د تره د لور سره، نو د جاهلیت په زمانه کښې به داسې وه چه که هغه یتیمه ذومال او ذوجمال وی نو هغه ولی په به خپله د هغې سره نکاح اوکړه خو مهر وغیره حقوق پوره نه ادا کول نو په دې باندې قران کریم کښې تنبیه اوکړې شوه او د سورة نساء اول آیت په دې سلسله کښې نازل شوې دې، ﴿وان خفتم ان لا تقسطوا فی الیتامی فانکحوا ما طاب لکم من النساء الایة ﴾که تاسو هغه جینئ ته پوره حق نه شئ ورکولې نو په دنیا کښې او د نورو جینکو کمې نشته د هغه نه سوا بل چا سره ودونه اوکړه.

بیا څه موده پس بعض صحابه کرامو د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه په دې سلسله کښې دوباره تپوس اوکړو په دې باندې د سورة نساء بل آیت نازل شو، ﴿ویستفتونک فی النساء قل الله یفتیکم فیهن وما یتلی علیکم فی الکتاب الخ ﴾

په دې آیت کریمه د عائشې رضی الله عنها د تفسیر مطابق دا فرمائیلې شوې دی چه کوم وخت هغه یتیمه قلیل المال والجمال وه نو تاسو(اې اولیاء) د هغې سره نکاح کول نه خوښوئ او چه کله هغه کثیر المال والجمال وی نو په دې صورت کښې ورسره نکاح کول غواړئ هغه هم داسې چه هغې ته پوره مهرنه ورکوئ،یعنی دا ډیره دخود غرضئ اوبې انصافئ خبره ده.والله اعلم

د پورته ذکر شوی تفسیر نه معلومه شوه چه د اول آیت تعلق د یتیمې سره دې کوم چه مرغوب فیها وی، لکثرة المال والجمال او د آیت ثانیه تعلق د هغه یتیمې سره دې کومه چه د قلة المال والجمال د وجې نه مرغوب عنها ده[۱]، هم دغه شان په آیت ثانیه کښې د آیت اولی هم حواله ده، قل الله یفتیکم فیهن وما یتلی علیکم، د دې ما یتلی نه آیت اولی مراد دې، یعنی آیة اولی تاته فتوی بیانوی، اوس لوستلو والا طالبانو لا پکار دی چه زمونږ دې تقریر لره په دې روایت باندې منطبق کړی ان شاء الله تعالی... د غور کولو نه پس په سهولت

[۱] د رغبت صله چه کله فی وی نو د دې معنی د طلب وی او کله چه عن وی نو بیا ئې معنی اعراض وی

انطباق کیدې شی خو دا ټول هر څه هم د هغه دپاره دی کوم چه د کتاب د حل طالب وی. د سهولت خوښونکو طبیعتونو دپاره خو به د دې څه خاص ضرورت نه وی. والله الموفق

د دې حدیث د ترجمة الباب سره په ظاهره څه مناسبت نشته، اللهم الا ان یقال که د یو سړی نګرانی او ولایت کښې څو یتیمان وی چه هغه سره د هغه نکاح جائز وی نو هغه که د هغوی سره نکاح اوکړی نو په داسې طریقه دې نه کوی نو په داسې طریقه دې نه کوی چه هغې سره هغه جمع لازم شی کوم چه جائز نه دې.

والحدیث اخرجه البخاری ومسلم والنسائی، قاله المنذری

[۲۰۶۹](١) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ بْنِ سَعْدٍ، حَدَّثَنِي أَبِي، عَنِ الْوَلِيدِ بْنِ كَثِيرٍ، حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ عَمْرِو بْنِ حَلْحَلَةَ الدِّيلِيُّ، أَنَّ ابْنَ شِهَابٍ حَدَّثَهُ، أَنَّ عَلِيَّ بْنَ الْحُسَيْنِ حَدَّثَهُ، أَنَّهُمْ حِينَ قَدِمُوا الْمَدِينَةَ مِنْ عِنْدِ يَزِيدَ بْنِ مُعَاوِيَةَ مَقْتَلَ الْحُسَيْنِ بْنِ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، لَقِيَهُ الْمِسْوَرُ بْنُ مَخْرَمَةَ فَقَالَ لَهُ: هَلْ لَكَ إِلَيَّ مِنْ حَاجَةٍ تَأْمُرُنِي بِهَا؟ قَالَ: فَقُلْتُ لَهُ: لَا، قَالَ: هَلْ أَنْتَ مُعْطِيَّ سَيْفَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ فَإِنِّي أَخَافُ أَنْ يَغْلِبَكَ الْقَوْمُ عَلَيْهِ، وَايْمُ اللَّهِ لَئِنْ أَعْطَيْتَنِيهِ لَا يُخْلَصُ إِلَيْهِ أَبَدًا حَتَّى يُبْلَغَ إِلَى نَفْسِي، إِنَّ عَلِيَّ بْنَ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ خَطَبَ بِنْتَ أَبِي جَهْلٍ عَلَى فَاطِمَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، فَسَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَخْطُبُ النَّاسَ فِي ذَلِكَ عَلَى مِنْبَرِهِ هَذَا وَأَنَا يَوْمَئِذٍ مُحْتَلِمٌ، فَقَالَ: "إِنَّ فَاطِمَةَ مِنِّي، وَأَنَا أَتَخَوَّفُ أَنْ تُفْتَنَ فِي دِينِهَا"، قَالَ: ثُمَّ ذَكَرَ صِهْرًا لَهُ مِنْ بَنِي عَبْدِ شَمْسٍ فَأَثْنَى عَلَيْهِ فِي مُصَاهَرَتِهِ إِيَّاهُ فَأَحْسَنَ، قَالَ: "حَدَّثَنِي فَصَدَقَنِي، وَوَعَدَنِي فَوَفَّى لِي، وَإِنِّي لَسْتُ أُحَرِّمُ حَلَالًا وَلَا أُحِلُّ حَرَامًا، وَلَكِنْ وَاللَّهِ لَا تَجْتَمِعُ بِنْتُ رَسُولِ اللَّهِ وَبِنْتُ عَدُوِّ اللَّهِ مَكَانًا وَاحِدًا أَبَدًا".

دعلی بن حسین نه روایت دې فرمائی کله چه هغه خلق دیزیدنه واپس مدینې ته راغلل په کوم وخت کښې چه سیدنا حسین خانه شهید شوې وو نوددوی سره مسور بن مخرمة ملاقات اوکړو او وئې وئیل اکه چرې زماسره دی څه کاروی نو اووایه ماورته : اووئیل څه کارخونشته مسور داخبره دوباره بیا اوکړه ماهغه ته اووئیل دنبی ﷺ توره به رانکړې زماسره دا ویره ده چه چرته خلق ئې درنه وانخلي، په و پله مې دی قسم وی که چرې دغه توره ته ماته راکړې نوزمانه ئې هیڅوک نشته آخستل ترڅوچه زه ژوندې یم، اوعلی نه دفاعنه رضی الله عنها په موجودګۍ کښې دابوجهل لور ته دنکاح پیغام لیږلي وو اومادنبی ﷺ نه په دې باره کښې واوریدل کله چه په ممبرئې خلقوته خطبه ورکوله فاطمه زمادجګرټوکړه ده اوزماسره دا ویره ده هسی نه چه ددې په دین کښې فساد راشی ددې نه پس نبی ﷺ دخپل بل زوم کوم چه دبنی عبدشمس قبیلی والاوو دهغه حال ئې بیان کړو (یعنی عثمان بن عفان نه) اودهغه ئې ډیر اعلی تعریف اوتوصیف بیان کړو او وې وئیل کله چه هغه ماته څه خبره کړیده نورېښتیائې وئیلی دی اوچه کله ئې راسره وعده کړی ده نوهغه ئې پوره کړی ده اوزه حلال نه حراموم اونه حرام حلالوم (یعنی ددویمی نکاح نه منع نه کوم ځکه چه شرعا دڅلورو

(١): صحيح البخاري/الجمعة ٢٩(٩٢٦)، فرض الخمس ٥(٣١١٠)، المناقب ١٢(٣٧١٤)، ١٦(٣٧٢٩)، النكاح ١٠٩(٥٢٣٠)، الطلاق ١٣(٥٢٧٨)، صحيح مسلم/فضائل الصحابة ١٤(٢٤٤٩)، سنن ابن ماجه/النكاح ٥٦(١٩٩٩)، سنن النسائي/ الكبرى/ المناقب(٨٣٧٢)، (تحفة الأشراف: ١١٢٧٨)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/المناقب ٦١(٣٨٦٧)، مسند احمد(٣٢٦/٤)(صحيح)

بنځوپوری نکاح درست ده، لیکن په الله مې دی قسم وی داسې هم نشی کیدې چه دالله درسول لور اودالله دشمن لور په یوځائې کښې جمع شی (یعنی دابوجهل لور اود نبی ﷺ لوردعلی فله په نکاح کښې جمع کیدل).

د حدیث تشریح :

د دې حدیث راوی علی بن الحسین بن علی یعنی امام زین العابدین دی کوم چه د سیدنا علی رضی الله عنه نمسی وی هغه روایت کوی چه کله مونږ د یزید د خوا یعنی د شام نه مدینې منورې ته راروان وو، د سیدنا حسین رضی الله عنه د قصې نه پس (کوم چه په یوم عاشورا ۶۱ھ کښې راپیښ شوې وو) نو په لاره کښې د هغه د مسور بن مخرمه سره او د هغوی سیدنا علی بن الحسین نه د دلدارئ په طور عرض اوکړو، هل لک الی من حاجة؟ حضرت که څه خدمت وی نو زه حاضر یم، حکم اوفرمایئ. علی وائی چه ما اووې چه نه هیڅ حاجت نشته.([1]) ﴿قال هل انت معطی سیف رسول الله صلی الله علیه وسلم فانی اخاف ان یغلبک القوم علیه ﴾ سیدنا مسور بن مخرمه رضی الله عنه ئې د مزید زړه ساتلو دپاره اوفرمائیل: چه تا سره چه د رسول الله ﷺ کومه مشوره توره ده (چه د هغې نوم ذوالفقار دې) ایا تاسو هغه ماته حواله کولې شئ (د حفاظت دپاره) ځکه چه ماته خطره ده چه چرته دا بنو امیه دا ستاسو نه وانخلی، او قسم په الله زما دا حال دې چه که دا تاسو ماته راکړه نو بیا هغې ته د چا رسیدل ممکن نه دی مګر دا چه زه قتل کړې شم. تر اوسه پورې دا مکالمه او خبرې ظاهره ده چه د اهل بیت خدمت او خوا خاطر کښې ده چه دې وخت کښې دا حضرات انتهائی مظلوم او بې وسئ حالت کښې وو، خصوصا چه هر کله دا ملاقات هم په واپسئ باندې په لاره کښې کیدلو، وړاندې حضرت مسور رضی الله عنه یوه زړه واقعه بیانوی.

هغه دا چه سیدنا علی رضی الله عنه چه کله د سیده فاطمه رضی الله عنها د هغه په نکاح کښې د کیدو باوجود د ابو جهل لور([2]) ته د نکاح پیغام اولیږلو (چه هغې سره ظاهره ده رسول الله ﷺ ته تکلیف اورسیدلو) نو ما د رسول الله ﷺ نه په دې منبر شریف باندې خطاب کولو سره واوریدل چه فاطمه زما نه ده او د دې نکاح ثانی نه (چه د هغې علی اراده فرمائیلې ده) زما ویره ده چه هغه د خپل دین په باره کښې په فتنه کښې اخته نه شی (په ضرتین کښې چه کوم یو غیرت وی او بعض نا مناسب خبرې راپیښیږی د هغې طرف ته اشاره ده)، هم دغه شان په دې موقع باندې رسول الله ﷺ خپل زوم ابو العاص بن الربیع رضی الله عنه هم ذکر فرمائیلې دې او رسول الله ﷺ ئې تعریف اوکړو، د رشته دارئ د لحاظ نه، او فرمائی ﴿حدثنی فصدقنی ووعدنی

[1]) زه وایم چه په دې باندې ما هغه قصه رایاده شوه چه کله ابراهیم علیه السلام اور ته د غورځولو دپاره بوتلې شو نو هغه وخت د هغه په خدمت کښې سیدنا جبرائیل علیه السلام راغلو او هم دا عرض نې اوکړو چه زه ستا د خدمت دپاره حاضر یم که څه حاجت وی نو هغه راته بیان کړئ نو په دې باندې ورته هغه اوفرمائیل : اما الیك فلا، چه ستا نه مې هیڅ حاجت نشته، الله اکبر څه عجیب شان دی د انبیاء علیهم الصلاة والسلام)

[2]) د هغې په نوم کښې اختلاف دې په بذل کښې مختلف نومونه لیکلې شوې دی. قیل اسمها جویریه، وهو الاشهر، وقیل العوراء، وقیل الحیفاء وقیل جمیلة)

فوفانی ﴾د دې یوې خاص واقعې طرف ته هغه اشاره اوفرمائیله، وړاندې راځی ﴿وانی لست احرم حلالا ولا احل حراما ولکن والله لا تجمع بنت رسول الله صلی الله علیه وسلم وبنت عدو الله مکانا واحدا ابدا ﴾رسول الله ﷺ سیدنا علی رضی الله عنه په دې پیغام نکاح باندې نکیر اوفرمائیلو، دې باره کښې مزید وضاحت فرمائی، او د دې جملې تشریح کښې د شارحینو دوه اقوال دی، اول دا چه د دې نکاح ثانی تحریم زما د طرف نه نه دې بلکه د الله پاک د طرف نه دې او دا چه د تحریم او تحلیل مدار په ما باندې نه دې، دویم مطلب دا دې چه اګر چه نکاح ثانی فی حد ذاته جائز او حلال ده خو څونکه زما د تکلیف سبب دې نو د دې عارض د وجې نه د هغه په حق کښې حلال نه دې ځکه چه نبی ته تکلیف ورکول حرام دی، هم دغه شان فرمائی چه دا څنګه کیدې شی چه د رسول الله ﷺ لور او د عدوالله دواړو لونړه دې جمع شی.

هغه قصه چه د هغې طرف ته په حدیث کښې اشاره ده:

هغه واقعه چه د هغې حواله پورته ورکړې شوې ده لکه چه په کتب حدیث وسیر کښې مشهوره ده چه د رسول الله ﷺ مشره لور سیده زینب رضی الله عنها د ابو العاص بن الربیع رضی الله عنه د اسلام قبلولو نه مخکښې هم د هغه په نکاح کښې وه او دا ابو العاص بن الربیع رضی الله عنه د اسلام قبلولو نه مخکښې د هغه په نکاح کښې وه، او دا ابو العاص د مشرکین مکه سره څونکه په جنګ بدر کښې شریک وو او نور د بدر قیدیان ورسره قید شوې وو، د بدر د قیدیانو په باره کښې فیصله اوشوه چه هغوی کښې به د هر یو نه د هغه د حیثیت مطابق فدیه وصول کولې شی او هغه به پریخودلې شی، په دې فیصله باندې ابو العاص رضی الله عنه خپله فدیه پیش کړې وه او هغه هغه امیل وو کوم چه خدیجة الکبری رضی الله عنها سیده زینب رضی الله عنها ته په جهیز کښې ورکړې وو، چه کله پرې د رسول الله ﷺ نظر پریوتلو نو هغه ډیر زیات خفه شو نو رسول الله ﷺ د خپلو ملګرو سره مشوره کولو نه پس هغه امیل هغه ته واپس کړو او د هغه نه ئې دا وعده واخستله چه هغه به مکې ته تلو سره زینب رضی الله عنها لره مدینې ته لیږی، د بل طرف نه ورپسې رسول الله ﷺ خپل دوه ملګری اولیږل چه هغوی مکې ته نژدې لاړ شی او زینب د خپل ځان سره راولی، پس هم دغه شان اوشوه په دې کښې نورې هم څه خبرې راپیښې شوې وې کوم چه د حدیث او سیرت په کتابونو کښې مذکور دی، په دې خطبه کښې رسول الله ﷺ د ابو العاص رضی الله عنه د وعدې وفا کولو تعریف کړې وو هغه هم دا دې

د دې نه پس ځان پوهه کړئ چه سیدنا مسور بن مخرمه رضی الله عنه په دې موقع باندې د سیدنا علی بن الحسین رضی الله عنه په وړاندې دا د پیغام نکاح والا واقعه ولې او په څه مناسبت سره بیان اوفرمائیلو په دې کښې د بخاری د شارحینو رائې مختلف منقول دی کومه چه حضرت په بذل المجهود کښې ذکر فرمائیلې ده، د مناسبت یوه وجه چه هغه ډیره ظاهره ده دا بیان کړې شوې ده چه سیدنا مسور بن مخرمه رضی الله عنه دې طرف ته اشاره کول غوښتل چه څنګه د رسول الله ﷺ مقصود د فاطمې رضی الله عنها زړه ساتل او د هغې خاطر کول وو هم دغه شان زه هم دې وخت کښې ستاسو یعنی اهل بیت په خاطر کښې دا هر څه عرض کوم.

والحدیث اخرجه احمد والبخاری ومسلم (المنهل)

[٢٠٧٠](¹) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ فَارِسٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ و أَيُّوبَ، عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ بِهَذَا الْخَبَرِ، قَالَ: فَسَكَتَ عَلِيٌّ عَنْ ذَلِكَ النِّكَاحِ.

ایوب دابن أبی ملیکه نه مذکوره روایت نقل کړې دې مګردا اضافه ئې کړیده، راوی وائی چه علی نه ددې نکاح کولو نه تیرشو (یعني منع شو.)

شرح السند :

﴿وعن ایوب ﴾ددې عطف په زهری باندې دې لهذا دحدیث دوه طریق شو، معمر عن الزهری عن عمرو، او معمر عن ابن ابی ملیکه)اوس دا چه د دې نه وړاندې سند څنګه دې نو ظاهره ده چه دا دواړه (عروه او ابن ابی ملیکه) د مسوربن مخرمه نه روایت کوی، كذا في البذل والمنهل

[٢٠٧١](²) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، وَقُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ الْمَعْنَى، قَالَ أَحْمَدُ: حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ الْقُرَشِيُّ التَّيْمِيُّ، أَنَّ الْمِسْوَرَ بْنَ مَخْرَمَةَ حَدَّثَهُ، أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْمِنْبَرِ، يَقُولُ: "إِنَّ بَنِي هِشَامِ بْنِ الْمُغِيرَةِ اسْتَأْذَنُونِي أَنْ يُنْكِحُوا ابْنَتَهُمْ مِنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ، فَلَا آذَنُ، ثُمَّ لَا آذَنُ، ثُمَّ لَا آذَنُ، إِلَّا أَنْ يُرِيدَ ابْنُ أَبِي طَالِبٍ أَنْ يُطَلِّقَ ابْنَتِي وَيَنْكِحَ ابْنَتَهُمْ، فَإِنَّمَا ابْنَتِي بَضْعَةٌ مِنِّي يُرِيبُنِي مَا أَرَابَهَا وَيُؤْذِينِي مَا آذَاهَا". وَالْإِخْبَارُ فِي حَدِيثِ أَحْمَدَ.

دمسور بن مخرمه نه روایت دې فرمائی چه ما د نبی ﷺ نه اوریدلی وو چه پخپل محمبرئې فرمائیل بن هشام بن مغیره زمانه اجازت وغوښتو چه دخپل لورنکاح دعلی نه سره وکړی او زه هغوی ته هیڅ کله ددې اجازت نه ورکوم، ددې اجازت نه ورکوم، ددې اجازت نه ورکوم، مګرداکیدې شی چه علی ماه مالورته طلاق ورکړی اوددوی دلورسره نکاح وکړی زمالور فاطمه زمادجګرتوکره ده کومه خبره چه فاطمی ته تکلیف ورکوی هغه ماته هم تکلیف راکوي، اودا الفاظ داحمد بن یونس دروایت دي.

قوله : ﴿ان بنی هشام بن المغيرة استاذنوا ان ينكحوا ابنتهم ﴾دا بنو هشام د ابو جهل رور دې او د ابوجهل د کومې لور د نکاح ذکر چه دلته شروع دې دا د هغې تره دې، هشام د ابوجهل د پلار نوم دې، حافظ لیکلې دی چه د ابوجهل دوه رونړه حارث بن هشام او سلمه بن هشام د فتح مکه په کال باندې اسلام راوړې دې، هم دغه شان حافظ فرمائی چه د دې بنو هشام په مصداق کښې عکرمه بن ابی جهل هم داخل دې، او اګر چه خپله ابو جهل هم په بنو هشام کښې دې خو هغه په دوی کښې داخل په دې وجه نه دې چه هغه د دې واقعې نه مخکښې جنګ بدر کښې هلاک شوې وو.

¹): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١١٢٧٨)(صحيح)

²): صحيح البخاري/المناقب ١٢(٣٧١٤)، صحيح مسلم/فضائل الصحابة ١٤(٢٤٤٩)، سنن الترمذي/المناقب ٦١(٣٨٦٧)، سنن النسائي/الكبرى/ المناقب(٨٣٧٠، ٨٣٧١)، (تحفة الأشراف: ١١٢٦٧)، وقد أخرجه: مسند احمد(٣٢٨/٤)(صحيح)

بَابٌ فِي نِكَاحِ الْمُتْعَةِ

باب: د متعې بيان

ځان پوهه کړه چه د نکاح بنا او وضع په دوام او بقاء باندې ده، يعنی نکاح او ازدواجی رشته د څه عارضی تعلق نوم نه دې بلکه د ژوند مضبوط تعلق او رشته ده، دا جدا خبره ده چه د ضرورت او مجبورئ په وخت انسان دا منقطع کولې شی د طلاق په ذريعې سره، لهذا که د يو نکاح بنياد په دوام او استقرار باندې نه وی نو دا به شرعی نکاح نه وی او نه د داسې نکاح شريعت مطهره اجازت ورکړې دې هم په دې وجه په شريعت اسلاميه کښې متعه نکاح موقت دواړو ته حرام او ناجائز کړې شوې دې.

په متعه او نکاح موقت کښې فرق:

د دې نه پس چه فقهاء کرامو د متعه او نکاح موقت کوم تعريف بيان فرمائيلې دې هغه واورئ! په هدايه کښې ئې تعريف دا دې: ﴿وهو ان يقول لامراءة اتمتع بک کذا مدة بکذا من المال﴾(زه به ستا نه د دومره مال په عوض کښې دومره موده فائده اوچتوم) او د نکاح موقت تعريف داسې دې ﴿مثل ان يتزوج امراءة بشهادة شاهدين الی عشرة ايام﴾په دې باندې شارح هدايه بابرتی ليکی چه د مصنف د عبارت نه معلوميږی چه په متعه او نکاح موقت کښې دوه فرقونه دی اول دا چه نکاح متعه لفظ تمتع يا استمتاع سره خاص دې او نکاح موقت لفظ نکاح يا تزوج سره وی، او بل فرق دا چه په نکاح موقت کښې شهود د شاهدين وی په متعه کښې نه، بله دا چه په نکاح موقت کښې موده معين وی په خلاف د متعه چه په هغې کښې عام دې که معين وی لکه ﴿عشرة ايام﴾يا غير معين لکه اياما، خو په دې ذکر شوی فرق باندې شيخ ابن الهمام رحمه الله بحث کړې دې هغه داسې فرمائی چه متعه عام ده د ماده تمتع کيدل په دې کښې ضروری نه دی، لهذا نکاح موقت د افراد متعه نه دې، پس حاصل دا چه د نکاح متعه مصداق هغه نکاح دې چه په هغې کښې تابيد مقصود نه وی، که په لفظ د تمتع سره وی يا تزوج او نکاح سره يا بغير د دې الفاظو نه وی، که احضار شهود وی يا نه وی.

● متعه په باره کښې په روايات مختلفه کښې توجيه:

ځان پوهه کړه چه نکاح متعه د هغه احکاماتو نه ده چه په هې کښې تعدد نسخ واقع شوې دې، د اسلام په اوله زمانه کښې دا جائز کړې شوې وه، د مضطر دپاره د اکل ميتة په شان بيا دا حرام کړې شوه، او د دې په حرمت باندې اجماع منعقد شوه سواء د يوې طائفې مبتدعې شيعه نه، حضرت په بذل المجهود کښې ليکی چه د اسلام په ابتداء کښې دا جائز کړې شوې وه او بيا د خيبر په زمانه کښې او د هغې نه روستو منسوخ کړې شو، د دې نه روستو بيا دوباره دا مباح کړې شو، په غزوه فتح مکه کښې، بيا دوباره نسخ واقع شوه د هميش هميش دپاره، په شروع کښې بعض صحابه کرام د دې د اباحت قائل وو د عدم بلوغ د وجې نه بيا چه کله هغه ته نسخ اورسيده نو هغه د اباحت نه رجوع اوکړه او د دې په حرمت باندې اجماع منعقد شوه، البته روافض د دې د اباحت قائل پاتې شوې دی، حضرت ليکی

تعجب دې په دې روافضو باندې چه دوی د دې د اباحت څنګه قائل دی حال دا چه هغوی ځان منسوب کوی د سیدنا علی رضی الله عنه طرف ته او د علی رضی الله عنه نه د دې حرمت مؤبده ثابت دې، پس دا د نفسانی خواهش او شیطانی دهوکې نه علاوه هیڅ هم نه دی، او دهغوی خو اکثر مذهبی مسائل هم دغه شان دی او د متعه بحث او مسئله اوږده ده کومه چه په مطولات کښې ذکر شوې ده. اهـ او حافظ صاحب فرمائی چه د امام شافعی رحمه الله نه منقول دی چه په اسلام کښې یو څیز هم داسې نه دې چه په هغې کښې دوه کرته تحلیل او تحریم واقع شوې وی سوا د متعې نه،(١) او بعض خو داسې وئیلې دی چه په دې کښې درې کرته نسخ واقع شوې ده او د دې نه زیات هم وئیلې شوې دی او ددې تائید د اختلاف روایات نه کیږی کوم چه د تحریم دوخت په باره کښې راغلې دی، بیا وړاندې حافظ رحمه الله فرمائی چه د ټول نه غوره خبره هغه ده کوم چه بعض محققینو اختیار کړې ده چه د متعه علت چه کله هم راغلې دې د سفر په حالت کښې راغلې دې. د حضر په حالت کښې کله هم د دې اباحت نه دې راغلې، پس د ابن مسعود رضی الله عنه حدیث دې چه ﴿کنا نغزو ولیس لنا نساء فرخص لنا ان ننکح﴾ الی اخر ما فی الحل المفهم.

(ولا یخفی علیک ما تقدم فی الجزء الاول من الدر المنضود فی باب ترک الوضوء مما مست النار ما نقل عن بعضهم من تعدد النسخ فی احکام عدیدة. ١٢)

د دې قسم احکام چه په هغې کښې تعدد نسخ دې هغه څلور دی. قبله، متعه، لحوم حمر اهلیه، الوضوء مما مست النار.

مسلک ابن عباس :

هم دغه شان په صحابه کرامو کښې د ابن عباس رضی الله عنه په باره کښې مشهوره ده چه هغه د دې د اباحت قائل وو، امام نووی رحمه الله فرمائی ﴿وروی عنه انه رجع عنه﴾او په الحل المفهم کښې دې باره کښې لیکلې دی چه بعض علماء کرام د هغه رجوع نه منی بلکه هغوی د هغه مسلک اباحت لیکلې دې، نور تفصیل دې هم هلته اوکتلې شی.

دا دې هم په ذهن کښې وی لکه چه مخکښې تیر شو چه دلته دوه څیزونه دی یو نکاح متعه دویم نکاح موقت کښې وی هغې ته کالعدم منلو سره اصل نکاح جائز کړې ده او دا شرط فاسد ئې لغو کړو ځکه چه نکاح په هغه عقود کښې دې کوم چه د شرط فاسد د وجې نه فاسد نه وی بلکه شرط فاسد لغو کیږی.

[٢٠٧٢](٢) حَدَّثَنَا مُسَدَّدُ بْنُ مُسَرْهَدٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ، عَنْ إِسْمَاعِيلَ بْنِ أُمَيَّةَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، قَالَ: "كُنَّا عِنْدَ عُمَرَ بْنِ عَبْدِ الْعَزِيزِ فَتَذَاكَرْنَا مُتْعَةَ النِّسَاءِ، فَقَالَ لَهُ رَجُلٌ يُقَالُ لَهُ: رَبِيعُ بْنُ سَبْرَةَ: أَشْهَدُ عَلَى أَبِي أَنَّهُ حَدَّثَ،

---

١) ولا یخفی علیکم ما تقدم فی الجزء الاول من الدر المنضود فی باب ترک الوضوء مما مست النار ما نقل عن بعضهم من تعدد النسخ فی احکام عدیدة،١٢، داسې قسم احکام چه په هغې کښې تعدد د نسخ وی هغه څلور دی: قبله، متعه، لحوم حمر اهلیه، الوضوء مما مست النار.

٢): صحیح مسلم/النکاح ٣(١٤٠٦)، سنن النسائي/النکاح ٧١(٣٣٧٠)، سنن ابن ماجه/النکاح ٤٤(١٩٦٢)،(تحفة الأشراف: ٣٨٠٩)، وقد أخرجه: مسند احمد(٣/٤٠٤، ٤٠٥)، سنن الدارمي/النکاح ١٦(٢٢٤٢)

أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْهَا فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ".

امام زهری رحمه الله نه روایت دې فرمائی چه موږ د عمربن عبدالعزیزسره وو په دې وخت کښې دهغه په وړاندې دمتعې ذکروشو هلته ربیع بن سبره موجود وو هغه اووئیل مادخپل پلار نه اوریدلی دی چه نبی علیه السلام په حجة الوداع کښې دمتې نه منع فرمائیلی ده.

﴿فقال رجل یقال له ربیع بن سبرة اشهد علی ابی انه حدث ان رسول الله صلی الله علیه وسلم نهی عنها فی حجة الوداع﴾

ځان پوهه کړه چه سبره بن معبد الجهنی چه دا حدیث په صحیح مسلم کښې هم دې او په هغې کښې په ځائې د حجة الوداع، غزوة الفتح دې لهذا صحیح هم هغه ده او د ابوداود دا روایت مرجوح دې او که بالفرض حدیث صحیح اومنلې شی نو بیا به د هغې تاویل داسې کولې شی چه د ت حریم نه مراد اعلان تحریم دې نه نفس تحریم څنګه رسول الله علیه السلام د حجة الوداع په خطبو کښې د نورو احکام شرعیه اعلان او اظهار فرمائیلې وو، هم دغه شان د دې متعه حرمت هم اعلان فرمائیلې دې.

والحدیث اخرجه مسلم والنسائی وابن ماجة بنحوه اتم منه.

[۲۰۷۳](۱) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ فَارِسٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ رَبِيعِ بْنِ سَبْرَةَ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "حَرَّمَ مُتْعَةَ النِّسَاءِ".

ربیع بن سبره دخپل پلار نه روایت کوی فرمائی چه رسول پاک ق متعه بالکل حرامه ګرځولې ده.

بَابٌ فِي الشِّغَارِ

باب د شغار نکاح بیان

[۲۰۷۴](۲) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ. ح وحَدَّثَنَا مُسَدَّدُ بْنُ مُسَرْهَدٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ، كِلَاهُمَا عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "نَهَى عَنِ الشِّغَارِ". زَادَ مُسَدَّدٌ فِي حَدِيثِهِ: قُلْتُ لِنَافِعٍ: مَا الشِّغَارُ؟ قَالَ: يَنْكِحُ ابْنَةَ الرَّجُلِ وَيُنْكِحُهُ ابْنَتَهُ بِغَيْرِ صَدَاقٍ، وَيَنْكِحُ أُخْتَ الرَّجُلِ وَيُنْكِحُهُ أُخْتَهُ بِغَيْرِ صَدَاقٍ.

دعبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه روایت دې فرمائی چه نبی علیه السلام دشغار دنکاح نه منع فرمائیلی ده، دمسدد په روایت کښې دا اضافه ده چه مادنافع نه تپوس اوکړو شغارڅه شې وی هغه اووئیل شغار دادې چه یوکس بل کس ته خپله لور په دې شرط ورکړی چه هغه بل کس به هم خپله لور ده ته به طور دعوض سره ورکوی یا په دې طریقې سره دخور ورکول او بیا د دواړوپه مینځ کښې مهر مقرر نکړې شې

شغار د هغه نکاحونو نه دې کومه چه د جاهلیت په زمانه کښې رواج وه او د شغار

---

(۱): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۳۸۰۹)(صحیح)

(۲): صحیح البخاري/النکاح ۲۸(۵۱۰۹)، والحیل ٤(٦٩٦٠)، صحیح مسلم/النکاح ۷(۱٤۱۵)، سنن الترمذي/النکاح ۳۰(۱۱۲٤)، سنن النسائي/النکاح ٦۰(۳۳۳٦)، ٦۱(۳۳۳۹)، سنن ابن ماجه/النکاح ۱٦(۱۸۸۳)، (تحفة الأشراف: ۸۱٤۱، ۸۳۲۳)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/النکاح ۱۱(۲٤)، مسند احمد(۲/۷، ۱۹، ٦۲)، سنن الدارمي/النکاح ۹(۲۲۲٦)(صحیح)

صورت به دا وو چه یو سړی به اوئیل چه زه د خپلې لور نکاح تا سره کوم په دې شرط چه ته به د خپلې لور نکاح ما سره کوې په داسې طریقه چه دا خپل مینځ کښې لین دین به د نکاح عوض او مهر شي او د دې نه علاوه به بل مستقل مهر نه وي.

د شغار لغوی معنی د رفع ده، وئیلې شي شغر الکلب چه کله هغه د متیازو دپاره خپله خپه اوچته کړي. نو ګویا په نکاح شغار کښې د متعاقدین نه هر سړی بل ته وئیل چه ته زما د لور خپه نه شي اوچتولې، تردې چه زه ستا د لور خپه اوچته نه کړم، او وئیلې شوې دی چه دا ماخوذ دې د ﴿شغر البلد﴾ نه چه کله هغه خالی او خراب شي. د مناسبت وجه ئې ظاهره ده چه دا نکاح هم د مهر نه خالي وي.

د شغار په باره کښې مذاهب ائمه :

د دې نکاح په احادیثو کښې نهی راغلې ده خو په دې کښې اختلاف دې چه که یو سړې نکاح شغار اوکړي نو د هغې د برابریدو څه شکل دې یا نه؟ د امام شافعی رحمه الله په نزد دا نکاح باطل دې او د احنافو په نزد خو به نکاح صحیح شي خو مهر مثل به واجب وي. وعن احمد روایتان مثل الشافعیة والحنفیة، او د امام مالک رحمه الله نه په دې کښې دوه روایتونه دی یو دا چه مطلقا واجب الفسخ ده او دویم روایت دا چه صرف قبل الدخول واجب الفسخ دې.

[۲۰۷۵](۱) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ فَارِسٍ، حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا أَبِي، عَنْ ابْنِ إِسْحَاقَ، حَدَّثَنِي عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ هُرْمُزَ الْأَعْرَجُ، أَنَّ الْعَبَّاسَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْعَبَّاسِ أَنْكَحَ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ الْحَكَمِ ابْنَتَهُ وَأَنْكَحَهُ عَبْدُ الرَّحْمَنِ ابْنَتَهُ وَكَانَا جَعَلَا صَدَاقًا، فَكَتَبَ مُعَاوِيَةُ إِلَى مَرْوَانَ يَأْمُرُهُ بِالتَّفْرِيقِ بَيْنَهُمَا، وَقَالَ فِي كِتَابِهِ: "هَذَا الشِّغَارُ الَّذِي نَهَى عَنْهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ".

دعبدالرحمن بن هرمز اعرج نه روایت دې فرمائی چه عباس بن عبدالله بن عباس رضی الله عنهما خپله لور عبدالرحمن بن حکم ته په نکاح ورکړه او عبدالرحمن خپله لور عباس ته په نکاح ورکړه اوهمدغه نکاح ورکول مهر وګنړلې شول، معاویه چه مروان ته اولیکل چه ددې دواړو نکاح ختم کړه او ورته ئې اولیکل داهغه شغاردې دکوم نه چه نبی علیه السلام ممانعت فرمائیلې دې.
یعنی عباس بن عبدالله د عبدالرحمن بن الحکم نکاح اوکړه د خپلې لور سره او عبدالرحمن خپله نکاح اوکړه د عباس بن عبدالله سره او حال دا چه هغه مهر هم مقرر کړې دې، چه کله د دې خبر سیدنا معاویه رضی الله عنه ته اوشو نو هغه مروان ته خط اولیکلو چه د دې دواړو ترمینځه جدائی راوله ځکه چه هم دا شغار دې د کوم نه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم منع فرمائیلې ده.

تنبیه : دا خو د هغه حدیث تشریح ده خو خبره ظاهره ده چه پورته ذکر شوې د شغار صورت اصطلاحی نه دې کوم چه ممنوع دې، ممنوع هغه وخت وي چه کله په دې کښې صداق نه شي متعین کولې حال دا چه دلته تصریح ده ﴿وکانا جعلا صداقا واذ لیس فلیس﴾ لهذا دا به وئیلې شي چه دا د معاویه رضی الله عنه خپل اجتهاد دې، والله تعالی اعلم(بذل)

او صاحب منهل په مضمون سابق باندې دا اضافه کړې ده او ممکنه ده چه داسې اوئیلې

(۱): تفرد به أبو داود، مسند احمد(۹۴/٤)،(تحفة الأشراف: ۱۱٤۲۹)(حسن)

شي چه د (جعلا) مفعول اول محذوف دې او (صداقا) مفعول ثانی دې تقدير كلام داسې دې، ای كانا جعلا انكاح كل واحد منهما الاخرابنته صداقا. په دې صورت كښې د صداق مصداق نفس نكاح دې لكه چه په شغار كښې وی. والاثر اخرجه ايضا احمد والبيهقی، كذا فی المنهل.

بَابٌ فِي التَّحْلِيلِ

باب: د حلالې بيان

يعنی كوم سړې چه د مطلقه ثلاث سره په دې وجه نكاح كوی د دې دپاره چه هغه ته طلاق وركړی او هغه زنانه د زوج اول دپاره حلاله شي.

[٢٠٧٦]() حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، حَدَّثَنِي إِسْمَاعِيلُ، عَنْ عَامِرٍ، عَنِ الْحَارِثِ، عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ إِسْمَاعِيلُ: وَأُرَاهُ قَدْ رَفَعَهُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَعَنَ اللَّهُ الْمُحَلِّلَ وَالْمُحَلَّلَ لَهُ".

دعلی رضی الله عنه نه روايت دې (اسماعيل وئيلی دی زما خيال دې چه شابی دا حديث مرفوع بيان كړې دې) فرمائی چه نبی عليه السلام فرمائيلی دی الله تعالی په حلاله كونكی كس او دچا دپاره چه حلاله كيږی په دواړو باندې لعنت وئيلې دې.

په دې حديث كښې په محلل او محلل له باندې لعنت كړې شوې دې، د تحليل معنی مونږ پورته ليكلې ده.

ځان پوهه كړه چه د نكاح محلل دوه صورتونه دی، يو نكاح بنية التحليل، دويم نكاح بشرط التحليل، د دې نه پس پوهه شئ، د لعنت مقتضی په ظاهره كښې حرمت او عدم جواز دې لهذا داسې نه دی كول پكار، اوس دا چه كه چا باوجود د نهی نه اوكړل نو دا نكاح به معتبر وی يا نه؟

په مسئلة الباب كښې مذاهب ائمه:

په دې كښې مذاهب ائمه مختلف دی، د امام مالک او احمد په نزد نكاح محلل مطلقا باطل ده يعنی د دې دواړه صورتونه، او د امام شافعی رحمه الله په نزد بنية التحليل جائز او بشرط التحليل فاسد ده، او د امام ابوحنيفه رحمه الله نه په دې كښې درې روايات دی يو د امام مالک او احمد په شان مطلقا باطل او هم دا مسلک دې د صاحبينو، او دويم روايت هغه دې كوم چه د امام شافعی رحمه الله د مسلک مطابق دې او دريم دا دې چه مطلقا جائز دې البته شرط باطل دې لهذا د هغه دپاره جائز ده چه هغه په خپله نكاح كښې باقی اوساتی، او كه طلاق ئې وركړو نو د اول دپاره به حلاله شي (كذا فی هامش الكوكب عن العينی)

والحديث اخرجه الترمذی وابن ماجة (المنذری)

(): سنن الترمذي/النكاح ٢٧(١١١٩)، سنن ابن ماجه/النكاح ٣٣(١٩٣٥)،(تحفة الأشراف: ١٠٠٣٤)، وقد أخرجه: مسند احمد(٨٧/١، ١٠٧، ١٢١، ١٥٠، ١٥٨)(صحيح)

[۲۰۷۷](¹) حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ بَقِيَّةَ، عَنْ خَالِدٍ، عَنْ حُصَيْنٍ، عَنْ عَامِرٍ، عَنِ الْحَارِثِ الْأَعْوَرِ، عَنْ رَجُلٍ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: فَرَأَيْنَا أَنَّهُ عَلِيٌّ عَلَيْهِ السَّلَام، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، بِمَعْنَاهُ.

حارث بن اعورهم ديوصحابي نه ددې روايت په شان روايت نقل کوي امام شابي اوفرمائيل ددې صحابي نه مراد علي رضي الله عنه دې.

تنبيه: د امام ترمذي رحمه الله د کلام نه معلوميږي چه په دې مسئله کښې امام شافعي د امام احمد سره دې، حال دا چه داسې نه ده لکه چه د مخکښې مذاهبو نه معلوميږي، د دې نه پس ځان پوهه کړه چه صاحب هدايه د دې حديث نه د نکاح بشرط التحليل په کراهت باندې استدلال کړې دې، په دې باندې علامه زيلعي رحمه الله فرمائي خو د ظاهر حديث مقتضي تحريم دې کما هو مذهب احمد. بيا هغه وړاندې دا خبره بيان فرمائيلې ده چه د صاحب هدايه خبره هم صحيح کيدې شي ځکه چه په حديث کښې دغه شان نکاح کونکي ته محلل وئيلې شوې دې او ظاهره ده چه محلل به هغه داسې وخت کښې وي چه کله نکاح صحيح اومنلې شي او هم دا خبره حضرت ګنګوهي په **الکوکب الدري** کښې ليکلې ده، خو فريق مخالف دا حديث د خپل مذهب موافق ګنړلو سره دا وائي چه په حديث شريف کښې محلل هغه سړي ته د ګمان په لحاظ سره وئيلې شوې دې ځکه چه هغه دا نکاح صحيح ګنړي. والله تعالى اعلم. خو دا دې هم واضح وي چه دا حديث په خپل عموم باندې بالکل هم نه شي کيدې او نه هر يو محلل مستحق د لعنت دې لکه چه علامه شوکاني هم دا مضمون واضح کړې دې کوم چه حضرت شيخ په هامش کوکب کښې نقل کړې دې لهذا مستحق د لعن به هم هغه محلل وي چه د هغه مقصود په دې نکاح سره صرف قضاء شهوت وي د څو ورځو دپاره، او کوم سړې چه دا نکاح د الله پاک د رضا دپاره د خپل مسلمان رور د اعانت په طور اوکړه نو د هغه په باره کښې حضرت ګنګوهي فرمائي چه موږ د الله پاک نه اميد لرو چه هغه به په دې وعيد کښې داخل نه وي اهـ بلکه صاحب لمعات خو د بعض علماء نه د هغه د ماجور کيدو امکان ليکلې دې د خلوص نيت په وخت باندې لاجل اعانة المسلم.

بَابٌ فِي نِكَاحِ الْعَبْدِ بِغَيْرِ إِذْنِ مَوَالِيهِ

باب: بغير د رضا د مالک نه د غلام د نکاح کولو بيان

[۲۰۷۸](²) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، وَعُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ وَهَذَا لَفْظُ إِسْنَادِهِ، وَكِلَاهُمَا عَنْ وَكِيعٍ، حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ صَالِحٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ عَقِيلٍ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَيُّمَا عَبْدٍ تَزَوَّجَ بِغَيْرِ إِذْنِ مَوَالِيهِ فَهُوَ عَاهِرٌ".

دجابر رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه نبي عليه السلام فرمائيلي دي هريوغلام چه دخپل مالك داجازت نه بغير نکاح وکړي نودې زناکاردې (يعنې دمالك داجازت نه بغير دغلامانو دپاره

¹): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۰۰۳٤)(صحيح)

²): سنن الترمذي/النكاح ۲۰(۱۱۱۱)، (تحفة الأشراف: ۲۳٦٦)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/النكاح ٤۳(۱۹۵۹)، مسند احمد(۳/۳۰۱، ۳۷۷، ۳۸۲)، سنن الدارمي/النكاح ٤۰(۲۲۷۹)(حسن)

نکاح کول درست نه دی او همدا حکم دوینځی دپاره هم دې.
﴿وهذا لفظ اسناده وكلامه﴾ دا جمله تشریح ته محتاج ده د مصنف په دې سند کښې دوه استاذان دی احمد بن حنبل او عثمان بن ابی شیبة، نو د دې په باره کښې مصنف رحمه الله فرمائی چه دا حدیث ماته رارسیدلې خو دې د دې دواړو استاذانو په ذریعه خو دلته چه ما کوم د سند اومتن الفاظ راوړې دی هغه د عثمان دی د احمد نه دی، ډیر کرته مضمون متحد وی خو په الفاظو کښې فرق کمې زیاتې وی په دې وجه مصنف ته د دې تصریح ضرورت راپیښ شو، او په بعض نسخو کښې په ځائې د ﴿وكلامه﴾، ﴿وكلامهما﴾ دې په دې صورت کښې مطلب ظاهر دې هغه دا چه احمد او عثمان دواړه روایت کوی د وکیع نه.
﴿ایما ا تزوج بغیر اذن موالیه فهو عاهر﴾... عاهر په معنی د زانی، دا خو ظاهره ده چه غلام لره بغیر د نکاح د اذن نه دی کول پکار خو که هغه اوکړی نو بیا مسئله اختلافی ده، د امام شافعی او احمد په نزد نکاح فاسد ده او زمونږ په نزد موقوفا علی اجازة المولی صحیح ده، اوامام مالک په نزد یجوز لکن للمولی فسخه، اوداود ظاهری په نزد جائز او صحیح دې.
اذا النکاح عنده من الفروض، هغه وائی چه کوم څیز فرض عین وی هغه محتاج اذن نه وی.

[۲۰۷۹] (¹) حَدَّثَنَا عُقْبَةُ بْنُ مُكْرَمٍ، حَدَّثَنَا أَبُو قُتَيْبَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا نَكَحَ الْعَبْدُ بِغَيْرِ إِذْنِ مَوْلَاهُ فَنِكَاحُهُ بَاطِلٌ" قَالَ أَبُو دَاوُد: هَذَا الْحَدِيثُ ضَعِيفٌ، وَهُوَ مَوْقُوفٌ، وَهُوَ قَوْلُ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا.

عبدالله بن عمر فرمائی چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی چه کله یوغلام دخپل مالك دااجازت نه بغیرنکاح وکړی نوداسې نکاح جائزنه ده. امام ابوداود فرمائی داروایت ضعیف دې البته موقوفا درست دې اودادابن عمر رضی الله عنهما فرمان دې.
﴿اذا نکح العبد بغیر اذن مولاه فنکاحه باطل﴾ دا د شوافعو او حنابله په نزد خو په خپل ظاهر باندې دې او د احنافو په نزد مؤول دې یعنی فی الحال غیر معتبر او غیر نافذ ده بلکه د مولی په اجازت باندې موقوف دې، او دویم جواب دا دې چه دا حدیث ضعیف دې، کما قال المصنف، والحدیث اخرجه احمد وکذا الترمذی والبیهقی وابن حبان والحاکم (المنهل)

بَابٌ فِي كَرَاهِيَةِ أَنْ يَخْطُبَ الرَّجُلُ عَلَى خِطْبَةِ أَخِيهِ

باب: د یوکس د بل کس په رشته باندې د رشتې لیږلو د کراهیت بیان

د خطبه علی الخطبة ممانعت دې خو دا منع هغه وخت ده چه کله د ولی رضامندی او رکون الی الخاطب الاول معلوم وی او د رکون او میلان علم نه وی یا ئې رد کول معلوم وی نو بیا په دې صورت کښې خطبه جائز ده، خو په کوم صورت کښې چه منع راغلې ده او بیا هم د دویم دپاره عقد واقع شی نو بیا به نکاح صحیح وی یا نه په دې کښې اختلاف دې، د جمهورو په نزد خو به اوشی او د داود ظاهری په نزد ناجائز او واجب الفسخ ده مطلقا قبل الدخول وبعده، او د امام مالک نه هم یو روایت د فسخ دې، دا چه مونږ پورته بیان کړه چه

¹): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۷۷۲۸) (ضعیف)

منع مطلقا نه ده بلکه رکون او عدم رکون باندې د دې مدار دې د دې دليل او ثبوت کښې امام ترمذي رحمه الله د فاطمه بنت قيس واقعه ليکلې ده، لهذا د امام ترمذي رحمه الله کلام په جامع ترمذي کښې په دې محل کښې اوکتلې شي.

[۲۰۸۰](۱) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَمْرِو بْنِ السَّرْحِ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا يَخْطُبُ الرَّجُلُ عَلَى خِطْبَةِ أَخِيهِ".

دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چه نبي عليه السلام فرمائيلي دی هيڅ يو مسلمان دی دخپل ورور په رشته باندې څوك رشتی ته نه ورليږي.

﴿قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : لا يخطب الرجل على خطبة اخيه ﴾ لا يخطب کښې دواړه احتمالات دی که ماضي منفي وی نو په ﴿با ﴾باندې به رفع لوستلې شي او که د نهي صيغه اومنلې شي نو ﴿ب﴾باندې کسره اولوستلې شي، په قاعده ده﴿الساكن اذاحرك حرك بالكسر﴾

[۲۰۸۱](۲) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ نُمَيْرٍ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ رضي الله عنهما، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا يَخْطُبْ أَحَدُكُمْ عَلَى خِطْبَةِ أَخِيهِ، وَلَا يَبِعْ عَلَى بَيْعِ أَخِيهِ، إِلَّا بِإِذْنِهِ". قَالَ سُفْيَانُ: لَا يَبِيعُ عَلَى بَيْعِ صَاحِبِهِ يَقُولُ عِنْدِي خَيْرٌ مِنْهَا.

دابن عمر نه روايت دې فرمائي چه نبي عليه السلام فرمائيلي دی هيڅ يو مسلمان دی دخپل ورور په رشته باندې څوك رشتی ته نه ورليږي، اونه دی څوك ديو مسلمان په سودا باندې سوداکوی مګردهغه په اجازت باندې(يعنی دکوم څيز خريدار چه کله مقرر شی نوهغه وزغلوی اوخپل سامان وربادې خرڅ کړي).

شرح الحديث على اتم وجه

﴿قوله : ولا بيع على بيع اخيه الا باذنه ﴾ د حديث دا دويم جزء د کتاب البيوع سره متعلق دې چه د هغې بيان به هلته مستقلا راځي.

د بيع على بيع اخيه صورت دا دې چه يو سړی يو څيز واخستلو د يو خيار سره نو اوس دويم سړی په زمن خيار کښې مشتری ته دا وائی چه ته دا بيع فسخ کړه او زه به تاته هم دا څيز د دې نه په کم قيمت باندې درکوم او هم دا حکم د شراء على الشراء هم دې هغه هم ممنوع دې چه د هغې صورت به دا وی چه يو سړی خپله يو څيز د بل چا په لاس باندې خرڅ کړو على الخيار(حاشيه: د دې نه معلومه شوه چه د بيع على بيع اخيه تحقق وی، شراء بشرط

---

[1]): صحيح البخاري/البيوع ٥٨(٢١٤٠)، الشروط ٨(٢٧٢٣)، النكاح ٤٥(٥١٤٤)، صحيح مسلم/النكاح ٦(١٤١٢)، سنن الترمذي/النكاح ٣٨(١١٣٤)، سنن النسائي/النكاح ٢٠(٣٢٤١)، سنن ابن ماجه/النكاح ١٠(١٨٦٧)،(تحفة الأشراف: ١٣١٢٣)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/النكاح ١(١)، مسند احمد(٢/٢٣٨، ٢٧٤، ٣١١، ٣١٨، ٣٩٤، ٤١١، ٤٢٧، ٤٥٧، ٤٦٢، ٤٦٣، ٤٨٧، ٤٨٩، ٥٥٨)، سنن الدارمي/النكاح ٧(٢٢٢١)(صحيح)

[2]): تفرد به أبو داود،(تحفة الأشراف: ٨٠٠٩، ٨١٨٥)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/البيوع ٥٨(٢١٤٠)، النكاح ٤٥(٥١٤٢)، صحيح مسلم/النكاح ٦(١٤١٢)، البيوع ٨(١٤١٢)، سنن الترمذي/البيوع ٥٧(١١٣٤)، سنن النسائي/النكاح ٢٠(٣٢٤٠)، سنن ابن ماجه/النكاح ١٠(١٨٦٨)، موطا امام مالك/النكاح ١(٢)، والبيوع ٤٥(٩٥)، مسند احمد(٢/١٢٢، ١٢٤، ١٢٦، ١٣٠، ١٤٢، ١٥٣)، سنن الدارمي/النكاح ٧(٢٢٢٢)، البيوع ٣٣(٢٦٠٩)(صحيح)

الخيار كښې او شراء على شراء اخيه تحقق به وي، په بيع بشرط الخيار كښې) يعنې داسې چه بائع ته به اختيار وي د بيع د باقي ساتلو او نه ساتلو، اوس يو دريم سړې اودرېږي او بائع ته د فسخ بيع ترغيب ورکوي او وائي چه دا څيز به زه ستا نه د ثمن سابق نه په زائد سمن باندې واخلم، دلته يو دريم څيز هم دې يعنې سوم على سوم اخيه په دې باندې هم نهى راغلې ده كما سياتى فى البيوع، چه د هغې صورت دا دې چه يو سړې د بل نه څه څيز واخلى د دې دپاره چه په خوښيدو باندې ئې واخلى نو اوس يو بل سړې هغه ته دا وائى چه ته ئې هغه ته واپس کړه چه زه ستا په لاس باندې د دې نه غوره څيز هم په دې قيمت باندې خرڅ کړم يا ددې په شان څيز خو په کم قيمت باندې، يا دا چه بل يو سړې بائع ته دا وائى چه ته دا څيز د هغه نه واپس واخله د دې دپاره چه زه ئې ستا نه د دې نه په زائد قيمت باندې واخلم، په دې تولو صورتونو باندې ښه ځان پوهه کړه د دې دپاره چه کتاب البيوع ته رسيدو سره دې په كار راشى. والحديث اخرجه ايضا باقى الجماعة(المنهل)

بَابٌ فِي الرَّجُلِ يَنْظُرُ إِلَى الْمَرْأَةِ وَهُوَ يُرِيدُ تَزْوِيجَهَا

باب: د چا چې د کومې ښځې سره د نکاح اراده وى د هغې د ليدلو بيان

هم دې ته نژدې ترجمه د امام بخارى رحمه الله ترجمه ده او د ترمذى ترجمه ده، باب ما جاء فى النظر الى المخطوبة، يعنى د کومې زنانه چه انسان رشته غواړى نو هغه له پکار دى چه د پيغام نه مخکښې په هغې باندې نظر واچوى چه د هغې حکمت او مصلحت ظاهر دې، پټ نه دې، ځکه چه کتلې کيدونکې څيز غوره وى چه په هغې کښې د حسن معاشرت او بقاء زوجيت زياته توقع ده، او د واده رشته د تول ژوند ملګرې وى.

[۲۰۸۲]([1]) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ بْنُ زِيَادٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْحَاقَ، عَنْ دَاوُدَ بْنِ حُصَيْنٍ، عَنْ وَاقِدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ يَعْنِي ابْنَ سَعْدِ بْنِ مُعَاذٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا خَطَبَ أَحَدُكُمُ الْمَرْأَةَ، فَإِنِ اسْتَطَاعَ أَنْ يَنْظُرَ إِلَى مَا يَدْعُوهُ إِلَى نِكَاحِهَا فَلْيَفْعَلْ"، قَالَ: فَخَطَبْتُ جَارِيَةً، فَكُنْتُ أَتَخَبَّأُ لَهَا حَتَّى رَأَيْتُ مِنْهَا مَا دَعَانِي إِلَى نِكَاحِهَا وَتَزَوُّجِهَا فَتَزَوَّجْتُهَا.

دجابر بن عبد الله رضی الله عنهما نه روايت دې فرمائى چه نبى عليه السلام فرمائيلى دى کله چه يو كس دخپلې نكاح پيغام يکومى زنانه ته ليږل غواړى نوهغه دى ووينى اوبيادى ورسره نكاح وكړى جابره وئيلى دى مايوى جينئ ته دنكاح پيغام ليږلې وو ماهغه په خفيه طريقې اوليدله تردې، پورې چه ما په هغه جينئ کښې هغه خبره کوم چه دښې ښځې صفات وى وليدل اوهغې په وجه مې ورسره نكاح كولوته رغبت پيداشو اوبيامې ورسره نكاح وكړه

قوله : فكنت اتخبا لها ﴾يعنى ما د هغې په پټه پټه باندې د ليدو كوشش كولو.

د نظر الى المخطوبه امر په ډيرو احاديثو كښې راغلې دې، په دې وجه جمهور علماء كرام د دې د جواز قائل دى، امام نووى رحمه الله هم دې ته د ائمه اربعه مذهب وئيلې دې، بيا وړاندې هغه ليكى چه قاضى عياض په دې كښې د يو جماعت نه كراهة النظر لره نقل

[1]: تفرد به أبو داود(تحفة الأشراف: ۳۱۲٤)، وقد أخرجه: مسند احمد(۳/۳۳٤)(حسن)

کړې دي کوم چه د احاديثو صراحة خلاف دي، اوس دا خبره چه د مخطوبه د بدن په کومه حصه باندې نظر جائز دې؟ دا د علماء کرامو ترمينځه مختلف فيه مسئله ده، د جمهورو په نزد د هغه مخ او لاسونو ته، او د داود ظاهری په نزد د ټول بدن حکم هم دا دې، بله دا چه دا کتل د جمهورو په نزد مطلقا دی وعند مالک بشرط الاذان.

قال ابن قدامه ولا يجوز له الخلوة بها لانها محرمة ولم يرد الشرع بغير النظر فبقيت على التحريم، ولا ينظر اليها نظر تلذذ وشهوة وله ان يردد النظر اليها ويتامل محاسنها لان المقصود لا يحصل الا بذلک اه

بَاب فِي الْوَلِيِّ

باب: د ولی بیان

ولی په لغت کښې د عدو ضد دې يعنی دوست، او د ولی تعريف چه کوم فقهاء کرامو ليکلې دې ﴿هو العاقل البالغ الوارث﴾ دغه شان د ولايت اسباب څلور دی، قرابت، ملک، ولاء، امامت. بيا پوهه شه چه د ولايت فی النکاح دوه قسمونه دی، ولايت ندب او استحباب، د دې تحقق په عاقله او بالغه کښې وی، يعنی اګر چه هغه خپله نکاح زمونږ په نزد خپله هم کولې شی خو د ولی په ذريعې سره که وی نو ډيره غوره ده، او قسم ثانی ولايت اجبار، د دې تحقق په صغيره کښې وی او هم دغه شان کبيره معتوهه کښې، ځکه چه نابالغه او معتوهه اجازت خو غير معتبر دې. اوس چه کله ولی د هغې نکاح کوی نو بغير د اجازت نه ئې کوی هم دا معنی ده د ولايت اجبار.

د دې مقام پوره وضاحت

د دې نه پس د الله پاک په توفيق سره ځان پوهه کول پکار دی چه دلته دوه مسئلې دی يوه مسئله د ولايت النکاح يعنی زنانه ته په خپل نفس باندې ولايت حاصل دې يا نه، هغه به خپله نکاح په څه صورتونو کښې خپله کولې شی يا نه، وبعبارة اخرى عبارة النساء سره نکاح منعقد کيږی يا نه؟ او بله مسئله د مسئلة الاستيمار دې او يا داسې اوايئ مسئلة ولاية الاجبار، په دې باب سره د مصنف غرض مسئله اولی بيانول دی، او په مسئله ثانيه باندې مصنف وړاندې تلو سره باب قائم کړې دې، باب فی الاستيمار او دا دواړه مسئلې اختلافی دی، د اولې مسئلې بيان دا دې چه د امام شافعی او امام احمد په نزد زنانه په هيڅ حال کښې هم په خپل ځان باندې ولايت نکاح حاصل نه دې، د هغوی په نزد دا مسئله مقرر ده چه په عبارة النساء سره نکاح مطلقا نه منعقد کيږی. ثيبه او باکره يا صغيره وکبيره هيڅ فرق په دې کښې نشته، او د امام مالک په نزد دا دې چه زنانه که شريفه وی نو هغه خپله نکاح خپله نه شی کولې او که دنيئة وی نو کولې شی، هغه په شريفه کښې د اشتراط ولی قائل دې په وضيعه کښې نه دې، او د ظاهريه مسلک دا دې د ولی اعتبار فی حق البکر دې په ثيب کښې نشته لحديث الايم احق بنفسها من وليها... او ابو ثور دا فرمائی چه زنانه خپله نکاح خپله کولې شی د ولی په اجازت باندې د ولی د اجازت نه بغير ئې نه شی کولې، او

احناف دا وائي چه حره بالغهه خپله د ځان ولي ده هغه خپله نکاح کولې شي او مملوکه او صغيره دې دواړو ته په خپل نفس باندې ولايت حاصل نه دې دا دواړه په خپله نکاح کښې د ولي محتاج دي، او مسئله ثانيه يعني د ولايت اجبار تشريح دا ده ايا ولي ته دا اختيار شته چه هغه د زنانه د اجازت نه بغير د هغې نکاح اوکړي كه وي نو په كوم صورت كښې پس په دې كښې هم اختلاف دې هغه دا چه د امام شافعي رحمه الله په نزد د اجبار مدار په بکارت باندې دې يعني د باکره نکاح د دې د ولي د اجازت نه بغير کولې شي، د ثيب نکاح د هغه د اجازت نه بغير نه شي کولې، او د احنافو په نزد د دې علت صغر او عدم بلوغ دې چه د صغيره نکاح د هغې ولي د هغې د اجازت نه بغير کولې شي او د بالغې بغير د هغې د اجازت نه نه شي کولې، او د امام مالک رحمه الله په نزد د اجبار علت په بکارت او صغر هر دواړو باندې دې.(١)

وجوه اربعه وفاقيه خلافيه

د دې اختلاف د وجې نه دلته څلور صورتونه پيدا كيږي دوه اتفاقي او دوه اختلافي. ١: صغيره باكره، ٢: بالغه ثيبه، دا دواړه صورتونه اتفاقي دي په اول صورت كښې د حق اجبار په سبب نزدې وي، او په دويم صورت كښې به د چا په نزد هم نه وي. ٣: صغيره ثيبه، ۴: بالغه باكره، دا دواړه صورتونه اختلافي دي، په اول صورت كښې به ولايت اجبار د احنافو په نزد وي هم دغه شان د مالكيانو په نزد به هم وي، او د شوافعو او حنابله په نزد نه وي،(٢) او په دويم صورت كښې د احنافو په نزد ولايت اجبار نه وي د ائمه ثلاث په نزد به وي د دې مسئله ثانيه ضرورت به په راروان باب كښې راپيښ شي. باب في الاستيمار، يوه دريمه مسئله دلته دا ده چه ولايت اجبار د امام مالک او احمد په نزد صرف د اب او وصي الاب دپاره دې، د امام شافعي رحمه الله په نزد جد في حكم الاب دې، د نورو اولياء دپاره حق اجبار نه دې، هم دغه شان د ائمه ثلاثه په نزد تزويج اليتيمه يعني صغيره چه د هغې پلار نه وي صحيح نه دې ترڅو چه بالغه شوې نه وي او د احنافو په نزد حق اجبار د ټولو اولياء نه دې، فرق دا دې چه د اب او جد په صورت كښې بعد البلوغ جينئ ته خيار حاصل نه وي او د نورو اولياء په صورت كښې خيار حاصل وي. والله تعالى اعلم بالصواب. د دې تفصيل د پيژندلو نه پس تاسو حديث الباب ته اوګورئ.

[٢٠٨٣](٣) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، أَخْبَرَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ مُوسَى، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَيُّمَا امْرَأَةٍ نَكَحَتْ بِغَيْرِ إِذْنِ مَوَالِيهَا فَنِكَاحُهَا بَاطِلٌ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ، فَإِنْ دَخَلَ بِهَا، فَالْمَهْرُ لَهَا بِمَا أَصَابَ مِنْهَا، فَإِنْ تَشَاجَرُوا فَالسُّلْطَانُ وَلِيُّ مَنْ لَا وَلِيَّ لَهُ".

(١) ابن رشد په بداية المجتهد کښې د دې تصريح كړې ده، هغه په دې كښې د امام احمد مسلک نه دې ليکلې، زه وايم، د امام احمد مسلک په دې کښې د مالكيانو مسلک ته نزدې دې لکه چه ثيبه صغيره کښې د هغه د مسلک نه ظاهر ده. اهـ

(٢) د حنابله ؤ په نزد دې کښې روايات مختلف دي چه د دې تفصيل په باب تزوج الصغار كښې راروان دې.

(٣): سنن الترمذي/النكاح ١٤(١١٠٢)، سنن ابن ماجه/النكاح ١٥(١٨٧٩)، (تحفة الأشراف: ١٦٤٦٢)، وقد أخرجه: سنن النسائي/الكبرى/النكاح(٥٣٩٤)، مسند احمد(٦/٦٦، ١٦٦، ٢٦٠)، سنن الدارمي/النكاح ١١(٢٢٣٠)(صحيح)

دام المومنين عائشة رضي الله عنها نه روايت دي : فرمائي چه نبي عليه السلام فرمائيلي دی هره يوه و زنانه چه بغيرد خپل ولي داجازت نه نکاح وکړی نوددی نکاح باطل ده اودا الفاظ ئي دری ځل اوفرمائيل که چرې کوروالی ئې ورسره کړی وی نومهربه ورته ورکوی په وجه دهغې فائدی کومه چه ده ترې اخستلی ده که چرې په دواړوکښې جګړه پيښه شی نوبادشاه اوحاکم ولي دی دهغه دچاچه ولي نه وي.

د اخری جملې مطلب دا دې چه د اولياء مراءة کښې د نکاح په باره کښې اختلاف شی نو په دې صورت کښې ولايت نکاح د وخت بادشاه وی ځکه چه هغه د اولياء د اختلاف د وجې نه ساقط او کالعدم شی او قاعده دا ده چه د کومې زنانه يو ولي نه وی نو د وخت بادشاه د هغه ولي وی، دا حديث په ظاهره د جمهورو صريح دليل دې چه کومه زنانه خپل نکاح په خپله کوی هغه باطل دې، معلومه شوه چه زنانه ته په خپل نفس باندې ولايت نه دې حاصل او په عبارت النساء سره نکاح نه منعقد کيږي.

[۲۰۸۴](1) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، حَدَّثَنَا ابْنُ لَهِيعَةَ، عَنْ جَعْفَرٍ يَعْنِي ابْنَ رَبِيعَةَ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، بِمَعْنَاهُ. قَالَ أَبُودَاوُد: جَعْفَرٌ لَمْ يَسْمَعْ مِنَ الزُّهْرِيِّ، كَتَبَ إِلَيْهِ.

عروه دام المومنين عائشة رضي الله عنها نه اوهغه : دنبي عليه السلام نه ددې روايت په شان روايت ئې بيان کړې دې، ابوداود وئيلي دی دجعفر اوريدل دزهری نه ثابت نه دی بلکه زهری دارِوايت جعفر ته ليکلې وو.

ځان پوهه کړه چه په دې باب کښې مصنف دوه احاديث راوړې دی دواړه د سنن په رواياتو کښې دی اولا حديث عائشه، دويم حديث ابی موسی اشعری چه د هغې الفاظ دا دی ﴿لا نکاح الا بولی﴾ د دواړو احاديثو مضمون يو دې او دواړه د جمهورو دليل دې، امام ترمذی رحمه الله هم په دې سلسله کښې هم دا دواړه احاديث ذکر فرمائيلې دی خو اولا حديث ابی موسی او دويم حديث عائشه رضي الله عنها د احنافو دليل په باب فی الثيب کښې راروان دې چه د هغې په صحت باندې د محدثينو اتفاق دې يعنی حديث ابن عباس ﴿الايم احق بنفسها من وليها الخ﴾ دا حديث د افراد مسلم نه دې يعنی صرف په صحيح مسلم کښې دې په صحيح بخاری کښې نشته، په دې باندې تفصيلی کلام په باب مذکور کښې راروان دې اوس تاسو د حديث الباب جوابات واورئ.

د حديث عائشه د احنافو د طرف نه جواب

د حديث عائشه رضي الله عنها زمونږ د طرف نه ډير جوابات ورکړې شوې دی.

۱ : دا حديث ضعيف دې د دې په سند کښې سليمان بن موسی دې او هغه ضعيف دې ﴿ضعفه البخاری وقال النسائی فی حديثه شئ﴾ دويمه وجه د ضعف هغه ده کومه چه امام ترمذی رحمه الله هم ذکر فرمائيلې ده هغه دا چه اولا دا حديث ابن جريج د زهری نه په واسطه د سليمان راغلې وو، ابن جريج فرمائی چه زه روستو براه راست د زهری سره ملاؤ شوم او د

(1): انظر ما قبله،(تحفة الأشراف: ۱٦٤٦٢)(صحيح)

هغه په وړاندې مې ددې حديث ذکر اوکړو، فانکره.(١)

۲: د حديث راوی يعنی سيده عائشه رضي الله عنها خپل عمل د دې حديث خلاف دې، چه د هغې دليل دا دې چه په روايت کښې راځي چه عائشې رضي الله عنها د خپلې وريرې حفصه بنت عبدالرحمن نکاح د منذر بن الزبير سره کړې وه او حال دا چه عبدالرحمن موجود نه وو د ملک شام په سفر باندې وو. معلومه شوه چه د هغې په نزد زنانه ته د نکاح په باب کښې حق ولايت حاصل دې.

۳: دا حديث په ﴿امة﴾ باندې محمول دې ځکه چه د ﴿حرة﴾ دپاره د ولايت ثبوت د بل صحيح حديث نه ثابت دې، کوم چه نزدې راړان دې ﴿الايم احق بنفسها من وليها﴾ او د دې من وجه تائيد د دې نه هم کيږي چه په حديث کښې ﴿مولی﴾ لفظ دې، د ﴿ولی﴾ لفظ نشته، ﴿بغير اذن مواليها﴾.

۴: يا به دا محمول کړې شی په غير کفو باندې، او د باطل نه علی شرف البطلان مراد واخستلې شی ځکه چه بالغه اګر چه خپله نکاح کولې شی خو که په غير کفو کښې اوکړی نو ولی ته به حق اعتراض حاصل وی.

۵: دا چه دا په صغيره باندې محمول کړې شی ځکه چه هم دا نکاح بلا ولی ده، کبيره خو د خپل نفس ولی خپله ده، دا جواب القول بموجب العلة د قبيل نه دې(٢) چه مونږ هم منو چه د زنانه نکاح بغير د ولی نه صحيح نه ده، ځکه چه نکاح په صغيره باندې صادقه راځي نکاح بلا ولی، او نکاح کبيره نکاح بلا ولی نه ده.

۶: دا حديث ستاسو هم خلاف دې ځکه چه د دې مفهوم مخالف دا دې چه کومه زنانه د خپل مولی په اجازت سره نکاح اوکړی هغه صحيح ده لکه چه د ابو ثور مسلک دې چه که زنانه د ولی د اجازت نه بغير خپله نکاح په خپله اوکړی نو هغه صحيح ده. والحديث اخرجه الترمذی وابن ماجة(قاله المنذری)

[۲۰۸۵](٣) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ قُدَامَةَ بْنِ أَعْيَنَ، حَدَّثَنَا أَبُو عُبَيْدَةَ الْحَدَّادُ، عَنْ يُونُسَ، وَإِسْرَائِيلَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ أَبِي بُرْدَةَ، عَنْ أَبِي مُوسَى، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَا نِكَاحَ إِلَّا بِوَلِيٍّ". قَالَ أَبُو دَاوُد: وَهُوَ يُونُسُ، عَنْ أَبِي بُرْدَةَ، وَإِسْرَائِيلُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ أَبِي بُرْدَةَ.

دابوموسی رضي الله عنه نه روايت دې فرمائی چه اق نبی عليه السلام اوفرمائيل چه دولی داجازت نه بغير

(١) د دې تنقيد جواب امام ترمذی د يحيی بن معين نه دا نقل کړې دې چه دې جرح لره د ابن جريج نه نقل کونکې د هغه په شاګردانو کښې صرف اسماعيل بن ابراهيم دې (المعروف بابن علية) د اسماعيل نه علاوه دا خبره د ابن جريج نه چا هم نه ده نقل کړې حال دا چه د اسماعيل سماع د ابن جريج نه زياته قوی نه ده، امام ترمذی رحمه الله چونکه د دې حديث د معتبر کيدو قايل دې په دې وجه هغه د دې دا توجيه کړې ده، خو مونږ خو د دې حديث نور هم ډير جوابونه کړې دی.

(٢) د القول بموجب العلة مطلب دا وی چه خصم داسې اوائی چه مونږ د استدلال کونکی دليل منو ځکه چه هغه زمونږ خلاف نه دې.

(٣): سنن الترمذي/النكاح ١٤(١١٠١)، سنن ابن ماجه/النكاح ١٥(١٨٨١)،(تحفة الأشراف: ٩١١٥)، وقد أخرجه: مسند أحمد(٣٩٤/٤، ٤١٣، ٤١٨)، سنن الدارمي/النكاح ١١(٢٢٢٩)(صحيح)

به نکاح کول درست نه دي. امام ابوداود فرمائي چه. دحديث سند داسې دی يونس دابوبرده نه اوهغه داسرائيل نه اوهغه دابو اسحاق نه اوهغه دابی برده نه.

شرح السند:

مصنف د سند تشريح فرمائي، د سند د ظاهر سياق نه معلوميږي چه ابو عبيده چه څنګه د يونس او اسرائيل دواړو نه روايت کوی هم دغه شان دا دواړه هم د اسحاق نه روايت کوی، مصنف فرمائي چه داسې نه ده ﴿عن ابی اسحاق﴾ تعلق صرف د اسرائيل سره دې د يونس سره نه دی، بلکه يونس براه راست د ابو برده نه روايت کوی، لهذا د سند ترجمه داسې اوکړئ: "ابو عبيده روايت کوی د يونس نه او اسرائيل د ابو اسحاق نه، او دا دواړه يعنی يونس او اسرائيل د ابو اسحاق نه روايت کوی د ابو برده نه.

د حديث ابو موسی جواب

په دې حديث کښې بعض جوابات خو هم هغه دی کوم چه په حديث عائشه ﷞ کښې اوليکلې شو، او خاص جواب د دې حديث دا دې چه امام ترمذی ﷫ سره د دې چه دا حديث د هغوی مستدل دې خو هغوی خپله په دې باندې کلام کړې دې او د دې حديث په ارسال او اسناد کښې د راويانو اختلاف او اضطراب بيان کړې دې. اګر چه روستو هغه د دې اضطراب دفيعه هم فرمائيلې ده او طريق مسند ته ئې ترجيح ورکړې ده، چه د هغې خلاصه مونږ په حاشيه کښې ذکر کړې ده. (۱)

والحديث اخرجه الترمذی وابن ماجة قاله المنذری.

[۲۰۸۶](۲) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ فَارِسٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ أُمِّ حَبِيبَةَ، أَنَّهَا كَانَتْ عِنْدَ ابْنِ جَحْشٍ فَهَلَكَ عَنْهَا وَكَانَ فِيمَنْ هَاجَرَ إِلَى أَرْضِ الْحَبَشَةِ، فَزَوَّجَهَا النَّجَاشِيُّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهِيَ عِنْدَهُمْ".

---

(۱) د امام ترمذی د کلام تشريح: چه د هغې خلاصه دا ده چه دا حديث يو لوئې جماعت د ابو اسحاق نه مسندا ذکر کړې دې، او شعبه او سفيان ثوری دا د ابو اسحاق نه مرسلا ذکر کړې دې، او دفيعه د دې امام ترمذی داسې کړې ده هغه فرمائي چه زما په نزد په دې کښې طريق سند اصح دې د طريق مرسل نه اګر چه مرسلا نقل کونکې (شعبه او سفيان ثوری) اثبت او احفظ دی خو د دې باوجود اولاخو په دې وجه چه مسندا روايت کولو والا کثير دی، په نسبت د مرسلا روايت کونکو او بل دا چه د ابو اسحاق نه مسندا نقل کونکو د هغوی نه په مختلف اوقات او مختلف مجالس کښې نقل کړې دی، په خلاف د ثوری او شعبه چه هغوی په يو مجلس کښې دا حديث د ابو اسحاق نه اوريدلې دې نو ګويا د اتحاد مجلس د وجې نه دا دوه هم دوه پاتې نه شو صرف يو راوی پاتې شو او! که شعبه او ثوری د هغه نه په جدا جدا مجلس کښې اوريدلې وې نو جدا خبره وه، دريم دا چه په دې جماعت کښې (چه کوم سندا روايت کونکې دې) يو راوی اسرائيل هم دې چه د هغه په باره کښې دا مسلم ده چه اسرائيل د ابو اسحاق نه په روايت کولو کښې اثبت دې (اګر چه شعبه او ثوری في نفسه د اسرائيل نه اقوی دې، ګويا د دري وجو نه د دې مسند کيدل راجح شو د مرسل کيدو نه، واخلئ د ترمذی دا مقام هم الحمد لله حل شو کوم چه د يو اوښيار طالب علم دپاره کوم چه واقعی کتاب حل کول غواړی د هغه په حق کښې ډير قيمتی خيز دې) والله الموفق.

(۲): سنن النسائي/النكاح ٦٦(٣٣٥٢)،(تحفة الأشراف: ١٥٨٥٤)، وقد أخرجه: مسند احمد(٤٢٧/٦)(صحيح)

دام حبیبه ﷺ نه روایت دي فرمائی چه بیر زه دا بن جحش په نکاح کښي وم اوهغه وفات شو بی اودی په هغه کسانوکښي وو چا چه حبشی ته هجرت د کړی وو نودابیا نجاشی(دحبشی بادشاه نبی علیه السلام ته په نکاح ورکړه اوحالانکه په دې وخت کښي ام حبیبه په حبشوکښي اوسیدله.

د ام حبیبه ﷺ سره د رسول الله ﷺ د نکاح قصه :

دا ام حبیبه بنت ابی سفیان ﷺ ده چه اول د عبیدالله بن جحش په نکاح کښي وه، چه په شروع کښي په مکه مکرمه کښي اسلام قبول کړو او بیا دواړه هجرت کولو سره حبشې ته لاړل او هلته تلو سره دا عبیدالله مرتد شو او د نصاری دین ئې اختیار کړو لکه چه شارحینو لیکلي دی چه ﴿ثم ارتد عن الاسلام وتنصر﴾او هم په دې حال کښي هغه هلته وفات شو، دا ام حبیبه ﷺ په خپل اسلام باندې قائمه وه،هغه فرمائی چه ما یوه ورځ په خوب کښي اولیدل چه یو ویونکې وائی : یا ام المومنین! چه په هغې باندې زه فوری متوجه شوم، ما د دې دا تعبیر واخستلو چه زه به د رسول الله ﷺ په بیبیانو کښې شاملیږم، پس د عدت د تیریدو نه روستو د نجاشی د طرف نه د قاصد په حیثیت سره د هغه یوه وینزه ماته راغله او هغې ماته دا اووې چه شاه حبشه فرمائی چه د رسول الله ﷺ د طرف نه ماته یو خط راغلي دې ﴿کتب الی ان ازوجک منه﴾بیا وراندې دا چه د نکاح وکیل څوک جوړ شو په دې کښي روایات مختلف دی د بعض نه معلومیږی چه خپله نجاشی جوړ شو او وئیلي شوي دی چه سیدنا عثمان بن عفان ﷺ، وقیل خالد بن سعید بن العاص وکان ولیا لها، په دې اقوالو کښي د یو قول مطابق د نجاشی خطبه داسې منقول ده : الحمد لله الملک القدوس السلام المومن المهیمن العزیز الجبار واشهد ان لا اله الا الله وحده وان محمدا عبده ورسوله وانه الذی بشر به عیسی بن مریم، اما بعد الی اخر ما فی البذل. دا واقعه د ۷ هجری ده، په دې نکاح کښي د ام حبیبه مهر خپله شاه حبشه هم په دې مجلس کښي پیش کړو چه د هغې مقدار څلور سوه دیناره او په یو روایت کښي څلور زره درهم راغلي دي، د نکاح نه پس نجاشی ام حبیبه مدینې منورې ته د رسول الله ﷺ په خدمت کښي اولیږله د شرحبیل بن حسنه ﷺ سره لکه چه وراندې په کتاب کښې په باب الصداق کښي دا روایت راروان دی، دا نکاح دا احنافو دلیل کیدې شی د ولایت فی النکاح په باره کښي چه حره بالغه خپله نکاح خپله کولې شی، ځکه چه د ام حبیبه ﷺ هلته یو ولی هم نه وو، او د روایت الفاظ اگر چه دا دی ﴿زوجها النجاشی﴾ چه د هغې نه په ظاهره کښي معلومیږی چه متولی ئې خپله نجاشی وو، په بذل کښي لیکی چه : والنجاشی لیس بولی لها فلا یثبت اشتراط الولی فی النکاح او یقال ان النجاشی کان سلطانا والسلطان ولی من لا ولی له فعقده عقد الولی(خو په دې دویم صورت کښي به دا واقعه د احنافو دلیل نه وی) بیا وراندې په بذل کښي دا دی چه بعض خلق چه دا وائی چه خالد بن سعید بن العاص د نکاح متولی جوړ شوي وو او هغه فی الواقع د ام حبیبه ولی وو نو فلم یثبت بطریق صحیح. والله اعلم

اخرجه النسائی بنحوه قاله المنذری.

باب فِي الْعَضْلِ

باب: ښځې د نکاح نه د منع کولو بیان

العضل المنع والمراد منع اولیاء المراءة ایاها عن التزوج... چونکه د مخکښې نه د ولی بیان شروع دې په دې وجه اوس مصنف په قران کریم کښې چه د اولیاء متعلق کوم بعض هدایات او ارشادات راغلې دی هغه بیان فرمائی پس په دې باب کښې ئې دا بیان کړې ده چه که د مطلقه خاوند د طلاق ورکولو نه پس د انقضاء عدت نه پس دوباره نکاح کول غواړی او هغه زنانه هم راضي وی نو د زنانه اولیاء لره جائز نه دی چه هغه د نکاح نه منع کړی.

[۲۰۸۷](¹) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنِي أَبُو عَامِرٍ، حَدَّثَنَا عَبَّادُ بْنُ رَاشِدٍ، عَنِ الْحَسَنِ، حَدَّثَنِي مَعْقِلُ بْنُ يَسَارٍ، قَالَ: "كَانَتْ لِي أُخْتٌ تُخْطَبُ إِلَيَّ، فَأَتَانِي ابْنُ عَمٍّ لِي فَأَنْكَحْتُهَا إِيَّاهُ، ثُمَّ طَلَّقَهَا طَلَاقًا لَهُ رَجْعَةٌ، ثُمَّ تَرَكَهَا حَتَّى انْقَضَتْ عِدَّتُهَا، فَلَمَّا خُطِبَتْ إِلَيَّ أَتَانِي يَخْطُبُهَا، فَقُلْتُ: لَا وَاللَّهِ لَا أُنْكِحُهَا أَبَدًا، قَالَ: فَفِيَّ نَزَلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ: وَإِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ فَبَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَلَا تَعْضُلُوهُنَّ أَنْ يَنْكِحْنَ أَزْوَاجَهُنَّ سورة البقرة آية ۲۳۲ الْآيَةَ، قَالَ: فَكَفَّرْتُ عَنْ يَمِينِي، فَأَنْكَحْتُهَا إِيَّاهُ".

دمعقل بن یسار رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه زما یوه خوروه اورشتی به ورپسی تلی اوراتی یوځل زمادتره دځوی رشته راغله ما داخپله خورهغه ته په نکاح ورکړه هغه ورته یورجعی طلاق ورکړواو دا ئې پریښنودله(دنکاح نه ئې خارج کړه) تردې پورې چه عدت ئې پوره شو نوپه هغې پسې بیا رشتې راتلل شروع شول نودې بیا دوباره راغی اودرشتې مطالبه ئې وکړله ماورته ووئیل په الله قپیم چه زه به دخپلې خورنکاح هیڅکله دوباره دده سره ونکرم نوددی متعلق دا آیت:(«وإذا طلقتم النساء فبلغن أجلهن فلا تعضلوهن أن ينكحن أزواجهن») الآية. نازل شومعقل وائی چه مادخپل قسم کفاره ورکړله اوهغه ته مې په نکاح ورکړله

﴿عن الحسن حدثني معقل بن يسار قال كانت لي اخت تخطب الي فاتاني ابن عم لي فانكحتها اياه ثم طلقها الخ ﴾ د حدیث مضمون دا دې چه سیدنا معقل بن یسار رضی الله عنه فرمائی چه زما یوه خور وه د نکاح قابله، پس ماته د هغې په باره کښې د نکاح پیغامات راغلل هم په دې وخت کښې ماته زما د تره ځوئې راغلو یعنی د نکاح په ارادې سره، پس ما د خپلې خور نکاح د هغه سره اوکړه، بیا داسې اوشو چه څو ورځې پس هغه هغې ته طلاق رجعی ورکړو خو رجعت ئې اونکړو تردې چه عدت تیر شو، معقل فرمائی چه د عدت تیریدو نه پس ماته بیا د نکاح پیغامونه راتلل شروع شو او هغه زما د تره ځوئې هم راغلو،(زه چونکه هغه ته د مخکښې نه غصه اوم) په دې وجه ورته ما اووې چه والله تا سره خو ئې نکاح نه کوم نو په دې باندې دا آیت کریمه نازل شو ﴿واذا طلقتم النساء فبلغن اجلهن فلا تعضلوهن ان ينكحن ازواجهن ﴾

¹): صحيح البخاري/التفسير ۴۰(۴۵۲۹)، النكاح ۶۰(۵۱۳۰)، الطلاق ۴۴(۵۳۳۰، ۵۳۳۱)، سنن الترمذي/التفسير ۳(۲۹۸۱)،(تحفة الأشراف: ۱۱۴۶۵)، وقد أخرجه: سنن النسائي/الكبرى/النكاح(۱۱۰۴۱)(صحيح)

د آيت كريمه نه په ولاية النكاح كښې د فريقينو استدلال

فائده : د دې آيت كريمه نه شوافعو په دې خبره استدلال كړې دې چه د زنانه نه نكاح كښې د ولى كيدل ضرورى دى بغير د ولى نه زنانه خپله نكاح نه شى كولې ځكه چه كه هغه پخپله باندې په نكاح كولو قادره وې نو بيا د چا په منع كولو باندې څه كيږى، او احناف هم د دې آيت كريمه نه په خپل مسلک باندې استدلال كوى چه بالغه خپله نكاح خپله كولې شى ځكه چه په دې آيت كريمه كښې د نكاح نسبت د زنانه طرف ته كړې شوې دې، ﴿ان ينكحن ازواجهن ﴾چه د هغې نه معلوميږى چه زنانه خپله نكاح خپله كولې شى او ولى چه د عضل نه منع كړې شوې دې د هغې نه دا نه لازميږى چه زنانه په نكاح باندې قادره نه ده بلكه مطلب ئې دا دې چه تاسو هم په خوشحالئ سره د دې اجازت وركړئ او په دې باندې د خفگان اظهار مه كوئ، يعنى شرعى او قانونى ركاوټ مراد نه دې بلكه اخلاقى او معاشرتى دباؤ مراد دې. والله تعالى اعلم، والحديث اخرجه البخارى والترمذى والنسائى قاله المنذرى.

بَابٌ إِذَا أَنْكَحَ الْوَلِيَّانِ

باب: كله چه دوه وليان د يوې ښځې نكاح اوكړى نو ددې د حكم بيان

[۲۰۸۸]( ) حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا هِشَامٌ ح وحَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا هَمَّامٌ ح وحَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ الْمَعْنَى، عَنْ قَتَادَةَ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ سَمُرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "أَيُّمَا امْرَأَةٍ زَوَّجَهَا وَلِيَّانِ فَهِيَ لِلْأَوَّلِ مِنْهُمَا، وَأَيُّمَا رَجُلٍ بَاعَ بَيْعًا مِنْ رَجُلَيْنِ فَهُوَ لِلْأَوَّلِ مِنْهُمَا".

د سمره رضي الله عنه نه روايت دې فرمائى چه نبى عليه السلام فرمائيلى دى چه يوه ښځه دوه وليان چاته په نكاح وركړى (يو ولى يوته په نكاح وركړى اوبل ولى ئې بل چاته په نكاح وركړى نوددى ښځې حقدار به هغه كس وى د كوم نضاج چه ددې سره مخكښې شوى وى او څوک چه يو شې په دوه كسانو خرڅ كړى نوچه اول ئې په چاخرڅ كړې وى ددې حقدار هم هغه دې.

قوله: ﴿عن الحسن عن سمرة رضى الله عنه عن النبى صلى الله عليه وسلم قال ايما امراءة زوجها وليان فهى للاول منهما ﴾

يعنى كه د يوې زنانه د يوې درجې دوه وليان وى مثلا عمين يا اخوين او پرلپسې دواړه وليان د هغه زنانه جدا جدا ځايونو كښې واده اوكړى نو په دې دواړو كښې به اوله نكاح صحيح وى او دويمه نكاح به فاسد وى، او كه دواړه ولى يوځائې مختلف ځايونو كښې نكاح اوكړى نو دواړه نكاحونه به مفسوخ وى، د احنافو او د جمهورو هم دا مسلک دې په دې كښې د امام مالک اختلاف دې هغه فرمائى چه د نكاح د صحت دپاره د اولياء اتفاق ضرورى دې لهذا په دې صورت كښې به يوه نكاح هم صحيح نه وى. **كذا فى البذل عن البدائع**، خو د منهل نه چه د هغې مصنف مالكى دې د مالكيانو مسلک دا نه معلوميږى بلكه د هغوى په مسلک كښې په دې مسئله كښې تفصيل دې په بعض صورتونو كښې اوله

---

[۱]): سنن الترمذي/النكاح ۲۰(۱۱۱۰)، سنن النسائي/البيوع ۹۴(٤٦٨٦)، سنن ابن ماجه/التجارات ۲۱(۲۱۹۰)،(تحفة الأشراف: ٤٥٨٢)، وقد أخرجه: مسند احمد(۱۱/۵،۸، ۱۲، ۱۸، ۲۲)، سنن الدارمي/النكاح ۱۵(۲۲۳۹)(ضعيف)

نکاح صحیح کیږي او په بعض صورتونو کښې دویمه. فارجع الیه لوشئت.

باب قَوْلِهِ تَعَالَى:
{لَا يَحِلُّ لَكُمْ أَنْ تَرِثُوا النِّسَاءَ كَرْهًا وَلَا تَعْضُلُوهُنَّ}

باب: د آیت کریمه «لا یحل لکم أن ترثوا النساء کرها ولا تعضلوهن» تفسیر

د دې نه مخکښې چه کوم باب تیر شو په هغې کښې هم اګر چه عضل ذکر وو خو په دواړو بابونو کښې فرق دې، د دې باب تعلق د متوفی عنها زوجها سره دې، او د تیر باب تعلق د مطلقه سره وو، په اول باب کښې د عضل مخاطب د زنانه اولیاء وو او په دې باب کښې د عضل مخاطب اولیاء الزوج دی، د جاهلیت په زمانه کښې داسې شوي وه چه د زنانه د خاوند د وفات نه پس به اولیاء زوج ته دا اختیار وو چه که غواړي نو خپله دې د هغه زنانه سره نکاح اوکړي او که غواړي نو د بل سره دې اوکړي او که نه غواړي نو د چا سره دې هم نه کوی پوره اختیار به هم هغه ته حاصل وو نو په دې باندې په قران کریم کښې تنبیه راغله ﴿لا یحل لکم ان ترثوا النساء کرها ﴾یعنی د کومو زنانو چه خاوندان وفات شي نو اوس د خاوند د اولیاء په هغې هیڅ اختیار نشته بلکه خپله هغه زنانه ته او د هغې اولیاء ته اختیار دې چه هغه چرته غواړي واده کولې شي، هم دغه شان دا اختیار چه کوی یا نه کوی.

[٢٠٨٩]([1]) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا أَسْبَاطُ بْنُ مُحَمَّدٍ، حَدَّثَنَا الشَّيْبَانِيُّ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ الشَّيْبَانِيُّ وَذَكَرَهُ عَطَاءٌ أَبُو الْحَسَنِ السُّوَائِيُّ، وَلَا أَظُنُّهُ إِلَّا عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، فِي هَذِهِ الْآيَةِ: لَا يَحِلُّ لَكُمْ أَنْ تَرِثُوا النِّسَاءَ كَرْهًا وَلَا تَعْضُلُوهُنَّ «سورة النساء آية»، قَالَ: "كَانَ الرَّجُلُ إِذَا مَاتَ كَانَ أَوْلِيَاؤُهُ أَحَقَّ بِامْرَأَتِهِ مِنْ وَلِيِّ نَفْسِهَا، إِنْ شَاءَ بَعْضُهُمْ زَوَّجَهَا أَوْ زَوَّجُوهَا، وَإِنْ شَاءُوا لَمْ يُزَوِّجُوهَا، فَنَزَلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ فِي ذَلِكَ".

دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه روایت دې چه هغه د دې آیت کریمه«(لا یحل لکم أن ترثوا النساء کرها ولا تعضلوهن») متعلق وئیلی وی کله چه به خاوند وفات کیدو نودده وارثانو به دده دښځې ډیرخیال ساتلو په نسبت دنورو ښځو دوارثانو بعضی وارثانو به دا زنانه پخپله نکاح کولی اویا به ئې بل چاته په نکاح ورکړې او که زړه به ئې وغوښتل نو دغه کونډه به ئې هیچاته په نکاح نه ورکوله خو په دی وخت کښې دا آیت کریمه نازل شو.

[٢٠٩٠]([2]) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ ثَابِتٍ الْمَرْوَزِيُّ، حَدَّثَنِي عَلِيُّ بْنُ حُسَيْنِ بْنِ وَاقِدٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ يَزِيدَ النَّحْوِيِّ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "لَا يَحِلُّ لَكُمْ أَنْ تَرِثُوا النِّسَاءَ كَرْهًا وَلَا تَعْضُلُوهُنَّ لِتَذْهَبُوا بِبَعْضِ مَا آتَيْتُمُوهُنَّ إِلَّا أَنْ يَأْتِينَ بِفَاحِشَةٍ مُبَيِّنَةٍ «سورة النساء آية»، وَذَلِكَ أَنَّ الرَّجُلَ كَانَ يَرِثُ امْرَأَةَ ذِي قَرَابَتِهِ فَيَعْضُلُهَا حَتَّى تَمُوتَ، أَوْ تَرُدَّ إِلَيْهِ صَدَاقَهَا، فَأَحْكَمَ اللَّهُ عَنْ ذَلِكَ، وَنَهَى عَنْ ذَلِكَ".

دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه روایت دې چه دا یت :«(لا یحل لکم أن ترثوا النساء کرها ولا تعضلوهن لتذهبوا ببعض ما آتیتموهن إلا أن یأتین بفاحشة مبینة») شان نزول دادنې چه یو کس

[1]): صحیح البخاري/تفسیر النساء ٦(٤٥٧٩)، الإکراه ٦(٦٩٤٨)، سنن النسائي/ الکبری/ التفسیر(١١٠٩٤)،(تحفة الأشراف: ٦١٠٠،٦٢٥٦)

[2]): انظر ما قبله،(تحفة الأشراف: ٦٢٥٦)(حسن صحیح)

به دخپل رشته دار دښځې وارث شونو دبل چاسره به ئې دنکاح نه منع کوله تردې چه هغه زنانه به په دې حال کښې وفات شوه پاداچه کوم مهر به ئې وصول کړو نوده ته به ئې ورکولو الله تعالى ددې نه منع اوفرمائيله.

[۲۰۹۱]() حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ شَبُّوَيْهِ الْمَرْوَزِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ عُثْمَانَ، عَنْ عِيسَى بْنِ عُبَيْدٍ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ مَوْلَى عُمَرَ، عَنِ الضَّحَّاكِ بِمَعْنَاهُ، قَالَ: فَوَعَظَ اللَّهُ ذَلِكَ.

دعبيدالله څوك چه دعمر رضي الله عنه ازاد كړې شوې غلام دې، نه روايت دې اوضحاك نه هم داسې روايت نقل شوې دې البته په دې روايت كښې دالفظ فوق الله ذلك. زيات دې (يعنى الله تعالى ددې نه منع اوفرمائيله).

بَابٌ فِي الِاسْتِئْمَارِ

باب د نكاح په وخت د جينۍ نه د اجازت اخستلو بيان

په باب فى الولى كښې مونږ دا خبره بيان كړې وه چه دلته دوه مسئلې دى ولايت النكاح، ولايت الاجبار، په دې باب كښې دا دويمه مسئله ذكر شوې ده چه په هغې كښې اختلاف او د هغې متعلق تشريح هلته ذكر شوې دې.

[۲۰۹۲]() حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا أَبَانُ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَا تُنْكَحُ الثَّيِّبُ حَتَّى تُسْتَأْمَرَ، وَلَا الْبِكْرُ إِلَّا بِإِذْنِهَا"، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، وَمَا إِذْنُهَا؟ قَالَ: "أَنْ تَسْكُتَ".

دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دې فرمائى چه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائيلى دي: دكونډې سره به دهغه وخته پورې نكاح نشى كولې ترڅوچه دهغې نه منظورى وانخستل شى او د پيغلو جينكو سره دهغه وخته پورې نكاح نشى كيدې ترڅوچه ترې اجازت وانخستلى شى په دې وخت كښې خلقو عرض اوكړو چه دجينكونه به څرنګه اجازت اخستلى شى (يعنى دحياء په وجه هغوى داجازت اظهار نشى كولې نواجازت به څنګه وركوي) نبى عليه السلام اوفرمائيل ددې خاموش كيدل اجازت دې.

د حديث نه د جمهورو استدلال او د احنافو د طرف نه د هغې جواب

تشريح: قوله: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَا تُنْكَحُ الثَّيِّبُ([3]) حَتَّى تُسْتَأْمَرَ، وَلَا الْبِكْرُ إِلَّا بِإِذْنِهَا".: د دې حديث تعلق لكه چه ظاهره ده د ولاية الاجبار سره دې چه د هغې مدار د جمهورو په نزد په ثيوبة او بكارة باندې دې او دلته په حديث كښې هم دا دواړه

[1]: تفرد به أبو داود(صحيح)

[2]: تفرد به ابوداود،(تحفة الأشراف: ۱۵۳۵۸)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/النكاح ۴۱(۵۱۳۶)، والحيل ۱۱(۶۹۷۰)، صحيح مسلم/النكاح ۹(۱۴۱۹)، سنن الترمذي/النكاح ۱۸(۱۱۰۷، ۱۱۰۸)، سنن النسائي/النكاح ۳۴(۳۲۶۹)، سنن ابن ماجه/النكاح ۱۱(۱۸۷۱)، مسند احمد(۲/۲۲۹، ۲۵۰، ۴۲۵، ۴۳۴)، سنن الدارمي/النكاح ۱۳(۲۲۳۲)(صحيح)

[3]: وهي من زالت بكارتها بوطي بعقد صحيح او فاسد او وطئ شبهة(المنهل) قلت وما في البذل في تفسير الثيب وهي التي فارقت زوجها بموت او طلاق اهـ فقيه نظر، بل هو تفسير الايم كما سياتي في حديث "الايم احق بنفسها من وليها" والله تعالي اعلم)

وصفونه ذکر شوي دی، لهذا دا حدیث د جمهورو دلیل او د احنافو خلاف شو.

احناف وائی چه په حدیث کښې ثیب او بکر دواړو نه ظاهره ده چه ثیبه بالغه او باکره بالغه مراد ده ځکه چه د صغیره اجازت خو د چا په نزد هم معتبر نه دې پس صغیره د مصداق حدیث نه عقلا خارج ده، لهذا د حدیث مطلب دا شو چه د بالغې نکاح که هغه ثیبه وی یا باکره وی د هغې د اجازت نه بغیر جائز نه ده کما هو مسلک الحنفیة... پاتې شوه دا خبره چه بیا وصف ثیوبة او بکارة ولې ذکر کړې شوې دې، د دې جواب دا دې چه طریق اجازت چونکه د دواړو مختلف دې په ثیب کښې اذن صریح ضروری دې او په بکر کښې سکوت هم کافی دې د هغې د بیان دپاره دا تعبیر اختیار کړې شوې دې البته په جمهور باندې به دا اشکال راځی[1] چه ستاسو په نزد خو باکره باندې ولی ته ولایت اجبار حاصل وی او دلته حدیث کښې دواړو په باره کښې نفی راغلې ده چه نه په ثیب باندې ولایة اجبار حاصل دې او نه په بکر باندې بیا دا حدیث ستاسو موافق څنګه شو؟ هغه حضرات د دې جواب دا کوی چه دا حکم په ثیبه کښې وجوبا دې او په باکره کښې استحبابا، یعنی اګر چه باکره باندې ولی ته ولایت اجبار حاصل دې چه د هغې د رضامندئ نه بغیر هغه د هغې نکاح کولې شی خو اولی هم دا ده چه د هغې نکاح هم بغیر د اجازت نه اونکړی خو دا توجیه کمزورې او د سیاق خلاف ده. والله سبحانه وتعالی اعلم. والحدیث اخرجه البخاری ومسلم والترمذی والنسائی وابن ماجة قاله المنذری.

[۲۰۹۳](۲) حَدَّثَنَا أَبُو كَامِلٍ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ يَعْنِي ابْنَ زُرَيْعٍ. ح وحَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ الْمَعْنَى، حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ عَمْرٍو، حَدَّثَنَا أَبُو سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "تُسْتَأْمَرُ الْيَتِيمَةُ فِي نَفْسِهَا، فَإِنْ سَكَتَتْ فَهُوَ إِذْنُهَا، وَإِنْ أَبَتْ فَلَا جَوَازَ عَلَيْهَا". وَالْإِخْبَارُ فِي حَدِيثِ يَزِيدَ. قَالَ أَبُو دَاوُد: وَكَذَلِكَ رَوَاهُ أَبُو خَالِدٍ سُلَيْمَانُ بْنُ حَيَّانَ وَمُعَاذُ بْنُ مُعَاذٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو.

دابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه دپیغلو جینکونه دنکاح په وخت کښې اجازت واخستلې شی که چرې اجازت غوښتلوپه د وخت کښې خاموشی اختیارکړی نوهمدا ددوی اجازت دې اوکه چرې انکار وکړی نوپه دوی باندې زبردستی کول نه دی پکار، دا الفاظ دیزید دروایت دي. امام ابوداود فرمائی چه همدارنګی روایت ابوخالد سلیمان بن حیان نه هغه دمعاذ بن معاذ نه اوهغه دمحمدبن عمرونه نقل کړې دي.

تشریح: قوله: ﴿تستامر الیتیمة فی نفسها فان سکتت فهو اذنها﴾ دې حدیث کښې یتیمه بالاتفاق په خپل ظاهر باندې محمول نه ده ځکه چه یتیمه خو په ظاهره کښې هغه وړه جینئ ده چه د هغې پلار نه وی پاتې شوې، او ظاهره ده چه د صغیره اجازت د یو فقیه په نزد هم معتبر نه

---

[1] په اصل کښې دجمهورو استدلال (لا تنکح الثیب حتی تستامر) د مفهوم مخالف نه دې ځکه چه ددې مفهوم مخالف دا راوځی چه د باکره نکاح دهغې داجازت نه بغیر کولې شی، احناف وائی دا مفهوم د حدیث دجزء ثانی د منطوق نه خلاف دی لهذا معتبر نه دي.

[2]: تفرد به أبو داود،(تحفة الأشراف: ۱۵۰۱٤، ۱۵۱۱۳)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/النكاح ۱۹(۱۱۰۹)، سنن النسائي/ النكاح ۳٦(۳۲۷۲)، مسند احمد(۲/۲۵۹، ۳۸٤)(حسن صحیح)

دي، لهذا د دې نه بکر بالغ مراد دي چه هغې ته د ما کان په اعتبار سره شفقة يتيمه وئيلې شوې ده كما فى قوله تعالى ﴿ واتوا اليتامى اموالهم ﴾او په دې باندې قرينه چه مراد ترې باكره ده دا ده چه وړاندې په حديث كښې فرمائى ﴿فان سكتت فهو اذنها﴾ يعنى د هغې سكوت ته اذن وئيلې شوې دي او د نورو احاديثو نه صراحة ثابته ده چه د سكوت اذن كيدل د باكره په حق كښې دى. فثبت بالامرين ان المراد باليتيمة البكر البالغ.

والحديث اخرجه الترمذى والنسائى قاله المنذرى.

[٢٠٩٤]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، حَدَّثَنَا ابْنُ إِدْرِيسَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو بِهَذَا الْحَدِيثِ بِإِسْنَادِهِ، زَادَ فِيهِ: قَالَ: "فَإِنْ بَكَتْ أَوْ سَكَتَتْ"، زَادَ: بَكَتْ. قَالَ أَبُو دَاوُد: وَلَيْسَ بَكَتْ بِمَحْفُوظٍ، وَهُوَ وَهْمٌ فِي الْحَدِيثِ، الْوَهْمُ مِنَ ابْنِ إِدْرِيسَ أَوْ مِنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْعَلَاءِ. قَالَ أَبُو دَاوُد: وَرَوَاهُ أَبُو عَمْرٍو ذَكْوَانُ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّ الْبِكْرَ تَسْتَحِي أَنْ تَتَكَلَّمَ قَالَ: "سُكَاتُهَا إِقْرَارُهَا".

محمد بن عمرو نه هم داسې روايت نقل شوې دي مگر په دې روايت كښې دا اضافه ده چه كه چرې ښځه خاموشه پاتې شي يا وژاړى نو دا هم دهغې د طرف نه اجازت دي امام ابوداود فرمائى په دې روايت كښې .. بكت،، لفظ دابن ادريس وهم دي اودا اضافه محفوظ نه ده.

﴿ زاد فيه : فان بكت او سكتت ﴾د باكره په حق كښې سكوت اذن كيدل خو اتفاقى مسئله ده خو د بكاء اذن كيدل مختلف فيه دى، د احنافو او شوافعو په نزد خو بكاء هم د اذن په حكم كښې دي او په دې كښې د مالكيانو اختلاف دي د هغوى په نزد بكاء اذن نه دي، او د شوافعو په نزد نفس بكاء خو اذن دي خو كه بكاء په چغو او اوچت اواز سره وى نو اذن نه دې، او د بعض علماء كرامو رائې دا ده چه په بكاء كښې تفصيل دي چه كه اوښكې گرمې وى نو اجازت نشته او كه يخې وى نو بيا اجازت شته، وقد اخرجه البخارى ومسلم والنسائى مسندا بمعناه قاله المنذرى.

[٢٠٩٥]() حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ هِشَامٍ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ إِسْمَاعِيلَ بْنِ أُمَيَّةَ، حَدَّثَنِي الثِّقَةُ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "آمِرُوا النِّسَاءَ فِي بَنَاتِهِنَّ".

دابن عمر رضي الله عنهما نه روايت دي فرمائى چه د نبى عليه السلام فرمائيلى دى : دښځوسره ددوى و دلونړو دنكاح په معامله كښې مشورى كوئ اوددوى نه مشورې اخلئ.

اولياء ته حكم دي چه د جينكو سره د نكاح وغيره معاملاتو كښې د هغوى د ميانډو سره مشوره كوئ ځكه چه د جينكو د حالاتو نه د پلارانو په نسبت ميانډې زياتې خبر وى، وفى المنهل، والامر للاستحباب، قال الشافعى : لا خلاف انه ليس للام امر لكنه على معنى استطابة النفس. اهـ

[1]): حديث محمد بن العلاء قد تفرد به أبو داود،(تحفة الأشراف: ١٥٠٣٥)، وحديث أبو عمر وذكوان عن عائشة، قد رواه صحيح البخاري/النكاح ٤١(٥١٣٧)، صحيح مسلم/النكاح ٩(١٤٢٠)، سنن النسائي/ النكاح ٣٤(٣٢٦٨)،(تحفة الأشراف: ١٦٧٥٧)، وقد أخرجه: مسند احمد(٤٥/٦، ١٦٥، ٢٠٣)(صحيح)

[2]): تفرد به أبو داود،(تحفة الأشراف: ٨٥٩٨)، وقد أخرجه: مسند احمد(٣٤/٢)(ضعيف)

بَابٌ فِي الْبِكْرِ يُزَوِّجُهَا أَبُوهَا وَلَا يَسْتَأْمِرُهَا

باب: پیغله جینۍ چه خپل پلارئې په نکاح چاته ورکړي او اجازت ترې وانخلي دهغې بیان

دا مسئله مخکښې تیره شوه چه ولایة اجبار د امام شافعي رحمه الله په نزد صرف د پلار او نیکه دپاره دې، په خلاف د احنافو چه د هغوی په نزد د ټولو اولیاء دپاره دې خو فرق دا دې چه جینۍ ته بعد البلوغ د پلار او نیکه په صورت کښې خیار حاصل نه وی او د نورو اولیاء په صورت کښې حاصل وی.

[٢٠٩٦](١) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا حُسَيْنُ بْنُ مُحَمَّدٍ، حَدَّثَنَا جَرِيرُ بْنُ حَازِمٍ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، "أَنَّ جَارِيَةً بِكْرًا أَتَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَذَكَرَتْ أَنَّ أَبَاهَا زَوَّجَهَا وَهِيَ كَارِهَةٌ، فَخَيَّرَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ".

دابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دې فرمائی: چه یوه پیغله جینۍ دنبی علیه السلام په خدمت کښې حاضره شوه اوعرض ئې وکړوچه پلارچاته په نکاح ورکړې یم او زه ددې نکاح نه انکار کوم نونبی علیه السلام هغې ته اختیار ورکړو.

یعنی د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې یوه باکره بالغه راغله او هغې شکایت اوکړو چه د هغې پلار د هغې نکاح د هغې د اجازت نه بغیر کړې ده، په دې باندې رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه زنانه ته اختیار ورکړو دا حدیث د مسلک احناف عین مطابق دې چه په بالغې باندې چاته هم حق اجبار نشته اګر چه هغه باکره ولې نه وی. لهذا دا حدیث د جمهورو خلاف شو خو مصنف د دې حدیث په سند باندې کلام کړې دې او په دې کښې ئې د ارسال او اسناد په اعتبار سره د راویانو اختلاف بیان کړې دې او دا چه اکثر راویانو دا مرسلا روایت کړې دې بغیر د ابن عباس د ذکر نه، په بذل المجهود کښې ئې د علامه عینی نه نقل کړې دی: ولاصحابنا هذا الحديث الذى اخرجه ابوداود والنسائي وابن ماجه واحمد، او بیا وړاندې حضرت په دې باندې تفصیلی کلام فرمائیلې دې، فليراجع... والحديث اخرجه ابن ماجة قاله المنذری.

[٢٠٩٧](٢) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدٍ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، بِهَذَا الْحَدِيثِ. قَالَ أَبُو دَاوُد: لَمْ يَذْكُرِ ابْنَ عَبَّاسٍ، وَكَذَلِكَ رَوَاهُ النَّاسُ مُرْسَلًا مَعْرُوفٌ.

عکرمه هم دنبی علیه السلام نه داسې روایت نقل به کړې دې، ابوداود فرمائی چه ابن عباس ئې پکښې نه دی ذکرکړی اوهمدارنګې دا روایت ډیر وخلقو داسې نقل کړی دی او مرسل مشهوردې.

(١): سنن ابن ماجه/النكاح ١٢(١٨٧٥)،(تحفة الأشراف: ٦٠٠١، ١٩١٠٣)، وقد أخرجه: مسند احمد(٢٧٣/١)(صحيح)
(٢): انظر ما قبله،(تحفة الأشراف: ٦٠٠١، ١٩١٠٣)(صحيح)

بَابٌ فِي الثَّيِّبِ

باب: د کونډې نه د اجازت اخستلو بيان

[۲۰۹۸]() حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، وَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، قَالَا: أَخْبَرَنَا مَالِكٌ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْفَضْلِ، عَنْ نَافِعِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الْأَيِّمُ أَحَقُّ بِنَفْسِهَا مِنْ وَلِيِّهَا، وَالْبِكْرُ تُسْتَأْذَنُ فِي نَفْسِهَا، وَإِذْنُهَا صُمَاتُهَا". وَهَذَا لَفْظُ الْقَعْنَبِيِّ.

دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دې فرمائي چه نبي عليه السلام فرمائيلي دي: چه کونډه يا مطلقه ښځه دکومې سره چه يوځل خلوت شوي وي په خپله معامله دولي په نسبت باندې خود مختاره ده اوپيغلي نه به دهغې دنفس باره کښې اجازت اخستلي شي، او ددې خاموشه کيدل اجازت دې. او دا دقعنبي دروايت الفاظ دې.

د حديث په تشريح کښې د احنافو او شوافعو اختلاف

دا حديث د احنافو صريح او صحيح دليل دې د ولاية النکاح په مسئله کښې چه حره عاقله بالغه ته په خپله نکاح باندې ولايت حاصل دې د دې حديث حواله په باب فی الولی کښې تيره شوې ده، په فتح القدير کښې په دې مسئله باندې تفصيلي کلام دې کوم چه په بذل المجهود کښې هم نقل کړې شوې دې، ځکه چه ﴿احق﴾ د اسم تفضيل صيغه ده کومه چه شرکت لره مقتضی ده مع شئ زائد للمفضل... نو چه کله ولی ته ولايت نکاح حاصل دې نو خپله به زنانه ته په طريق اولی حاصل وی، لهذا د دې حديث نه دوه خبرې معلومې شوې، بالغه زنانه خپله نکاح کښې خود مختاره ده او دويم دا چه ولی د هغې نکاح بغير د هغې د رائې نه نه شی کولې. وبعبارة اخرى د بالغې ولی د هغې په تزويج کښې د هغې د اذن محتاج دې او بالغه په خپل تزويج کښې د ولی اذن ته محتاجه نه ده، حضرات شوافع فرمائی چه د زنانه د احق کيدو مطلب دا دې چه ولی د هغې نکاح د هغې د اجازت او رضامندئ نه بغير نه شی کولې نه دا چه هغه خپله نکاح کولې شی، پس امام ترمذی په جامع ترمذی کښې د دې حديث د تخريج نه پس فرمائی: ﴿هذا حديث حسن صحيح واحتج بعض الناس فی اجازة النکاح بغير ولی بهذا الحديث وليس فی هذا الحديث ما احتجوا به وانما معنی قول النبی صلی الله عليه وسلم الايم احق بنفسها من وليها عند اکثر اهل العلم ان الولی لا يزوجها الا برضاها مختصرا﴾ ګويا د شوافعو په نزد د دې حديث تعلق صرف د ولاية الاجبار سره دې د ولاية النکاح سره نه دې او چونکه د ولاية الاجبار مدار د هغوی په نزد په ثيوبة او بکارة باندې دې ځکه چه هغه فرمائی چه د ﴿الايم﴾ نه مراد ثيب دې (وقد اشار اليه المصنف ايضا بترجمة الباب) لهذا دا حديث ابن عباس د هغوی په نزد د دې حديث ابوهريره رضي الله عنه په معنی دې کوم چه په باب الاستيمار کښې تير شوې دې ﴿لا تنکح الثيب حتی تستامر﴾ بلکه بعض رواياتو کښې ﴿الايم﴾

[1]): صحيح مسلم/النکاح ۹(۱۴۲۱)، سنن الترمذي/النکاح ۱۷(۱۱۰۸)، سنن النسائي/النکاح ۳۱(۳۲۶۲)، سنن ابن ماجه/النکاح ۱۱(۱۸۷۰)، (تحفة الأشراف: ۶۵۱۷)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/النکاح ۲(٤)، مسند احمد(۲۱۹/۱، ۲۴۳، ۲۷۴، ۳۵۴، ۳۵۵، ۳۶۲)، سنن الدارمي/النکاح ۱۳(۲۲۳٤)(صحيح)

په ځائې ﴿الثيب﴾ راغلې دې لهذا د ﴿الايم﴾ نه مراد ثيب دې او حافظ ابن حجر خو دا هم وئيلې دی چه ايم په اصل لغت کښې ثيب ته وئيلې شی اګر چه د دې اطلاق مطلقا په هغه زنانه باندې هم کيږی چه خاوند ئې نه وی که ثيب وی يا بکر وی.

خو د حافظ صاحب دا خبره د تحقيق خلاف ده حمله على ذلک نصرة مذهبه، حضرت په بذل کښې د قاموس عبارت نقل کړې دې ﴿الايم ککيس منن لا زوج لها بکرا کانت او ثيبا﴾ علامه تورپشتی (چا چه په دې حديث ښه وضاحت کړې دې) هم دا ثابته کړې ده چه ﴿الايم﴾ عام دې د ثيب سره خاص نه دې، هغه فرمائی دا ټول حضرات ليکی چه د ﴿ايم﴾ معنی د ثيب ده ځکه چه په حديث کښې د هغې مد مقابل مذکور دې. هغه فرمائی ﴿واراهم انما ذهبوا الى ذلک فرارا من القول بولاية المراءة على نفسها﴾، بيا وړاندې تلو سره فرمائی چه په دې حديث کښې چه دا بکر جدا ذکر کړې شوې دې. د استيذان په باره کښې پس د دې وجه دا ده چه اګر چه ثيب او بکر په مسئلة ولاية النکاح کښې متفق دی خو په حکم استيذان کښې مختلف دی. اه مختصرا من التعليق الصبيح ۱۶/۴ هم دغه شان تورپشتی فرمائی چه په کوم روايت په ځائې د ﴿الايم﴾﴿الثيب﴾ راغلې دې، په ظاهره کښې هغه روايت بالمعنی ده، راوی دا خيال اوکړو چه دا دواړه الفاظ د معنی په لحاظ يو شان دی د يو بل قائم مقام کيدې شی. (قلت) که دا هم تسليم کړې شی چه د ايم معنی ثيب ده نو بيا هم زمونږ د مطلوب منافی نه دې ځکه چه زمونږ استدلال خو د لفظ احق نه دې، هغه په حديث کښې په هر صورت کښې مذکور دې، باقی د ثيب د تخصيص په بناء عادت کيدې شی چه په خپله د نکاح اقدام هم د هغې نه متوقع دې د بکر نه دې، دا مقام کافی دقيق دې دا ئې په غور اوګنړلو او اولوستلې شی. والحديث اخرجه مسلم والترمذی والنسائی وابن ماجة قاله المنذری.

[۲۰۹۹](¹) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ زِيَادِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْفَضْلِ، بِإِسْنَادِهِ وَمَعْنَاهُ، قَالَ: "الثَّيِّبُ أَحَقُّ بِنَفْسِهَا مِنْ وَلِيِّهَا، وَالْبِكْرُ يَسْتَأْمِرُهَا أَبُوهَا". قَالَ أَبُو دَاوُد: أَبُوهَا لَيْسَ بِمَحْفُوظٍ.

عبدالله بن الفضل په خپل سندسره دنافع بن جبير دروايت په شان روايت نقل کړې دې مګردې اضافې سره چه کونډه يا مطلقه ښځه دکومې سره چه يوځل خلوت شوې وې په خپله معامله دولی په نسبت باندې خود مختاره ده اوديپيغلی نه به دهغې دنفس باره کښې ددې پلار اجازت اخلی.

[۲۱۰۰](²) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنْ صَالِحِ بْنِ كَيْسَانَ، عَنْ نَافِعِ بْنِ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَيْسَ لِلْوَلِيِّ مَعَ الثَّيِّبِ أَمْرٌ، وَالْيَتِيمَةُ تُسْتَأْمَرُ، وَصَمْتُهَا إِقْرَارُهَا".

دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دې فرمائی چه نبی عليه السلام فرمائيلی دی: چه دکونډې سره دولی څه کارنشته اوديتيمی نه به اجازت غوښتلې شي او ددې خاموش کيدل داقرار قائم مقام دې

(¹): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٦٥١٧) (صحيح)
(²): انظر حديث رقم (٢٠٩٨)، (تحفة الأشراف: ٦٥١٧) (صحيح)

[٢١٠١]()حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْقَاسِمِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، وَمُجَمِّعٍ ابْنَيْ يَزِيدَ الْأَنْصَارِيَّيْنِ، عَنْ خَنْسَاءَ بِنْتِ خِذَامٍ الْأَنْصَارِيَّةِ، أَنَّ أَبَاهَا زَوَّجَهَا وَهِيَ ثَيِّبٌ فَكَرِهَتْ ذَلِكَ، فَجَاءَتْ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَتْ ذَلِكَ لَهُ "فَرَدَّ نِكَاحَهَا".

دخنساء بنت خدام انصاریه رضي الله عنها نه روایت دي فرمائي چه زه خپل پلارْبه نکاح ورکړم اوزه ثیبه(خلوت شده)وم نوما دارشته بده وګڼله اونبی ﷺ ته ورغلم او دا واقعه مي ورته ذکرکړه نونبی ﷺ نکاح واپس ماته کړه.

عَنْ خَنْسَاءَ بِنْتِ (٢) خِذَامٍ الْأَنْصَارِيَّةِ، أَنَّ أَبَاهَا زَوَّجَهَا وَهِيَ ثَيِّبٌ فَكَرِهَتْ ذَلِكَ، فَجَاءَتْ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَتْ ذَلِكَ لَهُ"فَرَدَّ نِكَاحَهَا".

دا حديث په احنافواو شوافعو کښې د چا خلاف هم نه ده ځکه چه په صورت مذکوره في الحديث کښې دواړو په نزد دا نکاح منسوخ ده خو په تعليل کښې اختلاف دې، د شوافعو په نزد د رد نکاح علت د دې ثيب کيدل دی او د احنافو په نزد بالغ کيدل دی، په منهل کښې د دې حديث د لاندې د دې مسئلې تفصيلات ذکر کړي دی، په دې کښې ليکلي دی چه په کوم صورت کښې د ولي دپاره د زنانه نکاح بغير د هغې د اجازت نه جائز نه ده که ولي د هغې نکاح بغير د اجازت او اطلاع نه اوکړي بيا هغه زنانه د دې په خبر کيدو باندې دا نکاح جائز کړي په دې صورت کښې احناف خو دا وائي چه هغه نکاح به صحيح وي او که هغه ئي جائز نه ګنړي نو نکاح به صحيح نه وي باطله به وي، او د امام احمد او امام شافعي مسلک دا دې چه په دې صورت هغه نکاح به هر صورت کښې باطله ده، په خبر کيدو باندې که هغه زنانه راضي وي يا نه وي، او د مالکيانو په نزد په دې کښې تفصيل دې کما ذکر في المنهل. والحديث اخرجه البخارى والنسائى وابن ماجة قاله المنذرى. وفى المنهل والحديث اخرجه ايضا الشافعي واحمد والبخارى وباقى الاربعة والبيهقى والدارقطنى. اهـ

بَابٌ فِي الْأَكْفَاءِ

باب: د کفو د احکامو بیان

د کفاءة متعلق مباحث اربعه

دلته څو څيزونه د تپوسلو قابل دی اول د کفاءة معنې، دويم د هغې شرعي حکم، دريم هغه اوصاف چه په هغې کښې کفاءة معتبر دي، څلورم کفاءت د چا حق دې؟... ايا د سړي يا د زنانه يا د دواړو.

بحث اول: (کفوء معنی)

لفظ الاکفاء کوم چه په ترجمة الباب کښې مذکور دې دا د کفو بضم اوله وسکون الفاء بعدها همزة جمع ده، د کفاءة معنى ده برابرى، کفو په معنى د المثل والنظير، والمراد بالکفاءة ههنا الزوج نظير الزوجة في النسب ونحوه کما فى المنهل يعنى د سړي د زنانه سره برابريدل د هغې نه په درجه کښې ښکته نه کيدل.

(١): صحيح البخاري/النكاح ٤٢(٥١٣٨)، الإكراه ٣(٦٩٤٥)، الحيل ١١(٦٩٦٩)، سنن النسائي/النكاح ٣٥(٣٢٧٠)، سنن ابن ماجه/النكاح ١٢(١٨٧٣)، (تحفة الأشراف: ١٥٨٢٤)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/النكاح ١٤(٢٥)، مسند احمد(٦/٣٢٨)، سنن الدارمي/النكاح ١٤(٢٢٣٨)(صحيح)

(٢) خنساء بنت خذام على وزن حمراء وخذام بكسر الخاء المعجمة بعدها دال مهملة وفي بعض النسخ بنت خذام بالذال المعجمة، ورجح الحافظ الاول وهي صحابية مشهورة. المنهل)

بحث ثاني : (د کفوء حکم)

د جمهورو او ائمه ثلاثه په نزد د زوجین ترمینځه کفاءة موندلې کیدل د نکاح د صحت دپاره شرط نه دې، د امام احمدرحمه الله نه په دې کښې دوه روایتونه دی، ابن قدامه فرمائی ﴿روی عنه انها شرط له، والرواية الثانية عن احمد انها ليست بشرط وهذا قول اكثر اهل العلم، كذا في الاوجز ۴/۴۱۵﴾.

بهرحال د جمهورو په نزد کفاءت شرط صحت خو نه دې خو شرعا معتبر ضرور دې پس په هدایه کښې دی چه کفاءت په نکاح کښې معتبر دې پس که یوه زنانه خپله نکاح د غیر کفو سره اوکړی نو په دې صورت کښې اولیاء لره د زوجین ترمینځه د تفریق کولو حق دې دفعا لضرر العار عن انفسهم، ابن قدامهرحمه الله فرمائي چه د روایاتو نه د کفاءت فی الجمله معتبر کیدل ثابت دی خو د دې نه د دې اشتراط نه لازمیږي.

بحث ثالث : کفاءت په کومو کومو اوصافو کښې معتبر دې؟

مسئله مختلف فیه ده، د احنافو په نزد په دري څیزونو کښې بالاتفاق معتبر ده، نسب، حریت، مال، د دې درې وارو نه علاوه دوه وصفونه مختلف فیه دی یعنی دین، صنعت او کسب، د شیخین په نزد کفاءت فی الدین معتبر دې، د امام محمد په نزد معتبر نه دې، هغه فرمائی دین د امور اخرت نه دې، او د کار کسب اعتبار د امام ابویوسف په نزد دې خلافا لابی حنیفة علی عادة العرب، ځکه چه د اهل عرب په نزد کار کسب د عار یا افتخار باعث نه دې، او د امام ابویوسفرحمه الله په نزد دې لره اعتبار دې علی عادة العجم لان العجم یعیرون بالدنی من الحرفة... چه د عجمیانو په نزد کمزوري کسب د شرم باعث دې. د حضرت ګنګوهی د تقریر نه معلومیږی چه امام صاحب په دې کښې د عربو د حال لحاظ فرمائیلې دې چه چونکه هغوی سره خپل نسبونه محفوظ دی په دې وجه هغوی د کار کسب پرواه نه کوی، او امام ابویوسفرحمه الله د عجمیانو حالت ته کتلو سره حرفة لره اعتبار ورکړې دې ځکه چه عجمیانو خپل نسب محفوظ نه دې ساتلې. پس د هغوی نظر په ظاهري حرفة او کسب باندې وی. بهرحال دا کل پنځه اوصاف شو، د امام احمدرحمه الله په نزد هم کفاءت هم په دې اوصاف خمسه کښې معتبر دې او بل روایت د هغوی نه دا دې چه د کفاءت اعتبار صرف په دین او نسب کښې دې او هم دغه شان د شوافعو په نزد فی المشهور عنهم کفاءت په دې اوصاف خمسه کښې معتبر دې. التقوی، الحرية، النسب، الحرفة، السلامة من العيوب المنفرة مثل الجنون والجذام والبرص. د دې نه علاوه شپږم څیز مال دې یعنی ﴿يسار﴾ چه په هغې کښې روایات مختلف دی، او د امام مالکرحمه الله مسلک دا دې چه کفاءت صرف په دین کښې معتبر دې، لقوله تعالى ان اكرمكم عند الله اتقاكم ولقوله عليه الصلاة والسلام فاظفر بذات الدين.

بحث رابع : کفاءت دا د زنانه حق دې د سړی حق نه دې:

ففي المنهل : وتعتبر في جانب الرجال للنساء ولا تعتبر في جانب النساء للرجال لان النصوص وردت بهذا. لهذا د کفاءت حاصل دا دې چه په څو مخصوص اوصاف حسنه کښې د سړی د زنانه سره برابر کیدل([1])او د زنانه د سړی برابر کیدل دا کفاءت نه دې ځکه چه د عدم کفاءت په صورت کښې چه کوم عار لاحق کیږی هغه زنانه ته لاحق کیږی سړی ته په هیڅ صورت کښې

---

[1]) یعنی که هغه اوصاف په ښځه کښې بیا موندلې شی نو په سړی کښې هم کیدل پکار دی او د دې عکس معتبر نه دې (چه که هغه اوصاف په سړی کښې وی نو په زنانه کښې دې هم وی).

نه لاحق کیږي ځکه زنانه د خاوند ماتحت وي او د اعلی د ادنی ماتحت کیدل دا موجب عار دی نه ددې عکس، لهذا د زنانه د سړی نه کم درجه کیدل مضر نه دی.

[٢١٠٢](١) حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ بْنُ غِيَاثٍ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَمْرٍو، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ أَبَا هِنْدٍ حَجَمَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْيَافُوخِ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَا بَنِي بَيَاضَةَ، أَنْكِحُوا أَبَا هِنْدٍ وَأَنْكِحُوا إِلَيْهِ"، وَقَالَ: "وَإِنْ كَانَ فِي شَيْءٍ مِمَّا تَدَاوُونَ بِهِ خَيْرٌ، فَالْحِجَامَةُ".

دابوهریرة رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه ابوهند نبی علیه السلام ته ښکرولګولو، په دې وخت کښې نبی علیه السلام اوفرمائیل اې بنی بیاضه قبیلې والا ابوهند ته خوك زنانه په نکاح ورکړئ اودنکاح پیغام ورته ولیږئ ځکه چه ستاسو دپاره چه په دوا ګانو کښې کومه بهتره دوا ده هغه حجامت دې یعنی ښکرلګول.

د حدیث مضمون دا دې چه ابو هند حجام رضی الله عنه (ښکر لګولو والا) د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سر مبارك په کپره باندې ښکر اولګولو، په دې باندې رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه د خاندان خلقو ته خطاب کولو سره اوفرمائیل چه اې بنو بیاضه! د خپلو جینکو هغه کره ودونه اوکړئ او د هغه د لونړو رشتې اوغواړئ، یعنی خپل مینځ کښې د ابوهند سره ودونه اوکړئ، شارحینو لیکلي دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم دا خبره یا خو په دې وجه اوفرمائیله چه ابو هند د موالی نه وو یا د هغه د کسب حجامت د وجې نه. والحدیث اخرجه مختصرا البیهقی والحاکم وقال هذا حدیث صحیح علی شرط مسلم اهـ قاله فی المنهل.

فائده : امام بخاری د کفاءت په سلسله کښې دوه بابونه قائم کړې دی، باب الاکفاء فی الدین، د دې نه روستو ئې باب الاکفاء فی المالوتزویج المقل المثریة، حافظ فرمائی چه د کفاءت په معتبر کیدلو کښې د ټولو علماء کرامو اتفاق دې (فلا تحل المسلمة للکافر اصلا)(٢)، د دې نه روستو لیکی چه د امام مالک رائې بالجزم دا ده چه کفاءت د دین سره مختص دې ونقل عن ابن عمرو وابن مسعود، ومن التابعین عن ابن سیرین وعمرو بن عبدالعزیز.

ایا په کفاءت بالنسب کښې یو حدیث شته؟

د دې نه روستو حافظ فرمائی چه جمهور علماء کرامو د کفاءت فی النسب اعتبار کړې دې، بیا لیکی چه : ولم یثبت فی اعتبار الکفاءة بالنسب حدیث... او د بخاری د دویم باب د لاندې حافظ لیکی چه کفاءت بالمال معتبر کیدو کښې اختلاف دې والاشهر عند الشافعیة انه لا یعتبر ونقل عن الشافعی انه قال الکفاءة فی الدین والمال والنسب الی اخر ما قال الحافظ، زه وایم چه غالبا امام بخاری په دویم باب کښې وتزویج المقل المثریة نه د کفاءت فی المال عدم اعتبار طرف ته اشاره کړې ده لکه چه د شوافعو مشهور مذهب دې.

---

١): تفرد به أبو داود،(تحفة الأشراف: ١٥٠١٩)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/الطب ٢٠(٣٤٧٦)، مسند احمد(٣٤٢/٢، ٤٢٣)(حسن)

٢) **تنبیه** : او هغه چه په شروع کښې مونږ سره د مذاهبو د اختلاف د لاندې تیر شو چه د امام محمد په نزد د کفاءت فی الدین اعتبار نشته نو د هغه تعارض دفیعه دا ده چه د حافظ مراد د دین نه دین اسلام دې او هلته د دین نه مراد دین اسلام نه دې بلکه دیانت او تقوی مراد ده.)

بَاب فِي تَزْوِيجِ مَنْ لَمْ يُولَدْ

باب: د پیدائش نه مخکښې په نکاح ورکول

یعنی د جینئ د پیدائش نه مخکښې د هغې نکاح کول لکه چه د جاهلیت په زمانه کښې به داسې کیدل. کما فی حدیث الباب... خو په مذهب اسلام کښې دا تزویج باطل او غیر معتبر دې. او دخطابی په نسخه کښې باب فی تزویج من لم تولد د مؤنث په صیغې سره واقع دې، صاحب منهل لیکي چه بیهقي ترجمه قائم کړې ده : لا نکاح لمن لم یولد.

[٢١٠٣] (١) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، وَمُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى الْمَعْنَى، قَالَا: حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يَزِيدَ بْنِ مِقْسَمٍ الثَّقَفِيُّ مِنْ أَهْلِ الطَّائِفِ، حَدَّثَتْنِي سَارَةُ بِنْتُ مِقْسَمٍ، أَنَّهَا سَمِعَتْ مَيْمُونَةَ بِنْتَ كَرْدَمٍ، قَالَتْ: خَرَجْتُ مَعَ أَبِي فِي حَجَّةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَرَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَدَنَا إِلَيْهِ أَبِي وَهُوَ عَلَى نَاقَةٍ لَهُ، فَوَقَفَ لَهُ وَاسْتَمَعَ مِنْهُ وَمَعَهُ دِرَّةٌ كَدِرَّةِ الْكُتَّابِ، فَسَمِعْتُ الْأَعْرَابَ وَالنَّاسَ وَهُمْ يَقُولُونَ: الطَّبْطَبِيَّةَ الطَّبْطَبِيَّةَ الطَّبْطَبِيَّةَ، فَدَنَا إِلَيْهِ أَبِي فَأَخَذَ بِقَدَمِهِ فَأَقَرَّ لَهُ وَوَقَفَ عَلَيْهِ وَاسْتَمَعَ مِنْهُ، فَقَالَ: إِنِّي حَضَرْتُ جَيْشَ عِثْرَانَ، قَالَ ابْنُ الْمُثَنَّى: جَيْشَ غِثْرَانَ، فَقَالَ طَارِقُ بْنُ الْمُرَقَّعِ: مَنْ يُعْطِينِي رُمْحًا بِثَوَابِهِ؟ قُلْتُ: وَمَا ثَوَابُهُ؟ قَالَ: أُزَوِّجُهُ أَوَّلَ بِنْتٍ تَكُونُ لِي، فَأَعْطَيْتُهُ رُمْحِي، ثُمَّ غِبْتُ عَنْهُ حَتَّى عَلِمْتُ أَنَّهُ قَدْ وُلِدَ لَهُ جَارِيَةٌ وَبَلَغَتْ، ثُمَّ جِئْتُهُ، فَقُلْتُ لَهُ: أَهْلِي جَهِّزْهُنَّ إِلَيَّ، فَحَلَفَ أَنْ لَا يَفْعَلَ حَتَّى أُصْدِقَهُ صَدَاقًا جَدِيدًا غَيْرَ الَّذِي كَانَ بَيْنِي وَبَيْنَهُ، وَحَلَفْتُ لَا أُصْدِقُ غَيْرَ الَّذِي أَعْطَيْتُهُ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "وَبِقَرْنِ أَيِّ النِّسَاءِ هِيَ الْيَوْمَ؟" قَالَ: قَدْ رَأَتِ الْقَتِيرَ، قَالَ: أَرَى أَنْ تَتْرُكَهَا، قَالَ: فَرَاعَنِي ذَلِكَ وَنَظَرْتُ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَلَمَّا رَأَى ذَلِكَ مِنِّي، قَالَ: "لَا تَأْثَمُ وَلَا يَأْثَمُ صَاحِبُكَ". قَالَ أَبُو دَاوُدَ: الْقَتِيرُ الشَّيْبُ.

دمیمونه بنت کردم رضی الله عنها نه روایت دې فرمائی چه زه دخپل پلار سره درسول الله دحجة الوداع په سفر کښې روانه شوم زما پلار نبی علیه السلام ته نزدې ورغې او هغه په دې وخت کښې په یو اوښ باندې سور وو او په لاس کښې ئې یوه داسې لختهٔ(چوکه)وه لکه څنګه چه دمکتب دمعلمینو سره وي(په کومې سره چه ماشومانو ته تعلیم اوادب ورکوي ما واوریدل چه هغه او نورو کسانو الطبیة الطبطبة وئیل په دې وخت کښې زما پلار نبی علیه السلام ته ورنزدې شو اودهغه لاس ئې ونیوو اودهغه دپیغمبرکیدو اقرارئې وکړو او په هم هغه ځائې ولاړ وو اودنبی علیه السلام نه ئې ډیر فائده مند نصیحتونه واوریدل اوددې نه پس ئې ورته عرض اوکړو چه زه دحبشو په عثران لښکر کښې شریك وم داد جاهلیت دزمانې لښکروو) طارق بن مرقع رانه تپوس اوکړو داسې به څوك وی چه ماته یوه نیزه راکړې ددې په عوض کښې ماورته اووئیل دکوم شي په عوض کښې؟ طارق اووئیل ددې په عوض کښې چه کله زما اولنۍ لور پیداشي هغه به ورته زه په سنتتاح ورکوم چنانچه ما ورته خپله نیزه ورکړه اولاړم تردې چه یوه ورځ ما واوریدل چه دطارق لور پیداشوې ده اوهغه اوس پېغله شوې ده زه ورته ورغلم چه اوس ماته زما ښخه راوسپاره هغه قسم وکړو چه زه به هیڅ کله تاته خپله لور درنکرم یعنی. په نکاح ترڅوچه تاماته ددې نه علاوه نوې مهرنه وی راکړې اوماهم داقسم وکړو چه زه به ورته ددې نه علاوه هیڅ یوشې ورنکړم، په دې وخت کښې نبی علیه السلام اوفرمائیل اوس جینئ دڅومره عمرده؟ زما پلار اووئیل هغه اوس بوډئ شوې ده نبی علیه السلام اوفرمائیل هغه پریږده چه لاړه شي زه ددې خبرې نه اویریدم اوما نبی علیه السلام ولیدو. هغه و چه کله زما حالت اولیدونو وئې فرمائیل نه ته ګنهګار کیږې اونه ستا ملګرت(طارق) ګنهګاریږي. ابوداود فرمائی چه قتیر

١): تفرد به أبو داود،(تحفة الأشراف: ١٨٠٩١)، وقد أخرجه: مسند احمد(٣٦٦٧٦)، ويأتي هذا الحديث في الأيمان(٣٣١٤)(ضعيف)

بوډا والی ته وټیلې شي.

شرح الحدیث بتمامه:

د حدیث مضمون دا دی چه میمونه بنت کردم رضی الله عنها فرمائی چه زه د خپل والد محترم سره د حجة الوداع دپاره لاړم نو رسول الله ﷺ مې اولیدو هم په دې وخت کښې زما والد صاحب ور وړاندې شو په داسې حال کښې چه رسول الله ﷺ په خپله اوښه باندې سور وو هغه سره یوه دره وه څنګه چه د ماشومانو د معلمینو سره وی(وړاندې میمونه د هغه وخت یو خاص منظر بیان فرمائی چه) ما د خلقو نه واوریدل(د خلقو نه مراد هغه صحابه دی کوم چه د هغوی نه چاپیره راجمع وو) چه هغوی داسې وئیل ﴿الطبطبية الطبطبية﴾ د دې جملې په شرح کښې د شارحینو دوه اقوال دی یو دا چه طبطبیه کنایه ده د دره نه څکه چه کله هغه وهلې شی نو د طب طب په شان اواز پیدا کیږی او دا منصوب دې په تحذیر باندې یعنی ځان بچ کړئ د کوړې نه، په ظاهره کښې ئې مطلب دا دې چه خلقو به د رسول الله ﷺ د ډیر زیارت کولو په شوق کښې د هغه خواته راجمع کیدل چه د هغې په وجه باندې به د سورلئ په وړاندې تلو کښې رکاوټ پیدا کیدو نو په دې وجه باندې ورته وئیلې شی چه رش مه جوړوئ ګینې کوړه باندې به اولګئ، او دویم احتمال دا دې چه المراد به حکایة وقع الاقدام،(١) ای الناس یسعون ولاقدامهم صوت طب طب، یعنی خلق په تیزئ سره روان وو او د هغوی د تلو اواز طب طب اوریدلې کیدو، د دې معنی ثانی نه دا خبره معلومیږی چه د صحابه کرام باوجود د کثرت نه دومره خاموش وو او دوی ډیر په خاموشئ سره روان وو بالکل څه شور نه وو، څکه چه راوی وائی چه دې وخت کښې په زمکه باندې صرف د قدمونو د پریوتلو اواز اوریدلې کیدو، زه وائم چه هم دا حال د صحابه کرامو د رسول الله ﷺ په مجلس کښې هم وو. کان علی رؤسهم الطیر،صلی الله علی سیدنا محمد واله واصحابه وسلم.

﴿ فدنا الیه ابی فاخذ بقدم فاقر له ووقف علیه واستمع منه ﴾ میمونه رضی الله عنها فرمائی چه کله زما والد صاحب رسول الله ﷺ ته نزدې شو نو هغه د رسول الله ﷺ قدم مبارک اونیولو، رسول الله ﷺ د هغه دا فعل برقرار اوساتلو یعنی هغه ئې د خپې نیولو نه منع نه کړو(٢) او هغه ایسار شو او د هغه خبره ئې اوریدله، وړاندې په روایت کښې دی چه هغه سړی رسول الله ﷺ ته دا عرض اوکړو چه په تیره زمانه کښې په جیش عثران کښې موجود وو، نو یو سړې چه د هغه نوم طارق بن المرقع دې دا اعلان اوکړو چه ﴿من یعطینی ومحابتوا به ﴾چه څوک دې چه خپله نیزه د دې په بدله کښې راکړی، هغه سړې وائی ما تپوس اوکړو چه هغه بدله به څه وی نو هغه جواب ورکړو چه ما کره چه کومه جینئ پیدا کیږی زه به د هغې سره د هغه واده کوم، د بنت کردم والد فرمائی چه په دې باندې ما خپله نیزه هغه ته ورکړه بیا زه د هغه نه غائب شوم څه موده پس زما په علم کښې دا خبره راغله چه د هغه سړی کره لور پیدا شوې ده کومه چه بالغه شوې هم ده، په دې خبر اوریدلو سره زه طارق بن المرقع ته لاړم او هغه ته مې اووې چه هغه

---

(١) وفي هذا المعنى الثاني دلالة على سكوتهم وسكونهم بين يدي رسول الله صلى الله عليه وسلم مع كثرة الازدحام تعظيما لرسول الله صلى الله عليه وسلم حيث يقول الراوي لا يسمع منهم الا صوت وقع الاقدام)

(٢) په بذل المجهود کښې لیکلی دی چه بعضو شارحینو د فاقر له تشریح په اعتراف رسالت سره کړې ده یعنی دغه سړی د نبی علیه السلام خپې اونیولې اودهغوی ﷺ د رسالت اقرار ئې اوکړو، حضرت دا مطلب رد کړې دې څکه چه د مسند احمد په روایت کښې د فاقر له رسول الله صلی الله علیه وسلم لفظ دې، ددې نه معلومه شوه چه د فاقر فاعل رسول الله ﷺ دې او ددې دویمې معنی تقاضا داده چه د اقر فاعل دغه سړې وی.

ستا لور زما زوجه ده لهذا هغه ماته حواله کړه په دې باندې طارق حلفة دا خبره اوکړه چه ترڅو پورې ته ماته نوې مهر رانکړې زه به هغه تاته نه حواله کوم، کردم وائی چه ما په دې قسم اوکړو چه د هغه څیز نه علاوه چه کوم مې تاته درکړې دې زه به تاته نور هیڅ هم درنکړم، رسول الله ﷺ د کردم نه په دې پوره قصه اوریدلو سره اوفرمائیل: ﴿وبقرن ای النساء هی الیوم﴾ چه د هغه جینئ عمر اوس څومره دې؟ هغه جواب ورکړو چه ﴿قد رات القیر﴾ چه اوس خو هغه بوډئ کیدو والا ده، وړاندې په کتاب کښې راځی ﴿القیر الشیب﴾

مطابقة الحديث للترجمة:

په دې باندې رسول الله ﷺ کردم ته اوفرمائیل ﴿اری ان تترکها﴾ زما رائې دا ده چه ته هغه پریږده. هم د دې نه د ترجمة الباب حکم لفظ معلوم شو چه دا نکاح صحیح نه وه، ځکه چه نکاح که صحیح وه نو رسول الله ﷺ به هغه ته د طلاق حکم فرمائیلې وې او داسې نه ده بلکه رسول الله ﷺ ورته د ترک حکم اوکړو، وړاندې په روایت کښې دی چه کردم فرمائی چه د رسول الله ﷺ په دې ارشاد سره زما فکر پیدا شو او ما په ویره باندې هغه ته کتل(اصل کښې د کردم دا خیال راغلو چه اوس به زه حانث شم چه د هغې په وجه باندې فکرمند شو) رسول الله ﷺ د کردم په دې فکر باندې پوهه شو نو هغه اوفرمائیل چه نه هیڅ باک نشته، په دې صورت کښې به نه ته حانث کیږې او نه ستا ملګرې، د عدم حنث وجه ظاهره ده په دې وجه د خپل حلف خلاف نه هغه څه اوکړل او نه دې بل.

[٢١٠٤](١) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ، أَخْبَرَنِي إِبْرَاهِيمُ بْنُ مَيْسَرَةَ، أَنَّ خَالَتَهُ أَخْبَرَتْهُ، عَنِ امْرَأَةٍ، قَالَتْ: هِيَ مُصَدَّقَةٌ امْرَأَةُ صِدْقٍ، قَالَتْ: بَيْنَا أَبِي فِي غَزَاةٍ فِي الْجَاهِلِيَّةِ إِذْ رَمِضُوا، فَقَالَ رَجُلٌ: مَنْ يُعْطِينِي نَعْلَيْهِ وَأُنْكِحُهُ أَوَّلَ بِنْتٍ تُولَدُ لِي؟ فَخَلَعَ أَبِي نَعْلَيْهِ، فَأَلْقَاهُمَا إِلَيْهِ، فَوُلِدَتْ لَهُ جَارِيَةٌ فَبَلَغَتْ، وَذَكَرَ نَحْوَهُ، لَمْ يَذْكُرْ قِصَّةَ الْقَتِيرِ.

ابراهیم بن میسره ته خپلې ترور دداسې ښځې نه روایت بیان کړی دې د چاچه د رښتیاوالې هر څوك تصدیق کوی فرمائیل ئې چه دجاهلیت په زمانه کښې زما پلار په یوه غزوه کښې شریک وو نو یکدم دګر مې دشدت په وجه باندې دخلقوخپې سوزیدلې په دې وخت کښې یوکس ووئیل چه داسې به څوك وی چه ماته خپل پیزار راکړی اوزه به ورته خپله اولنئ پیدا کیدونکې لور په نکاح ورکړم، چنانچه زما والد خپل پیزار وخکل اوده ته ئې ورکړل بیا دده لور پیدا شوه اوهغه اوس پیغلبه شوی ده اوباقی روایت ئې دتیر روایت په شان بیان کړو، لیکن په دې روایت کښې دبوډاوالې دحال بیان نشته

مصنف دا واقعه د دې نه روستو په یو بل طریق سره هم ذکر کړې ده چه په هغې کښې لږ شان فرق دې په هغې کښې دا دی، میمونه فرمائی چه د جاهلیت په زمانه کښې یو جنګ شوې وو(هم هغه جیش عثران) کوم چه د ډیرې سختې ګرمئ په زمانه کښې وو نو یو سړې چه دهغه سره پیزار نه وو هغه دا اعلان اوکړو چه ﴿من یعطینی نعلیه﴾ باقی حصه ئې د مخکښې په شان ده. دا حدیث لږ شان اوږد هم دې او تشریح ته هم محتاج دې په دې وجه مونږ د دې تشریح اوکړه، زمونږ په کلیزې امتحان کښې هم دا حدیث راغلې وو، حضرت مولانا امیر احمد صاحب صدر مدرس مظاهر العلوم وو. رحمه الله تعالی.

والحدیث اخرجه احمد والبیهقی قاله فی المنهل.

(الحمد لله! څلورم جلد ختم شو.)

١): انظر ما قبله،(تحفة الأشراف: ١٨٠٩١)(ضعيف)